حسبنا اللہ ونعم الوکیل

دنحوئ مشهورا ومشکل ترین کتاب اسانه شرحه


فیضُ الجامی

پښتو شرح

مُلا جامی

تالیف

حضرت مولانا عبدالرحمٰن جامی رحمہ اللہ





مرتب

مولانا محمد فیض الهادی حقانی

پسند فرمودہ

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس ترنگزئی زید مجدہ

خصوصیات

- اعراب
- تحت السطور ترجمه
- خلاصه د متن
- اغراض د جامی
- فوائد نادره
- نکات، لطیفه
- نقشه جات

معرب

مبنی

مکتبہ رحمانیہ

محلہ جنگی قصہ خوانی بازار پشاور

0302- 62 09 815

فیض الجامي

مُعرب — پښتو شرح د — مبني

شرح جامي = جزء ثاني =

مُرتِب :
مولوي محمد فیض الهادي " حقاني "
فاضل دار العلوم حقانیه اکوړه خټک
مدرس بمدرسة عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
لنډي سړک چارسده روډ . پشاور

ناشر :
مکتبه رحمانیه محله جنګي پشاور

بسم الله الرحمن الرحیم

دکتاب نوم : فیض الجامیؒ پښتو شرح دشرح جامیؒ

مصنف : حضرت مولانا عبدالرحمٰن جامی رَحِمَهُ اللهُ

مُرتب: ابو الطیب مولوي محمد فیض الهادي " حقاني "

فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه ختک

مدرس بمدرسة عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چارسده روډ، پشاور

تصحیح : مولوی نصیر الدین " حقانی "

فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه ختک

تصحیح ونظرِ ثاني : مولوی محمد جان " حقانی "

فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه ختک

نظرِ ثالث : مولوی حافظ عبدالصبور " حقانی "

فاضل دارالعلوم حقانیه اکوړه ختک

کمپوزنګ : ابوبدر کمپوزنګ سنټر، پشاور

پروپرائیټر : ابوالطیب " حقاني " موبائل نمبر: 0311-9316109

سالِ اشاعت بار اول: ۱۴۳۵ھ موافق ۲۰۱۴ء

سالِ اشاعت بار سوم : ۱۴۳۷ھ موافق ۲۰۱۶ء

ناشر : مکتبه رحمانیه محله جنګي پشاور

فهرست جزء ثاني :

د حال مثالونه :

مِثْلُ ضَرَبْتُ زَيْداً قَائِماً مِثَالٌ لِلَّفْظِيِّ الْمَلْفُوْظِ حَقِيْقَةً فَإِنَّ فَاعِلِيَّةَ تَاءِ الْمُتَكَلِّمِ وَ مَفْعُوْلِيَّةَ زَيْداً

لکه ضربت زيداً قائماً دا مثال دي دهغه لفظي چې ملفوظ وي حقيقةً ځکه فاعليت د تاء د متکلم او د مفعوليت د زيداً

إِنَّمَا هِيَ بِإِعْتِبَارِ لَفْظِ هٰذَا الْكَلَامِ وَمَنْطُوْقِهِ مِنْ غَيْرِ إِعْتِبَارِ مَعْنًى خَارِجٍ عَنْهُ وَهُمَا مَلْفُوْظَانِ حَقِيْقَةً وَ

دا په اعتبار د لفظ د دې کلام او د منطوق سره دي په غير د اعتبار د خارج د معنى نه او دا دواړه ملفوظ دي حقيقةً او

زَيْداً فِي الدَّارِ قَائِماً مِثَالٌ لِلَّفْظِيِّ الْمَلْفُوْظِ حُكْماً فَإِنَّ فَاعِلِيَّةَ الضَّمِيْرِ الْمُسْتَكِنِّ فِي الظَّرْفِ إِنَّمَا هِيَ بِإِعْتِبَارِ لَفْظِ

زيد في الدار قائماً دا مثال دي د لفظي ملفوظ حکماً ځکه چې فاعلية د ضمير مستکن په ظرف کې دا په اعتبار د لفظ

هٰذَا الْكَلَامِ وَ مَنْطُوْقِهِ مِنْ غَيْرِ إِعْتِبَارِ مَعْنًى خَارِجٍ عَنْهُ وَ الضَّمِيْرُ الْمُسْتَكِنُّ مَلْفُوْظٌ حُكْماً وَ

د دې کلام او د منطوق سره دي په غير د اعتبار د معنى نه چې خارج وي د دې نه او ضمير مستکن ملفوظ وي حکماً او

هٰذَا زَيْدٌ قَائِماً مِثَالٌ لِلْمَعْنَوِيِّ لِأَنَّ مَفْعُوْلِيَّةَ زَيْدٍ لَيْسَتْ بِإِعْتِبَارِ لَفْظِ هٰذَا الْكَلَامِ وَ مَنْطُوْقِهِ بَلْ

هذا زيد قائماً دا مثال دي د معنوي ځکه مفعوليت د زيد نه دی په اعتبار د لفظ د دې کلام او د منطوق سره بلکې په

بِإِعْتِبَارِ مَعْنَى الْإِشَارَةِ أَوِ التَّنْبِيْهِ الْمَفْهُوْمَيْنِ مِنْ لَفْظِ هٰذَا وَلَا شَكَّ أَنَّهُمَا

اعتبار د معنى د اشارې او د تنبيه سره دي چې معلومېږي د دې لفظ نه او نشته څه شک چې دا دواړه د هغه قبيلې نه،

لَيْسَا مِمَّا يَقْصِدُ الْمُتَكَلِّمُ الْأَخْبَارَ بِهِمَا عَنْ نَفْسِهِ حَتّٰى يُقَدَّرَ فِيْ نَظْمِ الْكَلَامِ أُشِيْرُ أَوْ

نه دي چې قصد کوي متکلم اخبار په دې سره د خپل نفس نه تر دې پورې چې مقدر کړي په نظم د کلام کې اشير او

أُنَبِّهُ وَ يَصِيْرُ زَيْدٌ مَفْعُوْلاً بِهِ لَفْظِيّاً بَلْ مَفْعُوْلِيَّتُهُ إِنَّمَا هِيَ بِإِعْتِبَارِ مَعْنَى أُشِيْرُ أَوْ أُنَبِّهُ الْخَارِجِ عَنْ

انبه او ګرځي زيد مفعول به لفظي بلکې مفعوليت يې دا په اعتبار د معنى د اشير او انبه سره دي چې خارج دي د

مَنْطُوْقِ الْكَلَامِ الْمُعْتَبَرِ لِصِحَّةِ وُقُوْعِ الْقَائِمِ حَالاً فَهِيَ مَعْنَوِيَّةٌ لَا لَفْظِيَّةٌ.

منطوق د کلام دوجې د معتبرولو د صحت وقوع د قائماً نه حالانو دا معنوي دي نه لفظي.

خلاصه د متن: صاحب د کافيې په دې عبارت کې د حال مثالونه بيانوي چې ضربتُ زيد قائماً دا د عامل لفظي حقيقي لفظي مثال دي او زيد في الدار قائماً دا د عامل لفظي حکمي مثال دي او هذا زيد قائماً دا د عامل معنوي مثال دي

اغراض د جامي : <u>مثال للفظي</u>: په دې عبارت کې غرض د شارح د ممثل له د تعين بيان دي ضربتُ زيداً قائماً دا د هغه عامل لفظي مثال دي کوم چې حقيقتاً ملفوظ وي ځکه چې تاء د متکلم د فاعليت او زيد د مفعوليت لفظ د کلام او منطوق د کلام اعتبار څخه دي د يو داسې

معنى د معتبرولو دوجې نه . نه دي كوم چې خارج عن الكلام دي پس دا دواړه حقيقةً ملفوظ دي

مثال للفظي الملفوظ حكماً: په دې عبارت سره غرض د شارح د ممثل له د تعين بيان دي زيد في الدار قائماً دا دهغه لفظي مثال دي كوم چې حكماً ملفوظ وي ځكه چې هغه ضمير كوم چې په ظرف كې پټ دي د دې فاعليت منطوقِ كلام او دلفظ كلام څخه دي او خارج عن الكلام د يوې معنې د معتبرولو دوجې نه . نه دي .

مثال للمعنوي: په دې عبارت سره غرض د شارح د ممثل له د تعين بيان دي هذا زيد قائماً دا د معنوي مثال دي ځكه چې د زيد مفعوليت دلفظِ كلا. او د منطوق كلام د اعتبار څخه نه دي بلكه معنى اشاره او تنبيه دوجې نه دي كوم چې دلفظ هذا نه فهميږي

ولا شك: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب وركول دي

سوال: په هذا كې د هاء معنى انبه او د ذا معنى اشير ده نو د زيد مفعوليت معنوي نه شو ځكه چې د ده مفعوليت دلفظ د هذا څخه فهميږي كوم چې منطوق كلام دي لهذا ستا كلام چې زيد مفعوليت او منطوق كلام څخه نه دي دا څنګه صحيح دي ؟

جواب: د متكلم مقصود مطلق اشاره او تنبيه ده نه هغه اشاره كومه چې متكلم طرف ته منسوب ده د دې د پاره چې په نظم د كلام كې د دننه اشير او انبه مقدر ومنل شي او د زيد مفعوليت په اعتبار دلفظ شي بلكه اشير او انبه داد لفظِ كلام نه خارج دی او د فحوى د كلام نه فهميږي لكه څنګه چې ويلي ملا محمد عمر كابلي په سوال كابلي كې ليكلي دي چې

بل هما خارجان عن منطوق الكلام و مفهومان عن فحواه فلا يكون منطوقين بل مفهومين . (سوال كابلي ص ٢٣٣).

چې بلكې دا دواړه خارج دي د منطوقِ كلام نه او فهميږي د فحوى د كلام نه نو دا نه دي منطوقين بلكې دا د فحوى او د سياق كلام نه فهيمږي

المعتبر: په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب وركول دي

سوال: كه چيرته اشير او انبه دا دواړه د منطوقِ كلام نه خارج دي نو بيا د دې د معتبرولو څه ضرورت دي ؟

جواب : دا ځکه معتبرولې شي چې قائماً حال جوړول صحيح شي .

د حال د عامل ذکر :

وَعَامِلُهَا اَیْ عَامِلُ الْحَالِ اِمَّا الْفِعْلُ الْمَلْفُوْظُ اَوِالْمُقَدَّرُ نَحْوُ ضَرَبْتُ زَيْداً قَائِماً وَزَيْدٌ فِي الدَّارِ قَائِماً اِنْ كَانَ
اوعامل ددې يعنې عامل دحال يابه فعل ملفوظ وي اويابه مقدرلکه ضربت زيداً قائماًوزيد في الدار قائماًکه چيرته
الظَّرْفُ مُقَدَّراً بِالْفِعْلِ اَوْ شِبْهُهُ وَ هُوَ مَا يَعْمَلُ عَمَلَ الْفِعْلِ وَ هُوَ مِنْ تَرْكِيْبِهٖ
ظرف دفعل سره مقدروي ياشبه فعل وي اوشبه فعل هغه دي چې عمل کوي په شان دفعل اودا دفعل دترکيب څخه
كَاسْمِ الْفَاعِلِ نَحْوُ زَيْدٌ ذَاهِبٌ رَاكِباً وَ زَيْدٌ فِي الدَّارِ قَاعِداً اِنْ كَانَ الظَّرْفُ مُقَدَّراً بِاسْمِ الْفَاعِلِ وَ
وي په شان داسم فاعل لکه زيدذاهب راکباًوزيدفي الدار قاعداًکه چيرته ظرف مقدروي داسم فاعل پورې اولکه په
كَاسْمِ الْمَفْعُوْلِ نَحْوُ زَيْدٌ مَضْرُوْبٌ قَائِماً وَالصِّفَةِ الْمُشَبَّهَةِ نَحْوُ زَيْدٌ حَسَنٌ ضَاحِكاً اَوْ مَعْنَاهُ الْمُسْتَنْبِطُ مِنْ فَحْوَى
شان داسم مفعول لکه زيدمضروب قائماًوصفت مشبه لکه زيدحسن ضاحکايامعنى ددې چې مستنبط وي دسياق
الْكَلَامِ مِنْ غَيْرِ التَّصْرِيْحِ بِهٖ اَوْ تَقْدِيْرِهٖ كَالْاِشَارَةِ وَ التَّنْبِيْهِ فِيْ نَحْوُ هٰذَا زَيْدٌ قَائِماً كَمَا مَرَّ وَكَالنِّدَاءِ وَ التَّمَنِّيْ
دکلام نه په غيردتصريح اوتقديرنه لکه اشاره اوتنبيه په هذازيدقائماًلکه مخکې ددې ذکرتيرشوې اونداء اوتمني
وَالتَّرَجِّيْ وَالتَّشْبِيْهِ فِيْ نَحْوُ يَا زَيْدُ قَائِماً وَ لَيْتَكَ عِنْدَنَا مُقِيْماً وَلَعَلَّهُ فِي الدَّارِ قَائِماً وَكَاَنَّهُ اَسَدٌ صَائِلاً .
او ترجي او تشبيه په يا زيد قائما او ليتک عندنا مقيما او لعله في الدار قائما او کانه اسد صائلاً .

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې وايي چې دحال عامل به يافعل وي اوياشبه فعل اويابه په معنى دفعل وي بيا فعل عام دي برابره خبره ده که لفظاً وي اويامقدر دلفظاً مثال لکه ضربت زيداً قائما دفعل مقدر مثال لکه زيد في الدار قائما دابه دفعل مقدر مثال هله جوړيږي چې کله دظرف متعلق فعلِ مقدر وي لکه څنګه چې دبصري دنحويانو مذهب دي .

اغراض دجامي : <u>وهو</u>: په دې عبارت سره شارح دشبه فعل تعريف بيانوي چې شبه فعل هغه دي کوم چې دفعل والاعمل کوي اودفعل دترکيب څخه وي يعنې دفعل دمادې څخه وي لکه اسم فاعل اسم مفعول،صفت مشبه وغيره داسم فاعل ملفوظ مثال لکه زيد ذاهب راکبا ، د اسم فاعل مقدر مثال لکه زيد في الدار قاعداً په شرط ددې چې دظرف متعلق اسم فاعل مقدر وي لکه څنګه چې دکوفې دنحويانومذهب دي داسم مفعول مثال لکه زيد مضروب قائما دصفت مشبه مثال لکه زيد حسن ضاحكاً.

<u>اومعناه</u>: په دې عبارت سره غرض دشارح دفعل دمعنى وضاحت کول دي چې معنى دفعل هغه

ده کوم چې دفحوی اودسوق کلام نه مستنبط وي لکه څنګه چې نه دفعل تصریح وي اونه مقدر وي لکه اشاره تنبیه ، نداء ، تمني ، ترجي وغیره اوداشارې اودتنبیه مثال لکه هذا زید قائما ددې معنی اشیر یا انبه زیدا قائما دي دتمني مثال لکه لیتک عندنا مقیما ددې معنی ده تمنیتک عندنا قائما اودترجي مثال لعلي في الدار قائما ددې معنی ترجیته في الدار قائما ده دتشبیه مثال لکه کانه اسد صائلا ددې معنی اشبهه اسدا قائما ده

د حال شرائط :

وَ شَرْطُهَا اَیْ شَرْطُ الْحَالِ اَنْ تَكُوْنَ نَكِرَةً لِاَنَّ النَّكِرَةَ اَصْلٌ وَ الْغَرَضُ وَ هُوَ تَقْيِيْدُ
اوشرط ددې یعنې شرط دحال دادې چې وي به نکره ځکه چې نکره اصل دي اودحال نه غرض هغه مقید کول د
الْحَدَثِ الْمَنْسُوْبِ اِلٰى صَاحِبِهَا يَحْصُلُ بِهَا وَ التَّعْرِيْفُ زَائِدٌ عَلَى الْغَرَضِ
حدث دي چې منسوب وي ذوالحال طرف ته چې حاصلیږي غرض دنکرې نه اوتعریف دا یوزائد دي په غرض باندې
وَ اَنْ يَّكُوْنَ صَاحِبُهَا مَعْرِفَةً لِاَنَّهٗ مَحْكُوْمٌ عَلَيْهِ فِي الْمَعْنٰى فَكَانَ الْاَصْلُ فِيْهِ التَّعْرِيْفَ
یاداچې وي صاحب ددې معرفه ځکه چې ذوالحال دامحکوم علیه دي په معنی کې نواصل په دې کې تعریف دي
غَالِباً اَیْ لَيْسَ اشْتِرَاطُهَا بِكَوْنِ صَاحِبِهَا مَعْرِفَةً فِيْ جَمِيْعِ مَوَادِهَا بَلْ فِيْ غَالِبِ مَوَادِهَا اَيْ
غالبا یعنې نه دي شرط ددې په کیدو دصاحب ددې کې معرفه په ټولو موادو کې بلکې په غالب موادو کې یعنې
اَكْثَرِهَا وَ بَيَانُ ذٰلِكَ اَنَّ مَوَادَّ وُقُوْعِ الْحَالِ عَلٰى قِسْمَيْنِ اَحَدُهُمَا مَا يَكُوْنُ ذُوالْحَالِ فِيْهِ
په اکثرددې کې اوبیان ددې چې مواددوقوع دحال په دوه قسمه دي یوددې نه هغه دي چې وي ذوالحال په دې کې
نَكِرَةً مَوْصُوْفَةً نَحْوُ جَاءَنِيْ رَجُلٌ مِنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ فَارِساً اَوْ مُغْنِيَةً غِنَاءَ الْمَعْرِفَةِ لِاِسْتِغْرَاقِهَا نَحْوُ
نکره موصوفه لکه جاءني رجل من بني تمیم فارسا اویابه فائده ورکوي فائده دمعرفې دوجې داستغراق نه لکه
قَوْلِهٖ تَعَالٰى فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ اَمْراً مِّنْ عِنْدِنَا اِنْ جَعَلْتَ اَمْراً حَالاً مِنْ كُلِّ اَمْرٍ اَوْ وَاقِعَةً فِيْ
داقول دالله تعالی فیها یفرق کل امر حکیم امراً من امرنا که چیرته وګرځوې امرا حال دکل امرنه اویاواقع وي په
حَيِّزِ الْاِسْتِفْهَامِ نَحْوُ هَلْ اَتَاكَ رَجُلٌ رَاكِباً اَوْ بَعْدَ اِلَّا نَقْضاً لِلنَّفْيِ نَحْوُ مَا جَاءَنِيْ رَجُلٌ اِلَّا رَاكِباً اَوْ
ځای داستفهام کې لکه هل اتاک رجل راکبا اویاوي نکره پس دالا دپاره دماتولو دنفي لکه ماجاءني رجل الا راکبا اویا
مُقَدَّماً عَلَيْهِ الْحَالُ نَحْوُ جَاءَنِيْ رَاكِباً رَجُلٌ وَ ثَانِيْهِمَا مَا يَكُوْنُ ذُو الْحَالِ فِيْهِ غَيْرَ هٰذِهٖ
مقدم وي په دې باندې حال لکه ماجاءني راکبا رجل اودویم ددې نه هغه دي چې وي ذوالحال په دې کې غیرددې
الْاُمُوْرِ وَ غَالِبُ مَوَادِ وُقُوْعِ الْحَالِ وَ اَكْثَرُهَا هُوَ هٰذَا الْقِسْمُ وَ وُقُوْعُ الْحَالِ فِيْ هٰذَا الْقِسْمِ مَشْرُوْطٌ
امورونه اوغالب موادد وقوع دحال اواکثرددې هغه همدغه دویم قسم دي اوواقع کیدل ددې قسم مشروط دي

بِكَوْنِ صَاحِبِهَا مَعْرِفَةً فَقَوْلُهُ غَالِباً قَيْدٌ لِاشْتِرَاطِ كَوْنِ صَاحِبِهَا مَعْرِفَةً لاَ بِكَوْنِ
په کيدو د صاحب ددې کې معرفه نو دا قول غالباً دا قيد دي دپاره دشرط کيدو دصاحب ددې معرفه نه په کيدو د
صَاحِبِهَا مَعْرِفَةً حَتّٰى يُقَالَ اِنَّ غَالَبِيَّةَ كَوْنَ صَاحِبِهَا مَعْرِفَةً اَلْمُنْبِئَةَ عَنْ تَخَلُّفِهِ فِيْ بَعْضِ
صاحب ددې معرفه تردې چې وويلې شي چې غالبيت د کيدو دصاحب ددې معرفه خبرور کوي د تخلف نه په بعضې
اَلْمَوَادِ تُنَافِيْ الشَّرْطِيَّةَ وَ يُحْتَاجَ اِلٰى اَنْ يُصْرَفَ الْكَلَامُ عَنْ ظَاهِرِهِ وَ يُجْعَلَ
موادو کې چې منافي وي د شرط سره او محتاج وي دې خبرې طرف ته چې واړولې شي کلام د ظاهر نه او وګرځوي
قَوْلُهُ وَ صَاحِبُهَا مَعْرِفَةً مُبْتَدَأً وَخَبَراً مَعْطُوْفاً عَلٰى قَوْلِهِ وَشَرْطُهَا اَنْ تَكُوْنَ نَكِرَةً.
قول دده وصاحبها معرفة مبتدا او خبر چې عطف دي په دې قول وشرطها ان تكون نكرة باندې.

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې په دې عبارت کې دحال شرط بيانوي چې دحال شرط دادې چې هغه به په خپله نکره وي او ددې صاحب يعنې ذوالحال به غالباً معرفه وي .

اغراض دجامي : اى شرط الحال: په دې عبارت سره غرض دشارح د هاء دضمير مرجع متعين کول دي چې د هاء ضمير مرجع حال دي .

لان النكرة: په دې عبارت سره غرض دشارح دحال دنکره کيدو دشرط وجه بيانوي داشرط يې ددې وجې نه ولږول څکه چې په کلام کې اصل تنکير دي اودلته غرض معنى حدثي منسوب الى ذى الحال لره متعين کول دي اوهغه دنکرې سره حاصليږي لهذا تعريف امر زائد على الغرض دي نو حال لره دمعرفې جوړولو ضرورت نشته دي .

وان يكون: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دي اشاره ده دې خبرې طرف ته چې د صاحبها عطف په تكون ضمير مستتر باندې دي لهذا د صاحبها نه مخکې يكونُ به مقدر وي يا په دې عبارت سره دشارح جامي غرض په علامه فاضل هندي وغيره باندې رد کول دي کوم چې دا وايي چې د صاحبها عطف په شرطها باندې دي اودامبتدا ده معرفة به مرفوع شي اوددې خبر به شي هغه دادليل بيانوي چې که چيرته د صاحبها عطف په تكون ضمير مستتر باندې وي نو تقدير دعبارت به داسې وي چې وشرطها ان تكون نكرة وشرطها ان يكون صاحبها معرفة غالباً په دې صورت کې دعبارت اول دآخر سره تعارض لري څکه چې شرط دلزوم اودوام تقاضا کوي او ذوالحال لره معرفه کيدل لازمي اودائمي ده څکه چې شرط مشروط لره لازم وي اوغالباً لفظ عدم لزوم اوعدم دوام اوتخلف تقاضا کوي ددې نه معلوميږي چې ذوالحال لره معرفه کيدل

اكثر اوغالب دي كله كله ذوالحال هم نكره كيدي شي نو په دواړو كې منافات دي ددې وجې نه علامه فاضل هندي وغيره وايي چې **صاحبها** په ضمير مستتر باندې نه شي عطف كولې بلكه په **شرطها** باندې به عطف كولې شي نو **صاحبها** مبتدا او**معرفة** به يې خبر شي اودا به **عطف الجملة على الجملة السابقه** شي نو شارح دجامي **ان يكون** سره ددې ترديد كوي چې د **صاحبها** عطف د**يكون** په ضمير باندې دي باقي دفاضل هندي داستدلال جواب په **اى ليس اشتراطها** سره شارح بيانوي .

<u>**لانه محكوم عليه**</u> : په دې عبارت سره غرض دشارح دذوالحال دمعرفه كيدو وجه بيانوي ځكه چې ذوالحال دمحكوم عليه په معنى كې وي اوپه محكوم عليه كې اصل تعريف دي ځكه چې دا معرفه كيدل په كار دي .

<u>**اى ليس اشتراطها**</u> : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي

سوال : دشرط اودغلبې په مينځ كې منافات دي ځكه چې دشرط تقاضا داده چې ذوالحال به هميشه معرفه وي چيرته به هم نكره نه وي اودغلبې تقاضا داده چې ذوالحال به هميشه معرفه وي كله كله به نكره هم وي نودادواړه امرواحد يعنې ذوالحال طرف ته څنګه متوجه كولې شي ؟

جواب : شرط اوغلبه دواړه امرِ واحد يعنې ذوالحال طرف ته متوجه نه دي بلكه شرط متوجه دي ذوالحال طرف ته او ذوالحال متوجه دي شرط طرف ته لكه څنګه چې په **شرط الصلوة الوضوء غالباً** كې شرط متوجه دي صلوة طرف ته اوغالباً متوجه دي شرط طرف ته ځكه چې تيمم هم د لمونځ شرط دي ليكن اقل دي اوشرطِ اكثر واغلب هغه وضوء او اودس دي همدارنګې دلته كې هم شرط متوجه دي ذوالحال طرف ته او غلبه متوجه ده شرط طرف ته ځكه چې تخصيص (نكره مخصصه) هم دذوالحال شرط دي ليكن شرط اقل دي اوشرطِ اكثر اوغالب تعريف دي خلاصه داده چې دغالباً تعلق داشتراط خمسه سره دي مطلب دادې چې د ذوالحال معرفه كيدل شرط لازمي اودائمي نه دي بلكه شرط اكثري واغلبي دي په دې جواب سره دفاضل هندي وغيره ددليل جواب هم وشو چې په اول اوآخر كې څه تعارض نشته دي .

<u>**وبيان ذلك**</u> : په دې عبارت سره غرض دشارح مخكنې شرط يعنې دحال دموادو وضاحت كول دي حال دوقوع مواد په دوه قسمه دي : (۱) هغه مواد چې په هغې كې حال واقع كيدل اقل وي (۲) هغه مواد چې په هغې كې حال واقع كيدل اكثر وي .

اول قسم : چې په دې کې حال واقع کيدل اقل وي دا په پنځه قسمه دي . (۱) ذوالحال نکره موصوفه وي نو دصفت دوجې نه په دې کې تخصيص راغلي وي لهذا دې لره ذوالحال جوړول صحيح دي مثال لکه **جاءني رجل من بني تميم فارساً** په دې مثال کې رجل لره ذوالحال جوړول صحيح دي

(۲) ذوالحال نکره وي چې د استغراق د وجې نه د تخصيص نه مستغني وي لکه څنګه چې معرفه د تخصيص نه مستغني وي لکه په قرآن مجيد کې الله تعالى فرمايلي دي چې : ﴿**فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ أَمْراً مِّنْ عِنْدِنَا**﴾ ، که **امراً** لره حال جوړ شي نو **كل امر** اګرکه نکره ده ليکن هر هر فرد ته شامله ده ددې وجې نه دادمعرفې په حکم کې شو اودې تخصيص ته ضرورت نشته دي لهذا دې لره ذوالحال جوړول صحيح دي .

فائده : **ان جعلت امراً** ، داقيد يې ددې وجې نه ولږول څکه چې بعضې وايي چې **امراً** حال دي د **حكيم** دضمير نه کله چې دا **حكيم** دضمير نه حال وي نودازمونږ دبحث نه خارج دي څکه چې زمونږ بحث دذوالحال په نکره کې دي که دې لره دضمير نه حال جوړکړي شي نودانکره نه شوه بلکه معرفه شوه څکه چې ضمائر معرفه وي .

(۳) ذوالحال نکره داستفهام نه وروستو واقع وي مثال لکه **هل اتاک رجل راكباً** په دې مثال کې **رجل** ذوالحال نکره دي اوداستفهام نه وروستو واقع ده .

(۴) ذوالحال نکره وي اوحال د **اِلاَّ** نه وروستو واقع وي دنفي دانقطاع دپاره مثال لکه **ماجاءني رجل الا راكباً** .

(۵) حال په ذوالحال باندې مقدم وي مثال لکه **جاءني راكباً رجل** ، په دې ټولو صورتونو کې په نکره کې تخصيص راځي ددې وجې نه دې لره ذوالحال جوړول صحيح دي

دوهم قسم : هغه مواد چې په دې کې دحال وقوع اکثر وي اوددې مذکوره پنځو (۵) صورتونو نه غير وي په دې کې به دذوالحال دپاره شرط دادې چې دا به معرفه وي .

فقوله غالباً قيد لاشتراط كون صاحبها معرفة : دشارح دجامي داعبارت په **ليس اشتراطها** باندې تفريع ده اوعلامه فاضل هندي اوسيد سند شريف وغيره باندې صراحةً رد دي کوم چې دا وايي چې **صاحبها** مبتدا او **معرفة** خبر دي اوداجمله په **شرطها** باندې معطوف ده نه په **تكون** کې په **هي** ضمير باندې نو شارح دجامي ددې ترديد اوددوي ددليل جواب ورکوي چې حاصل يې

داده چې د مصنف رحمه الله قول غالباً دا داشتراط قيد دي مقصد دادي چې ذوالحال معرفه كيدل شرط ، شرطِ اكثري اواغلبي دي دائمي نه دي لهذا كه بعضې موادو كې ذوالحال نكره وي نو دادهغه شرط منافي نه دي اودا غالبا د صاحبهاً معرفة قيد نه دي بلكه صاحبها معرفةً صاحبها مبتدا دي اومعرفه ددې خبر دي اومبتدا دخپل خبر سره په شرطها باندې معطوف دي داځكه چې دا خلافِ ظاهر دي ځكه چې اصل عطف المفرد على المفرد دي لكه څنګه چې فاضل هندي اوسيد سند شريف وايي .

<table>
<tr><td>وَ اَرْسَلَهَا الْعِرَاكُ وَ لَمْ يَذُدْهَا</td><td>وَ لَمْ يُشْفِقْ عَلٰى نَغْصِ الدِّخَالِ</td></tr>
<tr><td>اوپريخودې وحشي خرومادې خپلې اومنع يې نه كړې ديوځاى كيدونه</td><td>اوونه يريدل دهغوي په نه خړوبيدو باندې</td></tr>
<tr><td colspan="2">اَلْبَيْتُ لِلَبِيْدٍ يَصِفُ حِمَارَ الْوَحْشِ وَالْاُتُنَ يَقُوْلُ اَرْسَلَ حِمَارُ الْوَحْشِ الْاُتُنَ وَكَاَنَّ الْمُرَادَ بِالْاِرْسَالِ</td></tr>
<tr><td colspan="2">دابيت دلبيت دي چې صفت كوي دوحشي خره اودخرې وايي چې وحشي خرخرولره ولېږل ګوياچې مراد دارسال نه</td></tr>
<tr><td colspan="2">اَلْبَعْثُ وَ التَّخْلِيَةُ بَيْنَ الْمُرْسَلِ وَ مَا يُرِيْدُ اَىْ اَرْسَلَهَا مُعْتَرِكَةً</td></tr>
<tr><td colspan="2">لېږل اوتخليه ده په مينځ دمرسل اودهغه څه چې دايې اراده لري يعني ولېږل وحشي خروخرې لره چې دوي په يو</td></tr>
<tr><td colspan="2">مُتَزَاحِمَةً وَ لَمْ يَذُدْهَا اَىْ لَمْ يَمْنَعُهَا مِنَ الْعِرَاكِ وَ لَمْ يُشْفِقْ اَىْ لَمْ يَخَفْ</td></tr>
<tr><td colspan="2">باندې ازدحام راوړواودوي دازدحام نه منع نه كړل يعني منع يې نه كړل دازحادم نه اوويره يې ونه كړه يعني ونه يريده</td></tr>
<tr><td colspan="2">عَلٰى نَغْصِ الدِّخَالِ اَىْ عَلٰى اَنَّهُ لَمْ يَتِمَّ شُرْبُ بَعْضِهَا لِلْمَاءِ بِالدِّخَالِ وَ الدِّخَالُ</td></tr>
<tr><td colspan="2">په داخليدو دخرويعني ددې خبرې ويره يې ونه كړه چې پوره به ونه څكي بعضې اوبولره دوجې د ازدحام نه اودخال</td></tr>
<tr><td colspan="2">هُوَ اَنْ يَّشْرَبَ الْبَعِيْرُ ثُمَّ يُرَدُّ مِنَ الْعَطْنِ اِلَى الْحَوْضِ وَ يَدْخُلُ</td></tr>
<tr><td colspan="2">دې ته وايي چې وڅكي اوبه اوبښ بيا واپس شي دخپل ځاى نه دتندې په حالت كې واپس كړې شي اوداخل شي</td></tr>
<tr><td colspan="2">بَيْنَ بَعِيْرَيْنِ عَطْشَانَيْنِ لِيَشْرَبَ مِنْهُ مَا عَسَاهُ لَمْ يَكُنْ شَرِبَ مِنْهُ</td></tr>
<tr><td colspan="2">په مينځ ددوه ترږواوښانوكې ددې دپاره چې وڅكي اوبه دحوض نه ګوياچې دې اوښ اوبه نه وي څكلي دحوض نه</td></tr>
<tr><td colspan="2">وَ لَعَلَّ الْمُرَادَ بِهٖ هٰهُنَا نَفْسُ مُدَاخَلَةِ بَعْضِهَا فِىْ بَعْضٍ اَوِ الْمَعْنٰى عَلٰى نَغْصٍ مِثْلِ نَغْصِ الدِّخَالِ</td></tr>
<tr><td colspan="2">اوشايد ددخال نه مراد دلته نفسِ مداخلت دبعضو دي په نورو بعضو كې يادعلى نغض معنى په شان د نغض الدخال ده</td></tr>
<tr><td colspan="2">وَ مَرَرْتُ بِهٖ وَحْدَهٗ وَ نَحْوُهٗ مِثْلُ فَعَلْتَهٗ جُهْدَكَ مُتَاَوَّلٌ بِالنَّكِرَةِ فَلَا يَرِدُ نَقْضاً عَلٰى</td></tr>
<tr><td colspan="2">اومررت به وحده اوددې په شان مثال لكه فعلت جهدك ددې تاويل شوې په نكرې نولهذا نه واردېږي اعتراض په</td></tr>
<tr><td colspan="2">قَاعِدَةِ اِشْتِرَاطِ كَوْنِهَا نَكِرَةً وَتَاوِيْلُهَا عَلٰى وَجْهَيْنِ اَحَدُهُمَا اَنَّهَا مَصَادِرُ لِاَفْعَالٍ مَحْذُوْفَةٍ</td></tr>
<tr><td colspan="2">شعردقاعدې د شرط كيدو د نكرې باندې اوتاويل ددې په دوه قسمه دي يو دادې نه داچې مصادر د افعالو محذوفو</td></tr>
</table>

اَیْ تَعْتَرِکُ الْعِرَاکَ وَیَنْفَرِدُ وَحْدَہٗ اَیْ اِنْفِرَادَہٗ وَتَجْتَهِدُ جُهْدَکَ فَهٰذِهِ الْجُمَلُ الْفِعْلِیَّةُ وَقَعَتْ حَالاً وَهٰذِهِ
یعني تعترک العراک او وینفرد وحده یعني انفراده او تجتهد جهدک دي نو دا جملې فعلیې واقع شوي حال او دا
الْمَصَادِرُ مَنْصُوْبَةٌ عَلَی الْمَصْدَرِیَّةِ وَثَانِیْهِمَا اَنَّهَا مَعَارِفُ مَوْضُوْعَةٌ مَوْضِعَ النَّکِرَاتِ اَیْ مُعْتَرِکَةً
مصادر منصوب دي بناء مصدریت او دویم دد ي نه دا چې دا معرفه چې وضع شوې په ځاې د نکرې یعني معترکةً
وَمُنْفَرِداً وَمُجْتَهِداً فَالصُّوْرَةُ وَاِنْ کَانَتْ مَعْرِفَةً فَهِيَ فِي التَّقْدِیْرِ نَکِرَةٌ کَمَا اَنَّ حَسَنَ الْوَجْهِ فِيْ صُوْرَةِ
ومنفرداً او مجتهداً پس صورت اګرچې د معرفې دي نو دا په تقدیر کې نکره ده لکه څنګه چې حسن الوجه په صورت
الْمَعْرِفَةِ وَ هِيَ فِي الْمَعْنٰی نَکِرَةٌ.
د معرفې کې ده حالانکه دا په معنی د نکرې کې دي .

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب د کافیې دیو سوال مقدر جواب ورکوي :

سوال : د حال شرط نکره کیدل منقوض دي په ارسلها العراک ، مررت به وحده ، فعلته جهدک سره ځکه چې په ارسلها العراک کې العراک حال دي حالانکه دا نکره نه ده بلکه د الف لام دوجې نه معرفه ده او مررت به وحده کې وحده حال دي حالانکه دا نکره نه ده بلکه ضمیر ته د اضافت د وجې نه معرفه ده او فعلت جهدک کې جهدک حال دي حالانکه دا نکره نه ده بلکه ضمیر ته د اضافت دوجې نه معرفه ده .

جواب :صاحب د کافیې ددې ټولو مثالونو جواب ورکوي چې دا مثالونه متاول دي یعني د نکرې په تاویل کې دي ، (د تاویل تفصیل به ان شاء الله په شرح کې راشي) .

اغراض دجامي : <u>ولم یشفق علی نغص الدخال</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د شعر پوره کول او د شعر وضاحت کول دي پوره شعر دا سې دي چې :

وارسلها العراک ولم یذدها   ولم یشفق علی نغص الدخال

ترجمه : وحشي خر خپلې مادې لره یعني وحشي خرې لره په حالت د ازدحام کې یواځې پریخوده او هغې لره یې د جمع کیدو نه منع نه کړه او ددې خبرې ویره یې ونه کړه چې د ازدحام او د رش دوجې نه به سیراب نه شي .

د ا د لبید شعر دي هغه یوه ورځ دغره د سر نه وحشي خر او وحشي خره ولیده چې دې وحشي خر دا وحشي خره د اوبو څکلو د پاره پریخوده او په خپله یو طرف ته ودریدو او د دې وحشي خرې نګراني او څارنه یې کوله چې یو ښکاري ددې وحشي خرې ښکار ونه کړي چې کله لبید دا

منظر ولـدو نو داشعر يې وويلو چې په دې شعر کې دوحشي خر اودوحشي خرې تعريف کوي

وکان: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : د ارسال نسبت وحشي خر طرف ته صحيح نه دي ځکه چې دارسال معنی ده ليږل اودا د ذوي العقولو صفت دي او وحشي خر خو غير ذوي العقول دي

جواب : دلته د ارسال نه مراد برآنګيخته کول او راپارول دي اودمرسل اومرسله اليه په مينځ کې تخليه کول دي ددې وجې نه څه اشکال نشته.

معترکة: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دمعنی ده العراک داسم فاعل معترکة په معنی باندې دې داتاويل يې ځکه وکړه چې ددې په ذوالحال باندې حمل صحيح شي

متزاحمة: په دې عبارت سره شارح دمعترکةً معنی بيان کړه يعنې متنازعة بعضها مع بعض.

لم يمنعها: په دې عبارت سره شارح د لم يذدها دمعنی بيان کوي.

اى لم يخف: په دې عبارت سره شارح د لم يشفق دمعنی بيان کوي، داشفاق دوه(۲) معنی دي:

(۱) مهرباني کول. (۲) ويريدل، شارح په لم يخف سره ددويمې معنی تعين کوي چې دلته لم يشفق په معنی د لم يخف سره دي.

نغص: ددې معنی ده په پوره اومکمله طريقې سره نه سيراب کيدل اوموړيدل.

دخال: د دخال معنی ده چې يو اوښ اوبه وڅکي او واپس خپل ځاې ته لاړ شي اوبيادا خپل ځاې نه دوباره لړې شي اوحوض طرف ته واپس شي اوددوه تږو اوښانو په مينځ کې داخل شي کوم چې اوبه څکي ددې دپاره چې داهغه اوبه وڅکي کوم چې ده مخکې نه وي څکلي.

ولعل المراد: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : د دخال معنی ده چې ددوه تږو اوښانو په مينځ کې يو اوښ داخل شي نه وحشي خر داخليدل. لهذا دلته لفظ د دخال صحيح نه دي.

جواب : شارح ددې دوه جوابونه ورکوي

جواب (۱) : اول جواب داچې د دخال نه مراد نفس مداخلت دي يعنې بعضې ځناور په بعضو نورو کې داخل شي برابره خبره که اوښ وي اويا بل ځناور وي

جواب (۲) : دويم جواب داچې په عبارت کې مثلُ مضاف محذوف دي تقدير دعبارت داسې

دي چې على نغص مثل نغص الدخال

ونحوه: يعني د مذكوره دوه مثالونو نه غير نور مثالونه هم شته چې په هغې كې حال نكره نه وي مثال لكه **فعلته جهدك**

تاويلها: په دې عبارت سره شارح په مثالونو كې شوي تاويلات بيانوي په دې مثالونو كې دوه (۲) قسمه تاويل شوي دي

تاويل (۱): العراک او **وحده** او **جهدک** دا د افعال محذوفه د مصادرو **مفعول مطلق** دي د دې افعال په سماعي وجوبي طريقې باندې حذف كړي شو په اصل كې عبارت داسې دي **تعترک العراک وتنفرد وحده وتجتهد جهدک**، دا ټولې جملې فعليې حال واقع دي او مصادر منصوب دي د مفعول مطلق په بناء باندې ځكه چې **جمله من حيث الجملة** د نكرې په حكم كې وي لهذا حال نكره شو نه معرفه.

تاويل (۲): مصادر اګرچې صورةً معرفه دي ليكن معناً نكره دي لكه څنګه چې **حسن الوجه** صورةً معرفه ده ليكن معناً نكره ده دا معناً ځكه نكره ده چې د **العراک** الف لام زائد دي د عراک معنى ده **معترکة** او د **وحده** معنى ده **منفردا**، او د **جهدک** معنى ده **مجتهدا**.

په ذوالحال باندې د حال د تقديم صورت:

فَإِنْ كَانَ صَاحِبُهَا اَیْ صَاحِبُ الْحَالِ نَكِرَةً مَحْضَةً لَمْ تَكُنْ فِيْهَا شَائِبَةُ تَخْصِيْصٍ بِمَا سِوَى التَّقْدِيْمِ
كه چيرته صاحب د دې يعني صاحب د حال نكره محضه وي چې نه وي په دې كې شائبه د تخصيص په غير د تقديم
وَ لَمْ تَكُنِ الْحَالُ مُشْتَرِكَةً بَيْنَهَا وَ بَيْنَ مَعْرِفَةٍ نَحْوُ جَاءَنِيْ رَجُلٌ وَزَيْدٌ رَاكِبَيْنِ وَجَبَ تَقْدِيْمُهَا
نه او نه وي حال مشترک په مينځ د نكرې او د معرفې كې لكه جاءني رجل وزيد راكبين نو واجب دي تقديم د دې
اَیْ تَقْدِيْمُ الْحَالِ عَلَى صَاحِبِهَا لِيَتَخَصَّصَ النَّكِرَةُ بِتَقْدِيْمِهَا لِاَنَّهُمَا فِي الْمَعْنٰى
يعني تقديم د حال په ذوالحال باندې چې تخصيص حاصل كړي نكره په تقديم د دې سره ځكه چې دا دواړه په معنى
مُبْتَدَأٌ وَ خَبَرٌ وَ لِئَلَّا تَلْتَبِسَ بِالصِّفَةِ فِي النَّصَبِ فِيْ مِثْلِ قَوْلِنَا ضَرَبْتُ رَجُلاً
كې مبتدا او خبر دي او د دې وجې نه التباس رانه شي د صفت سره په حالت د نصب كې په شان د قول زمونږ ضربت رجلاً
رَاكِباً ثُمَّ قُدِّمَتْ فِيْ سَائِرِ الْمَوَاضِعِ وَ اِنْ لَمْ تَلْتَبِسْ طَرْداً لِلْبَابِ.
راكبا يا مقدم كړې شو حال په ټولو ځايونو كې اګركه ملتبس نه وي حال د صفت سره طرداً للباب.

خلاصه دمتن : صاحب دكافيې وايي چې كه ذوالحال نكره وي نو دحال تقديم په ذوالحال باندې واجب دي

اغراض دجامي : اى صاحب الحال : په دې عبارت سره شارح د صاحبها د هاء دضمير مرجع متعين كوي چې د هاء ضمير حال ته راجع دي

محضة : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي

سوال : جاء ني رجل من بني تميم فارساً په دې كې رجل ذوالحال نكره ده ددې باوجود دحال تقديم په ذوالحال باندې واجب نه دي نو ستا قول څنګه صحيح دي چې ذوالحال نكره وي نو: حال تقديم واجب دي .

جواب : دلته دنكرې نه مرادنكره محضه ده چې په كې دتخصيص هيڅ شائبه نه وي اوپه ذكر شوي مثال كې رجل نكره محضه نه ده بلكه من بني تميم والادصفت دوجې نه نكره مخصصه ده.

وبما سوى: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : كله چې ذوالحال نكره محضه وي اوحال په ذوالحال باندې مقدم كړي شي نوپه دې كې دحال د تقديم د وجې نه تخصيص راتلې شي لهذا په دغه ذوالحال باندې د حال تقديم واجب كيدل نه دي په كار .

جواب : دتخصيص نه مراد هغه تخصيص دي كوم تقديم چې په ماسواء سره حاصليږي .

ولم تكن الحال مشتركة : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : جاء ني رجل وزيد راكبين په دې كې رجل نكره محضه ده ددې باوجود د راكبين تقديم په ذوالحال باندې واجب نه دي ؟

جواب : دذوالحال دنكره كيدو په صورت كې دحال تقديم په ذوالحال باندې په هغه وخت كې واجب دي چې هغه نكره حال اودمعرفې په مېنځ كې مشترک نه وي اوپه ذكر شوي مثال كې حال نكره اودمعرفې په مينځ كې مشترک ده

اى تقديم الحال : په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دمرجع دي .

على صاحبها : په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دصلې دي چې دادتقديم صله ده .

لتخصص : په دې عبارت سره غرض دشارح حل په ذوالحال باندې دمقدم كولو وجه بيانوي چې

کله ذوالحال نکره وي نو دحال تقديم وجوب په دوه (۲) وجهو سره دي :

اوله وجه : حال دتقديم دوجې نه په ذوالحال نکره کې تخصيص پيداکوي ځکه چې ذوالحال او حال د مبتدا اوخبر په حکم کې دي لکه څنګه چې خبر دتقديم په وجې سره مبتدا نکره کې تخصيص راځي اودې لره مبتدا جوړول صحيح کيږي همدارنګې دحال دتقديم دوجې نه په ذوالحال نکره کې تخصيص راځي اوددې ذوالحال جوړول به صحيح وي

دوهمه وجه : دحال په ذوالحال باندې تقديم ددې وجې نه واجب دي ځکه چې په حالت د نصب کې دحال دصفت سره التباس لازم رانه شي لکه مثال ضربت رجلاً راکباً په دې کې دا احتمال دي چې راکباً د رجلاً نه حال وي اودااحتمال يې هم شته چې داد رجلاً صفت وي کله چې راکباً لره په رجلاً باندې مقدم شي نو ددې تقديم نه به دامعلومه شي چې راکباً د رجلاً نه حال واقع دي صفت نه دي ځکه چې صفت په خپل موصوف باندې نه شي مقدم کيدي .

ثم قدمت : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : التباس خو په حالت دنصب کې لازم راځي په حالت دجر اوپه حالت درفع کې التباس لازم نه راځي ځکه چې دمرفوع صفت مرفوع وي اودمجرور صفت مجرور وي لهذا په حالت د رفع اوجر کې چې کله ذوالحال نکره وي نو دحال تقديم واجب کيدل نه دي په کار .

جواب : اګرچې په حالت دنصب دغير کې التباس لازم نه راځي ليکن په دې کې هم طرداً للباب تقديم واجب دي .

په ذوالحال باندې دحال د تقديم جائز او ناجائز صورتونه :

وَلاَ تَتَقَدَّمُ اَيِ الْحَالُ فِيْمَا عَدَا مِثْلُ زَيْدٌ قَائِماً كَعَمْرٍو قَاعِداً عَلَى الْعَامِلِ الْمَعْنَوِيِّ قَدْ عَرَفْتَ فِيْمَا قَبْلُ
اونه مقدم کيږي يعنې حال د زيدقائماً کعمروقاعداً مثال نه غير په عامل معنوي باندې چې تا پيژندلې مخکې په
الْعَامِلَ الْمَعْنَوِيَّ وَ اَنَّ مَا هُوَ مُقَدَّرٌ بِالْفِعْلِ اَوْ اِسْمِ الْفَاعِلِ مِثْلُ الظَّرْفِ وَ مَا يَشْبِهُهُ اَعْنِيْ
عامل معنوي کې چې کوم چې مقدر په فعل يا په اسم فاعل پورې لکه ظرف او کوم چې ددې مشابه دي يعنې
الْجَارَ وَ الْمَجْرُوْرَ خَارِجٌ عَنْهُ دَاخِلٌ فِي الْفِعْلِ اَوْ شِبْهُهُ فَعَلَى هٰذَا مَعْنَى
جاراومجروردا خارج دي دعامل معنوي نه اوداخل دي په فعل ياپه شبه فعل کې نوبناء په دې باندې معنى د
الْكَلاَمِ اَنَّ الْحَالَ لاَ تَتَقَدَّمُ عَلَى الْعَامِلِ الْمَعْنَوِيِّ اِتِّفَاقاً بِخِلاَفِ الظَّرْفِ اَىْ بِخِلاَفِ مَا اِذَا كَانَ الْعَامِلُ
کلام داده چې نه مقدم کيږي په عامل معنوي باندې بالاتفاق په خلاف دظرف يعنې په خلاف دهغه چې وي عامل

ظَرْفاً اَوْ شِبْهَهُ فَاِنَّ فِيْهِ خِلَافاً فَسِيْبَوَيْهِ لاَ يُجَوِّزُهُ اَصْلاً نَظَراً اِلٰى ضُعْفِ الظَّرْفِ
ظرف يامشابه د ظرف څکه په دې کې اختلاف دي نو سيبويه نه جائز کوي بالکل په نظر کولو سره ضعف د ظرف ته
فِي الْعَمَلِ وَجَوَّزَهُ الْاَخْفَشُ بِشَرْطِ تَقَدُّمِ الْمُبْتَدَاِ عَلَى الْحَالِ نَحْوُ زَيْدٌ قَائِماً فِي الدَّارِ مَعَ تَاخِيْرِ
په عمل کې او جائز کړي اخفش په شرط د تقديم د مبتدا په حال باندې لکه زيد قائما في الدار هر چې سره د تاخيرد
الْمُبْتَدَاِ عَنِ الْحَالِ فَاِنَّهُ وَافَقَ سِيْبَوَيْهِ فِي الْمَنْعِ فَلَا يَجُوْزُ قَائِمًا زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا قَائِمًا فِي الدَّارِ زَيْدٌ
مبتدا کې د حال نه نو دا موافق دي د سيبويه سره په منع کې نو نه دي جائز قائما زيد في الدار او نه قائما في الدار زيد
اِتِّفَاقًا وَ يَحْتَمِلُ اَنْ يَكُوْنَ مَعْنَاهُ اَنَّ الْحَالَ وَ اِنْ كَانَ مُشَابِهًا لِلظُّرُوْفِ لِمَا فِيْهِ
بالاتفاق او دا احتمال هم لري چې وي معنی د دې چې حال اګر که مشابه وي د ظروفو سره څکه چې په دې کې
مِنْ مَعْنَى الظَّرْفِيَّةِ اِلَّا اَنَّ الظَّرْفَ يَتَقَدَّمُ عَلٰى عَامِلِهِ الْمَعْنَوِيِّ لِتَوَسُّعِهِمْ فِي الظُّرُوْفِ وَ الْحَالُ لَا يَتَقَدَّمُ
معنی د ظرفيت ده مګر ظرف مخکې کيږي په عامل معنوی باندې د وجې د توسع نه په ظروف کې او حال نه مقدم
عَلَيْهِ هٰذَا اِذَا لَمْ يَكُنِ الظَّرْفُ دَاخِلًا فِي الْعَامِلِ الْمَعْنَوِيِّ اَمَّا اِذَا
کيږي په عامل معنوي دا په هغه وخت کې چې کله نه وي ظرف داخل په عامل معنوي کې ليکن چې کله تاسو
جَعَلْتَهُ دَاخِلًا فِي الْعَامِلِ الْمَعْنَوِيِّ كَمَا هُوَ الظَّاهِرُ مِنْ كَلَامِهِمْ فَالْمُرَادُ هُوَ الْاِحْتِمَالُ الثَّانِيْ
وګرځوي داخل په عامل معنوي کې لکه څنګه چې دا ظاهر دي د کلام د نحويانو نو مراد هغه دويم احتمال دي
لَا غَيْرُ.
نه بل.

خلاصه دمتن : صاحب د کافيې وايي چې که ذوالحال نکره وي نو د حال تقديم په ذوالحال باندې واجب دي ليکن حال خپل عامل معنوي باندې نه شي مقدم کيدي په خلاف د ظرف که چيرته عامل معنوي ظرف وي نو بيا پرې مقدم کيدي شي .

اغراض دجامي : اى الحال : په دې عبارت سره شارح دلتقدم د ضمير مرجع بيانوي چې د لتقدم ضمير مرجع حال دي .

فيما عدا : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : ستا دا قول چې حال په عامل معنوي باندې نه شي مقدم کيدي دا منقوضه او ماته ده په زيدٌ قائما کعمرو قاعدا سره څکه چې په دې مثال کې قائماً د زيد نه حال دي او دا د عامل معنوي نه مقدم دي څکه چې په دې کې عامل معنوي تشبيه دي کوم چې د کاف نه معلوميږي .

جواب : دلته په عامل معنوي باندې د حال تقديم په يوې قاعدې سره دي او هغه قاعده داده

چې کله ددوه شیانو مختلفینو نه دوه حاله واقع وي یا دیو څیز نه دوه حاله واقع وي په دوه مختلف اعتبارونو سره په دې وخت کې هرحال دخپل ذوالحال سره متصل کیدل ضرري دي او دامثال هم ددې قبیل څخه دي ځکه چې په دې کې **قائماً** د**زید** نه حال دي په دې حیثیت سره چې هغه مشبه دي او **قاعداً** د**عمرواً** نه حال دي په دې اعتبار سره چې هغه مشبه به دي ددې وجې نه **قائماً** د **زید** سره متصل کیدل او **قاعداً** د **عمرواً** سره متصل کیدل ضروري دي ورنه د تاخیر په صورت کې دیوحال دبل حال سره التباس لازم راځي .

قد عرفت: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : کله چې مصنف **ولا تتقدم على المعنوي بخلاف الظرف** وویل نو عامل معنوي او ظرف لره یې ولې بیان نه کړه په کارخو داسې وه چې ویلي وي چې عامل معنوي څه ته وایي ؟

جواب : داخبره مخکې معلومه شوې ده چې عامل معنوي څه ته وایي اوداهم معلومه شوې ده چې هغه لفظ کوم چې مقدر بالفعل یامقدر باسم الفاعل وي مثلاً ظرف اوددې مشابه داد عامل معنوي نه خارج دي اوپه فعل اوشبه فعل کې داخل دي لهذا دوباره دتعریف ضرورت نشته دي همدارنګې داعبارت دمابعد **بخلاف الظرف** دپاره هم تمهید دي .

فعلى هذا: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : ظرف په عامل معنوي کې داخل دي یافعل اوشبه فعل کې داخل دي نو بیا **بخلاف الظرف** دمخالفت سره دظرف تخصیص صحیح نه دي ځکه چې لکه څنګه حال په ظرف باندې مقدم کیدې شي نو همدارنګې فعل یاشبه فعل نه هم مقدم کیدې شي نو مصنف رحمه الله له داسې ویل په کار وو چې **بخلاف الظرف والفعل وشبه الفعل** .

جواب : ظرف په فعل یاشبه فعل کې داخل دي پاتې شوه داخبره چې مخالفت سره دظرف تخصیص یې ولې ذکرو نو ددې جواب دادې چې په ظرف کې اختلاف وو نو ځکه ددې تخصیص وشو . اوس دعبارت معنی داده چې حال په عامل معنوي باندې بالاتفاق نه شي مقدم کیدې په خلاف ددې صورت چې کله حال عامل ظرف یاشبه ظرف وي نو په دې باره کې اختلاف دي داختلاف تفصیل دادې :

(۱) : **دسیبویه په نزد**: دسیبویه په نزد عامل ظرف اوشبه ظرف باندې حال نه شي مقدم کیدې ځکه چې ظرف په عمل کې ضعیف دي اودعامل ضعیف معمول به حال باندې نه شي

مقدم کيدي.

(۲): داخفش په نزد: داخفش په نزد عامل ظرف اوشبه ظرف باندې دحال تقديم جائز دي په دې شرط سره چې مبتدا دحال نه مقدم وي لکه **زيد قائماً في الدار** اوکه مبتدا دحال نه مؤخر وي نو بيا اخفش هم دسيبويه موافقت کوي اودحال تقديم ناجائزوي ددې وجې نه **قائماً زيد في الدار** او **قائما في الدار زيد** بالاتفاق ناجائز دي ځکه چې په دې کې حال په مبتدا باندې مقدم دي

ويحتمل: په دې عبارت سره غرض دشارح په متن کې د **بخلاف الظرف** يو بل احتمال بيانوي.

دمصنف قول **ولاتتقدم على العامل المعنوي بخلاف الظرف** په مطلب کې دوه احتماله وو

(۱): يو احتمال خو مخکې تير شوي دي چې حال په عامل معنوي بالاتفاق نه شي مقدم کيدې په خلاف دعامل ظرف ياشبه ظرف چې په دې باندې دحال په مقدم کيدو کې اختلاف دي.

(۲): دويم احتمال دادې چې حال اګرکه دظرف مشابه دي ځکه چې په دې کې هم دظرفيت معنى موندلې شي ليکن حال په عامل معنوي باندې نه شي مقدم کيدې په خلاف دظرف چې هغه په عامل معنوي نه شي مقدم کيدې ځکه چې نحويان په ظرف کې وسعت اوګنجائش پيدا کوي، ضابطه اوقاعده داده چې **يجوز في الظرف مالا يجوز في غيرها**، همدارنګې داقاعده هم ده چې **الظروف کالمحارم** لکه څنګه چې هر انسان دپاره محارم وي اوهغه محارم ليلاً اونهاراً چې کله وغواړي په غير داجازت نه کور ته داخليږي دده دپاره دتوسع اوفراخۍ مظاهره کولې شي همدغه حال دظروفو هم دي دکثرت دوران اودکثرت استعمال دوجې نه په دې کې توسع شوي ده چيرته چې وي مقدم وي يامؤخر وي په هرحال کې به دامعمول جوړيږي.

وهذا اذا لم يکن: په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چې مصنف په دې عبارت کې ددوه معنو احتمال په هغه وخت کې دي چې کله ظرف په عامل معنوي کې داخل نه وي که داخل وي نو بيا فقط دويم احتمال به وي چې ظرف دعامل معنوي نه، نه شي مقدم کيدي ځکه چې په ظرف کې وسعت وي اوپه غير ظرف کې وسعت نه وي.

تبصره: په اوله اودويمه توجيه کې فرق دادې چې اوله توجيه په اعتبار دظرف سره عامل جوړيږي او دويمه توجيه په اعتبار سره معمول جوړيږي

فائده: شارح دجامي دويمه توجيه په يحتمل سره ذکر کړه اوددې ضعف طرف ته يې اشاره وکړه ځکه چې دادسياق کلام سره ملائم اومناسب نه دي ځکه چې ظرف د معنوي په مقابله کې

ذكر شوي دي هغه عامل دي نو مناسب داده چې د ظرف نه مراد هم عامل وي نه چې معمول.

په ذوالحال باندې د حال د تقديم جائز او ناجائز صورتونه:

وَ كَمَا لَا تَتَقَدَّمُ الْحَالُ عَلَى الْعَامِلِ الْمَعْنَوِيِّ كَذٰلِكَ لَا تَتَقَدَّمُ عَلٰى ذِي الْحَالِ
اولكه څنګه چې نه شي مقدم كيدې حال په عامل معنوي باندې همد رنګې نه شي مقدم كيدې حال په ذوالحال
الْمَجْرُوْرِ سَوَاءٌ كَانَ مَجْرُوْراً بِالْإِضَافَةِ اَوْ بِحَرْفِ الْجَرِّ فَاِنْ كَانَ مَجْرُوْراً
مجرور باندې برابره خبره ده كه مجرور بالاضافة وي اويامجرورپه حرف جر سره وي كه چيرته ذوالحال مجرور
بِالْإِضَافَةِ لَمْ تَتَقَدَّمِ الْحَالُ عَلَيْهِ اِتِّفَاقًا نَحْوُ جَاءَتْنِيْ مُجَرَّدًا عَنِ الثِّيَابِ ضَارِبَةُ زَيْدٍ وَ ذٰلِكَ لِاَنَّ
بالاضافة وي نونه شي مقدم كيدې حال په دې باندې بالاتفاق مثال لكه جاءتني مجرداًعن الثياب ضاربة زيداو داځكه
الْحَالَ تَابِعٌ وَ فَرْعٌ لِذِي الْحَالِ وَ الْمُضَافِ اِلَيْهِ لَا يَتَقَدَّمُ عَلَى الْمُضَافِ فَلَا يَتَقَدَّمُ تَابِعُهُ
چې حال تابع اوفرع ده د ذوالحال او مضاف اليه نه شي مقدم كيدې په مضاف باندې نونه شي مقدم كيدې تابع ددې
اَيْضًا وَ اِنْ كَانَ مَجْرُوْراً بِحَرْفِ الْجَرِّ فَفِيْهِ خِلَافٌ فَسِيْبَوَيْهِ وَ اَكْثَرُ الْبَصْرِيِّيْنَ يَمْنَعُوْنَ
همدارنګې اوكه چيرته ذوالحال مجرور بحرف جروي نوپه دې كې اختلاف دي نوسيبويه او اكثر بصريين منع كوي
تَقْدِيْمَهَا عَلَيْهِ لِلْعِلَّةِ الْمَذْكُوْرَةِ وَ هُوَ الْمُخْتَارُ عِنْدَ الْمُصَنِّفِ وَ لِهٰذَا قَالَ عَلَى الْاَصَحِّ
تقديم د حال په ذوالحال باندې دوجې د علت مذكوره نه او داغوره دي په نزد د مصنف او ددې وجې نه يې على الاصح
وَ نُقِلَ عَنْ بَعْضِهِمُ الْجَوَازُ اِسْتِدْلَالاً بِقَوْلِهٖ تَعَالٰى وَمَا اَرْسَلْنَاكَ اِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ
وويل اونقل دي د بعضې نحويانونه جوازچې استدلال كوي په دې قول د الله تعالى سره چې وماارسلناك الاكافة للناس
وَ لَعَلَّ الْفَرْقَ بَيْنَ حَرْفِ الْجَرِّ وَ الْإِضَافَةِ اَنَّ حَرْفَ الْجَرِّ مُعَدٍّ لِلْفِعْلِ كَالْهَمْزَةِ وَ التَّضْعِيْفِ
او كيدې شي چې فرق په مينځ د حرف جراو د اضافت كې داوي چې حرف جر متعدي دي فعل لره لكه همزه او تضعيف
فَكَاَنَّهُ مِنْ تَمَامِ الْفِعْلِ وَ بَعْضِ حُرُوْفِهٖ فَاِذَا قُلْتَ ذَهَبْتُ رَاكِبَةً بِهِنْدٍ فَكَاَنَّكَ قُلْتَ
نو ګويا چې حرف جر د تمام د فعل او د حروفو يوه حصه ده پس كله چې ته ووايې ذهبتُ راكبةً بهند نو ګويا چې تا
اَذْهَبْتُ رَاكِبَةً هِنْداً فَالْمَجْرُوْرُ بِحَرْفِ الْحَقِيْقَةِ لَيْسَ مَجْرُوْراً وَ اَجَابَ بَعْضُهُمْ عَنْ هٰذَا الْاِسْتِدْلَالِ
اذهبتُ راكبة هنداً وويل نو مجرور په اعتبار د حقيقت سره مجرورنه دي او جواب وركړې دي بعضود دې استدلال نه
بِجَعْلِ كَافَّةً حَالاً عَنِ الْكَافِ وَ التَّاءِ لِلْمُبَالِغَةِ وَ بَعْضُهُمْ بِجَعْلِهَا صِفَةً
په ګرځولو د كافة سره حال د كاف نه او تاء د پاره د مبالغې ده او بعضو جواب وركړې په ګرځولو د كافة صفت د پاره د
لِمَصْدَرٍ اَيْ رِسَالَةً كَافَّةً وَ بَعْضُهُمْ بِجَعْلِهَا مُصْدَراً كَالْكَاذِبَةِ وَ الْعَافِيَةِ وَ الْكُلُّ
مصدر يعني رسالة كافة او بعضو جواب وركړې په ګرځولو د كافة سره مصدر لكه كاذبة او عافية او داټول جوابونه

تَكَلُّفٌ وَ تَعَسُّفٌ.

د تکلف او د تعسف څخه دي

خلاصه دمتن: صاحب د کافیې په مخکښې قاعده کې اضافه کوي چې لکه څنګه حال په خپل عامل معنوي باندې نه شي مقدم کیدي نو همدارنګې حال په ذوالحال مجرور باندې هم په اصح قول سره نه شي مقدم کیدي

اغراض دجامي: كمالايتقدم: په دې عبارت سره شارح بیان دعطف کوي چې د مصنف قول لا على المجرور داعطف دي په عامل معنوي باندې او داعطف د مشبه على المشبه به د قبیلې څخه دي د عبارت حاصل دادې چې لکه څنګه حال په عامل معنوي باندې نه شي مقدم کیدي نو همدارنګې حال په ذوالحال مجرور باندې هم نه شي مقدم کیدي.

سواء: په دې عبارت سره غرض د شارح بیان د تعمیم دي چې په ذوالحال مجرور کې تعمیم دي برابره خبره ده چې دو الحال مجرور بالاضافة وي او یا مجرور بحرف الجر وي که مجرور بالاضافة وي نو بیا حال په ذوالحال باندې بالاتفاق نه شي مقدم کیدي مثال لکه جاء تني مجردا عن الثياب ضاربة زيد، په دې کې زيد داضافت دوجې نه مجرور دي او مجرداً د دې نه حال دي په دې کې حال په ذوالحال مجرور بالاضافة باندې مقدم دي د دې وجې نه داترکیب ناجائز دي.

وذلک: په دې عبارت سره شارح د عدم جواز وجه بیانوي د دې وجه داده چې حال د ذوالحال تابع او د دې فرعه وي او مضاف الیه د مضاف نه . نه شي مقدم کیدي نو کله چې مضاف الیه کوم چې ذوالحال دي د مضاف نه ، نه شي مقدم کیدي نو حال کوم چې د ذوالحال تابع دي د دې تقدیم خو په طریق اولی جائز نه دي.

بیان داختلاف: که چیرته ذوالحال مجرور بحرف الجر وي نو په دې باندې د حال تقدیم جواز په او عدم جواز کې اختلاف دي او په دې کې دوه (۲) مذهبه دي:

اول مذهب: اول مذهب د سیبویه او د اکثرو بصرینو دي ، دوي وایي چې د حال تقدیم په ذوالحال مجرور بحرف الجر باندې ناجائز دي او د مصنف په نزد دغه مختار او غوره قول دي د دې وجې نه مصنف رحمه الله على الاصح وویل.

دوهم مذهب: دویم مذهب د بعضې نحویانو نه منقول دي چې حال د ذوالحال مجرور نه ، نه شي مقدم کیدي.

دليل : دوي استدلال کوي په دې قول دالله تعالى باندې چې **وما ارسلناک الا کافة للناس** ، نو په دې کې **کافة** د الناس نه حال دې کوم چې مجرور بحرف الجر دې اوحال ددې نه يعنې الناس نه مقدم دې نو معلومه شوه چې دحال تقديم په ذوالحال مجرور بحرف الجر باندې جائز دې .

ولعل الفرق : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : هغه بعضې نحاة چې دچاپه نزد ذوالحال مجرور بحرف الجر باندې تقديم دحال جائز دې ددوي په نزد **مجرور بالاضافة** او **مجرور بحرف الجر** کې څه فرق دې چې په اول الذکر کې دحال تقديم ناجائز کړې اوپه دويم کې يې تقديم جائز کړې دې .

جواب : حرف جر اواضافت کې فرق دادې چې حرف فعل لازم لره متعدي جوړوي لکه څنګه چې دباب افعال همزه اودباب تفعيل دعين تضعيف فعل لازم لره متعدي جوړوي لهذا حرف جر دفعل تولو اوددې حروفو څخه يوه حصه اوديو جُز حيثيت لري لکه څنګه چې دباب افعال همزه اودباب تفعيل دعين تضعيف دفعل حصه ده اواضافت داسې نه دي مثلاً چې کله ووييل شي چې **ذهبتُ راکبةً بهندٍ** نوګويا چې هغه داسې وويل چې **اذهبتُ راکبةً هنداً** ، نو لهذا مجرور بحرف الجر په حقيقت کې مجرور نه دي بلکه منصوب دي ددې وجې نه مجرور بحرف الجر باندې دحال تقديم جائز دي په خلاف دمجرور بالاضافت کې داسې نشته ځکه چې په دې کې تقديم دحال جائز نه دي .

واجاب بعضهم : په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې بعضې نحويان چې دذوالحال مجرور باندې تقديم دحال دجواز قائل دي هغه دقرآن کريم ددې آيت : **وما ارسلناک الا کافة للناس** نه استدلال کوي ، عدم قائلين بالجواز دري جوابونه ورکوي شارح هغه ذکر کوي :

جواب (١) : امام زجاج رحمه الله داجواب ورکوي چې **وماارسلناک الا کافة للناس** ،**کافة** مجرور په حرف جر سره د **الناس** نه حال نه دي بلکه کاف دضمير دخطاب نه حال دي .

والتاء للمبالغة : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : دحال اوذوالحال په مينځ کې په تذکير اوتانيث کې مطابقت ضروري دي اودلته کې مطابقت نشته دي کاف دضمير ذوالحال مذکر دي او**کافة** مؤنث دي .

جواب : په **و التاء للمبالغة** سره شارح جواب ورکوي چې د **کافة تاء** د تانيث د پاره نه ده بلکه

مبالغې دپاره ده لهذا دحال اوذوالحال په مينځ کې په تذکيراوتانيث کې مطابقت موجود دي.

جواب (۲): علامه زمخشري رحمه الله داجواب ورکړي دي چې **کافة** صفت دي دموصوف محذوفه چې رسالةً دي موصوف دخپل صفت سره معفول مطلق دي د ارسلناک تقدير دعبارت داسې دي چې **وما ارسلناک الا رسالة کافة**.

جواب (۳): بعضو داجواب ورکړي دي چې **کافة** د **کف** په معنی کې دي او مفعول مطلق دي دفعل محذوفه تکف نه.

سوال: **کافة** خو اسم فاعل دي نودا مصدر څنګه جوړيږي؟

جواب: په **الکاذبة** سره شارح جواب ، کوي چې کله اسم فاعل دمصدر په معنی کې وي مثال لکه **کاذبة** په معنی د کذب سره او **عافية** په معنی دعفة سره ليکن شارح دجامي وايي چې د جمهورو علماو دطرف نه چې کوم جوابونه ورکړي شوي دي هغه ټول جوابونه دتکلف او د تعسف نه خالي نه دي.

تکلفات: (۱): په اول جواب کې داتکلف دي چې داسم فاعل په آخر کې دتاء مبالغې دخول په کلام دعربو کې معلوم الوقوع نه دي.

(۲): په دويم جواب کې تکلف دادې چې حذف دموصوف راځي اوحذف خلافِ اصل دي.

(۳): په دريم جواب کې تکلف دادې چې **کافة** دمصدر په معنی کې استعماليږي او تاء د مبالغې دپاره کيدل په کلام دعربو کې واقع نه دي.

اسم جامد او مشتق د حال واقع کيدو بيان:

وَ	كُلُّ	مَا	دَلَّ	عَلٰى	هَيْئَةٍ	اَىْ	صِفَةٍ	سَوَاءٌ	كَانَ	الدَّالُّ	
اوهرهغه څيزچې دلالت کوي په هيئت باندې يعني په صفت باندې برابره خبره ده چې دا دلالت کوونکې صيغه د											
مُشْتَقًّا	اَوْ	جَامِدًا	صَحَّ	اَنْ	يَقَعَ	حَالًا	مِنْ	غَيْرِ	اَنْ	يُؤَوَّلَ	الْجَامِدُ بِالْمُشْتَقِّ
مشتق ري اوياد جامد صحيح دي چې واقع شي حال په غير د هغه نه چې تاويل وکړې شي د اسم جامد په مشتق سره											
لِاَنَّ	الْمَقْصُوْدَ	مِنَ	الْحَالِ	بَيَانُ	الْهَيْئَةِ	وَ	هُوَ	حَاصِلٌ	بِهٖ	وَ	هٰذَا رَدٌّ عَلٰى جُمْهُوْرِ النُّحَاةِ
ځکه چې مقصود د حال نه بيان دهيئت دي اودا حاصل دي په جامد سره اودارد دي په جمهورونحويانو باندې په											
حَيْثُ	شَرَطُوْا	اِشْتِقَاقَ	الْحَالِ	وَ	تَكَلَّفُوْا	فِيْ	تَاوِيْلِ	الْجَوَامِدِ			
داسې شان سره چې دوي شرط کړي دمشتق کيدودحال دپاره اودوئ تکلف کړي دي په تاويل دجوامدو کې په											

بِالْمُشْتَقِّ وَمَعَ هٰذَا فَلَا شَكَّ اَنَّ الْاَغْلَبَ فِي الْحَالِ الْاِشْتِقَاقِ مِثْلُ بُسْراً وَرُطَبًا فِيْ قَوْلِهِمْ هٰذَا

مشتق سره او سره ددې نو څه شک نشته چې اغلب په حال کې مشتق كيدل دي لکه بسراً او رطباً په کلام د عربو کې هذا

بُسْراً وَ هُوَ مَا بَقِيَ فِيْهِ حُمُوْضَةٌ اَطْيَبُ مِنْهُ رُطَبًا وَ هُوَ مَا فِيْهِ

بسراً او دا هغه کجوري دي چې باقي وي په دې کې تريووالي اطيب منه رطبا او رطب هغه کجورې ته وايي چې په دې کې

حَلَاوَةٌ صَرْفَةٌ فَهُمَا مَعَ كَوْنِهِمَا جَامِدَيْنِ حَالَانِ لِدَلَالَتِهِمَا عَلَى صِفَةِ الْبُسْرِيَّةِ وَ الرُّطَبِيَّةِ

صرف خوږوالي وي پس دا دواړه سره د جامد كيدو دادواړه حاله دي دوجې د دلالت نه په صفت د بسريت او رطبيت

وَلَا حَاجَةَ اِلٰى اَنْ يُؤَوَّلَ الْبُسْرُ بِالْمُبْسِرِ وَالرُّطَبُ بِالْمُرْطِبِ مِنْ اَبْسَرَ النَّخْلُ اِذَا صَارَ

باندې او نشته دي حاجت چې تاويل وشي د بسر په مبسر سره او د رطب په مرطب سره دا ابسر النخل نه کله چې وګرځي

مَا عَلَيْهِ بُسْراً وَ اَرْطَبَ اِذَا صَارَ مَا عَلَيْهِ رُطَبًا وَ

هغه څه چې کوم په دې باندې وي هغه بسر او رطب چې کله وګرځي هغه څه چې کوم په دې باندې وي هغه رطب او

الْعَامِلُ فِيْ رُطَبًا اَطْيَبُ بِاتِّفَاقِ النُّحَاةِ وَ فِيْ بُسْراً اَيْضًا عِنْدَ مُحَقِّقِيْهِمْ وَ تَقَدَّمَ بُسْراً

عامل په رطب کې اطيب دي په اتفاق د نحويانو او په بسرا کې هم همدارنګې دي په نزد د محققينو او مقدم کړې شو بسر

عَلٰى اِسْمِ التَّفْضِيْلِ مَعَ ضُعْفِهِ فِي الْعَمَلِ لِاَنَّهُ اِذَا تَعَلَّقَ بِشَيْءٍ وَاحِدٍ حَالَانِ بِاِعْتِبَارَيْنِ مُخْتَلِفَيْنِ

په اسم تفضيل سره د ضعف نه په عمل کې ځکه چې کله متعلق وي د يو څيز سره دوه حاله په اعتبارونو مختلفو

يَلْزَمُ اَنْ يَلِيَ كُلٌّ مِنْهُمَا مُتَعَلِّقَهُ وَ الْبُسْرِيَّةُ تَعَلَّقَتْ بِالْمُشَارِ اِلَيْهِ بِهٰذَا

نو لازم دي چې متعلق وي هريو ددې دواړو نه د خپل متعلق سره او بسريت دا متعلق دي د هذا مشار اليه سره

مِنْ حَيْثُ اَنَّهُ مُفَضَّلٌ وَهٰذِهِ الْحَيْثِيَّةُ وَاِنْ لَمْ تَكُنْ مُعْتَبَرَةً فِيْهِ اِلَّا بَعْدَ اِضْمَارِهٖ فِيْ اَطْيَبَ لٰكِنَّهُ

دد ې حيثيت نه چې دا مفضل دي او دا حيثيت اګر که معتبر نه دي په دې کې مګر پس د ضمير نه په اطيب کې ليکن

لَمَّا كَانَ الضَّمِيْرُ بِالنِّسْبَةِ اِلَى الْمُظْهَرِ كَالْعَدَمِ اُقِيْمَ الْمُظْهَرُ مَقَامَهُ وَ اَوْجَبُوْا اَنْ

کله ضمير په نسبت سره مظهر ته کالعدم وو نو قائم شو مظهر په ځاې د مضمر او واجب کړه نحويانو چې حال به د

يَلِيَهُ وَ الرُّطَبِيَّةُ تَعَلَّقَتْ بِهٖ مِنْ حَيْثُ اَنَّهُ مُفَضَّلٌ عَلَيْهِ وَ هُوَ

مظهر سره متصل وي او رطب به متعلق وي د مشار اليه سره په دې حيثيت سره چې هغه مفضل عليه دي او هغه

ضَمِيْرُ مِنْهُ فَيَجِبُ اَنْ يَلِيَهُ قَالَ الرَّضِيُّ وَ اَمَّا الضَّمِيْرُ الْمُسْتَكِنُّ فِيْ اَفْعَلَ

مفضل عليه ضمير د منه دي نو واجب دي چې متصل وي د منه سره رضي ويلي دي هرچې ضمير مستتر دي په افعل

فَاِنَّهُ وَ اِنْ كَانَ مُفَضَّلًا لٰكِنَّهُ لَمَّا لَمْ يَظْهَرْ كَانَ كَالْعَدَمِ وَ مَعَ هٰذَا فَلَا اَرٰى بَاْسًا

کې ځکه چې دا اګر که مفضل دي لکن هر کله چې ظاهر نه وو نو دا شو په شان د کالعدم او سره د دې زه نه وينم څه باک

بِأَنْ يُقَالَ وَ إِنْ لَمْ يُسْمَعْ زَيْدٌ أَحْسَنَ قَائِمًا مِنْهُ قَاعِداً وَ ذَهَبَ بَعْضُهُمْ إِلَى أَنَّ
چې وويلې شي اګرچې نه دي اوريدلې شوې زيدٌ احسن قائماً منه قاعداً او تللي دي بعضې نحويان دې طرف ته چې
الْعَامِلَ فِيْ بُسْراً إِسْمُ الْإِشَارَةِ أَىْ أُشِيْرُ إِلَيْهِ حَالَ كَوْنِهِ بُسْراً وَهٰذَا لَيْسَ بِصَحِيْحٍ لِأَنَّهُ يُمْكِنُ أَنْ يَكُوْنَ
عامل په بسراً کې اسم اشاره ده يعنې اشير اليه حال کونه بسراً او دا نه ده صحيح ځکه چې ممکن ده چې وي
الْمُشَارُ إِلَيْهِ التَّمْرَ الْيَابِسَ فَلَا تَتَقَيَّدَ الْإِشَارَةِ بِحَالَةِ الْبُسْرِيَّةِ وَلِأَنَّهُ يَصِحُّ حَيْثُ وَقَعَ
مشار اليه تمر يابس نو نه شي مقيد کيدې اشاره په حال دبسريت باندې ځکه صحيح دي په داسې ځاى کې چې واقع
مَوْقِعَ إِسْمُ الْإِشَارَةِ إِسْمٌ لَا يَصِحُّ أَعْمَالِهِ فِيْهِ نَحْوُ تَمْرَةِ نَخْلَتِيْ بُسْراً أَطْيَبُ مِنْهُ رُطَباً.
وي په ځاى داسم اشارې داسې اسم چې نه وي صحيح عامل جوړول په حال کې لکه تمرة نخلتي بسراً اطيب منه رطباً

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې صاحب دکافيې يوه قاعده اوضابطه بيانوي چې هرهغه لفظ چې په يوهيئت يعنې په صفت باندې دلالت کوي برابره خبره ده که جامد وي اويا مشتق وي دې لره حال واقع کيدل صحيح دي يعنې حال لره اسم مشتق کيدل څه ضروري نه دي مثال لکه **هذا بسرا اطيب منه رطباً** دلته بسر او رطب دجامد کيدو باوجود صفتِ بسريت اوصفتِ رطبيت باندې ددلالت په وجې سره حال واقع کيږي.

اغراض دجامي : اى صفة : په دې عبارت سره شارح دهيئت معنى بيانوي چې دهيئت معنى ده صفت اودهيئت دمعنى نه **معنى الحركات وسكنات وتقديم بعض الحروف على البعض** مراد نه ده.

سواء كان الدال: په دې عبارت سره شارح بيان دتعميم کوي چې په حال کې تعميم دي برابره خبره ده که جامد وي اوکه مشتق وي.

من غير ان يؤول: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : شارحين دکافيې په دې اتفاق دي چې صاحب ددې قول نه مقصود په جمهور نحويانو باندې رد دي اودا رد په دې قول سره نه شي کيدې ځکه چې جمهور نحويان هم ددې خبرې قائل دي چې جامد حال واقع کيدې شي البته په دې کې اختلاف دي چې اسم جامد لره دمشتق په تاويل کې کيدل ضروري دي يا ضروري نه دي. جمهور نحويان وايي چې تاويل ضروري دي اودمصنف مذهب دادې چې په غير دتاويل نه حال جوړيدې شي نومصنف لره په غير دتاويل نه حال واقع کيدل په کاروو چې په جمهورو باندې رد وشي.

جواب: د وقوع نه خاص وقوع مراد دي يعنې اسم جامد لره د مشتق په تاويل کې په غير د حال نه واقع کيدل صحيح دي لهذا په دې کې په جمهورو باندې رد موجود دي ځکه چې د جمهورو مذهب دا دې چې اسم جامد د مشتق په تاويل کې په غير د حال نه . نه شي واقع کيدې .

لان المقصود: په دې عبارت سره شارح د اسم جامد د مشتق په تاويل کې په غير د حال واقع کيدو دليل بيانوي چې حاصل يې دا دې چې د حال نه مقصود د هيئت بيانول دي او دا مقصود د اسم جامد نه هم حاصليږي کله چې اسم جامد سره دا مقصود حاصليږي نو دې لره د مشتق په تاويل کې د کيدلو ضرورت نشته دي

وهذا رد على: په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چې د ماتن غرض په جمهورو نحويانو باندې رد دي جمهور نحويان وايي چې د حال د پاره مشتق کيدل شرط دي او که چيرته حال اسم جامد وي نو ده لره مشتق په تاويل کې کيدل ضروري دي مصنف رد کړي دي او وايي چې هرهغه لفظ چې په هيئت باندې دلالت کوي هغه لره حال واقع کيدل صحيح دي برابره خبره ده که جامد وي او که مشتق اسم جامد په غير د څه تاويل نه حال جوړيدې شي مګر دومره خبره ضرور ده چې اکثر واغلب حال مشتق واقع کيږي جامد لره حال واقع کيدل قليل دي .

مثل بسراً ورطباً في قولهم: په دې عبارت سره غرض د شارح د دوه سوالينو مقدرو جواب ورکول دي :

سوال (١): مصنف رحمه الله دلته د اسم جامد حال واقع کيدو مثال بيانوي او هغه مثال فقط بسراً ورطباً دي مجموعه جمله يعنې **هذا بسرا اطيب منه رطباً** نه دي نو مجموعه لره د **مثلُ** مضاف اليه جوړول څنګه صحيح دي ؟.

سوال (٢): د مضاف اليه د پاره مفرد کيدل ضروري دي ځکه چې مضاف اليه اسم وي او اسم د مفرد د اقسامو څخه دي او دلته کې د **مثلُ** مضاف اليه **هذا بسرا اطيب منه رطباً** جمله ده .

جواب: د **مثلُ** نه پس **بسراً** او **رطباً** مقدر کوي او شارح د جامي د دغې دواړو سوالونو جوابونه ورکوي چې دلته کې د **مثلُ** مضاف اليه محذوف دي چې **بسرا** او **رطبا** دي او س دواړه اشکالونه دفع شو ، اول اشکال په دې طريقې سره دفع شو چې مثال صرف **بسراً** او **رطباً** دي او دغه د **مثلُ** مضاف اليه دي ، دويم اشکال په دې طريقې سره دفع شو چې د **مثلُ** مضاف اليه **بسراً** او **رطباً** دي او دا مفرد دي جمله نه دي .

وهي ما بقي فيه حموضة : په دې عبارت سره شارح د بُسر معنى بيانوي چې بُسر هغې كهجوري ته وايي چې په هغې كې تربو والي وي

وهو ما فيه حلاوة صرفة : په دې عبارت كې شارح د رُطباً معنى بيانوي چې رُطباً هغه كهجوري ته ويلي شي چې په هغې كې خالص خوږوالي وي

فهما مع كونهما جامدين : په دې عبارت سره شارح د مثال وضاحت كوي مثال هذا بسرا اطيب منه رطبا په دې كې بسرا او رطبا دا دواړه اسم جامد دي او حال واقع كيږي بسراً دا طيب هو ضمير مستتر نه حال دي او رطبا د مِنهُ ضمير نه حال دي ځكه چې بُسر دلالت كوي په صفت د بسريت باندې او رطب دلالت كوي په صفت د رطبيت باندې لهذا بسر لره د مبسر او رطب لره د مرطب په تاويل كولو څه ضرورت نشته لكه څنګه چې جمهور يې كوي .

كه بُسر د مبسر په تاويل كې شي نو دا به دا بسر النخل نه ماخوذ وي او دا هغه وخت كې ويلي كيږي چې كله هغه ميوه كوم چې د كهجوري په ونه كې وي هغه بُسر شي او كه رطب د مرطب په تاويل كې شي نو دا به ماخوذ وي دا رطب النخل نه او دا په هغه وخت كې ويلي كيږي چې كله ميوې كومې چې د كهجوري په ونه كې وي هغه رطب شي .

والعامل في رطباً : په دې عبارت سره د حال عامل بيانوي چې په دې مثال يعني رطباً كې عامل خو بالاتفاق اطيب دي ليكن د بُسر د عامل په باره كې اختلاف دي د محققينو په نزد په بُسراً كې هم عامل اطيب دي .

وتقدم بسراً : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : اطيب اسم تفضيل دي او اسم تفضيل ضعيف عامل دي او د عامل ضعيف معمول د هغه نه . نه شي مقدم كيدي نو بسراً د اطيب معمول جوړول به څنګه صحيح وي .

جواب : دا تقديم ديوې قاعدې په بناء باندې دي هغه قاعده داده چې كله ديو څيز نه دوه حاله په دوه مختلف اعتبارونو سره واقع وي نو په دې هر حال خپل متعلق يعني ذوالحال سره متصل كيدل ضروري دي او دا مثال هم د دغه قبيل څخه دي شئ واحد مشار اليه بهذا دي او دوه حالونه رطبا او بسراً دي او دا دواړه متعلق دي د مشار اليه بهذا سره په دوه مختلفو اعتباراتو سره . بسراً د ده سره متعلق دي په دې اعتبار سره چې دا مفضل وي او رطبا د ده سره متعلق دي

په دې اعتبار سره چې دامفضل عليه دي بسرا په دې اعتبار سره متعلق دي چې هغه مفضل دي لهذا هغه د هذا سره متصل كيدل ضروري دي ځكه چې دامن تفضيليه باندې مقدم شي ځكه چې مفضل په من تفضيليه باندې مقدم كيدل ضروري دي اورطباً دهغه سره متعلق دي په دې اعتبار سره چې هغه مفضل عليه دي اوهغه مفضل عليه دمنه ضمير دي لهذا رطبا ددې سره متصل كيدل ضروري دي

وهذه الحيثية وان لم يكن معتبرة فيه : په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب وركول دي .

سوال : بسريت دمشاراليه بهذا سره دمفضل كيدو حيثيت په هغه وخت كې به معتبر وي چې كله په اطيب كې ضميرراوړي شي ددې نه مخكې دې ته مفضل ويل باطل دي لهذا مناسب داده چې دې لره د اطيب نه وروستو ذكر كړې شي .

جواب : داحيثيت په هغه وخت كې معتبر وي كله چې په اطيب كې ضمير راوړي شي ځكه چې ضميرداسم ظاهر په نسبت كالعدم وي لهذا اسم ظاهر يعنې هذا لره دضمير قائم مقام كړه او هذا سره د بُسراً اتصال لره واجب كړه .

قال الرضي واما الضمير المستكن : په دې عبارت سره شارح دخپل مخكنې قول چې داسم ظاهريدو په وخت كې به ضمير كالعدم وي په دې باندې دشيخ رضي قول په طور دسند اودليل پيش كوي شيخ رضي هم ويلي دي چې اګرچې په فعل كې ضمير مستتر منفصل وي ليكن كله چې هغه ظاهرنه شي نوهغه به كالعدم وي اومعدوم ليس بشيء وي پس اسم اشاره هذا به مفضل شي ځكه چې دادضمير قائم مقام ده په دې اعتبار سره چې داسم تفضيل ضمير دغې طرف ته راجع دي او بسريت د هذا سره دمفضل كيدو دحيثيت نه متعلق دي لهذا بُسر لره د هذا سره به متصل ذكر كولې شي .

ومع هذا فلا ارى بأساً : په دې عبارت سره غرض دشارح په مصنف باندې اعتراض كول دي .

اعتراض : شيخ رضي ويلي دي چې باوجود ددې چې هغه ضمير كالعدم دي ليكن كه چيرته زيد احسن قائماً منه قاعدا وويل شي نوكوم حرج نشته اګرچې داداهل عربونه اوريدلي شوي نه دي نوچې كله زيداحسن قياماًمنه قاعداويل جائزدي نوهذاالطيب بسراًمنه رطباًويل به هم جائز وي .

جواب : مصنف رحمه الله او د جمهورو د طرف نه د دې جواب دا دې چې قواعدِ نحويه مبني علی السماع دي او دا ترکيب مسموع من العرب نه دي صرف ستا رای ده او وان لم يسمع سره ته په خپله اعتراف کوي لهذا لا اری به بأساً سره ته په خپله چې د کوم خواهش اظهار کوي نو د هغې تکميل نه شي کيدي، لان مسائل النَّحْوُ بناء علی السمع لا علی الصنع . ځکه چې مسائل د نحوې دا ... دي په سمع باندې نه په صنع او جوړولو باندې

مذهب بعضهم : په دې عبارت سره شارح د بسراً د عامل په باره کې دويم مذهب بيانوي او دا رد کړي . بعضې نحويان وايي چې په بسراً کې عامل اطيب نه دي بلکه اسم اشاره ده .

ای اشير : په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : اسم اشاره خو اسم دي او اسم نه شي عامل کيدي بيا ستا دا قول چې په بسراً کې عامل اسم اشاره دي دا څنګه صحيح دي .

جواب : مراد دا دې چې هغه فعل عامل دي کوم چې د اسم اشارې نه مستنبط وي . تقدير د عبارت داسې دي چې اشير اليه حال کونه بسراً . ليکن دا مذهب صحيح نه دي شارح د دې دوه وجهې بيان کړي دي :

اوله وجه : اوله وجه دا چې کيدي شي چې مشار اليه تمر يابس وچې کهجوري وي نو دا اشاره په د حالت بسريت سره مقيد نه وي .

دوهمه وجه : په دې مقام کې د اسم اشارې په ځاې داسې اسم لره ذکر کول هم صحيح دي کوم لره چې په بسراً کې عامل جوړيدل صحيح نه وو مثال لکه تمرة نخلي بسرا اطيب منه رطباً په دې مثال کې دا طيب نه غير داسې لفظ نشته چې هغه په بسراً کې د عمل کولو صلاحيت ولري نو خامخا دا ويلې شي چې اول مذهب صحيح او راجح دي .

حال جمله واقع کيدل :

وَ تَكُوْنُ اَيِ الحَالِ جُمْلَةً لِدَلَالَتِهَا عَلَى الْهَيْئَةِ كَالْمُفْرَدَاتِ فَصَحَّ اَنْ تَقَعَ حَالًا مِثْلَهَا
اووي يعنې حال جمله دوجې د دلالت کولو نه په هيئت باندې لکه مفردات نو صحيح دي چې واقع شي حال په شان
وَ لٰكِنْ يَجِبُ اَنْ تَكُوْنَ الْجُمْلَةُ الحَالِيَةُ خَبَرِيَّةً مُحْتَمِلَةً لِلصِّدْقِ وَ الكِذْبِ لِاَنَّ الحَالَ
د مفرداتو ليکن واجب دا چې وي جمله حاليه خبريه کومه چې احتمال د صدق او د کذب لري ځکه چې حال په منزله د

بِمَنْزِلَةِ الْخَبَرِ عَنْ ذِي الْحَالِ وَ إِجْرَاؤُهَا عَلَيْهِ فِيْ قُوَّةِ الْحُكْمِ بِهَا عَلَيْهِ وَ الْجُمَلُ
خبر دي د ذوالحال نه او جاري کيدل د حال په ذوالحال باندې په قوت د حکم کې په ذوالحال باندې او جملې انشائيه
الْإِنْشَائِيَّةِ لَا تَصْلَحُ اَنْ يُحْكَمَ بِهَا عَلٰى شَيْءٍ.
دا صلاحيت نه لري چې حکم وکړې شي په دې باندې په يو څيز باندې

خلاصه دمتن او شرح: صاحب د کافيې په دې عبارت کې د حال په باره کې يوه قاعده بيانوي او شارح د هغې قاعدې وضاحت کوي:

قاعده: هغه قاعده داده چې حال کله کله جمله هم وي ځکه چې د حال نه مقصود په هيئت باندې دلالت کوي دي او جمله هم د مفرداتو په شان په هيئت باندې دلالت کوي لهذا چې لکه څنګه د مفرداتو حال واقع کيدل صحيح دي نو همدارنګې جمله حال واقع کيدل هم صحيح دي ليکن دا ضروري ده چې جمله حاليه به خبريه وي ځکه چې حال په نسبت سره ذوالحال ته په منزلې د خبر وي او حال په ذوالحال باندې محمول کيدل دا په منزله د محکوم به دي او ذوالحال په منزله د محکوم عليه دي لکه څنګه چې مبتدا محکوم عليه او خبر محکوم به وي او جمله انشائيه محکوم به نه شي جوړيدي نو حال هم نه شي جوړيدي.

د حال د جملې واقع کيدو شرائط:

وَلَمَّا كَانَتِ الْجُمْلَةُ مُسْتَقِلَّةً فِي الْإِفَادَةِ لَا تَقْتَضِيْ اِرْتِبَاطَهَا بِغَيْرِهَا وَ الْحَالُ مُرْتَبِطَةٌ بِغَيْرِهَا
او هر کله چې جمله مستقله وي په افاده کې نو نه کوي تقاضا د ارتباط د دې د غير سره او حال مرتبط دي د غير پورې
فَإِذَا وَقَعَتِ الْجُمْلَةُ حَالًا لَا بُدَّ لَهَا مِنْ رَابِطَةٍ تَرْبِطُهَا اِلٰى صَاحِبِهَا وَ هِيَ الضَّمِيْرُ
نو هر کله چې واقع شوه جمله حال نو لابدي ده د دې د پاره د رابطې چې مرتبط يې کړي د ذوالحال پورې او هغه ضمير
وَالْوَاوُ وَالْجُمْلَةُ الْخَبَرِيَّةُ إِمَّا اِسْمِيَّةٌ أَوْ فِعْلِيَّةٌ وَ الْفِعْلِيَّةُ إِمَّا اَنْ يَكُوْنَ فِعْلُهَا مُضَارِعاً مُثْبَتًا أَوْ مُضَارِعًا مَنْفِيًا أَوْ
او واو دي او جمله خبريه به يا اسميه او يا به نعليه او فعليه يا به وي فعل د دې مضارع مثبت او يا مضارع منفي او يا
مَاضِيًا مُثْبَتًا أَوْ مَاضِيًا مَنْفِيًا فَهٰذِهِ خَمْسُ جُمَلٍ فَالْاِسْمِيَّةُ أَيِ الْجُمْلَةُ الْاِسْمِيَّةِ الْحَالِيَّةِ مُتَلَبِّسَةٌ بِالْوَاوِ وَالضَّمِيْرِ
ماضي مثبت او يا ماضي منفي نو دا پنځه جملې دي نو اسميه يعنې جمله اسميه حاليه به متلبس وي د واو د ضمير
مَعاً لِقُوَّةِ الْاِسْمِيَّةِ فِي الْاِسْتِقْلَالِ فَنَاسَبَ اَنْ تَكُوْنَ الرَّابِطَةِ فِيْهَا فِيْ غَايَةِ الْقُوَّةِ
پورې يو ځاې د وجې د قوت د اسميې نه په استقلال کې نو مناسب ده چې وي رابطه په دې کې په انتهائي قوت کې
نَحْوُ جِئْتُ وَاَنَا رَاكِبٌ وَجِئْتُ وَاَنْتَ رَاكِبٌ وَجَاءَ زَيْدٌ وَهُوَ رَاكِبٌ اَوْ بِالْوَاوِ وَحْدَهَا لِاَنَّهَا تَدُلُّ عَلَى الرَّبْطِ
لکه جئتُ وانا راکب او جئت وانت راکب وجاء زيد وهو راکب يا د واو سره يواځې ځکه چې واو دلالت کوي په ربط باندې

فِيْ اَوَّلِ الْاَمْرِ فَاكْتُفِيَ بِهَا مِثْلَ قَوْلِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ كُنْتُ نَبِيًّا وَ اٰدَمُ بَيْنَ الْمَاءِ وَ الطِّيْنِ
په اول امر کې نو اکتفاء وکړې شو په دې باندې لکه دا قول د نبي علیه الصلوة والسلام کنت نبیاً وآدم بین الماء والطين
وَهٰذَا اَيِ الرَّبْطُ بِالْوَاوِ وَحْدَهَا اَوْ بِهَا مَعَ الضَّمِيْرِ اِنَّمَا يَكُوْنُ فِي الْحَالِ الْمُنْتَقِلَةِ وَ اَمَّا فِي الْحَالِ الْمُؤَكِّدَةِ
او دا یعنې ربط په واو سره یوا خې او یا د واو سره د ضمیر دا به وي په حال منتقله کې او هرچې په حال مؤکده کې دي
فَلَا تَجُوْزُ الْوَاوِ تَقُوْلُ هُوَ الْحَقُّ لَا شَكَّ فِيْهِ وَ ذٰلِكَ لِاَنَّ الْوَاوِ لَا تَدْخُلُ بَيْنَ الْمُؤَكِّدِ وَالْمُؤَكَّدِ
نو نه دي جائز واو . وايې به ته چې هو الحق لاشك فيه او دا ځکه چې واو نه داخلیږي په مینځ د مؤکِد او د مؤکَد دوجې د
لِشِدَّةِ الْاِتِّصَالِ بَيْنَهُمَا اَوْ بِالضَّمِيْرِ وَحْدَهُ عَلٰى ضُعْفٍ لِاَنَّ الضَّمِيْرَ لَا يَجِبُ اَنْ يَّقَعَ
شدت اتصال نه په مینځ د دواړو کې او یا په ضمیر سره یوا خې په ضعف باندې ځکه ضمیر نه واجبوي چې واقع شي
فِي الْاِبْتِدَاءِ فَلَا يَدُلُّ عَلَى الرَّبْطِ فِيْ اَوَّلِ الْاَمْرِ نَحْوُ كَلَّمْتُهٗ فُوْهُ اِلٰى فِيَّ فَلَا بُدَّ مِنَ الْوَاوِ عَلَى الصَّحِيْحِ.
په ابتداء کې نو دلالت نه کوي په ربط باندې په اول امر کې لکه کلمته فوه الی في نو لابدي ده د واو نه په صحیح قول باندې.

خلاصه دمتن: صاحب د کافيې په دې عبارت کې حال د جملې کیدو په صورت کې د ربط ضرورت او د دې تفصیل ذکر کوي چې کله حال جمله وي نو د دې د پاره د رابطې کیدل ضروري دي .

اغراض دجامي : ولماکانت: په دې عبارت سره شارح د مابعد د پاره تمهید بیانوي او د دې نه وروستو شارح د متن وضاحت کوي . تمهید دا دې چې جمله په افاده کې مستقله وي لهذا هغه د بل څیز سره د ارتباط تقاضا نه کوي او حال د ذوالحال سره مرتبط وي لهذا چې کله حال جمله وي نو د هغې د پاره رابط کیدل ضروري دي کوم چې ذوالحال لره ربط ورکوي او هغه رابطه واو او ضمیر دي ، بیا به جمله خبریه د دوه حالاتو نه خالي نه وي یا به جمله اسمیه وي او یا به جمله فعلیه وي که جمله فعلیه وي نو د څلورو (۴) حالتونو نه به خالي نه وي یا به مضارع مثبت وي او یا به مضارع منفي وي ، یا به ماضي مثبت وي او یا به ماضي منفي وي نو دا ټول پنځه (۵) جملې شوې .

فالاسمية ای الجملة الاسمية: په دې عبارت سره شارح د هرې جملې د رابطې تفصیل بیانوي چې که چیرته جمله اسمیه حال وي نو د رابطې درې صورتونه دي (۱) واو او ضمیر دواړه رابطه وي

لان: په دې عبارت سره شارح د دې وجه بیانوي چې جمله اسمیه په استقلال کې قوي وي لهذا مناسب دا ده چې په دې کې رابطه هم نهایت قوي وي او واضحه خبره ده چې یو ، یو وي او دوه ، دوه بې د دوو قوت زیات وي . لهذا دواړه به رابطه وي مثال لکه جئتُ وانا راکب او جئت وانت

راكب . جاءني زيد وهو راكب او په دې درې واړو مثالونو کې واو اوضمير دواړه رابط دي .

(۲) يا به رابط صرف واو وي اوداهم جائز دي ځکه چې واو په اول امر کې په رابطه باندې دلالت کوي ځکه چې هغه دجملې په شروع کې وي لهذا په دې سره اكتفاء کول جائز دي لکه دا قول د نبي كريم صلى الله عليه وسلم چې : **كنت نبياً وآدم بين الماء والطين** ، په دې کې **آدم بين الماء والطين** جمله حاليه ده او واو رابطه ده .

وهذا: په دې عبارت سره غرض دشارح دسوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستا داذکر شوې قاعده ماته اومنقوضه ده په **هو الحق لا شك فيه** سره ځکه چې **لا شك** جمله اسميه ده چې د حق نه حال واقع دي حالانکه رابطه نه دواو سره دي او نه دضمير سره اونه يواځې د واو سره .

جواب : ذکر شوې قاعده دحال منتقله په باره کې ده اوپه حالِ موکده کې واو درابطې دپاره راوړل جائز نه دي ځکه چې مؤكِد اومؤكَد په مينځ کې دشدت اتصال دوجې نه ددوي په مينځ کې واو نه شي داخليدې اوپه ذکر شوې مثال کې **لا شك فيه** حالِ مؤکده دي ددې وجې نه څه اشکال نشته .

او بالضمير وحده: (۳) په دې عبارت سره شارح دريم صورت بيانوي چې يواځې په ضمير سره ربط وي ليکن دا صورت ضعيف دي .

لان الضمير : په دې عبارت سره ددې وجه بيانوي چې څنګه واو دجملې په شروع کې واقع کيږي او اول جمله کې په ربط باندې دلالت کوي په ضمير کې داسې نشته دي ځکه چې ضمير د جملې په شروع کې واقع کيدل ضروري نه دي اوهغه په مينځ دجمله کې هم واقع کيږي ځکه چې هغه اول امر کې ربط باندې دلالت نه کوي لهذا دا ربط ضعيف دي لکه **كلمته فوه الى في** ، **فوه الى في** داجمله اسميه ده كه چيرته ذوالحال **تاء** ضمير وي نو په دې کې د **في** ضمير متكلم رابطه ده اوكه **فوه الى في** لره د**كلمته** د **ه** ضمير مفعول نه حال جوړ کړې نود **فوه** ضمير به رابطه وي ځکه چې ضمير په اول امر کې په ربط باندې دلالت نه کوي ځکه چې داضعيف اوکمزورې رابط دي اول دوه صورتونه اولى او قوي دي

په مختلفو افعالو کې د ربط د واقع کېدو تفصيل :

وَ الْمُضَارِعُ الْمُثْبَتُ اَيِ الْجُمْلَةِ الْفِعْلِيَّةِ الَّتِيْ يَكُوْنُ الْفِعْلُ فِيْهَا مُضَارِعًا مُثْبَتًا مُتَلَبِّسَةً بِالضَّمِيْرِ وَحْدَهُ
او مضارع مثبت يعني هغه جمله فعليه چې وي فعل په دې کې مضارع مثبت متلبس وي د ضمير پورې يواځې
لِمُشَابَهَتِهِ لَفْظًا وَ مَعْنًى لِاِسْمِ الْفَاعِلِ الْمُسْتَغْنِيْ عَنِ الْوَاوِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ يَسْرَعُ وَ مَا
د وجې د مشابهت نه لفظاً او معنیً د اسم فاعل سره کوم چې مستغني وي د واو نه لکه جاءني زيد يسرع او هغه چې غير
سِوَاهُمَا اَيْ مَا سِوَى الْجُمْلَةِ الْاِسْمِيَّةِ وَ الْفِعْلِيَّةِ الْمُشْتَمِلَةِ عَلَى الْمُضَارِعِ الْمُثْبَتِ مِنَ الْجُمَلِ
د دې نه وي يعني غير د جملې اسميې او جمله فعليې نه چې مشتمل وي په مضارع مثبت باندې د هغه جملو نه
الْمُشْتَمِلَةِ عَلَى الْمُضَارِعِ الْمَنْفِيْ اَوِ الْمَاضِي الْمُثْبَتِ اَوِ الْمَنْفِيْ بِالْوَاوِ وَالضَّمِيْرِ مَعًا اَوْ بِاَحَدِهِمَا
چې مشتمل په مضارع منفي يا ماضي مثبت يا ماضي منفي باندې د واو او ضمير سره يوځای او يا د دې نه په يو
وَحْدَهُ مِنْ غَيْرِ ضُعْفٍ عِنْدَ الْاِكْتِفَاءِ بِالضَّمِيْرِ لِعَدَمِ قُوَّةِ اِسْتِقْلَالِهَا كَالْاِسْمِيَّةِ
سره يواځې په غير د ضعف نه په وخت د اکتفاء کې په ضمير باندې د وجې د عدم قوت استقلال نه لکه جمله اسميه
فَالْمُضَارِعُ الْمَنْفِيْ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَمَا يَتَكَلَّمُ غُلَامُهُ اَوْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَمَا يَتَكَلَّمُ غُلَامُهُ اَوْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَمَا يَتَكَلَّمُ عَمْرٌو
نو مضارع منفي مثال لکه جاءني زيد وما يتكلم غلامه وجاءني زيد وما يتكلم غلامه او جاءني زيد وما يتكلم عمرو
وَالْمَاضِيْ الْمُثْبَتِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَقَدْ خَرَجَ غُلَامُهُ اَوْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ قَدْ خَرَجَ غُلَامُهُ اَوْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَقَدْ خَرَجَ عَمْرٌو
او د ماضي مثبت مثال لکه جاءني زيد وقد خرج غلامه او جاءني زيد قد خرج غلامه او جاءني زيد وقد خرج عمرو
وَالْمَاضِي الْمَنْفِيْ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَمَا خَرَجَ غُلَامُهُ اَوْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ مَا خَرَجَ غُلَامُهُ اَوْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَمَا خَرَجَ عَمْرٌو.
او د ماضي منفي مثال لکه جاءني زيد وما خرج غلامه او جاءني زيد ما خرج غلامه او جاءني زيد وما خرج عمرو.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې په نورو پنځو جملو کې د ربط تفصيل بيانوي چې وضاحت يې لاندې په شرحه کې موجود دی.

اغراض د جامي : والمضارع المثبت : په دې عبارت سره شارح د جامي په پنځو جملو کې د دويمې جملې فعليې مضارعې مثبتې د ربط تفصيل بيانوي چې د عبارت حاصل دا دی چې هغه جمله فعليه په کوم کې چې مضارع مثبت حال واقع وي نو په دې کې به رابط يواځې ضمير وي او واو رابط نه شي کېدی.

لمشابهته : په دې عبارت سره شارح د دې وجه بيانوي چې فعل مضارع مثبت لفظاً او معنیً د اسم فاعل سره مشابه دی او اسم فاعل د واو نه مستغني وي لهذا مضارع مثبت به هم د واو نه مستغني وي مثال لکه جاءني زيد يسرع په دې کې زيد ذوالحال دی او يسرع جمله فعليه مثبته

ددې نه حال دي په دې کې هو ضمير مستتر رابط دي .

وما سواهما: په دې سره شارح دپاتې دري جملو درابط تفصيل بيانوي چې حاصل يې دادې چې دجمله اسميې اودجملې فعليې مضارع مثبت نه غير چې کومې جملې دي يعني جمله فعليه (۱) مضارع منفي ، (۲) ياماضي مثبت ، (۳) ياماضي منفي کله چې په دې کې کوم حال واقع وي نوپه دې کې درابط دري صورتونه دي :

(۱): واو او ضمير دواړه رابط وي . (۲): يواځې واو رابط وي . (۳): يواځې ضمير رابط وي په غير دضعف نه ، دادريم صورت په جمله اسميه کې خو ضعيف وو ليکن په دې دري جملو کې ضعيف نه دي ځکه چې دې جملو کې هغه قوت داستقلال موجود نه دي کوم چې په جمله اسميه کې موجود وو ځکه چې ادنى اوضعيف رابط هم په کار راځي يواځې په ضمير باندې اکتفاء جائز کيږي بې دضعف نه .

مثالونه : **فالمضارع المنفي**: په دې عبارت سره ددري جملو مثالونه بيانوي :

(۱) دمضارع منفي مثالونه :

(۱) **جاءني زيد ومايتكلم غلامه** ، په دې کې واو اوضمير دواړه رابط دي . (۲) **جاءني زيد مايتكلم غلامه** ، په دې کې يواځې ضمير رابط دي . (۳) **جاءني زيد ومايتكلم عمروا** ، په دې کې يواځې واو رابط دي .

(۲) دماضي مثبت مثالونه :

(۱) **جاءني زيد وقد خرج غلامه** ، په دې کې واو او ضمير دواړه رابط دي . (۲) **جاءني زيد قد خرج غلامه** په دې کې يواځې ضمير رابط دي . (۳) **جاءني زيد وقد خرج عمرو** په دې کې فقط واو رابط دي .

(۳) دماضي منفي مثالونه :

(۱) **جاءني زيد وماخرج غلامه**، په دې کې واو اوضمير دواړه رابط دي . (۲) **جاءني زيد ماخرج غلامه**، په دې کې يواځې ضمير رابط دي . (۳) **جاءني زيد وما خرج عمرو** ، په دې کې يواځې واو رابط دي .

په جمله ماضيه حاليه کې د قد موجوديدل:

وَلَا بُدَّ فِي الْمَاضِي الْمُثْبَتِ لَا الْمَنْفِيِّ مِنْ دُخُوْلِ لَفْظَةِ قَدْ اَلْمُقَرِّبَةِ زَمَانَ الْمَاضِيْ اِلَى الْحَالِ

اونښته خلاصې په ماضي مثبت کې اونه په منفي کې د دخول دلفظ د قدنه چې نژدې کوي زمانه د ماضي حال

لُغَةً عَلَى الْمَاضِي الْمُثْبَتِ الْوَاقِعِ حَالًا لِيَدُلَّ بِهَا عَلَى قُرْبِ زَمَانِهِ

نه لغةً په ماضي مثبت باندې چې واقع وي حال د دې دپاره چې دلالت وکړي په دې باندې په نژدې والي د دې زمانې

اِلَى زَمَانِ صُدُوْرِ الْفِعْلِ مِنْ ذِي الْحَالِ اَوْ وُقُوْعِهِ عَلَيْهِ تَجَوُّزًا لِاَنَّ الْمُتَبَادِرَ

تر زمانې د صدور د فعل پورې د ذوالحال نه اويا په واقع کيدو د دې باندې په مجازي طور باندې خکه چې متبادر

مِنَ الْمَاضِي الْمُثْبَتِ اِذَا وَقَعَ حَالًا اَنَّ مُضِيَّهُ اِنَّمَا هُوَ بِالنِّسْبَةِ اِلَى زَمَانِ الْعَامِلِ

د ماضي مثبت نه په هغه وخت کې چې واقع وي حال چې د دې ماضي کيدل دا په نسبت سره زمانې د عامل ته دې نو

فَلَا بُدَّ مِنْ قَدْ حَتّٰى تُقَرِّبَهُ اِلَيْهِ فَيُقَارِنَهُ وَهٰذَا بِخِلَافِ مَذْهَبِ الْكُوْفِيِّيْنَ فَاِنَّهُمْ لَا يُوْجِبُوْنَ قَدْ

لابدي د د قدنه تر دې نژدې کړي عامل د زمانې ته او دا په خلاف د مذهب د کوفيانو دي چې هغه قد لره نه واجبوي

ظَاهِرَةً وَلَا مُقَدَّرَةً سَوَاءٌ كَانَتْ ظَاهِرَةً فِي اللَّفْظِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ قَدْ رَكِبَ غُلَامُهُ اَوْ مُقَدَّرَةً مَنْوِيَّةً نَحْوُ

نه ظاهراً او نه مقدر ابرابره خبره ده که دا قد په لفظ کې ظاهر وي لکه جاءني زيد قد رکب غلامه يا مقدر منوي وي لکه

قَوْلِهِ تَعَالٰى اَوْ جَاءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ وَ هٰذَا بِخِلَافِ مَذْهَبِ سِيْبَوَيْهِ وَ الْمُبَرِّدِ

د اقول د الله تعالى او جاءوكم حصرت صدورهم يعني قد حصرت صدورهم او دا په خلاف د مذهب د سيبويه او د مبرد

فَاِنَّهُمَا لَا يُجَوِّزَانِ حَذْفَ قَدْ فَسِيْبَوَيْهِ يُؤَوِّلُ قَوْلِهِ تَعَالٰى حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ

دي خکه دوي جائز نه مني حذف کول د قد پس سيبويه تاويل کوي په دې قول د الله تعالى کې چې حصرت صدورهم

بِقَوْمًا حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ فَتَكُوْنُ جُمْلَةُ حَصِرَتْ صِفَةَ مَوْصُوْفٍ مَحْذُوْفٍ وَ هُوَ الْحَالُ وَ الْمُبَرِّدُ يَجْعَلُهُ

په قوما حصرت صدورهم نو وي به جمله حصرت صفت د موصوف محذوف قوما او هغه حال دي او مبرد گرځوي دې

جُمْلَةً دُعَائِيَّةً وَ اِنَّمَا لَمْ يُشْتَرَطْ ذٰلِكَ فِي الْمَنْفِيِّ لِاسْتِمْرَارِ النَّفْيِ بِلَا قَاطِعٍ فَيَشْمَلُ زَمَانَ

لره جمله دعائيه او دا يې شرط نه کړو په منفي کې دوجې د استمرار د نفي نه بې د خه مانع نه نو شامليږي زمانې

الْفِعْلِ.

د فعل ته.

خلاصه دمتن: صاحب د کافيې د حال په باره کې يوه بله ضابطه او قاعده بيانوي چې کله ماضي مثبت حال واقع وي نو په دې باندې د قَدْ دخول ضروري دي بيا دا عام دي برابره خبره ده که قَدْ ظاهر وي او که مقدر وي.

اغراض دجامي : لا المنفي: په دې عبارت سره شارح بيان دفائدې کوي چې د المثبت قيد احترازي دي په دې سره دماضي منفي نه احتراز دي.

دخول: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : د من په قد باندې دخول جائز نه دي ځکه چې من حرف جر دي اوحرف جر په اسم باندې داخليږي او قد اسم نه دي بلکه حرف دي.

جواب : جواب دادې چې من په قَدْ نه دي داخل بلکې ددې مدخول محذوف دي کوم چې دخول دي

لفظة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : ددخول اضافت قَدْ طرف ته صحيح نه دي ځکه چې دمضاف اليه دپاره اسم کيدل ضروري دي او قد اسم نه دي بلکه حرف دي.

جواب : دلته د قَدْ نه مراد لفظ قَدْ دي اوکله چې د حرف نه مراد دهغه لفظ وي نوهغه حرف علم جوړيږي کوم چې په ترکيب کې موجود وي پس دا اسم جوړيږي لهذا قَدْ لره مضاف اليه جوړول صحيح دي.

المقربة: په دې عبارت سره شارح دصفت وضاحت کوي.

ليدل: په دې عبارت سره شارح دماضي مثبت حال واقع کيدو په صورت کې په دې باندې دخول د قَدْ دلازم کيدو وجه بيانوي چې تفصيل يې دادې چې حال اوددې عامل په زمانه کې اتحاد ضروري دي اوکله چې ماضي مثبت حال واقع وي نو هغه دزمانه عامل نه مقدم کيږي په زمانه کې اتحاد نه پاتي کيږي لهذا په ماضي مثبت باندې د قد دخول ضروري دي ځکه چې هغه د قد دماضي مثبت زماني سره ذوالحال نه صدور دفعل ياذوالحال باندې وقوع فعل زمانې ته نزدې کوي ځکه چې قريب د شئ حکماً ددې شئ سره مقارن وي لهذا حکما دحال زمانه دعامل زمانې سره به متحد شي.

تجوزا: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : قَدْ ماضي لره په لغوي حال (يعني په زمان دمتکلم کې) دقريب کيدو دپاره وضع شوې دي اوزمونږ بحث په حال اصطلاحي کې دي.

جواب : قَدْ په اول کې حقیقت اوثاني کې مجاز دي اودلته مجازي معنی مراد ده .

لان المتبادر : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کله چې ماضي مثبت حال واقع وي اوددې عامل مضارع وي نوپه دې کې په ماضي مثبت باندې د قَدْ داخلیدل خو صحیح دي لیکن کله چې عامل هم ماضي وي نوپه دې وخت کې ماضي مثبت باندې د قَدْ دخول صحیح نه دي ځکه چې دا دواړه ماضي دي نو ماضي لره د حال قریب کولو څه معنی نشته لهذا ماضي مثبت باندې د قَدْ ددخول څه فائده نشته .

جواب : کله چې ماضي مثبت حال واقع وي نو ددې نه متبادر الی الذهن همدغه دي چې ددې ماضي کیدل دعامل دزماني اعتبار څخه دي ګویا چې دعامل زمانه مقدم شوه دحال زمانې نه لهذا کله چې عامل ماضي وي نو په دې وخت کې هم ماضي مثبت باندې دخول د قَدْ به بې فائدې نه وي .

وهذا بخلاف : په دې عبارت سره په دخول دقَدْ کې اختلاف بیانوي چې ددې تفصیل دادې چې کله ماضي مثبت حال واقع وي نوپه دې باندې دخول د قَدْ لازم کیدل دبصري د نحویانو مذهب دي او دکوفي دنحویانو په نزد په ماضي مثبت باندې دخول د قَدْ لازم نه دي نه ظاهراً اونه مقدراً .

سواء : په دې عبارت سره غرض دشارح بیان دترکیب دي چې ظاهرةً او مقدرةً داد کان محذوفه خبر دي دعبارت حاصل دادې چې په قَدْ کې تعمیم دي برابره خبره ده که ظاهر في اللفظ وي اوکه مقدر منوي وي د قَدْ ظاهر في اللفظ مثال جاءني زید قد رکب غلامه اود مقدر مثال اوجاءوکم حصرت صدورهم یعني قد حصرت صدورهم ، حصرت صدورهم حال دی د جاءوا دواو ضمیر نه او قد مقدر دي دا په اصل کې قد حصرت صدورهم وو .

وهذا : په دې عبارت سره غرض دشارح داختلاف وضاحت کول دي یعني ماضي مثبت قَدْ مقدر سره دحال کیدو جواز دي او ... سیبویه اومبرد دمذهب خلاف دي ځکه چې دادواړه قد لره حذف جائز نه مني دالله تعالی داقول چې جاءوکم حصرت صدورهم کې تاویل کوي اوحصرت حال کیدو نه انکار کوي سیبویه وایي چې حصرت صدورهم صفت دي دموصوف محذوفه چې قوما دي اوقوما حال دي اصل عبارت داسې دي چې جاءوکم قوما حصرت صدورهم اومبرد وایي

چې حصرت صدورهم جمله بد دعائيه ده جمله حاليه نه ده اوکه جمله حاليه وي نو معنی به يې دا وي چې : هغوي ستاسو خوا ته راغلل اوحال دادې چې ددوي زړونه تنګ شوي وو . اوکه جمله بد دعائيه وي نو معنی به داوي (هغوي ستاسو خوا ته راغلل او خدای دې وکړي چې دهغوي سينې تنګې شي) .

وانمالم يشترط : په دې عبارت سره غرض دشارح په ماضي منفي کې دخول دشرط نه کيدو وجه بيانوي وجه داده چې په دې باندې دخول د قد څه فائده نشته دې ځکه چې کله د ماضي نفي وشي نو نفي دوخت دانتفاء نه واخله ذوالحال نه صدور دفعل يا ذوالحال باندې وقوع دفعل پورې دائمي اوهميشه نه وي لهذا دحال زمانه دعامل زمانې سره مقارن کيږي ددې وجې نه د قد دخول څه فائده نشته دې .

د حال د عامل د حذف جوازي صورت :

وَ يَجُوزُ حَذْفُ الْعَامِلِ فِي الْحَالِ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ حَالِيَةٍ كَقَوْلِكَ لِلْمُسَافِرِ أَيِ
اوجائزدي حذف کول دعامل په حال کې دوجې دقيام دقرينې حاليې لکه داقول ستاوخت دمسافردپاره يعنې
الشَّارِعِ فِي السَّفَرِ أَوِ الْمُتَهَيِّءِ لَهُ رَاشِدًا مَهْدِيًّا أَيْ سِرْ رَاشِدًا مَهْدِيًّا بِقَرِيْنَةِ حَالِ الْمُخَاطِبِ
شروع کوونکي په سفرکې اوياتياري کوونکي دسفردپاره راشداًمهدياًيعنې شرراشداًمهدياپه قرينې دحال مخاطب
وَ قَوْلُهُ مَهْدِيًّا إِمَّا صِفَةٌ لِرَاشِداً أَوْ حَالٌ بَعْدَ حَالٍ أَوْ مَقَالِيَةٍ كَقَوْلِكَ رَاكِبًا
اوداقول ٠ مهدياًبه صفت وي دراشدا اوياحال دي پس دحال نه يادقرينې مقاليې دوجې نه لکه داقول ستاراکباً
لِمَنْ يَقُوْلُ كَيْفَ جِئْتَ أَيْ جِئْتَ رَاكِبًا بِقَرِيْنَةِ السُّؤَالِ وَ مِنْهُ قَوْلُهُ تَعَالَى أَيَحْسَبُ الْإِنْسَانُ
هغه چاته چې ووايي کيف جئت يعنې جئتَ راکباًپه قرينې دسوال سره اوددې نه داقول دالله تعالى ايحسب الانسان
أَنْ لَنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ بَلَى قَادِرِيْنَ أَيْ بَلَى نَجْمَعُهَا قَادِرِيْنَ.
ان لن نجمع عظامه بلى قادرين يعنې بلى نجمعها قادرين

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې وايي چې عامل لره په وخت دقيام قرينه کول جائز دي لکه راشداًمهدياً داپه اصل کې راشداًمهدياً وو .

اغراض دجامي : في الحال: په دې عبارت سره شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې په العامل کې الف لام عهدي دي ددې نه خاص دحال عامل مراد دي نه چې مطلق عامل ځکه چې خروج عن المبحث والااشکال لازم رانه شي .

لقيام قرينة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: داقاعده منقوض اوماته ده په جاءني زيد راكباً سره ځکه چې راكباً حال دي ليکن ددې عامل حذف کول جائز نه دي.

جواب: دلته دحذف دعامل نه مطلقاً حذف دعامل مراد نه دي بلکه مراد دادې چې کله کومه قرينه موجود وي نو عامل لره حذف کول جائز دي.

حالية اومقالية: په دې عبارت سره شارح دقرينې اقسام بيانوي اوددې تعميم بيانوي، قرينه په دوه قسمه ده: (۱) حاليه (۲) مقاليه، دلته په قرينه کې تعميم دې برابره خبره ده که حاليه وي اوکه مقاليه وي، دقرينې حاليې مثال چې کله مسافر دسفر تياري کوي هغه ته وويلې شي راشداً مهدياً داپه اصل کې سر راشداً مهدياً وو نو دمسافر حالت ليدو سره چې هغه دتللو تياري کوي عامل سر لره حذف کړې شو، مهدياً يادراشداً صفت دي يادسر ضمير نه دويم حال دي دا حالين منرادفين دي.

اى الشارع في السفر: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مسافر خو هغه دي چاچې سفر شروع کړې وي اودمسافرت معتدبه حصه يې ختمه کړې وي نو هغه ته راشداً مهدياً ويلو څه فائده ده.

جواب: دلته دمسافر نه هغه مسافر مراد دي کوم چې په ابتدا د سفر کې وي اوس يې دسفر آغاز کړې وي يا سفر يې شروع کړې نه وي ليکن سفر دپاره بالکل تيار ولاړ وي.

او مقالية: په دې عبارت سره دقرينې مقاليې مثالونه بيانوي دقرينې مقاليې نه مراد قرينه لفظيه ده برابره خبره ده که هغه دسائل په کلام کې واقع وي يا دمخاطب په کلام کې واقع وي ددې دوه مثالونه يې بيان کړي دي:

(۱) يو سړي دمخاطب نه تپوس وکړي چې: كيف جئت نو هغه مخاطب جواب ورکړي چې راكباً، نو راكباً حال دي اوددې عامل جئتُ محذوف دي، دلته قرينه هغه سوال دسائل دي.

(۲) ايحسب الانسان ان لن نجمع عظامه بلى قادرين، قادرين حال دي ددې عامل نجمعها محذوف دي قرينه لفظي بلى دي چې دايجاب بعد النفي د پاره راځي.

د حال د عامل د حذف وجوبي صورت :

وَيَجِبُ حَذْفُ الْعَامِلِ فِيْ بَعْضِ الْاَحْوَالِ الْمُؤَكِّدَةِ وَهِيَ اَيِ الْحَالُ الْمُؤَكِّدَةُ مُطْلَقًا هِيَ الَّتِيْ لَا تَنْتَقِلُ

او واجب دي حذف د عامل په بعضي حال مؤکده کې او هغه یعنې حال موکده مطلقا هغه دي چې نه منتقل کیږي

مِنْ صَاحِبِهَا مَا دَامَ مَوْجُوْدًا غَالِبًا بِخِلَافِ الْمُنْتَقِلَةِ وَالْمُنْتَقِلَةُ قَيْدٌ لِلْعَامِلِ بِخِلَافِ الْمُؤَكِّدَةِ مِثْلُ زَيْدٌ

د خپل صاحب نه ترڅو چې موجود وي غالبا په خلاف د منتقله او منتقله قید د پاره د عامل په خلاف د موکدة لکه زید

اَبُوْكَ عَطُوْفًا فَاِنَّ الْعَطُوْفِيَّةَ لَا تَنْتَقِلُ عَنِ الْاَبِ فِيْ غَالِبِ الْاَمْرِ اَيْ اُحِقُّهُ بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ اَوْ ضَمِّهَا مِنْ

ابوک عطوفا ځکه عطوفاد انه منتقل کیږي د اب نه په غالب امر کې یعنې احقه په فتحې د همزې سره یا په ضمې سره د

حَقَّقْتُ الْاَمْرَ بِمَعْنٰى تَحَقَّقْتُهُ وَ صِرْتُ مِنْهُ عَلٰى يَقِيْنٍ اَوْ مِنْ اَحْقَقْتُ الْاَمْرَ بِهٰذَا الْمَعْنٰى

حققتُ الامر نه په معنی د تحققته یعنې زه په دې خبره په یقین سره پوه شوم او یا د احققت الامر څخه په همدې معنی سره

بِعَيْنِهٖ اَوْ بِمَعْنٰى اُثْبِتُهٗ اَيْ تَحَقَّقْتُ اُبُوَّتَهٗ لَكَ وَ صِرْتُ عَلٰى يَقِيْنٍ اَوْ اُثْبِتُهَا لَكَ

بعینه او یا په معنی د اثبته دي یعنې تحققت ابوته لک زه په دې خبره په یقین سره پوه شوم یا په معنی د اثبتها لک

عَطُوْفًا وَقَالَ صَاحِبُ الْمِفْتَاحِ اَحَقُّ التَّقْدِيْرَاتِ عِنْدِيْ اَنْ يُّقَدَّرَ يَحْنُوْ عَطُوْفًا.

عطوفا ده او ویلي صاحب د مفتاح چې زما په نزد د ټولو تقدیراتو نه ښه دا ده چې یحنو عطوفا مقدر کړې شي

خلاصه د متن : صاحب د کافیې د حذف جوازي صورت د بیانولو نه وروسته د حذف وجوبي ذکر کوي چې په وخت د قیام د قرینه کې که حالِ مؤکده وي نو د دې عامل لره به حذف کول واجب دي لکه زید ابوک عطوفا دا په اصل کې زید ابوک احقه عطوفا وو.

اغراض د جامي : حذف العامل: په دې عبارت سره غرض د شارح بیان د مرجع دي چې د یجب ضمیر مرجع حذف العامل دي.

بعض الاحوال: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : شهد الله انه لا اله الا هو الی قوله قائما بالقسط کې قائما حال مؤکده دي حالانکه د دې عامل حذف کول واجب نه دي بلکه شهد عامل مذکور دي.

جواب : احوالِ مؤکده نه بعضې احوالِ مؤکده مراد دي نه چې کل احوالِ مؤکده ځکه چې د حالِ مؤکده دوه قسمونه دي : (۱) د جملې اسمیه د مضمون د پاره مؤکد وي (۲) د جملې فعلیې د مضمون د پاره مؤکد وي د عامل حذف د وجوب د اول قسم څخه دي په دویم قسم کې حذف د عامل واجب نه دي

وهي الخ: په دې عبارت سره شارح دحالِ مؤكده اودحالِ منتقله په مينځ كې فرق بيانوي داولنې فرق تعريف تير شوي دي چې حالِ مؤكده غالبا د ذوالحال نه نه شي جدا كيدې اوحال منتقله جدا كيدي شي منتقله دعامل دپاره قيد وي اوحالِ مؤكده دعامل دپاره قيد نه وي بلكه د عامل دپاره تاكيد وي .

مثل زيد ابوك عطوفاً: په دې عبارت سره غرض دشارح دحالِ مؤكده دمثال وضاحت كوي چې په دې كې عطوفاً حالِ مؤكده دي ځكه چې عطوفيت يعني شفقت اكثر دپلار نه ، نه جدا كيږي نو ددې عامل په وجوبي طورباندې محذوف دي چې احق دي اواحقه په ضمې او په فتحې د همزې سره دواړو سره جائز دي كه دې لره په فتحې د همزې سره ولوستلې شي نو دابه ماخوذ وي د حققت الامر نه (يعني زه د هغه نه په يقين باندې شوم) اوكه په ضمې د همزې سره وي نو دا به ماخوذ وي د احققت الامر نه نو ددې معنى بعينه حققت الامر والاده يا ددې معنى اثبته (يعني ما دهغه ابويت ستا دپاره ثابت كړه اوزه په يقين سره شوم) صاحب دمفتاح ويلي دي چې زما په نزد دتولو تقديراتو نه ښه دادي چې دلته يحني فعل مقدر راوړې شي نو معنى به يې داشي چې زيد ستا پلار دي چې مائل كيږي اوحال دادې چې هغه مهربان دي .

د حذف وجوبي شرط :

وَ شَرْطُهَا اَىْ شَرْطُ وُجُوبِ حَذْفِ عَامِلِهَا اَنْ تَكُوْنَ مُقَرِّرَةً اَىْ مُؤَكِّدَةً لِمَضْمُوْنِ جُمْلَةٍ اِحْتَرَزَ
اوشرط ددې يعني شرط دوجوب دحذف دعامل چې وي مقرره يعني مؤكدوي دپاره دمضمون دجملې احترازيې
بِهٖ عَمَّا يُؤَكِّدُ بَعْضَ اَجْزَائِهَا كَالْعَامِلِ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى وَ اَرْسَلْنَاكَ
كړې دې په دې سره د هغه څه نه چې تاكيد كوي دبعضې اجزاولكه عامل په دې قول دالله تعالى كې وارسلناك
لِلنَّاسِ رَسُوْلًا فَاِنَّهٗ لَا يَجِبُ حَذْفُهٗ اِسْمِيَّةٍ اِحْتَرَزَ بِهٖ عَمَّا اِذَا
للناس رسولاځكه نه دي واجب حذف ددې عامل چې اسميه وي احترازيې وكړوپه دې سره د هغه جملې نه چې
كَانَتْ فِعْلِيَّةً فَاِنَّهٗ لَا يَجِبُ حَذْفُ عَامِلِهَا كَمَا قَالَ صَاحِبُ الْكَشَّافِ فِيْ قَوْلِهٖ
كله هغه فعليه وي ځكه چې نه دي واجب حذف دعامل ددې لكه څنګه چې صاحب دكشاف ويلي دي په دې قول د
تَعَالٰى قَائِمًا بِالْقِسْطِ اِنَّهٗ حَالٌ مُؤَكِّدَةٌ مِنْ فَاعِلِ شَهِدَ وَلَا بُدَّ هٰهُنَا مِنْ قَيْدٍ اٰخَرَ وَ هُوَ اَنْ يَّكُوْنَ
الله تعالى قائماً بالقسط كې چې داحال موكده دي دفاعل شهد نه اولابدې دلته ديوبل قيدنه اوهغه دادې چې وي
عَقْدُ تِلْكَ الْجُمْلَةِ الْاِسْمِيَّةِ مِنْ اِسْمَيْنِ لَا يَصْلِحَانِ لِلْعَمَلِ فِيْهَا وَ اِلَّا لَكَانَ عَامِلُهَا
تركيب ددې جملې اسميې ددوه اسمونو نه چې صلاحيت نه لري دعمل په دې كې اوكه وي نو وي به عامل ددې

مَذْكُوْرًا فَكَيْفَ يَكُوْنُ حَذْفُهُ وَاجِبًا نَحْوُ اَللّٰهُ شَاهِدٌ قَائِمًا بِالْقِسْطِ.
مذکور نوڅنګه به وي حذف ددې واجب لکه الله شاهد قائما بالقسط .

خلاصه دمتن : صاحب دکافیې په دې عبارت کې دحال عامل دحذف وجوبي دشرط ذکر کوي دحالِ مؤکده دعامل دحذف کولو دپاره شرط دادې چې هغه دجملې اسمیې دمضمون تاکید کوي .

اغراض دجامي : اي شرط وجوب حذف عاملها : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مونږ دانه منو چې دحال دپاره مضمون دجملې مقرر کیدل شرط وي مثال لکه جاءني زید راکباً په دې کې راکباً حال دي حالانکه دامضمون دجملې دپاره مقرر نه دي اونه دهغه عامل لره حذف کول واجب دي .

جواب : دلته مضاف محذوف دي په اصل کې شرط وجوب حذفها وو نوداحذف دعامل دوجوب شرط دي نه چې دنفسِ حال دعاملِ حذف کیدل حالِ مؤکده دعامل دحذف کولو دپاره شرط دادې چې هغه دجمله اسمیه مضمون تاکید کوي .

احترز : په دې عبارت سره غرض دشارح دمضمون دجملې دقید فائده بیانوي ، چې دا قید احترازي دي په دې سره احتراز دي دهغه حال نه کوم چې دمضمون دجملې تاکید نه کوي بلکې دجملې بعضې اجزاو تاکید کوي مثال لکه انا ارسلناک للناس رسولاً په دې کې رسولاً دا د مضمون دجملې تاکید نه کوي فقط درسالت تاکید کوي لهذا ددې عامل حذف کول واجب نه دي .

واحترز به : په دې عبارت سره غرض دشارح داسمیه دقید فائده بیانوي چې دا قید احترازي دي په دې سره احتراز دي دهغه حال نه کوم چې جمله فعلیه دمضمون تاکید کوي داسې حال دعامل حذف کیدل واجب نه دي لکه څنګه چې صاحب دکشاف ویلي دي دالله تعالی قول قائماً بالقسط په باره کې چې په دې کې قائماً بالقسط حال دي دههد فاعل نه لهذا ددې عامل لره حذف کول واجب نه دي .

ولا بد : په دې عبارت سره غرض دشارح په صاحب دکافیه باندې اعتراض کول دي ، مصنف رحمه الله لره په کاروو چې جمله اسمیه دداسې دوه اسمونو نه مرکب وي چې په هغوي کې یو

اسم هم په حال کې د عمل صلاحیت نه لري خکه چې که جمله اسمیه د داسې دوه اسمونو نه مرکب وي چې په هغې کې هر یو اسم په حال کې د عمل کولو صلاحیت لري نو دهغه عامل به محذوف نه وي مثال لکه الله شاهد قائماً بالقسط په دې کې شاهد دا جمله اسمیه ده د دې دویم جزء په دې کې د عمل صلاحیت لري لهذا په دغه قائما کې به عامل وي

﴿اَلتَّمْيِيْزُ﴾:

دتمییز تعریف:

اَلتَّمْيِيْزُ مَا يَرْفَعُ اَيِ الْاِسْمِ الَّذِيْ يَرْفَعُ الْاِبْهَامَ وَ اِحْتَرَزَ بِهٖ عَنِ الْبَدَلِ فَاِنَّ الْمُبْدَلَ

تمیز هغه دي چې رفع کوي یعني هغه اسم دي چې رفع کوي ابهام احترازیې وکړو په دې سره د بدل نه خکه چې مبدل

مِنْهُ فِيْ حُكْمِ التَّنْحِيَةِ فَهُوَ لَيْسَ يَرْفَعُ الْاِبْهَامَ عَنْ شَيْءٍ بَلْ هُوَ تَرْكُ مُبْهَمٍ وَ اِيْرَادُ مُعَيَّنٍ

منه په حکم د ازالې کې دي نو دا نه دي چې رفع کړي ابهام د یو څیز نه بلکې پریخودل د مبهم او وارد ول د معین دي

الْمُسْتَقَرَّ اَيِ الثَّابِتَ الرَّاسِخَ فِي الْمَعْنَى الْمَوْضُوْعِ لَهٗ مِنْ حَيْثُ اَنَّهٗ مَوْضُوْعٌ لَهٗ فَاِنَّ الْمُسْتَقَرَّ

چې مستقروي یعني ثابت اوراسخ په معنی موضوع له کې د دې حیثیت نه چې دا موضوع له وي خکه مستقر

وَ اِنْ كَانَ بِحَسْبِ اللُّغَةِ هُوَ الثَّابِتُ مُطْلَقًا لٰكِنِ الْمُطْلَقَ مُنْصَرِفٌ اِلَى الْكَامِلِ وَهُوَ الْوَضْعِيُّ وَ اِحْتَرَزَ

اګر که په اعتبار دلغت سره ثابت دي مطلقا لیکن مطلق ګرځي کامل طرف ته او هغه وضعي دي او احترازیې وکړو

بِهٖ عَنْ نَحْوِ رَاَيْتُ عَيْنًا جَارِيَةً فَاِنَّ قَوْلَهٗ جَارِيَةً يَرْفَعُ الْاِبْهَامَ عَنْ قَوْلِهٖ عَيْنًا لٰكِنَّهٗ غَيْرُ مُسْتَقَرٍّ بِحَسْبِ

په دې سره د رأیت عیناً جاریةً نه خکه چې دا قول جاریةً دده رفع کوي ابهام د عیناً نه لیکن دا غیر مستقر دي په اعتبار

الْوَضْعِ بَلْ نَشَاَ فِي الْاِسْتِعْمَالِ بِاِعْتِبَارِ تَعَدُّدِ الْمَوْضُوْعِ لَهٗ وَ كَذَا يَقَعُ بِهٖ

د وضع سره بلکه پیدا شوي دي په استعمال کې په اعتبار د تعدد د موضوع له سره او همدا رنګې واقع کیږي په

الْاِحْتِرَازُ عَنْ اَوْصَافِ الْمُبْهَمَاتِ نَحْوُ هٰذَا الرَّجُلُ فَاِنَّ هٰذَا مَثَلًا اِمَّا مَوْضُوْعٌ لِمَفْهُوْمٍ كُلِّيٍّ

دې سره احتراز د اوصافو د مبهماتو نه لکه هذا الرجل خکه هذا مثلاً یا خو وضع شوي دي د پاره د مفهوم کلي په دې

بِشَرْطِ اِسْتِعْمَالِهٖ فِيْ جُزْئِيَّاتِهٖ اَوْ لِكُلِّ جُزْئِيٍّ جُزْئِيٍّ مِنْهُ وَلَا اِبْهَامَ

شرط سره چې هذا د مفهوم کلي په جزئیاتو کې مستعمل وي یا د هر یو جزئي جزئي د پاره موضوع وي او نشته ابهام

فِيْ هٰذَا الْمَفْهُوْمِ الْكُلِّيِّ وَلَا فِيْ وَاحِدٍ مِنْ جُزْئِيَّاتِهٖ بَلِ الْاِبْهَامُ اِنَّمَا نَشَاَ مِنْ تَعَدُّدِ الْمَوْضُوْعِ لَهٗ اَوِ الْمُسْتَعْمَلِ فِيْهِ

په دې مفهوم کلي کې او نه په یو جزکي د جزئیاتو نه بلکې ابهام دا پیدا دي د تعدد د موضوع له نه یا مستعمل فیه دي

فَتَوْصِيْفُهٗ بِالرَّجُلِ يَرْفَعُ هٰذَا الْاِبْهَامَ لَا الْاِبْهَامَ الْوَاقِعَ فِي الْمَوْضُوْعِ لَهٗ مِنْ حَيْثُ اَنَّهٗ

نو توصیف کول په الرجل سره رفع کوي دا ابهام نه هغه ابهام چې واقع دي په موضوع له د دې حیثیت نه چې دا

مَوْضُوْعٌ لَهُ وَ كَذَا يَقَعُ بِهِ الْاِحْتِرَازُ عَنْ عَطْفِ الْبَيَانِ فِيْ مِثْلِ قَوْلِكَ اَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ
موضوع له دي او همدارنګې واقع کيږي په دې سره احتراز د عطف بيان نه په مثل د قول ستاکې ابو حفص عمر
فَاِنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْ اَبِيْ حَفْصٍ وَعُمَرَ مَوْضُوْعٌ لِشَخْصٍ مُعَيَّنٍ لَا اِبْهَامَ فِيْهِ لٰكِنْ لَمَّا كَانَ
ځکه چې هريو د ابي حفص او عمر نه موضوع دي د پاره د شخص معين او نشته ابهام په دې کې ليکن هر کله چې
عُمَرُ اَشْهَرَ مِنْهُ زَالَ بِذِكْرِهِ الْخَفَاءُ الْوَاقِعُ فِيْ اَبِيْ حَفْصٍ لِعَدَمِ الْاِشْتِهَارِ
عمر زيات مشهور وو نو زائله شوه په ذکر کولو د دې سره هغه خفا چې واقع وه په ابي حفص کې د وجې د عدم شهرت نه
لَا الْاِبْهَامَ الْوَضْعِيِّ .
نه د ابهام وضعي نه .

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب د کافيې د تمييز تعريف کوي چې تمييز هغه اسم دي چې د ذات مقدره نه يا د ذات مذکوره نه ابهام ختم کړي داسې ابهام چې د هغه معنى په موضوع له کې راسخ شوي وي .

اغراض دجامي : اى الاسم: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د تمييز تعريف دخول د غير نه مانع نه دي ځکه چې کلمه د **ما** عام ده ځکه چې دا تعريف په هغه **قتلتُ** باندې صادق راځي کوم چې په **فعلتُ اى قتلتُ** کې واقع دي ځکه چې دا هم ابهام لره لرې کوي حالانکه دا تمييز نه دي بلکه تفسير دي .

جواب : **ما** عبارت دي د اسم نه او **قتلتُ** اسم نه دي بلکه فعل دي نو اشکال وارد نه شو بلکې دفع شو .

الذي: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کله چې د **ما** نه مراد اسم دي نو الاسم موصوف او **يرفع الابهام** جمله خبريه د هغې صفت جوړيږي حالانکه دا صفت نه دي ځکه چې الاسم معرفه او **يرفع الابهام** جمله خبريه ده او جمله خبريه د نکرې په حکم کې وي او نکره د معرفې صفت نه شي جوړيدي .

جواب : د الذي په اضافه کولو سره شارح جواب ورکوي چې په **ما يرفع** کې **ما** موصوله په معنى د الذي ده **ما** موصوفه نه ده او مابعد جمله يعنې **يرفع الابهام** د **ما** موصوله د پاره صله ده صفت نه دي نو اشکال رفع شو .

احترز: په دې عبارت سره شارح دیرفع الابهام دقید فائده بیانوي چې دا قید احترازي دې د بدل نه احتراز دې ځکه چې په بدل اومبدل منه کې مقصود بدل وي اومبدل منه دسقوط او ترک په درجه کې وي نو په بدل کې ترکِ مبهم، مبدل منه، اوذکر دمتعین (بدل) وي.

الثابت: په دې عبارت سره شارح د المستقر دمعنی بیان کوي دابهام مستقر معنی داده چې هغه ابهام چې په معنی موضوع له کې دموضوع له کیدو حیثیت څخه ثابت اوراسخ وي.

فان المستقر: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مستقر خو په معنی د مطلقِ ثبوت ده بیا داثبوت عام دي که دا ابهام ثابت په اعتبار دوضع سره وي اوکه په اعتبار داستعمال سره وي اوکه په اعتبار داشتراک سره وي لهذا الثابت لره دالراسخ في المعنی الموضوع سره مقید کیدل صحیح نه دي.

جواب: اګرکه دلغت په اعتبار سره دمستقر معنی مطلق ثبوت ده بیا دا عام ده که په اعتبار د وضع سره وي اوکه په اعتبار داستعمال سره وي لیکن دلته هغه ابهام مراد دي کوم چې په معنی موضوع له کې ثابت اوراسخ شوي وي ځکه چې په متن کې المستقر مطلق مذکور دي اوقاعده داده چې کله مطلق ذکر شي نو ددې نه مراد فردِ کامل وي اودابهام فردِ کامل ابهام وضعي دي ددې وجې نه یې المستقر په الراسخ في المعنی الموضوع له قید سره یې مقید کړو.

واحترز به: په دې عبارت سره شارح دالمستقر قید فائده بیانوي چې دا قید احترازي دي په دې سره درې (۳) څیزونه خارج شول:

(۱): دلفظ مشترک صفت ځکه چې دلفظ مشترک صفت اګرکه ابهام لره لري کوي لیکن هغه ابهام وضعي نه وي بلکه هغه ابهام دموضوع له دتعدد دوجې نه په استعمال کې پیدا شوي دي مثال رأیت عیناً جاریةً په دې کې جاریةً اګرکه ابهام لره لري کوي لیکن دا ابهام وضعي نه دي بلکه موضوع له دتعدد دوجې نه په استعمال کې پیدا شوي دي.

(۲): دمبهماتو صفت، ځکه چې دمبهماتو صفت اګرکه دمبهم نه ابهام لره لري کوي لیکن هغه ابهام وضعي نه دي بلکه هغه ابهام په استعمال کې دتنه دموضوع له تعدد یامعنی مستعمل فیه د تعدد دوجې نه پیدا کیږي ځکه چې دمبهماتو په باره کې اختلاف دي د متقدمینو په نزد دا دمفهوم کلي دپاره موضوع دي خو په شرط استعمال في الجزئیات اود متاخرینو په نزد دا موضع دي دمفهوم کلي دجزئیاتو څخه هر هر جزدپاره. نو د متقدمینو په

نزد په هغه کې ابهام مستعمل فيه دتعدد دوجې څخه دي اودمتاخرينو په نزد په هغه کې ابهام دموضوع له دتعدد دوجې څخه پيدا شوي وي مثلاً هذا الرجل په دې کې الرجل اګرکه دهذا نه ابهام لرې کوي ليکن هغه ابهام وضعي نه دي بلکه دا ابهام دمتقدمينو په نزد معنى موضوع له دتعدد څخه دي اودمتاخرينو په نزد دا ابهام دمستعمل فيه دتعدد څخه دي .

(۳): عطف بيان ، ځکه چې عطف بيان اګرچې دمبين نه ابهام لرې کوي ليکن هغه ابهام وضعي نه دي بلکه هغه ابهام داستعمال دوجې نه پيدا شوي دي دمبين دعدم شهرت دوجې نه مثال لکه اقسم بالله ابوحفص عمر ، په دې کې ابوحفص په نسبت دعمر سره زيات مشهور وو نو د عمر دذکرکولو سره هغه خفاء زائل شوه کومه چې دعدم شهرت دوجې نه په ابوحفص کې پيدا شوي وه .

نو ددې خلاصه داشوه چې په دغه درې واړو کې ابهام په نفس معنى موضوع کې ثابت نه ده بلکه په مشترک کې ابهام تعدد د موضوع له د وجې نه پيدا شوي دي او په مبهماتو کې تعدد د مستعمل فيه د اعتبار نه اوپه عطف بيان کې دعدم شهرت دوجې نه ابهام پيدا شوي دي .

د تمييز په تعريف کې د دويم قيد ذکر :

عَنْ ذَاتٍ لَا عَنْ وَصْفٍ وَ اِحْتَرَزَ بِهِ عَنِ النَّعْتِ وَ الْحَالُ فَاِنَّهُمَا يَرْفَعَانِ الْاِبْهَامِ الْمُسْتَقِرَّ
دذات نه، نه دوصف نه اواحترازيې وکړوپه دې سره دنعت اوحال نه ځکه دادواړه رفع کوي هغه ابهام مستقرلره
الْوَاقِعَ فِي الْوَصْفِ لَا فِي الذَّاتِ وَ تَحْقِيْقُ ذٰلِکَ اَنَّ الْوَاضِعَ لَمَّا وَضَعَ الرِّطْلَ مَثَلًا لِنِصْفِ مَنٍ
کوم چې واقع کيږي په وصف کې نه په ذات کې اوتحقيق ددې دادې چې واضع هرکله وضع کړورطل مثلاً دنيم من
فَلَا شَکَّ اَنَّ الْمَوْضُوْعَ لَهُ مَعْنًى مُعَيَّنٌ مُتَمَيِّزٌ عَمَّا هُوَ اَقَلُّ مِنَ النِّصْفِ
دپاره نوپه دې کې شک نشته چې موضوع له معنى معين اوجدادي دهغه څيزنه کوم چې کم دي دنصف نه لکه
کَالرُّبُعِ وَ عَمَّا هُوَ اَکْثَرُ مِنْهُ کَمَنٍّ وَ مَنَّيْنِ وَلَا اِبْهَامَ فِيْهِ اِلَّا مِنْ حَيْثُ
څلورمه اودهغه څيزنه کوم چې زيات وي ددې نه لکه يومن اودوه منه اونشته ابهام په دې کې مګر د حيثيت
ذَاتِهِ اَيْ جِنْسِهِ فَاِنَّهُ لَا يُعْلَمُ مِنْهُ بِحَسْبِ الْوَضْعِ اَنَّهُ مِنْ جِنْسِ الْعَسَلِ اَوِ الْخَلِّ
دذات نه يعنې دجنس ددې نه ځکه نه معلوميږي ددې نه په اعتبار دوضع سره چې دادجنس دشهدواويادسرکې نه
اَوْ غَيْرِهِمَا لَا مِنْ حَيْثُ وَصْفِهِ فَاِنَّهُ لَا يُعْلَمُ مِنْهُ بِحَسْبِ الْوَضْعِ اَنَّهُ بَغْدَادِيٌّ
اوياغيرددې دواړونه. نه په اعتبار دوصف سره ځکه نه معلوميږي ددې نه په اعتبار دوضع سره چې دابغدادي دي

أَوْ مَكِّيٌّ فَإِذَا أُرِيدَ رَفْعُ الْإِبْهَامِ الْوَصْفِيِّ الثَّابِتِ فِيهِ بِحَسْبِ الْوَضْعِ أُتْبِعَ
اويامكي دي هركله چې اراده كړې رفع دابهام وصفي چې ثابت وي په دې كې په اعتبار دوضع سره نوتابع كيږي
بِصِفَةٍ أَوْ حَالٍ فَيُقَالُ رِطْلٌ بَغْدَادِيٌّ أَوْ بَغْدَادِيًّا وَ إِذَا أُرِيدَ رَفْعُ الْإِبْهَامِ الذَّاتِيِّ قِيلَ
دصفت سره اويا دحال سره نوويلي به شي رطل بغدادي اوبغداديا ، اوهر كله چې اراده كړې رفع دابهام ذاتي نوويلي
زَيْتًا فَزَيْتًا يَرْفَعُ الْإِبْهَامَ الْمُسْتَقِرَّ عَنِ الذَّاتِ لَا النَّعْتُ وَالْحَالُ فَإِنَّهُمَا يَرْفَعَانِ الْإِبْهَامَ عَنِ الْوَصْفِ.
به شي زيتافزيتانورفع كوي ابهام مستقر دذات نه ، نه دنعت اوحال نه ځكه دادواړه رفع كوي ابهام د وصف نه .

خلاصه دمتن : په دې عبارت كې صاحب دكافيې دتمييز په تعريف كې يو بل قيد اضافه كوي چې تمييز هغه اسم دي كوم چې دذات نه ابهام لرې كوي نه دوصف نه .

اغراض دجامي : لاعن وصف : په دې عبارت سره شارح دذات دقيد فائده بيانوي چې دا قيد احترازي دي په دې سره دصفت اودحال نه احتراز دي ځكه چې دا دواړه هغه ابهام لره لرې كوي كوم چې په وصف كې واقع كيږي نه په ذات كې .

وتحقيق ذلک : په دې عبارت سره شارح ددې خبرې تحقيق كوي چې تمييز د ذات نه اونعت د حال اودوصف نه څنګه ابهام لرې كوي ددې تحقيق دادې مثلاً چې كله واضع رطل لره نيم سير ددې دپاره وضع كړو نو په دې كې هيڅ شک نشته دي چې ددې معنى موضوع له معين ده چې ـ نصف نه كم اودربع نه ممتاز او اوچت اودنصف نه اكثر مثلاً يو سير يادوه سيرنه ممتاز دي ليكن ذات يعني جنس داعتبار څخه په دې كې ابهام موجود دي ځكه چې په اعتبار دوضع سره معلوم نه شول چې هغه رطل دشهدو جنس څخه دي اوكه دسركې دجنس نه يادبل جنس څخه همدارنګې په اعتبار دوصف سره هم ابهام موجود دي ځكه چې معلوم نه شول چې هغه رطل بغدادي دي اوكه مكي يادبل ځاي . لهذا كله چې ابهام وصفي لره درفع كولو اراده وكړې شي نوددې نه وروستو حال يا وصف لره ذكركولې شي دوصف په صورت كې به داسې ويلې شي چې : عندي رطل بغدادي دحال په صورت كې عندي رطل بغداديا ويلې شي اوكله چې ابهام ذاتي لره دلرې كولو اراده وكړې شي نو تمييز لره به ذكر كولې شي اوداسې به ويلې شي چې عندي رطل زيتا لهذا زيتا دا ابهام ذاتي لره رفع كوي اوصفت اوحال ابهام وصفي لره رفع كوي لهذا ماتن دذات دقيد سره هغه دواړه لره خارج كړل .

د تمییز اقسام :

مَذْكُورَةٌ اَوْ مُقَدَّرَةٌ صِفَتَانِ لِذَاتٍ اِشَارَةٌ اِلٰى تَقْسِيمِ التَّمْيِيزِ فَالْمَذْكُورَةُ نَحْوُ رِطْلٌ زَيْتًا
د ذات مذکوره نه یا مقدره نه دواړه صفت دي دپاره د ذات اشاره ده تقسیم د تمییز طرف ته نو مذکوره لکه رطل زیتاً
وَ الْمُقَدَّرَةُ نَحْوُ طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا فَاِنَّهُ فِيْ قُوَّةِ قَوْلِنَا طَابَ شَيْءٌ مَنْسُوبٌ اِلٰى زَيْدٍ وَ نَفْسًا يَرْفَعُ
اومقدره لکه طاب زید نفسا خکه دا په قوت د قول زمونږ طاب شيء منسوب الی زید نفسا کې دي او نفسا رفع کوي
الْاِبْهَامَ عَنْ ذٰلِكَ الشَّيْءِ الْمُقَدَّرِ فِيْهِ.
ابهام د هغه څیز نه کوم چې مقدر دي په دې کې.

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب د کافیې د تمییز تقسیم کوي چې تمیز په دوه قسمه دي . (۱) هغه تمییز چې ذات مذکوره نه ابهام لري کوي مثال لکه عندي رطل زیتا . (۲) دویم هغه تمییز کوم چې د ذات مقدره نه ابهام لري کوي مثلاً طاب زید نفساً .

اغراض دجامي : اشارة الی تقسیم : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په تعریف کې کلمه اوْ لره ذکر کول صحیح نه دي څکه چې کلمه د اَوْ د تشکیک دپاره راځي او تعریف د وضاحت دپاره راځي نو په تشکیک او وضاحت دواړو کې منافات دي .

جواب : دلته کلمه د اَوْ د تشکیک دپاره نه ده بلکه د تنویع او د تقسیم د تمییز دپاره ده او د تمیز دوه (۲) قسمونه دي : (۱) هغه تمییز چې ذات مذکوره نه ابهام لري کوي مثال لکه عندي رطل زیتا. (۲) دویم هغه تمییز کوم چې د ذات مقدره نه ابهام لري کوي مثلاً طاب زید نفساً.

فانه في قوة قولنا: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : نفساً د زید نه ابهام رفع کوي هغه مذکور دي مقدر نه دي نو هغه لره ذات مقدره نه ابهام لره لري کولو په مثال کې پیش کول څنګه صحیح دي ؟

جواب : دلته ممیز زید نه دي بلکه ممیز مقدر دي چې شئ دي څکه چې د طاب زید نفساً معنی طاب شيء منسوب الی زید ده لهذا نفسا د هغه شئ نه ابهام لري کوي کوم چې مقدر دي د دې وجې نه هغه لره د ذات مقدره د مثال په طور ذکر کول صحیح دي .

د تمييز اول قسم :

فَالْاَوَّلُ اَيِ الْقِسْمِ الْاَوَّلِ مِنَ التَّمْيِيْزِ وَهُوَ مَا يَرْفَعُ الْاِبْهَامَ عَنْ ذَاتٍ مَذْكُوْرَةٍ يَرْفَعُهُ عَنْ مُفْرَدٍ يَعْنِيْ
نو اول يعني اول قسم د تمييز او دا هغه دي چې رفع کوي ابهام د ذات مذکوره نه چې رفع کوي د مفرد نه او مراد د
بِهٖ مَا يُقَابِلُ الْجُمْلَةَ وَ شِبْهَهَا وَ الْمُضَافَ مِقْدَارٍ صِفَةٌ لِمُفْرَدٍ وَ
مفرد نه هغه دي کوم چې مقابل د جملې او يا د شبه جملې او د مضاف وي چې مقدار وي دا صفت دي دپاره د مفرد او
هُوَ مَا يُقَدَّرُ بِهِ الشَّيْءُ اَيْ يُعْرَفُ بِهٖ قَدْرُهٗ وَ يُبَيَّنُ غَالِباً اَيْ
دا هغه دي چې د دې سره اندازه کولې شي د يو څيز يعني پيژندلې شي په دې سره مقدار او بيانولې شي غالباً يعني
فِيْ غَالِبِ الْمَوَادِّ وَاَكْثَرِهَا اَيْ رَفْعُ الْاِبْهَامِ مُطْلَقًا يَتَحَقَّقُ فِيْ ضِمْنِ هٰذَا الرَّفْعِ الْخَاصِّ فِيْ اَكْثَرِ الْمَوَادِّ
په غالب او اکثرو موادو کې يعني رفع د ابهام کوي مطلقاً متحقق کيږي په ضمن د دې رفع خاص کې په اکثرو موادو
وَذٰلِكَ لِاَنَّ الْاِبْهَامَ فِيْهِ اَكْثَرُ وَ الْمِقْدَارُ اِمَّا مُتَحَقِّقٌ فِيْ ضِمْنِ عَدَدٍ نَحْوُ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا وَ سَيَاْتِيْ
کې او دا ځکه چې ابهام په دې کې اکثر دي او مقدار يا متحقق وي په ضمن د عدد کې لکه عشرون درهماً او زر دي چې
ذِكْرُ تَمْيِيْزِ الْعَدَدِ وَ بَيَانُهٗ فِيْ بَابِ اَسْمَاءِ الْعَدَدِ وَاِمَّا فِيْ ضِمْنِ غَيْرِهٖ اَيْ غَيْرِ الْعَدَدِ كَالْوَزْنِ
رابه شي ذکر د تمييز عدد او بيان يې په اسماء عدد کې او يا په ضمن د غير د دې کې يعني غير د عدد کې په شان د وزن
نَحْوُ رِطْلٌ زَيْتًا فَاِنَّ الرِّطْلَ نِصْفُ الْمَنِّ وَنَحْوُ مَنَوَانِ سَمْنًا وَكَالْكَيْلِ نَحْوُ قَفِيْزَانِ بُرًّا وَكَالذِّرَاعِ نَحْوُ ذِرَاعٌ
لکه رطل زيتاً ځکه رطل نيم من دي او لکه منوان سمناً او د کيل په شان لکه قفيزان براً او د ذراع په شان لکه ذراع
ثَوْبًا وَ كَالْمِقْيَاسِ نَحْوُ عَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْدًا وَالْمُرَادُ بِالْمَقَادِيْرِ فِيْ هٰذِهِ الصُّوَرِ هُوَالْمُقَدَّرَاتُ لِاَنَّ
ثوباً او د مقياس په شان لکه على التمرة مثلها زبداً او مراد په مقادير سره په دې صورتونو کې هغه مقدرات دي ځکه
قَوْلَكَ عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا وَرِطْلٌ زَيْتًا وَذِرَاعٌ ثَوْبًا وَعَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْدًا اَلْمُرَادُ بِهَا الْمَعْدُوْدُ وَالْمَوْزُوْنُ
دا قول ستا عندي عشرون درهماً او رطل زيتاً او ذراع ثوباً او على التمرة مثلها زبداً مراد په دې ټولو سره معدود .موزون.
وَالْمَذْرُوْعُ وَالْمَقِيْسُ لَا غَيْرُ.
مذروع او مقيس دي نه بل څه

خلاصه د متن : د صاحب د کافيې د عبارت حاصل دا دې چې د تمييز اول قسم يعني کوم چې د ذات مذکوره نه ابهام رفع کوي هغه اکثر مفرد مقدار نه ابهام لري کوي او دا مفرد مقدار يا د عدد په ضمن کې متحقق کيږي يا د غير عدد په ضمن کې که چيرته د غير عدد په ضمن کې وي نو بيا هغه غير د څلورو حالونو نه به خالي نه وي يا به وزن وي يا کيل يا ذراع يا به مقياس وي د هر يو مثال په شرحه کې ذکر کيږي .

اغراض دجامي : القسم: په دې عبارت سره شارح بيان دترکيب کوي چې الاول صفت دي د موصوف محذوف چې القسم دي .

وهو ما يرفع الابهام: په دې عبارت سره شارح بيان دمصداق کوي دالاول مصداق بيانوي چې داول قسم نه مراد هغه دي کوم چې دذات مذکوره نه ابهام لرې کوي .

يرفعه: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دي چې د عن مفرد متعلق محذوف دي چې يرفعه دي فعل دخپل فاعل اودمفعول به سره خبر دي د الاول دمبتدا دپاره .

يعني به مايقابل الجملة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستامثال دممثل سره مطابق نه دي ځکه چې مثال دهغه تمييز بيانول په کار دي کوم چې دمفرد مقدار نه ابهام لره رفع کوي ليکن تا دتثنيه اودجمع مثالونه ذکر کړي دي .

جواب : دلته دمفرد نه مراد هغه مفرد دي کوم چې دجملې ، شبه جمله اودمضاف په مقابله کې وي هغه مفرد مراد نه دي کوم چې دتثنيې اود جمعې په مقابله کې راځي نو په دې مقام باندې مفرد ، تثنيه اوجمع ته هم شامل دي لهذا منوانِ او عشرون دا مثالونه دممثل له سره مطابق دي .

صفة: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دي چې مقدارٍ دمفردٍ صفت دي .

وهو مايقدر له: په دې عبارت سره غرض دشارح دمقدار تعريف بيانوي چې مقدار هغه دي چې دهغې سره ديو څيز اندازه اودهغه څيز دمقدار پيژندنه وشي .

ويبين: په دې عبارت سره يې اشاره وکړه چې يعرف دمعرفةٌ نه مشتق دي نه دتعريف نه .

اى في غالب: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دترکيب دي چې دغالباًنصب ظرفيت د مفعول فيه په بناء باندې دي .

واکثرها: په دې عبارت سره يې اشاره وکړه چې غالباً داکثر په معنى باندې ده .

رفع الابهام: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : داول مصداق هغه تمييز دي کوم چې دذاتِ مذکوره نه ابهام رفع کوي اومفرد مقدار نه مراد هم ذاتِ مذکوره دي نو معنى به يې داوي چې هغه تمييز چې دذاتِ مذکوره نه ابهام رفع کوي دذاتِ مذکوره نه نو دمصنف رحمه الله په عبارت کې تکرار دي چې داد فصاحت

خلاف دي .

جواب: مفرد مقدار اخص دي او اول اعم دي ځکه چې داول نه مراد هغه تمييز دي چې دذاتِ مذکوره نه ابهام لرې کوي داعام دي چې هغه ذات مذکوره مفرد مقدار وي ياغير مقدار او مفرد مقدار نه فقط مفرد مقدار دي لهٰذا دا هغه نه اخص دي مقصد دادې چې رفع دابهام مطلق متحسن وي په هغه رفع خاص مقدار کې ځکه چې مفرد مقداري کې ابهام اکثراواغلب وي .

والمقدار: په دې عبارت کې غرض دشارح بيان دترکيب دي ، **في عددٍ** دخپل متعلق سره دا خبر دي دمبتداء محذوف چې **المقدار** دي .

ضمن: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: عدد هم خو مفرد مقدار دي لهذا **ظرفية الشيء لنفسه** والاخرابي لازم راځي .

جواب: دا **ظرفية الشيء لنفسه** نه دي بلکه **ظرفية الاخص للاعم** دي ځکه چې مفرد مقدارِ عدد نه اعم دي عدد لره هم شامل دي اوغير عدد لره هم شامل دي .

والمقدار اما متحقق: دشارح غرض وضاحت دمتن اودمثالونو دممثل له سره متعين کول دي چې حاصل يې دادې چې مفرد مقداري ياخويه دعدد په ضمن کې متحقق وي يابه دغير عدد په ضمن کې که دغير عدد په ضمن کې وي نو بيا هغه غيرعددبه دځلورو (۴) حالونو نه به خالي نه وي : (۱) يابه وزن وي .(۲) يابه کيل وي . (۳) يا به ذراع وي . (۴) اويا به مقياس وي .

(۱) مفرد مقدارِ دعدد په ضمن کې وي مثال لکه **عندي عشرون درهماً** . (۲) مفرد مقدار دوزن په ضمن کې وي مثال لکه **عندي رطل زيتاً** ، ځکه چې **رطل** نيم سير ته ويلې شي ددې دويم مثال **عندي منوان سمناً** دي . (۳) مفرد مقدار دکيل په ضمن کې وي مثال لکه **قفيزان براً** . (۴) مفرد مقدار د مقياس په ضمن کې وي مثال لکه **على التمرة مثلها زبداً** .

والمراد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: په **عندي عشرون درهما** کې **عشرون** دمعنى معين دپاره موضوع ده همدارنګې په **عندي رطل زيتا** کې **رطل** يومعنى متعين دپاره موضوع ده نو بيا **درهما** او **زيتا** تمييز څنګه شو ځکه چې تمييز خو ابهام لره رفع کوي اودلته ابهام نشته دي .

جواب: په دې مذکوره صورتونو کې د **مقادير** نه مراد **مقدرات** دي مثلاً په **عندي عشرون درهما**

کې د عشرون نه مراد معدود دي ، همدارنګې په عندي رطل زيتا کې د رطل نه مراد موزون دي او په قفيزان برا کې د قفيزان نه مراد مکيل دي ، او په ذراع ثوبا کې د ذراع نه مراد مذروع دي او على التمرة مثلها زبدا کې د مثلها نه مراد مقيس دي ، او يقينا په دې کې ابهام موجود دي .

د يو سوال مقدر جواب :

وَ اِنَّمَا اقْتَصَرَ الْمُصَنِّفُ عَلَى الْاَمْثِلَةِ الثَّلَاثَةِ لِاَنَّهُ كَانَ مَطْمَحُ نَظَرِهٖ اَلتَّنْبِيْهَ عَلٰى بَيَانِ مَا
اوپه تحقيق سره اکتفاء وکړه مصنف په دري مثالونو باندې ځکه چې وو مطمح نظر د مصنف تنبيه په بيان د هغه
يَتِمُّ بِهِ الْمُفْرَدُ وَ هُوَ التَّنْوِيْنُ كَمَا فِيْ رِطْلٌ زَيْتاً اَوِ النُّوْنُ كَمَا فِيْ مَنَوَانِ سَمْناً اَوِ الْاِضَافَةُ
څيز چې تام کيږي په دې سره مفرد او هغه تنوين دي لکه په رطل زيتا کې يا نون لکه په منوان سمنا يا اضافت لکه په
كَمَا فِيْ عَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْداً وَ لِهٰذَا لَمْ يَسْتَوْفِ اَقْسَامَ الْمَقَادِيْرِ وَ كَرَّرَ بَعْضَهَا
على التمرة مثلها زبدا او د دې وجې نه ذکر نه کړل مصنف ټول اقسام د مقاديرو او مکرر يې راوړل بعضې اقسام د مقادير
وَ مَعْنٰى تَمَامِ الْاِسْمِ اَنْ يَّكُوْنَ عَلٰى حَالَةٍ لَا يُمْكِنُ اِضَافَتُهُ مَعَهَا
او معنى د اسم د تمام کيدو دا ده چې وي اسم په داسې حالت باندې چې نه وي ممکن اضافت د دې حالت د اسم سره
وَالْاِسْمُ مُسْتَحِيْلُ الْاِضَافَةِ مَعَ التَّنْوِيْنِ وَنُوْنَيِ التَّثْنِيَةِ وَ الْجَمْعِ وَمَعَ الْاِضَافَةِ لِاَنَّ الْمُضَافَ لَا يُضَافُ
او اسم مستحيل الاضافة دي د تنوين سره او د دوه نونه د تثنيې او د جمع او سره د اضافت ځکه مضاف نه مضاف کيږي
ثَانِياً فَاِذَا تَمَّ الْاِسْمُ بِهٰذِهِ الْاَشْيَاءِ شَابَهَ الْفِعْلَ اِذَا تَمَّ بِالْفَاعِلِ وَ
دوهم ځل هر کله چې پوره شو اسم په دې شيانو سره نو دا د فعل سره مشابه شو چې کله تام شي په فاعل باندې او
صَارَبِهٖ كَلَاماً تَامّاً فَيُشَابِهُهُ التَّمْيِيْزُ الْاٰتِيْ بَعْدَهُ الْمَفْعُوْلَ لِوُقُوْعِهٖ بَعْدَ تَمَامِ
وګرځيدو په دې سره کلام تام نو مشابه شو هغه تميز سره چې راځي پس د دې نه مفعول د وجې د وقوع نه پس د تمام
الْاِسْمِ كَمَا اَنَّ الْمَفْعُوْلَ حَقُّهٗ اَنْ يَّقَعَ بَعْدَ تَمَامِ الْكَلَامِ فَيَنْصِبُهٗ ذٰلِكَ الْاِسْمُ التَّامُّ
والي د اسم نه لکه څنګه چې د مفعول حق دا دي چې دا واقع شي پس د تمام والي د کلام نه نو نصب ورکوي دې اسم تام
قَبْلَهٗ لِمُشَابَهَتِهٖ الْفِعْلَ التَّامَّ بِفَاعِلِهٖ وَ هٰذِهِ الْاَشْيَاءُ اِنَّمَا
ته کوم چې د تميز نه مخکې دي د وجې د مشابهت نه د هغه فعل سره چې تام کيږي په فاعل باندې او دا شيان ځکه
قَامَتْ مَقَامَ الْفَاعِلِ لِكَوْنِهَا فِيْ اٰخِرِ الْاِسْمِ كَمَا كَانَ الْفَاعِلُ عَقِيْبَ الْفِعْلِ اَلَا تَرٰى اَنَّ
قائم مقام کيږي د فاعل د وجې د کيدو نه په آخر د اسم کې لکه څنګه چې فاعل وي وروسته د فعل آيا ته نه ګورې چې
لَامَ التَّعْرِيْفِ الدَّاخِلَةِ عَلٰى اَوَّلِ الْاِسْمِ وَاِنْ كَانَ يَتِمُّ بِهَا الْاِسْمُ فَلَا يُضَافُ مَعَهَا وَلَا يَنْتَصِبُ
لام تعريف چې داخليږي په اول د اسم باندې اګر که تاميږي په دې سره اسم نو نه مضاف کيږي د دې سره او نه منصوب

التَّمْيِيْزِ عَنْهُ فَلَا يُقَالُ عِنْدِيْ الرَّاقُوْدُ خَلًّا.
کیږي تمييز ددې نه نو نه شي ويلې عندي الراقود خلا

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب دکافيې ديو سوال مقدر جواب رانقل کوي .

اغراض دجامي : وانما اقتصر : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : دمفرد مقدار پنځه (۵) قسمونه دي مصنف رحمه الله ته په کار ووچې دپنځه واړو اقسامو مثالونه يې ذکر کړي وي ليکن مصنف رحمه الله دبعضې اقسامو مثلاً کيل اوذراع مثالونه بيان نه کړه همدارنګې ددې نه غير دتعجب خبره داده چې دبعضې اقسامو مثالونه يې مکرر ذکر کړه مثلاً عندي رطل زيتا وعندي منوان سمناً .

جواب : دمصنف رحمه الله مقصود ټول اقسام دټولو مثالونو سره بيانول نه دي بلکه دمصنف مقصود متممات اسم لره بيانول دي يعنې دابيانوي چې اسم دکوم څيزونو سره تام اومکمل کيږي نو مصنف رحمه الله دمثالونو په ضمن کې وفرمايل چې اسم په دري (۳) شيانو سره تام کيږي : (۱) په تنوين سره مثال لکه رطل زيتاً . (۲) په نون سره مثال لکه عندي منوان سمناً . (۳) په اضافت سره مثال لکه على التمرة مثلها زبداً . دمصنف رحمه الله مقصود مثالونه بيانول نه وو بلکه متممات اسم لره بيانول وو ځکه يې ټول مثالونه ذکر نه کړل او بعضې مثالونه يې مکرر ذکر کړه چې مقصود حاصل شي .

ومعنى تمام الاسم : په دې عبارت سره غرض دشارح داسم دتام کيدو معنى بيانوي داسم د تام کيدو مطلب دادې چې هغه اسم په داسې حالت باندې وي چې دهغه دحالت کيدو سره دهغه اضافت ممکن نه وي داسم په آخر کې چې کله تنوين وي يانون دتثنيې اويانون دجمعې وي نودې اضافت منع دي همدارنګې چې ديو اسم اضافت يوځل وشي نودوباره ددې اضافت ممتنع دي ځکه چې مضاف دوباره نه شي مضاف کيدې نو ددې څيزونو سره اسم تام کيږي .

فاذا تم الاسم بهذه الاشياء : په دې عبارت سره غرض دشارح دتمييز دعامل اودتمييز د منصوب کيدو وجه بيانول دي چې خلاصه يې داده چې کله اسم تنوين ، نون تثنيه وغيره سره په يوڅيز سره تام شي نو دادفعل سره مشابه کيږي ځکه چې فعل هم دخپل فاعل سره تام کيږي لهذا هغه تمييز کوم چې دددې نه وروستو واقع شي نو دمفعول سره مشابه کيږي ځکه چې

تمييز دا اسم تام کيدو نه وروستو واقع کيږي لکه څنګه چې مفعول د کلام د تام کيدو نه وروستو واقع کيږي لهذا هغه اسم تام کوم چې د تمييز نه مخکې دي دا تمييز لره نصب ورکوي ځکه چې هغه اسم تام چې د فعل سره مشابه شو کوم چې د فاعل سره تام کيږي لهذا تمييز د مفعول سره د مشابه کيدو دوجې نه منصوب وي

وهذه الاشياء انما قامت: په دې عبارت سره غرض د شارح د دوه سوالينو مقدرو جواب ورکول دي

سوال (۱): د فاعل د قائم مقام کيدو د پاره دې دا څيزونه ولې اختيار کړه د دې نه غير نور دې ولې اختيار نه کړه .

سوال (۲): لکه څنګه چې اسم په دې څيزونو سره تام کيږي همدغه شان الف لام سره هم تام کيږي ولې چې کله په يو اسم باندې الف لام داخل شي نو الف لام د موجوديدو سره د دې اضافت نه شي کيدي نو د دې وجې نه تمييز ولې نه منصوب کيږي .

جواب: د اول سوال جواب دادې چې دا څيزونه د فاعل قائم مقام ځکه دي چې دا د اسم په آخر کې دي لکه څنګه چې فاعل د فعل نه وروستو واقع کيږي .

او د دويم سوال جواب دادې چې اګرکه الف لام دوجې نه اسم تام کيږي ليکن هغه د اسم په آخر کې نه وي بلکه په شروع کې وي ځکه چې د دې مناسبت د فاعل سره نه وي د دې وجې نه د دې نه وروستو تميز نه منصوب کيږي دا سې نه شي ويلي چې عندي الراقود خلا د راقود معنی ده غټه چاټي .

تميز مفرد او جمع راوړو بيان :

فَيُفْرِدُ اَيِ التَّمْيِيْزِ وَاِنْ كَانَ الْاِسْمُ التَّامُّ مُثَنًّى اَوْ مَجْمُوْعًا اِنْ كَانَ اَيِ التَّمْيِيْزُ جِنْسًا وَهُوَ مَا تَتَشَابَهُ
نو مفرد به راوړې شي يعني تميز اګرکه اسم تام تثنيه او جمع وي که چيرته وي يعني تمييز جنس او دا هغه دې مشابه
اَجْزَاؤُهُ وَ يَقَعُ مُجَرَّداً عَنِ التَّاءِ عَلَى الْقَلِيْلِ وَ الْكَثِيْرِ فَلَا حَاجَةَ اِلٰى تَثْنِيَتِهٖ وَ جَمْعِهٖ
وي اجزاء د يو بل سره او واقع وي خالي د تاء نه په قليل او کثير باندې نو نشته حاجت تمييز لره د تثنيې او جمع کيدو
كَالْمَاءِ وَ التَّمْرِ وَ الضَّرْبِ بِخِلَافِ رَجُلٍ وَ فَرَسٍ اِلَّا اَنْ يُقْصَدَ الْاَنْوَاعُ اَيْ مَا فَوْقَ النَّوْعِ الْوَاحِدِ
لکه ماء ، تمر ، زيت ، ضرب په خلاف د رجل فرس مګر دا چې قصد وکړې شي د انواعو يعني زيات د نوع واحد نه نو
فَيَشْمِلُ الْمُثَنّٰى اَيْضًا لِاَنَّهٗ لَا يَدُلُّ لَفْظُ الْجِنْسِ مُفْرَداً عَلَيْهِمَا فَلَا بُدَّ مِنْ اَنْ يُثَنّٰى
شامليږي تثنيې ته همدا رنګې ځکه چې دلالت نه کوي لفظ د جنس په مفرد کيدو باندې نو لابدي ده چې تثنيه شي

أَوْ يُجْمَعَ قِيْلَ وَ فِيْ تَخْصِيْصِ قَصْدِ الْأَنْوَاعِ بِالْإِسْتِثْنَاءِ نَظَرٌ لِأَنَّهُ كَمَا

اوياجمع ا،چاويلې دي چې په تخصيص د قصد دانواعو په استثناء کې په دې کې نظر دي ځکه چې لکه څنګه چې

جَازَ أَنْ يُقَالَ طَابَ زَيْدٌ جِلْسَتَيْنِ لِلنَّوْعِ جَازَ أَيْضاً أَنْ يُقَالَ طَابَ زَيْدٌ جِلْسَتَيْنِ

جائز دي چې وويل شي طاب زيد جلستين د پاره د نوع نو جائز دي همدارنګې چې وويل شي طاب زيد جلستين د پاره د

لِلْعَدَدِ وَ يُمْكِنُ أَنْ يُجَابَ عَنْهُ بِأَنَّ الْمُرَادَ بِالْأَنْوَاعِ حِصَصُ الْجِنْسِ سَوَاءٌ كَانَتْ

عدد او ممکن دي چې جراب ... کړې شي ددې نه چې مراد دانواعو نه حصص د جنس دي برابره خبره ده که وي داد

الْمَوْصِيَّاتِ الْكُلِّيَّةِ أَوِ الشَّخْصِيَّةِ وَ يُجْمَعُ أَيْ يُوْرَدُ التَّمْيِيْزُ عَلٰى مَا فَوْقَ الْوَاحِدِ

موصياتو کليونه او يادکليو شخصيونه او جمع به راوړي شي يعني راوړې به شي تميز په مافوق الواحد باندې

جَوَازاً حَيْثُ لَمْ يُقْصَدِ الْوَاحِدُ فِيْ غَيْرِهِ أَيْ فِيْ غَيْرِ الْجِنْسِ نَحْوُ عِنْدِيْ عِدْلٌ ثَوْبَيْنِ

جوازا په داسې شان سره چې قصد و نه کړې شي د واحد په غير د دې کې يعني په غير د جنس کې لکه عندي عدل ثوبين

أَوْ أَثْوَاباً.

اويا اثوابا.

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب د کافيې د تمييز مفرد يا جمع وغيره د راوړو تفصيل بيانوي هغه تمييز کوم چې مفرد مقدار نه ابهام لرې کوي يا خو به دا جنس وي او يا غير جنس که جنس وي نو بيا به ددې نه دانواعو قصد کولې شي او يا به دانواعو قصد نه شي کولې که دانواعو قصد نه شي کولې نو دې لره به هميشه مفرد راوړلې شي برابره خبره ده که اسم تام ...د وي يا تثنيه وي يا جمع وي او که جنس وي نو د هغې نه به انواع قصد کولې شي نو بيا به هغه لره د مقصود موافق تثنيه او جمع راوړلې شي.

اغراض د جامي : **وهو مايتشابه**: په دې عبارت سره غرض د شارح د جنس تعريف کوي چې جنس هغه دي چې د هغې اجزء يو د بل سره مشابه وي او د مشابهت د اجزاو نه مراد دا دې چې لکه څنګه اسم جنس اطلاق په کُل باندې کيږي همدارنګې په هر جُزء باندې د دې اطلاق صحيح وي مثال لکه د الماء اطلاق په کُل باندې هم کيږي او هر هر جزء او څاڅکي باندې هم د ماء اطلاق کيږي او هغه مجرد عن التاء وي قليل او کثير باندې صادق راځي کله چې هغه په قليل او کثير باندې صادق راځي نو دې لره تثنيه او جمع راوړولو هيڅ حاجت نشته دي مثال لکه ماء ، تمر ، ضرب ، زيت په خلاف د رجل فرس دا د جنس معنی مذکور اعتبار څخه جنس نه دي لهذا که د هغه اسم تام تثنيه يا جمع وي نو دا به هم تثنيه او جمع راوړې شي.

ای مافوق النوع: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کله چې دجنس نه د دوعينو قصد وکړي شي نو په دې وخت کې هم تمييز لره مفرد نه شي راوړلې بلکه تثنيه به راوړلې شي نو الا ان يقصد سره مصنف صرف د جمع استثناء ولې وکړه حالانکه دتثنيې حکم هم دجمع په شان دي نو مصنف رحمه الله لره الا ان يقصد النوعان او يا الا ان يقصد الانواع ويل په کار وو .

جواب : دلته کې دالانواع نه مراد مافوق الواحد دي لهذا داتثنيې ته هم شامل دي .

لانه لا يدل: په دې عبارت سره غرض دشارح دذکر شوي حکم علت او وجه بيانوي يعنې کله چې تمييز دجنس نه دانواعو قصد وکړي شي نو په دې صورت کې دې لره دتثنيې اويادجمع د راوړو وجه داده چې کله لفظ دجنس مفرد وي نو په قليلو اوکثيروباندې خو دلالت کوي ليکن په مختلفو انواعو دلالت نه کوي لهذا کله چې دهغه نه دانواعو قصد وکړي شي نودې لره تثنيه اوياجمع راوړل ضروري دي .

قيل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي ، اودا سوال علامه فاضل هندي کړي دي :

سوال : په الا ان يقصد الانواع کې دقصدِ انواع تخصيص جائز نه دي ځکه چې کله تمييز اسم جنس وي نو ددې نه مختلف اعداد قصد کړي شي نودانواعو په شان دې لره هم تثنيه اوياجمع راوړي کيږي مثلا لکه څنګه چې طاب زيد جلستين جائز دي (زيد ښه دي په اعتبار ددوه قسمه کيناستو سره) نوهمدارنګې طاب زيد جلستين (زيد ښه دي په اعتبار ددوه ځل کيناستوسره).

جواب : دلته دانواعو نه مراد دجنس حصې دي برابره خبره ده که داخصوصيات دکلياتو سره وي لکه څنګه چې په انواعو کې وي يا دخصوصياتو شخصيو سره وي لکه څنګه چې په اعدادو کې دي .

ای يورد التميز: په دې عبارت سره شارح وايي چې په يجمع کې د جمعيت معنی مطلق الامکان نه ده بلکې په معنی د امکان الوقوع ده .

ځی مافوق الواحد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په غير جنس کې چې لکه څنګه تمييز لره جمع راوړي کيږي نوهمدارنګې تثنيه هم

راوړې شي نو مصنف رحمه الله تثنيه ولې ذکر نه کړه

جواب : دلته د جمع نه مراد مافوق الواحد دي دا تثنيې ته هم شامل دي ددې وجې نه مصنف رحمه الله دې لره ذکر نه کړو .

حیث لم یقصد الواحدة : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستا دا قاعده منقوضه اوماته ده په عندي عدل ثوبا سره ځکه چې په دې کې ثوبا تمييز غير جنس دي حالانکه دا جمع نه ده بلکه مفرد دي .

جواب : یجمع ، د لم یقصد الواحد قيد سره مقيد دي یعني تمييز غير جنس به په هغه وخت کې جمع راوړې شي چې کله ددې نه واحد مراد نه وي که چيرته ددې نه واحد مراد وي نو ظاهره خبره ده چې دې لره واحد راوړلې شي نه جمع مثال لکه عندي عدل ثوبا .

د مفرد مقدار تمیز طرف ته د اضافت بیان :

ثُمَّ اِنْ كَانَ اَيِ الْمُفْرَدُ الْمِقْدَارُ تَامًّا بِتَنْوِيْنٍ اَوْ بِنُوْنِ التَّثْنِيَةِ اَوِ الْمَعْنٰى اِنْ وُجِدَ التَّمْيِيْزُ مُتَلَبِّسًا
بيا که چيرته وي یعني مفرد مقدار تام په تنوين اويا نون تثنيه سره یا معنی داده چې که وموندل شي تميز متلبس
بِتَنْوِيْنِ الْمُفْرَدِ اَوْ بِالنُّوْنِ الَّتِيْ لِلتَّثْنِيَةِ فَاِنَّهُ لَمَّا تَمَّ الْاِسْمُ بِهِمَا
په تنوين د مفرد پورې اويا په هغه نون سره کوم چې د تثنيې دپاره وي ځکه چې کله اسم تام شي په تنوين اونون
اِقْتَضَى التَّمْيِيْزَ جَازَتِ الْاِضَافَةُ اَيْ اِضَافَةُ الْمُفْرَدِ الْمِقْدَارِ اِلَى التَّمْيِيْزِ اِضَافَةً بَيَانِيَّةً
تثنيه سره نو تقاضا يې وکړه د تمييز نو جائز دي اضافت یعني اضافت د مفرد مقدار تميز ته د اضافت بيانيه په طور په
بِاِسْقَاطِ التَّنْوِيْنِ وَ نُوْنِ التَّثْنِيَةِ جَوَازًا شَائِعًا كَثِيْرًا لِحُصُوْلِ الْغَرَضِ وَ هُوَ رَفْعُ الْاِبْهَامِ بِذٰلِكَ
اسقاط د تنوين اونون د تثنيې سره په جواز عام او کثير سره د وجې د حصول د غرض نه او هغه رفع د ابهام ده په دې سره ،
مَعَ التَّخْفِيْفِ نَحْوُ رِطْلُ زَيْتٍ وَمَنَوَا سَمْنٍ وَاِلَّا اَيْ وَاِنْ لَمْ يَكُنْ بِتَنْوِيْنٍ اَوْ بِنُوْنِ التَّثْنِيَةِ بِاَنْ يَكُوْنَ
سره د تخفيف نه لکه رطل زيت او منوان سمن او که نه وي یعني که نه وي په تنوين اويا په نون د تثنيې سره چې وي
بِنُوْنِ الْجَمْعِ اَوِ الْاِضَافَةِ فَلَا تَجُوْزُ الْاِضَافَةُ اِلَّا بِقِلَّةٍ فِيْ نُوْنِ الْجَمْعِ نَحْوُ عِشْرُوْ دِرْهَمٍ اَمَّا فِيْ
په نون د جمع اويا د اضافت نو نه دي جائز اضافت مګر په جمع قلت کې په نون د جمع سره لکه عشرو درهم هرچې په
الْاِضَافَةِ فَلِئَلَّا تَلْزَمَ اِضَافَةُ الْمُضَافِ وَ اَمَّا فِيْ نُوْنِ الْجَمْعِ فَلِاَنَّهُ
اضافت کې دي نو ځکه چې لازم نه شي اضافت د مضاف او هرچې په نون د جمع کې نو هغه ځکه جائز دي چې مضاف
جَازَ اَنْ يُضَافَ اِلٰى غَيْرِ الْمُمَيِّزِ نَحْوُ عِشْرِيْكَ وَ عِشْرِيْ رَمَضَانَ بِالْاِتِّفَاقِ لِكَثْرَةِ الْحَاجَةِ اِلَيْهِ فَلَوْ اُضِيْفَ
شي غير مميز طرف ته لکه عشريک وعشري رمضان بالاتفاق د وجې د زيات حاجت نه دې ته نو که چيرته مضاف کړې

اِلَی الْمُمَیِّزِ لَزِمَ الْاِلْتِبَاسُ فِيْ بَعْضِ الصُّوَرِ لِاَنَّهُ لَا یُعْلَمُ مَثَلاً عِنْدَ اِضَافَةِ عِشْرِیْنَ
شي ممیز طرف ته نولازم به التباس په بعضې صورتونو کې ځکه چې نه معلومیږي مثلاًپه وخت داضافت د عشرین
اِلٰی رَمَضَانَ اَنَّهُ اَرَادَ عِشْرِیْنَ رَمَضَانَ اَوْ اَرَادَ الْیَوْمَ الْعِشْرِیْنَ مِنْ رَمَضَانَ فَلاَ یُضَافُ فِيْ غَیْرِ صُوْرَةِ
کې رمضان ته چې متکلم اراده کوي شلم د رمضان او یا ورځ شلمه د رمضان نو نه مضاف کیږي په غیرد صورت د
الْاِلْتِبَاسِ اَیْضاً اِلَّا عَلٰی قِلَّةٍ لِیَکُوْنَ الْبَابُ اَقْرَبُ اِلَی الْاِطِّرَادِ.
التباس کې هسدارنګې مګر په طور د قلت د دې دپاره چې شي باب نژدې اطراد طرف ته.

خلاصه دمتن : دماتن داعبارت جمله مستانفه ده کوم چې دسائل په جواب کې واقع ده ګویا چې سائل سوال وکړو چې دمفرد مقدار خپل تمییز طرف ته اضافت جائز دي اویانه ،نو مصنف په ثم ان کان سره جواب ورکړو چې حاصل یې دادې چې مفرد مقدار تام وي تنوین یانونِ تثنیه سره یاددې نه غیر یعنې نون دجمعې اوداضافت سره که مفرد مقدار تنوین یا نون تثنیه سره تام وي نو ددې اضافت تمییز طرف ته اضافت بیانیه په کثرت سره جائز دي ځکه چې اضافت نه درفع ابهام غرض اومقصد حاصلیږي اودې سره تخفیف هم حاصلیږي مثل رطل زیت او منوا سمن اوکه مفرد مقدار تنوین اونون دتثنیه سره تام نه وي بلکه اضافت سره تام وي نو ددې اضافت جائز نه دي ځکه چې درمضان اضافت لازم نه شي دغه شان که نون دجمع سره تام وي نو ددې اضافت جائز نه دي مګر قلت سره ځکه چې ددې اضافت غیر تمییز طرف ته دکثرت حاجت دوجې نه جائز دي مثال لکه عشریک اوعشري رمضان داجائز دي اوس که تمییز طرف ته هم مضاف وي نو په بعضو صورتونو کې تمییز غیر تمییز سره التباس لازم راځي مثلاً د عشرین رمضان طرف ته اضافت وکړي عشري رمضان وویلي شي نو معلوم به نه شي چې شل ورځې درمضان مراد دي کوم چې دتمییز معنی ده یادرمضان شلمه ورځ مراد ده کومه چې غیر تمییز د اضافت معنی ده ځکه چې په بعضې صورتونو کې التباس لازم راځي نو په دې کې اضافت جائز نه وي بیا دغیر التباس په صورت کې اضافت هم نه کیږي الا علی قلة ددې دپاره چې داباب اقرب الی الاطراد شي.

اغراض دجامي : اي المفرد: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : د کان دضمیر مرجع تمییز دي ځکه چې یجمع او د ان کان جنساً دضمیر مرجع تمییز دي

نو داقرینه ده چې دکان ضمیر مرجع هم تمییز دې په دې صورت کې معنی داده چې که تمییز تام وي تنوین یا نون د تثنیې سره دا صحیح نه دي ځکه چې نونِ تثنیه او تنوین سره تمییز نه تام کیږي بلکه ممیز مفرد مقدار تام کیږي

جواب: شارح ددې دوه (۲) جوابات ورکړي دي :

جواب (۱): مونږ دانه منو چې دکان دضمیر مرجع تمییز دي بلکه ددې مرجع مفرد مقدار دي معنی داده چې که مفرد مقدار تام وي تنوین یانونِ تثنیې سره نو په دې صورت کې به کان ناقصه وي هُوَ ضمیر مستتر راجع دي مفرد مقدار ددې اسم دي او "تاماً" یې خبر محذوف دي ای المفرد المقدار تاماً سره دې طرف ته اشاره ده .

جواب (۲): دامنو چې دکان ضمیرمرجع تمییز دي لیکن دلته دتنوین نه مراد مفرد مقدار والاتنوین دي اودا کان تامه دي کوم چې دوجد په معنی دي معنی یې داده چې تمییز وموندلې شي په دې حال کې چې هغه متلبس وي مفرد مقدار دتنوین سره یادنون دتثنیې سره .

فائده: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: کله چې تنوین نه مراد مفرد مقدار دتنوین وي نو بیا تمییز تنوین سره به څنګه متلبس وي تنوین خو په مفرد مقداري باندې وي اوتمییز ددې نه پس زې نو دتنوین سره تمییز خو متلبس نه دي بلکه مفرد مقداري سره متلبس دي .

جواب: دلته دمتلبسا نه مراد مقارنت اومجاورت دي نو دمتلبسا معنی به وي مقارنا ومجاوراً بتنوین المفرد الی آخره اومعروض کیدل مراد نه دي .

ای اضافة المفرد المقدار: په دې عبارت سره شارح بیان دترکیب کوي په اضافت باندې چې کوم الف لام داخل دي دامضاف الیه په عوض کې دي یا د الاضافة الف لام عهدِ خارجي دي .

اضافة بیانیة: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: اضافت خو دمضاف اومضاف الیه په مینځ کې دمغائرت تقاضا کوي اوتمییز اوممیز خو یو څیز دي بیا دمفرد دمقدار اضافت تمییز طرف ته به څنګه جائز وي .

جواب: دمضاف اومضاف الیه په مینځ کې مغائرت داضافت بیانیه نه غیر په دویم قسم کې وي اودلته اضافت بیانیه دي په دې کې اتحاد بین المضامین دي .

باسقاط : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : هغه مفرد مقدار کوم چې تام وي تنوین یانونِ تثنیې سره خود هغه اضافت محال وي ځکه چې تنوین اونون تثنیه دانفصال تقاضا کوي اواضافت داتصال اوامتزاج تقاضا کوي په دې دواړو کې منافات دي.

جواب : د اضافت نه مراد جواز د نون تثنیه او د تنوین د اسقاط څخه دي نه ددې د موجودګۍ سره.

د تمیز د غیر مقدار نه د رفع د ابهام بیان :

وَ عَنْ غَيْرِ مِقْدَارٍ عَطْفٌ عَلٰى قَوْلِهٖ عَنْ مُفْرَدٍ مِقْدَارٍ اَيِ الْاَوَّلِ كَمَا يَرْفَعُ الْاِبْهَامَ عَنْ مُفْرَدٍ مِقْدَارٍ
اودغیرمقدارنه داعطف دي په دې قول عن مفرد مقدار یعني اول لکه څنګه چې رفع کوي ابهام د مفرد مقدار نه نو
كَذٰلِكَ يَرْفَعُهُ عَنْ مُفْرَدٍ غَيْرِ مِقْدَارٍ اَىْ مَا لَيْسَ بِعَدَدٍ وَلَا ذِرَاعٍ وَلَا كَيْلٍ وَلَا مِقْيَاسٍ نَحْوُ خَاتَمٌ
همدارنګې رفع کوي د مفرد غیرمقدار نه یعني د هغه څه چې نه وي عدد اونه ذراع اونه کیل اونه مقیاس لکه خاتم
حَدِيْداً فَاِنَّ الْخَاتَمَ مُبْهَمٌ بِاِعْتِبَارِ الْجِنْسِ تَامٌّ بِالتَّنْوِيْنِ فَاقْتَضٰى تَمْيِيْزاً وَالْخَفْضُ اَىْ خَفْضُ التَّمْيِيْزِ
حدیدا ځکه خاتم مبهم دي په اعتبار د جنس سره اوتام دي د تنوین سره نو تقاضایې وکړه د تمییز او جر یعني جر تمیز
بِاِضَافَةِ غَيْرِ الْمِقْدَارِ اِلَيْهِ اَكْثَرُ اِسْتِعْمَالاً لِحُصُوْلِ الْغَرَضِ مَعَ الْخِفَّةِ وَ
طرف ته په اضافت د غیرمقدار سره دي طرف ته اکثر دي استعمال د دې دوجې د حصول د غرض نه سره د خفت او
لِقُصُوْرِ غَيْرِ الْمِقْدَارِ عَنْ طَلَبِ التَّمْيِيْزِ لِاَنَّ الْاَصْلَ فِي الْمُبْهَمَاتِ الْمَقَادِيْرِ وَ غَيْرُهَا لَيْسَ بِهٰذِهٖ
دوجې د قاصر کیدو د غیرمقدار د طلب د تمیز نه ځکه اصل په مبهماتو کې مقادیر دي او غیر مقدار نه دي په دې
الْمُشَابَهَةِ.
مرتبه کې

خلاصه د متن : په دې عبارت کې صاحب د کافیې وایي چې هغه تمییز کوم چې مفرد نه ابهام لرې کوي هغه کله د مفرد مقدار نه ابهام لرې کوي لکه مخکې د دې تفصیل تیر شوي دي ، او کله د غیر مقدار نه مثال لکه خاتم حدیدا همدارنګې هغه تمییز کوم چې مفرد غیر مقدار نه ابهام لرې کوي په دې کې په نسبت د جر سره زیات مستعمل دي.

اغراض د جامي : عطف علی : په دې عبارت سره غرض د شارح د عطف تعین کوي د عن غیر مقدار عطف په عن مفرد مقدار باندې دي.

اى الاول: په دې عبارت سره شارح دحاصل دعطف بيانوي دتمييز اول قسم كوم چې دذات مذكوره نه ابهام رفع كوي دهغه په شان مفرد مقدار نه ابهام لري كوي دغه شان دغير مقدار نه هم ابهام لري كوي

اى ماليس بعدد: په دې عبارت سره دمفرد غير مقدار دمصداق بيان كوي چې دغير مقدار نه مراد هغه دي چې نه عدد وي اونه وزن وي اونه كيل وي اونه مقياس وي اونه ذراع وي.

نَحوُ خاتم: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دمثال دي

فان الخاتم: په دې عبارت سره غرض دشارح مثال په ممثل له باندې تطبيق كول دي خاتم په اعتبار دجنس سره مبهم دي اوتام دي په تنوين سره ځكه چې هغه دتمييز تقاضا وكړه اوحديداً تمييز هغه ابهام ختم كړو.

اى خفض التمييز: په دې عبارت سره شارح خويا دې خبرې طرف ته اشاره كول دي چې په خفض باندې الف لام دمضاف اليه په عوض كې دي چې تمييز دي او غرض دشارح ديو سوال مقدر نه جواب وركول دي

سوال: مونږ نه منوو چې په اسماو كې خفض او جر اكثر دي بلكه رفع اونصب اكثر دي.

جواب: د التمييز لفظ حذف كولو سره اشاره يې وكړه چې اكثريت بالنسبة الى التمييز في المفرد الغير المقدار دي نه چې بالنسبة الى الاسماء كلها.

استعمالا: په دې عبارت سره غرض دشارح داكثر وضاحت كول دي چې د اكثر نه مراد اكثر المذاهب نه دي بلكه اكثر د جانب داستعمال دي.

باضافة غير المقدار: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي:

سوال: مونږ نه منو چې په تمييز كې خفض او جر اكثر دي بلكه نصب اكثر دي ځكه چې تمييز د منصوباتو نه دي.

جواب: دتمييز مجرور كيدو اكثريت مطلق نه دي بلكه دمفرد غير مقدار دلحاظ څخه دي چې مفرد غير مقدار تمييز اكثر مجرور وي

تمهيد: دمصنف رحمه الله مدعى په دوه شيانو كې مركب ده (۱) هغه تمييز كوم چې مفرد دغير مقدار نه ابهام لري كوي هغه مجرور بالاضافة وي (۲) په دې كې جر اكثر دي په نسبت

سره نصب ته

لحصول الغرض: په دې عبارت سره غرض دشارح داول جُزء وجه بيانوي: تميز مجرور بالاضافة ځکه واقع کيږي چې داضافت سره غرض کوم چې دابهام لرې کول دي دا هم حاصليږي اودې سره تخفيف هم حاصليږي

ولقصور: په دې عبارت سره غرض دشارح ددويم جُزء وجه بيانوي چې مفرد غير مقدار دتمييز طلب کولو نه قاصر دي ځکه چې مبهماتو کې اصل مقادير دي اوغيرمقدار په دې درجه کې نه دي کله چې داطلب په تميز کې قاصر دي نو هغه لره تمييز دمنصوب کيدو طرف ته ضرورت نشته دي ځکه چې نصب نص على التميز وي اونص على التميز هله مناسب وي چې کله طالبِ تمييز موجود وي

د تميز دوهم قسم :

وَالثَّانِيْ اَيِ الْقِسْمُ الثَّانِيْ مِنَ التَّمْيِيْزِ وَهُوَ مَا يَرْفَعُ الْاِبْهَامَ عَنْ ذَاتٍ مُقَدَّرَةٍ يَرْفَعُهُ عَنْ نِسْبَةٍ كَانَ الظَّاهِرُ اَنْ
اودويم يعني دويم قسم دتمييزنه هغه چې رفع کوي ابهام د ذات مقدره نه رفع کوي د نسبت نه وو ظاهر دا چې
يَقُوْلَ عَنْ ذَاتٍ مُقَدَّرَةٍ فِيْ نِسْبَةٍ فِيْ جُمْلَةٍ لٰكِنْ لَمَّا كَانَ الْاِبْهَامُ فِيْ طَرَفِ النِّسْبَةِ يَسْتَلْزِمُ
مصنف داسې ويلي وي عن ذاتٍ مقدرة في نسبة في جملة ليکن هرکله چې ووابهام په طرف دنسبت کې نومستلزم
الْاِبْهَامَ فِيْهَا وَ رَفْعُهُ عَنْهَا يَسْتَلْزِمُ الرَّفْعَ عَنْهُ قَالَ عَنْ نِسْبَةٍ مُقْتَصِراً عَلَيْهَا
ووابهام په دې کې اورفع ددې ددې نه مستلزم وودرفع ددې نه وې ويل عن نسبة نواکتفاءيې وکړه په دې باندې
عَلٰى اَنَّ مُقَابَلَةَ مَا فِيْ هٰذَا الْقِسْمِ لِلْمُفْرَدِ الْمَذْكُوْرِ فِي الْقِسْمِ الْاَوَّلِ اِنَّمَا هِيَ لِمُجَرَّدِ
ددې وجې نه چې مقابله دهغه څه چې وي په دې قسم کې دپاره دمفردمذکور په اول قسم کې دادې يواځې د
النِّسْبَةِ لَا غَيْرُ فِيْ جُمْلَةٍ اَيْ نِسْبَةٍ كَائِنَةٍ فِيْ جُمْلَةٍ اَوْ مَا ضَاهَاهَا
پاره دنسبت نه په غيرکې په جمله کې يعني داسې نسبت چې کائن وي په جمله کې ياپه هغه کې چې مشابه وي
اَيْ مَا شَابَهَهَا عَطْفٌ عَلٰى جُمْلَةٍ وَ هُوَ اِسْمُ الْفَاعِلِ نَحْوُ
د جملې سره يعني هغه چې مشابه دي د جملې سره دا عطف دي په جمله باندې چې هغه اسم فاعل دي لکه
الْحَوْضِ مُمْتَلِئٌ مَاءً اَوْ اِسْمُ الْمَفْعُوْلِ نَحْوُ الْاَرْضِ مُفَجَّرَةٌ عُيُوْناً اَوِ الصِّفَةِ الْمُشَبَّهَةُ نَحْوُ زَيْدٌ حَسَنٌ وَجْهاً اَوِ اسْمُ
الحوض ممتلئ ماء اويااسم مفعول وي لکه الارض مفجرة عيونا اوياصفت مشبه وي لکه زيد حسن وجها اويااسم
التَّفْضِيْلِ نَحْوُ زَيْدٌ اَفْضَلُ اَباً اَوِ الْمَصْدَرُ نَحْوُ اَعْجَبَنِيْ طِيْبُهُ اَباً وَكَذَا كُلُّ مَا فِيْهِ مَعْنٰى
تفضيل وي لکه زيد افضل ابا اويامصدر وي لکه اعجبني طيبه ابا اوهمدارنګې هرهغه څه چې په هغې کې معنی

الْفِعْلِ نَحْوُ حَسْبُکَ زَيْدٌ رَجُلًا نَحْوُ طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا مِثَالٌ لِلْجُمْلَةِ وَ التَّمْيِيْزِ فِيْهِ خَاصٌ بِالْمُنْتَصِبِ عَنْهُ

دفعل وي لکه حسبک زيد رجلاً لکه طاب زيد نفساً امثال دي دجملې او تميزپه دې کې خاص دي ترمنتصب عنه

وَزَيْدٌ طَيِّبٌ اَبًا مِثَالٌ لِمَا يَشْبَهُ الْجُمْلَةَ وَ التَّمْيِيْزُ فِيْهِ يَصْلَحُ اَنْ يَكُوْنَ

پورې اوزيد طيب اباداامثال دي دهغه څه چې مشابه وي دجملې سره او تميز په دې کې ددې خبرې صلاحيت

لِمَا انْتَصَبَ عَنْهُ وَ لِمُتَعَلِّقِهِ وَ حَيْثُ لَا فَرْقَ فِي التَّمْيِيْزِ بَيْنَ الْجُمْلَةِ

لري چې دادماانتصب عنه دپاره وي اودده دمتعلق دپاره وي اوهرکله چې فرق نه وي په تميزکې په مينځ دجملې

وَ مَا ضَاهَاهَا فَهٰذَانِ الْمِثَالَانِ فِيْ قُوَّةِ اَرْبَعَةِ اَمْثِلَةٍ فَكَاَنَّهٗ قَالَ طَابَ زَيْدٌ وَ زَيْدٌ طَيِّبٌ نَفْسًا

اوپه مشابه دجمله کې نودادواړه مثالونه په قوت کې څلورمثالونه دي ګوياچې ويلي دي طاب زيد وزيد طيب نفسا

وَ اَبًا فَقَوْلُهٗ وَ اَبُوَّةً وَ دَارًا وَ عِلْمًا عَطْفٌ عَلٰى نَفْسًا وَ اَبًا بِحَسْبِ الْمَعْنٰى فَهُوَ نَاظِرٌ اِلٰى كُلٍّ

واباًنوداقول چې ابوة وداراً وعلماً داعطف دي په نفسااوابابانديې په اعتباردمعنى سره نو دا ناظر دي هريوددې

مِنَ الْمِثَالَيْنِ الْمَذْكُوْرَيْنِ غَيْرُ مُخْتَصٍّ بِالْاٰخِيْرِ فَهُوَ بِحَسْبِ الْحَقِيْقَةِ اَوْرَدَ لِكُلٍّ مِنَ التَّمْيِيْزِ

دواړومثالونو مذکورينو ته اومختص نه دي دآخرپورې نودا په اعتباردحقيقت سره راوړې دپاره دهريو دتميزنه

الْوَاقِعِ فِي الْجُمْلَةِ اَوْ مَاضَاهَاهَا خَمْسَةَ اَمْثِلَةٍ فَالنَّفْسُ عَيْنٌ غَيْرُ اِضَافِيٍّ خَاصٌّ بِالْمُنْتَصِبِ

چې واقع وي په جمله کې اويامشابه دجمله کې پنځه مثالونه نونفس عين غيراضافي دي اوخاص دي ترمنتصب

عَنْهُ وَ الدَّارُ عَيْنٌ غَيْرُ اِضَافِيٍّ وَ هُوَ مُتَعَلِّقٌ بِالْمُنْتَصِبِ عَنْهُ وَ الْاَبُ عَيْنٌ اِضَافِيٌّ مُحْتَمِلٌ

عنه پورې اودارعين دي غيراضافي اودامتعلق دي ترمنتصب عنه پورې او اب عين اضافي دي چې احتمال لري

لَهُمَا وَ الْاُبُوَّةُ عَرَضٌ اِضَافِيٌّ وَ الْعِلْمُ عَرَضٌ غَيْرُ اِضَافِيٍّ وَ كُلٌّ مِنْهُمَا مُتَعَلِّقٌ بِالْمُنْتَصِبِ عَنْهُ

ددواړو اوابوة عرض اضافي دي اوعلم عرض غيراضافي دي اوهريوددې دواړونه دامتعلق دي ترمنتصب عنه پورې

اَوْ فِيْ اِضَافَةٍ ،عَطْفٌ عَلٰى قَوْلِهٖ فِيْ جُمْلَةٍ اَوْ مَا ضَاهَاهَا مِثْلُ يُعْجِبُنِيْ طِيْبُهٗ نَفْسًا وَ تَرْكُهٗ

ياپه اضافت کې داعطف دي په دې قول دمصنف چې في جملة اوياپه ماضاهاهابانديې لکه يعجبني طيبه نفساً وترکه

لِاَنَّهٗ اَظْهَرُ التَّمْيِيْزَاتِ وَلَا خِفَاءَ بِهٖ وَ اَبًا وَ اُبُوَّةً وَ دَارًا وَ عِلْمًا اَوْرَدَ هٰذِهِ الْاَمْثِلَةَ عَلٰى وَفْقِ

ځکه چې ډير ظاهر هغه تميز دي او نشته خفا په دې کې او اباً اوابوةً وداراً وعلماً راوړې دي دا مثالونه موافق

مَا سَبَقَ.

دماسبق.

خلاصه دمتن : دصاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې دتميز دويم قسم کوم چې ذات مقدره نه ابهام لري کوي هغه په جمله کې دموندلو په نسبت يا په شبه جمله کې دموندلو د

نسبت نه ابهام لري كوي

اغراض دجامي : القسم : په دې عبارت سره شارح بيان دتركيب كوي چې الثاني صفت دي دموصوف محذوف كوم چې **القسم** دي .

وهو : په دې عبارت سره شارح بيان دمصداق كوي چې ددويم قسم نه مراد **هغه** تميېز دي كوم چې دذاتِ مقدره نه ابهام لري كوي .

يرفع : په دې عبارت سره شارح بيان دتركيب كوي . **من نسبة** دا ظرف مستقر د **يرفع** متعلق دي اودا خبر دي دمبتدا چې **الثاني** ده .

كان الظاهر : په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل كوي او په **لكن لماكان الابهام** سره جواب وركوي :

اعتراض : دمصنف په عبارت كې تعارض اوتناقض دي ځكه چې مصنف مخكې ويلي وو چې دتميېز دويم قسم هغه دي كوم چې ذاتِ مقدره نه ابهام لري كوي اودلته دذات ذكر نشته دي اونسبت يو امرِ معنوي دي نسبت ذات نه دي مصنف لره داسې ويل په كار وو چې **والثاني عن ذات مقدرة في نسبة في جملة** .

جواب : په طرف دنسبت كې ابهام دي اودا **ابهام في النسبة** لره مستلزم دي اودنسبت نه ابهام لري كول مستلزم دي دطرف نسبت نه ابهام لره لري كول نومصنف داختصار دوجې نه په **عن نسبة** باندې اكتفاء وكړه .

تنبيهاً : په دې عبارت سره شارح جواب وركوي چې دويم قسم داول قسم سره تقابل د ذكر يا دعدم ذكر دوجې نه . نه دي بلكه دنسبت دوجې نه دي چې دويم قسم دنسبت نه ابهام لري كوي او اول قسم دغير نسبت نه ابهام لري كوي .

ماشابهها : په دې عبارت سره غرض د شارح بيان د معنى دي چې د **ماضاهاها**معنى ده : **ما شابهها** .

عطف : په دې عبارت سره شارح بيان دتركيب كوي چې دامجرور دي په دې بناء باندې چې ددې عطف په جمله باندې دي .

وهو اسم الفاعل : په دې عبارت سره شارح بيان دمصداق كوي . دشبه جمله مصداق لره يې

متعـ..ـن کړو چې ددې مصداق اسم فاعل ، اسم مفعول ، صفت مشبه ،اسم تفضیل ، مصدراو هر هغه لفظ دي چې په هغې کې دفعل والامعنی موندلې شي داسم فاعل مثال لکه الحوض ممتلي ماء او داسم مفعول مثال لکه الارض مفجرة عیونا اوداسم تفضیل مثال لکه زید افضل ابا او د مصدر مثال لکه اعجبني طیبه دصفت مشبه مثال لکه زید حسن وجها اوهر هغه فعل چې په هغې کې دفعل معنی موندلې شي دهغې مثال حسبک زید رجلاً په دې کې حسبک د یکفیک په معنی کې دي .

مثال للجملة والتمییز فیه: په دې عبارت سره غرض دشارح دممثل له تعین دي طاب زید نفسا داد هغه تمییز مثال دي کوم چې دجملې نسبت نه ابهام لري کوي اوپه دې کې تمییز دمنتصب عنه یعنې ممیز (زید) سره خاص دي .

مثال لما یشبه الجملة: په دې عبارت سره غرض دشارح دممثل له تعین کول دي زید طیب ابا داد هغه تمییز مثال دي کوم چې دجملې نه ابهام لري کوي اوپه دې کې تمییز دمنتصب عنه صلاحیت هم لري اودمنتصب عنه دمتعلق صلاحیت هم لري اود فزید طیب ابا معنی داهم کیدي شي چې زید خوشحالیدو والادي دپلارکیدو په حیثیت سره چې هغه په خپله پلار دي او دامعنی هم کیدي شي چې زید خوشحالیدو والادي دحیثیت دپلاره چې دده پلار موجود دي داول معنی په تمییز دمنتصب عنه دپاره اوددویم معنی په اعتبار سره متعلق دمنتصب عنه دپاره به وي .

وحیث لافرق: په دې عبارت سره شارح دیو وهم ازاله کوي :

وهم : کله چې شارح په اول مثال کې وویل چې تمییز دمنتصب عنه سره خاص دي اوپه دویم مثال کې یې وویل چې په دې کې دواړه احتمالات دي چې تمییز دمنتصب عنه صلاحیت هم لري اودمنتصب عنه دمتعلق صلاحیت هم لري نو په دې کې داوهم پیدا شو چې هر هغه تمییز چې دجملې نه ابهام لري کوي هغه به دمنتصب عنه سره خاص وي اوکوم چې دشبه جملې نه ابهام لري کوي په دې کې به دوه (۲) احتمالات وي چې دادمنتصب عنه صلاحیت به هم لري او ددې دمتعلق صلاحیت به هم لري .

وحیث لافرق: **ازاله دوهم**: شارح په دې سره وهم لري کړو چې هغه تمییز کوم چې دجملې د نسبت نه ابهام لري کوي یادشبه جملې دنسبت نه ابهام لري کوي په دغه دواړو کې فرق نشته

دي ځکه چې د دواړو د نسبت نه ابهام لرې کوي لهذا دوه (۲) مثالونه د ځلورو (۴) مثالونو په قوت کې شول گویا چې نفساً او داباً تعلق د جملې او د شبه جملې دواړو سره دي ځلور (۴) مثالونه په دې طريقې سره شول چې: (۱) طاب زيد نفساً (۲) طاب زيدا اباً. (۳) زيد طيب اباً. (۴) زيد طيب نفساً.

قوله ابوة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: ابوة دارا علماً په دې کې لکه څنگه چې په شبه جمله دنسبت نه دتمييز واقع کيدو صلاحيت شته دي همدارنگې دجملې دنسبت نه هم دتمييز واقع کيدو صلاحيت شته دي نو دې لره دشبه جملې نه وروستو ولې ذکر کړل او ددې عطف يې په اباً باندې ولې وکړو ؟

جواب: ابوة، داراً، علماً اگرچې په اعتبار دلفظ سره په نفساً باندې عطف دي ليکن په اعتبار دمعنى سره خاص نه دي نو مصنف رحمه الله حقيقتاً هر يو دپاره پنځه (۵) مثالونه ذکر کړه يعنې هر هغه تمييز کوم چې دنسبت نه ابهام لرې کوي ددې دپاره يې هم پنځه (۵) مثالونه ذکر کړه اوکوم چې دشبه جملې نه نسبت لرې کوي دهغې يې هم پنځه (۵) مثالونه ذکر کړه.

فالنفس اضافي: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دمثال نه مقصود دممثل له وضاحت وي او وضاحت په يو مثال سره هم حاصليږي نو مصنف رحمه الله پنځه مثالونه ولې ذکر کړل ؟

جواب: دمثالونو تعدد دممثل له دتعدد دوجې نه وي ځکه چې دتمييز پنځه (۵) قسمونه دي اوپه تمييزکې په عقلي اعتبار سره دولس (۱۲) احتمالات دي چې تفصيل يې داديې: (۱) تمييز به يا عين وي اويابه عرض، (۲) بيا به هر يو اضافي وي اويابه غير اضافي، دوه لره په دوه کې د ضرب کولو سره ددې نه ځلور (۴) قسمونه جوړ شول: (۱) عين اضافي هغه دي چې مايتوقف تعقله على تعقل شيء آخر چې ددې پوهيدل دغير په تعقل باندې موقوف دي مثال لکه داب تعقل په بچي باندې موقوف دي، غير اضافي هغه دي چې ددې برعکس وي. (۲) عرض اضافي. (۳) عين غير اضافي. (۴) عرض غير اضافي، بيا په دې هر يو کې درې (۳) احتمالات دي: (۱) تمييز دمنتصب عنه سره خاص وي. (۲) دمنتصب عنه دمتعلق سره خاص وي. (۳) ددواړو احتمال لري، ځلورو لره چې په دريو کې ضرب ورکړې نو دولس (۱۲) ترې جوړيږي، ليکن په دې دولسو کې اوه (۷) قسمونه غير مستعمل اوپنځه (۵) قسمونه مستعمل

دي چې ددې تفصيل لاندې په نقشه کې موجود دي

عين اضافي	عين غير اضافي	عرض اضافي	عرض غير اضافي
د منتصب عنه سره خاص وي، غير مستعمل	د منتصب عنه سره خاص وي ، مستعمل مثلاً طاب زيد نفساً	منتصب عنه سره خاص وي، غير مستعمل	د منتصب عنه سره خاص وي ،غير مستعمل
د منتصب عنه د متعلق سره خاص وي، غير مستعمل	د منتصب عنه د متعلق سره خاص وي، مسنعمل مثلاً طاب زيد داراً	د منتصب عنه د متعلق سره خاص وي، مستعمل ، مثلاً طاب زيد ابوه	د منتصب عنه د متعلق سره خاص وي مستعمل مثلاً طاب زيد علماً
د منتصب عنه او د متعلق دواړو احتمال لري، مستعمل مثلاً طاب زيد اباً	د منتصب عنه او د متعلق دواړو احتمال لري ، غير مستعمل	د منتصب عنه او د متعلق دواړو احتمال لري ، غير مستعمل	د منتصب عنه او د متعلق دواړو احتمال لري، غير مستعمل

په دې کې اوه (۷) قسمه غير مستعمل دي او پنځه (۵) قسمه مستعمل دي نوځکه مصنف رحمه الله پنځه (۵) مثالونه ذکر کړه چې تفصيل يې دادې چې عين غير اضافي په درې (۳) احتمالونو کې دوه مستعمل او يو غير مستعمل دي :

(۱) عين غير اضافي د منتصب عنه سره خاص وي مثال لکه نفساً.

(۲) عين غير اضافي د منتصب عنه د متعلق سره خاص وي مثال لکه داراً عين .

غير اضافي کوم چې د دواړو احتمال لري دا غير مستعمل دي او عين اضافي په درې احتمالونو کې يو مستعمل او دوه غير مستعمل دي : (۱) مستعمل دادې چې عين اضافي د منتصب عنه او دهغه متعلق دواړو احتمال لري مثال اب . او په پنځو عرض اضافي کې په درې احتمالونو کې يو مستعمل دي او هغه دادې چې د منتصب عنه سره خاص وي او باقي دوه غير مستعمل دي چې تفصيل يې په نقشه کې موجود وو.

عطف : په دې عبارت سره غرض د شارح تعين د عطف دې چې داضافة عطف په في جملة او ماضاهاها باندې دې .

وترکه: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مصنف رحمه الله طريقه ولې بدله کړه چې مخکې يې لفظ دنفس ذکر کړو اودلته يې هغه ذکر نه کړو؟

جواب: لفظ دنفس تمييز واقع کيدل اظهر وو د دې وجې نه يې ذکر نه کړو او ابوةً، داراً، علماً دې مثالونو لره يې دماقبل موافق ذکر کړه

درفع دابهام دتمييز مثال:

وَ زَادَ عَلَيْهِ قَوْلُهُ وَ لِلّٰهِ دَرُّهُ فَارِسًا اِشَارَةً اِلٰى اَنَّ التَّمْيِيْزِ قَدْ يَكُوْنُ
اوزيات يې کړو په دې باندې خپل قول ولله دره فارسا په اشارې کولو سره دې خبرې طرف ته چې تمييزکله کله وي
صِفَةً مُشْتَقَّةً وَ اَيْضًا لَمَّا اَوْرَدَهُ صَاحِبُ الْمُفَصَّلِ مِثَالًا لِتَمْيِيْزِ الْمُفْرَدِ عَلٰى اَنْ يَكُوْنَ الضَّمِيْرُ فِيْهِ
صفت مشتقه اوهمدارنګې هرکله چې وارد کړوصاحب دمفصل مثال دپاره دتميزمفردچې وي ضميرپه دې کې
مُبْهَمًا كَضَمِيْرِ رُبَّهُ رَجُلًا وَ يَكُوْنَ فَارِسًا تَمْيِيْزًا عَنْهُ اَرَادَ اَنْ يُنَبِّهَ عَلٰى اَنَّهُ
مبهم لکه ضمير درب رجلاً اووي به فارساً تميزددې نه نواراد وکړه په دې سره دتنبيه په دې خبره چې فارساً دې
يَصْلُحُ اَنْ يَكُوْنَ تَمْيِيْزًا عَنْ نِسْبَةٍ عَلٰى اَنْ يَكُوْنَ الضَّمِيْرُ فِيْهِ مُعَيَّنًا مَعْلُوْمًا وَالْاِبْهَامُ يَكُوْنُ فِىْ نِسْبَةِ الدَّرِّ اِلَيْهِ وَ
صلاحيت لري چې وي تمييزد نسبت نه چې وي ضميرپه دې کې معين اومعلوم اوابهام وي په نسبت کې درته او
الدَّرُّ فِي الْاَصْلِ اللَّبَنُ وَ فِيْهِ خَيْرٌ كَثِيْرٌ لِلْعَرَبِ فَاُرِيْدَ بِهِ الْخَيْرُ اَيْ
دربه اصل کې لبن (پئيو) ته وايي اوپه دې کې خيرکثير وي دعربو په نزد نواراده يې وکړه په دې سره د خير يعني
لِلّٰهِ خَيْرُهُ فَارِسًا وَ الْفَارِسُ، اِسْمُ فَاعِلٍ مِنَ الْفَرَاسَةِ بِالْفَتْحِ مَصْدَرُ فَرُسَ بِالضَّمِّ اَيْ حَذَقَ
لله خيره فارساً او فارس اسم فاعل دي دفراسة نه په فتحې سره مصدر دفرس دي په ضمې سره يعني هوښيارشو په
بِاَمْرِ الْخَيْلِ وَ اَمَّا الْفِرَاسَةُ بِالْكَسْرِ فَمِنَ التَّفَرُّسِ.
کارونود آسونو کې اوهرچې فراست دي په کسرې سره نو د تفرس نه ماخوذ دي.

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې صاحب دکافيې په نسبت کې رفع دابهام دپاره دتمييز يو بل مثال ذکر کړي دي چې هغه ولله دره فارساً دي.

اغراض دجامي: وزاده: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: کله چې دهغه مثالونو ذکر دماقبل سره موافق وو نو مصنف رحمه الله ولله دره فارساً

اضافه ولې وکړه حالانکه د دې ذکر په ماقبل کې نشته دي

جواب : مصنف د دې اضافه د دوه وجهو نه وکړه (۱) اوله وجه داچې په دې سره د دې خبرې طرف ته اشاره ده چې لکه څنګه تمييز جامد وي نو همدارنګې مشتق هم وي (۲) دويمه وجه داچې صاحب مفصل **لله دره فارساً** لره د مفرد مقدار تمييز په مثال کې ذکر کړ نو دې اعتبار سره چې **دره** ضمير **ربه رجلاً** د ضمير په شان مبهم دې او **فارساً** د دې نه تمييز دې نو مصنف رحمه الله دې مثال لره ذکر کړه په دې خبره باندې تنبيه وکړه چې داتمييز چې لکه څنګه د مفرد مقدار نه ابهام لره رفع کولو صلاحيت لري همدارنګې د نسبت نه تمييز واقع کيدو صلاحيت هم لري په دې اعتبار سره چې په دې کې ضمير معين اومعلوم وي اوابهام ضمير طرف ته د دې په نسبت کې وي مثلاً **جاءني زيد** وويلې شي او د دې سره متصل وويل شي چې **لله دره فارساً** اوس د **دره** د ضمير مرجع معلوم اومعين ده چې هغه **زيد** دي ليکن ضمير طرف ته د **در** په نسبت کې ابهام دې د **فارساً** په ذريعه دا ابهام لرې شو اوکه د ضمير مرجع معلومه نه وي نو بيا دا د ذاتِ مذکوره نه ابهام لرې کولو مثال جوړيږي .

<u>**والدر في الاصل اللبن**</u> : په دې عبارت سره شارح د **در** اود **فارس** معنى بيانوي چې د **در** معنى ده لبن يئ اوداهلِ عربو په نزد په دې کې خير کثير وي لهذا دلته د **در** نه مراد مجازاً خير کثير دې د **لله دره** معنى **خيره فارسا** ده او **فارس** صيغه داسم فاعل ده دا د **فراست** نه ماخوذ دي چې مصدر دي .

فرس بالضم معنى ده **فرس فلان** (چې فلاني بنده دآسونو په معامله کې ماهر شو) اوکه د **فِراست** په کسرې د **فاء** سره وي نو دا د **تفرس** نه مشتق دي چې د دې معنى ادراک ده .

د تمييز نور احکامات :

ثُمَّ اِنْ كَانَ اَيِ التَّمْيِيْزِ بَعْدَ مَا لَمْ يَكُنْ نَصًّا فِي الْمُنْتَصِبِ عَنْهُ اِسْماً لاَ صِفَةً يَصِحُّ جَعْلُهُ
بياکه وي يعنې تميزپس د دې نه چې نه وي نص په منتصب عنه کې اسم اونه صفت نوصحيح دي ګرځول د دې
لِمَا انْتُصِبَ عَنْهُ وَ الْمُرَادُ بِجَعْلِهِ لَهُ اِطْلاَقُهُ عَلَيْهِ وَ التَّعْبِيْرُ عَلَيْهِ بِهِ عَنْهُ جَازَ
د ماانتصب عنه دپاره اومرادپه ګرځولو د دې سره په دې باندې اطلاق د دې دي اوتعبيرکول د دې نه جائز دي چې
اَنْ يَكُوْنَ ذٰلِکَ التَّمْيِيْزُ تَارَةً لَهُ اَیْ لِلْمُنْتَصِبِ عَنْهُ بِاَنْ يَكُوْنَ تَمْيِيْزاً يَرْفَعُ الْاِبْهَامَ عَنْهُ
وي داتميزکله د دې دپاره يعنې د منتصب عنه دپاره په داسې شان سره چې وي تميز چې رفع کوي ابهام د دې نه

وَ تَارَةً بِمُتَعَلِّقِهِ بِاَنْ يَكُوْنَ تَمْيِيْزاً يَرْفَعُ الْاِبْهَامَ عَنْ مُتَعَلِّقِهِ وَ ذٰلِكَ بِحَسْبِ الْقَرَائِنِ وَ

اوكله دمتعلق دپاره وي په داسې شان سره چې وي تميزرفع كوي ابهام ددې دمتعلق نه اودا په اعتبارد قرائنواو

الْاَحْوَالِ مِثْلُ اَبًا فِيْ طَابَ زَيْدٌ اَبًا فَاِنَّهٗ يَصِحُّ اَنْ تَجْعَلَهٗ عِبَارَةً عَنْ زَيْدٍ فَجَازَ اَنْ يَكُوْنَ تَارَةً

احوالوسره دي لكه ابا په طاب زيدا ابا كې نوپس صحيح دي چې وګرځول شي عبارت دزيدنونوجائزدي چې وي كله تميز

تَمْيِيْزاً عَنْ زَيْدٍ اِذَا اُرِيْدَ اِسْنَادُ الطِّيْبِ اِلَيْهِ بِاِعْتِبَارِ اَنَّهٗ اَبُوْ عَمْرٍو وَجَازَ اَنْ يَكُوْنَ

دزيدنه چې كله اراده كړې شي اسناددطيب زيدطرف ته په دې اعتبارسره چې دادعمروپلاردي اوجائزدي چې وي

تَارَةً تَمْيِيْزاً عَنْ مُتَعَلِّقِهِ بِاِعْتِبَارِ اَنَّ الطِّيْبَ مُسْنَدٌ اِلٰى مُتَعَلِّقِهِ وَ هُوَ اَبُوْهُ وَ اِلَّا اَيْ

كله تميزدمتعلق نه په دې اعتبارسره چې طيب مسندوي متعلق پورې اوهغه ددې پلاردي اوكه چيرته نه وي يعني

وَ اِنْ لَمْ يَكُنِ التَّمْيِيْزُ بَعْدَ مَا لَمْ يَكُنْ نَصًّا فِي الْمُنْتَصِبِ عَنْهُ اِسْمًا يَصِحُّ جَعْلُهٗ لِمَا انْتَصَبَ

كه چيرته نه وي تميزپس دهغه نه چې نه وي نص په منتصب عنه كې داسې اسم چې صحيح وي ګرځول ددې دمنتصب

عَنْهُ فَهُوَ لِمُتَعَلِّقِهِ خَاصَّةً نَحْوُ طَابَ زَيْدٌ اَبُوَّةً وَعِلْمًا وَدَاراً فَاِنَّ هٰذِهِ الْاَسْمَاءِ لَيْسَتْ نَصًّا فِي الْمُنْتَصِبِ عَنْهُ

عنه دپاره نوداددې دمتعلق دپاره دي خاص لكه طاب زيدابوةً وعلماًودارًاځكه دااسماءنه دي نص په منتصب عنه كې

وَ لَا يَصِحُّ جَعْلُهَا لَهٗ بِالتَّعْبِيْرِ عَنْهُ بِهَا فَهِيَ لِمُتَعَلِّقِ زَيْدٌ وَ هُوَ الذَّاتُ الْمُقَدَّرَةُ

اونه دي صحيح ګرځول ددې په تعبيركولودې سره په دې باندې نودادمتعلق دزيددپاره دي اوهغه ذات مقدره

اَعْنِي الشَّيْءِ الْمَنْسُوْبَ اِلٰى زَيْدٍ.

دي يعني هغه څيزچې منسوب وي زيدطرف ته.

خلاصه دمتن : په دې عبارت كې صاحب دكافيې دتمييز نوراحكامات بيانوي اووايي چې تمييزبه يااسم وي اويابه صفت وي كه تمييزاسم وي نودې لره دمنتصب عنه دپاره كيدل به صحيح وي اويابه نه وي دمنتصب عنه دپاره دصحيح كيدو مطلب دادې چې منتصب عنه لره د هغه تمييز سره تعبير كول اوتمييز په منتصب عنه باندې اطلاق كول اومنتصب عنه لره مبتدا جوړول اوتمييز په هغه باندې حمل كول اوخبر جوړول صحيح دي اودمنتصب عنه دپاره دنه صحيح كيدو مطلب دادې چې دتمييز حمل اواطلاق اوتعبير په منتصب عنه باندې صحيح نه وي په داسې صورت كې دوه وجهې جائز دي : دې لره دمنتصب عنه دپاره دتمييز جوړولو څه قرينه موندلې شي اويانه، كه چيرته څه قرينه نه شي موندلې نو دې لره دمنتصب عنه دمتعلق نه تمييز جوړول صحيح دي مثلاً كله چې دطيب اسناد دده متعلق طرف په دې اعتبار سره وي چې هغه ددې پلار دي نو تمييز جوړول صحيح دي اوكه تمييز لره دمنتصب عنه دپاره صحيح نه وي نوبيابه دمنتصب عنه دمتعلق سره خاص وي مثلاً طاب زيد ابوه

علماً وداراً دې اسماء لره دمنتصب عنه دپاره کیدل صحیح نه دي نو داتمییز دمنتصب عنه دمتعلق یعنې زید دمتعلق څخه دي اومتعلق ذات مقدره دي یعنې هغه شئ کوم چې زید طرف ته منسوب دي.

اغراض دجامي : اي التمييز: په دې عبارت سره شارح دضمیر مرجع متعین کوي.

بعد مالم يكن نصا: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : دا قاعده ستا منقوضه او ماته ده په طاب زيد نفسا باندې ځکه چې په دې کې نفسا لره د منتصب عنه دپاره جوړیدل صحیح دي حالانکه په دې کې دوه (۲) وجهې جائز نه دي بلکه هغه لره دمنتصب عنه تمییز جوړول متعین دي.

جواب : هغه تمییز چې هغې لره دمنتصب عنه دپاره کول صحیح وي په دې کې دوه وجهې هم جائز دي داپه هغه صورت کې دې چې کله هغه په منتصب عنه کې نص نه وي اوپه ذکر شوي مثال کې نص دي ددې وجې نه نقض وارد نه شو.

لاصفة: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : صفت خو اسم وي نو دمصنف رحمه الله په کلام کې تناقض لازم راځي ځکه چې مصنف وویل چې کله تمییز اسم وي اوهغه لره دمنتصب عنه دپاره کیدل صحیح وي نو په دې کې دوه(۲) وجهې جائز دي: (۱) چې هغه لره د منتصب عنه د پاره کیدل هم صحیح وي. (۲) او دمنتصب عنه دمتعلق دپاره هم صحیح وي اووروسته کلام یعنې ان كان صفة نه معلومیږي چې کله تمییز اسم وي نو هغه فقط دمنتصب عنه دپاره وي نو په اول اوآخر کلام کې تعارض دي.

جواب : اسم اګرکه دصفت نه عام دي صفت ته هم شامل دي لیکن قاعده ده چې کله عام د خاص په مقابله کې وي نو دهغه عام نه مراد دخاص ماسواء وي اودلته هم داسم نه مراد صفت ماسواء دي. (۳) یا د اسم نه مراد جامد او دصفت نه مراد مشتق دي لهذا تقابل صحیح دي.

تارةً: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : د والمتعلقة واو عاطفه دي او واو عاطفه دجمع دپاره وي اوقاعده داده چې الجمع بحرف الجمع كالجمع بلفظ الجمع ، اوس دمصنف دعبارت مطلب داجوړیږي چې هغه تمییز کوم چې د منتصب عنه دپاره صحیح وي هغه منتصب عنه اودهغه متعلق ددواړو دپاره یوځاې وي

حالانکه دا غلط دي

جواب: دلته واو د أَوْ په معنی کې دي مطلب دا دی چې هغه تمييز يا د منتصب عنه دپاره وي د متعلق دپاره نو بيا څه اشکال نه وارديږي.

د تمييز د ذکر شوو دوه قسمونو استعمال :

فَيُطَابِقُ التَّمْيِيزُ فِيهِمَا أَيْ فِيمَا جَازَ أَنْ يَكُونَ لِمَا انْتَصَبَ عَنْهُ

پس مطابق وي تمييز په دې دواړو کې يعني په هغه صورت کې چې جائزوي چې وي تمييز د منتصب عنه دپاره

سَوَاءٌ نَصًّا فِيهِ أَوْ مُحْتَمِلًا لَهُ وَ لِمُتَعَلِّقِهِ وَ فِيمَا تَعَيَّنَ

برابره خبره ده که نصاً وي او يا محتملا وي د منتصب عنه دپاره او د متعلق دپاره او په هغه څه کې چې معين وي د

لِمُتَعَلِّقِهِ مَا قُصِدَ مِنْ وَحْدَةِ التَّمْيِيزِ وَ تَثْنِيَتِهِ وَ جَمْعِيَّتِهِ سَوَاءٌ كَانَ

متعلق دپاره د هغه څه چې قصد يې شوي وي د واحد کيدو د تمييز او د تثنيې او د جمعې برابره خبره ده که وي دپاره د

لِمُوَافَقَةِ مَا انْتَصَبَ عَنْهُ مِثْلُ طَابَ زَيْدٌ أَبًا وَالزَّيْدَانِ أَبَوَيْنِ وَالزَّيْدُونَ آبَاءً أَوْ لِمَعْنًى فِي نَفْسِهِ

موافقت د منتصب عنه لکه طاب زيد ابا والزيدون ابوين والزيدون اباءً يا دپاره د داسې معنی چې په نفس د تمييز کې وي

مِثْلُ قَوْلِكَ طَابَ زَيْدٌ أَبًا إِذَا أَرَدْتَ أَبًا لَهُ فَقَطْ وَ طَابَ زَيْدٌ أَبَوَيْنِ إِذَا أَرَدْتَ أَبًا

لکه دا قول ستا طاب زيد ابا چې کله ته اراده وکړه د هغه د پلار او طاب زيد ابوين چې کله ته اراده وکړې د زيد د پلار

وَ جَدًّا لَهُ وَ طَابَ زَيْدٌ آبَاءً إِذَا أَرَدْتَ أَبًا وَ أَجْدَادًا لَهُ فَعَلَى كُلٍّ مِنَ التَّقْدِيرَيْنِ إِذَا قُصِدَ

او نيکه او طاب زيد اباء کله چې ته اراده وکړې د زيد د پلار او د نيکه نو بنا په هر يو د دواړو تقديرونو چې کله اراده وکړې

وَحْدَةُ التَّمْيِيزِ أُورِدَ مُفْرَدًا وَ إِذَا قُصِدَ جَمْعِيَّتُهُ أُورِدَ

د وحدت د تمييز نو رايې وړو مفرد او چې کله اراده وکړې د تثنيې نو رايې وړو تثنيه او چې کله اراده وکړې د جمعې نو رايې

جَمْعًا فَإِنَّ صِيغَةَ الْمُفْرَدِ لَا تَصْلُحُ أَنْ تُطْلَقَ عَلَى الْمُثَنَّى وَ الْمَجْمُوعِ إِلَّا إِذَا كَانَ التَّمْيِيزُ جِنْسًا

وړو جمع ځکه صيغه د مفرد د اصلاحيت نه لري چې اطلاق يې وشي په تثنيه او جمع مګر کله چې وي تمييز جنس چې

يَقَعُ عَلَى الْقَلِيلِ وَ الْكَثِيرِ فَإِنَّهُ إِذَا قُصِدَ تَثْنِيَتُهُ أَوْ جَمْعِيَّتُهُ لَا يَلْزَمُ أَنْ يُثَنَّى

واقع کيږي په قليل او کثير باندې ځکه چې کله اراده وکړې شي د تثنيې يا د جمعې نو نه لازميږي چې تثنيه کړې شي

ذَلِكَ الْجِنْسُ أَوْ يُجْمَعُ بَلْ يَكْفِي أَنْ يُؤْتَى بِهِ مُفْرَدًا لِصِحَّةِ إِطْلَاقِهِ عَلَى الْقَلِيلِ وَ الْكَثِيرِ

دا جنس او يا جمع شي بلکې کافي ده چې راوړل شي تمييز مفرد د پاره د صحت د اطلاق په قليل او کثير باندې نو

فَلَا حَاجَةَ إِلَى التَّثْنِيَةِ وَ جَمْعِهِ نَحْوُ طَابَ زَيْدٌ عِلْمًا وَالزَّيْدَانِ عِلْمًا وَالزَّيْدُونَ عِلْمًا إِلَّا أَنْ يُقْصَدَ

نشته دي حاجت راوړو د تثنيې او د جمعې لکه طاب زيد علما والزيدان علما والزيدون علما مګر دا چې کله اراده وکړې

بِالتَّمْيِيزِ الَّذِيْ هُوَ الْجِنْسُ الْاَنْوَاعُ حَيْثُ اِمْتِيَازَاتِهَا النَّوْعِيَّةُ فَاِنَّهُ لَا بُدَّ حِيْنَئِذٍ مِنْ
شي په هغه تمييزچې هغه جنس دي دانواعو د حيثيت د امتيازات نوعيه څخه څکه نشته لابدي په دې وخت کې د
تَثْنِيَتِهٖ اَوْ جَمْعِهٖ نَحْوُ طَابَ الزَّيْدَانِ عِلْمَيْنِ وَالزَّيْدُوْنَ عُلُوْمًا اِذَا اُرِيْدَ اَنَّ مُتَعَلَّقَ الطِّيْبِ مِنْ كُلٍّ مِنَ الزَّيْدَانِ
تثنيې او د جمعې لکه طاب الزيدان علمين والزيدون علوماچې کله اراده وکړې شي چې متعلق د طيب د هريو الزيدان
اَوِ الزَّيْدُوْنَ نَوْعٌ آخَرُ مِنَ الْعِلْمِ فَاِنَّ صِيْغَةَ الْمُفْرَدِ لَا تُفِيْدُ ذٰلِكَ الْمَعْنٰى.
او د زيدون نه بل قسم دي د علم نه څکه صيغه د مفرد د فائده نه ورکوي د دې معنى.

خلاصه د متن: په ذکر شوي عبارت کې صاحب د کافيې غرض د تمييز مذکوره دوه (٢) قسمونو طريقه د استعمال بيانوي. (١) چې تمييز به ياجنس وي (٢) او يا به غير جنس وي، که جنس وي نو دې لره به د انواعو قصد کولې شي يا نه په دې اعتبار سره په دې کې درې (٣) صورتونه جوړيږي: (١) تمييز غير جنس وي. (٢) تمييز جنس وي او د دې نه مقصود انواع نه وي. (٣) تمييز جنس وي او د دې نه انواع مقصود وي. د هر يو تفصيل په لاندې ډول دي:

(١) که چيرته تمييز غير جنس وي نو دا به د مقصود موافق تثنيه او يا جمع راوړې شي برابره خبره ده که واحد ياتثنيه ياجمع راوړل د منتصب عنه د موافقت د وجې نه وي ياد هغه معنى د وجې نه وي کوم چې په تمييز کې موندلې شي د اول مثال طاب زيد اباً، طاب الزيدان ابوين، طاب الزيدون آباء، د دويم مثال طاب زيد ابا کله چې يو اخې پلار مراد وي او طاب زيد ابوين، کله چې يو اخې پلار او نيکه مراد وي او طاب زيد آباءً کله چې مراد اباء او اجداد وي يعنې په دواړو صورتونو کې برابره خبره ده که د منتصب عنه د موافقت د پاره وي ياد هغه معنى موافقت د وجې نه کوم چې په تمييز کې موندلې شي کله چې تمييز لره مفرد راوړو قصد وکړې شي نو دا به مفرد راوړې شي که د تثنيه ياد جمع راوړو قصد وکړې شي نو دا به تثنيه او يا جمع راوړې شي څکه چې د مفرد صيغه د دې خبرې صلاحيت نه لري چې د تثنيه او ياد جمعې اطلاق په دې باندې وشي.

(٢) او که تمييز جنس وي او د دې نه اراده انواع نه وي نو دا به تثنيه او يا جمع نه شي راوړې بلکه مفرد به راوړې شي څکه چې د دې اطلاق په قليل او کثير دواړو باندې صحيح دي لهذا دې لره د تثنيې او يا جمع راوړو ضرورت نشته مثال لکه طاب زيد علماً، طاب الزيدان علماً، طاب الزيدون علماً.

(۳) اوکه تمييز جنس وي اوددې نه قصد انواع کړي شي نو دابه دمقصود موافق تثنيه اوياجمع راوړي شي مثلاً طاب زيد علما ،طاب الزيدان علمين ، طاب الزيدون علوما ، کله چې دا مراد وي چې د زيدون څخه يو زيد دعلم يو قسم مثلاً دنَحْوُ ماهر دي اودويم زيد دعلم فقه عالم دي اودريم زيد داصول فقه عالم دي ځکه چې دمفرد صيغه ددې خبرې صلاحيت نه لري چې ددې اطلاق په تثنيه اوجمع باندې وشي .

اغراض دجامي : اى فيما جاز: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د هما ضمير مرجع هيئين مذکورين دي بوهغه تمييز چې هغې لره دمنتصب عنه اود متعلق ددواړو دپاره جوړيدل صحيح وي . اودويم هغه تمييز چې دې لره فقط دمتعلق دپاره جوړيدل صحيح وي نو دا تمييز چې په منتصب عنه کې نص وي نو دابه ددې حکم نه خارجيږي حالانکه په دې کې مطابقت هم ضروري دي ، يا په بل عبارت چې سوال دادې چې د راجع اودمرجع په مينځ کې مطابقت نشته دي مرجع دري دي : (۱) هغه تمييز چې په منتصب عنه کې نص وي .(۲) په منتصب عنه اودمتعلق دواړو احتمال لري (۳) دمتعلق سره خاص وي اودارجع تثنيه ضمير دي .

جواب : هغه تمييز چې په منتصب عنه کې نص وي نودا په اول شئ کې داخل دي ځکه چې کوم لره دمنتصب عنه نه تمييز جوړيدل صحيح وي په دې کې تعميم دي برابره خبره ده که په منتصب عنه کې نص وي يا منتصب عنه اودهغه متعلق دواړو احتمال لري لهذا په راجع اومرجع کې مطابقت صحيح کيږي .

من حيث: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کله چې په زيدون کې هر يو زيد ته ديو خاص قسم علم وي مثلاً يو زيد دعلم فقه ديو حکم عالم وي اودويم زيد داصول فقې ديوې ضابطې اوقاعدې عالم وي اودريم زيد د علم النّحو ديوې قاعدې عالم وي اودا انواع مقصود وي نو طاب الزيدون علما ويلې شي علوما نه شي ويلې حالانکه دلته هم دانواعو قصد کړي شوي دي .

جواب : مراد دادې چې دانواعو قصد کول په اعتبار دامتيازات نوعيه ، سره وي نه په اعتبار د امتيازات شخصيه سره يعني پوره نوع دعلم مراد وي مثلاً مجموعه علم فقه او اصول فقه نه

چې دهر يو حکم.

د صفت منتصب عنه يا د غير د پاره د کيدو بيان:

وَإِنْ كَانَ أَيِ التَّمْيِيْزِ صِفَةً مُشْتَقَّةً مِثْلُ لِلّٰهِ دَرُّهُ فَارِسًا أَوْ مُؤَوَّلَةً بِهَا نَحْوُ كَفٰى زَيْدٌ رَجُلًا فَإِنَّ مَعْنَاهُ

اوکه چيرته وي يعني تميز صفت مشتقه لکه لله دره فارسا يا صفت مؤول به مشتق وي لکه كفى زيد رجلا نو معنى

كَامِلًا فِي الرُّجُوْلِيَّةِ كَانَتِ الصِّفَةُ لَهُ أَيْ لِمَا انْتَصَبَ عَنْهُ لَا لِمُتَعَلَّقِهِ لِأَنَّ

ددې كاملاً في الرجولية ده نو وي به دا صفت ددې د پاره يعني د منتصب عنه د پاره نه دده د متعلق د پاره خکه چې

الصِّفَةَ تَسْتَدْعِيْ مَوْصُوْفًا وَالْمَذْكُوْرُ أَوْلٰى بِالْمَوْصُوْفِيَّةِ فَإِذَا قِيْلَ طَابَ زَيْدٌ وَالِدًا كَانَ وَلُوَالِدُ زَيْدٌ

صفت غواړي موصوف او مذكور اولى دي د موصوف جوړيدو پس هر كله چې وويلې شي طاب زيد والداً نو د زيد والد

وَلَا يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ وَالِدَهُ بِخِلَافِ الْاِسْمِ نَحْوُ أَبًا وَ طِبْقَهُ الْوَاوُ بِمَعْنٰى مَعَ وَ الطِّبْقُ

به وي او احتمال نه لري چې وي دي والد دده په خلاف د اسم لكه اباً د مطابقت سره واو په معنى د مع دي او طبق

مَصْدَرٌ بِمَعْنَى الْمُطَابَقَةِ أَيْ كَانَتِ الصِّفَةُ صِفَةً لَهُ مَعَ مُطَابَقَتِهَا إِيَّاهُ

مصدر دي په معنى د مطابقت سره يعني وي به صفت. صفت د منتصب عنه د پاره سره د مطابقت نه د منتصب عنه

أَوْ مُطَابَقَتِهِ إِيَّاهَا وَ يَجُوْزُ أَنْ يَكُوْنَ بِمَعْنٰى اِسْمُ الْفَاعِلِ وَالْوَاوُ لِلْعَطْفِ عَلٰى خَبَرِ كَانَتْ

سره او يا مطابقت ددې د صفت سره او جائز دي چې وي په معنى د اسم فاعل او واو د پاره د عطف كه په خبر باندې وي

أَيْ كَانَتِ الصِّفَةُ صِفَةً لَهُ وَ مُطَابَقَةً إِيَّاهُ وَ الْمُرَادُ بِالْمُطَابَقَةِ الْاِتِّفَاقُ فِي الْاِفْرَادِ وَ التَّثْنِيَةِ

يعني وي صفت. صفت د پاره د خبر او مطابقت د منتصب عنه سره او مراد په مطابقت سره موافقت دي په افراد، تثنيه،

وَ الْجَمْعِ وَ التَّذْكِيْرِ وَ التَّأْنِيْثِ لِكَوْنِهَا حَامِلَةً لِضَمِيْرِهِ وَاحْتَمَلَتْ أَيِ الصِّفَةِ الْمَذْكُوْرَةِ

جمع، تذكير او تانيث كې دوجې د كيدو نه حامل د پاره د ضمير د منتصب عنه او احتمال لري يعني صفت مذكوره د

الْحَالَ أَيْضًا لِاسْتِقَامَةِ الْمَعْنٰى عَلَى الْحَالِ نَحْوُ طَابَ زَيْدٌ فَارِسًا أَيْ مِنْ حَيْثُ أَنَّهُ فَارِسٌ أَوْ حَالَ كَوْنِهِ

حال همدا رنګې د وجې د استقامت د معنى نه په حال باندې لكه طاب زيد فارساً يعني من حيث انه فارس يا حال كونه دي

فَارِسًا لٰكِنَّ زِيَادَةَ مِنْ فِيْهَا نَحْوُ لِلّٰهِ دَرُّهُ مِنْ فَارِسٍ وَ قَوْلِهِمْ عَزَّ مِنْ قَائِلٍ يُؤَيِّدُ التَّمْيِيْزَ لِأَنَّ

فارساً ليكن زيادت د مِنْ په دې كې راځي لكه لله دره من فارس او قول د عرب چې عز من قائل تائيد كوي د تميز خكه

مِنْ تُزَادُ فِي التَّمْيِيْزِ لَا فِي الْحَالِ وَ أَيْضًا اَلْمَقْصُوْدُ مَدْحُهُ بِالْفُرُوْسِيَّةِ لَا حَالَ الْفُرُوْسِيَّةِ

مَنْ زيا تولې شي په تميز كې نه په حال كې او همدا رنګې مقصود دغه مدحه ده په فروسيت سره نه په حال د فروسيت

إِذْ قَدْ يُمْدَحُ حَالَ الْفُرُوْسِيَّةِ بِغَيْرِهَا مِنَ الصِّفَاتِ.

سره خكه چې كله مدحه بيانولې شي په حال د فروسيت كې په غير د فروسيت نه په نورو صفاتو سره.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب دکافيې وايي چې كه چيرته تمييز صفت مشتقه وي مثال لكه لله دره فارسا يا دا د مشتق په تاويل كې وي مثال لكه كفى زيد رجلا په دې كې د رجلاً معنى كاملاً في الرجولية ده نو هغه صفت دمنتصب عنه دپاره به وي ددې دمتعلق دپاره به نه وي ځكه چې صفت تقاضا كوي دموصوف اوهغه دموصوف جوړيدو زيات مستحق دي مثلاً كله چې وويلې شي طاب زيد والداً نو والد نه به مراد دغه زيد وي دده متعلق يعنې پلار به مراد نه وي په خلاف ددې صورت چې كله وويلې شي زيد ابا په دې كې دواړه احتمالات كيدي شي يعنې په خپله زيد اود زيد پلار . اوصفتِ مذكوره دحال جوړيدو هم احتمال لري مثال لكه طاب زيد فارساً لره تمييز جوړ شي نو معنى به يې داوي چې زيد ښه دي د جهته دشاه سواركيدو اود حال په صورت كې به معنى داوي چې زيد ښه دي په داسې حال كې چې هغه شاه سوار دي .

اغراض دجامي : وطبقه الواو بمعنى مع: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دتركيب دي چې واو عاطفه نه دي بلكه واو په معنى د مع سره دي اوطبق مصدر په معنى دمطابقت دي اوس به يې معنى داوي چې صفت به دمنتصب عنه دپاره وي .

مع مطابقتها: په دې عبارت سره غرض دشارح بيان دتركيب دي په طبقه كې په تركيبي اعتبار سره دوه (۲) احتمالات دي : (۱) مصدر به مضاف وي فاعل طرف ته اومفعول به محذوف وي . (۲) يا به مضاف وي مفعول طرف ته اوفاعل به محذوف وي . (۲) طبق مصدر په معنى داسم فاعل دي او واو عاطفه دي او طبقه عطف دكانت په خبر باندې دي نو معنى به يې داوي چې وي به هغه صفت دمنتصب عنه دپاره اودمنتصب عنه مطابق به وي .

والمراد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال :تمييز هميشه نكره وي اومنتصب عنه كله نكره وي اوكله معرفه وي نو تمييز د منتصب عنه سره څنګه مطابق شو ؟ اودمصنف قول وطبقه ويل څنګه صحيح شو ؟ .

جواب : دلته دمطابقت نه مراد په اعتبار دمفرد ،تثنيه ، جمع ، تذكير اوتانيث سره مطابقت دي په اعتبار دمعرفې اونكرې سره مطابقت ضروري نه دي .

لكونها: په دې عبارت سره شارح دذكر شوو امورو دصفت دمنتصب عنه دمطابق كيدو وجه بيانوي چې صفت كې ضمير وي چې راجع وي منتصب عنه طرف ته ، اودراجع اومرجع په

میزنځ کې مطابقت ضروري دي د دې وجې نه تمییز لره د منتصب سره سابق را وړل ضروري دي

واحتملت ای الصفة المذکورة الحال ایضاً لاستقامة: په دې عبارت کې شارح دا بیانوي چې په ذکر شوي صفت کې دحال جوړیدو احتمال هم شته دي ځکه چې دحال جوړیدو په صورت کې به معنی صحیح کیږي مثال لکه طاب زید فارساً. که فارساً لره تمییز جوړ شي نو معنی به یې داوي چې زید ښه دي دجهته دشاه سواري نه او دحال په صورت کې به یې معنی داوي چې زید ښه دي په داسې حال کې چې دا شاه سوار دي لیکن شارح دجامي وایي چې تمییز جوړول زیات اولی او مناسب دي ددوه (۲) وجهو نه:

اوله وجه: کله کله په دې کې من زیاتولې شي مثال لکه لله دره من فارس، همدارنګې عز من قائل داد عز قائلاً په ځای واقع دي او زیادت دمن دتمییز تائید کوي ځکه چې من په تمییز کې زیات وي په حال کې من نه وي.

دوهمه وجه: دا چې مقصود هغه فروسیت دلحاظ سره تعریف کول دي نه چې دفروسیت په حالت کې ځکه چې دفروسیت په حالت کې دفروسیت نه علاوه دنورو صفاتو په اعتبار سره هم مدحه کیږي مثال لکه زید عالم من حیث انه فارس که فارساً لره حال وګرځوي نو دا صحیح نه دي ځکه چې بیا به یې مطلب داوي چې زید عالم دي په حالتِ فروسیت کې نو دزید علم به مقید شي دحالت دفروسیت سره حالانکه دا باطل دي

تمییز د خپل عامل نه مقدم کیدل:

وَلَا يَتَقَدَّمُ التَّمْيِيْزُ عَلٰى عَامِلِهٖ اِذَا كَانَ اِسْمًا تَامًّا بِالْاِتِّفَاقِ فَلَا يُقَالُ عِنْدِيْ دِرْهَمًا عِشْرُوْنَ وَلَا
اومقدم به نه وي تمیزپه خپل حال باندې چې کله اسم تام وي بالاتفاق نو نه شي ویلې عندي درهماًعشرون او نه
زَيْتًا رِطْلٌ لِاَنَّ عَامِلَهٗ حِيْنَئِذٍ اِسْمٌ جَامِدٌ ضَعِيْفُ الْعَمَلِ مُشَابِهَةٌ لِلْفِعْلِ
عندي زيتاً رطل ځکه عامل ددې په دې وخت کې اسم جامد دي کوم چې ضعیف العمل دي او مشابه دي دفعل
مُشَابِهَةً ضَعِيْفَةً كَمَا ذَكَرْنَاهُ فَلَا يَقْوٰى اَنْ يَّعْمَلَ فِيْمَا قَبْلَهٗ وَ الْاَصَحُّ اَیْ
سره په مشابهت ضعیفه سره لکه مونږ ذکر کړل نو دا قوت نه لري چې عمل وکړي په خپل ماقبل کې او اصح یعنې
اَصَحُّ الْمَذَاهِبِ اَنْ لَّا يَتَقَدَّمَ التَّمْيِيْزُ عَلٰى مَا هُوَ عَامِلٌ فِيْهِ مِنَ الْفِعْلِ الصَّرِيْحِ اَوْ غَيْرِ الصَّرِيْحِ
اصح مذهب دادي چې مقدم نه شي تمیزپه هغه څه چې هغه عامل دي په دې کې دفعل صریحي نه او یا غیر صریحي

لِكَوْنِهٖ مِنْ حَيْثُ الْمَعْنٰى فَاعِلًا لِلْفِعْلِ لِنَفْسِهٖ نَحْوُ طَابَ زَيْدٌ اَبًا اَىْ طَابَ اَبُوْهُ اَوْ فَاعِلًا لَهٗ

نه دوجي د كيدو نه په اعتبار د معنى سره فاعل د پاره د نفس فعل لكه طاب زيد ابا يعني طاب ابوه يا فاعل وي د فعل

اِذَا جَعَلْتَهٗ لَازِمًا نَحْوُ فَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا اَىْ اِنْفَجَرَتْ عُيُوْنُهَا اَوْ اِذَا جَعَلْتَهٗ

د پاره په هغه وخت كې چې كله وګرځوي ته فعل لازم لكه فجرنا الارض عيونا يعني انفجرت عيونها يا چې كله ته وګرځوي

مُتَعَدِّيًا نَحْوُ اِمْتَلَأَ الْاِنَاءُ مَاءً اَىْ مَلَأَهُ الْمَاءُ وَالْفَاعِلُ لَايَتَقَدَّمُ عَلَى الْفِعْلِ فَكَذَا مَاهُوَ

متعدي لكه امتلاء الاناء ماء يعني ملاه الماء او فاعل نه مقدم كيږي په فعل باندې نو همدا رنګې نه مقدم كيږي په هغه

بِمَعْنَى الْفَاعِلِ وَ هٰهُنَا بَحْثٌ وَ هُوَ اَنَّ الْمَاءَ فِيْ قَوْلِهِمْ اِمْتَلَأَ الْاِنَاءُ مَاءً مِنْ حَيْثُ

څه چې هغه په معنى د فاعل وي او دلته بحث دي او هغه دا چې ماء په دې قول د عربو كې امتلاء الاناء ماء د حيثيت د

الْمَعْنٰى فَاعِلٌ لِلْفِعْلِ الْمَذْكُوْرِ مِنْ غَيْرِ حَاجَةٍ اِلٰى جَعْلِهٖ مُتَعَدِّيًا لِاَنَّ الْمُتَكَلِّمَ

معنى نه دا فاعل دي د پاره د فعل مذكور په غير د څه ضرورت نه د ګرځولو د متعدي ځكه متكلم هر كله چې اراده وكړي

لَمَّا قَصَدَ اِسْنَادَ الْاِمْتِلَاءِ اِلٰى بَعْضِ مُتَعَلَّقَاتِ الْاِنَاءِ وَلَوْ عَلٰى سَبِيْلِ التَّجَوُّزِ وَ قَدَّرَهٗ وَقَعَ

د اسناد د امتلاء بعضې متعلقاتو د اناء ته اګر كه په طريقې د مجازوي او مقدر يې كړو نو واقع شو په دې كې ابهام نو

الْاِبْهَامُ فِيْهِ لَا جَرَمَ مَيَّزَهٗ بِقَوْلِهٖ مَاءً فَهُوَ فِيْ مَعْنَى اِمْتَلَأَ مَاءُ الْاِنَاءِ فَالْمَاءُ فَاعِلٌ مَعْنًى وَ ذٰلِكَ بِعَيْنِهٖ

خامخا بيان كړ و متكلم په دې قول سره ماء نو دا په معنى د امتلاء ماء الاناء سره شو نو الماء فاعل دي معناً او دا بعينه

مِثْلُ قَوْلِكَ رَبِحَ زَيْدٌ تِجَارَةً فَاِنَّ التِّجَارَةَ تَمْيِيْزٌ يَرْفَعُ الْاِبْهَامَ عَنْ شَيْءٍ مَنْسُوْبٍ اِلٰى زَيْدٍ وَهُوَ التِّجَارَةُ

په شان د قول ستا ربح زيد تجارة دي ځكه تجارت تميز دي رفع كوي ابهام د شئ منسوبه نه زيد ته او هغه تجارت دي

فَالْفَاعِلُ فِيْ قَصْدِكَ هُوَ التِّجَارَةُ لَا زَيْدٌ وَ اِنْ كَانَ اِسْنَادُ الرِّبْحِ اِلَيْهِ حَقِيْقَةً وَ اِلَيْهَا مَجَازًا وَ بِهٰذَا

نو فاعل په اراده ستا كې هغه تجارت دي نه زيد اګر كه وي اسناد د ربح زيد ته حقيقة او تجارت طرف ته مجازاً او په دې

يَنْدَفِعُ مَا يُوْرَدُ عَلٰى قَاعِدَتِهِمِ الْمَشْهُوْرَةِ وَ هِيَ اَنَّ التَّمْيِيْزَ عَنِ النِّسْبَةِ اِمَّا فَاعِلٌ فِي الْمَعْنٰى

سره دفع شو هغه څه چې وارد يږي په قاعدې مشهورې باندې او هغه دا چې تميز د نسبت نه يا فاعل وي په معنى كې

اَوْ مَفْعُوْلٌ مِنْ اَنَّ التَّمْيِيْزَ فِيْ هٰذَا الْمِثَالِ وَ اَمْثَالِهٖ لَا فَاعِلٌ وَلَا مَفْعُوْلٌ فَلَا تَطَّرِدُ تِلْكَ الْقَاعِدَةُ.

'ويا مفعول وي د دې نه چې تميز په دې مثال كې او يا په شان د دې نه فاعل دي او نه مفعول نو نه شو جامع دا قاعده.

خلاصه دمتن : د صاحب د كافيې د عبارت حاصل دا دې چې كله د تمييز عامل اسم تام وي نو تميز د خپل عامل نه ، نه شي مقدم كيدې مثلاً داسې نه شي ويلې چې عندي درهما عشرون او عندي زيتا رطل او د دې وجه داده چې عامل كله اسم تام وي نو دا به اسم جامد وي او دا اسم جامد عامل ضعيف دي ځكه چې دا عمل كوي د فعل د مشابهت د وجې نه او دا مشابهت ضعيف دي

او د عاملِ ضعيف معمول په دې باندې نه شي مقدم کيدي .

اغراض دجامي : والاصح ان لا يتقدم : په دې عبارت سره شارح ديو هم ازاله کوي :

وهم : مخکې مو وويل چې کله دتمييز عامل اسم تام وي نو تمييز په خپل عامل باندې نه شي مقدم کيدي نو ددې نه داوهم پيدا شو چې کله دتمييز عامل اسم تام نه وي بلکه فعل ياشبه فعل وي ځکه چې دا دواړه قوي عامل دي لهذا تمييز په هغه باندې مقدم کيږي .

ازاله دوهم : دې وهم لره مصنف رحمه الله ددې ځاې نه رفع کوي چې کله دتمييز عامل فعل وي اګر چې د بعضې نحويانو مذهب دادې چې تمييز په خپل عامل باندې مقدم کيدي شي ، ليکن صحيح مذهب دادې چې که چيرته د تمييز عامل فعل وي نو په دې باندې هم تميز نه شي مقدم کيدي برابره خبره ده که فعل صريح وي يافعل غير صريح يعنې شبه فعل وي ددې وجه داده چې تميز په اعتبار د معنى سره په منزله د فاعل دي ، نو بيا ددې درې (۳) صورتونه دي :

(۱): تمييز بعينه د فعل مذکور فاعل وي مثال لکه طاب زيد ابا په اعتبار دمعنى سره په اصل کې دا داسې وو چې طاب ابو زيد نو اباً بعينه ددې فعل مذکور فاعل دي بې دځه تاويل نه .

(۲): تمييز چې فعل مذکور فاعل جوړيږي کله چې دې لره لازم جوړ کړې شي مثال لکه فجرنا الارض عيونا په دې کې عيوناً نفس فعل مذکور فاعل خو نه دي ليکن کله چې دې لره لازم جوړ کړې شي نو عيونا فاعل جوړيږي مثال لکه انفجرت الارض عيونها .

(۳): تمييز دفعل مذکور فاعل خو نه جوړيږي ليکن کله چې دې لره متعدي جوړ کړې شي نو فاعل جوړيږي مثال امتلأ الاناء ماء په دې کې ماء نفسِ فعل مذکور فاعل خو نه جوړيږي نو کله چې دې لره متعدي جوړکړې شي نودابه دمعنى په اعتبار سره فاعل جوړيږي نو معنى به يې داوي چې ملاه الماء نوکله چې تمييز په اعتبار دمعنى سره فاعل وي دنفسِ فعل نو تمييز په فعل باندې نه شي مقدم کيدي لکه څنګه چې فاعل په فعل باندې نه شي مقدم کيدي .

وههنا بحث : په دې عبارت سره شارح ديو اشکال جواب ورکوي :

اشکال : په امتلأ الاناء کې ماء لره فاعل جوړيدو کې چې کومه توجيه کړې ده په دې باندې اشکال دي هغه اشکال دادې چې امتلأ الاناء ماء کې امتلأ لره دمتعدي کيدو ضرورت نشته دي

ددې نه په غير هم ماء دمعنى په اعتبار سره فعل مذكور لازمي فعل جوړيدي شي ځكه چې كلمه مصنف رحمه الله د اناء بعضې متعلقاتو طرف ته دامتلاء دمجازاً اسناد قصد وكړو اګرچې په حقيقت كې اسناد داناء طرف ته دي اواناء بعضې متعلقاتو لره مقدر كړه لهذا ماء دمعنى په اعتبار سره د امتلاء فاعل دي ددې معنى ده امتلاء ماءُ الاناء.

وذلک بعينه: په دې عبارت سره شارح دجامي دمخكې خبرې تائيد اوددې مثال بيانوي: امتلأ الاناء ماء كې دماء فاعل مجازي اوفاعل معنوي كيدل داسې دي لكه څنګه چې ربح زيد تجارةً كې تجارة فاعل معنوي اوفاعل مجازي دي ځكه چې تجارت داشئ منسوب الى زيد ابهام لره رفع كوي اوهغه شئ منسوب تجارت دي پس دمتكلم په قصد كې تجارت دي نه زيد دي اګركه د ربح اسناد زيد طرف ته حقيقتاً دي اوتجارت طرف ته اسناد مجازاً دي

وبهذا يندفع: دشارح غرض دمخكني بحث نه ديواعتراض دفع طرف ته اشاره كوي.

اشكال: مشهوره قاعده ده چې هغه تميېز كوم چې دنسبت نه ابهام لري كوي هغه من حيث المعنى فاعل وي يامفعول وي په دې قاعده باندې اشكال دادې چې ربح زيد تجارةً اوددې په شان نور مثالونو كې تجارت نه فاعل دي اونه مفعول.

جواب: وجه ددفع كولو داده چې په فاعل اومفعول كې تعميم دي برابره خبره ده چې حقيقتاً وي اوكه مجازاً وي لهذا ربح زيد تجارة اوددې په شان نورو مثالونو كې تميېز اګرچې حقيقتاً فاعل نه دي ليكن مجازاً فاعل دي.

دنحويانو اختلاف:

خِلَافًا لِلْمَازِنِيِّ وَ الْمُبَرِّدِ فَإِنَّهُمَا يُجَوِّزَانِ تَقْدِيمَ التَّمْيِيْزِ عَلَى الْفِعْلِ الصَّرِيْحِ وَ عَلَى اسْمِ
خلاف ثابت دي مازني اومبرد لره ځكه دوي دواړه جائز كوي تقديم دتميزپه فعل صريحي باندې اوپه اسم فاعل او
الْفَاعِلِ وَ الْمَفْعُوْلِ نَظَراً إِلٰى قُوَّةِ الْعَامِلِ بِخِلَافِ الصِّفَةِ الْمُشَبَّهَةِ وَ اسْمِ التَّفْضِيْلِ وَ الْمَصْدَرِ وَمَا فِيْهِ
اسم مفعول كې په نظر كولو سره قوت دعامل ته په خلاف دصفت مشبهه اواسم تفضيل اومصدر اوهغه څه چې په
مَعْنَى الْفِعْلِ لِضُعْفِهَا فِي الْعَمَلِ وَ مُتَمَسَّكُهُمَا فِي هٰذَا التَّجْوِيْزِ قَوْلُ الشَّاعِرِ:
هغې كې معنى دفعل وي دوجې دضعف نه په عمل كې اواستدلال ددې دواړو په دې باره كې داقول د شاعر دي

أَتَهْجُرُ سَلْمٰى بِالْفِرَاقِ حَبِيْبَهَا	وَ مَا كَادَ نَفْسًا بِالْفِرَاقِ تَطِيْبُ
آيا پريږدي سلمى په فراق كې خپل محبوب	حالانكه سلمى په اعتبار دنفس سره فراق نه خوښوي

عَلٰى تَقْدِيْرِ تَانِيْثِ الضَّمِيْرِ فِيْ تَطِيْبُ فَاِنَّهُ حِيْنَئِذٍ يَكُوْنُ فِيْ كَادَ ضَمِيْرُ الشَّانِ لِتَذْكِيْرِهِ وَ يَعُوْدُ
په تقدير د تانيث د ضمير په تطيب کې ځکه په دې وخت کې وي به په کاد کې ضمير د شان د پاره د تذکير او راجع به کړي
ضَمِيْرُ تَطِيْبُ اِلٰى سَلْمٰى وَيَكُوْنُ نَفْسًا تَمْيِيْزاً عَنْ نِسْبَةِ تَطِيْبُ اِلَيْهَا مُقَدَّمًا عَلَيْهِ وَ اَمَّا عَلٰى تَقْدِيْرِ
ضمير د تطيب سلمى ته او وي به نفسا تميز د نسبت د تطيب نه سلمى ته مقدم به وي په تطيب باندې او هرچې په تقدير
تَذْكِيْرِ الضَّمِيْرِ فَضَمِيْرُ كَادَ لِلْحَبِيْبِ وَنَفْسًا تَمْيِيْزاً عَنْ نِسْبَةِ كَادَ اِلَيْهِ اَىْ وَمَا كَادَ الْحَبِيْبُ
د تذکير د ضمير نو ضمير د کاد به راجع وي للحبيب ته او نفسا تميز دي د نسبت د کاد نه دې طرف ته يعني وماکاد الحبيب
نَفْسًا يَطِيْبُ فَلَا تَمَسُّكَ حِيْنَئِذٍ وَ مَا قِيْلَ يَحْتَمِلُ اَنْ يُحْمَلَ الْبَيْتِ
نفسا يطيب نو استدلال نه شي کيدې په دې وخت کې او هغه چې ويل شوې دي چې احتمال لري چې حمل شي بيت
عَلٰى تَقْدِيْرِ تَانِيْثِهِ اَيْضاً عَلٰى هٰذَا الْوَجْهِ بِاَنْ يَكُوْنَ تَانِيْثُ الضَّمِيْرِ الرَّاجِعِ اِلَى الْحَبِيْبِ بِاِعْتِبَارِ النَّفْسِ
په تقدير د تانيث باندې هم دا رنګې په دې وجه مذکور باندې چې وي تانيث د ضمير راجع حبيب ته په اعتبار د نفس
اِذِ الْمَعْنٰى وَمَا كَادَتْ نَفْسُ الْحَبِيْبِ تَطِيْبُ فَتَكَلُّفٌ وَ تَعَسُّفٌ غَيْرُ قَادِحٍ فِي التَّمَسُّكِ.
سره نو وي به په دې وخت کې معنى وماکادت نفس الحبيب تطيب نو دا تکلف دې او عدول غير قادح دې په استدلال کې.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې صاحب د کافيې د محکمې قاعدې په باره کې د نحويانو اختلاف بيانوي د امام مازني او مبرد مذهب دادې چې کله د تمييز عامل فعل صريحي وي يا اسم فاعل او اسم مفعول وي نو تمييز به په دې باندې مقدم کيدې شي.

اغراض د جامي: فانهما يجوزان تقديم التمييز: په دې عبارت سره اختلاف بيانوي: د امام مازني او د مبرد مذهب دادې چې کله د تمييز عامل فعل صريحي يا اسم فاعل او اسم مفعول وي نو تمييز په دې باندې مقدم کيدې شي د دې دليل دادې چې دا عامل قوي دې او د عامل قوي عامل په دې باندې مقدم کيدې شي او که عامل اسم تفضيل يا صفت مشبه مصدر يا هغه لفظ وي چې هغه د فعل په معنى کې وي نو په دې باندې تمييز نه شي مقدم کيدې ځکه چې دا عامل ضعيف دې او د ضعيف عامل معمول په دې باندې نه شي مقدم کيدې.

د امام مازني او د امام مبرد دليل: **دليل (۱)**: د امام مازني او د مبرد يو دليل خو دادې چې فعل صريحي او اسم فاعل او اسم مفعول وغيره د اقوي عامل دي او قوي عامل په تمييز باندې مقدم کيدې شي.

دليل (۲): دويم دليل د شاعر دا قول دې چې:

اَتَهۡجَرُ سَلۡمٰى بِالۡفِرَاقِ حَبِيۡبَهَا وَمَا كَادَ نَفۡسًا بِالۡفِرَاقِ تَطِيۡبُ

دشعر تشريح : په دې شعر کې دوه (۲) احتمالات دي : (۱) تطيب دواحد مؤنث صيغه ده او په كاد کې ضمير ،ضمير شان دي او دتطيب ضمير سلمى طرف ته راجع دي او نفساً تطيب سلمى طرف ته نسبت دوجې نه تمييز دي .

(۲) په كاد کې ضمير مستتر حبيب طرف ته راجع دي او نفساً دكاد ضمير طرف ته دنسبت دوجې نه تمييز دي او يطيب دواحد مذكر غائب صيغه ده .

په دې احتمالاتو کې داول احتمال مطابق ددغه حضراتو استدلال صحيح دي ځکه چې داول احتمال مطابق تمييز نفساً دعامل تطيب دي او نفساً ددې نه مقدم دي ددې نه معلومه شوه چې كله دتمييز عامل فعل وي نودا په تمييز باندې مقدم كيدي شي .

ليكن ددويم احتمال مطابق دهغوي استدلال صحيح نه دي ځکه چې په دې وخت کې دنفساً عامل كاد دي او نفساً ددې نه مؤخر دي مقدم نه دي .

دشعر ترجمه :داول احتمال مطابق دشعر معنى به داوي چې : ولې به سلمى خپل محبوب لره په فراق کې مبتلا کړي ، حالانكه شان دادې چې هغه سلمى دجهته دنفس نه فراق نه خوښوي .

ددويم احتمال مطابق به دشعر معنى داوي : چې ولې به سلمى خپل محبوب په فراق کې مبتلا کړي حالانكه هغه حبيب د جهته دنفس نه په فراق کې خوشحاله نه دي .

<u>**وما قيل ليحتمل**</u> : په دې عبارت سره شارح دبعضې نحويانو ترديد كوي بعضې خلكو دا ويلي دي چې كه چيرته تطيب دواحد مؤنث غائب صيغه وي نوامام مازني اومبرد استدلال صحيح نه دي ، ځکه چې ممكنه ده چې په تطيب کې ضمير حبيب طرف ته راجع وي اودې لره مؤنث راوړل ددې وجې نه وي چې هغه دنفس په تاويل کې وي ځکه چې معنى داده چې وماكادت نفس الحبيب ليكن شارح وايي چې داتكلف داعتدال دلارې نه كوږوالي اختيارول دي اوددوې په استدلال کې مفر نه دي تكلف ځکه چې دي دادخلاف ظاهر دي تعسف ځکه دي چې دسياق كلام مخالف دي ځکه چې د سياق كلام تعجب د سلمى په باره کې دي د حبيب په باره کې نه دي .

﴿اَلْمُسْتَثْنٰی﴾ :

د مستثنى تعريف :

اَلْمُسْتَثْنٰی اَیْ مَا يُطْلَقُ عَلَيْهِ لَفْظُ الْمُسْتَثْنٰی فِیْ اِصْطِلَاحِ النُّحَاةِ عَلٰی قِسْمَيْنِ وَ لَمَّا

مستثنى يعني هغه چې اطلاق كيږي په دې باندې لفظ د مستثنى په اصطلاح د نحاتو كې په دوه قسمه دې او هر

كَانَ مَعْلُوْمِيَّتُهُ بِهٰذَا الْوَجْهِ الْغَيْرِ الْمُحْتَاجِ اِلَى التَّعْرِيْفِ كَافِيَةً فِیْ تَقْسِيْمِهٖ اِلٰی قِسْمَيْنِ

كله چې معلوميدو په دې وجهې سره چې محتاج نه دې د تعريف نو دا كافي وه په تقسيم كې نو تقسيم بې كړو دوه

وَ عَرَّفَ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِاَنَّ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا اَحْكَامًا خَاصَّةً لَا يُمْكِنُ

قسمونو ته او تعريف يې وكړو د هر يو د دې دواړو نه ځكه د هر يو د پاره د دې دواړو نه احكام خاص چې نه وي ممكن

اِجْرَاؤُهَا عَلَيْهِ اِلَّا بَعْدَ مَعْرِفَتِهٖ فَقَالَ مُتَّصِلٌ وَ مُنْقَطِعٌ فَالْمُتَّصِلُ هُوَ الْمُخْرَجُ اَیِ

اجراء د دې په دې باندې مگر پس د معرفت نه نو وې ويل متصل او منقطع نو متصل هغه دې چې خارجيږي يعني

الْاِسْمُ الَّذِیْ اُخْرِجَ وَاحْتَرَزَ بِهٖ عَنْ غَيْرِ الْمُخْرَجِ كَجُزْئِيَّاتِ الْمُسْتَثْنٰی الْمُنْقَطِعِ عَنْ حُكْمِ

هغه اسم دې چې ويستل كيږي او احترازيې وكړو په دې سره د غير مخرج نه لكه جزئيات د مستثنى منقطع د حكم

شَیْءٍ مُتَعَدِّدٍ جُزْئِيَّاتِهٖ نَحْوُ مَا جَاءَنِیْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا اَوْ اَجْزَاؤُهٗ مِثْلُ اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ اِلَّا نِصْفَهٗ سَوَاءٌ

د داسې څيز نه چې متعدد وي جزئيات د دې لكه ماجاءني احد الازيدا او يا اجزاء د دې لكه اشتريت العبد الا نصفه برابره

كَانَ ذٰلِكَ الْمُتَعَدِّدُ لَفْظًا اَیْ مَلْفُوْظًا نَحْوُ جَاءَنِی الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا اَوْ تَقْدِيْرًا اَیْ مُقَدَّرًا نَحْوُ مَا جَاءَنِیْ اِلَّا زَيْدًا اَیْ

خبره ده كه وي دا متعدد لفظا يعني ملفوظ وي لكه جاء ني القوم الا زيدا او يا تقديرا يعني مقدر لكه جاء ني الا زيدا يعني

مَا جَاءَنِیْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا بِاِلَّا غَيْرِ الصِّفَةِ وَاَخَوَاتِهَا وَ احْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوِ جَاءَنِی الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا

ماجاءني احد الازيد په الاغير صفتيه سره او د اخواتو د دې او احترازيې وكړو په دې سره د دې مثال جاء ني القوم الازيدا. و

وَ مَا جَاءَنِی الْقَوْمُ لٰكِنْ زَيْدٌ جَاءَ وَ الْمُسْتَثْنٰی الْمُنْقَطِعُ هُوَ الْمَذْكُوْرُ بَعْدَهَا اَیْ بَعْدَ اِلَّا وَ اَخَوَاتِهَا

ماجاءني القوم لكن زيد جاء نه او مستثنى منقطع دا هغه ده چې مذكور وي پس د دې، نه يعني پس د الا او د اخواتو نه چې

غَيْرَ مُخْرَجٍ عَنْ مُتَعَدِّدٍ وَاحْتَرَزَ بِهٖ عَنْ جُزْئِيَّاتِ الْمُسْتَثْنٰی الْمُتَّصِلِ فَالْمُسْتَثْنٰی الَّذِیْ لَمْ يَكُنْ

ويستونكي نه وي د متعدد نه او احترازيې وكړو په دې سره د جزئياتو د مستثنى متصل نه نو مستثنى هغه چې نه وي

دَاخِلًا فِی الْمُتَعَدِّدِ قَبْلَ الْاِسْتِثْنَاءِ مُنْقَطِعٌ سَوَاءٌ كَانَ مِنْ جِنْسِهٖ كَقَوْلِكَ جَاءَنِی الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا

داخل په متعدد كې مخكې د استثنا منقطع به برابره خبره ده كه د دې جنس نه وي لكه دا قول ستا جاء ني القوم الازيد

مُشِيْرًا بِالْقَوْمِ اِلٰی جَمَاعَةٍ خَالِيَةٍ عَنْ زَيْدٍ وَ لَمْ يَكُنْ نَحْوُ جَاءَنِی الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا.

چې اشاره يې كړي په قوم سره يو جماعت ته چې خالي وي د زيد نه او يا نه وي د دې د جنس نه لكه جاء ني القوم الاحمارا

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب دکافيې دمنصوباتو اتم (۸) قسم د مستثنی تعريف اوددې احکامات بيانوي ، مستثنی په دوه (۲) قسمه ده . (۱) متصل . (۲) منقطع :

(۱) دمستثنی متصل تعريف دادې چې دمتعدد نه وويستلې شي لفظاً ياتقديراً د الا اوددې داخواتو سره مثال لکه جاءني قوم الا زيداً .

(۲) اودمستثنی منقطع تعريف دادې چې د الا اوددې د اخواتو نه وروستو مذکور وي دمتعدد نه ويستلې شوي نه وي مثال لکه جاءني القوم الاحماراً .

اغراض دجامي : اي ما يطلق عليه لفظ المستثنی: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمستثنی تقسيم متصل اومنقطع طرف ته دا تقسيم الشيء الی نفسه دي ځکه چې مستثنی دادباب استفعال نه داسم مفعول صيغه ده چې ددې معنی ده مخرج (ويستلې شوي) او مخرج متصل وي منقطع نه وي بيا ددې دوه (۲) قسمونه دي : (۱) متصل (۲) اومنقطع حالانکه کوم چې دمتعدد نه ويستلې شوي وي هغه مستثنی متصل وي منقطع نه وي نو دا تقسيم الشيء الی نفسه دي .

جواب : دلته دمستثنی لغوي معنی مراد نه ده بلکې دنحويانو په نزد چې کومه اصطلاحي معنی ده نوهغه مراد ده اګرچې دلغوي معنی په اعتبار سره دمستثنی اطلاق په مستثنی منقطع باندې صحيح نه دي ليکن داصطلاحي معنی په اعتبار سره دمستثنی اطلاق په مستثنی منقطع باندې صحيح دي لهذا تقسيم الشيء الی نفسه نه دي .

في اصطلاح النحاة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمستثنی تقسيم متصل اومنقطع ته باطل دي ځکه چې استثناء ويلې شي تکلم بالباقي بعد الاستثناء اودامعنی په مستثنی متصل کې متصور کيدې شي په مستثنی منقطع کې نه شي متصور کيدې .

جواب : تاسو چې کومه معنی بيان کړې ده نودا داصوليينو په نزد ده اوزمونږ بحث په نحوي کې دي اودنحويانو په نزد دمستثنی تعريف دادې چې د الا اوددې داخواتو نه وروستو مذکور وي برابره خبره ده چې دمستثنی منه نه مخرج (ويستلې شوي) اويا نه وي ويستلې شوي لهذا

تعریف په دواړو باندې صدق راځي

على قسمين : په دې عبارت سره غرض د شارح د دوه سوالینو مقدرو جواب ورکول دي :

سوال (۱) : دامقام دتقسیم دي چې دمستثنى تقسيم كيږي اوپه مقام دتقسیم کې دادواتو دحصر کیدل ضروري دي اوهغه دلته نشته دي .

سوال (۲) : المستثنى مبتدا ده اومتصل اومنقطع ددې خبر دي حالاتکه دې لره خبر جوړول صحیح نه دي ځکه چې مستثنى عام اومتصل دي اوحمل دعام په خاص باندې باطل دي .

جواب : دالمستثنى خبر هغه قسمين دي چې محذوف دي چې ددې نه حصر پیژندلې شي او دویم اشکال هم رفع کیږي .

ولماكان : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دیو څیز دتقسیم نه مخکې ددې څیز تعریف کولې شي دیو څیز تقسیم کول دتعریف نه په غیر صحیح نه دي ځکه چې تقسیم فرعه ده دتعریف لیکن مصنف رحمه الله دتعریف نه مخکې په تقسیم څنګه شروع وکړه ؟.

جواب : دتقسیم دپاره دمقسم معرفت بالتعریف ضروري نه دي بلکه معرفت بوجهٍ ما کافي دي او دلته معرفت بوجهٍ ما حاصل دي ځکه چې کله مستثنى وویلې شي نو ددې نه دا خبره معلومیږي چې مستثنى هغه څیز دي چې په دې باندې دنحویانو په نزد لفظ مستثنى وویلې شي همدارنګې په دې مذکوره عبارت سره په علامه جامي رحمه الله دشیخ رضي رد هم دي ، دتعریف نه کولو وجه دانه ده کومه چې تاذکر کړي ده ځکه چې مطلق دمستثنى تعریف متعذر نه دي مثلاً داتعریف یې کړي دي چې : المستثنى ما يذكر بعد الا واخواتها اوداتعریف متصل او منقطع دواړو ته شامل دي بلکه دتعریف نه کولو وجه داده چې دتقسیم دپاره تعریف ضروري نه دي بلکه صرف بوجهٍ ما کافي دي .

وعرف كل واحد منهما : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : کله چې تقسیم دپاره معرفت بوجهٍ ما کافي وو نو مصنف رحمه الله دهر یو تعریف ولې وکړو ؟

جواب : دهریو دپاره خاص احکام دي اوددې اجراء په دې باندې ددې دمعرفت نه په غیر نه

صحیح کیږي د دې وجې نه د هریو تعریف ...ي ذکرکړ

فالمتصل : په دې عبارت سره د مستثنی متصل تعریف بیانوي چې مستثنی متصل هغه دد کومه چې د الا او دد دې د نظائرو نه وروستو واقع وي او د الا او دد دې داخواتو په ذریعه دشئ متعدد نه خارج کړې شوي وي برابره خبره ده که دغه شئ متعدد ملفوظ وي اویا مقدر .

ای للاسم : په دې عبارت سره غرض دشارح بیان دترکیب دي چې المخرج صفت دي دموصوفِ محذوف چې الاسم دي .

الذي : په دې عبارت سره غرض دشارح بیان دترکیب دي چې دالمخرج الف لام دالذي په معنی کې دي مخرج په معنی داخرج دي .

واحترز : په دې عبارت سره غرض دشارح دقید فائدې بیانول دي چې دمخرج قید احترازي دي په دې سره غیر مخرج یعنې دمستثنی منقطع جزئیات خارجول مقصود دي .

حکم شئ : په دې عبارت سره غرض دشارح بیان دترکیب دي چې متعدد صفت دي دموصوف محذوف چې شئ دي موصوف دخپل صفت سره مضاف الیه شو دحکم .

جزئیاته : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمستثنی متصل تعریف جامع نه دي ځکه چې داتعریف په هغه نصفه باندې صادقیږي کوم چې په اشتریتُ العبد نصفه کې واقع دي ځکه چې دمتعدد نه متبادر په اعتبار د جزئیاتو سره کیږي اونصفه متعدد بحسب الجزئیات نه مخرج نه دي بلکه دا متعدد من حیث الاجزاء نه مخرج دي حالانکه دا مستثنی ده .

جواب : په متعدد کې تعمیم دي برابره خبره ده که په اعتبار دجزئیات وي اویا په اعتبار د اجزاو سره وي ، دمتعدد په اعتبار دجزئیاتو سره مثال لکه ماجاءني احد الا زیداً دمتعدد په اعتبار داجزاو سره مثال لکه اشتریتُ العبد الا نصفه .

سواءٌ : په دې عبارت سره بیان دترکیب دي لفظاً اوتقدیراً داد اسم مفعول په معنی کې خبر دي د کان محذوف .

ای ملفوظاً ....ای مقدراً : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دكان خبر په اسم باندې حمل وي دلته حمل صحيح نه دي ځکه چې **لفظاً** او **تقديراً** مصدر دي او د مصدر حمل په ذات باندې نه شي کيدي .

جواب : مصدر د اسم مفعول ملفوظاً په معنی سره دي لهذا حمل يې صحيح دي .

غير الصفة : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مستثنى تعريف دخول دغير نه مانع نه دي ځکه چې دا تعريف په **لا اله الا الله** کې په لفظ د **الله** باندې صادق راځي او داد الا په ذريعې سره د متعدد نه خارج دي حالانکه دا مستثنى نه ده

جواب : دالا نه مراد الاغير صفتيه ده او په ذکر شوي مثال کې الا صفتيه ده غير صفتيه نه ده .

واحترز : په دې عبارت سره شارح د الا او د دې داخواتو د قيد فائده بيانوي د دې قيد نه احتراز دي **جاء ني القوم لا زيد** او **ما جاء ني القوم لكن زيداً جاء** ځکه چې په دې دواړو مثالونو کې زيد اګر که د متعدد نه خارج دي ليکن الا او د دې داخواتو په ذريعې سره خارج نه دي بلکه د **لا** او د **لكن** په ذريعې سره مخرج دي .

والمنقطع : په دې عبارت سره د مستثنى د دويم قسم منقطع تعريف کوي چې مستثنى منقطع هغه ده چې د الا او د دې د نظائرو نه وروستو ذکر وي او هغه د متعدد نه خارج نه وي .

المستثنى : په دې عبارت سره غرض د شارح بيان د ترکيب دي چې **المنقطع** د اصفت دي د موصوف محذوف .

احترز : په دې عبارت سره غرض د شارح د غير مخرج قيد فائده بيانوي په دې سره احتراز دي د مستثنى متصل د جزئياتو نه .

المستثنى الذي : په دې عبارت سره غرض د شارح په بعضې نحويانو باندې لکه علامه رضي وغيره باندې رد کول دي چې دوي وايي دي چې مستثنى متصل هغه ده چې د مستثنى منه د جنس نه وي او منقطع هغه ده چې د مستثنى منه د جنس نه ، نه وي شارح د دې رد کوي چې هغه مستثنى چې د استثناء نه مخکې په متعدد کې داخل نه وي هغه منقطع ده دا عامه ده چې هغه د مستثنى منه د جنس نه وي او يا نه وي د مستثنى منه د جنس مثال لکه **جاء ني القوم الا زيد** وويلي شي او د قوم نه مراد هغه جماعت واخستلې شي کوم چې د زيد نه خالي وي ، او د هغې

مستثنی مثال چې دجنس د مستثنی منه نه ، نه وي د دې مثال لکه جاءني القوم الا حماراً.

د مستثنی په اعتبار د اعراب سره اول قسم :

وَ هُوَ اَيِ الْمُسْتَثْنٰى مُطْلَقًا حَيْثُ عُلِمَ اَوَّلًا بِوَجْهٍ يُصَحِّحُ تَقْسِيْمَهُ كَمَا

اودا یعنې مستثنی مطلق په داسې شان سره چې معلومیږي اول په داسې شان سره چې صحیح وي تقسیم د دې لکه

عَرَفْتَ وَ ثَانِيًا بِمَا يُتَفَطَّنُ لَهُ مِنْ تَعْرِيْفِ قِسْمَيْهِ اَعْنِى الْمَذْكُوْرِ بَعْدَ اِلَّا وَ

څنګه چې تا وپیژندل او دویم هغه چې معلومیږي د تعریف د دواړو قسمونو چې قصد کوم یې مذکور وي پس د الا او د

اَخَوَاتِهَا سَوَاءٌ كَانَ مُخْرَجًا اَوْ غَيْرَ مُخْرَجٍ وَ لِهٰذَا لَمْ يُعَرِّفْهُ عَلٰى حِدَةٍ رَوْمًا لِلْاِخْتِصَارِ

اخواتونه برابره خبره ده که خارج وي او یا غیر خارج او د دې وجې نه یې تعریف ونه کړو جدا د وجې د اختصار نه

مَنْصُوْبٌ وُجُوْبًا اِذَا كَانَ وَاقِعًا بَعْدَ اِلَّا لَا بَعْدَ غَيْرَ وَ سِوٰى وَ غَيْرِهِمَا غَيْرِ الصِّفَةِ قَيَّدَ بِهٖ

منصوب وي وجوبا چې کله واقع وي پس د الا نه ، نه پس د غیر او د سوی او غیر د دې نه غیر الصفة مقید یې کړو په دې سره

وَاِنْ لَّمْ يَكُنِ الْوَاقِعُ بَعْدَ اِلَّا الَّتِيْ لِلصِّفَةِ دَاخِلًا فِي الْمُسْتَثْنٰى لِئَلَّا يُذْهَلَ عَنْهُ فِيْ كَلَامٍ مُوْجَبٍ

اګر که واقع نه وي پس د الاصفتیه نه داخل په مستثنی کې د دې د پاره چې په غفلت کې پاتې نه شي په کلام موجب

اَيْ لَيْسَ بِنَفْيٍ وَلَا نَهْيٍ وَلَا اسْتِفْهَامٍ نَحْوُ جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدٌ اَوْ اِحْتَرَزَ بِهٖ عَمَّا اِذَا وَقَعَ

کې یعنې نه وي نفي او نه نهي او نه استفهام لکه جاءني القوم الازیدا او احترازیې وکړو په دې سره د هغه څه نه چې واقع

فِيْ كَلَامٍ غَيْرِ مُوْجَبٍ لِاَنَّهٗ لَيْسَ حِيْنَئِذٍ وَاجِبَ النَّصْبِ عَلٰى مَا سَيَجِيْءُ وَلَا

وي په کلام غیر موجب کې څکه نه وي په دې وخت کې واجب نصب بنا په هغه څه چې نژدې به راشي او نشته دي

حَاجَةَ هٰهُنَا اِلٰى قَيْدٍ اٰخَرَ وَ هُوَ اَنْ يَّكُوْنَ الْكَلَامُ الْمُوْجَبُ تَامًّا بِاَنْ يَّكُوْنَ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ مَذْكُوْرًا فِيْهِ لِيَخْرُجَ

حاجت دلته بل قید ته او هغه دا چې وي کلام موجب تام چې وي مستثنی منه مذکور په دې کې د دې د پاره چې خارج

نَحْوُ قَرَاْتُ اِلَّا يَوْمَ كَذَا فَاِنَّهٗ مَنْصُوْبٌ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ لَا عَلَى الْاِسْتِثْنَاءِ لِاَنَّ الْكَلَامَ فِيْ كَوْنِهٖ

شي دا مثال لکه قرأت الا یوم کذا څکه دا منصوب وي بنابر ظرفیت نه بنابر استثناء څکه کلام په کید و د دې کې

مَنْصُوْبًا مُطْلَقًا لَا فِيْ كَوْنِهٖ مَنْصُوْبًا عَلَى الْاِسْتِثْنَاءِ بِدَلِيْلِ قَوْلِهٖ اَوْ كَانَ بَعْدَ خَلَا وَ عَدَا اِلَّا

منصوب مطلق نه په کید و د دې کې منصوب بنابر استثنا په دلیل د دې قول د مصنف سره او کان بعد خلا و عدا مګر

اَنْ يُّقَالَ الْحَاجَةُ اِلٰى هٰذَا الْقَيْدِ اِنَّمَا هُوَ لِاِخْرَاجِ مِثْلِ قُرِئَ اِلَّا يَوْمَ كَذَا فَاِنَّهٗ مَرْفُوْعٌ

چې وویل شي چې ضرورت د دې قید ته دا دي د پاره د خارجولو د دې مثال لکه قرئ الا یوم کذا څکه دا مرفوع دي

وُجُوْبًا لَا مَنْصُوْبٌ.

وجوبا نه منصوب.

خلاصه دمتن : مستثنی په اعتبار داعراب سره په څلور (۴) قسمه دي : (۱) نصب واجب. (۲) دواړه وجهې جائز. (۳) اعراب په اعتبار دعواملو سره. (۴) مجرور.

اغراض دجامي : وهو منصوب : په دې عبارت سره شارح دمستثنی اول قسم بیانوي چې ددې حاصل دادې چې کله مستثنی د الا غیر صفتیه نه وروستو په کلام موجب کې واقع وي نو داپه واجبي طور باندې منصوب وي .

اى المستثنى : په دې عبارت سره شارح د هُوَ ضمیر مرجع بیانوي چې ددې مرجع مطلق مستثنی ده .

حیث علم : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مستثنی مطلق خو په ماقبل کې مذکور نه ده نو دې طرف ته ضمیر راجع کیدل به څنګه صحیح وي ؟.

جواب : مطلق مستثنی خو معلوم شوي ده اول ددې وجې نه چې ددې تصور بوجهٍ ما معلوم شوي ده اودغه وجه دتقسیم دپاره صحیح وه دویم ددې وجې نه چې دمستثنی ددوه قسمونو د تعریف نه مطلق دمستثنی تعریف ضمناً معلوم شوي دي چې مستثنی هغه ده کومه چې د اِلاَّ او ددې دنظائرو نه پس واقع وي برابره خبره ده که د متعدد نه ویستلي شوي وي اویا نه وي .

وجوباً : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمصنف قول وهو منصوب او وروستي قول یعني ویجوز فیه النصب په دې کې څه فرق نشته دي ځکه چې په دواړو کې دنصب ذکر دي نو ددې تقابل څنګه صحیح شو ؟

جواب : دلته دنصب نه مراد وجوباً دي اوهلته دنصب نه مراد جوازاً دي نو لهذا تقابل صحیح شو .

واقعاً : په دې عبارت سره شارح بیان دترکیب کوي د واقعاً په اضافه کولو سره یې دې خبرې طرف ته اشاره وکړه چې وروستو د الا نه ددې متعلق محذوف دي چې واقعاً دي اوهغه دکانَ خبر دي .

لا بعد غیر : په دې عبارت سره شارح دا بیانوي چې د الا نه وروستو قید احترازي دي دهغه استثناء احتراز دي کوم چې د غیر ، سوا نه وروستو واقع کیږي .

قيده به: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: الا لره په غير صفتيه قيد سره دمقيد کولو هيڅ فائده نشته دي ځکه چې هغه اسم کوم چې د الا صفتيه نه وروستو واقع وي نو هغه مستثنى نه وي.

جواب: هغه لفظ کوم چې د الا صفتيه نه وروستو واقع وي اګرچې هغه مستثنى نه وي ليکن مصنف ددې اضافه وکړه چې ذهول ونه شي.

اى ليس: په دې عبارت سره شارح دموجب معنى بيانوي چې کلام موجب هغه دي په کوم کې چې نفي، نهي او استفهام نه وي، مثال لکه جاءني القوم الا زيداً.

واحترز به: په دې عبارت سره شارح دکلام موجب فائده بيانوي په دې سره دهغه مستثنى نه احتراز دي کوم چې په کلام غير موجب کې واقع وي ځکه چې هغه واجب النصب نه وي.

ولا حاجة: په دې عبارت سره غرض دشارح په بعضې نحويانو يعنې په علامه فاضل هندي وغيره باندې ردکول دي چې بعضې نحويانو ويلي دي چې مصنف لره په کار وو چې ديوبل قيد اضافه يې کړي وي هغه داچې کلام موجب تام وي په دې طريقې باندې چې په دې کې مستثنى منه مذکور وي. قرأت الا يوم کذا په دې سره خارج کيدو ځکه چې په دې کې يوم کذا د الا غير صفتيه نه وروستو په کلام موجب کې واقع دي حالانکه منصوب على الاستثناء نه ده بلکه منصوب على الظرفية دي، شارح دلته ددې رد وکړو چې ددې قيد څه ضرورت نشته ځکه چې ددې قيد ضرورت په هغه وخت کې وو کله چې بحث منصوب على الاستثناء کې وي اودلته بحث په مطلق منصوب کې دي نه منصوب على الاستثناء کې نه دي ددې دليل دمصنف قول اوکان بعد خلا الى آخره دي ځکه چې د خلا، عدا نه وروستي اسم دمفعول به په بناء باندې منصوب وي داستثناء په بناء باندې منصوب نه وي.

الا ان يقال: په دې عبارت سره غرض دشارح په بعضې نحويانو باندې ردکول دي اوپه دوي باندې اعتراض کول دي:

اعتراض: اګرچې دذکر شوي اخراج دپاره ددې قيد داضافي ضرورت نه وو ليکن دې اليوم لره دخارج کيدو دپاره ددې قيد بياضرورت دي چې قرئ الا يوم کذا نه وروستو واقع دي ځکه چې داد الا غير صفتيه نه وروستو په کلام موجب کې واجب دي حالانکه هغه منصوب نه دي

بلکه مرفوع دي د نائب فاعل په بناء باندې

جواب : د مصنف د طرف نه داجواب ورکړي شوي دي چې مصنف د دې دوه مثالونو داخراج د پاره دا قید نه دي لړولي چې دا د هغه قاعدې نه په منزله د استثناء دي ځکه چې دا مابعد د مصنف قول ويعرب على حسب العوامل کې داخل دي.

د مستثنى د منصوب عامل بيان :

وَ الْعَامِلُ فِيْ نَصْبِ الْمُسْتَثْنٰى اِذَا كَانَ مَنْصُوْبًا عَلَى الْاِسْتِثْنَاءِ عِنْدَ الْبَصْرِيَّةِ الْفِعْلِ الْمُتَقَدِّمُ اَوْ مَعْنَى الْفِعْلِ
اوعامل په نصب د مستثنى کې چې کله وي منصوب بنابر استثناء په نزد د بصريانو فعل متقدم دي يامعنى د فعل
بِتَوَسُّطِ اِلَّا لِاَنَّهُ شَيْءٌ يَتَعَلَّقُ بِالْفِعْلِ اَوْ مَعْنَاهُ تَعَلُّقًا مَعْنَوِيًّا
په توسط د الاځکه چې دا داسې څيزدي چې د دې تعلق وي د فعل اويا د معنى د فعل پورې په تعلق معنوي سره
اِذَ لَهُ نِسْبَةٌ اِلَى مَا نُسِبَ اِلَيْهِ اَحَدُهُمَا وَ قَدْ جَاءَ
ځکه دا منسوب دي داسې څيزته چې منسوب شوې دې طرف ته يو د دې دواړونه اوپه تحقيق سره راغلي مستثنى
بَعْدَ تَمَامِ الْكَلَامِ فَشَابَهَ الْمَفْعُوْلُ.
پس د تمام والي د کلام نه نومشابه شو د مفعول سره.

خلاصه د متن : په دې عبارت کې صاحب د کافيه د مستثنى د منصوب کيدو د عامل بيان کوي.

اغراض د جامي : <u>والعامل</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د مستثنى د منصوب عامل بيانول ي کله چې مستثنى د استثناء په بناء باندې منصوب وي نو د بصري د نحويانو په نزد په دې کې عامل ناصب د فعل په معنى کې وي چې د الا د توسط نه په مستثنى کې عامل وي.

<u>لانه</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د فعل او معنى فعل په مستثنى کې د عامل کيدو وجه بيانول دي چې د مستثنى د فعل او معنى فعل سره معنوي تعلق دي ځکه چې د مستثنى نسبت د مستثنى منه طرف ته کيږي کوم چې فاعل وي همدا رنګې د فعل او د معنى د فعل نسبت هم مستثنى منه (فاعل) طرف ته کيږي لهذا د مستثنى منه تعلق هم د فعل او د معنى د فعل سره وي په بل عبارت سره مستثنى جزء وي مستثنى منه يعنې فاعل او مستثنى منه (فاعل) جزء وي د فعل يوه بله قاعده ده چې جزء الجزء للشئ جزء لذلک الشيء چې جزء د جزء د شي دا جزء وي د دې شئ د پاره ، نو په دې اعتبار سره مستثنى د فعل د پاره دا په منزله د جزء جوړيږي لکه

څنګه چې فاعل په منزله دجزء دفعل وي ځکه چې فعل په دې کې عامل وي لکه څنګه چې په فاعل کې عامل وي

فائده : شارح دجامي په دې قول سره په علامه عبدالقاهر جرجاني رحمه الله باندې هم رد کوي چې دا وايي چې په مستثنی منه کې عامل کلمه دالا ده نو شارح دجامي ددې رد وکړو چې عامل فعل دې ځکه چې قوي کیدو سره ضعیف ته عمل ورکول جائز نه دي .

وقد جاء بعد تمام الكلام : په دې عبارت سره غرض دشارح دمستثنی منه دمنصوب کیدو وجه بیانوي په دې باندې نصب ځکه وي چې دا کلام دتام کیدو نه وروستو واقع کیږي لکه څنګه چې مفعول دفعل دفاعل سره دتام کیدو نه وروستو واقع کیږي پس دا دمفعول مشابه شو او مفعول منصوب وي نو لهذا مستثنی به هم منصوب وي .

دمستثنی دمنصوب کیدو دویم صورت :

اَوْ مُقَدَّماً عَطْفٌ عَلٰى قَوْلِهِ بَعْدِ اِلَّا اَيِ الْمُسْتَثْنٰى مَنْصُوْبٌ وُجُوْباً اِذَا كَانَ الْمُسْتَثْنٰى
اویامقدم وي داعطف دی په دې قول دمصنف باندې چې بعدالایعني مستثنی منصوب وي وجوباچې کله وي
مُقَدَّماً عَلَى الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ سَوَاءٌ كَانَ فِيْ كَلَامٍ مُوْجَبٍ اَوْ غَيْرِهِ نَحْوُ جَاءَنِيْ اِلَّا
مستثنی مقدم په مستثنی منه باندې برابره خبره ده که په کلام موجب کې وي او که په غیر موجب کې لکه جاءني الا
زَيْداً نِ الْقَوْمِ وَمَا جَاءَنِيْ اِلَّا زَيْداً اَحَدٌ لِاِمْتِنَاعِ تَقْدِيْمِ الْبَدَلِ عَلَى الْمُبْدَلِ مِنْهُ.
زیداً ن القوم وماجاءني الازيداً احد د وجې د امتناع د تقدیم د بدل په مبدل منه باندې .

خلاصه دمتن : دمستثنی منصوب وجوباً دویم صورت ذکر کوي چې کله مستثنی په مستثنی منه باندې مقدم وي نو په دې صورت کې هم مستثنی په وجوبي طور باندې منصوب وي .

اغراض دجامي : عطف على قوله : په دې عبارت سره شارح بیان دترکیب کوي چې مقدماً په بعد الا باندې عطف دي .

اى المستثنى : په دې عبارت سره شارح دعطف حاصل بیانوي مستثنی وجوبي طور باندې په هغه وخت کې منصوب وي چې کله دا دمستثنی منه نه مقدم وي .

سواء : په دې عبارت سره شارح بیان دتعمیم کوي برابره خبره ده چې په کلام موجب کې وي یا په کلام غیر موجب کې د کلام موجب مثال لکه جاءني الا زيد القوم ، د کلام غیر موجب مثال

لکه ماجاءني الا زيد احد .

لامتناع : په دې عبارت سره شارح په دې صورت کې د نصب د وجوب وجه بيانوي چې که نصب واجب نه وي نو دا به د مستثنى منه تابع وي د بدليت په بناء باندې حالانکه بدل په مبدل منه باندې نه شي مقدم کيدي ځکه چې بدل تابع وي او تابع په متبوع باندې نه شي مقدم کيدې کله چې نصب على البدل جائز نه وي نو نصب على الاستثناء به واجب وي .

د مستثنى د منصوب کيدو دريم صورت :

اَوْ مُنْقَطِعًا اَيِ الْمُسْتَثْنٰى مَنْصُوْبٌ اَيْضاً وُجُوْباً اِذَا كَانَ مُنْقَطِعًا بَعْدَ اِلَّا نَحْوُ مَا فِي الدَّارِ اَحَدٌ اِلَّا حِمَارًا فِي الْاَكْثَرِ
يا منقطع وي يعنې مستثنى منصوب وي وجوبا کله چې منقطع وي پس د الا نه لکه مافي الدار احد الا حمارا په اکثر
اَىْ فِيْ اَكْثَرِ اللُّغَاتِ وَهِيَ لُغَةُ اَهْلِ الْحِجَازِ فَاِنَّهُمْ قَبَائِلُ كَثِيْرُوْنَ اَوْ فِيْ اَكْثَرِ مَذَاهِبِ النُّحَاةِ فَاِنَّ
کې يعنې په اکثر لغات کې او هغه لغت د اهل حجاز دې ځکه دوي قبائل دي ډير او يا په اکثر مذاهبو د نحويانو ځکه
اَكْثَرَهُمْ ذَهَبُوْا اِلَى اللُّغَةِ الْحِجَازِيَّةِ فَالْمُنْقَطِعُ مُطْلَقًا مَنْصُوْبٌ عِنْدَهُمْ اِذْ لَا يُتَصَوَّرُ فِيْهِ
اکثر د دوي ذهاب کړې لغت د حجازيو ته نو منقطع مطلقا منصوب دې د دوي په نزد ځکه نه دې متصور په دې کې
اِلَّا بَدَلُ الْغَلَطِ وَ هُوَ .لَا يَصْدُرُ اِلَّا بِطَرِيْقِ السَّهْوِ وَ الْغَفْلَةِ وَ الْمُسْتَثْنَى الْمُنْقَطِعُ اِنَّمَا يَصْدُرُ بِطَرِيْقِ
مګر بدل غلط او دا نه صادريږي مګر په طريقې د سهوې او غفلت سره او مستثنى منقطع د اصادريږي په طريقې د
الرَّوِيَّةِ وَ الْفَطَانَةِ وَ اَمَّا بَنُوْ تَمِيْمٍ فَقَدْ قَسَّمُوا الْمُنْقَطِعَ اِلٰى قِسْمَيْنِ اَحَدُهُمَا مَا يَكُوْنُ قَبْلَهُ
طريقې د فکر او د عقل سره او هرچې بنو تميم دي نو دوي تقسيم کړې منقطع دوه قسمونو ته يو هغه چې وي مخکې
اِسْمٌ يَصِحُّ حَذْفُهُ نَحْوُ مَا جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَاراً فَهٰهُنَا يُجَوِّزُوْنَ الْبَدَلَ وَ ثَانِيْهِمَا
د دې نه اسم چې صحيح وي حذف د دې لکه ماجاءني القوم الا حمارا نو دلته جائز کوي بنو تميم بدل او دويم هغه دې چې
مَا لَا يَكُوْنُ قَبْلَهُ اِسْمٌ يَصِحُّ حَذْفُهُ فَهُمْ هٰهُنَا يُوَافِقُوْنَ الْحِجَازِيِّيْنَ فِيْ اِيْجَابِ
نه وي مخکې د دې نه داسې اسم چې صحيح وي حذف د دې نو موږ دلته موافقه کوو د حجازيانو سره په واجب
نَصْبِهٖ كَقَوْلِهٖ تَعَالٰى لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ اِلَّا مَنْ رَّحِمَ اَىْ رَحِمَهُ اللّٰهُ فَمَنْ
کولو د نصب د مستثنى کې لکه دا قول د الله تعالى لاعاصم اليوم من امر الله الا من رحم يعني من رحمه الله نو هغه
رَحِمَهُ اللّٰهُ هُوَ الْمَرْحُوْمُ الْمَعْصُوْمُ فَلَا يَكُوْنُ دَاخِلًا فِي الْعَاصِمِ فَيَكُوْنُ مُنْقَطِعًا.
څوک چې رحم وکړي الله په هغه باندې نو دا مرحوم او معصوم وي نو دا نه داخل په عاصم کې نو وي به دا منقطع.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د کافيې دا بيانوي چې کله مستثنى منقطع وي نو په دې وخت کې مستثنى وجوبي طور باندې په منصوب وي په اکثر لغت کې مثال لکه ماني

الدار احد الا حماراً

اغراض دجامي : ای في الاکثر : ددې اکثر په باره کې دوه (۲) احتماله دي

(۱) داکثر نه مراد اکثر لغات دي

(۲) یاددې نه مراد اکثر استعمال دي

ای في اکثر اللغات وهي الخ : په دې عبارت سره شارح بیان دمصداق کوي چې داکثر لغات مصداق داهلِ حجازو لغت دي .

فافهم : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : اهلِ لغت خو دوه فریقه دي : (۱) اهلِ حجاز . (۲) بنو تمیم . نوداهل حجازو دپاره اکثریت څنګه ثابت شو ؟

جواب : داهل حجازو ډیر زیات قبائل دي اودلته اکثریت دقبائلو په اعتبار سره دي .

اوفي اکثر مذاهب : په دې عبارت سره شارح ددویم مصداق بیان کوي چې داکثر مصداق کې دویم احتمال دادې چې ددې نه مراد اکثر المذاهب دي ځکه چې اکثر نحویان دحجازو دلغت طرف ته تللي دي .

الحاصل : داهلِ حجازو په نزد مستثنی منقطع مطلقاً منصوب وي دمطلقاًنه مراد دادې چې ددې نه مخکې داسې اسم وي چې هغې لره حذف کول جائز وي یاددې نه مخکې داسې اسم نه وي چې هغې لره حذف کول جائز وي .

اذلا یتصور : په دې عبارت سره غرض دشارح ددې دمنصوب کیدو وجه بیانوي چې مستثنی منقطع کې غیر دبدل الغلط نه څه بل صورت نه شي متصور کیدي اودا بدل الغلط هم نه شي جوړیدي ځکه چې بدل الغلط په طریقې دسهوې اوغفلت سره صادریږي اومستثنی منقطع دسوچ اوفکر نه وروستو صادریږي اوپه دې دواړو کې منافات دي کله چې دبدل والاعراب ممکن نه دي نو نصب متعین شو .

واما بنو تمیم : په دې عبارت سره شارح داکثر مقابل بیانوي دبنوتمیم په نزد کله چې مستثنی منقطع وي نو دې لره په دوه (۲) قسمه تقسیم کوي .

(۱) دمستثنی نه مخکې داسې اسم وي چې دې لره حذف کول جائز وي .

(۲) ددې نه مخکې داسې اسم نه وي چې هغې لره حذف کول جائز وي که دمستثنی نه مخکې

داسې اسم وي چې هغې لره حذف کول جائز وي نو دې لره بدل جوړول جائز کوي مثال ماجاء
القوم الا حماراً په دې کې حماراً بدل دي اوکه چیرته دمستثنی نه مخکې داسې اسم نه وي چې
هغې لره حذف کول جائز دي نو هغوي داهل حجاز د موافقت د وجې نه په دې باندې نصب
واجب کوي مثال دالله تعالی داقول دي چې لا عاصم اليوم من امر الله الا من رحم ، په دې کې
عاصم لره حذف کول جائز نه دي لهذا من رحم په طور د استثناء نصب به واجب وي .

اى من رحمه الله: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : رحم خو ياد من صله ده يا ددې صفت دي اوهغه جمله کومه چې صفت يا جمله وي
هغې کې عائد کيدل ضروري وي اوپه دې کې عائد نشته دي .

جواب : دلته عائد محذوف دي تقدير دعبارت من رحمه الله دي او د ةُ ضمير مرجع الله تعالى
دي لهذا اشکال رفع شو .

فمن رحمه الله: په دې سره دمستثنی دمنقطع کیدو وجه بیانوي چې د من رحمه الله نه مر
معصوم اومرحوم دي لهذا داپه عاصم کې داخل نه شو نو دا مستثنی منقطع شوه .

د خلا او د عدا نه پس د مستثنی د منصوب کیدو ذکر :

اَوْ كَانَ بَعْدَ خَلَا وَ عَدَا اَيِ الْمُسْتَثْنٰى مَنْصُوْبٌ اَيْضًا وُجُوْبًا اِذَا كَانَ بَعْدَ عَدَا مِنْ عَدَا يَعْدُوْ عَدْواً

اویاوي پس د خلااوعدانه یعني مستثنی منصوب وي همدارنګې وجوباچې کله وي پس د عداد عدا یعدوعدوانه

اِذَا جَاوَزَهٗ مِثْلُ جَاءَنِي الْقَوْمُ عَدَا زَيْداً اَوْ بَعْدَ خَلَا مِنْ خَلَا يَخْلُوْ خُلُوًّا نَحْوُ جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْداً وَهُ

چې کله ددې نه تجاوزوکړي لکه جاء ني القوم عدازيدااوياپس د خلانه د خلايخلوخلوانه لکه جاء ني القوم خلازيدااود

فِي الْاَصْلِ لَازِمٌ يَتَعَدّٰى اِلَى الْمَفْعُوْلِ بِمَنْ نَحْوُ خَلَتِ الدِّيَارِ مِنَ الْاَنِيْسِ وَ قَدْ تَضَمَّنَ

په اصل کې لازم دي اوکله متعدي وي مفعول طرف ته په من سره لکه خلت الديار من الانيس اوکله متضمن وي

مَعْنٰى جَاوَزَ اَوْ يُحْذَفُ مِنْ وَ يُوْصَلُ الْفِعْلُ فَيَتَعَدّٰى بِنَفْسِهٖ وَ الْتَزَمُوْا

معنی د جاوزته اویاحذف کولې شي من اورسوي خلافعل مفعول به ته نو خلامتعدي کیږي په خپله اوالتزام کړې

هٰذَا التَّضَمُّنَ اَوِ الْحَذْفَ وَ الْاِيْصَالَ فِيْ بَابِ الْاِسْتِثْنَاءِ لِيَكُوْنَ مَابَعْدَهَا مَنْصُوْبًا كَمَا فِيْ صُوْرَةِ

ددې تضمن اویاحذف اوایصال په باب داستثناء کې ددې دپاره چې وي مابعد ددې منصوب لکه په صورت د

الْمُسْتَثْنٰى بِاِلَّا الَّتِيْ هِيَ اُمُّ الْبَابِ وَ فَاعِلُهُمَا ضَمِيْرٌ رَاجِعٌ اِمَّا اِلٰى مَصْدَرِ الْفِعْلِ

مستثنی په الا کې هغه چې هغه اصل وي ددې باب اوفاعل ددې دواړوضمیر دی چې راجع وي یامصدر د فعل

الْمُتَقَدِّمِ اَوْ اِلَى اِسْمِ الْفَاعِلِ مِنْهُ اَوْ اِلَى بَعْضٍ مُطْلَقٍ مِنَ الْمُسْتَثْنَى مِنْهُ وَ التَّقْدِيْرِ
متقدم ته او یا اسم فاعل خود دې د فعل متقدم نه او یا بعضې مطلق د مستثنی منه طرف ته او تقدیر د عبارت به داسې
جَاءَنِي الْقَوْمُ عَدَا اَوْخَلَا مَجِيْئُهُمْ اَوِ الْجَائِيْ مِنْهُمْ اَوْ بَعْضٌ مِنْهُمْ زَيْدٌ وَهُمَا فِيْ مَحَلِّ النَّصَبِ عَلَى الْحَالِيَّةِ وَ
وي جاءني القوم عدا او خلا مجيئهم او یا الجائي منهم او بعض منهم زیدا او دا دواړه په محل د نصب کې دي بنا بر حالیت او
لَمْ يُظْهَرْ مَعَهُمَا قَدْ لِيَكُوْنَا اَشْبَهَ بِاِلَّا الَّتِيْ هِيَ الْاَصْلُ فِيْ بَابِ الْاِسْتِثْنَاءِ
ظاهر یې نه کړو دې سره قد دې وجې نه چې شي زیات مشابه د الا سره هغه چې هغه اصل دي په باب د استثناء
فِي الْاَكْثَرِ اَيِ النَّصَبِ بِهِمَا اِنَّمَا هُوَ فِيْ اَكْثَرِ الْاِسْتِعْمَالَاتِ لِاَنَّهُمَا فِعْلَانِ مَاضِيَانِ كَمَا
کې په اکثر کې یعنې نصب د دې دواړو په ذریعه دا په اکثر استعمالاتو کې دي ځکه دا دواړه فعل ماضي دي لکه
عَرَفْتَ وَ قَدْ اُجِيْزَ الْجَرُّ بِهِمَا عَلَى اَنَّهُمَا حَرْفَا جَرٍّ
څنګه چې تا پیژندلي دي او په تحقیق سره اجازه یې ورکړې د جر د دې دواړو په ذریعه چې دا دواړه حرف جر دي
قَالَ السِّيْرَافِيْ لَمْ اَعْلَمْ خِلَافًا فِيْ جَوَازِ الْجَرِّ بِهِمَا اِلَّا اَنَّ النَّصَبَ
سیرافي ویلي دي چې ما ته نه دي معلوم څه اختلاف په جواز د جر کې په دې دواړو سره مګر دا چې نصب د دې
بِهِمَا اَكْثَرُ.
دواړو په ذریعه اکثر دي.

خلاصه د متن : صاحب د کافیې وایي چې مستثنی کله د خلا او عدا نه وروستو واقع وي نو دا به هم په وجوبي طور باندې منصوب وي د عدا مثال لکه جاءني القوم عدا زیدا او د خلا مثال لکه جاءني القوم خلا زیداً ، او د خلا او عدا سره نصب اکثر الاستعمال دي بعضې استعمال د دې نصب نه علاوه دي چې د هغې تفصیل شارح کوي .

اغراض د جامي : من عدا: په دې عبارت سره شارح د باب او د صیغې تحقیق کوي چې عدا داد عدا یعدو نه ماخوذ دي په معنی د تجاوز سره دي .

من خلا: په دې عبارت سره هم شارح بیان د باب او تحقیق د صیغې کوي چې خلا داد خلا یخلو نه ماخوذ دي په معنی د خالي کیدو سره او عدا مفعول طرف ته متعدي بنفسه دي .

وهو في الاصل: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : د خلا یخلو باب لازمي دي نو دا مابعد . یداً لره د مفعولیت په بناء باندې څنګه نصب ورکوي ؟.

جواب : خلا په اصل کې لازمي دي لیکن دا مفعول طرف ته متعدي کیږي په دري (۳) طریقو سره

(۱) دا مفعول طرف ته د **من** په ذریعې سره متعدي کیږي مثال لکه **خلت الديار من الانيس**

(۲) یا په خلا کې د **جاوز** د معنی تضمین کیږي په دې وخت کې به هم دا متعدي بنفسه وي

(۳) یا کله کله **مِن** لره حذف کولې شي فعل لره مفعول سره یوځاې کوي په دې وخت کې به خلا **متعدي بنفسه** وي دې ته حذف او ایصال وایي .

والتزموا : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : خلا په اصل کې لازمي باب دي د مفعول تقاضا نه کوي ځکه چې د دې مابعد منصوب په کار نه وو ځکه چې که دې لره د **مِن** په ذریعې سره متعدي شي نو د دې مدخول به مجرور وي منصوب به نه وي که صنعت تضمین اختیار کړي شي نو دا به د **تجاوز** معنی لره متضمن شي لیکن تضمین اختیارول دامور لازمو څخه نه دي که خوښه یې وي نو اختیاروي او که خوښه یې نه وي نو نه دي اختیاروي لهذا دا ویل چې **عدا** د **خلا** نه وروستو مستثنی وجوباً منصوب وي دا صحیح نه دي

جواب : په باب د استثناء کې د تضمین او د حذف او د ایصال التزام یې ځکه کړي چې د خلا مابعد مستثنی د الا صورت او شکل او مشابهت اختیار کړي کوم چې په باب د استثناء کې اصل او دمور حیثیت لري د دې مشابهت فائده به دا وي چې د **خلا** او **عدا** په مستثنی باندې هم نصب واجب شي د **مستثنی الا** په شان .

وفاعلهما : په دې عبارت سره شارح بیان د ترکیب کوي چې د **خلا** او **عدا** د ضمیر په مرجع کې دري (۳) احتمالات دي : (۱) ضمیر به راجع وي هغه مصدر طرف ته کوم چې د فعلِ مقدم نه معلومیږي . (۲) یا به ضمیر راجع وي هغه اسم فاعل طرف ته کوم چې د فعلِ مقدم نه معلومیږي . (۳) یا به ضمیر په مستثنی منه کې مطلق بعض طرف ته راجع وي مثال لکه **جاءني القوم عدا زيداً** کې د اول احتمال په صورت کې تقدیر د عبارت به داسې وي چې **جاءني القوم عدا مجيئهم زيداً** . که ضمیر راجع وي اسم فاعل طـ ف ته د د دې مثال لکه **جاءني القوم عدا الجائي منهم زيداً** . که ضمیر راجع وي مطلق بعض طرف ته نو د دې مثال لکه **جاءني القوم عدا بعض منهم**

زيداً

دخلا مثالونه: (١) كه ضمير مصدر طرف ته راجع وي ددې مثال لكه جاء ني القوم خلا مجيئهم زيداً

(٢) كه ضمير اسم فاعل طرف ته راجع وي نو ددې مثال لكه جاء ني القوم خلا الجائي منهم زيداً.

(٣) كه ضمير راجع وي په مستثنى منه كې مطلق بعض طرف ته نو ددې مثال لكه جاء ني القوم خلا بعض منهم زيداً.

وهما في محل النصب: په دې عبارت سره شارح بيان داعراب كوي جاء ني القوم عدا زيداً او جاء ني القوم خلا زيداً كې خلا او عدا دحال په بناء باندې منصوب دي.

ولم يظهر: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي:

سوال: خلا او عدا ماضي دي او قاعده داده چې كله ماضي مثبت حال واقع وي نو په دې باندې قَدْ دحول ضروري دي او دلته خو قَدْ نشته.

جواب: البته قَدْ مقدر دي خو دحمله ظاهر نه كړو چې د الا سره مشابه شي كوم چې په باب د استثناء كې اصل دي.

لانهما: په دې عبارت سره شارح دنصب وجه بيانوي دا دواړه ماضي دي لهذا ددې نه وروستو مستثنى دمفعوليت په بناء باندې به منصوب وي في الاكثر يعني په اكثر استعمال كې.

وقد اجيز: په دې عبارت سره شارح داكثر مقابل بيانوي چې بعضې نحويانو خلا او عدا نه وروستو جر لره جائز كړي دي دا په دې بنياد باندې چې دا دواړه حرف جر دي.

قال السيرافي: په دې عبارت سره شارح بيان دتاكيد كوي چې سيرافي ويلي دي چې زه خلا او عدا دجر په جواز كې اختلاف نه پيژنم البته نصب اكثري دي.

د ماخلا او ماعدانه پس مستثنى:

وَمَا خَلَا وَمَا عَدَا اَيِ الْمُسْتَثْنٰى مَنْصُوْبٌ اَيْضاً وُجُوْبًا اِذَا كَانَ بَعْدَ مَا خَلَا وَمَا عَدَا لِاَنَّ مَا فِيْهِمَا
ود ماخلا وماعدانه پس يعني مستثنى منصوب وي همدارنګې وجوبا چې كله وي پس د ماخلا وماعدا څكه ما په
مَصْدَرِيَّةٌ مُخْتَصَّةٌ بِالْاَفْعَالِ نَحْوُ جَاءَنِيْ قَوْمٌ مَا خَلَا زَيْداً وَمَا عَدَا عَمْراً تَقْدِيْرِهِ خُلُوَّ زَيْدٍ وَ عَدْوَ
دې دواړو كې مصدريه ده او خاص ده ترافعالو پورې لكه جاءني قوم ماخلا زيدا وماعدا عمرا تقدير ددې خلو زيد وعدو

عَمْرٍو بِالنَّصَبِ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ بِتَقْدِيْرِ مُضَافٍ اَىْ وَقْتَ خُلُوِّهِمْ اَوْ خُلُوِّ مَجِيْئِهِمْ مِنْ زَيْدٍ وَوَقْتَ مُجَاوَزَتِهِمْ اَوْ
عمرو په نصب سره بنابر ظرفيت په تقدير د مضاف سره يعني وقت خلوهم او خلو مجيئهم من زيد او وقت مجاوزتهم او
مُجَاوَزَةِ مَجِيْئِهِمْ عَمْراً اَوْ عَلَى الْحَالِيَّةِ بِجَعْلِ الْمَصْدَرِ بِمَعْنَى اِسْمِ الْفَاعِلِ اَىْ جَاءُوْا خَالِيًا بَعْضُهُمْ اَوْ مَجِيْئُهُمْ
مجاوزة مجيئهم عمرا او يا بنابر حاليت په گرځولو د مصدر په معنى د اسم فاعل يعني جاءوا خاليا بعضهم او مجيئهم
مِنْ زَيْدٍ وَ مُجَاوِزاً بَعْضُهُمْ اَوْ مَجِيْئُهُمْ عَمْراً وَ عَنِ الْاَخْفَشِ اَنَّهُ اَجَازَ الْجَرَّ بِهِمَا عَلَى اَنَّ
من زيد و مجاوزا بعضهم او مجيئهم عمرا او د اخفش نه نقل دي چې دې جائز گڼلي جر په دې دواړو باندې بناء په دې
مَا فِيْهِمَا زَائِدَةٌ وَ لَعَلَّ هٰذَا لَمْ يَثْبُتْ عِنْدَ الْمُصَنِّفِ اَوْ لَمْ يَعْتَدَّ بِهٖ وَ
چې ما په دې کې زائده دي او شايد چې دا نه وي ثابت په نزد د مصنف او يا يې اعتماد نه وي کړي په دې باندې نو
لِهٰذَا لَمْ يَقُلْ فِي الْاَكْثَرِ.
د دې وجې نه يې ونه ويل في الاكثر.

خلاصه دمتن : صاحب د کافيې وايي چې کله مستثنى د ماخلا او ماعدا نه وروستو واقع وي نو په دې وخت کې هم مستثنى په وجوبي طور باندې منصوب وي .

اغراض دجامي : لان ما فيهما مصدرية : په دې عبارت سره شارح د نصب وجه بيانوي ، په ماخلا او ماعدا کې ما مصدريه ده کومه چې د افعالو سره خاص ده لهذا ماخلا او ماعدا به فعل وي او د دې مابعد مفعوليت په بناء باندې به وجوباً منصوب وي مثال لکه جاءني القوم ماخلا زيداً او جاءني القوم ماعدا زيداً د دې تقدير د عبارت داسې دي چې جاءني القوم خلو زيد او جاءني القوم عدو زيد .

بالنصب : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د خلو زيد او عدو عمرو په ترکيب کې دوه (۲) احتمالات دي : (۱) د ظرفيت په بناء باندې به منصوب وي (۲) د حاليت په بناء باندې به منصوب وي او دا دواړه احتمالات صحيح نه دي . اول احتمال خو ځکه صحيح نه دي چې ظرف په دوه (۲) قسمه دي : (۱) ظرف زمان . (۲) ظرف مکان . او په خلو او عدو کې يو هم نشته . د حاليت والا احتمال ځکه باطل دي چې حال په ذوالحال باندې حمل کيږي دلته د خلو او عدو حمل په قوم باندې صحيح نه دي

جواب : دلته دواړه احتمالات صحيح دي په اول احتمال باندې اشکال وو چې خلو عدو نه ظرف زمان دي او نه ظرف مکان دي

ددې جواب دادې چې دلته **وقت** مضاف محذوف دي **جاءني القوم خلو زيد** ددې تقدير عبارت داسې دي چې **جاءني القوم وقت خلوهم من زيد** كه چيرته ضمير راجع وي په مستثنى منه كې مطلق بعض طرف ته لكه **يا جاءني القوم وقت خلو مجيئهم من زيد** كه چيرته ضمير راجع وي مصدر طرف ته او همدارنګې **جاءني القوم عدو زيد** ددې په تقدير دعبارت كې هم دوه (۲) احتماله دي.

دوهم احتمال دادې چې دا منصوب دي بناء بر حاليت په دې باندې يو سوال واردېږي:

سوال: سوال داوو چې حال په ذوالحال باندې حمل كيږي اودلته حمل صحيح نه دي:

جواب: ددې جواب دادې چې مصدر داسم فاعل په معنى كې دي **جاءني القوم خلو عمرو** ددې تقدير دعبارت داسې دي چې **جاءني القوم خالياً بعضهم من زيد** كه ضمير راجع وي په مستثنى منه كې مطلق بعض طرف ته.

جاءني القوم خالياً مجيئهم من زيد، كه چيرته ضمير مصدر طرف ته راجع وي.

او**جاءني القوم عدو عمرو**، ددې تقدير دعبارت داسې دي چې **جاءني القوم مجاوزا بعضهم عمروا** كه ضمير په مستثنى منه كې مطلق بعض طرف ته راجع وي.

يا جاءني القوم مجاوزاً مجيئهم عمرا كه چيرته ضمير مصدر طرف ته راجع وي.

وعن الاخفش: په دې عبارت سره شارح داخفش دمذهب بيان كوي، دعلامه اخفش په نزد د **ما خلا** او **ماعدا** نه وروستو حرف جر هم جائز دي په دې بناء باندې چې **خلا** او **عدا** حروف جاره دي او **ما** زائده ده.

ولعل هذا: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي:

سوال: كله چې **ما خلا** او**ماعدا** كې هم داخفش اختلاف دي نو مصنف رحمه الله لره دلته كې هم **في الاكثر** ويل په كار وو لكه څنګه چې مخكې د **عدا** او **خلا** په باره كې يې **في الاكثر** ويلي وو.

جواب: كيدې شي چې دمصنف رحمه الله په نزد دا روايت ثابت نه وي. يا مصنف رحمه الله دې روايت لره قابل د اعتناء او قابل اعتبار يې نه وي ګڼرلې ددې وجې نه يې **في الاكثر** نه دي ويلي.

د ليس او د لايكون نه پس مستثنى :

وَ كَذَا الْمُسْتَثْنٰى مَنْصُوْبٌ بَعْدَ لَيْسَ نَحْوُ جَاءَنِي الْقَوْمُ لَيْسَ زَيْداً وَ بَعْدَ لَا يَكُوْنُ نَحْوُ سَيَجِيْءُ اَهْلُكَ لَا

او همدا رنګې مستثنى منصوب وي پس د ليس نه لکه جاءني القوم ليس زيداً او پس د لايكون نه لکه سيجئ اهلک لا

يَكُوْنُ بِشْراً وَ اِنَّمَا يَكُوْنُ النَّصَبُ بَعْدَهُمَا وَاجِبًا لِاَنَّهُمَا مِنَ الْاَفْعَالِ النَّاقِصَةِ النَّاصِبَةِ لِلْخَبَرِ وَ

يكون بشراً او وي به نصب پس د دې دواړو نه واجب ځکه دا دواړه د افعال ناقصو نه دي چې نصب ورکوي خبرته او

يَلْزَمُ اِضْمَارُ اسْمِهِمَا فِيْ بَابِ الْاِسْتِثْنَاءِ وَ هُوَ ضَمِيْرٌ رَاجِعٌ اِلَى اِسْمِ الْفَاعِلِ مِنَ الْفِعْلِ الْمَذْكُوْرِ

لازم دي اضمار د اسم د دې دواړو په باب د استثناء کې او هغه ضمير دي چې راجع دي اسم فاعل ته د فعل مذکور

اَوْ اِلَى بَعْضٍ مِنَ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ مُطْلَقًا وَ هُمَا فِي التَّرْكِيْبِ فِيْ مَحَلِّ النَّصَبِ عَلَى الْحَالِيَّةِ وَ اعْلَمْ

نه او يا بعضي د مستثنى منه طرف ته مطلقاً او دا دواړه په ترکيب کې په محل د نصب کې دي بنابر حاليت او پوه

اَنَّهُ لَا تَسْتَعْمَلُ هٰذِهِ الْاَفْعَالُ اِلَّا فِي الْمُسْتَثْنٰى الْمُتَّصِلِ الْغَيْرِ الْمُفَرَّغِ وَ لَا يُتَصَرَّفُ فِيْهِمَا

شه چې دا نه مستعمليږي دا افعال مګر په مستثنى متصل غير مفرغ کې دي او تصرف به نه شي کولې په دې

لِاَنَّهَا قَائِمَةٌ مَقَامَ اِلَّا وَ هِيَ لَا يُتَصَرَّفُ فِيْهِمَا.

کې ځکه چې دا قائم دي په ځاې د الا او د تصرف نه شي کولې به په کې .

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د کافيه دا بيانوي چې مستثنى د ليس او لايكون نه وروستو هم منصوب وي مثال لکه جاءني القوم ليس زيداً او سيجئ اهلک لايكون بشراً

اغراض د جامي : وانما يكون : په دې عبارت سره شارح د ليس او لايكون نه وروستو د مستثنى منصوب کيدو وجه بيانوي چې د ليس او د لايكون نه وروستو د مستثنى د منصوب کيدو وجه دا ده چې دا دواړه د افعال ناقصو نه دي او افعال ناقصه خپل خبر ته نصب ورکوي لهذا دې نه وروستو مستثنى د خبريت په بناء باندې به منصوب وي .

ويلزم : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په دې دليل سره دعوى نه ثابتيږي ځکه چې کيدې شي چې د ليس او لايكون نه پس د اسميت په بناء باندې مرفوع وي او د دې خبر محذوف وي .

جواب : په باب د استثناء کې ليس او لايكون د اسمونو اضمار لازم دي لهذا د دې په اسم کې ضمير مستتر وي نو لازماً د مابعد خبريت په بناء به منصوب وي .

وهو ضمير راجع : په دې عبارت سره شارح بيان د مرجع کوي چې د ضمير په مرجع کې دوه (۲)

احتماله دي

(۱) یا به ضمیر راجع وي اسم فاعل طرف ته کوم چې د فعل مذکور نه معلومیږي

(۲) یا به ضمیر راجع وي په مستثنی منه کې مطلق بعض طرف ته

وهما في التركيب: په دې عبارت سره شارح بیان د ترکیب کوي چې لیس او لایکون په خپله د حالیت په بناء باندې منصوب وي

واعلم: په دې عبارت سره شارح د فائدې بیان کوي چې ماعدا او ماخلا نه تر لایکون پورې دا ټول افعال فقط په مستثنی متصل غیر مفرغ کې استعمالیږي او په دې کې تصرف نه شي کیدي ځکه چې دا د الا قائم مقام دي او په الا کې د حرف په وجه تصرف نه شي کیدي . او کوم چې د دې قائم مقام دي په هغې کې هم تصرف نه شي کیدي

په کلام موجب کې د الا نه پس مستثنی :

وَ يَجُوْزُ فِيْهِ اَىْ فِي الْمُسْتَثْنٰى النَّصَبُ عَلَى الْاِسْتِثْنَاءِ وَيُخْتَارُ الْبَدَلُ عَنِ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ فِيْمَا بَعْدَ
او جائز دي په دې کې یعنې په مستثنی کې نصب بنابر استثناء او غوره دي بدل جوړول د مستثنی منه نه په مابعد
اِلَّا حَالٌ مِنَ الضَّمِيْرِ الْمَجْرُوْرِ اَىْ حَالَ كَوْنِ الْمُسْتَثْنٰى وَاقِعاً فِيْ مَحَلٍّ يَكُوْنُ
د الا کې دا حال دي د ضمیر مجرور نه یعنې په حال کون د مستثنی کې چې واقع وي په داسې محل کې چې وي
مُتَأَخِّراً عَنْ اِلَّا اِحْتِرَازًا عَمَّا اِذَا كَانَ وَقَعَ سَائِرِ اَدَوَاتِ الْاِسْتِثْنَاءِ مِثْلُ عَدَا وَخَلَا وَغَيْرِهِمَا فِيْ
وروسته د الا نه احتراز دي د هغه څه نه چې کله وي پس د ټولو حروفو د استثناء لکه عدا و خلا و غیر د دې دواړو نه په
كَلَامٍ غَيْرُ مُوْجِبٍ اِحْتِرَازٌ عَمَّا اِذَا وَقَعَ فِيْ كَلَامٍ مُوْجِبٍ فَاِنَّهٗ مَنْصُوْبٌ وُجُوْبًا كَمَا
کلام غیر موجب کې احتراز دي د هغه څه نه چې واقع وي په کلام موجب کې ځکه هغه منصوب وي وجوباً لکه
مَرَّ وَ الْحَالُ اَنَّهٗ قَدْ ذُكِرَ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ اِحْتِرَازٌ عَمَّا اِذَا لَمْ يُذْكَرِ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ فَاِنَّهٗ
مخکې تیر شو او حال دا چې ذکر شوې وي مستثنی منه احتراز دي د هغه څه نه چې نه وي ذکر مستثنی منه ځکه په
حِيْنَئِذٍ يُعْرَبُ عَلٰى حَسْبِ الْعَوَامِلِ وَ فِيْ بَعْضِ النُّسَخِ ذُكِرَ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ بِغَيْرِ وَاوٍ عَلٰى
دې وخت کې معرب دي په اعتبار د عواملو سره او په بعضې نسخو کې ذکر ده مستثنی په غیر د واو نه بنا په دې
اَنَّهٗ صِفَةٌ لِكَلَامٍ غَيْرِ مُوْجِبٍ اَىْ فِيْ كَلَامٍ غَيْرِ مُوْجِبٍ ذُكِرَ فِيْهِ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ وَ لَمْ
چې وي دا صفت دي دپاره د کلام غیر موجب یعنې په کلام غیر موجب کې ذکر وي په دې کې مستثنی منه او نه
يُشْتَرَطُ اَنْ لَا يَكُوْنَ مُنْقَطِعًا وَ لَا مُقَدَّمًا عَلَى الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ لِاَنَّ حُكْمَهُمَا قَدْ عُلِمَ
یې دې شرط کړې چې نه وي مستثنی منقطع او نه مقدم په مستثنی منه باندې ځکه حکم د دې دواړو معلوم شوې

فِيْمَا سَبَقَ فَاكْتَفٰى بِذٰلِكَ نَحْوُ مَا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ بِالرَّفْعِ عَلَى الْبَدَلِيَّةِ وَاِلَّا قَلِيْلاً بِالنَّصْبِ عَلَى
مخکې نو اکتفاء يې وکړه په هغې باندې لکه مافعلوه الا قليل په رفع سره بنابر بدليت والاقليلاً په نصب سره بنابر
الْاِسْتِثْنَاءِ وَنَحْوُ مَا مَرَرْتُ بِاَحَدٍ اِلَّا زَيْدٍ بِالْجَرِّ عَلَى الْبَدَلِيَّةِ وَاِلَّا زَيْداً بِالنَّصْبِ عَلَى الْاِسْتِثْنَاءِ وَمَا رَاَيْتُ اَحَداً اِلَّا زَيْداً
استثناء او لکه مامررت باحد الازيد په جر سره بنابر بدليت والازيداً په نصب سره بنابر استثناء ومارايت احدا الازيدا
بِالنَّصْبِ اِمَّا بِطَرِيْقِ الْبَدَلِيَّةِ وَ هُوَ الْمُخْتَارُ اَوْ بِطَرِيْقِ الْاِسْتِثْنَاءِ وَ هُوَ جَائِزٌ غَيْرُ مُخْتَارٍ وَ اِنَّمَا
په نصب سره يا په طريقې دبدليت او دا غوره ده او يا په طريقې د استثنا سره او دا جائز ده او غوره نه ده او په تحقيق
اخْتَارُوا الْبَدَلَ فِيْ هٰذِهِ الصُّوَرِ لِاَنَّ النَّصْبَ عَلَى الْاِسْتِثْنَاءِ اِنَّمَا هُوَ بِسَبَبِ التَّشْبِيْهِ بِالْمَفْعُوْلِ لَا
سره غوره کړي نحويانو بدل په دې صورت کې خکه نصب بنابر استثناء دا دې په سبب د تشبيه دمفعول سره نه
بِالْاِصَالَةِ وَ بِوَاسِطَةِ اِلَّا وَ اِعْرَابُ الْبَدَلِ بِالْاِصَالَةِ وَ بِغَيْرِ وَاسِطَةٍ.
اصالت سره او په واسطې د الا سره او اعراب د بدل بالاصالة او په غير د واسطې دي.

خلاصه دمتن : صاحب د کافيې وايي چې که چيرته مستثنی د الا نه وروستو په کلام موجب کې واقع وي او مستثنی منه مذکور وي نو په دې کې دوه (٢) وجهې جائز دي : (١) د استثناء په وجه نصب . (٢) مستثنی منه دلفظ نه بدل جوړول ، ليکن دويم صورت يعنې بدل جوړول زيات بهتر دي .

اغراض دجامي : اى في الاستثناء : په دې عبارت سره شارح بيان د مرجع کوي چې د فيه د ضمير مرجع استثناء ده .

على الاستثناء : په دې عبارت سره شارح بيان دعهد کوي چې په النصب باندې الف لام داخل دي دا عهد خارجي دي ددې نه مراد استثناء په بناء باندې منصوب کيدل دي .

حال من الضمير : په دې عبارت سره شارح بيان د ترکيب کوي چې فيما بعد الا دا ظرف مستقر په اعتبار د متعلق د فيه ضمير نه حال دي .

اى حال کونه : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : فيه ضمير راجع دې مستثنی طرف ته او د الا نه پس هم مستثنی وي پس ظرفية الشيء لنفسه خرابي لازم راځي .

جواب : په فيما بعد الا کې د ما نه مراد مستثنی نه ده بلکه ما عبارت دي د محل نه نو بيا به يې معنی دا سې شي چې مستثنی واقع وي په داسې محل کې کوم چې د الا نه وروستو واقع وي

واقعاً: په دې عبارت سره شارح د متعلق بيان کوي

في محل: په دې عبارت سره شارح د ما بيان کوي.

يکون: د ظرف نه وروستو د متعلق بيان کوي.

احتراز: په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چې **فيما بعد الا** دا قيد احترازي دي په دې عبارت سره احتراز دي د هغه مستثنى نه کوم چې د الا نه وروستو واقع نه وي بلکه باقي ادوات د استثناء د **خلا** او **عدا** نه وروستو واقع وي

احتراز: په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چې **في کلام غير موجب** قيد احترازي دي په دې عبارت سره شارح د هغه مستثنى نه احتراز کوي کوم چې په کلام موجب کې واقع وي ځکه چې هغه وجوباً منصوب وي په دې کې دوه (۲) وجهې جائز نه دي.

انه قد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: ذکر ماضي ده او قاعده داده چې کله ماضي مثبت حال واقع وي نو په دې باندې دخول د قَدْ ضروري وي او په ذکر باندې قَدْ نه دي داخل.

جواب: دلته قَدْ محذوف دي دا په اصل کې وقد ذکر وو.

احتراز: په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چې **ذکر المستثنى** قيد احترازي دي په دې سره احتراز دي د هغه مستثنى نه چې د هغې مستثنى منه مذکور نه وي ځکه چې په دې کې دوه (۲) وجهې جائز نه دي بلکه د دې اعراب په اعتبار د عواملو سره وي.

وفي بعض النسخ: په دې عبارت سره شارح اختلاف د نسخو بيانوي چې په بعضې نسخو کې **ذکر المستثنى منه** يعنې د واو نه په غير ذکر دي په دې صورت کې داد کلام غير موجب صفت جوړيږي.

اي کلام غير موجب ذکر فيه المستثنى منه: په دې عبارت سره شارح د صفت په صورت حاصل د عبارت ذکر کوي او په دې کې د **فيه** په اضافه کولو سره د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: کله چې جمله صفت واقع وي نو په دې کې **عائد الى الموصوف** موجود يدل ضروري دي او دلته عائد نشته دي.

جواب: په دې کې عائد **فيه** محذوف دي.

ولم يشترط: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: د مصنف رحمه الله د پاره مناسب وو چې دلته يې دوه (۲) شرطونه نور هم ذکر کړي وي (۱) چې مستثنی به منقطع نه وي (۲) مستثنی به د مستثنی منه نه مقدم نه وي ځکه چې که مستثنی د الا نه وروستو په کلام غير موجب کې واقع وي او مستثنی منه مذکور وي ليکن مستثنی منقطع وي يا مستثنی د مستثنی منه نه مقدم وي نو په دې دواړو صورتونو کې دوه وجهې جائز نه دي بلکې نصب واجب دي.

جواب: مخکې دې دواړو حکم بيان شوي دي چې مستثنی د منقطع کيدو په صورت کې او مستثنی د تقديم په صورت کې په مستثنی باندې نصب واجب دي نو مصنف رحمه الله په مخکې وضاحت باندې اکتفاء وکړه او دلته يې دوباره ذکر نه کړو

نحو مافعلوه الا قليل: په دې عبارت سره شارح بيان د مثالونو کوي په دې کې که د قليل نه بدل جوړ شي نو دا به مرفوع وي ځکه چې دا د فعلوه د واو ضمير نه بدل جوړيږي او محلاً مرفوع دي او د استثناء په صورت کې په دې باندې به نصب وي.

او دوهم مثال مامررتُ باحد الا زيد په دې کې زيد د بدليت په بناء باندې مجرور دي او د استثناء په صورت کې منصوب دي او مارأيتُ احدا الا زيداً په دې کې اګر که زيد د بدليت په بناء باندې منصوب دي نو په دې باندې نصب به د دې وجې نه وي چې د دې مبدل منه احداً منصوب دي او د استثناء په صورت کې هم په دې کې نصب دي ليکن نصب على البدلية غوره او مختار دي او نصب على الاستثناء غير مختار دي.

وانما اختاروا: په دې عبارت سره شارح په ذکر شوو صورتونو کې د بدل د غوره کيدو وجه بيانوي چې په مذکوره صورتونو کې نصب على الاستثناء د مفعول سره د مشابهت د وجې نه او د الا د واسطې ځخه دي بالاصالة نه دي او د بدل جوړيدو په صورت کې اعراب بلا واسطه او بلا تشبيه بالاصالة دي او کوم اعراب چې بلا واسطه او بالاصالة وي نو هغه د دې نه مختار وي کوم چې بالاصالة او بلا واسطه نه وي.

مستثنی معرب په اعتبار د عواملو سره:

وَ يُعْرَبُ اَيِ الْمُسْتَثْنٰى عَلٰى حَسْبِ الْعَوَامِلِ اَیْ بِمَا يَقْتَضِيْهِ الْعَامِلُ مِنَ الرَّفْعِ وَ النَّصْبِ وَ الْجَرِّ

او معرب وي مستثنی په اعتبار د عواملو سره يعنې په هغه څه چې تقاضا يې کوي عامل د رفع او د نصب او د جر

إِذَا كَانَ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ غَيْرِ مَذْكُوْرٍ وَ يَخْتَصُّ ذٰلِكَ الْمُسْتَثْنٰى بِإِسْمِ الْمُفَرَّغِ لِأَنَّهُ فُرِّغَ لَهُ

چې كله وي مستثنى منه غير مذكور او خاص دي دا مستثنى په اسم د مفرغ سره ځكه فارغ كړې شوددې د پاره

الْعَامِلُ عَنِ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ فَالْمُرَادُ بِالْمُفَرَّغِ الْمُفَرَّغُ لَهُ كَمَا يُرَادُ بَالْمُشْتَرِكِ الْمُشْتَرَكُ

عامل د مستثنى منه نه نو مراد د مفرغ نه مفرغ له دي لكه څنګه چې مراد اخستلې شي د مشترك نه د مشترك

فِيْهِ وَ هُوَ أَيْ وَ الْحَالُ أَنَّ الْمُسْتَثْنٰى وَاقِعٌ فِيْ غَيْرِ الْكَلَامِ الْمُوْجِبِ وَ اشْتَرَطَ ذٰلِكَ

فيه او هغه يعني حال دا دې چې مستثنى واقع وي په غير كلام موجب كې او شرط كړو مصنف رحمه الله دا د دې

لِيُفِيْدَ فَائِدَةً صَحِيْحَةً مِثْلُ مَا ضَرَبَنِيْ إِلَّا زَيْدٌ إِذْ يَصِحُّ أَنْ لَّا يَضْرِبَ الْمُتَكَلِّمَ أَحَدٌ

د پاره چې فائده وركړي صحيح فائده لكه ماضربني الا زيد ځكه صحيح ده دا خبره چې نه دي وهلې متكلم هيڅوا

إِلَّا زَيْدٌ بِخِلَافِ ضَرَبَنِيْ إِلَّا زَيْدٌ إِذْ لَا يَصِحُّ أَنْ يَّضْرِبَ كُلُّ أَحَدٍ الْمُتَكَلِّمَ إِلَّا زَيْدٌ إِلَّا أَنْ يَّسْتَقِيْمَ

مګر زيد په خلاف د ضربني الا زيد ځكه دا نه دي صحيح چې وهلې وي يو هر متكلم مګر زيد مګر دا چې صحيح وي

الْمَعْنٰى بِأَنْ يَّكُوْنَ الْحُكْمُ مِمَّا يَصِحُّ أَنْ يَّثْبُتَ عَلٰى سَبِيْلِ الْعُمُوْمِ نَحْوُ قَوْلِكَ كُلُّ حَيْوَانٍ يُحَرِّكُ فَكَّهُ

معنى چې وي حكم د هغه څه نه چې صحيح وي چې ثابت شي په طريقې د عموم لكه قولك كل حيوان يحرك فكه

الْأَسْفَلَ عِنْدَ الْمَضْغِ إِلَّا التِّمْسَاحُ أَوْ يَكُوْنَ هُنَاكَ قَرِيْنَةٌ دَالَّةٌ عَلٰى أَنَّ الْمُرَادَ بِالْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ بَعْضٌ مُعَيَّنٌ يَدْخُلُ

الاسفل عند المضغ الا التمساح او يا وي هلته قرينه داله چې مراد په مستثنى منه كې بعضې معين چې داخل وي په

فِيْهِ الْمُسْتَثْنٰى قَطْعًا مِثْلُ قَرَأْتُ إِلَّا يَوْمَ كَذَا أَيْ أَوْقَعْتُ الْقِرَاءَةَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَّا يَوْمَ كَذَا لِظُهُوْرِ أَنَّهُ لَا

دې كې مستثنى قطعا لكه قرأت الا يوم كذا يعني اوقعت القراءة كل يوم الا يوم كذا دوجې د ظهور د دې خبرې چې نه

يُرِيْدُ الْمُتَكَلِّمُ جَمِيْعَ أَيَّامِ الدُّنْيَا بَلْ أَيَّامَ الْأُسْبُوْعِ أَوِ الشَّهْرِ أَوْ مِثْلَ ذٰلِكَ.

اراده كوي متكلم ټولې ورځې د دنيا بلكې ورځې د هفتو او يا د مياشتو او يا په مثل د دې.

خلاصه د متن: صاحب د كافيې وايي چې مستثنى منه مذكور وي او مستثنى په كلام موجب كې واقع وي نو د مستثنى اعراب د عامل به د تقاضا مطابق وي يعني عامل د رفع مقتضى دي نو مستثنى به مرفوع وي او كه د نصب مقتضى وي نو مستثنى به منصوب وي او كه د جر مقتضى وي نو مستثنى به مجرور وي.

اغراض د جامي : اى المستثنى: په دې عبارت سره شارح د يعرب ضمير مستتر مرجع بيانوي چې د يعرب ضمير مرجع المستثنى ده.

اى بما: په دې عبارت سره شارح بيان د معنى كوي چې دلته حسب په معنى د اقتضاء سره دي په معنى د قدر سره نه دي.

العامل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : داحکم منقوض اومات دي په ماجاءني الا زيد کې په زيد سره ځکه چې دامعرب على حسب العوامل نه دي بلکه بحسب عامل واحد دي .

جواب : په العامل سره شارح جواب ورکوي چې په العوامل جمع باندې دالف لام دداخليدو سره ددې جمعيت باطل شو اودادجنس په حکم کې دي ځکه چې ددې نه يو عامل مراد دي .

من الرفع والنصب والجر: په دې عبارت شارح د مَا بيان کوي چې د مَا نه مراد رفع ، نصب او جر دي

ويختص ذلک: په دې عبارت سره شارح بيان داصطلاح کوي چې هغه مستثنى چې دهغې مستثنى منه مذکور نه وي دهغې نوم مفرغ ايخودې شي .

لانه: په دې عبارت سره شارح دمفرغ وجه تسميه بيانوي چې ددې نوم مفرغ ځکه ايخودې شوي دي چې ددې وجې نه عامل دمستثنى منه نه فارغ کړې شوې دي .

فالمراد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمستثنى مفرغ معنى ده فارغ کړي شوي حالانکه مستثنى خو فارغ کړي شوي نه ده بلکه داخومفرغ له دي يعنې دې دپاره عامل فارغ کړي شوي دي لهذا ددې نوم مفرغ نه دي په کار بلکه مفرغ له په کار دي .

جواب : دمفرغ نه مراد مفرغ له دي لکه څنګه چې دمشترک نه مراد مشترک فيه وي .

وهو اى الحال: په دې عبارت سره شارح بيان دترکيب کوي چې واو حاليه دي او هو في غير الموجب دا حال دي ديعرب ضمير نه چې دهغې مرجع مستثنى ده .

واقع: په دې عبارت سره شارح بيان دترکيب کوي چې في غير الموجب داظرف مستقر د واقع متعلق دي او دهو مبتدا دپاره خبر دي .

الکلام: په دې عبارت سره شارح بيان دترکيب کوي چې الموجب دا صفت دي دموصوف محذوف چې الکلام دي

واشترط: په دې عبارت سره شارح اشاره کوي چې ليفيد :شرط دليل دي دمشروط دليل نه دي يعنې مستثنى په کلام غير موجب کې دواقع کيدو شرط ځکه لږولي دي چې کلام د

صحيح معنى فائده ورکړي

مثال ما ضربني الا زيد: په دې عبارت سره شارح بيان دمثال کوي چې ددې مثال معنى ده چې زه د زيد نه غير بل چا نه يم وهلي دامعنى صحيح ده ځکه چې ممکن ده چې متکلم لره دزيد نه غير بل چانه وي وهلي په خلاف د ضربني الا زيد داصحيح نه دي ځکه چې داممکن نه دي چې متکلم لره دزيد نه غير ټولو انسانانو وهلي وي.

الا ان يستقيم المعنى: په دې عبارت سره ماتن دمخکنې عبارت وضاحت کوي داعبارت دمخکني کلام نه په طور داستثناء ده يعنې لايعرب المستثنى بحسب العوامل في الكلام الموجب في جميع الاوقات الا ان يستقيم المعنى، يعنې په کلام موجب کې مستثنى اعراب دعامل مطابق نه وي په ټولو اوقاتو کې مګر چې کله معنى صحيح وي.

بان يكون: په دې عبارت سره شارح داستقامت دمعنى دوه (۲) صورتونه بيانوي:

(۱) اول صورت دادې چې حکم دهغه قبيل نه وي چې دهغې اثبات په طريقې دعموم سره صحيح وي مثال لکه كل حيوان يحرک فكه الاسفل عند المضغ الاالتمساح (هر حيوان د شخوند وهلو په وخت کې خپل لاندې ژبې ته حرکت ورکوي مګر مګرمچه يې نه ورکوي) په دې کې د تحريک فكه الاسفل عند المضغ حکم په طريقې دعموم سره دهر حيوان دپاره ثابت شو اودا صحيح دي.

(۲) او دويم صورت دادې چې يو داسې قرينه وموندلې شي چې په دې خبره دلالت کوي چې مستثنى منه نه مراد داسې بعض متعين افراد وي چې په هغې کې دننه دمستثنى دخول يقيني وي مثال لکه قرأت اليوم كذا (ماهره ورځ لوستل وکړه مګر په فلانۍ ورځ مې لوستل ونه کړل) دامعنى صحيح ده ځکه چې ظاهر ده چې دمتکلم مراد ددنيا ټولې ورځې نه دي بلکه هفته يا مياشت يا دکال ورځې مراد دي اوداممکن دي چې هغه هره ورځ لوستلي وي مګر يوه ورځ لوستلي نه وي.

د دوه سوالونو جوابات:

وَ لِقَائِلٍ اَنْ يَّقُوْلَ كَمَا لَا يَسْتَقِيْمُ الْمَعْنٰى عَلٰى تَقْدِيْرِ عُمُوْمِ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ فِي الْمُوْجِبِ
اودقائل دپاره جائزده چې ووايي چې لکه څنګه نه صحيح کيږي معنى په تقديردعموم دمستثنى منه په موجب

فِيْ بَعْضِ الصُّوَرِ فَرُبَمَا لَا يَسْتَقِيْمَ الْمَعْنٰى عَلٰى تَقْدِيْرِ عُمُوْمِ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ فِيْ غَيْرِ الْمُوْجِبِ

کي په بعضې صورتونو کې نو ډیر کله نه صحیح کیږي معنی په تقدیر د عموم د مستثنی منه په غیر د موجب کې

اَيْضًا نَحْوُ مَا مَاتَ اِلَّا زَيْدٌ فَيَنْبَغِيْ اَنْ يُشْتَرَطَ فِيْ غَيْرِ الْمُوْجِبِ اَيْضًا اِسْتِقَامَةُ الْمَعْنٰى

همدا رنګې لکه ما مات الازید نو مناسب دا دې چې شرط کړې شي په غیر موجب کې همدا رنګې صحیح کیدل د معنی

وَ اَيْضًا لَا يَصِحُّ مِثْلُ قَرَاْتُ اِلَّا يَوْمَ كَذَا بَعْدَ تَخْصِيْصِ الْيَوْمِ بِاَيَّامِ الْاُسْبُوْعِ مَثَلًا فَيَجُوْزُ

او همدا رنګې نه صحیح کیږي په مثل د قرأت الا یوم کذا سکرپس د تخصیص د یوم په ایامو د هفتې پورې مثلاً نو جائز

مِثْلُ هٰذَا التَّخْصِيْصِ فِيْ ضَرَبَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ بِاَنْ يُخَصَّصَ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ بِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْ جَمَاعَةٍ مَخْصُوْصِيْنَ

دي په شان د دې تخصیص په ضربني الازید کې چې خاص کړې شي مستثنی منه په هر یو د فرد د جماعت مخصوصه

اِذَا كَانَ هُنَاكَ قَرِيْنَةٌ دَالَّةٌ فَلَا فَرْقَ بَيْنَ هَاتَيْنِ الصُّوْرَتَيْنِ فِيْ كَوْنِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا جَائِزَةٍ

پورې چې کله وي دلته قرینه داله نو نشته فرق په مینځ د دې دواړو صورتونو کې په کیدو د هر یو د دې دواړو کې جائز

مَعَ الْقَرِيْنَةِ وَ غَيْرَ جَائِزَةٍ بِدُوْنِهَا وَ اُجِيْبَ بِاَنَّ الْمُعْتَبَرَ هُوَ الْغَالِبُ وَ الْغَالِبُ فِي الْاِيْجَابِ عَدَمُ

سره د قرینې او غیر جائز دي په غیر د دې نه او جواب ورکړې شو چې معتبر هغه غالب دي او غالب په ایجاب کې عدم

اِسْتِقَامَةِ الْمَعْنٰى عَلَى الْعُمُوْمِ وَ فِي النَّفْيِ عَكْسُهُ لِاَنَّ اشْتِرَاكَ جَمِيْعِ اِفْرَادِ الْجِنْسِ فِيْ اِنْتِفَاءِ

صحت د معنی دي په عموم باندې او په نفي کې په عکس د دې خکه اشتراک د ټولو افرادو د جنس سره په انتفا د

تَعَلُّقِ الْفِعْلِ بِهَا وَ مُخَالَفَةَ وَاحِدٍ اِيَّاهَا فِيْ ذٰلِكَ مِمَّا يَكْثُرُ وَ يَغْلِبُ وَ اَمَّا اشْتِرَاكُهَا

تعلق د فعل په دې پورې او مخالفت د یو د دې نه په دې کې کوم چې کثیر الوقوع او غالب وي او هر چې اشتراک د دې

فِيْ تَعَلُّقِ الْفِعْلِ بِهَا وَ مُخَالَفَةَ وَاحِدٍ اِيَّاهَا فِيْ ذٰلِكَ فِيْمَا يَقِلُّ كَمَا فِي الْمِثَالِ الْمَذْكُوْرِ

په تعلق د فعل کې په دې پورې او مخالفت د یو فرد د دې نه په دې کې نو هغه چې قلیل الوقوع دي لکه په ذکر شوي مثال

وَ بِاَنَّ الْفَرْقَ بَيْنَ قَوْلِكَ قَرَاْتُ اِلَّا يَوْمَ كَذَا وَضَرَبَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ لَيْسَ اِلَّا بِظُهُوْرِ قَرِيْنَةٍ دَالَّةٍ عَلٰى

کې او په دې طریقې چې فرق په مینځ د قول ستا قرأت الا یوم کذا او ضربني الازید کې مګر په ظهور د قرینې دالې په

بَعْضٍ مُعَيَّنٍ مِنَ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ مَقْطُوْعٍ دُخُوْلُهُ فِيْهِ الْاَوَّلِ وَ عَدَمِ ظُهُوْرِهَا فِي الثَّانِيْ فَلَوْ

بعضې معین د مستثنی منه چې مقطوع وي د حول د دې په دې کې او عدم ظهور د دې په دویم مثال کې نو که چیرته

ظَهَرَ فِي الثَّانِيْ اَيْضًا قَرِيْنَةٌ ظَاهِرَةُ الدَّلَالَةِ عَلٰى بَعْضٍ مُعَيَّنٍ كَمَا اِذَا قِيْلَ

ظاهر شي په دویم مثال کې همدا رنګې قرینه ظاهره چې دلالت کوي په بعضې معین باندې لکه چې ویلې شي

مَنْ ضَرَبَكَ مِنَ الْقَوْمِ اَيِ الْقَوْمِ الدَّاخِلِ فِيْهِمْ زَيْدٌ فَقُلْتُ ضَرَبَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ فَالظَّاهِرُ اَنَّ ذٰلِكَ

من [illegible] هغه قوم چې داخل وي په دې کې زید نو ته ووایې چې ضربني الازید نو ظاهر دا دي چې دا

اَيْضًا مِمَّا يَسْتَقِيْمُ فِيْهِ الْمَعْنٰى لٰكِنَّ الْغَالِبَ عَدَمُ وِجْدَانِ قَرِيْنَةٍ كَذٰلِكَ
همدارنګې دهغه قبيلې نه دي چې صحيح کيږي په دې کې معنى لکن غالب هغه عد م وجود د قرينې دي همدارنګې
فِي الْمُوْجِبِ فَالْغَالِبُ فِيْهِ عَدَمُ اِسْتِقَامَةِ الْمَعْنٰى.
په موجب کې نو غالب په دې کې هغه عدم صحت د معنى ده

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره صاحب دکافيې ددوه سوالونو جوابات ورکوي.

اغراض دجامي : ولقائل: دادشرح عبارت دي په دې کې شارح دوه سوالونه رانقل کوي او ددې سوالونو جوابات ورکوي:

سوال (۱) : لکه څنګه چې په کلام موجب کې مستثنى منه دعموم په تقدير باندې بعضې صورتونو کې معنى نه صحيح کيږي مثال لکه ضربني الا زيد ، همدارنګې په کلام غيرموجب کې هم دمستثنى منه په عموم تقدير باندې بعضې صورتونو کې معنى نه صحيح کيږي مثال لکه ما مات الا زيد ، ددې معنى صحيح نه ده لهذا لکه څنګه چې په کلام موجب کې داستقامت معنى شرط لږولې ده همدارنګې کلام غيرموجب کې هم استقامت معنى دشرط لږول په کار وو.

سوال (۲) : د ايضاً سره دويم سوال رانقل کوي دا سوال قرأت الا يوم كذا او ضربني الا زيد باندې وارديږي قرأتُ الا يوم كذا دابه تر هغه وخته پورې صحيح نه وي کله چې يوم لره هفتې او مياشت او يادکال دورځو سره خاص نه شي اوهمدارنګې تخصيص په ضربني الا زيد کې هم جائز دي همدارنګې مستثنى منه لره يو مخصوص جماعت هر هر فرد سره خاص کړې شي کله چې په دې باندې څه قرينه دال وي مثلاً متکلم ديو کلي اوسيدونکې دي نوهغه دکلي ټول افراد لره خاص کړي دهغوي نه دزيد استثناء کولو دپاره ضربني الا زيد وويل ممکن ده چې دده منشاء داوي چې ضربني اناس قرية الا زيد دامعنى صحيح ده نو په دې دواړو صورتونو کې په دې خبره کې څه فرق نشته دي که څه قرينه وموندلې شي نوجائز اوکه قرينه ونه موندلې شي نو ناجائز دي.

واجيب: په دې عبارت سره شارح دذکر شوو دواړو سوالاتو جوابات ورکوي

داول سوال جواب : داول سوال جواب دادې چې داحکامو په ښ... کې غالب او کثرت معتبريږي او په کلام موجب کې مستثنى منه دعموم په صورت کې غالب استقامت معنى ده

ځکه چې د جنس ټولو افرادو سره تعلق د فعل په انتفاء کې بعض باقي مخالف کيدل داکثير وي ليکن د جنس ټولو افرادو سره تعلق کې استقامت معنی د شرط لړولې ده او په کلام غير موجب کې استقامت معنی د شرط نه ده لړولې

وبان الفرق: په دې عبارت سره شارح د دويم سوال جواب ورکوي **قرأت الا يوم كذا** او **ضربني الا زيد** کې فرق د ظهور د قرينې او د عدم قرينې سره دې چې **قرأتُ الا يوم كذا** کې مستثنی منه کې بعضې افرادو باندې دلالت کولو والا قرينه ظاهر ده بعضې کې د مستثنی دخول يقيني دې او **ضربني الا زيد** کې داسې قرينه ظاهر نه ده

که په دريم مثال کې هم څه قرينه ظاهره شي کومه چې په مستثنی منه کې په بعضې معين باندې دلالت وکړي چې په هغې کې د مستثنی دخول يقيني وي مثلاً يو سړي تا ته ووايي چې **من ضربک من القوم** ، او قوم داسې دي چې په هغې کې زيد داخل دې نو ته د دې په جواب کې ووايې چې **ضربني الا زيد** نو ظاهره ده چې د لته معنی صحيح کيږي ليکن په کلام موجب کې داسې قرينه نه موندل اکثري دې . د دې وجې نه په کلام موجب کې غالب عدم استقامت معنی ده .

په تيرې شوې قاعدې باندې تفريع :

وَ مِنْ ثَمَّ اَیْ وَ مِنْ اَجَلِ اَنَّ الْمُفَرَّغَ لَا يَكُوْنُ فِي الْمُوْجَبِ اِلَّا اَنْ يَّسْتَقِيْمَ الْمَعْنٰى لَمْ يَجُزْ
او د دې وجې نه يعنې د دې وجې نه چې مفرغ نه وي په موجب کې مگر کله چې ته صحيح کيږي معنی نه دې جائز په
مِثْلُ مَا زَالَ زَيْدٌ اِلَّا عَالِمًا اِذْ مَعْنٰى مَا زَالَ ثَبَتَ لِاَنَّ نَفْيَ النَّفْيِ اِثْبَاتٌ فَيَكُوْنُ الْمَعْنٰى ثَبَتَ زَيْدٌ دَائِمًا عَلٰى
شان د مازال زيد الا عالماځکه چې معنی د مازال ثَبَتَ دہ ځکه نفي د نفي اثبات دې نو وي به معنی د ثبت زيد دائما عل
جَمِيْعِ الصِّفَاتِ اِلَّا عَلٰى صِفَةِ الْعِلْمِ فَلَا يَسْتَقِيْمُ وَ قَالَ الشَّارِحُ الرَّضِيُّ يُمْكِنُ اَنْ يُّحْمَلَ الصِّفَاتِ
جميع الصفات الا على صفة العلم نو دا معنی نه صحيح کيږي او ويلي شارح رضي چې ممکن ده چې حمل شي صفات
عَلٰى مَا يُمْكِنُ اَنْ يَّكُوْنَ زَيْدٌ عَلَيْهَا مِمَّا لَا يَتَنَاقَضُ وَ يَسْتَثْنٰى مِنْ جُمْلَتِهَا الْعِلْمُ
په هغه څه چې ممکن وي چې وي زيد به دې باندې د هغه څه نه چې نه وي متضاد او مستثنی وي د دې جملې نه علم
اَوْ يُحْمَلُ ذٰلِكَ عَلَى الْمُبَالَغَةِ فِيْ نَفْيِ صِفَةِ الْعِلْمِ كَاَنَّكَ قُلْتَ اَمْكَنَ اَنْ يَّحْصُلَ فِيْهِ
او يا حمل کړې شي دا په مبالغه باندې په نفي د صفت د علم گويا چې تا ويل چې ممکن دي چې حاصل شي په دې
جَمِيْعُ الصِّفَاتِ اِلَّا صِفَةُ الْعِلْمِ وَ عَلَى التَّقْدِيْرَيْنِ يَنْدَرِجُ فِيْ صُوْرَةِ الْاِسْتِقَامَةِ وَلَا
کې ټول صفات مگر صفت د علم او بنا په دواړو تقديرونو درج کيږي په صورت د صحيح والي د معنی کې او نه دې وي

يَخْفَى عَلَى الْمُتَفَطِّنِ اَنَّهُ يُمْكِنُ بِمِثْلِ التَّاوِيْلَاتِ اِرْجَاعُ جَمِيْعِ الْمَوَادِ الْاِيْجَابِيَّةِ عِنْدَ الْاِسْتِثْنَاءِ
خفي په هوښيار باندې چې ممکن دی په مثل دتاويلاتو کې راجع کول دټولو موادو ايجابيو په وخت داستثناء کې
اِلٰى صُوْرَةِ الْاِسْتِقَامَةِ كَمَا يُقَالُ مَثَلًا فِيْ قَوْلِكَ ضَرَبَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ الْمُرَادُ كُلُّ مَنْ
صورت دصحيح والي د معنى ته لکه څنګه چې وويلې شي مثلاً په قول ستا ضربني الازيد کې چې مراد هر هغه څوک
يُتَصَوَّرُ مِنْهُ الضَّرْبُ مِنْ مَعَارِفِكَ اَوِ الْمَقْصُوْدِ مِنْهُ الْمُبَالَغَةُ فِيْ غُلُوِّ الْمُجْتَمِعِيْنَ عَلٰى
دي چې متصور وي د هغوي نه وهل د پيژند ګلو خلکو نه او يا مقصود ددې نه مبالغه ده په غلو دجمع شوو کې په
ضَرْبِكَ.
وهلو ستا باندې

خلاصه دمتن : ومن ثم سره شارح په مخکني قاعدې باندې دتفريع بيان کوي کلام موجب مفرغ په هغه وخت کې وي کله چې معنى صحيح شي ددې وجې نه مازال زيد الا عالماً ترکيب ناجائز دي ځکه چې د مازال معنى ده ماثبت ځکه چې ما نافيه ده او زال په معنى سره دي لهذا په دې کې هم نفي ده پس مازال زيد الا عالما معنى ده ثبت زيد دائماً على جميع الصفات الا على صفة العلم يعني زيد ټولو صفاتو سره هميشه متصف شوي دي غير دعلم نه او ظاهره ده چې دا معنى صحيح نه ده ځکه چې ډير صفات داسې دي چې متضاده وي چې دهغې جمع کيدل ناممکن دي نو معنى صحيح نه ده ځکه چې دا ترکيب هم نه صحيح کيږي.

اغراض دجامي : <u>وقال الشارح</u>: په دې عبارت سره شارح دجامي په مصنف باندې اعتراض کول دي

اعتراض : شيخ رضي ويلي دي چې دمصنف دعدم استقامت دمعنى دوجې نه مازال زيد الا عالما لره ناجائز کول صحيح نه دي ځکه چې ددې معنى صحيح کيدې شي ځکه چې ممکن ده چې دصفاتو نه مراد صفات غير متضاده واخستې شي يا زيد چې دکومو صفاتو سره متصف کيدل ممکن دي دهغې صفاتو نه متصف دعلم مستثنى کړې شي معنى به داشي چې زيد ددې ټولو صفاتو سره متصف شو کومو صفاتو سره چې دهغه دپاره ممکن دي غير دصفت دعلم نه يا هغه لره محمول کړې شي صفت دعلم دنفي په مبالغه باندې ګويا هغه داسې وويل چې کيدې شي چې په زيد کې دټنه جميع صفات حاصل شي برابره خبره ده که دا صفات متضاده وي او يا غير متضاد د ليکن صفت دعلم موندل ناممکن دي اوس به دواړو تقديرونو باندې معنى صحيح کيږي او دا مثال صحيح کيږي

ولایخفی: په دې عبارت سره شارح د ذکر شوي اعتراض جواب ورکوي

جواب: په دې مذکوره دوه (۲) تاویلونو سره د مثالونو صحیح کیدل مسلم دي لیکن که په دې ځای کې د داسې تاویلاتو نه کار واخستې شي نو بیا د کلام موجب یو مثال به داسې پاتې نه شي چې د هغې معنی صحیح نه وي بلکې جمع د موادو ایجابیو لره استثناء په وخت د استقامت صورت طرف ته راجع کول ممکن دي.

مثلاً په ذکر شوي مثال کې یعني ضربني الا زید دا معنی کیدی شي چې د متکلم مراد دا دی چې څو مره خلک زما پیژندو والا دي په هغوي کې هریو زه وهلې یم غیر د زید نه یا د دې نه مقصود د متکلم په وهلو کې جمع کیدو والا غلو کې مبالغه کول دي چې زما د وهلو د پاره ډیر زیات خلک جمع شو

مستثنی په محل باندې حمل کول او بدل ترې جوړول:

وَ اِذَا تَعَذَّرَ الْبَدَلُ مِنْ حَيْثُ حَمْلِهِ عَلَى اللَّفْظِ اَیْ عَلٰی لَفْظِ الْمُسْتَثْنٰی مِنْهُ فَعَلَ

او کله چې متعذر روي بدل د حیثیت د حمل کولو نه په لفظ باندې یعني په لفظ د مستثنی منه نو حمل کولې شي په

الْمَوْضِعِ اَیْ یُحْمَلُ عَلٰی مَوْضِعِ الْمُسْتَثْنٰی مِنْهُ لَا عَلٰی لَفْظِهِ عَمَلًا بِالْمُخْتَارِ عَلٰی قَدْرِ

محل باندې یعني حمل کولې شي په محل د مستثنی منه باندې نه په لفظ د دې باندې په غوره مذهب په اندازه

الْاِمْكَانِ مِثْلُ مَا جَاءَنِيْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا زَيْدٌ فَزَيْدٌ بَدَلٌ مَرْفُوْعٌ مَحْمُوْلٌ عَلٰى مَوْضِعِ اَحَدٍ لَا مَجْرُوْرٌ مَحْمُوْلٌ

د امکان لکه ماجاءني من احد الا زید نو زید بدل مرفوع دي او محمول دي په محل احد نه او نه دي مجرور چې محمول

عَلٰى لَفْظِهِ وَ مِثْلُ لَا اَحَدَ فِيْهَا اَیْ فِي الدَّارِ اِلَّا عَمْرٌو فَعَمْرٌو مَرْفُوْعٌ مَحْمُوْلٌ عَلٰى مَحَلِّ اَحَدٍ لَا عَلٰى

وي په لفظ باندې او لکه لا احد فیها یعني في الدار الا عمرو نو عمرو مرفوع دي او حمل دي په محل د احد باندې نه په

لَفْظِهِ وَ مِثْلُ مَا زَيْدٌ شَيْءٌ لَا يُعْبَأُ بِهِ اَیْ لَا يُعْتَدُّ بِهِ فَشَيْءٌ مَرْفُوْعٌ مَحْمُوْلٌ عَلٰى مَحَلِّ شَيْئًا

لفظ باندې او لکه مازید شیئاً الاشيء لایعبأبه یعني لا یعتد به نو شئ مرفوع دي او محمول دي په محل د شیئاً باندې

لَا مَنْصُوْبٌ مَحْمُوْلٌ عَلٰى لَفْظِهِ وَ قَوْلُهُ لَا يُعْبَأُ بِهِ لَيْسَ فِيْ كَثِيْرٍ مِنَ النُّسَخِ وَ عَلٰى

او نه دي منصوب چې محمول شي په لفظ باندې او دا قول د مصنف چې لایعبأبه نشته دي په ډیرو نسخو کې او په

مَا وَقَعَ فِيْ بَعْضِهَا فَهُوَ صِفَةٌ لِلشَّيْءِ الْمُسْتَثْنٰى قِيْلَ اِنَّمَا وَصَفَهُ

هغه څه چې واقع دي په بعضې نسخو کې نو دا صفت دي د پاره د شئ د مستثنی چا ویلي دي چې په تحقیق سره د مصنف

بِهِ لِئَلَّا يَلْزَمَ اسْتِثْنَاءُ الشَّيْءِ مِنْ نَفْسِهِ وَ لَا يَخْفٰى اَنَّهُ لَوْ

کړې شئ لره په لایعبأبه سره د دې د پاره چې لازم نه شي استثناء د شئ د حېل نفس نه او په دې وي خفي چې که چیرته

جُعِلَ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ شَيْئًا اَعَمَّ مِنْ اَنْ يَزِيْدَ عَلَيْهِ صِفَةٌ غَيْرُ الشَّيْئِيَّةِ اَوْ لَا وَ خُصَّ

وګرځول سي مستثنى منه عام څيز دې له چې زيادت وشي په دې باندې د صفت غير د څيز والي او يا نه او خاص يې

الْمُسْتَثْنٰى بِمَا لَا يَزِيْدُ عَلَيْهِ صِفَةٌ غَيْرُ الشَّيْئِيَّةِ لَكَانَ اَدَقَّ وَ اَلْطَفَ

کړ مستثنى په هغه څه سره چې زياتوالي نه شي کيدې په دې باندې د صفت غير څيزنووي به دا ډيره دقيقه او لطيفه

وَ اِنَّمَا تَعَذَّرَ الْبَدَلُ عَلَى اللَّفْظِ فِي الصُّوْرَةِ الْاُوْلٰى لِاَنَّ مِنَ الْاِسْتِغْرَاقِيَّةِ لَا تُزَادُ

او په تحقيق سره متعذر دې بدل په لفظ کې په اولني صورت کې خکه مِنْ استغراقيه دې چې زياتوالي نه شي کيدې

اِتِّفَاقًا بَعْدَ الْاِثْبَاتِ اَيْ بَعْدَ مَا صَارَ الْكَلَامُ مُثْبَتًا لِانْتِقَاضِ النَّفْيِ بِاِلَّا

په دې باندې اتفاقاً پس د اثبات نه يعني پس د هغه څه چې وګرځول شي کلام مثبت دوجې د ماتيدو د نفي په الا سره

لِاَنَّهَا لِتَاكِيْدِ النَّفْيِ وَ لَا نَفْيَ بَعْدَ الْاِنْتِقَاضِ فَلَوْ اُبْدِلَ عَلَى اللَّفْظِ وَ قِيْلَ

خکه مِنْ د پاره د تاکيد د نفي دې او نفي نه ده پس د ماتيدو نه نو که چيرته بدل کړې شي په لفظ باندې او وويل شي

مَا جَاءَنِيْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا زَيْدٍ بِالْجَرِّ لَكَانَ فِيْ قُوَّةِ قَوْلِنَا جَاءَنِيْ مِنْ زَيْدٍ فَلَزِمَ زِيَادَةُ مِنْ

چې ماجاءني من احد الا زيد په جر سره نووي به دا په قوت د دې قول زمونږ کې چې جاءني من زيد نو لازم شو زيادت د مِنْ

فِي الْاِثْبَاتِ وَ ذٰلِكَ غَيْرُ جَائِزٍ وَ فِي الصُّوْرَتَيْنِ الْاَخِيْرَتَيْنِ لِاَنَّهُ لَوْ اُبْدِلَ الْمُسْتَثْنٰى عَلَى اللَّفْظِ وَقِيْلَ

په اثبات کې او دا غير جائز دې او په آخري صورتونو کې که چيرته بدل کړې شي مستثنى په لفظ باندې او وويل شي

لَا اَحَدَ فِيْهَا اِلَّا عَمْراً بِالنَّصْبِ لِاَنَّ فَتْحَتَهُ شَبِيْهَةٌ بِالْحَرَكَةِ الْاِعْرَابِيَّةِ لِاَنَّهَا حَصَلَتْ

چې لا احد فيها الا عمرا په نصب سره خکه چې فتحه د دې مشابه ده د حرکت اعرابيه سره خکه : احاصله شوې ده

بِكَلِمَةِ لَا فَهِيَ كَالنَّصْبِ الْحَاصِلِ بِالْعَامِلِ فَلَا بُدَّ حِيْنَئِذٍ مِنْ تَقْدِيْرِ لَا

په کلمې د لا سره نو دا په شان د نصب دې چې حاصل وي په عامل سره نو لابدي ده په دې وخت کې د مقدر کولو د لا نه

حَقِيْقَةً اَوْ حُكْمًا لِتَعْمَلَ فِيْهِ هٰذَا الْعَمَلَ وَ كَذَا فِيْ قَوْلِهِ مَا زَيْدٌ شَيْئاً اِلَّا شَيْءٌ

حقيقة او يا حکما د دې د پاره چې عمل وکړي په بدل کې دا عمل او همدا رنګې په دې قول د قائل مازيد شيئا الاشئ کې

لَوْ حُمِلَ الْمُسْتَثْنٰى عَلٰى لَفْظِ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ لَا بُدَّ حِيْنَئِذٍ مِنْ تَقْدِيْرِ مَا كَذٰلِكَ

که چيرته حمل کړې شي مستثنى په لفظ د مستثنى منه باندې نو لابدي ده په دې وخت کې د تقدير د ما نه همدا رنګې

لِتَعْمَلَ فِيْهِ وَ مَا وَ لَا لَا تُقَدَّرَانِ لَا حَقِيْقَةً اِذَا لَمْ يَكُنِ الْبَدَلُ اِلَّا بِتَكْرِيْرِ

د دې د پاره چې عمل وکړي په دې کې او ما او لا به نه شي مقدر کولې نه حقيقة چې کله نه وي بدل مګر په تکرار د

الْعَامِلِ وَ لَا حُكْمًا اِذَا اكْتُفِيَ بِدُخُوْلِهِ عَلَى الْمُبْدَلِ مِنْهُ وَ اعْتُبِرَ سَرَايَةً

عامل سره او نه حکما چې کله اکتفا وکړې شي په دخول د عامل سره په مبدل منه باندې او معتبر کړې شي سرايت

حُكْمِهِ اِلَيْهِ فَاِنَّهُ فِيْ قُوَّةِ التَّقْدِيْرِ حَالَ كَوْنِهِمَا عَامِلَتَيْنِ فِي الْمُسْتَثْنٰى
دحکمه عامل طرف ته ځکه داپه قوت دتقدير کې دي په حال کون ددې دواړوچې عاملين وي په هغه مستثنی کې

الْمَحْمُوْلُ عَلَى الْبَدَلِ بَعْدَهُ اَىْ بَعْدَ الْاِثْبَاتِ يَعْنِيْ بَعْدَ مَا صَارَ الْكَلَامُ مُثْبَتًا
چې محمول وي په بدل باندې پس ددې نه يعنې پس داثبات نه يعنې پس دهغه څه چې وګرځول شي کلام مثبت دوجې

لِانْتِقَاضِ النَّفْيِ بِاِلَّا لِاَنَّهُمَا اَىْ مَا وَ لَا عَمِلَتَا لِلنَّفْيِ وَ قَدِ انْتَقَضَ النَّفْيُ بِاِلَّا
دماتېدو دنفي په الا سره ځکه دادواړه يعنې ماولادا عمل کوي دپاره دنفي اوپه تحقيق سره ماته شوه نفي په الا

وَ حَيْثُ تَعَذَّرَ فِيْ هَاتَيْنِ الصُّوْرَتَيْنِ الْبَدَلُ عَلَى اللَّفْظِ حُمِلَ عَلَى الْمَحَلِّ فَعَمْرٌو
سره اوچې کله متعذر روي په دې دواړوصورتونو کې بدل په لفظ باندې نوحمل کولې به شي په محل باندې نو عمرو

مَرْفُوْعٌ عَلَى اَنَّهُ مَحْمُوْلٌ عَلَى مَحَلِّ اَحَدٍ وَ هُوَ الرَّفْعُ بِالْاِبْتِدَاءِ وَ شَيْءٌ مَرْفُوْعٌ
مرفوع دي بناپه دې چې دامحمول دي په محل باندې اومحل داحد هغه رفع ده دابتداء دوجې نه اوشئ مرفوع دي

عَلٰى اَنَّهُ مَحْمُوْلٌ عَلٰى مَحَلِّ شَيْئًا وَ هُوَ الرَّفْعُ بِالْخَبَرِيَّةِ.
بناپه دې باندې چې دامحمول دي په محل دشيئاً باندې اوهغه رفع ده دوجې دخبريت نه

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې وايي چې په کومو صورتونو کې بدل جوړول مختار دي که په دغه صورتونو کې مستثنی لره دمستثنی منه لفظ باندې محمول کول اوبدل جوړول متعذر وي نو مستثنی منه محل باندې محمول کول اوبدل به جوړولې شي مثال جاءني من احد الا زيد په دې کې زيد مرفوع بدل دي او احد محل باندې محمول دي په دې لفظ باندې محمول شوي مجرور نه دي اومثل لا احد فيها الا عمرو په دې کې عمرو بدل دي داحد نه دادهغه محل باندې محمول منصوب دي ددې لفظ باندې محمول شوي منصوب نه دي ومازيد شيئاً الا شئ لايعبأ به په دې کې شئ منصوب په اول شيئاً په لفظ باندې محمول نه دي بلکه مرفوع دي اومستثنی منه محل باندې محمول دي .

اغراض دجامي : لان من لاتزاد بعد الاثبات: ددې ځاې نه صاحب دکافيې په ذکر شوو درې (۳) مثالونو کې مستثنی لره په مستثنی منه لفظ باندې محمول کولو اوبدل جوړول دمتعذر کېدو وجه بيانوي . په اول مثال کې بدل جوړول ځکه متعذر دي چې من استغراقيه داثبات نه وروستو زائده نه وي يعنې هغه کلمه چې دالا په ذريعې سره دنفي ماتېدو په وجې سره مثبت جوړ شي په دې کې من زائده نه وي ځکه چې من استغراقيه دنفي تاکيد دپاره راځي او د الا په

دریعه دنفي ماتیدو نه وروستو نفي باقي نه پاتي کیږي ، که په اولني مثال کې مستثنی لره دمستثنی منه په لفظ باندې محمول شي اوبدل جوړ کړي شي اوداسې وویلي شي چې **ما جاءني من احد الا زيد** نو دابه **جاءني من زيد** په وخت کې به وي ځکه چې بدل تکرار دعامل په حکم کې وي یعنې بدل اومبدل منه دواړو عامل یو دي ځکه چې دلته دمبدل منه عامل من دي لهذا دبدل عامل به هم من شي نو عبارت به داسې شي چې **جاءني من زيد** نو مثبت کلام کې دمن زیادت لازم راځي اودا ناجائز دي .

وفي الصورتين : په دویم اودریم مثال کې مستثنی لره دمستثنی منه په لفظ باندې محمول کول بدل جوړول ځکه متعذر دي که په دویم مثال کې مستثنی لره دمستثنی منه لفظ باندې محمول شي اوبدل جوړ کړي شي اوداسې وویلي شي چې **لا احد فيها الا عمروا** نو په دې وخت کې لا لره حقیقةً یاحکماً مقدر منل ضروري دي چې لا په دې کې عمل وکړي **حقيقةً** په دې وخت کې کله چې بدل تکرار دعامل په حکم کې وي یعنې دې لره تکرار نه په غیر بدل جوړول جائز نه دي لکه څنګه چې دبعضې نحویانو مذهب دي اوحکماً هغه وخت چې کله مبدل منه باندې د عامل ددخول سره اکتفاء وکړي شي اوبدل طرف ته دهغه حکم دسرایت اعتبار وکړي شي .

همدارنګې که په دریم مثال کې لفظ باندې محمول شي اوبدل جوړ کړي شي اوداسې وویلي شي چې **مازيد شيئاً الا شيئاً** نو ددې نه مخکې **مازائده** کول ضروري دي **حقيقةً** یا **حکماً** ځکه چې په دې کې عمل وشي حقیقةً په هغه وخت کې چې کله بدل دتکرار دعامل په حکم کې وي او حکماً په هغه وخت کې چې کله مبدل منه دعامل ددخول سره اکتفاء وشي اوبدل طرف ته دهغه حکم دسرایت اعتبار وکړي شي حالانکه **ما** او **لا** داثبات نه وروستو عامل مقدر کیدې نه شي ځکه چې دادواړه معنی دنفي دوجې نه عمل کوي اونفي دالا دوجې نه ماته شوه نوپه دې صورتونو کې مستثنی لره دمستثنی منه په محل باندې به محمول شي اوبدل به جوړ شي ځکه چې په لفظ باندې محمول کول اوبدل جوړول متعذر دي لهذا په دویم مثال کې **عمرو** به مرفوع وي په دې بناء باندې چې هغه په محل باندې محمول دي اودهغه محل رفع دي په دې بناء باندې چې هغه مبتدا دي اودریم مثال کې **شئ** مرفوع دي ځکه چې هغه **شيئاً** په محل باندې محمول دي اوهغه په محل درفع کې دي په دې بناء چې هغه خبر دي .

ومن ثم جاز : په دې عبارت سره شارح په ماقبل باندې دتفریع بیان کوي ځکه چې دليس عمل د

فعليت په وجې سره وي نه دنفي دمعنى په وجې سره او ما او لا عمل معنى دنفي دوجې سره وي ددې وجې نه ليس زيد الا قائماً ترکيب جائز دي اګرچې دليس نفي د الا دوجې نه ماته شوي ده ليکن دهغه عمل دفعليت دوجې نه دي اوهغه باقي دي لهذا ليس په قائماً کې عمل کولې شي او قائماً ته دخبريت په بناء نصب ورکولې شي اوما زيد الا قائما والا ترکيب جائز نه دي خکه چې د ما عمل دنفي د وجې څخه دي اونفي د الا دوجې نه ماته شوه لهذا ما په قائماً کې عمل نه شي کولې اودې ته دخبريت په بناء نصب نه شي ورکولې خکه چې دا ممتنع دي

من حيث : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : اذا تعذر البدل کې على لره د تعذر صله جوړول صحيح نه دي خکه چې د تعذر صله باء راخي على نه راخي .

جواب : على د تعذر صله نه ده بلکې داد محذوف صله ده چې حمل دي من حيث حمله سره يې دې طرف ته يې اشاره وکړه

اى لفظ المستثنى منه : په دې عبارت سره شارح اشاره کوي چې په اللفظ کې الف لام دمضاف اليه په عوض کې دي چې مستثنى منه دي

اى يحمل على : په دې عبارت سره شارح د على الموضع متعلق بيانوي چې ددې متعلق محذوف دي چې يحمل دي ، يادا جواب دي دسوال مقدر

سوال : اذا تعذر شرط اوفعلى الموضع جزا ده حالانکه دجزاء دپاره جمله کيدل ضروري دي فعلى الموضع جمله نه ده .

جواب : على الموضع جارمجرور ديحمل محذوف متعلق دي اودا جمله جزاء ده

اى على موضع المستثنى منه : المستثنى منه لره يې مقدر کړو اوشارح دجامي وايي چې په الموضع ب دي الف لام دمضاف اليه په عوض کې دي

لا على لفظه : په دې عبارت سره شارح اشاره وکړه چې فعلى الموضع قيد احترازي دي په دې سره په لفظ باندې دحمل نه احتراز دي .

مثل ما جاءني من احد الا زيد : په دې عبارت سره شارح دمثالونو وضاحت کوي

عملاً : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : کله چې مستثنی د مستثنی منه په لفظ باندې حمل کول متعذر دي نو مناسب ده چې دې لره منصوب على الاستثناء ولوستلې شي

جواب : مستثنی لره د مستثنی منه په محل باندې محمول کول اوبدل ترې ځکه جوړ کړي شو چې **بقدر الامکان** په مختار باندې عمل وشي ځکه چې بدل جوړول مختار اوغوره دي .

اي لايعتد : په دې عبارت سره شارح د لا يعبأ معنى بيانوي .

وقوله : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : د مصنف مقصد **تعذر بدل عن لفظ المستثنى منه** مثال پيش كول دي او دا مقصد په ما **زيد شيئاً الا شئ** سره هم حاصليږي نود لا يعبأبه اضافه يې ولې وکړه ؟

جواب : لا يعبأبه په ډيرو نسخو کې نشته دي نو په دې باندې څه اشکال نشته دي اوپه کومو نسخو کې چې واقع دي نوپه هغې کې هغه د **شئ** صفت دي چې مستثنى دي اوداصفت يې ځکه راوړو چې **استثناء الشئ على نفسه** والاخرابي لازم رانه شي بلکه **استثناء الخاص عن العام** راشي کومه چې په کلام دعربو کې شائع دي

ولا يخفى : په دې عبارت سره شارح په **قول القائل وانما وصفه** باندې اعتراض کوي .

اعتراض : اعتراض دادې چې ددې صفت داضافې نه په غير هم دا مثال صحيح کيدې شي بلکه هغه صورت زيات قوي او دقيق دي هغه صورت دادې چې مستثنى منه لره داسې **شئ** جوړ کړي شي چې ددې نه عام وي چې په دې باندې د **شئ** کيدو نه غير څه بل صفت مثلاً **عظيم** يا **حليم** يا **عليم** يا **شريف** کيدل زيات کړي شي اويانه اومستثنى لره داسې **شئ** سره خاص کړي شي چې په هغه باندې د**شئ** کيدو نه غير بل صفت زائد نه وي نو اوس **استثناء الشئ عن نفسه** والا خرابي لازم نه راځي بلکه **استثناء الخاص عن العام** به لازم راځي اولا **يعبأبه** دقيد اضافي حاجت هم نه راځي دا صورت دقيق ځکه دي چې په دې کې زيات تامل اوتوجه ته ضرورت راځي او لطيف ځکه دي چې په دې کې د لا **يعبأبه** دصفت داضافه کولو ضرورت نه راځي .

وانما تعذر البدل : په دې عبارت سره شارح ديو وهم ازاله کوي .

وهم : وهم داوو چې کيدې شي چې **لان من** ددريم مثال دليل وي ځکه چې دغه اقرب دي نو

شارح دا وهم په وانما تعذر سره ختم کړو چې دا داول مثال دليل دي د دريم مثال دليل نه دي

من الاستغراقية: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: دا قاعده منقوضه ده وماته ده په قد کان من مطر سره ځکه چې دا کلام مثبت دي او په دې کې من موجود دې

جواب: دلته د من نه مراد من استغراقيه دي په ذکر شوي مثال کې من استغراقيه نه دي بلکه من زائده دي

اى بعد ما: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: ماجاءني من احد الا زيد دا کلام منفي دي مثبت نه دي نو دا تعليل د دې سره څنګه موافق شو؟

جواب: دلته د اثبات نه مراد اثباتِ ابتدائي نه دي بلکه اثباتِ انتهائي مراد دي او په ذکر شوي مثال کې ابتداء د اعتبار سره اګر که منفي دي ليکن انتهاء په اعتبار سره مثبت دي لهذا تعليل صحيح دي.

يو اعتراض او د هغې جواب:

فَإِنْ قُلْتَ لِأَحَدٍ فِيْ هَذَا الْمِثَالِ مَحَلَّانِ مِنَ الْإِعْرَابِ مَحَلٌّ قَرِيْبٌ هُوَ نَصْبُهُ

که ته چيرته اعتراض وکړي چې د احد پاره په دې مثال کې دوه محله دي د اعراب يو محل قريب دي هغه نصب

بِكَلِمَةِ لَا وَ مَحَلٌّ بَعِيْدٌ وَ هُوَ رَفْعُهُ بِالْإِبْتِدَاءِ فَلِمَ اعْتَبَرُوْا حَمْلَهُ عَلَى مَحَلِّهِ

دي په کلمې د لا سره او بل محل بعيد دي او هغه رفع ده په ابتدا سره نو ولې معتبر کړو نحويانو حمل د دې په محل

الْبَعِيْدِ لَا الْقَرِيْبِ قُلْتُ لِأَنَّ مَحَلَّهُ الْقَرِيْبَ إِنَّمَا لِعَمَلٍ لَا فِيْهِ بِمَعْنَى النَّفْيِ وَ

بعيد باندې نه په قريب باندې نو موږ وايو چې محل قريب دا د پاره د عمل د لا دي په دې کې په معنى د نفي سره او

قَدِ انْتَقَضَ بِهِ إِلَّا بِخِلَافِ مَحَلِّهِ الْبَعِيْدِ فَإِنَّهُ لَا دَخْلَ لِعَمَلٍ لَا فِيْهِ بِخِلَافِ لَيْسَ

په تحقيق سره مات شو په الا سره په خلاف د محل بعيد ځکه نشته دخل د عمل د لا د پاره په دې کې په خلاف د ليس

زَيْدٌ شَيْئًا إِلَّا شَيْئًا مَعَ أَنَّهُ انْتَقَضَ النَّفْيُ فِيْهِ أَيْضًا بِهِ إِلَّا لِأَنَّهَا أَيْ لَيْسَ عَمِلَتْ

زيد شيئاً الا شيئاً سره د دې چې ماته شوې ده نفي په دې کې هم د ارنګې په الا سره ځکه چې دا يعني نه دي چې عمل

لِلْفِعْلِيَّةِ لَا لِلنَّفْيِ فَلَا أَثَرَ فِيْهَا لِنَقْضِ مَعْنَى النَّفْيِ فِيْ عَمَلِهَا لِبَقَاءِ

وکړي د پاره د فعليت نه د نفي د پاره نو نشته څه اثر په دې کې د ماتيدو د معنى د نفي په عمل د دې کې د پاره د بقا

الْاَمْرِ الْعَامِلَةِ هِيَ اَيْ لَيْسَ لِاَجْلِهِ اَيْ لِاَجْلِ ذٰلِكَ الْاَمْرِ وَ هُوَ الْفِعْلِيَّةُ وَ مِنْ ثَمَّ اَيْ وَ مِنْ اَجْلِ

دامرعامله يعنى ليس دوجې ددې نه يعنې دوجې ددې امراوهغه فعليت دي اوددې وجې نه يعنې ددې وجې نه

اَنَّ عَمَلَ لَيْسَ لِلْفِعْلِيَّةِ لَا لِلنَّفْيِ وَ عَمَلَ مَا وَ لَا بِالْعَكْسِ جَازَ لَيْسَ زَيْدٌ اِلَّا قَائِمًا بِاِعْمَالِ

چې عمل دليس دپاره دفعليت دي نه دپاره دنفي اوعمل دماولابالعكس دي نوجائزدي ليس زيدالاقائمابه عمل

لَيْسَ فِيْ قَائِمًا وَ اِنِ انْتَقَضَ نَفْيُهَا بِـ اِلَّا لِبَقَاءِ فِعْلِيَّتِهَا وَامْتَنَعَ مَا زَيْدٌ اِلَّا قَائِمًا

كولودليس په قائماكې اوكه چيرته ماته شي نفي په الاسره دپاره دبقاءدفعليت ددې اوممتنع دي مازيدالا قائماپه

بِاِعْمَالِ مَا فِيْ قَائِمًا لِاَنَّ عَمَلَهَا فِيْهِ اِنَّمَا هُوَ لِلنَّفْيِ وَقَدِ انْتَقَضَ بِـ اِلَّا .

عمل وركولودمابه قائماكې ځكه عمل ددې په دې كې دادي دپاره دنفي اودامات شوپه الاسره .

خلاصه دمتن : فان قلت سره شارح يو اعتراض نقل كوي او په قلت سره ددې اعتراض جواب وركوي

اغراض دجامي : فان قلت : په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل كوي اوپه قلت سره ددې جواب وركوي .

اعتراض : په لا احد فيها الا عمرو كې د احد دوه ، ۲ ، محله دي : ، ۱ ، محلِ قريب اوهغه نصب دي د كلمې د لا دوجې نه . ، ۲ ، محل بعيد اوهغه رفع ده د ابتداء دوجې نه ددې څه وجه ده چې عمرو لره د احد په محلِ بعيد باندې محمول شو اومرفوع ولوستلي شو په محلِ قريب باندې محمول شو خو منصوب لوستلي نه شو .

جواب : ددې محلِ قريب كې د لا اثر اوددغه عمل دخل دي اودلا عمل معنى دنفي دوجې نه كيږي اونفي خو دالا دوجې نه ماته شوه په خلاف دمحملِ بعيد چې په دې كې دلا عمل څه دخل نشته دي اوهغه دعاملِ معنوي دابتداء دوجې نه مرفوع دي ددې وجې نه دمحلِ بعيد اعتبار يې وكړه په خلاف دليس زيد شيئاً الا شيئاً په دې كې مستثنى لره دمستثنى منه لفظ باندې محمول كول اوبدل جوړول جائز دي باوجو ددې په دې كې هم نفي دالا دوجې نه ماته شوه دا جائز ځكه وي چې ليس دفعليت دوجې نه عمل كوي معنى دنفي دوجې نه . نه لهذا دنفي د ماتيدو دوجې نه دهغه په عمل كې څه اثر نه پريوځي ځكه چې دهغه عمل دفعليت دوجې نه دي اوهغه باقي دي .

ومن ثم اى ومن اجل: په دې عبارت سره شارح په ماقبل باندې د تفريع بيان كوي چې ددې

تفریع حاصل دادي چي دلیس عمل دفعلیت دوجي نه وي دنفي دوجي نه .نه وي د دې وجي نه لیس زیداً قائماً ویل جائز دي اګرکه د الا دوجي نه معنی دنفي منقوض شوي ده لیکن دلیس فعلیت باقي دي د دې وجي نه دهغه عمل هم باقي دي خکه چي لیس قائماً لره بناء برخبریت نصب ورکولي شي مازید الا قائماً ویل جائز نه دي خکه چي دما ولا عمل معنی دنفي دوجي نه وو او د الا د وجي نه معنی د نفي ماته شوي ده لهذا دا قائماً ته بناء برخبریت نصب نه شي ورکولي

دمستثنی داعراب دڅلورم قسم ذکر :

وَ الْمُسْتَثْنٰى مَخْفُوْضٌ اَیْ مَجْرُوْرٌ بَعْدَ غَیْرَ وَ سِویٰ بِکَسْرِ السِّیْنِ اَوْ ضَمِّهَا مَعَ الْقَصْرِ
اومستثنی مخفوض یعني مجروروي پس دغیراودسوی نه په کسری دسین اویاپه ضمې سره د الف مقصوره
وَ سِوَاءَ بِفَتْحِ السِّیْنِ وَ کَسْرِهَا مَعَ الْمَدِّ لِکَوْنِهٖ مُضَافًا اِلَیْهِ وَ بَعْدَ
اوبرابرد خبره ده چي په فتحې دسین سره وي اوکه په کسرې سره .سره د مد دوجي د کیدونه مضاف الیه اوپس د
حَاشَا فِي الْاَکْثَرِ لِکَوْنِهَا حَرْفَ جَرٍّ فِيْ اَکْثَرِ اِسْتِعْمَالَاتِهِمْ وَ اَجَازَ بَعْضُهُمُ النَّصْبَ بِهَا
حاشانه په اکثرکي دوجي دکیدونه حرف جرپه اکثراستعمال کي اوجائزکړي بعضې نحویانونصب په دي سره
عَلٰى اَنَّهَا فِعْلٌ مُتَعَدٍّ فَاعِلُهٗ مُضْمَرٌ وَ مَعْنَاهَا تَبْرِئَةُ الْمُسْتَثْنٰى عَمَّا نُسِبَ
چي دافعل متعدي دي اوفاعل د دې مضمردي اومعنی د دې بري کول دمستثنی دي دهغه څه نه چي مسوب
اِلَى الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ نَحْوُ ضَرَبَ الْقَوْمُ عَمْرًوا حَاشَا زَیْدًا اَیْ بَرَّاَهُ اللّٰهُ عَنْ ضَرْبِ عَمْرٍو.
شوي مستثنی منه طرف ته لکه ضرب القوم عمرواًحاشازیداًیعني خلاص کړوالله هغه دوهلود عمرونه .

خلاصه دمتن : د دې ځاي نه دمستثنی داعراب دڅلورم قسم بیان دي چي هغه مستثنی چي غیر ،سواء ، اودسواء نه وروستو واقع وي نودابه مجرور وي اود حاشانه وروستو هم په اکثر ستعمال کي مجرور وي

اغراض دجامي : المستثنی: په دې عبارت سره شارح دغیر مشهور تفسیر په مشهور سره کوي .

مجرور : په دې عبارت سره شارح بیان دمعنی کوي چي دمخفوض معنی مجرور ده

مع القصر : په دې عبارت سره شارح بیان داعراب کوي یعني سوی الف مقصوره سره دي په دې کي دوه (۲) لغتونه جائز دي (۱) دسین ضمه (۲) دسین فتحه

لکونه مضافا اليه: په دې عبارت سره شارح د سوی او سواء نه وروستو د مستثنی مجرور کيدو وجه بيانوي ددې نه وروستو مستثنی څکه مجرور وي چې مستثنی ددې مضاف اليه وي او مضاف اليه مجرور وي

لکونه: په دې عبارت سره شارح د حاشا نه وروستو په اکثر استعمال کې د مستثنی مجرور کيدو وجه بيانوي د حاشا نه وروستو مستثنی څکه مجرور وي چې په اکثر استعمال کې حاشا حرف جر دي لهذا ددې نه وروستو واقع کيدو والا اسم به مجرور وي

واجاز: په دې عبارت سره شارح داکثر مقابل بيانوي چې بعضې نحويان د حاشا نه وروستو نصب جائز کوي په دې بناء چې حاشا فعل متعدي دي ددې فاعل ضمير دي او ددې معنی مستثنی لره دداسې شئ بري کوي کوم چې مستثنی منه طرف ته منسوب دي مثلاً ضرب القوم عمروا حاشا زيد ددې معنی دہ الله تعالى زيد لره د عمرو وهلو نه بري او خلاص کړو

داعراب غير بيان:

وَ إِعْرَابُ غَيْرَ فِيْهِ أَيِ الْإِسْتِثْنَاءِ دُوْنَ الصِّفَةِ إِذْ هُوَ حِيْنَئِذٍ يُعْرَبُ بِإِعْرَابِ مَوْصُوْفِهِ
اواعراب غير په دې کې يعنې په استثناء کې نه په صفت کې څکه په دې وخت کې معرب وي په اعراب د موصوف
كَإِعْرَابِ الْمُسْتَثْنٰى بِإِلَّا عَلَى التَّفْصِيْلِ الْمَذْكُوْرِ فِيْمَا سَبَقَ فَكَأَنَّهُ لَمَّا انْجَرَّ بِهِ
سره لکه اعراب د مستثنی په الا سره په هغه تفصيل سره چې ذکر شوي مخکې نو گويا چې هر کله مجرور شو په دې
الْمُسْتَثْنٰى بِالْإِضَافَةِ انْتَقَلَ إِعْرَابُهُ إِلَيْهِ وَ غَيْرَ أَيْ كَلِمَةُ غَيْرَ فِي الْأَصْلِ صِفَةٌ لِدَلَالَتِهَا
سره مستثنی په اضافت سره نو منتقل شو اعراب ددې غير طرف ته يعنې کلمه د غير په اصل کې صفت دي چې دلالت
عَلٰى ذَاتٍ مُبْهَمَةٍ بِاعْتِبَارِ قِيَامِ مَعْنَى الْمُغَايَرَةِ بِهَا فَالْأَصْلُ فِيْهَا أَنْ تَقَعَ صِفَةً
کوي په ذات مبهم باندې په اعتبار د قيام د معنی د مغايرة په دې سره نو اصل په دې کې دا دې چې واقع وي صفت
كَمَا تَقُوْلُ جَاءَنِيْ رَجُلٌ غَيْرُ زَيْدٍ وَ اِسْتِعْمَالُهَا عَلٰى هٰذَا الْوَجْهِ كَثِيْرٌ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ لٰكِنَّهَا
لکه څنګه چې تاسو وايې جاءني رجل غير زيد او استعمال ددې په دې طريقې باندې ډير دي په کلام د عربو کې ليکن
حُمِلَتْ عَلٰى إِلَّا وَ اسْتُعْمِلَتْ مِثْلَهَا فِي الْإِسْتِثْنَاءِ عَلٰى خِلَافِ الْأَصْلِ وَ ذٰلِكَ
دا حمل کړې شوي دي په الا باندې او استعمال شوي دي په شان ددې په استثناء کې په خلاف د اصل او دا دوجې د
لِاشْتِرَاكِ كُلٍّ مِنْهُمَا فِيْ مُغَايَرَةِ مَا بَعْدَهُ لِمَا قَبْلَهُ كَمَا حُمِلَتْ إِلَّا عَلَيْهَا أَيْ
اشتراک د هر يو ددې دواړو نه په مغايرت د مابعد ددې د ماقبل د پاره لکه څنګه چې حمل شوې الا په دې باندې يعنې

عَلٰی كَلِمَةِ غَيْرَ فِي الصِّفَةِ لٰكِنْ لَا تُحْمَلُ إِلَّا عَلَيْهَا فِي الصِّفَةِ غَالِباً إِلَّا إِذَا كَانَتْ

په کلمه د غیر باندې په صفت کې لیکن دا نه شي حمل کولې مګر په دې باندې په صفت کې غالبا مګر چې کله وي

أَيْ إِلَّا تَابِعَةً لِجَمْعٍ أَيْ وَاقِعَةً بَعْدَ مُتَعَدِّدٍ فَوَجَبَ أَنْ يَكُوْنَ مَوْصُوْفُهَا مَذْكُوْراً لَا مُقَدَّراً كَمَا قَدْ

یعنې الا تابع د پاره د جمع یعنې واقع وي پس د متعدد نو واجب دې چې وي موصوف د دې مذکور نه مقدر لکه څنګه

يَكُوْنُ مُقَدَّراً فِي غَيْرَ مِثْلُ جَاءَنِيْ غَيْرُ زَيْدٍ وَ بَعْدَ مَا كَانَ مَذْكُوْراً يَكُوْنُ مُتَعَدِّداً لِيُوَافِقَ

چې وي مقدر په غیر کې لکه جاءني غیر زید او پس د هغه نه چې وي مذکور نو وي به متعدد د دې د پاره چې موافق شي

حَالُهَا صِفَةً حَالَهَا أَدَاةَ الْإِسْتِثْنَاءِ إِذْ لَا بُدَّ لَهَا فِي الْإِسْتِثْنَاءِ مِنْ

حال د دې د صفت سره په هغه حال کې چې هغه د حرف استثناء د پاره وي خکه چې نشته دې خلاصي په استثناء کې

مُسْتَثْنًی مِنْهُ مُتَعَدِّدٍ فَلَا تَقُوْلُ فِي الصِّفَةِ جَاءَنِيْ رَجُلٌ إِلَّا زَيْدٌ وَ الْمُتَعَدِّدُ أَعَمُّ مِنْ أَنْ يَكُوْنَ جَمْعاً لَفْظاً كَرَجُلٍ

د مستثنی منه متعدد نه نو نه شي ویلې په صفت کې جاءني رجل الا زید او متعدد عام دې چې وي جمع لفظا لکه رجل

أَوْ تَقْدِيْراً كَقَوْمٍ وَرَهْطٍ وَأَنْ يَكُوْنَ مُثَنًّی فَدَخَلَ فِيْهِ نَحْوُ مَا جَاءَنِيْ رَجُلَانِ إِلَّا زَيْدٌ مَنْكُوْرٍ أَيْ مُنَكَّرٍ

او یا تقدیرا لکه قوم او رهط او یا وي تثنیه نو داخل شو په دې کې د امثال چې ما جاءني رجلان الا زید منکور یعنې نکره وي

لَا يُعَرَّفُ بِاللَّامِ حَيْثُ يُرَادُ بِهِ الْعَهْدُ أَوِ الْإِسْتِغْرَاقُ فَيُعْلَمُ

چې نه وي معرفه په لام سره په داسې شان چې اراده کولې شي په دې سره عهد خارجي او یا استغراقي نو معلوم شو

التَّنَاوُلُ عَلٰی تَقْدِيْرِ الْإِسْتِغْرَاقِ وَ عَلٰی تَقْدِيْرِ أَنْ يُشَارَ بِهِ إِلٰی جَمَاعَةٍ يَكُوْنُ زَيْدٌ مِنْهُمْ

شمول په تقدیر د استغراق کې او په تقدیر د دې چې اشاره وکړې شي په دې سره یو جماعت ته چې وي زید د دوي نه

فَلَا يَتَعَذَّرُ الْإِسْتِثْنَاءُ الْمُتَّصِلُ أَوْ عَدَمُ التَّنَاوُلِ قَطْعاً عَلٰی تَقْدِيْرِ أَنْ يُشَارَ بِهِ إِلٰی جَمَاعَةٍ

د دوي نه نو نه ده متعذر د استثنا متصل او عدم شمول قطعا په دې تقدیر چې اشاره وکړې شي په دې سره یو جماعت ته

لَمْ يَكُنْ زَيْدٌ مِنْهُمْ فَلَا يَتَعَذَّرُ الْمُنْقَطِعُ غَيْرِ مَحْصُوْرٍ وَ الْمَحْصُوْرُ نَوْعَانِ إِمَّا الْجِنْسُ الْمُسْتَغْرِقُ نَحْوُ

چې نه وي زید د دوي نه نو نه دې متعذر منقطع غیر محصور او محصور په دوه قسمه دې یا د جنس مستغرق د پاره لکه

مَا جَاءَنِيْ رَجُلٌ أَوْ رِجَالٌ أَوْ بَعْضٌ مِنْهُ مَعْلُوْمُ الْعَدَدِ نَحْوُ لَهُ عَلَيَّ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ أَوْ عِشْرُوْنَ وَ إِنَّمَا اشْتُرِطَ

ما جاءني رجل او رجال او یا بعضې د دې نه معلوم العدد وي لکه له علي عشرة دراهم او عشرون او په تحقیق سره شرط کړو

أَنْ يَكُوْنَ غَيْرَ مَحْصُوْرٍ لِأَنَّهُ إِنْ كَانَ مَحْصُوْراً عَلٰی أَحَدِ الْوَجْهَيْنِ وَجَبَ دُخُوْلُ مَا بَعْدَ إِلَّا فِيْهِ

چې ... غیر محصور خکه که چیرته محصور وي په یو د دې دواړو وجهو نو واجب دې دخول د ما بعد د الا په دې کې

فَلَا يَتَعَذَّرُ الْإِسْتِثْنَاءُ نَحْوُ كُلُّ رَجُلٍ إِلَّا زَيْداً جَاءَنِيْ وَ لَهُ عَلَيَّ عَشَرَةٌ إِلَّا دِرْهَماً وَ إِنَّمَا يُصَارُ عِنْدَ وُجُوْدِ

نو نه د د متعذر د استثنا لکه. کل رجل الا زیدا جاءني وله علي عشرة الا درهما او په تحقیق سره ګرځوي په وخت د وجود

هٰذِهِ الشَّرَائِطِ إِلَى حَمْلِ إِلاَّ عَلَى غَيْرَ لِتَعَذُّرِ الْاِسْتِثْنَاءِ عِنْدَ وُجُوْدِهَا فَيُضْطَرُّ إِلَى حَمْلِهَا
ددې شرائطو کې د حمل کولو د الا په غير باندې دوحې د تعذر د استثناء په وخت د وجود ددې کې نو مجبور بۍ حمل
عَلَى غَيْرَ وَ إِنَّمَا قُلْنَا فِي صَدْرِ هٰذَا الْكَلاَمِ إِنَّ إِلاَّ لاَ تُحْمَلُ عَلَى الصِّفَةِ
ددې ته په غير باندې او په تحقيق سره مونږ وويل په اول ددې کلام کې چې الا دا نه شي حمل کولې په صفت باندې
غَالِباً فَقَيَّدْنَاهُ بِقَوْلِنَا غَالِباً لِأَنَّهُ قَدْ يَتَعَذَّرُ الْاِسْتِثْنَاءُ فِي الْمَحْصُوْرِ نَحْوُ جَاءَنِي مِأَةُ رَجُلٍ
غالباً نو مونږ مقيد کړه په دې قول سره چې غالباً ځکه کله کله متعذر وي استثناء په محصور کې لکه جاءني مائة رجل
إِلاَّ زَيْدٌ وَقَدْ لاَ يَتَعَذَّرُ فِي غَيْرِ الْمَحْصُوْرِ نَحْوُ مَا جَاءَنِي رِجَالٌ إِلاَّ وَاحِداً أَوْ إِلاَّ رَجُلاً أَوْ إِلاَّ حِمَاراً وَلٰكِنْ لَمَّا كَانَ
الا زيد او کله نه وي متعذر په غير د محصور کې لکه ما جاءني رجال الا واحدا او الا رجلا او الا حمارا خو ليکن هر کله چې
ذٰلِكَ نَادِراً لَمْ يَلْتَفِتِ الْمُصَنِّفُ إِلَيْهِ فِي بَيَانِ هٰذِهِ الْقَاعِدَةِ.
وو دا نادر نو توجه ونه کړه مصنف دې ته په بيان ددې قاعده کې

خلاصه دمتن : دلفظ غير اعراب په باب داستثناء کې مستثنى للاعراب په شان دي ، چې ددې تفصيل مخکې تير شوي دي . ګويا چې کله غير مستثنى طرف ته داضافت دوجې نه مستثنى باندې جر راخي نو دمستثنى اعراب غير طرف ته به منتقل کيږي

اغراض دجامي : الا ذا كانت : الا لره په غير صفت باندې په هغه وخت کې محمول کيږي کله چې داالا د داسې جمع نه وروستو واقع وي چې جمع منکر وي او غير محصور وي .

اى في الاستثناء : په دې عبارت سره شارح بيان دمرجع کوي چې د فيه ضمير مرجع الاستثناء ده .

دون : په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې داستثناء قيد احترازي دي په دې سره احتراز دي د هغه غير نه چې صفت وي ځکه چې کله غير صفت وي نو ددې اعراب دموصوف داعراب مطابق اوموافق وي

وغير : لفظ د غير په اصل کې صفت دي ځکه چې دا په ذات مبهم باندې دلالت کوي په دې اعتبار سره چې ددې سره معنى دمغائرت قائميږي يعنې دهغه مابعد دهغه ماقبل مغائرت کيدو باندې دلالت کوي پس په دې کې اصل دادې چې داصفت واقع وي لکه جاءني رجل غير زيد او په دې طريقه باندې په کلام دعربو کې ددې استعمال کثير دي ليکن کله کله غير لره په خلاف اصل الا باندې محمول کولې شي او په استثناء کې استعماليږي ددې دحمل وجه دا ده چې الا او غير دادواړه دخپل ماقبل دپاره دخپل مابعد په مغائرت کې مشترک دي يعنې څنګه

چې د الا مابعد د هغه ماقبل مغائر وي همدارنګې دلفظ د غیر مابعد ددې ماقبل مغائر وي
ددې وجې نه کله کله غیر لره په الا باندې محمولولې شي اوپه استثناء کې استعمالولي شي
لکه څنګه چې الا لره په غیر باندې محمول شي اوپه صفت کې استعمالیږي

واستعملت مثلها : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : غیر په الا باندې محمول کول صحيح نه دي ځکه چې د حمل دپاره محمول اود محمو
علیه اتحاد شرط دي اودلته اتحاد نشته دي .

جواب : دلته د حمل اصطلاحي معنی مراد نه ده بلکې د حمل نه مراد غیر د الا په شان اود هغ
په مثل استعمالیدل دي .

ای کلمة غیر : په دې عبارت سره غرض د شارح د دوه سوالینو مقدرو جواب ورکول دي :

سوال (۱) : غیر مبتدا او صفة خبر دي اودمبتدا دپاره ضروري دي چې دابه معرفه وي یا نکر
مخصصه وي اوغیر نه معرفه دي اونه نکره مخصصه بلکه نکره محضه ده نو دې لره مبتد
جوړول څنګه صحيح دي ؟.

سوال (۲) : د حملت ضمير غیر طرف ته راجع دي حالانکه ضمير د مؤنث دي اولفظ د غ
مذکر دي نو د راجع اودمرجع په مينځ کې مطابقت نشته دي .

جواب : شارح په کلمې د غیر سره ددواړو سوالونو جوابات ورکوي چې دلته د غیر نه مرا
کلمه د غیر ده نو د راجع اومرجع په مينځ کې مطابقت پیدا شو لهذا دويم اعتراض دفع شو ، ا
اولنې سوال هم دفع شو چې دلفظ نه مراد نفسِ لفظ وي اوددې نه د معنی اراده شوي نه وي ن
هغه علم ګرځي اوعلم معرفه وي نو اول سوال هم رفع شو

الا اذا كانت ای الا : په دې عبارت سره شارح دکانت هي ضمير مرجع متعين کړي ده چې د کانت
ضمير مرجع الا دي

واقعة بعد : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : په الا اذا كانت تابعة کې دکانت ضمير الا طرف ته راجع دي نو مطلب به داشي مګر کله
چې الا تابع وي حالانکه الا تابع جوړول صحيح نه دي ځکه چې تابع اسم وي او الا حرف دي

جواب : دله دتابع اصطلاحي معنی مراد نه ده بلکه دتابع لازمي معنی بعد مراد دي نو معنی به يې داشي مګر کله چې الا دجمع نه وروستو واقع وي بيا کله چې **تابعةً** دبعدُ په معنی کې شي نو بعدُ ظرف دي اوظرف دمتعلق تقاضا کوي نو **واقعةً** لفظ مقدر سره شارح دبعدُ متعلق طرف ته اشاره کوي.

متعدد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : ستاضابطه اوقاعده منقوضه اوماته ده په **ماجاءني رجل الا زيد** سره ځکه چې الا دغير په معنی کې دي اودماقبل صفت دي ليکن دجمع نه وروستو واقع نه دي بلکه دمفرد نه وروستو واقع دي.

جواب : دلته دجمع نه مراد جمع اصطلاحي نه ده بلکه جمع دلته دمتعدد په معنی کې ده دلته **رجل** دنکرې **تحت النفي** واقع کيدو دوجې نه په عموم او**تعدد** باندې دلالت کوي لهذا دابه هم په ذکر شوي قاعده کې داخل شي.

فوجب ان يكون : په دې عبارت سره شارح په ماقبل باندې تفريع کوي ځکه چې دالا استعمال په صفت کې خلافِ اصل دي لهذا دهغه سره داضروري دي چې دهغه موصوف به مذکور وي چې دوصفيت والا معنی ظاهره شي په خلاف دغير چې دادصفت دپاره اصل دي ځکه چې ددې موصوف کله کله مقدر کيدې هم شي مثال لکه **جاءني غير زيد** په دې کې د **غير** موصوف مقدر دي چې **قوم** دي.

وبعد ما يكون مذكوراً يكون متعدداً: په دې عبارت سره شارح دتعدد دشرط وجه بيانوي د موصوف دمتعدد کيدو شرط يې ځکه لږولي دي چې الا صفتيه د الا استثنائيه دحال موافق شي يعنې لکه څنګه چې دالا مستثنی منه متعدد کيدل ضروري دي همدارنګې موصوف متعدد کيدل هم ضروري دي ځکه چې الا استثنائيه او الا صفتيه ديوبل موافق شي پس په الا صفتي کې داسې ويل جائز دي چې **جاءني رجل الا زيد** ځکه چې **رجل** متعدد نه دي اوپه متعدد کې تعميم دي برابره خبره ده که دا **لفظاً** جمع وي مثال لکه **رجال** يا**تقديراً** جمع وي لکه **قوم** ، **رهط** يا داتثنيه وي ځکه چې په تثنيه باندې هم دتعدد اطلاق کيږي مثال لکه **جاءني رجلان الا زيد** ويل جائز دي.

منكور اى منكر : په دې عبارت سره شارح دغير مشهور تفسير په مشهور سره كوي چې دلته منكور دمنكر په معنى سره دي دمنكر مطلب دادې چې دغه جمع لام عهد يا لام استغراق سره معرفه نه وي ځكه چې كه لام استغراق سره معرفه وي نو بيابه مستثنى منه مستثنى ته په يقيني طور باندې شامل شي اودمستثنى دخول به په مستثنى منه كې يقيني شي لهذا مستثنى متصل به متعذر نه شي او الا لره دمعنى حقيقي نه خارج كيدو ضرورت نه وي ددې وجې نه الا په غير باندې نه شي محمول كولې كه په لام عهد سره معرفه وي نوبيادوه (۲) صورتونه دي :

(۱)الف لام نه داسې جماعت طرف ته اشاره وي چې مستثنى په هغې كې داخل نه وي نو استثناء منقطع ده .

(۲)اوكه داسې جماعت طرف ته اشاره وي چې مستثنى په هغې كې داخل وي نومستثنى متصل ده ، نو په دواړو صورتونو كې دالا حقيقي معنى متعذر نه ده لهذا حقيقي معنى پريخودل اوهغه لره دغير په معنى كې نه شي كيدې ددې وجې نه د منكر شرط ولږولې شو .

والمحصور نوعان : په دې عبارت سره شارح دمحصور داقسامو بيان كوي ، محصور په دوه (۲) قسمه دي : (۱) جنس مستغرق ددې مطلب دادې چې دهغه ټول افرادو احاطه شوې وي يو فرد هم ددې نه خارج نه وي لكه ماجاءني رجل يا ماجاءني رجال په دې كې رجل جنس مستغرق دي .

(۲) دجنس بعضې افراد معلوم العدد وي مثال لكه له علي عشرة دراهم يا له علي عشرون درهما په دې كې درهم جنس دي اوددې بعضې افرادمعلوم العدددي اوهغه لس(۱۰)اوياشل(۲۰)دي .

وانما اشترط : په دې عبارت سره شارح دذكر شوې شرط وجه بيانوي دغير محصور كيدو شرط يې ځكه لږولي دي چې كه چيرته مستثنى منه محصور وي نو دالا مابعد په ماقبل كې دخول يقيني كيږي لهذا استثناء به متعذر نه وي لكه كل رجل الا زيد جاءني په دې كې دزيد دخول په كل رجل كې يقيني دي او له علي عشرة الا درهما په دې كې د درهماً دخول په عشرة كې يقيني دي .

وانما يصار : په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې كله ذكر شوي دري (۳) شرطونه موجودشي (۱) الا د متعدد نه وروستو واقع وي (۲) دا متعدد منكر وي . (۳) غير محصور وي ، نو دې لره د غير په معنى باندې ولې محمول كيږي ددې باعث څه دي نو شارح ددې باعث او وجه بيانوي چې په دې صورت كې داستثناء حقيقي معنى متعذر ده نه استثناء متصل جوړيدې

شي اونه منقطع جوړيدي شي ځکه چې مستثنی په مستثنی منه کښې نه دخول يقيني نه عدم دخول شته ددې وجې نه هغه په غير باندې محمول کول اوصفت جوړولې شي .

انما قلنا: په دې عبارت سره شارح دماقبل لفظ وغالباً وجه بيانوي ، دغالباً قيد يې ځکه لړولې دې چې کله کله په محصور کې هم استثناء متعذر کيږي مثال لکه جاءني مائة رجل الا زيد په دې کې زيد په مائة رجل کې نه دخول يقيني دې اونه عدم دخول ، لهذا استثناء متعذر ده ، نه متصل جوړيدې شي اونه منقطع جوړيدې شي اوکله کله غير محصور کې استثناء نه متعذر کيږي مثال لکه جاءني رجال الا واحداً په دې کې استثناء متعذر نه ده اوجاءني رجال الا رجلاً په دې کې هم استثناء متعذر نه ده اورجل او واحد په رجال کې دخول يقيني دې همدارنګې جاءني رجال الا حماراً په دې کې حمار په رجال کې عدم دخول يقيني دې استثناء متعذر نه ده .

ولكن: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مصنف رحمه الله په کار وو چې دغالباً قيد يې لړولې وي .

جواب : په محصور کې استثناء متعذر کيدل اوپه غير محصور کې استثناء نه متعذر کيدل شاذ اونادر وو نو ددې وجې نه مصنف رحمه الله قاعده بيان کړه او دغه قيد طرف ته يې نظر ونه کړو .

الاپه غير باندې د حمل کولو مثال :

نَحْوُ لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اَىْ فِي السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ آلِهَةٌ جَمْعُ اِلٰهٍ وَلَا دَلَالَةَ فِيْهَا عَلٰى عَدَدٍ مَحْصُوْرٍ اِلَّا اللهُ
لکه لوکان فيهمايعني في السماء والارض آلهة جمع دإله ده اونشته دې دلالت په دې کې په عدد محصورباندې الاالله
اَىْ غَيْرُ اللهِ لَفَسَدَتَا اَىْ لَخَرَجَتَا عَنِ الْاِنْتِظَامِ فَاِلَّا فِي الْاٰيَةِ صِفَةٌ لِاَنَّهَا تَابِعَةٌ لِجَمْعٍ مَنْكُوْرٍ
يعني غيرالله لفسدتايعني وتلې به وې دواړه دانتظام نه نوالاپه آيت کې صفت دې ځکه تابع دې دجمع منکور
غَيْرِ مَحْصُوْرٍ وَ هِيَ آلِهَةٌ وَ يَتَعَذَّرُ الْاِسْتِثْنَاءِ لِعَدَمِ دُخُوْلِ اللهِ فِيْ آلِهَةٍ بِيَقِيْنٍ فَلَمْ يَتَحَقَّقْ
غيرمحصوراوهغه آلهه دې اومتعذرده استثناء دوجې دعدم خول دالله په آلهه باندې په يقين سره نونه موندل
شَرْطُ صِحَّةِ الْاِسْتِثْنَاءِ وَ فِي الْاٰيَةِ مَانِعٌ آخَرُ عَنْ حَمْلِ اِلَّا عَلَى الْاِسْتِثْنَاءِ وَ هُوَ اَنَّهُ لَوْ حُمِلَتْ
شوشرط دصحت داستثناءاوپه آيت کې بل مانع دحمل کولودإلاپه استثناءباندې اوهغه داچې که چيرته حمل
عَلَيْهِ صَارَ الْمَعْنٰى لَوْ كَانَ فِيْهِمَا آلِهَةٌ مُسْتَثْنٰى عَنْهَا اللهُ لَفَسَدَتَا وَ هٰذَا لَا يَدُلُّ اِلَّا عَلٰى اَنَّهُ
کړې شي په دې باندې نوو به کرځي معنی لوکان فيهما آلهةٌ مستثنیٰ عنهاالله لفسدتااودا دلالت نه کوي مګرپه دې چې

لَيْسَ فِيْهِمَا آلِهَةٌ مُسْتَثْنًى عَنْهَا اللهُ وَ بِهٰذَا لَا يَثْبُتُ وَحْدَانِيَّةُ اللهِ تَعَالٰى
نشته په زمکه اوآسمان کې داسې آلهه چې مستثنی وي ددې نه الله اوپه دې سره نه ثابتيږي واحدنيت دالله تعالی
لِجَوَازِ اَنْ يَّكُوْنَ حِيْنَئِذٍ فِيْهِمَا آلِهَةٌ غَيْرُ مُسْتَثْنًى اللهُ عَنْهَا
دوجې دجواز ددې خبرې چې وي په دې وخت کې په زمکه اوآسمان کې داسې آلهه چې نه وي مستثنی الله دهغې نه
بِخِلَافِ مَا إِذَا كَانَتِ الصِّفَةُ بِمَعْنٰى غَيْرَ فَإِنَّهُ يَدُلُّ عَلٰى اَنَّهُ لَيْسَ فِيْهِمَا
په خلاف دهغه چې کله وي صفت په معنی دغير سره ځکه دا دلالت کوي په دې خبره چې نه وي په دې زمکه اوآسمان
آلِهَةٌ غَيْرُ اللهِ وَ إِذَا لَمْ يَكُنْ فِيْهِمَا آلِهَةٌ غَيْرُ اللهِ يَجِبُ اَنْ لَّا يَتَعَدَّدَ الْاٰلِهَةُ لِاَنَّ
کې آلهه غير دالله نه اوچې کله نه وي په زمکه اوآسمان کې آلهه غير دالله نه نو واجب دي چې نه وي متعدد آلهه ځکه
التَّعَدُّدَ يَسْتَلْزِمُ الْمُغَايَرَةَ.
تعدد مستلزم دي مغائرت لره .

خلاصه دمتن او شرحه: ددې ځاې نه الا په غير باندې دحمل کولو مثال بيانوي په دې کې الا د غير په معنی سره دي ځکه چې هغه داسې جمع نه پس واقع دي کوم چې منکور اوغير محصور دي اوهغه آلهة دي اواستثناء متعذر ده ځکه چې الله په آلهة کې نه دخول يقيني دي او نه عدم دخول يقيني دي لهذا داستثناء شرط متحقق دي کله چې استثناء متحقق نه ده نو الا د غير په معنی کې شو.

په دې ذکر شوي آيت کې الا په استثناء باندې دحمل کولو يو بل مانع هم موجود دي هغه دادې چې الا په استثناء باندې په حمل کولو سره به يې معنی داشي چې : **لو كان فيهما آلهة مستثنى عنها الله تعالى لفسدتا** که چيرته په زمکه اوآسمان کې داسې اله وي چې دهغې نه الله تعالی مستثنی وي نو دزمکې او آسمان نظام به درهم برهم کيدو اوس دا آيت په دې خبره باندې دلالت کوي چې داسې اله نشته دي چې دهغې نه الله مستثنی وي .

ليکن ددې نه وحدانيت ثابت نه شو ځکه چې ددې نه دا وهم پيدا کيږي چې اګرچې زمکې اوآسمان کې داسې آلهه نشته دي چې دهغې نه الله تعالی مستثنی وي ليکن داسې آلهه شته دي چې دهغې نه الله مستثنی نه وي داد مقصود خلاف دي ددې نه وحدانيت دالله تعالی نه ثابتيږي لهذا الا په غير باندې محمول کولې شي او د آلهة صفت جوړولې شي نو معنی به يې داشي چې په زمکه او آسمان کې داسې آلهه نشته دي غير دالله تعالی نه .

كله چې د الله تعالى نه غير آلهه نشته دي نو واضحه شوه چې آلهه متعدد نه دي ځكه چې تعدد مستلزم دي مغائرت ته ، اوچې كله مغائرت نشته نو معلومه شوه چې آلهه متعدد نه دي بلكه يو الله دي .

الا په غير باندې د حمل كولو د ضعف مثال :

وَ ضَعُفَ حَمْلُ اِلَّا عَلٰى فِيْ غَيْرِهِ اَىْ فِيْ غَيْرِ جَمْعٍ مَنْكُوْرٍ غَيْرِ مَحْصُوْرٍ لِصِحَّةِ الْاِسْتِثْنَاءِ
اوضعيف دي حمل د إلا په غير باندې د دې نه په غير يعني په غير د جمع منكور غير محصور د وجې د صحت د استثناء
حِيْنَئِذٍ وَ مَذْهَبُ سِيْبَوَيْهِ جَوَازُ وُقُوْعِ اِلَّا صِفَةً مَعَ صِحَّةِ الْاِسْتِثْنَاءِ قَالَ يَجُوْزُ
په دې وخت كې او مذهب د سيبويه د جواز د وقوع د إلا دې صفت سره د صحت د استثنا مويلي دي سيبويه چې جائز دي
فِيْ قَوْلِكَ مَا اَتَانِيْ اَحَدٌ اِلَّا زَيْدٌ اَنْ يَّكُوْنَ اِلَّا زَيْدٌ صِفَةً وَ عَلَيْهِ اَكْثَرُ الْمُتَأَخِّرِيْنَ تَمَسُّكًا بِقَوْلِهِ:
په دې قول ستا كې ما اتاني احد الا زيد چې وي إلا زيد صفت او په دې باندې اكثر متاخرين دي او دليل نيسي په دې قول:

وَ كُلُّ اَخٍ مُفَارِقُهُ اَخُوْهُ	لَعَمْرُكَ اَبِيْكَ اِلَّا الْفَرْقَدَانِ
او هر رور جدا كيدو والا دې د خپل ورور نه	په عمر د پلار ستا قسم مگر فرقدان ستوري

فَاِلَّا الْفَرْقَدَانِ صِفَةٌ لِكُلِّ اَخٍ لَا اسْتِثْنَاءٌ مِنْهُ وَاِلَّا وَجَبَ اَنْ يُّقَالَ اِلَّا الْفَرْقَدَيْنِ بِالنَّصَبِ
نو إلا الفرقدان صفت دي د پاره د كل اخ نه استثناء ده د دې نه ورنه واجب ده چې وويل شي إلا الفرقدين په نصب سره
وَ حَمَلَ الْمُصَنِّفُ ذٰلِكَ عَلَى الشُّذُوْذِ وَ قَالَ فِي الْبَيْتِ شُذُوْذَانِ آخَرَانِ اَحَدُهُمَا وَصْفُ كُلٍّ دُوْنَ الْمُضَافِ
او حمل كړي دي مصنف دا په شذوذ باندې او ويلي دي په بيت كې دوه شذوذه نور دي يو وصف د كل دي نه د مضاف
اِلَيْهِ وَ الْمَشْهُوْرُ وَصْفُ الْمُضَافِ اِلَيْهِ اِذْ هُوَ الْمَقْصُوْدُ وَ كُلٌّ لِاِفَادَةِ الشُّمُوْلِ فَقَطْ وَ
اليه او مشهور وصف د مضاف اليه دي ځكه چې دا مقصود وي او كل د پاره د فائدې وركولو د شمول دي فقط او
ثَانِيْهِمَا الْفَصْلُ بِالْخَبَرِ بَيْنَ الصِّفَةِ وَ الْمَوْصُوْفِ وَ هُوَ قَلِيْلٌ.
دويم فصل دي په خبر سره په مينځ د صفت او د موصوف كې او دا كم دي .

خلاصه د متن : جمع منكور د غير محصور نه په غير الا په غير باندې حمل كول ضعيف دي د دې وجې نه مصنف رحمه الله په سيبويه او په اكثرو متأخرينو باندې رد كوي .

اغراض د جامي : حمل الا على غيره : په دې عبارت سره شارح په ضعف كې د هُوَ ضمير د مرجع بيان كړي دي .

اى في غير جمع منكور : په دې عبارت سره شارح په غيره كې د ةُ ضمير مرجع بيان كړي ده چې په

غيره کې ضمير غير جمع منکور ته راجع دي .

لصحة الاستثناء : په دې عبارت سره شارح وجه دضعف بيانوي چې جمع منکر غير محصور ن غير په نورو مواضعو کې الا په استثناء باندې حمل کول صحيح دي ځکه چې دې لره په غير باندې دحمل کولو ضرورت نشته دي او په غير باندې هلته حمل کيږي چيرته چې الا لره استثنائيه جوړول متعذر وي .

ومذهب سيبويه : په دې عبارت سره شارح دسيبويه مذهب او دده دليل بيانوي چې دسيبويه مذهب دادې چې داستثناء دصحت باوجود الا په غير باندې محمول کول صحيح دي مثال لک ما اتاني احد الا زيد په دې کې زيد په احد کې دخول يقيني دي او داکثرو متأخرينو مذهب هم دغه دي دهغه دليل دشاعر قول دي :

وَ كُلُّ اَخٍ مُفَارِقُهُ اَخُوْهُ	لَعَمْرُكَ اَبِيْكَ اِلَّا الْفَرْقَدَانِ
اوهرورور جدا کيدووالا دي دخپل وررونه	په عمردپلارستاقسم مگر فرقدان ستوري

په دې شعر کې کل اخ مبتدا او مفارقة خبر دي او اخوه دمفارق فاعل دي لعمر ابيک کې لا قسميه دي عمرو ابيک مبتدا دي ددې خبر قسمي محذوف دي او الا الفرقدان دکل اخ صفت دې دهغه نه استثناء نه ده ځکه چې که استثناء وي نو الا الفرقدين نصب سره وي ځکه چې کله مستثنى د الا نه وروستو په کلام موجب کې واقع وي نو په دې باندې نصب واجب دي حالانک دا مرفوع دي اوکل اخوه صفت دي .

اودلته استثناء هم صحيح ده ددې باوجود دې لره صفت جوړ کړي شوي دي معلومه شوه چې دصحت استثناء باوجود الا په غير باندې حمل کول جائز دي ليکن وضعف سره مصنف رحمه الله دې لَره ضعيف اوشاذ وگرځولو .

وقال في البيت شذوذان : په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې په دې شعر کې دوه (۲) شذوذ نور هم دي :

(۱) : اول شذوذ دادې چې په دې شعر کې الا الفرقدان دکل صفت جوړ شوي دي ددې مضاف اليه صفت نه دي جوړ شوي حالانکه مشهور دادې چې کله کل څه شي طرف ته مضاف وي او مضاف اليه نه وروستو صفت واقع وي نو هغه دکل مضاف اليه صفت جوړيږي دمضاف نه

ځکه چې اصل مقصود دکل مضاف اليه دي اوکل صرف دافرادو د احاطي دپاره راځي .
(۲): **دويم شذوذ** دادې چې په دې شعر کې دموصوف اوصفت په مينځ کې دخبر فاصله راوړي شوي ده چې هغه **مفارقة اخوه** دي حالانکه دموصوف صفت په مينځ کې فاصله په اجنبي سره شاذ اونادر دي .

د سوىٰ او د سوَاء د اعراب بيان :

وَ إِعْرَابُ سِوىً وَ سَوَاءَ النَّصَبُ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ أَىْ بِنَاءً عَلَى ظَرْفِيَّتِهِمَا لِأَنَّكَ إِذَا قُلْتَ جَاءَنِي
او اعراب دسوى اوسواء نصب دي بناء برظرفيت يعني بناء په ظرفيت ددې دواړو باندې ځکه چې کله تا ووايې
الْقَوْمُ سِوىً أَوْ سَوَاءَ زَيْدٍ فَكَأَنَّكَ قُلْتَ مَكَانَ زَيْدٍ عَلَى الْمَذْهَبِ الْأَصَحِّ وَ هُوَ مَذْهَبُ
جاءني القوم سوى اوسواء زيد نو گويا چې تا وويل جاءني القوم مكان زيد په مذهب په صحيح باندې او هغه مذهب
سِيْبَوَيْهِ فَهُمَا عِنْدَهُ لَازِمَا الظَّرْفِيَّةِ وَ عِنْدَ الْكُوفِيِّيْنَ يَجُوزُ خُرُوجُهُمَا عَنِ الظَّرْفِيَّةِ
دسيبويه دي نو دا دواړه ده په نزد لازم دي دظرفيت سره او په نزد دكوفيانو جائز دي خروج ددې دواړو د ظرفيت
وَ التَّصَرُّفُ فِيْهِمَا رَفْعاً وَ نَصْباً وَ جَرّاً كَغَيْرِ مُتَمَسِّكِيْنَ بِقَوْلِ الشَّاعِرِ:
نه او تصرف په دې دواړو کې په اعتبار د رفع اونصب اوجر سره لکه غير چې دليل نيسي په دې قول دشاعر:

وَ لَمْ يَبْقَ سِوَى الْعُدْوَا	نِ دِنَّاهُمْ كَمَا دَانُوْا
او باقي پاتې نه شو غير ددشمنۍ نه	مونږ هغوي ته بدله ورکړه لکه څنګه يې چې مونږ ته راکړه

وَ زَعَمَ الْأَخْفَشُ أَنَّ سَوَاءَ إِذَا أَخْرَجُوْهُ عَنِ الظَّرْفِيَّةِ أَيْضاً نَصَبُوْهُ اِسْتِنْكَاراً لِرَفْعِهِ
او گمان کړي اخفش چې سوا چې کله خارج کړو د ظرفيت نه همدارنګې نو منصوب يې کړو د وجې دنه خوښولو د رفع
فَيَقُوْلُوْنَ جَاءَنِيْ سَوَاءَكَ وَ فِي الدَّارِ سَوَاءَكَ وَ مِثْلُ هٰذَا فِيْ اِسْتِنْكَارِ الرَّفْعِ فِيْمَا غَلَبَ اِنْتِصَابُهُ
نو وايي چې جاءني سواك او في الدار سواك او په مثل ددې په کراهت کې په هغه کې چې غالب وي منصوب کيدل
عَلَى الظَّرْفِيَّةِ قَوْلُهُ تَعَالٰى لَقَدْ تَقَطَّعَ بَيْنَكُمْ بِالنَّصَبِ.
ددې بنا بر ظرفيت لکه دا قول دالله تعالى لقد تقطع بينكم په نصب سره .

خلاصه دمتن : دصحيح مذهب مطابق سوى او دسواء اعراب دظرفيت په بناء باندې نصب دي ځکه چې کله وويلې شي جاءني القوم سوى زيد يا جاءني القوم سواء زيد گويا چې داسې ويلې شوي دي جاءني القوم مكان زيد ځکه چې ددې معنى ده سواء د زيد نه ټول قوم راغلل .

اغراض دجامي : وهو مذهب: په دې عبارت سره شارح اصح مذهب بيانوي ، اصح مذهب

مع سیبویه مذهب دي چې رئیس البصریین دي دسیبویه په نزد سوی اوسواء لره ظرفیت لازم دي دظرفیت نه د دې خروج جائز نه دي ځکه چې دابه همیشه منصوب وي لیکن دکوفیانو په نزد د دې ظرفیت نه خارج کیدل اودغیر په شان په دې کې رفع ، نصب اوجرسره تصرف کول ج .. ي ددوي دلیل دشاعر داقول دي چې:

وَ لَمْ يَبْقَ سِوَى الْعُدْوَا	نِ دِنَّاهُمْ كَمَا دَانُوْا
اوباقي پاتې نه شو غیر ددشمنۍ نه	مونږ هغوي ته بدله ورکړه لکه څنګه یې چې مونږ ته راکړه

په دې شعر کې سوی منصوب نه دي بلکه مرفوع دي په رفع تقدیري سره ځکه چې دا دلم یبق فاعل جوړیږي.

وزعم الاخفش: په دې عبارت سره شارح داخفش مذهب بیانوي چې اخفش وایي چې دکوفي نحویان سوی اوسواء لره اګرچې دظرفیت ویستل جائز ګڼري لیکن د دې باوجود هغه د دې رفع لره مکروه ګڼري حالانکه په اول مثال کې سواء فاعل دي اوپه دویم مثال کې مبتدا ده اود دې مثل رفع مکروه کیدو کې دالله تعالی داقول لقد تقطع بینکم دي په دې کې بینکم د تقطع فاعل دي نو دفاعل واقع کیدو په وجه مرفوع کیدل په کار وو لیکن بینکم منصوب دي ځکه چې بین اکثر دظرفیت په بناء باندې منصوب وي نو داکثرو د لحاظ ساتلو په وجه دلته هم نصب ورکړي شو.

﴿خَبَرُ كَانَ وَأَخَوَاتُهَا﴾:

دخبر د کان تعریف:

وَ سَتَعْرِفُهَا فِيْ قِسْمِ الْفِعْلِ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا أَيْ بَعْدَ دُخُوْلِ كَانَ أَوْ
اوزر دي چې ته به وپیژني په قسم دفعل کې ان شاء الله دامسند دي پس د دخول د دې نه یعنې پس د دخول دکان او
إِحْدٰى أَخَوَاتِهَا وَ الْمُرَادُ بِبَعْدِيَّةِ الْمُسْنَدِ لِدُخُوْلِهَا أَنْ يَكُوْنَ إِسْنَادُهُ إِلَى إِسْمِهَا وَاقِعًا بَعْدَ دُخُوْلِهَا
یادیواخواتو د دې نه اومراد په بعدیت د مسند کې د دخول هغه داچې وي اسناد د دې اسم ته واقع پس د دخول دکان
عَلٰى اسْمِهَا وَ خَبَرِهَا وَلَا شَكَّ أَنَّ ذٰلِكَ إِنَّمَا يُتَصَوَّرُ بَعْدَ تَقَرُّرِ الْإِسْمِ وَ الْخَبَرِ فَالْإِسْنَادُ الْوَاقِعُ بَيْنَ أَجْزَاءِ
په خپل اسم اوپه خبر او شک نشته چې دامتصور کیږي پس د تقرر داسم اود خبر نو اسناد چې واقع په مینځ داجزاود
الْخَبَرِ الْمُقَدَّمِ عَلٰى تَقَرُّرِهِ لَا يَكُوْنُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا بَلْ يَكُوْنُ قَبْلَهُ فَلَا يَنْتَقِضُ التَّعْرِيْفُ بِمِثْلِ كَانَ
خبر مقدم کې په تقرر باندې دا نه وي پس د دخول د دې نه بلکې وي مخکې د دې نه نو نه ماتیږي تعریف په شان دکان

زَيْدٌ يَضْرِبُ اَبُوْهُ وَلَا بِمِثْلِ كَانَ زَيْدٌ اَبُوْهُ قَائِمٌ بِاَنْ يُّقَالَ يَصْدُقُ عَلٰى يَضْرِبُ وَ قَائِمٌ فِيْ
زيد ابوه قائم سره اونه په كان زيد ابوه قائم باندې چې وويل شي چې دا خو صادقيږي په يضرب او قائم باندې په دې
هٰذَيْنِ الْمِثَالَيْنِ الْمُعَرَّفُ وَلَيْسَا مِنْ اَفْرَادِ الْمُعَرَّفِ وَيُمْكِنُ اَنْ يُّقَالَ فِيْ جَوَابِ هٰذَا النَّقْضِ اِنَّ الْمُرَادَ
دوارو مثالونو تعريف اونه دي دا افرادو د تعريف نه او ممكن دي چې وويل شي په جواب د دې اعتراض كې چې مراد
بِدُخُوْلِهَا وُرُوْدُهَا لِلْعَمَلِ فِيْهِمَا وَرَدَتْ عَلَيْهِ كَمَا سَبَقَتِ
په دخول د دې سره وارديدل د دې دي د پاره د عمل په هغه څه كې چې وارد وي په هغه باندې لكه څنګه چې مخكې
الْاِشَارَةُ اِلَيْهِ فِيْ خَبَرِ اِنَّ وَ اَخَوَاتِهَا مِثْلُ كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا.
اشاره وشي دې طرف ته په خبر د اِنَّ او د اخواتو د دې كې لكه كان زيد قائما.

خلاصه دمتن : صاحب د كافيې د منصوباتو په اقسامو كې د يو بل قسم بيان كوي نو صاحب د كافيې وايي چې د منصوباتو نه يو بل قسم د كان او د دې د اخواتو خبر دي د دې تعريف دا دې چې دا مسند دي د كان د داخليدو نه وروستو .

اغراض دجامي : وستعرفها : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : كله چې كان او د دې د اخواتو پيژندل نشته نو د دې تعريف كول تعريف د مجهول بالمجهول دي او دا تعريف د مجهول بالمجهول باطل دي .

جواب : د كان او د دې د اخواتو تعريف او نور تفصيل به نږدې ان شاء الله د فعل په بحث كې به ذكر شي .

اي دخول : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : كان او د دې نظائر د خبر تعريف په خپلو افرادو كې په هيڅ چا باندې صادق نه راځي ځكه چې كان او د دې نظائرو كې يو فرد هم داسې نشته دي چې د كان او د دې ټول نظائر د داخليدو نه وروستو مسند وي بلكه په دې كې د يو د داخليدو نه وروسته مسند وي .

جواب : مراد دا دي چې د دې نه د يو داخليدو نه وروستو مسند وي .

والمراد : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : د كان او د دې د نظائرو تعريف د دخول د غير نه مانع نه دي ځكه چې دا تعريف په كان زيد

یضرب ابوه کې په یضربُ باندې صادق راځي ځکه چې دادکان دداخلیدو نه وروستو مسند دی
حالانکه دادکان خبر نه دی بلکه خبر خو دیضرب ابوه مجموعه ده همدارنګې داتعریف په کان
زید ابوه قائم باندې صادق راځي ځکه چې دادکان دداخلیدو نه وروستو مسند دی بلکه خبر
دقائم ابوه مجموعه ده.

جواب: شارح ددې نه دوه جوابونه ورکړي دي:

جواب (۱): اول جواب داچې د هو المسند بعد دخولها نه مراد د کان خبر داسې اسم طرف ته
مسند کیدل دي چې دکان اوددې دنظائرو نه دیو اسم اوخبرباندې دداخلیدو نه وروستو وي او
دا واضحه خبره ده داپه هغه وخت کې کیدې شي چې کله اسم اسم جوړشي اوخبر خبر جوړشي
او کان یضرب ابوه کې دیضرب اسناد ابوه طرف ته اسم داسم جوړیدو اوخبر دخبر جوړیدو نه
وروستو نه وي بلکه ددې نه مخکې وي همدارنګې په کان زید قائم کې دقائم اسناد ابوه طرف
ته اسم داسم جوړیدو اوخبر دخبر جوړیدو نه وروستو نه دي بلکه ددې نه مخکې دي لهذا په
دې باندې تعریف صادق رانه غلو.

جواب (۲): دوهم جواب دادې چې دلته ددخول نه مراد ذکر في الاول او لحوق بالآخر نه دی
بلکه مراد اثر کول اوعمل کول دي یعنې هغه په مبتدا خبر باندې داسې وارد کیدل دي چې په
هغوي کې اثر لفظي اواثر معنوي ظاهر شي ،اثر لفظي دادې چې اسم ته رفع اوخبر ته نصب
ورکړي او اثر معنوي دادې چې داسم دپاره خبر ثابت کړي !وکان یضربُ ابوه کې دکان دخول په
یضرب باندې په دې معنی سره متحقق نه دي ځکه چې ددې دخول نه وروستو په یضربُ کې نه
اثر لفظي ظاهر شو اونه اثر معنوي بلکه دیضرب ابوه په مجموعې باندې دکان دخول په دې
معنی سره متحقق دي همدارنګې په کان زید ابوه قائم کې دي.

د کان د خبر احکامات:

وَ اَمْرُهُ اَیْ وَ اَمْرُ خَبَرِ کَانَ وَ اَخَوَاتِهَا کَاَمْرِ خَبَرِ الْمُبْتَدَاِ فِیْ اَقْسَامِهٖ وَ اَحْکَامِهٖ وَ شَرَائِطِهٖ عَلٰی مَا
اوامر ددې یعنې امردخبردکان اودخواتوددې په شان دامردخبردمبتدادې په اقسامو. احکامواوشرائطوکې په هغه
سَبَقَ فِیْ بَحْثِ الْمُبْتَدَاِ وَ الْخَبَرِ وَ لٰکِنَّهٗ یَتَقَدَّمُ عَلٰی اِسْمِهَا حَالَ کَوْنِهٖ مَعْرِفَةً
تفصیل کوم چې تیرشوي په بحث دمبتدااوخبرکې خولیکن مقدم وي په اسم باندې په داسې حال کې چې وي معرفه

حَقِيْقَةً اَوْ حُكْمًا كَالنَّكِرَةِ الْمُخَصَّصَةِ لِاخْتِلَافِ اسْمِهَا وَ خَبَرِهَا فِي الْاِعْرَابِ فَلَا يَلْتَبِسُ اَحَدُهُمَا
حقيقةً او يا حكماً لکه نکره مخصصه دوجې د اختلاف د اسم دکان او د خبر د دې په اعراب کې نو نه به وي ملتبس يو د دې
بِالْاٰخَرِ وَ ذٰلِكَ اِذَا كَانَ الْاِعْرَابُ فِيْهِمَا اَوْ فِيْ اَحَدِهِمَا لَفْظِيَّةً نَحْوُ كَانَ الْمُنْطَلِقُ زَيْدٌ اَوْ كَانَ
دواړو نه په بل باندې او دا چې کله وي اعراب په دواړو کې او يا په يو د دې دواړو کې لفظي لکه کان المنطلق زيد او يا کان
هٰذَا زَيْدٌ بِخِلَافِ الْمُبْتَدَاِ وَ الْخَبَرِ فَاِنَّ الْاِعْرَابَ فِيْهِمَا لَا يَصْلُحُ لِلْقَرِيْنَةِ لِاتِّفَاقِهِمَا
هذا زيد په خلاف د مبتدا او خبر څکه اعراب په دې دواړو کې د اصلاحيت نه لري د قرينې دوجې د اتفاق د دې دواړو
فِيْهِ بَلْ لَا بُدَّ مِنْ قَرِيْنَةٍ رَافِعَةٍ لِلَّبْسِ وَ كَذٰلِكَ اِذَا انْتَفَى الْاِعْرَابُ فِيْ اِسْمِ كَانَ
نه بلکې نشته دې خلاصې د قرينې نه چې رفع کوي التباس او همدارنګې چې کله منتفي وي اعراب په اسم دکان
وَ خَبَرِهَا جَمِيْعًا وَ لَا قَرِيْنَةَ هُنَاكَ لَا يَجُوْزُ تَقْدِيْمُ الْخَبَرِ نَحْوُ كَانَ الْفَتٰى هٰذَا.
او په خبر د دې کې په دواړو کې او نشته دې قرينه دلته نو نه دې جائز تقديم د خبر لکه کان الفتی هذا.

خلاصه دمتن : دکان او د دې د نظائرو د خبر حکم د مبتدا او د خبر د حکم په شان دې په اقسامو ، احکامو او شرائطو کې په اقسام کې ديو شان کيدو مطلب دا دې چې لکه څنګه د مبتدا خبر مفرد وي کله کله معرفه کله کله جمله او کله کله نکره وي همدارنګې دکان او د دې د نظائرو خبر هم کله کله مفرد او کله کله معرفه او کله کله نکره وي او په احکامو کې ديو شان کيدو مطلب دا دې چې لکه څنګه خبر د مبتدا يو وي متعدد وي او کله مذکور او کله کله محذوف وي، همدارنګې به کان او د دې د نظائرو خبر به هم يو وي متعدد وي مذکور وي محذوف وي او په شرائطو کې ديو شان کيدو مطلب دا دې چې لکه څنګه چې د مبتدا خبر جمله وي نو په دې کې عائد کيدل ضروري دي کوم چې مبتدا طرف ته راجع وي او که قرينه موجود وي نو د عائد حذف هم جائز دې همدارنګې کان او د دې د نظائرو خبر جمله وي نو په دې کې عائد کيدل ضروري دي کوم چې د دې اسماو طرف ته راجع وي او کله چې څه قرينه ومونده شي نو د دې قرينې لره حذف کول جائز دي .

اغراض دجامي : <u>اى امر خبر</u>: په دې عبارت سره شارح بيان د مرجع کوي چې په امره کې ضمير امر خبر ته راجع دې .

<u>في اقسامه</u>: په دې عبارت سره شارح محل شبه بيانوي .

لٰكنه: په دې عبارت سره شارح اشاره كوي چې ويتقدم الخ والاعبارت سره صاحب د كافيې يو وهم لرې كوي كوم چې د مخكې كلام نه پيدا كيږي چې كله مصنف رحمه الله وويل وامره كامر خبر المبتداء نو وهم پيدا شو چې كله دكان اوددې دنظائرو خبر معامله دمبتدا خبر په شان دې نو كله چې دمبتدا خبر معرفه وي نو دې لرې دمبتدا نه مقدم كول جائز نه دي همدارنګې كله چې كان اوددې دنظائرو خبر معرفه وي نو دې لره ددې اسم نه مقدم كول جائز نه دي نو مصنف رحمه الله دا وهم ختم كړو چې دكان اوددې دنظائرو خبر معرفه وي نو دا په هغه اسم باندې مقدم كيدې شي.

حال: په دې عبارت سره شارح بيان دتركيب كوي چې معرفةً حال دې ديتقدم ضمير نه.

حقيقةً او حكماً: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي:

سوال: دمعرفې تخصيص صحيح نه دې ځكه چې كله كان اوددې دنظائرو خبر معرفه نه وي بلكه نكره مخصصه وي نو په دغه وخت كې هم دې لره ددې په اسم باندې مقدم كول جائز وي.

جواب: په معرفه كې تعميم دې برابره خبره ده چې حقيقةً معرفه وي اويا حكماً اونكره مخصصه دمعرفې په حكم كې وي.

لاختلاف: په دې عبارت سره شارح دتقديم وجه دجواز بيانوي ځكه چې كان اوددې دنظائرو د خبر اعراب مختلف وي لهذا خبر دمقدم كيدو سره يو دبل سره التباس لازم نه شي ددې وجې نه تقديم جائز دي په خلاف دمبتدا اوخبر چې ددې اعراب به يو شان وي لهذا كه چيرته خبر په مبتدا باندې مقدم كړې شي نو التباس لازم راځي.

ذلك اذا كان: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي:

سوال: په كان الفتى هذا كې دكان خبر معرفه دې ليكن دې لره په كان اسم باندې مقدم كول صحيح نه دې بيا ستا داقول چې كله دكان خبر معرفه وي دې لره داسم نه مقدم كول جائز دي دا څنګه صحيح شو؟

جواب: كان اوددې دنظائرو خبر تقديم په هغه وخت كې جائز دي چې كله داسم اوخبر اعراب لفظي وي مثال كان المنطلق زيداً يا ددې نه ديو اعراب لفظي وي مثال كان هذا زيد اوپه ذكر

شوي مثال کې نه ددواړو اعراب لفظي دي اونه ديو اعراب لفظي دي بلکې ددواړو اعراب تقديري دي اوقرينه هم منتفي ده لهذا تقديم جائز نه دي.

په خبر د کان کې د عامل د حذف کولو ذکر:

وَ قَدْ يُحْذَفُ عَامِلُهُ اَیْ عَامِلُ خَبَرِ كَانَ وَ هُوَ كَانَ لَا خَبَرُ كَانَ وَ اَخَوَاتِهَا لِاَنَّهُ لَا
اوکله کله حذف کولې شي عامل ددې يعني خبر دکان اوهغه عامل کان دي نه خبر دکان اوداخواتو ددې ځکه نه شي
يُحْذَفُ مِنْ هٰذِهِ الْاَفْعَالِ اِلَّا كَانَ وَ اِنَّمَا اخْتُصَّتْ بِهٰذَا الْحَذْفِ لِكَثْرَةِ اِسْتِعْمَالِهَا
حذف کولې ددې افعالونه مګر کان اوپه تحقيق سره خاص يې کړ په دې سره حذف دوجې دکثرت استعمال ددې نه
فِيْ مِثْلِ النَّاسِ مَجْزِيُّوْنَ بِاَعْمَالِهِمْ اِنْ خَيْرًا فَخَيْرٌ وَاِنْ شَرًّا فَشَرٌّ وَيَجُوْزُ فِيْ مِثْلِهَا اَیْ مِثْلِ هٰذِهِ
په مثل دلکه الناس مجزيون باعمالهم ان خيراً فخيراً وان شراً فشراً کې اوجائزدي په مثل ددې يعني په مثل ددې
الصُّوْرَةِ وَ هِيَ اَنْ يَّجِيْءَ بَعْدَ اِنْ اِسْمٌ ثُمَّ فَاءٌ بَعْدَهُ اِسْمٌ اَرْبَعَةُ اَوْجُهٍ نَصْبُ الْاَوَّلِ وَ
صورت اوهغه داچې رابه شي پس دان نه اسم بيا فاءوي اوددې نه پس اسم وي په څلورطريقو سره نصب داول او
رَفْعُ الثَّانِيْ وَ هُوَ اَقْوَاهَا نَحْوُ اِنْ خَيْرًا فَخَيْرٌ اَیْ اِنْ كَانَ عَمَلُهُ خَيْرًا فَجَزَاؤُهُ خَيْرٌ وَ نَصْبُهُمَا نَحْوُ اِنْ خَيْرًا
اورفع ددويم اوداتولونه قوي دي لکه ان خيراً فخير يعني ان کان عمله خيراً فجزاؤه خيراونصب ددواړو لکه ان خيراً
فَخَيْرًا عَلٰى مَعْنٰى اِنْ كَانَ عَمَلُهُ خَيْرًا فَكَانَ جَزَاؤُهُ خَيْرًا وَ رَفْعُهُمَا نَحْوُ اِنْ خَيْرٌ فَخَيْرٌ اَیْ اِنْ كَانَ فِيْ عَمَلِهٖ خَيْرٌ
فخيراً په دې معنى چې ان کان عمله خيرا فکان جزاؤه خيراً اورفع ددواړو لکه ان خير فخير يعني ان کان في عمله خير
فَجَزَاؤُهُ خَيْرٌ وَ عَكْسُ الْاَوَّلِ نَحْوُ اِنْ خَيْرٌ فَخَيْرًا اَیْ اِنْ كَانَ فِيْ عَمَلِهٖ خَيْرٌ فَكَانَ جَزَاؤُهُ خَيْرًا وَ قُوَّةُ هٰذِهِ الْوُجُوْهِ وَ ضُعْفُهَا
فجزاؤه خيراوعکس داول لکه ان خير فخيرا يعني ان کان في عمله خير فکان جزاؤه خيراً اوقوت ددې وجوهو اوضعف
بِحَسْبِ قِلَّةِ الْحَذْفِ وَ كَثْرَتِهٖ.
ددې په اعتبار دقلت اوکثرت دحذف سره دي.

خلاصه دمتن: صاحب دکافيې وايي چې الناس مجزيون باعمالهم نو ددې مثال په شان مثال کې دکان دخبر عامل يعني دکان حذف کول جائز دي مثال لکه ان خيراً فخير وان شراً فشر.

اغراض دجامي: اى عامل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : د عامله د ضمير مرجع خبر د كان او د اخواتو د كان دي نو د دې نه معلوميږي چې د كان د نظائرو حذف هم جائز دي حالانكه د كان د نظائرو حذف جائز نه دي بلكه صرف د كان حذف كول جائز دي .

جواب : د عامله د ضمير مرجع فقط خبر د كان دي خبر د كان او د اخواتو د دې دواړه مجموعه خبر نه دي ځكه چې د افعال ناقصه نه صرف د كان حذف كول جائز دي د باقي افعالو حذف كول جائز نه دي .

وهو كان : په دې عبارت سره شارح عامل د خبر د كان د مصداق بيان كوي چې د عامل نه مراد په خپله كان مراد دي .

وانما اختصت : په دې عبارت سره شارح د حذف سره د كان د مختص كيدو وجه بيانوي چې وجه د اختصاص داده چې د اكثير الاستعمال دي د كثرت استعمال په بناء باندې د دې حذف كول خو جائز دي د باقي افعالو ناقصه حذف كول جائز نه دي .

ان خيراً فخير وان شراً فشر : په دې كې څلور (۴) وجهې د تخصيص جائز دي .

مثل : په دې عبارت سره شارح تعين د مراد كوي چې د مثل نه مراد هر هغه تركيب دي چې په هغې كې دان نه وروستو په اسم باندې فاء داخل وي بيا د دې نه وروستو اسم وي نو په داسې تركيب كې څلور (۴) وجهې جائز دي .

وجوه اربعة : **اوله وجه** : د اول نصب او د دويم رفع مثال لكه ان خيراً فخير وان شراً فشر ، د اول يعنې خيراً نصب د دې وجې نه دي چې د اد كان مع اسم محذوف خبر دي او د دويم رفع يعنې فخير د دې وجې نه ده چې هغه د مبتدا محذوف خبر دي په دې كې درې (۳) امور محذوف دي : (۱) كان . (۲) عمله . (۳) فجزاؤه . اول دوه په طرف د شرط كې او دريم په طرف د جزاء كې تقدير د عبارت داسې دي چې ان كان عمله خيراً فجزاؤه خير .

دوهمه وجه : د دواړو نصب مثال لكه ان خيرا فخيرا و شراً فشراً په دې بناء باندې چې دا دواړه د كان مع اسم محذوف خبر دي تقدير د عبارت داسې دي چې : ان كان عمله خيراً فكان جزاؤه خيراً په دې كې څلور (۴) امور محذوف دي : (۱) كان . (۲) عمله په طرف د جزاء كې . (۳) كان . (۴) جزاؤه .

دريمه وجه: د دواړو اسمونو رفع ان خير فخير وان شراً فشر ، داول اسم رفع ځکه ده چې دادکان مع خبر محذوف اسم دي او د دويم اسم رفع ځکه ده چې دادمبتدا محذوف خبر دي تقدير د عبارت داسې دي چې ان كان في عمله خير فجزاؤه خير په دې کې هم څلور (۴) امور محذوف دي په طرف دشرط کې . (۱) كان .(۲) في . (۳) عمله په طرف دجزاء کې . (۴) جزاؤه.

څلورمه وجه: داول قسم برعکس ، يعني داول اسم رفع او د دويم اسم نصب مثال لکه ان خير فخيراً وان شر فشراً ، داول رفع د دې وجې نه ده چې كان مع خبر د محذوف اسم دي او د دويم اسم نصب د دې وجې نه ده چې دادکان مع اسم محذوف خبر دي تقدير دعبارت داسې دي چې ان كان في عمله خير فكان جزاؤه خيراً ، په دې وجه کې پنځه (۵) امور محذوف دي په طرف د شرط کې : (۱) كان .(۲) في . (۳) عمله په طرف دجزاء کې . (۴) كان. (۵) جزاؤه .

وقوة هذه الوجوه: په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې په دې څلورو (۴) کې کوم ضعيف او کوم قوي دي نو شارح وايي چې د دې وجوهو قوت اوضعف دارومدار دحذف په قلت اوکثرت باندې دي ځکه چې په اول صورت کې حذف قليل دي ځکه چې په دې کې دري (۳) امور حذف دي : (۱) كان .(۲) عمله .(۳) فجزاؤه .د دې وجې نه دادټولو نه قوي دي اوپه څلورمه وجه کې د حذف کثرت دي ځکه چې په دې کې پنځه (۵) امور حذف دي : (۱) كان .(۲) في . (۳) عمله په طرف دجزاء کې . (۴) كان . (۵) جزاؤه . نو د دې وجې نه دادټولو نه ضعيف دي اومتوسطې دويم اودريم وجهې دي ځکه چې په دې کې څلور امور (۱) كان .(۲) في . (۳) عمله په طرف دجزاء کې . (۴) جزاؤه محذوف دي .

د خبر د كان د عامل د حذف وجوبي بيان :

وَ يَجِبُ الْحَذْفُ اَیْ حَذْفُ عَامِلِهٖ يَعْنِیْ كَانَ فِیْ مِثْلِ اَمَّا مُنْطَلِقًا اِنْطَلَقْتُ اَیْ لِاَنْ كُنْتَ
اوواجب دي حذف يعني حذف دهغه عامل د دې يعني دكان په دې مثال کې اما انت منطلقا انطلقت يعني لان كنت
مُنْطَلِقًا اِنْطَلَقْتُ فَاَصْلُ اَمَّا اَنْتَ لِاَنْ كُنْتَ حُذِفَتِ اللَّامُ قِيَاسًا ثُمَّ حُذِفَتْ كَلِمَةُ كَانَ اخْتِصَارًا
منطلقا انطلقت نو اصل د أنت لان كنت دي حذف کړې شوترې لام قياسا بيا حذف کړې شو کلمه د كان د اختصار د پاره
فَانْقَلَبَ الضَّمِيْرُ الْمُتَّصِلُ مُنْفَصِلًا وَ زِيْدَتْ لَفْظَةُ مَا بَعْدَ اَنْ فِیْ مَوْضِعِ كَانَ عِوَضًا عَنْهَا
نو بدل يې کړو ضمير متصل په منفصل سره او زيات کړې شو لفظ د ما پس د دې چې په ځاې د كان عوض جوړ شو د دې

وَاُدْغِمَتِ النُّوْنِ فِيْ الْمِيْمِ وَاُبْقِيَ الْخَبَرُ عَلٰى حَالِهٖ فَصَارَ اَمَّا اَنْتَ مُنْطَلِقًا انْطَلَقْتُ وَ هٰذَا عَلٰى
نه اومدغم یې کړونون په میم اوباقي پاتې شوخبرپه خپل حال باندې نووګرځید واما انت منطلقاً انطلقت اودا په
تَقْدِيْرِ فَتْحِ الْهَمْزَةِ وَ اَمَّا عَلٰى تَقْدِيْرِ كَسْرِهَا فَالتَّقْدِيْرُ اِنْ كُنْتَ مُنْطَلِقًا انْطَلَقْتُ فَعُمِلَ
تقدیر دفتحې دهمزې اوهرچې په تقدیرد کسرې سره نوتقدیربه داسې وي ان کنت منطلقاً انطلقت نوعمل به کولې
بِهٖ مَا عُمِلَ بِالْاَوَّلِ مِنْ غَيْرِ فَرْقٍ اِلَّا حَذْفِ اللَّامِ اِذْ لَا لَامَ فِيْهِ وَ اقْتَصَرَ
شي په دې په شان دعمل داول په غیر دڅه فرق نه مګرپه حذف دلام سره څکه چې نشته لام په دې کې اوا تفاوکړ
الْمُصَنِّفُ عَلَى الْاَوَّلِ لِاَنَّهٗ اَشْهَرُ.
مصنف په اول باندې څکه چې دا ډیرمشهوردې.

خلاصه دمتن : صاحب دکافیې وایي چې په اما انت منطلقا انطلقت مثال کې دکان خبر عامل یعنې دکان حذف واجب دي دمثل نه مراد هر هغه ترکیب دي چې په هغې کې کان حذف شوي وي اودکان په عوض یې څه بل شی راوړي شوي وي نو په داسې ترکیب کې کان حذف کول واجب دي څکه چې که کان حذف نه شي نو دعوض اودمعوض عنه اجتماع لازم راځي چې دا ناجائز ده دا ما انت منطلقا په اصل کې لان کنت انطلقت وو دلان لام لره قیاساً حذف کړه څکه چې ان اود ان نه مخکې لام په قیاسي طور باندې حذف کولې شي بیا داختصار دوجې نه کان هم حذف کړي شو نو ضمیر متصل په منفصل باندې بدل شو اود ان نه وروسته دکان په عوض ما زائد کړي شو او نون په میم کې مدغم شو او خبر په خپل حال باندې باقي پاتې شو نو اما انت منطلقا انطلقت شو.

داتفصیل په هغه وخت کې دي چې کله داما همزه مفتوح وي اوکه داما همزه مکسور وي نو تقدیر دعبارت به بیا داسې وي چې ان کنت منطلقا انطلقت اول داختصار دوجې نه کان حذف شو نو ضمیر دمتصل په منفصل سره بدل شو نو ان انت شو بیا دان نه وروستو دکان په عوض کې ما زیات کړي شو اونون په میم کې مدغم کړي شو اوخبر په خپل حال باندې باقي پاتې کړو نو اما انت منطلقا انطلقت شو په دواړو صورتونو کې فرق دادې چې په اول صورت کې به لام حذف کولې شي اوپه دویم صورت کې په تقدیر کې دلام حذف نشته دې څکه چې لام دسره نشته دي.

اغراض دجامي : الحذف ای حذف عامله: په دې عبارت سره شارح دابیانوي چې په الحذف کې الف لام دمضاف الیه په عوض کې دي.

يعني كان : په دې عبارت سره شارح دعامل مصداق بيان كړي دي

فاصل اما انت : په دې عبارت سره شارح دمثال وضاحت كوي

واقتصر : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي

سوال : كله چې په اما كې دوه (۲) احتماله وو (۱) په فتحې دهمزې، (۲) اوپه كسرې دهمزې سره نو بيا مصنف رحمه الله په **بفتح الهمزة** باندې ولې اكتفاء وكړه ؟

جواب : ځكه يې په **بفتح الهمزة** باندې اكتفاء وكړه چې دا زيات مشهور دي په نسبت سره په كسرې دهمزې نه

﴿اِسْمُ اِنَّ وَاَخَوَاتُهَا﴾ :

دان داسم تعريف :

وَ سَتَعْرِفُهَا فِيْ قِسْمِ الْحَرْفِ اِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى هُوَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهَا اَىْ دُخُوْلِ اِنَّ اَوْ
اوزر دي چې وبه پيژني په قسم دحرف كې ان شاء الله دامسند اليه دي پس ددخول ددې نه يعني ددخول دإن اويا
اِحْدٰى اَخَوَاتِهَا مِثْلُ اِنَّ زَيْداً قَائِمٌ وَ بِمَا عَرَفْتَ مِنْ مَعْنَى الْبَعْدِيَّةِ وَ الدُّخُوْلِ فِيْمَا سَبَقَ
يو داخواتو ددې نه لكه ان زيداً قائم اوهغه څه چې تا پيژندلې دمعنى دبعديت نه اوددخول نه په هغه څه چې مخكې
اِنْدَفَعَ اِنْتِقَاضُ هٰذَا التَّعْرِيْفِ هٰهُنَا اَيْضًا بِمِثْلِ اَبُوْهُ فِيْ مِثْلِ اِنَّ زَيْداً اَبُوْهُ قَائِمٌ.
تير شوي نودفع شو اعتراض په دې تعريف دلته همدا رنګې په مثل دابوه په دې مثل ان زيدا ابوه قائم.

خلاصه دمتن : صاحب دكافيې داسم ان اوداخواتو ددې تعريف كوي چې ان اوددې نظائر هغه اسم دي چې په دې سره ديو داخليدو نه وروستو مسند وي.

اغراض دجامي : وستعرفها في قسم الحرف : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي.

سوال : اخوات خو معلوم نه دي نو داتعريف دمجهول بالمجهول راغې حالانكه تعريف د مجهول بالمجهول داخو باطل دي.

جواب : داخواتو ذكر به په حرف كې ان شاء الله راشي.

اى بعد دخوله : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي

سوال : كان اوددې نظائر دخبر تعريف په خپلو افرادو دې په هيڅ چاباندې صادق نه راځي

ځکه چې کان او دې نظائرو کې يو فرد هم داسې نشته دي چې دکان اودې نور نظائر دداخليدو نه وروستو مسند وي بلکه په دې کې ديو دداخليدو نه وروسته مسند وي

جواب : مراد دادې چې ددې نه ديو داخليدو نه وروستو مسند وي.

وبما عرفت: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : دان اودې دنظائرو تعريف د دخول دغير نه مانع نه دي ځکه چې داتعريف په **ان زيدا يضرب ابوه** کې په **يضربُ** باندې صادق راځي ځکه چې دادان دداخليدو نه وروستو **مسند دي** حالانکه دادان خبر نه دي بلکه خبر خو **ديضرب ابوه مجموعه** ده همدارنګې **داتعريف په ان زيداً ابوه قائم** باندې صادق راځي ځکه چې دادان دداخليدو نه وروستو مسند دي بلکه **خبر دقائم ابوه مجموعه** ده

جواب : شارح ددې نه دوه جوابونه ورکړي دي.

جواب (۱): اول جواب داچې د **هو المسند بعد دخولها** نه مراد د **ان** خبر داسې اسم طرف ته مسند کيدل دي چې دان اودې دنظائرو نه ديو اسم اوخبرباندې دداخليدو نه وروستو وي او دا واضحه خبره ده داپه هغه وخت کې کيدې شي چې کله اسم اسم جوړشي اوخبر خبر جوړشي اوپه **ان يضرب ابوه** کې ديضرب اسناد **ابوه** طرف ته اسم داسم جوړيدو اوخبر دخبر جوړيدو نه وروستو نه وي بلکه ددې نه مخکې وي همدارنګې په **ان زيد قائم** کې **دقائم** اسناد **ابوه** طرف ته اسم داسم جوړيدو اوخبر دخبر جوړيدو نه وروستو نه دي بلکه ددې نه مخکې دي **لهذا** په دې باندې تعريف صادق رانه غلو

جواب (۲): دوهم جواب دادې چې دلته ددخول نه مراد **ذکر في الاول او لحوق بالآخر** نه دي بلکه مراد اثر کول اوعمل کوي دي يعني هغه په مبتدا خبر باندې داسې وارد کيدل دي چې په هغې کې اثر لفظي اواثر معنوي ظاهر شي .اثر لفظي دادې چې اسم ته رفع اوخبر ته نصب ورکړي او اثر معنوي دادې چې داسم دپاره خبر ثابت کړي اوان **يضربُ ابوه** کې **دکان دخول** په **يضرب** باندې په دې معنى سره متحقق نه دي ځکه چې ددې دخول نه وروستو **يضربُ** کې نه اثر لفظي ظاهر شو اونه اثر معنوي بلکه **ديضرب ابوه** په مجموعې باندې دان دخول په دې معنى سره متحقق دي همدارنګې په **ان زيدا ابوه قائم** کې دي

﴿اَلْمَنْصُوْبُ بِلاَ اَلَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ﴾:

دهغه منصوب د لا تعريف چې د نفي د جنس د پاره وي:

أَيْ لِنَفْيِ صِفَةِ الْجِنْسِ وَ حُكْمِهِ وَ اِنَّمَا لَمْ يَقُلْ اِسْمُ لَا لِاَنَّهُ لَيْسَ كُلُّهُ وَلاَ اَكْثَرُهُ

يعني دپاره دنفي دصفت دجنس اود حكم اوپه تحقيق سره وي نه ويل اسم دلا ځكه نه دي اسم دلا ټول اويا اكثر د

مِنَ الْمَنْصُوْبَاتِ فَلاَ يَصِحُّ جَعْلُهُ مُطْلَقاً مِنَ الْمَنْصُوْبَاتِ لاَ حَقِيْقَةً وَلاَ مَجَازاً بَلِ الْمَنْصُوْبُ مِنْهُ اَقَلُّ

منصوباتونه نونه دي صحيح ګرځول ددې مطلقا د منصوباتونه حقيقة اونه مجازا بلكې منصوب ددې نه كم دي د

مِمَّا عَدَاهُ فَلاَ بُدَّ مِنَ التَّعْبِيْرِ عَنْهُ بِالْمَنْصُوْبِ بِهَا بِخِلَافِ مَا عَدَاهُ مِنَ الْمَنْصُوْبَاتِ فَاِنَّ بَعْضَهَا

غيرمنصوب نه نونشته خلاصي د تعبير د دې نه په منصوب سره په خلاف د ما سوا د منصوباتونه ځكه بعضې ددې نه

وَاِنْ لَمْ يَكُنْ كُلُّهُ مِنَ الْمَنْصُوْبَاتِ لٰكِنْ اَكْثَرُهُ مِنْهَا فَاُعْطِيَ لِلْاَكْثَرِ حُكْمُ الْكُلِّ فَعُدَّ الْكُلُّ مِنْهَا تَجَوُّزاً

اګركه نه وي ټول د منصوباتو نه لكن اكثر ددې نه دي نو وركړې شو اكثر له د حكم د كل نو شمار كړې شو كل ددې نه مجازا

وَلَا يَبْعُدُ اَنْ يُقَالَ اِسْمُ لَا هُوَ الْمَنْصُوْبُ بِهَا لَفْظًا كَالْمُضَافِ وَ شِبْهِهِ اَوْ مَحَلًّا كَمَا هُوَ

اوبعيد نه ده چې وويل شي چې اسم د لا د امنصوب دي په لا سره د لفظ لكه مضاف او مشابه ددې اويا محلا لكه څنګه

مَبْنِيٌّ مِنْهُ عَلَى الْفَتْحِ وَ اَمَّا مَا هُوَ مَرْفُوْعٌ فَلَيْسَ اِسْمًا لَهَا لِعَدَمِ عَمَلِهِمَا فِيْهِ هُوَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ

چې مبني د اسم لا نه بنا بر فتح اوهرچې ماكوم چې مرفوع دي نو نه دي اسم د پاره د وجې د نه عمل نه په لا كې د امسند اليه

بَعْدَ دُخُوْلِهَا خَرَجَ بِهِ مِثْلُ اَبُوْهُ فِيْ لَا غُلَامَ رَجُلٍ اَبُوْهُ قَائِمٌ لِمَا عَرَفْتَ وَ هٰذَا

دپس د دخول ددې نه خارج شو په دې سره ابوه په لا غلام رجل ابوه قائم مثال د وجې د هغه څه نه چې تا پيژندلي دي او دا

الْقَدْرِ كَافٍ فِيْ حَدِّ اسْمِهَا مُطْلَقًا لٰكِنَّهُ لَمَّا اَرَادَ حَدَّ الْمَنْصُوْبِ مِنْهُ زَادَ

قدر كافي دي په تعريف د اسم كې مطلقا لكن چې كله اراده يې وكړه د تعريف د منصوب د اسم نه نو زيات يې كړو

عَلَيْهِ قَوْلِهِ يَلِيْهَا اَيْ يَلِيَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ لَفْظَةَ لَا اَيْ يَقَعُ بَعْدَهَا بِلَا فَاصِلَةٍ

په دې باندې دا قول يليها يعني نژدې وي د مسند اليه سره لفظ د لا سره يعني واقع كيږي پس د لا نه بې د فاصلې نه

نَكِرَةً مُضَافًا اَوْ مُشَابِهًا بِهِ اَيْ بِالْمُضَافِ فِيْ تَعَلُّقِهِ بِشَيْءٍ هُوَ مِنْ تَمَامِ

دا سې نكره وي چې مضاف وي او يا مشابه وي ددې سره يعني د مضاف سره په تعلق كې د يو څيز سره چې هغه په تمام

مَعْنَاهُ هٰذِهِ اَحْوَالٌ مُتَرَادِفَةٌ مِنَ الضَّمِيْرِ الْمَجْرُوْرِ فِيْ اِلَيْهِ اَوِ الْاُوْلٰى مِنْهُ اَوْ مِنَ الضَّمِيْرِ الْمَجْرُوْرِ فِيْ دُخُوْلِهَا

معنى د مضاف كې دا احوال مترادفه دي د ضمير مجرور نه په اليه او اول ددې نه او يا د ضمير مجرور نه په دخول ددې

وَمَا بَقِيَ مِنَ الضَّمِيْرِ الْمَرْفُوْعِ فِيْ يَلِيْهَا مِثْلُ لَا غُلَامَ رَجُلٍ مِثَالٌ لِمَا يَلِيْهَا نَكِرَةً مُضَافًا

كې او هغه چې باقي وي د ضمير مرفوع نه په يليها كې لكه لا غلام رجل مثال دي د هغه چې نژدې وي نكره د مضاف

وَفِيْ بَعْضِ النُّسَخِ لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٍ فِيْهَا وَقَدْ عَرَفْتَ فِي الْمَرْفُوْعَاتِ تَحْقِيْقَ قَوْلِهٖ فِيْهَا
او په بعضي نسخو کې لاغلام رجل ظریف فیها دي او په تحقیق سره تا پیژندلي په مرفوعاتو کې تحقیق د فیها په دې قول
وَ لَا عِشْرِيْنَ دِرْهَمًا لَکَ مِثَالٌ لِمَا يَلِيْهَا نَکِرَةٌ مُشَابِهًا بِالْمُضَافِ وَ قَوْلُهٗ لَکَ
کې ولاعشرین درهمالک دامثال دي دهغه چې نژدې وي دنکرې سره چې مشابه وي د مضاف سره او دا قول دده لک
عَلَى النُّسَخِ الْمَشْهُوْرَةِ مِنْ تَتِمَّةِ الْمِثَالَيْنِ كِلَيْهِمَا.
دمشهورې نسخې مطابق دتتمې ددواړو مثالونو څخه دي.

خلاصه دمتن : دمنصوباتو لسم ۱۰، قسم منصوب په لا التي لنفي الجنس دي ددې تعریف دادې چې دلای نفي جنس اسم هغه دي کوم چې ددخول دلا نه وروستو مسند الیه وي اوحال دادي چې د لا سره متصل وي نکره وي مضاف وي یاشبه مضاف وي .

اغراض دجامي : اى لنفي: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : په لا غلام رجل ظریف کې لا دجنس نفي نه کوي بلکه دجنس غلام نه دصفت ظرافت نفي کوي بیا دمصنف قول لا لنفي الجنس ویل څنګه صحیح شو ؟.

جواب : دمصنف په عبارت کې دالجنس نه مخکې مضاف صفت محذوف دي په اصل کې داسې وو لنفي صفة الجنس لهذا اوس څه اشکال نشته دي .

وحكمه: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : د لای نفي جنس تعریف منقوض اومات دي په لارجل في الدار سره ځکه چې په دې کې درجل نه دجنس صفت نفي نه کیږي ځکه چې دلته څه صفت نشته دي .

جواب : دلته معطوف مقدر دي په اصل کې دا لنفي صفة الجنس وحكمه وو ، ددې حاصل دادې چې دنفي صفت جنس نه مراد دنفي حکم دي چې د لا داسم نه دحکم نفي وشي مثال لکه په لا رجل في الدار کې درجل نه په دار کې موجود کیدو حکم نفي کیږي .

وانمالم يقل: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : مصنف رحمه الله المنصوب بلا التي لنفي الجنس وويل اسم لا التي لنفي الجنس يې ولې ونه ويل ؟

جواب : د لای نفي جنس اسم پـه دري (۳) قسمه دي (۱) معـرب منصوب .(۲) مبني على الفتح (۲) مرفوع ددې تفصيل نه معلومه شوه چې لای نفي جنس اسم خو نه هميشه منصوب وي اونه اکثر منصوب دي لهذا دې لره مطلقاً دمنصوباتو نه شمار کول صحيح نه دي نه حقيقةً په دې طريقې سره چې داسې وويلي شي چې دغه اسم په هر حال کې منصوب وي اونه مجازاً چې داسې وويلي شي چې د لای نفي جنس اسم اکثر منصوب وي بلکه په دې کې منصوب دغير منصوب نه اقل دي لهذا داضروري ده چې دې لره **المنصوب بلا التي لنفي الجنس** سره تعبير کړې شي په خلاف دنورو منصوباتو نه مثلاً مستثنى اګرچې داکل اوهميشه منصوب نه ده ليکن اکثر منصوب ده نو لهذا **للاکثر حکم الکُل** دقاعدې لاندې **دکُل** حکم ورکړې شو او**کُل** لره مجازاً دمنصوباتو نه شمار کولې شي .

ولا يبعد : په دې عبارت سره شارح په صاحب دکافيې باندې اعتراض کوي ، چې که مصنف رحمه الله مطلقاً **اسم لا التي لنفي الجنس** ويلي وي نو هم صحيح وه ځکه چې دلا اسم مبني بر فتحه محلاً منصوب وي اوکوم چې د لا اسم مرفوع وي نو داپه حقيقت کې دلا اسم نه وي ځکه چې په دې صورت کې لا عامل نه وي لهذا مونږه ويلي شو چې دلا اسم هميشه منصوب وي .

خرج به : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دا سوال اوجواب بعينه هغه دي کوم چې دکان اوددې دنظائرو په خبر کې تير شوي دي چې مخکې ذکر شوي دي ، **فلا نعيدهما ثانيةً** .

وهذا القدر کافٍ : په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي اوپه لکنه سره ددې سوال جواب ورکوي :

اعتراض : مقصود خو دلای نفي جنس داسم تعريف کول دي اوهغه په **بعد دخولها** باندې پوره شو نو ددې نه وروستو د **يليها الخ** اضافه يې ولې وکړه ؟.

جواب : مقصود مطلق دانسم لا تعريف کول نه دي بلکه داسمِ منصوب تعريف کول دي ددې وجې نه **يليها الخ** اضافه يې وکړه چې ددې حاصل دادې چې دلای نفي جنس اسم به هله منصوب وي چې په دې کې دري(۳)شرطونه وموندل شي:(۱) لا سره متصل وي.(۲)نکره وي.(۳) مضاف يا شبه مضاف وي .

يلي المسند اليه: په دې عبارت سره شارح بيان دمرجع كوي چې ديليها ضمير مرفوع مسند اليه طرف ته راجع دي او دضمير منصوب مرجع لفظ د لا دي.
اي يقع: په دې عبارت سره شارح حاصل دمعنى بيانوي چې دمسند نه وروستو په لا سره فاصله واقع ږي
في تعلقه: په دې عبارت سره شارح وجه دشبه بيانوي چې شبه مضاف هغه دي چې دده دداسې څيز سره متعلق وي چې هغه څيز ددې معنى لره دپوره كيدو دپاره ضروري وي كه دې لره ذكر نه كړي شي نو ددې معنى نه تام كيږي مثال لكه مضاف چې تركوم وخته پورې چې مضاف اليه ذكر نه شي نو ددې معنى نه تام كيږي همدارنګې دشبه مضاف تعلق دداسې څيز سره دي چې كه دې لره ذكر نه كړي شي نو ددې نه په غير معنى نه تام كيږي.
هذا الاحوال: په دې عبارت سره شارح دنكرې مضافاً تركيب بيانوي چې په دې تركيب كې درې (۳) احتماله دي: (۱) دا درې واړه احوال مترادفه دي داليه ضمير مجرور نه. (۲) يليها داليه ضمير مجرور نه حال دي اوباقي دوه ديليه ضمير مرفوع نه حال وي. (۳) يليها ددخولها ضمير نه حال دي اوباقي دوه يليه دضمير مرفوع نه حال وي.
مثال لما: په دې عبارت سره شارح دممثل له تعين كوي چې لا غلام رجل دهغه نكرې مضاف مثال دي كوم چې دلا سره متصل وي.
وفي بعض النسخ: په دې عبارت سره شارح اختلاف دنسخو بيانوي چې په بعضې نسخو كې لا غلام رجل ظريف فيها دي په دې كې دفيها اضافه ددوه (۲) وجهو نه كړې ده: (۱) چې كذب لازم رانه شي. (۲) اشاره ده چې دظرف دوه (۲) قسمونه دي: (۱) ظرف زمان، (۲) ظرف مكان، اودا دواړه خبرې په مرفوعاتو كې په تفصيل سره تيرې شوې دي
مثال لما: په دې عبارت سره دممثل له تعين كوي چې لا عشرين درهما دا دهغه نكرې شبه مضاف مثال دي كوم چې دلا سره متصل وي
اودمصنف رحمه الله قول لك دمشهورو نسخو مطابق يعنې چې په كوم كې ظرف فيها نشته دي داواړه مثالونه دتتمې څخه دي دا دواړه خبر دي اوچې په كومو مثالونو كې ظريف فيها نشته دي په هغې كې دا خبر بعد خبر دي

د منصوب بلا التي لنفي الجنس اعراب:

فَإِنْ كَانَ أَيِ الْمُسْنَدُ إِلَيْهِ بَعْدَ دُخُولِهَا غَيْرَ وَاقِعٍ عَلَى الْأَحْوَالِ الْمَذْكُورَةِ بَلْ كَانَ مُفْرَدًا بِالْتِفَاءِ
كه چيرته وي يعني مسند اليه پس د دخول د لانه چې نه وي واقع په حوال مذكوره باندې بلكې وي مفرد په انتفاء
الشَّرْطِ الْأَخِيرِ فَقَطْ وَهُوَ كَوْنِهِ مُضَافًا اَوْمُشَابِهًا بِهِ أَيْ يَلِيهَا نَكِرَةً غَيْرَ مُضَافٍ وَلَا مُشَابِهًا
د شرط آخري فقط او هغه كيدل د دې دې مضاف او يا مشابه د دې سره يعني نژدې وي نكره غير مضاف او نه مشابه
بِهِ لِيَتَرَتَّبَ عَلَيْهِ قَوْلُهُ فَهُوَ مَبْنِيٌّ عَلَى مَا يُنْصَبُ بِهِ فَإِنَّهُ لَوْ كَانَ مُفْرَدًا
د دې سره د دې د پاره چې مرتب شي په دې باندې دا قول د مصنف فهو مبني على ما ينصب به خكه كه چيرته وي مفرد
مَعْرِفَةً أَوْ مَفْصُولًا فَحُكْمُهُ غَيْرُ ذٰلِكَ وَ قَوْلُهُ عَلَى مَا يُنْصَبُ بِهِ أَيْ عَلَى مَا كَانَ يُنْصَبُ
معرفه او يا مفصول نو حكم د دې په غير د دې دې او دا قول د مصنف على ما ينصب به يعني په هغه څه سره چې نصب
بِهِ الْمُفْرَدُ قَبْلَ دُخُولِ لَا عَلَيْهِ وَ هُوَ الْفَتْحُ فِي الْمُوَحَّدِ نَحْوُ لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ وَ الْكَسْرِ
وركوي په دې سره مفرد ته مخكې د دخول د لانه په دې باندې او هغه فتحه ده په مفرد كې لكه لا رجل في الدار او كسره ده
فِي جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ السَّالِمِ بِلَا تَنْوِينٍ نَحْوُ لَا مُسْلِمَاتِ فِي الدَّارِ وَالْيَاءِ الْمَفْتُوحِ مَاقَبْلَهَا وَالْمَكْسُورِ مَاقَبْلَهَا فِي جَمْعِ
په جمع مؤنث سالم كې بې د تنوين نه لكه لا مسلمات في الدار او ياء ماقبل مفتوح او ماقبل مكسور په جمع
الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ نَحْوُ لَا مُسْلِمَيْنِ وَلَا مُسْلِمِيْنَ لَكَ وَنَعْنِيْ بِالْمُفْرَدِ مَالَيْسَ بِمُضَافٍ وَلَا مُضَارِعٍ لَهُ
مذكر سالم كې لكه لا مسلمين ولا مسلمين لك او مونږ قصد كوو په مفرد سره هغه چې نه وي مضاف او نه مشابه د دې سره
فَيَدْخُلُ فِيهِ الْمُثَنّٰى وَ الْمَجْمُوعُ وَ إِنَّمَا بُنِيَ لِتَضَمُّنِهِ مَعْنٰى مِنْ إِذْ مَعْنٰى
نو داخلیږي په دې كې تثنيه او جمع او په تحقيق سره يې مبني كړه دوجې د تضمن د دې نه معنى د من لره خكه معنى
لَارَجُلَ فِي الدَّارِ لَا مِنْ رَجُلٍ فِيهَا لِأَنَّهُ جَوَابٌ لِمَنْ يَّقُولُ هَلْ مِنْ رَجُلٍ فِي الدَّارِ حَقِيقَةً أَوْ تَقْدِيرًا
د لا رجل في الدار لا من رجل فيها دې خكه دا جواب دې د هغه چا د پاره چې وايي هل من رجل في الدار حقيقة او يا تقديرا نو
فَحُذِفَ مِنْ تَخْفِيفاً وَ إِنَّمَا بُنِيَ عَلَى مَا يُنْصَبُ بِهِ لِيَكُونَ الْبِنَاءُ عَلَى حَرَكَةٍ أَوْ
حذف كړې شو من تخفيفا او په تحقيق سره مبني كړو په ماينصب به سره د دې وجې نه چې وي بنا په حركت باندې او يا
حَرْفٍ نِ اسْتَحَقَّهُمَا النَّكِرَةُ فِي الْأَصْلِ قَبْلَ الْبِنَاءِ وَ لَمْ يُبْنَ الْمُضَافُ وَ لَا الْمُضَارِعُ لَهُ
په حرف باندې چې مستحق وو د دواړو نكره په اصل كې مخكې د بناء او مبني يې نه كړو مضاف او نه شبه مضاف
لِأَنَّ الْإِضَافَةَ تُرَجِّحُ جَانِبَ الْإِسْمِيَّةِ فَيَصِيرُ الْإِسْمُ بِهَا مَائِلًا إِلٰى مَا يَسْتَحِقُّهُ فِي الْأَصْلِ
خكه اضافت راجح وي طرف د اسميت ته نو گرځي اسم په دې سره مائل هغه څه ته چې مستحق وي په اصل كې

اَعْـنِـيَ الْاِعْـرَابَ .
چې مراد زما اعراب دي

خلاصه دمتن : که د لای نفي جنس مابعد مفرد وي یعنې اولني دوه شرطونه وموندلې شي او آخري شرط ونه موندلې شي نو علامت نصب به یې مبني برفتح وي یعنې د لا ددخول نه مخکې چې په کوم علامت سره منصوب وه دغې علامت سره د لا ددخول نه وروستو په نصب باندې به مبني وي اوکه د لا ددخول نه مخکې دفتحې علامت سره منصوب وه نو د لا ددخول نه وروستو به هم علامت مبني برفتحه وي لکه مفرد کې مثلاً لا رجل في الدار اوکه د لا ددخول نه مخکې کسرې سره منصوب وو نو د لا ددخول نه وروستو به مبني برکسره وي مثال په مؤنث سالم کې البته تنوین به نه وي مثلاً لا مسلمات في الدار اوکه د لا ددخول نه مخکې یا ماقبل مفتوح سره منصوب وي نو د لا ددخول نه وروستو به هم یاء ماقبل مفتوح په بناء باندې به مبني وي مثال لکه په تثنیه کې لامسلمین اوکه دلا ددخول نه مخکې یا ماقبل مکسور سره منصوب وي نو د لا ددخول نه وروستو به هم یاء ماقبل مکسور په علامت باندې به مبني وي مثال لکه په مؤنث سالم کې لا مسلمین لک .

اغراض دجامي : بانتفاء الشرط : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : داقاعده منقوض اوماته ده په لازید عندي ولاعمرو سره ځکه چې په دې کې دلا مابعد مفرد وي حالانکه دامبني نه دي .

جواب : مراد دادې چې دمذکوره درې (۳) شرطونو نه صرف آخري ونه موندلې شي اواولني دوه (۲) شرطونه وموندلې شي هله به مبني علی الفتح وي یعنې د لا سره به متصل هم وي او نکره به هم وي لیکن مضاف یا شبه مضاف به نه وي په ذکر شوي مثال کې دویم شرط نه موندلې کیږي ولې چې زید معرفه ده ددې وجې نه دامعرب دي .

لیترتب علیه قوله : په دې عبارت سره شارح دمتن وضاحت کوي چې لیترتب علیه قول دا متعلق دي دا انتفاء الشرط پورې یعنې مونږ آخرني شرط انتفاء شرط ددې وجې نه ولږولو چې دمصنف قول فهو مبني علی ما ینصب باندې مرتب شي ځکه چې که د لا اسم مفرد معرفه وي یعنې دویم

شرط ونه مونډلې شي يا فاصله وي يعنې اولنې شرط نه وي نو دا به مبني برفتحه نه وي

قوله: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دمصنف رحمه الله قول **فهو مبني الخ** کې تعارض دي ځکه چې دمبني ضمير راجع دي مفرد طرف ته او ديڼصب ضمير هم مفرد طرف ته راجع دي نو مبني دمفرد په بناء کې صريح ده او ينصب دهغه په معرب کيدو باندې دال دي ځکه چې نصب دمعرب دحرکاتو نوم دي نو دانه دي مګر تعارض اوتناقض .

جواب : مفرد طرف ته دبناء اسناد دحال په اعتبار سره دي يعنې دلا ددخول نه مخکې کيدو مقصد دادې چې کوم مفرد د لا ددخول نه مخکې معرب اومنصوب وه اوس دلا ددخول نه وروستو به مبني برفتحه وي نو بيا په دې کې تعارض اوتناقض نشته دي .

يعني به: په دې عبارت سره شارح تعين دمراد کوي چې مفرد مضاف ، دشبه مضاف په مقابله کې دي لهذا دا به تثنيه اوجمع ته هم شامل شي .

وانما بنى: په دې عبارت سره شارح د لا مابعد کله چې مفرد وي نو ددې مبني کيدو وجه بيانوي د لاى نفي جنس اسم مفرد **من** معنى ته متضمن کيږي ځکه چې دلا رجل في الدار معنى ده لا من رجل في الدار ځکه چې داجواب دي دسائل دقول نه يعنې هل من رجل في الدار ؟ برابره خبره ده که داسوال **حقيقةً** وي اويا **تقديراً** وي ، **حقيقةً** خو ظاهر دي دتقديراً صورت دادې چې مثلاً دوه سړي لاړ شي اوددې دوه سړو نه يو سړي مکان اويا کور ته داخل شي اودويم سړي د کور نه بهر ولاړ وي او کور کې داخل سړي ووايي چې لارجل في الدار نو ګويا چې بهر ولاړ سړي سوال وکړو چې هل من رجل في الدار ؟ نو کور کې داخل سړي ورته وويل چې لارجل في الدار ، بيا من لره دتخفيف دوجې نه حذف کړه چې هر هغه اسم کوم چې دحرف معنى ته متضمن وي نودا به مبني وي ددې وجې نه لا نفي جنس اسم مبني دي .

وانما بنى: په دې عبارت سره شارح په علامت دنصب باندې دمبني کيدو وجه بيانوي چې په حالت دنصب باندې مبني ددې وجې نه کړه چې بناء په هغه حرکت ياحرف باندې وشي چې د کوم نکره داصل اعتبار نه مخکې مستحق وو اوهغه نصب دي په اصل کې معرب منصوب کيدل په کار وو دعارض دوجې نه مبني شو.

ولم یبین: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : چې کله د لا مابعد مضاف یاشبه مضاف وي نو دا د من معنی ته متضمن دي بیا دې لره یې مبني ولې جوړ نه کړو ؟

جواب : مضاف او شبه مضاف لره یې مبني ددې وجې نه جوړ نه کړو چې د اضافت دوجې نه جانب اسم راجح وي ځکه چې اضافت د اسم خاصه ده لهذا د اضافت دوجې نه اسم دې طرف ته راجع کیږي کوم چې د اصل په اعتبار سره مستحق دي اوهغه اعراب دي ددې وجې نه دې لره یې مبني جوړ نه کړو.

د لای نفي جنس د منصوب کیدو شرائط او د منتفي کیدو ذکر :

وَ اِنْ كَانَ أَيِ الْمُسْنَدُ إِلَيْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهَا مَعْرِفَةً بِانْتِفَاءِ شَرْطِ النَّكَارَةِ اَوْ مَفْصُوْلًا بَيْنَهُ

او که چیرته وي یعني مسند الیه پس د دخول د لا نه معرفه په انتفاء د شرط د نکارت او یا مفصول وي په مینځ ددې کې

أَيْ بَيْنَ ذٰلِكَ الْمُسْنَدِ إِلَيْهِ وَ بَيْنَ لَا بِانْتِفَاءِ شَرْطِ الْاِتِّصَالِ عَلٰى سَبِيْلِ مَنْعِ الْخُلُوِّ سَوَاءٌ

یعنې په مینځ ددې مسند الیه او په مینځ د لا کې په انتفاء د شرط د اتصال په طریقې د مانعة الخلو برابره خبره ده چې

كَانَا مَعَ اِنْتِفَاءِ شَرْطِ كَوْنِهِ مُضَافاً أَوْ مُشَابِهاً بِهِ أَوْ لَا وَ هِيَ سِتُّ صُوَرٍ

وي دا سره د انتفاء د شرط د کیدو ددې مضاف او یا هغه چې مشابه وي د مضاف سره او یا نه وي او دا شپږ صورتونه دي

نَحْوُ لَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو وَلَا غُلَامُ زَيْدٍ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو وَلَا فِي الدَّارِ رَجُلٌ وَلَا إِمْرَأَةٌ وَلَا فِي الدَّارِ زَيْدٌ وَلَا عَمْرٌو

لکه لا زید في الدار و لا عمرو و لا غلام زید في الدار و لا عمرو و لا في الدار رجل ولا امرأة و لا في الدار زید و لا عمرو

وَلَا فِي الدَّارِ غُلَامُ زَيْدٍ وَلَا عَمْرٌو وَجَبَ فِيْ جَمِيْعِ هٰذِهِ الصُّوَرِ السِّتِّ الرَّفْعُ عَلَى الْاِبْتِدَاءِ أَمَّا فِي الْمَعْرِفَةِ

ولا في الدار غلام زید ولا عمرو نو واجب دي په ټولو ددې صورتونو شپږو کې رفع بنا بر ابتداء هرچې په معرفه کې دي نو د

فَلِامْتِنَاعِ أَثَرِ لَا النَّافِيَةِ لِلْجِنْسِ فِيْهَا وَ أَمَّا فِي الْمَفْصُوْلِ فَلِضُعْفِ لَا عَنِ التَّاثِيْرِ مَعَ

وجې د امتناع د اثر د لای نافیه دپاره د جنس په دې کې او هرچې په مفصول کې دي نو د وجې د ضعف د لا د تاثیر نه سره

الْفَصْلِ وَ التَّكْرِيْرِ أَيْ وَجَبَ تَكْرِيْرُ اِسْمِهَا لٰكِنْ مُطْلَقاً بِعَيْنِهِ أَمَّا فِي الْمَعْرِفَةِ فَلِيَكُوْنَ

د فصل او تکریر یعنې واجب دي تکریر د اسم د لا لکن مطلقا لا بعینه هرچې په معرفه کې دي نو د وجې د کیدو نه په شان

كَالْعِوَضِ عَمَّا فِي التَّنْكِيْرِ مِنْ مَعْنٰى نَفْيِ الْاٰحَادِ وَ أَمَّا فِي النَّكِرَةِ فَلِيَكُوْنَ مُطَابِقًا لِمَا هُوَ

د عوض د هغه څه نه چې وي په تنکیر کې د معنی د نفي د آحاد او هرچې په نکره کې وي نو وي مطابق د هغه سوال چې ود

جَوَابٌ لَهُ مِنْ مِثْلِ قَوْلِ السَّائِلِ اَفِي الدَّارِ رَجُلٌ أَمْ إِمْرَأَةٌ وَ هٰذَا التَّعْلِيْلُ جَارٍ فِي الْمَعْرِفَةِ أَيْضاً.

خلاصه دمتن : صاحب د كافيې وايي چې كه دلا اسم منصوب كيدو په دري (۳) شرطونو كې دريم شرط نه غير باقي دوه شرطونو نه يو شرط ونه موندل شي داعام ده چې دريم شرط وموندل شي اويانه يعنې دلا مابعد نكره نه وي بلكه معرفه وي يادلاسره متصل نه وي بلكه لا او ددې په مينځ كې فاصله وي يانكره هم نه وي اومستقل هم نه وي نو په دې وخت كې دلا مابعد باندې رفع واجب ده دمبتدا په بناء باندې اودلااسم تكرار هم واجب دي په عقلي اعتبار سره تول شپږ(۶) صورتونه دي څكه چې فقط نكارت والاشرطونه منتفي وي يافقط اتصال والا شرطونه اويادواړه شرطونه منتفي وي بيا دهر يو دوه دوه صورتونه دي : (۱) دمابعد به مضاف وي (۲) اويابه مابعد شبه مضاف وي نو دري (۳) ضرب دوه (۲) دا شپږ صورتونه شو ، يعنې ۳×۲ = ۶.

اغراض دجامي : والتكرير : په دې عبارت سره شارح دوه (۲) خبرو طرف ته اشاره كوي : (۱) اول دا چې د التكرير عطف په الرفع باندې دي . (۲) دويم داچې په د ے باندې چې كوم الف لام داخل دي دادمضاف اليه په عوض كې دي . بل درفع او دتكرار وجه بيـ نوي .

لكن مطلقا: په دې عبارت سره شارح ددې خبرې وضاحت كوي چې دلا داسم تكرار واجب دي ليكن مطلق داسم تكرار واجب دي ، بعينه داول اسم تكرار واجب نه دي يعنې دتكرار نه مراد تكرار نوعي دي تكرار شخصي نه دي .

امافي المعرفة: په دې عبارت سره شارح دتكرار وجه بيانوي چې دمعرفه كيدو په صورت كې تكرار څكه واجب دي چې لا په اصل كې موضوع دي دنفي دآحادو دپاره اونفي دآحادو په اجناسو كې موندلې شي كله چې دمعرفې په صورت كې دامعنى فوت شي څكه چې په معرفه كې نفي دمفرد كيږي دآحادو نه كيږي لهذا تكرار ضروري دي چې دمافات تلافي وشي اود نكرې په صورت كې تكرار څكه واجب دي چې جواب دسوال مطابق شي ددې وجې نه لارجل في الدار ولا امرأة داجواب دي دسائل ددې سوال أرجل في الدار ام امرأة ؟ اوشارح وايي چې دا تعليل په اولني صورت كې هم جاري كيدي شي .

وجه دحصرِ عقلي : مسند اليه به يا معرفه وي اويا نكره ، كه معرفه وي نو يامفرد وي اويابه مضاف وي ، اودويم به يا مفرد مفصول وي اويا به مضاف مفصول وي ، او اول به يامفرد مفصول وي اويابه مضاف مفصول نو دمعرفې څلور (۴) صورتونه شو ، دوه (۲) بې دفصله

اودوه (٢) سره دفصله اودنکرې دوه (٢) صورتونه دي اوهغه دواړه دفصل سره دي حاصل داچې دلته ټول شپږ (٦) صورتونه دي:

(١): د لا اسم مفرد معرفه متصل وي مثال لکه لا زيد ولا عمرو ، نوپه دې کې اول شرط موندلې شي او دريم اودويم شرط نه شي موندلې

(٢): د لا اسم معرفه مضاف متصل وي مثال لکه لا غلام زيد في الدار ولا عمرو ، نوپه دې کې اول شرط موندلې شي

(٣): د لا اسم نکره مفرده مفصوله وي مثال لکه لا في الدار زيد ولا امرأة ، نو په دې کې دويم شرط موندلې شي

(٤): د لا اسم نکره مفصوله مضاف وي مثال لا في الدار غلام زيد ولا امرأة ، نو په دې کې اول شرط نه شي موندلې.

(٥): د لا اسم مفرد مفصوله وي مثال لکه لا في الدار زيد ولا عمرو ، نو په دې کې يو شرط هم نه شي موندلې.

(٦): د لا اسم مضاف معرفه مفصوله وي مثال لکه لا في الدار غلام زيد ولا عمرو ، نو په دې کې دريم شرط موندلې شي

په دې صورتونو کې رفع دمبتدا کيدو په وجه واجب وي دمعرفې په صورت کې رفع ځکه واجب ده چې لا دنکرې په صفت کې دعمل کولو دپاره دي لهذا داپه معرفه کې عمل نه شي کولې اوپه مفصول کې رفع ځکه واجب ده چې د لا عمل ضعيف دي معمول په مفصول کې عمل نه شي کولې معمول صرف په موصول کې عمل کولې شي.

د يو سوال مقدر جواب:

وَ نَحْوُ قَضِيَّةٌ أَيْ هٰذِهٖ قَضِيَّةٌ وَلاَ أَبَاحَسَنٍ لَهَا أَيْ لِهٰذَا الْقَضِيَّةِ هٰذَا جَوَابُ دَخْلٍ مُقَدَّرٍ عَلٰى قَوْلِهٖ
اولکه قضية يعني هذه قضية ولا اَبَاحَسَنٍ لَهَا يعني لهذا القضية داجواب دي دسوال مقدر په دې قول دمصنف باندې
وَ اِنْ كَانَ مَعْرِفَةً وَجَبَ الرَّفْعُ وَ التَّنْكِيْرُ فَإِنَّ اِسْمُ لاَ فِيْهِ مَعْرِفَةٌ لِاَنَّ أَبَا حَسَنٍ كُنْيَةٌ
چې کله چيرته معرفه وي نوواجب ده رفع اوتکرارځکه اسم دلاپه دې کې معرفه دي ځکه اباحسن داکنيت دي د
عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ لاَ رَفْعَ فِيْهِ وَ لاَ تَكْرِيْرَ بَلْ هُوَ مَنْصُوْبٌ غَيْرُ مُكَرَّرٍ فَأَجَابَ
حضرت علي رضی الله عنه اونشته رفع په دې کې اونه تکرار بلکې دامنصوب دي غير مکرر نوجواب يې ورکړو

عَنْهُ بِأَنَّهُ مُتَأَوَّلٌ بِالنَّكِرَةِ إِمَّا بِتَقْدِيرِ الْمِثْلِ أَيْ وَ لاَ مِثْلَ أَبِي حَسَنٍ لَهَا فَإِنَّ مَثَلاً
ددې نه په دې طريقې سره چې دامؤول دي په نكرې سره اويادتقدير د مثل نه يعني ولا مثل ابي حسن لهاځكه مثلاً
لِتَوَغُّلِهِ فِي الْإِبْهَامِ لاَ يَتَعَرَّفُ بِالْإِضَافَةِ إِلَى الْمَعْرِفَةِ أَوْ بِتَأْوِيلِهِ بِفَيْصَلٍ
دوجې دشدت نه دي په ابهام کې نه معرفه کيږي په اضافت سره معرفې ته اويا په تاويل ددې سره په فيصل
بَيْنَ الْحَقِّ وَ الْبَاطِلِ لِاشْتِهَارِهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِهٰذِهِ الصِّفَةِ فَكَأَنَّهُ قِيلَ لاَ فَيْصَلَ
په مينځ دحق اودباطل دوجې دشهرت دحضرت علي رضی الله عنه په دې صفت سره نوګوياچې ويلي دي لافيصل
لَهَا وَ يُقَوِّي هٰذَا التَّأْوِيلَ إِيْرَادُ حَسَنٍ بِحَذْفِ اللاَّمِ لِأَنَّ الظَّاهِرَ أَنَّ تَنْوِينَهُ لِلتَّنْكِيرِ.
فيصل لها اوقوي کيږي داتاويل په راوړو دحسن سره په حذف دلام ځکه ظاهرداده چې وي تنوين دپاره دتنكير

...: په دې عبارت کې صاحب دکافيې ديو سوال مقدر جواب ورکوي کوم چې ددې په قول ان کان معرفةً باندې وارد شوي دي چې دسوال اوجواب تفصيل لاندې په شرحه کې ذكر شوي دي.

اغراض دجامي : هذه القضية: په دې عبارت سره شارح بيان دترکيب کوي قضيه خبر دي د مبتدا محذوف چې **هذه** دي.

لهذا القضية: په دې عبارت سره شارح د **هاء** دضمير مرجع يې متعين کړه.

هذا جواب: په دې عبارت سره شارح په متن باندې واردېدونکي سوال اوددې دجواب وضاحت کوي:

سوال: په ماتن باندې سوال کيږي چې مخکې تېر شو چې کله د لا مابعد معرفه وي نو ... تكرار اورفع واجب دې داقاعده منقوضه اوماته ده په **هذه قضية ولا اباحسن لها** په مثال سره ځکه چې په دې کې اباحسن معرفه ده ولې چې ابوحسن دادحضرت علي رضی الله عنه کنيت دي حالانکه نه په دې باندې رفع ده اونه تکرار شته دي بلکه په دې باندې نصب دي.

متأول: صاحب دکافيې ددې جواب ورکوي چې دامثال متأول په تاويل دنكرې سره دي شارح وايي چې په دې کې په دوه (۲) طريقو باندې تاويل کيدي شي:

(**۱**) اباحسن دک اسم نه دي بلکې ددې نه مخکې **مثل** مضاف محذوف دي هغه د لا اسم دي په اصل کې داسې وو چې **لا مثل ابي حسن**، اولفظ دمثل متوغل في الابهام کيدو دوجې نه که

معرفې طرف ته مضاف هم شي نو دا هم نکره وي لهذا د لا اسم نکره ده معرفه نه ده ددې وجې نه ، نه وضع واجب ده او نه تکرار ضروري دي .

(۲) د اباحسن نه مراد هغه وصف دي چې دهغې سره حضرت علي رضی الله عنه مشهور وو دحق او باطل په مینځ کې فیصل او ددې معنی ده **هذه قضية ولا فيصل لها** او س د **لا** اسم نکره کیږي ځکه چې کله دعلم نه مراد وصف مشهور واخستي شي نو دا معرفه نه پاتې کیږي بلکه نکره جوړیږي .

ويقوى هذا التأويل: په دې عبارت سره شارح دمولانا جامي ددویمې توجیه تاکید کوي چې په اباحسن کې د الحسن نه الف لام حذف کول ددویمې توجیه دپاره مقوي او مؤید دي ځکه چې د حسن تنوین دتنکیر دپاره دي که تنکیر دپاره نه وي نو الحسن چې مشهور دي ددې نه عدول نه کیدو .

په لاحول ولا قوة الابالله مثال کې دپنځو وجوهاتو بیان :

وَ فِيْ مِثْلِ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ أَيْ فِيْمَا كُرِّرَتْ فِيْهِ لَا عَلٰى سَبِيْلِ الْعَطْفِ وَ

او په لاحول ولا قوة الابالله مثال کې یعنې په هغه صورت کې چې مکرروي په دې کې لا په طریقې دعطف سره او

كَانَ عَقِيْبَ كُلٍّ مِنْهُمَا نَكِرَةٌ بِلاَ فَصْلٍ يَجُوْزُ خَمْسَةُ أَوْجُهٍ بِحَسْبِ اللَّفْظِ لَا بِحَسْبِ التَّوْجِيْهِ

وو وروسته دهریو ددې دواړو نکره بې ذفصل نو جائزدي پنځه وجهې په اعتبار دلفظ سره نه په اعتبار دتوجیه سره

فَإِنَّهَا بِحَسْبِ التَّوْجِيْهِ تَزِيْدُ عَلَيْهَا الْأَوَّلُ فَتْحُهُمَا أَيْ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ عَلٰى أَنْ يَّكُوْنَ لَا فِيْ كُلٍّ

ځکه په اعتبار دتوجیه سره زیاتیږي په پنځو باندې اول فتحه ددواړو یعنې لاحولَ ولاقوةَ الابالله چې وي لا په هریو

مِنْهُمَا لِنَفْيِ الْجِنْسِ وَلاَ قُوَّةَ عَطْفٌ عَلٰى لَاحَوْلَ عَطْفَ مُفْرَدٍ عَلٰى مُفْرَدٍ وَ خَبَرُهَا

ددې دواړو کې دپاره دنفي دجنس دولا قوة عطف په لاحول باندې په شان دعطف دمفرد په مفرد دي او خبر ددې

مَحْذُوْفٌ أَيْ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ مَوْجُوْدٌ إِلاَّ بِاللهِ أَوْ عَطْفَ جُمْلَةٍ عَلٰى جُمْلَةٍ أَيْ لَاحَوْلَ إِلاَّ بِاللهِ وَلَاقُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ فَحُذِفَ

محذوف دي لاحول ولاقوة موجود الابالله او یا عطف دجملې په جملې باندې یعنې لاحول الابالله ولاقوة الابالله نو حذف

خَبَرُ الْجُمْلَةِ الْأُوْلٰى اِسْتِغْنَاءً عَنْهُ بِخَبَرِ الْجُمْلَةِ الثَّانِيَةِ، وَ الثَّانِيْ فَتْحُ الْأَوَّلِ وَ نَصْبُ الثَّانِيْ

کړې شوه خبر داولې جملې دوجې داستغناء ددې نه په خبر ددویمې جملې او دویم فتحه داول او نصب د دویم

أَيْ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةً إِلاَّ بِاللهِ أَمَّا فَتْحُ الْأَوَّلِ فَلِأَنَّ لَا الْأُوْلٰى لِنَفْيِ الْجِنْسِ وَ أَمَّا نَصْبُ

یعنې لاحولَ ولا قوةً الا بالله هرچې فتحه داول نو ددې وجې نه چې اولنی لام دپاره دنفي دجنس دي او هرچې نصب

الثَّانِيْ فَلِاَنَّ لاَ الثَّانِيَةَ مَزِيْدَةٌ لِتَاكِيْدِ النَّفْيِ وَ الثَّانِيْ مَعْطُوْفٌ عَلَى الْاَوَّلِ فَيَكُوْنُ

ددويم دي نود دي وجې نه چې دويم لام زائد دي دپاره دتاکيد دنفي او دويم عطف دي په اول باندې نو وي به

مَنْصُوْباً حَمْلاً عَلَى لَفْظِهِ لِمُشَابَهَةِ حَرَكَتِهِ حَرَكَةَ الْإِعْرَابِ وَ

منصوب دوجې دحمل نه په لفظ باندې دوجهې دمشابهت نه خکه حرکت ددې په شان دحرکت داعراب دي او

يَجُوْزُ أَنْ يُقَدَّرَ لَهُمَا خَبَرٌ وَاحِدٌ وَ أَنْ يُقَدَّرَ لِكُلٍّ مِنْهُمَا خَبَرٌ عَلَى حِدَةٍ وَ الثَّالِثُ فَتْحُ الْاَوَّلِ وَ

جائزدي چې مقدر کړې شي ددې دواړو دپاره يوخبراويامقدر کړې شي دهريودپاره خبرجدا اودريم فتحه داول او

رَفْعُ الثَّانِيْ نَحْوُ لَاحَوْلَ وَلاَ قُوَّةٌ إِلاَّ بِاللهِ أَمَّا فَتْحُ الْاَوَّلِ فَلِاَنَّ لَا الْاُوْلٰى لِنَفْيِ الْجِنْسِ وَ أَمَّا رَفْعُ

رفع ددويم لکه لاحولَ ولاقوةٌ الا بالله هرچې فتحه داول ده نوخکه اولنې لام دپاره دنفي دجنس دي اوهرچې رفع

الثَّانِيْ فَلِاَنَّ لاَ الثَّانِيَةَ زَائِدَةٌ وَ الثَّانِيْ مَعْطُوْفٌ عَلَى مَحَلِّ الْاَوَّلِ لِاَنَّهُ مَرْفُوْعٌ بِالْاِبْتِدَاءِ عَطْفَ

ددويم نوخکه چې دويم لام زائد دي اودويم عطف دي په اول محل باندې خکه مرفوع دي په ابتدا سره داعطف د

مُفْرَدٍ عَلَى مُفْرَدٍ بِأَنْ يُقَدَّرَ لَهُمَا خَبَرٌ وَاحِدٌ أَوْ عَطْفَ جُمْلَةٍ عَلَى جُمْلَةٍ بِأَنْ يُقَدَّرَ

مفردپه مفرد باندې دي چې مقدر کړې شي ددې دپاره يوخبراويا عطف دجملې دي په جملې باندې چې مقدر کړې

لِكُلٍّ مِنْهُمَا خَبَرٌ وَ الرَّابِعُ رَفْعُهُمَا بِالْاِبْتِدَاءِ نَحْوُ لاَ حَوْلٌ وَلاَ قُوَّةٌ إِلاَّ بِاللهِ لِاَنَّهُ جَوَابُ قَوْلِهِمْ

شي دهريودپاره خبرجدا اوڅلورم رفع ددواړو په ابتدا سره لکه لاحولٌ ولاقوةٌ الابالله خکه داجواب ددې قول دي

أَبِغَيْرِ اللهِ حَوْلٌ وَ قُوَّةٌ ؟ فَجَاءَ بِالرَّفْعِ فِيْهِمَا مُطَابَقَةً لِلسُّؤَالِ وَ يَجُوْزُ الْاَمْرَانِ هٰهُنَا

چې أبغيرالله حولٌ وقوةٌ؟نوراغې په رفع سره په دواړوکې دوجې دمطابقت نه دسوال سره اوجائزدي دواړه امره دلته

أَيْضاً وَ الْخَامِسُ رَفْعُ الْاَوَّلِ عَلٰى أَنْ يَكُوْنَ لاَ بِمَعْنٰى لَيْسَ عَلٰى ضُعْفٍ فَإِنَّ عَمَلَ لاَ بِمَعْنٰى

همدارنګې اوپنځم رفع داول په دې معنی چې وي لا په معنی دليس په ضعف باندې خکه عمل د لا په معنی د

لَيْسَ قَلِيْلٌ وَ فَتْحُ الثَّانِيْ نَحْوُ لَاحَوْلٌ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ عَلٰى أَنْ يَكُوْنَ لاَ لِنَفْيِ الْجِنْسِ وَ ضُعِّفَ

ليس سره کم دي اوفتحه ددويم لکه لاحولٌ ولا قوةَ الا بالله په دې خبره چې وي لا د پاره د نفي د جنس او ضعيف

وَجْهُ ضُعْفِ رَفْعِ الْاَوَّلِ بِأَنَّهُ يَجُوْزَ أَنْ يَكُوْنَ رَفْعُهُ لِإِلْغَاءِ عَمَلِ لاَ

ګرخولې شوې دوجهې دضعف نه رفع داول په دې معنی چې جائزوې چې وي رفع ددې دپاره دلغوه کولودعمل دلا په

بِالتَّكْرِيْرِ لاَ لِكَوْنِهَا بِمَعْنٰى لَيْسَ لِاَنَّ شَرْطَ صِحَّةِ إِلْغَائِهَا التَّكْرِيْرُ فَقَطْ وَ قَدْ

تکرارسره نودوجې دکيدوددې نه په معنی دليس خکه شرط دصحت دلغوه کولوددې تکراردي فقط اوپه تحقيق

حَصَلَ هٰهُنَا وَلاَ دَخْلَ فِيْهَا لِتَوَافُقِ الْاِسْمَيْنِ بَعْدَهَا فِي الْاِعْرَابِ فَهٰذَا عَلٰى

سره حاصل شو دلته اونشته هيڅ دخل په دې کې دوجهې دتوافق ددواړو اسمينوپس دلانه په اعراب کې نوداپه

التَّوْجِيْهِ الْاَوَّلِ مُتَعَيِّنٌ لِعَطْفِ جُمْلَةٍ عَلٰى جُمْلَةٍ أَيْ لَاحَوْلٌ إِلاَّ بِاللّٰهِ وَلَاقُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ وَلَا يَلْزِمُ
اولي توجيه باندې متعين ده دپاره دعطف دجملې په جملې باندې يعنې لاحولٌ الا بالله ولاقوةَ الا بالله اونه ده لازم
أَنْ يَكُوْنَ قَوْلُهُ إِلاَّ بِاللّٰهِ مَنْصُوباً وَمَرْفُوْعاً وَ عَلَى التَّوْجِيْهِ الثَّانِيْ يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ مِنْ قَبِيْلِ عَطْفِ
چې وي قول دده الا باللهِ منصوب اومرفوع اوبناپه دويمه توجيه باندې احتمال لري چې وي دقبيلې دعطف د
مُفْرَدٍ عَلٰى مُفْرَدٍ أَوْ عَطْفِ جُمْلَةٍ عَلٰى جُمْلَةٍ كَمَا لَا يَخْفٰى.
مفردپه مفردباندې اودعطف دجملې په جملې باندې لکه څنګه چې دا پټه نه ده.

خلاصه دمتن: صاحب د كافيې وايي چې د **لاحول ولا قوة الا بالله** مثال كې يعنې په هغه صورت كې چې مكرر وي په دې كې په طريقې دعطف سره او وي پس د هر يو ددې دواړو نه نكره بې دفصل نه ، نو په دې كې پنځه (۵) وجهې جائز دي په اعتبار دلفظ سره نه په اعتبار دتوجيه سره چې تفصيل يې په لاندې ډول دي :

(۱): **اول صورت دا**چې ددواړو فتحه يعني دلاحول هم فتحه اود لاقوة هم فتحه مثال لكه: لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ.

(۲): **دوهم صورت دا**چې فتحه داول يعنې دلاحولَ او نصب ددويم يعنې دلاقوة مثال لكه: لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةً إِلاَّ بِاللّٰهِ.

(۳): **دريم صورت دا**چې فتحه داول يعنې دلاحول اورفع ددويم يعنې دلاقوة مثال لكه: لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةٌ إِلاَّ بِاللّٰهِ.

(۴): **څلورم صورت دا**چې رفع ددواړو يعنې په لاحول اولاقوة دواړو باندې رفع وي مثال لكه لَا حَوْلٌ وَلَاقُوَّةٌ إِلاَّ بِاللّٰهِ.

(۵): **پنځم صورت دا**چې رفع داول يعنې دلاحول (بناء بر ضعف) او فتحه ددويم يعنې د لاقوة مثال لكه: لَا حَوْلٌ وَلَاقُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ.

اغراض دجامي : مثل: په دې عبارت سره شارح دمثل مقصود او مراد متعين كوي دمثل نه مراد هر هغه ترتيب دي چې په هغې كې **لا على سبيل العطف** مكرر وي او ددې نه هر يو لا مابعد نكره مفرد بلا فصل وي نو په داسې تركيب كې پنځه (۵) وجهې جائز دي .

بحسب اللفظ: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : دلته شپږم صورت هم كيدي شي هغه شپږم صورت دادې چې داول فتحه په دې بناء

باندې چې هغه دلانفی جنس اسم دي اودويم رفع په دې وجه باندې چې لا د ليس په معنى کې دي.

جواب: وجه په دوه قسمه ده (۱) په اعتبار دلفظ سره ، ددې نه مراد طريقه دقرأت يعني په اعتبار دلوستلو سره . (۲) په اعتبار دتوجيه سره ددې نه مراد دليل دقرأت دي اودلته اول قسم يعني په اعتبار دلفظ سره مراد دي مقصد دادې چې ددې عبارت دلوستلو په اعتبار سره پنځه (۵) صورتونه دي البته کله چې ددې توجيهات وشي نو هغه دپنځو (۵) نه زياتيږي.

__طريق خمسة__: په پنځو (۵) طريقو باندې يې لوستل جائز دي.

(۱): ددواړو فتحه يعني **لاحولَ ولا قوةَ الا بالله** په دې صورت کې په دواړو ځايونو کې به لانفي جنس وي اوددې نه وروستو به نکره مفرده بلا فصل وي اوکله چې دلا اسم نکره مفرده بلافصل وي نو دابه مبني برفتحه وي پاتې شوه داخبره چې دوه جملې دي يا يوه جمله يعني مفرد په مفرد باندې عطف دي يادجملې عطف په جمله باندې دي په دې کې دوه (۲) احتماله دي که ددواړو دپاره يو خبر مقدر ومنل شي نو بيا دمفرد عطف به په مفرد وي لکه **لاحول ولاقوة موجودان الا بالله** اوکه ددواړو خبر ځان له ومنلي شي نو بيابه دوه جملې شي اودجملې عطف به په جمله باندې شي مثال **لاحول موجود ولا قوة موجود الا بالله**.

(۲): داول فتحه ددويم نصب مثال **لاحولَ ولا قوةً الا بالله** داول فتحه په دې بناء باندې چې اول لا نفي جنس ده اوددويم نصب په دې بناء باندې چې دويمه لا زائده ده دنفي تاکيد دپاره اوهغه معطوف دي په اول باندې اودمعطوف عليه په لفظ باندې محمول شو نو دې لره منصوب ولوستلي شو.

__لمشابهة حركته الخ__: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: اول مبني دي اودمبني تابع دهغې محل تابع وي دلفظ تابع نه وي نو لهذا دويم لره داول په محل باندې محمول کول اومرفوع لوستل په کار وو

جواب: داول حرکت دحرکت اعرابيه مشابه دي لهذا دا به منزله دمعرب شو اودمعرب تابع دهغه لفظ تابع وي باتې شوه داخبره چې يوه جمله ده که دوه جملې دي ددې دارومدار په خبر باندې دي که يو خبر محذوف ومنل شي نو دمفرد عطف به مفرد باندې شي اوکه ځان ځان له خبر محذوف ومنل شي نو دجملې عطف به جمله باندې به شي لکه څنګه چې مخکې تېر شو

(۳): داول فتحه اوددویم رفع مثال لاحولَ ولاقوةٌ الا بالله داول فتحه په دې بناء باندې چې اول لا دنفي جنس دپاره ده اودویم رفع په دې باندې چې دویمه لا زائده ده اودویم اسم عطف په اول اسم په محل باندې دي ځکه چې دا محلاً مرفوع دي دمبتدا په وجه باندې په دې کې هم د عطف دوه (۲) وجهې جائز دي که یو خبر مقدر ومنل شي نو عطف دمفرد په مفرد به راشي او که ځان ځان له مقدر ومنل شي نوعطف دجمله په جمله باندې وي لکه مخکې چې ددې پوره تفصیل تیر شوې دي .

(۴): ددواړو رفع دمبتدا کیدو په وجه مثال لاحولٌ ولاقوةٌ الا بالله ځکه چې دا جواب دي دقائل دقول أبغیر الله حولٌ وقوةٌ ځکه چې په سوال کې دواړه مرفوع دي نو جواب به هم مرفوع وي چې جواب دسوال مطابق شي په دې کې هم دوه (۲) وجهې جائز دي یعنې دمفرد عطف په مفرد باندې اودجملې عطف په جمله باندې .

(۵): داول رفع اودویم فتحه مثال لاحولٌ ولا قوةَ الا بالله داول رفع په دې بناء باندې چې اول لا په معنی دلیس سره دي داضعیف دي ځکه چې لا په معنی دلیس عمل قلیل اونادر دي او د دویم فتحه په دې بناء باندې چې دویمه لا نفي دجنس ده .

وضعف: په دې عبارت سره شارح دمصنف رحمه الله په قول علی ضعیف باندې رد کوي یعنې د اول رفع دضعیف دوجې نه ضعیف دي ددې وجې نه کیدې شي داول رفع په معنی دلیس د وجې نه ،نه وي بلکه دارفع دتکرار دوجې نه لا ملغی کیدو دوجې نه وي ځکه چې لا دالغاء صحت شرط فقط تکرار دي اوتکرار دلته موجود دي .

ولا دخل: په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د لا دالغاء دپاره دوه (۲) شرطونه دي : (۱) تکرار سره وي . (۲) ددغې اسمونو اعراب یو وي اودلته دویم شرط نه شي موندلې .

جواب : لا دملغی کیدو دصحت دپاره ددواړو اسمونو په اعراب کې دموافقت څه شرط ضروري نه دي دهغې دپاره فقط تکرار کافي وي پاتې شوه داخبره چې دلته دمفرد عطف په مفرد باندې دي یادجملې عطف په جملې باندې دي نو داولې توجیه مطابق یعنې کله چې لا په معنی د لیس سره وي نو دجملې عطف په جمله باندې متعین به شي ورنه لازم به شي چې الا

بالله مرفوع به هم وي او منصوب به هم وي ځکه چې لا په معنی د ليس خبر منصوب وي او د لا نفي جنس خبر مرفوع وي لفظ په يو وخت مرفوع او منصوب کيدل ناجائز دي او د دويمې توجيه مطابق يعنې کله چې لا ملغی وي نو د مفرد عطف په مفرد باندې هم کيدي شي او د جملې عطف په جملې باندې هم کيدي شي ځکه چې د مبتدا خبر مرفوع وي او د لانفي جنس خبر هم مرفوع وي.

په لای نفي جنس باندې د همزې داخليدو بيان:

وَ إِذَا دَخَلَتِ الْهَمْزَةُ عَلَى لاَ الَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ لَمْ يَتَغَيَّرِ الْعَمَلُ أَيْ عَمَلُ لاَ أَيْ تَأْثِيْرُهَا
او کله چې داخله شي همزه په لا باندې هغه چې وي د پاره د نفي د جنس نو نه بدلوي عمل يعنې عمل د لا يعنې تاثير
فِيْ مَدْخُوْلِهَا إِعْرَاباً وَ بِنَاءً لِأَنَّ الْعَامِلَ لاَ يَتَغَيَّرُ عَمَلُهُ بِدُخُوْلِ كَلِمَةِ
د دې په مدخول د دې کې په اعتبار د اعراب او بنا سره ځکه عامل نه متغير کوي عمل د دې په دخول د کلمې د
الْإِسْتِفْهَامِ وَ مَعْنَاهَا أَيْ مَعْنَى الْهَمْزَةِ الدَّاخِلَةِ عَلَى لاَ الَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ إِمَّا الْإِسْتِفْهَامُ
استفهام سره او معنی د دې يعنې د همزې چې داخله وي په لا هغه چې وي د پاره د نفي د جنس هرچې استفهام دي
حَقِيْقَةً فَتَقُوْلُ أَلاَ رَجُلَ فِي الدَّارِ مُسْتَفْهِماً وَ إِمَّا الْعَرْضُ مِثْلُ أَلاَ نُزُوْلَ عِنْدِيْ وَ لَمْ يَذْكُرْ
حقيقةً نو وايې به ته ألا رجل في الدار د سوال کولو په حالت کې او يا عرض دي لکه ألا نزول عندي او نه دي ذکر کړي
سِيْبُوَيْهِ أَنَّ حَالَ إِلاَّ فِي الْعَرْضِ كَحَالِهِ قَبْلَ الْهَمْزَةِ بَلْ ذَكَرَهُ السَّيْرَافِيْ وَ تَبِعَهُ
سيبويه چې حال د ألا په عرض کې په شان د هغه حالت دي چې وي مخکې د همزې نه بلکې ذکر کړي سيرافي او اتباع
الْجُزُوْلِيُّ وَ الْمُصَنِّفُ وَ رَدَّ ذٰلِكَ الْأَنْدَلُسِيُّ وَ قَالَ هٰذَا خَطَأٌ لِأَنَّهَا إِذَا كَانَتْ عَرْضاً كَانَتْ مِنْ حُرُوْفِ الْأَفْعَالِ
کړي جزولي او مصنف او رد کړي دا اندلسي او ويلي دي دا خطا ده ځکه چې کله وي عرض نو وي به د حروف افعالو نه
مِثْلُ إِنْ وَ لَوْ وَ حُرُوْفِ التَّحْضِيْضِ فَيَجِبُ إِنْتِصَابُ الْإِسْمِ بَعْدَهَا نَحْوُ أَلاَ زَيْداً أَكْرِمُهُ وَ إِمَّا التَّمَنِّيْ نَحْوُ أَلاَ مَاءً أَشْرَبُهُ
لکه إن ولو او حروف تحضيض نو واجب دي انتصاب د اسم پس د لا نه لکه الا زيدا تکرمه او يا تمني لکه الاماءً اشربه
حَيْثُ لاَ يُرْجٰى مَاءٌ وَ أَمَّا قَوْلُهُ أَلاَ رَجُلاً جَزَاهُ اللهُ خَيْراً فَهٰذِهِ عِنْدَ الْخَلِيْلِ لَيْسَتْ لاَ الدَّاخِلَةُ عَلَيْهَا
چيرته چې اميد نه وي د اوبو او هرچې د اقول د شاعر ألا رجل جزاه الله خيرا نو دا ألا په نزد د خليل نه دي لا داخله په دې باندې
حُرُوْفُ الْإِسْتِفْهَامِ وَ لٰكِنَّهُ حَرْفٌ مَوْضُوْعٌ لِلتَّحْضِيْضِ بِرَأْسِهِ فَكَأَنَّهُ قَالَ أَلاَ تُرُوْنَنِيْ رَجُلاً يَعْنِيْ
حروف د استفهام ليکن دا يو حرف دي چې وضع شوي د پاره د تحضيض مستقل گويا چې ويلي دي ألا ترونني رجلاً
هَلاَّ تُرُوْنَنِيْ رَجُلاً وَ لِذٰلِكَ نُصِبَ وَ نُوِّنَ وَ هِيَ عِنْدَ يُوْنُسَ لاَ الَّتِيْ دَخَلَتْ عَلَيْهَا
يعنې هلا ترونني رجلا او د دې وجې نه نصب ورکړې شو او منون کړې شو او دا په نزد د يونس لا هغه چې داخل شي په دې

هَمْزَةُ الْإِسْتِفْهَامِ بِمَعْنَى التَّمَنِّيْ فَكَأَنَّ الْقِيَاسَ أَلَا رَجُلَ وَ لٰكِنَّهُ نُوِّنَ لِضَرُوْرَةِ الشِّعْرِ.

باندې همزه داستفهام په معنی دتمني نوګوياچې قياس ألا رجل دي لکن تنوين يې ورکړودوجې دضرورت شعري نه

خلاصه دمتن: کله چې په لای نفي جنس باندې همزه داخله وي نو ددې عمل بدليږي اود همزې معنی خو يااستفهام وي. ياعرض وي اوياتمنی وي.

اغراض دجامي: **علی لا التي**: په دې عبارت سره شارح بيان دصلې کوي داد دخلت دصلې بيان دي.

ای عمل لا: په دې عبارت سره شارح بيان دالف لام دي چې داد مضاف اليه په عوض کې دي او يا الف لام دعهد دي.

ای تاثيرها: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: لفظ دعمل دمعرب عمل دپاره ويلي کيږي او لا رجل في الدار کې رجل معرب نه دي نو **لم يتغير العمل** ويل څنګه صحيح دي؟

جواب: دلته دعمل نه مراد ددې معنی لغوي يعنې اثر کول دي اوظاهر ده چې دلا مدخول معرب به وي يامبني په دې کې د **لا عمل** ضروري دي.

في مدخولها: په دې عبارت سره شارح دمحل دتاثير بيان دي.

اعراباً وبناءً: په دې عبارت سره صورت دعدم تاثير بيانوي يعنې که همزه ددخول نه مخکې د لا اسم معرب وونو د دخول نه وروستو به هم معرب وي که مخکې مبني وو نو وروستو به هم مبني وي.

لان العامل لايتغير: په دې عبارت سره شارح دعمل نه متغير کيدو وجه بيانوي چې د لا عمل په داخليدو دکلمې داستفهام سره نه متغير کيږي

ای معنی الهمزة: په دې عبارت سره شارح بيان دمرجع کوي چې دهاء ضمير مرجع هغه همزه ده کومه چې په لانفي جنس باندې داخل وي

حقيقتاً: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: تمنی اوعرض هم استفهام دی لهذا داستفهام نه وروستو ددې ذکر کول مستدرک او بې فائدې دي

جواب : دلته مراد استفهام حقیقي دي اوتمنی اوعرض استفهام حقیقي نه دي بلکه دې ته مجازاً استفهام ویلي شي د همزه استفهام مثال الا رجل في الدار ، د عرض مثال الا نزول عندي .

ولم یذکر : په دې عبارت سره شارح په صاحب دکافیې باندې اعتراض کول دي صاحب د کافیې په خپل کتاب کافیه کې دقواعدو په بیان کې دسیبویه اتباع کړې ده اوسیبویه دانه دي ذکر کړي چې د لا حال په عرض کې دهغه حال په مثل دي کوم چې دهمزې داخلیدو نه مخکې دي بلکه دې لره سیرافي ذکر کړي دي جزولي اومصنف رحمه الله ددې اتباع کړې ده او اندلسي دې لره رد کړي دي هغه ویلي دي چې داویل چې د لا حال په عرض کې دهغه حال اول په شان به وي داغلط دي بلکه کله چې عرض وي نو هغه دحروف افعال څخه کیږي یعنې دهغه حروفو نه کوم چې په فعل باندې داخلیږي مثلاً ان او حرف تحضیض لهذا ددې نه وروستو فعل کیدل ضروري به وي برابره خبره ده که فعل مقدر وي اویاملفوظ کله چې فعل ملفوظ نه وي نو مقدر به وي اوفعل مقدر دوجې نه منصوب به وي مثال الا زیداً تکرمه په دې کې زید منصوب دي دفعل مقدر دوجې نه چې دهغې تفسیر وروستي فعل کوي اودتمنی مثال الا ماء اشربه په دې کې به دتمنی معنی په هغه وخت کې وي کله چې داوبو امید نه وي که داوبو امید وي نو په دې وخت کې به استفهام حقیقي وي اوهمزې لره دتمنی دپاره کول به صحیح نه وي .

واما قوله : په دې عبارت سره غرض دشارح دیو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستا داقول چې کله په لای نفي جنس باندې همزه داخل وي نو دهغه عمل نه بدلیږي دامنقوضه اوماته دي دقائل په دې قول الا رجلاً جزاه الله خیراً سره په دې کې د لا عمل تبدیل شوي دي دمبني نه معرب طرف ته .

جواب : نو شارح ددې سوال نه دوه جوابات ورکړي دي :

جواب (۱) : دخلیل نحوي په نزد دا لا هغه نه ده چې په کوم باندې حرف استفهام داخل وي بلکه دادحروف تحضیض نه دي اود رجلاً نه مخکې فعل مقدر دي ددې فعل دوجې نه په دې باندې نصب اوتنوین راغلي ګویا قائل داسې وویل الا ترونني رجلاً یعنې هل لا ترونني رجلاً ددې فعل مقدر دوجې نه په دې باندې نصب اوتنوین راغلي .

جواب (۲) : دیونس نحوي په نزد داهغه لا ده چې په کوم باندې همزه استفهام داخلیږي د

تمنى په معنى كښې د قياس تقاضا داده چې الا رجل مبني وي ليكن دې ته تنوين د ضرور
شعري دوجې نه ور كړې شو .

د لاى نفي جنس د صفت اعراب :

وَ نَعْتُ اسْمِ لاَ الْمَبْنِيِّ لاَ نَعْتُ اسْمِهَا الْمُعْرَبِ اِحْتِرَازاً عَنْ مِثْلِ لاَ غُلاَمَ رَجُلٍ ظَرِيْفاً اَلْاَوَّلُ بِالرَّفْعِ صِفَةً
اوصفت داسم د لامبني نه صفت داسم د لامعرب احترازدي د لاغلام رجل ظريفاًمثال نه اول په رفع سره صفت دې د
لِلنَّعْتِ أَيْ لاَ الثَّانِيْ وَ مَا بَعْدَهُ اِحْتِرَازٌ عَنْ مِثْلِ لاَ رَجُلَ ظَرِيْفٌ كَرِيْمٌ فِي الدَّارِ مُفْرَداً حَالٌ
نعت يعني نه ددويم اومابعد ددې نه احترازدي د لارجل ظريف كريم في الدارمثال نه په حالت دافراد كښې داحال دې
مِنْ ضَمِيْرِ مَبْنِيٍّ وَ الْعَامِلُ فِيْهِ مَبْنِيٌّ اِحْتِرَازٌ عَنْ مِثْلِ لاَ رَجُلَ حَسَنُ الْوَجْهِ يَلِيْهِ حَالٌ
دضمير دمبني نه اوعامل په دې كښې مبني دې احترازدي د لارجل حسن الوجه مثال نه چې نژدې وي داحال دې پس د
بَعْدَ حَالٍ أَوْ صِفَةٌ مُفْرَداً اِحْتِرَازٌ عَنِ الْمَفْصُوْلِ نَحْوُ لاَ غُلاَمَ فِيْهَا ظَرِيْفٌ وَهٰذَا الْقَيْدُ يُغْنِيْ عَنِ الْاَوَّلِ مَبْنِيٌّ
حال نه اوياصفت دې د مفرداًاحترازدي د مفصول نه لكه لاغلام فيهاظريف اودا قيد بې نيازه كوي داول نه مبني دې
عَلَى الْفَتْحِ حَمْلاً عَلَى الْمَنْعُوْتِ لِمَكَانِ الْاِتِّحَادِ بَيْنَهُمَا وَ
بنابرفتحه دوجې دحمل كولونه په منعوت باندې دموجوديدودااتحاداواتصال نه په مينځ ددواړوكښې اودوجهې
تَوَجُّهِ النَّفْيِ إِلَيْهِ أَيْ إِلَى النَّعْتِ حَقِيْقَةً وَ الْمَبْنِيُّ فِيْ قَوْلِهِ وَ نَعْتُ الْمَبْنِيِّ إِشَارَةٌ
دمتوجه كيدودنفي نه دې طرف ته يعني صفت طرف ته حقيقتااومبني په دې قول د مصنف كښې ونعت المبني اشاره
إِلَى مَا يُبْنَى عَلَى الْفَتْحِ بِالْإِصَالَةِ لاَ بِالتَّبْعِيَّةِ فَإِنَّهُ الْمَذْكُوْرُ سَابِقاً فَلاَ يَرِدُ أَنَّهُ إِذَا كُرِّرَ
ده هغه څه ته چې مبني وي بنابرفتحه اصالتاًنه بالتبعية نوداذكردې مخكښې نونه وارديږي سوال چې كله مكرر
اِسْمُ لاَ الْمَبْنِيُّ وَ بُنِيَ عَلَى الْفَتْحِ ثُمَّ جِيْءَ بِنَعْتٍ لاَ يَجُوْزُ بِنَاؤُهُ مِثْلُ لاَ
راوړې شي اسم د لامبني اومبني كړې شي بنابرفتحه بيااوړل شي په صفت سره نوجائزبه نه وي بنادد دې لكه لا
مَاءَ مَاءَ بَارِداً مَعَ أَنَّهُ يَصْدُقُ عَلَيْهِ أَنَّهُ نَعْتُ الْمَبْنِيِّ الْاَوَّلِ مُفْرَداً يَلِيْهِ فَإِنَّ بَارِداً
ماءماءبارداًسره ددې چې صادقيږي په دې باندې چې دانعت دې دمبني اول مفردچې ددې سره متصل دې څكه بارداً
فِيْ هٰذَا الْمِثَالِ نَعْتٌ لِلتَّابِعِ لاَ لِلْمَتْبُوْعِ كَمَا هُوَ الظَّاهِرُ وَ لَوْ جُعِلَ نَعْتاً لِلْمَتْبُوْعِ فَلَيْسَ
په دې مثال كښې صفت دې د تابع نه د متبوع لكه څنګه چې ظاهردې اوكه چيرته وګرځول شي صفت د متبوع نونه
مِمَّا يَلِيْهِ لِتَوَسُّطِ التَّابِعِ بَيْنَهُمَا وَ مُعْرَبٌ لِأَنَّ الْاَصْلَ فِيْ
به وي د هغه څه نه چې متصل وي دوجهې دواسطې د تابع نه په مينځ ددواړوكښې اومعرب به وي څكه اصل په

التَّوَابِعَ تَبْعِيَّتَهَا لِمَتْبُوْعَاتِهَا فِي الْإِعْرَابِ دُوْنَ الْبِنَاءِ رَفْعاً حَمْلاً
توابعو کې تابع کیدل ددې دي دمتبوع سره په اعراب کې نه په بناء کې رفعه به ورکولې شي دوجهې دحمل کولو نه
عَلَى مَحَلِّهِ الْبَعِيْدِ وَ نَصْباً حَمْلاً عَلَى اللَّفْظِ أَوْ عَلَى مَحَلِّهِ الْقَرِيْبِ نَحْوُ لاَ رَجُلَ
په محل بعید باندې اونصب به ورکولې شي دوجهې دحمل نه په لفظ باندې اویاپه محل قریب باندې لکه لارجل
ظَرِيْفَ بِالْفَتْحِ وَ ظَرِيْفٌ بِالرَّفْعِ وَ ظَرِيْفاً بِالنَّصْبِ وَ إِلَّا أَيْ وَ إِنْ لَمْ يَكُنِ النَّعْتُ كَذَلِكَ
ظریفَ په فتحې سره اوظریفٌ په رفعې سره اوظریفاً په نصب سره اوکه نه وي یعنې که چیرته نه وي صفت همدارنګې
فَالْإِعْرَابُ أَيْ فَحُكْمُهُ الْإِعْرَابُ لاَ غَيْرُ رَفْعاً حَمْلاً عَلَى الْمَحَلِّ الْبَعِيْدِ
نواعراب دي یعنې نوحکم ددې اعراب دي نه بل څیزرفع به ورکولې شي دوجهې دحمل کولو نه په محل بعید
أَوْ نَصْباً حَمْلاً عَلَى اللَّفْظِ أَوِ الْمَحَلِّ الْقَرِيْبِ وَ قَدْ
باندې اویابه نصب ورکولې شي دوجهې دحمل کولونه په لفظ باندې اویاپه محل قریب باندې اوبه تحقیق سره
مَرَّتْ أَمْثِلَتُهُ فِيْ بَيَانِ فَوَائِدِ الْقُيُوْدِ.
تیرشوې مثالونه ددې په بیان دفوائدوقیودوکې .

خلاصه دمتن : صاحب دکافیې وایې چې د لانفي جنس داسم مبني په نعت کې دوه (۲) وجهې جائز دي : دې لره مبني برفتحه لوستل جائزدي په دې شرط سره چې په دې نعت کې دري شرطونه موندلې شي : (۱) نعت اول وي . (۲) مفرد وي .(۳) دمنعوت سره متصل وي .

اغراض دجامي : اسم لا : په دې عبارت سره شارح بیان دترکیب کوي چې المبني صفت دي د موصوف محذوف چې هغه اسم د لا دي .

بالرفع: په دې عبارت سره شارح دالاول اعراب سره دوجهې بیانوي چې دامرفوع دي په دې بناء باندې چې داصفت دي دنعت .

لا نعتُ اسمها: په دې عبارت سره شارح بیان داحتراز کوي چې دمبني قید احترازي دي په دې سره احتراز دي داسم معرب دنعت نه مثال لکه لا غلام رجل ظریفاً .

بالرفع: په دې عبارت سره شارح دالاول اعراب اوداعراب وجه بیانوي الاول مرفوع دي ځکه چې دادنعتُ صفت دي .

لا الثاني: په دې عبارت سره شارح بیان داحتراز کوي چې اول قید هم احترازي دي په دې سره مضاف شبه مضاف نه احتراز دي ځکه چې که نعت مضاف یاشبه مضاف وي نو دابه معرب

وي مثال لکه لا رجل حسن الوجه

حال: په دې عبارت سره شارح دیلیه ترکیب بیانوي چې ددې په ترکیب کې دوه (۲) احتماله دي (۱) داحال بعد حال دي یعني داهم دمبني ضمیر نه حال دي (۲) یا دمفرد صفت دي

احتراز: په دې عبارت سره شارح دابیانوي چې دیلیه قید احترازي دي په دې سره احتراز دي دهغه نعت نه کوم چې داسم د لا سره متصل وي ځکه چې ددې معرب کیدل متعین دي مثال لکه لاغلام فیها ظریف

وهذا القید: په دې عبارت سره شارح په صاحب دکافیې باندې اعتراض کوي ، دیلیه قید داول نه مستغني کوي ځکه چې کله نعت لا داسم سره متصل وي نو داخامخا نعت ثاني اونعت ثالث به نه وي

حملاً: په دې عبارت سره شارح دمبني علی الفتح کیدو وجه بیانوي هغه وجه داده چې دې لره په منعوت باندې حمل کولې شي .

لمکان: په دې عبارت سره شارح دحمل وجه بیانوي ، ددې درې (۳) وجهې یې بیان کړې دي : (۱) دې لره په منعوت باندې ځکه محمول کولې شي چې نعت او منعوت په خپل مینځ کې متحد وي . (۲) ددې وجې نه چې نعت منعوت سره متصل دي (۳) ددې وجې نه چې نفي په حقیقت کې نعت طرف ته متوجه کیږي ځکه چې قاعده داده چې کله نفي مقید بالقید وي نو نفي په حقیقت کې قید طرف ته راجع کیږي اودلته دقید نه مراد نعت دي ځکه چې دامفرد دي لهذا دابه مبني برفتحه وي .

والمبني: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : داقاعده منقوضه اوماته ده په لا ماء ماء بارداً سره ځکه چې په دې کې بارداً دا د... نعت اوصفت دي اول هم دي اومفرد هم دي اودې سره متصل هم دي حالانکه دامعرب مبني نه ده

جواب : په متن کې دمبني نه مراد مبني علی الفتح بالاصاله ده اوپه ذکر شوي مثال کې اګرچه بارداً لره دثاني صفت جوړ کړې شي نو ماء ثاني مبني علی الفتح بالاصاله نه ده بلکه بالتبع ده ځکه چې دا ماء داول تابع دي ځکه چې ددې صفت بارداً معرب دي مبني نه دي . که بارداً داول م...

نعت اوصفت وي نو بیا به مینځ کې دماه فاصله ده نو یلیه والاشرط معدوم کیږي نو بأرداً به هم معرب وي

لان الاصل : په دې عبارت سره شارح دمعرب لوستلو وجه بیانوي ددې معرب لوستل ځکه جائز دي چې په توابعو کې اصل دادې چې : ځېل متبوعاتو په اعراب کې تابع وي په بناء کې نه وي ددې وجې نه دې لره معرب لوستل هم جائز دي .

حملاً : په دې عبارت سره شارح دمعرب کیدو په صورت دمرفوع لوستلو دجواز وجه بیانوي چې معرب به ځکه وي چې دې لره په محلِ بعید باندې محمول کیږي

حملاً علی اللفظ : په دې عبارت سره شارح دمعرب په صورت کې دمنصوب لوستلو دجوازوجه بیانوي چې په لفظ باندې یامحلِ قریب باندې دمحمول کولو دوجې نه منصوب لوستل جائز دي

نحو لا رجل ظریف : په دې عبارت سره شارح بیان دمثال کوي چې دامثال مطابقي دي په دې کې ظریف لانفي جنس اسم دمبني صفت اول دي اومفرد دي اوددې سره متصل دي لهذا دې لره مبني برفتحه هم لوستلي شي اومعرب هم لوستلي شي بیادمعرب نه وروستو مرفوع هم لوستلي شي اومنصوب هم لوستلي شي .

والا ای وان لم یکن النعت : په دې عبارت سره شارح دمتن وضاحت کوي که نعت دذکر شوو اوصافو سره متصف نه وي نو دې لره معرب کیدل یقیني دي اودمعرب کیدو په صورت کې دې لره په محلِ بعید باندې محمول کول اومرفوع هم لوستلي شي اوپه محل قریب یالفظ باندې محمول کول اومنصوب لوستل هم جائز دي اوددې مثالونه مخکې تیر شوي دي ، نو بیا یې دوباره نه ذکر کوو.

د لای نفي جنس د معطوف اعراب :

وَ الْعَطْفُ عَلَى اِسْمِ لاَ الْمَبْنِيِّ إِذَا كَانَ الْمَعْطُوْفُ نَكِرَةً بِلاَ تَكْرِيْرِ لاَ فِي الْمَعْطُوْفِ فَإِنَّهُ إِذَا كَانَ الْمَعْطُوْفُ
اوعطف په اسم دلامبني باندې چې کله وي معطوف نکره بې دتکرارنه،نه په معطوف کې ځکه چې کله معطوف
مَعْرِفَةً وَجَبَ رَفْعُهُ نَحْوُ لاَ غُلاَمَ لَكَ وَ الْفَرَسُ وَ إِذَا كَانَ لاَ مُكَرَّراً فِي الْمَعْطُوْفِ فَحُكْمُهُ مَا
معرفه وي نوواجب ده رفع ددې لکه لاغلام لک والفرس اوچې کله لامکرروي په معطوف کې نوحکم ددې هغه دي
عُلِمَ فِيْ قَوْلِهِ لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ فِيْمَا سَبَقَ بِأَنْ يُحْمَلَ عَلَى اللَّفْظِ أَيْ لَفْظِ اِسْمِ
چې معلوم شوې په دې قول دمصنف لاحولَ ولاقوةَ کې مخکې چې حمل یې کړي به لفظ باندې یعني په لفظ داسم

لاَ وَ يُجْعَلَ مَنْصُوْباً وَ بِأَنْ يُحْمَلَ عَلَى الْمَحَلِّ وَ يُجْعَلَ مَرْفُوْعاً جَائِزٌ وَلاَ يَجُوْزُ
د لا او وګرځولې شي منصوب او یا دا چې حمل کړې شي په محل باندې او وګرځول شي مرفوع جائز دي او نه دي جائز
فِيْهِ الْبِنَاءُ لِمَكَانِ الْفَصْلِ بِالْعَاطِفِ وَ لَمْ يُجْعَلْ فِيْ حُكْمِ الْمُتَّصِلِ لِمَظَنَّةِ الْفَصْلِ بِلاَ الْمُؤَكِّدَةِ
په دې کې بناء د وجهې د فصل بالعاطف نه او وې نه ګرځول په حکم د متصل کې د وجهې د ګمان د فصل نه په لا مؤکده
إِذِ الْمَعْطُوْفُ عَلَى النَّفْيِ تُزَادُ فِيْهِ لاَ كَثِيْراً نَحْوُ لاَحَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ مِثْلُ لاَ أَبَ وَ إِبْناً وَ إِبْنٌ فِيْ قَوْلِ الشَّاعِرِ:
سره ځکه چې معطوف په نفي کې زیات وي په دې کې لا ډیره لکه لاحول ولاقوة لکه لااب وابناً وابن په قول د شاعر کې

وَلاَ أَبَ وَ إِبْناً مِثْلُ مَرْوَانَ وَ إِبْنِهِ	إِذْ هُوَ بِالْمَجْدِ ارْتَدٰى وَ تَأَزَّرَا
او نشته یو پلار او زوی په شان د مروان او زوی دده	په هغه وخت چې کله هغه د بزرګئ څادر اغوستې وي

وَ سَائِرُ التَّوَابِعِ لاَ نَصَّ عَنْهُمْ فِيْهَا لٰكِنْ يَنْبَغِيْ أَنْ يَكُوْنَ حُكْمُهَا حُكْمَ تَوَابِعِ
او ټول تابع نشته نص د نحویانو د طرف نه په دې کې لیکن مناسب دي چې وي حکم د دې په شان د حکم د توابعو
الْمُنَادٰى كَذَا ذَكَرَهُ الْأَنْدُلُسِيُّ.
د منادی همدا رنګې ذکر کړې دي اندلسي.

خلاصه دمتن: دلای نفي جنس اسم مبني په معطوف کې دوه (۲) وجهې جائز دي:

(۱) دې لره په محل باندې حمل کول او مرفوع لوستل هم جائز دي، (۲) او په لفظ باندې حمل کول او منصوب لوستل هم جائز دي، دا دوه وجهې هله جائز دي چې کله په معطوف کې دوه شرطونه وموندل شي: (۱) معطوف نکره وي معرفه نه وي. (۲) د لا تکرار نه وي ځکه چې که معطوف معرفه وي نو په دې باندې رفع واجب ده مثال لا غلام والفرسُ او دویم شرط یې ځکه لرولې دي چې که د لا تکرار وي نو بیا د دې حکم دا نه وي بلکې د دې حکم به د لاحول ولا قوة الا بالله والا وي په دې کې به پنځه (۵) وجهې جائز وي کله چې مذکوره دوه (۲) شرطونه وموندل شي نو دوه (۲) وجهې جائز دي لیکن مبني لوستل جائز نه دي ځکه چې د واو عاطفه په ذریعه معطوف او معطوف علیه په مینځ کې فاصل موندلې کیږي او بناء د پاره اتصال ضروري دي او دې لره د متصل په حکم هم نه شي کولې ځکه چې دا په داسې ځای کې واقع دي چیرته چې د لا په ذریعې سره د فصل ګمان کیږي ځکه چې معطوف علی المنفي کې عام طور باندې لا زائد وي مثال لکه لا حول ولا قوة الا بالله.

اغراض دجامي: مثل لااب وابناً وابن: په دې عبارت سره شارح مطابقي مثال بیانوي چې

په دې کې اب دلا نفي جنس اسم دي اودامبني دي او ابنا داپه اب باندې معطوف دي اودانکره ده اود لا تکرار هم نشته دي لهذا په دې کې دوه (۲) وجهې جائز دي: (۱) دې لره داب په لفظ باندې حمل کول منصوب هم لوستلي شي. (۲) اوپه محل باندې حمل کول مرفوع هم لوستلي شي.

فائده: داد شعر يوه حصه ده اوپوره شعر داسې دي:

ولا اب وابنا مثل مروان وابنه   اذ هو بالمجد ارتدى وتأزرا

اونشته دي يو پلار اونه يو زوي په شان دمروان اودده دزوي په شان، ځکه چې هغه دبزرګي ځادر او قميص اغوستي دي.

دشاعر مقصد په دې شعر کې دمروان اودده دزوي تعريف کول دي چې يو زوي دمروان او دده د زوي په شان نه دي ځکه چې هغه دبزرګي ځادر او قميص اغوستي دي.

وسائر: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: ددې څه وجه ده چې مصنف رحمه الله دتوابعو نه نعت هم ذکر کړي اومعطوف يې هم ذکر کړو اوباقي نور توابع يې ذکر نه کړل؟.

جواب: ځکه چې دباقي توابعو په باره کې د نحويانو نه څه تفريع نشته دي ددې وجې نه مصنف رحمه الله باقي لره ذکر نه کړه ليکن مناسب دادې چې ددې حکم دمنادی توابعو دحکم په شان وي.

ديو سوال مقدر جواب:

وَ مِثْلُ لاَ أَباً لَهُ وَلاَ غُلاَمَيْ لَهُ أَيْ كُلُّ تَرْكِيْبٍ يَكُوْنُ فِيْهِ بَعْدَ اسْمِ لاَ اَلَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ لاَمُ
اولکه لاابا له ولاغلامي له يعني هرهغه ترکيب چې وي په هغې کې پس داسم دلاهغه چې وي دپاره دنفي جنس لام د
الْإِضَافَةِ وَأُجْرِيَ عَلَى ذٰلِكَ الْإِسْمِ أَحْكَامُ الْإِضَافَةِ مِنْ إِثْبَاتِ الْأَلِفِ فِيْ نَحْوِ أَبٍ وَحَذْفِ النُّوْنِ مِنْ نَحْوِ لاَغُلاَمَيْنِ جَائِزٌ
اضافت اوجاري يې کړو په دې اسم باندې احکام داضافت داثبات دالف نه په اب کې اوحذف دنون په لاغلامين کې جائز
يَعْنِيْ أَنَّ الْأَصْلَ فِيْ مِثْلِ هٰذَيْنِ التَّرْكِيْبَيْنِ أَنْ يُقَالَ لاَ أَبَ لَهُ وَلاَ غُلاَمَيْنِ لَهُ فَيَكُوْنُ اسْمُ لاَ فِيْهِمَا
دي يعني اصل په شان ددې دواړو ترکيبونو داده چې وويل شي لااب له ولاغلامين له نو وي به اسم دلا په دې دواړو کې
مَبْنِيّاً عَلَى مَا يُنْصَبُ بِهِ وَ الْجَارُّ مَعَ الْمَجْرُوْرِ خَبَراً لَهَا وَ قَدْ جَاءَ عَلَى قِلَّةٍ
مبني په ماينصب به باندې اوجار سره دخپل مجرور نه به خبر وي دلای نفي جنس اوپه تحقيق سره راغلي په وجه دقلت

مِثْلُ لاَ أَباً لَهُ وَلاَ غُلاَمَيْ لَهُ بِزِيَادَةِ الْاَلِفِ فِيْ مِثْلِ أَبٍ وَاِسْقَاطِ النُّوْنِ فِيْ مِثْلِ غُلاَمَيْنِ كَمَا فِيْ حَالِ
باندي لکه لا ابا له ولا غلامي له په زیادت د الف سره په اب مثال کي او د ساقطولو د نون په شان د غلامین کي لکه په حال د
الْاِضَافَةِ تَشْبِيْهاً لَهُ أَيْ لِاِسْمِ لاَ فِيْ هٰذَيْنِ التَّرْكِيْبَيْنِ مَعَ أَنَّهُ لَيْسَ بِمُضَافٍ
اضافت کي د وجې د تشبیه نه د دې سره یعني د اسم د لا سره په دې دواړو ترکیبونو کي سره د دې نه چې نه دی دا مضاف
بِالْمُضَافِ وَ إِجْرَاءً لِأَحْكَامِ الْمُضَافِ عَلَيْهِ بِإِثْبَاتِ الْأَلِفِ وَ حَذْفِ النُّوْنِ فَيَكُوْنُ
په مضاف سره او د وجهي د جاري کيد و د احکامو د مضاف علیه نه په اثبات د الف سره او په حذف د نون سره نو وي به
مُعْرَباً وَ ذٰلِكَ التَّشْبِيْهُ إِنَّمَا هُوَ لِمُشَارِكَتِهِ أَيْ لِمُشَارَكَةِ اِسْمِ لاَ حِيْنَ يُضَافُ بِإِظْهَارِ اللاَّمِ
معرب او دا تشبیه داده د وجهي د مشارکت د دې نه یعني د مشارکت د اسم د لا نه چې کله مضاف شي په اظهار د لا
بَيْنَهُ وَ بَيْنَ مَا يُضَافُ إِلَيْهِ لَهُ أَيْ لِلْمُضَافِ فِيْ أَصْلِ مَعْنَاهُ أَيْ مَعْنَى
سره په مینځ د دې او په مینځ د مضاف الیه کي د دې د پاره یعني د مضاف د پاره په اصل معنی کي یعني په معنی
الْمُضَافِ مِنْ حَيْثُ هُوَ مُضَافٌ يَعْنِي الْاِضَافَةُ وَ هُوَ الْاِخْتِصَاصُ أَوِ الْمَعْنٰى أَنَّ
د مضاف کي د دې حیثیت نه چې هغه مضاف وي یعني د حیثیت د اضافت نه او هغه اختصاص دی او یا معنی دا د
مِثْلَ لاَ أَباً لَهُ وَلاَ غُلاَمَيْ لَهُ جَائِزٌ تَشْبِيْهاً لَهُ أَيْ لِمِثْلِ هٰذَيْنِ التَّرْكِيْبَيْنِ حَيْثُ
چې لا ابا له ولا غلامي له جائز دي د وجهي د تشبیه نه د دې سره یعني د مثل د دې دواړو ترکیبونو په داسې شان سره چې
لاَ إِضَافَةَ فِيْهِ بِالْمُضَافِ أَيْ بِتَرْكِيْبٍ يَشْتَمِلُ عَلَى الْاِضَافَةِ لِمُشَارَكَتِهِ
نه وي اضافت په دې کي د مضاف سره یعني په داسې ترکیب سره چې مشتمل وي د اضافت سره د وجې د مشارکت
أَيْ مُشَارَكَةِ هٰذَيْنِ التَّرْكِيْبَيْنِ لَهُ أَيْ لِمَا يَشْتَمِلُ عَلَى الْاِضَافَةِ
د دې نه یعني د مشارکت د دې دواړو ترکیبونو نه د دې سره یعني د هغه څه سره چې مشتمل وي په اضافت باندې
فِيْ أَصْلِ مَعْنَاهُ أَيْ مَعْنًى مَا يَشْتَمِلُ عَلَى الْاِضَافَةِ وَ هُوَ الْاِخْتِصَاصُ إِلاَّ أَنَّ
په اصل معنی د دې کي یعني په هغه معنی چې مشتمل وي په اضافت باندې او هغه اختصاص دی مګر د و مره خبره د
بَيْنَ الْاِخْتِصَاصَيْنِ تَفَاوُتاً فَإِنَّ الْاِخْتِصَاصَ الْمَفْهُوْمَ مِنَ التَّرْكِيْبِ الْاِضَافِيِّ أَتَمُّ مِمَّا
چې په مینځ د دې دواړو اختصاصونو کي فرق دی ځکه اختصاص چې فهمیږي د ترکیب اضافي نه دا اتم دی د هغه څ
يُفْهَمُ مِنْ غَيْرِهِ.
نه چې فهمیږي د ترکیب غیر اضافي نه.

خلاصه دمتن: د دې ځای نه صاحب د کافیې د یو سوال مقدر جواب بیانوي :

سوال: مېڅکې تا وویل چې کله د لای نفي جنس اسم نکره مفرده وي نو دا به مبني بر فتحه وي

دا قاعده منقوضه اوماته ده په لا اباله ولا غلامي له مثال سره ځکه چې په اول مثال کې د لا اسم یعني ابا نکره مفرده ده حالانکه دامبني برفتحه نه ده ځکه چې که دامبني برفتحه وي نو لا اب له به دالف نه په غیر وي او لا غلامي له کې د لا اسم یعني غلامین نکره مفرده ده حالانکه دامبني برفتحه نه ده ځکه چې که دامبني برفتحه وي نو لا غلامین له دنون اثبات سره به وي.

جواب: اګرچې په دې دواړو مثالونو کې د لا اسم حقیقةً مضاف نه دي لیکن دې لره دمضاف سره تشبیه ورکولو سره په دې باندې دمضاف والا احکامات جاري کیږي باقي دتشبیه ورکولو وجه داده چې دادمضاف سره دهغه په اصل معنی کې شریک دي کوم چې اختصاص دي.

اغراض دجامي: اي کل ترکیب: په دې عبارت سره شارح تعین دمراد کوي صاحب د کافیې چې لفظ مثل زیاتولو سره دکومې ضابطې اوقاعدې طرف ته اشاره کړې ده ددې ځاې نه شارح هغه قاعده صراحتاً بیانوي دمثل نه مراد هرهغه ترکیب دي چې په هغې کې دلای نفي جنس د اسم نه وروستو لام اضافت وي په دې باندې داضافت والا احکام جاري شوي وي یعني الف لره ساقط کول او نون حذف کول مثال لا اباله ولا غلامي له.

یعني ان الاصل: په دې عبارت سره شارح داعتراض وضاحت کوي چې په دې دواړو ترکیبونو کې اصل داوو چې لا اب له او لا غلامین له ویلې وي اوپه دې کې دلای نفي جنس اسم په علامتِ نصب باندې مبني وي اوجارمجرور ددې خبر وي لیکن په دې کې قلت سره لا اباله کې الف زیاتولې شي اوپه غلامین کې نون دتثنیې ساقط کولې شي، او لاغلامي له وویل شي لکه څنګه چې په اضافت کې ویلې کیږي.

واجراء: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: کله چې په دې مثالونو کې د لا اسم لره دمضاف سره تشبیه ورکړې شوه نو دې لره معرب منصوب لوستل واجب کیدل په کار وو نه چې جائز ځکه چې کله د لا اسم نکره شبه مضاف دلا سره متصل وي نو دې لره معرب منصوب لوستل به واجب وي

جواب: دلته دتشبیه نه مراد حقیقةً تشبه نه ده بلکه دمشابهت نه مراد د لا په اسم باندې د مضاف احکام جاري کولو کې مشابهت دي

وذلک التشبیه لمشارکته: په دې عبارت سره شارح دتشبیه دوجې بیان یعنې په دې مثالونو کې

د لا اسم لره د مضاف سره د دې وجې نه تشبيه ورکړې شوه چې دا د مضاف سره د هغه اصلي معنى کې شريک دې او هغه داختصاص والا معنى ده .

او المعنى : په دې عبارت سره شارح د تشبيهاً له دويمه معنى بيانوي اګرچې د مآل په اعتبار سره يو دې ليکن دلفظونو په اعتبار سره فرق دې هغه دا دې چې داول معنى مطابق تشبيهاً له او لمشارکته ضمير مرجع اسم جوړ شو اودله ضمير مرجع مضاف وه ليکن د دې معنى په اعتبار سره تشبيهاً له اولمشارکته د دې دواړو ضميرنو مرجع مثلُ دې اودله ضمير مرجع هغه ترکيب دې کوم چې په اضافت باندې مشتمل وي معنى به داوي لا اباله او لا غلامي له مثل جائز دې په داسې ترکيبونو کې چې په هغې کې اضافت نه وي د هغه ترکيب سره تشبيه ورکول کوم چې اضافت باندې مشتمل وي ځکه چې داسې ترکيبونه د هغه ترکيب سره کوم چې په اضافت باندې مشتمل وي د هغه سره په اصل معنى کې مشارک دې او هغه اصل معنى اختصاص ده.

الا ان : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دې :

سوال : الا اباله او لاغلامي له داترکيب خبري دې او لا اباه او لاغلاميه داترکيب اضافي دې او ترکيب خبري لره ترکيب اضافي سره تشبيه ورکول صحيح نه دې ځکه چې ترکيب خبري د ترکيب اضافي نه اعلى دې ځکه چې ترکيب خبري مخاطب ته فائده تامه ورکوي او ترکيب اضافي مخاطب ته فائده تامه نه ورکوي نو اباله اولاغلامي له لره دلا اباه او لاغلاميه لره تشبيه څنګه صحيح شو ځکه چې مشبه به دپاره قوي کيدل ضروري دې .

جواب : داتشبيه فقط په معنى اختصاص کې ده او هغه اختصاص کوم چې د ترکيب اضافي نه مفهوم کيږي هغه اعلى او اکمل وي د هغه اختصاص نه کوم چې د ترکيب خبري نه معلوميږي لهذا مشبه به قوي دې د مشبه نه .

په ماقبل باندې د تفريع ذکر :

وَ مِنْ ثَمَّ أَيْ لِاَجْلِ أَنَّ جَوَازَ مِثْلِ هٰذَيْنِ التَّرْكِيْبَيْنِ إِنَّمَا هُوَ بِتَشْبِيْهِ غَيْرِ الْمُضَافِ بِالْمُضَافِ
او د دې وجهې نه يعني د دې وجهې نه چې په مثل د دې دواړو ترکيبونو داوي په تشبيه د غير مضاف د مضاف سره
فِيْ مَعْنَى الْاِخْتِصَاصِ لَمْ يَجُزْ تَرْكِيْبُ لَا أَبَا فِيْهَا أَيْ فِي الدَّارِ لِعَدَمِ الْاِخْتِصَاصِ فَاِنَّ الْاِخْتِصَاصَ
په معنى داختصاص کې نه دې جائز ترکيب د لا ابا فيها يعني په في الدار کې د وجهې د عدم اختصاص نه ځکه اختصاص

اَلْمَفْهُوْمَ مِنْ اِضَافَةِ الْاَبِ اِلٰى شَيْءٍ اِنَّمَا هُوَ بِاُبُوَّتِهٖ لَهٗ وَ هٰذَا الْاِخْتِصَاصُ غَيْرُ ثَابِتٍ لِلْاَبِ
معلوميږي داضافت داب نه يوشيزته نوهغه وي په اب كيدوكې ددې شيزدپاره اوداا ختصاص غيرثابت دي داب د
بِالنِّسْبَةِ اِلَى الدَّارِ فَلَا يَصِحُّ اِضَافَتُهٗ اِلَى الدَّارِ فَكَيْفَ يُشَبَّهُ تَرْكِيْبُ لَا اَبَا فِيْهَا بِتَرْكِيْبٍ
پاره په نسبت سره دارته نونه صحيح كيږي اضافت ددې دارته نوڅنګه به مشابه شي تركيب دلا ابافيها په داسې تركيب
يُضَافُ فِيْهِ الْاَبُ اِلَى الدَّارِ لِمُشَارَكَتِهٖ لَهٗ فِيْ اَصْلِ مَعْنَاهُ وَ لَيْسَ اَيْ مِثْلُ هٰذَيْنِ
كې چې مضاف وي په دې كې اب دارته دوجهې دمشاركت ددې نه په اصل معنى كې اونه ده يعني په مثل ددې دواړو
التَّرْكِيْبَيْنِ بِمُضَافٍ حَقِيْقَةً لِفَسَادِ الْمَعْنٰى اَلْمُرَادِ الْمُفَادِ بِهِمَا عَلٰى تَقْدِيْرِ الْاِضَافَةِ
تركيبونو مضاف په حقيقت كې دوجهې دفساددمعنى نه چې مراداومفاددي په دې سره په تقدير داضافت باندې
وَ هُوَ نَفْيُ ثُبُوْتِ جِنْسِ الْاَبِ اَوِ الْغُلَامَيْنِ لِمَرْجِعِ الضَّمِيْرِ الْمَجْرُوْرِ بِالْاِسْتِقْلَالِ مِنْ غَيْرِ اِحْتِيَاجٍ اِلٰى تَقْدِيْرِ
اوهغه نفي دثبوت دجنس داب ده اوياد غلامين ذمرجع دضمير مجروربه استقلال سره په غيردضرورت نه تقديرد
خَبَرٍ وَ هٰذَا الْمَعْنٰى يَفْسُدُ مِنْ وَجْهَيْنِ عَلٰى تَقْدِيْرِ الْاِضَافَةِ اَمَّا اَوَّلًا فَلِاَنَّ مَعْنٰى هٰذَا التَّرْكِيْبِ عَلٰى تَقْدِيْرِ
خبرته اودامعنى فاسديږي ددوه وجهونه په تقدير داضافت سره هرچې اولاده نوڅكه چې معنى ددې تركيب په تقدير
الْاِضَافَةِ لَا اَبَاهُ وَلَا غُلَامَيْهِ وَ هٰذَا لَا يَتِمُّ اِلَّا بِتَقْدِيْرِ خَبَرٍ اَيْ لَا اَبَاهُ مَوْجُوْدٌ وَغُلَامَيْهِ مَوْجُوْدَانِ وَ اَمَّا
داضافت باندې لا اباه ولا غلاميه ده اودانه پوره كيږي مګرپه تقدير دخبرسره يعنې لا اباه موجودوغلاميه موجودان اوهر
ثَانِيًا فَلِاَنَّ الْمُرَادَ نَفْيُ ثُبُوْتِ جِنْسِ الْاَبِ اَوِ الْغُلَامَيْنِ لَهٗ لَا نَفْيُ الْوُجُوْدِ عَنْ اَبِيْهِ الْمَعْلُوْمِ
چې دويم دي نوددې وجهې نه چې مرادنفي دثبوت دجنس داب دي اوياد غلامين ددې دپاره نه دنفي دوجودداب معلوم
اَوْ غُلَامَيْهِ الْمَعْلُوْمَيْنِ خِلَافًا لِسِيْبَوَيْهِ وَ الْخَلِيْلِ وَ جُمْهُوْرِ النُّحَاةِ وَ اِنَّمَا خُصَّ
نه اوياد غلاميه معلومين نه، خلاف ثابت دي سيبويه اوخليل اوجمهورونحاتولره اوپه تحقيق سره خاص يې كړو
سِيْبَوَيْهِ بِهٰذَا الْخِلَافِ لِاَنَّهُ الْعُمْدَةُ فِيْمَا بَيْنَهُمْ اَوْ لِاَنَّ الْمَقْصُوْدَ بَيَانُ الْخِلَافِ لَا تَعْيِيْنُ
سيبويه په دې اختلاف سره څكه سيبويه قوي دي په مينځ دنحويانوكې اويامقصودبيان داختلاف دي نه تعيين
الْمُخَالِفِيْنَ فَمَذْهَبُ سِيْبَوَيْهِ وَ الْخَلِيْلِ وَ جُمْهُوْرِ النُّحَاةِ اَنَّ مِثْلَ هٰذَا التَّرْكِيْبِ مُضَافٌ حَقِيْقَةً
دمخالفينو نومذهب دسيبويه اودخليل اودجمهورونحاتودادي چې په مثل ددې تركيب مضاف دي په حقيقت
بِاِعْتِبَارِ الْمَعْنٰى وَ اِقْحَامُ اللَّامِ بَيْنَ الْمُضَافِ وَ الْمُضَافِ اِلَيْهِ تَاكِيْدٌ لِلَامِ الْمُقَدَّرَةِ وَ حَكَمَ
كې په اعتبار دمعنى سره اوزيادت دلام په مينځ دمضاف اودمضاف اليه كې داتاكيددي دلام مقدره اوحكم كړي
الْمُصَنِّفُ بِفَسَادِهٖ لِمَا عَرَفْتَ.
مصنف په فسادددې سره دهغه وجهې نه چې تاوپيژنده.

خلاصه دمتن : ددې ځاې نه په ماقبل باندې دتفریع بیان دي چې ددغې شان ترکیبونو جواز ددې وجې نه دي چې په دې کې غیر مضاف لره مضاف سره په معنی داختصاص کې تشبیه ورکړي شوي ده ددې وجې نه **لا ابا فیها** ترکیب جائز نه دي ځکه چې په دې کې اختصاص نه شي موندلې ځکه چې هغه اختصاص کوم چې اب دځه شي طرف ته داضافت نه پیژندل کیږي خو د هغه څیز دپلار کیدو دوجې نه وي اودا اختصاص دار طرف ته داب نسبت کولو نه ، نه حاصلیږي لهذا هغې دار طرف ته اضافت صحیح نه دي کله چې داب اضافت دار طرف ته صحیح نه دي نو بیا اب **فیها** لره دهغه ترکیب سره تشبیه څنګه ورکیږي چې په کوم ترکیب کې د اب اضافت په صریحي طور باندې دار طرف ته وي

اغراض دجامي : __ولیس بمضاف__: صاحب دکافیې وایې چې ددې دواړو ترکیبونو نه د لا اسم نه دمضاف سره تشبیه ورکړي شوه هغه په حقیقت کې مضاف نه دي ځکه چې که حقیقتاً مضاف وي نو معنی مقصودي به فاسد شي ځکه چې معنی مقصودي دضمیر مجرور مرجع مثلاً دزید دپاره **بالاستقلال** تقدیر خبر طرف ته دحاجت نه په غیر دضمیر مجرور مرجع دپاره جنس اب یا جنس غلامین دثبوت نفي ده اواضافت په تقدیر باندې دامعنی د دوه (۲) وجهونو فاسدیږي :

(**۱**) **اوله وجه** داده چې چې داضافت په تقدیر باندې به یې معنی داشي چې **لا اباه ولا غلامیه** او دا معنی دتقدیر خبر نه په غیر نه تام کیږي بلکه خبر لره مقدر منل ضروري دي مثال **لا اباه موجود ولا غلامیه موجودان**

(**۲**) **دوهمه وجه** داده چې مقصود دضمیر مجرور مرجع مثلاً **زید** دپاره جنس اب یاجنس **غلامین** دنفي ثبوت کول دي دامقصود نه دي چې د**زید** پلار چې معلوم الوجود دي هغه موجود نه دي اواضافت په تقدیر باندې به یې معنی داشي چې د**زید** پلار چې معلوم الوجود نه دي هغه موجود نه دي اودزید دوه غلامان چې معلوم الوجود دي هغه موجود نه د: ددې وجې نه په دې ترکیبونو کې د لا اسم لره دمضاف سره تشبیه ورکړي شوې د:

خلافاً لسیبویه : په دې عبارت سره شارح بیان داختلاف کوي ... [illegible] د جمهورو نحویانو مذهب ... چې ... دغه شان ترکیبونو کې د لا اسم ... [illegible] سره حقیقت

مضاف دي

ومن ثم اى لاجل: په دې عبارت سره شارح د **ثَمَّ** مشاراليه بيان کړي ده .

اى في الدار: په دې عبارت سره شارح د**فيها** دضمير مرجع بيان کړي ده چې د**فيها** ضمير **في الدار** ته راجع ده .

لعدم الاختصاص: په دې عبارت سره شارح وجه دعدم جواز بيان کړي ده .

فان الاختصاص: په دې عبارت سره شارح دمتن وضاحت کوي .

وليس اى مثل هذين: په دې عبارت سره شارح د**ليس** دضمير مرجع بيان کړي ده .

وهذا المعنى يفسد: په دې عبارت سره شارح دمتن وضاحت کوي چې که حقيقةً اضافت وي نو معنى ددوه (۲) وجهو نه فاسد يږي .

وانما خص: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کله چې دخليل اوسيبويه اودجمهورو نحويانو ټولو اختلاف وو نو مصنف رحمه الله فقط دسيبويه ذکر ولې وکړو ؟

جواب : نو شارح ددې سوال دوه جوابات ورکړي دي :

جواب (۱) : سيبويه ددې ټولو امام اوددوي په مينځ کې قوي اوقابل داعتبار دي نو ددې وجې نه يې سيبويه خاص ذکر کړو .

جواب (۲) : مقصود داختلاف بيانول دي دمخالفينو تعيين مقصود نه دي اودامقصد د سيبويه دذکرکولو سره حاصل شو .

والحاصل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په دې مثالونو کې دمضاف اومضاف اليه په مينځ کې دلام موجوديدو نه معلوميږي چې د **لا** اسم حقيقتاً مضاف نه وي ځکه چې دمضاف اومضاف اليه په مينځ کې لام مذکور نه وي نو بيا دسيبويه وغيره ويل څنګه صحيح شو چې په دې کې د **لا** اسم حقيقتاً مضاف دي .

جواب : دمضاف اومضاف اليه په مينځ کې چې لام دي نو دا لام مقدره دتاکيد دپاره دي او اصل لام مقدر دي .

د لای نفي جنس د اسم حذف کول :

وَ يُحْذَفُ اِسْمُ لَا حَذْفًا كَثِيْرًا فِيْ مِثْلِ لَا عَلَيْكَ أَيْ لَا بَأْسَ عَلَيْكَ وَلَا يُحْذَفُ اِلَّا مَعَ

او حذف کولې شي اسم د لا په حذف کثیر سره په لا علیک مثال کې یعني لا بأس علیک او نه شي حذف کولې الا سره

وُجُوْدِ الْخَبَرِ لِئَلَّا يَكُوْنَ اِجْحَافًا وَ قَوْلِهِمْ لَا كَزَيْدٍ اِنْ جَعَلْنَا الْكَافَ اِسْمًا جَازَ

د موجودیدو د خبر د دې وجهې نه چې نه شي نقصان او د اقول د عربو لا کزید که چیرته مونږ وګرځوو کاف اسم نو جائز

اَنْ يَكُوْنَ كَزَيْدٍ اِسْمًا وَالْخَبَرُ مَحْذُوْفًا أَيْ لَا مِثْلَهُ مَوْجُوْدٌ وَجَازَ اَنْ يَكُوْنَ خَبَرًا أَيْ لَا اَحَدَ مِثْلُ زَيْدٍ وَ

دي چې وي کزید اسم او خبر یې محذوف یعني لا مثله موجود او جائز دي چې وي خبر یعني لا احد مثل زید او که

اِنْ جَعَلْنَاهُ حَرْفًا فَالْاِسْمُ مَحْذُوْفٌ أَيْ لَا اَحَدَ كَزَيْدٍ.

چیرته مونږ وګرځوو کاف حرف نو اسم به محذوف وي یعني لا احد کزید.

خلاصه دمتن : صاحب د کافیې وایي چې په لا علیک مثال کې د لای نفي جنس اسم لره اکثر حذف کولې شي .

اغراض دجامي : مثل: په دې عبارت سره شارح بیان د ضابطې او قاعدې کوي د مثل نه مراد هر هغه ترکیب دي چې په هغې کې د لا اسم په حذف کولو باندې څه قرینه موجود وي مثال لا علیک په دې کې د لا اسم محذوف دي چې بأس دي په اصل کې لا بأس علیک وو د دې په حذف باندې قرینه داده چې لا حرف دي او علی هم حرف دي حالانکه حرف په حرف باندې نه داخلیږي نو معلومه شوه چې د لا اسم محذوف دي .

ولا یحذف الا : په دې عبارت سره شارح د لا اسم د حذف کولو شرائط بیانوي چې د لا اسم لره حذف کول هله جائز دي چې کله خبر موجود وي او دا شرط یې ځکه لږولي دي چې نقصان لازم نه شي ځکه چې کله خبر موجود نه وي او اسم لره هم حذف کړي شي نو د لا نه په غیر معمول کیدل لازم راځي .

وقولهم : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ستا دا قول چې د لا اسم حذف کول هله جائز دي کله چې موجود وي دا منقوض او مات دي د عربو په دې قول سره چې کزید ځکه چې په دې کې اسم او خبر دواړه محذوف دي ځکه چې کزید جار مجرور دي

جواب: مونږ داخبره نه منو چې په دې قول کې اسم اوخبر دواړه محذوف دي بلکې په دې کې يو محذوف دي ځکه چې په كزيد كې كاف د دوه (۲) حالونه خالي نه دي: (۱) يا خو كاف اسميه دي په معنى د مثل سره (۲) اوياحرف دي كه كاف اسميه په معنى د مثل سره دي نو دا لا اسم جوړيږي اوخبر به يې محذوف وي معنى به يې دا وي چې لا مثل زيد موجود اودا هم كيدې شي چې داخبر وي د لا اود لا اسم محذوف وي چې احدٌ دي نو عبارت به داسې شي چې لا احد مثل زيد اوكه كاف حرف وي نوبيابه اسم محذوف وي او كزيد به يې خبر جوړ شي مثال لا احد كزيد.

﴿خَبَرُ مَا وَلَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ﴾:

د ما و لا المشبهتين بليس د خبر تعريف:

خَبَرُ مَا وَلَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ فِي النَّفْيِ وَ الدُّخُوْلِ عَلَى الْجُمْلَةِ الْإِسْمِيَّةِ بِلَيْسَ هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهِمَا
خبر د ما او لا چې مشابه وي په نفي کې اوپه دخول کې په جمله اسميه باندې په ليس سره دامسند دي پس د داخليدو
أَيْ دُخُوْلِ مَا وَلَا وَ هِيَ أَيْ خَبَرِيَّةُ خَبَرِ مَا وَلَا لَهُمَا وَ كَذَا إِسْمِيَّةُ إِسْمِهِمَا
د دې دواړو نه يعني دخول د ما و لا نه اودا يعني خبر داخبر دي د ما و لا د دې دواړو په باره اوهمدارنګې اسميت د اسم د دې
لَهُمَا لُغَةٌ حِجَازِيَّةٌ وَ خَصَّ الْخَبَرِيَّةَ بِالذِّكْرِ لِأَنَّ إِعْمَالِهِمَا وَ جَعْلَ إِسْمِهِمَا
دواړو د دې دواړو د پاره لغت حجازي دي اوخاص يې کړو خبريت د ذکر سره ځکه عمل د دې دواړو او اسم د دې دواړو
وَ خَبَرِهِمَا إِسْماً وَ خَبَراً لَهُمَا إِنَّمَا يَظْهَرُ بِإِعْتِبَارِ الْخَبَرِ فَجَعْلُ الْخَبَرِ خَبَراً لَهُمَا
اوخبر د دې دواړو اسم اوخبر دي د دې دواړو د پاره داظاهريږي په اعتبار د خبر سره نو وي ګرځول خبر خبر د دې دواړو
إِنَّمَا هُوَ فِيْ لُغَةِ أَهْلِ الْحِجَازِ وَ أَمَّا بَنُوْ تَمِيْمٍ فَحَيْثُ لَا يَذْهَبُوْنَ إِلَى إِعْمَالِهِمَا
د پاره اودا دي په لغت د اهل حجاز کې اوهرچې بنوتميم دي نو دوي ذهاب نه دي کړي عمل ور کولو طرف ته نو دوي
لَا يَجْعَلُوْنَ الْخَبَرَ خَبَراً لَهُمَا وَلَا الْإِسْمَ اسْمًا لَهُمَا بَلْ هُمَا مُبْتَدَأٌ وَخَبَرٌ عَلَى مَاكَانَا عَلَيْهِ قَبْلَ
نه ګرځوي خبر د دې دواړو د پاره اونه اسم د دې دواړو د پاره اسم بلکې مبتدا اوخبر په هغه څه باندې چې وومخکې د
دُخُوْلِهِمَا عَلَيْهِمَا وَ لُغَةُ أَهْلِ الْحِجَازِ هِيَ الَّتِيْ جَاءَ عَلَيْهَا التَّنْزِيْلُ
دخول د دې دواړو نه په دې دواړو باندې اولغت د اهل حجاز دا هغه دي چې راغلي دي قرآن مجيد په دې باندې
قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى مَا هٰذَا بَشَراً وَ مَا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ.
الله تعالى فرمايلي دي مَا هٰذَا بَشَراً او وَمَا هُنَّ أُمَّهَاتِهِمْ.

خلاصه دمتن : صاحب د کافيې ددې ځاې نه آخري قسم دمنصوباتو ذکر کوي دمنصوباتو دقسمونو نه يو قسم د **ما** او لا خبر دي چې د **ليس** سره يې تشبيه ورکړي شوي ده ددې تعريف دادې چې ددې نه ديو داخليدو نه وروستو به دامسند وي .

اغراض دجامي : في النفي: په دې عبارت سره شارح وجه دشبه بيانوي وجه دشبه معنی د نفي اوجمله اسميه باندې داخليدل دي يعنې چې لکه څنګه په **ليس** کې دنفي معنی ده په **ماولا** کې هم دنفي معنی ده اولکه څنګه چې **ليس** په جمله اسميه باندې داخليږي همدارنګې **ماولا** هم په جمله اسميه باندې داخليږي .

اى دخول ماولا: په دې عبارت سره شارح دضمير دمرجع بيان کوي .

اى خبرية: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د هِيَ ضمير مرجع خبر د **ماولا** دي اودا مذکر دي اوضمير دمؤنث دي نو دراجع او مرجع په مينځ کې مطابقت نشته دي حالانکه دضمير اودضمير په مرجع کې مطابقت ضروري دي .

جواب : د هِيَ ضمير مرجع خبر د**ماولا** نه دي بلکه ددې مرجع خبريت دي کوم چې دخبر نه معلوميږي معنی داده چې د **ماولا** خبر ددې خبر کيدل اوددې اسم اسم کيدل دا لغت حجازيه دي .

وخص: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : لکه څنګه چې د**ماولا** خبر ددې خبر کيدل داداهلِ حجازو لغت دي نو همدارنګې د**ماولا** اسم ددې اسم کيدل هم داهلِ حجازو لغت دي نو بيا مصنف رحمه الله خبر لره په خاص طور باندې ولې ذکر کړو ؟.

جواب : مصنف رحمه الله خبريت لره په خاص طور باندې ځکه ذکر کړه چې **ماولا** ته عمل ورکول اوددې اسم اوددې خبر لره ددې خبر جوړول دي دادخبر داعتبار سره ظاهريږي بهر حال خبر لره ددې خبر جوړول داداهلِ حجازو لغت دي ليکن **بنو تميم ما** اولا ته عمل نه ورکوي ددې وجې نه هغوي **ماولا** اسم لره ددې اسم نه جوړوي اوخبر لره ددې خبر نه جوړوي بلکه دهغوي په نزد دا مبتدا اوخبر دي لکه څنګه چې داد **ماولا** دداخليدو نه مخکې مبتدا او خبر وو .

ولغة: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: مصنف رحمه الله د اهلِ حجازو لغت ولې اختیار کړو؟

جواب: ځکه چې قرآن د اهلِ حجازو د لغت تائید کوي د دې وجې د ایې اختیار کړو د الله تعالی قول دي: ما هذا بشرا، او ما هن امهاتهم په دې کې ما عمل کوي ولې که ما عامل نه وي کړي نو بشراً او امهاتهم دا به مرفوع وي حالانکه دا مرفوع نه دي بلکه منصوب دي.

د ما او لا د عمل باطل کیدو صورتونه:

وَ إِذَا زِيدَتْ إِنْ مَعَ مَا نَحْوُ مَا إِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ قِيلَ إِنَّمَا خُصِّصَتْ مَا بِالذِّكْرِ لِأَنَّهَا لَا
او کله چې زیات کړې شي ان سره د ما لکه ما ان زید قائم چا ویلي دي چې خاص یې کړو ما په ذکر سره ځکه چې دا نه
تُزَادُ مَعَ لَا فِي إِسْتِعْمَالِهِمْ وَ هِيَ زَائِدَةٌ عِنْدَ الْبَصْرِيِّينَ نَافِيَةٌ مُؤَكِّدَةٌ عِنْدَ الْكُوفِيِّينَ أَوِ انْتَقَضَ
زیاتیږي د لا سره په استعمال د عربو کې او دا زائده ده په نزد د بصرینو او نافیه مؤکده ده د کوفیانو په نزد او یا ماتیږي
النَّفْيُ بِإِلَّا نَحْوُ مَا زَيْدٌ إِلَّا قَائِمٌ أَوْ تَقَدَّمَ الْخَبَرُ نَحْوُ مَا قَائِمٌ زَيْدٌ بَطَلَ الْعَمَلُ أَيْ عَمَلُ مَا إِذَا كَانَ مَعَ وَاحِدٍ
نفي په الا سره لکه ما زید الا قائم یا مقدم وي خبر لکه ما قائم زید نو باطلیږي عمل یعني عمل د ما چې کله وي سره یو
مِنْ هٰذِهِ الْأُمُورِ الثَّلَاثَةِ أَمَّا إِذَا زِيدَتْ إِنْ فَلِأَنَّ مَا عَامِلٌ ضَعِيفٌ عَمِلَ
د دې امورو ثلاثو نه کله چې د دې لره زائد کړې شي نو د دې وجهې نه باطلیږي ځکه د ما عامل ضعیف دي عمل کوي
لِشِبْهِهِ بِـ لَيْسَ فَلَمَّا فُصِلَ بَيْنَهَا وَ بَيْنَ مَعْمُولِهَا لَمْ تَعْمَلْ وَ
د وجهې د مشابهت نه د لیس سره نو هر کله فصل واقع شو په مینځ د دې او په مینځ د معمول کې نو عمل نه کوي او
أَمَّا إِذَا انْتَقَضَ النَّفْيُ بِـ إِلَّا فَلِأَنَّ عَمَلَهَا لِمَعْنَى النَّفْيِ فَلَمَّا انْتَقَضَ
هر کله چې ماته شي نفي په الا نو د دې وجهې نه چې عمل د دې د پاره د معنی د نفي ده نو هر کله چې ماته شوه نفي
بَطَلَ الْعَمَلُ وَ أَمَّا إِذَا تَقَدَّمَ الْخَبَرُ فَلِتَغَيُّرِ التَّرْتِيبِ مَعَ ضُعْفِهَا فِي الْعَمَلِ.
نو باطل شو عمل او هر کله چې مقدم شو خبر نو د وجهې د تغیر د ترتیب نه سره د ضعف د دې نه په عمل کې.

خلاصه د متن: صاحب د کافیې وایي چې په درې (۳) صورتونو کې د ما و لا عمل باطلیږي:

(۱) ما و لا سره ان زائده جمع شي مثال لکه ما ان زید قائم.

(۲) کله چې نفي د الا د وجې نه ماته شي مثال لکه ما زید الا قائم.

(۳) خبر په اسم باندې مقدم شي مثال لکه ما زید قائم.

اغراض د جامي: قیل انها: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب

ورکول دي

سوال : لکه څنګه چې ان زائد کيدل د ماعمل باطلوي نو همدارنګې د لا عمل هم باطلوي نو مصنف رحمه الله ما ولې خاص طور باندې ذکر کړه ؟.

جواب : مصنف رحمه الله ما خاص طور باندې ځکه ذکر کړه چې د عربو په استعمال کې ان د لا سره نه زائد کيږي باقي دبصريانو په نزد ان زائد کيږي او دکوفيانو په نزد ان نافيه مؤکده وي .

اما اذا زيدت : په دې عبارت سره شارح بيان دعلت کوي اوپه ذکر شوي صورت کې د ماولا د عمل دباطل کيدو وجه بيانوي کله چې دې سره ان زائد وي نو ددې استعمال ددې دپاره باطليږي چې داعمل ضعيف دي ځکه چې دادليس سره دمشابهت دوجې نه عمل کوي کله چې ددې اوددې دمعمول په مينځ کې فاصله راشي نو داعمل نه شي کولې ځکه چې دعامل ضعيف معمول په مفصول کې عمل نه شي کولې اوکله چې دالا دوجې نه نفي ماته شي نو دا عمل ځکه نه شي کولې چې ددې معنی دنفي دوجې نه وي کله چې نفي ماته شي نو ددې عمل باطليږي اوکله چې خبر په اسم باندې مقدم شي نو په دغه ددې عمل ځکه باطليږي چې ترتيب کې تغير لازم راځي حالانکه داعمل ضعيف دي اوددې عمل دپاره ترتيب شرط دي کله چې ترتيب بدل شي نو دغه وخت داعمل نه شي کولې لکه څنګه چې داد الا په مابعد کې عمل نه شي کولې نو په دې صورتونو کې په معطوف باندې رفع واجب ده دخبر په محل باندې د محمول کيدو دوجې نه ځکه چې داپه اصل کې مرفوع دي خبر دمبتدا دوجې نه .

د ما او لا د معطوف اعراب :

وَ اِذَا عُطِفَ عَلَيْهِ أَيْ عَلٰى خَبَرِهِمَا بِمُوْجِبٍ بِكَسْرِ الْجِيْمِ أَيْ
اوهر کله چې عطف کړې شي په دې باندې يعني په خبر ددې دواړو باندې په موجب باندې په کسرې دجيم يعني په
بِعَاطِفٍ يُفِيْدُ الْاِيْجَابَ بَعْدَ النَّفْيِ وَهُوَ بَلْ وَلٰكِنْ نَحْوُ مَا زَيْدٌ مُقِيْمًا بَلْ مُسَافِرٌ وَمَا عَمْرٌو قَائِمًا
داسې عاطف سره چې فائده کوي دايجاب پس دنفي نه اوهغه بل اولکن دي لکه مازيدمقيمابل مسافروماعمروقائما
لٰكِنْ قَاعِدٌ فَالرَّفْعُ أَيْ فَحُكْمُ الْمَعْطُوْفِ الرَّفْعُ لَا غَيْرُ بِكَوْنِهِمَا بِمَنْزِلَةِ اِلَّا فِيْ نَقْضِ النَّفْيِ.
لکن قاعدنورفع ده يعنې حکم دمعطوف رفع ده نه بل څه په کيدو ددې دواړو په منزله د الا په ماتيدو د نفي کې

خلاصه دمتن او شرحه : مصنف رحمه الله دامسئله بيانوي چې کله دما ولا په خبر باندې

دداسې حرف په ذريعې سره عطف وکړي شي کوم چې دايجاب فائده ورکوي نو معطوف باندې رفع واجب ده اوحروف موجِب دوه (۲) دي : (۱) بل . (۲) لکن ، مثال لکه **مازيد مقيما بل مسافر** ، او **ما عمرو قائماً لکن قاعد** ددې وجه داده چې دما او لا عمل دنفي دوجې نه دي اودحروف ايجاب دوجې نه نفي ماتيږي لکه څنګه چې دالا دوجې نه نفي ماتيږي ددې وجې نه **ما** او**لا** حروف ايجاب بل او لکن مابعد کې عمل نه کوي لهذا په معطوف باندې رفع واجب ده دخبر په محل باندې محمول کولو سره .

تمت المنصوبات بحمدالله وعونه

﴿اَلْمَجْرُوْرَات﴾ :

د مجروراتو تعریف :

هُوَ مَا اشْتَمَلَ أَيْ اِسْمٌ نِ اشْتَمَلَ لِتَخْرُجَ الْحُرُوْفُ الْاَوَاخِرُ الَّتِيْ هِيَ مَحَالُّ الْإِعْرَابِ
دا هغه دي چې مشتمل وي یعني هغه اسم دي چې مشتمل وي ددې دپاره چې خارج کړي هغه آخري حروف چې هغه
فَإِنَّهُ لَا يُطْلَقُ عَلَيْهَا الْمَرْفُوْعَاتُ وَ الْمَنْصُوْبَاتُ وَ الْمَجْرُوْرَاتُ اِصْطِلَاحًا لِاَنَّهَا اَقْسَامُ الْإِسْمِ
محل داعراب وي ځکه اطلاق نه کیږي په دې باندې د مرفوعاتو منصوباتو او د مجروراتو اصطلاحاً ځکه چې دا
عَلٰى عَلَمِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ أَيْ عَلَامَةِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ مِنْ حَيْثُ هُوَ الْمُضَافُ إِلَيْهِ يَعْنِيْ اَلْجَرُّ
اقسام داسم دي په علامت د مضاف الیه یعني د علامت د مضاف الیه د دې حیثیت نه چې دا مضاف الیه دي یعني
سَوَاءٌ كَانَ بِالْكَسْرَةِ اَوِ الْفَتْحَةِ اَوِ الْيَاءِ لَفْظاً اَوْ تَقْدِيْراً وَ اِنَّمَا قُلْنَا مِنْ حَيْثُ هُوَ مُضَافٌ
جر برابره خبره ده که وي دا په کسرې سره او یا فتحې سره او یا یاء سره لفظاً او یا تقدیراً او مونږ وویل من حیث هو مضاف
إِلَيْهِ لِاَنَّ الْجَرَّ لَيْسَ عَلَامَةً لِذَاتِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ بَلْ لِحَيْثِيَّةِ كَوْنِهِ مُضَافًا إِلَيْهِ وَ الْمُضَافُ
الیه ځکه جر نه دي علامت د ذات د مضاف الیه دپاره بلکې دپاره د حیثیت د کیدو د دې نه مضاف الیه او مضاف الیه
إِلَيْهِ وَ اِنْ كَانَ مُخْتَصاً بِمَا عَرَّفَهُ بِهِ لٰكِنَّ الْمُشْتَمِلَ عَلٰى عَلَامَتِهِ اَعَمُّ مِنْهُ وَ مِمَّا هُوَ مُشَبَّهٌ
اګر که مختص وي د هغه څه سره چې تعریف کړي دي مصنف لکن مشتمل په علامت د مضاف عام وي د دې نه او د
بِهِ فَيَدْخُلُ فِيْ تَعْرِيْفِ الْمَجْرُوْرِ مِثْلُ بِحَسْبِكَ دِرْهَمٌ وَ كَفٰى بِاللّٰهِ وَ كَذَا الْمُضَافُ إِلَيْهِ
هغه څه نه چې مشابه وي د دې سره نو داخلیږي په تعریف د مجرور کې لکه بحسبک درهم و کفی بالله او همدارنګې
بِالْإِضَافَةِ اللَّفْظِيَّةِ وَ اِنْ لَمْ يَكُنْ دَاخِلاً فِيْ تَعْرِيْفِهِ.
مضاف الیه په اضافت لفظي سره اګر که داخل نه وي په تعریف د مضاف الیه کې .

خلاصه دمتن : مصنف رحمه الله د منصوباتو نه د فارغیدو نه وروستو د مجروراتو تعریف او د مجروراتو اقسام ذکر کوي په ذکر شوي عبارت کې صاحب د کافیې د مجرور تعریف کوي چې مجرور هغه اسم دي چې د مضاف الیه په علامت باندې مشتمل وي بیا د مضاف الیه تعریف کوي چې مضاف الیه هر هغه اسم دي چې د دې طرف ته څه څیز په واسطې د حرف جر سره منسوب وي برابره خبره ده که دا لفظاً وي او یا تقدیراً وي لیکن مراد مضاف الیه وي .

اغراض دجامي : ای اسم: په دې عبارت سره شارح د ما تفسیر بیانوي چې ما نکره موصوفه ده چې د دې نه مراد اسم دي ځکه چې د اسم نه بحث کیږي .

لتخرج: په دې عبارت سره شارح د ما تفسير داسم سره د کيدو وجه بيانوي چې د ماتفسير يې د اسم سره ځکه وکړو چې د مجرور تعريف سره د حروفو اواخر خارج شي کوم چې د اعراب محل وي مثلاً په غلام زيد کې د زيد دال ځکه چې اصطلاحاً د حروفو په اواخرو باندې د مرفوعاتو، منصوباتو مجروراتو اطلاق نه کيږي ځکه چې مرفوعات، منصوبات او مجرورات د اسم اقسام دي د حرف اقسام نه دي.

اصطلاحاً: شارح د دې قيد اضافه ځکه وکړه چې لغةً د حروفو په اواخرو باندې د مرفوعاتو، منصوباتو او مجروراتو اطلاق کيږي ځکه چې په حقيقت کې دغه د اعراب محل دي البته د نحويانو په اصطلاح کې اطلاق نه کيږي.

اي علامة: په دې عبارت سره شارح د علم معنى متعين کړه چې عَلم په معنى د علامت دي او په معنى د غر او جنډه نه ده.

يعني الجر: په دې عبارت سره شارح د عَلم مضاف اليه د مصداق تعين وکړو چې د علَم مضاف اليه مصداق هغه جر دي.

سواء: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي:

سوال: د مجروراتو تعريف منقوض اومات دي په هغه احمد سره کوم چې په جاءني غلام احمد کې واقع دي ځکه چې دا مجرور دي حالانکه د مضاف اليه علامت په کسرې باندې مشتمل نه دي بلکه په دې باندې فتحه ده.

جواب: د مضاف اليه علامت جر دي او جر عام دي برابره خبره ده که په کسرې سره وي مثال مررتُ بابيک بيا په دې هر يو کې تعميم دي برابره خبره ده چې لفظاً وي او يا تقديراً وي مثال لکه مررتُ بحبلى او په ذکر شوي مثال کې په احمد باندې جر مشتمل دي ليکن د فتحې سره دي ځکه چې دا غير منصرف دي.

من حيث: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي:

سوال: سائل سوال کوي چې تا د مجرور تعريف وکړو چې مشتمل وي د مضاف اليه په علامت باندې او د دې مثال دې ورکړو په غلام زيد سره په دې کې زيد مضاف اليه دي چې مجرور دي ليکن دغه زيد په ضرب زيد کې په علامت د مضاف اليه کې جر باندې مشتمل نه

دي بلکه مرفوع دي نو ستا تعريف منقوض شو په ضرب زيد سره .

جواب : نو شارح په من حيث سره سائل ته جواب ورکوي چې تعريف کې د قيد حيثيت ملحوظ دي مجرور هغه اسم دي چې په علامت د مضاف اليه باندې مشتمل وي په دې حيثيت سره چې دا مضاف اليه وي يعني جر د مضاف اليه ذات دپاره علامت نه دي بلکه د دې مضاف اليه واقع کيدو حيثيت نه علامت دي ځکه چې ضرب زيد کې د زيد مضاف اليه والا حيثيت ختم شوي دي ځکه چې دا په علامت د جر باندې مشتمل نه دي .

والمضاف اليه: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : دلته سائل سوال کوي چې مصنف رحمه الله د مجرور تعريف دا کړي دي چې ما اشتمل على علم المضاف اليه د دې نه وروستو د مضاف اليه تعريف يې وکړو چې کل اسم نسب اليه شيء بواسطة حرف الجر لفظاً اوتقديراً مرادا ، چې مضاف اليه هر هغه اسم دي چې د دې طرف ته څه څيز په واسطې د حرف جر سره منسوب وي برابره خبره ده که حرف جر لفظاً وي او يا تقديراً وي ليکن په معنى کې مراد وي نو اوس به د مجرور تعريف داسې شي چې مجرور هغه اسم دي چې داسم په داسې علامت باندې مشتمل وي چې د دې طرف ته څه څيز په واسطې د حرف جر سره منسوب وي برابره خبره ده که لفظاً وي او ياتقديراً وي ليکن په معنى کې مراد وي کله چې د مجرور تعريف داسې شي نو اوس به دا تعريف د باء زائده سره مجرور وي مثلاً په بحسبک درهم کې په حسبک باندې صادق نه راځي ځکه چې د دې طرف ته يو څيز منسوب شوي دي ليکن په واسطې د حرف جر سره منسوب نه دي ځکه چې حرف جر زائده دي همدا رنګې په کفى بالله کې په بالله باندې هم صادق نه راځي ځکه چې باء زائده ده همدا رنګې دا تعريف مجرور بالاضافة اللفظية مثلاً په ضارب زيد کې په زيد باندې هم صادق نه راځي ځکه چې د دې طرف ته يو څيز ضارب منسوب شوي دي ليکن په واسطې د حرف جر سره منسوب شوي نه دي ځکه چې په اضافت لفظيه کې حرف جر مقدر نه دي .

جواب : د څيز علامت د څيز سره مساوي کيدل ضروري نه دي بلکه کله د څيز علامت د څيز نه اعم وي دلته هم جر چې د مضاف اليه علامت دي د مضاف اليه نه اعم دي دا په مضاف اليه کې هم موندلې شي او د مضاف اليه مشابه يعني مجرور بالباء الزائدة او مجرور بالاضافة کې هم

موندلې شي لهذا اوس دمجرور تعريف مجرور بالباء الزائده او مجرور بالاضافة باندې صادق راځي

د مضاف اليه تعريف :

وَ الْمُضَافُ إِلَيْهِ وَ هُوَ هٰهُنَا غَيْرُ مَا هُوَ الْمُصْطَلَحُ الْمَشْهُوْرُ بَيْنَهُمْ وَ ذَهَبَ
اومضاف اليه اودادلته غيردي دهغه نه چې دنحويانو په اصطلاح كې مشهوردي په مينځ ددوي كې اوذهاب كړي
فِيْ ذٰلِكَ اِلٰى مَذْهَبِ سِيْبَوَيْهِ حَيْثُ اَطْلَقَ الْمُضَافَ إِلَيْهِ عَلَى الْمَنْسُوْبِ إِلَيْهِ
مصنف په دې كې مذهب دسيبويه ته په داسې شان چې اطلاق يې كړي په مضاف اليه باندې چې منسوب اليه وي
بِحَرْفِ الْجَرِّ لَفْظاً أَيْضاً كُلُّ اِسْمٍ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً لِيَشْمَلَ الْجُمَلَ الَّتِيْ يُضَافُ
په حرف جرسره لفظاهمدارنګې هرهغه اسم دي حقيقة اوياحكمادې دپاره چې شامل شي هغه جملوته چې مضاف
إِلَيْهَا نَحْوُ يَوْمَ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ صِدْقُهُمْ فَإِنَّهَا فِيْ حُكْمِ الْمَصَادِرِ نُسِبَ إِلَيْهِ
اليه وي لكه يوم ينفع الصادقين صدقهم ځكه داپه حكم دمصادروكې دي چې نسبت يې شوي وي دې طرف ته ديو
شَيْءٌ اِسماً كَانَ نَحْوُ غُلَامُ زَيْدٍ اَوْفِعْلاً مِثْلُ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ بِوَاسِطَةِ حَرْفٍ لَفْظاً اَوْتَقْدِيْراً اَيْ مَلْفُوْظاً كَانَ ذٰلِكَ
څيزاسم وي لكه غلام زيدیافعل وي لكه مررت بزيد په واسطې دحرف جرسره لفظاًاوياتقديراًيعنې ملفوظ وي دا
الْحَرْفُ كَمَا فِيْ مِثْلِ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ اَوْ مُقَدَّراً حَالَ كَوْنِ ذٰلِكَ الْمُقَدَّرِ مُرَاداً مِنْ حَيْثُ الْعَمَلِ
حرف لكه په مررتُ بزيدمثال كې اويامقدروي په داسې حال كې چې دامقدروي مرادوي دحيثيت دعمل نه په باقي
بِإِبْقَاءِ اَثَرِهٖ وَهُوَ الْجَرُّ مِثْلُ غُلَامُ زَيْدٍ وَخَاتَمُ فِضَّةٍ وَضَرْبُ الْيَوْمِ بِخِلَافِ قُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهُ وَإِنْ نُسِبَ
والي داثرددې كې اوهغه جردې لكه غلام زيدوخاتم فضة وضرب اليوم په خلاف دقمت يوم الجمعة ځكه كه چيرته نسبت
إِلَيْهِ الْقِيَامُ بِالْحَرْفِ الْمُقَدَّرِ وَ هُوَ فِيْ لٰكِنَّهُ غَيْرُ مُرَادٍ اِذْ لَوْ أُرِيْدَ
ـي دې طرف ته دقيام په حرف مقدر سره او هغه في دې لكن غير مراد دې ځكه كه چيرته حرف جر مراد وي نو
لَـجُـرَّ بِـهٖ.
ـجرور به وو په دې سره يوم .

خلاصه دمتن : ددې ځاې نه صاحب دكافيې دمضاف اليه تعريف كوي مضاف اليه هر هغه ـسم دي چې هغې طرف ته څه څيز په واسطې دحرف سره منسوب وي برابره خبره ده كه دا حرف جر لفظاً وي اوياتقديراً وي يعنې داحرف جر يا ملفوظ وي اويامقدر وي ليكن مراد وي .

اغراض دجامي : وهو ههنا: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي :

سوال : کله چې ديو څيز د ذکر کولو نه وروستو دوهم ځل ذکر کړي شي نو په دوهم ځل په ضمير سره ذکر کيږي په اسم ظاهر سره نه ذکر کيږي او د مضاف اليه ذکر خو مخکې تير شوي دي نو مصنف رحمه الله ته په کار وو چې دايې په ضمير سره ذکر کړي وي اوداسې يې ويلي وي چې وهو کل اسم الخ .

جواب : دا مضاف اليه د هغه مضاف اليه نه چې مخکې يې ذکر وشو چې دجمهورو علماو په مينځ کې مصطلح او مشهور دي عين هماغه نه دي بلکه ددې نه خاص دي کوم چې اول يعنې مخکې ذکر شو هغه اعم دي ځکه چې مخکې والامضاف اليه کې تعميم دي چې په دې کې حرف جر مقدر وي يانه وي اوپه دې مضاف اليه کې دجمهورو په نزد د حرف تقدير شرط دي ليکن دمصنف رحمه الله په نزد تقدير دحرف جر شرط نه دي ددې وجې نه مصنف رحمه الله مضاف اليه په اسم ظاهر سره ذکر کړو .

وذهب في ذلک : په دې عبارت سره شارح ديوې فائدې بيان دي چې مصنف رحمه الله د مضاف اليه په تعريف کې دجمهورو مخالفت کړي دي اودامام سيبويه رحمه الله د مذهب تقليد يې کړي دي دده په نزد دمضاف اليه تعريف دادي چې **كل اسم نُسب إِلَيْهِ شيء بواسطة حرف الجر سواء كان ملفوظاً اومقدراً** ، چې مضاف اليه هغه هر هغه اسم دي چې نسبت وشي دې ته ديوڅيز په واسطې دحرف جر سره برابره خبره ده چې دا ملفوظ وي اوکه مقدر وي .

حقيقةً اوحكماً : په دې عبارت سره شارح په اسم کې دتعميم بيان کوي چې مضاف اليه اسم وي دا عام دي که اسم حقيقي وي اوکه اسم حکمي وي .

ليشمل الجمل : په دې عبارت سره شارح دتعميم دوجې بيان کوي چې داتعميم يې ځکه وکړو چې دمضاف اليه تعريف هغه جملو ته هم شامل شي کوم چې مضاف اليه جوړيږي مثال لکه په **يوم ينفع الصادقين صدقهم** کې **ينفع الصادقين** جمله مضاف اليه ده اگر که دا اسم حقيقي نه دي بلکه اسم حکمي دي ځکه چې داد مصادرو په حکم کې دي .

اسماكان : په دې عبارت کې شارح تعميم طرف ته اشاره کوي چې په شيء کې تعميم دي برابره خبره ده که اسم وي لکه په **غلام زيد** کې **غلام** يا فعل وي لکه په **مررتُ بزيد** کې **مررتُ** .

ملفوظاً : په دې عبارت کې شارح ترکيب طرف ته اشاره کوي چې **لفظاً اوتقديراً** دا اسم مفعول په معنی کې خبر دي د **كان** محذوف دې لره يې دا اسم مفعول په معنی کې ځکه کړه چې ددې حمل

صحيح شي چې دده تفصيل مخکې ځو ځو ځل تير شوي دي ، دلته يې دوباره نه ذکر کوو هلته يې وګورئ

حال کون : په دې عبارت کې هم شارح ترکيب طرف ته اشاره کوي چې **مراداً** حال دي **تقديراً** په معنى د **مقدراً** سره چې دکان محذوف خبر دي ځکه چې دا خبر دمفعول به په حکم کې دي پس دا مفعول به دحکمي نه حال شو .

من حيث العمل : په دې عبارت کې شارح دمراد وضاحت کوي چې د مراد نه مقصود **من حيث العمل** دي **من حيث الذات** نه دي .

بابقاء اثره : په دې عبارت سره شارح د**من حيث العمل** صورت بيانوي چې دمراد **من حيث العمل** صورت دادې چې دحرف جر مقدر اثر کوم چې جر دي دا باقي وي لکه **غلام زيد** په دې کې د **غلام** نسبت **زيد** طرف ته په واسطې دحرف لام دي چې مقدر دي ليکن مراد هغه دي ځکه چې دده اثر جر دي هغه په لفظونو کې باقي دي او په **خاتم فضة** کې د **خاتم** نسبت **فضه** طرف ته په واسطې دحرف جرمن دي کوم چې مقدر دي ليکن مراد دي ځکه چې دده اثر جر دي اودا په لفظونو کې باقي دي اوهمدارنګې په **ضرب اليوم** کې د**ضرب** نسبت **يوم** طرف ته په واسطې د حرف جر **في** دي کوم چې مقدر دي ليکن دا مراد دي ځکه چې دحرف اثر کوم چې جر دي هغه په لفظونو کې باقي دي .

بخلاف : په دې عبارت کې شارح د**مراداً** دقيد فائده بيانوي چې دا قيد احترازي دي په دې سره احتراز دي د هغه **يوم الجمعة** نه کوم چې په **قمتُ يوم الجمعة** مثال کې واقع دي اګرکه د قيام نسبت **يوم الجمعة** طرف ته په واسطې دحرف جر دي کوم چې مقدر دي ليکن دا مراد نه دي ځکه چې که دا مراد وي نو دده اثر به جر موجود وي او **يومَ** به مفتوح نه وي بلکه مجرور به وي .

د اضافت شرائط :

فَالتَّقْدِيْرُ أَيْ تَقْدِيْرُ الْحَرْفِ شَرْطُهُ اَنْ يَّكُوْنَ الْمُضَافُ اِسْمًا اِذْ لَوْ كَانَ فِعْلًا لَا
نوتقديريعنې تقديردحرف جرشرط ددې دادې چې وي مضاف اسم ځکه چې که چيرته مضاف فعل وي نونشته
بُدَّ مِنْ اَنْ يُّتَلَفَّظَ بِالْحَرْفِ نَحْوُ مَرَرْتَ بِزَيْدٍ مُجَرَّدًا اَيْ مُنْسَلِخًا عَنْهُ تَنْوِيْنُهُ اَوْ مَا قَامَ
خلاصې د تلفظ نه په حرف جرسره لکه مررت بزيدمجرد يعنې منسلخ وي ددې نه تنوين ددې اوياهغه چې قائم وي په

مَقَامَهُ مِنْ نُوْنَيِ التَّثْنِيَةِ وَ الْجَمْعِ لِاَجْلِهَا أَيْ لِاَجْلِ الاِضَافَةِ لِاَنَّ التَّنْوِيْنِ اَوِ النُّوْنَ دَلِيْلٌ عَلٰى تَمَامِ

خاې دد دنون دتثنيې او دجمع دد وجهې نه يعني دوجهې داضافت نه خکه تنوين او يانون دادليل دي په پوره

مَا هِيَ فِيْهِ فَلَمَّا اَرَادُوْ اَنْ يَمْزِجُوْ الْكَلِمَتَيْنِ مَزْجًا

والې دهغه څه چې هغه وي په دې کې نو هر کله چې اراده وکړه چې يو خاې کړي دوه کلمې په داسې يوخاې کولو

تَكْتَسِبُ بِهِ الْاُوْلٰى مِنَ الثَّانِيَةِ التَّعْرِيْفِ اَوِ التَّخْصِيْصِ اَوِ التَّخْفِيْفِ حَذَفُوْا مِنَ الْاُوْلٰى

سره چې کسب کړي په دې سره اوله کلمه د دويمې نه تعريف او يا تخصيص او يا تخفيف نو حذف کولې به شي داولې

عَلَامَةَ تَمَامِ الْكَلِمَةِ وَ تَمَّمُوْهَا بِالثَّانِيَةِ ثُمَّ الْمُتَبَادِرُ مِنْ هٰذَا التَّعْرِيْفِ نَظْرًا

کلمې نه علامت دتمام والي دکلمې او پوره به کړي په دويمې کلمې سره بيا متبادر د دې تعريف نه په نظر کولو سره

اِلٰى كَلَامِ الْقَوْمِ حَيْثُ لَيْسُوْا قَائِلِيْنَ بِتَقْدِيْرِ حَرْفِ الْجَرِّ فِي الْاِضَافَةِ اللَّفْظِيَّةِ اَنَّهُ غَيْرُ شَامِلٍ

کلام دنحويانو ته په داسې شان چې دوي نه دي قائلين په تقدير دحرف جر سره په اضافت لفظي کې چې دا غير شامل

لِلْمُضَافِ اِلَيْهِ بِالْاِضَافَةِ اللَّفْظِيَّةِ لٰكِنِ الظَّاهِرُ مِنْ كَلَامِ الْمُصَنِّفِ فِي الْمَتْنِ وَ الصَّرِيْحُ فِيْ شَرْحِهٖ

دي دمضاف اليه سره په اضافت لفظي کې لکن ظاهر د کلام دمصنف نه په متن کې او تصريح په شرحه دد کې

لَهُ اَنَّ التَّقْسِيْمَ اِلَى الْاِضَافَةِ الْمَعْنَوِيَّةِ وَ اللَّفْظِيَّةِ اِنَّمَا هُوَ لِلْاِضَافَةِ بِتَقْدِيْرِ حَرْفِ الْجَرِّ لٰكِنَّهُ لَمْ يُبَيِّنْ

داده چې تقسيم اضافت معنوي او لفظي ته دا دي داضافت دپاره په تقدير دحرف جر سره لکن نه يې دي بيان کړي

تَقْدِيْرَ الْحَرْفِ فِيْهَا لَا فِي الْمَتْنِ وَلَا فِيْ شَرْحِهٖ وَلَمْ يُنْقَلْ عَنْهُ شَيْءٌ فِيْهِ مِنْ سَائِرِ مُصَنَّفَاتِهٖ

تقدير دحرف جر په دې کې نه په متن کې او نه شرحه کې او نه دي نقل دده نه يو څيز په دې کې دټولو تصنيفاتو دده نه

وَ قَدْ تَكَلَّفَ بَعْضُهُمْ فِيْ اِضَافَةِ الصِّفَةِ اِلٰى مَفْعُوْلِهَا مِثْلُ ضَارِبُ زَيْدٍ بِتَقْدِيْرِ اللَّامِ تَقْوِيَةً

او تکلف کړي بعضو ددوي نه په اضافت دصفت کې مفعول ته لکه ضارب زيد په تقدير دلام سره په قوت ورکولو کې

لِلْعَمَلِ أَيْ ضَارِبٌ لِزَيْدٍ وَفِيْ اِضَافَتِهَا اِلٰى فَاعِلِهَا مِثْلُ الْحَسَنُ الْوَجْهِ بِتَقْدِيْرِ مِنَ الْبَيَانِيَّةِ فَاِنَّ ذِكْرَ الْوَجْهِ فِيْ

عمل ته يعني ضارب لزيد او په اضافت ددې کې فاعل ته لکه الحسن الوجه په تقدير د مِن بيانيه سره خکه ذکر دوجه په

قَوْلِنَا جَاءَنِيْ زَيْدٌ الْحَسَنُ الْوَجْهِ بِمَنْزِلَةِ التَّمْيِيْزِ فَاِنَّ فِيْ اِسْنَادِ الْحَسَنِ اِلٰى زَيْدٍ اِبْهَامًا فَاِنَّهُ لَا

دې قول زمونږ جاءني زيد الحسن الوجه کې په منزلې دتميز خکه په اسناد دحسن کې زيد ته ابهام دي خکه چې نه

يُعْلَمُ اَنَّهُ أَيُّ شَيْءٍ مِنْهُ حَسَنٌ فَاِذَا ذُكِرَ الْوَجْهُ فَكَاَنَّهُ قَالَ مِنْ حَيْثُ الْوَجْهِ فَاِنْ

معلوميږي چې کوم څيز ددې نه حسن دي چې هر کله يې ذکر کړو وجه نو گويا چې ووېل په اعتبار دمخ سره که چيرته

قُلْتَ هٰذَا فِي الْحَقِيْقَةِ تَخْصِيْصٌ فَلَا يَصِحُّ اَنَّ الْاِضَافَةَ اللَّفْظِيَّةَ لَا تُفِيْدُ اِلَّا تَخْفِيْفًا

ته وواېې چې دا په حقيقت کې تخصيص دي نو نه صحيح کيږي چې اضافت لفظي دا فائده نه ورکوي مگر د تخفيف

فِي اللَّفظِ قُلنَا كَانَ هٰذَا التَّخصِيصُ وَاقِعاً قَبلَ الإِضَافَةِ فَلاَ يَكُونُ مِمَّا تُفِيدُهُ الإِضَافَةُ
په لفظ كې مونږ وايو چې وو دا تخصيص واقع مخكې د اضافت نه نو نه به وي دغه څه نه چې فائده كوي د اضافت
فَلَيسَتْ فَائِدَةُ الإِضَافَةِ إِلاَّ التَّخفِيفَ فِي اللَّفظِ.
نو نه ده فائده د اضافت مگر تخفيف په لفظ كې

خلاصه د متن : صاحب د كافيې په دې عبارت كې د خپل مذهب مطابق د دغه اضافت شرط ذكر كوي چېرته چې حرف جر مقدر وي وايي چې اضافت لفظيه په تقدير د حرف جر سره د دې شرط دا دې چې مضاف وي د اسې اسم طرف ته چې د اضافت د وجې نه تنوين يا د تنوين قائم مقام دي يعني نون تثنيه او نون د جمع نه خالي كړې شوي وي او كه مضاف اليه د دې نه خالي شوي نه وي نو هلته حرف جر مقدر كول صحيح نه دي .

اغراض د جامي : **اى تقدير الحرف**: په دې عبارت سره شارح دې خبرې طرف ته اشاره كوي چې په تقدير باندې چې كوم الف لام دي دا د مضاف اليه په عوض كې دي چې الحرف دي په اصل كې تقدير د عبارت د اسې وو چې : **تقدير الحرف** .

اذ لوكان: په دې عبارت كې شارح د اسماً د قيد فائده بيانوي چې دا قيد احترازي دي په دې سره احتراز دي د فعل نه ځكه چې كه مضاف فعل وي نو بيا حرف جر ملفوظ كيدل ضروري دي مثال لكه **مررت بزيد** .

منسلخا: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي :

سوال : مجرد د اسم مفعول صيغه ده او قرينه د دې نائب فاعل دي حالانكه د مجرد اسناد تنوين طرف ته صحيح نه دي ځكه چې د مجرد اسناد اسم طرف ته كيدې شي تنوين طرف ته نه شي كيدي ځكه چې اسم معروض دي تنوين عارض دي او په دې كې قاعده دا ده چې يو څيز مسند كيږي معروض طرف ته او عارض طرف ته نه مسند كيږي .

جواب : مجرد د تجريد نه ماخوذ دي او د لته د تجريد حقيقي معنى مراد نه ده بلكه مجازي معنى مراد ده چې انسلاخ يعني زوال دي او زوال د تنوين صفت دي د اسم صفت نه دي .

او ما قام مقامه : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي :

سوال : د اضافت د وجې نه چې لكه څنگه د مضاف نه تنوين خالي كولې شي همدا رنگې چې كوم شئ د تنوين قائم مقام وي د دې نه هم مضاف خالي كولې شي نو مصنف رحمه الله ولې

ذکر نه کړو ؟

جواب : تنوینه معطوف علیه دي اومعطوف مع حرف عطف محذوف دي کوم چې **اوما قام مقامه** دي داپه اصل کې داسې وو چې **تنوینه او ما قام مقامه** .

لاجل الاضافة : په دې کې عبارت شارح په **لاجلها** کې د **ها** دضمير مرجع متعين کړي ده چې دضمير مرجع **اضافت** دي .

لان التنوين : په دې عبارت کې شارح د ذکر شوي شرط وجه بيانوي چې مضاف لره تنوين او ما يقوم مقام التنوين نه دخالي کيدو شرط يې ځکه ولږولو ځکه چې دادوه څيزونه چې کومه کلمه باندې داخل وي دهغې کلمې تاکيداو دليل وي نوداکلمه دخپل مابعد نه منقطع کيږي اواضافت داتصال تقاضا کوي اود اتصال او انفصال په مينځ کې منافات دي ددې وجې نه يې مضاف لره تنوين او دهغه څه چې قائم وي په ځاې دتنوين ددې نه دخالي کيدو شرط ولږولو چې دده دخپل مابعد مضاف اليه سره اتصال او ارتباط پيدا شي .

فلما ارادو : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : کله چې کلمه دتنوين او مايقوم مقام التنوين سره تام کيږي نو بيا تنوين اومايقوم مقام التنوين لره حذف کول شيء آخر (مضاف اليه) سره دې لره تام کيدو څه فائده ؟.

جواب : د اضافت مقصد مضاف تام کول نه دي بلکه داضافت فائده په مضاف کې تعريف ، تخصيص اوتخفيف دي .

ثم المتبادر : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : دمضاف اليه تعريف جامع نه دي په اضافت لفظيه باندې نه صادقيږي ځکه چې په دې کې حرف جر نه ملفوظ وي اونه مقدر وي .

جواب : په اضافت لفظيه کې حرف جر نه موجود کيدل دعامو نحويانو مذهب دي دمصنف رحمه الله په نزد په اضافت لفظيه کې هم حرف جر مقدر کيږي لکه څنګه چې دمصنف رحمه الله د عبارت نه ظاهريږي کوم چې په متن کې موجود دي اودمصنف رحمه الله په خپله شرح امالي کې هم داخبره صراحتاً موجود ده ځکه چې مصنف رحمه الله اضافت لفظيه اومعنويه ددواړو مقسم اضافت په تقدير دحرف جر لره جوړ کړي دي اومقسم په خپله اقسامو کې اعتبار کيږي ددې نه معلومه شوه چې اضافة لفظيه کې هم دهغوي په نزد حرف جر مقدر کيږي او

بيا هم مصنف رحمه الله دا اضافت لفظيه په بحث کې تقدير حرف جر نه دي بيان کړي چې کوم حرف جر دي نه په متن کې اونه په شرح کې اونه په نورو کتابونو کې دغه نه په دې باره کې څه منقول دي لکه څنګه چې اضافت معنويه کې تقدير حرف جر بيان کړي دي.

وقد تكلف بعضهم: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: کله چې مصنف رحمه الله تقدير حرف جر بيان نه کړو چې کوم حرف جر به مقدر وي نو دا مجهول شو معلوم نه شو چې **لام** مقدر دي يا **من** وغيره

جواب: نو په **تكلف** سره شارح جواب ورکوي چې په اضافة لفظيه کې حرف جر لره مقدر کولو دپاره بعضې نحويانو دا تکلف کړي دي چې کله صيغه صفت خپل مفعول طرف ته مضاف وي نو په دغه وخت کې به لام مقدر وي مثال **ضارب زيد** په اصل کې دا عبارت داسې وو چې **ضارب لزيد**

تقوية للعمل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: دبعضې نحويانو قول صحيح نه دي څکه چې صيغه دصفت ضارب خپل معمول طرف ته بې دواسطې نه متعدي کيږي نو لام مقدر منلو ته څه ضرورت دي؟

جواب: لام دتقدير دپاره نه دي بلکه تقويت دعمل دپاره دي اوشبه فعل متعدي تقويت په حرف جر سره جائز دي دوجې دضعف دعمل نه البته په خپله فعل متعدي تقويت په حرف جر سره جائز نه دي څکه چې هغه قوي بنفسه وي اوکله چې صيغه دصفت فاعل طرف ته مضاف وي مثال لکه **الحسن الوجه** نو **من** بيانيه مقدر وي د**من** بيانيه دمقدر کيدو وجه داده چې **جاءني زيد الحسن الوجه** کې دالوجه ذکر په منزله دتمييز دي اوپه تميز کې **من** بيانيه مذکور وي او **الوجه** په منزله دتميز څکه ده چې دزيد په حسن کې ابهام وو چې دهغه کوم څيز خائسته دي کله چې **الوجه** ذکر شو نو ابهام لرې شو ګويا دا ووېل چې **من حيث الوجه** چې زيد خائسته دي په اعتبار دمخ سره

فان قلت: شارح يو اعتراض نقل کوي اوپه **قلنا** سره ددې اعتراض جواب ورکوي

اعتراض: په **جاءني زيد الحسن الوجه** کې اضافت لفظيه دتخصيص فائده ورکوي څکه چې **الحسن** مبهم وو معلوم نه وو چې کوم څيز حسين دي کله چې **الوجه** ذکر کړو نو په دې کې

تخصیص پیدا شو یعني الحسن الوجه لا غیره لهذا دنحویانو دا وینا چې اضافت لفظیه فقط د تخفیف فائده ورکوي دا صحیح نه ده .

جواب : په قلنا سره شارح ددې اعتراض جواب ورکوي چې مونږه دا خبره نه منو چې الحسن الوجه کې داضافت دوجې نه تخصیص حاصلیږي ځکه چې په دې کې کوم تخصیص دي هغه د اضافت نه مخکې الحسن الوجه وو په دې کې تخصیص د فاعل د وجهې نه دي بیا چې کله ددې اضافت وشونو دضمیر دحذف په توسط تخفیف حاصل شو لهذا دا ویل صحیح شو چې اضافت لفظیه فقط دتخفیف فائده ورکوي .

د اضافت اقسام :

وَ هِيَ أَيِ الْإِضَافَةُ بِتَقْدِيْرِ حَرْفِ الْجَرِّ مَعْنَوِيَّةٌ أَيْ مَنْسُوْبَةٌ إِلَى الْمَعْنٰى لِأَنَّهَا تُفِيْدُ مَعْنًى
اودا یعني اضافت په تقدیر دحرف جرسره معنوي دي یعني منسوب دي معنی طرف ته ځکه دا فائده کوي معنا
فِي الْمُضَافِ تَعْرِيْفاً أَوْ تَخْصِيصاً وَ لَفْظِيَّةٌ أَيْ مَنْسُوْبَةٌ إِلَى اللَّفْظِ فَقَطْ دُوْنَ الْمَعْنٰى
په مضاف کې د تعریف او یا د تخصیص او لفظي یعني منسوب وي لفظ طرف ته فقط نه معنی طرف ته د
لِعَدَمِ سِرَايَتِهَا إِلَيْهِ فَالْمَعْنَوِيَّةُ عَلَامَتُهَا اَنْ يَّكُوْنَ الْمُضَافُ فِيْهَا غَيْرَ صِفَةٍ
وجهې د عدم سرایت ددې نه معنی طرف ته نومعنوي علامت ددې دادې چې وي مضاف په دې کې غیرصفت
كَاِسْمِ الْفَاعِلِ وَ الْمَفْعُوْلِ وَ الصِّفَةِ الْمُشَبَّهَةِ مُضَافَةٌ إِلَى مَعْمُوْلِهَا فَاعِلِهَا اَوْ مَفْعُوْلِهَا قَبْلَ
لکه اسم فاعل او اسم مفعول اوصفت مشبه چې مضاف وي خپل معمول ته فاعل ددې اویامفعول ددې مخکې
الْإِضَافَةِ سَوَاءٌ لَمْ يَكُنْ صِفَةً كَغُلَامُ زَيْدٍ اَوْ كَانَ صِفَةً وَ لٰكِنْ غَيْرَ مُضَافَةٍ إِلَى مَعْمُوْلِهَا
د اضافت نه برابره خبره ده نه چې وي صفت لکه غلام زید اویاوي صفت خولکن غیرمضاف وي معمول طرف ته
بَلْ إِلَى غَيْرِهٖ كَمُصَارِعِ مِصْرٍ وَ كَرِيْمِ الْبَلَدِ وَ احْتَرَزَ بِهٖ عَنْ نَحْوُ ضَارِبُ زَيْدٍ وَ حَسَنُ
بلکې غیر معمول طرف ته لکه مصارع مصر او کریم البلد او احتراز یې وکړو په دې سره د ضارب زید او د حسن
الْــوَجْــهِ .
الوجه مثال نه .

خلاصه دمتن : ددې ځاې نه صاحب دکافیې دخپل مذهب مطابقت اضافت په تقدیر دحرف جر سره تقسیم کوي چې ددې دوه (۲) قسمونه دي (۱) معنویه (۲) لفظیه . داضافت معنویه تعریف دادې چې مضاف داسې صیغه صفت نه وي چې خپل معمول طرف ته مضاف وي

اغراض دجامي : الاضافة: په دې عبارت سره شارح د هِيَ دضمير مرجع متعين كوي چې د ضمير مرجع اضافت په تقدير دحرف جر سره دي

منسوبة: په دې عبارت كې شارح دمعنويه وجه تسميه بيانوي په معنويه كې ياء دنسبت ده چې معنى يې ده **منسوبة الى المعنى**.

لانهاتفيد: په دې عبارت سره شارح داضافت معنويه وجه دتسميه بيانوي معنويه ته معنوي ځكه وايي چې داپه مضاف كې تعريف ياد تخصيص فائده وركوي.

اى منسوبة: په دې عبارت كې شارح داضافة لفظيه وجه دتسميه بيانوي چې په لفظيه كې هم ياء دنسبت ده معنى يې ده **منسوبة الى اللفظ** . لفظيه ته لفظيه ځكه وايي چې ددې فائده فقط په لفظ كې ظاهرېږي معنى طرف ته سرايت نه كوي يعنې صرف په لفظ كې تخفيف پيدا كوي.

علامتها: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي :

سوال : دمصنف رحمه الله قول **المعنوية** مبتدا دي او **ان يكون المضاف الخ** مصدر په تاويل دكون كې ددې خبر دي حالانكه خبر په مبتدا باندې حمل وي اودلته حمل صحيح نه دي ځكه چې اضافت معنويه دمضافٍ غير صفة نوم نه دي بلكه اضافت معنويه خو دنسبت په تقدير د حرف جرنوم دي.

جواب : **كون المضاف غير صفة** داد **المعنوية** خبر نه دي بلكه دا خبر دي دمبتدا محذوف چې **علامتها** دي مبتدا اوخبر جمله ده او خبر دي دمعنويه

فيها: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي

سوال : خبر چې كله جمله وي نو په دې كې عائد كيدل ضروري دي اودلته عائد نشته دي

جواب : دلته فيها عائد محذوف دي

كاسم الفاعل: په دې عبارت سره شارح دصيغه صفت مصداق بيانوي دصيغې صفت نه مراد اسم فاعل ، اسم مفعول ، صفت مشبه دي

فاعلاً: په دې عبارت كې دمعمول مصداق لره يې متعين كړي دي چې دمعمول مصداق فاعل اومفعول به دي

قبل الاضافة: په دې عبارت سره شارح ديوې فائدې بيان کوي چې دلته د معمول نه مراد اضافت نه مخکې معمول دي ځکه چې د اضافت نه وروستو خو هر مضاف خپل معمول طرف ته مضاف وي ځکه چې هر مضاف په خپل مضاف اليه کې عامل وي

سواء: په دې عبارت سره شارح په **غير صفة مضافاً** کې تعميم بيانوي چې **غير صفة مضافة الخ** عام دي چې مضاف يا خو د سره نه صيغه د صفت نه وي مثال لکه **غلام زيد** يا صيغه د صفت وي ليکن خپل معمول طرف ته مضاف نه وي مثال **مصارع مصر** په دې کې اګر که **مصارع** صيغه د صفت ده ليکن خپل معمول طرف ته مضاف نه ده ځکه چې **مصر** نه فاعل دي او نه مفعول به دي بلکه مفعول فيه دي او **کريم البلد** کې اګرچې صيغه د صفت ده ليکن خپل معمول طرف ته مضاف نه ده ځکه چې **البلد** نه فاعل دي او نه مفعول به دي بلکه مفعول فيه دي

واحترز به: په دې عبارت سره شارح د **غير صفة** قيد فائده بيانوي چې دا قيد احترازي دي په دې سره احتراز دي د **ضارب زيد** او **الحسن الوجه** مثال نه ځکه چې په دې دواړو ترکيبونو کې مضاف صيغه د صفت ده کومه چې خپل معمول طرف ته مضاف ده ځکه چې په **ضارب زيد** کې زيد د اضافت نه مخکې د **ضارب** مفعول دي او **الحسن الوجه** کې **الوجه** د اضافت نه مخکې د حسن فاعل دي

د اضافت معنوي اقسام:

وَ هِيَ الْإِضَافَةُ الْمَعْنَوِيَّةُ بِحُكْمِ الْإِسْتِقْرَاءِ إِمَّا بِمَعْنَى اللَّامِ فِيْمَا أَيْ فِيْ الْمُضَافِ إِلَيْهِ عَدَا جِنْسِ

او د اضافت معنوي په حکم د استقراء کې دي يا په معنی د لام سره په دې کې يعنې په مضاف اليه کې په غير د جنس

الْمُضَافِ وَ ظَرْفِهِ أَيْ لَا يَكُوْنُ صَادِقاً عَلَى الْمُضَافِ وَ غَيْرِهِ وَلَا ظَرْفاً لَهُ نَحْوُ

مضاف او د ظرف د مضاف نه يعنې نه وي صادق په مضاف او په غير مضاف او نه ظرف د مضاف اليه د پاره د لکه

غُلَامُ زَيْدٍ فَإِنَّ زَيْداً لَيْسَ جِنْساً لِلْغُلَامِ صَادِقاً عَلَيْهِ وَلَا ظَرْفَهُ فَإِضَافَةُ الْغُلَامِ إِلَيْهِ

غلام زيد ځکه زيد نه دی د جنس د غلام نه کوم چې صادق دي په زيد باندې او نه ظرف د دې د پاره د نو اضافت د غلام زيد

بِمَعْنَى اللَّامِ أَيْ غُلَامٌ لِزَيْدٍ وَ إِمَّا بِمَعْنَى مِنَ الْبَيَانِيَّةِ فِيْ جِنْسِ الْمُضَافِ الصَّادِقِ

طرف ته په معنی د لام يعنې غلام لزيد دي او هر چې په معنی د من بيانيه دي په جنس د مضاف کې چې صادقيږي په

عَلَيْهِ وَ عَلَى غَيْرِهِ بِشَرْطِ أَنْ يَكُوْنَ الْمُضَافُ أَيْضاً صَادِقاً عَلَى غَيْرِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ فَيَكُوْنُ بَيْنَهُمَا

مضاف او په غير مضاف باندې په دې شرط چې وي مضاف هم دا رنګې صادق په غير مضاف اليه نو وي به په مينځ

عُمُوْمٌ وَ خُصُوْصٌ مِنْ وَجْهٍ وَ إِمَّا بِمَعْنٰى فِيْ فِيْ ظَرْفِهٖ أَيْ ظَرْفِ الْمُضَافِ وَ

ددې دواړو کې عموم خصوص من وجه اوهرچې په معنی دفِيْ دي په ظرف ددې کې يعنې په ظرف دمضاف کې نو

الْحَاصِلُ أَنَّ الْمُضَافَ إِلَيْهِ إِمَّا مُبَايِنٌ لِلْمُضَافِ وَ حِيْنَئِذٍ إِنْ كَانَ ظَرْفًا لَهٗ فَالْإِضَافَةُ

حاصل داچې مضاف اليه به يامباين وي دمضاف دپاره نوبه دې وخت کې که وي ظرف دمضاف دپاره نواضافت

بِمَعْنٰى فِيْ وَ إِلَّا فَهِيَ بِمَعْنَى اللَّامِ وَ إِمَّا مُسَاوٍ لَهٗ كَلَيْثٍ أَسَدٍ وَ إِمَّا أَعَمُّ مُطْلَقًا

په معنی دفِيْ دي ورنه وي به په معنی دلام اويابه مساوي وي مضاف اومضاف اليه لکه ليث اواسداويابه اعم مطلق

كَأَحَدِ الْيَوْمِ فَالْإِضَافَةُ عَلَى التَّقْدِيْرَيْنِ مُمْتَنِعَةٌ وَ إِمَّا أَخَصُّ مُطْلَقًا كَيَوْمِ الْأَحَدِ وَ عِلْمِ الْفِقْهِ وَ

وي لکه احد اليوم نواضافت په دواړوتقديرونوممتنع دي اوهرچې اخص مطلق دي لکه يوم الاحد اوعلم الفقه او

شَجَرِ الْأَرَاكِ فَالْإِضَافَةُ حِيْنَئِذٍ أَيْضًا بِمَعْنَى اللَّامِ وَ إِمَّا أَخَصُّ مِنْ وَجْهٍ فَإِنْ كَانَ

شجرالاراک نواضافت په دې وخت کې همدرانګې په معنی دلام دي اويابه اخص من وجه وي نو که چيرته وي

الْمُضَافُ إِلَيْهِ أَصْلًا لِلْمُضَافِ فَالْإِضَافَةُ بِمَعْنٰى مِنْ وَ إِلَّا فَهِيَ أَيْضًا بِمَعْنَى اللَّامِ

مضاف اليه اصل دپاره دمضاف نو وي به اضافت په معنی دمِن ورنه دابه وي همدارنګې په معنی دلام سره نو

فَإِضَافَةُ خَاتَمٍ إِلٰى فِضَّةٍ بَيَانِيَّةٌ وَ إِضَافَةُ فِضَّةٍ إِلٰى خَاتَمٍ بِمَعْنَى اللَّامِ كَمَا يُقَالُ

اضافت دخاتم فضة طرف ته بيانيه دي اواضافت دفضة خاتم طرف ته په معنی دلام دي لکه څنګه چې ويلې

فِضَّةُ خَاتَمِكَ خَيْرٌ مِنْ فِضَّةِ خَاتَمِيْ وَ اعْلَمْ أَنَّهٗ لَا يَلْزَمُ فِيْمَا هُوَ بِمَعْنَى اللَّامِ أَنْ يَصِحَّ

شوي دي فضة خاتمک خير من فضة خاتمي.پوه شه چې نه دي لازم په هغه څه کې چې وي په معنی دلام چې صحيح

التَّصْرِيْحُ بِهَا بَلْ يَكْفِيْ إِفَادَةُ الْإِخْتِصَاصِ الَّذِيْ هُوَ مَدْلُوْلُ اللَّامِ فَقَوْلُكَ يَوْمُ الْأَحَدِ وَ

شي تصريح په دې سره بلکه کافي ده افاده دهغه اختصاص چې هغه مدلول دلام دي نوداقول ستايوم الاحداو

عِلْمُ الْفِقْهِ وَ شَجَرُ الْأَرَاكِ بِمَعْنَى اللَّامِ وَلَا يَصِحُّ إِظْهَارُ اللَّامِ فِيْهِ وَ لِهٰذَا قَالَ

علم الفقه اوشجرة الارک په معنی دلام دي اونه صحيح کيږي اظهارد لام په دې قول کې اوددې وجهې نه ويلي

الْمُصَنِّفُ بِمَعْنَى اللَّامِ وَ لَمْ يَقُلْ بِتَقْدِيْرِ اللَّامِ وَ بِهٰذَا الْأَصْلِ يَرْتَفِعُ الْإِشْكَالُ عَنْ كَثِيْرٍ

دي مصنف په معنی د لام سره او نه يې دي ويلي په تقدير د لام سره او په دې اصل سره پورته شو اشکال ددېرو

مِنْ مَوَادِ الْإِضَافَةِ اللَّامِيَّةِ وَلَا يَحْتَاجُ فِيْهِ إِلَى التَّكَلُّفَاتِ الْبَعِيْدَةِ مِثْلُ كُلُّ رَجُلٍ وَ كُلُّ وَاحِدٍ.

اعتراضونونه دموادودااضافت لاميه اونشته ضرورت په دې کې تکلفات بعيده ته لکه کل رجل وکل واحد

خلاصه دمتن: صاحب دکافيې په دې عبارت کې داضافت معنويه بيان کوي چې داضافت

معنويه دري (۳) قسمونه دي (۱) اضافت په معنی د لام سره (۲) اضافت په معنی د من سره

۳. اضافت په معنی د في سره . د دې دري واړو قسمونو وجه دحصر داده چې مضاف الیه مضف دپاره به یا جنس وي اویابه دمضاف دپاره ظرف وي اویا به د دې دواړو نه هیڅ هم نه وي . (۱) که مضاف الیه دمضاف دپاره جنس نه وي اوظرف هم نه وي نو اضافت په معنی دلام دي مثال لکه غلام زید ، (۲) اوکه مضاف الیه دمضاف دپاره جنس وي نو اضافت په معنی دمن دي مثال لکه خاتم فضة ، (۳) اوکه مضاف الیه دمضاف دپاره ظرف وي نو اضافت په معنی د في دي مثال لکه ضرب الیوم

اغراض دجامي : اي الاضافة: په دې عبارت کې شارح د هُوَ ضمیر مرجع متعین کړه چې د ضمیر مرجع اضافت معنویه ده .

بحکم الاستقراء : په دې عبارت سره شارح دفائدې په شکل یو وضاحت کوي چې اضافت معنویه په دې دري (۳) واړو قسمونو کې حصر ، حصر استقرائي دي یعنې تلاش او دتتبع نه وروستو مونږ ته دغه اقسام ملاو شو داحصر عقلي نه دي ، بلکه دا حصر استقرائي دي .

في المضاف الیه : په دې عبارت کې شارح د ما مصداق متعین کوي چې د ما مصداق مضاف الیه دي

لا یکون صادقا : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : په غلام زید کې اضافت لامي دي حالانکه په دې کې مضاف الیه دمضاف جنس دي ځکه چې غلام او زید دواړه حیوان ناطق دي نو ددواړو جنس یو دي .

جواب : مضاف الیه دمضاف دجنس نه دکیدو مطلب اومقصد دادې چې مضاف الیه مضاف او غیر مضاف دواړو باندې صادق راځي اوپه غلام زید کې زید مضاف اوغیر مضاف باندې صادق نه دي بلکه صرف مضاف په غلام باندې صادق دي ځکه چې په دې کې اضافت په معنی دلام دي

البیانیة : په دې عبارت کې شارح د من وضاحت کوي چې من بیانیه دي .

الصادق علیه : داد جنس صفت کاشفه دي اودجنس نه مراد دادې چې مضاف الیه مضاف او په غیر مضاف باندې صادق وي

بشرط ان : په دې عبارت سره شارح داضافت بیانیه یو شرط بیانوي چې داضافت بیانیه دپاره

صرف داخبره کافي نه ده چې مضاف اليه مضاف باندې هم صادق وي اوغير مضاف باندې هم صادق وي بلکه داضروري ده چې مضاف هم داسې وي چې مضاف اوغير مضاف باندې صادق وي بعنې مضاف اومضاف اليه کې عموم اوخصوص من وجه نسبت وي.

اى ظرف المضاف: په دې عبارت سره شارح په ظرفه کې د هٔ ضمير مرجع متعين کړه چې د ضمير مرجع مضاف دي

والحاصل: په متن کې اختصار وو شارح په والحاصل سره داضافت بحث په تفصيل سره بيانوي چې مضاف اومضاف اليه په مينځ کې ټول ممکنه احتمالات لره ذکر کړه ددې حکم بيانوي چې مضاف اليه دپنځه (۵) حالاتو نه به خالي نه وي. يا به مضاف اليه دمضاف مبائن وي. يابه مساوي وي. يا به اعم مطلق وي. يا به اخص مطلق وي اويا به اعم او اخص من وجه وي، که مضاف اليه دمضاف مبائن وي (يعنې په دواړو کې دتبائن نسبت وي) نو دا به ددوه (۲) حالونو نه خالي نه وي مضاف اليه به دمضاف دپاره ظرف وي، اويا به مضاف اليه دمضاف د پاره ظرف نه وي. (۱) که مضاف اليه دمضاف دپاره ظرف وي نو دا اضافت به په معنى د في وي چې دې ته اضافت ظرفيه ويلي شي، (۲) اوکه مضاف اليه دمضاف دپاره ظرف نه وي نو اضافت به په معنى د لام وي چې دې ته اضافت لاميه ويلي شي، (۳) که مضاف اليه د مضاف سره مساوي وي يعنې په دواړو کې د تساوي او مساوآت نسبت وي مثال لکه ليث او اسد (۴) او يابه مضاف اليه دمضاف نه اعم مطلق وي لکه احد اليوم په دې دواړو صورتونو کې اضافت جائز نه دي ځکه چې ددې اضافت په معنوي طور باندې څه فائده نه وي. (۵) اوکه مضاف اليه دمضاف نه اخص مطلق وي (يعنې په دواړو کې عموم خصوص مطلق نسبت وي) مثال لکه يوم الاحد وعلم الفقه وشجر الاراک نو دا اضافت به په معنى دلام سره وي (۲) او که مضاف اليه دمضاف نه اعم اخص من وجه وي (يعنې په دواړو کې عموم خصوص من وجه نسبت وي) نو دابه هم ددوه (۲) حالونو نه خالي نه وي. مضاف اليه به دمضاف دپاره اصل اوماده وي. اويا به ددې برعکس اومخالف وي (۷) که مضاف اليه دمضاف دپاره اصل وي نو اضافت به په معنى دمن سره وي چې دې ته اضافت بيانيه هم وايي مثال لکه خاتم فضة. (۸) که مضاف د مضاف اليه دپاره اصل وي نو اضافت به په معنى د لام سره وي چې دې اضافت ته اضافت لاميه هم وايي مثال لکه فضة خاتمک خير من فضة خاتمي.

واعلم: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي

سوال: اضافت په معنى دلام به هله صحيح وي چيرته چې لام ظاهرول اوددې تصريح كول صحيح وي اوچيرته چې لام ظاهرول صحيح نه وي هلته به اضافت په معنى دلام سره نه وي لهذا كل رجل اوكل واحدٍ كې اضافت په معنى دلام نه دي په كار ځكه چې دلته لام ظاهرول صحيح نه دي داسې نه شي ويلې كل لرجل كل لواحدٍ حالانكه نحوي حضرات په دې كې اضافت لاميه ته صحيح وايي

جواب: اضافت په معنى دلام دپاره ضروري نه دي چې دلام تصريح صحيح وي بلكه اضافت په معنى دلام دپاره ضروري ده چې هغه داختصاص فائده وركوي كوم چې د لام مدلول دي او په كل رجل او كل واحد كې فائده د اختصاص حاصليږي ددې وجې نه دلته اضافت لامي صحيح دي

فقولک: په دې عبارت سره شارح دتير شوي مضمون دتاكيد دپاره نور استشهادات اودلائل پيش كوي چې اضافت په معنى دلام دصحت دپاره دلام تصريح ضروري نه ده بلكه افادهٔ د اختصاص ضروري ده دغه وجه ده چې په يوم الاحد علم الفقه شجر الاراک كې اضافت په معنى د لام دي حالانكه په دې كې لام ظاهرول صحيح نه دي ځكه چې مصنف رحمه الله بمعنى اللام ويلې بتقدير اللام يې ونه ويل كه بتقدير اللام يې ويلې وي نوذكر شوي اعتراض واريدو چې كل رجل او كل واحد . وغيره كې اضافت په معنى د لام دي حالانكه په دې كې د لام تقدير جائز نه دي

وبهذا الاصل يرتفع الاشكال: په دې عبارت سره شارح مزيد وضاحت كوي كه دا اصل اوقاعده مخې ته كيخودې شي نو داضافت لاميه په باره كې ډير اشكال رفع كيږي مثلاً علم الفقه اوكل واحد وغيره ځكه چې اضافت په معنى دلام دصحت دپاره داضروري نه ده چې لام ظاهرول دې صحيح وي بلكه افاده داختصاص چې دلام مدلول دي هغه موندل ضروري وي لهذا دې امثله لره دصحيح كولودپاره اوس دې تكلفاتو طرف ته احتياج اوضرورت نشته دي چې ددې بعضې شارحينو ارتكاب كړي دي مثلاً بعضې شارحينو ويلي دي چې په دې مثالونو كې لام ظاهرول صحيح دي مثال لكه د كل رجل تقدير كل فرد لرجل دي يعنې كل فرد ثابت لرجل وغيره.

د في د اضافت د استعمال قلیل بیان :

وَ هُوَ أَيْ كَوْنِ الْإِضَافَةِ بِمَعْنٰى فِيْ قَلِيْلٌ فِيْ اِسْتِعْمَالَاتِهِمْ وَ رَدَّهَا اَكْثَرُ النُّحَاةِ إِلَى الْإِضَافَةِ بِمَعْنٰى
او دا یعني کیدل د اضافت په معنی د في کم دي په استعمال د عربو کې او راجع کړې اکثرو نحاتو اضافت په معنی
اللَّامِ فَإِنَّ مَعْنٰى ضَرْبُ الْيَوْمِ ضَرْبٌ لَهُ اِخْتِصَاصٌ بِالْيَوْمِ بِمُلَابَسَةِ الْوُقُوْعِ فِيْهِ
د لام طرف ته ځکه معنی د ضرب الیوم ضرب له اختصاص بالیوم د ده دوجهې د ملابست د وقوع د ضرب نه په یوم کې
فَإِنْ قُلْتَ فَعَلٰى هٰذَا يُمْكِنُ رَدُّ الْإِضَافَةِ بِمَعْنٰى مِنْ أَيْضاً إِلَى الْإِضَافَةِ بِمَعْنٰى
که چیرته ته ووایې چې بنا په دې چې ممکن دي رد کول د اضافت معنی د من ته هم دا رنګې اضافت ته په معنی
اللَّامِ لِلْاِخْتِصَاصِ الْوَاقِعِ بَيْنَ الْمُبَيَّنِ وَ الْمُبَيِّنِ قُلْنَا نَعَمْ لٰكِنْ لِمَا كَانَتِ
د لام د پاره د اختصاص چې واقع دي په مینځ د مبین او د مبیَن کې مونږ وایو چې صحیح ده لکن هر کله چې وو
الْإِضَافَةُ بِمَعْنٰى فِيْ قَلِيْلاً رَدُّوْهَا إِلَى الْإِضَافَةِ بِمَعْنَى اللَّامِ تَقْلِيْلاً لِلْاَقْسَامِ وَ اَمَّا الْإِضَافَةُ
اضافت په معنی د في کم نو راجع یې کړو اضافت معنی د لام طرف ته د وجهې د کم والي د اقسامو او هر چې اضافت
بِمَعْنٰى مِنْ فَهِيَ كَثِيْرَةٌ فِيْ كَلَامِهِمْ فَالْاَوْلٰى بِهَا اَنْ تُجْعَلَ قِسْماً عَلٰى حِدَةٍ نَحْوُ غُلَامُ
په معنی د في دي نو دا ډیر دي په کلام د عربو کې نو اولی په دې سره دا ده چې وګرځول شي دا یو قسم جدا لکه غلام
زَيْدٍ مِثَالٌ لِلْإِضَافَةِ بِمَعْنَى اللَّامِ أَيْ غُلَامٌ لِزَيْدٍ وَ خَاتَمُ فِضَّةٍ مِثَالٌ لِلْإِضَافَةِ بِمَعْنٰى
زید دا مثال دي د پاره د اضافت په معنی د لام یعني غلام لزید او خاتم فضة دا مثال دي د پاره د اضافت په معنی د
مِنْ أَيْ خَاتَمٌ مِنْ فِضَّةٍ وَضَرْبُ الْيَوْمِ مِثَالٌ لِلْإِضَافَةِ بِمَعْنٰى فِيْ أَيْ ضَرْبٌ وَاقِعٌ فِي الْيَوْمِ .
من یعني خاتم من فضة او ضرب الیوم د امثال دي د پاره د اضافت په معنی د في یعني ضرب واقع في الیوم .

خلاصه د متن : صاحب د کافیه په دې عبارت کې دا بیانوي چې د اضافت معنویه د دري (۳) قسمونو نه اضافت په معنی **في** سره په استعمال کې قلیل دي په دې بناء باندې بعضې نحویانو دې قسم اضافت **بمعنی لام** طرف ته واپس کول د اضافت معنویه دوه (۲) قسمونه جوړ کړي دي د دې نه وروستو ماتن د معنویه د دري (۳) قسمونو مثالونه ورکړي دي **غلام زید** دا د اضافت لامي مثال دي په اصل کې دا **غلام لزید** وو او **خاتم فضة** دا د اضافت په معنی د **من** مثال دي په اصل کې دا **خاتم من فضة** وو او **ضرب الیوم** اضافت دا اضافت په معنی د **في** مثال دي یعني **ضرب واقع في الیوم** .

اغراض د جامي : کون الاضافة : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب

ر کول دي

سوال : ضمير اوددې په مرجع کې مطابقت نشته دي ځکه چې ضمير مفرد مذکر دي او اضافت مؤنث دي حالانکه دراجع اودمرجع په مينځ کې مطابقت ضروري دي .

جواب : دضمير مرجع اضافته نه دي بلکه کون الاضافة دي اوکون مذکر دي لهذا دراجع او مرجع په مينځ کې مطابقت پيدا شو .

__في استعمالاتهم__ : په دې عبارت سره شارح د قابل دصلې بيان کوي .

__اکثر النحاة__ : په دې عبارت سره شارح داضافه په معنى دفي دکم واقع کيدو وضاحت کوي چې اکثرو نحويانو اضافت په معنى دفي لره اضافت په معنى دلام طرف ته واپس کړي دي ځکه چې اضافت لامي نه مقصود اومفاداختصاص دي اوهغه په اضافت په معنى دفي کې موندلي شي ځکه چې دضرب اليوم معنى ده ضرب له اختصاص باليوم ځکه چې ضرب په يوم کې واقع دي .

__فان قلت__ : په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي اوپه قلنا سره ددې اعتراض جواب ورکوي :

اعتراض : لکه څنګه چې اضافت په معنى دفي کې داضافت لاميه مقصود چې اختصاص دي موندلي شي همدارنګې اضافت په معنى دمن کې هم داضافت لاميه مقصود اومفاد اختصاص موندلې کيږي ځکه چې په اضافت بيانيه کې مضاف مبين (اسم فاعل) او مضاف اليه مبين (اسم مفعول) دي اومبين اومبين کې اختصاص وي نو مناسب دادې چې اضافت په معنى دمن لره هم اضافت په معنى دلام طرف ته واپس کړي وي ځکه چې داضافت معنويه اقسام قليل نه اقل به شي داسې يې ولې ونه کړه ؟ .

جواب : شارح په قلنا سره ددې جواب ورکوي چې مونږ منو چې اضافت په معنى دمن کې هم د اختصاص معنى موندلې کيږي لېکن اضافت په معنى دفي سره قليل دي نو دکمو اقسامو په خاطر اضافت په معنى دفي لره اضافت په معنى دلام طرف ته واپس کړو ليکن اضافت په معنى د من کثير الاستعمال دي لهذا دې دپاره اولى اومناسب داده چې دې لره خان مستقل قسم جوړ کړې شي دچاتابع دې نه کړې شي .

__مثال للاضافة بمعنى اللام__ : په دې عبارت سره شارح دجامي دممثل له تعين کوي غلام زيد دا

اضافت په معنی د لام مثال دي په اصل کې دا غلام لزيد وو . خاتم فضة دا د اضافت په معنی د من مثال دي دا په اصل کې خاتم من فضة وو ، ضرب اليوم دا د اضافت په معنی د في مثال دي په اصل کې دا ضرب واقع في اليوم وو.

د اضافت معنوي فوائد :

وَ تُفِيْدُ أَيِ الْإِضَافَةُ الْمَعْنَوِيَّةُ تَعْرِيْفاً أَيْ تَعْرِيْفَ الْمُضَافِ مَعَ الْمُضَافِ إِلَيْهِ الْمَعْرِفَةِ لِأَنَّ الْهَيْئَةَ التَّرْكِيْبِيَّةَ
او فائده ورکوي يعني اضافت معنوي د تعريف يعني د تعريف د مضاف مضاف اليه معرفې سره ځکه هيئت ترکيبه
فِي الْإِضَافَةِ الْمَعْنَوِيَّةِ مَوْضُوْعَةٌ لِلدَّلَالَةِ عَلَى مَعْلُوْمِيَّةِ الْمُضَافِ لَا أَنَّ نِسْبَةَ أَمْرٍ إِلَى مُعَيَّنٍ يَسْتَلْزِمُ
په اضافت معنوي کې وضع شوي د پاره د دلالت په معلوميت د مضاف نه دا چې نسبت د امر معين مستلزم دي
مَعْلُوْمِيَّةَ الْمَنْسُوْبِ وَ مَعْهُوْدِيَّتَهُ فَإِنَّ ذٰلِكَ غَيْرُ لَازِمٍ كَمَا لَا يَخْفٰى فَإِنْ قُلْتَ قَدْ
معلوميت د منسوب او معهوديت ته ځکه دا غير لازم دي لکه څنګه چې دا پټه نه ده بيا که ته وواييې چې کله
يُقَالُ جَاءَنِيْ غُلَامُ زَيْدٍ مِنْ غَيْرِ إِشَارَةٍ إِلَى وَاحِدٍ مُعَيَّنٍ فَلَا يَكُوْنُ هَيْأَةُ التَّرْكِيْبِ الْإِضَافِيِّ مَوْضُوْعَةً لِمَعْلُوْمِيَّةِ
ويل کيږي جاءني غلام زيد په غير د اشارې نه يو معين ته نو نه وي هيئت د ترکيب اضافي موضوع د پاره د معلوميت د
الْمُضَافِ قُلْنَا ذٰلِكَ كَمَا أَنَّ الْمُعَرَّفَ بِاللَّامِ فِيْ أَصْلِ الْوَضْعِ لِمُعَيَّنٍ ثُمَّ قَدْ يُسْتَعْمَلُ
مضاف مونږ وايو چې دا لکه څنګه چې معرف باللام په اصل وضع کې د معين د پاره دي بيا کله کله استعماليږي
بِلَا إِشَارَةٍ إِلَى مُعَيَّنٍ كَمَا فِيْ قَوْلِهِ ع وَ لَقَدْ أَمُرُّ عَلَى اللَّئِيْمِ يَسُبُّنِيْ وَ ذٰلِكَ عَلَى خِلَافِ وَضْعِهِ وَ لَيْسَ يَجْرِيْ
بې د اشارې نه معين ته لکه په دې قول د قائل کې ولقد امر على اللئيم يسبني او دا په خلاف د وضع د دې کې او نه جاري
هٰذَا الْحُكْمُ فِيْ نَحْوِ غَيْرٍ وَ مِثْلٍ فَإِنَّ إِضَافَتَهُمَا لَا تُفِيْدُ التَّعْرِيْفَ وَ إِنْ كَانَ مَعَ
کيږي دا حکم په په شان د غير او د مثل ځکه اضافت د دې دواړو فائده نه ورکوي د تعريف او که چېرته وي سره د
الْمُضَافِ إِلَيْهِ الْمَعْرِفَةِ لِتَوَغُّلِهِمَا فِي الْإِبْهَامِ إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ لِلْمُضَافِ إِلَيْهِ ضِدٌّ وَاحِدٌ
مضاف اليه معرفه د وجهې د شدت د دې دواړو نه په ابهام کې مګر که چېرته وي د مضاف اليه د پاره يو ضد چې
يُعْرَفُ بِغَيْرِيَّتِهِ كَقَوْلِكَ عَلَيْكَ بِالْحَرَكَةِ غَيْرِ السُّكُوْنِ وَ كَذٰلِكَ إِذَا كَانَ لِلْمُضَافِ
پېژندل کيږي د دې په غيريت سره لکه دا قول عليک بالحرکة غير السکون او همدا رنګې چې کله وي د پاره د مضاف
إِلَيْهِ مِثْلٌ اشْتَهَرَ بِمُمَاثَلَتِهِ فِيْ شَيْءٍ مِنَ الْأَشْيَاءِ كَالْعِلْمِ وَ الشُّجَاعَةِ فَقِيْلَ لَهُ جَاءَ
اليه مثال چې مشهور وي په مماثلت د دې سره په يو څيز کې د اشياو نه لکه علم او شجاعت نو ويلې شي د وي ته جاء
مِثْلُكَ كَانَ مَعْرِفَةً إِذَا قُصِدَ الَّذِيْ يُمَاثِلُهُ فِي الشَّيْءِ الْفُلَانِيِّ وَ تُفِيْدُ الْإِضَافَةُ
مثلک نو وي به دا معرفه چې کله قصد وکړې شي د هغه چې مماثل وي په فلاني څيز کې او فائده ورکوي اضافت

الْمَعْنَوِيَّةُ تَخْصِيصاً أَيْ تَخْصِيصَ الْمُضَافِ مَعَ الْمُضَافِ إِلَيْهِ النَّكِرَةِ نَحْوُ غُلاَمُ رَجُلٍ فَإِنَّ التَّخْصِيصَ تَقْلِيلُ
معنوي د تخصيص يعني د تخصيص د مضاف مضاف اليه سره د نکرې لکه غلام رجل ځکه تخصيص دا تقليل د
الشُّرَكَاءِ وَلاَ شَكَّ أَنَّ الْغُلاَمَ قَبْلَ إِضَافَتِهِ إِلَى رَجُلٍ كَانَ مُشْتَرِكاً بَيْنَ غُلاَمِ رَجُلٍ
شرکاو دي او شک نشته په دې کې چې غلام مخکې د اضافت د دې نه رجل ته دا مشترک وو په مينځ د غلام رجل
وَ غُلاَمُ إِمْرَأَةٍ فَلَمَّا أُضِيفُ إِلَى رَجُلٍ خَرَجَ عَنْهُ غُلاَمُ إِمْرَأَةٍ وَ قَلَّتِ الشُّرَكَاءُ فِيهِ.
او د غلام امرأة نو هر کله چې يې اضافت وشو رجل ته نو خارج شو د دې نه غلام امرأة او کم شو شرکاء په دې کې

خلاصه د متن: صاحب د کافيې وايي چې د اضافت معنويه دوه (۲) فائدې دي: (۱) د مضاف تعريف. (۲) د مضاف تخصيص. کله چې مضاف اليه معرفه وي نو اضافت معنويه مضاف د تعريف فائده ورکوي مثال غلام زيد او کله چې مضاف اليه نکره وي نو د مضاف تخصيص فائده ورکوي لکه غلام رجل.

اغراض د جامي: اى الاضافة المعنوية: په دې عبارت سره شارح د تفيد د ضمير مرجع متعين کړه چې د ضمير مرجع اضافت معنويه ده.

تعريف المضاف: په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چې په **تعريفاً** باندې تنوين د مضاف اليه په عوض کې دي.

المضاف اليه: په دې عبارت سره شارح اشاره کوي چې **المعرفة** صفت دي د موصوف محذوف چې **المضاف اليه** دي.

لان الهيأة: په دې عبارت سره د اضافت معنويه د تعريف د فائدې ورکولو وجه بيانوي چې کله مضاف اليه معرفه وي نو د اضافت معنويه هيئت ترکيبيه د مضاف معلوميت باندې دلالت کولو د پاره وضع کړې شوي دي ځکه چې د مضاف اليه تعريف او معلوميت مضاف طرف ته سرايت کوي ځکه چې د دواړو په مينځ کې قوي اتصال او ارتباط لفظي موجود دي ګويا چې دا په منزله د کلمې واحدې ده ځکه چې مضاف به هم معرفه جوړ شي.

لا ان نسبة: په دې عبارت سره شارح د جامي په فاضل هندي رحمه الله باندې رد کوي، فاضل هندي رحمه الله اضافتِ معنويه مضاف د تعريف فائدې ورکولو علت او وجه دا بيان کړې ده چې د يو څيز څه معين څيز طرف ته اسناد کول دا منسوب کول معلوميت او معهوديت ته مستلزم دي ليکن شارح رحمه الله د دې رد کړې دي ځکه چې **اسناد الى امر معين** دا څيز منسوب

معلوميت ته مستلزم نه دي ځکه چې ډير کله نسبت يو امر معين طرف ته کيږي ليکن منسوب معرفه نه شي کيدي مثلاً دخبر اسناد مبتدا طرف ته کيږي چې امر معين دي ليکن دا نسبت دخبر تعريف ته مستلزم نه دي همدارنګې په اضافت لفظيه کې هم نسبت امر معين طرف ته کيږي مثلاً **ضارب زيد** ليکن دا تعريف ته مستلزم نه دي نه چې **اسناد الى امر معين** طرف ته .

فـان قلت: پـه دې عبـارت سـره شـارح يـو اعتـراض کـوي او پـه **قلنـا** سـره ددې اعتـراض جـواب ورکوي

اعتراض: کله چې واحد معين طرف ته داشارې کولو نه په غير لکه **جاءني غلام زيد** وويل شي نو په دې کې **زيد** مضاف اليه معرفه ده اوهيئت ترکيبيه موجود دي ددې باوجود د مضاف تعريف حاصل نه شو نو داقول صحيح نه شو چې داضافت معنويه هيئت ترکيبيه دمضاف معلوميت اومعهوديت طرف ته مستلزم دي .

جواب: په **قلنا** سره شارح ددې اعتراض جواب ورکوي چې دجواب حاصل دادې چې زمونږ بحث په وضع کې دي په استعمال کې نه دي اوپه ذکر شوي مثال کې **غلام** نکره پاتې کيدل او معرفه نه جوړيدل عارضِ استعمال دوجې نه دي شارح ددې مثال پيش کوي لکه الْ دا تعريف دپاره موضوع دي ليکن کله چې څه معين اشاره کولو نه په غير مستعمل شي نو ددې مدخول نکره ګرځي او مفيد د تعريف نه شي کيدې نو دا صرف دعارض داستعمال دوجې نه کيږي او خلاف وضع کيږي لکه څنګه چې دحضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قول دي **ولقد امر على اللئيم يسبني** (او زه ديـو کمينـه پـه خـوا تيرشـوم نـو هغـه ماتـه کنځلـې کـولې) ، نـو پـه دې کـې **اللئيم** باندې لام دتعريف فائده نه ورکوي ځکه چې **اللئيم** موصوف دي او **يسبني** جمله فعليه ددې خبر دي او جمله دنکرې صفت جوړيدې شي د معرفې صفت نه شي جوړيدې ددې نه معلومه شوه چې د **اللئيم** باندې لام دتعريف دپاره نه دي ، دويم مثال په قرآن مجيد کې الله تعالى فرمايلي دي **کمثل الحمار يحمل اسفاراً** . په دې آيت کې **الحمار** دمعرف باللام کيدو باوجود نکره ده ځکه چې **يحمل** جمله فعليه ددې صفت نکره ده .

وليس يجري: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: دمصنف رحمه الله دا وينا چې اضافت معنويه دمضاف تعريف فائده ورکوي دا

منقوض دي په لفظ د مثل او غير سره كوم مثل چې زيد او غير زيد كې واقع دي ځكه چې دا معرفه نه ده باوجود ددې چې په دې كې اضافت معنويه دي اومضاف اليه معرفه هم ده .

جواب : دجواب حاصل دادې چې لفظ دغير اومثل دذكر شوې قاعدې نه مستثنی دي دا دواړه اگر چې معرفې طرف ته مضاف وي نو بيا هم په دې كې تعريف متحقق نه وي ځكه چې دا دواړه متوغل في الابهام دي يعنې په دې كې ابهام ډير زيات عميق دي البته كله چې د غير مضاف اليه داسې اسم وي چې دهغې فقط يو ضد وي كوم چې دمضاف اليه غيريت سره مشهور وي نو په داسې صورت كې لفظ دمثل او غير داضافت دوجې نه معرفه جوړيږي مثال لكه عليك بالحركة غير السكون په دې كې لفظ دغير مضاف اليه يعنې دسكون فقط يو ضد دي يعنې حركت اوداد سكون غيريت سره مشهور دي ددې وجې نه لفظ غير معرفه جوړ شو .

وكذلك : په دې عبارت سره شارح دلفظ مثل وضاحت كوي چې كله دمثل دلفظ اضافت داسې مضاف اليه طرف ته وي چې دهغې يو داسې مثل وي چې ددې سره په مماثلت اومشابهت كې هغه مشهور اومعروف وي مثلاً علم وشجاعت نو په داسې صورت كې اضافت معنويه دمضاف دتعريف فائده وركوي مثلاً امام ابوحنيفه رحمه الله اوامام ابويوسف رحمه الله ددې مماثلت اوصفت په علم كې مشهور دي كه امام ابوحنيفه رحمه الله ته وويل شي جاءني مثلك او لفظ مثل نه مراد هغه سړي واخستې شي كوم چې امام صاحب سره په صفت دعلم كې مماثل وي نو مثل معرفه جوړيږي ، همدارنگې حضرت علي رضي الله عنه ته وويل شي چې جاءني مثلك او د لفظ مثل نه هغه سړي مراد واخستې شي كوم چې دحضرت علي رضي الله عنه په وصف دشجاعت كې مماثل اومشابه وي نو لفظ دمثل معرفه جوړيږي همدارنگې حاتم طائي ته وويل شي چې جاءني مثلك ، اولفظ دمثل نه هغه سړي مراد واخستې شي كوم چې په صفت دجود اوسخا كې دحاتم طائي سره مماثل اومشابه وي نو لفظ د مثل معرفه جوړيږي .

وتفيد الاضافة المعنوية : په دې عبارت سره شارح اشاره كوي چې دتخصيصاً عطف په تعريفاً باندې دي

تخصيص المضاف : په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې په تخصيصاً باندې چې كوم تنوين دي دا د مضاف اليه محذوف په عوض كې دي په اصل كې عبارت تخصيص المضاف وو

المضاف اليه . په دې عبارت كې شارح دابيانوي چې النكرة صفت دي د موصوف محذوف چې

مضاف الیه دي.

نحو غلام رجل: په دې عبارت سره شارح مثال په ممثل له باندې تطبیق کوي مثال لکه غلام رجل په دې کې مضاف الیه نکره ده ځکه چې په مضاف کې تخصیص راځي ځکه چې تخصیص نوم دي د **تقلیل الاشتراک** یعنې د کم اشتراک او غلام رجل طرف ته د اضافت نه مخکې عام وو سړي او ښځې دواړو ته غلام شامل وو کله چې د دې اضافت رجل طرف ته وشو نو د دې نه غلام آمرأة یعنې ښځه غلامه ترې خارجه شوه نو په دې سره اشتراک کم شو لهذا په دې کې تخصیص پیدا شو

د اضافت معنوي شرائط:

وَ شَرْطُهَا أَيْ شَرْطُ الْإِضَافَةِ الْمَعْنَوِيَّةِ تَجْرِيْدُ الْمُضَافِ إِذَا كَانَ مَعْرِفَةً مِنَ التَّعْرِيْفِ فَإِنْ كَانَ ذَا اللَّامِ
او شرط د دې یعنې شرط د اضافت معنوي تجرید د مضاف دي چې کله وي معرفه د تعریف نه که چیرته ذو لام وي
حُذِفَ لَامُهُ وَ إِنْ كَانَ عِلْماً نُكِّرَ بِأَنْ يُجْعَلَ وَاحِداً مِنَ
نو حذف کولې به شي لام د دې او که چیرته علم وي نو نکره کولې به شي په دې طریقې چې وګرځول شي یو د دې
جُمْلَةِ مَنْ سُمِّيَ بِذٰلِكَ الْإِسْمِ وَ إِنْ لَمْ يَكُنْ مَعْرِفَةً فَلَا حَاجَةَ إِلَى التَّجْرِيْدِ بَلْ لَا يُمْكِنُ
جملې موسوم نه په دې اسم سره او که چیرته معرفه نه وي نو نشته ضرورت تجرید ته بلکې ممکن نه دي تجرید
وَ الْمُرَادُ بِالتَّجْرِيْدِ تَجَرُّدُهُ وَ خُلُوُّهُ مِنَ التَّعْرِيْفِ عِنْدَ الْإِضَافَةِ سَوَاءٌ كَانَ نَكِرَةً فِيْ
د دې او مراد په تجرید سره تجرد او خالي والي دي د تعریف نه په وخت د اضافت کې برابره خبره ده که وي نکره په
نَفْسِهِ مِنْ غَيْرِ تَجْرِيْدٍ أَوْ كَانَ مَعْرِفَةً جُرِّدَتْ عَنِ التَّعْرِيْفِ وَ إِنَّمَا يَجِبُ التَّجْرِيْدُ لِأَنَّ
خپله په غیر د تجرید نه او یا وي معرفه چې خالي شوې وي د تعریف نه او په تحقیق سره واجب دي تجرید ځکه
الْمَعْرِفَةَ لَوْ أُضِيْفَتْ إِلَى النَّكِرَةِ لَكَانَ طَلَباً لِلْأَدْنٰى وَ هُوَ التَّخْصِيْصُ مَعَ حُصُوْلِ الْأَعْلٰى وَ
معرفه که چیرته اضافت و شي نکرې ته نو وي به طلب د ادنی نه او دا تخصیص دي سره د حصول د اعلی نه او
هُوَ التَّعْرِيْفُ وَ لَوْ أُضِيْفَتْ إِلَى الْمَعْرِفَةِ لَكَانَ تَحْصِيْلُ الْحَاصِلِ فَتَضِيْعُ الْإِضَافَةُ
هغه تعریف دي او که چیرته یې اضافت و شي معرفې ته نو وي به تحصیل د حاصل نو ضائع به وي اضافت په
حَيْثُ لَا تُفِيْدُ تَعْرِيْفًا وَلَا تَخْصِيْصاً فَإِنْ قِيْلَ لَا فَرْقَ بَيْنَ إِضَافَةِ
داسې شان چې فائده به نه ورکوي د تعریف او نه د تخصیص بیا که وویلې شي چې نشته فرق په مینځ د اضافت
الْمَعْرِفَةِ وَبَيْنَ جَعْلِهَا عِلْمًا فِيْ نَحْوِ النَّجْمِ وَ الثُّرَيَّا وَ الصَّعْقُ وَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِيْ لُزُوْمِ تَعْرِيْفِ الْمُعَرَّفِ
د معرفې او په مینځ د ګرځولو د دې کې عَلَم په النجم والثریا والصعق وابن عباس مثال کې په لزوم د تعریف د معرف

فَمَا بَالُهُمْ جَوَّزُوْا هٰذَا دُوْنَ ذٰلِکَ قِيْلَ لَا نُسَلِّمُ اَنَّ فِيْ هٰذِهِ الْاَمْثِلَةِ تَعْرِيْفَ الْمُعَرَّفِ بَلْ فِيْهَا

کې نو دوي جائز کړي دا نو ویل شوي دي چې مونږ نه منو چې په دې مثالونو کې تعریف دمعرف دي بلکې په دې

زَوَالُ تَعْرِيْفٍ وَ هُوَ التَّعْرِيْفُ الْحَاصِلُ بِاللَّامِ اَوِ الْاِضَافَةِ وَ حُصُوْلُ تَعْرِيْفٍ آخَرَ وَ هُوَ

کې زوال د تعریف دي او هغه تعریف چې حاصل دي په لام سره او یا اضافت سره او حصول د بل تعریف او هغه

التَّعْرِيْفُ بِالْعِلْمِيَّةِ فَاِنَّهَا حِيْنَ صَارَتْ اَعْلَامًا لَمْ يَبْقَ فِيْهَا الْاِشَارَةُ اِلٰى مَعْلُوْمِيَّتِهَا بِاللَّامِ اَوِ

... بالعلمیت دي نو هر کله چې دا وګرځول اعلام نو باقي پاتې نه شو په دې اشاره د دې معلومیت باللام نه او

الْاِضَافَةِ فَلَا يَلْزَمُ فِيْهَا تَعْرِيْفُ الْمُعَرَّفِ بَلْ تَبْدِيْلُ تَعْرِيْفٍ بِتَعْرِيْفٍ آخَرَ.

... ته نو نه دي لازم په دې کې تعریف دمعرف بلکې بدلول دیو تعریف په بل تعریف سره.

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب دکافیې داضافت معنویه شرط بیانوي چې مضاف لره دتعریف نه خالي کړې شوي وي که مضاف دتعریف نه خالي شوي نه وي بلکه دا د مخکې نه معرفه ده نو ددې اضافت صحیح نه دي.

اغراض دجامي : شرط الاضافة: په دې عبارت کې شارح د **هاء** دضمیر مرجع متعین کوي چې د ضمیر مرجع اضافة معنویه دي

اذا کان معرفة: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ور کول دي

سوال : مضاف دتعریف نه خالي کول دا ددې خبرې تقاضا کوي چې دمخکې نه تعریف موجود وي لهذا چیرته چې د شروع نه تعریف نه وي لکه **غلام رجل** نو په دې کې داضافت معنویه شرط نه شي موندلې نو اضافت معنویه متحقق نه شوه ځکه چې قاعده ده چې **اذا فات الشرط فات المشروط** کله چې شرط فوت اوختم شي نو مشروط هم فوت کیږي او ختمیږي حالانکه په دې کې اضافت معنویه موجود دي

جواب : شارح ددې دوه جوابونه ور کوي

جواب (۱) : دا شرط مطلقا نه دي بلکه دا شرط په هغه کې دې چې کله مضاف معرفه وي که مضاف معرفه نه وي نو دتجرید ضرورت نشته دي بلکه تجرید ممکن نه دي

فان کان ذا اللام : په دې عبارت کې شارح **دتجرید المضاف من التعریف** صورت بیانوي چې کله مضاف معرف باللام وي نو لام به حذف کولې شي او که مضاف علم وي نو دې لره به نکره جوړولې شي دنکرې جوړولو صورت دا دې چې ددې نوم دجماعت دافرادو نه یو فرد معین

مراد واخستلې شي مثال لکه زيدنا خير من زيدکم (زمونږ زيد ستاسو دزيد نه بهتر دي) .

جواب (۲) : **والمراد**: په دې عبارت سره شارح دويم جواب ورکوي چې دلته دتجريد نه **مجازاً** تجرد مراد دي يعني بابِ تفعيل **مجازاً** دتفعل په معنی کې دي په معنی دمضاف خالي کيدل برابره خبره ده که دادتجريد نه په **غير في نفسه** نکره وي يامعرفه وي ليکن دې لره د تعريف نه خالي کړې شوي وي .

والما يجب: په دې عبارت سره شارح دذکر شوي شرط وجه بيانوي چې دا شرط يې ځکه ولږولو چې که مضاف معرفه وي نودمضاف اليه دوه(۲) صورتونه دي : (۱) مضاف به نکره وي .(۲) او يا به معرفه وي که مضاف نکره وي نو اعلی يعنې تعريف کيدو سره ادنی يعنې دتخصيص طلب لازم راځي کوم چې باطل دي اوکه مضاف اليه معرفه وي نو دتحصيل حاصل خرابي لازم راځي ځکه چې کله مضاف اليه معرفه وي نو اضافت معنويه دمضاف تعريف فائده ورکوي اوهغه د مخکې نه حاصل دي .

فان قيل: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي اوپه **قيل** سره ددې اعتراض جواب ورکوي :

اعتراض : دمعرفې اضافت اودمعرفې دعلم جوړولو په مينځ کې څه فرق نشته دي ځکه چې لکه څنګه دمعرفې اضافت نه **تعريف المعرف** لازم راځي همدارنګې معرفې لره دعلم جوړولو سره هم **تعريف المعرف** لازم راځي بيا څه وجه ده چې نحويانو دمعرفې اضافت ناجائز کړې دي ليکن معرفې لره علم جوړولو لره جائز کړې دي مثال لکه **النجم** او **الثريا** او**الصعق** دادمخکې نه دالف لام دوجې نه معرفه وو بيا دې لره دستورو وغيره علم جوړ کړو نو دعلميت دوجې نه دوباره تعريف راغلې داهم تحصيل دحاصل دي همدارنګې ابن عباس داضافت دوجې نه معرفه وو بيا دې لره دحضرت عبدالله بن عباس علم جوړ کړې شو .

جواب : مونږ نه منو چې په دې مثالونو کې تعريف المعرف دي بلکه په دې کې تبديل تعريف بتعريف آخر وزوال تعريف اول دي يعنې مخکې درې (۳) مثالونو کې چې کوم تعريف الف لام د وجې نه وو اوڅلورم مثال کې داضافت دوجې نه حاصل وو دې څلورو کې دعلميت راتلو د وجې نه تعريف باللام زائل اوختميږي اونوي تعريف په عليمت سره به حاصل شي ځکه چې کله اعلام جوړ شو نو ددې معلوميت باللام يا معلوميت بالاضافة طرف ته اشاره باقي نه پاتې

کبرئ لهذا په دې کې تعريف المعرف نه دی بلکه تبديل تعريف بتعريف آخر دی تبديل؛ تعريف او تحصيل او حاصل کې غټ فرق دی .

د يو سوال مقدر جواب :

وَ مَا اَجَازَهُ الْكُوْفِيُّوْنَ مِنْ تَرْكِيْبِ الثَّلٰثَةِ الْاَثْوَابِ وَ شِبْهِهٖ مِنَ الْعَدَدِ الْمُعَرَّفِ بِاللَّامِ الْمُضَافِ
او هغه چې جائز کړي کوفيانو د ترکيب نه الثلثة الاثواب او د دې مشابه د عدد نه چې معرف باللام او مضاف وي
اِلٰى مَعْدُوْدِهٖ نَحْوُ الْخَمْسَةُ الدَّرَاهِمِ وَ الْمِأَةُ الدِّيْنَارِ ضَعِيْفٌ قِيَاساً وَ اِسْتِعْمَالاً اَمَّا قِيَاساً فَلِمَا
خپل معدود طرف ته لکه الخمسة الدراهم او المأة الدينار ضعيف دی قياسا او استعمالا هرچې قياسا دی نو د دې
ذُكِرَ مِنْ لُزُوْمِ تَحْصِيْلِ الْحَاصِلِ وَ اَمَّا اِسْتِعْمَالاً فَلِمَا ثَبَتَ
وجهې نه چې کوم ذکر شو د لزوم د تحصيل د حاصل نه او هرچې استعمالا دی نو د دې وجهې نه چې ثابت شوې دی
مِنَ الْفُصَحَاءِ مِنْ تَرْكِ اللَّامِ قَالَ ذُو الرِّمَّةِ ثَلٰثُ الْاَثَافِيْ وَالدِّيَارُ الْبَلَاقِعُ وَاَمَّا مَا جَاءَ فِي الْحَدِيْثِ مِنْ قَوْلِهٖ
د فصحاوو نه د پريخودو د لام ويلي دي ذو الرمه ثلث الاثافي والديار البلاقع او هغه چې راغلي په حديث د نبي کريم
عَلَيْهِ السَّلَامُ بِالْاَلْفِ الدِّيْنَارِ فَعَلَى الْبَدَلِ دُوْنَ الْاِضَافَةِ.
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې بالالف الدينار نو دا بنا په بدل نه په اضافت.

خلاصه د متن : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : ستا د تجريد المضاف من التعريف شرط منقوض او مات دی په الثلاثة الاثواب الخمسة الدراهم او المأة الدينار وغيره سره ځکه چې په دې کې مضاف د الف لام نه ، نه دی خالي شوي نو تجريد المضاف والاشرط باطل شو او د کوفي نحويان په هغه اعداد کې کوم چې خپل معدود تميز طرف ته مضاف وي تعريف باللام يې جائز کړي دي .

جواب : د کوفي نحويانو په هغه اعداد کې کوم چې خپل اعداد طرف ته مضاف وي تعريف باللام جائز کول ضعيف دي.

اغراض د جامي : ترکيب: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : من په الثلثة الاثواب باندې داخليدل صحيح نه دي ځکه چې من حرف جر دی او حرف جر په اسم باندې داخليږي اسم د مفرد قسم دی او الثلثة الاثواب دا مرکب دی .

جواب : الثلثة الاثواب دا د ترکيب په تاويل کې دی او ترکيب اسم دی .

المعرف باللام: په دې عبارت کې شارح تعین دمراد کوي چې د شبهه نه مراد هغه اسم دي کوم چې معرف باللام وي اوخپل معدود طرف ته مضاف وي مثال لکه **الثلثة الاثواب ، الخمسة الدراهم** او **المأة الدينار** .

قياساً واستعمالاً: په دې عبارت سره شارح دضعف صورت بيانوي چې داضعيف دي دقياس په لحاظ اوداستعمال په لحاظ سره اوقياس دلحاظ نه ددې وجې نه چې په دې صورت کې تحصيل دحاصل خرابي لازم راځي استعمال دلحاظ نه ځکه چې دفصحاء نه ترک دلام ثابت دي په دې باندې د **ذوالرمه** شاعر شعر په دليل کې پيش کړي دي **ثلث الاثافي والديار البلاقع** ، په دې کې **ثلث** خپل معدود طرف ته په غير دلام نه مضاف دي .

لفظي تحقيق :**الاثافي** د**اثفية** جمع ده هغه کاڼي ته وايي چې په کوم باندې کټوی ايخودي شي او دا دري کاڼي دي .

بلاقع: په دې عبارت سره شارح د **بلاقع** دمعنی بيان کوي چې **بلاقع** د**بلقع** جمع ده ددې معنی ده خالي داوبو اود ګياه نه .

ديار بلاقع: په دې عبارت سره شارح د**ديار بلاقع** معنی بيانوي چې **ديار بلاقع** هغه ځايونه ته وايي کوم چې داوبو او ګياه نه خالي وي .

ترجمه دشعر : په نغري باندې کټوی ايخودو دپاره دري کاڼي او وران ځايونه .

اما ما جاء: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي .

سوال : تا په **تجريد المضاف** کې د**التعريف** شرط دصحيح ثابتيدو دپاره ذکر شوو مثالونو لره ضعيف اود غير فصحاو کلام ګرځولي دي ليکن دنبي کريم ﷺ ارشاد دي چې : **اغسلوا يوم الجمعة ولو اشتريتم نصف الصاع بالالف الدينار** (دجمعې په ورځ غسل کوئ اګرکه تاسو نيم صاع داوبو د زرو (۱۰۰۰) دينارو په بدله کې اخلئ) ،ددې په باره کې ستاسو څه رأى ده ؟ په دې کې **الالف** اسم عدد دي کوم چې خپل معدود **الدينار** طرف ته مضاف دي اوپه دې باندې لام دتعريف موجود دي ولې داهم ضعيف اوغير فصيح دي داسې ويل نا ممکن دي ځکه چې دا د افصح العرب او دافصح الفصحاء تاج العرب والعجم بادشاه فصاحت وبلاغت کلام اوکلام الملوک ملوک الکلام وينا ده .

جواب : دنبي كريم ﷺ په وينا كې الالف ، الدينار طرف ته مضاف نه دي بلكه الالف مبدل منه او الدينار ددې نه بدل دي .

دا ضافت لفظي تعريف :

وَ الْإِضَافَةُ اللَّفْظِيَّةُ عَلَامَتُهَا اَنْ يَكُوْنَ الْمُضَافُ صِفَةً اِحْتِرَازٌ عَمَّا اِذَا لَمْ يَكُنْ صِفَةً نَحْوُ غُلَامُ زَيْدٍ
اود اضافت لفظي علامت دادې چې وي به مضاف صفت دا احتراز دي د هغه نه چې نه وي صفت لكه غلام زيد
مُضَافَةً اِلٰى مَعْمُوْلِهَا اِحْتِرَازٌ عَمَّا اِذَا كَانَتْ مُضَافَةً اِلٰى غَيْرِ مَعْمُوْلِهَا نَحْوُ مُصَارِعُ الْبَلَدِ
چې مضاف وي خپل معمول طرف ته احترازدي دهغه نه چې مضاف وي غير معمول طرف ته لكه مصارع البلد
وَكَرِيْمُ الْعَصْرِ مِثْلُ ضَارِبُ زَيْدٍ مِنْ قَبِيْلِ اِضَافَةِ اِسْمِ الْفَاعِلِ اِلٰى مَفْعُوْلِهٖ وَحَسَنُ الْوَجْهِ مِنْ قَبِيْلِ
او كريم العصر لكه ضارب زيد د قبيلې د اضافت د اسم فاعل نه خپل مفعول طرف ته او حسن الوجه د قبيلې د
اِضَافَةِ الصِّفَةِ الْمُشَبَّهَةِ اِلٰى فَاعِلِهَا.
اضافت دصفت مشبه نه خپل فاعل طرف ته.

خلاصه دمتن : دصاحب دكافيې دعبارت حاصل دادې چې داضافت لفظيه علامت دادې چې دمضاف صيغه دداسې صفت وي چې خپل معمول (يعني خپل فاعل يا مفعول) طرف ته مضاف وي مثال لكه ضارب زيد او حسن الوجه .

اغراض دجامي : الاضافة: په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې اللفظية صفت دې د موصوف محذوف چې الاضافة دي .

علامتها: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي :

سوال : دمصنف رحمه الله قول المعنوية مبتدا ده او ان يكون المضاف الخ مصدر په تاويل دكون سره ددې خبر دي حالانكه خبر په مبتدا باندې حمل وي اودلته حمل صحيح نه دي ځكه چې اضافت معنويه د مضاف غير صفة نوم نه دي بلكه اضافت معنويه خو دنسبت په تقدير د حرف جر نوم دي .

جواب : كون المضاف غير صفة داد المعنوية خبر نه دي بلكه دا خبر دي دمبتدا محذوف چې علامتها دي مبتدا اوخبر جمله ده او خبر دي دمعنويه .

المضاف: په دې عبارت كې شارح دضمير مرجع بيان كړي ده چې دضمير مرجع مضاف دي .

احترازٌ عما اذا لم يكن: په دې عبارت کې شارح دابيانوي چې مضافة الى معمولها قيد احترازي دي په دې عبارت سره احتراز دي دهغه صيغې دصفت نه کوم چې خپل معمول طرف ته مضاف نه وي بلکه غير معمول طرف ته مضاف وي مثال لکه مصارع البلد او کريم العصر په دې مثالونو کې مضاف اګرچې صيغه دصفت ده ليکن خپل معمول طرف ته مضاف نه دي ځکه چې البلد او العصر دانه فاعل دي اونه مفعول به دي بلکه مفعول فيه دي .

من قبيل: په دې عبارت کې شارح دممثل له دتعين بيان کوي چې ضارب زيد دصفت دهغې صيغې مثال دي کوم چې خپل معمول مفعول به طرف ته مضاف کوي .

من قبيل: په دې عبارت سره شارح دممثل له دتعين بيان کوي چې حسن الوجه دصفتِ مشبه مثال دي کوم چې خپل معمول فاعل طرف ته مضاف کوي .

د اضافت لفظي فائده :

وَلَا تُفِيْدُ الْإِضَافَةِ اللَّفْظِيَّةِ فَائِدَةً إِلَّا تَخْفِيْفًا لَا تَعْرِيْفًا وَلَا تَخْصِيصاً لِكَوْنِهَا فِيْ
او فائده نه ورکوي اضافت لفظي هيڅ فائده مګر د تخفيف نه د تعريف او نه د تخصيص د وجهې د کيدو نه په
تَقْدِيْرِ الْإِنْفِصَالِ فِي اللَّفْظِ لَا فِي الْمَعْنٰى بِأَنْ يَسْقُطَ بَعْضُ الْمَعَانِيْ عَنْ مُلَاحَظَةِ الْعَقْلِ بِإِزَاءِ مَا
تقدير د انفصال په لفظ کې نه په معنى کې چې ساقط شي بعضې معاني دملاحظې دعقل نه په مقابلې د هغه
يَسْقُطُ مِنَ اللَّفْظِ بَلِ الْمَعْنٰى عَلٰى مَا كَانَ عَلَيْهِ قَبْلَ الْإِضَافَةِ وَ التَّخْفِيْفِ اللَّفْظِيْ إِمَّا فِيْ
چې ساقطيږي د لفظ نه بلکه معنى وي په هغه حال باندې چې وه مخکې د اضافت نه او تخفيف لفظي يا به په
لَفْظِ الْمُضَافِ فَقَطْ بِحَذْفِ التَّنْوِيْنِ حَقِيْقَةً مِثْلُ ضَارِبُ زَيْدٍ اَوْ حُكْمًا مِثْلُ حَوَاجُّ بَيْتِ اللهِ اَوْ بِحَذْفِ
لفظ دمضاف کې وي فقط په حذف دتنوين سره حقيقةً لکه ضارب زيدا ويا حکماً لکه حواج بيت الله اويا په حذف د
نُوْنِ التَّثْنِيَةِ وَالْجَمْعِ مِثْلُ ضَارِبَا زَيْدٍ وَضَارِبُوْا زَيْدٍ وَإِمَّا فِيْ لَفْظِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ فَقَطْ بِحَذْفِ الضَّمِيْرِ وَاسْتِتَارِهِ
نون دتثنيې اودجمع سره لکه ضاربازيدوضاربوازيدا ويا په لفظ دمضاف اليه کې فقط په حذف دضمير اود مستتر
فِي الصِّفَةِ كَالْقَائِمِ الْغُلَامِ كَانَ أَصْلُهُ الْقَائِمُ غُلَامُهُ حُذِفَ الضَّمِيْرُ مِنْ غُلَامِهِ وَ
کولو دې نه په صفت کې لکه القائم الغلام چې وواصل ددې القائم غلامه نوحذف کړې شوضمير د غلامه نه او
اسْتُتِرَ فِي الْقَائِمِ وَ أُضِيْفَ الْقَائِمُ إِلَيْهِ لِلتَّخْفِيْفِ فِي الْمُضَافِ إِلَيْهِ فَقَطْ وَ إِمَّا فِي الْمُضَافِ
مستتر شو په القائم کې او اضافت وشو دالقائم دې طرف ته دپاره د تخفيف په مضاف اليه کې فقط اويا په مضاف
وَ الْمُضَافِ إِلَيْهِ مَعًا نَحْوُ زَيْدٌ قَائِمُ الْغُلَامِ أَصْلُهُ قَائِمٌ غُلَامُهُ فَالتَّخْفِيْفُ فِي الْمُضَافِ
او مضاف اليه په دواړوکې يوځاې لکه زيد قائم الغلام چې اصل ددې قائم غلامه وونو تخفيف په مضاف کې په

بِحَذْفِ التَّنْوِيْنِ وَ فِي الْمُضَافِ إِلَيْهِ بِحَذْفِ الضَّمِيْرِ وَ اسْتِتَارِهٖ فِي الصِّفَةِ.

حذف دتنوين سره اوپه مضاف اليه کې په حذف دضميرسره اوپه مستترکولوسره په صفت کې.

خلاصه دمتن : صاحب د کافيې په دې عبارت کې داضافت لفظيه فائده ذکر کوي اضافت لفظيه فقط تخفيف في اللفظ فائده ورکوي تعريف يادتخصيص معنوي فائده نه ورکوي .

اغراض دجامي : **الاضافة اللفظية** : په دې عبارت کې شارح د **تفيد** دضمير مرجع متعين کوي چې د **تفيد** دضمير مرجع اضافت لفظيه دي مطلق اضافت نه دي .

فائدة الا تخفيفا : په دې عبارت کې دا بيانوي چې د **تخفيفا** قيد احترازي دي په دې سره احتراز دي دتعريف اودتخصيص نه ځکه چې اضافت لفظيه دتعريف اوتخصيص فائده نه ورکوي .

لكونها : په دې عبارت سره شارح داضافت لفظيه دتعريف اودتخصيص دفائدې نه ورکولو وجه بيانوي چې اضافت لفظيه دتعريف اودتخصيص فائده ځکه نه ورکوي چې اضافت لفظيه کې مضاف اومضاف اليه داضافت نه مخکې عامل اومعمول وي اوعامل دخپل معمول نه منفصل وي اواضافت حقيقيه داتصال تقاضا کوي اودعامليت اودمعموليت معنى داضافت نه وروستو هم باقي پاتې کيږي نو انفصال هم باقي پاتې کيږي ګويا چې په حقيقت کې اضافت نشته دي ددې وجې نه اضافت لفظيه دتعريف اودتخصيص فائده نه ورکوي .

في اللفظ لا في المعنى : په دې عبارت کې شارح دا بيانوي چې د **في اللفظ** قيد احترازي دي په دې سره د**تخفيف في المعنى** نه احتراز دي ځکه چې اضافت لفظيه دتخفيف في المعنى فائده نه ورکوي .

بأن يسقط بعض المعاني : په دې عبارت کې دتخفيف في المعنى صورت بيانوي ددې صورت دادې چې دلفظ نه دبعضې حروفو دساقطيدو په مقابله کې بعضې معاني هم ساقط شي ليکن اضافت لفظيه دتخفيف في المعنى فائده نه ورکوي پس معاني چې څنګه داضافت نه مخکې باقي وو همدارنګې داضافت نه وروستو به هم باقي وي .

والتخفيف اللفظي : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي .

سوال : مصنف رحمه الله دتخفيفا نه وروستو **في اللفظ** ويلي دي **في المضاف** يې ولې نه دي ويلي حالانکه د **اللفظ** نه مراد مضاف دي .

جواب : دجواب حاصل دادې چې **في اللفظ** يې ځکه وويلو ځکه چې تخفيف صرف دمضاف

سره خاص نه دي بلکه د دې دري (۳) صورتونه دي (۱) تخفيف فقط په مضاف کې وي . (۲) يا تخفيف فقط په مضاف اليه کې وي . (۳) يا تخفيف په مضاف او په مضاف اليه دواړو کې وي که تخفيفاً في اللفظ په خاې في المضاف يې ويلي وي نو شبه وه چې تخفيف فقط د مضاف سره خاص دي که تخفيف فقط په مضاف کې وي نو ددې دوه (۲) صورتونه دي : (۱) يا به مضاف مفرد وي ، (۲) اويابه مضاف تثنيه اوجمع وي ، که مضاف مفرد وي نو په دې کې تخفيف د حذف تنوين په ذريعه حاصليږي برابره خبره ده که حذف دتنوين حقيقةً وي ياحکماً وي دحقيقةً مثال لکه ضارب زيد په اصل کې دا ضارب زيداً وو داضافت دوجې نه تنوين ساقط شو ، دحذف د تنوين حکماً مثال لکه حواج بيت الله ، حواج په اصل کې حواجج وو په وزن د مساجد ددې تنوين دغير منصرف کيدو دوجې نه داضافت نه مخکې ساقط وو بيا داضافت د وجې نه اګر چې تنوين حقيقةً ساقط نه شو ليکن حکماً ساقط شو .

دحکماً مطلب دادې که وي نو داضافت د وجې نه به ساقط کيږي که مضاف تثنيه اوجمع وي نو بيا حذف دنون په ذريعه تخفيف حاصليږي مثال لکه ضاربآ زيد داپه اصل کې ضاربان زيداً وو داضافت دوجې نه نون ساقط شو اوضاربو زيد داپه اصل کې ضاربون زيداً وو داضافت دوجې نه نون ساقط شو تخفيف فقط په مضاف اليه کې وي نو ددې صورت دادې چې دمضاف اليه نه ضمير حذف شي اوپه صيغه د صفت کې دا مقدر ومنلي شي مثال لکه القائم الغلام داپه اصل کې القائم غلامه وو دغلام نه ضمير حذف شو اوپه القائم کې دا مستتر ومنل شو که تخفيف په مضاف اومضاف اليه په دواړو کې وي مثال زيد قائم الغلام دا په اصل کې قائم غلامه وو په مضاف کې تخفيف حاصل وي دحذف نون په ذريعه اوپه مضاف اليه کې دحذف ضمير په ذريعه دمضاف مضاف اليه نه ضمير حذف شو دې لره په صيغه دصفت کې مستتر ومنلو .

په اضافت لفظي کې په تخفيف د تفريع بيان :

وَمِنْ ثَمَّ أَيْ مِنْ جِهَةِ وُجُوْبِ إِفَادَةِ الْإِضَافَةِ اللَّفْظِيَّةِ التَّخْفِيْفَ وَ انْتِفَاءِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنَ التَّعْرِيْفِ وَالتَّخْصِيْصِ
اوددې وجهې نه يعني دجهت دوجوب دافادې داضافت لفظي تخفيف اوانتفاء دهريودتعريف اوتخصيص نه
جَازَ تَرْكِيْبُ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حَسَنِ الْوَجْهِ بِإِضَافَةِ الصِّفَةِ إِلٰى مَعْمُوْلِهَا وَ جَعْلِهَا صِفَةً
جائزدې ترکيب دمررت برجل حسن الوجه په اضافت دصفت سره خپل معمول ته اوګرځولې يې دې صفت دپاره د

لِلنَّكِرَةِ فَمَنْ جِهَةِ اَنَّهَا لَمْ تُفِدْ تَعْرِيْفًا جَازَ هٰذَا التَّرْكِيْبُ وَامْتَنَعَ تَرْكِيْبُ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ حَسَنِ الْوَجْ

نکرې نو دې وجهې نه فائده نه ورکوي د تعریف نو جائز دې دا ترکیب او ممتنع دې ترکیب د مررت بزید حسن الوجه

فَلَوْ اَفَادَتْ تَعْرِيْفًا لَمْ يَجُزِ الْاَوَّلُ لِلُزُوْمِ كَوْنِ الْمَعْرِفَةِ صِفَةً

نو که چیرته یې فائده ورکولې د تعریف نو نه به وې جائز اول مثال د وجهې د لزوم د کیدو د معرفې نه صفت د پاره

لِلنَّكِرَةِ وَ لَجَازَ الثَّانِيْ لِكَوْنِ الْمَعْرِفَةِ اِذَنْ صِفَةً لِلْمَعْرِفَةِ

د نکرې او جائز به وې دویم مثال د وجهې د کیدو د معرفې نه په هغه وخت کې چې وې صفت د پاره د معرفې

وَ الْمُرَادُ اَنَّ الْمُشَارَ اِلَيْهِ بِثَمَّ وَهُوَ مَجْمُوْعُ اُمُوْرٍ ثَلٰثَةٍ وُجُوْبُ اِفَادَةِ الْاِضَافَةِ اللَّفْظِيَّةِ التَّخْفِيْفَ

او مراد دا دې چې مشار الیه په ثم سره په مجموع کې درې امور دي وجوب د افادې د اضافت لفظي تخفیف او

انْتِفَاءِ التَّعْرِيْفِ وَ انْتِفَاءِ التَّخْصِيْصِ يَسْتَلْزِمُ جَوَازَ التَّرْكِيْبِ الْاَوَّلِ وَامْتِنَاعَ الثَّانِيْ وَلَا يَلْزَمُ

انتفاء د تعریف او انتفاء د تخصیص مستلزم دې جواز د ترکیب د اول مثال او امتناع د دویم مثال او نه لازمیږي په

مِنْ ذٰلِكَ اَنْ يَكُوْنَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْ تِلْكَ الْاُمُوْرِ دَخْلٌ فِيْ ذٰلِكَ الْاِسْتِلْزَامِ بَلْ يَجُوْزُ اَنْ يَكُوْنَ بِاعْتِبَارِ بَعْضِهَا

دې سره چې وي د دې هر یو د دې امورو د پاره دخل په دې استلزام کې بلکې جائز دې چې وي په اعتبار د بعضو

فَلَا يَرِدُ اَنَّهُ لَا دَخْلَ فِيْ ذٰلِكَ الْاِسْتِلْزَامِ لِانْتِفَاءِ التَّخْصِيْصِ.

سره نو نه واردیږي اعتراض چې نشته دې دخل په دې استلزام کې د وجهې د انتفاء د تخصیص نه.

خلاصه د متن : د دې ځای نه په ماقبل باندې د تفریع بیان دې ځکه چې اضافت لفظیه فقط تخفیف فائده ورکوي د دې وجې نه مررتُ برجل حسن الوجه ترکیب جائز دې ځکه چې حسن الوجه د نکره کیدو په وجه رجل د نکرې صفت جوړیدې شي او مررت بزید حسن الوجه ترکیب ممتنع دې ځکه چې حسن الوجه د نکره کیدو په وجه د معرفې زید صفت نه شي جوړیدې.

اغراض د جامي : من جهة: په دې عبارت کې شارح د ثَمَّ مشار الیه متعین کوي چې د ثَمَّ مشار الیه درې (۳) څیزونه دي: (۱) اضافت لفظیه د تخفیف فائده ورکوي. (۲) اضافت لفظیه د تعریف فائده نه ورکوي. (۳) اضافت لفظیه د تخصیص فائده نه ورکوي.

ترکیب: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ور کول دي:

سوال : جاز فعل او مررت برجل حسن الوجه د دې فاعل دې حالانکه دا فاعل نه شي جوړیدې ځکه چې فاعل اسم وي او اسم د مفرد قسم دي او دا مرکب او جمله ده.

جواب : دا د ترکیب په تاویل کې دي او ترکیب اسم او مفرد دي لهذا د دې لره فاعل جوړول

صحيح دي .

بالاضافة : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : سائل سوال کوي چې کيدې شي چې جواز ددې مثال سره خاص وي ددې نه غير په بل مثال کې جائز نه وي حالانکه داسې نه دي بلکه مررتُ برجل شريف النسب والامثال هم جائز دي .

جواب : باضافة الصفة سره شارح ددې سوال جواب ورکوي چې مررت برجل حسن الوجه نه دغه خاص مثال اوماده مراد نه ده بلکه مراد دادې چې صيغه دصفت خپل معمول طرف تـه مضاف وي اونکره صفت جوړ کړي شي برابره خبره ده که دغه ماده وي اويابله ماده وي .

فمن جهة : په دې عبارت شره شارح متفرع عليه بيانوي دامثال د دري امورو نه په دويم امر يعنې انتفاء تعريف باندې متفرع دي حاصل دتفريع دادې چې اضافت لفظيه دتعريف فائده نه ورکوي ددې وجې نه مررت برجل حسن الوجه ترکيب جائز دي ځکه چې په دې کې موصوف رجل نکره اوددې صفت حسن الوجه هم داضافت لفظيه کيدو دوجې نه نکره ده لهذا دموصوف او صفت په مينځ کې مطابقت پيدا شو .

اومررت بزيد حسن الوجه والاترکيب ممتنع دي ځکه چې په دې کې موصوف زيد معرفه ده اوصفت حسن الوجه نکره ده ځکه چې دا اضافت لفظيه دي لهذا د موصوف اودصفت په مينځ کې مطابقت نشته دي که اضافت لفظيه دتعريف فائده ورکولې نو معامله به برعکس وه اول ترکيب به ممتنع وي ځکه چې په دې صورت کې دمعرفې نکره صفت جوړيدل لازم راتلو اودويم ترکيب به جائز وي ځکه چې په دې صورت کې معرفه به د معرفې صفت وي .

والمراد : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : اول ترکيب يعني مررتُ برجل حسن الوجه جواز اوددويم ترکيب مررت بزيد حسن الوجه په امتناع کې انتفاء دتخصيص څه دخل نشته دي بلکه دامتفرع عليه دي افاده دتخصيص اوانتفاء دتعريف باندې نو بيا امور ثلاثه لره د ثمَّ مشار اليه جوړيدل څنګه صحيح شو ولې چې د اول ترکيب جواز مستلزم افاده دتخفيف ده کوم چې په دې کې موجود ده اودويم ترکيب دامتناع مستلزم انتفاء تعريف دي جواز اوامتناع کې دتخصيص څه دخل نشته دي لهذا انتفاء دتخصيص لره د ثمَّ مشار اليه جوړول نه دي په کار .

جواب : مجموعه امور ثلاثه لره د ثَمَّ مشار اليه دجوړيدونه دا نه لازميږي چې امورو ثلاثه نه هر يو ته هغه استلزام يعنې داول تركيب جواز ددويم تركيب په امتناع کې دخل وي بلکه کيدې شي چې دا استلزام داکثر په اعتبار سره وي نو دللاکثر حکم الکل قاعدې لاندې مجموعه امور ثلاثه لره مشار اليه جوړ کړه اګرچې په تفريع کې دخل دوو (۲) ته دي .

په اضافت لفظيه کې په تخفيف نور تفريعات :

وَ مِنْ جِهَةِ اَنَّهَا تُفِيْدُ تَخْفِيْفًا جَازَ تَرْكِيْبُ الضَّارِبَا زَيْدٍ وَ الضَّارِبُوْا زَيْدٍ لِحُصُوْلِ
اوددې وجهې نه چې دا فائده ورکوي دتخفيف نوجائزدي تركيب دالضاربازيداوالضاربوازيد د وجهې دحصول
التَّخْفِيْفِ بِحَذْفِ النُّوْنِ وَ امْتَنَعَ الضَّارِبُ زَيْدٍ لِعَدَمِ التَّخْفِيْفِ لِاَنَّ تَنْوِيْنَ الضَّارِبِ اِنَّمَا سَقَطَ
د تخفيف په حذف دنون سره اوممتنع دي الضارب زيد د وجهې د عدم تخفيف نه ځکه تنوين د الضارب دا ساقط
لِلْاَلِفِ وَ اللَّامِ لَا لِلْاِضَافَةِ وَلَا شَكَّ اَنَّهُ لَا دَخْلَ فِيْ هٰذَا التَّفْرِيْعِ
شوې دي د الف لام د وجهې نه ، نه د اضافت د وجهې او نشته شک چې نشته دخل په دې تفريع کې د وجهې د
لِانْتِفَاءِ التَّعْرِيْفِ وَلَا لِانْتِفَاءِ التَّخْصِيْصِ بَلْ يَكْفِيْ فِيْهِ وُجُوْبُ التَّخْفِيْفِ فَقَطْ وَ عَلٰى هٰذَا
انتفاء د تعريف نه او نه د انتفاء د تخصيص نه بلکې کافي دي په دې کې وجوب د تخفيف فقط او بناء په دې
كَانَ الْاَنْسَبُ تَقْدِيْمَ هٰذَا الْفَرْعِ لٰكِنَّهُ اَخَّرَهُ لِكَثْرَةِ لَوَاحِقِهٖ.
باندې وومناسب تقديم ددې فرعې ليکن وروستو يې کړو دوجهې دکثرت لواحقونه .

خلاصه دمتن : وجاز سره صاحب دکافيې دابيانوي چې اضافت لفظيه خو دتخفيف فائده ورکوي ددې وجې نه الضاربا زيدا والضاربو زيد تراکيب جائزدي او الضاربا زيد ترکيب ممتنع دي .

اغراض دجامي : من جهة: په دې عبارت سره شارح متفرع عليه بيانوي چې مثال دامور ثلاثه نه اول امر يعني وجوب تخفيف باندې متفرع دي ځکه چې اضافت لفظيه دتخفيف فائده ورکوي ددې وجې نه الضاربا زيدا والضاربوزيد تراکيب جائز دي او الضارب زيد ترکيب ممتنع دي .

لحصول: په دې عبارت سره شارح ددغه دواړو ترکيبونو دجواز وجه بيانوي چې په دې کې د حذف نون دوجې نه تخفيف حاصل دي .

لعدم التخفيف: په دې عبارت سره شارح دالضارب زيد دعدم جواز وجه بيانوي چې دا ترکيب ځکه ممتنع دي چې په دې کې تخفيف نه دي حاصل شوي ولې چې د الضارب تنوين سقوط د الف لام دوجې نه دي داضافت دوجې نه ، نه دي .

ولا شک: ددې ځاې نه شارح یو تمهید بیانوي دهغه اعتراض دپاره کوم چې په وعلی هذا سره بیانوي ، تمهید دادې چې داکومه تفریع شوي ده چې الضارباِ زید او الضاربو زید والاترکیب جائز او الضارب زید والاترکیب ناجائز دي دا متفرع دي په فقط اضافت لفظیه افاده تخفیف باندې په دې تفریع کې انتفاء دتخصیص اوانتفاء تعریف ته ذره برابر هم دخل نشته دي .

وعلی هذا: په دې عبارت سره شارح یو سوال رانقل کوي او په لکنه سره ددې سوال جواب ورکوي :

سوال : مصنف رحمه الله دپاره مناسب دا وو چې دویمه تفریع یې په اوله تفریع باندې مقدم کړې وې ځکه چې دویمه تفریع متفرع ده په امر واحد باندې کوم چې وجوب دتخفیف دي او اوله تفریع متفرع دي په امرینو باندې کوم چې وجوب تخفیف او انتفاء دتعریف دي نو دویم تعریف په منزله دمفرد اواوله تفریع په منزله دمرکب کې شوه اومفرد دمرکب نه مقدم وي لهذا دویمه تفریع په اوله تفریع باندې مقدم کول په کار وو .

جواب : په لکنه سره شارح ددې جواب ورکوي چې واقعي مناسب دغه وو چې دوهمه تفریع په اوله تفریع باندې مقدم کړې وې لیکن مصنف رحمه الله دوهمه تفریع ددې وجې نه مؤخرکړه چې ددې مباحث اولواحق کثیردي مثلا په دې کې دامام فراء رحمه الله اختلاف اودلائل دي چې دې لره په تفصیل سره ذکر کیږي ددې وجې نه یې دویمه تفریع مؤخر کړه په اوله تفریع باندې .

په اضافت لفظي کې د نحویانو اختلاف :

خِلَافًا لِلْفَرَّاءِ فَإِنَّهُ يَجُوزُ تَرْكِيبَ الضَّارِبُ زَيْدٍ لِأَنَّهُ تَوَهَّمَ أَنَّ دُخُولَ لَامِ التَّعْرِيفِ إِنَّمَا
خلافاثابت دي فراءلره ځکه چې داجائزکوي ترکیب دالضارب زید ځکه چې ده وهم کړې چې دخول دلام تعریف دا
هُوَ بَعْدَ الْإِضَافَةِ فَحَصَلَ التَّخْفِيفُ بِحَذْفِ التَّنْوِينِ بِسَبَبِ الْإِضَافَةِ ثُمَّ عَرَفَ بِاللَّامِ وَ
وي پس داضافت نه نوحاصل شوتخفیف په حذف دتنوین سره په سبب داضافت بیایې معرف کړوبه لام سره او
أَجَابَ الْمُصَنِّفُ عَنْهُ فِيْ شَرْحِهِ بِأَنَّهُ غَيْرُ مُسْتَقِيمٍ لِأَنَّ الْقَوْلَ بِتَأَخُّرِ اللَّامِ الْمُتَقَدِّمَةِ
جواب ورکړي مصنف ددې نه په خپل شرحه کې چې دا صحیح نه دي ځکه قول په وروستو کولو د لام چې مقدم
حِسًّا عَلَى الْإِضَافَةِ مُجَرَّدُ ادِّعَاءٍ مُخَالِفٍ لِلظَّاهِرِ .
دي په حسي طورسره په اضافت باندې صرف ددعوی ده اومخالف دي دظاهرسره .

خلاصه دمتن : صاحب دکافیې دامام فراء رحمه الله دالضارب زید ترکیب په باره کې اختلاف

بيانوي اوداامام فراء رحمه الله په دې باره کې څلور (۴) دليلونه ذکر کوي ددې جواب ورکوي په ذکر شوي عبارت کې داامام فراء اول دليل دي چې ددې مکمل تفصيل اود مصنف رحمه الله د طرف نه ددې جوابات په شرحه کې را روان دي :

اغراض دجامي : فانه يجوز تركيب : په دې عبارت کې شارح داامام فراء رحمه الله اختلاف ذکر کوي امام فراء رحمه الله الضارب زيد ترکيب ته جائز وايي اوپه دې باندې امام فراء رحمه الله څو دلائل هم پيش کړي دي چې هغه دلائلو لره صاحب د کافيې په تفصيل سره ذکر کوي اود هغې جواب هم په تفصيل سره ورکوي .

اما لانه : په دې عبارت کې شارح داامام فراء رحمه الله داول دليل بيان کوي :

اول دليل داامام فراء رحمه الله : په الضارب زيد کې په الضارب باندې الف لام داضافت نه وروستو داخل شوي دي اوددې دخول نه مخکې داضافت دوجې نه تنوين ساقط شوي وو څکه چې دحذف تنوين دوجې نه کوم تخفيف حاصل شوي دي هغه داضافت لفظيه په سبب سره دي دالف لام دسبب نه ، نه دي څکه چې الف لام وروستو داخل شوي دي .

واجاب : په دې عبارت سره صاحب د کافيې په خپله شرح کې امام فراء رحمه الله ته جواب ورکړي دي چې امام فراء رحمه الله دا ويلي دي چې په الضارب زيد کې د لام دخول د اضافت نه مؤخر دي دا توهم او دعوى محض بلا دليل او د ظاهر او د حس خلاف دي څکه چې ظاهر دغه ده چې دلام دخول د اضافت نه مخکې دي .

داامام فراء رحمه الله اول دليل او د هغې جواب :

وَ أَمَّا لَنَا وَقَعَ فِيْ شِعْرِ الْأَعْشٰى مِنْ قَوْلِهٖ ع اَلْوَاهِبُ الْمِأَةِ الْهِجَانِ وَ عَبْدِهَا فَإِنَّ قَوْلَهُ وَ عَبْدِهَا بِالْجَرِّ
اوچې کله واقع شو په شعرداعشى کې دده داقول الواهب المأة الهجان وعبدها څکه قول دده وعبدها په جرسره
مَعْطُوْفٌ عَلَى الْمِأَةِ فَصَارَ الْمَعْنٰى بِإِعْتِبَارِ الْعَطْفِ الْوَاهِبُ عَبْدِهَا فَهُوَ مِنْ بَابِ الضَّارِبُ زَيْدٍ
معطوف دي په مأة باندې نووګرځيده معنى په اعتبارد عطف دالواهب عبدهاسره نودادقبيلې دباب دالضارب زيد
فَكَمَا لاَ يَمْتَنِعُ ذٰلِكَ حَيْثُ اَنَّ بِهٖ بَعْضُ الْبُلَغَاءِ لَا يَمْتَنِعُ هٰذَا
نه دي نولکه څنګه چې نه دي ممتنع داپه داسې شان چې راتګ کړي په دې باندې بعضې بلغاونودا جائزنه دي
فَأَجَابَ الْمُصَنِّفُ عَنْهُ بِقَوْلِهٖ وَضَعُفَ الْوَاهِبُ الْمِائَةِ الْهِجَانِ وَعَبْدِهَا يَعْنِيْ اَنَّ هٰذَا الْقَوْلِ ضَعِيْفٌ لَا يَقْوٰى
نوجواب ورکړومصنف ددې نه په دې قول وضعف الواهب المائة الهجان وعبدها سره يعني داقول ضعيف دي قوي

فِي الْفَصَاحَةِ بِحَيْثُ يُسْتَدَلُّ بِهِ لِمَا عَرَفْتَ مِنْ اِمْتِنَاعِ

نه دي په فصاحت کې په داسې شان چې استدلال کړي په دې سره دوجهې دهغې نه چې تاوپېژنده د امتناع د

مِثْلِ اَلضَّارِبُ زَيْدٍ لِعَدَمِ الْفَائِدَةِ فِي الْاِضَافَةِ وَلَا يَخْفٰى اَنَّ فِيْهِ شَوْبَ مُصَادَرَةٍ عَلَى

الضارب زيدمثال دوجهې دعدم فائدې په اضافت کې اوپټه دې نه وي چې په دې کې شائبه دمصادرة على

الْمَطْلُوْبِ اَللّٰهُمَّ اِلَّا اَنْ يُّقَالَ الْمُرَادُ بِهٖ اَنَّهٗ ضَعِيْفٌ فِي الْاِسْتِدْلَالِ بِهٖ اِذْ لَا نَصَّ

المطلوب ده اللهم مګر که داوويلې شي چې مراد په دې سره ضعيف دي په استدلال کولوکې ځکه چې نشته نص

فِيْهِ عَلَى الْجَرِّ فَاِنَّهٗ يَحْتَمِلُ النَّصْبَ حَمْلاً عَلَى الْمَحَلِّ اَوْ عَلٰى اَنَّهٗ

په دې کې په جرباندې ځکه هغه احتمال لري د نصب د وجهې د حمل نه په محل باندې او يا په دې بناء چې دا

مَفْعُوْلٌ مَعَهٗ اَوْ لِاَنَّهٗ قَدْ يُتَحَمَّلُ فِي الْمَعْطُوْفِ مَا لَا يُتَحَمَّلُ فِي الْمَعْطُوْفِ

مفعول معه دي او يا دې وجهې نه چې کله احتمال لري په معطوف کې دهغه څه چې احتمال نه لري په معطوف

عَلَيْهِ كَمَا فِيْ رُبَّ شَاةٍ وَ سَخْلَتِهَا حَيْثُ جَازَ هٰذَا التَّرْكِيْبُ وَ لَمْ يَجُزْ رُبَّ سَخْلَتِهَا بِاِدْخَالِ رُبَّ

عليه کې لکه په رب شاة وسخلتها کې په داسې شان چې جائزدي داترکيب اونه دي جائزرب سخلتهاپه داخلولودرب

عَلٰى سَخْلَتِهَا بِدُوْنِ الْعَطْفِ وَالْبَيْتِ بِتَمَامِهٖ:

په سخلتها باندې په غير دعطف نه اوبيت پوره داسې دي:

اَلْوَاهِبُ الْمِائَةِ الْهِجَانِ وَ عَبْدِهَا	عُوْذًا يُزَجِّيْ خَلْفَهَا اَطْفَالَهَا
بخښونکي دسلوسپينواوښانواودمريانونخلي	دده پسې وروستووي نوي پيداشوي ماشومان

اَيْ مَمْدُوْحُهُ الْوَاهِبُ الْمِائَةِ الْهِجَانِ اَيِ الْبِيْضِ مِنَ النُّوْقِ يَسْتَوِيْ فِيْهِ الْجَمْعُ وَالْوَاحِدُ وَالْهِجَانُ

يعنې ممدوح دشاعربخښونکي دسلواوښانويعنې دسپينواوښانوچې برابردي په دې کې جمع اوواحداوالهجان

صِفَةٌ لِلْمِائَةِ اَوْ بَدَلٌ عَنْهَا اَوْ مِنْ قَبِيْلِ الثَّلٰثَةِ الْاَثْوَابِ كَمَا هُوَ مَذْهَبُ الْكُوْفِيِّيْنَ وَ عَبْدُهَا

صفت دي دمائة دپاره اويابدل دي ددې نه اويادقبيلې دالثلاثة الاثواب نه دي لکه دامذهب دکوفيانودي وعبدها

اَيْ رَاعِيْهَا تَشْبِيْهًا لَهٗ بِالْعَبْدِ لِقِيَامِهٖ بِحَقِّ خِدْمَتِهَا اَوْ عَبْدِهَا حَقِيْقَةً

يعنې راعيهاداتشبيه دراعي ده دعبدسره دوجهې د اودريدو نه په حق د خدمت دده کې او يا عبد دي حقيقتا په

بِاِضَافَتِهٖ لِاَدْنٰى مُلَابَسَةٍ عُوْذًا بِالذَّالِ الْمُعْجَمَةِ جَمْعُ عَائِذٍ اَيْ حَدِيْثَاتِ النَّتَاجِ حَالٌ مِنَ الْمِائَةِ

اضافت ددې سره دادنی ملابست نه عوذاپه ذال معجمه سره جمع دعائذده يعنې نومولودداحال دي دالمائة نه

يُزَجِّيْ بِالزَّاءِ الْمُعْجَمَةِ وَالْجِيْمِ عَلٰى صِيْغَةِ الْمَعْلُوْمِ الْمُذَكَّرِ اَيْ يَسُوْقُ وَفَاعِلُهٗ ضَمِيْرُ الْعَبْدِ وَاَطْفَالَهَا

يزجي په زاء معجمه سره اوجيم په صيغې دمعلوم مذکرسره يعنې نخلي اوفاعل دده ضمير دعبددي اواطفالها

مَنْصُوبٌ عَلَى الْمَفْعُوْلِيَّةِ اَوْ عَلٰى صِيْغَةِ الْمَجْهُوْلِ الْمُؤَنَّثِ وَ اَطْفَالِهَا مَرْفُوْعٌ عَلٰى اَنَّهٗ مَفْعُوْلُ مَا لَمْ يُسَمَّ
منصوب دي بنابر مفعوليت اويا په صيغې د مجهول مؤنث او اطفالهامرفوع دي بنا په دې چې دامفعول مالم يسم
فَاعِلُهٗ وَ حَقِيْقَةُ الْاَمْرِ لَا تَنْكَشِفُ اِلَّا بَعْدَ مَعْرِفَةِ حَرَكَةِ حَرْفِ الرَّوِيِّ مِنَ الْقَصِيْدَةِ .
فاعله دي او حقيقت دامرنه ښكاره كيږي مګرپس د معرفت د حركت د حرف روي د قصيدې.

خلاصه دمتن : لكه څنه چې مخكې تير شو چې صاحب د كافيې په دې عبارت كې هم دامام فراء باقي دليلونه ذكر كوي او دهغې جوابوه وركوي چې دهغې تفصيل په شرح كې را روان دي نو دلته هم د امام فراء رحمه الله دليل بيانوي او بيا صاحب د كافيې د هغه دليل جواب وركوي

اغراض دجامي : واماانشاوقع: په دې عبارت كې شارح دامام فراء رحمه الله ددوهم دليل بيان كوي

دويم دليل دامام فراء رحمه الله :امام فراء رحمه الله داعشي شاعر دشعر نه استدلال كوي او محل داستشهاد دشعر داجمله ده چې الواهب المأة الهجان وعبدها .

طريقه داستدلال : په وعبدها كې واو عاطفه دي او د عبدها عطف په المأة باندې دي نو په ذريعه دعطف عبارت داسې جوړيږي چې الواهب عبدها او دابعينه د الضارب زيد په شان دي ځكه چې مضاف معرف باللام دي او مضاف اليه هم معرفه دی نو لكه څنګه چې د الواهب عبدها تركيب جائز دي ځكه چې داديو فصيح او بليغ شاعر كلام دي همدا رنګې الضارب زيد هم جائز كيدل په كار دي .

فاجاب المصنف: په دې عبارت كې غرض د شارح صاحب د كافيې دامام فراء د دويم دليل جواب نقل كوي او د دې وضاحت او تشريح كوي د جواب تشريح داده چې د شاعر داقول ضعيف دي په دې كې د فصاحت په اعتبار سره دومره قوت نشته دي چې ددې نه استدلال وكړي شي او وجه داده چې په الواهب عبدها كې اضافت لفظيه دي او اضافت لفظيه د تخفيف فائده وركوي او هغه نه حاصليږي ځكه چې د الواهب تنوين سقوط د الف لام دوجې نه دي د اضافت دوجې نه ، نه دي مثال لكه په الضارب زيد كې اضافت لفظيه دي او د اضافت لفظي نه فائده د تخفيف نه حاصليږي نو دا جائز نه دي همدا رنګې الواهب عبدها تركيب هم جائز نه دي .

ولا يخفى: په دې عبارت کې شارح دذکر شوي جواب په تقرير باندې اعتراض کوي:

اعتراض: په دې جواب کې **مصادرة على المطلوب** يعنې د دَور بوي دې ځکه چې مطلوب او مدعی يعنې الضارب زيد دامتناع ثبوت دليلِ خصم يعنې الواهب عبدها په ابطال باندې موقوف دې اوبيا دوباره ددليلِ خصم ابطال موقوف شوي دې دمطلوب په اثبات باندې يعنې الف موقوف دې په ب باندې اوبيا ب موقوف دې په الف باندې دې ته دَور او **مصادرة على المطلوب** وايي

فائده: **مصادرة المطلوب** په اصطلاح دمناظره کې دې ته وايي چې دعوی لره ددليل جز جوړ کړي شي يا په نورو لفظونو کې نتيجه لره دقياس جز جوړ کړي شي اوددې څلور (۴) قسمونه دي: (۱) مطلوب اودعوی (نتيجه) بعينه دليل وي. (۲) مطلوب مدعی (نتيجه) ددليل جُزء وي. (۳) په مطلوب او دعوی (نتيجه) باندې دليل موقوف وي. (۴) په دعوی او مطلوب (نتيجه) باندې ددليل جزء موقوف وي.

اودلته **مصادرة على المطلوب** داسې دې چې اثباتِ مطلوب يعنې دالضارب زيد امتناع د مخالف دليل په الواهب عبدها په ابطال باندې موقوف دې بيا مصنف رحمه الله دمخالف دليل الواهب عبدها په ابطال سره دخپل مطلوب اثبات باندې موقوف کړي دې چې د الواهب عبدها ترکيب ځکه ضعيف او باطل دې چې دا الضارب زيد په شان دې.

سوال: سائل سوال کوي چې مصنف رحمه الله شوب مصادرة على المطلوب وويل مصادرة على المطلوب يې ولې ونه ويل دشوب (شائبه) په اضافت کې څه حکمت دې؟.

جواب: ددې سوال جواب دادې چې د مصادرة على المطلوب څلور (۴) قسمونه دي اودلته ددې څلورو نه يو صورت هم نشته دې نه خومطلوب بعينه دليل دې، اونه مطلوب ددليل جزء دې، اونه په مطلوب باندې دليل موقوف دې، اونه په مطلوب باندې ددليل جزء موقوف دې بلکه دلته مطلوب لره دهغه دليل دابطال دليل جوړ کړي شو چې په کوم دليل سره خصم دمطلوب نقيض (يعنې ددې په شان دترکيب جواز) لره ثابت کړي دي اوپه دې کې حقيقةً مصادرة على المطلوب خو نه دې البته د مصادرة على المطلوب شائبه موجود ده ځکه چې دمطلوب اثبات موقوف دې په هغه دليل دابطال باندې کوم چې دمطلوب نقيض لره ثابتوي اودلته مطلوب لره دهغه دليل دابطال دليل جوړ کړي شوي دې چې دکوم دليل سره خصم دمطلوب نقيض ثابت

کړي دي نو دا عین مصادرة نه دي بلکه په دې کې د مصادرة علی المطلوب شبه او شائبه ده ددې وجې نه شارح شوب مصادرة علی المطلوب ویلي دي بعینه مصادرة علی المطلوب یې نه دي ویلي .

اللهم : دا عبارت د مذکوره جواب په تقریر باندې مبني دي په دې باندې چې د ضعف فاعل قول دي اوس اللهم سره د ذکر شوي جواب د دویم تقریر بیان دي دا تقریر مبني دي په دې باندې چې د ضعف فاعل استدلال دي چې د هغې حاصل دادې چې په دې قول سره د فراء نحوي استدلال ضعیف دي بیا شارح د دې استدلال د ضعف دوه (۲) وجهې بیان کړي دي :

اوله وجه د ضعف : اذ لا نص : په دې عبارت کې شارح د ضعف د اولې وجهې بیان کوي چې دا استدلال به هله قوي وي چې کله په عبدها باندې جر متعین او متیقن وي حالانکه د عبدها جر یقیني او منصوص نه دي بلکه په دې کې د نصب هم احتمال دي د نصب دوه (۲) وجهې دي :

(۱) : د دې وجې نه منصوب دي چې دا المأة په محل باندې محمول دي او المأة محلاً منصوب دي په دې اعتبار سره چې د الواهب مفعول به دي . (۲) : واو په معنی د مع دي او عبدها منصوب دي بناء بر مفعول معه .

دوهمه وجه د ضعف : اولانه : په دې عبارت کې د ضعف د دویمې وجهې بیان کوي چې کله یو څیز په معطوف علیه کې جائز وي او په معطوف کې جائز نه وي لکه رب شاة وسخلتها رب په ذریعه د عطف وسخلتها معرفه باندې داخل دي او دا جائز دي او د عطف نه په غیر رب سخلتها ناجائز دي ځکه چې رب په نکره داخلیږي په معرفه نه داخلیږي ځکه چې رب د تقلیل او تکثیر دپاره راځي او تقلیل او تکثیر دا په نکره کې کیږي په معرفه کې خو تعین وي داسې کیدي شي چې الواهب وعبدها عطف سره جائز وي او د عطف نه په غیر الواهب عبدها ناجائز وي .

والبیت بتمامه : په دې عبارت سره شارح مکمل شعر پیش کوي چې پوره مطلب واضح شي :

اَلْوَاهِبُ الْمِائَةِ الْهِجَانِ وَ عَبْدِهَا	عُوْذًا يُزَجِّيْ خَلْفَهَا اَطْفَالَهَا
بخښونکي د سلو سپینو اوښانو او د مریانو	نخلي ده ده پسې وروستو نوي پیدا شوي بچي

ای بالبیض : په دې عبارت سره شارح د غیر مشهور تفسیر په مشهور سره کوي چې الهجان سپینې اوخې ته وایي .

ای ممدوحه : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : الواهب صيغه دصفت اسم فاعل او المأة قبل الاضافة د دې معمول مفعول به دي حالانکه صيغه دصفت دعمل دپاره دشپږو (۲) امورو نه په يو باندې اعتماد ضروري دي اودلته يو هم موجود نه دي لهذا دا اضافت لفظيه نه شي کيدې چې اضافت لفظيه نه شو نو يقيناً دا به اضافت معنويه وي ځکه چې او س دخصم د دې نه استدلال کول اوضعف سره د دې جواب ورکول به تړول باطل شي .

جواب : الواهب خبر دي د مبتدا محذوف چې ممدوحه دي اودا په دغې مبتدا محذوف باندې اعتماد کوي اوعمل کوي لهذا عمل به صحيح وي او ضافت لفظيه به وي اودخصم استدلال په وضعف سره د دې جواب تړول به صحيح وي .

تبصره : ليکن مولانا وسيم ګل باسولي رحمه الله دمولانا محمد عمر کابلي رحمه الله داسوال اوجواب رد کړي دي هغه وايي چې په الواهب باندې الف لام موصونه دي واهب صيغه دصفت په دغې باندې اعتماد کوي اوعمل کوي د دې وجې نه په ممدوحه سره شارح دجامي غرض او مقصد هغه نه دي کوم چې علامه کابلي رحمه الله ذکر کړي دي بلکه غرض اومقصد دهغه سوال مقدر جواب ورکول دي چې الواهب د دوه (۲) حالونه خالي نه دي : (۱) يا به مبتدا وي ، (۲) اويا به خبر وي . که مبتدا وي نو خبر چيرته دي که خبر وي نو مبتدا چيرته ده نو شارح جامي رحمه الله ممدوحه لفظ مقدر کړو اوجواب يې ورکړو چې الواهب خبر دي دمبتدا محذوف چې ممدوحه دي .

<u>يستوي</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي

سوال : المائة مونث او الهجان مذکر دي هسدارنګې المائة جمع معنوي او الهجان مفرد دي د دې وجې نه الهجان د المائة صفت جوړول صحيح نه دي تذکيراً اوتانيثاً افراداً وجمعاً د دوي په مينځ کې مطابقت نشته دي همدارنګې د الهجان تفسير په البيض سره کول هم صحيح نه دي ځکه چې الهجان مفرد او البيض جمع ده

جواب : الهجان په واحد اوجمع دواړو کې برابر استعماليږي دلته دجمع په حيثيت استعماليږي نو دالهجان تفسير په البيض سره کول صحيح دي اوجمع د جماعة په تاويل کې ده اوجماعة مؤنث دي لهذا الهجان د المائة صفت جوړول هم صحيح شو

الهجان صفة : په دې عبارت کې شارح د الهجان د ترکيب بيان کوي چې ددې په ترکيب کې دړ
(۳) احتمالات دي (۱) داد المائة صفت دي (۲) داد المائة نه بدل دي . (۳) داد الثلثة الاثواب
قبيلې څخه دي يعنې اسم عدد خپل معدود طرف ته مضاف دي لکه څنګه چې داد کوفيا
مذهب دي

اى راعيها : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : د عبدها ضمير المائة الهجان طرف ته راجع دي او عبد دې طرف ته مضاف دي معنى به
يې داشي چې د هغه سلو (۱۰۰) اوښو غلام دا معنى صحيح نه ده ځکه چې د عبد معنى مملوك
ده او د المائة الهجان د پاره مملوکيت نه شي کيدي ځکه چې دا غير ذوي العقول دي .

جواب : شارح ددې دوه (۲) جوابات ورکړي دي .

جواب (۱) : په راعيها سره اول جواب ورکوي چې دلته د عبد حقيقي معنى مراد نه ده بلکې
مجازي معنى مراد ده چې د عبد مجازي معنى راعي ده په دواړو کې مناسبت او علاقه داده چې
لکه څنګه چې عبد د خپل مولى د خدمت د پاره هر وخت مستعد او تيار او سيري نو همدارنګه
راعي هم د څاروو د خدمت د پاره هر وخت مستعد او تيار او سيري

جواب (۲) : او عبدها : په دې عبارت سره شارح دويم جواب ورکوي چې عبد په خپله حقيقي
معنى کې دي او د عبد اضافت ضمير د مائة طرف ته دادنى ملابست او مناسبت د وجې نه دې
هغه ادنى ملابست دا دې چې مولى غلام لره د څارو خدمت د پاره اخستي دي نو ګويا د هغه
څاروو غلام شو

عوذا : په دې عبارت سره شارح د عوذا لغوي تحقيق بيانوي چې عوذا په ذال سره د عائذ جمع ده
حديثات النتائج : په دې عبارت سره شارح د معنى بيان کوي چې حديثات النتائج په معنى نوي
پيدا شو بچو والا

حال من المائة : په دې عبارت سره شارح ترکيب بيانوي چې دا حال دي د المائة نه

يزجي : په دې عبارت سره شارح تحقيق صيغوي . ترکيبي او معنوي بيانوي په اعتبار د صيغو
سره په دې کې دوه (۲) احتماله دي (۱) واحد مذکر غائب د باب د افعال نه په معنى ديسوق
دي او ددې فاعل ضمير مستتر دي چې ددې مرجع عبد دي او اطفالها منصوب ده بناء بر مفعو

به ۲، داصيغه دواحد مؤنث غائب فعل مضارع مجهول دباب دتفعيل نه او **اطفالها** دامرفوع دي بناء برنائب دي

وحقيقة الامر: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي

سوال: سائل سوال كوي چې په او **على صيغة المجهول** كې او دتردد اوتشكيك دپاره دي نو دصيغې دترجي حالت مشكوک شو په قطعي اويقيني طور سره معلوم نه شو چې دادمعلوم صيغه ده يادمجهول

جواب: شارح په **وحقيقة الامر** سره ددې جواب وركوي چې ددې حقيقت دحرف روي يعنې د قصيدې آخري اشعار دحرف حركت دليدو نه منكشف او ظاهريږي كه باقي اشعارو كې په آخري حرف باندې نصب وي نو **اطفالها** به منصوب وي او **يزجي** به دمعلوم صيغه وي اوكه آخري حرف مرفوع وي نو **يزجي** به مجهول وي او **اطفالها** به مرفوع وي بناء برنائب فاعل.

دامام فراء رحمه الله دويم دليل او د هغې جواب:

وَ إِمَّا لِأَنَّهُ قَاسَهُ عَلَى اَلضَّارِبِ الرَّجُلِ وَ الضَّارِبُكَ فَأَجَابَ الْمُصَنِّفُ عَنْهُ بِقَوْلِهِ
اويا ددې وجې نه چې فراء قياس كړي په الضارب الرجل والضاربک باندې نوجواب وركړ مصنف ددې نه په دې قول
وَ إِنَّمَا جَازَ الضَّارِبُ الرَّجُلِ يَعْنِيْ كَانَ الْقِيَاسُ عَدَمَ جَوَازِهِ لِإِنْتِفَاءِ التَّخْفِيْفِ بِزَوَالِ التَّنْوِيْنِ
سره چې په تحقيق سره جائزدي الضارب الرجل يعنې وو قياس عدم جوازد وجې دانتفاء دتخفيف نه په زوال دتنوين
بِاللَّامِ لٰكِنَّهُ جَازَ حَمْلاً عَلَى الْوَجْهِ الْمُخْتَارِ فِي الْحَسَنِ الْوَجْهِ وَ هُوَ جَرُّ الْوَجْهِ بِالْإِضَافَةِ
باللام سره لكن جائزكړي دي دوجې دحمل كولونه په غوره وجه په الحسن الوجه كې او هغه جردوجه دي په اضافت
وَ فِيْهِ وَجْهَانِ آخَرَانِ رَفْعُهُ عَلَى الْفَاعِلِيَّةِ وَ نَصْبُهُ عَلَى التَّشْبِيْهِ بِالْمَفْعُوْلِ وَ
سره اوپه دې كې دوه وجهې دي نورې يو د رفع ده بنابرفاعليت اوبل نصب دي دوجې دتشبيه نه دمفعول سره او
وَجْهِ الْحَمْلِ اشْتِرَاكُهُمَا فِيْ كَوْنِ الْمُضَافِ صِفَةً وَالْمُضَافِ إِلَيْهِ جِنْساً مُعَرَّفَتَيْنِ بِاللَّامِ وَهٰذَا الْإِشْتِرَاكُ مَفْقُوْدٌ
وجه دحمل اشتراک ددواړو دي په كيدو دمضاف كې صفت اومضاف اليه جنس معرفه باللام اودا اشتراک مفقود
بَيْنَ الضَّارِبُ زَيْدٍ وَ الْحَسَنُ الْوَجْهِ فَقِيَاسُهُ عَلَيْهِ قِيَاسٌ مَعَ الْفَارِقِ.
دي په مينځ دالضارب زيد والحسن الوجه كې نوقياس ددې په الضارب زيد باندې قياس مع الفارق دي

خلاصه دمتن: په دې عبارت كې دامام فراء رحمه الله دريم دليل بيانوي چې دې لره صاحب د كافيې ذكر كوي اوددې جواب وركوي چې ددې مكمل تفصيل په اغراض جامي كې لاندې

وکوري

اغراض دجامي : **وامالانه قاسه**: په دې عبارت سره شارح دامام فراء رحمه الله دريم دليل بيانوي

دريم دليل : امام فراء نحوي رحمه الله **الضارب زيد** په **الضارب الرجل** باندې قياس کړي دي چې **الضارب الرجل** باندې په دواړو کې علت مشترکه دادې چې په دې کې د اضافت لفظيه دوجې نه تخفيف في اللفظ نه حاصليږي ځکه چې په **الضارب الرجل** د **الضارب** تنوين سقوط د الف لام دوجې نه شوي دي داضافت دوجې نه . نه دي او **الضارب الرجل** بالاتفاق جائز دي لهذا د **الضارب زيد** ترکيب هم جنز کيدل په کار وو .

فاجاب: په دې عبارت کې شارح دامام فراء ددريم دليل جواب په تفصيل سره بيانوي چې ددې اصل دادې چې دقياس تقاضا دغه وه چې د**الضارب الرجل** ترکيب جائز نه دي ځکه چې په دې کې اضافت لفظيه دتخفيف فائده نه ورکوي ځکه چې دتنوين زوال اوسقوط د الف دوجې نه شوي دي نه داضافت دوجې نه ليکن دې لره **الحسن الوجه** په وجه مختار باندې محمول شو اوجائز کړي شو .

وهو جر الوجه بالاضافة: په دې عبارت کې شارح په **الحسن الوجه** کې غوره وجه د**الوجه** داضافت دوجې نه مجرور کيدل دي چې په **الحسن الوجه** کې غوره وجه د**الوجه** اضافت دوجې نه مجرور کيدل دي جر ځکه مختار دي چې په **الوجه** باندې رفع اونصب مخدوش او قبيح دي چې **الحسن الوجه** جمله ده اوصفت دي دزيد اصل جمله ده **جاءني زيد الحسن الوجه** نو دمرفوع کيدو په صورت کې په دې کې به ضمير نه وي کوم چې موصوف **زيد** طرف ته راجع دي حالانکه په جمله صفتيه کې ضمير کيدل ضروري دي نصب ځکه مخدوش دي چې ددې تشبه بالمفعول دوجې نه دي او جر بالاصالة دي ځکه چې جر مختار دي

وفيه وجهان آخران: په دې عبارت سره شارح په **الحسن الوجه** کې د دوه (۲) وجهو بيان کوي کومې چې غير مختارې دي (۱) ددې رفع بناء برفاعليت باندې (۲) نصب دمفعول سره د مشابهت دوجې نه

الوجه دمفعول به سره ددې وجې نه مشابه ده چې **الوجه** په اصل کې په منزله دتميز ده يعني

الحسن الوجه په منزله د حسن وجها دي او تميز د مفعول په شان منصوب وي او الوجه مشابه بالمفعول دي بعينه مفعول نه شي جوړيدي ځکه چې الحسن لازمي دي د مفعول تقاضا نه کوي.

وجه الحمل: په دې عبارت سره شارح الضارب الرجل لره الحسن الوجه په غوره وجه باندې د محمول کيدو وجه بيانوي چې دا دواړه ترکيبونه په دوه (۲) امرونو کې مشترک دي. (۱) په دواړو کې مضاف صيغه د صفت ده چې معرف باللام دي. (۲) په دواړو کې مضاف اليه جنس معرف باللام دي د دې وجې نه الضارب الرجل لره په الحسن الوجه باندې قياس کړي او جائز کړي دي ليکن دا اشتراک الضارب زيد او الحسن الوجه کې مفقود وو لهذا الضارب زيد لره په الضارب الرجل باندې قياس کول قياس مع الفارق دي.

د امام فراء رحمه الله دريم دليل او د هغې جواب:

وَ الضَّارِبُکَ يَعْنِيْ إِنَّمَا جَازَ الضَّارِبُکَ مَعَ اَنَّ الْقِيَاسَ عَدَمُ جَوَازِهِ لِمَا عَرَفْتَ وَ
او الضاربک يعني جائز شو الضاربک سره د دې چې قياس عدم جواز دي د وجې د هغه څه نه چې تا پيژندلي دي او
كَذَا شِبْهُهُ وَ هُوَ الضَّارِبِيْ وَ الضَّارِبُهُ وَ غَيْرِهِمَا فِيْمَنْ قَالَ أَيْ فِيْ قَوْلِ مَنْ
همدارنګې مشابه د دې او هغه الضاربي او الضاربه او غير د دې نه دي په هغه څه کې چې ووايي يعني په قول د هغه
قَالَ يَعْنِيْ سِيْبَوَيْهِ وَ أَتْبَاعَهُ أَنَّهُ أَيْ الضَّارِبُ فِيْ الضَّارِبُکَ مُضَافٌ دُوْنَ مَنْ
چا کې چې ويلي دي يعني سيبويه او اتباع د ده چې دا يعني الضارب په الضاربک کې مضاف دي نه قول د هغه چا
قَالَ أَنَّهُ غَيْرُ مُضَافٍ وَ الْكَافُ مَنْصُوْبُ الْمَحَلِّ عَلَى الْمَفْعُوْلِيَّةِ وَ التَّنْوِيْنُ مَحْذُوْفٌ لِاتِّصَالِ
چې وايي چې دا غير مضاف دي او کاف منصوب المحل دي بنابر مفعوليت او تنوين محذوف دي د وجې د اتصال د
الضَّمِيْرِ لَا لِلْإِضَافَةِ فَإِنَّهُ لَا يَحْتَاجُ جَوَازِهِ إِلَى حَمْلٍ حَمْلاً أَيْ
ضمير نه د اضافت د وجې نه ځکه چې محتاج نه دي جواز د دې په يو چا د حمل کولو د وجې د حمل کولو نه يعني د
لِمَحْمُوْلِيَّتِهِ عَلَى ضَارِبُکَ فَاتَّحَدَ فَاعِلُ الْمَفْعُوْلِ لَهُ وَ الْفِعْلِ الْمُعَلَّلِ بِهِ أَعْنِيْ جَازَ وَ بَيَانُهُ
حمل کولو د دې نه په ضاربک باندې نو يو شو فاعل د مفعول له او د فعل معلل به چې هغه جاز دي او بيان د دې دا دي
أَنَّهُمْ إِذَا وَصَلُوْا أَسْمَاءِ الْفَاعِلِيْنَ وَ الْمَفْعُوْلِيْنَ مُجَرَّدَةً عَنِ اللَّامِ بِمَفْعُوْلَاتِهَا وَ كَانَتْ مُضْمَرَاتٍ مُتَّصِلَاتٍ
چې دوي کله موصول کړ اسماء افعال او اسماء مفعول چې مجرد دوي د لام نه په مفعولاتو سره او وو مضمرات متصل
اِلْتَزَمُوْا الْإِضَافَةَ وَلَمْ يَنْظُرُوْا إِلَى تَحَقُّقِ تَخْفِيْفٍ فَقَالُوْا ضَارِبُکَ وَ إِنْ لَمْ يَحْصُلِ التَّخْفِيْفُ
نو لازم يې کړو اضافت او نظر يې ونه کړو تحقق د تخفيف ته نو وويل ضاربک اګر که نه حاصليږي تخفيف په

بِالْإِضَافَةِ بَلْ بِنَفْسِ إِتِّصَالِ الضَّمِيْرِ ثُمَّ لِمَا لَمْ يَعْتَبِرُوْا التَّخْفِيْفَ فِيْ ضَارِبُكَ وَ جَوَّزُوْهُ بِدُوْنِهِ

اضافت سره بلکې په نفس اتصال د ضمير سره بيا هر کله چې نه وو معتبر تخفيف په ضاربک کې او جائزيې کړو په غير

حَمَلُوْا الضَّارِبُكَ عَلَيْهِ لِأَنَّهُمَا مِنْ بَابٍ وَاحِدٍ حَيْثُ كَانَ كُلٌّ مِنْهُمَا اِسْمَ فَاعِلٍ

ددې نه سره حمل يې کړو الضاربک په دې باندې خکه چې دا دواړه د يو باب نه دي ځکه چې هر يو ددې نه اسم فاعل

مُضَافاً إِلٰى مُضْمَرٍ مُتَّصِلٍ مَحْذُوْفاً تَنْوِيْنُهُ قَبْلَ الْإِضَافَةِ لَا لِلْإِضَافَةِ وَ لَمْ يَحْمِلُوا الضَّارِبُ زَيْدٍ

مضاف مضمر متصل ته چې محذوف دي تنوين ددې مخکې د اضافت نه او نه يې دي حمل کړي الضارب زيد په

عَلَيْهِ لِأَنَّهُمَا لَيْسَا مِنْ بَابٍ وَاحِدٍ وَ الدَّلِيْلُ عَلٰى أَنَّ سُقُوْطَ التَّنْوِيْنِ فِيْ ضَارِبُكَ لِاتِّصَالِ

دې باندې خکه چې دا دواړه نه دي د يو باب نه او دليل ددې سقوط د تنوين دې په ضاربک کې دوجې د اتصال د

الْكَافِ لَا لِلْإِضَافَةِ إِنَّهَا لَوْ سَقَطَتْ بِالْإِضَافَةِ لَكَانَ يَنْبَغِيْ أَنْ يُتَصَوَّرَ ذٰلِكَ أَوَّلًا عَلٰى

کاف نه .نه د اضافت دوجې که چيرته ساقط شي د اضافت دوجې نه نووي به مناسب چې متصور شي دا اولا په

وَجْهٍ يَكُوْنُ الضَّمِيْرُ مَنْصُوْبًا بِالْمَفْعُوْلِيَّةِ ثُمَّ يُضَافُ وَ يُقَالُ ضَارِبُكَ كَمَا

داسې وجې سره چې وي ضمير منصوب بنا بر مفعوليت او بيا مضاف شي او وويل شي ضاربک لکه څنګه چې

يُتَصَوَّرُ ضَارِبٌ زَيْداً ثُمَّ يُضَافُ وَ يُقَالُ ضَارِبُ زَيْدٍ وَ لَنْ يُتَصَوَّرَ ضَارِبٌ كَ فَعُلِمَ

متصوردي ضارب زيدا او بيا مضاف شوې وي او ويلې شوې وي ضارب زيد او نه دي متصور ضارب ک نو معلومه شوه

أَنَّهَا سَقَطَتْ لِاتِّصَالِ الْكَافِ لَا لِلْإِضَافَةِ وَ لِقَائِلٍ أَنْ يَقُوْلَ لِمَ

چې دا ساقط شوې دي دوجې د اتصاف د کاف نه .نه د اضافت نه او جائزدي د قائل دپاره چې ووايي دخه وجې نه

لَا يَجُوْزُ أَنْ يَكُوْنَ أَصْلُ ضَارِبُكَ ضَارِبٌ إِيَّاكَ لِلْفَصْلِ بِالتَّنْوِيْنِ ثُمَّ لِمَا أُضِيْفَ حُذِفَ

نه دي جائز چې وي اصل د ضاربک ضارب اياک د پاره د فصل په تنوين سره او بيا هر کله چې اضافت وشو حذف د

التَّنْوِيْنُ وَ صَارَ الضَّمِيْرُ الْمُنْفَصِلُ مُتَّصِلاً فَصَارَ ضَارِبُكَ وَ حَصَلَ التَّخْفِيْفُ جِدًّا ثُمَّ حُمِلَ

تنوين ته او وګرځيد ضمير منصل متصل نو وګرځيد ضاربک او حاصل شو تخفيف په قطعي طور بيا يې حمل کړو

الضَّارِبُكَ عَلَيْهِ لِأَنَّهُمَا مِنْ بَابٍ وَاحِدٍ حَيْثُ كَانَ كُلٌّ مِنْهُمَا اِسْمَ فَاعِلٍ مُضَافًا

الضاربک په دې باندې خکه چې دا دواړه د يو باب نه دي په داسې شان چې وو هر يو ددې دواړو نه اسم فاعل مضاف

إِلٰى مُضْمَرٍ مُتَّصِلٍ مِنْ غَيْرِ اِعْتِبَارِ حَذْفِ تَنْوِيْنِهِمَا قَبْلَ الْإِضَافَةِ لَا لِلْإِضَافَةِ وَ لَمْ يَحْمِلُوا

مضمر متصل ته په غير د اعتبار د حذف د تنوين د دواړو مخکې د اضافت نه نه د اضافت نه او نه يې دي حمل کړي

الضَّارِبِ زَيْدٍ عَلَيْهِ لِأَنَّهُمَا لَيْسَ مِنْ بَابٍ وَاحِدٍ.

الضارب زيد په دې باندې خکه چې دواړه د يو باب نه .نه دي

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې دامام فراء رحمه الله څلورم دليل بيان کوي چې دې لره يې ذکر کړه اوصاحب دکافيې ددې جواب ورکوي چې ددې مکمل تفصيل لاندې په شرحه کې ذکر کيږي

څلورم دليل دامام فراء رحمه الله : امام فراء رحمه الله الضارب زيد په الضاربک باندې قياس کړي دي په دواړو کې علت مشترکه دادې چې په دې کې داضافت لفظيه نه تخفيف في اللفظ نه حاصليږي ځکه چې الضاربک کې دتنوين سقوط دالف لام دوجې نه شوي دي داضافت د وجې نه ، نه دي اوکله چې الضاربک جائز دي نو الضارب زيد به هم جائز وي .

اغراض دجامي : الضاربک: په دې عبارت کې صاحب دکافيې دامام فراء رحمه الله د څلورم دليل جواب ورکوي يعنې شارح ددې جواب وضاحت کوي چې نحويان خو الضاربک کې داضافت قائل نه دي بلکه هغوي وايي چې په دې کې الف لام په معنى دالذي اسم موصول دي او ضارب په معنى دضرب دي اوکاف ضمير منصوب متصل مفعول به دي اودضارب تنوين د حذف او سقوط دضمير دانصال دوجې نه دي داضافت دوجې نه ، نه دي ددې مذهب مطابق د الضاربک ترکيب دجواز دڅه حمل محتاج نه دي ځکه چې کله په الضاربک کې کوم چې دامام فراء مقيس عليه دي اضافت نشته دي .

نو دامام فراء رحمه الله الضارب زيد په الضاربک باندې قياس کول به څنګه صحيح شي اوکه په الضاربک کې اضافت ومنل شي لکه څنګه چې دامام سيبويه اود ددې د متبعينو مذهب دي نو په دې وخت کې هم امام فراء رحمه الله الضارب زيد په الضاربک باندې قياس کول صحيح نه دي ځکه چې دقياس دشرائطو نه يو شرط داهم دي چې مقيس عليه خلاف قياس نه وي اودلته مقيس عليه يعنې الضاربک خلافِ قياس دي ځکه چې دقياس تقاضا داوه چې الضاربک ترکيب جائز نه وي ځکه چې په دې کې اضافت لفظيه دي اوداضافت لفظيه فائده تخفيف في اللفظ نه حاصليږي ځکه چې په دې کې تنوين دسقوط دالف لام دوجې نه دي داضافت دوجې نه ، نه دي ليکن نحويانو دې لره په ضاربک باندې محمول کړي اوخلافِ قياس جائز يې ګرځولې دي .

يعني انما جاز: په دې عبارت کې شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې دالضاربک عطف په الرجل باندې دي .

وكذا شبهه په دې عبارت سره شارح اشاره کوي چې د قول د دليل صرف په الضاربک سره خاص نه دی بلکه د دې مشابه الضاربي الضاربه وغيره هم د دې د دليلونه دي په دې کې هم صيغه صفت معرف باللام ضمير طرف ته مضاف دی

وهو الضاربي په دې عبارت کې د مشبه مصداق بيانوي چې د مشبه مصداق **الضاربي** و الضاربه وغيره دي

اى قال من قال يعني سيبويه : په دې عبارت سره شارح د **مَن مصداق متعين کوي چې** د مَن مصداق سيبويه او د ده متبعين دي

اى الضارب . په دې عبارت کې شارح د ضمير مرجع متعين کوي چې د ضمير مرجع **ضارب** دی کوم چې په الضاربک کې واقع دي

دون من قال : په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چې د مصنف قول **فيمن قال** نه معلوميږي چې په دې کې بل مذهب هم شته دي نو شارح رحمه الله نور مذاهب بيانوي چې د **هغې مذاهبو** ذکر مخکې تير شوي دي

اى لمحموليته : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : **حملاً** مفعول له دی د جاز او لام محذوف دي حالانکه د مفعول له لام لره د حذف کيدو شرائطو کې يو شرط دا دي چې مفعول له او فعل معلل به د دواړو فاعل يو وي او دلته فاعل جدا دي ځکه چې د جاز فاعل ضاربک دي او د **حملاً** فاعل متکلم دي

جواب : دلته مصدر مبني للمفعول **حملاً** د محمول په معنى کې دي او محمول الضاربک دی لهذا **فعل معلل** او د **مفعول له** فاعل يو شو دي لره علامه جامي په **فاتحد فاعل المفعول له والفعل المعلل** عبارت سره بيان کړي دي

وبيانه په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : محمول او د محمول عليه په مينځ کې مناسبت ضروري دي او دلته مناسبت نشته دی ځکه چې الضاربک معرف باللام دی او ضاربک مجرد عن اللام دي نو الضاربک لره په ضاربک باندې محمول کول څنګه صحيح شو

جواب : په دې کې په نوعيت کې مناسبت موجود دی شو هغه دا چې د نحويانو قاعده ده

چې كله اسم فاعل اواسم مفعول مجرد عن اللام وي اوداد ضمير متصل سره يوځاي شي نو هغوي دې طرف ته داضافت التزام كوي او دې خبرې طرف ته نظر نه كوي چې په دې كې د اضافت دوجې نه تخفيف حاصل شوي دي يانه دي حاصل شوي بلكه به غير دحصول دتخفيف نه هم هغوي دې لره جائز كوي پس ددې قاعدې مطابق كله چې هغوي ضارب لره دكاف ضمير سره يوځاي كول وغوښتل نو دې طرف ته داضافت التزام يې وكړو او ضاربک يې وويلو اګر كه د اضافت دوجې نه تخفيف حاصل نه شو ، نه په مضاف كې اونه په مضاف اليه كې بلكه په مضاف كې تخفيف دنفس اتصال دضمير دوجې نه حاصل شوي دي نو كله چې نحويان د ضاربک تركيب ته بلا اعتبار تخفيف جائز كړو نو د الضاربک اضافت هم په دې باندې قياس او محمول كړه اوجائزيې كړه اګرچې په دې كې هم داضافت دوجې نه تخفيف نه دي حاصل شوي اوپه الضاربک باندې يې ځكه محمول كړو ځكه چې دواړه ديو باب نه دي په دواړو كې مناسبت اوموافقت تامه موجود دي ځكه چې دواړه داسم فاعل صيغې دي اودواړه ضمير متصل طرف ته مضاف دي اوپه دواړو كې تنوين داضافت نه مخكې داتصال ضمير دوجې نه حذف شوي دي داضافت دوجې نه ، نه دي حذف شوي .

ولم يحملوا الضارب زيد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي :

سوال : لكه څنګه چې الضاربک په ضارب باندې محمول كړي شوي دي دمناسبت دوجې نه همدغه شان الضارب زيد لره هم د ضاربک سره په دې اعتبار سره مناسبت دي چې دواړه داسم فاعل صيغې دي نو دې لره يې ولې محمول نه كړو ؟

جواب : الضارب زيد اګرچې داسم فاعل واقع كيدو په اعتبار سره د ضاربک سره مناسبت لري ليكن ضمير متصل طرف ته دمضاف كيدو په اعتبار سره مناسبت نه لري ددې وجې نه الضارب زيد لره په ضاربک باندې محمول كول اوددې اضافت لره يې جائز نه دي ګرځولي .

والدليل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي

سوال : ستا سره څه دليل دي چې په ضاربک كې دتنوين سقوط داتصال ضمير دوجې نه شوي دي داضافت نه سقوط دتنوين نه دي شوي اوزمونږ دعوى ده چې دتنوين سقوط د اضافت دوجې نه شوي دي

جواب : ددې دليل دادې چې داضافت دوجې نه دتنوين سقوط هلته كيږي چيرته چې :

اضافت نه مخکې مضاف او مضاف الیه لره جدا کلمه متصور شي او په مضاف باندې تنوین ولوستل شي بیا د دې اضافت مابعد طرف ته وکړي شي چې د کومې وجې نه تنوین ساقط شي لکه الضارب زید کې د اضافت نه مخکې دواړو لره جدا کول ضارب زیداً لوستل متصور کیدې شي ضارب مرفوع او زیداً بناء بر مفعولیت منصوب دي د دې نه وروستو د ضارب اضافت زید طرف ته وشو چې د هغې دوجې نه د ضارب نه تنوین ساقط شو لیکن په ضاربک کې دا خبره نه شي متصور کیدې چې دواړه جدا شي او ضارب ک ولوستل شي د ضارب رفع او ک نصب سره بناء بر مفعولیت شي ځکه چې د کاف متصل انفصال ناممکن دې لهذا په ضاربک کې د تنوین سقوط د اضافت دوجې نه ، نه دې شوې بلکه اتصال د ضمیر دوجې نه شوې دې .

ولقائل: په دې عبارت سره شارح په ذکر شوې دلیل باندې اعتراض کوي چې کیدې شي چې د ضاربک رجل ضارب ایاک وي ضمیر مفصل سره بیا چې کله ضارب لره مضاف کړې شو ایاک طرف ته نو د اضافت دوجې نه د مضاف نه تنوین ساقط شو او ضمیر مفصل په متصل سره بدل شو نو په دې کې په اعلی درجه تخفیف حاصل شو . ځکه چې په مضاف او مضاف الیه دواړو کې تخفیف حاصل شوې دې په مضاف کې تنوین ساقط شو او په مضاف الیه کې ضمیر منفصل متصل شو چې د دې سره اختصار وشو نو علی وجه الکمال تخفیف حاصل شو بیا الضاربک په دې باندې محمول کړې شو ځکه چې دواړه د یو باب نه دي او الضارب زید لره محمول نه کړې شو ځکه چې دواړه د یو باب نه ، نه دي .

جواب : د دې اعتراض جواب شارح نه دې ورکړې لیکن د دې جواب دا کیدې شي چې که د ضاربک اصل ضارب ایاک وي نو دا د اهل عربو نه به مسموع وي لکه څنګه چې الضارب زید متصور او مسموع دې حالانکه د اهل عربو نه ضارب ایاک مسموع نه دې نو د دې نه معلومه شوه چې د دې اصل ضارب ایاک متصور نه دې ، همدارنګې مونږ دا نه منو چې ضاربک په اصل کې ضارب ایاک وو ځکه چې ضمیر متصل اصل . او منفصل خلافِ اصل دې نو په دې کې عدول د اصل نه خلاف اصل ته لازم راځي چې دا باطل دې .

د ماتن د عبارت یو بل وضاحت :

وَاعْلَمْ اَنَّا حَمَلْنَا قَوْلَهُ وَضَعْفَ الْوَاهِبُ الْمِائَةِ الْهِجَانِ وَعَبْدِهَا وَقَوْلَهُ الضَّارِبُ الرَّجُلِ وَ الضَّارِبُکَ
او پوه شه چې حمل کړو مونږ دا قول د مصنف وضعف الواهب المائة الهجان وعبدها او دا قول الضارب الرجل او الضاربک

حَمْلاً عَلٰى نَظِيْرِيْهِمَا عَلَى الْأَجْوِبَةِ عَنْ اِسْتِدْلَالَاتِ الْفَرَّاءِ عَلٰى جَوَازِ الضَّارِبُ زَيْدٍ عَنْ جَانِبِ

دوجې دحمل كولونه په دواړو مثالونو باندې په جواباتو باندې د استدلالاتو دفراءنه په جواز دالضارب زيد دطرف د

الْمُصَنِّفِ عَلٰى مُوَافَقَةِ بَعْضِ الشَّارِحِيْنَ وَ لَكَ اَنْ تَجْعَلَ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهَا اِشَارَةً اِلٰى مَسْأَلَةٍ عَلٰى حِدَةٍ

مصنف نه په موافقت دبعضې شارحينو اوجائز دې تاته چې ته وګرځوې هريو دې نه اشاره مسئلې جداته دوجې

مُنَاسَبَةٍ لِلْحُكْمِ بِاِمْتِنَاعِ الضَّارِبُ زَيْدٍ فَمَعْنٰى قَوْلِهٖ وَ ضَعُفَ الْوَاهِبُ الْهِجَانِ وَ عَبْدِهَا اَنَّهٗ ضَعُفَ

دمناسبت نه دحكم سره په امتناع دالضارب زيد نو معنى دقول دمصنف وضعف الواهب المائة الهجان وعبدها چې

عَطْفُ الْمُجَرَّدِ عَنِ اللَّامِ عَلَى الْمَحَلّٰى بِهِ الْمُضَافِ اِلَيْهِ صِفَةً مُصَدَّرَةً بِاللَّامِ لِاَنَّهٗ بِتَوَسُّطِ الْعَطْفِ

ضعيف دې عطف دمجرد عن اللام په محلى به مضاف اليه صفت مصدر باللام باندې خكه په توسط دعطف

يَصِيْرُ مِثْلَ الضَّارِبُ زَيْدٍ كَمَا عَرَفْتَ وَ اِنَّمَا لَمْ يَحْكُمْ عَلَيْهِ بِالْاِمْتِنَاعِ بَلْ بِالضُّعْفِ

سره ګرځي په شان دالضارب زيد لكه څنګه چې تا وپيژندل او حكم نه شي كولې په دې باندې دامتناع بلكې دضعف

لِاَنَّهٗ قَدْ يُتَحَمَّلُ فِي الْمَعْطُوْفِ مَا لَا يُتَحَمَّلُ فِي الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ

حكم لړولې شي خكه چې كله حمل كولې شي په معطوف كې هغه څه چې نه شي حمل كولې په معطوف عليه كې

وَ حِيْنَئِذٍ يَنْدَفِعُ مَا فِيْهِ مِنْ تَوَهُّمِ شَائِبَةِ الْمُصَادَرَةِ عَلَى الْمَطْلُوْبِ عَلَى التَّقْدِيْرِ الْأَوَّلِ

او په دې وخت كې دفع كيږي هغه چې وي په دې كې توهم دشائبې دمصادرې على المطلوب په اول تقدير باندې

وَ اِرْجَاعُ كُلٍّ مِنَ الصُّوْرَتَيْنِ الْأَخِيْرَتَيْنِ اِلٰى مَسْأَلَةٍ ظَاهِرٍ وَ يَتَضَمَّنُ الرَّدَّ عَلَى الْفَرَّاءِ فِي الْاِسْتِدْلَالِ

او دراجع كولو دهر يو ددواړو آخرني صورتونو ظاهر مسئلې ته او متضمن دې رد په فراء په استدلال باندې په

بِـــهِـــمَـــا.

دواړو مثالو كې.

خلاصه دمتن : په دې ذكر شوي متن كې شارح دماتن دعبارت **وضعف الواهب المائة الهجان وعبدها** ، او د **الضارب الرجل او الضاربك** ، په يوې بلې طريقې سره وضاحت كوي .

اغراض دجامي : واعلم انا حملنا: په دې عبارت كې شارح دجامي دمخكني عبارت يو بل تقرير او وضاحت كوي دماتن اقوال : (۱) **الواهب المائة الهجان وعبدها** . او (۲) **الضارب الرجل او الضاربك** ، ددې اقوالو خو يو تقرير او وضاحت مخكې تير شوي دې اودا تقرير او وضاحت عام شارحين مثلاً علامه رضي وغيره دطريقې مطابق دې چې ددې نه مقصود دفراء نحوي د استدلالاتو جوابات وركول دي ليكن ددې ټول عبارت يو بل تقرير او وضاحت هم كيدې شي چې هغې لره په دې عبارت كې شارح د **واعلم** په عنوان سره ذكر كوي دا هم كيدې شي چې د

ماتن په عبارت کې دې دري (۳) مثالونو نه دهر يو نه يو مستقل او جدا مسئلې طرف ته اشاره وي کوم چې د الضارب زيد دامتناع دحکم مناسب وي او هغه په الضارب زيد په امتناع باندې دلالت کوي همدارنګې داول قول ضعيف سره دې مسئلې طرف ته اشاره ده چې هغه اسم کوم چې مجرد عن اللام وي ددې عطف په داسې معرف باللام باندې ضعيف دي چې هغې طرف ته صيغه دصفت معرف باللام مضاف وي اوضعيف ددې وجې نه دي چې په واسطې دعطف دابه د الضارب زيد په شان شي حالانکه د الضارب زيد ترکيب ناجائز دي نو دامستقل مسئله الضارب زيد ترکيب په امتناع باندې دلالت کوي.

وانمالم يحكم: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: کله چې د الضارب زيد ترکيب ممتنع دي نو الواهب المائة الهجان وعبدها ترکيب هم ممتنع کيدل په کار وو دې لره ضعيف ولې ګرځولې دي؟

جواب: کله ناکله په معطوف کې هغه څه جائز وي کوم چې په معطوف عليه کې جائز نه وي چې دهغې څه تفصيل مخکې تير شوي دي ددې وجې نه يې دضعف حکم لرولي دي اودامتناع حکم يې نه دي لرولي

وحينئذ: په دې عبارت سره شارح دا واضحه کوي چې دکله دمصنف قول وضعف الواهب المائة الهجان وعبدها لره مستقل مسئله وګرځولې شي نو په دې باندې مصادرة على المطلوب شائبې والا اشکال به هم دفع شي کوم چې په اول تقدير باندې واردېدو

وارجاع كل من الصورتين: په دې عبارت کې شارح دابيانوي چې دويم اودريم صورت لره مستقل مسئلې طرف ته راجع کول ظاهر او واضح دي دې لره دبيان کيدو ضرورت نشته دي ليکن ددې اوسنې زمانې دطالبانو دپاره واضح نه دي ددې وجې نه ددې لږ مختصر شان وضاحت کيږي

دوهم قول سره دې مسئلې طرف ته اشاره ده چې صفت معرف باللام داضافت جنس معرف باللام طرف اله ... الوجه په غوره وجه باندې محمول کو. حائز دي اګرچې داضافت دوجې نه تخفيف حاصل نه وي

دريم قول سره دې مسئلې طرف ته اشاره ده چې دصفت معرف باللام اضافت ضمير طرف ته جائز دي په دې صفت باندې محمول کول کوم چې مجرد ... اللام وي اوضمير طرف ته مضاف

وي اګرچې دا اضافت دوجې نه تخفیف حاصل نه وي

ویتضمن: ددې دوه (۲) مسئلو سره دفراء د استدلال رد به هم وشي هغه دا سې چې کله په الضارب الرجل او الضاربک کې د اضافت جواز په غیر باندې دمحمول کیدو دوجې نه شوي دي نو دا عاجز خو په خپله دغیر محتاج او دغیر نه سوال کوونکي شو نو ددې نه استدلال کول الضارب زید په جواز باندې د استعاره من المستعیر وسوال من الفقیر یعني دفقیر نه سوال کول دقبیلې نه به شي کوم چې مناسب نه دي

د صفت موصوف او د موصوف صفت طرف ته د اضافت بیان :

وَلَا يُضَافُ مَوْصُوْفٌ إِلَى صِفَتِهٖ مَعَ بَقَاءِ مَعْنَى الْمُفَادِ بِالتَّرْكِيْبِ الْوَصْفِيْ بِحَالِهٖ

اونه شي مضاف کولې موصوف صفت طرف ته سره دبقاء دمعنی چې مستفاد ده د ترکیب وصفي نه په خپل حال

لِأَنَّ لِكُلٍّ مِنْ هَيْئَتَيِ التَّرْكِيْبِ الْوَصْفِيْ وَ الْإِضَافِيْ مَعْنًى آخَرَ لَا يَقُوْمُ أَحَدُهُمَا مَقَامَ

باندې ځکه د هر یو دواړو هیئتونو د ترکیب وصفي او اضافي بله معنی ده چې نه قائمیږي یو ددې دواړو نه په ځاي

الْآخَرِ وَ لِهٰذَا الْمَعْنٰى بِعَيْنِهٖ لَا تُضَافُ صِفَةٌ إِلَى مَوْصُوْفِهَا فَلَا يُقَالُ مَسْجِدُ الْجَامِعِ

دبل باندې او ددې وجې نه معنی بعینه نه شي مضاف کیدې دصفت موصوف طرف ته نو نه شي ویلې مسجد الجامع

بِمَعْنَى الْمَسْجِدُ الْجَامِعُ وَجَرْدُ قَطِيْفَةٍ بِمَعْنٰى قَطِيْفَةٌ جَرْدٌ خِلَافاً لِلْكُوْفِيَّةِ فَإِنَّ مَسْجِدَ الْجَامِعِ عِنْدَهُمْ

په معنی د المسجدُ الجامع او جرد قطیفة په معنی د قطیفة جرد خلاف ثابت دي کوفیانو لره ځکه مسجد الجامع ددوي

بِمَعْنَى الْمَسْجِدِ الْجَامِعُ وَجَرْدُ قَطِيْفَةٍ بِمَعْنٰى قَطِيْفَةٌ جَرْدٌ مِنْ غَيْرِ فَرْقٍ.

په نزد په معنی د المسجد الجامع دي او جرد قطیفة په معنی د قطیفة جرد دي په غیر دڅه فرق نه .

خلاصه دمتن: صاحب د کافیې په دې عبارت کې دوه (۲) قاعدې بیانوي . موصوف ددې صفت طرف ته نه شي مضاف کیدې (۲) او دصفت اضافت هم موصوف طرف ته نه شي کیدې

(۱) ددې یو وجه خو علامه جامي رحمه الله ذکر کوي .

(۲) دوهمه وجه داده چې د موصوف اضافت صف ته په دې صورت کې اجتماع دضدینو لازم راځي ځکه چې صفت په اعراب کې : موصوف تابع وي او مضاف الیه همیشه مجرور وي نو یو څیز په یو وخت کې مرفوع او مجرور کیدل لازم راځي او دا جائز نه دي

(۳) دریمه وجه داده چې عدم جواز داده چې موصوف اخص من الصفة او یا مساوي الصفة وي او مضاف عام وي د مضاف الیه نه یا مباین وي نو یو څیز په یو وخت کې احتمال [illegible]

او مساوي او مبائن کيدل لازم راځي داهم اجتماع دضدينو لازم راځي .

اغراض دجامي : مع بقاء : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي .

سوال : په دې کې څه حرج دي چې موصوف دخپل صفت طرف ته مضاف کړې شي په دې حيثيت سره چې معنى وصفي معنى اضافي طرف ته منتقل کړې شي کله چې ترکيب وصفي ختم شي نو د دې په ځاې به ترکيب اضافي راشي نو د دې په جواز کې څه اشکال نه پاتې کيږي

جواب : موصوف دصفت طرف ته اضافت على الاطلاق ممتنع نه دي بلکه هغه وخت ممتنع دي چې په وخت داضافت کې معنى وصفي اوترکيب وصفي په خپل حال باقي پاتې کيدل معنى اضافي طرف ته منتقل نه وي .

لان لکل : په دې عبارت سره شارح دذکر شوي قاعدې وجه بيانوي چې دهيئت ترکيب وصفي معنى بله ده او دهيئت ترکيب اضافي معنى بله ده دهر يو معنى جدا جدا اويوه معنى دبلې نه مختلف ده اوددې نه څوک دبل قائم مقام نه شي کيدي دترکيب وصفي معنى ده تقيد الشيء بالشيء مع صحة حمل الثاني على الاول ، چې يو څيز په بل څيز مقيد کول چې ددويم څيز حمل کول په اول څيز باندې صحيح وي ، مثال لکه زيد الفاضل .

او د ترکيب اضافي معنى ده نسبة شيء الى شيء مع عدم صحة حمل الثاني على الاول على الاغلب . د يو څيز بل څيز طرف ته نسبت کول ليکن د دويم څيز په اول څيز باندې حمل کول غالباً صحيح نه وي مثال لکه غلام زيد کله چې دهر يو معنى جدا جدا او مختلف وي نو ديو ترکيب نه د بل ترکيب معنى مراد اخستل جائز نه دي .

فائده : د على الاغلب قيد يې ځکه ولږولو چې په اضافت بيانيه کې دمضاف اليه حمل په مضاف باندې صحيح کيږي

ولهذا المعنى : په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې صفت دموصوف طرف ته دنه مضاف کيدو وجه بعينه هغه ده کومه چې صفت طرف ته دنه مضاف کيدو وجه ده

تضاف : په دې عبارت کې شارح ددې خبرې وضاحت کوي چې دصفت عطف په موصوف باندې دي

فلا يقال: په دې عبارت سره شارح په دواړو قاعدو باندې تفريع كول بيانوي كله چې د موصوف اضافت صفت طرف ته نه شي كيدي او دصفت اضافت موصوف طرف ته نه شي كيدي نو په المسجد الجامع كې موصوف لره صفت طرف ته مضاف كول مسجد الجامع او په لطيفة جرد كې صفت لره موصوف طرف ته مضاف كول جرد لطيفة نه شي ويلي يعني تركيب اضافي نه تركيب وصفي معنى مراد نه شي اخستې .

خلافا للكوفية: په دې عبارت كې شارح بيان داختلاف كوي كوفيان حضرات موصوف دصفت طرف ته اضافت اوصفت موصوف طرف ته اضافت جائز ګڼړي دهغوي په نزد تركيب اضافي نه دتركيب وصفي معنى مراد اخستې شي

د موصوف صفت طرف ته په مضاف كولو باندې اعتراض :

وَ يَرِدُ عَلَى الْقَاعِدَةِ الْأُوْلَى وَ هُوَ قَوْلُهُ لاَ يُضَافُ مَوْصُوْفٌ إِلَى صِفَتِهِ
او وارديږي اعتراض په اوله قاعده چې هغه دا قول د مصنف دې چې نه مضاف كيږي موصوف خپل صفت ته
مِثْلُ مَسْجِدِ الْجَامِعِ وَ جَانِبِ الْغَرْبِيِّ وَصَلٰوةُ الْأُوْلَى وَ بَقْلَةُ الْحَمْقَاءِ فَإِنَّ فِيْ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْ هٰذِهِ التَّرَاكِيْبِ أُضِيْفَ
لكه مسجد الجامع او جانب الغربي او صلوة الاولى او بقلة الحمقاء خكه چې په هريو دې تراكيبو نه مضاف شوي
مَوْصُوْفٌ إِلَى صِفَتِهِ فَإِنَّ الْجَامِعَ صِفَةُ الْمَسْجِدِ وَ الْغَرْبِيُّ صِفَةُ الْجَانِبِ وَ الْأُوْلَى
مضاف خپل صفت طرف نه خكه الجامع داصفت دې دپاره دالمسجد او الغربي داصفت دې دالجانب او الاولى دا
صِفَةُ الصَّلٰوةِ وَ الْحُمْقَاءُ صِفَةُ الْبَقْلَةِ وَ قَدْ أُضِيْفَ إِلَيْهَا مَوْصُوْفَاتُهَا
صفت دې دالصلوة او الحمقاء داصفت دې دالبقلاء او په تحقيق سره اضافت شوي دې طرف ته موصوفات ددوي
وَ أُجِيْبَ بِأَنَّ مِثْلَ هٰذِهِ التَّرَاكِيْبِ مُتَأَوَّلٌ فَمَسْجِدُ الْجَامِعِ مُتَأَوَّلٌ بِمَسْجِدِ الْوَقْتِ الْجَامِعِ
اوجواب وركړې شوي چې په شان ددې تراكيبو مؤول دي نومسجد الجامع دامؤول دې په مسجد الوقت الجامع سره
وَ ذٰلِكَ يَحْتَمِلُ مَعْنَيَيْنِ أَحَدُهُمَا أَنْ يَكُوْنَ الْوَقْتُ مُقَدَّراً فِيْ نَظْمِ الْكَلاَمِ وَ يَكُوْنُ الْمَسْجِدُ مُضَافاً إِلَيْهِ
او دا احتمال لري ددوه معنيو ددې نه داچې وي الوقت مقدر په نظم دكلام كې او وي مسجد مضاف دې طرف
وَ الْجَامِعُ صِفَةٌ لِلْوَقْتِ فَيَنْدَفِعُ الْإِيْرَادُ بِوَجْهَيْنِ فَإِنَّ الْجَامِعَ لَيْسَ مُضَافاً إِلَيْهِ وَلاَ
ته او الجامع صفت دې دالوقت دپاره نودفع شو اعتراض په دوه وجهو سره خكه الجامع نه دې مضاف اليه او نه
صِفَةً لِلْمُضَافِ وَ ثَانِيْهِمَا أَنْ يَكُوْنَ الْوَقْتُ مَحْذُوْفاً وَ الْجَامِعُ قَائِماً مَقَامَهُ مَنُوْطاً عَلَيْهِ
صفت دپاره دمضاف او دويم داچې وي الوقت محذوف او الجامع قائم مقام ددې او مشتمل وي په دې باندې نو

فَيَكُوْنُ بِمَنْزِلَةِ الصِّفَاتِ الْغَالِبَةِ فَيُضَافُ الْمَسْجِدُ إِلَيْهِ فَيَنْدَفِعُ الْإِيْرَادُ بِوَجْهٍ وَاحِدٍ وَ هُوَ

وي په منزله دصفات غالبه نو مضاف شو المسجد دې طرف ته نو دفع شو اعتراض په يوې وجهې سره او هغه دا

أَنَّ الْجَامِعَ لَيْسَ صِفَةً لِلْمُضَافِ وَ عَلَى هٰذَا الْقِيَاسِ صَلوٰةُ الْأُوْلٰى وَ بَقْلَةُ الْحَمْقَاءِ مُتَأَوَّلٌ بِصَلوٰةِ

چې نه دي الجامع صفت دپاره دمضاف او په همدې قياس باندې صلوة الاولى او بقلة الحمقاء دامتاول دي په صلوة

السَّاعَةِ الْأُوْلٰى وَبَقْلَةِ الْحَبَّةِ الْحَمْقَاءِ عَلَى الْاِحْتِمَالَيْنِ الْمَذْكُوْرَيْنِ لٰكِنَّ هٰذَا التَّاوِيْلَ لَا يَتَمَشّٰى فِيْ جَانِبِ الْغَرْبِيِّ

الساعة الاولى او په بقلة الحبة الحمقاء په دواړو احتمالينو مذكورينو لكن دا تاويل نه چليږي په طرف د الغربي کې

فَإِنَّهُ لَا شَكَّ أَنَّ الْمَقْصُوْدَ تَوْصِيْفُ الْجَانِبِ بِالْغَرْبِيَّةِ لَا تَوْصِيْفُ مَكَانٍ هُوَ

خکه چې نشته شک په دې کې چې مقصود هغه توصيف د الجانب دي په غربيت سره نه توصيف د مكان چې په

جَانِبُهُ بِهَا اَللّٰهُمَّ إِلَّا أَنْ يُّقَالَ هُنَاكَ مَكَانَانِ جُزْءٌ وَ كُلٌّ

طرف دغرب کې وي اې الله (زما مؤاخذه ونه کړې)، مګر دا چې وويل شي چې دلته دوه مكانه دي يو جزء او بل كُل

فَالْمَكَانُ الَّذِيْ أُضِيْفَ إِلَيْهِ الْجَانِبُ هُوَ الْجُزْءُ وَ الْإِضَافَةُ بَيَانِيَّةٌ وَ الْمَكَانُ الَّذِيْ

نو هغه مكان چې اضافت شوې وي دې طرف ته د الجانب نو دا جزء دي او اضافت بيانيه دي او هغه مكان طرف ته

أُعْتُبِرَ الْجَانِبُ بِالنِّسْبَةِ إِلَيْهِ هُوَ الْكُلُّ فَيَسْتَقِيْمُ الْمَعْنٰى.

چې معتبر دي دجانب په نسبت سره دې طرف ته نو هغه كُل دي نو صحيح به شي معنى.

خلاصه دمتن: په دواړو قاعدو باندې اعتراض کيږي صاحب دكافيې هغه اعتراض ذكر کوي او بيا ددې اعتراض جواب ورکوي اوله قاعده يعني **لايضاف موصوف الى صفته** چې موصوف خپل صفت ته نه مضاف کيږي په دې باندې دا اعتراض کيږي چې **مسجد الجامع وجانب الغربي وصلوة الاولى وبقلة الحمقاء** په تراكيبو کې ستا قاعده ماته شوي دي ځکه چې په دې ټولو تركيبونو کې موصوف خپل صفت طرف ته مضاف کيږي چې دهغې ماتن دا جواب ورکوي چې په دې کې تاويل شوي دي او ددې تاويل تفصيل شارح لاندې په تفصيل سره بيان کړي دي.

اغراض دجامي : __ويرد على القاعدة الاولى__: په دې عبارت سره شارح دسوال دمحل تعين کړي دي چې محلِ سوال اوله قاعده ده.

__**وهو قوله**__: په دې عبارت سره شارح داولې قاعدې تعين کوي چې اوله قاعده داده چې **لايضاف موصوف الى صفته**، چې موصوف خپل صفت ته نه شي مضاف کيدې.

__**فان في كل**__: په دې عبارت کې شارح دماتن دبيان کړې سوال وضاحت کوي چې په **مسجد الجامع**

وجانب الغربي و**صلوة الاولى** و**بقلة الحمقاء** کې په هر ترکیب کې موصوف خپل صفت طرف ته مضاف شوي دي ځکه چې **الجامع** د**المسجد** صفت دي **الغربي** د**الجانب** صفت دي او **الاولى** د**الصلوة** صفت دي او **حمقاء** د **بقلة** صفت دي دې طرف ته ددې خپل موصوفات مضاف شوي دي.

متأول: صاحب د کافیې ددې جواب ورکوي چې دا ټول ترکیبونه متأول دي په دې کې تاویل شوي دي په راتلونکي عبارت کې شارح ددې تاویلاتو وضاحت اوبیان کوي.

فمسجد الجامع: په دې عبارت کې دتاویل اودجواب وضاحت کوي چې **مسجد الجامع** د مع **مسجد الوقت الجامع** په تاویل کې دي اوپه دې تاویل کې ددوه (٢) معنو احتمال دي اوله معنی **الوقت** په نظمِ کلام کې مقدر دي او**مسجد** دې طرف ته مضاف دي او **الجامع** د**الوقت** صفت دي په دې صورت کې اعتراض په دوه (٢) وجهو سره دفع شو:

اوله وجه داده چې **الجامع** د**مسجد** مضاف الیه نه دي بلکه داد **الوقت** صفت دي ، دویمه وجه داده چې **الجامع** دا مضاف د **مسجد** صفت نه دي بلکه د **الوقت** صفت دي.

دوهم احتمال دادي چې **الوقت** محذوف دي او**الجامع** ددې قائم مقام په دې باندې مشتمل دي په دې وخت کې **الجامع** چې دموصوف محذوف قائم مقام دي صفات غالبه یعنې صفات مجازیه نه به شي اوصفات غالبه هغه صفات دي چې دڅه تعلق اوعلاقې دوجې نه غیر موصوف دپاره صفت مقرر شوي وي دیته صفاتِ مجازیه هم ویلي شي مثال **والقرآن الحکیم** او **القرآن العظیم** کې **حکیم** او**عظیم** دقرآن صفت واقع شوي دي حالانکه دا په حقیقت کې دقرآن صفت نه دي بلکه دصاحب قرآن صفت دي او همدارنګې دلته په حقیقت کې د**الجامع** موصوف **الوقت** دي لیکن مجازاً **مسجد** لره ددې موصوف جوړ شو اوکوم چې حقیقةً موصوف وو هغه لره حذف کړي شو بیا په حقیقت کې **المسجد** موصوف نه دي بلکه مضاف دي دې لره **الجامع** طرف ته مضاف شو.

په دې صورت کې په یوه وجهې سره اعتراض دفع شو چې **الجامع** د**مسجد** مضاف صفت نه دي بلکه د**الوقت** محذوف صفت دي اوبعینه دغه تاویل په **صلوة الاولى** کې به هم وي چې داپه اصل کې د **صلوة الساعة الاولى** په تاویل کې دي او**بقلة الحمقاء** دا د**بقلة الحیة الحمقاء** په تاویل کې دي.

په دې کې هم دوه (۲) احتماله دي کوم چې په المسجد الجامع کې وو.

لكن هذا: په دې عبارت کې شارح يو اعتراض نقل کوي او په اللهم سره ددې اعتراض جواب ورکوي

اعتراض: ذکر شوي تاويل صلوة الاولى او بقلة الحمقاء کې خو چليږي ليکن په جانب الغربي کې نه شي چليدي خکه چې که جانب الغربي کې تاويل وشي نو داسې به وايي چې جانب المكان الغربي او الغربي لره د المكان صفت جوړولې شي او دا صحيح نه دي ځکه چې مقصود متکلم جانب لره په غربيت سره موصوف کول دي نه مکان سره ځکه چې مکان عبارت دي د مجموع الارض نه لهذا دا غربي سره نه شي موصوف کيدي.

جواب: شارح په اللهم سره ددې اعتراض جواب ورکوي چې په دې ځاې کې دوه (۲) مکانه دي (۱) مکان جُز (۲) مکان کُل، هغه مکان چې هغې طرف ته جانب مضاف دي هغه جزء دي او اضافت بيانيه دي معنی يې ده چې الجانب الذي هو المكان الغربي نو د مکان جزء نه مراد هغه مکان دي کوم چې متصل بالمغرب دي او مکان کُل نه مراد جميع الارض دي.

فائده (۱): په داسې مقام باندې د اللهم مفهوم داوي ګويا چې مصنف رحمه الله داسې وايي چې ای الله! زما مؤاخذه ونه کړې چې زما اولني کلام غير تام دي بلکې داستثناء محتاج دي ددې نه زه استثناء کومه.

فائده (۲): هو جانبه بها کې داول ضمير د هُوَ مرجع جانب دي او د جانبه ضمير مرجع مکان دي او د بها د ضمير مرجع الغربية دي.

د صفت موصوف طرف ته په اضافت کې يو اعتراض:

وَ يَرِدُ عَلَى الْقَاعِدَةِ الثَّانِيَةِ وَ هُوَ قَوْلُهُ وَلَا صِفَةٌ إِلَى مَوْصُوْفِهَا مِثْلُ جَرْدُ قَطِيْفَةٍ وَ
او وارد يږي اعتراض په دويمه قاعده باندې او هغه داقول د مصنف دي چې ولا صفة الى موصوفها لکه جرد قطيفة او
اِخْلَاقُ ثِيَابٍ فَاِنَّ اَصْلَهُمَا قَطِيْفَةٌ جَرْدٌ وَ ثِيَابٌ اَخْلَاقٌ قُدِّمَتِ الصِّفَةُ عَلَى الْمَوْصُوْفِ وَ
اخلاق ثياب ځکه اصل ددې دواړو قطيفة جرد او ثياب اخلاق دي نو مخکې کړې شو صفت په موصوف باندې او
أُضِيْفَ إِلَيْهِ وَ أُجِيْبَ عَنْهُ بِأَنَّهُ مُتَأَوَّلٌ بِأَنَّهُمْ حَذَفُوْا
اضافت وکړې شو د موصوف صفت طرف ته او جواب ورکړې شوددې نه چې دا مؤول دي په دې طريقه چې حذف

قَطِيْفَةٍ مِنْ قَوْلِهِمْ قَطِيْفَةٌ جَرْدٌ حَتّٰى صَارَ كَاَنَّهُ اِسْمٌ غَيْرُ صِفَةٍ فَلَمَّا
کړي دي عربو او يا نحاتو قطيفة دخپل قول قطيفة جرد نه تردې پورې چې ګويادا اسم غير صفت دي نو هر کله چې
قَصَدُوْا تَخْصِيْصَهُ لِكَوْنِهِ صَالِحًا لِاَنْ يَكُوْنَ قطيفة وَ غَيْرِهَا مِثْلُ خَاتَمٍ فِيْ
دوي قصد کړو تخصيص دوجې ددې چې داصلاحيت لري چې هغه قطيفة وي او يا غير ددې نه په شان دخاتم په
كَوْنِهِ صَالِحًا لِاَنْ يَكُوْنَ فِضَّةً وَ غَيْرِهَا اَضَافُوْهُ اِلٰى جِنْسِهِ الَّذِيْ يَتَخَصَّصُ
کيدو ددې کې چې داصلاحيت لري چې وي فضة او يا غير فضة نو مضاف يې کړو جنس طرف ته هغه چې تخصص
بِهٖ كَمَا اَضَافُوْا خَاتَمًا اِلٰى فِضَّةٍ فَلَيْسَ اِضَافَةُ اِلَيْهَا مِنْ
حاصل وي په دې سره لکه څنګه يې چې اضافت کړو دخاتم فضة ته نو نه دي اضافت دې قطيفة طرف ته ددې
حَيْثُ اَنَّهُ صِفَةٌ لَهَا بَلْ مِنْ حَيْثُ اَنَّهُ جِنْسٌ مُبْهَمٌ اُضِيْفَ اِلَيْهَا
حيثيت نه چې داصفت دي ددې دپاره بلکې ددې حيثيت نه چې دادجنس مبهم نه دي چې اضافت يې شوي دې
لِيَتَخَصَّصَ وَ عَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ اَخْلَاقُ ثِيَابٍ.
طرف ته ددې دپاره چې خاص شي او په دې قياس باندې اخلاق ثياب دي.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب دکافيې دويم سوال جواب ورکوي کوم چې دده په بيان کړي شوي قاعده باندې واردېږي چې صفت خپل موصوف ته نه مضاف کيږي چې ددې تفصيل لاندې په شرحه کې ذکر دي.

اغراض دجامي: ويرد على القاعدة الثانية: په دې کې محل دسوال تعين دي چې محل دسوال هغه دوهمه قاعده ده

وهو قوله: په دې عبارت کې ددويمې قاعدې تعين يې وکړه چې دويمه قاعده ولاصفة الى موصوفها ده.

فان اصلهما: په دې عبارت کې دسوال دتقرير بيان دي چې جرد قطيفة په اصل کې قطيفة جرد دي قطيفه موصوف جرد صفت دي صفت په موصوف باندې مقدم شوي دي او خپل موصوف طرف ته مضاف شوي دي همدا رنګې داخلاق ثياب اصل ثياب اخلاق دي ثياب موصوف او اخلاق صفت دي صفت په موصوف مقدم شوي اودې طرف ته مضاف شوي دي لهذا ستا داوينا چې صفت خپل موصوف طرف ته نه مضاف کيږي داڅنګه صحيح دي

متأول: ماتن ددې جواب ورکوي چې دا متأول يعني په دې کې تاويل شوي دي

بانهم: په دې عبارت کې شارح دتاويل صورت بيانوي چې په اصل کې دنحويانو قول په قطيفة جرد کې مخکې قطيفة حذف کړي شو اوداحذف ځکه وشو چې قطيفة هم په اصل کې يوه کلمه ده کله چې دنورو کلماتو حذف جائز دي نو دقطيفه حذف هم جائز دي ددې نه وروستو جرد يواځې اوبلا موصوف پاتې شو .اوس داصفت په منزلـه داسم غير صفت يعني دذات په درجه کې راغلي اوس په دې کې ابهام پيدا شو چې هغه جرد څه څيز دي ؟ قطيفه دي يابل څيز دي ځکه چې په دې کې د قطيفه کيدو صلاحيت.هم شته دي اوغير قطيفه کيدو صلاحيت هم شته دي لکه څنګه چې په خاتم کې دي دفضه نه جوړشوي ياڅه بل څيز نه جوړ شوي څيزونه اوپه خاتم کې فضه کيدو صلاحيت هم دي اوغير فضه صلاحيت هم دي بيا چې هغوي دابهام د لرې کولو دجرد تخصيص اراده وکړه نو دې لره يې دوباره مضاف کړو ددې جنس قطيفه طرف ته چې ددې دوجې نه په دې کې تخصيص راغلي لکه څنګه چې په خاتم کې دابهام درفع کولو دپاره دې لره فضة طرف تـه مضاف کړه چې په دې کې تخصيص راشي لـيکن د جرد اضافت قطيفة طرف ته په دې حيثيت سره نه دي چې ددې صفت دي بلکې په دې حيثيت سره دي چې هغه جنس مبهم دي هغه لره قطيفة طرف تـه مضاف کړي شو چې ابهـام رفـع شي اوتخصيص پيدا شي او همدارنګې تاويل په اخلاق ثياب کې به هم وي چې دابهـام رفـع دپـاره دې لـره راوړي شو دصفت دحيثيت نه ، نه دي راوړل شي .

حذفوا: ددې مصداق يا عرب دي او يا نحويان دي .

قصدوا: ددې مصداق هم يا عرب دي او يا نحويان .

د عام خاص طرف ته د اضافت ذکر :

وَلاَ يُضَافُ اِسْمٌ مُمَاثِلٌ أَيْ مُشَابِهٌ لِلْمُضَافِ إِلَيْهِ فِيْ الْعُمُوْمِ وَ الْخُصُوْصِ اِلٰى ذٰلِكَ الْمُضَافِ
اونه مضاف کيږي هغه اسم چې مماثل يعني مشابه وي دمضاف اليه سره په عموم اوخصوص کې دې مضاف
إِلَيْهِ سَوَاءٌ كَانَا مُتَرَادِفَيْنِ كَلَيْثٍ وَ اَسَدٍ فِيْ الْاَعْيَانِ وَ الْجُثْثِ وَ حَبْسٍ وَ مَنْعٍ فِيْ الْمَعَانِيْ
اليه طرف ته برابره خبره ده که دادواړه مترادف وي لکه ليث او اسد په ذات اوجوثو کې اوحبس او منع په معاني
وَ الْاَحْدَاثِ اَوْ غَيْرَ مُتَرَادِفَيْنِ بَلْ مُتَسَاوِيَيْنِ فِيْ الصِّدْقِ كَالْاِنْسَانِ وَ النَّاطِقِ لِعَدَمِ الْفَائِدَةِ فِيْ ذِكْرِ
اواحداث کې اويامترادف نه وي بلکه متساوي وي په صدق کې لکه انسان اوناطق دوجې دعدم فائدې په ذکر

الْمُضَافِ إِلَيْهِ فَإِنَّكَ إِذَا قُلْتَ رَأَيْتُ لَيْثَ أَسَدٍ لَا يُفِيدُ إِلَّا مَا يُفِيدُهُ
دمضاف اليه کې ځکه چې کله تا ووېل رأيت ليث اسد دا فائده نه ورکوي مګر دهغه څه فائده ورکوي کومه چې
رَأَيْتُ لَيْثًا بِدُوْنِ ذِكْرِ الْأَسَدِ وَ إِضَافَةِ اللَّيْثِ فَيَكُوْنُ ذِكْرُ الْأَسَدِ وَ إِضَافَةُ اللَّيْثِ إِلَيْهِ
رأيت ليثاً ورکوي په غير دذکر داسدنه او اضافت دليث دې طرف ته نو وي به ذکر داسداو اضافت دليث دې طرف ته
لَغْواً لَا فَائِدَةَ فِيْهِ بِخِلَافِ إِضَافَةِ الْعَامِ إِلَى الْخَاصِ فِيْ مِثْلِ كُلُّ الدَّرَاهِمِ وَ عَيْنُ الشَّيْءِ فَإِنَّهُ
لغوه دي هيڅ فائده يې نه وي په دې کې په خلاف داضافت دعام خاص ته په شان د كل الدراهم وعين الشيء ځکه
أَيِ الْمُضَافُ فِيْهِمَا يَخْتَصُّ بِهِ أَيْ يَصِيْرُ خَاصًا بِسَبَبِ إِضَافَتِهِ إِلَى الْمُضَافِ إِلَيْهِ
يعني مضاف په دې دواړو کې خاص وي تردې پورې يعني ګرځوي خاص په سبب داضافت دمضاف مضاف اليه
وَ لَا يَبْقَى عَلَى عُمُوْمِهِ سَوَاءٌ أَفَادَتِ الْإِضَافَةُ التَّعْرِيْفَ أَوِ التَّخْصِيْصَ
طرف ته او باقي پاتې نه شو په خپل عموم باندې برابره خبره ده که فائده کوي اضافت دتعريف او يا دتخصيص
وَ أَعَمِّيَّةُ الْعَيْنِ عَنِ الشَّيْءِ إِذَا كَانَ اللَّامُ فِيْهِ لِلْعَهْدِ ظَاهِرَةٌ وَ أَمَّا إِذَا كَانَ لِلْجِنْسِ
او عام کېدل د عين د شئ نه چې کله وي لام په دې کې دپاره دعهد وي او ظاهر وي او هرکله چې وي دپاره دجنس
فَفِيْهَا خِفَاءٌ.
نو بيا په دې کې خفاء ده.

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې کله دوه (۲) اسمونه په عموم او خصوص کې ديوبل مماثل اومشابه وي نو ددې نه ديو اضافت بل طرف ته جائز نه دې مثال لکه ليث او اسد حبس ومنع ځکه چې په دې اضافت کې څه فائده نشته دي مثال رأيت ليث اسد که چيرته دعام اضافت خاص طرف ته وشي مثال كل الدراهم عين الشيء نو داتخصيص دفائدې ورکولو په بناء جائز دي.

اغراض دجامي : اى مشابه : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : مماثلت عبارت دې داشتراک الشيئين في النوع نه يعني ددوه شيانو دمشارکت نه په نوعه کې مثلاً زيد وعمر په نوع انساني کې شريک دي نو ويلې شي چې داپه خپل مينځ کې مماثل دي ليکن مصنف رحمه الله ليث او اسد والا مثال پيش کړي دي په دې کې مماثلت نشته دي ځکه چې دا دواړه شريک في النوع نه دي بلکه عموم وخصوص والاوصف کې شريک دي يو مثال دممثل له مطابق نه شو.

جواب : دلته مماثل په معنی دمشابه دي اومشابهت نوم دي د **اشتراک في الوصف واشتراک** **الکیفیة** لهذا مثال دممثل له سره مطابق دي

الی ذلک المضاف الیه : په دې عبارت کې شارح د للمضاف دصلې بیان کوي

سواء کانا : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ور کول دي

سوال : دمماثل نه متبادر الی الذهن مترادف دي نو مطلب به یې داشي چې دیو مترادف اضافت دبل مترادف طرف ته نه کیږي لهذا داقاعده به منقوضه اوماته شي په انسان او ناطق سره ځکه چې دا دواړه مترادف نه دي ددې باوجود د یو اضافت بل طرف ته جائز نه دي انسان اوناطق اوبالعکس ویل جائز نه دي حالانکه دذکر شوې قاعدې مطابق دا اضافت جائز کیدل په کار دي

جواب : په مماثل اومشابه کې تعمیم دي برابره خبره ده که **مترادفین** وي یا **متساویین في الصدق** وي اگرچې مترادفین نه وي دمترادفینو مثال لکه **لیث واسد** داد اعیانواواجسامو مثال دي او **منع وحبس** داد معانیو اواحداثو مثال دي غیر مترادفین لیکن **مساوي في الصدق** مثال انسان او ناطق

في الاعیان : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ور کول دي

سوال : دمثال نه مقصود دممثل له وضاحت وي او وضاحت خو په یو مثال سره کیږي نو مصنف رحمه الله دوه (٢) مثالونه ولې ذکر کړل ؟

جواب : دمثالونو تعدد دممثل له دتعدد دوجې نه دي **لیث** او **اسد** د اعیانو اوجواهرو مثالونه دي عین **قائم بالذات** ته ویلې شي یعنې چې کوم په خپل قیام کې غیر ته محتاج نه وي **حبس** او **منع** دادمعاني اواحداث اواعراض مثالونه دي **احداث** د **حدث** جمع دي اودا هغې ته وایې چې قائم بالغیر وي

لعدم الفائدة : په دې عبارت کې شارح د ماتن د ذکر شوي اضافت د عدم جواز وجه بیان کړې ده

في ذکر المضاف الیه : په دې عبارت سره شارح ددې تفصیل بیانوي چې کله دوه (٢) اسمونه په عموم اوخصوص کې دیو بل سره مماثل اومشابه وي نو ددې نه دیو اضافت بل طرف ته ځکه

جائز نه دي چې د دې اضافت څه فائده نشته دي مثلاً کله چې ليث اسد طرف ته مضاف شي رأيت ليث اسد وويلي شي نو د دې نه هغه فائده حاصلېږي کومه چې دليث اسد طرف ته داضافت نه په غير د رأيت ليثاً نه حاصله شوي وي لهذا اسد لره ذکر کول ليث اسد طرف ته مضاف کول لغوه او بې فائدي دي ځکه چې دا اضافت جائز نه دي .

بخلاف کل الدراهم : دصاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې دعام اضافت خاص طرف ته جائز دي ځکه چې دا مفيد دي اوداضافت دوجې نه په عام کې تخصيص راځي مثال کل الدراهم په دې کې کل داضافت نه مخکې عام وو دراهم اودنانير ټولو ته شامل وو کله چې د دې اضافت دراهمو طرف ته وشو نو په دې کې تخصيص راغې اوداددراهم سره خاص شو او همدارنګې عين الشيء په دې کې عين داضافت نه مخکې عام وو موجود اومعدوم ټولو ته شامل وو کله چې د دې اضافت الشيء طرف ته وشو نو په دې کې تخصيص راغې ځکه دا اضافت جائز دي .

اضافة العام الى الخاص : د بخلاف نه وروستو د اضافة العام الى الخاص په اضافه کولو سره شارح ديو سوال مقدر جواب ورکوي :

سوال : مصنف رحمه الله خو قاعده کليه بيانوي جزئيات نه بيانوي او کل الدراهم ، عين الشيء داقاعده کليه نه ده بلکه دادقاعدې جُزي مثالونه دي .

جواب : د کل الدراهم نه مراد اضافة العام الى الخاص دي اوکل الدراهم ، عين الشيء د دې مثالونه دي ګويا دمثالونو په ضمن کې قاعده کليه بيان کړه لهذا داهم قاعده کليه ده .

المضاف : په دې عبارت کې شارح د فانه دضمير مرجع يې متعين کړه چې دضمير مرجع مضاف دي .

اى يصير : په دې عبارت کې شارح دي خبرې طرف ته اشاره وکړه چې يختص لازمي دي دباء د وجې نه متعدي نه دي معنى داده چې مضاف اليه داضافت دوجې نه په عام کې تخصيص راي دا خاص کيږي .

بسبب : په دې عبارت سره شارح اشاره وکړه چې د به باء سببيه ده .

ولا يبقى : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي .

سوال : په کل الدارهم کې کل نکره او دراهم معرفه ده اوقاعده داده چې دنکرې اضافت معرفې ته دتعریف فائده ورکوي دتخصیص فائده نه ورکوي نو دمصنف رحمه الله **یختص** ویل په څنګه صحیح شي .

جواب : خصوص ددوه (۲) څیزونو په مقابله کې راځي : (۱) دعموم په مقابله کې . (۲) د تعریف په مقابله کې دلته خصوص دعموم په مقابله کې دي مطلب دادې چې خاص طرف ته د اضافت سره مضاف هم خاص شي اوددې عموم باقي پاتې نه شي برابره خبره ده که اضافت دتعریف فائده ورکوي یادتخصیص .

واعمیة : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په عین الشيء کې لکه څنګه چې عین عام دي نو همدارنګې الشيء هم عام دي لهذا دا د اضافة العام الی العام دقبیلې نه شو داضافة العام الی الخاص دقبیلې نه ، نه شو .

جواب : په عین الشيء کې په شيء باندې چې کوم الف لام دي په دې کې دوه (۲) احتماله دي (۱) الف لام عهدي دي . (۲) الف لام جنسي دي ، که الف لام عهدي وي نو بیا عین دشيء نه عام کیدل ظاهر دي ځکه چې په دې وخت کې د شيء نه مراد معهود في الخارج وي اوکه الف لام جنسي وي نو بیا عین دشيء نه عام کیدو خفاء ده .

فائده : شارح ددې خفاء جواب نه دي ورکړي لیکن ددې جواب دادې چې د شيء دوه (۲) معاني دي : (۱) موجود في الخارج . (۲) ما یمکن ان یعلم ویخبر عنه ، اودلته دویمه معنی مراد ده او عین د شيء نه په دویمې معنی سره اعم ده .

د یو سوال مقدر جواب :

وَ يَرِدُ عَلٰى قَوْلِهِمْ لَا يُضَافُ اِسْمٌ مُمَاثِلٌ لِلْمُضَافِ اِلَيْهِ فِي الْعُمُوْمِ وَ الْخُصُوْصِ قَوْلُهُمْ
او واردیږي اعتراض دده په قول لا یضاف اسم مماثل للمضاف الیه في العموم و الخصوص قاعده باندې دده دا قول
سَعِيْدُ كُرْزٍ فَاِنَّ سَعِيْداً وَ كُرْزاً اِسْمَانِ لِمُسَمًّى وَاحِدٍ كَلَيْثٍ وَ اَسَدٍ مَعَ اَنَّهُ اُضِيْفَ
سعید کرز ځکه سعیداو کرزدادواړه نومونه دي دپاره دیومسمی لکه لیث او اسدسره ددې چې اضافت یې شوي
اَحَدُهُمَا اِلَى الْاٰخَرِ فَاُجِيْبَ بِاَنَّهُ مُتَاَوَّلٌ بِحَمْلِ اَحَدِهِمَا عَلَى الْمَدْلُوْلِ وَ الْاٰخَرِ
یو ددې دواړو نه بل ته نوجواب ورکړې شوددې نه چې دامؤول دي په حمل کولو یوددې نه په مدلول باندې اوبل

عَلَى اللَّفظِ فَكَأَنَّكَ إِذَا قُلتَ جَاءَنِيْ سَعِيْدُ كُرزٍ قُلتَ جَاءَنِيْ مَدلُوْلُ هٰذَا اللَّفظِ وَ لَمْ يَقُوْلُوْا كُرزُ
په لفظ باندې نوهركله چې تاوويل جاءني سعيد كرز نو تا جاءني مدلول هذا اللفظ وويل اوهغوي نه دي ويلي كرز
سَعِيْدٍ لِأَنَّ قَصْدَهُمْ بِالْإِضَافَةِ التَّوْضِيْحُ وَاللَّقَبُ اَوْضَحُ مِنَ الْإِسْمِ غَالِباً .
سعيد ځكه مقصود د اضافت نه وضاحت دي او لقب دا اوضح دي د اسم نه غالبا.

خلاصه دمتن : صاحب د كافيې په دې عبارت كې په ذكر شوې قاعده باندې كيدونكي د سوال مقدر جواب وركوي چې سعيد اوكرز دواړه ديو سړي نوم دي نو داپه عموم اوخصوص كې مماثل شو ددې باوجود داضافت سره سعيد كرز ويلې كيږي چې ددې ماتن داجواب وركړي دي چې په دې كې تاويل شوي دي چې ددې تفصيل لاندې په شرحه كې ذكر كيږي .

اغراض دجامي : ويرد على القاعدة الثانية: په دې كې محل دسوال تعين دي چې محل دسوال هغه دويمه قاعده ده .

و هو قوله : په دې عبارت كې ددويمې قاعدې تعين يې وكړه چې دويمه قاعده ولاصفة الى موصوفها ده .

فان اصلهما : په دې عبارت كې دسوال دتقرير بيان دي چې جرد قطيفة په اصل كې قطيفة جرد دي قطيفه موصوف جرد صفت دي صفت په موصوف باندې مقدم شوي دي اوخپل موصوف طرف ته مضاف شوي دي همدارنګې داخلاق ثياب اصل ثياب اخلاق دي ثياب موصوف او اخلاق صفت دي صفت په موصوف مقدم شوي اودې طرف ته مضاف شوي دي لهذا ستا دا وينا چې صفت خپل موصوف طرف ته نه مضاف كيږي داڅنګه صحيح دي .

متأول : ماتن ددې جواب وركوي چې دا متأول يعنې په دې كې تاويل شوي دي .

بأنهم : په دې عبارت كې شارح دتاويل صورت بيانوي چې په اصل كې دنحويانو قول په قطيفة جرد كې مخكې قطيفة حذف كړې شو اوداحذف ځكه وشو چې قطيفة هم په اصل كې يوه كلمه ده كله چې دنورو كلماتو حذف جائز دي نو دقطيفه حذف هم جائز دي ددې نه وروستو جرد يواځې اوبلا موصوف پاتې شو .اوس داصفت په منزله داسم غير صفت يعنې دذات په درجه كې راغلې اوس په دې كې ابهام پيدا شو چې هغه جرد څه څيز دي ؟ قطيفه دي يابل څيز دي ځكه چې په دې كې قطيفه كيدو صلاحيت هم شته دي اوغيرقطيفه كيدو صلاحيت هم

شته دي لکه څنګه چې په خاتم کې دي دفضه نه جوړ شوي يا څه بل څيز نه جوړ شوي څيزونه او په خاتم کې فضه کيدو صلاحيت هم دي او غير فضه صلاحيت هم دي بيا چې هغوي دابهام دلري کولو دجرد تخصيص اراده وکړه نو دې لره يې دوباره مضاف کړو ددې جنس قطيفه طرف ته چې ددې دوجې نه په دې کې تخصيص راغلي لکه څنګه چې په خاتم کې دابهام درفع کولو دپاره دې لره فضة طرف ته مضاف کړه چې په دې کې تخصيص راشي ليکن د جرد اضافت قطيفة طرف ته په دې حيثيت سره نه دي چې ددې صفت دي بلکې په دې حيثيت سره دي چې هغه جنس مبهم دي هغه لره قطيفة طرف ته مضاف کړي شو چې ابهام رفع شي او تخصيص پيدا شي او همدا رنګې تاويل په اخلاق ثياب کې به هم وي چې دابهام درفع کولو دپاره يې راوړي شو دصفت دحيثيت نه ، نه دي راوړل شي .

د اسم صحيح ياء د متکلم طرف ته اضافت :

وَ اِذَا اُضِيْفَ الْاِسْمُ الصَّحِيْحُ وَ هُوَ فِيْ عُرْفِ النُّحَاةِ مَا لَيْسَ فِيْ آخِرِهٖ حَرْفُ
او کله چې اضافت وکړې شي د اسم صحيح او دا په عرف دنحويانو کې هغه دي چې نه وي په آخر دې کې حرف
عِلَّةٍ اَوِ الْمُلْحَقُ بِهٖ وَ هُوَ مَا فِيْ آخِرِهٖ وَاوٌ اَوْ يَاءٌ قَبْلَهُمَا سَاكِنٌ وَ اِنَّمَا
علت او يا ملحق وي دصحيح سره او دا هغه دي چې وي په آخر دې کې واو يا ياء او ماقبل ددې ساکن وي او دا به
كَانَ مُلْحَقًا بِالصَّحِيْحِ لِاَنَّ حَرْفِ الْعِلَّةِ بَعْدَ السُّكُوْنِ لَا تَثْقُلُ عَلَيْهَا الْحَرَكَةُ لِمُعَارَضَةِ
وي ملحق دصحيح پورې څکه چې حرف علت پس دسکون نه ، نه ثقيل کيږي په دې باندې حرکت دوجې د معارضت
خِفَّةِ السُّكُوْنِ ثِقْلَ الْحَرَكَةُ وَ لِاَنَّ حَرْفَ الْعِلَّةِ بَعْدَ السُّكُوْنِ مِثْلِهَا بَعْدَ السُّكُوْتِ فِي الْوُقُوْعِ بَعْدَ
دخفت دسکون دثقل حرکت نه او دا څکه چې حرف علت پس دسکون نه په شان دپس دسکوت په وقوع دې پس د
اِسْتِرَاحَةِ اللِّسَانِ وَلَا تَثْقُلُ عَلَيْهَا الْحَرَكَةُ بَعْدَ السُّكُوْتِ يَعْنِيْ فِي الْاِبْتِدَاءِ كَذَا بَعْدَ
آرام والي دژبې نه او نه ثقيل کيږي په دې باندې حرکت پس دسکوت نه يعني په ابتداء کې همدا رنګې پس د
السُّكُوْنِ اِلٰى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ كُسِرَ آخِرُهٗ لِلتَّنَاسُبِ مِثْلُ ثَوْبِيْ وَ دَارِيْ فِي الصَّحِيْحِ
سکون نه ياء د متکلم طرف ته نو کسره به ورکړې شي آخر دې ته دوجې د مناسبت نه لکه ثوبي او داري په صحيح کې
وَ ظَبْيِيْ وَ دَلْوِيْ فِي الْمُلْحَقِ بِهٖ وَ الْيَاءُ مَفْتُوْحَةٌ اَوْ سَاكِنَةٌ وَ قَدْ اُخْتُلِفَ فِيْ اَنَّ اَيَّهُمَا الْاَصْلُ
او ظبيي او دلوي په ملحق بالصحيح کې او ياء به يا مفتوح وي او يا ساکن او په دې کې اختلاف دي چې کوم يو اصل دي
وَ الصَّحِيْحُ اَنَّهُ الْفَتْحُ اِذَ الْاَصْلُ فِي الْكَلِمَةِ الَّتِيْ عَلٰى حَرْفٍ وَاحِدٍ هُوَ الْحَرَكَةُ لِئَلَّا
او صحيح دا ده چې فتحه دا اصل ده په هغه کلمه کې چې هغه په يو حرف وي چې هغه حرکت دي ددې وجې نه چې

يَلْزِمَ الْاِبْتِدَاءِ بِالسَّاكِنِ حَقِيْقَةً اَوْ حُكْماً وَ الْاَصْلُ فِيْ مَا بُنِيَ عَلَى الْحَرَكَةِ الْفَتْحِ وَ السُّكُوْنِ اِنَّمَا هُوَ
چې لازم نه شي ابتدا په ساكن حقيقتا او يا حكما او اصل په هغه كلمو كې چې مبني بالحركة وي فتحه ده او سكون دا
عَــارِضٌ لِلتَّـخْـفِيْفِ .
عارض وي دپاره د تخفيف

خلاصه دمتن : صاحب دكافيې په دې عبارت كې دابيانوي چې كله يو اسم صحيح يا ملحق په صحيح اضافت ياء متكلم طرف ته وشي نو هغه به څنګه لوستلي شي ددې مختلف صورتونه دي چې ددې وضاحت په شرحه كې ذكر شوي دي .

اغراض دجامي : اذا اضيف الاسم : دصاحب دكافيې دعبارت حاصل دادې چې كله اسم صحيح يا ملحق بالصحيح لره ياء متكلم طرف ته مضاف كړي شي نو ددې په آخر كې د ياء مناسبت دوجې نه كسره وركولې شي او په خپله په ياء كې دوه (۲) وجهې جائز دي : (۱) د ياء سكون . (۲) د ياء فتحه .

وهو في عُرف النحاة : په دې عبارت كې شارح دنحويانو په نزد دصحيح تعريف كوي چې صحيح هغه دي چې دهغې دفاء ، عين او لام كلمې په مقابله كې حرف علت نه وي .

وهو ما في آخره : په دې عبارت كې شارح دملحق بالصحيح تعريف كوي چې ملحق بالصحيح هغه دي چې دهغې په آخر كې واو يا ياء وي اوددې ماقبل ساكن وي .

وانما كان : په دې عبارت كې شارح ملحق بالصحيح ته دملحق بالصحيح ويلو وجه بيانوي چې ملحق بالصحيح ته ملحق بالصحيح ويل په دې كې دوه (۲) وجهې دي .

اوله وجه : هغه حرف علت كوم چې دسكون نه وروستو واقع وي په دې باندې حركت ثقيل نه وي ځكه چې دسكون خفت دهغه حركت دثقل معارض به شي نو كله چې دصحيح په شان په دې باندې حركت ثقيل نه دي نو دا ملحق بالصحيح شو .

دويمه وجه : هغه حرف علت چې دسكون نه وروستو واقع وي هغه دهغه حرف علت په مثل دي كوم چې دسكوت نه وروستو واقع ووي يعني په ابتداء كې واقع وي وجه دمشابهت او مماثلت دواړه استراحة اللسان نه وروستو واقع كيدل دي او هغه حرف علت كوم چې دسكوت نه وروستو واقع وي په هغه باندې حركت ثقيل نه دي دا ثقل برداشت كوي همدارنګې هغه حرف علت كوم

چې دسکون نه وروستو واقع وي هغه باندې هم حرکت ثقيل نه دي لهذا هغې ته ملحق بالصحيح وايي

للتناسب: په دې عبارت کې اسم صحيح يا ملحق بالصحيح په آخر کې کسره ورکولو وجه بيانوي چې ددې په آخر کې کسره د ياء د مناسبت دوجې نه ده ځکه چې ياء غواړي چې زما ماقبل مکسور وي د اسم صحيح مثال ثوبي او داري د ملحق بالصحيح مثال ظبي او دلوي .

والياء مفتوحه اوساكنه: د صاحب د کافيې د عبارت حاصل دادې چې هغه اسم کوم چې مضاف وي ياء متکلم طرف ته او د هغې په آخر کې کسره جائز ده او په خپله په ياء باندې فتحه او سکون دوه وجهې جائز دي په دې باندې اتفاق دي .

وقد اختلف: په دې عبارت کې شارح بيان د اختلاف کوي چې اختلاف په دې خبره کې دي چې اصل څه شئ دي فتحه ده يا سکون نو وايي چې صحيح داده چې په ياء باندې اصل فتحه ده ځکه چې هغه کلمه چې د هغې بناء په حرف واحد باندې وي په هغې کې اصل حرکت دي چې ابتداء په سکون لازم رانه شي نه حقيقةً او نه حکماً ، حقيقةً په هغه صورت کې چې کله حرف واحد په ابتداء کې وي او حکماً په هغه وخت کې دي چې کله په مينځ د کلام کې وي نو ثابته شوه چې هغه کلمه چې د هغې بناء په حرفِ واحد باندې وي په هغې کې اصل حرکت دي نه چې سکون بيا په حرکات ثلاثه کې اصل فتحه ده ځکه چې دا اخف الحرکات ده ددې وجې نه په ياء باندې فتحه اصل شوه او سکون عارض د تخفيف دوجې نه دي .

په اسم صحيح کې د آخري الف حکم :

فَإِنْ كَانَ آخِرُهُ أَيْ آخِرُ الْإِسْمِ الْمُضَافِ إِلَى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ أَلِفًا تُثْبَتُ أَيِ الْأَلِفُ عَلَى اللُّغَةِ
که چيرته وو آخر ددې يعني آخر د هغه اسم چې مضاف وي ياء د متکلم طرف ته الف وي نو ثابتيږي الف په لغت
الْفَصِيحَةِ لِعَدَمِ مُوْجِبِ الْإِنْقِلَابِ نَحْوُ عَصَايَ وَرَحَايَ وَهُذَيْلٌ وَهِيَ قَبِيْلَةٌ مِنَ الْعَرَبِ تَقْلِبُهَا أَيِ الْأَلِفَ
فصيحه باندې دوجې د عدم وجوب د بدلون نه لکه عصایَ ورحایَ او هذيل دا يوه قبيله ده د عربو دا بدلوي يعني الف
حَالَ كَوْنِهَا لِغَيْرِ التَّثْنِيَةِ يَاءً لِمُشَاكَلَةِ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ وَ تُدْغِمُ
په داسې حال کې چې کله دا د غير د تثنيې د پاره وي ياء د متکلم سره دوجې د مشاکلة د ياء متکلم نه او مدغم کولې
فِي الْيَاءِ مِثْلُ عَصَيَّ وَ رَحَيَّ وَلَا تَقْلِبُ أَلِفَ التَّثْنِيَةِ كَغُلَامَايَ لِإِلْتِبَاسِ الْمَرْفُوعِ بِغَيْرِهِ
به شي په ياء کې لکه عصيَّ ورحيَّ او نه به شي بدلولې الف د تثنيې لکه غلامایَ دوجې د التباس د مرفوع نه د غير

بِسَبَبِ الْقَلْبِ.
مرفوع سره د وجې دبدلون نه.

خلاصه دمتن : ددې ځاې نه دهغه اسم حکم بيانوي چې دهغې په آخر کې الف وي اوهغه مضاف وي ياء دمتکلم طرف ته يعني هغه اسم کوم چې ياء دمتکلم طرف ته مضاف وي که دهغې په آخر کې الف وي نو دفصيح لغت مطابق هغه به ثابت پاتي کيږي برابره خبره ده که الف دتثنيې وي مثال لکه غلاماى ياپه غير دتثنيې وي مثال لکه عصاى ورحاى ليکن قبيله د هذيل دغير تثنيې الف په ياء سره بدلوي او ياء په ياء کې مدغم کوي مثال عصي ورحي .

اغراض دجامي : اى آخر الاسم المضاف: په دې عبارت کې شارح دضمير مرجع متعين کړي ده .

اى الالف: په دې عبارت کې شارح دضمير مرجع متعين کړي ده چې دتثبت هِيَ ضمير مستتر مرجع الف دي .

عَلى اللغة الفصيحة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : تا وويل چې د مضاف الى ياء المتكلم په آخر کې چې الف وي هغه به ثابت پاتي کيږي حالانکه قبيله دهذيل دې لره باقي نه پاتي کوي بلکه الف غير تثنيې لره په ياء سره بدلوي .

جواب : په لغتِ فصيحه کې الف باقي پاتي کيږي اوپه لغت دهذيل هغه غير فصيحه دي نو لهذا دلته اشکال نه کيږي .

لعدم موجب: په دې عبارت سره شارح دالف ثابت پاتي کيدو وجه بيانوي چې دهغې حاصل دادې چې الف لره ځکه ثابت پاتي کيږي چې ددې تبديل کيدو څه موجب اوسبب نشته دي نه خو ددې نه مخکې کسره شته دي چې دې لره په ياء سره دبدليدو تقاضا وکړي اونه ددې نه مخکې ضمه شته دي چې دې لره په واو سره دبدليدو تقاضا وکړي ددې وجې نه الف به ثابت پاتې کيږي .

اى قبيلة من العرب: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : په تقلب کې هِيَ ضمير مستتر مرجع هذيل دي اودا مذکر دي او هِيَ ضمير مؤنث دي لهذا دراجع اومرجع په مينځ کې مطابقت نشته دي .

جواب : مرجع هذيل دقبيله په تاويل کې ده ګويا تانيث معنوي دي لهذا دراجع اود مرجع په مينځ کې مطابقت پيدا شو

اى الالف: په دې عبارت کې شارح د **ها** دضمير مرجع متعين کړه چې دضمير مرجع **الف** دي .

حال کونها: په دې عبارت کې شارح بيان دترکيب کوي چې **لغير التثنيه** ظرف مستقر متعلق **كائنة** حال دي د**تقلبها** د**هاء** ضمير نه چې دهغې مرجع **الف** دي

لمشاكلة ياء المتكلم : په دې عبارت کې شارح دادغام وجه بيانوي چې دغير تثنيه الف په ياء سره بدلول دياء مشاكلة دوجې نه دي هغه داسې چې **ياء** غواړي چې زما ماقبل دې مكسور وي اوعصاى او رحاى کې ماقبل مكسور نه دي ددې وجې نه مشاكلة مفقود اومعدو دي نو د مشاكلت دپيدا کولودپاره مو **الف** په **ياء** سره تبديل کړو اوقبيله هذيل دتثنيې **الف** په **ياء** سره نه بدلوي ځکه چې که دتثنيې **الف** په **ياء** سره بدل کړې شي نو دتثنيې حالت رفعي دحالت نصبي اوجري سره التباس لازم راځي مثلاً **غلاماى** په **الف** سره په حالت رفعي کې که الف په ياء سره بدل شي اوياء په ياء کې مدغم کړې شي نو **غلامي** به شي اوحالت نصبي اوجري هم د**ياء** سره دي نو په صورت داضافت کې ياء دمتكلم ته په حالت دنصب اوجر کې هم **غلامي** به وي نو حالت رفعي دحالت نصبي اوجري سره التباس لازم راځي ددې وجې نه هذيل هم دغير تثنيې الف په **ياء** سره بدلوي .

داسم صحيح په آخر کې دياء حکم :

وَ اِنْ كَانَ آخِرُ الْاِسْمِ الْمُضَافِ اِلٰى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ يَاءً اُدْغِمَتْ فِيْ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ
اوکه چیرته وو آخر د هغه اسم چې مضاف وي ياء دمتكلم طرف ته **ياء**نومدغم کولې به شي په **ياء**دمتكلم کې د
لِاجْتِمَاعِ الْمِثْلَيْنِ فِيْمَا هُوَ كَالْكَلِمَةِ الْوَاحِدَةِ مِثْلُ مُسْلِمِيْنَ اِذَا اُضِيْفَ
وجې د جمع کېدو د دوه مثلو په هغه کلمه کې چې هغه په شان د يوې کلمې دي لکه مسلمين چې کله يې اضافت
اِلٰى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ وَ اُسْقِطَتِ النُّوْنُ لِلْاِضَافَةِ وَ اُدْغِمَتِ الْيَاءُ فِي الْيَاءِ فَصَارَ
وشي ياء دمتكلم طرف ته اوساقط يې کړو نون دوجې داضافت نه اومدغم يې کړه ياءپه **ياء** کې نو وګرځيدو
مُسْلِمِيَّ
مسلمي

خلاصه دمتن : د دې خاې نه صاحب د کافيې د هغه اسم حکم بيانوي چې د هغې په آخر کې ياء وي او هغه مضاف وي ياء د متکلم طرف ته او که د هغه په آخر کې ياء وي نو ياء متکلم به په ياء کې مدغم کيږي

اغراض دجامي : في ياء المتکلم : په دې عبارت کې شارح د ادغمت دصلې بيان کوي.

لاجتماع المثلين : په دې عبارت کې شارح دادغام وجه بيانوي ياء په ياء کې دادغام کولو وجه داده چې هغه دوه کلمې کوم چې په منزله د کلمې واحدې وي که په دې کې دوه حرف ديو جنس نه جمع شي نو يو په بل کې مدغم کيږي او مضاف مضاف اليه هم په منزله د کلمې واحدې دي کله چې په دې کې دوه ياء جمع شي نو يو په بل کې مدغم کولې شي مثال لکه مسلمين کله چې ددې اضافت ياء د متکلم طرف ته وشو نو داضافت دوجې نه نون ساقط شو نو دوه ياء جمع شوې نو اوله ياء مو په دوهمه ياء کې مدغم کړه نو په تثنيه کې مسلمي شو او په جمع کې مسلمي شو.

د اسم صحيح په آخر کې د واو حکم :

وَ اِنْ كَانَ آخِرُهٗ وَاواً قُلِبَتِ الْوَاُو يَاءً لِاجْتِمَاعِ الْوَاوِ وَ الْيَاءِ وَ الْاُوْلٰى سَاكِنَةٌ مِثْلُ
او که چيرته وو آخر ددې واو نو بدلولې به شي واو په ياء سره د وجې د جمع کيدو د واو او ياء او اول ساکن وو لکه
مُسْلِمُوْنَ اِذَا اُضِيْفَ اِلٰى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ قُلِبَتْ وَاوُهٗ يَاءً وَ اُدْغِمَتِ الْيَاءُ فِي الْيَاءِ
مسلمون چې کله يې اضافت وشي ياء د متکلم ته نو بدلولې به شي واو په ياء سره او مدغم کولې به شي ياء په ياء
وَ كُسِرَ مَا قَبْلَهَا لِاَنَّهَا لَمَّا انْقَلَبَتْ يَاءً سَاكِنَةً يُوْجِبُ بَقَاءُ الضَّمَّةِ
کې او کسره به ورکړلې شي ماقبل ددې ته څکه چې کله بدل شو واو په ياء ساکنه سره نو واجبوي بقاء دضمې
قَبْلَهَا تَغَيُّرَهَا فَحُرِّكَتْ بِالْحَرَكَةِ الْمُنَاسِبَةِ لَهَا فَقِيْلَ مُسْلِمِيَّ وَ اِنْ كَانَتْ قَبْلَ
مخکې ددې نه تغير ددې نو حرکت ورکړې شو مناسب حرکت ددې سره نو وې ويل مسلمي او که چيرته وو مخکې
الْيَاءِ اَوِ الْوَاوِ فَتْحَةٌ بَقِيَ مَا قَبْلَهَا مَفْتُوْحًا كَقَوْلِكَ فِيْ مُسْلِمَيْنِ مُسْلِمَيَّ وَ فِيْ مُصْطَفَوْنَ
د ياء نه او يا د واو نه فتحه نو باقي به وي ماقبل ددې مفتوح لکه داقول ستا په مسلمين کې مسلمي او په مصطفون کې
مُصْطَفَيَّ لِخِفَّةِ الْفَتْحَةِ وَ فُتِحَتِ الْيَاءُ اَيْ يَاءُ الْمُتَكَلِّمِ فِي الصُّوَرِ الثَّلٰثِ
مصطفي دوجې د خفت د فتحې نه او فتحه به ورکړې شي ياء ته يعني ياء د متکلم ته په درې صورتونو کې دوجې د
لِلسَّاكِنَيْنِ اَيْ لِلُزُوْمِ اِلْتِقَاءِ السَّاكِنَيْنِ اِنْ لَمْ تُحَرَّكْ وَ اُخْتِيْرَ الْفَتْحُ
ساکنينو نه يعني دلزوم دالتقاء ساکنينو نه که چيرې حرکت ورنه کړي ياء د متکلم ته او غوره به کړه فتحه دوجې

لِـخِـفَّـتِـهِ.
دخفت دفتحې نه.

خلاصه دمتن : دلته دهغه اسم حکم بیانوي چې دهغې په آخر کې واو وي اودا مضاف وي یاء د متکلم طرف ته اوکه ددې په آخر کې واو وي نو هغه واو به په یاء سره بدلولې شي اویاء به په یاء کې مدغم کولې شي اوماقبل ته به کسره ورکولې کیږي .

اغراض دجامي : الواو: په دې عبارت کې شارح دضمیر مرجع متعین کوي چې دقلبت هي د ضمیر مرجع واو دي .

لاجتماع الواو والیاء: په دې عبارت کې شارح داوپه یاء سره دبدلیدو وجه بیانوي قاعده داده چې کله واو اویاء جمع شي اوپه دې کې اول ساکن وي نو واو په یاء سربدلول اویاء په یاء کې مدغم کولې شي مثال لکه مسلمون کله چې ددې اضافت وشو نو نون دجمع وغورځیدو واو اویاء یو ځاې جمع شوي په دې کې اول ساکن دي واو په یاء سره بدل شو اویاء په یاء کې مدغم شوه .

لانها لما انقلبت: دلته شارح دیاء ماقبل ته دکسرې ورکولو بیان کوي چې کله واو ساکنه په یاء سره بدل شو نو دماقبل ضمه ددې خبرې تقاضا کوي چې یاء په واو سره بدل شي ځکه چې قاعده داده چې کله یاء ساکن وي اوددې ماقبل مضموم وي نو واو په یاء سره بدلیږي پس په دې صورت کې رجوع لازم راځي هغه څیز طرف ته چې دکوم نه اعراض شوي وو ددې وجې نه ضروري ده چې یاء ماقبل ته هغه حرکت ورکړي شي کوم چې دیاء سره مناسب وي اود یاء سره مناسب حرکت هغه کسره ده ځکه یې ماقبل ته کسره ورکړه اوکه دیاء ماقبل مفتوح وي نو هغه به په خپل حال پریخودلې شي مثال لکه مسلمین کله چې ددې اضافت یاء دمتکلم طرف ته وشو نو نون داضافت د وجې نه وغورځیدو نو پس دوه یاء ګانې جمع شوي نو اوله یاء په دویمه یاء کې مدغم شوه نو مسلمي په تثنیه کې او مسلمي په جمع کې شوه همدارنګې مصطفون کله چې ددې اضافت یاء دمتکلم طرف ته وشو نو نون وغورځیدو پس واو او یاء جمع شو په دې کې اول ساکن وو واو په یاء سره بدل شو اویاء په یاء کې مدغم شوه نو مصطفي جوړشو .

فتحت الیاء ای یاء المتکلم: په دې عبارت کې شارح دابیانوي چې په یاء باندې الف لام د مضاف الیه په عوض کې دي یا دعهد دي مطلق یاء مراد نه ده بلکه یاء متکلم مراد ده .

في الصور الثلث: په دې کې شارح ازاله ديو وهم کوي هغه وهم داوو چې شـ ـ ـتحت الياء تعلق ددې آخري صورت سره وي حالانکه داسې نه دي بلکه ددې تعلق د ـ ـ ـ ـ صورتونو سره دي

اى للزوم التقاء الساكنين: په دې عبارت کې شارح دابيانوي چې دسـ کنين مضاف اومضاف اليه دواړه محذوف دي مطلب دادې چې که حرکت ورنه کړي شي نو التقاء ساکين لازم راځي باقي فتحه يې ځکه اختيار کړه چې فتحه اخف الحرکات ده.

د اسماء سته مکبره ياء طرف ته اضافت:

وَ أَمَّا الْأَسْمَاءُ السِّتَّةُ الَّتِيْ مَرَّ الْبَحْثُ عَنْهَا مُضَافَةً إِلٰى غَيْرِ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ فَأَخِيْ وَأَبِيْ أَيْ فَالْحَالُ فِيْ
اوهرچې اسماء سته هغه چې تيرشوي بحث ددې نه چې مضاف وي غير دياءمتکلم ته نواخي وابي يعني حال په
أَخٍ وَ أَبٍ مِنْهَا إِذَا أُضِيْفَ إِلٰى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ أَنْ يُقَالَ أَخِيْ وَ أَبِيْ مِثْلَ يَدِيْ وَ دَمِيْ بِلَا
اخ اواب کې ددې نه چې کله اضافت وشي ياءدمتکلم طرف ته چې وويل شي اخي اوابي لکه يدي اودمي په غير
رَدِّ الْمَحْذُوْفِ لِجَعْلِهِ نَسْيًا مَنْسِيًّا وَ أَجَازَ الْمُبَرِّدُ فِيْهِمَا أَخِيَّ وَ أَبِيَّ بِرَدِّ
دواپس کولو دمحذوف دوجې دګرځولو ددې نه نسيامنسيا اوجائزکړي مبرد په دې دواړو کې اخي اوابي په واپس
لَامِ الْفِعْلِ فِيْهِمَا وَ هِيَ الْوَاوُ وَ جَعْلِهَا يَاءً وَ إِدْغَامِ الْيَاءِ فِي الْيَاءِ وَ تَمَسَّكَ فِيْ
کولو دلام دفعل په دې دواړو کې چې هغه واو دي اوګرځول ددې ياءدي اوادغام دياء په ياء کې اودليل نيولي په
ذٰلِكَ بِقَوْلِ الشَّاعِرِ:
دې کې په قول دشاعر:

وَ أَبِيَّ مَا لَكَ ذُو الْمَجَازِ بِدَارٍ
اوزما دپلاردې قسم وي چې نشته په ذوالمجازبازارکې کوم کور

وَ حَمَلَ الْأَخَ عَلَى الْأَبِ لِتَقَارُبِهِمَا لَفْظًا وَ مَعْنًى وَ أَجَابَ عَنْهُ الْمُصَنِّفُ
اوحمل کول داخ په اب باندې دوجې دنزديکت ددې دواړونه دي لفظاً اومعنی اوجواب ورکړې ددې نه مصنف
فِيْ شَرْحِهِ بِأَنَّ ذٰلِكَ خِلَافُ الْقِيَاسِ وَ إِسْتِعْمَالِ الْفُصَحَاءِ مَعَ أَنَّهُ يَحْتَمِلُ أَنْ يَكُوْنَ الْمُقْسَمُ بِهِ
په خپله شرحه کې چې داخلاف قياس اودفصحاو داستعمال خلاف دي سره ددې چې احتمال لري چې وي مقسم به
أَبِيَّ أَيْ جَمْعُ أَبٍ فَأَصْلُهُ أَبِيْنَ سَقَطَتِ النُّوْنُ فِي الْإِضَافَةِ فَاجْتَمَعَتْ يَاآنِ فَأُدْغِمَتِ
يعني ابي جمع داب ده نواصل ددې ابين ده نوساقط شو نون په اضافت کې نوجمع شوې دوه ياګانې نومدغم شوه
الْأُوْلٰى فِي الثَّانِيَةِ فَصَارَ أَبِيَّ وَ قَدْ جَاءَ جَمْعُهُ هٰكَذَا فِيْ قَوْلِ الشَّاعِرِ . شِعْر:
اوله ياءپه دويمه کې نو ابي وګرځيد اوپه تحقيق سره راغلي ده جمع ددې همدارنګې په قول دشاعر کې شعر:

فَلَمَّا تَبَيَّنَ اَصْوَاتُنَا	بَكَيْنَ وَ فَدَّيْنَنَا بِالْاَبِيْنَا
هركله چې ښكاره شوآوازونه زمونږ	نوهغوي وژړل اووي ويل چې فدا دې وي په تاسوابا زمونږ

أَيْ لَمَّا سَمِعْنَ وَ عَلِمْنَ اَصْوَاتَنَا بَكَيْنَ وَ قُلْنَ لَنَا اَبَاءُوْنَا
يعني هركله چې يې واوريدل اوپوه شول په آوازونوزمونږنووي ژړل اووي ويل مونږته چې وي دې پلاران زمونږ
فِدَاؤُكُمْ .
قربان په تاسو

خلاصه دمتن : صاحب د كافيې په دې عبارت كې داسماء سته مكبره په باره كې وايي چې كله دا ياء متكلم طرف ته مضاف وي اوكله چې داضافت نه په غير وي نو ددې اعراب څنګه وي . چې ددې تفصيل شارح لاندې په شرح كې ذكر كوي .

اغراض دجامي : واما الاسماء الستة : په دې عبارت كې صاحب د كافيې دابيانوي چې داسماء سته مكبره نه اب او اخ لره ياء دمتكلم طرف ته مضاف كړي شي نو اخي او ابي به ويلې شي اولام كلمه چې واو دي هغه به نه واپس كيږي

التي مر البحث : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي :

سوال : كلمه داماكې دوه (۲) احتماله دي (۱) يا اما تفصيليه دي (۲) يا اما استنافيه دي اودا دواړه احتمالونه صحيح نه دي اول احتمال ځكه صحيح نه دي چې تفصيل داجمال تقاضا كوي اوددې مخكې اجمال نشته دي اودويم احتمال ځكه صحيح نه دي چې اما استنافيه د كلام په شروع كې وي اودا په وسط د كلام كې دي

جواب : اما تفصيليه ده باقي پاتې شو داسوال چې مخكې يې اجمال نشته دي نو ددې جواب دادې چې اجمال مخكې داسماءسته مكبر داعراب په بحث كې تيرشوي دي نواشكال دفع شو

مضافة : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي :

سوال : كله چې ددې بحث مخكې وشونودادوباره ذكركول بې فائدې او اشتغال بما لا يعني دي

جواب : مخكې ددې حيثيت نه ددې بحث وو چې دا مضاف الى غير ياء متكلم وي اودلته ددې حيثيت نه ددې بحث دي چې دا ياء متكلم طرف ته مضاف وي

فالحال في اخي وابي : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي .

سوال : دمصنف رحمه الله قول فاخي وابي جزاء ده د اما شرطيه كوم چې متضمن معنى دشرط مبتدا دي ليكن دي لره جزاء جوړول صحيح نه دي ځكه چې دجزاء دپاره جمله كيدل شرط دي داجمله نه ده بلكه مفرد دي

جواب : اخي وابي خبر دي دمبتدا محذوف چې فالحال دي مبتدا خبر جمله جزاء ده نو لهذا اشكال دفع شو

منها: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي

سوال : دمصنف رحمه الله په عبارت كې فاخي وابي حمل دي په الاسماء الستة باندې حالانكه حمل صحيح نه دي ځكه چې اسماء سته صرف اخي وابي نه دي بلكه دا خو شپږ (۲) دي

جواب : فاخي وابي اسماء سته نه دي بلكه ددې نه بعض دي

اذا اضيف : په دې عبارت سره شارح دحذف دقيد طرف ته اشاره وكړه چې خروج عن المبحث لازم رانه شي مطلب دادي چې داسماء سته نه اخ او اب لره چې كله ياء متكلم طرف ته مضاف شي نو اخي او ابي ويلي كيږي د يدي اودمي په شان يعني لام كلمه كومه چې واو دي هغه نه شي واپس كيدي بلكه هغه نسياً منسياً په درجه كې شوي دي

واجاز المبرد: په دې عبارت كې شارح دنحويانو اختلاف بيانوي چې مبرد نحوي په اخ او اب كې اخي او ابي جائز كړي دي يعني لام كلمه كومه چې واو دي هغه لره واپس كول په ياء سره بدلول اوياء په ياء كې مدغم كولې شي

وتمسک: په دې عبارت سره شارح دامام مبرد دليل بيانوي امام مبرد دشاعر ددې قول نه استدلال كوي چې وابي مالک ذوالمجاز بدار په دې كې شاعر واو واپس كړي دي او په ياء سره يې بدل كړي دي اوياء په ياء كې مدغم كړي ده ددې وجې نه هغه ياء مشدد لوستلي ده مكمل شعر داسې دي چې:

قَدَرٌ اَحَلَّکَ ذَا الْمَجَازِ وَقَدْ اَرٰی وَاَبِيَّ مَالَکَ ذُوالْمَجَازِ بِدَارِ

دالله تعالى تقدير تالره په ذوالمجاز بازار كې كوز كړي يې اوزه گمان كومه . اوزما دې په حپل پلار قسم وي چې ستا دپاره په ذوالمجاز منى ، كې هيڅ كور نشته دي

وحمل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور كول دي

سوال : په شعر کې خو صرف د ابي ذکر دي مبرد اخي لره ولې یوځاې کړي دي ؟

جواب : مبرد اخ په اب باندې محمول کړي دي ځکه چې دواړه لفظاً اومعناً یو بل ته قریب او نژدې دي لفظاً ځکه چې ددواړو په شروع کې همزه ده اوپه آخر کې واو محذوف دي اودواړه ثلاثي دي اومعناً ځکه چې دواړه داسماء اضافیه څخه دي ځکه چې داخ معنی ده من له اخ د اب معنی ده من له ابن همدارنګې په دواړو کې تعدد دمعنی دي .

واجاب عن المصنف في شرحه : په دې عبارت کې شارح دامام مبرد ددلیل جواب کوي مصنف په خپله شرح کې ددې دوه (۲) جوابات ورکړي دي :

جواب (۱) : دمبرد دا استدلال خلاف قیاس اوخلاف استعمال دي خلاف قیاس خو ځکه دي چې د اضافت فائده تخفیف ده هغه نه حاصلیږي اودفصحاو داستعمال خلاف ځکه دي چې د فصحاو په کلام کې داضافت په وخت کې واو واپس کول اوپه یاء سره بدلول اویاء په یاء کې مدغم کول مسموع نه دي .

جواب (۲) : دا احتمال هم دي چې په دې شعر کې ابي مقسم به داب جمع وي په اصل کې ابین وو کله چې دې لره د ي ء دمتکلم طرف ته مضاف شو نو نون داضافت دوجې نه وغورځیدو بیا یاء په یاء کې مدغم شوه نو ابي ترې جوړ شو .

وقد جاء : په دې عبارت کې شارح ددې خبرې دلیل پیش کوي چې داب جمع ابین په کلام دعربو کې واقع ده لکه څنګه چې دشاعر په دې قول کې واقع ده چې :

فَلَمَّا تَبَيَّنَّ اَصْوَاتَنَا بَكَيْنَ وَفَدَّيْنَنَا بِالْاَبِيْنَا

پس کله چې زمونږ آوازه ښکاره شول نو هغه ښځې په ژړا شوي اومونږ ته یې وویل چې زمونږ پلاران دې په تاسو باندې قربان وي .

وجه داستدلال : ددې شعر په آخر کې ابین جمع ده داب ددې نه معلومه شوه چې داب جمع ابین راځي دالابینا په آخر کې الف داشباع دپاره دي .

د حمي او د هني حکم :

وَ تَقُوْلُ أَيْ اِمْرَأَةٌ قَائِلَةٌ لِامْتِنَاعِ اِضَافَةِ الْحَمِ إِلَى الْمُذَكَّرِ حَمِيْ وَ هَنِيْ بِلَا رَدِّ الْمَحْذُوْفِ
اووایي به یعني ښځه چې قائله ده دوجې دممتنع کیدو داضافت دحم مذکرته حمي اوهني بې درد دمحذوف نه په

عِنْدَ الْاِضَافَةِ اِلٰی يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ وَ اِنَّمَا فَصَلَهُمَا عَنْ اَخِيْ وَ اَبِيْ لِاَنَّهُ لَمْ يُنْقَلْ عَنِ
وخت داضافت کې ياء دمتکلم ته اوپه تحقيق سره جدا يې کړو حمي اوهني داخي او ابي نه ځکه چې نه دي نقل :
الْمُبَرِّدِ فِيْهِمَا فِي الْمَشْهُوْرِ مَا يُخَالِفُ مَذْهَبَ الْجَمْهُوْرِ وَ اِنْ نَقَلَ عَنْهُ بَعْضُهُمْ ذٰلِكَ الْخِلَافَ
مبردنه په دې کې قول مشهورچې مخالف وي دمذهب دجمهوروا ګرکه نقل وي دبعضې نحويانونه دااختلاف
فِي الْاَسْمَاءِ الْاَرْبَعَةِ .
په اسماء اربعه کې

خلاصه دمتن : دصاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې ښځه حم اوهن لره ياء دمتکلم طرف ته داضافت په وخت کې لام کلمه محذوف لره د رد نه په غير حمي او هني ويلي شي .

اغراض دجامي : الامرأة: په دې عبارت کې شارح بيان دصيغې کوي چې **تقول** د واحد مؤنث غائب صيغه ده د مخاطب مذکر صيغه نه ده

لامتناع: په دې عبارت کې شارح دصيغې دمؤنث وجه بيانوي چې د حم معنی ده دسړي طرف د ښځې رشته دار يعنې ليور ، لهذا دحم اضافت مذکر طرف ته ممتنع دي ددې وجې نه دا د واحد مؤنث غائب صيغه ده .

وانما فصلهما: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي :

سوال : مصنف حمي هني لره داخي او ابي نه جدا ولې ذکر کړه دهغې سره يې يوځاې ولې ذکر نه کړه حالانکه دټولو يو حکم دي چې په وخت داضافت کې ياء دمتکلم طرف ته ددې آخري حرف محذوف نه واپس کيږي .

جواب : مصنف رحمه الله حمي اوهني لره داخي او ابي نه جدا ځکه ذکر کړه چې په حمي اوهني کې د جمهورو سره دمبرد اختلاف مشهور نه دي اګرکه بعضې حضراتو په ټولو اسماء اربعه کې اختلاف نقل کړي دي ليکن هغه غير مشهور دي او ابي او اخي کې د جمهورو سره دمبرد اختلاف معروف اومشهور دي ددغې فرق دوجې نه حمي اوهني يې جدا ذکر کړه

د فم او د نورو اسماء سته مکبرو بيان :

وَ يُقَالُ فِيْ فَمِ حَالِ اِضَافَتِهِ اِلٰی يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ فِيَّ بِالرَّدِّ وَ الْقَلْبِ وَ الْاِدْغَامِ فِي الْاَكْثَرِ
اوويلي شي فِيَّ په فم کې په وخت داضافت ددې کې ياء دمتکلم ته فِيَّ په رد کولوسره قلب اوادغام ته په اکثرکې

أَيْ فِيْ اَكْثَرِ مَوَارِدِ اِسْتِعْمَالَاتِهٖ وَ فَمِيْ فِيْ بَعْضِهَا اِبْقَاءً لِلْمِيْمِ الْمُعَوَّضِ عَنِ

يعني په اکثرو مواضعو داستعمال ددې کې او فمي په بعضې استعمالاتو کې دوجې دباقي کيدو دميم نه عوض د

الْوَاوِ عِنْدَ قَطْعِهٖ عَنِ الْاِضَافَةِ وَ اِذَا قُطِعَتْ هٰذِهِ الْاَسْمَاءِ الْخَمْسَةِ عَنِ الْاِضَافَةِ قِيْلَ اَخٌ وَ

واو نه په وخت دقطع ددې کې داضافت نه او چې کله قطع شي دا اسماء خمسه داضافت نه نوويلې به شي اخ او

اَبٌ وَ حَمٌ وَ هَنٌ وَ فَمٌ بِالْحَرَكَاتِ الثَّلٰثِ وَ لٰكِنْ فَتْحُ الْفَاءِ اَفْصَحُ مِنْهُمَا أَيْ مِنَ الضَّمِّ وَ

اب او حم او هن او فم په حرکات ثلاثه سره ليکن فتحه د فاء دا ډيره فصيحه ده ددې دواړو نه يعني د ضمې او

الْكَسْرِ وَ جَاءَ حَمٌ مِثْلُ يَدٍ فَيُقَالُ هٰذَا حَمٌ وَ حَمُكِ وَرَأَيْتُ حَمًا اَوْ حَمَكِ وَ مَرَرْتُ بِحَمٍ اَوْ حَمِكِ وَ مِثْلُ

کسرې نه او راغلې حم په شان ديد نوويلې به شي هذا حم وحمکِ ورأيتُ حماً او حمکِ ومررت بحمٍ او حمکِ او په شان د

خَبْءٍ بِالْهَمْزَةِ فَيُقَالُ هٰذَا حَمْءٌ اَوْ حَمْؤُكِ وَرَأَيْتُ حَمْأً اَوْ حَمَاكِ وَمَرَرْتُ بِحَمْءٍ اَوْ حَمْئِكِ وَ مِثْلُ دَلْوٍ بِالْوَاوِ

خبء په همزې سره نوويلې به شي هذا حمءٌ او حمؤکِ ورأيت حمأً او حماکِ ومررتُ بحمءٍ او حمئکِ او په شان د دلو په واو سره

فَيُقَالُ هٰذَا حَمْوٌ اَوْ حَمْوُكِ وَرَأَيْتُ حَمْوًا اَوْ حَمْوَكِ وَ مَرَرْتُ بِحَمْوٍ اَوْ حَمْوِكِ وَ مِثْلُ عَصًا بِالْاَلِفِ فَيُقَالُ

نوويلې به شي هذا حموٌ او حموکِ ورأيت حمواً او حموکَ ومررت بحموٍ او حموکِ او په شان د عصاء په الف سره نوويلې به شي

هٰذَا حَمًا وَحَمَاكِ وَرَأَيْتُ حَمًا وَحَمَاكِ وَمَرَرْتُ بِحَمًا وَحَمَاكِ مُطْلَقًا أَيْ جَوَازُ حَمٍ مِثَالُ هٰذِهِ الْاَسْمَاءِ الْاَرْبَعَةِ مُطْلَقًا

هذا حماً وحماکِ ورأيت حماً وحماکِ ومررت بحماً وحماکِ مطلقا يعني جواز د حمٍ په شان ددې اسماء اربعو مطلقا

غَيْرُ مُقَيَّدٍ بِحَالِ الْاِفْرَادِ وَ الْاِضَافَةِ بَلْ تَجِيْءُ هٰذِهِ الْوُجُوْهُ فِيْهِ فِيْ كُلٍّ مِنْ حَالَتَيِ الْاِفْرَادِ وَ الْاِضَافَةِ وَ

نه مقيد په حال دافراد او اضافت کې بلکې راځي دا وجوه په دې کې په هر يو د دواړو حالتونو دافراد او داضافت او

جَاءَ هَنٌ مِثْلُ يَدٍ مُطْلَقًا أَيْ فِي الْاِفْرَادِ وَ الْاِضَافَةِ يُقَالُ هٰذَا هَنٌ وَ رَأَيْتُ هَنًا وَ مَرَرْتُ بِهَنٍ وَ هٰذَا هَنُكَ وَ

راغلې هن په شان ديد مطلقا يعني په افراد او اضافت کې نوويلې به شي هذا هنٌ ورأيتُ هناً ومررت بهنٍ وهذا هنک و

رَأَيْتُ هَنَكَ وَمَرَرْتُ بِهَنِكَ .

رأيت هنک ومررت بهنک .

خلاصه دمتن : دصاحب دکافيې دعبارت حاصل او نتيجه دا ده چې کله فم يا د متکلم طرف ته مضاف شي نو په اکثرو استعمالاتو کې عين کلمه يعني واو محذوف لره واپس شي او هغه په ياء سره بدل شي او ياء په ياء کې مدغم کيږي او فيّ ويلې شي او بعضې استعمالاتو کې ميم لره باقي ساتلې شي او فمي ويلې کيږي کوم ميم چې **قطع عن الاضافة** په وخت کې د واو په عوض کې راوړې شوې وو

اغراض دجامي : حال اضافته : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ور کول دي

سوال : لکه څنګه چې آخري حرف رد کولې شي في ويلې کيږي همدارنګې **فوه** هم ويلې کيږي نو بيا د في تخصيص يې ولې وکړو ؟

جواب : مونږ بحث کوو په **اضافت الى ياء المتكلم** کې په دې صورت کې في ويلې کيږي او **فوه** په غير داضافت نه ويلې کيږي هغه زمونږ دبحث نه خارج دي

اى في اكثر موارد : په دې عبارت سره شارح اشاره کوي چې د **في الاكثر** نه **اكثر** مراد نه دي بلکه اکثر موارد داستعمال مراد دي .

واذا قطعت : دصاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې اسماء سته نه د **ذو** نه غير باقي پنځه (۵) کله چې **مقطوع عن الاضافة** وي نو **اخ** ، **اب** ، **هن** ، **حم** ، **فم** ويلې شي يعنې اعراب بالحرکت به جاري کيږي مثال لکه **هذا اخ رأيت اخا ومررتُ باخ** اودويمه خبره يې دابيان کړي ده چې په **فم** کې دري (۳) لغتونه دي . (۱) **فُم** په ضمې د **فاء** سره . (۲) **فَم** په فتحې د **فاء** سره . (۳) **فِم** په کسرې د **فاء** سره ليکن فتحه دضمې اوکسرې نه زيات فصيحه ده په **حم** کې ذکر شوي لغت نه غير څلور (۴) لغتونه نور هم دي :

(۱) د **يد** په شان يعنې لام کلمه دواو محذوفه نسياً منسياً په درجه کې وي ددې لغت مطابق په حالت دافراد کې **هذا حم رأيتُ حما ومررت بحم** ويلې کيږي او په حالت داضافت کې **هذا حمک ورأيت حمک ومررتُ بحمک** ويلې شي .

(۲) د **خبأ** په شان يعنې لام کلمه کومه چې واو ده هغه لره واپس کول په همزې سره بدل شي ددې لغت مطابق په حالت دافراد کې ويلې شي **هذا حمء ورأيت حمأ ومررتُ بحمءٍ** اوپه حالت د اضافت کې ويلې کيږي **هذا حموکِ ورأيتُ حماکِ ومررتُ بحمئکِ** .

(۳) د **دلو** په شان يعنې واو محذوفه واپس کول په خپل حالت باندې باقي ساتلې شي ددې لغت مطابق په حالت دافراد کې ويلې کيږي **هذا حمو ورأيت حموا ومررتُ بحموا**وپه حالت داضافت کې به ويلې شي **هذا حموک ورأيت حموک ومررت بحموک**

(۴) دعصا په شان يعنې واو محذوفه لره واپس کول په الف مقصوره سره بدلول نو ددې لغت مطابق په حالت دافراد کې هذا حماً ورأيت حماً ومررتُ بحماً ويلي شي اوپه حالت د اضافت کې هذا حماکِ ورأيت حماک ومررتُ بحماک ويلي شي يعنې په دري واړو حالتونو کې به اعراب تقديري وي

مطلقاً اي: په دې عبارت کې شارح داطلاق دمفهوم وضاحت کوي د مطلقاً مطلب دادې چې حم د اسماء اربعه مذکوره په شان استعماليدل داپه حالت دافراد اوپه حالت داضافت کې دځه سره مقيد نه وي بلکه دا وجوه اربعه په حالت دافراد اوپه حالت داضافت کې په دواړو کې جاري کيږي

وجاء هن: په هن کې دلغت مذکوره نه غير يو بل لغت هم شته دي هغه دادې چې هن مطلقاً دید په شان وي يعنې په حالت دافراد اوپه حالت داضافت کې په دواړو صورتونو کې لام کلمه محذوفه واپس نه کړي شي ددې لغت مطابق په حالت افراد کې ويلي کيږي هذا هن ورأيت هناً ومررتُ بهن اوپه حالت داضافت کې ويلي کيږي هذا هنک ورأيت هنک ومررتُ بهنک.

د ذو د اضافت حکم:

وَ ذُوْ لَا يُضَافُ إِلَى مُضْمَرٍ لِاَنَّهُ وُضِعَ وُصْلَةً إِلَى الْوَصْفِ بِأَسْمَاءِ الْاَجْنَاسِ وَ
اوذونه مضاف کيږي مضمرته خکه چې ذو وضع کړې شوې دپاره دوسيلې وصف ته په اسماء جنس سره او
الضَّمِيْرِ لَيْسَ بِاِسْمِ جِنْسٍ وَ قَدْ اُضِيْفَ إِلَيْهِ عَلَى سَبِيْلِ الشُّذُوْذِ كَقَوْلِ الشَّاعِرِ شِعْر:
ضميرنه اسم جنس او په تحقيق سره اضافت شوې دې طرف ته په طريقې د شذوذ لکه دا قول د شاعرشعر:

إِنَّمَا يَعْرِفُ ذَا الْفَضْلَ مِنَ النَّاسِ ذُوْوْهُ
په تحقيق سره پيژني حوند دفضل دخلکونه صاحب دفضل

وَ لَوْ قِيْلَ لَا يُضَافُ إِلَى غَيْرِ اِسْمِ الْجِنْسِ لَكَانَ اَشْمَلَ وَ كَاَنَّهُ خَصَّ الْمُضْمَرِ بِالذِّكْرِ لِاَنَّهُ
اوکه چاوويل چې ذونه مضاف کيږي په غيرد اسم جنس نه نووي به داخاص کول دمضمرپه ذکرپورې خکه چې
كَانَ الْبَعْضُ تِلْكَ الْاَسْمَاءِ حُكْمٌ خَاصٌ عِنْدَ اِضَافَتِهِ إِلَى يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ فَنَفَى اِضَافَتَهُ
د بعضودپاره وودې داسماودپاره خاص حکم په وخت داضافت دذوکې ياءدمتکلم ته نونفي يې کړواضافت
إِلَى الْمُضْمَرِ مُطْلَقًا نَفْيًا لِاخْتِصَاصِهِ بِحُكْمٍ خَاصٍ بِاِعْتِبَارِ اِضَافَتِهِ إِلَيْهِ وَلَا يَقْطَعُ اَيْ
ددې مضمرنه مطلق نفي دوجې داختصاص ددې نه په خاص حکم پورې په اعتبارداضافت سره دې طرف ته او

ذُوْ عَنِ الْإِضَافَةِ لِأَنَّ جَعْلَهُ وُصْلَةً إِلَى أَسْمَاءِ الْأَجْنَاسِ لَيْسَ إِلَّا بِإِضَافَتِهِ
نه قطع كيږي يعنې ذو د اضافت نه ځکه کرځول د دې وسيله اسماء جنس طرف ته نه دي مګر په اضافت د دې
إِلَيْهَا.
سره دې طرف ته

خلاصه دمتن: صاحب د کافيې په دې عبارت کې د اسماء سته مکبره نه د ذو په باره کې وايي چې ذو ضمير طرف ته نه مضاف کيږي همدارنګې ذو هميشه د اضافت سره مستعمليږي د اضافت نه په غير نه مستعمليږي

اغراض دجامي: لانه وضع وصلة: په دې عبارت کې شارح د ذو د ضمير طرف ته د نه مضاف کيدو وجه بيانوي چې د ذو وضع د دې دپاره ده چې هغه اسم جنس طرف ته مضاف او هغه لره د ماقبل صفت جوړوي او ضمير اسم جنس نه وي لهذا دا که ضمير طرف ته مضاف شي دا به د هغه وضع خلاف وي ليکن کله کله على سبيل الشذوذ ذو ضمير طرف ته مضاف کيږي لکه څنګه چې دشاعر په قول کې دي:

إِنَّمَا يَعْرِفُ ذَا الْفَضْلَ مِنَ النَّاسِ ذُوْوْهُ
په تحقيق سره پيژني خاوند دفضل دخلکو نه صاحب دفضل

چې مکمل شعر داسې دي:

أَهَنَا الْمَعْرُوْفِ مَا لَمْ يُتَبَذَّلْ فِيْهِ الْوُجُوْهُ	إِنَّمَا يَعْرِفُ ذَا الْفَضْلَ مِنَ النَّاسِ ذُوْوْهُ
مبارک په نعمتونو کې هغه نعمت دي چې خرچ نه شي په دې کې مخونه (يعنې په بې عزتې سره حاصل نه شي).	او په تحقيق سره پيژني خاوند د فضل د خلکو نه صاحب د فضل.

يعنې په نعمتونو کې مبارک نعمت هغه دي چې په هغې کې مخونه خرچ نه شي (يعنې په سوال او په بې عزتي سره هغه نعمت حاصل نه شي) په تحقيق سره پيژني خاوند دفضل دخلکو نه خاوند د فضل.

په دې عبارت کې ذو ضمير طرف ته مضاف دي ليکن دا شاذ دي.

ولو قيل: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي او په **فکانه** سره د دې جواب ور کوي:

اعتراض: ذو چې لکه څنګه ضمير طرف ته نه مضاف کيږي نو همدارنګې اسماء موصوله اسماء اشاره، اعلام طرف ته هم نه مضاف کيږي نو که مصنف رحمه الله لايضاف الى غير اسم

الجنس وبلي وي نو داب ... زيات اشمل وي ځکه چې ضمير او اسم ظاهر غير جنس ټولو ته به
شامل وي مصنف داسې ولې ونه کړه ؟
جواب : مصنف رحمه الله ضمير په خصوصي طور باندې ځکه ذکر کړو چې اسماء سته ...
بعضې اسماء په اضافت الى ياء المتكلم په وخت کې مخصوص احكام دي لکه **اخي وابي** کې
امام مبرد واو واپس کول هغه لره په ياء سره بدلول او ياء په ياء کې مدغم کول **ابي او اخي** ويل
همدا رنګې په **فم** کې واو واپس کول په ياء سره بدلول او ياء په ياء کې مدغم کول نو مصنف
رحمه الله ذو مطلق ضمير طرف ته داضافت نفي وکړه چې دا وهم پيدا نه شي چې لکه څنګه
نورو اسماء سته دپاره داضافت الى ياء المتكلم په وخت کې خاص احكام دي نو همدا رنګې د
ذو دپاره هم داضافت الى ياء المتكلم په وخت کې بعضې احكام مخصوص دي نو مصنف
رحمه الله ذو **لايضاف الى مضمر** ويلو سره دا بيانوي چې ذو خو ضمير طرف ته نه مضاف کيږي
ددې باوجود ددې دپاره **اضافت الى ياء المتكلم** په اعتبار سره بعضې احكام مخصوص دي .
ذو لايقطع : په دې عبارت کې شارح دابيانوي چې ذو مقطوع عن الاضافت نه دي ځکه چې د ...
وضع ددې دپاره ده چې دا اسم جنس طرف ته مضاف شي او هغه لره دماقبل دپاره صفت جوړ
شي او دا هله کيدې شي چې کله دا اسم جنس طرف ته مضاف وي ددې وجې نه دې ته اضافت
لازم دي او دا مقطوع عن الاضافت نه وي .

تمت المجروات بحمدالله تعالى وعونه

التوابع

(١) نعت :

(٢) معطوف بالحرف :

(٣) تاكيد :

(٤) بدل :

(٥) عطفِ بيان :

﴿اَلتَّوَابِعُ﴾ :

د توابعو تعریف :

وَ هُوَ جَمْعُ تَابِعٍ مَنْقُوْلٌ عَنِ الْوَصْفِيَّةِ إِلَى الْاِسْمِيَّةِ وَ الْفَاعِلُ الْاِسْمِيْ يُجْمَعُ عَلٰى فَوَاعِلَ كَالْكَاهِلِ عَلٰى
او دا جمع د تابع ده چې نقل شوي دوصفيت نه اسميت ته او فاعل اسمي جمع راځي په وزن د فواعل لکه کاهل په
الْكَوَاهِلِ وَ الْمُرَادُ بِهَا تَوَابِعُ الْمَرْفُوْعَاتِ وَ الْمَنْصُوْبَاتِ وَ الْمَجْرُوْرَاتِ الَّتِيْ هِيَ اَقْسَامُ الْاِسْمِ فَلَا
وزن د کواهل او مراد په دې سره توابع د مرفوعاتو، منصوباتو او د مجروراتو دي هغه چې اقسام د اسم دي نو نه
يَنْتَقِضُ حَدُّهَا بِخُرُوْجِ نَحْوُ اِنَّ اِنَّ وَ ضَرَبَ ضَرَبَ لِعَدَمِ كَوْنِهِمَا مِنْ اِفْرَادِ الْمَحْدُوْدِ كُلُّ ثَانٍ
ماتیږي تعریف د دې په وتو د ان ان وضرب ضرب مثال سره دوجې د نه کیدو د افراد د محدود نه هرهغه دویم دي
أَيْ كُلُّ مُتَأَخِّرٍ مَتٰى لَوْ حِظَ مَعَ سَابِقِهٖ كَانَ فِي الرُّتْبَةِ الثَّانِيَةِ مِنْهُ
یعنې هرهغه وروستي دي چې کله لحاظ وکړې شي د مخکې سره نو دا به وي په دویمه مرتبه کې د دې نه نو
فَدَخَلَ فِيْهِ التَّابِعُ الثَّانِيْ وَ الثَّالِثُ فَصَاعِداً مُتَلَبِّسٍ بِاِعْرَابِ سَابِقِهٖ أَيْ بِجِنْسِ
داخل شو په دې کې دویم او دریم تابع او د دې نه زیات چې متلبس وي د خپل مخکني اعراب سره یعنې په جنس د
اِعْرَابِ سَابِقِهٖ بِحَيْثُ يَكُوْنُ اِعْرَابُهٗ مِنْ جِنْسِ اِعْرَابِ سَابِقِهٖ نَاشٍ كِلَاهُمَا مِنْ جِهَةٍ وَاحِدَةٍ
اعراب مخکني په داسې شان چې وي اعراب د دې د جنس د اعراب سابقه نه چې پیدا اوي دواړه د یو جهت
شَخْصِيَّةٍ مِثْلُ جَاءَنِيْ زَيْدُ نِ الْعَالِمُ فَاِنَّ الْعَالِمَ اِذَا لَوْ حِظَ مَعَ زَيْدٍ كَانَ فِي الرُّتْبَةِ الثَّانِيَةِ
شخصیه نه لکه جاءني زيدن العالم ځکه عالم که چیرته لحاظ وکړې شي د زید سره نو وي به دا په دویمه رتبه کې
مِنْهُ وَ اِعْرَابُهٗ مِنْ جِنْسِ اِعْرَابِهٖ وَهُوَ الرَّفْعُ وَالرَّفْعُ فِيْ كُلٍّ مِنْهُمَا نَاشٍ مِنْ جِهَةٍ وَاحِدَةٍ شَخْصِيَّةٍ
د دې نه او اعراب د دې د جنس نه د دې او هغه رفع ده او رفع په هر یو د دې دواړو کې پیدا ده د یو جهت شخصي نه چې
هِيَ فَاعِلِيَّةُ زَيْدِ نِ الْعَالِمِ لِاَنَّ الْمَجِيْئَ الْمَنْسُوْبَ اِلٰى زَيْدٍ فِيْ قَصْدِ الْمُتَكَلِّمِ مَنْسُوْبٌ
هغه فاعلیت د زیدن العالم دي ځکه چې راتګ کوم چې منسوب دي زید ته په قصد د متکلم کې منسوب دي
اِلَيْهِ مَعَ تَابِعِهٖ لَا اِلَيْهِ مُطْلَقًا.
زید طرف ته سره د تابع د دې نه، نه زید طرف ته مطلقاً.

خلاصه د متن : مصنف رحمه الله د مرفوعاتو، منصوباتو او د مجروراتو نه د فارغیدو نه پس د دې د توابعو ذکر کوي توابع ټول پنځه (۵) دي :

وجه د حصر : تابع به د دوه حالونو نه خالي نه وي : یا به مقصود بالنسبة وي او یا به نه وي و که

چیرته مقصود بالنسبة وي نودا به بیا ددوه حالونو نه خالي نه وي دتابع اودمتبوع په مینځ کې به یاحرف عطف وي اویابه نه وي که چیرته دتابع اودمتبوع په مینځ کې حرف عطف وي نو دا عطف بالحرف شو اوکه چیرته دتابع اودمتبوع په مینځ کې حرف عطف نه وي نو دابدل شو ، اوکه چیرته مقصود بالنسبة نه وي نو دابه هم ددوه حالونو نه خالي نه وي تابع به په داسې معنی باندې دلالت کوي چې هغه معنی په متبوع کې موندلې شي اویانه ، که معنی په متبوع کې موندلې شوه نو دانعت شو ، اوکه چیرته معنی په متبوع کې نه شوه موندلې نو دا بیا ددوه حالونو نه به خالي نه وي یابه دمتبوع دویم ځل ذکر شوي وي اویانه که چیرته دمتبوع دویم ځل ذکر شوي وو نو دا تاکید اوکه چیرته دمتبوع دویم ځل ذکر نه وو شوي نو دا عطف بیان شو.

اغراض دجامي : وهو جمع تابع : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : توابع دچا جمع ده ؟ دتابع اوکه دتابعة . اودا دواړه احتمالات صحیح نه دي ، اول احتمال خو ځکه صحیح نه دي چې تابع فاعل وصفي دي اودفاعل وصفي جمع دفواعل په وزن باندې نه راځي ، اودویم احتمال ځکه صحیح نه دي چې توابع صفت دي دالاسماء اوقاعده داده چې اتصاف الجمع بالجمع داد اتصاف المفرد بالمفرد تقاضا کوي نو ددې قاعدې مطابق چې کله توابع دالاسماء صفت دي نو ددې واحد به تابعة دالاسم صفة وي الاسم مذکر اوالتابعة مؤنث دي نو دموصوف اودصفت په مینځ کې مطابقت نه راځي .

جواب : توابع داجمع ده دتابع ، پاتې شو داسوال چې تابع فاعل وصفي دي اودفاعل وصفي جمع دفواعل په وزن نه راځي نوددې جواب دادې چې اګرچې په حقیقت کې دافاعل وصفي دي لیکن دلته دادوصفیت نه اسمیت طرف ته نقل شوي دي ځکه چې تابع اوس اسم جوړشوي دي هر دویم اسم کوم چې معرب وي په مخکني اعراب سره دیو جهت نه اودفاعل اسمي جمع د فواعل په وزن باندې راځي لکه کاهل چې ددې جمع کواهل راځي ، لهذا دتابع جمع توابع راتلې شي .

والمراد: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دتابع تعریف جامع نه دي ځکه چې دا په ان ان کې په دویم ان او په ضرب ضرب کې په دویم ضرب باندې صادق نه راځي ځکه چې دامعرب په مخکني اعراب سره نه دي ځکه حـ

دلته د سره اعراب نشته ځکه دا دواړه مبني الاصل دي حالانکه دا هم تابع دي

جواب : د توابع نه مراد **توابع المرفوعات والمنصوبات والمجرورات** دي مطلق توابع نه دي او په دې باندې قرينه داده چې ددې توابعو نه بحث کيږي لهذا په ان ان کې دويم ان او په **ضرب ضرب** کې په دويم **ضرب** باندې تعريف صادق نه راتلل دا د تعريف د جامعيت دپاره مضر نه دي .

اى كل متاخر : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د تابع تعريف جامع نه دي ځکه چې دا په **جاءني زيد العالم والعاقل والفاضل** کې په **عاقل** او **فاضل** باندې صادق نه راځي ځکه چې دا دويم تابع نه دي بلکه دريم او څلورم دي .

جواب : دلته د دويم نه مراد هر **متأخر** او وروستو راتلونکي دي برابره خبره ده که هغه دويم وي او که دريم وي او که څلورم وي او دا تول په مابعد کې دي ځکه چې تعريف په ټولو باندې صادق راځي .

متى لوحظ : په دې عبارت سره غرض د شارح د دري (۳) سوالونو مقدرو جواب ورکول دي :

سوال (۱) : د تابع تعريف په هغه تابع باندې صادق نه راځي کوم چې د خپل متبوع نه مقدم وي لکه **ورحمة الله عليكم السلام** ، دا په اصل کې **عليكم السلام ورحمة الله** دي په دې کې **رحمة الله** تابع دي ليکن په دې باندې تعريف صادق نه راځي ځکه چې دا متأخر نه دي بلکه مقدم دي .

جواب : دلته د متأخر نه مراد په ذکر کې متأخر نه دي بلکه په رتبه او درجه کې متأخر دي مقصد دادی چې تابع هر هغه متأخر دي چې کله ددې د خپل سابق (متبوع) سره لحاظ وکړي شي نو دا په دويمه مرتبه باندې وي که چيرته لفظاً مقدم وي لهذا تعريف په دې باندې صادق راځي کوم چې د خپل متبوع نه مقدم دي ليکن هغه تقديم په ذکر کې دي په رتبه کې نه دي .

سوال (۲) : د تابع دا تعريف په هغه **عمرو** باندې صادق نه راځي کوم چې په **جاءني زيد وعمرو بكر** کې ... دي ځکه چې دا متاخر نه دي بلکه متوسط دي .

جواب : د متاخر نه مراد په نسبت سره متبوع ته دي نه په نسبت سره غير ته او په **جاءني زيد وعمرو وبكر** کې **عمرو** د خپل متبوع په نسبت متأخر دي لهذا په دې باندې تعريف صادق راځي

سوال (۳) : چې کله د ثاني نه مراد **متأخر** دي نو د ... ب دا وو چې د **متأ** ...ر لفظ

يې ذكر كړي وي د دې دپاره چې اشكال دسره وارد شوي نه وي د دې په ځاې يې د ثانٍ لفظ ولې ذكر كړو؟

جواب : شارح په متى لو حظ سره د دې جواب وركړي چې دلته د ثانٍ نه مراد دا دې چې كله د دې د خپل متبوع سره لحاظ وساتل شي نو دا په دويمه مرتبه او په دويمه درجه باندې وي كله د ثانٍ نه دويمه رتبه او دويمه درجه مراد ده نو د دې دپاره يواځې همدا لفظ د ثانٍ مناسب دې نه لفظ د متأخر د دې وجې نه مصنف رحمه الله د ثانٍ لفظ غوره او ذكر كړو

متلبس : په دې عبارت سره شارح بيان د تركيب كوي چې باعراب سابق دا ظرف مستقر متعلق دي تر متلبس پورې نو دا صفت شو د ثانٍ دپاره

اى بجنس اعراب سابقه : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي

سوال : د تابع دا تعريف د تابع په افرادو كې په يو فرد باندې صادق نه راځي ځكه چې د تابع په افرادو كې كم نه كم دا سې نشته چې هغه په مخكني اعراب سره معرب وي ځكه چې اعراب يو عرض دي او ضابطه او قاعده دا ده چې **قيام العرض بالمحلين المختلفين محال** ، د يو عرض قائميدل د دوه محلينو مختلفو پورې دا محال دي نو لهذا د تابع تعريف په يو فرد باندې هم صادق نه راځي

جواب : د اعراب سابقه نه مخكې مضاف محذوف دي كوم چې جنس دي تقدير د عبارت داسې دي چې **بجنس اعراب سابقه** . معنى به يې داوي چې تابع هر هغه دويم دي چې په هغې كې د مخكني اعراب جنس وسوندل شي نه بعينه مخكني اعراب وموندل شي .

بحيث يكون اعرابه من جنس اعراب سابقه : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي

سوال : د تابع تعريف په جاءني زيد ابوك كې په ابوك باندې صادق نه راځي ځكه چې د دې اعراب متبوع د اعراب د جنس نه . نه دي د متبوع اعراب د حرف جنس نه ، دي د تابع اعراب من جنس الحركة دي

جواب : د جنس نه مراد دا دې چې دواړه د مرفوع يا د منصوب يا د مجرور كيدو حيثيت نه د يو جنس نه وي يعني كه چيرته متبوع مرفوع وي نو تابع به بې هم مرفوع وي كه چيرته متبوع يې

منصوب وي نو تابع به يې هم منصوب وي او كه چيرته متبوع يې مجرور وي نو تابع به يې هم مجرور وي ، دا عام دي كه اعراب حركتي وي او كه حرفي يا په يو باندې اعراب حركتي وي او په دويم باندې حرفي

شخصية : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : دتابع تعريف دخول دغير نه مانع نه دي ځكه چې داتعريف په خبر باندې صادق نه راځي ځكه چې هغه دويم په مخكښي اعراب سره دي او د يوجهت نه هم دي ځكه چې مبتدا اوخبر ددواړو اعراب د يو عامل دوجې نه وي كوم چې ابتداء دي حالانكه دخبر تابع نه دي .

جواب : دتابع په تعريف كې د من جهة واحدة نه مراد وحدت شخصي دي وحدة نوعي نه دي او د مبتدا اوخبر په مينځ كې وحدت نوعي دي نه شخصي ځكه چې كه چيرته په دواړو كې عامل ابتداء وي ليكن هغه ابتداء ددې حيثيت نه چې دمسنداليه تقاضا كوي په مبتدا كې عامل دي او ددې حيثيت نه چې دمسند تقاضا كوي دا په خبر كې عامل دي .

مثل جاءني : په دې عبارت سره شارح مثال بيانوي لكه جاءني زيد العالم .

فان العالم : په دې عبارت سره شارح مثال په ممثل له باندې تطبيق كوي چې دعالم دزيد په اعتبار سره لحاظ وكړي شي نو دا په دې اعتبار سره دا په دويمه مرتبه كې دي او ددې اعراب د ماقبل اعراب دجنس نه دي او هغه رفع ده اورفع په دواړو كې د يوجهت شخصيه نه پيدا كيدونكي دي او هغه يوجهت شخصيه فاعليت دي ځكه چې هغه مجيئت كوم چې دمتكلم په قصد كې زيد طرف ته منسوب دي هغه سره ددې زيد دتابع د زيد طرف ته منسوب دي ، مطلقا زيد طرف ته منسوب نه دي .

د توابعو په تعريف كې د قيودو فوائد :

فَقَوْلُهُ كُلُّ ثَانٍ يَشْمِلُ التَّوَابِعَ وَ خَبَرَ الْمُبْتَدَاِ وَ خَبْرَيْ كَانَ وَ اَنَّ وَ اَخَوَاتِهَا وَ ثَانِيْ
نو داقول دمصنف كل ثان شامليږي توابعو ، ته اومبتدا اوخبر او دخبر دكان او دان او داخواتو ددې دواړو او ددوه
مَفْعُوْلَيْ ظَنَنْتُ وَ اَعْطَيْتُ وَقَوْلُهُ بِاِعْرَابِ سَابِقِهِ يُخْرِجُ الْكُلَّ اِلَّا خَبَرَ الْمُبْتَدَاِ وَ ثَانِيْ مَفْعُوْلَيْ ظَنَنْتُ وَ
مفعولينو ظننت او د اعطيت ته او داقول باعراب سابقه خارجوي ټول مگر خبر دمبتدا اودوه مفعولين د ظننت اود
اَعْطَيْتُ وَقَوْلُهُ مِنْ جِهَةٍ وَاحِدَةٍ يُخْرِجُ هٰذِهِ الْاَشْيَاءَ لِاَنَّ الْعَامِلَ فِي الْمُبْتَدَاِ وَالْخَبَرِ وَاِنْ كَانَ هُوَ الْاِبْتِدَاءُ اَعْنِي التَّجَرُّدَ
اعطيت او دا قول من جهة واحدة خارجوي دا ټول شيان ځكه عامل په مبتدا اوخبر كې اگر كه ابتدا وي يعني خالي

عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِيَّةِ لِلْإِسْنَادِ لٰكِنَّ هٰذَا الْمَعْنٰى مِنْ حَيْثُ اَنَّهٗ يَقْتَضِيْ مُسْنَداً اِلَيْهِ صَارَ عَامِلًا

والي دعوامل لفظیه نه دپاره داسناد لکن دامعنی ددې حیثیت نه چې تقاضاکوي دمسندالیه نووګرځید عامل

فِي الْمُبْتَدَأِ وَ مِنْ حَيْثُ اَنَّهٗ يَقْتَضِيْ مُسْنَداً صَارَ عَامِلًا فِي الْخَبَرِ فَلَيْسَ اِرْتِفَاعُهُمَا

په مبتداکې اوددې حیثیت نه چې داتقاضاکوي دمسندنووګرځید عامل په خبرکې نونه دي مرفوع کیدل ددې

مِنْ جِهَةٍ وَاحِدَةٍ وَ كَذَا ظَنَنْتُ مِنْ حَيْثُ اَنَّهٗ يَقْتَضِيْ مَظْنُوْنًا فِيْهِ وَ مَظْنُوْنًا عَمِلَ فِيْ

دیوجهت نه اوهمدارنګې ظننت ددې حیثیت نه چې تقاضاکوي دمظنون فیه اومظنون عمل کوي په دواړو

مَفْعُوْلِيَّةٍ فَلَيْسَ اِنْتِصَابُهُمَا مِنْ جِهَةٍ وَاحِدَةٍ وَ كَذٰلِكَ اَعْطَيْتُ مِنْ حَيْثُ اَنَّهٗ

مفعولینوکې نونه دي منصوب کیدل ددې دواړودیوجهت نه اوهمدارنګې اعطیت ددې حیثیت نه چې دا

يَقْتَضِيْ آخِذًا وَ مَاْخُوْذًا عَمِلَ فِيْ مَفْعُوْلِهٖ فَلَيْسَ اِنْتِصَابُهُمَا مِنْ جِهَةٍ وَاحِدَةٍ.

تقاضاکوي دآخذاوماخوذاوعمل کوي په خپلودواړومفعولینوکې نونه دي انتصاب ددې دواړودیوجهت نه.

خلاصه دمتن : داعبارت مکمل شرحه ده دمخکښي ذکر شوي متن نور مزید وضاحت کوي.

اغراض دجامي : فقوله كل ثان: په دې عبارت کې شارح دتعریف دقیودو فوائد بیانوي چې **كل ثان** په منزله دجنس دي ټولوتوابعو یعنې دمبتداخبر ،**دكان خبر** ، دان خبر اودباب **ظننت** مفعول ثاني اودباب **اعطيت** مفعول ثاني ټولو ته شامل دي ځکه چې په دې کې هر دویم دي ، **باعراب سابقه** داپه منزله داول فصل دي ددې نه دمبتدا خبر اودباب **ظننت** مفعول ثاني اود باب **اعطيت** مفعول ثاني نه علاوه نور ټول خارج شو، ځکه چې هغه معرب باعراب سابقه نه دي، **من جهة واحدة** دا په منزله د دویم فصل دي، ددې نه د مبتدا خبر باب اعطیت او ظننت مفعول ثاني ووتل. دَ مبتدا خبر خو ددې وجې نه، چې مبتدا او خبر په دواړو کې اګر چې عامل ابتداء ده یعنې عامل لفظي نه خالي کیدل د اسناد دپاره، لیکن دا معنی د ابتداء ددې حیثیت نه، چې دا د مسند الیه تقاضا کوي. په مبتدا کې عامل دي او ددې حیثیت نه چې هغه د مسند تقاضا کوي، خبر کې عامل دي، نو د مبتداء او خبر دواړو مرفوع کیدل د جهت واحده نه، نه دي او باب ظننت مفعول ثاني ددې نه خارج شو اګر چې مفعول اول او مفعول ثاني دواړو کښې عامل **ظننت** دي.

لیکن **ظننت** ددې حیثیت نه، چې د **مظنون فيه** تقاضا کوي، په اول مفعول کې عامل دي او ددې حیثیت نه، چې د **مظنون** تقاضا کوي، په دویم مفعول کې عامل دي، پس اول مفعول او

دويم مفعول د دواړو نصب جهت واحده نه ده دي. او باب اعطيت مفعول ثاني ددې نه خارج شو اګر چې مفعول اول او ثاني کې اعطيت عامل دي مګر اعطيت ددې حيثيت نه، چې هغه د آخذ تقاضا کوي. مفعول اول کې عامل دي او ددې حيثيت نه، چې هغه د مأخوذ تقاضا کوي، مفعول ثاني کې عامل دي . لهذا اول مفعول او دويم مفعول دواړو نصب جهت واحده نه.نه شو

د يو سوال مقدر جواب :

وَاعْلَمْ اَنَّ الْاِعْرَابَ الْمُعْتَبَرَ فِيْ هٰذَا التَّعْرِيْفِ بِالنِّسْبَةِ اِلَى اللَّاحِقِ وَ السَّابِقِ اَعَمُّ مِنْ
پوهه شه چې هغه اعراب چې معتبر دي په دې تعريف کې په نسبت سره لاحق او سابق ته داعام دي ددې نه چې
اَنْ يَّكُوْنَ لَفْظِيًّا اَوْ تَقْدِيْرِيًّا اَوْ مَحَلِّيًّا حَقِيْقَةً اَوْحُكْمًا فَلَا يَرِدُ نَحْوُ جَاءَنِيْ هٰؤُلَاءِ الرِّجَالُ وَيَا زَيْدُنِ
وي لفظي او يا تقديري او يا محلي. حقيقتاً او يا حکماً نو نه وارديږي اعتراض په جاءني هؤلاء الرجال او يا زيدن
الْعَاقِلُ وَ لَا رَجُلَ ظَرِيْفًا.
العاقل باندې او نه په لا رجل ظريفاً باندې

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره شارح يو سوال مقدر رانقل کوي .

اغراض دجامي : واعلم: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال: د تابع دا تعريف جامع نه دي. ځکه دا په هغه الرجال باندې صادق نه دي، کوم چې په هؤلاء الرجال کې واقع دي، ددې وجې نه هؤلاء رفع محلي او الرجال رفع لفظي دي، نو دا معرب باعراب سابقه نه شو. همدارنګې دا تعريف په هغه العاقل باندې هم صادق نه راځي، کوم چې په يازيدنِ العاقل کې واقع دي، ځکه چې د زيدٌ ضمه مبني ده او العاقل رفع اعرابي ده، دا هم معرب باعراب سابقه نه شو . نو دا تعريف په ظريفاً باندې هم صادق نه شو. چې کوم په لا رجل ظريفاً کې واقع دي . ځکه چې د رجل فتحه بنايي ده او د ظريفاً نصب اعرابي دي. دا هم معرب باعراب سابقه نه شو . همدارنګې دا تعريف په هغه عالم باندې صادق نه راځي، کوم چې په جاءني موسى العالم کې واقع دي. ځکه چې د موسى رفع تقديري ده او د عالم رفع لفظي ده، نو دا هم معرب باعراب سابقه نه شو . حالانکه دا ټول توابع دي.

جواب: دا تابع په مخکې تعريف کې (متبوع) او لاحق (تابع) په اعتبار سره چې کوم اعراب

معتبر دي. په دې کې تعمیم دي. برابره خبره ده چې دا لفظي وي او که تقدیري. او که حکمي. اعرابي وي او یا محلي. ددې تعمیم نه پس دا تعریف په هغه ټولو توابعو باندې صادق راځي، ځکه چې په اول مثال هؤلاء کې کسره اعراب نه دي. نه حقیقتاً او نه حکماً بلکې په دې کې اعراب محلي دي. ځکه چې ددې په لفظ باندې حمل جائز نه دي. بلکې په محل باندې به محمول کېږي او ددې محل رفع دي. لهذا دالرجال رفع واجب ده او په دویم مثال کې د زید اعراب حکمي دي. ځکه چې په زید کې ضمه اګر چې په حقیقت کې اعراب نه دي. مګر د اعراب په حکم کې دي. ځکه چې په دې کې دوه (۲) وجهې جائز دي لکه څنګه چې ددې تفصیل په منصوب تو کې تیر شوي دي . که چېرته د زید ضمه درفع په حکم کې نه وي. نو ددې صفت په لفظ باندې محمول کول او مرفوع ویل به جائز نه وي او په دریم مثال کې د رجل فتح اعراب یعنې د نصب په حکم کې دي ددې وجې نه د نصب سره د ظریفاً لفظ په رجل باندې حمل جائز دي. او ظریفاً په رجل باندې محمول کول او مبني ویل هم جائز دي او په محل بعید باندې حمل کول او رفع ویل هم جائز دي

په تعریف د توابعو کې د لفظ د کل بیان :

ثُمَّ اِنَّ لَفْظَةَ كُلُّ هٰهُنَا لَيْسَتْ فِيْ مَوْقِعِهَا لِاَنَّ التَّعْرِيْفَ اِنَّمَا يَكُوْنُ لِلْجِنْسِ وَ بِالْجِنْسِ لَا لِلْاِفْرَادِ
بیا لفظ د کل دلته نه دي په خپل ځای باندې ځکه تعریف داوي دپاره دجنس په جنس کې اونه دافرادو دپاره په
وَ بِالْاَفْرَادِ فَالْمَحْدُوْدُ بِالْحَقِيْقَةِ التَّابِعُ وَالْحَدُّ مَدْخُوْلُ كُلٍّ وَهُوَ ثَانٍ بِاِعْرَابِ سَابِقِهِ مِنْ جِهَةٍ وَاحِدَةٍ
افرادو کې نو محدود په حقیقت کې تابع دي او تعریف مدخول دکل دي او هغه ثان باعراب سابقه من جهة واحده دي
لٰكِنَّهُ لَمَّا اُدْخِلَ كُلُّ عَلَيْهِ اَفَادَ صِدْقَ الْمَحْدُوْدِ عَلٰى كُلِّ اَفْرَادِ الْحَدِّ فَيَكُوْنُ
لیکن هر کله چې داخل شو کل په دې باندې نو فائده کوي صدق د محدود په ټولو افرادو د تعریف باندې نو وي به
مَانِعًا وَ الظَّاهِرُ اِنْحِصَارُ الْمَحْدُوْدِ فِيْهَا لِعَدَمِ ذِكْرِ غَيْرِهَا فَيَكُوْنُ جَامِعًا فَيَحْصِلُ حَدٌّ جَامِعٌ
مانع او ظاهر انحصار د محدود دي په دې کې د وجې د عدم ذکر د غیر نه نو وي به جامع نو حاصل شو تعریف جامع
وَ مَانِعٌ يَكُوْنُ جَمْعُهُ وَ مَنْعُهُ كَالْمَنْصُوْصِ عَلَيْهِ.
او مانع نو وي به جمع کېدل د تعریف او مانع کېدل د تعریف په شان د منصوص علیه

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره شارح د توابع په تعریف کې د لفظ د کل بیان کوي

اغراض دجامي : ثم ان لفظة كل ههنا: په دې عبارت سره شارح یو سوال را نقل کوي او په

المحدود سره ددې سوال جواب ورکوي

سوال : په تعريف کې لفظ دکل ذکر په خپل ځای کې نه دي، ځکه چې لفظ د کل دافرادو داحاطې دپاره راځي، ددې په تعريف کې د ذکر کولو سره په افرادو سره تعريف لازم راځي. حالانکه تعريف دافرادو سره نه وي، بلکې دجنس سره وي او توابع په صيغې د جمع سره ذکر کول صحيح نه دي، ځکه چې په جمع کې افراد ملحوظ وي، نو ددې نه دافرادو تعريف لازم راځي، حالانکه تعريف د افرادو نه وي، بلکې د جنس وي خلاصه دا چې محدود د پاره جنس کيدل ضروري دي او د حد لپاره هم قاعده ده چې التعريف للجنس بالجنس؟.

جواب: شارح د فالمحدود نه ددې جواب ورکوي، چې دلته محدود په حقيقت کې توابع نه دي، بلکې تابع دي، چې په دې باندې دتوابع جمع دلالت کوي او حد په حقيقت کې د کل مدخول ثاني دي، يعنې تعريف ثاني باعراب سابقه نه شروع کيږي او لفظ د کل د حد نه خارج دی لهذا نه تعريف دافرادو سره لازم راغلو او نه د افرادو تعريف لازم راغلو.

لکنه لما ادخل کل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدو جواب ورکول دي :

سوال : کله چې لفظ د کل په تعريف کې داخل نه دي، او د هغې حصه نه ده، نو ددې د ذکر کولو څه فائده ده؟

جواب: دلفظ دکل د ذکر کولو فائده د تعريف مانع گرځول دي، ځکه چې لفظ د کل دا فائده ورکړې ده، چې محدود د حد په افرادو کې په هر هر فرد باندې صادق راشي، نو تعريف د دخول دغيرنه مانع شو، ځکه چې د مانع کيدلو مطلب دادي چې هر هغه شئ چې په هغه باندې حد صادق وي، نو په هغې باندې به محدود هم صادق وي كلما صدق عليه الحد صدق عليه المحدود .

والظاهر انحصارُ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : لفظ د کل دذکر کولو سره تعريف مانع خو شو، ليکن جامع نه شو.

جواب : ظاهره داده، چې محدود د حد په افرادو (توابع خمسه) کې محصور او بند دي، ځکه چې ددې نه غير ذکر په کې نشته ، يعنې د پنځو توابعو نه غير ذکر په کې نشته، معلومه شوه چې محدود هم په دې پنځو کې منحصر دي، پس تعريف جامع نه شو او ددې جامعيت او

مانعیت لفظ د کل د وجې نه د منصوص علیه په شان شو

د نعت تعریف :

النَّعْتُ تَابِعٌ جِنْسٌ شَامِلٌ لِلتَّوَابِعِ كُلِّهَا وَ قَوْلُهُ يَدُلُّ عَلَى مَعْنًى
نعت تابع دي دهغه جنس دپاره چې شامل وي ټولو توابعو ته او دا قول د مصنف چې دلالت کوي په داسې معنی
فِيْ مَتْبُوْعِهِ أَيْ يَدُلُّ بِهَيْأَةٍ تَرْكِيْبِيَّةٍ مَعَ مَتْبُوْعِهِ عَلَى
چې هغه دده په متبوع کې وي، یعنې دلالت کوي په داسې هیئت ترکیبه باندې چې وي سره د متبوع دده په
حُصُوْلِ مَعْنًى فِيْ مَتْبُوْعِهِ مُطْلَقًا أَيْ دَلَالَةً مُطْلَقَةً غَيْرِ مُقَيَّدَةٍ بِخُصُوْصِيَّةِ مَادَّةٍ مِنَ الْمَوَادِ اِحْتِرَازٌ
حصول د معنی په متبوع کې مطلقا یعنې دلالت مطلقه غیر مقیده په خصوصیت د مادې سره د مادونه احتراز دي
عَنْ سَائِرِ التَّوَابِعِ وَلَا يَرِدُ عَلَيْهِ الْبَدَلُ فِيْ مِثْلِ قَوْلِكَ أَعْجَبَنِيْ زَيْدٌ عِلْمُهُ وَ الْمَعْطُوْفُ فِيْ مِثْلِ قَوْلِكَ
د ټولو توابعو نه او نه واردیږي په دې باندې بدل په شان د قول ستا اعجبني زید علمه او معطوف په شان د قول ستا
أَعْجَبَنِيْ زَيْدٌ وَ عِلْمُهُ وَلَا التَّاكِيْدُ فِيْ مِثْلِ قَوْلِكَ جَاءَنِيْ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ لِدَلَالَةِ كُلِّهِمْ
اعجبني زید وعلمه او وارد دې نه وي اعتراض تاکید کې په شان د قول ستا جاءني القوم کلهم د وجې د دلالت د کلهم نه
عَلَى مَعْنَى الشُّمُوْلِ فِيْ الْقَوْمِ فَإِنَّ دَلَالَةَ التَّوَابِعِ فِيْ هٰذِهِ الْأَمْثِلَةِ عَلَى حُصُوْلِ مَعْنًى فِيْ الْمَتْبُوْعِ إِنَّمَا هِيَ
په معنی د شمول باندې په قوم کې ځکه دلالت د توابعو په دې مثالونو کې په حصول د معنی ده په متبوع کې دا
لِخُصُوْصِ مَوَادِهَا فَلَوْ جُرِّدَتْ عَنْ هٰذِهِ الْمَوَادِ كَمَا يُقَالُ أَعْجَبَنِيْ زَيْدٌ غُلَامُهُ
دې دپاره د خصوص د مادونو که چیرته خالي کړې شي دده د مادونه لکه څنګه چې ویلې شي اعجبني زید غلامه
وَ أَعْجَبَنِيْ زَيْدٌ وَ غُلَامُهُ أَوْ جَاءَنِيْ زَيْدٌ نَفْسُهُ لَا تَجِدُ لَهَا دَلَالَةً عَلَى مَعْنًى فِيْ مَتْبُوْعَاتِهَا
او اعجبني زید وغلامه او جاءني زید نفسه نو نه موندل کیږي دده دپاره دلالت په معنی باندې په متبوعاتو دده کې
بِخِلَافِ الصِّفَةِ فَإِنَّ الْهَيْئَةَ التَّرْكِيْبِيَّةَ بَيْنَ الصِّفَةِ وَ الْمَوْصُوْفِ تَدُلُّ عَلَى حُصُوْلِ مَعْنًى فِيْ
په خلاف د صفت ځکه هیئت ترکیبه په مینځ د صفت او د موصوف کې دا دلالت کوي په حصول د معنی باندې په
مَتْبُوْعِهَا فِيْ أَيِّ مَادَّةٍ كَانَتْ.
متبوعاتو کې په هره ماده کې چې وي.

خلاصه دمتن : صاحب کافیه په دې عبارت کې د توابع د اول قسم نعت تعریف کوي، دده نه پس دده احکام بیانوي، د نعت تعریف دادې، چې نعت هغه تابع دې، چې هغه په داسې معنی باندې دلالت کوي چې هغه دده په متبوع کې بیا موندې شي، مطلقاً یعنې په هر حال کې او په هره ماده کې.

اغراض دجامي : جنس شامل: په دې عبارت سره نه شارح دقیودو فوائد بیانوي ، لفظ د تابع په منزله د جنس دي، چې ټولو توابعو ته شامل دي

ای یدل بهیئة ترکیبیة مع متبوعه: په دې عبارت سره شارح دمتن وضاحت کوي، چې د هیئت ترکیبي نه په غیر حالت انفرادي کې نعت په مطلق معنی باندې دلالت کوي، په هغه معنی دلالت نه کوي کومه چې په متبُوع کې ده، لیکن هیئت ترکیبي سره په داسې معنی باندې دلالت کوي، چې کومه په متبوع کې بیاموندې شي.

یا بهیئة ترکیبیة مع متبوعه: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : د نعت تعریف جامع نه دي په جاءنی زید هذا کې په هذا باندې صادق نه راځي، ځکه چې هذا په داسې معنی باندې دلالت نه کوي، چې هغه هغه په متبوع کې وي. ځکه چې د هذا معنی اشاره ده او دا معنی په زید متبوع کې نشته.

جواب : د ما یدل علی معنی فی متبوعه نه مراد دادې چې نعت ددې هیئت ترکیبیه سره دځپل متبوع سره یو ځای شي او په داسې معنی باندې دلالت وکړي چې هغه ددې په متبوع کې موندلې شي او په ذکر شوي مثال کې هم کلمه د هذا دهیئت ترکیبیه نه پس دځپل متبوع زید سره یو ځاې شي او په داسې معنی باندې دلالت کوي چې هغه دده په متبوع کې وي، هغه د زیدٌ مشارالیه کیدل دي.

علی حصول: په دې عبارت کې شارح بیان دترکیب کوي ، چې د فی متبوعه ظرف مستقر دحاصل سره متعلق شو اودا صفت دي دمعنی . یا په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د نعت تعریف جامع نه دي، په هغه صفت باندې صادق نه راځي کوم چې په قضیه کاذبه کې واقع وي مثلاً جاءني زید المضروب لکل شخص . اوس د هر سړي مضروب کیدل داسې معنی ده. چې هغه په زید کې متصور نه وي حالاتکه المضروب د زید صفت دي .

جواب : د دلالت علی معنی في متبوعه نه مراد دلالت علی حصول معنی و فهم معنی دي، یعني نعت په داسې معنی باندې دلالت کوي کومه چې دمتبوع نه حاصل ده. او د متبوع نه فهمیږي برابره

خبره ده که په حقيقت کې هغه معنی متصوره وي، اويا نه او په ذکر شوي مثال کې هيئت ترکيبيه په حصول معنی او په فهم معنی باندې دلالت کوي چې هغه **مضروبيت زيد لکل شخص** دي دا اګر چې په واقع کې کذب دي.

اى دلالة معلقة: په دې عبارت سره شارح اشاره کوي ، چې **مطلقاً** د **يدل** مفعول مطلق دي په اعتبار دحذف دموصوف سره داپه اصل کې **دلالة مطلقةً** وو.

غير مقيدة: په دې عبارت کې شارح ديو وهم ازاله کوي

وهم: وهم دادې چې کيدای شي چې د**مطلقاً** نه مراد **عموم في النعت** وي، يعنې ددې نه د نعت دواړه قسمونه (**نعت بحال المنوت** يا **نعت بحال متعلق المنعوت**) طرف ته اشاره ده، شارح دغه وهم لرې کړو، د **مطلقاً** نه مراد دادې چې د نعت دلالت په حصول دمعنی باندې دمادې دخصوصيت د وجې نه ، نه دي بلکې ټولو ځايونو کې موجود دي.

احتراز: په دې عبارت سره غرض دشارح د قيودو د فوائدو بيان کوي. چې **يدل على معنى** په منزله د فصل دي، ددې نه د نعت نه غير باقي ټول توابع ووتل.

ولا يرد: په دې عبارت سره غرض دشارح ديو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د نعت تعريف دخول دغير نه مانع نه دي، په بدل اوپه معطوف بحرف اوپه تاکيد باندې صادق راځي ، ځکه چې داپه داسې معنی باندې دلالت کوي، چې هغه ددې په متبوع کې موندل کيږي ، لکه **اعجبني زيد علمه**، په دې کې **علمه** بدل دي او دا په داسې معنی باندې دلالت کوي، چې هغه ددې متبوع په **زيد** کې شته او **اعجبني زيد و علمه** په دې کې **علمه** معطوف بحرف دي او دا په داسې معنی باندې دلالت کوي ، چې هغه ددې په متبوع **زيد** کې شته ، او په **جاءني القوم كلهم** کې **کلهم** تاکيد دي او دا په داسې معنی باندې دلالت کوي، چې هغه ددې په متبوع يعنې په **قوم** باندې دلالت کوي.

جواب : دنعت په نعريف کې د**مطلقا** قيد سره بدل، عطف او تاکيد درې واړه خارج شو. ځکه چې د **مطلقا** مطلب، دادې چې د نعت دلالت په معنی منعوت باندې د څه مادې د خصوصيت د وجې نه، نه وي بلکې ټولو افرادواو ټولو موادو کې موجود وي، په خلاف دبدل ،عطف بحرف او تاکيد نه، چې دداسې مثالونو په معنی باندې دلالت کول چې هغه ددې په متبوع کې وي د[1]

ددې موادو د خصوصيت د وجې نه مطلقاً نه دي . داوجه ده چې که چيرته دامثالونه ددې موادو نه خالي کړي شي نودا په دې معنی باندې دلالت نه کوي کوم چې ددې په متبوع کې موندلې شي مثلاً چې کله داعجبني زيد علمه په ځاي اعجبني زيد غلامه ووايي ، نو بدل يعنې غلامه په دې معنی دلالت نه کوي، چې کوم په متبوع يعنې زيد کې موندلې شي اوداعجبني زيدو علمه په ځاي اعجبني زيد و غلامه وويلې شي نومعطوف بحرف يعنې غلامه په دې معنی باندې دلالت نه کوي کوم چې ددې په متبوع يعنې په زيد کې موندلې شي ، همدارنګې دجاءني القوم کلهم په ځاي جاءني زيد نفسه وويلې ، نو تاکيد يعنې نفسه په هغه معنی دلالت نه کوي، چې کومه په متبوع يعنې زيد کې ده. په خلاف د نعت نه، چې ددې دلالت د متبوع په معنی باندې په ټولو مادو اوپه هرځاي اوپه هر حال کې وي ، کوم معين اومخصوص مادو سره خاص نه وي مثلاً جاءني زيد ن العالم کې العالم لرې کړي، اوددې په ځاي القائم يا الفاضل ولرې ، نو دا هم په معنی صفتي باندې دلالت کوي .

دنعت فائدې :

وَ فَائِدَتُهُ اَيْ فَائِدَةُ النَّعْتِ غَالِبًا تَخْصِيْصٌ فِي النَّكِرَةِ كَرَجُلٍ عَالِمٍ اَوْ تَوْضِيْحٌ فِي الْمَعْرِفَةِ
او فائدې ددې يعنې فائدې د نعت غالباً تخصيص په نکره کې دی لکه رجل عالم اوياتوضيح په معرفه کې
كَزَيْدِنِ الظَّرِيْفِ وَ قَدْ يَكُوْنُ لِمُجَرَّدِ الثَّنَاءِ مِنْ غَيْرِ قَصْدِ تَخْصِيْصٍ وَتَوْضِيْحٍ نَحْوُ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ
لکه زيدن الظريف او کله کله وي يواځې دثناء دپاره په غيرد قصد دتخصيص اوتوضيح نه لکه بسم الله الرحمن
الرَّحِيْمِ اَوْ لِمُجَرَّدِ الذَّمِ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ اَوْ لِمُجَرَّدِ التَّاكِيْدِ مِثْلُ نَفْخَةٌ وَاحِدَةٌ
الرحيم اويايواځې دذم دپاره لکه اعوذ بالله من الشيطن الرجيم اويايواځې د تاکيد دپاره لکه نفخة واحدة چې
تُفْهَمُ مِنَ التَّاءِ فِيْ نَفْخَةٍ فَاُكِّدَتْ بِالْوَحْدَةِ.
فهميږي دتاء نه په نفخه کې نوتاکيد يې وشوپه وحدت کې .

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې په دې عبارت کې دنعت تقسيم کوي په اعتبار دفائدې سره په اعتبار دفائدې سره نعت په پنځه (۵) قسمه دي : (۱) نعت مخصصه. (۲) نعت موضحه. (۳) نعت مادحه. (۴) نعت ذامه (۵) نعت موکده . د هر يو قسم تعريف سره د مثالونو لاندې په شرحه کې ذکر شوي دي .

اغراض دجامي : نعت په اعتبار د فائدې سره په پنځه (۵) قسمه دي : (۱) نعت مخصصه.

(۲) نعت موضحه (۳) نعت مادحه (۴) نعت ذامه (۵) نعت موکده.

(۱) نعت مخصصه: دا هغه دي چې ددې منعوت (موصوف) نکره وي او هغه صفت په دې کې تخصيص وکړي او د تخصيص معنى ده **تقليل الاشتراك في النكرات** (نکره کې د شرکاو کميدل) يعنې نعت نه مخکې منعوت چې په کومو افرادو صادق راتلو، دنعت نه پس هغه په دغه ټولو افرادو باندې صادق نه راځي، بلکې په بعضو افرادو باندې صادق راځي، لکه **جاءني رجل العالم**، په دې کې دنعت نه مخکې **رجل** عام وو، چې هغه عالم جاهل ټولو ته شامل وو، کله چې ددې صفت عالم راوړې شونو په دې کې تخصيص وشو، نو دتخصيص دوجې نه اشتراك کم شو، نو ددې نه **رجل جاهل** خارج شو.

(۲) نعت موضحه: داهغه دي چې د ددې منعوت معرفه وي او دنعت نه مراد دمنعوت وضاحت وي، دتوضيح معنى ده **رفع الاجمال عن المعارف**، دمعرفې نه اجمال ختمول لکه **جاءني زيد الفاضل** په دې کې **فاضل** د **زيد** نعت دي، دنعت نه مخکې په **زيد** کې اجمال او ابهام وو، کله چې دده نعت راوړې شو نو هغه اجمال ختم شو.

(۳) نعت مادحه: داهغه دي چې ددې موصوف معرفه وي او دنعت نه مراد د منعوت مدحه وي، لکه **بسم الله الرحمن الرحيم**.

(۴) نعت ذامه: داهغه دي چې ددې موصوف معرفه وي، او دنعت نه مقصود د منعوت مذمت وي، لکه **اعوذبالله من الشيطن الرجيم**.

(۵) نعت موکده: داهغه دي چې دادهغه معنى تاکيد کوي کومه چې دموصوف نه فهميږي لکه **نفخة واحدة** په دې کې **نفخة واحدة** دتاء نه فهميږي، ځکه چې دا **تاء** د وحدت ده بيا وحدت د تاکيد دپاره ذکر دي.

په دې پنځو (۵) کې صفت مخصصه او موضحه کثير الاستعمال اوډير استعماليدونکي دي او باقي درې يعنې مادحه، ذامه، موکده، قليل الاستعمال اوکم استعماليدونکي دي.

اى فائدة النعت: په دې عبارت سره شارح په **فائدته** کې د **ه** ضمير مرجع بيانوي چې په فائدته کې د **ه** ضمير مرجع نعت دي

غالباً: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : په عبارت کې اصل ايجاز او اختصار وي، نو مصنف رحمه الله ته په کار وو، چې داسې يې ويلي وي **و فائده تخصيص او توضيح... وقد يكون** يې ولې زيات کړو؟

جواب : اول او دويم قسم کثير الاستعمال دي او باقي درې قليل الاستعمال دي، نو مصنف باقي درې قسمونو سره د **قَدْ** تقليليه اضافه وکړه او اشاره يې دې طرف ته وکړه چې دا باقي درې قسمونه کم استعماليږي.

من غير قصد تخصيص و توضيح : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : مونږ دا خبره نه منو، چې په **بسم الله الرحمن الرحيم** کې صفت **الرحمن** او **الرحيم** صرف د ثناء دپاره دي، بلکې د توضيح دپاره هم دي، ځکه چې کله عالم جاهل لپاره الله تعالى په صفت رحمانية و رحيميت موصوف کوي، نو دا د توضيح فائده ورکوي؟

جواب : منو چې په دې کښې توضيح ده، مګر زمونږ بحث په هغه صورت کې دي چې کله ددې نه دتخصيص اوتوضيح قصد نه وي اوصرف دثناء دپاره جوړ کړي شي.

په مختلف فيه مسئله کې د جمهورو رد :

وَ لَمَّا كَانَ غَالِبُ مَوَادِّ الصِّفَةِ الْمُشْتَقَّاتِ تَوَهَّمَ كَثِيْرٌ مِّنَ النَّحْوِيِّيْنَ اَنَّ الْاِشْتِقَاقَ شَرْطٌ فِي النَّعْتِ
اوهر کله چې ووزيات مواضع دصفت مشتق نووهم وشوزياتو دنحويانو ته چې اشتقاق شرط دي په صفت کې تر
حَتّٰى تَاَوَّلُوْا غَيْرَ الْمُشْتَقِّ اِلَى الْمُشْتَقِّ وَ لَمَّا لَمْ يَكُنْ هٰذَا مَرْضِيًّا لِلْمُصَنِّفِ رَدَّهٗ بِقَوْلِهٖ
دې چې تاويل يې وکړودغير مشتق مشتق طرف ته نوهر کله چې نه ووخوښ دامصنف ته نورد يې کړو په دې قول
وَ لَا فَصْلُ اَيْ لَا فَرْقَ بَيْنَ اَنْ يَّكُوْنَ النَّعْتُ مُشْتَقًّا اَوْ غَيْرَهٗ فِيْ صِحَّةِ وُقُوْعِهٖ
خپل سره اونشته فرق يعني نشته فق په مينځ ددې کې چې وي صفت مشتق اويا غيرمشتق په صحت دوقوع
نَعْتًا اِذَا كَانَ وَضْعُهٗ اَيْ وَضْعُ غَيْرِ الْمُشْتَقِّ لِغَرَضِ الْمَعْنٰى اَيْ لِغَرَضِ الدَّلَالَةِ
ددې کې نعت چې کله ووضع ددې يعني وضع دغيرمشتق دپاره دغرض دمعنى يعني دپاره دغرض ددلالت
عَلَى الْمَعْنَى الْوَاقِعِ فِي الْمَتْبُوْعِ عُمُوْمًا اَيْ فِيْ جَمِيْعِ الْاِسْتِعْمَالَاتِ مِثْلُ تَمِيْمِيٍّ وَذِيْ مَالٍ فَاِنَّ التَّمِيْمِيَّ
په هغه معنى چې واقع وي په متبوع کې عموما يعني په ټولو استعمالاتو کې لکه تميمي او ذي مال ځکه تميمي
يَدُلُّ دَائِمًا عَلٰى اَنَّ لِذَاتٍ مَّا نِسْبَةً اِلٰى قَبِيْلَةِ تَمِيْمٍ وَ ذِيْ مَالٍ
دادلالت کوي هميشه په دې خبره چې وي دپاره دهغه ذات چې نسبت يې شوي وي قبيلې دتميم ته او ذي مال دا

يَدُلُّ عَلَى اَنَّ ذَاتًا مَا صَاحِبَ مَالٍ اَوْ خُصُوْصًا اَيْ فِيْ بَعْضِ الْإِسْتِعْمَالَاتِ بِاَنْ

دلالت كوي په دې چې يو ذات چې صاحب د مال وي او يا خصوصا يعني په بعضې استعمالاتو كې په دې خبره چې

يَدُلُّ فِيْ بَعْضِ الْمَوَاضِعِ عَلَى حُصُوْلِ مَعْنًى لِذَاتٍ مَا وَ حِيْنَئِذٍ يَجُوْزُ اَنْ يَّقَعَ

دلالت وكړي په بعضې مواضعو كې په حصول د معنى د پاره د يو ذات او په دې وخت كې جائز دي چې واقع شي

نَعْتًا وَ فِيْ بَعْضِهَا لَا يَدُلُّ عَلَى ذٰلِكَ وَ حِيْنَئِذٍ لَا يَصِحُّ جَعْلُهُ نَعْتًا

صفت او په بعضې د دې كې دلالت نه كوي په دې باندې او په دې وخت كې نه صحيح كيږي گرځول د دې نعت

مِثْلُ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ اَيْ رَجُلٍ اَيْ كَامِلٍ فِي الرَّجُوْلِيَّةِ فَاَيُّ رَجُلٍ بِاِعْتِبَارِ دَلَالَتِهٖ فِيْ مِثْلِ هٰذَا

لكه مررت برجل يعني رجل يعني كامل په رجوليت كې نو فاي رجل په اعتبار د دلالت د دې سره په شان د دې

التَّرْكِيْبِ عَلٰى كَمَالِ الرَّجُوْلِيَّةِ يَصِحُّ اَنْ يَّقَعَ نَعْتًا وَفِيْ مِثْلِ اَيُّ رَجُلٍ عِنْدَكَ لَايَدُلُّ عَلٰى هٰذَا

تركيب په كمال د رجوليت باندې صحيح كيږي چې واقع سي نعت او په شان د اى رجل عندك دا دلالت نه كوي په دې

الْمَعْنٰى فَلَا يَصِحُّ اَنْ يَّقَعَ نَعْتًا وَ مِثْلِ مَرَرْتُ بِهٰذَا الرَّجُلِ فَاِنَّ هٰذَا يَدُلُّ عَلٰى ذَاتٍ

معنى باندې نو نه صحيح كيږي چې واقع شي صفت او په شان د مررت بهذاالرجل ځكه هذا دلالت كوي په ذات

مُبْهَمَةٍ وَ الرَّجُلَ عَلٰى ذَاتٍ مُعَيَّنَةٍ وَ خُصُوْصِيَّةِ الذَّاتِ الْمُعَيَّنَةِ بِمَنْزِلَةِ مَعْنًى

مبهمه باندې او الرجل دلالت كوي په ذات معينه باندې او خصوصيت د ذات معينه دا په منزله د معنى ده چې

حَاصِلٍ فِي الذَّاتِ الْمُبْهَمَةِ فَلِهٰذَا صَحَّ اَنْ يَّقَعَ الرَّجُلُ صِفَةً لِهٰذَا وَ فِي الْمَوَاضِعِ الْاُخَرِ

حاصل وي په ذات مبهمه كې نو د دې وجې نه صحيح ده چې واقع شي الرجل صفت د پاره د هذا او په نورو خايونو

الَّتِيْ لَا يَدُلُّ عَلٰى هٰذَا الْمَعْنٰى لَا يَصِحُّ اَنْ يَّقَعَ صِفَةً وَ ذَهَبَ بَعْضُهُمْ اِلٰى اَنَّ

كې هغه چې دلالت نه كوي په دې معنى نه دي صحيح چې واقع شي صفت او تللي دي بعضې د دې خبرې طرف ته

الرَّجُلَ بَدَلٌ عَنْ اِسْمِ الْاِشَارَةِ وَ بَعْضُهُمْ اِلٰى اَنَّهٗ عَطْفُ بَيَانٍ وَ مِثْلُ مَرَرْتُ

چې الرجل دا بدل دي د اسم اشارې نه او بعضې د دې طرف ته تللي چې الرجل عطف بيان دي او په شان د مررت

بِزَيْدٍ هٰذَا اَيْ بِزَيْدٍ نِ الْمُشَارِ اِلَيْهِ فَهٰذَا فِيْ هٰذَا الْمَوَاضِعِ يَدُلُّ عَلٰى مَعْنًى حَاصِلٍ فِيْ ذَاتِ زَيْدٍ

بزيد هذا يعني بزيدن المشاراليه نو دا په دې خاى كې دلالت كوي په دا سې معنى چې حاصل وي په ذات د زيد كې

فَوَقَعَ صِفَةً لَهٗ وَ فِي الْمَوَاضِعِ الْاُخَرِ الَّتِيْ لَا يَدُلُّ عَلٰى هٰذَا الْمَعْنٰى لَا يَصِحُّ اَنْ

نو واقع شو صفت د دې د پاره او په نورو خايونو كې هغه چې دلالت نه كوي په دې معنى نه صحيح كيږي چې

يَّقَعَ صِفَةً.

واقع شي صفت.

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب دکافيې ديوې اختلافي مسئلې بيان کوي او په جمهورونحويانوباندې رد دي ، اختلافي مسئله داده، چې په صفت کې اشتقاق شرط دې او که نه ؟ دجمهور نحويانو مذهب دادې چې په نعت کې اشتقاق شرط دي، تر دې که چېرته نعت غير مشتق وي، نو دا به د مشتق په تاويل کې کيږي .
او د مصنف مذهب دادې چې په نعت کې اشتقاق شرط نه دي، بلکې لکه ځنګه چې مشتق صفت جوړيږي ، همدارنګې غير مشتق هم صفت جوړيږي. په دې شرط چې دغير مشتق وضع په دې معنى باندې ددلالت دپاره وي، چې کومه په متبوع کې وي، په طريقې دعموم وي او يا په طريقې دخصوص

په طريقې دعموم مطلب دادې چې په ټولو استعمالاتو کې وي لکه تميمي او ذومال، تميمي په هغه ذات باندې دلالت کوي چې کوم بنو تميم طرف ته منسوب وي او دبطريق خصوص مطلب دادې چې په بعضو استعمالاتو کې وي، هغه لفظ په داسې معنى باندې دلالت کوي چې کومه په حاصل في المتبوع باندې دلالت کوي او په بعضې ځاې کې په معنى حاصل في المتبوع باندې دلالت نه کوي. په کوم ځاى کې چې په معنى حاصل في المتبوع باندې دلالت کوي، هلته ددې نعت جوړيدل صحيح دي او کوم ځاى چې نه کوي، هلته ددې نعت جوړيدل صحيح نه دي، لکه مررت برجل اى رجل په دې کې داى رجل معنى كمال في الرجوليت ده لهذا په دې ترکيب کې اى رجل په دې اعتبار سره، چې په كمال في الرجوليت باندې دلالت کوي او دا دلسې معنى ده، چې هغه ددې په متبوع کې وي. ددې نعت جوړيدل صحيح دي ، او په اى رجل عندك کې اى رجل په داسې معنى باندې دلالت نه کوي، چې کومه ددې په متبوع کې وي، ځکه چې ددې نه وړاندې داسې يو څيز نشته، چې د موصوف جوړيدو صلاحيت لري. نه لفظاً او نه تقديراً لهذا ددې نعت جوړيدل صحيح نه دي .

او لکه مررت بهذا الرجل په دې کې هذا په ذات مبهمه باندې دلالت کوي او الرجل په ذات معين باندې دلالت کوي او دذات معين دلالت په منزله د داسې معنى دي، چې کومه په ذات مبهمه کې وي. ددې وجې نه په دې ترکيب کې الرجل د هذا صفت جوړيدل صحيح دي او په نورو ځايونو کې چې په دې معنى باندې دلالت نه کوي هلته ددې صفت جوړيدل صحيح نه دي او بعضې نحويانو ويلي دي: چې دا د اسم اشارې نه بدل دي .

او بعضو ويلي دي چې دا عطف بيان دي، اوپه مثال **مررت بزيد هذا** کې زيد مشار اليه ده او **هذا** په داسې معنی باندې دلالت کوي، چې کومه په ذات د زيد کې ده لهذا ددې نعت جوړېدل صحيح دي.

اغراض دجامي:- **ولماکان**: شارح ددې عبارت تعلق د متن د مابعد عبارت **ولا فصل** سره دی، چې په کوم کې مصنف په جمهورو نحويانو باندې رد کړې دي او په دې عبارت کې شارح د جمهورو دوهم وجه او منشأبيانوي ، ځکه چې په اکثر ځايونو کې نعت مشتق وي ددې نه جمهور نحويانو ته وهم وشو، چې په نعت کې اشتقاق شرط دي تر دې که چيرته نعت غير مشتق وي، نو هغه به د مشتق په تاويل کې ګرځي، مګر د مصنف په نزد دا قول صحيح نه دی، ځکه يې **ولا فصل** سره په جمهورو نحويانو باندې رد وکړو، چې د نعت مشتق کيدل ضروري او شرط نه دي. اسم مشتق اوغير مشتق دواړه صفت جوړېدې شي، پس شرط دادې چې هغه غير مشتق داسې معنی وصفي دپاره وضع شوې وي چې کومه ددې په متبوع کې وي په طريقې د عموم سره يعنې په ټولو استعمالاتو کې وي مثال لکه **تميمي ذومال** يا په طريقې دخصوص سره يعنې بعضې استعمالاتو کې.

لا فرق: په دې عبارت کې شارح بيان دمعنی کوي ، چې **فصل** په معنی د فرق دي، د فصل منطقي معنی هغه کلي چې د **ای شيء هو في ذاته** په جواب کې واقع وي دا معنی مراد نه ده.

في صحة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : مونږ دا خبره نه منو، چې د نعت په مشتق اوغير مشتق کيدو کې فرق نشته، بلکې فرق شته هغه دا چې د نعت مشتق کيدل اولی دي او د غير مشتق نعت کيدل غير اولی دي. مشتق اولی ددې وجې نه، چې په دې کې دا ختلاف نه وتل دي، اويا په بل عبارت سره دا جواب دي دسوال مقدر :

سوال : مونږ نه منو، چې په مشتق او غير مشتق کې فرق نشته، ځکه چې په نعت مشتق کې عائد ضروري دی، غير مشتق کې عائد نه دي؟

جواب : دعدم فرق نه مراد دادې چې لکه څنګه چې د نعت مشتق کيدل صحيح دي همدارنګې د غير مشتق نعت کيدل هم صحيح دي داولی اوغير اولی خبره نه ده، او نه د ضمير او دعدم ضمير خبره ده

ای وضع غیر مشتق: په دې عبارت سره شارح د ه ضمیر مرجع بیانوي

لغرض: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: د غرض اضافت معنی طرف ته صحیح نه دي، ځکه چې غرض د شئ په شئ باندې مرتب کیږي او معنی په وضع باندې مرتب نه ده بلکې معنی دوضع نه مقدم وي.

جواب: اګر چې نفس معنی دوضع نه مقدم وي، لیکن دلالت دلفظ په معنی باندې دوضع نه مؤخر او په دې باندې مرتب وي.

الواقع في المتبوع: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دلالت دلفظ په معنی باندې په ټولو الفاظو کې ثابت وي، نو د اذا کان وضعه للغرض الدلالة على المعنى قیدي به بې فائدې دي ددې هیڅ حاجت نشته.

جواب: د دلالة على المعنى نه مطلق دلالة على المعنى مراد نه دي، بلکې په داسې معنی باندې دلالت مراد دي، چې په متبوع کې حاصل وي.

ای في جمیع الاستعمالات: په دې عبارت سره شارح ته اشاره وکړه چې دلته عموما منصوب على الظرفیة وي

قوله بأن یدل: په دې عبارت سره شارح دیو وهم ازاله کوي:

وهم: کیدای شي چې د بعض الاستعمالات نه مراد استعمال العرب وي؟.

ازاله دوهم: په بأن یدل سره ددې وهم ازاله کوي چې د بعض استعمالات نه مراد دادې چې په بعضې ځایونو کې لفظ په داسې معنی باندې دلالت کوي، چې هغه معنی په متبوع کې وي او په بعضې ځایونو کې په داسې معنی باندې دلالت نه کوي بیا شارح په مثالونو سره ددې وضاحت وکړو

جمله خبریه د نکرې صفت جوړول:

وَ تُوصَفُ النَّكِرَةُ لَا الْمَعْرِفَةُ بِالْجُمْلَةِ الْخَبَرِيَّةِ الَّتِيْ هِيَ حُكْمِ النَّكِرَةِ لِأَنَّ الدَّلَالَةَ عَلٰى								
اووصف به راوړي شي نکره نه معرفه په هغه جمله خبریې سره چې هغه په حکم دنکرې کې وي ځکه دلالت په								
مَعْنًى	فِيْ	مَتْبُوْعِهِ	كَمَا	تُوْجَدُ	فِي	الْمُفْرَدِ	كَذٰلِكَ	تُوْجِدُ فِي الْجُمْلَةِ
هغه معنی چې وي په متبوع ددې کې لکه څنګه چې موندلی شي په مفرد کې همدارنګې موندلی شي په جمله								

الْخَبَرِيَّةِ وَ اِنَّمَا قَيَّدَ الْجُمْلَةَ بِالْخَبَرِيَّةِ لِاَنَّ الْاِنْشَائِيَّةَ لَا تَقَعُ صِفَةً اِلَّا بِتَاوِيْلٍ
خبريه كې او ده تخصيص سره مقيد يې كړه جمله په خبريې سره ځكه انشائيه نه واقع كيږي صفت مګر په تاويل
بَعِيْدٍ كَمَا اِذَا قُلْتَ جَاءَنِيْ رَجُلٌ اِضْرِبْهُ اَيْ مَقُوْلٌ فِيْ حَقِّهِ اِضْرِبْهُ اَيْ مُسْتَحِقٌّ لِاَنْ يُؤْمَرَ
بعيد سره لكه څنګه چې وايې ته جاءني رجل اضربه يعني مقول في حقه اضربه يعني مستحق دي ځكه امر كوي په
بِضَرْبِهِ وَ يَلْزِمُهُ فِيْهَا الضَّمِيْرُ الرَّاجِعُ اِلٰى تِلْكَ النَّكِرَةِ لِلرَّبْطِ نَحْوُ جَاءَنِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ قَائِمٌ وَ
وهلو دده سره او لازم دی په دې كې ضمير چې راجع وي دې نكرې ته د ربط دپاره لكه جاءني رجل ابوه قائم او په
اِذَا لَمْ يَكُنْ فِيْهَا الضَّمِيْرُ الرَّابِطُ تَكُوْنُ اَجْنَبِيَّةً بِالنِّسْبَةِ اِلَى الْمَوْصُوْفِ فَلَا يَصِحُّ
هغه وخت كې چې نه وي په دې كې ضمير رابط نو وي به اجنبي په نسبت سره موصوف ته نو نه صحيح كيږي
اَنْ تَقَعَ صِفَةً لَهُ مِثْلُ جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ.
چې واقع شي صفت ددې دپاره لكه جاءني رجل زيد عالم

خلاصه دمتن : د صاحب كافيه د عبارت حاصل دا دی، چې جمله خبريه د نكرې صفت جوړېدای شي. ليكن په دې كې عائد ضروري وي. چې موصوف طرف ته راجع وي.

اغراض دجامي : لا المعرفة : په دې عبارت سره شارح دجامي اشاره كوي دې خبرې طرف ته چې د نكرې قيد احترازي دې. په دې سره احتراز دې د معرفې نه، ځكه چې جمله خبريه د معرفې صفت نه شي جوړېدې. ځكه چې جمله خبريه د نكرې په حكم كې وي. كه چېرته موصوف معرفه وي. نو د تعريف او تنكير په اعتبار سره مطابقت نه پاتې كيږي.

التي هي: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : جمله خبريه د نكرې صفت واقع كيدل صحيح نه دي، ځكه چې د موصوف اوصفت په مينځ كې د تعريف او تنكير په اعتبار سره مطابقت ضروري دی او كه چېرته جمله خبريه د نكرې صفت جوړ شي. نو د موصوف اوصفت په مينځ كې به مطابقت پاتې نه شي ځكه چې جمله خبريه نه نكره وي او نه معرفه. ځكه چې نكره او معرفه د اسم مفرد صفات دي او جمله خبريه مركب وي

جواب : مونږ دا خبره نه منو چې جمله خبريه نه معرفه ده او نه نكره. ليكن د نكرې په حكم كې وي لهذا صفت جوړول صحيح دي

سوال : جمله خبريه د نكرې په حكم كې ولې وي؟

جواب: جمله خبریه د نکرې په حکم کې ځکه وي چې لکه څنګه چې نکره مفرد په فرد مبهم باندې دلالت کوي، همدارنګې خبریه هم په مضمون مبهم باندې دلالت کوي، لکه ضرب زید جمله خبریه ده، ددې مضمون دجملې ضَرَبَ زَيْدٌ دی اوس دا مضمون جمله دتغلیظ او تخفیف او د زمان او مکان په اعتبار سره مبهم ده.

لان الدلالة: په دې عبارت سره شارح د ذکر شوې قاعدې: توصف النکرة بالجملة وجه بیانوې چې حاصل یې دادې چې صفت دپاره ضروري ده چې هغه معنی دمتبوع په حاصل باندې دلالت وکړي په دلالت مطلقه سره، اوداخبره لکه څنګه چې په مفرد کې موندل کیږي همدارنګې په جمله خبریه کې هم موندل کیږي نوددې وجې نه دجملې خبریې صفت جوړول صحیح دي.

انما قید: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مصنف رحمه الله دایجاز اواختصار تابع دي اواختصار په دې کې وو چې مصنف رحمه الله وتوصف النکرة بالجملة یې ویل وي دایې د الخبریة سره نه مقید کولو نو ولې یې د جملې خبریې سره مقید کړو؟

جواب: دجواب حاصل دادې چې دجملې خبریې سره یې ددې وجې نه مقید کړو ځکه چې جمله انشائیه دنکرې صفت نه جوړیږي ځکه چې که چیرته موصوف معرفه وي نو صفت د موصوف د توضیح اووضاحت فائده ورکوي اوکه چیرته موصوف نکره وي نو دتخصیص فائده ورکوي نو صفت دموصوف دپاره ثابت کیدل ضروري دي اودیوڅیز دپاره ثابت کیدل فرع ده ددې خبرې چې هغه څیز په خپله ثابت وي اوجمله انشائیه په خپله ثابت نه وي ځکه چې په دې کې ایجاد د مالم یوجد او اثبات د مالم یثبت وي ځکه چې دانکره صفت نه شي جوړیدې البته که چیرته په دې کې تاویل بعید وکړې شي نودنکرې صفت جوړیدې شي مثلاً جاءني رجل اضربه په دې کې دا تاویل وکړې شي چې: جاءني رجل مقول في حقه اضربه نو په دې صورت کې جمله انشائیه دنکرې صفت جوړیدې شي.

ای مستحق: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دا تاویل به په هغه وخت کې صحیح وي چې کله داقول دیو چانه صادر وي اوحالاتکه دا دچا نه صادر نه دي.

جواب : د **مقول في حقه** نه مراد **هو المستحق لان يومر بضر** به دي يعني د مقول نه مقوليت بالفعل مراد نه دي بلکه استحقاق مقوليت مراد دي .

الابتاويل بعيد : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : لکه څنګه چې په جمله انشائيه کې تاويل ضروري دي همدارنګې په جمله خبريه کې تاويل ته ضرورت راځي، لکه **جاءني رجل ابوه قائم** ، **دقائم الادب** په تاويل کې دي، کله چې په دواړو کې تاويل ته ضرورت راځي، نو د جمله خبريه صفت واقع کيدل اود جمله انشائيه نه واقع کيدل ترجيح بلا مرجح دي اودا صحيح نه ده ؟

جواب : اګر چې په جمله خبريه کې د تاويل ضرورت وي، ليکن هغه تاويل قريب وي او په جمله انشائيه کې تاويل بعيد ته ضرورت وي او دتاويل بعيد نه بچ کيدل مناسب وي.

په جمله خبريه کې به تاويل داسې وي، چې دا تاويل په نفس جمله کې وي او په جمله انشائيه کې تاويل دجملې نه خارج او د يو زائد امر د يوځاې کولونه کيږي په ذکر شوي مثال کې يعني **مقول في حقه اضربه** په دې کې **مقول في حقه** دجملې نه خارج او يو امر زائد دي .

فيها : په دې عبارت کې شارح د يلزم د صلې بيان کوي .

الراجع : په دې عبارت کې شارح دابيانوي چې کله جمله نکره وي، نو په دې کې مطلق ضمير کيدل ضروري نه دي، بلکې د هغه ضمير کېدل ضروري دي کوم چې موصوف طرف ته راجع وي.

للرابط : په دې عبارت کې شارح په جمله خبريه کې دضمير دضروري کيدو وجه بيانوي : چې داځکه ضروري دي چې هغه صفت چې د موصوف سره متعلق کړي ، لکه **جاءني رجل ابوه قائم** ، په دې کې **رجل** موصوف او **ابوه قائم** ددې صفت دي او **ه** ضمير رابط دي .

او که چيرته په جمله کې ضمير نه وي . نو چونکې جمله **مستقل بنفسها** جوړيږي اودغير سره دارتباط تقاضا نه کوي نو ځکه په دې وخت کې دموصوف په اعتبار سره به دا اجنبي وي لهذا ددې صفت جوړول صحيح نه دي لکه **جاءني رجل زيد عالم**

د نعت اقسام :

وَ يُوْصَفُ بِحَالِ الْمَوْصُوْفِ اَيْ بِحَالٍ قَائِمَةٍ بِهِ نَحْوُ مَرَرْتُ

اووصف راوړې شي په حال د موصوف سره يعني په داسې حال سره چې هغه قائم وي د موصوف سره لکه مررت

بِرَجُلٍ حَسَنٍ إِذَا الْحَسَنُ حَالُ الرَّجُلِ وَ صِفَتِهِ وَ بِحَالِ مُتَعَلِّقِهِ اَيْ مُتَعَلِّقِ الْمَوْصُوْفِ

برجل حسنٍ ځکه چې حسن حال اوصفت دي د رجل نه اوپه حال د متعلق د دې سره يعني په متعلق د موصوف

يَعْنِيْ بِصِفَةٍ اِعْتِبَارِيَّةٍ تَحْصُلُ لَهُ مُتَعَلِّقِهِ نَحْوُ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حَسَنٍ

سره يعني په صفت اعتباري سره چې حاصليږي د موصوف دپاره د هغه تعلق د وجې نه لکه مررت برجل حسن

غُلَامُهُ اِذْ كَوْنُ الرَّجُلِ حَسَنَ الْغُلَامِ مَعْنًى فِيْهِ وَ اِنْ كَانَ اِعْتِبَارِيًّا.

غلامه ځکه چې کيدل د رجل ښايسته غلام دا معنى په دې کې وه اګر که دا وصف اعتباري وي

خلاصه دمتن : دلته صاحب د کافيې د صفت د تقسيم بيان کوي چې صفت په دوه (۲) قسمه دي (۱) صفت بحال الموصوف (۲) صفت بحال متعلق الموصوف. چې د دواړو قسمونو تشريح سره د مثالونو لاندې په شرحه کې ذکر ده

اغراض دجامي : دلته شارح د صفت داقسامو بيان کوي چې صفت په دوه (۲) قسمه دي (۱) صفت بحال الموصوف (۲) صفت بحال متعلق المصوف.

(۱) صفت بحال الموصوف: داهغه دي. چې په داسې معنى باندې دلالت کوي. چې دغه معنى په ذات د متبوع اوپه موصوف کې موندل کيږي لکه **مررت برجل حسن**. په دې کې حسن چې په کومه معنى دلالت کوي، هغه په خپله په **رجل** کې موندل کيږي.

(۲) صفت بحال متعلق الموصوف : داهغه دي. چې په داسې معنى باندې دلالت کوي. چې هغه بالذات خو د موصوف په متعلق کې موندل کيږي ليکن بالاعتبار په خپله په موصوف کې موندل کيږي لکه **مررت برجل حسن غلامه**. په دې کې د **رجل**، **حسن الغلام** کيدل دا په داسې معنى باندې دلالت کوي. چې هغه په خپله په **رجل** کې موجود ده اګر چې اعتباري دي ځکه چې د کوم **رجل** غلام ښايسته وي هغه په خپله هم ښه وي په دې اعتبار سره چې د ده غلام ښه دی

اى بحال قائمته به: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : لکه څنګه چې صفت بحال الموصوف د موصوف حال بيانوي. همدارنګې صفت

بحال متعلق الموصوف هم د موصوف حال بیانوي. لهذا د دې دوه (۲) قسمونه جوړول او د دوي تقابل صحیح نه دي

جواب : منم چې صفت په اعتبار د متعلق الموصوف سره هم د موصوف حال بیانوي. لیکن هغه قائم بالموصوف نه دي. بلکې د د ه قیام د متعلق الموصوف سره دي همدارنګې چې کله بحال الموصوف کې صفت قائم بعین الموصوف وي لهذا تقابل صحیح دي

و بحال متعلقه ای متعلق الموصوف : په دې عبارت سره شارح په **متعلقه** کې د ة ضمیر مرجع بیانوي چې مرجع موصوف دي

یعني بصفة اعتباریة تحصل له بسبب متعلقه : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : کله چې نعت بحال متعلق الموصوف د موصوف د متعلق حال بیانوي، نو هغه د دې متعلق حال او د دې صفت وي نو دا د موصوف صفت څنګه جوړیږي ؟

جواب : منم چې حقیقتاً هغه د موصوف د متعلق صفت دي. لیکن اعتباراً و مجازاً به د موصوف حال او صفت جوړیږي د صفت اعتباري مطلب دا دي چې دا په معنی وصفي موصوف کې د متعلق د اعتبار نه او د دې د سب نه حاصل وي لکه په **مررت برجل حسن غلامه** کې حسن والا معنی وصفي په رجل کې د د ه د متعلق په اعتبار سره حاصلیږي، هم د دې ته صفت اعتباریه ویلی کیږي.

په لسو امورو کې صفت بحاله د متبوع تابع کیدل :

فَالْأَوَّلُ أَيِ النَّعْتُ بِحَالِ الْمَوْصُوْفِ يَتْبَعُهُ أَيِ الْمَوْصُوْفَ فِيْ عَشَرَةِ أُمُوْرٍ يُوْجَدُ مِنْهَا فِيْ
نو اول یعني صفت بحال الموصوف تابع دي د د ې یعني د موصوف په لسو امورو کې چې موندل کیږي د دې نه په
كُلِّ تَرْكِيْبٍ أَرْبَعَةٌ فِي الْإِعْرَابِ رَفْعًا وَنَصْبًا وَجَرًّا وَالتَّعْرِيْفِ وَالتَّنْكِيْرِ وَالْإِفْرَادِ وَالتَّثْنِيَةِ وَالْجَمْعِ التَّذْكِيْرِ وَ
هر یو څلور ترکیبو د اعراب کې رفع او نصب او جر او تعریف او تنکیر او مفرد او تثنیه او جمع تذکیر او
التَّأْنِيْثِ إِلَّا إِذَا كَانَ صِفَةً يَسْتَوِيْ فِيْهَا الْمُذَكَّرُ وَالْمُؤَنَّثُ كَفَعُوْلٍ بِمَعْنٰى فَاعِلٍ نَحْوُ رَجُلٍ صَبُوْرٍ وَامْرَأَةٍ
تانیث مګر چې کله وي صفت او برابروي په دې کې مذکر او مؤنث لکه فعول په معنی د فاعل لکه رجل صبور وامرأة
صَبُوْرٍ أَوْ فَعِيْلٍ بِمَعْنٰى مَفْعُوْلٍ كَرَجُلٍ جَرِيْحٍ وَامْرَأَةٍ جَرِيْحٍ أَوْ كَانَ صِفَةً مُؤَنَّثَةً تَجْرِيْ عَلَى الْمُذَكَّرِ
صبور او یا فعیل په معنی د مفعول لکه رجل جریح وامرأة جریح او یا وي صفت مؤنثه چې جاري کیږي په مذکر

گــعَـــلَامَــــةٍ.

باندې لکه علامة

خلاصه دمتن : صاحب دکافیې وایي چې په دې کې یعني دنعت په اقسامو کې اول قسم صفت بحال الموصوف په لسو ﴿۱۰﴾ امورو کې د خپل متبوع تابع وي چې هغه لس ﴿۱۰﴾ امور دادي ﴿۱﴾ رفع ﴿۲﴾ نصب ﴿۳﴾ جر ﴿۴﴾ تعریف ﴿۵﴾ تنکیر ﴿۶﴾ تذکیر ﴿۷﴾ تانیث ﴿۸﴾ افراد ﴿۹﴾ تثنیه ﴿۱۰﴾ جمع

اغراض دجامي : **اى نعت بحال**: په دې عبارت کې شارح د **فالاول** مصدق متعین کړو چې اول قسم هغه **صفت بحال الموصوف** دي .

اى الموصوف: په دې عبارت کې شارح په **يتبعه** کې د ه ضمیر مرجع بیان یې کړه چې په يتبعه کې ه ضمیر موصوف طرف ته راجع دي .

في عشرة امور: په دې عبارت کې شارح د **يتبعه** دصلې بیان کوي د **يتبعه** صله **عشرة امور** دي .

يوجد منها: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په رفع ،نصب ، جر ، تعریف ،تنکیر ، تذکیر ، تانیت ، افراد ، تثنیه ، جمع کې تناقض او تضاد دي . رفع ، نصب او جر سره نه جمع کیږي، ددې امورو نه به په یو وخت کې یو وي ، همدارنګې د تذکیر او تانیث نه یو، د تعریف او تنکیر نه یو، مفرد ، تثنیه او جمع نه یو به وي ، نو **صفت بحال الموصوف** په یو وخت کې د لسو سره به څنګه موافق وي ؟ او ستاسو دا وینا چې **صفت بحال الموصوف** په لسو امورو کې به د خپل متبوع تابع وي دا خبره څنګه صحیح شوه؟

جواب : ددې مطلب دادې چې په هر ترکیب کې بالفعل ددې نه به څلور ﴿۴﴾ وي ، د رفع ،نصب او جر نه یو ، دتعریف او تنکیر نه یو ، دتذکیر او تانیث نه یو ، دافرد ،تثنیه اوجمع نه یو ، نو لهذا اشکال دفع شو

رفعاً، نصباً وجراً: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : اعراب قسم واحد دي ، سو نول امور اته ﴿۸﴾ جوړیږي ، لس ﴿۱۰﴾ نه جوړیږي نو تاسو ولې امور عشرة وویل ؟

جواب : داعراب نه مراد دري (۳) قسمونه دي، لهذا ټول چې يو ځاى کړې، نو لس (۱۰) امور ترې جوړيږي.

الا اذا کان: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : ذکر شوي قاعده منقوض اوماته ده په **امراة صبور**، **امراة جريح او رجل علامة** وغيره سره، ځکه چې په دې کې، **صبور**، **جريح او علامة** صفت بحال الموصوف دي حالانکه د تذکير او تانيث په اعتبار سره دخپل موصوف مطابق نه دي ؟

جواب : مذکوره صورتونه د ضابطې نه مستثنى دي، وجه داستثناء داده چې قاعده ده چې کله صيغه د صفت داسې اسم وي چې په هغې کې مذکر او مؤنث برابر وي، نو په دې صورت کې صفت د خپل موصوف سره صرف په درې (۳) شيانو کې مطابقت ضروري دي :

(۱) رفع نصب جر، (۲) تعريف تنکير، (۳) افراد تثنيه جمع ، په تذکير او تانيث کې مطابقت ضروري نه دى ، او په کلام دعربو کې دوه وزنونه داسې دي، چې هغه په تذکير او تانيث کې برابر دي : (۱) فعول لکه **رجل صبور** په معنى د **رجل صابر**، و **امراة صبور** په معنى د **امراة صابرة**، (۲) فعيل لکه **رجل جريح** په معنى د **رجل مجروح** **امراة جريح** په معنى د **امراة مجروحة**، همدارنګې که صفت داسې مؤنث وي چې هغه په مذکر باندې هم جاري کيږي، نو په دې صورت کې هم صفت د خپل موصوف سره (په تذکير او تانيث کې) موافق کيدل ضروري نه دي، لکه **رجل علامة**.

په پنځو امورو کې صفت بحال متعلقه کې د متبوع تابع کيدل :

وَ الثَّانِيْ اَيِ النَّعْتُ بِحَالِ مُتَعَلِّقِ الْمَوْصُوْفِ يَتْبَعُهُ فِي الْخَمْسَةِ الْاَوَّلِ وَهِيَ الرَّفْعُ وَالنَّصْبُ وَ الْجَرُّ وَ
اودويم يعنې صفت بحال متعلق الموصوف تابع وي ددې سره په پنځوکې اول اوهغه رفع اونصب اوجراو
التَّعْرِيْفُ وَ التَّنْكِيْرُ وَيُوْجَدُ مِنْهَا فِيْ كُلِّ تَرْكِيْبٍ اِثْنَانِ وَ فِي الْبَوَاقِيْ مِنْ تِلْكَ الْاُمُوْرِ الْعَشَرَةِ وَ هِيَ
معرفه اونکره ده اوموندل کيږي ددې نه په هر يو ترکيب کې دوه اوپه باقي کې ددې لسوامورو کې اوهغه
اَيْضاً خَمْسَةُ الْاِفْرَادُ وَ التَّثْنِيَةُ وَ الْجَمْعُ وَ التَّذْكِيْرُ وَ التَّانِيْثُ كَالْفِعْلِ لِشِبْهِهٖ بِهٖ يَعْنِيْ يُنْظَرُ
همدارنګې پنځه دي مفرد تثنيه جمع مذکرمؤنث لکه فعل دوجې دمشابهت نه دفعل سره يعنې کتلى به شي
اِلٰى فَاعِلِهٖ فَاِنْ كَانَ مُفْرَدًا اَوْ مُثَنًّى اَوْ مَجْمُوْعًا اُفْرِدَ كَمَا يُفْرَدُ الْفِعْلُ وَ اِنْ
فاعل طرف ته که چيرته ومفرد اويا تثنيه اويا جمع نومفرد به راوړې شي لکه څنګه چې مفرد وي فعل اوکه

كَانَ مُذَكَّرًا اَوْ مُؤَنَّثًا حَقِيْقِيًّا بِلَا فَصْلٍ طَابَقَهُ وُجُوْبًا كَمَا يُطَابِقُ الْفِعْلُ

حبرته مذکراو یامؤنث حقیقي بې د فصل نه نومطابق به وي دفاعل سره وجوباً لکه څنګه چې مطابق وي فعل

فَاعِلَهُ فِي التَّذْكِيْرِ وَ التَّانِيْثِ وَ اِنْ كَانَ فَاعِلُهُ مُؤَنَّثًا غَيْرَ حَقِيْقِيٍّ اَوْ حَقِيْقِيًّا مَفْصُوْلًا

د خپل فاعل سره په تذکیر او تانیث کې او که چیرته فاعل ددې مؤنث غیر حقیقي وي او یا حقیقي مفصول

يُذَكَّرُ اَوْ يُؤَنَّثُ جَوَازًا تَقُوْلُ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ قَاعِدٍ غُلَامُهُ مِثْلُ يَقْعُدُ غُلَامُهُ وَ بِرَجُلَيْنِ

وي نو مذکر او مؤنث به وي جوازاً ، ته به وایې مررت برجل قاعد غلامه په شان د یقعد غلامه او لکه مررت برجلين

قَاعِدٍ غُلَامَاهُمَا مِثْلُ يَقْعُدُ غُلَامَاهُمَا وَبِرِجَالٍ قَاعِدٍ غِلْمَانُهُمْ مِثْلُ يَقْعُدُ غِلْمَانُهُمْ وَمَرَرْتُ بِامْرَءَةٍ قَائِمٍ اَبُوْهَا مِثْلُ

قاعد غلاماهما لکه یقعد غلاماهما او مررت برجال قاعد غلمانهم لکه یقعد غلمانهم او مررت بامرءة قائم ابوها لکه

يَقُوْمُ اَبُوْهَا وَبِرَجُلٍ قَائِمَةٍ جَارِيَتُهُ مِثْلُ تَقُوْمُ جَارِيَتُهُ وَبِرَجُلٍ مَعْمُوْرٍ اَوْ مَعْمُوْرَةٍ دَارُهُ مِثْلُ يَعْمُرُ اَوْ تَعْمُرُ دَارُهُ بِرَجُلٍ

یقوم ابوها او مررت برجل قائمه جاریته لکه تقوم جاریته او مررت برجل معمور او معمورة لکه یعمر او یا تعمر داره برجل

قَائِمٍ اَوْ قَائِمَةٍ فِي الدَّارِ جَارِيَتُهُ مِثْلُ يَقُوْمُ اَوْ تَقُوْمُ فِي الدَّارِ جَارِيَتُهُ .

قائم او قائمة في الدار جاریته لکه یقوم او یا تقوم في الدار جاریته

خلاصه دمتن : د صاحب دکافیې د عبارت حاصل دادې چې دنعت دوهم قسم یعني صفت بحال متعلق الموصوف په پنځو (۵) امورو کې د خپل موصوف تابع وي : (۱) رفع (۲) نصب (۳) جر (۴) تعریف (۵) تنکیر او باقي پنځو (۵) امورو کې یعني (۱) افراد . (۲) تثنیه ، (۳) جمع ، (۴) تذکیر ، (۵) تانیث کې دفعل په شان وي.

اغراض دجامي : ای النعت: په دې عبارت کې شارح د الثاني دمصداق تعین وکړو چې د الثاني مصداق النعت دي.

وهي الرفع: په دې عبارت سره شارح د الخمسة الاول مصداق تعین کوي، چې ددې مصداق رفع، نصب، جر، تعریف و تنکیر دي.

ویوجد: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : په رفع، نصب، جر او همدارنګې په تعریف او تنکیر کې منافات او تناقض دي، نو دا وینا چې د نعت دویم قسم په پنځو (۵) امورو کې د خپل متبوع تابع وي څنګه صحیح شو، حالانکه رفع نصب جر درې واړه په یو وخت کې په یوه کلمه کې نه وي، همدارنګې تعریف او تنکیر په یوه کلمه کې نه جمع کیږي.

جواب : ددې مطلب دادې چې په هر ترکيب کې بالفعل او په يو وخت کې ددې پينځو نه دوه موندل شي . البته على سبيل البدل په پنځو (۵) کې مطابقت ضروري دی

وهي ايضاً: په دې عبارت کې دبواقي دمصداق تعين کوي. چې باقي امور هم پنځه (۵) دي (۱) افراد . (۲) تثنيه (۳) جمع (۴) تذکير (۵) تانيث

لشبهه به : په دې عبارت کې شارح په باقي پنځو (۵) کې د صفت بحال متعلق الموصوف د فعل په شان کيدو وجه بيانوي. چې په باقي امورو کې نعت بحال متعلق الموصوف د فعل مشابه دي . او وجه دمشابهت يې داده چې لکه څنګه چې فعل د خپل ما بعد فاعل طرف ته مسند وي، همدارنګې صفت هم د خپل ما بعد فاعل طرف ته مسند وي ما قبل موصوف طرف ته مسند نه وي

يعني ينظر الى فاعله : په دې عبارت کې شارح ددې خبرې وضاحت کوي چې صفت بحال متعلق الموصوف په باقي پنځو (۵) امورو کې د فعل سره څنګه مشابه دي چې ددې حاصل دادې چې د صفت فاعل ته به کتلې شي که فاعل اسم ظاهر وي، نو صفت به مفرد وي، برابره خبره ده که فاعل واحد وي اويا تثنيه وي اويا جمع وي لکه **مررت برجل قاعد غلامه** ، **مررت برجلين قاعد غلاماهما** ، **مررت برجال قاعد غلمانهم** ، که چيرته د فعل فاعل اسم ظاهر وي، نو فعل به هميشه مفرد راوړلې شي برابره خبره ده که فاعل واحد وي اويا تثنيه وي اويا جمع وي لکه **مررت برجل يقعد غلامه** ، **مررت برجلين يقعد غلاماهما** ، **مررت برجال يقعد غلمانهم** ، او که چيرته فاعل اسم ظاهر مذکر وي، نو صفت به يې هم مذکر راوړلې شي برابره خبره ده که موصوف مؤنث ولې نه وي، لکه **مررت بامراة قائم ابوها**.

که چيرته د فعل فاعل مذکر وي، نو فعل به مذکر راوړې شي لکه **مررت بامراة يقوم ابوها**، او که فاعل مؤنث حقيقي وي او د صفت او فاعل په مينځ کې فاصله نه وي، نو دصفت مؤنث راوړل واجب دي لکه **مررت برجل قائمة جاريته**، که چيرته د فعل فاعل مؤنث حقيقي وي او دصفت اودفاعل په مينځ کې فاصل نه وي نوصفت مؤنث راوړل واجب دي. لکه **مررت برجل تقوم جاريته**.

اوکه چيرته فاعل مؤنث غيرحقيقي وي ، اويا مؤنث حقيقي وي ليکن د صفت او فاعل په مينځ کې فاصل وي، نوفعل مؤنث راوړل هم جائز اومذکر راوړل هم جائز دي د مؤنث

غیرحقیقي مثال لکه مررت برجل معمور او معمورة دارها ، مررت برجل یعمر اوتعمر داره ، اوکه چیرته مؤنث حقیقي وي او د صفت او فاعل په مینځ کې فاصل وي، ددې مثال لکه مررت برجل قائم یا قائمة في الدار جاریته ، مررت برجل یقوم في الدار اوتقوم في الدار جاریته .

یو اعتراض او د هغې جواب :

فَإِنْ قُلْتَ إِذَا نَظَرْتَ حَقَّ النَّظَرِ وَجَدْتَ الْأَوَّلَ وَ هُوَ الْوَصْفُ بِحَالِ الْمَوْصُوْفِ أَيْضاً
که چیرته ته ووایې چې کله ته نظروکړې حق نظرنو بیابه موزې اول او هغه وصف بحال الموصوف دې همدارنګې
فِي الْخَمْسَةِ الْبَوَاقِيْ كَالْفِعْلِ لِأَنَّ فَاعِلَهُ كَالضَّمِيْرِ الْمُسْتَكِنِّ فِيْهِ الرَّاجِعِ إِلَى مَوْصُوْفِهِ
په پنځه باقي کې لکه فعل څکه فاعل ددې په شان دضمیرمستتر دې په فعل کې چې راجع کیږي موصوف
وَ الْفِعْلِ إِذَا أُسْنِدَ إِلَى الضَّمِيْرِ يَلْحَقُهُ الْأَلِفُ فِي التَّثْنِيَةِ وَ الْوَاوُ فِيْ جَمْعِ الْمُذَكَّرِ الْعَاقِلِ وَ النُّوْنِ فِيْ
ددې ته اوفعل چې کله اسنادوشي ضمیرته نوپیوسته کیږي الف په تثنیه او واو په جمع مذکرعاقل کې اونون په
جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ وَ يُؤَنَّثُ فِي الْوَاحِدِ الْمُؤَنَّثِ وَ لِذٰلِكَ قُلْتَ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ وَ
جمع مؤنث کې اومؤنث به راوړې شي په مفرد کې مؤنث اوددې وجې نه تاوویل چې مررت برجل ضارب اومررت
بِرَجُلَيْنِ ضَارِبَيْنِ وَبِرِجَالٍ ضَارِبِيْنَ وَ بِامْرَأَةٍ ضَارِبَةٍ وَ بِامْرَأَتَيْنِ ضَارِبَتَيْنِ وَ بِنِسْوَةٍ ضَارِبَاتٍ كَمَا
برجلین ضاربین اومررت برجال ضاربین اومررت بامرأة ضاربة ومررت بامرأتین ضاربتین او مررت بنسوة ضاربات لکه
تَقُوْلُ فِي الْفِعْلِ يَضْرِبُ وَ يَضْرِبَانِ وَ يَضْرِبُوْنَ وَ تَضْرِبُ وَ تَضْرِبَانِ وَ يَضْرِبْنَ فَلِمَ خَصَّصْتَ
څنګه چې تاسو وایې په فعل کې یضرب اویضربان اویضربون اوتضرب اوتضربان اویضربن نوولې یې خاص
الثَّانِيْ بِهٰذَا الْحُكْمِ قُلْنَا الْمَقْصُوْدُ الْأَصْلِيُّ فِيْ هٰذَا الْمَقَامِ بَيَانُ نِسْبَةِ الْوَصْفَيْنِ إِلَى الْمَوْصُوْفِ
کړودویم ددې حکم پورې مونږ وایوچې مقصوداصلي په دې ځای کې بیان دنسبت ددوه وصفونودې موصوف
بِالتَّبَعِيَّةِ وَ عَدَمِهَا وَ لَمَّا كَانَ الْوَصْفُ الْأَوَّلُ يَتْبَعُهُ فِي الْأُمُوْرِ الْعَشَرَةِ وَ كَانَ لَا
ته په تابع کیدواونه تابع کیدوکې اوهرکله چې اول وصف تابع وي په لسوامورو کې اووواول وصف چې نه یې
تُخْرِجُهُ مُشَابَهَتُهُ لِلْفِعْلِ فِي الْخَمْسَةِ الْبَوَاقِيْ عَنْ هٰذِهِ التَّبَعِيَّةِ لِمَا عَرَفْتَ إِكْتَفِيْ
ویستومشابهت دده دفعل سره په پنځوباقیوکې ددې تابع کیدونه دهغه څه نه چې تاوپیژندل نواکتفاء یې
فِيْهِ بِالْحُكْمِ عَلَيْهِ بِالتَّبَعِيَّةِ بِخِلَافِ الْوَصْفِ الثَّانِيْ فَإِنَّهُ لَمَّا حَكَمَ بِالتَّبَعِيَّةِ
وکړه په حکم سره په دې باندې په تابع کیدو سره په خلاف ددویم وصف څکه هرکله چې یې حکم وکړوپه تابع
فِي الْخَمْسَةِ الْأَوَّلِ لَمْ يَكْتَفِ فِيْهِ بِالْحُكْمِ بِعَدَمِ التَّبَعِيَّةِ فَإِنَّهُ غَيْرُ مَضْبُوْطٍ بَلْ بَيَّنَ
کیدوپه اول پنځوکې نواکتفاء یې ونه کړه په حکم سره په نه تابع کیدوڅکه چې دا غیرمضبوط دې بلکې بیان

مُنَاسَبَةَ عَدَمِ تَبَعِيَّتِهٖ لَهٗ بِكَوْنِهٖ كَالْفِعْلِ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الظَّاهِرِ بَعْدَهٗ
کړي قاعده د عدم تابع کیدو ددې ددې چې داپه شان دفعل دي په نسبت سره ظاهر ته پس ددې نه ددې د پاره
لِيَتَبَيَّنَ حَالُهٗ عِنْدَ عَدَمِ التَّبَعِيَّةِ.
چې بیان کړي حال ددې په وخت دنه تابع کیدو

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره شارح یو سوال مقدر رانقل کوي اودهغې سوال مقدر جواب ورکوي

اغراض دجامي : فان قلت: په دې عبارت سره شارح یو اعتراض نقل کوي اوپه قلنا سره ددې اعتراض جواب ورکوي :

اعتراض : لکه څنګه چې دصفت دویم قسم په آخري پنځو (۵) شیانو کې د فعل په شان وي، نو همدارنګې دصفت اول قسم هم په آخري پنځو (۵) شیانو کې به دفعل په شان وي، مثلاً چې کله فعل مسند وي ضمیر طرف ته نو ددې مرجع ته به کتلې شي که مرجع واحد مذکر وي، نو فعل به هم واحد مذکر وي ، او که مرجع تثنیه مذکر وي نو د فعل په آخر کې الف پیوسته کیږي ، او که د ضمیر مرجع جمع مذکر عاقل وي نو د فعل په آخر کې به واؤ راوړلې شي او که د ضمیر مرجع واحد مؤنث وي نو فعل به واحد مؤنث راوړلې شي ، او که مرجع تثنیه وي نو فعل به مؤنث راوړی شي او که مرجع جمع مؤنث وي، نو فعل به هم جمع مؤنث راوړلې شي، بعینه هم دغه شان په صفت کې به هم د ضمیر مرجع ته کتلې شي که مرجع واحد مذکر وي، نو صفت به هم واحد مذکر راوړلې شي او که مرجع تثنیه مذکر وي، نو صفت به هم تثنیه مذکر راوړلې شي او که مرجع واحد مؤنث وي، نو صفت به هم واحد مؤنث وي، او که د ضمیر مرجع تثنیه مؤنث نو صفت به هم تثنیه مؤنث وي او که د ضمیر مرجع جمع مؤنث وي، نو صفت به هم جمع مؤنث وي، نو د نعت په صورت کې به داسې وایي : مررت برجل ضارب، مررت برجلین ضاربین، مررت برجال ضاربین، مررت بامراة ضاربته، مررت بامراتین ضاربتین، مررت بنسوة ضاربات او په فعل کې به داسې وایي : مررت برجل یضرب، مررت برجلین یضربان، مررت برجال یضربون، مررت بامراة تضرب، مررت بامراتین تضربان، مررت بنسوة یضربن، نو کله چې اول قسم (نعت مجال الموصوف) هم په باقي پنځو کې د فعل مشابه دي لکه دمثالونو نه چې واضحه شوه نو مصنف رحمه الله دویم قسم نعت بحال متعلق الموصوف کې وفي البواقي كالفعل ووېل او تخصیص یې ولې وکړو ؟

جواب : په دې مقام کې د مصنف رحمه الله اصلي مقصد دصفت ددواړه قسمونو نعت بحال الموصوف او نعت بحال متعلق الموصوف کې خپل موصوف طرف ته نسبت بيانول دي. د تبعيت او عدم تبعيت په اعتبار سره چونکې دصفت اول قسم په لسو امورو کې دخپل موصوف تابع دي او پنځه باقي امورو کې ددې فعل مثل اومشابه کيدل ددې دتبعيت نه خارج نه دي ددې وجې نه په اول قسم کې دتبعيت په حکم باندې يې اکتفاء وکړه په خلاف ددويم قسم چې هغه په اولو پنځو قسمونو کې دخپل موصوف تابع وي اوپه باقي پنځو امورو کې دخپل موصوف تابع نه وي نو چې کله په اولو پنځو کې ددې دتبعيت حکم يې ولړولو نو په باقي پنځو کې دعدم تبعيت حکم لړول په کار وو ځکه چې اصلي مقصود تبيعت اوعدم تبعيت بيانول وو ليکن مصنف رحمه الله صرف په عدم تبعيت دحکم په لړولو باندې اکتفاء ونه کړه بلکې ددې عدم تبعيت يې په کالفعل سره يې تعبير کړې ځکه عدمت تبعيت منضبطه نه دده کله عدم تبعيت دتذکير اوتانيب په اعتبار سره وي اوکله عدم تبعيت دافراد اوتثنيې په اعتبار سره وي ځکه يې کالفعل وويل نو عدم تبعيت يې ديوې ضابطې اوقاعدې په شکل کې يې بيان کړه چې په باقي پنځو امورو کې نعت بحال متعلق الموصوف دخپل مابعد اسم ظاهر طرف ته دنسبت کولو په اعتبار سره په منزله دفعل وي ددې دپاره چې واضحه شي چې په باقي پنځو امورو کې دعدم تبعيت په وخت کې به ددې څه حال وي نو دهغه حالت دبيانولو دپاره يې کالفعل وويل چې دعدم تبعيت په وخت کې به ددې حال دفعل په شان وي .

په باقي امورو کې صفت بحال متعلقه د فعل په شان کيدل :

وَ مِنْ ثَمَّ اَيْ وَ مِنْ اَجَلِ كَوْنِ الْوَصْفِ الثَّانِيْ فِي الْخَمْسَةِ الْبَوَاقِيْ كَالْفِعْلِ حَسُنَ قَامَ رَجُلٌ قَاعِدٌ
اوددې وجې نه يعنې دوجې دکيدودوصف ثاني په پنځوباقي کې په شان دفعل اومستحسن دي قام رجل قاعد
غِلْمَانُهُ كَمَا حَسُنَ يَقْعُدُ غِلْمَانُهُ وَ حَسُنَ اَيْضاً قَاعِدَةٌ غِلْمَانُهُ لِاَنَّ الْفَاعِلَ مُؤَنَّثٌ
غلمانه لکه څنګه چې مستحسن دي يقعد غلمانه اومستحسن دي همدارنګې قاعده دغلمانه ځکه فاعل مؤنث
غَيْرُ حَقِيْقِيٍّ كَمَا حَسُنَ تَقْعُدُ غِلْمَانُهُ وَ ضَعُفَ قَامَ رَجُلٌ قَاعِدُوْنَ غِلْمَانُهُ لِاَنَّهُ بِمَنْزِلَةِ
غير حقيقي دي لکه څنګه چې مستحسن دي تقعد غلمانه اوضعيف دي قام رجل قاعدون غلمانه ځکه داپه منزله د
يَقْعُدُوْنَ غِلْمَانُهُ وَ اِلْحَاقُ عَلَامَتَيِ الْمُثَنّٰي وَ الْمَجْمُوْعِ فِي الْفِعْلِ الْمُسْنَدِ اِلٰى ظَاهِرِهِمَا
يقعدون غلمانه دي اوالحاق ددوه علامودتثنيې اودجمع په هغه فعل کې چې مسندوي ظاهردې دواړوته
ضَعِيْفٌ وَ يَجُوْزُ مِنْ غَيْرِ حُسْنٍ وَلَا ضُعْفٍ قُعُوْدٌ غِلْمَانُهُ وَ اِنْ كَانَ قُعُوْدٌ جَمْعٌ

ضعیف دي او جائز دي چې وي په غیر مستحسن نه او نه دي ضعیف قعود غلمانه او که چیرته قعود جمع وي
أَيْضاً كَقَاعِدُوْنَ لِأَنَّكَ إِذَا كَسَّرْتَ الْإِسْمَ الْمُشَابِهَ لِلْفِعْلِ خَرَجَ لَفْظًا عَنْ مُوَازَنَةِ
همدارنګې لکه قاعدون ځکه چې کله مکسور شي اسم چې مشابه وي د فعل سره نو خارج شو لفظا د موازنت د
الْفِعْلِ وَ مُنَاسَبَتِهِ لِأَنَّ الْفِعْلَ لَا يُكَسَّرُ فَلَمْ يَكُنْ قُعُوْدُ غِلْمَانُهُ مِثْلَ يَقْعُدُوْنَ غِلْمَانُهُ الَّذِيْ اِجْتَمَعَ
فعل او د مناسبت د دې نه ځکه چې فعل نه وي مکسور نو نه به وي قعود غلمانه لکه يقعدون غلمانه هغه چې جمع
فِيْهِ فَاعِلَانِ فِي الظَّاهِرِ إِلَّا أَنْ تُخْرَجَ الْوَاوُ مِنَ الْإِسْمِيَّةِ إِلَى الْحَرْفِيَّةِ أَوْ يُجْعَلَ الْمُظْهَرُ بَدَلًا
وي په دې کې دوه فاعله په ظاهر کې مګر چې خارج شي واو د اسمیت نه حرفیت ته او یا وګرځول شوي مظهر بدل
مِنَ الضَّمِيْرِ أَوْ يُجْعَلَ الْفِعْلُ خَبَراً مُقَدَّمًا عَلَى الْمُبْتَدَإِ.
د مضمر نه او یا وګرځول شي فعل خبر مقدم په مبتدا باندې

خلاصه دمتن : من ثم دا په ما قبل باندې تفریع ده. چې کله دویم قسم ثاني په آخري پنځو (۵) امورو کې د خپل موصوف تابع نه وي بلکې د فعل په شان وي، نو **قام رجل قاعد غلمانه** دا ترکیب حسن دي همدارنګې **قام رجل يقعد غلمانه** دا ترکیب حسن دي، ځکه چې کله فاعل اسم ظاهر وي نو فعل مفرد راوړل واجب دي، او **قام رجل قاعدة غلمانه** دا ترکیب هم حسن دي، همدارنګې **قام رجل تقعد غلام** ترکیب حسن دي، ځکه چې **غلمانه** جمع ده او **جمع** په تاویل د **جماعة** سره ده او **جماعة** مؤنث غیر حقیقي دي، او قاعده داده چې کله فاعل مؤنث غیر حقیقي وي، نو فعل مؤنث هم راوړې شي او مذکر هم، همدارنګې صفت هم مذکر او مؤنث ... شي او **قام رجل قاعدون غلمانه** دا ترکیب ضعیف دي.

همدارنګې **قام رجل يقعدون غلمانه** ترکیب هم ضعیف دي، ځکه چې کله فاعل اسم ظاهر وي نو د فعل سره علامت د تثنیې او علامت د جمعې راوړل ضعیف وي (ځکه چې په دې کې تعدد د فاعل بلا عطف لازم راځي، په تثنیه او جمع کې الف او واؤ هم فاعل دي، او د بعد اسم ظاهر هم فاعل دي) او **قام رجل قعود غلمانه** دا ترکیب جائز دي. یعنې نه ضعیف دي او نه حسن اګر چه دا هم د **يقعدون** په شان جمع ده، نو دا هم ضعیف کیدل په کار دي، لیکن د عدم ضعف وجه داده چې کله اسم مشابه للفعل مکسر جوړ کړې شي، نو دا لفظاً د فعل د موازنت او د فعل د مناسبت نه خارجیږي، ځکه چې د فعل جمع مکسر نه راځي. لهذا **قعود غلمانه** د **يقعدون غلمانه** په شان نه شو، چې په دې کې په ظاهره دوه فعلونه دي، د دې وجې نه دا بې جائز کړل او

نه يې د ضعف حکم ولړولو او نه د حسن حکم

اغراض دجامي: الا ان تخرج: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: کله چې په يقعدون غلمانه کې دوه فاعله جمع شي نو په دې باندې د امتناع حکم لړول په کار وو، د ضعف حکم يې ولې ولړولو؟

جواب: په دې کې د درې طريقو نه په يوې طريقې سره د تاويل گنجايش شته، د دې وجې نه د ضعف حکم يې پرې ولړولو د امتناع نه دي. هغه طريقې دا دي: (١) په يقعدون کې واؤ حرف دي او حرف فاعل نه شي جوړيدې. ځکه چې فاعل خو اسم وي. لهذا دوه فاعله جمع نه شو (٢) په دې کې واؤ فاعل دي او غلمانه اسم ظاهر فاعل نه دي، بلکې ضمير د فاعل نه بدل دي لهذا دوه فاعله جمع نه شو. (٣) اسم ظاهر مبتداء مؤخر دي او فعل د خپل فاعل سره جمله خبر مقدم دي.

د ضمير صفت يا موصوف نه جوړيدل:

وَ الْمُضْمَرُ لَا يُوْصَفُ لِاَنَّ ضَمِيْرَ الْمُتَكَلِّمِ وَ الْمُخَاطَبِ اَعْرَفُ الْمَعَارِفِ وَ اَوْضَحُهَا
او ضمير نه شي موصوف کيدې ځکه چې ضمير د متکلم او د مخاطب د ټولو نه زيات معارف او واضح دی نو
فَلَا حَاجَةَ لَهُمَا اِلَى التَّوْضِيْحِ وَ حُمِلَ عَلَيْهِمَا ضَمِيْرُ الْغَائِبِ وَ عَلَى الْوَصْفِ الْمُوْضِحِ الْوَصْفُ
نشته حاجت د دې دواړو وضاحت ته او حمل يې کړو په دې باندې ضمير د غائب او په وصف موضح باندې وصف
الْمَادِحُ وَ الذَّامُ وَ غَيْرِهِمَا طَرْداً لِلْبَابِ وَ لَا يُوْصَفُ بِهِ لِاَنَّهُ لَيْسَ فِي الْمُضْمَرِ
مادح او ذام او غير د دې دواړو نه د طرد الباب او نه شي موصوف کولې په مضمر سره ځکه چې نه وي په مضمر
مَعْنَى الْوَصْفِيَّةِ وَ هُوَ الدَّلَالَةُ عَلَى قِيَامِ مَعْنًى بِالذَّاتِ لِاَنَّهُ يَدُلُّ عَلَى الذَّاتِ
کې معنی د وصفيت او هغه دلالت دي په قيام د معنی په ذات سره ځکه چې ضمير دلالت کوي په ذات باندې نه
لَا عَلَى قِيَامِ مَعْنًى بِهَا.
په قيام د معنی په دې باندې.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې صاحب د کافيې دوه (٢) ضابطې بيانوي: (١) ضمير موصوف نه شي جوړيدې (٢) ضمير صفت هم نه شي جوړيدې.

اغراض دجامي: په دې عبارت کې شارح د يو څو ضوابطو بيان کوي: لومړنۍ ضابطه او

قاعده داده چې ضمير موصوف نه شي جوړيدې

لان ضمير المتكلم : په دې عبارت کې شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې کله موصوف معرفه وي. نو د صفت فائده د موصوف وضاحت کول وي او ضمير دمتكلم اود مخاطب د ډير مشهوراو واضح كيدو دوجې نه د څه وضاحت او تعريف كولو محتاج نه دي ، ددې وجې نه ضمير موصوف نه شي جوړيدې

و حمل عليها: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي .

سوال : تقريب تام او پوره نه دي يعني دليل ددعوى مطابق نه دي دعوى دمطلق ضمير په برابره خبره ده كه دا ضمير دمتكلم وي اويادمخاطب اويادغائب اودليل په ضمير دمتكلم اومخاطب كې جاري وي په ضمير دغائب كې جاري نه وي .

جواب :ضمير دغائب په ضمير دمتكلم او مخاطب باندې محمول شو طرداًللباب

علي الوصف : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي .

سوال : ستاسو ددليل نه معلومه شوه چې ضمير دصفت موضحه محتاج نه دي. ځكه چې دا په خپله واضح دي، ليكن د ضمير صفت دمادحه او دذامه مؤكده محتاج نه كيدل ددې دليل نه ثابت نه دي. لهذا د ضمير صفت مادحه او ذامه سره موصوف كيدل جائز دي؟

جواب : صفت مادحه ذامه مؤكده هم په صفت موضحه باندې محمول طرداًللباب په ټولو باندې دعدم جواز حكم ولړولې شو. چې په دې كې دچا سره هم ضمير دموصوف نشته.

لا يوصف به : په دې عبارت سره شارح ددويمې ضابطې اوقاعدې بيان كوي، چې ضمير د چا صفت هم نه شي جوړيدې .

لانه ليس في المضمر : په دې عبارت كې شارح ددې وجه بيانوي چې د صفت وضع ددې په معنى باندې ددلالت كولو د پاره وي كوم چې دموصوف دذات سره قائم وي اوضمير فقط په ذات باندې دلالت كوي . په يو معنى وضعي باندې دلالت نه كوي كوم چې دذات دموصوف سره قائم وي

د يو سوال مقدر جواب :

وَ كَاَنَّهُ لَمْ يَقَعْ فِي بَعْضِ النُّسَخِ قَوْلُهُ وَلَا يُوْصَفُ بِهٖ وَ لِهٰذَا اِعْتَذَرَ الشَّارِحُ
اوګو ياچې نه دي واقع په بعضې نسخو كې داقول دمصنف ولايوصف به اوددې وجې نه معذرت وكړو شارح

الرَّضِيُّ وَ قَالَ وَ لَمْ يَذْكُرِ الْمُصَنِّفُ اَنَّهُ لَا يُوْصَفُ بِالضَّمِيْرِ لِاَنَّهُ تَبَيَّنَ ذٰلِكَ
رضي اووي ويل چي ذکر نه کړو مصنف چې وصف نه شي کېدي په ضمير سره خکه چې واضح کېږي دا خبره د

بِقَوْلِهٖ.
قول د مصنف نه

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره يو سوال مقدر رانقل کوي او دهغې دسوال جواب کوي

اغراض دجامي: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: د کافيې په بعضې نسخو کې **ولا يوصف به** عبارت نشته. او شيخ صاحب په شرح د کافيه کې هم دغه نسخه مخې ته ايخې ده اوليکلي دي اوهغوي په صاحب د کافيې باندې يو اعتراض وکړو چې صاحب د کافيې ته په کار وو چې هغه **ولا يوصف به** عبارت ذکر کړې وي بيا په خپله د هغې جواب ورکوي چې چونکه دا قاعده د مصنف دوروستې قاعدې **والموصوف اخص او مساو** نه معلومېږي ، خکه مصنف دا جدا نه ده ذکر کړې. بعض شارحينو په شيخ رضي صاحب باندې اعتراض کړي دي چې په کافيه کې خو **ولا يوصف به** عبارت موجود دي، او د شيخ رضي اعتراض په مصنف اوبيا دمصنف دطرف نه اعتذار دا ټول لغوه دي .

جواب: د کافيې په بعضې نسخو کې **ولا يوصف به** عبارت نه شته، او شيخ رضي همدا نسخه مخې ته ايخې وه اود کافيې شرح يې وليکله خکه دده اعتراض اواعتذار صحيح دي .

سوال: د شيخ رضي دتقرير مطابق **ولا يوصف به** والا قاعده د **والموصوف اخص او مساو** نه معلومېږي ، سوال دادې چې دا قاعده اوضابطه څنګه ددې نه معلومېږي؟

جواب: ضمير **اعرف المعارف** او **اوضح المعارف** دي که چېرته دا صفت جوړ شي نو صفت د موصوف نه اخص کېدل لازم راخي. حالانکه قاعده داده چې **والموصوف اخص او مساو** چې موصوف اخص اويا مساوي بالصفة وي

د صفت متعلق يوه قاعده:

وَ الْمَوْصُوْفُ اَخَصُّ اَوْ مُسَاوٍ اَيِ الْمَوْصُوْفُ الْمَعْرِفَةُ اَشَدُّ اِخْتِصَاصًا بِالتَّعْرِيْفِ وَ الْمَعْلُوْمِيَّةِ مِنَ الصِّفَةِ
اوموصوف يا اخص وي اويا مساوي وي يعنې معرفه زياته خاص وي په اعتبار د تعريف او د معلوميت سره د صفت نه

يَعْنِيْ اَعْرَفُ مِنْهَا لِاَنَّهُ الْمَقْصُوْدُ الْاَصْلِيُّ فَيَجِبُ اَنْ يَكُوْنَ اَكْمَلَ مِنَ الصِّفَةِ فِي التَّعْرِيْفِ اَوْ
يعنې [illegible] وي [illegible] که چې دا مقصود اصلي دي نو واجب دي چې وي اکمل د صفت نه په تعريف کې اويا

مُسَاوِيًا لَهَا لِاَنَّهُ لَوْ لَمْ يَكُنْ اَكْمَلَ مِنْهَا فَلَا اَقَلَّ مِنْ اَنْ لَا يَكُوْنَ اَدْوَنَ مِنْهَا .

مساوي ددې سره ځکه که چیرته نه وي اکمل ددې نه نوچې نه وي کم از کم ددې نه

خلاصه دمتن : صاحب د کافیې په دې عبارت کې یوه ضابطه بیانوي. چې موصوف د صفت نه اخص یا د هغې مساوي کېدل ضروري دي. بیا په دې ضابطو باندې تفریع ذکر کوي. چې د معرف باللام صفت صرف معرف باللام کیدې شي یا هغه څیز چې په درجه کې د معرف باللام سره مساوي وي. لکه اسماء مرصوله یا معرف باللام طرف ته مضاف وي، یعنې د معرف باللام دصفت علَم نه شي جوړیدې

اغراض دجامي : اي الموصوف المعرفة : په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : ستادا قاعده په حیوان ناطق سره ماته شوه. ځکه چې حیوان موصوف او ناطق صفت دي. حالانکه موصوف دحیوان نه . نه اخص دي او نه مساوي، بلکې دصفت نه عام دي په اعتبار دمصداق سره .

جواب : د موصوف نه مراد موصوف معرفه دي او حیوان نکره دي ، ځکه دا سوال نه واردیږي

اشد اختصاصا: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دا قاعده په الحیوان الناطق سره ماته شوه، ځکه چې الحیوان موصوف معرفه ده، حالانکه دا صفت نه. نه اخص ده او نه مساوي بلکې اعم ده په اعتبار دصدق سره .

جواب : داخص نه مراد اخص من حیث الصدق نه دي، بلکې مراد اشد اختصاصاً بالتعریف والمعلومیة من الصفة دي، یعنې د موصوف معرفه کیدل او ددې معلوم کیدل د صفت تعریف او معلومیت زیات دي، لکه زیدن الفاضل د زید تعریف دعلمیت د وجې نه د الفاضل نه زیات دي یا ددې مساوي او الحیوان او الناطق په دې اعتبار سره مساوي دي، ځکه چې ددواړو دالف لام سره تعریف حاصل کړې دي، ځکه دا سوال نه شي واردیدې

لانه المقصود الاصلي: په دې عبارت سره شارح د ذکر شوې قاعدې وجه بیانوي چې دصفت او موصوف نه اصلي مقصود موصوف دي لهذا موصوف دپاره ضروري دي چې دادصفت نه اکمل وي یا د موصوف سره مساوي وي، ځکه که د اکمل په ځاې اولی وي، نو د مقصود ھ

غير به دمقصود نه کم کيدل لازم شي چې دا ناجائز دي.

دمعرفې دا قسامو مراتب:

وَ الْمَنْقُوْلُ عَنْ سِيْبَوَيْهِ وَ عَلَيْهِ جُمْهُوْرُ النُّحَاةِ اَنَّ اَعْرَفَهَا الْمُضْمَرَاتُ ثُمَّ الْاَعْلَامُ ثُمَّ اَسْمَاءُ
اومنقول دسيبويه نه او په دې باندې جمهورنحويان دي چې اعرف المعارف مضمرات دي بيا اعلام بيااسماء
الْاِشَارَاتِ ثُمَّ الْمُعَرَّفُ بِاللَّامِ وَ الْمَوْصُوْلَاتُ فَبَيْنَهُمَا مُسَاوَاةٌ.
اشارات بيامعرف باللام او اسماى موصولات نوپه مينځ ددې دواړو کې مساوات.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره صاحب دکافيې دمعرفې دا قسامو مراتب بيانوي.

اغراض دجامي: شارح دجامي په دې عبارت کې د معرفې د اقسامو مراتب بيانوي، دا مرتب دامام سيبويه نه نقل دي او د جمهورو نحويانو هم دا مذهب دي. چې اعرف المعارف ضمائر دي بيا اعلام ځکه چې دعلم مدلول ذات معين او مخصوص وي، په وخت دوضع او په وخت داستعمال کې په خلاف د اسم اشارې. چې ددې مدلول په وخت دوضع کې غير معين وي داسم اشارې، معرف باللام او موصول نه، ځکه اعرف داده چې د اسم اشارې مدلول دمخاطب په نزد معلوم او معين بالقلب والعين وي او معرف باللام مدلول معلوم او معين بالقلب وي، نه بالعين، بيا اسماء اشارات، بيا معرف باللام، او اسم موصول او دا دواړه په تعريف کې مساوي دي.

په ذکر شوي قاعده باندې تفريع:

وَ مِنْ ثُمَّ اَيْ وَ مِنْ اَجَلِ الْمَوْصُوْفَ اَخَصَّ اَوْ مُسَاوٍ لَمْ يُوْصَفْ ذُو اللَّامِ اِلَّا بِمِثْلِهِ
اوددې وجې نه يعنې ددې وجې نه چې موصوف اخص اويامساوي وي نوموصوف به نه وي ذواللام مګرپه مثل
اَيْ ذِي اللَّامِ الْاُخَرِ وَ الْمَوْصُوْلِ فَاِنَّهُ اَيْضاً مُمَاثِلٌ لِذِي اللَّامِ لِمَا
ددې سره يعنې په بل ذي اللام اويا موصول سره ځکه موصول هم دا رنګې مماثل دي دذي اللام دهغه څه نه چې
عَرَفْتَ بَيْنَهُمَا الْمُسَاوَاةَ فِي التَّعْرِيْفِ نَحْوُ جَاءَنِي الرَّجُلُ الْفَاضِلُ اَوِ الرَّجُلُ الَّذِيْ كَانَ عِنْدَكَ اَمْسِ
تاپېژندلې اوپه مينځ د دواړو کې مساوات دي په تعريف کې جاءني الرجل الفاضل اويا الرجل الذي كان عندك امس اويا
اَوْ بِالْمُضَافِ اِلٰى مِثْلِهِ اَيْ مِثْلُ الْمُعَرَّفِ بِاللَّامِ بِلَا وَاسِطَةٍ نَحْوُ جَاءَنِي الرَّجُلُ صَاحِبُ الْفَرَسِ اَوْ
دمضاف دخپل مثل سره يعنې په شان دمعرف باللام بې [illegible] عې نه لکه جاءني الرجل صاحب الفرس اويا
بِوَاسِطَةٍ نَحْوُ جَاءَنِي الرَّجُلُ صَاحِبُ لِجَامِ الْفَرَسِ لِاَنَّ تَعْرِيْفَ الْمُضَافِ مُسَاوٍ لِتَعْرِيْفِ الْمُضَافِ اِلَيْهِ اَوْ
بالواسطې لکه جاءني الرجل صاحب لجام الفرس ځکه تعريف د مضاف مساوي دي [illegible] اف اليه سره اويا

اَنْقَصُ مِنْهُ عَلَى الْخِلَافِ الْوَاقِعِ بَيْنَ سِيْبَوَيْهِ وَ غَيْرِهٖ بِخِلَافِ سَائِرِ الْمَعَارِفِ فَإِنَّهَا
کم دي ددي نه بنا په هغه اختلاف چې واقع وي په مينځ دسيبويه وغيره کې په خلاف دټولومعارفوکې ځکه دا
اَخَصُّ مِنْ ذِي اللَّامِ فَلَوْ وَقَعَ اَخَصُّ نَعْتًا لِغَيْرِ اَخَصَّ فَهُوَ مَحْمُوْلٌ عَلَى الْبَدَلِ عِنْدَ
اخص دي د ذی اللام نو که چيرته واقع شي اخص نعت دغير اخص دپاره نودا محمول دي په بدل باندې په نزدد
صَاحِبِ هٰذَا الْمَذْهَبِ .
صاحب ددې مذهب

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې په دې عبارت کې په ذکر شوي قاعده **والموصوف اخص اومساوٍ** باندې تفريع کوي. چې موصوف دصفت نه اخص اويا مساوي بالصفة وي، ځکه دمعرف باللام صفت معرف باللام يا اسم موصول راوړې شي، ځکه چې موصول هم په تعريف کې د معرف باللام سره مماثل وي. نو په دې صورت کې موصوف صفت په مينځ کې مساوات شته. شارح په موصوف معرف باللام کې صفت معرف باللام مثال ورکړې دي، لکه **جاءني الرجل الفاضل** اود معرف باللام صفت اسم موصول مثال ورکړی دي لکه **جاءني الرجل الذي كان عندك امس**.

اغراض دجامي : او **بالمضاف الى مثله** صاحب دکافيې وايي، چې معرف باللام مضاف الى معرف باللام وي برابره خبره ده که دمضاف او معرف باللام په مينځ کې واسطه وي اويا نه وي. دواسطې نه کيدو مثال **جاءني الرجل صاحب الفرس** چې په دې کې دمضاف صاحب او معرف باللام الفرس په مينځ کې واسطه نشته او د فاصلې او واسطې مثال **جاءني الرجل صاحب لجام الفرس** په دې کې دمضاف صاحب او دمعرف باللام په مينځ کې لجام فاصله او واسطه ده.

لان تعريف : په دې عبارت کې شارح د معرف باللام صفت مضاف الى معرف باللام د صحيح کيدو وجه بيان کړې ده. د امام سيبويه په نزد د مضاف تعريف د مضاف اليه دتعريف سره مساوي دي او دامام مبرد په نزد د مضاف تعريف د مضاف اليه نه انقص او کم دي. لهذا که د معرف باللام صفت مضاف الى معرف باللام راوړې شي، نو دامام سيبويه په نزد به موصوف د صفت سره مساوي وي. او دامام مبرد په نزد به صفت د موصوف نه انقص او کم وي. لهذا قاعده به برقرار وي.

بخلاف سائر : د شارح ددې عبارت تعلق د **ولم يوصف ذواللام الابمثله** سره دي که معرف باللام او د موصول نه غير باقي معارف يعنې ضمائر اعلام اسماء اشارات ددې دواړو نه اخص دي

خکه چې هغه معرف باللام او د موصول صفت نه شي جوړیدې خکه چې په دې صورت کې ب
صفت د موصوف نه اخص شي

فلووقع: د شارح د دې عبارت مقصد دا دې چې که چېرته داسې وي چې اخص د غیر اخص نه
واقع وي. مثلاً موصوف معرف باللام وي او صفت مضاف الی العلم وي، نو په دې صور
کې صفت نه جوړېږي، بلکې دا به په بدل باندې محمول وي مثلاً جاءني الرجل صاحب زید

په ذکر شوي قاعدې باندې ډیو سوال جواب:

وَ إِنَّمَا الْتَزَمَ وَصْفُ بَابِ هٰذَا أَيْ بَابِ إِسْمِ الْإِشَارَةِ بِذِي اللَّامِ مِثْلُ مَرَرْتُ بِهٰذَا الرَّجُلِ مَعَ أَنَّ

او التزام یې کړي دوصف د دې باب یعني د باب د اسم اشاري په ذي اللام سره لکه مررت بهذا الرجل سره د دې

الْقِيَاسَ يَقْتَضِيْ جَوَازَ وَصْفِهِ بِذِي اللَّامِ وَ الْمَوْصُوْلِ وَ الْمُضَافِ إِلٰى أَحَدِهِمَا

چې قیاس تقاضا کوي د جواز د دې وصف په ذي اللام او موصول سره او په مضاف کې یو د دې دواړو نه د پاره د

لِلْإِبْهَامِ الْوَاقِعِ فِيْ هٰذَا الْبَابِ بِحَسْبِ أَصْلِ الْوَضْعِ الْمُقْتَضِيْ لِبَيَانِ الْجِنْسِ فَالَّذِ

هغه ابهام چې واقع وي په دې باب کې په اعتبار د اصل وضع سره چې تقاضا کوي د بیان د جنس نو هر کله چې

أُرِيْدَ رَفْعُهُ لَا يُتَصَوَّرُ بِمِثْلِهِ لِإِبْهَامِهِ وَ لَا يَلِيْقُ بِالْمُضَافِ

اراده وکړې شي د رفعې نو نه متصور کیږي په مثل د دې باندې دوجې د ابهام نه او نه دې مناسب د هغه مضاف

الْمُكْتَسِبِ التَّعْرِيْفَ مِنَ الْمُضَافِ إِلَيْهِ لِأَنَّهُ كَالْإِسْتِعَارَةِ مِنَ الْمُسْتَعِيْرِ وَ السُّؤَالِ عَنِ الْمُحْتَاجِ

سره چې حاصلیږي تعریف د مضاف الیه نه خکه دا په شان د سوال کولو دي د غریب نه او سوال دي د محتاج او

الْفَقِيْرِ فَتَعَيَّنَ ذُو اللَّامِ لِتَعَيُّنِهِ فِيْ نَفْسِهِ وَ حُمِلَ الْمَوْصُوْلُ عَلَيْهِ لِأَنَّهُ

فقیر نه نو متعین یې کړو ذو اللام د متعین کیدو نه في نفسه او حمل یې کړو موصول په دې باندې خکه چې

مَعَ صِلَتِهِ مِثْلُ ذِي اللَّامِ مِثْلُ مَرَرْتُ بِهٰذَا الَّذِيْ كَرُمَ أَيِ الْكَرِيْمِ وَ مِنْ ثَمَّ أَيْ وَ مِنْ أَجَلِ أَنَّ

دا سره د صلې نه په شان د ذي اللام دي لکه مررت بهذا الذي کرم یعني الکریم او د دې وجې نه یعني د دې وجې

الْتِزَامِ وَصْفِ بَابِ هٰذَا بِذِي اللَّامِ لِرَفْعِ الْإِبْهَامِ بِبَيَانِ الْجِنْسِ ضَعُفَ مَرَرْتُ بِهٰذَا

چې التزام د وصف د باب د هذا په ذي اللام سره د پاره د رفع د ابهام په بیان د جنس سره ضعیف دي مررت بهذا

الْأَبْيَضِ لِأَنَّهُ لَا يَتَبَيَّنُ بِهِ جِنْسُ الْمُبْهَمِ لِأَنَّ الْأَبْيَضَ عَامٌّ لَا يَخْتَصُّ بِجِنْسٍ دُوْنَ جِنْسٍ وَ حَسُنَ

الابیض خکه نه واضح کیږي په دې سره جنس مبهم خکه ابیض عام چې نه دي خاص په یو جنس سره او نه د ی

مَرَرْتُ بِهٰذَا الْعَالِمِ لِأَنَّهُ يَتَبَيَّنُ بِهِ أَنَّ الْمُشَارَ بِهِ أَنَّ الْمُشَارَ إِلَيْهِ إِنْسَانٌ بَلْ رَجُلٌ.

مررت بهذا العالم خکه چې واضح کیږي په دې سره چې مشار الیه انسان دي بلکه سړي دي

خلاصه دمتن : دلته صاحب دکافيې په مخکې بيان کړې قاعدې باندې ديو سوال جواب ورکوي او بيا يه دې باندې يو تفريع ذکر کوي. چې ددې پوره تفصيل لاندې په شرحه کې ذکر دي

اغراض دجامي : وانما التزم: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : د ذکر شوي قاعده والموصوف اخص اومساوٍ تقاضا داده چې د اسم اشارې صفت اسم اشاره . اودمعرف باللام .او دموصول او مضاف الى معرف باللام. او مضاف الى الموصول واقع کيدل صحيح کيدل په کار دي ځکه چې داسم اشارې دصفت کېدو په صورت کې په موصوف اوصفت کې مساواة دي لکه دا مساوات چې ظاهر دي ،که چيرته صفت معرف باللام يا موصول وي، نو موصوف دصفت نه اخص وي. ځکه چې ددې تعريف داسم اشارې نه انقص او کم وي لهذا ددې صفت جوړول هم جائز دي، که صفت مضاف وي معرف باللام طرف ته يا مضاف وي موصول طرف ته . نو چونکې د مضاف تعريف دمضاف اليه د تعريف نه انقص وي اوکم وي لکه داد امام مبرد مذهب دي . اويا مساوي وي. لکه داد امام سيبويه مذهب دي . نو لهذا موصوف به دصفت نه اخص وي ، اوس سوال دادې چې کله دا ټول صورتونه جائز دي او د قاعدې مطابق دي. نو بيا نحوي حضرات اسم اشاره دصفت دپاره معرف باللام ولې لازم او خاص کوي. باقي صورتونه ولې ناجائز کوي؟

جواب : په اسم اشاره کې په اعتبر داصل وضع سره ابهام وي کوم چې تقاضا کوي دجنس دبيانولو اودابهام درفع کولو اوس که چيرته ابهام رفع کړې شي ددې مثال يعني داسم شارې سره نودا داسې نه شي متصور کيدې ځکه چې داخوپه خپله مبهم دي نو دبل ابهام به څنګه لرې کړي ددې وجې نه داسم اشارې صفت اسم اشاره نه شي جوړيدې او په مضاف الى معرف باللام او په مضاف الى الموصول سره ابهام رفع کول هم غير مناسب دي، ددې وجې نه په خپله مضاف کې ابهام وي. چې خپل ابهام په مضاف اليه سره لرې کوي نو د اسم اشارې ابهام به څنګه لرې کړي؟ نو دا استعارة من المستعير د سوال کوونکي نه سوال کول . او د فقير اود محتاج سړي نه د سوال کولو په شان وي . کله چې ددې ټولو د اسم اشارې صفت جوړيدل صحيح نه وي. نو اوس به صرف معرف باللام متعين وي چې همدا به د اسم اشارې صفت جوړيږي

لتعينه في نفسه: يعنې لام داد تعريف دپاره وضع شوې دې نولهذا دا به په خپله داسم اشارې د صفت جوړيدو دپاره متعين شي او دا په جنس باندې دلالت کوي

وحمل الموصول عليه: په دې عبارت سره شارح بيان دفائدې کوي ، چې اسم موصول هم د اسم اشارې صفت جوړيدې شي ځکه چې دا په معرف باللام باندې محمول دې، ځکه چې اسم موصول سره دخپلې صلې د دې ابهام په رفع کولو کې دمعرف باللام په شان دې لهذا داهم صفت واقع کيدې شي لکه مررت بهذا الذي کرم ، نو موصول اوصله سره يوځاې شو داصفت واقع کيږي داپه منزله دالکريم معرف باللام دې .

من ثم ضعف ...انه لا يتبين به: په دې عبارت سره شارح په ما قبل دتفريع بيان کوي ، چې د معرف باللام سره داسم اشارې دصفت التزام دبيان جنس په ذريعې سره دابهام دلرې کولو دپاره دې ددې وجې نه مررت بهذا الابيض والاتركيب ضعيف دې، ځکه چې په دې سره جنس مبهم نه واضح کيږي ځکه چې ابيض عام دې داد جنس پورې خاص نه دې ليکن څه نه څه ابهام لرې شو او معلومه شوه چې دا ابيض دې اسود نه دې، ددې وجې نه دا ممتنع نه دې خو ليکن ضعيف دې او مررت بهذا العالم دا ترکيب حسن دې، ځکه چې په دې سره دا خبره واضحه شوه چې مشار اليه انسان نه بلکې رجل دې، نو ابهام من کل الوجوه ختم شو.

د عطف د دويم قسم تعريف :

اَلْعَطْفُ يَعْنِيْ اَلْمَعْطُوْفُ بِالْحَرْفِ تَابِعٌ مَقْصُوْدٌ اَيْ قُصِدَ نِسْبَتُهُ اِلٰى شَيْءٍ اَوْ نِسْبَةُ شَيْءٍ
عطف يعنې معطوف بالحرف چې تابع وي دمقصود يعنې مقصودوي نسبت ددې يوڅيزته اويانسبت ديوڅيز
اِلَيْهِ بِالنِّسْبَةِ الْوَاقِعَةِ فِي الْكَلَامِ فَقَوْلُهُ بِالنِّسْبَةِ مُتَعَلِّقٌ بِالْقَصْدِ
دې طرف ته په داسې نسبت سره چې واقع وي په کلام کې نوداقول دمصنف بالنسبة متعلق دې په هغه قصد
اَلْمَفْهُوْمِ مِنَ الْمَقْصُوْدِ مَعَ مَتْبُوْعِهِ اَيْ كَمَا يَكُوْنُ هُوَ مَقْصُوْدًا بِتِلْكَ النِّسْبَةِ يَكُوْنُ
سره چې فهميږي دمقصود نه سره دمتبوع ددې نه يعنې لکه څنګه چې وي دامقصود په دې نسبت سره نو وي به
مَتْبُوْعُهُ اَيْضاً مَقْصُوْداً بِهَا نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو فَعَمْرٌو تَابِعٌ لِاَنَّهُ مَعْطُوْفٌ عَلٰى زَيْدٍ
متبوع ددې همدارنګې مقصود په دې سره لکه جاءني زيدوعمرونوعمروتابع دې ځکه چې دامعطوف دې په زيد
قُصِدَ نِسْبَةُ الْمَجِيْءِ اِلَيْهِ بِنِسْبَةِ الْمَجِيْءِ الْوَاقِعَةِ فِي الْكَلَامِ وَ كَمَا
نوقصد کولې شي نسبت د مجيئت دې طرف ته په نسبت دهغه مجيئت سره چې واقع وي په کلام کې اولکه

أَنَّ	نِسْبَةَ	الْمَجِيْ	إِلَيْهِ	مَقْصُوْدَةٌ	كَذٰلِكَ	نِسْبَتُهُ	إِلٰى	زَيْدٍ نِ	الَّذِيْ	هُوَ	مَتْبُوْعُهُ
ځنګه چې نسبت د مجيئت دې طرف ته مقصود وي همدا رنګې نسبت د دې هغه زيد ته چې هغه متبوع وي د دې											
أَيْضاً	مَقْصُوْدَةٌ.										
همدا رنګې مقصود هم دي.											

خلاصه دمتن : صاحب د کافيې د بل تابع عطف بالحرف بيان کوي: عطف په لغت کې الاماله ده ، ويلې شي : **عطفت النخلة الى الارض**، کجهوره زمکې طرف ته ټيټه شوه ،ددې قسم تابع نوم عطف ځکه کيخودل شو ځکه چې حرف عطف خپل ما بعد والاحکم ماقبل طرف ته ټيټوي ددې دويم نوم عطف نسق هم دي دا اوددې متبوع دواړه په يونسق يعنې په يوترتيب باندې دي ، ځکه چې دواړو طرف ته د يو فعل نسبت کيږي او دواړه مقصود بالنسبة وي . د عطف بالحرف اصطلاحي معنى داده، عطف بحرف هغه تابع دي چې د نسبت نه مقصود وي سره دخپل متبوع.

اغراض دجامي : يعني المعطوف: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : العطف مبتدا او تابع خبر دي او خبر په مبتدأ باندې حمل دي او دلته حمل صحيح نه دي، ځکه چې العطف مصدر دي، چې په وصف باندې دلالت کوي او تابع اسم فاعل دي چې دا په ذات مع الوصف باندې دلالت کوي او د ذات مع الوصف حمل په يواځې وصف باندې صحيح نه دي ؟

جواب : دلته العطف مبني للمفعول دي، يعني د المعطوف په معنى سره دي او المعطوف هم په ذات مع الوصف معنى سره دي لهذا ددې حمل صحيح شو.

بالحرف: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : کله چې العطف د المعطوف په تاويل سره شو، نو تعريف د دخول د غير نه مانع نه شو دا تعريف په عطف بيان باندې هم صادقيږي ځکه چې هغه هم معطوف دي، مثلاً په اقسم بالله ابوحفص عمر کې عمر معطوف دي په ابوحفص باندې. حالانکه هغه مقصود بالنسبة نه دي بلکې بيان دي؟

جواب: په المعطوف کې الف لام عهدي دی ددې نه مراد **معطوف بالحرف** دی، مطلق **معطوف** نه دی مراد

اي قصد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: تابع په **مقصودٌ** کې ضمير مقصود طرف ته راجع دی تابع طرف ته نو اوس يې معنی داسې شوه چې عطف بحرف هغه تابع دی چې مقصود وي د هغه تابع. نو ددې نه معلومه شوه چې نفس تابع او ذات تابع مقصود وي، حالانکه داسې نه ده ځکه چې مقصود نسبت وي او ذات د تابع مقصود نه وي

جواب: دلته ضمير د تابع لره مقصود د نائب فاعل جوړول مجازاً دي، په حقيقت کې د **مقصودٌ** نائب فاعل نسبت دی، يعنې دا نعت بحال الموصوف نه دی، بلکې نعت بحال متعلق الموصوف دی اصل عبارت داسې دی: **تابعٌ مقصودٌ نسبته**، معطوف هغه تابع دی چې د هغې نسبت مقصود وي او په نسبت کې تعميم دی برابره خبره ده که د تابع نسبت يو څيز طرف ته وي لکه **زيدٌ قائمٌ و نائمٌ**، په دې کې د **نوم** نسبت **زيد** ته دی يا د بل څيز د تابع طرف ته نسبت وي لکه **جاءني زيدٌ وعمروٌ** په دې کې مجيئت نسبت **عمرو** تابع طرف ته دی.

الواقعة في الكلام: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: د مصنف په عبارت کې بالنسبة لفظ لغو دی، ځکه چې په دې صورت کې به دوه نسبتونه شي او تکرار به لازم شي. يو هغه نسبت چې شارح د **مقصودٌ** نه پس مقدر مني، چې هغه شارح په **اي قصد نسبته** سره بيان کړې دی او دويم هغه نسبت چې هغه مصنف په **بالنسبة** سره ذکر کړې دی، نو حاصل د عبارت به داسې شي چې: **العطف بالحرف تابعٌ قُصد نسبته بالنسبة**، نو په دې صورت کې **قصد النسبة بالنسبة** لازم راځي، او دا باطل دي؟

جواب: په دواړه نسبتونو کې فرق دی، هغه نسبت چې شارح مقدر منلې په قصد نسبته کې ددې نه مراد نسبت اصلي واقعي دی کوم چې د فاعل نه صادريږي کوم چې په درجه د محکي عنه کې دی او هغه نسبت کوم چې مصنف رحمه الله په په بالنسة کې ذکر کړې دی ددې نه مراد هغه نسبت دی کوم چې په کلام کې واقع کيږي کوم چې په درجه د حکايت کې نه وي تعبير او ترجمه وي په نسبت سره اصليه واقعيه نه اوس به حاصل د عبارت داسې شي چې

العطف بالحرف تابع قصد نسبته الاصلي الواقع الصادر من الفاعل بالنسبة التي ذكر في الكلام بطريق الحكاية عن النسبة الاصلية ، يعني عطف بالحرف داتابع دي چې قصد کړی شوي دي نسبت اصلي ددي چې واقع اوصادر وي دفاعل نه په هغه نسبت سره چې ذکر وي په کلام کې په طريقې دحکايت سره دنسبت اصلي نه . نو لهذا دتکرار والااشکال ختم شو

فقوله متعلق بالنسبة متعلق بالقصد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : متبادر الى الذهن اوپه ذهن کې واقع کيدونکي خبره داده چې بالنسبة جار مجرور دا متعلق شو تر متلبس پورې ځکه چې په عام طور باندې نحويان دجار مجرور متعلق هم دغه مقدر مني، نو په دې صورت کې دا خرابي لازم راځي چې د بالنسبة قيد احترازي نه جوړيږي، ځکه چې تلبس بالنسبة په ټولو توابعو کې موجود دي. حالانکه دا قيد احترازي ذي په دې کې د بدل نه غير د ټولو توابعو نه په کې احتراز دي؟

جواب : دا جار مجرور د قصد پورې متعلق دي نه د متلبس پورې.

اى كما يكون: په دې عبارت سره شارح دمتن سره دمتبوع وضاحت کوي ، چې لکه څنګه تابع مقصود وي، نو همدارنګې متبوع هم مقصود وي

نحو جاءني: په دې عبارت سره بيان د مثال کوي په جاءني زيد و عمرو کې عمرو معطوف بحرف دي او د مجيئت نسبت عمرو طرف ته مقصود دي او لکه څنګه چې عمرو طرف ته نسبت د مجيئت مقصود دي، همدارنګې زيد متبوع طرف ته هم نسبت د مجيئت مقصود دي .

د تعريف د قيودو فوائد :

فَقَوْلُهُ مَقْصُوْدٌ بِالنِّسْبَةِ اِحْتِرَازٌ عَنْ غَيْرِ الْبَدَلِ مِنَ التَّوَابِعِ لِاَنَّهَا غَيْرُ مَقْصُوْدَةٍ بَلِ الْمَقْصُوْدُ
نوداقول دمصنف چې مقصود بالنسبة احترازدي دبدل دغيرد توابع نه ځکه چې دا غير مقصود دي بلکې مقصود
مَتْبُوْعَاتِهَا وَ قَوْلُهُ مَعَ مَتْبُوْعِهٖ اِحْتِرَازٌ عَنِ الْبَدَلِ لِاَنَّهُ الْمَقْصُوْدُ دُوْنَ مَتْبُوْعِهٖ قِيْلَ
متبوعات ددې دي اوداقول چې مع متبوعه احترازدي دبدل نه ځکه مقصود متبوع نه دي چاويلي دي چې
يَخْرُجُ بِقَوْلِهٖ مَعَ مَتْبُوْعِهٖ الْمَعْطُوْفُ بِلَا وَ بَلْ وَ لٰكِنْ وَ اَمْ وَ اِمَّا وَ اَوْ لِاَنَّ الْمَقْصُوْدَ
خارجيږي په دې قول مع متبوعه سره المعطوف په لا اوپه بل اولکن اوام اواما اواوسره ځکه ددې سره مقصود په

بِالنِّسْبَةِ مَعَهَا أَحَدُ الْاَمْرَيْنِ مِنَ التَّابِعِ وَ الْمَتْبُوْعِ لَا كِلَاهُمَا وَ أُجِيْبَ بِأَنَّ الْمُرَادَ بِكَوْنِ الْمَتْبُوْعِ

نسبت سره يو د دوه امرونو د تابع او د متبوع دي نه دواړه او جواب ورکړې شوې دي چې مراد په کيدو د متبوع سره

مَقْصُوْداً بِالنِّسْبَةِ اَنْ لَّا يُذْكَرُ لِتَوْطِيَةِ ذِكْرِ التَّابِعِ وَ بِكَوْنِ التَّابِعِ مَقْصُوْداً بِالنِّسْبَةِ اَنْ

مقصود دي په نسبت سره چې ذکر نه شي د پاره د تمهيد د ذکر د تابع او په کيدو د تابع مقصود په نسبت سره چې نه

لَّا يَكُوْنُ كَالْفَرْعِ عَلَى الْمَتْبُوْعِ مِنْ غَيْرِ اِسْتِقْلَالٍ بِهٖ وَلَا شَكَّ اَنَّ الْمَعْطُوْفَ وَ الْمَعْطُوْفَ عَلَيْهِ

وي په شان د فرع په متبوع باندې په غير د استقلال نه په دې سره او نشته شک چې معطوف او معطوف عليه په

بِتِلْكَ الْحُرُوْفِ السِّتَّةِ مَقْصُوْدَانِ بِالنِّسْبَةِ مَعًا بِهٰذَا الْمَعْنٰى.

دې شپږو حروفو سره مقصود دي په نسبت سره يو ځاى په دې معنى سره

خلاصه د متن: په دې عبارت سره صاحب د کافيې په تعريف کې د قيودو فوائد بيانوي.

اغراض د جامي: فقوله: په دې عبارت سره شارح د قيودو فوائد بيانوي چې په معطوف بحرف کې تابع جنس وي چې ټولو توابعو ته شامل وي **مقصود بالنسبة** دا اول فصل دي په دې سره د بدل نه غير ټول توابع خارج شو ځکه چې دا په خپله مقصود بالنسبة نه وي بلکې د دې متبوعات مقصود وي. **مع متبوعه** دا دويم فصل دي په دې سره بدل خارج شو ځکه چې بدل سره د متبوع نه مقصود نه وي، بلکې صرف هغه مقصود وي چې د متبوع د پاره توطيه او تمهيد وي

قيل يخرج بقوله: په دې عبارت سره شارح يو اعتراض نقل کوي او په اجيب سره د دې اعتراض جواب ورکوي.

اعتراض: د معطوف بحرف تعريف جامع نه دي ځکه چې دا معطوف په لاَ، په بَلْ، په لٰكِنْ، په اِمَّا او معطوف په اَمْ او معطوف په اَوْ باندې صادق نه راځي. ځکه چې په دې حروف عاطفو سره چې کله عطف وشي نو مقصود او مراد تابع او متبوع دواړه نه وي، بلکې په دواړو کې مقصود او مراد يو وي

د معطوف په لاَ مثال لکه جاءني زيد لا عمرو. او د معطوف په بَلْ مثال لکه جاءني زيد بل عمرو،
د معطوف په اما مثال لکه جاءني زيد بل عمرو. او د معطوف په لكن مثال لکه جاءني زيد لكن عمروا لم يجئ. يا ما جاءني زيد لكن عمرا جاء. او د معطوف په اَمْ مثال لکه أزيد في الدار ام عمرو،
او د معطوف په امّا مثل لکه العدد اما زوج و امّا فرد او د معطوف په اَوْ مثال لکه جاءني زيد أو

عمرو؟

جواب: په تعریف کې د متبوع د مقصود بالنسبة کیدو مقصد دادې چې ددې ذکر د تابع د ذکر لپاره په طور د تمهید او توطیه نه وي. او د تابع د مقصود بالنسبة کیدو مقصد دادې چې دا د متبوع د پاره د فرعې په شان نه وي او غیر مستقل نه وي او کوم عطف چې په دې شپږو حروفو کې په یو حرف سره وي، هغه هم په همدې معنی سره وي، یعنې د متبوع ذکر د تابع د پاره په طور د توطیه او تمهید نه وي او د تابع ذکر د متبوع د پاره د فرعې په شان یعنې غیر مستقل نه وي. دې ته مقصود بالنسبة وایي لهذا تعریف جامع شو

د عطف د تعریف نور تفصیل:

وَ لَمَّا تَمَّ الحَدُّ بِمَا ذَكَرَهُ جَمْعًا وَ مَنْعًا اَرْدَفَهُ لِزِيَادَةِ التَّوْضِيْحِ بِقَوْلِهِ

او هر کله چې پوره شو تعریف جمعا او منعا نو ددې نه پس یې ذکر کړو د پاره د زیات وضاحت په دې قول سره چې په

يَتَوَسَّطُ بَيْنَهُ اَيْ بَيْنَ ذٰلِكَ التَّابِعِ وَ بَيْنَ مَتْبُوْعِهِ اَحَدُ الحُرُوْفِ العَشَرَةِ وَ سَيَأْتِيْ تَفْصِيْلُهَا

مینځ ددې کې یعنې په مینځ ددې تابع او په مینځ د متبوع کې یو د لسو حروفو نه او زر دې چې رابه شي تفصیل

فِيْ قِسْمِ الحُرُوْفِ اِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى مِثْلُ قَامَ زَيْدٌ وَ عَمْرٌو وَ لَمْ يَكْتَفِ بِقَوْلِهِ

ددې په قسم د حروفو کې که د الله تعالی خوښه شوه لکه قام زید و عمرو او اکتفاء یې ونه کړه په دې قول سره چې

تَابِعٌ يَتَوَسَّطُ بَيْنَهُ وَ بَيْنَ مَتْبُوْعِهِ اَحَدُ الحُرُوْفِ العَشَرَةِ لِاَنَّ الحُرُوْفَ قَدْ تَتَوَسَّطُ بَيْنَ الصِّفَاتِ مِثْلُ

مینځ ددې کې او په مینځ د متبوع کې یو د لسو حروفو نه خکه حروف کله واقع کیږي په مینځ د صفاتو کې لکه

جَاءَنِيْ زَيْدُنِ العَالِمُ وَ الشَّاعِرُ وَ الدَّبِيْرُ فَالصِّفَةُ الدَّاخِلُ عَلَيْهَا حَرْفُ العَطْفِ كَالشَّاعِرِ وَ الدَّبِيْرِ لَهَا

جاءني زیدن العالم والشاعر والدبیر نو هغه صفت چې داخل وي په دې باندې حرف عطف لکه شاعر او دبیر نو ددې د

جِهَتَانِ اِحْدٰهُمَا كَوْنُهَا صِفَةً لِزَيْدٍ تَابِعَةً لَهُ بِتَبْعِيَّةِ المَعْطُوْفِ عَلَيْهِ وَ

پاره دوه وجهې دي یو ددې نه کیدل ددې صفت د پاره د زید چې تابع وي ددې په تابع کیدو د معطوف علیه او بل

اُخْرٰهُمَا كَوْنُهَا مَعْطُوْفًا عَلَى الصِّفَةِ المُتَقَدِّمَةِ تَابِعَةً لَهَا وَ يَصْدُقُ عَلٰى هٰذِهِ الصِّفَةِ مِنْ جِهَتِهَا الاُوْلٰى

کیدل ددې نه معطوف په مخکې صفت باندې چې تابع وي ددې د پاره او صادقیږي په دې صفت د اول جهت نه

اَنَّهَا تَابِعَةٌ لِاَنَّهَا صِفَةٌ لِزَيْدٍ يَتَوَسَّطُ بَيْنَهَا وَ بَيْنَ زَيْدٍ حَرْفُ العَطْفِ لِاَنَّ

چې دا تابع دې خکه صفت دې د پاره د زید چې په مینځ ددې کې او په مینځ د زید کې حرف عطف دې خکه په

تَوَسُّطَ حَرْفِ العَطْفِ بَيْنَ شَيْئَيْنِ لَا يَلْزَمُ اَنْ يَكُوْنَ لِعَطْفِ الثَّانِيْ عَلَى الاَوَّلِ فَلَوْ

مینځ کې راتلل د حرف عطف په مینځ د دوه شیانو کې نه دي لازم چې وي د پاره د عطف د دویم په اول باندې نو که

لَمْ يَكُنْ قَوْلُهُ مَقْصُوْدًا بِالنِّسْبَةِ مَعَ مَتْبُوْعِهِ لَدَخَلَ هٰذِهِ الصِّفَةِ مِنْ جِهَتِهَا الأُوْلىٰ فِيْ حَدِّ الْمَعْطُوْفِ

چېرېه نه وو قول دده مقصود بالنسبة مع متبوعه نو داخل سوي به وي داصفت داول جهت نه په تعريف د معطوف کي

وَ هِيَ مِنْ هٰذِهِ الْجِهَةِ لَيْسَتْ مَعْطُوْفَةً فَلَمْ يَبْقَ مَانِعًا وَ قِيْلَ قَدْ جَوَّزَ الزَّمَخْشَرِيُّ وُقُوْعُ

حالانکه داصفت ددې جهت نه.نه دي معطوف نو نه شو مانع او چاويلي دي چې جائز کړي زمخشري وقوع

الْوَاوِ بَيْنَ الْمَوْصُوْفِ وَ الصِّفَةِ لِتَاكِيْدِ اللُّصُوْقِ فِيْ مَوَاضِعَ عَدِيْدَةٍ مِنَ الْكَشَّافِ وَ حَكَمَ الْمُص

دواوبه مينځ دموصوف اوصفت کې دپاره دتاکيد داتصال په ډيرو ځايونو کې په کشاف کې او حکم کړي مصنف

فِيْ شَرْحِ الْمُفَصَّلِ فِيْ مَبَاحِثِ الْإِسْتِثْنَاءِ اَنَّ قَوْلَهُ تَعَالىٰ وَ لَهَا مُنْذِرُوْنَ فِيْ قَوْلِهِ

به شرح مفصل کې په مباحثو داستثناء کې چې داقول دالله تعالی ولهامنذورون په دې قول دالله تعالی

وَ مَا اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍ اِلَّا وَ لَهَا مُنْذِرُوْنَ صِفَةٌ لِقَرْيَةٍ فَلَوْ اِكْتَفيٰ بِقَوْلِهِ تَابِعٌ

وما اهلكنامن قرية الا ولهامنذورن کې صفت دپاره دقرية نو که چيرته اکتفاء کړې وي مصنف په دې قول تابع

يَتَوَسَّطُ لَدَخَلَ فِيْهِ مِثْلُ هٰذِهِ الصِّفَةِ وَ نُقِلَ عَنِ الْمُصَنِّفِ اَنَّهُ قَالَ فِيْ

يتوسط سره نو داخل شوې به وي په دې کې په شان ددې صفت اونقل شوې دي د مصنف نه چې ده ويلي دي په

اَمَالِي الْكَافِيَةِ اَنَّ الْعَاقِلَ فِيْ مِثْلِ جَاءَنِيْ زَيْدٌ نِالْعَالِمُ وَ الْعَاقِلُ تَابِعٌ يَتَوَسَّطُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ

امالي د کافيه کې چې عاقل په دې جاءني زيد العالم والعاقل مثال کې تابع دي اوبه مينځ ددې اوبه مينځ د

مَتْبُوْعِهِ اَحَدُ الْحُرُوْفِ الْعَشَرَةِ وَ لَيْسَ بِعَطْفٍ عَلَى التَّحْقِيْقِ وَاِنَّمَا هُوَ بَاقٍ عَلىٰ مَا كَانَ عَلَيْهِ فِي الْوَصْفِيَّةِ

متبوع کې يو د لسو حروفونه اونه دي عطف په تحقيق باندې اودا باقي دي په هغه څه باندې چې وو په وصفيت

وَ اِنَّمَا حَسُنَ دُخُوْلُ الْعَاطِفِ لِنَوْعٍ مِنَ الشِّبْهِ بِالْمَعْطُوْفِ لِمَا بَيْنَهُمَا مِنَ التَّغَايُرِ

کې او ښه دي دخول د عاطف دپاره ديو قسم مشابه د معطوف سره څکه چې په مينځ ددې دواړو کې تغاير دي نو

فَلَوْ حُدَّ الْعَطْفُ كَذٰلِكَ لَدَخَلَ فِيْهِ بَعْضُ الصِّفَاتِ مَعَ اَنَّهُ لَيْسَ

که چيرته تعريف د عطف داسې شوې وي نو داخل شوې به وي په دې کې بعضې صفات سره ددې نه چې نه دي

بِمَعْطُوْفٍ وَ قَالَ بَعْضُهُمْ فِيْهِ نَظَرٌ لِاَنَّهُ الْحُرُوْفُ الْمُتَوَسِّطَةُ بَيْنَهُمَا عَاطِفَةٌ لِدَلَالَتِهَا فِيْهَا

معطوف او بعضو ويلي دي چې په دې کې نظر دي څکه حروف په مينځ ددې عاطفه دي دوجې د دلالت نه په دې

عَلىٰ مَا تَدُلُّ عَلَيْهِ فِيْ غَيْرِهَا مِنَ الْجَمْعِ وَ التَّرْتِيْبِ وَ غَيْرِ ذٰلِكَ فَفِيْ جَعْلِهَا غَيْرَ عَاطِفَةٍ

باندې په هغه څه چې دلالت کوي په غير ددې نه په جمع او ترتيب او په غير ددې نه نو په ګرځولو ددې غير عاطفه

فِي الصِّفَاتِ وَ عَاطِفَةً فِيْ غَيْرِهَا اِرْتِكَابُ اَمْرٍ بَعِيْدٍ مِنْ غَيْرِ ضَرُوْرَةٍ دَاعِيَةٍ اِلَيْهِ.

په صفاتو کې او عاطفه په غير صفاتو کې ارتکاب ديو امر بعيد دې په غير د ضرورت داعيه نه دې طرف ته

خلاصه دمتن : دعطف دتعریف نه پس دنور وضاحت اوتفصیل دپاره صاحب دکافیه وايي چې په عطف کې تابع یعني معطوف او ددې د متبوع په مینځ کې دلسو ۱۰ حروفو نه یو حرف راځي او ددې لسو ۱۰ حروفوبحث به ان شاءالله د حروفو په بحث کې راځي. لکه قام زيدٌ وعمرو

اغراض دجامي : ولماتم: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : دتعریف نه مقصود جامعیت او مانعیت او دنورو شیانو نه احتراز وي، او دا مقصد په العطف تابع مقصود بالنسبة باندې حاصل شو او مصنف ایجاز او اختصار غوره کوي لهذا وروستنې عبارت يتوسط بينه الخ .په تعریف کې ذکر کول بې فائدې او په بې فائدې څیز باندې ځان مشغولول دي اودا باطل دي.

جواب : مونږ منو چې په يتوسط الخ سره جمعاً و منعاً تعریف تردغه ځاې پورې مکمل شو. لیکن دا ضروري ده چې په تعریف کې تمام قیودات احترازي وي، په بعضې وخت کې بعضې قیودات صرف د معرف دوضاحت دپاره وي، نو دا قید هم دزیات تفصیل اودمزید وضاحت دپاره دي

قوله يتوسط بينه اي بين ذلك التابع: په دې عبارت سره شارح په بينه کې د ه ضمير دمرجع بيان کوي.

ولم يكتف: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : په عبارت کې اصل ایجاز او اختصار وي اوصاحب دکافیه خو اختصار ډېر خوښوي نو مصنف رحمه الله ته په کار وو چې د معطوف بحرف تعریف يې داسې کړې وي چې. وهو تابع يتوسط بينه و بين متبوعه احد الحروف العشرة مقصود بالنسبة يې حذف کړې وې. چې په دې سره به تعریف جامع شوي هم وي اومانع شوې هم وي او په دې سره به وضاحت هم شوې وي او اختصار به هم شوې وي ؟

جواب : مصنف رحمه الله داسې ځکه ونه کړه، ځکه چې حروف عاطفه کله صفاتو په منځ کې واقع وي لکه جاءني زيد العالم والشاعر والدبير . په دې کې شاعر او دبير دواړه صفتونه دي او

ددې په مینځ کې حرف عطف داخل دي او هغه صفت چې په هغې باندې حرف عطف داخل وي په دې کې دوه (۲) جهته او دوه (۲) حیثیته دي (۱) یا خو د زید صفت دي او د معطوف علیه په واسطې سره دا ددې تابع دي (۲) یادا په اول صفت یعنې په العالم باندې معطوف دي او ددې تابع دي ، اوپه دې صفتونو باندې دجهت اولی په اعتبار سره داخبره صادقه راځي چې داتابع ده ځکه چې دادزید صفتونه دي اوصفت تابع وي او ددې او د زید په مینځ کې حرف عطف واقع دي پس که مقصود بالنسبة مع متبوعه والاعبارت نه وي، نو دا صفات دجهت اولی په اعتبار سره معطوف بحرف تعریف کې داخلیدو حالانکه دا ددې جهت نه معطوف نه دي بلکه صفات دي نومعطوف بحرف تعریف دخول دغیر نه مانع نه پاتې کیدو ځکه په تعریف کې د مقصود بالنسبة قید اضافه کول ضروري وو.

لان توسط: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کله چې ددې صفاتو په مینځ کې حرف عطف واقع شي نو بیا دویم په اول باندې معطوف کول په کار وو، ځکه چې ددوه شیانو په مینځ کې حرف عطف دویم په اول باندې د عطف کولو دپاره وي

جواب : د دوه شیانو په مینځ کې دحرف عطف کیدو دوجې نه دا نه لازمیږي چې هغه دویم په اول باندې دعطف کولو دپاره وي، بلکې کله کله حرف عطف دنورو مقاصدو دپاره هم وي لکه دموصوف اوصفت په مینځ کې داتصال دتاکید دپاره ، لکه څنګه چې امام زمخشري رحمه الله وروسته ذکر کړي دي

وقیل: په دې عبارت سره شارح ددې خبرې تائید کوي چې په صفاتو باندې دحرف عطف داخلول جائز دي، چې حاصل یې دادې چې علامه زمخشري رحمه الله په خپل کتاب کشاف کې په ډیرو ځایونو کې دموصوف صفت په مینځ کې داتصال دتاکید دپاره دموصوف صفت په مینځ کې حرف عطف واقع کیدل جائز کړي دي ، نو ددې نه معلومه شوه چې په صفاتو باندې حرف عطف داخلول جائزدي لکه په قرآن مجید کې ذکر دي چې : ویقولون سبعة و ثامنهم کلبهم. په دې کې ثامنهم د سبعة صفت دي او په دې کې واو دتاکید داتصال دپاره دي .

وحکم المصنف : په دې عبارت سره شارح مزید وضاحت کوي چې دصفاتو په مینځ کې حرف عذف واقع کیدل جائزدي . ځکه چې مصنف په شرح مفصل کې د استثناء په بحث کې ویلي

دي چې د الله تعالى په دې قول ﴿ وما اهلكنا من قرية الا ولها منذرون ﴾ كې ولها منذرون د قرية صفت دي، واو حاليه او لها منذرون حال نه شي جوړيدې ځكه چې قريه نكره ده .ذوالحال دنكره كيدو په صورت كې دحال تقديم واجب دي حالانكه په مينځ كې واو عاطفه موجود دي لهذا كه چيرته مصنف خپل قول يتوسط بينه وبين متبوعه احد الحروف العشرة باندې اكتفاء كړي وي او مقصود بالنسبة يې نه وي ذكر كړي نوددې په شان صفات به دمعطوف بحرف په تعريف كې داخل شوي وي

تنبيه : دجامي شارح چې كوم آيت پيش كړې دي دا د سورة شعراء په آخري ركوع كې دي په دې كې واو نشته دي الا لها منذرون دي او نه مصنف رحمه الله په شرح مفصل كې دا ذكر كړي دي بلكې مصنف رحمه الله د سورة نحل دلومړنۍ ركوع آيت وما اهلكنا من قرية الا ولها كتاب معلوم، ذكر كړي اوپه دې كې واو موجود دي شايد چې دجامي دشارح نه سهوه شوي وي ځكه چې : الانسان مركب من الخطاء والنسيان . انسان مركب دي دخطا اودنسيان اوهيرې نه ، او نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي رفع عن أمتي الخطاء والنسيان . پورته شوې ده زما دامت نه خطا او نسيان (هيره) .

ونقل: په دې عبارت كې شارح دتائيد مزيد بيان كوي. يعنې تائيد در تائيد دي، چې د صفاتو په مينځ كې حرف عطف ذكر كول صحيح دي. ځكه چې په آمالي كافيه كې دمصنف نه نقل شوي ده چې په جاءني زيد العالم والعاقل كې عاقل تابع دي. ددې او د متبوع په مينځ كې دلسو (١٠) حروفو نه يو حرف واقع دي حالانكه حقيقت دادې چې دامعطوف بحرف نه دي بلكه داپه دې حالت باندې دي په كوم باندې چې دا وو يعنې صفت وو ددې نه معلومه شوه چې په صفاتو باندې دحرف عطف واقع كيدل جائز دي .

وانما حسن: په دې عبارت سره شارح په صفاتو باندې دحرف عطف دداخليدو دصحيح كيدو وجه بيانوي چې حاصل يې دادې چې په صفاتو باندې حرف عطف داخلول ددې وجې نه مستحسن او ښه دي چې صفاتو ته دمعطوفاتو سره مشابهت ډير حاصل دي. او وجه د مشابهت يې داده چې لكه څنګه چې دمعطوف او دمعطوف عليه په مينځ كې تغاير وي نو همدارنګې دموصوف اوصفت په مينځ كې هم تغاير وي. دمعطوف اومعطوف عليه په مينځ كې تغائر بالذات وي . او دموصوف اوصفت په مينځ كې تغاير په اعتبار دمفهوم سره وي نه

په اعتبار د مصداق سره

وقال بعضهم: بعضي نحويانو ويلي دي چې په تابع يتوسط بينه و بين متبوعه احد الحروف العشرة باندې د اکتفاء نه کولو چې کومه وجه بې بيان کړې ده په هغې کې اشکال دي، هغه اشکال دا دي چې هغه حروف چې کوم د صفت په مينځ کې واقع دي هغه هم حروف عاطفه دي، ځکه چې دالکه څنګه به غير صفت کې په جمع او ترتيب باندې دلالت کوي همدا رنګې په صفاتو کې هم په جمع او ترتيب باندې دلالت کوي نو په غير صفاتو کې دا عاطفه جوړول او په صفاتو کې دا غير عاطفه جوړول په غير د کوم ضرورت داعيه نه دي نو اصح بعيد ارتکاب کول دي کوم چې صحيح نه دي

جواب: بعضي نحويانو ددې اشکال جواب دا ورکړي دي چې دلته ضرورت داعيه موجود دي هغه ضرورت داعيه دا دی چې په دې معنی ترتيب او جمع باندې دلالت کول دا حروف عاطفه جوړولو دپاره کافي نه دي بلکې ددې سره دا هم ضروري ده چې معطوف او معطوف عليه دواړه مقصود بالنسبة وي او په دواړو کې د مصداق په اعتبار سره تغاير وي اتحاد نه وي او په ذکر شوو مثالونو کې اګر چې په موصوف او صفت کې ترتيب او جمع موجود ده ليکن دواړه مقصود بالنسبة نه دي او په مصداق کې هم تغاير نشته دي بلکې اتحاد دي ځکه چې دلته حروف عاطفه نه دي جوړ شوي

په ضمير مرفوع متصل باندې د عطف کولو طريقه:

وَ إِذَا عُطِفَ عَلَى الضَّمِيْرِ الْمَرْفُوْعِ لَا الْمَنْصُوْبِ وَ الْمَجْرُوْرِ الْمُتَّصِلِ بَارِزًا كَانَ اَوْ مُسْتَتِرًا لَا الْمُنْفَصِلِ

اوکله چې عطف کړې شي ضمير مرفوع نه منصوب او مجرور متصل که بارز وي او که مستتر نه منفصل نو

أُكِّدَ بِمُنْفَصِلٍ اَوَّلًا ثُمَّ عُطِفَ عَلَيْهِ وَ ذٰلِكَ لِاَنَّ الْمَرْفُوْعَ كَالْجُزْءِ مِمَّا

مؤکد کولې به شي اول او بيا به عطف کولې شي او دا ځکه چې متصل مرفوع په شان د جزء دي د هغه څه سره چې د

اتَّصَلَ بِهِ لَفْظًا مِنْ حَيْثُ اَنَّهُ مُتَّصِلٌ لَا يَجُوْزُ اِنْفِصَالُهُ وَ مَعْنًى مِنْ حَيْثُ

هغې سره متصل وي لفظاً ددې حيثيت نه چې دا متصل وي او نه وي جائز انفصال ددې او معناً ددې حيثيت نه

اَنَّهُ فَاعِلٌ وَ الْفَاعِلُ كَالْجُزْءِ مِنَ الْفِعْلِ فَلَوْ عُطِفَ عَلَيْهِ بِلَا تَاْكِيْدٍ كَانَ كَمَا

چې دا فاعل وي او فاعل په شان د جزء دي د فعل نو که چرته عطف کړې شي په دې باندې به غير د تاکيد نه لکه

لَوْ عُطِفَ عَلٰى بَعْضِ حُرُوْفِ الْكَلِمَةِ فَاُكِّدَ اَوَّلًا بِمُنْفَصِلٍ لِاَنَّهُ بِذٰلِكَ

څنګه چې عطف کړې شي په بعضي حروفو د کلمې نو مؤکد کولې به شي اول په منفصل سره ځکه په دې سره

يَظْهَرُ اَنَّ ذٰلِکَ الْمُتَّصِلَ وَ اِنْ کَانَ کَالْجُزْءِ مُنْفَصِلٌ مِنْ حَيْثُ الْحَقِيْقَةِ بِدَلِيْلِ جَوَازِ اِفْرَادِهٖ مِمَّا

ظاهريږي چې دا متصل اګر که په شان دجزء وي منفصل دحيثيت دحقيقت نه په دليل دجواز دجدا کولو دهغه څه

اتَّصَلَ بِهٖ بِتَاکِيْدِهٖ فَيَحْصُلُ لَهٗ نَوْعُ اِسْتِقْلَالٍ وَلَا يَجُوْزُ اَنْ يَّکُوْنَ الْعَطْفُ عَلٰی هٰذَا التَّاکِيْدِ لِاَنَّ

نه چې متصل وي ددې سره نوحاصليږي يو قسم استقلال اونه دي جائزچې وي عطف په دې تاکيد باندې ځکه

الْمَعْطُوْفَ فِيْ حُکْمِ الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ فَکَانَ يَلْزَمُ اَنْ يَّکُوْنَ هٰذَا الْمَعْطُوْفُ اَيْضاً تَاکِيْداً وَ هُوَ بَاطِلٌ.

معطوف په حکم دمعطوف عليه کې دی نولازم شوه چې وي دامعطوف همدارنګې تاکيد حالانکه داباطل ده

خلاصه دمتن : صاحب د کافيه يوه قاعده بيانوي . چې کله په ضمير مرفوع متصل باندې د يو لفظ عطف وشي . نو اول به ضمير مرفوع متصل سره ددې تاکيد وکړې شي . بيا به عطف کړې شي لکه ضربت انا و زيد په دې کې دزيد عطف په تاء ضمير متکلم باندې دي . ددې وجې نه ضمير مرفوع منفصل سره يعني انا سره ددې تاکيد راوړل شي او بيا عطف کړې شي

اغراض دجامي : الضمير : په دې عبارت کې شارح اشاره کړې ده چې المرفوع صفت دي د موصوف محذوف چې الضمير دي .

لا المنصوب : په دې عبارت کې شارح دې خبرې طرف ته اشاره کړي ده چې د المرفوع قيد احترازي دي . په دې سره دضمير منصوب او مجرور نه احتراز دي .

بارزاً : په دې عبارت کې شارح يو وهم لرې کوي .

وهم : وهم دادې چې شايد دضمير متصل نه مراد ضمير بارز وي ، ځکه چې مصنف يو مثال ددې ورکړې دې . نو شارح بارزاً سره دا وهم لرې کړو . چې په ضمير متصل کې تعميم دي برابره خبره ده که بارز وي او که مستتر وي .

لا المنفصل : په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې دمتصل قيد احترازي دي په دې سره دمنفصل نه احتراز دي

وذلک لان : په دې عبارت سره شارح دضمير منفصل دتاکيد وجه بيان کړې ده چې ضمير متصل چې دکوم فعل سره متصل وي . نو هغه به ددې دپاره د جُزء په شان وي لفظاً هم او معناً هم . لفظاً په داسې شان سره چې دا دفعل سره په داسې طريقې سره متصل وي چې دضمير متصل ددې فعل نه انفصال جائز نه وي . اومعنا په داسې شان سره چې داضمير متصل فاعل دي اوفاعل دفعل دپاره په منزله دجُزء وي او س که چيرته دتاکيد نه غير په دې باندې دکوم

لفظ عطف وکړې شي نو دابه داسې وي لکه دکلمې په بعضې حروفو باندې عطف وکړې شي اودا جائز نه دي ځکه چې اولاً دضمیر منصل سره ددې تاکید وکړي شي بیا په دې باندې عطف وکړي شي ځکه چې ددې تاکید سره دا واضحه شي چې دغه ضمیر اګرچې دجزء په شان دې لیکن په حقیقت کې دامنفصل دي اوددې انفصال دلیل دادې چې په وخت تاکید کې دا دځپل فعل نه جدا راوړل جائز دي نو لهذا ضمیر متصل ته به یو قسم استقلال حاصل شي اوبه دې باندې به عطف جائز شي

ولا يجوز: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: داسې هم کیدې شي چې په ضمیر متصل باندې دعطف کولو ضمیر منفصل کوم چې دتاکید دپاره راوړل شوي دي په دې باندې عطف کړې شي ددې دپاره چې په جزء دکلمه باندې دعطف کولو نه بالکلیه خلاصې وشي مثلاً په ضربت انا وزید کې په دې د زید عطف په انا ضمیر منفصل باندې کیږي

جواب: په ضمیر منفصل تاکید باندې عطف جائز نه دي. ځکه چې قاعده داده چې معطوف دمعطوف علیه په حکم کې وي، که په ضمیر منفصل تاکید باندې عطف وشي نو لازمه به شي چې معطوف هم دتاکید دپاره دي حالانکه دا باطل دي، ځکه چې مؤکد او تاکید د یو بل عین وي او په ذکر شوي مثال کې زید انا د متکلم عین نه دي

په ضمیر مرفوع منفصل باندې عطف کول

فَإِنْ كَانَ الضَّمِيْرُ مُنْفَصِلاً نَحْوُ مَا ضَرَبَ إِلَّا أَنْتَ وَ زَيْدٌ لَمْ يَكُنْ كَالْجُزْءِ لَفْظاً وَكَذَا إِنْ كَانَ مُتَّصِلاً
که چیرته ووضمیر منفصل لکه ماضرب الا انت وزید نه به وي په شان دجزء لفظاً او همدا رنګې که چیرته وو متصل
مَنْصُوْباً نَحْوُ ضَرَبْتُكَ وَ زَيْدًا لَمْ يَكُنْ كَالْجُزْءِ مَعْنًى فَلَا حَاجَةَ فِيهِمَا إِلَى التَّاكِيْدِ بِمُنْفَصِلٍ
منصوب لکه ضربتک وزیداً نه به وي په شان دجزء معناً نو نشته دي حاجت په دې کې تاکید ته په منفصل سره
مِثْلُ ضَرَبْتُ أَنَا وَزَيْدٌ وَزَيْدٌ ضَرَبَ هُوَ وَغُلَامُهُ إِلَّا أَنْ يَقَعَ فَصْلٌ بَيْنَ الضَّمِيْرِ الْمَرْفُوْعِ الْمُتَّصِلِ وَ بَيْنَ
لکه ضربت انا وزید وزید ضرب هو وغلامه مګر چې کله واقع شي فصل په مینځ دضمیر مرفوع متصل اوپه مینځ د
مَا عُطِفَ عَلَيْهِ فَيَجُوْزُ تَرْكُهُ أَيْ تَرْكُ التَّاكِيْدِ لِأَنَّهُ قَدْ طَالَ
هغه څه چې عطف شوې وي په دې باندې نو جائز دي پرېښودل ددې یعني پرېښودل دتاکید ځکه چې اوږد شوې
الْكَلَامُ بِوُجُوْدِ الْفَصْلِ فَحَسُنَ الْاِخْتِصَارُ بِتَرْكِ التَّاكِيْدِ سَوَاءٌ كَانَ الْفَصْلُ قَبْلَ
دی کلام په وجود دفصل سره نو ښه دي اختصار په پرېښودو دتاکید سره برابره خبره ده که وي فصل مخکې د

حَرْفِ الْعَطْفِ نَحْوُ ضَرَبْتُ الْيَوْمَ وَ زَيْدٌ اَوْ بَعْدَهٗ كَقَوْلِهٖ تَعَالٰى مَا اَشْرَكْنَا وَلَا اٰبَاءُنَا فَاِنَّ
حرف عطف نه وي لکه ضربت اليوم وزيدا ويا پس د حرف عطف نه لکه دا قول دالله تعالى ماأشركنا ولا آباءنا ځکه
الْمَعْطُوْفَ هُوَ اٰبَاءُنَا وَلَا زَائِدَةٌ بَعْدَ حَرْفِ الْعَطْفِ لِتَاكِيْدِ النَّفْيِ وَ اِنَّمَا قَالَ
معطوف هغه آباءنا دي اولا زائده دي پس د حرف عطف نه د پاره د تاکيد د نفي او په تحقيق سره ويلي دي مصنف
يَجُوْزُ تَرْكُهٗ فَاِنَّهٗ قَدْ يُؤَكَّدُ بِالْمُنْفَصِلِ مَعَ الْفَصْلِ كَقَوْلِهٖ تَعَالٰى
چې جائز دي پريخودل د دې ځکه چې کله مؤکد کيږي په منفصل سره. سره د فصل نه لکه دا قول دالله تعالى
فَكُبْكِبُوْا فِيْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ وَقَدْ لَا يُؤَكَّدُ وَالْاَمْرَانِ مُتَسَاوِيَانِ هٰذَا وَاعْلَمْ اَنَّ مَذْهَبَ الْبَصْرِيِّيْنَ
فكبكبوا فيها هم والغاوون او کله نه شي مؤکد کولې او دواړه امره برابر دي دا خبره زده کړه چې مذهب د بصرينو
اَنَّ التَّاكِيْدَ بِالْمُنْفَصِلِ هُوَ الْاَوْلٰى وَ يَجُوْزُوْنَ الْعَطْفَ بِلَا تَاكِيْدٍ وَلَا فَصْلٍ لٰكِنَّ عَلٰى قُبْحٍ وَ
دا دي چې تاکيد په منفصل سره اولى دي او جائز کوي عطف بې د تاکيد او بې د فصل نه لکن په قبحې باندې او
الْكُوْفِيُّوْنَ يُجَوِّزُوْنَهٗ بِلَا قُبْحٍ.
کوفيان يې جائز کوي په غير د قبحې نه

خلاصه دمتن : مخکې په ضمير مرفوع متصل باندې د عطف کولو طريقه بيان شوه . اوس په دې عبارت کې په ضمير مرفوع منصل باندې د عطف کولو طريقه بيانوي .

اغراض دجامي : فان كان الضمير : په دې عبارت کې شارح د قيودونو فائدې بيانوي چې دمتصل قيد يې د دې وجې نه ولګولو. چې ضمير مرفوع متصل نه وي بلکې منفصل وي. لکه ماضرب الا وانا وزيد نو دا لفظاً د فعل د جُزء په شان دي. لهذا په منفصل سره د دې تاکيد راوړلو ضرورت نشته او د مرفوع قيد يې ځکه ولګولو که چيرته ضمير مرفوع متصل نه وي. بلکې منصوب متصل وي لکه ضربتك وزيداً نو په دې باندې د عطف کولو د پاره تاکيد ته ضرورت نشته. ځکه چې هغه معناً د فعل د جُزء په شان نه دي. ځکه چې فعل په فاعل باندې تماميږي او مفعول فضله وي .

ضربت انا و زيد: شارح په دې عبارت سره په ضمير مرفوع متصل بارز باندې د عطف کولو مثال بيانوي

زيد ضرب هو و غلامه : شارح په دې عبارت سره په ضمير مرفوع متصل مستتر باندې د عطف کولو مثال بيانوي

الا ان يقع: په دې عبارت سره شارح د مخکښې قاعدې نه استثناء کوي چې کله د ضمير مرفوع متصل او د دې د معطوف په مينځ کې فاصله وي نو د تاکيد پريښودل په منفصل سره جائز دي برابره خبره ده که دا فاصله د حرف عطف نه مخکې وي او يا د حرف عطف نه پس وي

لانه قد طال: په دې عبارت کې شارح د ذکر شوې استثناء وجه بيانوي . چې د فصل د وجې نه په کلام کې اوږدوالې راغې او س که تاکيد بالمنفصل راسي . نو د اوږدوالي نه پس اوږدوالي به راشي حالانکه په کلام کې اختصار مطلوب دي لهذا د تاکيد په پريښودو سره اختصار مستحسن او ښه دي

سواء: په دې عبارت سره شارح يو وهم لرې کوي

وهم: وهم دا دې چې شايد د فصل نه مراد هغه فصل وي. چې کوم د حرف عطف نه مخکې وي ځکه چې مصنف رحمه الله د دې مثال ورکړې دي . نو په سواء سره شارح دا وهم لرې کړو . چې په فصل کې تعميم دي برابره خبره ده که د حرف عطف نه مخکې وي او که د حرف عطف نه وروستو وي . د حرف عطف نه د مخکې مثال ضرب اليوم و زيد . په دې کې د زيد عطف په تاء ضمير متصل باندې او اليوم فاصله ده. او د حرف عطف نه وروستو د دې مثال د الله تعالى د قول چې ﴿ما اشركنا ولا ابآءنا﴾ په دې کې آباء عطف دې د اشركنا په نا ضمير باندې او واو حرف عطف نه وروستو د نفي د تاکيد دپاره لا زائد شوې دي او هم دا فاصل دي. کوم چې د حرف عطف نه وروستو دي د دې وجې نه ضمير فصل راوړلو ته ضرورت پاتې نه شو

وانما قال: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: مصنف رحمه الله يجوز ترکه وويل نو يجب ترکه يې ولې ونه ويل؟

جواب: کله د فصل باوجود د ضمير منفصل سره تاکيد راوړې شي. مثال د الله تعالى دا قول چې ﴿فكبكبوا فيها هم والغاوون﴾ . په دې کې الغاوون عطف دې د کبکبوا په واو ضمير متصل باندې او په دې فيها فاصل موجود دي. د دې سره سره په ضمير منفصل سره يې تاکيد شوې دي. او کله کله تاکيد هم نه شي راوړې مثال لکه ضربت اليوم و زيد لهذا دواړه امره مساوي دي د دې وجې نه مصنف يجوز ترکه وويل يجب ترکه يې ونه ويل

واعلم: په دې عبارت کې شارح د ذکر شوې قاعدې په باره کې د نحوې داماماتو اختلاف سره

دمذاهبو بيانونې . دلته يول دري (۳) مذاهب دي (۱) دبصري دنحويانو مذهب . (۲) دکوفي دنحويانو مذهب . (۳) او دمصنف رحمه الله مذهب

(۱) دبصري دنحويانو مذهب : ددوي مذهب دادې چې تاکيد بالمنفصل اولی او اعلی دي او دتاکيد نه په غير عطف خو جائز دي ليکن سره د قبحې نه

(۲) دکوفي دنحويانو مذهب : ددوي مذهب دادې چې تاکيد بالمنفصل اولی دي او د تاکيد او فصل نه په غير عطف بې دقباحت نه جائز دي

(۳) دمصنف رحمه الله مذهب : دده مذهب دادې چې تاکيد بالمنفصل واجب دي . نو په دې باندې يو سوال وارديږي

سوال : تاسو ته څنګه معلومه شوه . چې د مصنف په نزد د تاکيد بالمنفصل واجب دي ؟

جواب : دا خبره مونږ ته دمفعول معه دبحث نه معلومه شوه

په ضمير مجرور باندې عطف کول :

وَ اِذَا عُطِفَ عَلَی الضَّمِيْرِ الْمَجْرُوْرِ اُعِيْدَ الْخَافِضُ حَرْفًا کَانَ اَوْ اِسْمًا لِاَنَّ اِتِّصَالَ

اوچې کله عطف کړې شي په ضمير مجرور باندې نو راواپس کولې به شي جر که حرف وي اوکه اسم څکه اتصال د

الضَّمِيْرِ الْمَجْرُوْرِ بِجَارِهٖ اَشَدُّ مِنْ اِتِّصَالِ الْفَاعِلِ الْمُتَّصِلِ بِالْفِعْلِ لِاَنَّ الْفَاعِلَ اِنْ لَمْ يَكُنْ

ضمير مجرور په جارسره دااشددي داتصال دفاعل نه چې متصل وي دفعل پورې څکه فاعل که چيرته نه وي

ضَمِيْرًا مُتَّصِلاً جَازَ اِنْفِصَالُهٗ وَ الْمَجْرُوْرُ لَا يَنْفَصِلُ مِنْ جَارِهٖ فَكُرِهَ الْعَطْفُ عَلَيْهِ

ضمير متصل نوجائزدي انفصال ددې اومجرورنه جداکيږي دخپل مجرورنه نومکروه دي عطف په دې باندې

اِذْ يَكُوْنُ كَالْعَطْفِ عَلَی بَعْضِ حُرُوْفِ الْكَلِمَةِ وَ لَيْسَ لِلْمَجْرُوْرِ ضَمِيْرٌ مُنْفَصِلٌ كَمَا يَجِيْءُ

څکه چې داپه شان دعطف دي په بعضې حروفو دکلمې باندې اونه دي دمجروردپاره ضمير منفصل لکه رابه

فِي الْمُضْمَرَاتِ حَتّٰی يُؤَكَّدَ بِهٖ اَوَّلاً ثُمَّ يُعْطَفُ عَلَيْهِ كَمَا عُمِلَ

شي به مضمراتوکې ترڅو چې مؤکدبه وي اولاً بيابه عطف کولې شي په دې باندې لکه څنګه چې يې عمل کړې

فِي الْمَرْفُوْعِ الْمُتَّصِلِ وَ فِيْ اِسْتِعَارَةِ الْمَرْفُوْعِ لَهٗ مَذِلَّةٌ وَلَا يُكْتَفٰی بِالْفَصْلِ

په مرفوع متصل کې اوپه استعاره اخستودمرفوع کې ذلت دي د مرفوع دپاره اواکتفاءبه نه شي کولې په فصل

لِاَنَّ الْفَصْلَ لَا تَاْثِيْرَ لَهٗ اِلَّا فِيْ جَوَازِ تَرْكِ التَّاْكِيْدِ بِالْمُنْفَصِلِ لِلْاِخْتِصَارِ فَحَيْثُ

باندې څکه فصل نشته تاثيردې ته مګرپه جوازدپريښودودتاکيدکې په منفصل سره دپاره داختصارنوڅنګه به

لَا يُمْكِنُ التَّاكِيْدُ بِالْمُنْفَصِلِ لِعَدَمِهِ لَا يُتَصَوَّرُ لَهُ أَثَرٌ فَكَيْفَ يُكْتَفَى

نه وي ممکن تاکید په منفصل سره دوجې دمعدوم کیدونه چې نه دي متصورددې دپاره څه اثرنوڅنګه به اکتفاء

بِهِ فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا إِعَادَةُ الْعَامِلِ الْأَوَّلِ نَحْوُ مَرَرْتُ بِكَ وَبِزَيْدٍ وَ الْمَالُ بَيْنِيْ وَبَيْنَ زَيْدٍ فَالْمَعْطُوْفُ

وشي په دې باندې نوباقي پاتې نه شو مګراعاده داول عامل لکه مررت بک وبزیداوالمال بیني وبین زیدنومعطوف

هُوَ الْمَجْرُوْرُ وَ الْعَامِلُ مُكَرَّرٌ وَ جَرُّهُ بِالْأَوَّلِ وَ الثَّانِيْ كَالْعَدَمِ مَعْنًى بِدَلِيْلِ

هغه مجروردي اوعامل مکرردي اوجردمعطوف داول وجې نه دي اودويم په شان د عدم دي معناً په دليل ددې

قَوْلِهِمْ بَيْنِيْ وَ بَيْنَكَ إِذْ بَيْنَ لَا يُضَافُ إِلَّا إِلَى الْمُتَعَدِّدِ وَ قِيْلَ جَرُّهُ بِالثَّانِيْ كَمَا

قول دعرب بیني وبینک څکه بین نه مضاف کیږي مګرمتعدد ته اوچاويلي دي چې جر ددې په دويم سره دي لکه

فِي الْحَرْفِ الزَّائِدِ فِيْ كَفٰى بِاللّٰهِ وَ هٰذَا الَّذِيْ ذَكَرْنَاهُ أَعْنِيْ لُزُوْمَ إِعَادَةِ الْجَارِ فِيْ حَالِ السَّعَةِ

په حرف زائد کې په کفی بالله اوداچې کوم موږذکرکړل يعني لزوم داعادې دجارپه حال دوسعت کې اوغوره

وَ الْإِخْتِيَارِ مَذْهَبُ الْبَصْرِيِّيْنَ وَ يَجُوْزُ عِنْدَهُمْ تَرْكُهَا اِضْطِرَاراً وَ أَجَازَ الْكُوْفِيُّوْنَ تَرْكَ الْإِعَادَةِ فِيْ

مذهب دبصرينودي اوجائزدي ددوي په نزدپريخودل دجارمجبوراً اوجائزکړي کوفيانو پريخودل داعادې په

حَالِ السَّعَةِ مُسْتَدِلِّيْنَ بِالْأَشْعَارِ.

حال دوسعت کې اودوي استدلال کوي په شعرونوسره.

خلاصه دمتن : صاحب دکافيه يوه بله قاعده بيانوي، چې کله په ضمير مجرور باندې د يو لفظ عطف وشي. نو په معطوف مجرور باندې دحرف جر اعاده ضروري ده. لکه مررت بك و بزيد په دې کې د زيد عطف په کاف دضمير باندې دي. ددې وجې نه معطوف يعني په زيد باندې حرف جار ب اعاده شوې ده.

اغراض دجامي : حرفاًکان اواسماً: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: په ضمير مجرد متصل باندې په عطف کولو باندې لکه څنګه چې په معطوف باندې خافض او جار اعاده ضروري ده همدارنګې دمضاف اعاده هم ضروري ده. مثال لکه المال بيني و بين زيد . نو مصنف رحمه الله صرف خافض ولې ذکر کړې دي اودا نور يې ولې پريخودي دي؟

جواب : په خافض کې تعمم دي برابره خبره دد که حرف وي اوکه اسم . لهذا دا مضاف ته هم شامل دي . همدارنګې غرض اومقصد د شارح جامي په علامه رضي باندې رد کول دي هغه

وايي که چيرته عامل اسم وي نو اعاده ضروري نه ده

لان اتصال الضمير: په دې عبارت سره شارح دذکر شوي قاعدې وجه بيانوي چې کله په ضمير مجرورباندې داسم عطف کول مقصودوي،نوپه معطوف باندې د جار داعادې وجه داده چې د ضمير مجرور اتصال دخپل جارسره ددې فاعل داتصال نه زيات قوي دي،کوم چې دفعل سره دي خکه چې فاعل که ضميرنه وي،نو دده دفعل نه انفصال جائزدي،اوضمير مجرور دخپل جار نه کله هم نه جدا کيږي، لهذا په ضمير مجرور باندې عطف کول مکروه دي، خکه چې دا کلمه په بعضې حروفو باندې د عطف په شان وي، خکه په معطوف باندې د جار اعاده ضروري ده.

وليس: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: داولې جائز نه ده چې دضمير منفصل سره د ضمير مجرور تاکيد راوړل شي بيا په ضمير مجرور باندې يو اسم عطف کړې شي لکه په مرفوع متصل کې چې کولې شي ؟

جواب: دضمير مجرور دپاره کوم ضمير منفصل دسره نه شته چې مخکې دضمير منفصل سره ددې تاکيد راوړل شي بيا په دې باندې ديو لفظ عطف وکړې شي.

وفي استعارة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال: داسې ولې نه شي کيدې چې د ضمير مجرور متصل دتاکيد دپاره ضمير مرفوع منفصل عاريةً اوپه سوال واخستل شي چې اولاً دضمير مجرور متصل تاکيد وشي ضمير منفصل سره ددې نه پس د يو لفظ په ضمير مجرور باندې عطف وشي؟

جواب: دضمير مجرور دپاره ضمير مرفوع منفصل عارية اوپه سوال اخستل د مرفوع ذلت دي، خکه چې مرفوع عمده دي او مجرور فضله دي او د فضله په ځاې عمده ذکر کول ددې دپاره ذلت دي، لان استعمال العمدة في الفضله ذلة العمدة . خکه چې استعمال دعمده په فضله کې داد عمده دپاره ذلت دي.

ولا يکتفي: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: لکه څنګه چې په ضمير مرفوع متصل کې دفصل په صورت کې د طوالت دويرې نه د تاکيد بالمنفصل پريخودل جائز وو، همدارنګې په ضمير مجرور متصل کې هم دفاصلې په صورت کې په معطوف باندې دجار اعاده واجب نه ده په کار. بلکې په همدې فصل باندې اکتفاء کول په کار وو؟

جواب: په اصل کې فعل خو د ضمير مرفوع منفصل قائم مقام او خلفيه وو په اصل کې خو ضمير مرفوع منفصل سره تاکيد ضروري وو. البته په فصل نه هم د اختصار کار اخستلې شي او دلته په ضمير مجرور متصل کې چې کله اصل ضمير منفصل سره تاکيد ممکن نه دي ځکه چې ضمير مجرور منفصل معدوم دي نو د دې قائم مقام او خليفه کوم چې فصل دي د دې به هم څه اثر ظاهر نه وي او په دې باندې اکتفاء کول به جائز نه وي لهذا يو صورت باقي پاتې کيږي هغه دا چې اول عامل يعني د حرف جار اعاده هم دې ته اختيارول به راشي

مررت بك وزيد: شارح په دې عبارت سره په معطوف باندې د جار د اعادې مثال بيانوي

المال بيني وبين زيد: شارح په دې عبارت سره په معطوف باندې د اسم مضاف د اعادې مثال بيانوي په دې دواړه مثالونو کې اسم معطوف مجرور دي او عامل مکرر دي

وجره بالاول: په دې عبارت سره شارح د نحويانو اختلاف بيانوي بعضې نحويان وايي چې د معطوف جر د اول عامل د وجې نه دي او دويم عامل معناً کالعدم دي. د دې دليل د عربو دا قول دي چې بيني وبينك، ځکه چې بين مضاف دي متعدد طرف ته که چيرته د معطوف جر د دويم عامل د وجې نه وي او هغه معناً کالعدم نه وي. نو لازم به شي چې بين غير متعدد طرف ته مضاف دي او دا جائز نه دي.

وقيل جرة: او بعضې نحويان وايي چې د معطوف جر د دويم عامل د وجې نه دي. مثال لکه په کفی بالله کې با زائده ده ليکن د دې باوجود د لفظ د الله جر د باء د وجې نه دي

وهذا: په دې عبارت کې هم شارح بيان د اختلاف کړي کله چې په ضمير مجرور باندې د يو اسم عطف کول مقصود وي، نو په معطوف باندې د جار د اعادې د لزوم په باره کې د نحويانو اختلاف دي. دلته دوه مذهبه دي: (١) د بصرې د نحويانو مذهب. (٢) د کوفې د نحويانو مذهب

(١) د بصرې د نحويانو مذهب: د دوي مذهب دا دې چې په کلام منثور. يعنې نثر کلام کې په معطوف باندې د جار اعاده لازمه ده او په کلام منظوم، يعنې په منظم کلام کې اعاده لازم نه ده.

(٢) د کوفې د بصريانو مذهب: د دوي مذهب دا دې چې په کلام منثور کې هم معطوف باندې د جار اعاده لازم نه ده. دوي د اشعارو نه استدلال کوي او وايي. چې کله په اشعارو کې په معطوف باندې د جار اعاده لازمه نه ده. نو په نثر کلام کې هم لازم نه ده

يو سوال او د هغې جواب:

فَإِنْ قِيلَ كَيْفَ جَازَ تَأْكِيدُ الْمَرْفُوعِ الْمُتَّصِلِ فِي نَحْوِ جَاءُونِي كُلُّهُمْ وَ الْإِبْدَالُ مِنْهُ نَحْوُ أَعْجَبَنِي

كه چيرته څوك ووايي چې څنګه جائز دي تاكيد د مرفوع متصل په جاءوني كلهم كې او ابدال ددې نه لكه اعجبني

جَمَالُكَ مِنْ غَيْرِ شَرْطِ تَقَدُّمِ التَّأْكِيدِ بِالْمُنْفَصِلِ وَ جَازَ أَيْضاً تَأْكِيدُ الضَّمِيرِ الْمَجْرُورِ فِي نَحْوِ مَرَرْتُ بِكَ

جمالك په غير د شرط د تقديم د تاكيد په منفصل باندې او جائز دي همدارنګې تاكيد د ضمير مجرور په مررت بك

نَفْسِكَ وَالْإِبْدَالُ مِنْهُ نَحْوُ عَجِبْتُ بِكَ جَمَالِكَ مِنْ غَيْرِ إِعَادَةِ الْجَارِ وَلَمْ يَجُزِ الْعَطْفُ فِي الْأَوَّلِ إِلَّا بَعْدَ

نفسك او ابدال ددې نه لكه عجبت بك جمالك په غير د اعادې د جار نه او نه دي جائز عطف په اول باندې مګر پس

التَّأْكِيدِ بِالْمُنْفَصِلِ وَ فِي الثَّانِي إِلَّا مَعَ إِعَادَةِ الْجَارِ قُلْنَا التَّأْكِيدُ عَيْنُ الْمُؤَكَّدِ وَ الْبَدَلُ فِي

د تاكيد نه په منفصل سره او نه په دويم كې مګر سره د اعادې د جار نه مونږ وايو چې تاكيد عين مؤكد دي. وبدل په

الْأَغْلَبِ إِمَّا كُلُّ الْمَتْبُوعِ أَوْ بَعْضُهُ أَوْ مُتَعَلِّقُهُ وَ الْغَلَطُ قَلِيلٌ نَادِرٌ فَهُمَا لَيْسَا

اغلب كې يا كل دي د متبوع او يا بعض دي ددې نه او يا متعلق دي ددې او بدل غلط كم او نادر دي نو دا دواړه نه

بِأَجْنَبِيَّيْنِ لِمَتْبُوعِهِمَا وَ لَا مُنْفَصِلَيْنِ عَنْهُ لِعَدَمِ تَخَلُّلِ فَاصِلٍ بَيْنَهُمَا وَ

دي اجنبي د خپل متبوع د پاره او نه جدا د خپل متبوع نه دوجې د عدم فاصلې نه په مينځ ددې دواړو كې او په

بَيْنَ مَتْبُوعِهِمَا فَلَا حَاجَةَ فِي رَبْطِهِمَا إِلَى مَتْبُوعِهِمَا إِلَى تَحْصِيلِ مُنَاسَبَةٍ زَائِدَةٍ

مينځ د متبوع ددې دواړو كې نو نشته دي حاجت په ربط ددې دواړو كې متبوع ته په تحصيل د مناسبت زائده په

بِخِلَافِ الْعَطْفِ فَإِنَّ الْمَعْطُوفَ يُغَايِرُ الْمَعْطُوفَ عَلَيْهِ وَ يَتَخَلَّلُ بَيْنَهُمَا الْعَاطِفُ فَلَا بُدَّ

خلاف د عطف څكه د معطوف مغاير معطوف عليه دي او واقع دي په مينځ ددې دواړو كې عاطف نو نشته دي

فِيهِ مِنْ تَحْصِيلِ مُنَاسَبَةٍ بَيْنَهُمَا بِتَأْكِيدِ الْمُتَّصِلِ بِالْمُنْفَصِلِ فِي

خلاصي په دې كې د تحصيل د مناسبت نه په مينځ ددې دواړو كې په تاكيد د متصل سره په منفصل باندې په

الْمَرْفُوعِ وَ بِإِعَادَةِ الْجَارِ فِي الْمَجْرُورِ لِيَخْرُجَ الْمُتَّصِلُ الْمَرْفُوعُ عَنْ صَرَافَةِ الْإِتِّصَالِ وَ

مرفوع كې او په اعادې د جار سره په مجرور كې ددې د پاره چې خارج شي متصل مرفوع صرف د اتصال نه او

يُنَاسِبُ الْمَعْطُوفَ عَلَيْهِ بِتَأْكِيدِهِ بِالْمُنْفَصِلِ وَ قَوِيَ مُنَاسَبَةُ الْمَجْرُورِ بِانْضِمَامِ الْجَارِ

مناسب شي معطوف عليه په تاكيد د دې سره په منفصل سره. وقوي شي په مناسبت د مجرور سره په يو ځای

إِلَيْهِ كَمَا فِي الْمَعْطُوفِ عَلَيْهِ.

كولو د جار د دې سره لكه څنګه چې په معطوف عليه كې دي

خلاصه د متن: په دې عبارت كې يو اعتراض مقدر نقل كوي او د هغې جواب وركوي

اغراض دجامي: فان قيل سره دې عبارت سره شارح يو اعتراض رانقل کوي او په قلنا سره ددې اعتراض جواب ورکوي

اعتراض: څه وجه ده چې کله په ضمير مرفوع متصل باندې يو اسم عطف شي، نو اول ددې تاکيد په ضمير منفصل سره ضروري دي، ليکن که دضمير مرفوع متصل په يو اسم سره تاکيد وشي نو هلته اول په ضمير منفصل سره تاکيد ضروري نه دي، حالانکه هلته هم تاکيد بالمنفصل ضروري دي، لکه په جاءوني کلهم کې واؤ ضمير مرفوع متصل بارز مؤکد دي او کلهم ددې تاکيد دي، نو د کلهم دتاکيد نه مخکې هم په ضمير منفصل سره تاکيد کيدې شي داسې کيدل په کار وو چې جاءوني هم کلهم، همدارنګې که چيرته دضمير مرفوع متصل نه ديو اسم نه بدل جوړ شي، نو دبدل نه مخکې ضمير منفصل سره تاکيد په کار دي، لکه اعجبتني جمالك په دې مثال کې جمالك د اعجبتني دتاء ضمير مرفوع متصل مخاطب نه بدل دي، نو اولنې دضمير منفصل سره تاکيد وشو، بيا بدل راوړې شوې وي او داسې ويلې شوې وي چې اعجبتنى انت جمالك، حالانکه داسې ونه شوه.

همدارنګې چې کله په ضمير مجرور متصل باندې عطف وشي، نو په معطوف باندې د جار اعاده ضروري ده ليکن که ضمير مجرور متصل په يو اسم سره تاکيد وشي، نو په تاکيد باندې دحرف جار اعاده ضروري نه ده، حالانکه په کار وه لکه مررت بك نفسك نفسك تاکيد دي، په دې باندې دحرف جار اعاده نه ده حالانکه بنفسك په کار وو.

همدارنګې که دضمير مجرور متصل نه بدل جوړ کړې شي نو په بدل باندې دحرف جار اعاده کيدل په کار ده . حالانکه داسې نه کيږي مثال لکه عجبت بك جمالك جمالك د کاف ضمير نه بدل دي په دې باندې دحرف جار اعاده کيدل په کار وه بجمالك په کار وو دعطف په صورت کې تاکيد بالمنفصل ضروري کيدل اود تاکيد او دبدل په صورت کې تاکيد بالمنفصل نه ضروري کيدل ترجيح بلا مرجح ده، ځکه چې لکه څنګه چې عطف د توابعو نه دي همدارنګې تاکيد اوبدل هم دقبيلې دتوابعو نه دي نو آخر په فرق کې څه وجه ده ؟

جواب: په دې کې د فرق وجه داده چې تاکيد د مؤکد عين وي او بدل عام طور سره د متبوع کُل اويا ددې بعض يا ددې متعلق وي، او بدل الغلط د خپل متبوع نه مغائر کيدل مضر نه دي ځکه چې دا د ناشنا کيدو د وجې نه . اعتبار د درجې نه ساقط دي والنادر ساقط عين مرتبة

الاعتبار اذ لا حکم للنادر، او نادر دا ساقط دي د عین مرتبې د اعتبار نه ځکه چې نه دي حکم د نادر دپاره لهذا تاکید او بدل دخپل متبوع دپاره اجنبي نه وي او نه ددې نه جدا وي. ځکه چې ددې او ددې د متبوع په مینځ کې فاصله نه وي لهذا داد متبوع سره دربط ورکولو دپاره د څه زیاتي مناسبت ضرورت نشته، په خلاف د عطف چې معطوف، د معطوف علیه نه مغائر وي، او ددې په مینځ کې په عاطف سره فاصله وي.

لهذا معطوف ته د معطوف علیه سره د ربط ورکولو دپاره د زیات مناسبت حاصلولو ضرورت دي او هغه دادې چې ضمیر مرفوع منفصل سره د ضمیر متصل تاکید راوړې شي ددې دپاره چې ضمیر مرفوع متصل د اتصال محض نه ووځي او ضمیر منفصل سره مؤکد شي او د معطوف سره مناسب شي او همدارنګې په ضمیر مجرور کې د جار اعاده کولې شي ددې دپاره چې د جار اعادې سره د مجرور مناسبت قوي دي په مجرور اول یعنې په معطوف علیه سره.

معطوف د معطوف علیه په حکم کې کیدل :

وَ الْمَعْطُوْفُ فِيْ حُكْمِ الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ فِيْمَا يَجُوْزُ لَهُ وَ يَمْتَنِعُ
اومعطوف په حکم د معطوف علیه کې وي په هغه امورو کې چې جائزوي د معطوف علیه د پاره اومنع دي په
مِنَ الْاَحْوَالِ الْعَارِضَةِ لَهُ نَظَراً إِلٰى مَا قَبْلَهُ بِشَرْطِ اَنْ لَّا يَكُوْنَ مَا
هغه احوالو کې چې عارض وي معطوف علیه ته په نظر کولو سره ماقبل ددې ته په دې شرط چې نه وي هغه چې
يَقْتَضِيْهَا مُنْتَفِيًا فِي الْمَعْطُوْفِ وَ إِنَّمَا قُلْنَا مِنَ الْاَحْوَالِ الْعَارِضَةِ لَهُ نَظَرًا إِلٰى مَاقَبْلَهُ اِحْتِرَازاً
تقاضا کوي منتفي اومونږ وویل چې هغه احوال چې عارض وي دې ته په نظر کولو سره ماقبل ددې ته نو دا احتراز
عَنِ الْاَحْوَالِ الْعَارِضَةِ لَهُ مِنْ حَيْثُ نَفْسِهٖ كَالْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَالتَّعْرِيْفِ وَالتَّنْكِيْرِ وَالْاِفْرَادِ وَالتَّثْنِيَةِ وَالْجَمْعِ فَاِنَّ
دي د احوال عارضه نه په اعتبار د ذات سره لکه اعراب او بناء او تعریف او تنکیر او افراد او تثنیه او جمع ځکه
الْمَعْطُوْفَ فِيْهَا لَيْسَ فِيْ حُكْمِ الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ وَ اِنَّمَا قُلْنَا بِشَرْطِ اَنْ لَّا يَكُوْنَ مَا
معطوف په دې کې نه دي په حکم د معطوف علیه کې او مونږ وویل چې په دې شرط چې نه وي هغه څه چې
يَقْتَضِيْهَا مُنْتَفِيًا فِي الْمَعْطُوْفِ اِحْتِرَازاً عَنْ مِثْلِ قَوْلِنَا يَا رَجُلُ وَ الْحَارِثُ فَاِنَّ الْحَارِثَ
تقاضا یې کوي منتفي په معطوف کې دا احتراز دي په مثل د قول زمونږ کې چې یا رجل والحارث ځکه الحارث
مَعْطُوْفٌ عَلَى الرَّجُلِ وَ لَيْسَ فِيْ حُكْمِهٖ مِنْ حَيْثُ تَجَرُّدِهٖ عَنِ اللَّامِ فَاِنَّ مَا يَقْتَضِيْ تَجَرُّدَهٗ
عطف دي په الرجل او نه دي په حکم ددې کې د حیثیت د خالي والي د لام نه ځکه هغه څه چې تقاضا کوي د خالي

عَنِ اللَّامِ هُوَ اِجْتِمَاعُ اللَّامِ وَ حَرْفِ النِّدَاءِ وَ هُوَ مَفْقُوْدٌ فِي الْمَعْطُوْفِ وَ أَمَّا نَحْوُ رُبَّ شَاةٍ وَ سَخْلَتِهَا

والي دلام نه هغه اجتماع دلام اودحرف نداء ده اودا مفقود دي په معطوف کې اوهرچې رب شاة وسخلتها دي نودا په

فَبِتَقْدِيْرِ التَّنْكِيْرِ لِقَصْدِ عَدَمِ التَّعْيِيْنِ أَيْ رُبَّ شَاةٍ وَ سَخْلَةٍ لَهَا أَوْ مَحْمُوْلٌ عَلٰى نَكَارَةِ الضَّمِيْرِ

تقدير دتنکير سره دقصد دعدم تعيين دوجې نه يعني رب شاة وسخلة لها اويا محمول وي په نکارت دضمير باندې

كَرُبَّهُ رَجُلًا عَلَى الشُّذُوْذِ أَيْ رُبَّ شَاةٍ وَ سَخْلَةِ شَاةٍ وَ كَذَا الْمَعْطُوْفُ فِيْ حُكْمِ الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ فِيْ أَحْوَالٍ

لکه ربه رجلا بنابر شذوذ يعني رب شاة وسخلة شاة او همدا رنګې معطوف په حکم دمعطوف عليه کې په احوال

عَارِضَةٍ لَهُ بِالنَّظَرِ إِلٰى نَفْسِهِ وَ غَيْرِهِ اِنْ كَانَ الْمَعْطُوْفُ مِثْلَ الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ فَلِذَا

عارضه کې ددې دپاره په نظر کولو سره ذات اوغير ذات ته که چيرته وي معطوف په شان دمعطوف عليه نو ددې

وَجَبَ بِنَاءُ الْمَعْطُوْفِ فِيْ نَحْوِ يَازَيْدُ وَ عَمْرُو لِأَنَّ ضَمَّ زَيْدٍ بِالنَّظَرِ إِلٰى حَرْفِ النِّدَاءِ وَ إِلٰى

وجې نه واجب دي بناء دمعطوف په يازيد وعمرو مثال کې ځکه ضمه د زيد په نظر کولو سره حرف نداء ته اوبه

كَوْنِهِ مُفْرَدً مَعْرِفَةً فِيْ نَفْسِهِ وَ عَمْرٌو مِثْلُ زَيْدٍ فِيْ كَوْنِهِ مُفْرَدًا مَعْرِفَةً وَامْتَنَعَ

کيدو ددې کې مفرد معرفه په خپل ذات کې اوعمرو په شان د زيد دي په کيدو ددې کې مفرد معرفه اوممتنع دي

بِنَاؤُهُ فِيْ يَا زَيْدُ وَ عَبْدَاللّٰهِ فَإِنَّ عَبْدَاللّٰهِ لَيْسَ مِثْلَ زَيْدٍ فَإِنَّ زَيْداً مُفْرَدٌ مَعْرِفَةٌ وَعَبْدَاللّٰهِ مُضَافٌ.

بناء ددې په يازيد وعبدالله کې ځکه عبدالله نه دي په شان د زيد ځکه زيداً مفرد او معرفه ده او عبدالله مضاف دي

خلاصه دمتن : صاحب دکافيې دعبارت حاصل دادې چې دمعطوف عليه هغه احوال چې هغه ده ته د ما قبل په اعتبار سره عارض وي. په دې احوالو کې معطوف دمعطوف عليه په حکم کې وي، يعني هغه امور چې دمعطوف عليه دپاره جائز وي. نو هغه به دمعطوف دپاره هم جائز دي او کوم امور چې دمعطوف عليه دپاره متمنع وي. نو هغه به دمعطوف دپاره هم ممتنع وي، په دې شرط سره چې په معطوف کې هغه څيز منتفي نه وي کوم چې په معطوف عليه کې د هغه احوالو تقاضا کوله.

اغراض دجامي : فيما يجوز له ويمتنع: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : ستاسو قاعده منقوضه اوماته ده په جاءني موسى وزيد سره ځکه چې په دې کې معطوف د معطوف عليه په حکم کې نه دي په معطوف عليه کې اعراب تقديري او په معطوف کې لفظي دي لکه په جاءني هذا وزيد کې دمعطوف عليه حکم مبني او دمعطوف حکم معرب دي؟

جواب : معطوف د معطوف عليه په حکم کې د کېدو مطلب دا دې چې کوم امور په معطوف عليه کې جائز وي هغه به په معطوف کې هم جائز وي او کوم امور چې په معطوف عليه کې ممتنع وي نو هغه به په معطوف کې هم ممتنع وي مثلاً لکه په **جاءني زيد و عمرو** کې په نظر کولو سره ما قبل **جاءني** ته رفع جائز او نصب ممتنع دي. نو په عمرو معطوف کې به هم رفع جائز او نصب ممتنع وي

من الاحوال العارضة له : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : ذکر شوي قاعده منقوضه او ماته ده په **جاءني انسان و بقر** سره دلته معطوف د معطوف عليه په حکم کې نه دي. په **فيما يجوز له و يمتنع** کې ځکه چې نطق دانسان د پاره جائز دي ليکن د بقر او غوا د پاره ممتنع دي نو معطوف د معطوف عليه په حکم کې نه شو؟

جواب : د **ما يجوز له و يمتنع له** نه مراد هغه احوال دي چې کوم معطوف عليه ته عارض دي په نظر کولو سره ما قبل ته او نطق دا معطوف عليه د انسان په عوارضو کې نه دي. بلکې د انسان په ذاتياتو کې دي. لهذا په دې کې به معطوف د معطوف عليه په حکم کې نه وي.

وانما قلنا: په دې عبارت کې شارح د **من الاحوال** د قيد فائده بيانوي. چې موږ دا قيد د يو سوال مقدر جواب دي

سوال : ستاسو قاعده ماته شوه په اعراب بناء تعريف و تنکير سره، ځکه چې دا د معطوف عليه د احوالو د عوارضو نه دي ليکن په دې عوارضو کې معطوف د معطوف عليه په حکم کې نه وي. لکه په **جاءني هذا و عمرو** کې **هذا** مبني او **عمرو** معرب دي؟

جواب : موږ د **من الاحوال العارضة له نظر الى ما قبله** قيد ونږولو او په دې سره مو د دې سوال جواب ورکړو. چې دا قيد احترازي دي په دې سره د هغه احوالو نه احتراز دي چې کوم معطوف عليه ته د خپل ذات د وجې نه عارض وي. لکه اعراب، بناء، تعريف او تنکير وغيره. ځکه چې په دې احوالو کې معطوف د معطوف عليه په حکم کې نه وي

وانما قلنا بشرط : په دې عبارت سره شارح د **بشرط ان لا يكون** د قيد فائده بيانوي. چې دا قيد هم د يو سوال مقدر جواب دي

سوال : ستاسو قاعده ماته شوه په **يا رجل** او په **والحارث** کې په **الحارث** سره ځکه چې د معطوف

عليه حكم تجرد عن اللام دي په نظر كولو سره ماقبل ته ددې وجې نه چې الحارث معرف باللام دي؟

جواب: مونږ دا قيد ځکه ولږولو چې د هغه الحارث نه احتراز وشي كوم چې په يا رجل والحارث كې واقع دي، ځکه چې الحارث په رجل باندې معطوف دي او د لام نه دخالي كيدو د وجې نه ددې په حكم كې نه دي، ځکه چې د لام نه خالي كيدو چې كومه تقاضا په رجل كې ده هغه په الحارث كې منتفي او منفقود ده او هغه مقتضى الف لام د يا، سره جمع كيدل دي.

وامانحو: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي:

سوال: ستاسو قاعده په رب شاة و سخلتها (سخلة د سين په فتحې اودخاء معجمې په سكون سره ، دګډې هغه بچي چې دڅلورو (۴) مياشتو وي) سره ماته شو ځکه چې په دې كې معطوف عليه يعنې شاة حال ددې نكره كيدل دي او په مقتضى دحال يعنې په رُبّ سره ددې مجرور كيدل دي، ځکه چې د رُبّ مدخول نكره كيدل دي او دمقتضى دحال په رب سره ددې مجرور كيدل دي، ځکه چې د رب مدخول نكره وي او دا مقتضى په معطوف سخلتها كې موجود دي، ليكن ددې باوجود د سخلتها نكره نه ده ، بلكې ضمير طرف ته دمضاف كيدو د وجې نه معرفه ده.

جواب: شارح د جامي ددې سوال دوه (۲) جوابه وركړي دي:

جواب (۱): **فبتقدير**: په دې سره شارح اول جواب ذكر كوي. سخلتها په اضافت عهد ذهني باندې محمول دي او اضافت عهد ذهني دتعريف فائده نه وركوي، يعنې اګر چې ضمير معرفه وي او كوم څيز چې دې طرف ته مضاف دي هغه معرفه شي، ليكن دلته سخلة دمعينې قصد نه دي شوې ځکه چې اضافت عهد ذهني دتعريف فائده نه وركوي لهذا لكه څنګه چې معطوف عليه يعنې شاة نكره ده همدارنګې معطوف يعنې سخلتها هم نكره ده، معنى يې داده چې رب شاة و سخلتها لها.

جواب (۲): **او محمول**: په دې عبارت سره شارح دويم جواب ذكر كوي سخلتها داپه ربه رجلاً په شان نكاره په ضمير باندې محمول دي چې ددې مقصد دادې چې د سخلتها ضمير شاة مذكوره طرف ته راجع نه دي، بلكې مطلق شاة طرف ته راجع دي، نو لكه څنګه چې معطوف

علیه نکره ده همدارنګې معطوف هم نکره ده . نوتقدیر د عبارت داسې شو چې: رب شاة و سخلة شاة، لیکن دا حمل په شذوذ دي ځکه چې عام طور سره ضمیر بعینه سابق طرف ته راجع کیږي.

وکذا المعطوف: په دې عبارت کې شارح یو ضابطه اوقاعده بیانوي چې د معطوف علیه هغه احوال چې هغه د ده دته خپل ذات په لحاظ سره عارض دي او هغه احوال چې هغه ته د غیر یعنې دما قبل په لحاظ سره عارض وي، نو په دې احوالو کې هم معطوف دمعطوف علیه په حکم کې وي، په دې شرط چې په افراد اوتعریف کې معطوف دمعطوف معطوف علیه په شان وي لکه یا زیدو عمرو. په دې کې زید مبنی برضمه دي او ددې ضمه دحرف نداء په اعتبار سره ده کوم چې ددې ما قبل دي او په خپله د مفرد معرفه کیدو د وجې نه هم او عمرو مفرد معرفه کیدو کې د زید په شان دي لهذا دا هم مبنی برضمه دي او یا زید و عبدالله کې عبدالله مبنی بر ضمه ویل ممتنع دي، ځکه چې عبدالله اګر چه معرفه ده لیکن په مفرد کې د زید په شان نه دي ځکه چې زید هم مفرد دي او هم معرفه او عبدالله مضاف دي .

په ذکر شوې قاعده باندې تفریع :

وَ مِنْ ثَمَّ أَيْ وَ مِنْ اَجَلِ اَنَّ الْمَعْطُوْفَ فِيْ حُكْمِ الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ فِيْمَا يَجُوْزُ وَ يَمْتَنِعُ لَمْ

اوددې وجې نه یعنې ددې وجې نه چې معطوف په حکم دمعطوف علیه کې په هغه صورت کې چې جائزاو

يَجُزْ فِيْ تَرْكِيْبِ مَا زَيْدٌ بِقَائِمٍ اَوْ قَائِماً وَلَا ذَاهِبٌ عَمْرٌو اِلَّا الرَّفْعُ فِيْ ذَاهِبٍ اِذْ لَوْ نُصِبَ اَوْ

ممتنع وي نونه دي جائزپه مازید بقائم او قائماولا ذاهب عمروترکیب مګر رفع په ذاهب کې ځکه که چیرته منصوب

خُفِضَ لَكَانَ مَعْطُوْفاً عَلٰى قَائِمٍ اَوْ قَائِماً فَيَكُوْنُ خَبَراً عَنْ زَيْدٍ وَ هُوَ مُمْتَنِعٌ لِخُلُوِّهٖ عَنِ

کړې شي اویامجرورنووې به معطوف په قائم اوقائماًباندې نووې به خبر د زیدنه اوهغه ممتنع دخالي والي د

الضَّمِيْرِ الْوَاقِعِ فِي الْمَعْطُوْفِ عَلَيْهِ الْعَائِدِ اِلٰى اِسْمِ مَا فَتَعَيَّنَ الرَّفْعُ عَلٰى اَنْ يَكُوْنَ خَبَراً

ضمیرنه چې واقع وي په معطوف علیه کې چې راجع وي اسم دماطرف ته نومتعین شوه رفع په دې بناء چې وي

مُقَدَّمًا عَلَى الْمُبْتَدَاِ وَ هُوَ عَمْرٌو وَ يَكُوْنُ مِنْ قَبِيْلِ عَطْفِ الْجُمْلَةِ عَلَى الْجُمْلَةِ وَلَا مَانِعَ

به خبرمقدم په مبتداء باندې اوهغه عمرودي اووي به دقبیلې د عطف دجملې په جملې باندې اونشته څه مانع

مِنْهُ.

لهٔ دې نه

خلاصه دمتن : په دې عبارت کښې په ذکر شوي قاعدې باندې تفريع ذکر کوي

اغراض دجامي : په دې عبارت کښې شارح په ما قبل باندې د تفريع بيان کوي ځکه چې معطوف د معطوف عليه په حکم کښې دي. ځکه چې **ما زيد بقائم ولا ذاهب عمر** او **ما زيد قائما ولا ذاهب عمرو** کښې په **ذاهب** باندې رفع متعين ده په دې باندې نصب او جر جائز نه دي ځکه چې که چيرته دا منصوب وويلې شي، نو ددې عطف به په **قائماً** باندې وي . او که چيرته مجرور وويلې شي نو ددې عطف به په **قائماً** باندې وي او دا په واسطه دعطف سره به د **زيد** خبر جوړ شي حالانکه دا ممتنع دي ځکه چې معطوف عليه په **قائم** يا **قائماً** کښې خو ضمير دي چې کوم د ما اسم زيد طرف ته راجع دي او معطوف د **ذاهب** د ضمير نه خالي دي ځکه چې ددې عطف په **قائماً** باندې ممکن نه دي. لهذا په **ذاهب** باندې دخبر مقدم په بناء سره رفع متعين ده. **ذاهب** خبر مقدم او عمرو مبتداء مؤخر ده او دا عطف دجملې په جملې باندې دي او ددې نه هيڅ څيز مانع نشته

د يو سوال مقدر جواب :

وَ لَمَّا كَانَ لِقَائِلٍ اَنْ يَقُوْلَ هٰذِهِ الْقَاعِدَةُ مُنْتَقِضَةٌ بِقَوْلِهِمْ اَلَّذِيْ يَطِيْرُ فَيَغْضَبُ زَيْدُ نِ

اوکله چې جائزوي دقائل دپاره چې ووايي داقاعده ماته ده په دې قول دعربو چې الوزي نوغصه کوي زيد هغه

الذُّبَابُ فَاِنَّ يَطِيْرُ فِيْهِ ضَمِيْرٌ يَعُوْدُ اِلَى الْمَوْصُوْلِ وَيَغْضَبُ الْمَعْطُوْفُ عَلَيْهِ لَيْسَ

مچي ده ځکه **يطير** په دې کښې ضمير دي چې راجع دي موصول ته او يغضب معطوف عليه دي په **يطير** باندې نه دي

فِيْهِ ذٰلِكَ الضَّمِيْرُ فَاَجَابَ عَنْهُ بِقَوْلِهِ وَ اِنَّمَا جَازَ اَلَّذِيْ يَطِيْرُ فَيَغْضَبُ زَيْدُ نِ الذُّبَابُ لِاَنَّهَا اَيِ

په دې کښې ضمير نو جواب ورکړو مصنف ددې نه په دې قول سره چې جائز دي الذي **يطير فيغضب** زيد ن الذباب ځکه

الْفَاءُ فِيْ هٰذَا التَّرْكِيْبِ فَاءُ السَّبَبِيَّةِ اَيْ فَاءٌ لَهَا نِسْبَةٌ اِلَى السَّبَبِيَّةِ بِاَنْ يَكُوْنَ مَعْنَاهَا السَّبَبِيَّةَ لَا

چې **فاء** په دې ترکيب کښې فاء سببيه ده يعني دفاء دپاره يو نسبت دي سببيت ته چې وي معنى ددې سببيت نه

الْعَطْفَ فَلَا يَرِدُ نَقْضاً عَلٰى تِلْكَ الْقَاعِدَةِ اَوْ يَكُوْنَ مَعْنَاهَا السَّبَبِيَّةَ مَعَ الْعَطْفِ لٰكِنَّهَا تَجْعَلُ

عطف نو نه وارديږي اعتراض په دې قاعده باندې او يا وي معنى ددې سببيت سره دعطف لکن دا گرځوي دوه

الْجُمْلَتَيْنِ كَجُمْلَةٍ وَاحِدَةٍ فَيُكْتَفٰى بِالرَّبْطِ فِي الْاَوَّلِ وَ الْمَعْنَى الَّذِيْ اِذَا يَطِيْرُ فَيَغْضَبُ

جملې په شان ديوې جملې نو اکتفا به وکړه به ربط سره په اول کښې او معنى به يې داوي چې الذي اذا **يطير فيغضب**

زَيْدُ الذُّبَابُ اَوْ يُفْهَمُ مِنْهَا سَبَبِيَّةُ الْاُوْلٰى لِلثَّانِيَةِ فَالْمَعْنَى الَّذِيْ يَطِيْرُ فَيَغْضَبُ زَيْدٌ بِسَبَبِهٖ

زيد الذباب او يا فهميږي ددې نه سببيت داول د دوهم دپاره نو معنى به يې وي الذي **يطير فيغضب زيد بسببه**

الذُّبَابُ وَ يُمْكِنُ اَنْ يُقَدَّرَ فِيْهِ ضَمِيْرَ أَيِ الَّذِيْ يَطِيْرُ فَيَغْضَبُ زَيْدُ بِطَيْرَانِهِ الذُّبَابُ.

الذباب او ممکن دي چې مقدر کړې په دې کې ضمير يعني الذي يطير فيغضب زيد بطيرانه الذباب

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې صاحب کافيه د يو سوال مقدر جواب ورکوي. چې د هغې تفصيل په شرح کې ذکر دي

اغراض دجامي: **ولماکان:** په دې عبارت سره غرض د شارح د سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: ستا ذکر شوي قاعده چې معطوف د معطوف عليه په حکم کې دي په **فيما يجوز له و يمتنع** سره ماته شوه. د عربو په دې قول سره چې **الذي يطير فيغضب زيد الذباب**، ځکه چې په **يطير** کې ضمير دي چې هغه موصول طرف ته راجع کيږي او **يغضب** په **يطير** باندې معطوف دي ليکن داد ضمير نه خالي نه دي ځکه چې د دې فاعل اسم ظاهر زيد دي.

جواب: نو شارح د دې سوال څلور (۴) جوابات ورکړي دي

اولنې جواب صاحب د کافيې ورکوي او نور باقي درې (۳) جوابونه شارح ورکوي

جواب (۱): **وانما جاز:** په دې عبارت سره صاحب د کافيې جواب ورکړې دي چې په **فيغضب** باندې **فاء** عاطفه نه ده بلکې دا صرف د سببيت دپاره ده نو لهذا سوال وارد نه شو ځکه چې زمونږ بحث په عطف کې دي په سبب کې نه دي

جواب (۲): **اويکون:** په دې عبارت سره د دويم سوال جواب ورکوي چې **فاء** د سببيت او عطف دواړو دپاره ده.

لکنها: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: سوال دا دي چې کله **فاء** د سببيت او د عطف دواړو دپاره شي نو معنى د عطف د وجې نه په معطوف کې د ضمير کيدل ضروري دي حالانکه دلته ضمير نشته؟

جواب: په سبب او مسبب کې اتصال وي لهذا دا دواړه جملې په منزله د يوې جملې دي ځکه چې په اوله جمله کې چې کوم عائد دي همدا د رابطې دپاره کافي دي په معطوف کې دويم رابط ته ضرورت نشته دي. نو د دواړو جوابونو مطابق معنى دا شوه هغه څيز چې کله الوځي نو هغه د زيد د غصه کيدو سبب جوړيږي چې هغه مچ دي

جواب (۳): **اويفهم:** په دې عبارت سره د دريم سوال جواب ورکوي چې **فاء** په حقيقت کې د

سببیت دپاره خو نه ده بلکه دعطف دپاره ده لیکن ددې فاء نه دا خبره معلومیږي چې اوله جمله د دوهمې جملې د پاره سبب دي، په دې معنی د سببیت باندې اکتفاء وشوه او د رابطې ضرورت پاتې شو هغه څیز چې کوم الوځي پس غصه شي ددې وجې نه زید چې هغه مځ دي

جواب (۴): ویمکن: په دې عبارت سره دځلورم سوال جواب ورکوي چې فاء یواځې د عطف دپاره ده او په معطوف کې ضمیر مقدر دي کوم چې موصول طرف ته راجع دي په اصل کې تقد ـ دعبارت داسې وو چې الذي یطیر فیغضب زید بطیرانه الذباب، نو دمعطوف علیه په شان په معطوف کې هم عائد موجود دي.

قوله لانها ای الفاء: په دې عبارت سره شارح دجامي په لانها کې د هاء دضمیر مرجع بیانوي چې: هاء دضمیر مرجع الفاء ده

ای فاء لها نسبة الی السببیة: په دې عبارت سره شارح اشاره کوي چې په السببیة کې یاء د نسبت دپاره ده او دفاء اضافت سببیت ته دادنی ملابست او مناسبت دوجې نه دي.

بان یکون معناها: په دې عبارت سره شارح دنسبت الی السببیة صورت بیانوي.

په یو عاطف باندې دوه معمولین عطف کول:

وَ إِذَا عُطِفَ أَيْ إِذَا أُوْقِعَ الْعَطْفُ بِنَاْء عَلٰى وُجُوْدِ عَامِلَيْنِ بِأَنْ عُطِفَ اِسْمَانِ عَلٰى

اوچې کله عطف شي یعني چې کله واقع شي عطف بناء په وجود ددوه عاملوچې عطف کړې شي دوه اسمه په

مَعْمُوْلَيْهِمَا بِعَاطِفٍ وَاحِدٍ قَالَ بَعْضُ شَارِحِي اللُّبَابِ اَلْاَظْهَرُ عِنْدِيْ اَنَّ الْعَطْفَ هٰهُنَا

دوه معمولینو په یو عاطف سره ویلي دي بعضې شارحینو دلباب چې ظاهر زمونږ په نزد دادہ چې وي عطف دلته

مَحْمُوْلٌ عَلٰى مَعْنَاهُ اللُّغَوِيْ أَيْ اِمَالَةُ الْاِسْمَيْنِ نَحْوُ الْعَامِلَيْنِ بِأَنْ يُجْعَلَا

محمول په لغوي معنی باندې یعني مائل کول ددوه اسمونو طرف دعاملینو ته چې وګرځوي عامل دواړه

مَعْمُوْلَيْهِمَا وَ اَكْثَرُ الشَّارِحِيْنَ عَلٰى اَنَّ الْمَعْنٰى عَلٰى مَعْمُوْلَىْ عَامِلَيْنِ وَ اِنَّمَا قَالَ

اسمونه خپل معمول او اکثر شارحین په دې مذهب دي چې معنی دواړه معمولینو عاملین دي او ویلي دي

عَلٰى مَعْمُوْلَيْ عَامِلَيْنِ لَا عَلٰى مَعْمُوْلَيْ عَامِلٍ وَاحِدٍ فَاِنَّهُ جَائِزٌ اِتِّفَاقًا نَحْوُ ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا وَ عَمْرٌو

مصنف علی معمولي عاملین او علی معمولي عامل واحد نه دي ویلي ځکه داجائز دي بالاتفاق لکه ضرب زید عمراً وعمرو

خَالِدًا وَلَا عَلٰى اَكْثَرِ مِنْ اِثْنَيْنِ فَاِنَّهُ لَا خِلَافَ فِيْ اِمْتِنَاعِهِ مُخْتَلِفَيْنِ أَيْ غَيْرَ مُتَّحِدَيْنِ بِأَنْ

خالداً او نه زیات ددوو نه ځکه نشته اختلاف په امتناع ددې کې دواړه مختلف وي یعني غیر متحدوي په داسې

لَايَكُوْنَ الثَّانِيْ عَيْنَ الْاَوَّلِ وَ ذٰلِکَ لِدَفْعِ وَهْمِ مَنْ يَتَوَهَّمُ اَنَّ مِثْلَ ضَرَبَ ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا وَ بَكْرًا وَ

شان چې نه وي دويم عين داول اودادپاره ددفعې د هغه وهم چې وهم کوي چې ضرب ضرب زيدعمرا وبكرا و

خَالِدًا مِنْ هٰذَا الْبَابِ مَعَ اَنَّهُ لَيْسَ مِنْهُ لِعَدَمِ تَعَدُّدِ الْعَامِلِ فِيْهِ اِذَا الْعَامِلُ هُوَ الْاَوَّلُ

خالدا ددې باب نه دي سره ددې چې نه دي ددې نه دوجې دعدم تعدد دعامل په دې کې خکه عامل هغه اول دي

وَ الثَّانِيْ تَاكِيْدٌ لَهُ وَ ذٰلِکَ الْعَطْفُ كَمَا وَقَعَ فِيْ قَوْلِهِمْ مَا كُلُّ سَوْدَاءَ تَمْرَةٍ وَ بَيْضَاءَ

اودويم تاكيددي ددې دپاره اودا عطف لكه څنګه چې واقع شوي په قول دعربو كې چې ماكل سوداء تمرة وبيضاء

شَحْمَةً وَفِيْ قَوْلِ الشَّاعِرِ شِعْرًا اَكُلُّ اِمْرِئٍ تَحْسَبِيْنَ اِمْرَأً وَنَارٍ تَوَقَّدُ بِاللَّيْلِ نَارًا فَهٰذَا وَاِنْ كَانَ بِحَسْبِ الظَّاهِرِ جَائِزًا

شحمة اوپه قول دشاعركې شعر اكل امرئ تحسبين امرأ ونارتوقدبالليل نارا نودا اګركه په اعتبار دظاهرسره جائز

لٰكِنَّهُ لَمْ يَجُزْ عِنْدَ الْجُمْهُوْرِ بِحَسْبِ الْحَقِيْقَةِ لِاَنَّ الْحَرْفَ الْوَاحِدَ لَمْ يَقْوَ اَنْ يَّقُوْمَ مَقَامَ عَامِلَيْنِ

دی ليكن نه دي جائزپه نزددجمهوروپه اعتبار دحقيقيت سره څكه يو حرف نه قائمېږي په ځاې ددوه عاملينو

مُخْتَلِفَيْنِ.

مختلفو

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب كافيه يو ضابطه اوقاعده بيانوي. چې حاصل يې دادې چې د جمهورو په نزد د يو حرف عطف په ذريعه دوه مختلف عاملين په دوو معمولينو باندې ددوه اسمونو عطف كول ناجائز دي. مګردا چې كله معمول مجرور معمول مرفوع او معمول منصوب باندې مقدم وي. نو په دې صورت كې عطف جائز دي ، او د امام فراء رحمه الله په نزد باندې دا عطف مطلقاً جائز او د امام سيبويه رحمه الله په نزد باندې دا عطف مطلقاً ناجائز

اغراض دجامي : الا اذا وقع: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي

سوال : په عُطف کې ضمير مصدر العطف طرف ته راجع دي. نو حاصل دعبارت دا شو چې و اذ عطف العطف . نو معنى به يې داوي چې كله عطف عطف شي نو دا معنى خو باطله اوبې فائدې شوه ؟

جواب : دلته عُطف د اوقع العطف په معنى دي. يعنې چې كله العطف واقع كړې شي نو اوس به يې معنى صحيح شي يا په بل عبارت سره د ضمير مرجع نفس حرف دي

سوال : چې كله اذا عطف على عاملين شرط او لم يجز جزاء وي نو په شرط او جزاء كې تضاد او تناقض دي ځكه چې د شرط معنى ده كله چې په دوو عاملينو مختلفينو باندې عطف وشي نو ددې نه حصول د عطف او ثبوت او جواز د عطف معلوميږي. او د لم يجز جزا نه عدم جواز ثابتيږي نو دا نه دي مګر تناقض ؟

جواب : په اوقع سره شارح ددې سوال جواب وركړو. چې عُطف د وقوع او د حصول او د جواز په معنى كې نه دي بلكه د باب افعال نه د أوقع معنى ته متضمن دي نو معنى به يې داسې وي چې كله واقع كړې شي او د عطف وقوع دا د حدوث عطف په معنى كې دي نه د ثبوت او د حصول او جواز د عطف په معنى باندې . نو اعتراض دفع شو

بناء په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي

سوال : عطف په عاملين باندې نه وي بلكې په معمول باندې وي. نو على د عُطف صِله جوړول ځكه صحيح دي ؟

جواب : شارح ددې سوال درې ۳ جوابه وركړي دي

جواب (۱) : اول جواب دا دې چې على د عُطف صله نه ده بلكې د **بناءً** محذوف صله ده او د عاملين نه مخكې مضاف (وجود) محذوف دي. بيا دا مفعول له دې د **اذا عطف** و نو حاصل د عبارت به داسې وي چې **واذا عطف على معمولين بناءً على وجود العاملين** . د **على** ته بنائيه على وايي

بان عُطف اسمان : په دې عبارت كې شارح د هغه عطف د صورت بيان كوي چې دده اسمونو عطف وكړې شي. د دوه عاملينو په دوه معمولينو باندې په يو عطف سره

جواب (۲) : **و قال بعض شارح اللباب** : په دې عبارت سره شارح د دويم سوال جواب وركوي چې د لباب په شارحينو كې يو شارح دا جواب وركړې دي چې زما په نزد باندې ظاهره دا ده چې دلته د عطف اصطلاحي معنى مراد نه ده بلكې لغوي معنى مراد ده . چې د عطف لغوي معنى ده **امالة** يعني مائل كول او كلمه د على نحو په معنى سره ده . نو معنى به يې دا شي چې كله مائله شي دوه اسمونه عاملينو طرف ته

بان يجعل : په دې عبارت كې شارح د دوو اسمونو عاملين طرف ته د مائل كولو صورت بيانوي

چې ددې صورت دادې چې دوه اسمونه د دوه عاملينو معمول جوړ شي؟

جواب (۳): واكثر شارحين: په دې عبارت سره شارح ددريم سوال جواب وركوي چې دعاملين نه مخكې مضاف محذوف دې چې هغه معمولين دي . نوحاصل دعبارت به داسې شي چې **واذ عطف على معمولى عاملين** . نو په دې صورت كې به هم اشكال ختم شي

وانما قال: په دې عبارت سره شارح دعلى عاملين دقيد فائده بيانوي چې دعلى عاملين قيد يې ځكه ولږولو چې كه چيرته عامل واحد وي. نو ددې دوه مختلف معمولينو باندې د دوو اسمونو عطف بالاتفاق جائز دي لكه **ضرب زيد عمراً وعمرو خالداً** په دې كې په **زيد** او **عمر** باندې د دوو اسمونو يعنې **عمرو** او **خالد** عطف شوې دې دا جائز دي همدارنګې د**عاملين** قيد يې ولږولو نو په دې سره يې احتراز وكړو د دوو نه ذياتو عواملو نه. ځكه چې هغه بالاتفاق اوبې داختلاف نه ممتنع دي

اى غير متحدين: په دې عبارت سره شارح اشاره كوي چې د **مختلفين** نه **اختلاف في الوصف** مراد نه دی. بلكې **اختلاف في الذات** مراد دي ځكه چې د اتحاد لفظ په ذواتو كې استعماليږي

بأن لا يكون: په دې عبارت كې دذات دنه متحد كيدو صورت بيانوي چې دويم داول عين او ذات نه وي

و ذلك لدفع وهم: په دې عبارت كې شارح د مختلفين دقيد فائده بيانوي چې ددې قيد لږولو مقصد اومراد د يو وهم لرې كول دي

وهم: وهم دادې چې شايد **ضرب ضرب زيد عمروٌ وبكراً وخالداً**. ددې باب نه وي ځكه چې په دې كې ددوه عاملينو د دوو معمولينو باندې د دوو اسمونو عطف شوې دې . ديو عطف په ذريعه باندې خو داناجائز كيدل په كار وو حالانكه داجائز دې نو مصنف رحمه الله دمختلفين قيد ولږولو ددې وهم ازاله يې وكړه چې دا ددې باب نه . نه دې ځكه چې په دې كې عامل متعدد نه دې بلكې عامل صرف اول دې او دوهم ددې تاكيد دې. نو دوه عاملين په عمل كې مختلف نه دي

و ذلك العطف: په دې عبارت سره شارح ديوحرف په واسطه ددوه مختلف عاملينو په دوه معمولينو باندې ددوه اسمونو دعطف كولو مثال بيانوي . دعربو وينا ده چې **ماكل سوداء تمرة وبيضاء شحمة** . په دې كې **ما** مشابه دې د ليس سره . **كل** سوداء مضاف مضاف اليه چې يو ځاى

شي. نو اسم **ما** او **ثمرة** خبر دي . په دې کې دوه (۲) مختلف عامل موندل کيږي (۱) **ما** (۲) د **کل** معمول سوداء مجرور دي او د ما معمول تمرة منصوب دي. د دې نه پس د **بيضاء عطف** شوې دي په سوداء باندې چې د دې عامل **کل** دي او د **شحمة** عطف په تمرة باندې دي چې د دې عامل **ما** دي نو په دې کې د دوه عاملينو مختلفينو په دوو معمولينو مختلفين باندې د يو عاطف په ذريعې سره د دوو اسمونو عطف شوې دي او **معمول** مجرور مقدم دي. ځکه دا **عطف** جائز دي او په دويم مثال کې د شاعر دا شعر پيش کوي :

اکل امرئٍ تحسبين امرأً ونارٍ توقدُ بالليلِ ناراً

په دې کې همزه د استفهام ده . **کل امرأ** مضاف مضاف اليه سره د **تحسبين مفعول به** مقدم دي او **تحسبين** فعل سره د فاعل او **امرأة** دويم مفعول به دي. په دې کې دوه (۲) **مختلف** عامل موندل کيږي : (۱) **کل**، (۲) **تحسبين** . د **کل** معمول **امرأة** دي چې هغه مجرور دي او د **تحسبين** معمول **امرءً** دي چې منصوب دي بيا نارٍ عطف دي په امرأ مجرور باندې چې د دې عامل **کل** دي او **ناراً** عطف دي په **امرأة** منصوب باندې چې د دې عامل **تحسبين** دي لهذا په دې کې د دوو مختلفو عاملينو په دوو معمولينو باندې د يو عطف په ذريعې سره په دوه اسمونو باندې عطف دي او **معمول** مجرور مقدم دي ځکه دا عطف جائز دي .

فهذا وان کان: د دې ځاې نه تر **واذا عطف على العاملين** پورې چې په دې باندې کوم سوال وارد شوې دي چې په شرط او جزاء کې تناقض او اختلاف دي د دې يو جواب شارح په **اوقع** سره ورکړې وو دلته يې دويم جواب ورکوې چې **واذا عطف** د شرط نه چې کوم جواز معلوميږي د دې نه مراد جواز په اعتبار د صورة سره دي او د **لم يجز** نه مراد عدم جواز په اعتبار د حقيقت سره دي په نزد د جمهورو .

لان الحرف: په دې عبارت سره شارح د ذکر شوي عطف عدم جواز وجه د جمهورو په نزد بيانوي . حرف عطف د عامل قائم مقام وي او يو حرف د دوه مختلف عاملينو قائم مقام نه شي کيدې د دې وجې نه دا عطف ناجائز دي

د امام فراء رحمه الله د اختلاف بيان :

خِلَافًا لِلْفَرَّاءِ فَإِنَّهُ يَجُوزُ هٰذَا الْعَطْفُ بِحَسْبِ الْحَقِيْقَةِ كَمَا جَازَ بِحَسْبِ

خلاف ثابت دي فراء لره ځکه چې دا جائز کوي دا عطف په اعتبار د حقيقت سره لکه څنګه چې جائز دي په اعتبار

الصُّوْرَةِ وَلَا يُؤَوِّلُ الْاَمْثِلَةَ الْوَارِدَةَ عَلَيْهَا وَلَا يَقْتَصِرُ عَلٰى صُوْرَةِ السَّمَاعِ

د صورت سره او نه کوي تاويل د هغه مثالونو چې وارد وي په دې باندې او نه کوي اکتفاء په صورت د سماع

بَلْ يَعُمُّهَا وَ غَيْرَهَا وَ عَدَمُ جَوَازِ ذٰلِكَ الْعَطْفِ مَعَ خِلَافِ الْفَرَّاءِ جَارٍ فِيْ جَمِيْعِ

باندې بلکې عام کوي سماع او غير سماع او عدم جواز د دې عطف سره د اختلاف د فراء جاري دي په ټولو

الْمَوَادِ عِنْدَ الْجُمْهُوْرِ اِلَّا فِيْ نَحْوِ فِي الدَّارِ زَيْدٌ وَالْحُجْرَةِ عَمْرٌو وَاِنَّ فِي الدَّارِ زَيْدًا وَالْحُجْرَةِ عَمْرًوا يَعْنِيْ اِلَّا فِيْ

مثالونو کې په نزد د جمهورو مګر په في الدار زيد او الحجرة عمرو مثال کې او ان في الدار زيدا والحجرة عمروا يعني په

صُوْرَةِ تَقْدِيْمِ الْمَجْرُوْرِ وَ تَأْخِيْرِ الْمَرْفُوْعِ اَوِ الْمَنْصُوْبِ لِمَجِيْئِهٖ فِيْ كَلَامِهِمْ وَ اقْتَصَرَ

صورت د تقديم د مجرور او تاخير د مرفوع او يا منصوب دوجې د مجيئت د کلام د دوي نه او اکتفاء يې وکړه په

الْجَوَازُ عَلٰى صُوْرَةِ السَّمَاعِ لِاَنَّ مَا خَالَفَ الْقِيَاسَ يَقْتَصِرُ عَلٰى مَوْرِدِ السَّمَاعِ.

جواز باندې په صورت د سماع کې ځکه هغه چې مخالف وي د قياس نو اکتفاء کوي په مورد د سماع باندې.

خلاصه د متن : د دې ځاې نه د امام فراء اختلاف سره د جمهورو وضاحت کوي، امام فراء وايي چې لکه څنګه چې دا عطف په اعتبار د صورت سره جائز دي نو همدارنګې په اعتبار د حقيقت سره هم جائز دي او کوم مثالونه چې د داسې عطف په صورت کې وارد دي په دې کې امام فراء کوم تاويل هم نه کوي او صرف په سماع والا صورتونو باندې اکتفاء هم نه کوي بلکې په سماع او غير سماع کې تعميم کوي او غير سماع والا صورتونه په سماع والا صورتونو باندې قياس کوي او هغه هم جائز کوي.

اغراض د جامي : وعدم جواز: په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چې د جمهورو په نزد د ذکر شوي عطف عدم جواز او د فراء سره د جمهورو اختلاف په ټولو موادو کې جاري کيږي مګر په يو صورت کې اختلاف نشته هغه دا دې چې معمول مجرور معمول منصوب او مرفوع نه مقدم وي. په دې صورت کې د امام فراء سره اختلاف نشته . معمول مجرور د مرفوع نه د مقدم کيدو مثال لکه في الدار زيد والحجرة عمرو. او معمول د منصوب نه د مقدم کيدو مثال لکه ان فى الدار زيد والحجرة عمروا

لمجيئه في كلامهم : په دې عبارت کې شارح د دې صورت د جواز بيان کوي چې دا صورت ځکه

جائز دي چې دا صورت په کلام دعربو کې موجود دي . ليکن دا د جواز صورت په سماع باندې محمول دي. ځکه چې دا خلاف قياس مسموع دي او کوم ځيز چې خلاف قياس مسموع وي هغه په مورد دسماع پورې خاص وي.

دامام سيبويه رحمه الله د اختلاف بيان :

خِلَافًا لِسِيْبَوَيْهِ فَإِنَّهُ لَا يُجَوِّزُ هٰذَا الْعَطْفَ بِحَسَبِ الْحَقِيْقَةِ فِيْ هٰذِهِ الصُّوْرَةِ أَيْضاً

خلاف ثابت دي دي سيبويه لره ځکه دا جائز کوي داعطف په اعتبار دحقيقت سره په دې صورت کې همدارنګې

بَلْ يَحْمِلُهَا عَلٰى حَذْفِ الْمُضَافِ وَ إِبْقَاءِ الْمُضَافِ إِلَيْهِ عَلٰى إِعْرَابِهٖ نَحْوُ تُرِيْدُوْنَ

بلکې حمل کوي يې په حذف دمضاف اوپه باقي والي دمضاف اليه کې په اعراب ددې باندې لکه تريدون

عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَ اللهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةِ بِجَرِّ الْاٰخِرَةِ كَمَا جَاءَ فِيْ بَعْضِ الْقِرَاءَةِ أَيْ عَرَضَ

عرض الحيوة الدنيا والله يريد الاخرة. په جر د والآخرة سره دي لکه راغلي دي په بعضې قرآتونو کې يعنې عرض

الْاٰخِرَةِ.

الآخرة

خلاصه دمتن : ددې عبارت نه غرض اومقصد د امام سيبويه رحمه الله د جمهورو سره اختلاف بيانول دي . امام سيبويه رحمه الله په دې صورت کې هم په اعتبار دحقيقت سره عطف نه جائز کوي. بلکې هغه په دې کې تاويل کوي او وايي چې په دې صورت کې مضاف حذف کول او مضاف اليه ددې اعراب په اول باندې باقي ساتلې شوې دي. لکه په ان في الدار زيداً والحجرة عمرواً کې د والحجرة نه مخکې في محذوف دي. چې دا دمضاف اليه په حکم کې دي لکه څنګه چې مضاف خپل ما بعد ته جر ورکوي همدارنګې في هم خپل ما بعد ته جر ورکوي. لهذا دلته عطف دجملې په جملې باندې راځي اودا جائز نه دي همدارنګې په بيضاء شحمة کې د بيضاء نه مخکې لفظ د كلّ مضاف محذوف دي په اصل کې دا داسې وو چې ماكل سودا ثمرة و كل بيضاء شحمة همدارنګې د نار نه مخکې كُل مضاف محذوف دي په اصل کې اكل امرء تحسبين امرءً و كل نار توقد بالليل ناراً وو

اغراض دجامي : نحو تريدون: په دې عبارت کې شارح مضاف حذف کول او مضاف اليه ددې په اول اعراب باندې دباقي ساتلو مثال بيانوي چې مثال يې دا قول دالله تعالى فرمان دی چې تريدون عرض الحيوة الدنيا والله يريد الآخرة . دا په اصل کې داسې وو چې والله يريد عرض

الآخرة . مضاف يې حذف کړو او مضاف اليه يې ددې په اول اعراب باندې باقي وساتلو . ليکن مضاف اليه بې په اول اعراب باندې باقي ساتل دا د بعضې قاريانو د قرائت د وجې نه دي. چې په کې الآخرة مجرور دي ورنه اکثر قاريان دا منصوب وايي

دريم قسم : دتاکيد تعريف :

اَلتَّاکِيْدُ تَابِعٌ يُقَرِّرُ اَمْرَ الْمَتْبُوْعِ اَيْ حَالِهٖ وَ شَانِهٖ عِنْدَ السَّامِعِ يَعْنِيْ يَجْعَلُ حَالَهٗ

تاکيد هغه تابع دي چې مضبوطوي امر دمتبوع يعني حال اوشان دمتبوع په نزد دسامع يعني ګرځوي حال د

ثَابِتًا مُقَرَّرًا عِنْدَهٗ فِي النِّسْبَةِ اَيْ فِيْ کَوْنِهٖ مَنْسُوْبًا اَوْ مَنْسُوْبًا اِلَيْهِ فَيَثْبُتُ

متبوع ثابت او مضبوط په نزد دسامع په نسبت کې يعني په کيدو ددې کې منسوب او يا منسوب اليه نو ثابتيږي

عِنْدَهٗ وَ يَتَحَقَّقُ اَنَّ الْمَنْسُوْبَ اَوِ الْمَنْسُوْبَ اِلَيْهِ فِيْ هٰذِهِ النِّسْبَةِ هُوَ الْمَتْبُوْعُ لَا غَيْرُ

دسامع په نزد او متحقق کيږي داخبره چې منسوب او منسوب اليه په دې نسبت کې هغه متبوع دی نه غير د

وَ ذٰلِکَ اِمَّا لِدَفْعِ ضَرَرِ الْغَفْلَةِ عَنِ السَّامِعِ اَوْ لِدَفْعِ ظَنِّهٖ بِالْمُتَکَلِّمِ الْغَلَطَ وَ ذٰلِکَ الدَّفْعُ يَکُوْنُ

متبوع نه او دا يا دپاره ددفع دضرر دغفلت دسامع نه او يا ددفع دګمان غلط دسامع په متکلم باندې او دغه دفع

بِتَکْرِيْرِ اللَّفْظِ نَحْوُ ضَرَبَ زَيْدٌ زَيْدٌ اَوْ ضَرَبَ ضَرَبَ زَيْدٌ اَوْ لِدَفْعِ ظَنِّ السَّامِعِ بِهٖ تَجَوُّزًا اِمَّا فِي

وي په تکرير دلفظ سره لکه ضرب زيدزيداو يا ضرب ضرب زيداو يا دپاره ددفعې دګمان دسامع په متکلم مجاز ايا په

الْمَنْسُوْبِ نَحْوُ قَوْلِکَ زَيْدٌ قَتِيْلٌ قَتِيْلٌ دَفْعًا لِتَوَهُّمِ السَّامِعِ اَنْ يُّرِيْدَ بِالْقَتْلِ الضَّرْبَ الشَّدِيْدَ

منسوب کې لکه داقول ستا زيدقتيل قتيل دپاره ددفعې دتوهم دسامع چې اراده کوي په قتل سره سخت وهل

فَيَجِبُ حِيْنَئِذٍ اَيْضاً تَکْرِيْرُ اللَّفْظِ حَتّٰی لَا يَبْقٰی شَکٌّ فِيْ اِرَادَةِ الْمَعْنَی الْحَقِيْقِيِّ اَوْ فِي

نو واجب دي په دې وخت کې همدارنګې تکرير دلفظ تردې چې باقي نه شي شک په راوړو دمعنی حقيقي او يا په

الْمَنْسُوْبِ اِلَيْهِ فَاِنَّهٗ رُبَمَا نُسِبَ الْفِعْلُ اِلٰی شَيْءٍ وَ الْمُرَادُ نِسْبَتُهٗ اِلٰی بَعْضِ مُتَعَلِّقَاتِهٖ

منسوب اليه کې ځکه چې ډيروخت نسبت ديو فعل کيږي يوشيزته او مراد يې نسبت دشيزوي بعضې متلعقاتو د

کَمَا فِيْ قَطَعَ الْاَمِيْرُ اللِّصَّ اَيْ قَطَعَ غُلَامُهٗ فَيَجِبُ حِيْنَئِذٍ تَکْرِيْرُ الْمَنْسُوْبِ

فعل ته لکه په قطع الامير اللص مثال کې يعني کټ کړو غلام دده نو واجب دی په دې وخت کې تکرير د منسوب

اِلَيْهِ لَفْظًا نَحْوُ ضَرَبَ زَيْدٌ زَيْدٌ اَيْ ضَرَبَ هٰؤُلَاءِ مَنْ يَّقُوْمُ مَقَامَهٗ اَوْ تَکْرِيْرِهٖ مَعْنًی نَحْوُ ضَرَبَ زَيْدٌ نَفْسُهٗ اَوْ عَيْنُهٗ اَوْ فِي

اليه لفظا لکه ضرب زيدزيد يعني ضرب هؤلاء من يقوم مقامه او يا تکرير معنا لکه ضرب زيد نفسه او عينه او يا په

الشُّمُوْلِ اَيِ التَّاکِيْدُ مَا يُقَرِّرُ اَمْرَ الْمَتْبُوْعِ فِي النِّسْبَةِ بِالتَّفْصِيْلِ الَّذِيْ ذَکَرْنَاهُ

شمول کې يعني تاکيد هغه دي چې مضبوطوي امر دمتبوع په نسبت کې په هغه تفصيل سره چې مونږ ذکر کړو

اَوْ فِيْ شُمُوْلِ الْمَتْبُوْعِ اَفْرَادَهٗ دَفْعًا لِظَنِّ السَّامِعِ تَجَوُّزًا لَا فِيْ نَفْسِ الْمَنْسُوْبِ اِلَيْهِ بَلْ فِيْ

اویه شمول د متبوع کې حسه تو دونه دیاره د دفعې د گمان د سامع مجازانه په نفس د منسوب الیه کې بل په

شُمُوْلِهٖ لِاَفْرَادِهٖ فَاِنَّهٗ كَثِيْرًا مَايَنْسِبُ الْفِعْلَ اِلٰى جَمِيْعِ اَفْرَادِ الْمَنْسُوْبِ اِلَيْهِ مَعَ اَنَّهٗ يُرِيْدُ

شمو د دې کې خپلو افرادو نه حکه چې اکثر نسبت د فعل کیږي ټولو افرادو د منسوب الیه ته سره د دې چې اراده

النِّسْبَةَ اِلٰى بَعْضِهَا فَيَنْدَفِعُ هٰذَا الْوَهْمُ بِذِكْرِ كُلٍّ وَ اَجْمَعَ وَ اَخَوَاتِهٖ وَ كِلَاهُمَا وَ

کوي متکلم نسبت د بعضو افرادو نو دفع کیږي دا وهم په ذکر کولو د کل او د اجمع او د اخواتو د دې او د کلاهما او د

ثَلٰثَتِهِمْ وَاَرْبَعَتِهِمْ وَنَحْوِهَا فَهٰذَا هُوَ الْغَرَضُ مِنْ جَمِيْعِ اَلْفَاظِ التَّاكِيْدِ .

ثلاثتهم او د اربعتهم او په مثل د دې نو دا هغه غرض دي د ټولو الفاظو د تاکید نه

خلاصه دمتن: صاحب کافیه د دریم تابع تعریف کوي تاکید هغه تابع دي چې هغه د خپل متبوع حال په نسبت کې یا په شمول کې د دې د منسوب یا د منسوب الیه کیدو کې د سامع په نزد ثابت کړي. یعنې د سامع په نزد دا ثابته کړي چې په دې کې منسوب یا منسوب الیه هم متبوع دي. بل څیز نه دي او په سمول کې د متبوع حال د مضبوطولو مطلب دا دې چې متبوع خپل ټول افراد په دې حکم کې شامل کړي چې کوم حکم د متبوع دپاره ثابت دي .

اغراض دجامي: اى حاله: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: د امر لغوي معنى حکم کول او اصطلاحي معنى یې **هي صيغة يطلب بها الفعل من الفاعل المخاطب** . چې دا یوه صیغه دي چې طلب کوي په دې سره فعل د فاعل د مخاطب نه ، ده او دا دواړه معناګانې دلته صحیح نه دي ؟

جواب: دلته د امر عرفي معنى مراد ده، چې هغه حال او شان ده لکه چې وویلې شي چې **ما امرك اى ما حالك** .

عند السامع: په دې عبارت کې شارح د متن وضاحت کوي ، دا یې د دې وجې نه وویل چې متکلم د تقریر او د تفسیر محتاج نه دي بلکه د تقریر او د تفسیر محتاج هغه سامع دي .

يعني يجعل: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: يقرر د تقریر نه دي د تقریر معنى ده **مايتصور في القلب ويظهر باللسان** . یعنې په زړه سره تصور وکړې شي او په ژبې سره ظاهر کړې شي ، دا معنى په تاکید کې نه شي متصور کیدې

همدارنګې تابع په يقرر سره موصوف کول هم صحيح نه دي ځکه چې تابع دلفظ صفت دي او تقرير دمتکلم صفت دي .

جواب : دلته تقرير دتثبيت په معنی کې دي يعنې تاکيد هغه دي چې دمتبوع حال ثابت او مقرر کړي

اي في کونه منسوبا : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د تاکيد تعريف په هغه دويم زيد باندې صادق نه راځي کوم چې په جاءني زيد زيد کې واقع دي ځکه چې نسبت په جاءني کې دي نه چې په زيد کې دي ځکه چې زيد خو منسوب اليه دي حالانکه دويم زيد تاکيد دي .

جواب : دلته دنسبت نه مراد دمتبوع منسوب يامنسوب اليه کيدل دي اوپه ذکر شوې مثال کې اګرچې منسوب نه دي ليکن منسوب اليه دي

وذلک : په دې عبارت سره شارح دتاکيد فائده بيانوي چې تاکيد دسامع نه دغفلت دلرې کولو دپاره راوړلې شي يادسامع په متکلم کې دغلطي ګمان ددفع کولو دپاره راوړې شي .

وذلک الدفع يکون بتکرير اللفظ : په دې عبارت سره شارح ددې ددفع کولو طريقه بيانوي چې يابه منسوب اليه مکرر راوړې شي لکه ضرب زيد زيد يا به منسوب مکرر راوړې شي لکه ضرب ضرب زيد ددې تکرار دوجې نه دسامع نه ضرر دغفلت هم لرې کولې شي اور دسامع دمتکلم په باره کې ګمان کول چې هغه په نسبت کې غلطي کوي دابه هم دفعه شي .

او لدفع ظن السامع به تجوزاً : په دې عبارت سره شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې يا به تاکيد دسامع په متکلم کې دمجاز دنسبت دګمان ددفع کولو دپاره راوړې شي چې چيرته متکلم حقيقي معنی پريږدي او دمعنی مجازي اراده نه لري اودمجاز ګمان يا په مننسوب کې وي اويا په منسوب اليه کې ، دمنسوب مثال لکه زيد قتيل قتيل . په دې کې قتيل منسوب دي دايې مکرر راوړو دسامع ګمان يې دفع کړو چې شايد متکلم دقتل نه مراد ضرب شديد يعنې سخت وهل مراد اخستې وي نو قتيل يې مکرر راوړو اودا وهم يې دفع کړو چې دقتل نه مراد همدا قتل دي نه ضرب شديد اوسخت وهل . لهذا په دې صورت کې دمنسوب تکرار واجب دي

.. دې دپاره چې دحقيقي معنی په مراد کيدو څه شک باقي نه شي . يادمجاز گمان په منسوب اليه کې وي څکه چې بعضې وخت يو څيز طرف ته دفعل نسبت وکړې شي ليکن ددې نه بعينه هغه څيز مراد نه وي بلکه مراد ددې څيز نه دڅيز بعضې متعلقاتو طرف ته دفعل نسبت کيږي لکه قطع الامير اللص ، په دې کې دقطع ديد نسبت امير طرف ته شوي دې حالانکه دامير نه دده غلام مراد دې څکه چې امير حکم کوي په دې صورت کې دمنسوب اليه تکرار واجب دې ددې .. چې په منسوب اليه کې دمجاز وهم باقي پاتې نه شي برابره خبره ده که داتکرار لفظاً وي .. معنً وي . دتکرار لفظي مثال لکه ضرب زيد زيد . اود تکرار معنوي مثال لکه ضرب زيد نفسه ياعينه .

او في الشمول: په دې عبارت کې شارح دابيانوي چې دلته في الشمول عطف دې په في النسبة .. دې . يعنې تاکيد هغه تابع دې چې دمتبوع حال مضبوط کړي په نسبت کې اويا په شمول کې . شمول دمتبوع دحال دمضبوطولو مطلب دادې چې دمتبوع خپل ټول افراد په دې حکم کې شامل دې کوم حکم چې دمتبوع دپاره ثابت دې

دفعاً: په دې عبارت کې شارح دتاکيد فائدې بيانوي . چې داتاکيد دسامع دمتکلم دنسبت د مجاز دگمان ددفع کولو دپاره کيږي ليکن دمجاز گمان يواځې په منسوب اليه کې نه وي بلکه دمتبوع دفرادو ته دشامليدو دپاره وي سامع ته داگمان کيږي چې دمتکلم مراد ټول افراد نه وي بلکه بعضې افراد وي څکه چې ډير وخت دفعل نسبت دمنسوب اليه ټولو افرادو طرف ته کيږي ليکن دمتکلم مراد ددې بعضې افرادو طرف ته نسبت وي پس دا وهم چې لفظ دکل اجمع وغيره ذکر کولو سره به دفع شي اومعلومه به شي چې ټول افراد مراد دي بعضې افراد نه دي مراد

فهذا هو الغرض: په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې دتاکيد دټولو الفاظونه همدا مقصد او غرض دې يعنې دمتبوع مضبوطول يا په نسبت کې اويا په شمول کې .

دتعريف دقيودو فوائد :

وَ إِذَا عَرَفْتَ هٰذَا فَنَقُوْلُ اَخْرَجَ الْمُصَنِّفُ الصِّفَةَ وَ الْعَطْفَ وَ الْبَدَلُ عَنْ حَدِّ التَّاكِيْدِ بِقَوْلِهٖ

وکله چې تا وپيژندل دانو مونږ وايو چې خارج کړو مصنف صفت اوعطف او بدل دتعريف دتاکيد نه په دې قول

يُقَرِّرُ اَمْرَ الْمَتْبُوْعِ اَمَّا الْبَدَلُ وَ الْعَطْفُ فَظَاهِرٌ خُرُوْجُهُمَا بِهٖ وَ اَمَّا

.. د چې مضبوطوي امر دمتبوع هرچې بدل اويا عطف دې نو ظاهر دې خروج ددې دواړو په دې سره اوهرچې

الصِفَةُ فَلِاَنَّ وَضْعَهَا لِلدَّلَالَةِ عَلٰى مَعْنًى فِيْ مَتْبُوْعِهَا وَ اِفَادَتُهَا تَوْضِيْحَ مَتْبُوْعِهَا فِيْ

صفت دي نوځکه وضع ددې دپاره ددلالت ده په معنی په متبوع ددې کې اوفائده ورکوي دوضاحت دمتبوع په

بَعْضِ الْمَوَاضِعِ لَيْسَتْ بِالْوَضْعِ وَ اَمَّا عَطْفُ الْبَيَانِ وَ هُوَ لِتَوْضِيْحِ مَتْبُوْعِهٖ فَهُوَ

بعضې مواضعوکې نه دي په اعتبار دوضع سره اوهرچې عطف بیان دي نودپاره دوضاحت دمتبوع دي نودا

يُقَرِّرُ اَمْرَ مَتْبُوْعِهٖ وَ يُحَقِّقُهٗ لٰكِنْ لَا فِي النِّسْبَةِ وَ الشُّمُوْلِ هٰذَا حَاصِلُ مَا ذَكَرَهُ

مضبوطوي امردمتبوع ددې اومحقق کوي لکن نه په نسبت اوشمول سره داحاصل دهغه څه دي چې ذکرکړي

الْمُصَنِّفُ فِيْ شَرْحِهٖ.

مصنف په خپله شرحه کې

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره دتعریف دقیودو فوائد بیانوي چې دقیودو فوائد لاندې په شرحه کې ذکر دي

اغراض دجامي : **واذا عرفت هذا**: دادشرحې عبارت دي په دې عبارت کې شارح دجامي دتاکید په تعریف کې دقیودو فوائد بیانوي دتاکید په تعریف کې **يقرر امرالمتبوع** دا اول فصل دي. ددې نه صفت بدل او معطوف بحرف خارج شو. بدل او معطوف بحرف ترې خارج کیدل ظاهر دي. ځکه دا دواړه د متبوع تقریر نه کوي. بلکې بدل په خپله مقصود وي، ددې متبوع مقصود نه وي. او معطوف بحرف سره د خپل متبوع نه مقصود وي او صفت ترې ځکه خارج شو چې ددې وضع په دې معنی باندې د دلالت کولو دپاره وي. کومه چې ددې په متبوع کې موندل کیږي نه دامر متبوع دتقریر دپاره

وافادتها: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : د تاکید په تعریف کې **يقرر امر المتبوع** دي او د تقریر متبوع مطلب دمتبوع وضاحت وي او صفت موضحه هم د متبوع د توضیح فائده ورکوي لکه **زيد الظريف** نو د **يقرر امر المتبوع** نه صفت څنګه خارج شو؟

جواب : په بعضې ځایونو کې صفت دخپل متبوع دوضاحت فائده ورکول په اعتبار دوضعې نه وي. بلکې دعارضي استعمال د وجې نه وي. او په تاکید کې تقریر او توضیح دمتبوع باعتبار دوضعې سره وي نو لهذا صفت ترې خارج شو

في النسبة او في الشمول: دا دویم فصل دي په دې سره عطف بیان خارج شو. ځکه چې داد خپل

متبوع وضاحت ، تقرير او تحقيق خو كوي . ليكن د نسبت او . شمول په اعتبار سره نه وي.
بلكې په اعتبار د ذات سره وي

د تاكيد اقسام :

وَ هُوَ أَيِ التَّاكِيْدُ لَفظِيٌّ أَيْ مَنْسُوْبٌ إِلَى اللَّفْظِ لِحُصُوْلِه مِنْ تَكْرِيْرِ اللَّفْظِ وَ مَعْنَوِيٌّ

او دا يعنې تاكيد لفظي دي يعنې منسوب وي لفظ ته دوجې د حصول ددې نه د تكرير د لفظ نه او معنوی دي

أَيْ مَنْسُوْبٌ إِلَى الْمَعْنَى لِحُصُوْلِهِ مِنْ مُلَاحِظَةِ الْمَعْنَى فَاللَّفْظِيُّ تَكْرِيْرُ اللَّفْظِ الْأَوَّلِ أَيْ مُكَرَّرٌ

يعنې منسوب وي معنى ته دوجې د حصول دلحاظ د معنى نه نو لفظي تكرير د اول لفظ دي يعنې مكرر كول

اللَّفْظِ الْأَوَّلِ وَ مُعَادُهِ حَقِيْقَةً نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ زَيْدٌ أَوْ حُكْماً نَحْوُ ضَرَبْتَ اَنْتَ وَ ضَرَبْتُ أَنَا فَإِنَّ ذٰلِكَ فِيْ حُكْمِ

د اول لفظ او ددې را واپس كول دي حقيقتا لكه جاءني زيد زيد او يا حكما لكه ضربت انت وضربت انا ځكه دا په حكم

تَكْرِيْرِ اللَّفْظِ وَ إِنْ كَانَ مُخَالِفاً لِلْأَوَّلِ لَفظاً إِذِ الضَّرُوْرَةُ دَاعِيَةٌ إِلَى الْمُخَالِفَةِ لِأَنَّهُ لَا يَجُوْزُ تَكْرِيْرُهُ

د تكرير د لفظ كې دي اګر كه مخالف وي د اول لفظا ځكه ضرورت داعي دي مخالفت ته ځكه نه دي جائز تكرير

مُتَّصِلاً وَيَجْرِيْ أَيِ التَّكْرِيْرُ مُطْلَقًا لَا التَّكْرِيْرُ الَّذِيْ هُوَ التَّاكِيْدُ الْإِصْطِلَاحِيُّ فِي الْأَلْفَاظِ كُلِّهَا

ددې متصل او جاري كيږي يعنې تكرير مطلق نه هغه تكرير چې هغه تاكيد اصطلاحي وي په ټولو الفاظو كې كه

اَسْمَاءً وَ اَفْعَالاً اَوْ حُرُوْفاً اَوْ جُمَلاً اَوْ مُرَكَّبَاتٍ تَقْيِيْدِيَّةً اَوْ غَيْرَ ذٰلِكَ وَلَا يَبْعُدُ إِرْجَاعُ

اسماء وي او كه افعال او كه حروف او يا جملې او يا مركبات تقيدي او يا غير ددې نه او بعيد نه دي راجع كول د

الضَّمِيْرِ إِلَى التَّاكِيْدِ اللَّفْظِيِّ الْإِصْطِلَاحِيِّ وَتَخْصِيْصُ الْأَلْفَاظِ بِالْأَسْمَاءِ وَيَكُوْنُ الْمَقْصُوْدُ مِنْ هٰذَا التَّعْمِيْمِ عَدَمَ

ضمير تاكيد لفظي اصطلاحي ته او خاص كول د الفاظو په اسماو سره او وي به مقصود ددې تعميم نه عدم

اِخْتِصَاصِهِ بِأَلْفَاظٍ مَحْصُوْرَةٍ كَالتَّاكِيْدِ الْمَعْنَوِيِّ.

اختصاص ددې دي په الفاظ محصوره لكه تاكيد معنوي

خلاصه د متن : ددې ځاى نه صاحب د كافيه د تاكيد تقسيم كوي چې تاكيد په دوه (۲) قسمه دي : (۱) تاكيد لفظي (۲) تاكيد معنوي ، (۱) تاكيد لفظي هغه دي چې په هغې كې اول لفظ مكرر راوړې شي لكه جاءني زيد زيد ، (۲) تاكيد معنوي هغه دي چې په مخصوص الفاظو سره وي لكه عين كلا كلتا وغيره . اول به د تاكيد لفظي بيان كيږي او وروستو به د تاكيد معنوي بيان كيږي .

اغراض د جامي : اى التاكيد: په دې عبارت سره د هُوَ ضمير مرجع بيانوي چې د هُوَ ضمير مرجع تاكيد دي .

اى منسوب: په دې عبارت کې شارح اشاره کوي چې دلفظ په آخر کې ياء د نسبت دپاره ده

لحصول: په دې عبارت کې شارح د لفظي وجه دتسميې بيانوي چې لفظي ته لفظي ځکه وايي چې دا حاصليږي دتکرار د لفظ نه

اى منسوب: په دې عبارت کې شارح اشاره کوي چې دلفظ په آخر کې ياء د نسبت دپاره ده

لحصوله: په دې عبارت کې شارح د معنوي وجه دتسميې بيانوي چې معنوي ته معنوي ځکه وايي. چې دا د معنى په لحاظ سره حاصليږي.

اى مکرر: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: اللفظي مبتدا او تکرير يې خبر دي او خبر په مبتداء باندې حمل کيږي دلته حمل صحيح نه دي ځکه چې اللفظي منسوب دي او اسم منسوب د مشتق په حکم کې وي نولکه څنګه چې مشتق په ذات مع الوصف باندې دلالت کوي همدارنګې دا هم په ذات مع الوصف باندې دلالت کوي، نوهر کله چې تکرير مصدر وصف محض دي نو د وصف محض حمل په ذات مع الوصف باندې صحيح نه دي ؟

جواب: دلته تکرير مصدر مبني للمفعول دي او د مکرر په معنى باندې دي، نو دا حمل د مشتق په مشتق د قبيلې نه دي لهذا دا جائز دي.

معادة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: په تاکيد لفظي باندې د تکرار اطلاق صحيح نه دي ځکه چې د تکرار معنى ده يو ځيز دوباره ذکر کول بلا فائده او په تاکيد کې خو فائده جليله وي، لکه څنګه چې شارح تفصيلاً ذکر کړې دي ؟

جواب: دلته د تکرير نه مراد اعاده ده او اعاده عام ده برابره خبره ده که فائده يې وي او که فائده يې نه وي .

حقيقة او حکما: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: د تاکيد تعريف جامع نه دي دا په ضربت انت کې په انت باندې او په ضربت انا کې په انا باندې صادق نه راځي. ځکه چې په دې کې داول لفظ تکرار نشته. حالانکه دا هم تاکيد لفظي دي ؟

جواب : داول لفظ په تکرار کې تعميم دي برابره خبره ده که دا تعميم حقيقتاً وي او که حکماً وي . د حقيقتاً مثال لکه **جاءني زيد زيد** . او د حکما مثال لکه **ضربت انت** او په **ضربت انا** کې **انت** او انا د **تاء** ضمير متصل په حکم کې دي. ځکه چې ضمير منفصل دضمير متصل په حکم کې دي

سوال : دلته حقيقتاً تکرار ولې نه شي کيدې ؟

جواب : ځکه چې دلته مجبوري ده هغه مجبوري داده چې د ضمير متصل تکرار دضمير متصل په صورت کې نه شي کيدې

اي للتکرير : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : په يجرى کې دضمير مرجع تاکيد اصطلاحي دی کله چې ددې مرجع تاکيد اصطلاحي وي نو ددې مطلب دا شو چې تاکيد اصطلاحي په ټولو الفاظو کې جاري کيږي، برابره خبره ده که دا اسم وي او که فعل وي او که حرف وي او که جمله وي او که مرکب تقييدي وي او يا غير تقييدي وي، ځکه چې **في الالفاظ کلها** ټولو ته شامل دي حالانکه تاکيد اصطلاحي خاص دي د اسماو سره ؟

/

جواب : شارح ددې دوه (۲) جوابه ورکړي دي

جواب (۱) : اول جواب دادې چې د ضمير مرجع تاکيد اصطلاحي نه دي بلکې دضمير مرجع مطلقاً تکرير ده

جواب (۲) : د ضمير مرجع تاکيد لفظي اصطلاحي ده ليکن د **في الالفاظ کلها** نه مراد يواځې اسماء دي .

ويکون: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : کله چې دالفاظو نه مراد فقط اسماء دي، نو بيا د **کلها** سره دتعميم څه فائده ده ؟

جواب : ددې تعميم نه مقصود دادې چې تاکيد لفظي يو څو الفاظو سره مخصوص نه دي لکه څنګه چې تاکيد معنوي ديو څو الفاظو سره محصور او محدود دي. بلکې دا تاکيد په ټولو اسماو کې جاري کيږي

تاکید معنوي:

وَالتَّاكِيْدُ الْمَعْنَوِيُّ مُخْتَصٌّ بِأَلْفَاظٍ مَحْصُوْرَةٍ أَيْ مَعْدُوْدَةٍ مَحْدُوْدَةٍ وَهِيَ نَفْسُهُ وَعَيْنُهُ وَكِلَاهُمَا وَكُلُّهُ وَأَجْمَعُ وَأَكْتَعُ

او تاکید معنوي دا خاص په الفاظ محصور دپوري يعني معدود او محدود او دا نفسه. عينه. كلاهما. كله. اجمع. اکتع.

وَ أَبْتَعُ وَ أَبْصَعُ بَالصَّادِ الْمُهْمَلَةِ وَ قِيْلَ بِالضَّادِ الْمُعْجَمَةِ قِيْلَ لَا مَعْنٰى لِهٰذِهِ

ابتع. ابصع په صاد مهمله سره او چاويلي دي چې په ضاد معجمه سره دي او چاويلي چې نشته دي معنی ددې

الْكَلِمَاتِ الثَّلٰثِ فِيْ حَالِ الْإِفْرَادِ مِثْلُ حَسَنٍ بَسَنٍ وَ قِيْلَ اِكْتَعُ مُشْتَقٌّ مِنْ حَوْلٍ كَتِيْعٍ أَيْ تَامٍّ وَ

درې کلمو د پاره په حال د افراد لکه حسن بسن او چاويلي چې اکتع مشتق دي د حول كتيع نه يعني د كامل نه او

اَبْصَعُ بِالْمُهْمَلَةِ مِنْ بَصَعَ الْعَرَقُ أَيْ سَالَ وِ بِالْمُعْجَمَةِ مِنْ بَضَعَ أَيْ رَوِيَ

ابصع په صاد مهمله سره د بصع العرق نه دي يعني سال او ابضع په ضاد معجمه سره د بضع نه دي يعني سيراب شه

وَ أَبْتَعُ مِنَ الْبُتَعِ وَ هُوَ طُوْلُ الْعُنُقِ مَعَ شِدَّةِ مِغْرَزِهٖ وَ يُمْكِنُ اِسْتِنْبَاطُ مُنَاسِبَاتٍ خَفِيَّةٍ بَيْنَ

او ابتع د بتع نه دي او دا اوږدوالی د څټ والا نه وايي سره د شدت مغرز نه او ممکن دي استنباط د مناسبت خفيه په مينځ

هٰذِهِ الْمَعَانِيْ وَ مَعْنَاهَا التَّاكِيْدِيْ بِالتَّأَمُّلِ الصَّادِقِ.

ددې معانيو کې او په معنی تاکيدي کې په تامل صادق سره.

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې صاحب د کافيه د تاکيد معنوي د الفاظو، معانيو او ددې د استعمال تفصيل ذکر کوي، چې ددې وضاحت په شرح کې را روان دي.

اغراض دجامي: **التاكيد**: په دې عبارت کې شارح بيان د ترکيب کوي، چې **المعنوي** صفت دي د موصوف محذوف چې **التاكيد** دي

مختص: په دې عبارت کې شارح بيان د ترکيب کوي. نو په دې سره يې اشاره وکړه چې **بالفاظ المحصورة** دا د **مختص** متعلق شو او د مبتدا خبر دي.

اى معدودة: په دې عبارت کې شارح بيان د معنى کوي. د **محصورة** معنى يې بيان کړه. چې د **محصورة** معنى دد دوو شمير، يو څو، دي.

وهى په دې عبارت سره شارح د تاکيد معنوي د الفاظو بيان کوي. چې هغه **نفس. عين. كلا. كلتا. كل. اجمع. اكتع. ابتع. ابصع** دي. بعضې وايي چې **ابضع** په ضاد سره دي

بعضې وايي چې ددې کلماتو په حالت انفراد کې څه معنى نشته. لکه ننه د حسن بسن کې حس. بس مهمل دي ددې څه معنى نشته. بعضې وايي چې په حالت د [illegible] کې يې معنى

شته چې تفصیل یې دا دی چې

اکتع: دا مشتق دي، د حول کتیع نه په معنی دپوره کال

ابصع: دا په صاد مهمله سره دا مشتق دي. د بصع العرق نه په معنی د خولې بهیدو سره . او که ابضع په ضاد معجمه سره شي نو دا مشتق دي د بضع نه په معنی د خړوب کیدو.

ابتع: دا ماخوذ دي د بتع نه په معنی دڅټ اوږدیدل ، دمغرز ، مغرز دسینې هغه سخت ځای ته وایي چې څټ هلته ایخودل شوې وي وي ، سختتیدو سره

ولیکن: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي .

سوال : کله چې داالفاظ داصلي معانیو نه دتاکید معنی طرف ته منقولې وي ، نو دمعاني تاکیدیه او داصلیه په مینځ کې مناسبت ضروري دي. نو ددې دواړو په مینځ کې څه مناسبت شته دي ؟

جواب : په تامل صادق او په پوره توجه سره ددې معاني اصلیه او معاني تاکیدیه په مینځ کې د مناسبات مخفیه استنباط ممکن او آسان دي. لکه دا کتع لغوي معنی ده پوره کیدل دي او معنی اصطلاحي یې عام کیدل دي او عموم تمام الافراد والاجزاء ته وایي. نو لهذا دمعنی لغوي او دمعنی اصطلاحي په مینځ کې مناسبت شته دي. او ابصع په صاد سره دي نو ددې لغوي معنی سیلان دي او سیلان مستلزم دي انبساط او شمول ته اود ابصع تاکیدي معنی عموم دي او په عموم کې هم انبساط او شمول وي نو مناسبت موجود دي او ابضع په ضاد سره نو ددې لغوي معنی روې یعني تمام الشرب دي او په معنی تاکیدي کې یې هم عموم دي او عموم تمام الافراد والاجزاء ته وایي . او دا بتع لغوي معنی طول العنق ده او دطول معنی ده امتداد او اوږدوالي او په معنی تاکیدي کې عموم دي او په عموم کې هم امتداء وجودي وي نو په معنی لغوي او په معنی اصطلاحي کې مناسبت وموندل شو .

د تاکید معنوي د الفاظو استعمال :

فَالْأَوَّلَانِ أَيِ النَّفْسِ وَالعَيْنِ يَعُمَّانِ أَيْ يَقَعَانِ عَلَى الْوَاحِدِ وَالْمُثَنَّى وَالْمَجْمُوْعِ وَالْمُذَكَّرِ وَالْمُؤَنَّثِ بِاِخْتِلَافِ

[illegible] معنی نفس او عین عام دي یعنې واقع کیږي په مفرد تثنیه، جمع، په مذکر او مونث باندې په اختلاف

صِيغَتِهِمَا اَفْرَاداً وَ تَثْنِيَةً وَ جَمْعاً وَ اِخْتِلَافِ ضَمِيْرِهِمَا الْعَائِدِ إِلَى الْمَتْبُوْعِ الْمُؤَكَّدِ

د صیغو [illegible] تثنیه او جمع کیدو [illegible] او [illegible] چې راجع وي متبوع مؤکد طرف ته

تَقُوْلُ نَفْسُهُ فِي الْمُذَكَّرِ الْوَاحِدِ نَفْسُهَا فِي الْمُؤَنَّثِ الْوَاحِدَةِ اَنْفُسُهُمَا بِإِيْرَادِ صِيْغَةِ الْجَمْعِ فِي تَثْنِيَةِ مُذَكَّرِ وَ

نو وايي به نفسه په مذكر واحد كې او نفسها په مؤنث مفرد كې انفسهما په راوړو د صيغې د جمع په تثنيه مذكر او

الْمُؤَنَّثِ وَعَنْ بَعْضِ الْعَرَبِ نَفْسَاهُمَا وَعَيْنَاهُمَا اَنْفُسُهُمْ فِي جَمْعِ الْمُذَكَّرِ الْعَاقِلِ اَنْفُسُهُنَّ فِي جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ

مؤنث كې او د بعضې عربو نه نقل دي نفساهما او عيناهما انفسهم په جمع مذكر عاقل كې او انفسهن په جمع مؤنث

وَ غَيْرِ عَاقِلٍ مِنَ الْمُذَكَّرِ وَ الثَّانِيْ لَمَّا سَمَّى النَّفْسَ وَ الْعَيْنَ اَوَّلَيْنِ تَغْلِيْباً كَالْقَمَرَيْنِ سَمَّى

كې او غير عاقل د مذكر كې او دويم هر كله چې مسمى كړو نفس او عين اول تغليبا لكه قمرين نو مسمى يې كړو

الثَّالِثَ ثَانِياً لِلْمُثَنَّى كِلَاهُمَا لِلْمُذَكَّرِ وَ كِلْتَاهُمَا لِلْمُؤَنَّثِ وَالْبَاقِيْ بَعْدَ الثَّلٰثَةِ الْمَذْكُوْرَةِ لِغَيْرِ الْمُثَنَّى

دريم دويم د پاره د تثنيې كلاهما د پاره د مذكر او كلتاهما د پاره د مؤنث او باقي پس د دري مذكورو نه د پاره د غير تثنيه

مُفْرَداً كَانَ اَوْ جَمْعاً بِاخْتِلَافِ الضَّمِيْرِ الْعَائِدِ إِلَى الْمَتْبُوْعِ الْمُؤَكَّدِ فِيْ كُلِّهِ نَحْوُ قَرَأْتُ الْكِتَابَ كُلَّهُ وَ

د پاره مفرد وي او كه جمع په اختلاف د ضمير سره چې راجع وي متبوع مؤكد ته په كله كې لكه قرأت الكتاب كله او

كُلَّهَا نَحْوُ قَرَأْتُ الصَّحِيْفَةَ كُلَّهَا وَكُلِّهِمْ نَحْوُ اشْتَرَيْتُ الْعَبِيْدَ كُلَّهُمْ وَكُلَّهُنَّ نَحْوُ طَلَّقْتُ النِّسَاءَ كُلَّهُنَّ وَبِاخْتِلَافِ الصِّيَغِ

كلها لكه قرأت الصحيفة كلها او كلهم لكه اشتريت العبيد كلهم او كلهن لكه طلقت النساء كلهن او په اختلاف د صيغو سره

فِي الْكَلِمَاتِ الْبَوَاقِيْ وَ هِيَ اَجْمَعُ وَ اَكْتَعُ وَ اَبْتَعُ وَ اَبْصَعُ بِالْمُهْمَلَةِ اَوِ الْمُعْجَمَةِ تَقُوْلُ اَجْمَعُ

په باقي كلموكې او هغه اجمع ، اكتع ، ابتع ، ابصع دي په صاد يا په ضاد مهمله او يا معجمه سره نو وايي به اجمع

فِي الْمُذَكَّرِ الْوَاحِدِ وَجَمْعَاءُ فِي الْمُؤَنَّثِ الْوَاحِدَةِ اَوِ الْجَمْعِ بِتَاوِيْلِ الْجَمَاعَةِ وَاَجْمَعُوْنَ فِيْ جَمْعِ الْمُذَكَّرِ وَجُمَعُ

په مذكر مفرد كې او جمعاء په مؤنث مفرد كې او يا جمع په تاويل د جماعة سره دا او اجمعون په جمع مذكر كې او جُمَعُ

فِيْ جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ وَكَذَا اَكْتَعُ كَتْعَاءُ اَكْتَعُوْنَ كُتَعُ وَاَبْتَعُ بَتْعَاءُ اَبْتَعُوْنَ بُتَعُ وَاَبْصَعُ بَصْعَاءُ اَبْصَعُوْنَ بُصَعُ.

په جمع مؤنث كې او همدا رنګې اكتع كتعاء اكتعون كتع او ابتع بتعاء ابتعون بتع او ابصع بصعاء ابصعون بصع دي

خلاصه دمتن : په دې عبارت كې كې هم صاحب د كافيه د تاكيد معنوي د الفاظو معاني او ددې د استعمال تفصيل ذكر كوي چې وضاحت يې لاندې په شرحه كې ذكر دي

اغراض دجامي : فالاولان: د تاكيد معنوي په الفاظو كې دوه لفظونه نفسٌ عينٌ عام دي. واحد تثنيه مذكر مؤنث د ټولو د تاكيد د پاره راځي. البته د دې صيغه او د دې سره ضمير كوم چې متبوع طرف ته راجع كيږي نو د اد متبوع په اعتبار سره بدليږي. كه چيرته متبوع مفرد وي نو ددې صيغه به هم مفرد وي او ددې سره ضمير به هم مفرد وي. او كه متبوع تثنيه وي نو ددې ضمير به بې د اختلاف نه تثنيه وي او ددې صيغې په سره كې اختلاف دي د جمهورو په نزد باندې دا په صيغې د جمعې سره او د بعضو په نزد په صيغې د تثنيې سره راوړې شي . نو

لهذا دواحد مذكر دپاره **نفسه** اود واحد مؤنث دپاره **نفسها** اودتثنيې مذكر اودمؤنث دپاره دجمهورو په نزد **انفسهما** او **اعينهما** ، اودبعضو په نزد **نفساهما** او **عيناهما** ويلې شي اودجمع مذكر عاقل دپاره **انفسهم** اودجمع مؤنث او جمع مذكر غير عاقل دپاره **انفسهن** استعماليږي .

والثاني: د تاكيد معنوي په الفاظو كې **كلا** دتثنيې مذكر او **كلتا** د تثنيې مؤنث دپاره دي .

اى النفس والعين: په دې عبارت سره شارح د الا او د لان د مصداق بيان كوي چې دالا اود لان مصداق **نفس** او**عين** دي .

اى يقعان: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : په **نفس** او **عين** باندې د عام اطلاق صحيح نه دي، ځكه چې د عام تعريف دادې چې په يو ځل ټولو افرادو ته شامل وي، او **نفس** او **عين** داسې نه دي ؟

جواب : دلته **يعمان** د **يقعان** په معنى باندې دي ځكه چې عموم ته وقوع لازم ده .

لماسمى النفس: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب وركول دي :

سوال : د تاكيد په الفاظو كې په **كلا** باندې د ثاني اطلاق صحيح نه دي ځكه چې دا **ثالث** دي لكه دا چې ظاهر دي ؟

جواب : كله چې **نفس** او **عين** تغليباً او عين په نوم سره كړى دى. لكه **قمر** او **شمس** ته تغليباً **قمرين** وايي، نو **كلا** د دريم په ځاى په دويم سره تعبير وكړې شو، په حقيقت كې دا دريم دي.

والباقي: دتاكيد معنوي په الفاظو كې **نفس عين كلا كلتا** نه غير باقي ټول الفاظ **كل اكتع ابتع ابصع** وغيره دا د غير تثنيه يعني مفرد او د جمع **د تاكيد دپاره راځي**. بيا په صيغه دلفظ دكل كې اختلاف نشته . البته په دې سره ضمير دمتبوع **په لحاظ** سره بدليږي رابدليږي ، دواحد مذكر دپاره **كله** لكه **قراءت الكتاب كله** او دواحد مؤنث دپاره **كلها** لكه **قراءت الصحيفة كلها** او دجمع مذكر دپاره **كلهم** لكه **اشتريت العبد كلهم** او دجمع مؤنث دپاره **كلهن** لكه **طلقت النساء كلهن** ويلې شي او باقي صيغې دمتبوع په لحاظ سره بدليږي. لكه **اجمع اكتع ابتع ابصع** دواحد مذكر دپاره او **جمعا اكتعا تبعا بصعاء** دواحد مؤنث دپاره . اودجمع مذكر دپاره **اجمعون اكتعون ابتعون اصبعون** او د جمع مؤنث دپاره **جمع كتع تبع بصع**

مفرداً كان او جمعاً: په دې عبارت کې شارح يو وهم دفع کوي.

وهم: وهم دادې چې شايد دغير مثنی نه مراد فقط مفرد وي ځکه چې هم دا اصل دي نو **مفرداكان او جمعا** يې وويل دا وهم يې دفع کړو چې دغير مثنی نه مراد مفرد اوجمع دواړه دي.

وهي أجمعون: په دې عبارت سره شارح د **البواقي** مصداق بيانوي چې د **البواقي** مصداق **اجمعون** دي

د كل او د اجمع تفصيل:

وَلَا يُؤَكَّدُ بِكُلٍّ وَ اَجْمَعَ اِلَّا ذُوْ اَجْزَاءٍ مُفْرَداً كَانَ اَوْ جَمْعاً اِذِ الْكُلِّيَّةُ وَ الْاِجْتِمَاعُ لَا يَتَحَقَّقَانِ
او نه تاکيد نه شي راوړي كل او اجمع مګر ذو اجزاء که مفرد وي او که جمع ځکه کليت او اجتماعيت نه دي متحقق
اِلَّا فِيْهِ وَلَا حَاجَةَ اِلٰى ذِكْرِ الْاَفْرَادِ لِاَنَّ الْكُلِّيَ مَا لَمْ تُلَاحَظْ اَفْرَادُهُ
مګر په ذو اجزاء کې او نشته دي حاجت ذکر کولو دافرادو ته ځکه کلي چې ترڅو لحاظ و نه کړي شي دافرادو د
مُجْتَمِعَةً وَ لَمْ تَصِرْ اَجْزَاءً لَا يَصِحُّ تَاكِيْدُهُ بِكُلٍّ وَ اَجْمَعَ وَ يَجِبُ اَنْ تَكُوْنَ تِلْكَ الْاَجْزَاءُ
مجتمع کيدو او نه وي اجزاء نو نه صحيح کيږي تاکيد ددې په كل او اجمع سره او واجب دي چې وي دا اجزاء په
بِحَيْثُ يَصِحُّ اِفْتِرَاقُهَا حِسًّا كَاَجْزَاءِ الْقَوْمِ اَوْ حُكْماً كَاَجْزَاءِ الْعَبْدِ لِيَكُوْنَ
داسې شان سره چې صحيح وي افتراق ددې حسًا لکه اجزاء د قوم او يا حکما لکه اجزاء د عبد ددې دپاره چې وي
فِي التَّاكِيْدِ بِكُلٍّ وَ اَجْمَعَ فَائِدَةٌ مِثْلُ اَكْرَمْتُ الْقَوْمَ كُلَّهُمْ وَاشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ فَاِنَّ الْعَبْدَ قَدْ يَتَجَزَّأُ فِي
په تاکيد کې په كل او جمع سره فائده لکه اکرمت القوم كلهم او اشتريت العبد كله ځکه چې عبد کله تقسيمېږي په
الْاِشْتِرَاءِ فَيَصِحُّ تَاكِيْدُهُ بِكُلٍّ لِيُفِيْدَ الشُّمُوْلَ بِخِلَافِ جَاءَ زَيْدٌ كُلُّهُ
اشتراء کې نو صحيح کيږي تاکيد ددې په كل سره ددې دپاره چې فائده وکړي د شمول په خلاف د جاء زيد كله د
لِعَدَمِ صِحَّةِ اِفْتِرَاقِ اَجْزَائِهِ لَا حِسًّا وَ لَا حُكْماً فِيْ حُكْمِ الْمَجِيْءِ.
وجې د عدم صحت دافتراق داجزاوو ددې، نه حسا او نه حکما په حکم د راتلو کې

خلاصه دمتن: صاحب د کافيه يوه قاعده بيانوي چې حاصل يې دادې چې لفظ د كل او اجمع سره د داسې څيز تاکيد کولې شي په کوم کې چې دوه (۲) شرطونه موندلې شي (۱) خاوند داجزاو وي (۲) او اجزاء هم داسې وي چې د چا افتراق **حساً** يا **حكما** صحيح وي د **حساً** مثال لکه **اكرمت القوم كلهم** د **حكماً** مثال لکه **واشتريت العبد كله**

اغراض دجامي: **مفرداً كان او جمعاً**: په دې عبارت کې شارح يو وهم دفع کوي

وهم : وهم دادې چې شايد د ذواجزاء نه مراد د ترد وي. ځکه چې هغه اصل دي نو دا وهم يې لرې کړو چې په ذواجزاء کې تعميم دي برابره خبره ده که مفرد وي او که جمع.

اذا الکلية: په دې عبارت کې شارح داول شرط وجه بيان کړې ده چې د **ذوا اجزاء شرط** ځکه ولږولې شو چې د **کل** کليت او د **اجمع** اجتماع دا په **ذواجزاء** کې متحقق کيدې شي.

ولا حاجة: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : مصنف ته په کار وو چې د اجزاء سره يې د افرادو ذکر هم کړي وي او دا يې ويلي وې ځکه چې لفظ د کل او د اجمع سره د انسان او د رجل تاکيد هم کيږي

جواب : د اجزاء د ذکر کولو نه پس د افرادو د ذکر کولو ته ضرورت نشته ځکه چې ذواجزاء وافراد نه هم شامل دي ځکه چې ترڅو پورې د کلي افراد په حيثيت د **مجموع من حيث المجموع** سره ملحوظ نه وي او ددې افراد د اجزاو په صورت کې اختيار نه کړي شي نو تر هغه وخته پورې ددې تاکيد په لفظ د کل او د اجمع سره نه صحيح کيږي.

و يجب ان تکون الخ: په دې عبارت سره شارح ددويم شرط وضاحت او ددې وجه بيانوي چې حاصل يې دادې چې د کل او اجمع سره د ذواجزاء او د ذوابعاضو تاکيد کولې شي ليکن دا واجب او ضروري ده چې هغه اجزاء داسې وي چې ددې افتراق په حسي طور سره او يا په حکمي طور سره صحيح وي.

ليکون: په دې عبارت سره شارح ددويم شرط وضاحت او ددې وجه بيانوي چې دويم شرط يې ددوچې نه ولږول ددې دپاره چې لفظ د کل او د اجمع سره د تاکيد څه فائده حاصله شي.

اکرمت القوم کلهم: دا د هغه مؤکد مثال دي چې ددې اجزاو افتراق حسا صحيح دي. ځکه چې د قوم افراد زيد عمرو بکر وغيره دي او ددې افتراق حسا صحيح دي.

اشتريت العبد: کله دا د هغه مؤکد مثال دي چې د هغې د اجزاو افتراق حکماً صحيح وي. ځکه چې ممکن ده چې د يو سړي د غلام يوه حصه واخستې شي او يوه حصه يې پاتې شي. نو د شراء په اعتبار سره حکما د غلام کې حصې او اجزاء کيدې شي او **جاء ني زيد کله** ويل صحيح نه دي ځکه چې د **زيد** د اجزاو افتراق نه حساً صحيح دي او نه حکماً.

د ضمیر مرفوع متصل تاکید :

وَ إِذَا أُكِّدَ الضَّمِيْرُ الْمَرْفُوْعُ الْمُتَّصِلُ بَارِزاً كَانَ اَوْ مُسْتَكِناً بِالنَّفْسِ وَ الْعَيْنِ أَيْ إِذَا أُرِيْدَ
اوکله چې مؤکد کړې شي ضمیر مرفوع متصل که بارز وي اوکه مستتر په نفس او عین سره یعنې کله چې اراده
تَأْكِيْدُهُ بِهِمَا أُكِّدَ ذٰلِكَ الضَّمِيْرُ اَوَّلاً بِمُنْفَصِلٍ ثُمَّ بِالنَّفْسِ وَ الْعَيْنِ مِثْلُ
وکړې شي د تاکید په دې دواړو سره نو مؤکد کولې به شي دا ضمیر اول په منفصل سره بیا په نفس او عین سره لکه
ضَرَبْتَ أَنْتَ نَفْسُكَ فَنَفْسُكَ تَأْكِيْدٌ لِتَاءِ الضَّمِيْرِ بَعْدَ تَأْكِيْدِهِ بِمُنْفَصِلٍ هُوَ أَنْتَ
ضربت انت نفسک نو نفسک تاکید دې دپاره د تاء ضمیر پس د تاکید د دې نه په منفصل سره چې هغه **انت** دې
إِذْ لَوْ لَا ذٰلِكَ لَالْتَبَسَ التَّأْكِيْدُ بِالْفَاعِلِ إِذَا وَقَعَ تَأْكِيْداً لِلْمُسْتَكِنِّ نَحْوُ زَيْدٌ
خکه که چیرته دا نه وې نو ملتبس به وې تاکید په فاعل سره چې کله واقع شي تاکید ضمیر مستتر لکه زید
أَكْرَمَنِيْ هُوَ نَفْسُهُ فَلَوْ لَمْ يُؤَكَّدِ الضَّمِيْرُ الْمُسْتَكِنُّ فِيْ أَكْرَمَنِيْ بِقَوْلِهِ هُوَ وَ يُقَالُ زَيْدٌ
اکرمني هو نفسه نو که چیرته مؤکد نه شي په ضمیر مستتر سره په اکرمني کې په دې قول هو سره او ووېل شي زید
أَكْرَمَنِيْ نَفْسُهُ لَالْتَبَسَ نَفْسُهُ الَّذِيْ هُوَ التَّأْكِيْدُ بِالْفَاعِلِ وَ لَمَّا وَقَعَ الْاِلْتِبَاسُ فِيْ
اکرمني نفسه نو ملتبس به شي په هغه نفسه سره چې هغه مؤکد وي په فاعل سره نو هر کله چې واقع شو التباس په
هٰذِهِ الصُّوْرَةِ أُجْرِيَ بَقِيَّةُ الْبَابِ عَلَيْهَا.
دې صورت کې نو جاري شو باقي باب په دې باندې

خلاصه دمتن : صاحب کافیه په دې عبارت کې د تاکید په باره کې یوه قاعده ذکر کوي چې کله چې لفظ د **نفس** او د **عین** سره د ضمیر مرفوع متصل تاکید اراده وشي. نو اول د ضمیر مرفوع منفصل سره د ضمیر مرفوع متصل تاکید راوړل ضروري دي. بیا لفظ د **نفس** او د **عین** سره تاکید راوړې شي لکه **ضربت انت نفسک**

اغراض دجامي : بارزا کان او مستترا: په دې عبارت سره شارح یو وهم لرې کوي

وهم : وهم دا دې چې شاید د مرفوع متصل نه مراد ضمیر د مرفوع متصل بارز وي خکه چې مصنف هم د دې مثال [illegible] کوي [illegible] شارح [illegible] وهم لرې کړو چې په مرفوع متصل کې تعمیم دي برابره خبره د ده که [illegible] دي اوکه مستتر وي

ای اذا ارید: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : په متن کې و اذا اکد الضمیر بالنفس والعین الخ شرط دې او اکد بمنفصل الخ جزا [illegible]

اصل دادې چې شرط مقدم وي په جزاء باندې او دلته جزاء مخکې ده په شرط باندې ځکه چې تاکید بالنفس والعین کوم چې شرط دي مؤخر او وروستو دي او تاکید بالمنفصل کوم چې جزاء ده، هغه مقدم او مخکې دې، نو داد اصل اوقاعدې خلاف دي ؟

جواب: په اولنې اذا اکد سره مراد اراده دتاکید ده یعنې کله چې لفظ دنفس او دعین سره د ضمیر مرفوع متصل دتاکید اراده وشي، نو په نفس او عین سره دتاکید اراده یقیناً مقدم وي په ارادې دتاکید بالمنفصل باندې . نو لهذا څه اشکال نشته دي .

فلنفسك: په دې عبارت سره شارح مثال په ممثل له باندې تطبیق کوي په دې مثال کې نفسك د تاء ضمیر مرفوع متصل تاکید دي ددې وجې نه اولنې ضمیر مرفوع منفصل یعنې په انت سره ددې تاکید راوړې شو بیا په لفظ د نفس سره

اذلولا: په دې عبارت کې شارح د ذکر شوي شرط وجه بیانوي . چې دا شرط یې ددې دپاره ولږولو چې که داولنې ضمیر په مرفوع متصل سره تاکید ونه شي. نو په بعضو صورتونو کې د تاکید دفاعل سره التباس لازمیږي، مثلاً کله په لفظ د نفس او د عین سره دضمیر مرفوع مستتر تاکید وشي لکه زید اکرمني هو نفسه. اوس که ددې هو ضمیر سره تاکید ونه شي او داسې وویلې شي چې زید اکرمني نفسه نو معلوم به نه شي چې نفسه د اکرم فاعل دي یا ضمیر مستتر د فاعل تاکید دي .؛

نو چونکې په دې صورت کې التباس لازم راځي نو په باقي صورتونو کې په کومو کې چې التباس لازم نه راځي په دې باندې قیاس کړی شي، ددې دپاره چې د ټول باب حکم یو شي.

په ضمیر مرفوع متصل کې دقیوداتو فوائد :

وَ اِنَّمَا قَيَّدَ الضَّمِيْرَ بِالْمَرْفُوْعِ لِجَوَازِ تَاكِيْدِ الضَّمِيْرِ الْمَنْصُوْبِ وَالْمَجْرُوْرِ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنِ
اوپه تحقیق سره مقید یې کړو ضمیر په مرفوع سره دپاره دجواز دتاکید دضمیر منصوب او دمجرور په نفس اوعین
بِلَا تَاكِيْدِهِمَا بِالْمُنْفَصِلِ نَحْوُ ضَرَبْتُكَ نَفْسَكَ وَ مَرَرْتُ بِكَ نَفْسَكَ لِعَدَمِ اللَّبْسِ وَ
سره بې دتاکید ددې دواړونه په منفصل سره لکه ضربتك نفسك اومررت بك نفسك دوجې دعدم التباس نه اوپه
بِالْمُتَّصِلِ لِجَوَازِ تَاكِيْدِ الْمَرْفُوْعِ الْمُنْفَصِلِ بِالنَّفْسِ وَ الْعَيْنِ بِلَا تَاكِيْدِهٖ بِمُنْفَصِلٍ نَحْوُ اَنْتَ
متصل سره دوجې دجواز دتاکید دمرفوع منفصل په نفس اوعین سره بې دتاکید ددې نه په منفصل سره لکه انت

نَفْسُکَ قَائِمٌ لِعَدَمِ اللَّبْسِ وَ اِنَّمَا قَيَّدَ بِالنَّفْسِ وَ الْعَيْنِ لِجَوَازِ تَاکِيْدِ
نفسک قائم دوجې دعدم التباس نه اوپه تحقيق سره مقيد يې کړو په نفس اوعين سره دوجې دجواز دتاکيد د
الْمَرْفُوْعِ الْمُتَّصِلِ بِکُلِّ وَ اَجْمَعِيْنَ بِلَاتَاکِيْدٍ نَحْوُ الْقَوْمُ جَاءُوْنِيْ کُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ لِعَدَمِ الْتِبَاسِ التَّاکِيْدِ
مرفوع متصل په کل او اجمعين سره بې دتاکيد نه لکه القوم جاءوني کلهم اجمعون دوجې دعدم التباس دتاکيد په
بِالْفَاعِلِ لِاَنَّ کُلًّا وَ اَجْمَعِيْنَ يَلِيَانِ الْعَوَامِلَ قَلِيْلاً بِخِلَافِ النَّفْسِ وَ الْعَيْنِ فَاِنَّهُمَا يَلِيَانِهَا
فاعل سره ځکه دکلا او اجمعين اتصال دعواملو سره کم دي په خلاف دنفس او عين ځکه دا دواړه متصل دي
کَثِيْراً.
دعواملو سره ډير.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره په ضمير مرفوع متصل کې دقيودا تو فوائد بيانوي ، چې تفصيل يې لاندې په شرحه کې ذکر دي

اغراض دجامي : وانما قيد الضمير: په دې عبارت کې شارح د قيودو فوائد بيانوي، د مرفوع قيد يې ځکه ولږولو چې په لفظ د نفس او دعين سره ضمير منصوب متصل او دمجرور متصل تاکيد ، دضمير منفصل سره دتاکيد نه په غير جائز دي لکه ضربتك نفسك او مررت بك نفسك، ځکه چې په دې صورت کې د تاکيد دفاعل سره التباس لازم نه دي او د متصل قيد يې ځکه ولږولو چې دضمير مرفوع منفصل تاکيد په لفظ دنفس او دعين سره تاکيد بالمنفصل نه په غير جائز دي لکه انت نفسك قائم، ځکه چې په دې صورت کې دتاکيد دفاعل سره التباس لازم نه راځي، او د لفظ د نفس او عين قيد يې ځکه ولږولو چې په لفظ د کل او اجمعون سره ضمير مرفوع متصل تاکيد دتاکيد بالمنفصل نه په غير جائز دي لکه القوم جاءوني کلهم اجمعون ځکه چې په دې صورتونو کې دتاکيد دفاعل سره التباس لازم نه راځي.

لان کلا: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال :کله چې لفظ د کل او د اجمع سره دضمير مرفوع متصل تاکيد راوړې شي. نو بيا هم په بعضې صورتونو کې دفاعل سره التباس راځي لکه العبد اشترى کله په دې کې نه ده معلومه چې کله دانائب فاعل دي، يا دضمير نائب فاعل تاکيد دي، کله چې په دې صورت کې التباس لازم شو، نو بعضې نور صورتونه په دې قياس کولې شي او لفظ دکل او اجمعون سره دضمير مرفوع متصل تاکيد راوړلو دپاره دتاکيد بالمنفصل شرط کول په کار وو ؟

جواب : لفظ د كل او اجمعون د عامل سره اتصال او قرب لرِ دي او عدم اتصال ډير دي او التباس د اتصال او قرب په صورت كې لازم راځي، په خلاف د **نفس** او د **عين** د دې اتصال او قرب د عامل سره ډير دي او عدم اتصال لرِ دي . لهذا قليل په كثير باندې قياس كولې نه شي

اكتع او د دې دا خواتو ذكر :

وَ اَكْتَعَ وَ اَخَوَاهُ يَعْنِيْ اَبْتَعَ وَ اَبْصَعُ اَتْبَاعٌ بِفَتْحِ الْهَمْزَةِ عَلٰى مَا هُوَ الْمَشْهُوْرُ لِاَجْمَعَ
او اكتع او اخوات د دې يعني ابتع او ابصع تابع دي په فتحې د همزې سره بنا په هغه څه چې مشهور دي د اجمع
يَعْنِيْ تُسْتَعْمَلُ هٰذِهِ الْكَلِمَاتُ الثَّلٰثُ بِتَبْعِيَّتِهٖ لَا بِالْاِصَالَةِ لِكَوْنِهٖ اَدَلَّ مِنْهَا عَلَى الْمَقْصُوْدِ
يعني مستعمليږي دغه درې كلمات نه بالاصالة د وجې د كيدو د دې نه زيات دلالت كوونكي د دې نه په مقصود
وَ هُوَ الْجَمْعِيَّةُ فَلَا يَتَقَدَّمُ يَعْنِيْ اَكْتَعَ وَ اَخَوَيْهِ عَلَيْهِ اَيْ عَلٰى اَجْمَعَ نَوِ
باندې او هغه جمعيت دي نو مقدم به نه وي يعني اكتع او اخوات د دې په دې باندې يعني په اجمع باندې كه
اجْتَمَعَتْ مَعَهُ وَ ذِكْرُهَا اَيْ ذِكْرُ اَكْتَعَ مَعَ اَخَوَيْهِ دُوْنَهٗ اَيْ دُوْنَ ذِكْرِ اَجْمَعَ ضَعِيْفٌ
چيرته جمع شي د دې سره او ذكر د دې يعني ذكر د اكتع سره د اخواتو په غير د دې نه په غير د ذكر د اجمع نه ضعيف
لِعَدَمِ ظُهُوْرِ دَلَالَتِهَا عَلٰى مَعْنَى الْجَمْعِيَّةِ وَ لِلُزُوْمِ ذِكْرِ مَا مِنْ شَانِهِ التَّبْعِيَّةُ
دي د وجې د عدم ظهور د دلالت نه په معنى د جمعيت باندې او د وجې د لزوم د ذكر د هغه څه چې شان د دې تابع
بِـــدُوْنِ الْاَصْــلِ .
كيدل دي په غير د اصل نه

خلاصه د متن : صاحب د كافيه وايي چې اكتع ابتع ابصع داد اجمع تابع دي لهذا داد اجمع نه هم نه شي مقدم كيدې او داد اجمع نه په غير ذكر كول هم ضعيف دي

اغراض د جامي : يعني ابتع : په دې عبارت كې شارح د **اخواه** د مصداق تعيين كوي چې د دې مصداق **ابتع** او **ابصع** دي .

بفتح الهمزة : په دې عبارت سره شارح د يو وهم ازاله كوي .

وهم : وهم داوو چې شايد اتباع په كسرې د همزې سره وي نو په دې صورت كې به باب افعال مصدر وي او د دې حمل په **اكتع** او **اخواه** باندې صحيح نه دي ځكه چې دا به د مفرد حمل په جمع باندې لازم راشي نو شارح په او **بفتح الهمزة** ويلو سره دا وهم ختم كړو چې اتباع په فتحې د همزې سره دي او دا جمع ده لهذا حمل د جمع په جمع باندې راغلو او دا صحيح او جائز دي

على ما هو المشهور: د جامي دشارح په دې عبارت باندې مولانا وسيم ګل باسولي اعتراض کړې دي

اعتراض: د شارح د عبارت نه معلومېږي چې په غير متبوع کښې به دا په کسرې دهمزې سره ويل جائز وي حالانکه دا خو بالکل جائز نه دي ځکه چې په دې صورت کښې دمفرد حمل په جمع باندې لازم راځي اودا جائز نه دي

جواب: د على ما هو المشهور تعلق د بفتح الهمزة سره نه دي بلکې ددې تعلق د اتباع سره دي يعني مشهوره داده چې اكتع ابتع ابصع داد اجمع تابع دي او غير مشهورقول دادې چې داد جمع نه په غير هم په دې سره تاکيد راوړل جائز دي

يعني تستعمل: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: اجمع په خپله دموکد دپاره تابع وي نو اكتع ابتع وغيره به څنګه ددې تابع جوړېږي د خو به د تابع تابع کيدل لازم راشي؟

جواب: دلته دتابع نه اصطلاحي تابع مراد نه ده بلکې دلته داتباع نه مراد استعمال دي يعني د اكتع وغيره استعمال داجمع تابع وي چې دا کلمات ددې تابع شي او استعمالېږي، بالاصالة نه استعمالېږي

لكونه: په دې عبارت کښې شارح د تابع کېدو وجه بيانوي. چې داجمع تابع ځکه دي چې معنى مقصودي په جمعيت باندې داجمع دلالت په نسبت ددغه کلماتو زيات واضح دي، يا ددې وجې نه چې ددې کلماتو په حالت دانفرادي کښې هيڅ معنى نشته، کله چې داد اجمع سره استعمال شي نوپه دې صورت کښې ددې معنى اجمع والاوي يا ددې وجې نه چې دا کلمات ثلاثه خپل اصلي معاني نه معنى تاکيدي طرف ته منقول وي، ځکه چې اجمع [illegible] باندې موجود دي ځکه چې هغه په مقصود باندې دلالت کوي

فلا يتقدم: په دې عبارت کښې شارح په ماقبل باندې دتفريع بيان کوي چې اكتع او ددې نظائر د اجمع تابع ځکه دي چې دا په اجمع باندې نه مقدم کيږي او د اجمع نه په غير دا ذکر کول هم ضعيف دي

[illegible] کښې شارح د فلا يتقدم دضمير مرجع متعين کړه چې د فلا يتقدم

دضمير مرجع اكتع ده .

علی اجمع : په دې عبارت كې شارح د عليه دضمير مرجع متعين كړي ده چې د عليه دضمير مرجع اجمع ده

لواجتمعت : په دې عبارت كې شارح دعدم تقديم دپاره ديو قيد بيان كوي چې اكتع اجتع ابصع داد اجمع نه ، نه شي مقدم كيدې كه چېرته په دې سره جمع وي

ای ذكر اكتع : په دې عبارت كې شارح د هاء دضمير مرجع متعين كړه د هاء دضمير مرجع اكتع دي .

دون ذكر اجمع : په دې عبارت كې شارح د دونه دضمير مرجع متعين كړي ده .

لعدم ظهوره : په دې عبارت كې شارح دضعف وجه بيانوي نوشارح د دې دوه (۲) وجهې ذكر كړې دي .

اوله وجه : دا په غير د اجمع نه ذكر كول ځكه ضعيف دي چې د دې دلالت معنی په جمعيت باندې واضحه نه ده.

دويمه وجه: په دې صورت كې هغه شيز چې د هغې دشان تابع كيدل دي، دا به د اصل نه په غير ذكر كول لازم راځي كوم چې مناسب نه دي.

ځلورم قسم : د بدل تعريف :

اَلْبَدَلُ تَابِعٌ مَقْصُوْدٌ بِمَا نُسِبَ إِلَى الْمَتْبُوْعِ أَيْ تُقْصَدُ النِّسْبَةُ إِلَيْهِ
بدل هغه تابع دی چې مقصود هغه څه سره چې نسبت يې شوې وي متبوع طرف ته يعنې مقصود وي نسبت دې
بِنِسْبَةِ مَا نُسِبَ إِلَى الْمَتْبُوْعِ دُوْنَهُ أَيْ دُوْنَ الْمَتْبُوْعِ أَيْ لَا تَكُوْنُ النِّسْبَةُ إِلَى الْمَتْبُوْعِ
طرف ته په هغه نسبت سره چې منسوب متبوع طرف ته نه هغه يعنې نه متبوع يعنې نه وي نسبت متبوع طرف
مَقْصُوْدَةً اِبْتِدَاءً بِنِسْبَةِ مَا نُسِبَ إِلَيْهِ بَلْ تَكُوْنُ النِّسْبَةُ إِلَيْهِ تَوْطِيَةً وَ تَمْهِيْداً
ته مقصود ابتداء په هغه نسبت سره چې منسوب وي دې طرف ته بلكې وي نسبت دې طرف ته ترطيه او تمهيد د
لِنِسْبَتِهِ إِلَى التَّابِعِ سَوَاءٌ كَانَ مَا نُسِبَ إِلَيْهِ مُسْنَداً أَوْ غَيْرَهُ
پاره دنسبت د دې تابع طرف ته برابره خبره ده كه وي هغه څه چې نسبت شوې وي دې طرف ته د مسند او يا غير
مِثْلُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَخُوْكَ وَ ضَرَبْتُ زَيْداً أَخَاكَ.
مسند لكه جاءني زيد اخوک او ضربت زيدا اخاک

خلاصه دمتن : ددې ځاې نه صاحب دکافيې دتوابعو دڅلورم قسم دبدل تعريف کوي، بدل هغه تابع دي کوم چې ددې نسبت نه مقصود وي کوم چې دې متبوع طرف ته شوې وي ليکن ددې متبوع مقصود نه وي

اغراض دجامي : اى تقصد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : د مقصود ضمير راجع وي تابع طرف ته او دتابع ضمير راجع دي بدل طرف ته، نو ددې معنى داشوه چې بدل داسې تابع دي کوم چې هغه بدل مقصود وي، نو معلومه شوه چې نفس بدل مقصود دي، حالانکه نفس بدل مقصود نه دي، بلکې مقصود بدل دي لکه په جاءني زيد اخوك کې نفس اخوك مقصود نه دي بلکې نسبت د مجيئت مقصود دي .

جواب : د مقصود اسناد ضمير بدل طرف ته مجازاً دې په حقيقت کې دا مسند دې نسبت طرف ته ، يا په بل عبارت سره **مقصودٌ** د **تابعٌ** دپاره نعت بحال الموصوف نه دي، بلکې نعت بحال متعلق الموصوف دي نو **مقصودٌ** په خپله دتابع (بدل) نه حال نه دي، بلکې ددې د متعلق نسبت حال بيانوي نو حاصل دعبارت دا شو چې : **مقصودٌ نسبته، بنسبة ما نسب الى المتبوع**.

اى دون المتبوع: په دې عبارت کې شارح بيان دمرجع کوي .

لا تكون: په دې عبارت کې شارح دمعنى دحاصل بيان کوي، چې د معنى حاصل دادې چې د **ما نسب الى المتبوع** نسبت نه نسبت الى المتبوع ابتداء مقصود نه وي بلکې نسبت الى التابع مقصود وي او نسبت الى المتبوع دتمهيد په شان وي .

سواء: په دې عبارت کې شارح په **ما نسب الى المتبوع** کې د تعميم بيان کوي چې **ما نسب الى المتبوع** مسند وي اويا غير مسند . د مسند مثال لکه **جاءني زيد اخوك** په دې کې **زيد** متبوع دي او **جاء** دې طرف ته منسوب دي چې هغه مسند دي ، دغير مسند مثال لکه **ضربت زيدا اخاك** په دې کې **زيد** متبوع دي چې هغه غير مسند دي .

دتعريف دقيودو فوائد :

وَ احْتَرَزَ بِقَوْلِهِ مَقْصُوْدٌ بِمَا نُسِبَ إِلَى الْمَتْبُوْعِ عَنِ النَّعْتِ وَ التَّاكِيْدِ وَ عَطْفُ الْبَيَانِ لِاَنَّهَا لَيْسَتْ
اواحترازيې وکړو په دې قول دمصنف مقصود بما نسب إلى المتبوع سره دنعت اوتاكيد اوعطف بيان نه ځکه دا نه

مَقْصُوْدَةً بِمَا نُسِبَ إِلَيْهِ بَلِ الْمَتْبُوْعُ مَقْصُوْدٌ بِهٖ وَ بِقَوْلِهٖ

دي مقصود هغه طرف ته چې نسبت يې شوې وي دې طرف ته بلکې متبوع مقصود ده په دې سره او په دې قول

دُوْنَهٗ اِحْتِرَازٌ عَنِ الْعَطْفِ بِحَرْفٍ فَإِنَّ الْمَتْبُوْعَ فِيْهِ مَقْصُوْدٌ بِمَا نُسِبَ

دونه سره احتراز دي دعطف بحرف نه خکه متبوع په دې کې مقصود دي هغه طرف ته چې نسبت يې شوې وي

إِلَيْهِ مَعَ التَّابِعِ وَلَا يَصْدُقُ الْحَدُّ عَلَى الْمَعْطُوْفِ بِبَلْ لِأَنَّ مَتْبُوْعَهٗ مَقْصُوْدٌ اِبْتِدَاءً

دې طرف ته سره دتابع او نه صادقيږي تعريف په معطوف په بَلْ باندې خکه متبوع ددې مقصود دي ابتداء

ثُمَّ بَدَالَهٗ فَأَعْرَضَ عَنْهُ وَقَصَدَ الْمَعْطُوْفَ فَكِلَاهُمَا مَقْصُوْدَانِ بِهٰذَا الْمَعْنٰى فَإِنْ قِيْلَ هٰذَا

نو بيا ظاهر شو متکلم ته دپاره او قصد يې وکړو د معطوف نو دا دواړه مقصود دي په دې معنى سره که چا وويل چې دا

الْحَدُّ لَا يَتَنَاوَلُ الْبَدَلَ الَّذِيْ بَعْدَ إِلَّا مِثْلُ مَا قَامَ اَحَدٌ إِلَّا زَيْدٌ فَإِنَّ زَيْداً بَدَلٌ مِنْ اَحَدٍ وَ لَيْسَتْ نِسْبَةُ

تعريف نه شامليږي هغه بدل ته چې پس د الانه وي لکه ماقام احد الا زيد خکه زيد بدل دي د احد نه او نه دي نسبت

مَا نُسِبَ إِلَيْهِ مِنْ عَدَمِ الْقِيَامِ مَقْصُوْدَةً بِالنِّسْبَةِ إِلٰى زَيْدٍ بَلِ النِّسْبَةِ الْمَقْصُوْدَةُ

دهغه چې منسوب شوې وي دې طرف ته دعدم قيام نه مقصود په نسبت سره زيد ته بلکې نسبت مقصود دي په

بِنِسْبَةِ مَا نُسِبَ إِلٰى أَحَدٍ نِسْبَةُ الْقِيَامِ إِلٰى زَيْدٍ قُلْنَا مَا نُسِبَ إِلَى الْمَتْبُوْعِ

هغه نسبت سره چې منسوب وي يو د نسبت د قيام نه زيد ته مونږ يو چې هغه چې منسوب شوې وي متبوع ته

هٰهُنَا هُوَ الْقِيَامُ فَإِنَّهٗ نُسِبَ إِلَيْهِ نَفْياً وَ نِسْبَةُ الْقِيَامِ بِعَيْنِهٖ إِلَى التَّابِعِ مَقْصُوْدَةٌ وَ لٰكِنْ

دلته هغه قيام دې خکه چې نسبت شوې دې طرف ته نفيا او نسبت د قيام بعينه تابع ته مقصود دې خو ليکن

اِثْبَاتاً فَيَصْدُقُ عَلٰى زَيْدٍ أَنَّهٗ تَابِعٌ مَقْصُوْدٌ نِسْبَتُهٗ بِنِسْبَتِهٖ مَا نُسِبَ

اثباتا نو صادقيږي په زيد باندې چې دا تابع دي او مقصود دي نسبت ددې هغه نسبت چې منسوب شوې وي

إِلَى الْمَتْبُوْعِ فَإِنَّ النِّسْبَةَ الْمَأْخُوْذَةَ فِي الْحَدِّ أَعَمُّ مِنْ أَنْ يَكُوْنَ بِطَرِيْقِ الْاِثْبَاتِ أَوِ

متبوع طرف ته خکه هغه نسبت چې ماخوذ دي په تعريف کې عام دي دې نه چې وي په طريقې د اثبات او يا

النَّفْيِ وَ يُمْكِنُ أَنْ يُّقْصَدَ بِنِسْبَتِهٖ إِلٰى شَيْءٍ نَفْياً نِسْبَتُهٗ إِلٰى شَيْءٍ آخَرَ إِثْبَاتاً وَ يَكُوْنُ الْأَوَّلُ تَوْطِيَةً

نفي سره او ممکن ده چې وي مقصود نسبت ددې يو څيز طرف ته نفيا او نسبت بل څيز ته اثبات او وي نو طيه

لِلثَّانِيْ

دپاره ددويم

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره په تعريف کې دقيوداتو فوائد بيانوي چې باقي تفصيل يې لاندې په شرحه کې ذکر دي .

اغراض دجامي : واحترز: په دې عبارت کې شارح د قيودو فوائد بيانوي چې په تعريف کې تابع جنس دي ټولو توابعو ته شامل دي

مانسب الى المتبوع: دا اول فصل دي ددې نه نعت ، تاکيد او عطف بيان خارج شو. ځکه چې دا مقصود بالنسبة نه وي بلکې ددې متبوعات مقصود وي.

دونه: دا دوهم فصل دي په دې سره د عطف بالحرف نه احتراز وشو ځکه چې په دې کې تابع او متبوع دواړه مقصود وي. نه صرف تابع

ولا يصدق الحد: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : د بدل تعريف مانع نه دي ځکه چې دا په معطوف بَبل (دا هغه معطوف دي چې په بل سره وي) باندې صادق راځي. ځکه چې معطوف بَبل په خپله مقصود بالنسبة وي ددې متبوع مقصود نه وي مثال لکه جاءنی زيد بل عمرو په دې کې مجيئت دعمرو مقصود دي مجيئت د زيد مقصود نه دي. ځکه چې ددې نه متکلم اعراض کړې دي ؟

جواب : مونږ نه منو چې معطوف ببل کې متبوع مقصود بالنسبة نه وي، بلکې ابتدأ هم متبوع مقصود باالنسبة وي، بيا د متکلم رای بدله شي او هغه د متبوع نه اعراض کوي او د تابع قصد کوي په معطوف ببل او ددې متبوع دواړه مقصود بالنسبة وي، په خلاف د بدل چې په دې کې متبوع ابتدا مقصود بالنسبة نه وي بلکې د ابتداء نه فقط تابع دبدل مقصود وي او هم دې اشکال جواب طرف ته شارح دجامي دبدل دتعريف په شروع کې په دې عبارت اشاره کړې وه چې ای لا تکون النسبة الى المتبوع مقصودة ابتداء بنسبة ما نسب اليه...الخ.

فان قيل: په دې عبارت کې شارح يو اعتراض رانقل کوي او په قلنا سره ددې اعتراض جواب ورکوي:

اعتراض : د بدل تعريف جامع نه دي دا په هغه بدل صادق نه راځي کوم چې د الا نه پس واقع وي لکه ما قام احد الازيد په دې کې زيد داحد نه بدل دي. ليکن په دې باندې تعريف صادق نه راځي ځکه چې په دې کې ما نسب الى المتبوع نسبت نه نسبت الى التابع مقصود نه دي، ځکه چې ما نسب الى المتبوع عدم قيام دي او ما نسب الى التابع قيام دي ځکه چې د الا د وجې نه نفي ماته شوه .

جواب : تعريف جامع دي ځکه چې مانسب الى المتبوع هم قيام دي فرق صرف دومره دي چې متبوع طرف ته د قيام نسبت سلب دي او دتابع دطرف نه د قيام نسبت ايجاباً دي او دا صحيح ده ځکه چې په تعريف کې په نسبت کې تعميم دي برابره خبره ده که ايجاباً وي اوکه سلباً وي.

ويمكن: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : کله چې نسبت الى المتبوع سلبيه دي او نسبت الى التابع ايجابيه دي، نو اولنې نسبت سلبيه ددويم نسبت ايجابيه دپاره ځنګه توطيه او تمهيد جوړيږي په دې کې توطيه د نقيض دپاره دنقيض لازم راځي .

جواب : نسبت سلبيه، دنسبت ايجابيه دپاره توطيه او تمهيد جوړيدل ممکن دي ځکه چې دتوطيې او تمهيد نه مقصود دغافل رابيدارول دي اودامقصد په نسبت سلبيه او نسبت ثبوتيه دواړو سره حاصليږي نو داسې ممکن ده چې نسبت سلبيه توطيه او تمهيد وي دنسبت ثبوتيه ايجابيه دپاره .

دبدل اقسام :

وَ هُوَ أَيِ الْبَدَلُ اَنْوَاعٌ اَرْبَعَةٌ بَدَلَ الْكُلِّ أَيْ بَدَلٌ هُوَ كُلُّ الْمُبْدَلِ مِنْهُ وَ بَدَلُ الْبَعْضِ أَيْ بَدَلٌ هُوَ
اوهغه يعنې بدل په څلورقسمه دي بدل الكل يعنې هغه چې کُل وي دمبدل منه اوبدل البعض يعنې بدل د
بَعْضُ الْمُبْدَلِ مِنْهُ فَالْإِضَافَةُ فِيْهِمَا مِثْلُهَا فِيْ خَاتَمِ فِضَّةٍ وَ بَدَلُ الْإِشْتِمَالِ أَيْ بَدَلٌ
مبدل منه بعض وي نواضافت په دې دواړوکې په شان د خاتم فضة دي او بدل الاشتمال يعنې هغه بدل چې
مُسَبَّبٌ غَالِباً عَنْ اِشْتِمَالِ اَحَدِ الْمُبْدَلَيْنِ عَلَى الْآخَرِ اِشْتِمَالَ الْبَدَلِ عَلَى الْمُبْدَلِ مِنْهُ نَحْوُ سُلِبَ زَيْدٌ ثَوْبُهٗ اَوْ
مسبب وي غالباًداشتمال ديودمبدل نه په بل باندې اوياداشتمال دبدل په مبدل منه لکه سُلِبَ زيدثوبه اويا
بِالْعَكْسِ نَحْوُ يَسْأَلُوْنَکَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ وَ بَدَلُ الْغَلَطِ أَيْ بَدَلٌ مُسَبَّبٌ عَنِ الْغَلَطِ
بالعکس ددې لکه يسألونک عن الشهر الحرام قتال فيه اوبدل الغلط يعنې هغه بدل چې مسبب وي دغلط نه نو
فَالْإِضَافَةُ فِي الْأَخِيْرَيْنِ مِنْ قَبِيْلِ اِضَافَةِ الْمُسَبَّبِ إِلَى الْمُسَبِّبِ لِأَدْنٰى مُلَابِسَةٍ.
اضافت په آخرو دوو کې دقبيلې داضافت دمسبب نه سبب طرف ته دادنى مناسبت دوجې نه

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب دکافيې د بدل تقسيم بيانوي. چې بدل په څلور قسمه دي (۱) بدل الکل (۲) بدل البعض، (۳) بدل الاشتمال، (۴) بدل الغلط، دهر يو تعريف سره د مثال سره په لاندې ډول دي

(١) **بدل الكل**: هغه دي چې ددې مدلول بعينه دمبدل منه مدلول وي.

(٢) **بدل البعض**: هغه دي چې ددې مدلول د مبدل منه د مدلول جزء وي، لکه **ضربت زيداً** رأسه، په دې کې رأسه بدل البعض دي څکه دا د زيد د مدلول جزء دي.

(٣) **بدل الاشتمال**: هغه دي چې د بدل او مبدل منه په مينځ کې د کليت او جزئيت نه غير نوره علاقه وي، لکه سلب زيد ثوبه، دلته زيد په ثوب باندې مشتمل دي.

(۴) **بدل الغلط**: هغه دي چې د مبدل منه د غلطۍ نه پس ددغه غلطۍ د ختمولو دپاره د بدل او مبدل منه په مينځ کې د څه علاقې ذکر کولو نه په غير ذکر شي لکه **جاءني رجل حمار** په دې کې حمار بدل الغلط دي.

اغراض دجامي: **اى البدل**: په دې عبارت کې شارح بيان دمرجع کوي.

انواع اربعة: په دې عبارت کې شارح بيان دترکيب کوي چې **هو** مبتداء دي ددې خبر **انواع اربعة** محذوف دي.

اى بدل: په دې عبارت کې شارح بيان داضافت کوي چې په بدل الکل کې اضافت بيانيه دي او که اشاره ده، چې په **الکل** باندې الف لام دمضاف اليه په عوض کې دی کوم چې مبدل منه دي.

و بدل العبض: په دې ځاې کې شارح د بدل اضافه وکړه او دا يې بيان کړه چې **البعض** معطوف دي په **بدل الکل** باندې په تقدير دمضاف سره.

اى بدل هو بعض المبدل منه: په دې عبارت کې شارح دې خبرې طرف ته اشاره کوي چې په بدل البعض کې اضافت بيانيه دي يااشاره ده، چې په **بعض** باندې الف لام د مضاف اليه په عوض کې دي کوم چې مبدل منه دي، پس په **بدل الکل** او په **بدل البعض** کې اضافت داسې دي لکه په **خاتم فصة** کې چې اضافت دي يعنې اضافت بيانيه دي.

بدل الاشتمال: په دې عبارت شارح کې د بدل اضافه وکړه او وي ويل چې بدل الاشتمال په تقدير دمضاف سره معطوف دي په بدل الکل باندې.

اى بدل مسبب: په دې عبارت کې شارح د بدل الاشتمال وجه دتسميې بيانوي چې بدل الاشتمال ته بدل الاشتمال څکه وايي چې ددې سبب اکثر دبدل او مبدل منه نه په يو بل باندې

مشتمل کیدل وي

کله خو بدل په مبدل منه باندې مشتمل وي لکه په سلب زید ثوبه کې ثوبه بدل دی او په زید باندې مشتمل دی کوم چې مبدل منه دی او کله مبدل منه په بدل باندې مشتمل وي لکه يسئلونك عن الشهر الحرام قتال فيه په دې کې مبدل منه شهرحرام دی چې مشتمل دی په قتال يعنې په بدل باندې

غالباً: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال . شارح دلته غالباً ولې وویلو ؟

جواب : غالباً يې ځکه وويل چې په بدل او مبدل منه کې د اشتمال نه غير نورې علاقې هم وي البته ډيره علاقه اشتمال وي لکه اعجبني زيد علمه.

بدل: په دې عبارت کې شارح بيان دترکيب کوي. چې الغلط په تقدير د مضاف سره معطوف دی په بدل الاشتمال باندې

اى بدل مسبب: په دې عبارت کې شارح د بدل الغلط وجه دتسميې بيانوي. چې بدل الغلط ته بدل الغلط ځکه وايي چې ددې راوړلو سبب غلطي وي.

فالاضافة في الاخرين: په دې عبارت سره شارح دابيانوي چې بدل الاشتمال او بدل الغلط کې اضافت دقبيلې داضافت.دمسبب نه سبب ته دي دادنی ملابست او مناسبت دوجې نه نو بدل مسبب او الاشتمال او الغلط ددې سبب دي .

دبدل الكل تعريف :

فَالْاَوَّلُ أَيْ بَدَلُ الْكُلِّ مَدْلُوْلُهُ مَدْلُوْلُ الْاَوَّلِ يَعْنِيْ مُتَّحِدَانِ ذَاتاً لَا اَنْ يَتَّحِدَ مَفْهُوْمَاهُمَا

نو اول يعنې بدل الکل مدلول ددې مدلول داول دی يعنې متحدوي ذاتانه داچې متحد وي مفهوم ددې دواړو

لِيَكُوْنَا مُتَرَادِفَيْنِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَخُوْكَ فَزَيْدٌ وَ اَخُوْكَ وَ اِنِ اخْتَلَفَا مَفْهُوْمًا فَهُمَا مُتَّحِدَانِ

ددې دپاره چې شي مترادف لکه جاءني زيد اخوک نو زيد او اخوک اګر که مختلف دي مفهوما نو دا دواړه متحد دي

ذَاتاً قَالَ الشَّارِحُ الرَّضِيُّ وَ اَنَا اِلَى الْاٰنِ لَمْ يَظْهَرْ لِيْ فَرْقٌ جَلِيٌّ بَيْنَ بَدَلِ الْكُلِّ مِنَ الْكُلِّ وَ

ذاتاً ويلي دي شارح د رضي چې تراوسه پورې ماته نه دی ظاهر شوي واضح فرق په مينځ دبدل الکل من الکل او

بَيْنَ عَطْفِ الْبَيَانِ بَلْ لَا اَرٰى عَطْفَ الْبَيَانِ اِلَّا بَدَلَ الْكُلِّ وَمَا قَالُوْا مِنَ اَنَّ الْفَرْقَ بَيْنَهُمَا

په مينځ دعطف بيان کې بلکې ماته ځکاري عطف بيان بدل الکل او هغه چاچې ويلي دي چې فرق په مينځ ددې

اَنَّ الْبَدَلَ هُوَ الْمَقْصُوْدُ بِالنِّسْبَةِ دُوْنَ مَتْبُوْعِهٖ بِخِلَافِ عَطْفِ الْبَيَانِ فَاِنَّهٗ بَيَانٌ وَ الْبَيَانُ
دواړوکي دادي چي بدل هغه مقصود دي د نسبة نه منبوع د دي په خلاف د عطف بیان حکه دا بیان دي او بیان

فَرْعُ الْمُبَيَّنِ فَيَكُوْنُ الْمَقْصُوْدُ هُوَ الْاَوَّلَ فَالْجَوَابُ اَنَا لَا نُسَلِّمُ اَنَّ الْمَقْصُوْدَ فِيْ بَدَلِ الْكُلِّ هُوَ الثَّانِيْ
دافرع وي دمبین نو وي به مقصود هغه اول نو جواب دادي چي مونږ نه منو چي مقصود په بدل کل کي هغه دویم

فَقَطْ وَلَا فِيْ سَائِرِ الْبَدَلِ اِلَّا الْغَلَطَ وَ قَالَ بَعْضُ الْمُحَقِّقِيْنَ فِيْ جَوَابِهِ الظَّاهِرُ اَنَّهُمْ لَمْ
دي فقط او نه په ټولوبدلونوکي مگرغلط اوویلي دي بعضي محققینو په جواب ددي کي چي ظاهره دا ده چي نه

يُرِيْدُوْا اَنَّهٗ لَيْسَ مَقْصُوْداً بِالنِّسْبَةِ اَصْلاً بَلْ اَرَادُوْا اَنَّهٗ لَيْسَ مَقْصُوْداً اَصْلِياً
دي اراده کړي نحویانو چي دانه دي مقصود بالنسبة بالکل بلکي اراده کړي یې ده چي دانه دي مقصود اصلي

وَ الْحَاصِلُ اَنَّ مِثْلَ قَوْلِكَ جَاءَنِيْ اَخُوْكَ زَيْدٌ اِنْ قَصَدْتَّ فِيْهِ الْاِسْنَادَ اِلَى الْاَوَّلِ وَ جِئْتَ
اوحاصل دادي چي په شان دقول ستاچي جاءني اخوک زید که چیرته قصد کړي په دي کي اسناداول ته اوراوړي

بِالثَّانِيْ تَتِمَّةً لَهٗ تَوْضِيْحاً فَالثَّانِيْ عَطْفُ بَيَانٍ وَاِنْ قَصَدْتَّ فِيْهِ الْاِسْنَادَ اِلَى الثَّانِيْ وَ جِئْتَ
دویم تتمه اوتوضیح ددي دپاره نو دویم عطف بیان دي اگرکه قصدوکړو په دي کي اسناددویم طرف ته اوراوړي

بِالْاَوَّلِ تَوْطِيَةً لَهٗ مُبَالِغَةً فِي الْاِسْنَادِ فَالثَّانِيْ بَدَلٌ وَ حِيْنَئِذٍ يَكُوْنُ التَّوْضِيْحُ الْحَاصِلُ
اول توطیه ددي دپاره دمبالغي في الاسناد په طور نو دویم بدل دي او په دي وخت کي وي به وضاحت حاصله په

بِهٖ مَقْصُوْداً تَبْعاً وَ الْمَقْصُوْدُ اِصَالَةً هُوَ الْاِسْنَادُ اِلَيْهِ بَعْدَ التَّوْطِيَةِ فَالْفَرْقُ ظَاهِرٌ.
دي سره مقصود تبعا او مقصود اصالتا هغه اسناد دي دي طرف ته پس د توطیي نه نو فرق ظاهر دي

خلاصه دمتن : په دي عبارت کي صاحب کافیه د بدل څلورو واړو اقسامو تعریفات و وضاحت کوي. تعریفات خو مونږ مخکي ذکر کړي دي او باقي وضاحت یې په شرحه کي ذکر دي.

اغراض دجامي : په دي عبارت کي د بدل څلورو واړو قسمونو تعریفات دي. د ټولو نه اول د بدل الکل تعریف دي. بدل الکل هغه دي چي د هغې مدلول بعینه د مبدل منه مدلول وي

ای بدل الکل: په دي عبارت کي شارح د الاول مصداق بیانوي

یعني متحدان: په دي عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : په جاءني زید اخوک کي اخوک بدل الکل دي حالانکه د زید مدلول حیوان ناطق مع هذا التشخص دي او اخوک مدلول ذات من له الاخوة دي. نو د دواړو مدلول خو بعینه د اول مدلول نه شو؟

جواب: مراد دادې چې بدل او مبدل منه دذات په اعتبار سره متحد دي دا مراد نه دي چې دا د مفهوم په لحاظ سره متحد دي. ددې دپاره چې دواړه مترادف دي. لکه **جاءني زيد اخوك** په دې کې زيد اګر چه دمفهوم په اعتبار سره متحد نه دي ليکن د ذات په اعتبار سره متحد دي

قال الشارح الرضي: په دې عبارت کې شارح بيان داختلاف کوي چې **عطف بيان مستقل تابع** دی اويا په بدل الکل کې داخل دي . دجمهورو نحويانو دا مذهب دي چې **عطف بيان مستقل** تابع دي . دشيخ رضي دا مذهب دې چې **عطف بيان مستقل تابع نه دي بلکې په بدل الکل کې** داخل دي ځکه چې دبدل الکل او دعطف بيان په مينځ کې واضح فرق **نشته پس دجمهورو په** نزد توابع پنځه (۵) دي او دشيخ رضي په نزد څلور (۴) دي

وما قالوا: په دې عبارت کې شارح دجمهورو مذهب بيانوي چې **جمهورو ويلي دي چې ددې** دواړو په مينځ کې فرق دي، چې بدل الکل مقصود بالنسبة وي او ددې **متبوع مقصود نه وي،** په خلاف دعطف بيان چې هغه مقصود بالنسبة وي. ځکه هغه بيانيږي او ددې **متبوع مبين او** ښکاره وي او بيان د مبين فرع ده

شيخ رضي ددې جواب ورکوي، چې مونږ دا نه منو چې په بدل الکل کې فقط **بدل مقصود وي** او مبدل منه مقصود نه وي. بلکې مونږ دا وايو چې د بدل الغلط نه غير باقي درې واړو کې متبوع هم مقصود وي ځکه چې دادبدل دپاره توطيه او تمهيد وي. نو په حيثيت دتمهيد سره دا مقصود وي

ميرسيد ددې جواب ورکوي کوم چې شارح په **و قال بعض المحققين** سره **نقل کوي، چې جمهورو** ويلي دي چې په بدل الکل کې متبوع مقصود نه وي. ددې نه د دوي مراد دا نه دي چې **په بدل** الکل کې متبوع بالکل مقصود نه وي، بلکې مراد دادې چې متبوع مقصود اصلي نه وي

والحاصل: په دې عبارت کې شارح ديو مثال په ذريعه **دعطف بيان اودبدل الکل په مينځ کې** دفرق وضاحت کوي کله چې **جاءني اخوك زيدا** وويلې شي نو په دې کې اول يعنې **اخوك** طرف ته که اسناد مقصود اصلي وي او دويم (زيد) ذکر په طور دتتمې او توضيح وي. نو دويم عطف بيان شو او که دويم يعنې زيد طرف ته اسناد مقصود اصلي وي او داول يعنې **اخوك** ذکر په طور دتوطيې او تمهيد په اسناد کې دمبالغې کولو دپاره وي نو دويم به بدل وي .

نو ددې حاصل دا شو چې په دې مثال کې چې دويم طرف ته د اسناد قصد وشي اودحکم مدار

هم دا جوړ کړې سي . نو ګویا چې د اخوك نه قطع نظر جاء زیداً ویلې شو او همدارنګې اکرمت زیداً اخاك ویلې شي او په دې کې په مخاطب باندې احسان وکړې شي چې ما د زید تعظیم ځکه وکړو چې هغه ستا وروړ دې نو ګویا چې د زید نه قطع نظر اکرمت اخاك ویلې شو او دا څیز په عطف بیان کې نشته

وحینئذ: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال: د بدل په صورت کې هم وضاحت حاصلیږي. نو بیا خو د بدل الکل او د عطف بیان په مینځ کې فرق ونه شو نو د شیخ رضي خبره صحیح شوه چې په دواړو کې هیڅ فرق نشته؟

جواب: اګر چه د بدل په صورت کې د دویم نه توضیح اووضاحت حاصلیږي. لیکن دا وضاحت مقصود بالاصالة نه وي. بلکې مقصود بالتبع وي. مقصود بالاصالة د فعل اسناد وي د تابع طرف نه بعد التمهید لهذا د دواړو په مینځ کې فرق ظاهر دي. چې عطف بیان مقصود اصلي نه وي. بلکې مقصود تبعاً وي او بدل مقصود اصلي وي. نو بدل په منزله د صلوٰة مقصود اصلي او عطف بیان په منزله د اودس غیر مقصود اصلي وي.

د بدل البعض تعریف:

وَالثَّانِيْ أَيْ بَدَلُ الْبَعْضِ جُزْؤُهٗ أَيْ جُزْءُ الْمُبْدَلِ مِنْهُ نَحْوُ ضَرَبْتُ زَيْداً رَأْسَهٗ .
او دویم یعني بدل البعض جزء د دې وي یعني جزء د مبدل منه لکه ضربت زیدا رأسه

خلاصه د متن او شرحه: په دې عبارت کې شارح د بدل البعض تعریف کوي بدل البعض هغه دي. چې د دې مدلول د مبدل منه د مدلول جزء وي. لکه ضربت زیدا رأسه . په دې کې رأسه بدل البعض دي، ځکه چې دا د زید د مدلول جزء دي .

د بدل الاشتمال تعریف:

وَ الثَّالِثُ أَيْ بَدَلُ الْاِشْتِمَالِ بَيْنَهٗ وَ بَيْنَ الْاَوَّلِ أَيِ الْمُبْدَلِ مِنْهُ مُلَابَسَةٌ بِحَيْثُ
او دریم یعني بدل الاشتمال په مینځ د دې او په مینځ د اول کې دي یعني مبدل منه ملابس وي په داسې شان چې
تُوْجِبُ النِّسْبَةِ إِلَى الْمَتْبُوْعِ النِّسْبَةَ إِلَى الْمُلَابِسِ اِجْمَالاً نَحْوُ اَعْجَبَنِيْ زَيْدٌ عِلْمُهٗ حَيْثُ يُعْلَمُ اِبْتِدَاءً
واجبوي نسبت متبوع ته نسبت ملابس اجمالي ته لکه اعجبني زید علمه په داسې شان چې معلومیږي ابتداً چې
اَنَّهٗ يَكُوْنُ زَيْدٌ مُعْجَباً بِاِعْتِبَارِ صِفَاتِهٖ لَا بِاِعْتِبَارِ ذَاتِهٖ وَ تَتَضَمَّنُ نِسْبَةُ الْاَعْجَابِ إِلَى زَيْدٍ نِسْبَتَهٗ
وي به زید معجب په اعتبار د صفاتو سره نه په اعتبار د ذات سره او متضمن دي نسبت د اعجاب زید ته نسبت دده دي

إِلَى صِفَةٍ مِنْ صِفَاتِهِ إِجْمَالاً وَ كَذَا فِيْ سَلْبِ زَيْدٌ ثَوْبُهُ بِخِلَافِ ضَرَبْتُ زَيْداً حِمَارَهُ وَ ضَرَبْتُ زَيْداً غُلَامَهُ

يوصفت ته د صفاتونه اجمالا او همدا رنګې په سلب زيد ثوبه کې په خلاف د ضربت زيدا حماره او ضربت زيدا غلامه

لِأَنَّ نِسْبَةَ الضَّرْبِ إِلَى زَيْدٍ تَامَّةٌ وَلَا يَلْزَمُ فِيْ صِحَّتِهَا اِعْتِبَارُ غَيْرِ زَيْدٍ فَيَكُوْنُ مِنْ بَابِ بَدَلِ الْغَلَطِ

خکه نسبت د ضرب زيد ته تام دي اونه دي لازم په صحت ددې کې اعتبار غير د زيد نه نووي به د باب د بدل الغلط

بِغَيْرِهِمَا أَيْ تَكُوْنُ تِلْكَ الْمُلَابَسَةُ بِغَيْرِ كَوْنِ الْبَدَلِ كُلَّ الْمُبْدَلِ مِنْهُ أَوْ جُزْءَهُ

نه په غير ددې دواړونه يعنې وي به دغه ملابست په غير د کيدو د بدل نه کل د مبدل منه او يا جزء د مبدل منه نو

فَيَدْخُلُ فِيْهِ مَا إِذَا كَانَ الْمُبْدَلُ مِنْهُ جُزْءاً مِنَ الْبَدَلِ وَ يَكُوْنُ إِبْدَالُهُ مِنْهُ بِنَاءً عَلَى هٰذِهِ الْمُلَابَسَةِ

داخليږي په دې کې هغه چې کله وي مبدل منه جزء د بدل نه او وي بدل جوړول ددې نه بناء په دې ملابست باندې

نَحْوُ نَظَرْتُ إِلَى الْقَمَرِ فَلَكِهِ وَ الْمُنَاقَشَةُ بِأَنَّ الْقَمَرَ لَيْسَ جُزْءاً مِنْ فَلَكِهِ بَلْ هُوَ مَرْكُوْزٌ فِيْهِ مُنَاقَشَةٌ

لکه نظرت الى القمر فلکه او مناقشه په دې خبره چې قمر نه دې جزء د فلک بلکې قمر مرکوز دي په فلک کې نو دا مناقشه

فِي الْمِثَالِ وَ يُمْكِنُ أَنْ يُوْرَدَ لِمِثَالِهِ مِثْلُ رَأَيْتُ دَرَجَةَ الْأَسَدِ بُرْجَهُ فَإِنَّهُ لَامَجَالَ لِهٰذِهِ الْمُنَاقَشَةِ

ده په مثال کې او ممکن ده راوړل د پاره د مثال لکه رأيت درجة الاسد برجه خکه نشته مجال ددې مناقشې د پاره

فِيْهِ فَإِنَّ الْبُرْجَ عِبَارَةٌ عَنْ مَجْمُوْعِ الدَّرَجَاتِ وَ إِنَّمَا لَمْ يَجْعَلْ هٰذَا الْبَدَلَ قِسْماً خَامِساً وَ لَمْ يُسَمِّ

په دې مثال کې خکه برج عبارت دي د مجموعه درجونه او وي نه ګرخول دا بدل پنځم قسم او مسمى يې نه کړو

بِبَدَلِ الْكُلِّ عَنِ الْبَعْضِ لِقِلَّتِهِ وَ نُدْرَتِهِ بَلْ قِيْلَ لِعَدَمِ وُقُوْعِهِ فِيْ كَلَامِ

په بدل الکل عن البعض باندې دوجې د قلت او نادر کيدو ددې نه بلکې ويلې دي دوجې د عدم وقوع ددې په کلام

الْعَرَبِ فَإِنَّ هٰذِهِ الْأَمْثِلَةَ مَصْنُوْعَةٌ.

کلام د عربو کې خکه دا مثالونه د خپل خان نه جوړ شوې دي

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې د بدل الاشتمال تعريف کوي چې بدل الاشتمال هغه دي چې د بدل او د مبدل منه په مينځ کې د کليت او جزئيت نه غير نوره علاقه وي

اغراض دجامي : والثالث: په دې عبارت سره شارح د بدل الاشتمال تعريف کوي چې بدل الاشتمال هغه دي چې د بدل او د مبدل منه په مينځ کې د کليت او جزئيت نه غير نوره علاقه وي

بحيث: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي

سوال : د بدل الاشتمال تعريف مانع نه دي خکه چې دا تعريف په بدل الغلط کې په ضربت زيدا غلامه کې په غلام باندې صادق راخي. او په ضرب زيدا حماره کې په حماره باندې صادق راخي،

ځکه چې په دې مثالونو کې دبدل او دمبدل منه په مینځ کې دکلیت او دجزئیت نه غیر یوه بله علاقه ده هغه علاقه د مالکیت او مملوکیت ده، حالانکه دا بدل الغلط دې او بدل الاشتمال نه دې؟

جواب: په بدل الاشتمال کې دبدل او دمبدل منه په مینځ کې دعلاقې نه مراد داسې علاقه ده چې په هغې کې نسبت الی المتبوع نسبت الی التابع اجمالاً واجب او ثابت کوي لکه **اعجبني زيد علمه** په دې کې چې کله متکلم **اعجبني زيد** ووېل نو ددې نه معلومه شوه چې زید دخپل ذات په اعتبار سره معجب نه دې. بلکې په خپلو صفاتو کې دیو صفت په اعتبار سره معجب دې ځکه چې دانسان په افرادو کې دذات په اعتبار سره هیڅ فرق نشته، لهذا زید د ذات طرف ته داعجاب نسبت اجمالاً ددې په صفاتو کې یو صفت طرف ته داعجاب نسبت ته متضمن دی. همدارنګې په **سلب زيد ثوبه** کې کله چې **سلب زيد** وویل نو ددې نه **اجمالاً** معلومه شوه چې مسلوب ذات د زید نه دې بلکې ددې متعلقاتو نه یو متعلق دې. ځکه چې دذات دپاره سلب لفظ مستعمل نه دې، بلکې **فقدان** لفظ مستعمل دې او **زيد** طرف ته د سلب نسبت دا ددې د متعلقاتو د یو متعلق طرف ته دسلب نسبت اجمالاً متضمن وي، په خلاف د **ضربت زيدا غلامه** او **ضربت زيدا حماره**، چې په دې مثالونو کې دتابع او دمتبوع په مینځ کې داسې علاقه نشته چې په هغې کې نسبت الی المتبوع نسبت الی المتعلق ته متضمن وي، ځکه چې د**ضرب** نسبت زید طرف ته نسبت تامه دې اوددې نسبت په صحیح کېدو کې غیر زید طرف ته نسبت معتبر کول لازم نه راځي، لهذا دا دواړه مثالونه د بدل الاشتمال د قبیلې نه، نه دې، بلکې د بدل الغلط د باب نه دې.

ای تکون تلك الملابسة: په دې عبارت سره شارح دمتن وضاحت کوي چې د**ملابسة بغيرهما** نه مراد دادې چې بدل دمبدل منه **کُل** هم نه وي او**جُزء** هم نه وي لهذا په دې **ملابسة بغيرهما** کې به هغه صورت هم داخل شي کوم چې په بدل الکل کې دې او مبدل منه جزء وي لکه **نظرت الی القمر فلكه** په دې کې **قمر** مبدل منه جزء دې او **فلك** (بدل) دا **کل** دې نو دا صورت په بدل الاشتمال کې داخل شو. نه په بدل البعض کې.

والمناقشة: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال : مثال د مثال له سره مطابق نه دي ځکه چې په نظرت الى القمر فلکه کې **قمر** د **فلك** نه جزء نه دي. بلکې **قمر مستقل في نفسه** دي او په **فلك** کې مرکوز دي ؟

جواب : دا مناقشه في المثال ده کوم چې د اهل علمو د شان سره لايق نه ده او په **يمكن** سره شارح وايي. چې د دې د پاره يو دويم مثال هم پيش کولې شي کوم چې د **مناقشې نه پاك دي** او هغه دي **رأيت درجة الاسد** برجه په دې کې برج کُل دي د مجموع الدرجات نه عبارت دي او **درجة الاسد** د دې جزء دي. نو د مبدل منه جزء او بدل الکل دي

وانما لم يجعل : په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي.

سوال : نحويانو دا يو مستقل پنځم قسم ولې جوړ نه کړو او د دې نوم يې **بدل الكل عن البعض** ولې مقرر نه کړو ؟

جواب : دا قسم ډېر لږ او نادر دي تر دې چې بعضې نحويانو ويلي دي چې دا په **کلام د عربو** کې نشته او دا مثالونه فرضي او دخان نه جوړ شوي دي د دې وجې نه يې دا **پنځم قسم** جوړ نه کړو او د دې نوم يې بدل الکل عن البعض مقرر نه کړو.

د بدل الغلط تعريف :

وَ الرَّابِعُ أَيْ بَدْلُ الْغَلَطِ أَنْ تَقْصُدَ أَيْ أَنْ يَّكُوْنَ بِأَنْ تَقْصُدَ أَنْتَ إِلَيْهِ
او څلورم يعنې بدل الغلط چې قصد کړې تاسو يعنې چې وي په داسې طريقې سره چې قصد کړې تاسو دې طرف
أَيْ إِلَى الْبَدْلِ مِنْ غَيْرِ اِعْتِبَارِ مُلَابَسَةٍ بَيْنَهُمَا بَعْدَ أَنْ غَلَطْتَ بِغَيْرِهٖ
ته يعنې بدل طرف ته په غير د اعتبار د ملابست نه په مينځ د دواړو پس د دې نه چې ته غلطي وکړې په غير د دې نه
أَيْ بِغَيْرِ الْبَدْلِ وَ هُوَ الْمُبْدَلُ مِنْهُ.
يعنې په غير د بدل نه او هغه غير مبدل منه وي

خلاصه د متن او شرحه : په دې کې عبارت کې د بدل الغلط تعريف کوي بدل الغلط هغه دي چې د مبدل منه د غلطۍ نه پس ذکر شي. د دې نه پس د دغې غلطي د ختمولو د پاره بدل ذکر کړي، د مبدل منه او د بدل په مينځ کې د علاقې او ملابست د اعتبار کولو نه په غير لکه **جاءني رجل حمار** په دې کې **حمار** بدل الغلط دي. ځکه چې متکلم حمار ويل غوښتل په غلطۍ سره يې د ژبې نه **اجل** ووتو بيا د غلطۍ د ختمولو د پاره د **اجل** نه پس يې **حمار** وويل په هغه وخت کې چې کله د **اجل** او د **حمار** په مينځ کې هيڅ قسمه مناسبت او علاقه نشته.

د بدل احکامات :

وَ يَكُوْنَانِ أَيِ الْبَدَلُ وَالْمُبْدَلُ مِنْهُ مَعْرِفَتَيْنِ نَحْوُ ضَرَبَ زَيْدٌ أَخُوْكَ وَ نَكِرَتَيْنِ نَحْوُ جَاءَنِيْ رَجُلٌ غُلَامٌ لَكَ وَ
اووي دادواړه يعني بدل اومبدل منه معرفه لکه ضرب زيد اخوک اويادواړه نکره وي لکه جاءني رجل غلام لک اويا
مُخْتَلِفَيْنِ نَحْوُ بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ وَ جَاءَ رَجُلٌ غُلَامُ زَيْدٍ وَ إِذَا كَانَ الْبَدَلُ نَكِرَةً مُبْدَلَةً مِنْ مَعْرِفَةٍ
دواړه مختلف وي لکه بالناصية ناصية كاذبة او جاء رجل غلام زيداوچې کله وي بدل نکره اومبدل وي دمعرفې نه
فَالنَّعْتُ أَيْ نَعْتُ الْبَدَلِ النَّكِرَةِ لِئَلَّا يَكُوْنَ الْمَقْصُوْدُ أَنْقَصَ مِنْ غَيْرِ الْمَقْصُوْدِ مِنْ كُلِّ وَجْهٍ
نونعت يعني نعت دبدل نکره راوړل واجب دي ددې وجې نه چې مقصود انقص نه شي دغير مقصود نه دهرې وجې
فَأَتَوْا فِيْهِ بِصِفَةٍ تَكُوْنُ كَالْجَابِرِ لِمَا فِيْهِ مِنْ نَقْصِ النَّكَارَةِ مِثْلُ
نه نو را تګ يې وکړو په صفت سره ددې د پاره چې دا ختم کړي هغه څه چې په هغې کې نقص د نکرې وي لکه
بِالنَّاصِيَةِ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ وَ يَكُوْنَانِ ظَاهِرَيْنِ نَحْوُ جَاءَنِيْ زَيْدٌ أَخُوْكَ وَمُضْمَرَيْنِ نَحْوُ الزَّيْدُوْنَ لَقِيْتُهُمْ إِيَّاهُمْ وَ
بالناصية ناصية كاذبة اووي دواړه ظاهر لکه جاءني زيداخوک اويادواړه مضمر لکه الزيدون لقيتهم اياهم اويا دواړه
مُخْتَلِفَيْنِ نَحْوُ أَخُوْكَ ضَرَبْتُهُ زَيْداً وَ أَخُوْكَ ضَرَبْتُ زَيْداً إِيَّاهُ.
مختلف لکه اخوک ضربته زيدا او اخوک ضربت زيداً اياه.

خلاصه دمتن : د تعريف او تنکير په اعتبار سره بدل په څلور (۴) قسمه دي: (۱) دواړه معرفه وي لکه ضرب زيد اخوك (۲) دواړه نکرې وي لکه جاءني رجل غلام لك (۳) مختلف وي ددې دوه قسمه دي اول داچې مبدل منه معرفه وي اوبدل نکره وي لکه بالناصية ناصية كاذبة (۴) مبدل منه نکره وي او بدل معرفه وي لکه جاءني رجل غلام زيد.

اغراض دجامي : ويكون اى البدل والمبدل منه: په دې عبارت سره شارح د ضمير مرجع بيانوي.

و اذا كان: په دې عبارت کې شارح ديوې قاعدې بيان کوي چې کله مبدل منه معرفه او بدل نکره وي، نو بدل نعت راوړل واجب دي.

فالنعت اى نعت البدل نكرة: په دې عبارت کې شارح اشاره کوي چې په النعت کې الف لام د مضاف اليه په عوض کې دي.

واجب: په دې عبارت سره شارح اشاره کوي چې چې فالنعت مبتدا خبر واجب محذوف دي، ددې دپاره چې دا جمله جزاء جوړه شي، ځکه چې جزاء دپاره جمله کيدل شرط دي.

لئلا یکون: په دې عبارت کې شارح د ذکر شوې قاعدې وجه بیانوي، چې نعت راوړل ځکه واجب دي چې ددې دپاره مقصود من کل وجه د غیر مقصود نه انقص او کم نه وي، ځکه چې بدل مقصود وي او نکره د معرفې په نسبت انقص او کم وي، لهذا ددې نعت راوړل واجب دي. ددې دپاره چې د نعت په ذریعه د نکرې والا د نقصان ازاله وشي کوم چې په بدل کې ده لکه بالناصية ناصية كاذبة په دې کې الناصية معرفه مبدل منه دي او ناصیه نکره بدل دي ځکه چې ددې نعت کاذبه راوړلې شوې دي.

په اعتبار د اظهار او اضمار سره د بدل اقسام:

وَلاَ يُبْدَلُ ظَاهِرٌ مِنْ مُضْمَرٍ بَدَلُ الْكُلِّ إِلاَّ مِنَ الْغَائِبِ نَحْوُ ضَرَبْتُهُ زَيْداً لِأَنَّ الْمُضْمَرَ الْمُتَكَلِّمَ
او نه شي بدلولې اسم ظاهر د مضمر نه په طور د بدل الکل مګر د غائب ضمیر نه لکه ضربته زیداً ځکه مضمر متکلم
وَ الْمُخَاطَبَ أَقْوىٰ وَ أَخَصُّ دَلاَلَةً مِنَ الظَّاهِرِ فَلَوْ أَبْدَلَ الظَّاهِرُ مِنْهُمَا بَدَلَ الْكُلِّ
او مخاطب د اقوی او خاص دي د دلالت نه په اسم ظاهر که چېرته بدل کړې شي ظاهر د دې دواړو نه په طور د بدل الکل
يَلْزِمُ أَنْ يَكُوْنَ الْمَقْصُوْدُ أَنْقَصُ مِنْ غَيْرِ الْمَقْصُوْدِ مَعَ كَوْنِ مَدْلُوْلَيْهِمَا وَاحِداً بِخِلاَفِ بَدَلُ الْبَعْضِ وَ
نو لازم به شي کیدل د مقصود انقص د غیر مقصود نه سره د کیدو د مدلول د دواړو متحد په خلاف د بدل بعض او
الْإِشْتِمَالِ وَ الْغَلَطِ فَإِنَّ الْمَانِعَ فِيْهَا مَفْقُوْدٌ إِذْ لَيْسَ مَدْلُوْلُ الثَّانِيْ فِيْهَا مَدْلُوْلُ الْأَوَّلِ فَيُقَالُ
اشتمال او غلط ځکه مانع په دې کې مفقود دي ځکه نه دي مدلول د دویم په دې کې مدلول د اول نو ویلې به شي
إِشْتَرَيْتُكَ نِصْفَكَ وَاشْتَرَيْتَنِيْ نِصْفِيْ أَعْجَبْتَنِيْ عِلْمُكَ وَأَعْجَبْتُكَ عِلْمِيْ وَضَرَبْتُكَ الْحِمَارَ وَضَرَبْتَنِيْ الْحِمَارَ.
اشتریتک نصفک، و اشتریتني نصفي اعجبتني علمک او اعجبتک علمي و ضربتک الحمار و ضربتني الحمار.

خلاصه د متن: په دې عبارت کې د بدل د اظهار او د اضمار په لحاظ سره اقسام بیانوي. او بیا یوه قاعده ددې متعلق هم بیانوي.

اغراض د جامي: ویکونان: په دې عبارت سره مصنف د اظهار او اضمار په لحاظ سره بدل څلور (۴) قسمه بیانوي، شارح د جامي په مثالونو سره ددې وضاحت کوي تفصیل يې دا دې

(۱) بدل مبدل منه دواړه اسم ظاهر وي، لکه جاءني زید اخوك.

(۲) دواړه اسم ضمیر وي. لکه الزیدون لقیتهم ایاهم.

(۳) مختلف وي په دې کې لاندې دوه قسمه داخل دي. مبدل نه اسم ظاهر او بدل اسم ضمیر

وي لکه اخوك ضربت زيداً اياه . مبدل منه اسم ضمير او بدل اسم ظاهر وي لکه اخوك ضربته زيداً

ولا يبدل: په دې عبارت کې شارح يوه قاعده بيانوي چې اسم ظاهر په غير داسم ضمير غائب نه بل ضمير ، متکلم اومخاطب ، نه بدل الکل نه شي جوړيدې، صرف داسم ضمير غائب نه بدل الکل جوړيدې شي لکه ضربته زيداً

لان الضمير: په دې عبارت کې شارح دذکر شوې قاعدې وجه بيانوي ، چې ضمير متکلم او ضمير مخاطب ددلالت على المقصود په اعتبار سره داسم ظاهر نه اقوي او اخص دي او که د ضمير متکلم او ضمير مخاطب نه اسم ظاهر بدل الکل جوړ شي، نو مقصود به د غير مقصود نه کم او انقص لازم شي په بدل الکل کې د بدل او مبدل منه مدلول يو وي او د يو بل عين وي.

بخلاف بدل البعض. دې عبارت سره شارح دبدل الکل دقيد فائده بيانوي چې په دې سره احتراز دي دبدل البعض او دبدل الاشتمال او دبدل الغلط نه، ځکه چې اسم ظاهر دضمير متکلم او ضمير مخاطب نه بدل البعض بدل الاشتمال او بدل الغلط جوړولې شي ځکه چې په دې کې مانع موجود نه دي ځکه چې په دې کې په مبدل منه او بدل کې عينيت نه وي، بلکې بدل د مبدل نه غير وي.

فيقال اشتريتك نصفك: په دې عبارت سره شارح بيان دمثالونو کوي لکه **اشتريتك نصفك** دا اسم ظاهر دضمير مخاطب نه بدل البعض جوړولو مثال دي ، او **اشتريتني نصفي** دضمير متکلم نه د بدل البعض جوړولو مثال دي، او **اعجبتني علمك** داد اسم ظاهر د ضمير مخاطب نه بدل الاشتمال جوړولو مثال دي او **اعجبتك علمي** داد اسم ظاهر د ضمير متکلم نه بدل الاشتمال جوړولو مثال دي ، او**ضربتك الحمار** داد اسم ظاهر د ضمير مخاطب نه بدل الغلط جوړولو مثال دي او **ضربتني الحمار** داد اسم ظاهر ضمير متکلم نه بدل الغلط جوړولو مثال دي.

پنځم قسم : د عطف بيان تعريف :

عَطْفُ الْبَيَانِ تَابِعٌ شَامِلٌ لِجَمِيْعِ التَّوَابِعِ غَيْرُ صِفَةٍ اِحْتَرَزَ بِهٖ عَنِ الصِّفَةِ
عطف بيان هغه تابع دی چې شامل وي ټولوتوابعوته په غير دصفت نه احترازيې وکړوپه دې سره دهغه صفت چې
يُوْضِحُ مَتْبُوْعَهُ اِحْتَرَزَ بِهٖ عَنِ الْبَدَلِ وَالْعَطْفِ بِالْحَرْفِ وَالتَّاكِيْدِ وَلَا يَلْزِمُ مِنْ ذٰلِكَ اَنْ يَكُوْنَ عَطْفُ
وضاحت کوي دمتبوع احترازيې وکړوپه دې سره دبدل اودعطف بالحرف اودتاکيد نه اونه دي لازم چې وي عطف

الْبَيَانِ اَوْضَحَ مِنْ مَتْبُوْعِهِ بَلْ يَنْبَغِيْ اَنْ يَّحْصُلَ مِنْ اِجْتِمَاعِهِمَا اِيْضَاحٌ لَمْ يَحْصُلْ مِنْ اَحَدِهِمَا

بيان زيات واضح د متبوع نه بلکې مناسب دي چې حاصل د اجتماع د دې نه ايضاح چې نه وي حاصله يو د دې

عَلَى الْاِنْفِرَادِ فَيَصِحُّ اَنْ يَّكُوْنَ الْاَوَّلُ اَوْضَحَ مِنَ الثَّانِيْ مِثْلُ اَقْسَمَ بِاللهِ اَبُوْحَفْصٍ عُمَرُ فَاَبُوْ حَفْصٍ

دواړو نه په حالت د انفراد کې نو صحيح ده چې وي اول اوضح د دويم نه لکه اقسم بالله ابو حفص عمر نو ابو حفص

كُنْيَةُ اَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَ عُمَرُ عَطْفُ بَيَانٍ لَهُ وَ قِصَّتُهُ اَنَّهُ اَتٰى

کنيت د امير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه دي او عمر عطف بيان دي د دې د پاره او قصه د دې داده چې راغې

اَعْرَابِيٌّ اِلٰى عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ فَقَالَ اِنَّ اَهْلِيْ بَعِيْدٌ وَ اِنِّيْ عَلٰى نَاقَةٍ دَبْرَاءَ

يو اعرابي عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته نو وې ويل چې کور زما لرې دې او زه په يوه اوښه باندې يم چې ملا يې زخمي

عَجْفَاءَ نَقْبَاءَ وَ اسْتَحْمَلَهُ فَظَنَّهُ كَاذِبًا

ده کمزورې. او خپې يې زخمي دي او دده نه يې طلب د سورلې وکړو نو گمان وکړو عمر رضي الله عنه چې دا دروغجن دې

فَلَمْ يَحْمِلْهُ فَانْطَلَقَ الْاَعْرَابِيُّ فَحَمَلَ بَعِيْرَهُ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ الْبَطْحَاءَ

نو سورلې يې ورنه کړه نو لاړو اعرابي او بارې کړو سامان په خپله اوښه باندې بيا روان شو بطحاء وادي طرف ته

وَ جَعَلَ يَقُوْلُ وَ هُوَ يَمْشِيْ خَلْفَ بَعِيْرِهِ شعر: اَقْسَمَ بِاللهِ اَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ مَا

اولگيا شو چې ويل يې او داروان وو وروسته د خپلې اوښې نه شعر. قسم کړې په الله سره ابو حفص عمر، چې نه دہ

مَسَّهَا مِنْ نَقَبٍ وَلَا دَبَرٍ اِغْفِرْ لَهُ اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ فَجَرَ وَ عُمَرُ

رسيدلې زما اوښې ته بيمارې او کمزورې بخشش وکړې ده ته اې الله که چيرته گناه يې کړې وي او عمر رضي الله عنه

مُقْبِلٌ مِنْ اَعْلَى الْوَادِيْ فَجَعَلَ اِذَا قَالَ اِغْفِرْ لَهُ اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ فَجَرَ

اوريدې د خپې د وادې اعلى نه نو هر کله يې چې دا وويل بخشش وکړې ده ته اې الله که چيرته گناه يې کړې وي

قَالَ اَللّٰهُمَّ صَدِّقْ حَقِّیْ التَّقَيَا فَاَخَذَ بِيَدِهٖ

نو عمر رضي الله عنه وويل اې الله ته رښتيني کړې خبره د اعرابي تردې چې ملاقات وشو د دواړو نو د لاس نه يې ونيول

فَقَالَ ضَعْ عَنْ رَاحِلَتِكَ فَوَضَعَ فَاِذَا هِيَ نَقْبَاءُ عَجْفَاءُ

او ورته يې وويل چې کوز کړه سامان د خپلې اوښې نه نو سامان يې راکوز کړو نو واقعي وه زخمي او کمزورې نو

فَحَمَلَهُ عَلٰى بَعِيْرِهٖ وَ زَوَّدَهُ وَ كَسَاهُ.

بارې کړو سامان په خپلې اوښې باندې او د لارې توښه او کپړې يې ورکړې

خلاصه دمتن: صاحب د کافيه د عطف بيان تعريف کوي چې عطف بيان هغه تابع دي کوم چې د صفت غير وي او د فعل متبوع اضافت کوي. لکه اقسم بالله ابو حفص عمرو په دې کې

ابو حفص د امیر المؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه کنیت دي او عمرو علم عطف بیان دي

اغراض دجامي : شامل لجميع : په دې عبارت سره شارح دقیودو فوائد بیانوي. په شامل سره شارح اشاره کړي ده چې تابع جنس دي کوم چې ټولو توابعو ته شامل دي

واحترز به عن الصفة : په دې عبارت سره شارح وویل چې غیر صفة دا اول فصل دي. ددې نه صفت خارج شو

واحترز په دې عبارت سره شارح دا بیانوي چې یوضح متبوعه دا دویم فصل دي، په دې سره بدل . تاکید او عطف بحرف خارج شو

ولا یلزم په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي :

سوال : دعطف بیان تعریف په هغه عمرو باندې صادق نه راځي کوم چې په جاءني سیبویه عمرو کې واقع دي ځکه چې عمرو دخپل متبوع سیبویه وضاحت نه کوي ځکه چې دسیبویه په نسبت د عمرو زیات واضح او مشهور دي. حالانکه عمرو عطف بیان دي ؟

جواب : عطف بیان دخپل متبوع دموضح راتللو سره دا لازم نه راځي چې عطف بیان دخپل متبوع نه زیات واضح وي، بلکې مراد دادې چې ددې دواړو مجموعې نه هغه ایضاح حاصل شي کوم چې على الانفراد ددې نه یو حاصل نه وي، لهذا که چیرته متبوع د تابع نه زیات واضح دي نو دا هم صحیح ده.

مثل اقسم بالله ابو حفص عمرو : په دې عبارت سره شارح بیان دمثال کوي ، په دې کې ابوحفص د امیر المؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه کنیت دي عمرو علم دي کوم چې عطف بیان دي که چیرته حفص په ضاد سره وي، نو ددې معنی اسد ، زمري اوشیر دي نو د ابوالحفص معنی به ابوالاسد وي . في الشجاعة والغيرة ، په شجاعت اوغیرت کې ، اوکه چیرته ابوحفص په صاد سره وي نو داد حضرت عمر رضی الله عنه دلور حضرت حفصه ام لمؤمنين په نوم باندې کنیت دي.

وقصته : په دې عبارت سره شارح ددې مثال پس منظر او واقعه بیانوي :

واقعه : یو اعرابي حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته راغې او وې ویل ، زما کور لرې دي او زما د اوښې شاه یعنې ملا زخمي ده او بدن یې کمزوري دي او خپې یې هم زخمي دي تاسو ماته یوه سورلۍ راکړئ، حضرت عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دا سړی دروغجن وګڼړلو ، ده ته یې سورلۍ ورنه کړه

هغه خپل سامان هم دغه کمزورې اوښه باندې کيخود بيا يې دا اشعار وويل

اَقْسَمَ بِاللّٰهِ اَبُوْ حَفْصٍ عُمَرْ
مَا مَسَّهَا مِنْ نَقَبٍ وَلاَ دَبَرْ
اِغْفِرْ لَهُ اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَ فَجَرْ

يعنې قسم کړې په الله تعالى سره ابوحفص عمر . چې نه دي مسه کړي اويانه دي رسيدلې اوښې ته سه بيماري او نه کمزوري ، نو بخشش وکړي ده ته اى الله ! که چيرته ده دا گناه کړې وي.

يعنې گمان دحضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دادې چې ددې اعرابي اوښه صحيح ده او دا دروغ وايي ، او حالانکه دا اوښه زخمي هم وه اوکمزورې هم وه ، نو دا اعرابي وايي که چيرته حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دا گناه يعنې زما اوښه صحيح گڼړي او ماته دروغجن وايي نو ته ورته دا گناه معاف کړي .

نو حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دده دا خبرې اوريدې دپاسه نه . نو هرکله چې دې اعرابي وويل : **اغفر له اللهم ان كان فجر** ، بخشش وکړي ده ته اى الله که چيرته ده دا گناه کړې وي ، نو حضرت عمررضى الله عنه زر وويل : **اللهم صدق فصدق**، يعنې اى الله ! داعرابي خبره رښتيني کړي ، تر دې چې د دواړو ملاقات وشو، نو حضرت عمررضى الله عنه دا اعرابي دلاسه ونيوه او ورته يې وويل، چې خپل سامان کوز کړه نو واقعي دده اوښه زخمي اوکمزورې وه ، نو حضرت عمررضى الله عنه خپل ذاتي اوښ دې اعرابي ته ورکړو او يوه جوړه او د سفر خرچه يې هم ورکړه.

فائده: حضرت عمررضى الله عنه پخپل گمان کې اعرابي درغجن کړو ، ځکه دده قسم **يمين غموس** نه وو، چې دده په گمان کې قسم دواقعې په خلاف يوځيز سره متعلق نه شي، ځکه دوي گنهگار نه شو بلکې دا قسم **يمين لغو** شو، چې په هغې باندې گناه نشته هم دا وجه ده چې اعرابي **فجر** د **ان كان** سره ذکر کړو ، چې هغه د فاروق اعظم د عدالت او شفقت نه خبر وو، ددې وجې نه يې وويل که بالفرض فاروق اعظم نه غلطي شوې وي، نو الله دې وبخښي.

دبراء: د دبر نه مشتق دي زخمي شا او يا زخمي مَلا والا.

عجبناء: په معنى د کمزورې .

نقباء : زخمي مېږو والا

په عطف بيان او بدل کې فرق :

وَفَصْلُهُ أَيْ فَرْقُهُ مِنَ الْبَدَلِ لَفْظاً أَيْ مِنْ حَيْثُ الْاَحْكَامِ اللَّفْظِيَّةِ وَاقِعٌ فِي مِثْلِ أَنَا ابْنُ التَّارِكِ الْبَكْرِيِّ بِشْرٍ
اوفصل ددې يعنې فرق ددې دبدل نه لفظا يعنې په اعتبار داحکامو لفظيو واقع دې په اناابن التارک البکري بشر
فَإِنَّ قَوْلَهُ بِشْرٌ إِنْ جُعِلَ عَطْفَ بَيَانٍ لِلْبَكْرِيِّ جَازَ وَ إِنْ جُعِلَ
مثال کې ځکه داقول دشاعر بشرکه چيرته وګرځول شي عطف بيان دپاره د بکري نوجائزدي اوکه چيرته وګرځول
بَدَلاً مِنْهُ لَمْ يَجُزْ لِاَنَّ الْبَدَلَ فِي حُكْمِ تَكْرِيرِ الْعَامِلِ فَيَكُوْنُ التَّقْدِيْرُ أَنَا ابْنُ التَّارِكِ بِشْرٍ وَ
شي بدل ددې نه نونه دي جائزځکه بدل په حکم دتکرير دعامل کې دي نووي به تقديريې اناابن التارک بشراو
هُوَ غَيْرُ جَائِزٍ كَمَا ذَكَرْنَا فِيْمَا سَبَقَ فِي الضَّارِبُ زَيْدٍ وَ آخِرُهُ عَلَيْهِ الطَّيْرُ تَرْقُبُهُ وُقُوْعاً وَ عَلَيْهِ الطَّيْرُ ثَانِيْ
داغيرجائزدي لکه مونږذکرکړل مخکې په الضارب زيدکې اوآخري مصرعه عليه الطير ترقبه وقوعااو عليه الطيردويم
مَفْعُوْلَيِ التَّارِكِ إِنْ جَعَلْنَاهُ بِمَعْنَى الْمُصَيِّرِ وَ إِلاَّ فَهُوَ حَالٌ وَ قَوْلُهُ
مفعول دالتارک دي که چيرته مونږوګرځوو په معنی دمصيرسره اوکه ونه ګرځوونودابه حال وي اودا قول دشاعر
تَرْقُبُهُ حَالٌ مِنَ الطَّيْرِ إِنْ كَانَ فَاعِلاً لِعَلَيْهِ وَ إِنْ كَانَ مُبْتَدَأً فَهُوَ حَالٌ مِنَ الضَّمِيْرِ الْمُسْتَكِنِّ فِيْ
ترقبه داحال دي دطيرنه که چيرته فاعل وودعليه دپاره اوکه چيرته مبتداوي نوداحال دي دضمير مستترنه په
عَلَيْهِ وَ وُقُوْعاً جَمْعُ وَاقِعٍ حَالٌ مِنْ فَاعِلِ تَرْقُبُهُ أَيْ وَاقِعَةً حَوْلَهُ مُتَرَقِّبَةً لِانْزِهَاقِ رُوْحِهِ لِاَنَّ
عليه کې اووقوعا جمع دواقع ده اوحال دي دفاعل نه ترقبه يعنې واقعة حول البکري مترقبة لخروج روحه ځکه
الْاِنْسَانَ مَا دَامَ بِهِ رَمَقٌ فَإِنَّ الطَّيْرَ لاَ تَقْرُبُهُ وَ أَمَّا الْفَرْقُ الْمَعْنَوِيُّ بَيْنَهُمَا
انسان ترڅوچې په کې وي ساه ځکه مرغان نه رانږدې کيږي ده ته اوهرچې معنوي فرق دي په مينځ ددې دواړو
فَقَدْ تَبَيَّنَ فِيْمَا سَبَقَ.
کې نوهغه بيان شوې دې مخکې

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې صاحب کافيه غرض دعطف بيان او دبدل الکل په مينځ کې فرق بيانول دي. بعضې نحويان لکه علامه رضي وغيره ددې د مستقل وجود نه انکار کړی وو او هغوي ويلي وو چې عطف بيان بدل الکل دي. ددې وجې نه ددې په مينځ کې فرق کولو ته ضرورت پيښ شو، دا فرق به په هغه ځای کې وي په کوم ځای کې چې عطف بيان په صورت کې يو حکم وي او د بدل په صورت بل حکم وي او دا په داسې ترکيب کې وي په کوم کې چې دعطف بيان متبوع معرف باللام وي کوم چې دصفت معرف باللام مضاف اليه وي

لکه په الضارب الرجل زيد کې چې دې دلته عطف بيان جوړول جائز دي او بدل جوړول جائز نه دي، لکه انا ابن التارك البکری بشر په دې کې بشر عطف بيان دي او البکر ددې متبوع دي کوم چې معرف باللام دي او مضاف اليه دي د التارك کوم چې معرف باللام دي

اغراض دجامي : اى فرقه: په دې عبارت کې شارح بيان دمعنی کوي چې فصل په معنی د فرق دي شارح وويل چې دلته دفصل لغوي معنی مراد ده اودفصل منطقي معنی مراد نه ده اونه هغه فصل مراد دي کوم چې د کتاب او دباب په مقابله کې راځي

اى من حيث: په دې عبارت کې شارح بيان دترکيب کوي. چې د لفظاً نصب د تميز د وجې نه دي

واقع: په دې عبارت کې شارح بيان دترکيب کوي چې فى مثل ظرف مستقر متعلق دي د واقع سره داد فصل خبر دي، نو دعبارت مطلب دادې چې د عطف بيان او دبدل په مينځ کې فرق دجهته احکامو لفظي نه په انا ابن التارك البکر بشر مثال کې واقع دي، په دې قول کې که چيرته بشر عطف بيان جوړ شي نو دا جائز دي اوکه چيرته بدل جوړ شي نو دا جائز نه دي، ځکه چې بدل دعامل دتکرار په حکم کې وي او دلته عامل التارك دي، مطلب دادې چې په بدل کې دا ضروري ده چې داد مبدل منه په ځای کيخودې شي نو هيڅ حرج نشته مګر دلته دبدل جوړولو په صورت کې التارك کوم چې مبدل منه يعني بکری عامل دي په بدل يعني بشر باندې مکرر راوړلې شي، نو تقدير دعبارت به دا شي چې التارك بشر دا جائز نه دي، ځکه چې دا به د الضارب زيد په شان شي او الضارب زيد ناجائز کيدل مخکې تير شوي دي

وآخره: په دې عبارت کې شارح مکمل شعر بيانوي چې مکمل شعر دادې:

انا ابن التارك البکری بشر   عليه الطير ترقبه وقوعاً

وعليه الطير: په دې عبارت کې شارح بيان دترکيب کوي، په دې کې دآخري بيت ترکيب بيانوي چې التارك المصير په معنی کې دي اويا نه. که د التارك المصير په معنی کې وي، نو عليه الطير به د التارك مفعول ثاني وي، او که د المصير په معنی کې نه وي، بلکې د وَدَعَ په معنی باندې وي، نو داد عليه الطير البکر نه حال دي

ترقبه: په دې عبارت کې شارح دالطير عليه متعلق يعني که چيرته دثبت اودوقع فاعل وي نو دا

په د ترقبه الطیر نه حال وي اوکه چیرته الطیر مبتدا وي او علیه خبر مقدم وي نو بیا د ترقبه حال وي د علیه د متعلق ضمیر نه

وقوعاً: دا جمع ده د واقع دا حال دی د ترقبه فاعل نه.

ای واقعة: په دې عبارت کې شاعر د دویم شعر ترجمه کوي چې ددې نه ګیر چاپیره مارغان حسع دي او دده د روح وتلو انتظار کوي، ځکه چې کله انسان کې لږ شان روح وي، نو مارغان ورته نژدې نه ورځي.

واما الفرق المعنوی: په دې عبارت کې شارح د لفظاً قید فائده بیانوي د لفظاً قید یې ځکه ولږولو چې معنوي فرق خو د مخکې نه معلوم شو، چې بدل مقصود اصلي دي او عطف بیان مقصود اصلي نه دي، بلکې ددې نه مقصود توضیح او وضاحت وي.

په ذکر شوي شعر کې د ماتن د مقصد او مراد وضاحت:

وَ الْمُرَادُ بِمِثْلِ أَنَا ابْنُ التَّارِكِ الْبَكْرِيِّ بِشْرٍ كُلُّ مَا كَانَ عَطْفَ بَيَانٍ لِلْمُعَرَّفِ بِاللَّامِ
او مراد د مصنف په انا ابن التارك البكري بشر مثال کې هر هغه لفظ دي چې وي عطف بیان د پاره د معرف باللام
الَّذِيْ أُضِيْفَ إِلَيْهِ الصِّفَةُ الْمُعَرَّفَةُ بِاللَّامِ نَحْوُ اَلضَّارِبُ الرَّجُلِ زَيْدٍ وَ يُمْكِنُ أَنْ يُّرَادَ بِهِ
هغه چې اضافت یې شوې وي دې ته د صفت معرف باللام لکه الضارب الرجل زید او ممکن دي چې مراد وي په
مَا هُوَ أَعَمُّ مِنْ هٰذَا الْبَابِ أَيْ كُلُّ مَا خَالَفَ حُكْمُهُ إِذَا كَانَ عَطْفَ بَيَانٍ
دې سره هغه څه چې عام وي ددې باب نه یعنې هر هغه صورت چې مخالف وي حکم ددې چې کله وي عطف بیان
حُكْمُهُ إِذَا كَانَ بَدَلاً فَيَتَنَاوَلُ صُوْرَةَ النِّدَاءِ أَيْضاً فَإِنَّكَ تَقُوْلُ يَا غُلَامُ زَيْدٌ وَ زَيْداً بِالتَّنْوِيْنِ
نو حکم ددې چې کله وي بدل نو شامليږي دا صورت نداء ته هم دا رنګې ځکه ته به وایې یاغلام زید و زیداً په تنوین
مَرْفُوْعاً حَمْلاً عَلَى اللَّفْظِ وَ مَنْصُوْباً حَمْلاً عَلَى الْمَحَلِّ إِذَا جَعَلْتَهُ
سره مرفوع دوجې د حمل نه په لفظ باندې او یا منصوب دوجې د حمل نه په محل باندې چې کله یې ته وګرځوې
عَطْفَ بَيَانٍ وَ يَا غُلَامُ زَيْدُ بِالضَّمِّ إِذَا جَعَلْتَهُ بَدَلاً وَ الْمَعْنَى الْأَوَّلُ أَظْهَرُ وَ الثَّانِيْ
عطف بیان او یاغلام زید په ضمې سره چې کله یې ته وګرځوې بدل او اوله معنی ډیره ظاهره ده او دویمه معنی
أَفْيَدُ.
ډیره مفیده ده.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره په ذکر شوي شعر کې د ماتن د مراد او د مقصد وضاحت

بيانوي چې تفصيل يې لاندې په شرحه کې موجود دي

اغراض دجامي : ددې عبارت نه د شارح غرض د ماتن مراد متعين كول دي، چې د مثال نه مراد هر هغه تركيب دي په كوم كې چې د عطف بيان متبوع معرف باللام وي، كوم چې د صفت معرف باللام مضاف اليه وي. الضارب لكه الرجل زيد او انا ابن التارك البكر بشر په دې كې بشرعطف بيان دي او البكر ددې متبوع دي كوم چې معرف باللام دي او مضاف اليه دي د التارك كوم چې معرف باللام دي.


ويمكن: په دې عبارت كې شارح د دويم احتمال بيان كوي. د مثل نه مراد هر هغه اسم دي چې د عطف بيان جوړولو په صورت كې چې كوم حكم دي دا مغائر وي. ددغه حكم چې كله دا بدل جوړ شي لكه په ذكر شوي مثال كې چې دي چې بشر د بكر نه عطف بيان جوړ شي. نو ددې حكم د جواز دي، او كله چې دا بدل جوړ شي نو ددې حكم د عدم جواز دي دا دويمه معنى صورت ندا ته هم شامله ده لكه يا غلام زيد په دې كې غلام منادى مفرد معرفه مبني برضمه ده او محلا منصوب دي اوس كه زيد عطف بيان جوړ شي، نو دا په لفظ باندې محمول كول مرفوع ويل هم جائز دي، او دا په محل باندې محمول كول منصوب ويل هم جائز دي او كه زيد د غلام نه بدل جوړ كړي، نو چونكې بدل دعامل دتكرار په حكم كې وي، نو زيد مبنى على الضم كيدل متعين دي.

المعنى الاول اظهر: په دې عبارت سره شارح وايي چې اوله معنى اظهره اوخكاره ده اودويمه معنى ډيره مفيده ده ، اوله معنى ځكه ظاهره ده چې دمصنف قول التارك بشر نه اوله معنى ظاهريږي ځكه چې دمصنف په مثال كې مضاف معرفه باللام راوړې بيا بشر عطف بيان جوړ كړي لكه چې الضارب زيد دي چې انا ابن التارك البكربشر نه په ظاهره دا مراد دي اودويمه معنى مفيده ځكه ده چې دا دنداء صورت ته هم شامله ده

وبهذا الموضع تمت المعرب بعون الله تعالى وتوفيقه

اين سعادت بزور بازو نيست ٭ تا نه بخشد خداى بخشنده

الجزء الثاني
من شرح الجامي



﴿ اَلْمَبْنِيُّ ﴾

تعریف د مبني :

اَلْمَبْنِيُّ اَیْ الْاِسْمُ الْمَبْنِيُّ وَ هٰذَا الْحَدُّ لَا یَصِحُّ اِلَّا لِمَنْ یَعْرِفُ مَاهِیَةَ الْمَبْنِیِّ عَلَی الْاِطْلَاقِ

مبني یعني هغه اسم مبني دا تعریف نه صحیح کیږي مګر د هغه چا د پاره چې پیژني ماهیت د مبني مطلقا

وَلَا یَعْرِفُ الْاِسْمَ الْمَبْنِيَّ اِذْ لَوْ لَمْ یَعْرِفْهَا لَکَانَ تَعْرِیْفًا لِلْمَبْنِيِّ بِالْمَبْنِيِّ لِاَنَّهٗ

او نه پیژني اسم مبني ځکه که چیرته ونه پیژندل شي مبني نوشي به تعریف د مبني په مبني ځکه

ذُکِرَ فِيْ حَدِّ الْمَبْنِيِّ لَفْظُ الْمَبْنِيِّ مَا نَاسَبَ اَیْ اِسْمٌ نَاسَبَ مَبْنِيَّ الْاَصْلِ وَ هُوَ

یې ذکر کړي په تعریف د مبني کې هم لفظ د مبني . مبني هغه اسم دي چې مناسب وي د مبني الاصل سره هغه

الْحَرْفُ وَالْفِعْلُ الْمَاضِيْ وَالْاَمْرُ بِغَیْرِ اللَّامِ وَالْمُرَادُ بِالْمُشَابَهَةِ الْمَنْفِیَّةِ فِيْ تَعْرِیْفِ الْمُعْرَبِ هُوَ هٰذِهِ الْمُنَاسَبَةُ

حرف او فعل ماضي او امر په غیر د لام نه وي او مراد په مناسبت منفیه سره په تعریف د معرب کې د غه مناسبت

وَ لَقَدْ فَصَّلَ صَاحِبُ الْمُفَصَّلِ هٰذِهِ الْمُنَاسَبَةَ بِاَنَّهَا اِمَّا یَتَضَمَّنَ الْاِسْمُ

دي او په تحقیق سره تفصیل بیان کړي صاحب د مفصل د غه مناسبت ځکه چې دا به یا متضمن وي اسم لره

یَعْنِيْ مَعْنَی مَبْنِيِّ الْاَصْلِ مِثْلُ اَیْنَ فَاِنَّهٗ یَتَضَمَّنُ مَعْنَی هَمْزَةِ الْاِسْتِفْهَامِ اَوْ

یعني د مبني الاصل لکه این ځکه چې لفظ د این متضمن دي معنی د همزې استفهام لره او یا به متضمن وي

بِشِبْهِهٖ لَهٗ کَالْمُبْهَمَاتِ فَاِنَّهَا تَشْبَهُ الْحَرْفَ فِي الْاِحْتِیَاجِ اِلَی الصِّلَةِ اَوِ الصِّفَةِ اَوْ غَیْرِهِمَا

مشابه دا اسم سره لکه مبهمات ځکه چې دا متضمن دي حرف لره په احتیاج کې صلې یا صفت ته وغیره

اَوْ وُقُوْعِهٖ مَوْقِعَهٗ کَنَزَالِ فَاِنَّهٗ وَاقِعٌ مَوْقِعَ اِنْزِلْ اَوْ مُشَاکَلَتِهٖ لِلْوَاقِعِ

یا واقع کیدل د دې دي په ځای د هغې لکه نزال چې واقع دي په ځای د انزل او یا یې مشاکل واقع شي په

مَوْقِعِهٖ کَفُجَارِ اَوْ وُقُوْعِهٖ مَوْقِعَ مَا اَشْبَهَهٗ کَالْمُنَادَی الْمَضْمُوْمِ فَاِنَّهٗ وَاقِعٌ

ځای د هغه کې لکه فجار یا یې واقعل کیدل په موضع د ما اشبه کې لکه منادی مضمومه چې واقع دده په

مَوْقِعَ کَافِ الْخِطَابِ الْمُشَابِهَةِ لِلْحَرْفِ فِيْ نَحْوِ اَدْعُوْکَ.

ځای د کاف دخطاب کې کوم چې مشابه دي د حرف سره په مثل د ادعوک کې

خلاصه د متن : په دې عبارت سره صاحب د کافیې د اسم مبني تعریف او تفصیل بیانوي

اغراض د جامي : المبني: په دې عبارت سره غرض [illegible] سره بیانول دي: (۱) [illegible]

ماقبل سره ربط ۲ د عنوان وضاحت

ربط: کله چې فارغ شو مصنف د تفصیل د اسم معرب نه، نو شروع یې وکړه په تفصیل د اسم مبني کې نو دلته درې سوالات مخې ته راځي

اول سوال: نفس تفصیل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصیل ځکه کوي چې تفصیل بعدالاجمال اوقع في الذهن وي

دوهم سوال: په دې مقام کې یې ولې کوي. یعنې اسم معرب یې ولې مقدم کړو

جواب: اسم معرب یې ځکه مخکې کړو چې هغه کثیر الوقوع او کثیرالاستعمال دی او کوم څیز چې کثیر الوقوع وي نو په طبع کې مقدم وي، نو په وضع کې هم مقدم شو چې وضع د طبع سره موافق شي

دریم سوال: تفصیل یې څنګه کوي؟

تفصیل یې داسې کوي چې اول به تعریف د اسم مبني وکړي دوهم به القاب ددې ذکر کړي دریم به حکم ددې ذکر کړي، څلورم به اجمالي اقسام ددې ذکر کړي، او پنځم به تفصیل ددې اقسامو وکړي، په دې پنځه طریقو سره به یې تفصیل وکړي.

دا ربط اجمالي وو ربط تفصیلي خلاصه ددې کتاب ده.

دا کتاب کافیه په دریو برخو مشتمل ده. خطبه، مقدمه او مقصود، په خطبه کې تسمیه صراحتاً ذکر ده او د بعضې شارحینو په نزد حمد او صلوة ضمناً ذکر دي

په مقدمه کې پنځه (۵) خبرې دي

۱. تعریف د کلمې ۲. اجمالاً درې اقسام د کلمې ۳. په دې اقسامو کې وجه د حصر ۴ تعریف د کلام ۵. اقسام د کلام. مقصود په کې درې مباحث دي بحث الاسم، بحث الفعل. بحث الحرف بحث الاسم په درې برخو مشتمل ده. مقدمه، مقصود او خاتمه په مقدمه کې درې خبرې دي تعریف د اسم. خواص د اسم، تقسیم د اسم قسمینو ته مقصود کښې دوه بابونه دي. باب اول په بیان د اسم معرب کښې او باب ثاني په بیان د اسم مبني کې دي

بیا دا باب اول په پنځه برخو مشتمل دی، مقدمه، مقاصد ثلاثه او خاتمه، په مقدمه کې لس (۱۰) امور ذکر کوي په اول مقصد کې اووه (۷) مرفوعات، په دوهم مقصد کې دولس (۱۲) منصوبات، او په دریم مقصد کې مجرورات ذکر کوي. د اول باب په خاتمه کې پنځه (۵) توابع ذکر کوي، اوس کله چې د باب اول د تفصیل نه فارغ شو. نو شروع یې وکړه په تفصیل د

باب ثاني اسم مبني کې

د عنوان وضاحت: دا وضاحت په څو طريقو سره دي ۱ وضاحت د الف لام ۲ صيغه د مبني ۳ معنی لغوي د مبني ۴ اقسام د مبني ۵ معنی اصطلاحي د مبني

۱: وضاحت د الف لام: اګر چې قاعده داده چې کوم الف لام په اسم فاعل او اسم مفعول داخل شي، نو هغه الف لام اسمي موصولي وي، ليکن دلته دا الف لام حرفي غير زائد جنسي دی د جنسي نه علاوه نور درې قسمه ځکه نه دي. چې لازمېږي تعريف د افرادو او تعريف دافرادو کيږي نه په افرادو سره کېږي. بلکې تعريف د جنس کيږي او په جنس سره کيږي. زائد ځکه نه دی، چې د هغې په سقوط سره هيڅ نقصان نه راځي. او دلته که الف لام ساقط شي نو لازم به شي نکارت د مبتداء او اسمي ځکه نه دی. چې دلته دا اسميت د مبني په وصفيت غالب شوې دی او وصيت مغلوب شوی دی

۲: صيغه د مبني: مبني صيغه د اسم مفعول وه. نو دلته يو سوال وارد يږي:

سوال: دا صيغه د اسم مفعول د ثلاثه مجرد ده اوکه د مزيد ؟ په دواړو اعتراض راځي که د ثلاثي مجرد نه شي، نو د هغې اسم مفعول به په وزن د مفعول راځي نو دا خو هغه وزن نه دی، او که دمزيدو نه شي د مزيدو اسم مفعول د هغه باب د فعل مضارع په شان وي ، هو ابتداء کې ميم مضمومه او ما قبل آخر کې مفتوح وي او دلته خو ميم مفتوح دی او ما قبل آخر مکسور دی؟

جواب: کله چې سوال په شقونو وشي، طريقې د جواب دوه وي، په دغه شقونو کې يو شق غوره کول يا اختيار د شق آخر کول. دلته مونږ په اول طريقه سره جواب کوو، مونږ وايو دا صيغه د اسم مفعول د ثلاثي مجرده ده که ته وايې دا په هغه وزن نه ده؟ نو مونږ وايو ددې ظاهر ته مه ګوره بلکې ددې اصل ته ګوره اصل کې دا مبني بر وزن مفعول وو، بيا د مرمّي په قاعده سره تبديلي راغله. او هغه قاعده داده چې کله واو يا په آخر د اسم کښې جمع شي او اول ساکن وي نو دغه واو يآء سره بدليږي او يآء په يآء کې مدغم کېږي او ما قبل د يآء ضمه چې کسره سره بدليږي، نو مبني شو بيا الف لام داخل شو نو هغه تنوين وغورځيدو، نو المبني پاتې شو

۳: معنی لغوي: مبني لغت کښې جوړ کړې شوې ته وايي. مصطلح مبني ته هم مبني ځکه وايي. چې دا څنګه جوړ کړی شوې وي، نو هم په هغه ترتيب سره وي. لکه هؤلآء

اقسام د مبني: مبني په دوه قسمه ده. (۱) مطلق مبني (۲) مبني مقيد: (۱) مطلق مبني هغه ده

چې د هغې حرکت او سکون د عامل د وجې نه ،نه وي (۲) او مبني مقيد هغه ده چې قيد ورسره ولګيږي.

دا په دوه قسمه ده مبني الاصل او اسم مبني، مبني الاصل هغه ده چې هيڅ قسم اعراب پرې نه راځي. نه لفظي نه تقديري او نه محلي او د اسم مبني تعريف وروستو را روان دی.

بيا د مبني الاصل په اقسامو کې اختلاف دی، جمهور وايي چې دا درې دي فعل ماضي، امر حاضر، جمله حروف. او د صاحب المفصل په نزد څلور دي، هغه ورسره جمله من حيث هي الجملة هم شمار کوي، او د اسم مبني اته اقسام دي، وروستو تفصيل سره بيانيږي.

دلته يوه خبره زده کړئ چې باسولي هم کړې ده هغه دا چې په اسماو کې اصل اعراب او اصل په افعالو او حروفو کې بناء ده، د هغې وجه داده چې اسماء محل د معاني محتوره ده، چې عبارت دی د فاعليت مفعوليت او اضافت نه او معاني معتوره محتاج دي علاماتو ته د وجې د التباس نه يو بل سره او هغه علامات نه دي، مګر اعراب دي. او اصل په افعالو او حروفو کښې بناء ځکه ده چې دا محل دی معاني معتوره نه دی. نو التباس په کې نه راځي. نو علاماتو ته ضرورت نشته.

دوهمه وجه خاص په فعل کې داده چې فعل ثقيل دی، ځکه دامشتمل دی په نسبت حدث او زمان باندې، نو دا تقاضا د تخفيف کوي او اعراب هم ثقيل دی. ځکه چې چليدل په ډيرو لارو داثقيل دي د چليدلو په يو لاره نه.

نو مونږ فعل مبني کړو او اسم خفيف دی، ځکه دې کې صرف نسبت وي، نو دا تقاضا د ثقل کوي او اعراب ثقيل دی. نو دا مونږ معرب کړو.

<u>**الاسم المبني**</u>: غرض د شارح په دې عبارت سره يو خو د المبني صفت دپاره موصوف راويستل دي او دا يې تفصيل د متن وکړو. دوهم غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د يو سوال ده:

سوال: ستا دا تعريف صحيح نه دی ځکه چې دا مشتمل دی په دور باندې او کوم تعريف چې په دور مشتمل وي هغه صحيح نه وي دا هم صحيح نه.

جواب: شارح ددې سوال د دفع کولودپاره الاسم قيد ولږولو، حاصل د جواب دادې چې مراد د مبني نه اسم دې. نو دور لازم نه شو. ځکه اسم مبني په خپل پيژندو کښې مبني الاصل ته محتاج دی. ليکن مبني الاصل په خپل پيژندو کښې اسم مبني ته محتاج نه دی، ځکه دا قسم د اسم مبني نه دی. بلکې د مبني مطلق دی. لهذا تعريف د مجهول په مجهول سره لازم نه شو

قوله و هذا الحد الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح دیو سوال جواب ورکول دي:

سوال: مبني مطلق دی او تا ورسره قید د الاسم ولړولونو داخو تقیید د مطلق دی، او تقیید د مطلق خو مجاز دی، او مجاز ته سیرورت په وخت د قرینه کې کېږي، او دلته قرینه نشته.

جواب: حاصل د جواب دادې چې که مونږ د مبني نه اسم مبني وانه خلو. نو یو ددوه کارونو نه به لازم شي. او هغه دا چې دا کس به مطلق مبني پېژني یا نه. نو که نه پژني نو لازمیږي تعریف د مجهول په مجهول سره او که یې پیژني نو لازمیږي تحصیل د حاصل. او دا دواړه ناروا دي، نو مونږ اسم مبني مراد کړو، نو تعریف د مجهول په مجهول سره لازم نه شو، ځکه دغه کس به مطلق مبني پیژني او تحصیل د حاصل هم نشته. ځکه اسم مبني دې نه پیژني بیا په دې عبارت کښې دوه دعوې دي. د دعوی اولی دپاره دلیل ذکر دی او بیا د هغه دلیل دپاره دلیل ذکر دی و او دعوی ثاني دپاره دلیل نشته، ځکه هغه واضح ده.

و هذا الحد لا یصح الالمن الخ: دا اوله دعوی ده حاصل ددې دادې چې دا تعریف د اسم مبني هله صحیح کېږي، چې یو خو دغه کس تعریف د مطلق مبني پېژني.

اذلولم یعرفها الخ: دا دلیل ددې دعوی دی حاصل یې دادې چې که چیرته دغه کس مطلق مبني نه پیژني، نو لازمیږي تعریف د مبني په مبني سره یعنې تعریف د مجهول په مجهول سره

لانه ذکر الخ: دا ددې دلیل دپاره دلیل دی یعنې تعریف د مجهول په مجهول سره لازمیږي، چې په دې تعریف کې ده مبني الاصل ذکر کړی دی او ته وایې چې دی مطلق مبني نه پېژني. نو چې مطلق مبني نه پېژني، نو مبني الاصل به چېرته نه وپېژني، ځکه مونږ وایو چې دغه کس به مطلق مبني پېژني، ولا یعرف الاسم المبني دا دوهمه دعوی ده، یعنې دغه کس به اسم مبني نه پېژني. دلیل یې دا دی چې که دغه کس اسم مبني پیژني نو دا خو تحصیل د حاصل دی او دا خو باطل دي

ما ناسب: په دې عبارت سره غرض د شارح دا اسم مبني تعریف کول دي. اسم مبني کې دوه ځیزونه ضروري دي، یو دا چې دا به: مبني الاصل سره مناسبت ساتي. دوهم دا چې غیر مرکب واقع شي. بیا دا دوه ځیزونه ځکه ضروري دي چې اصل په اسماوو کې اعراب دی او کوم شی چې د اصل خپل نه اړوي نو هغې دپاره سبب قویه په کار دی او هغه دوه اشیاء دي، یو مناسبت د مبني الاصل سره او بل عدم وقوع په ترکیب کې.

ای اسمٌ ناسب: غرض د شارح په دې عبارت سره تعیین د لفظ د ما دی، هغه مبهم وونو متعین یې کړو په اسم سره. دوهم غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د دوه سوالونو مقدرو ده:

اول سوال: دا تعریف ستا د اسم مبني صحیح نه دی. ځکه مانع نه دی د دخول د غیر نه ځکه داخل شو په دې کې فعل مضارع هغه هم د فعل ماضي سره په اشتقاق کې مناسبت لري او چونکه لفظ ما عام دی د شئ لفظ ټولو ته شامل دی او فعل مضارع هم یو شی دی. لهذا تعریف دې مانع نه شو؟

جواب: دا سوال به تا هله کولې چې مراد د ما نه شئ او لفظ وی، حالانکه د دې نه مراد اسم دی، لهذا فعل مضارع به تعریف نه دی شامل.

دوهم سوال: دا تعریف ستا د اسم مبني صحیح نه دی. ځکه متبادر د ما نه ذهن ته دا راځي چې ما موصوله ده او وجه داده چې مقام د تعریفاتو کښې اکثر ما موصوله وي، او س یو نقصان خو دا دې چې مبتداء خبر دواړه معرفي وي، نو هلته ضمیر د فصل راوړې شي د پاره د دفع د التباس نه د خبر د صفت سره او دلنه هغه نشته او دوهم نقصان دا دې چې موصول سره د صلې نه جزء د جملې وي، نو که دا جنس ګرځوو نو فصل نشته او که فصل ګرځوو نو جنس نشته حالانکه په تعریف کې لابدي وي د جنس او فصل دواړو نه.

جواب: شارح په اسمٌ سره جواب ورکړو، چې مراد د ما نه اسم دی او اسمٌ نکره دی لهذا دا ما موصوفه ده موصوله نه ده. نو ضمیر فصل ته ضرورت نشته، او جنس او فصل هم صحیح کیږي.

سوال: ته چې د ما نه موصوفه اخلې نو په دې باندې څه قرینه ده؟

جواب: یوه قرینه خو عدم صحت د ما صوله دی د وجې د واقع کیدو د هغه اعتراضونو کوم چې مخکې ذکر شو، او دوهمه قرینه داده چې دا لفظ د ما په مقام د خبر کې واقع دی او اصل په خبر کې نکارت دی.

سوال: ستا تعریف صحیح نه شو ځکه چې د لفظ د ما نه ذهن ته دا راځي چې دا په معنی د شئ او لفظ سره وي او دا جنس دی او جنس د شئ مقسم د هغه شي وي حالانکه شي او لفظ مقسم د اسم مبني نه دي. بلکې د دې مقسم اسم دي

جواب: شارح جواب وکړو چې مراد د ما نه اسم دی او اسم مقسم د اسم مبني دی لهذا تعریف

صحیح دی.

سوال: ذکر د ناسب پس د اسمٔ نه تکرار محضه دی، ځکه مخکې یو ځل ذکر دی؟

جواب: که مونږ د اسمٔ سره ناسب ذکر نه کړو، نو لازم به شي ذکر د موصوف په غیر د صفت نه. او ذکر د موصوف په غیر د صفت نه مستکره دی.

سوال: دا اسمٔ به دې د ما نه پس ذکر کړې وي، او بیا به دې ناسب ذکر کړې وو. نو ذکر د موصوف به په غیر دصفت نه ، نه لازمیده اونه به تکرار راتلو

جواب: خبره خو دې صحیح ده خو داسې کول صحیح نه دي ځکه چې فصل راځي په مابین د موصوف حقیقي او د صفت د هغې کې په تفسیر سره او څنګه چې ذکر د موصوف په غیر د صفت نه مستکره دی نو همدارنګې په مینځ د موصوف حقیقي او د صفت د دې کې مستکره دي.

مبني الاصل: په دې عبارت سره غرض دشارح تعریف د اسم مبني کول دي.

و هوالحرف الخ :غرض د شارح په دې عبارت سره تعریف د **مبني الاصل** کول دي او په الفاظ دیگر تعیین د **مبني الاصل** کول دي، اوبل غرض د شارح په دې عبارت سره رد کول دي په صاحب دمفصل باندې، صاحب دمفصل والاوایي چې **مبني الاصل** څلور دي، درې دامذکور او څلورم ورسره جمله **من حیث هي الجملة** هم مبني ده، ځکه دا هم فاعلیت مفعولیت او اضافت نه قبلوي. ده پرې رد وکړو په داسې شان سره چې مبتداء اوخبر یې معرفه راوړې دی، **مبني الاصل** یې په دې کې رامنحصر کړو او جمله اګر چې معاني معتوره نه قبلوي لیکن نائب د دې قبلوي، نو دا په حکم د معرب کې ده.

الحرف: دلته یې الحرف مطلق راوړو ټولو حروفو ته شامل دي.

الفعل الماضي: دلته یې **الفعل الماضي** هم مطلق راوړو. دا هم د بصریانو په نزد ټول مبني الاصل دي او په امر کې صرف امرحاضر مبني الاصل دی نو دې سره یې قید د **بغیراللام** ولږولو. دلته یو سوال واردیږي

سوال: کله چې په نحو کې د امر ذکر مطلق وشي نو مراد ترې امر حاضر وي، نو ذکر کول د بغیر اللام قید مستدرك او بې فائدې دی؟

جواب: دا یې ذکر کړې دې دپاره د شفقت په هغه نوي طالبانو چې د صرفو نه راوتلي وي او د نحوي اصطلاحات یې نه وي پیژندلي د دې دپاره چې خطاء نه شي

سوال: که دغه وجه وي، نو بیا به یې والامر المخاطب ویلې وي، نو اختصار به راغلې وو سره د حصول د مقصود نه؟

جواب: داسې یې ځکه ونه ویل چې امر د مخاطب هم کله د لام سره مستعملیږي لکه فلتفرحوا، او هغه بالاتفاق معرب دی، نو قید د بغیراللام یې ورسره ولږولو

والمراد بالمشابهة المنفية الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال جواب ورکول دي

سوال: اسم مبني مقابل د اسم معرب دی. او قانون په متقابلینو کې دادې چې یو شی باحدالمتقابلین کنبې وجودي وي، نو په بل کې به عدمي وي، او که په مقابل کې یو شی وجودي وي نو په اول کنبې به عدمي وي، اوس په اسم معرب کې دا ذکر وو فالمعرب المرکب الخ نو دلته او وقع غیر مرکب راغلې دي. دا خو صحیح ده لیکن هلته عدمي جزء لم یشبه مبنی الاصل ذکر دی، نو په کار دا وه چې دلته ما شابه ذکر وي، لیکن دلته مناسب ذکر دي. نو تعریف دې صحیح نه شو، ځکه چې د دې قانون خلاف دې وکړو؟

جواب: شارح جواب ورکړو چې هلته کوم مشابهت منفي دی، دهغې نه مراد هم دغه مناسبت دی، ځکه که هلته مونږ د مشابهت نه مناسبت وانه خلو نو ډیر اسماء مبنیات به په اسم معرب کې داخل شي لکه این چې دا د مبني الاصل سره مشابهت نه ساتي، هو مناسبت ورسره ساتي

فائده: په دې مقام کې یو څو الفاظ دي چې قابل د ذکر کولو دي (۱) مجانست (۲) مماثلت (۳) مشابهت (۴) مناسبت (۵) مشاکلت.

مجانست: هغه ته وايي چې په جنس کې مشترک وي، لکه انسان او بقر چې په حیوانیت کې سره مشترک دي

مماثلت: هغه ته وايي چې په نوعې کې سره مشترک وي لکه اشتراك د رجل او مرأة په انسانیت کې، چې په نوعیت کې سره دواړه مشترک دي.

مشابهت: هغه ته وايي چې په وصف کې سره مشترک وي او هغه وصف د احد المذکورین سره لازم هم وي او هغه په کې مشهور هم وي، لکه زیدً او اسد، چې په شجاعت کې سره مشترک دي او شجاعت د اسد سره لازم دی او دې په کې مشهور هم دی

مناسبت: هغه ته وايي چې چې په وصف کې مشترک وي خو دا وصف يو ددې دواړو سره لازم هم نه وي، او په کې مشهور هم نه وي لکه حمي د زيد او اسد ، دلته حمی يعنې تبه د زيد او اسد سره لازم هم نه ده او مشهور هم نه ده

مشاکلت: هغه ته وايي چې په شکل کې سره مشترک وي لکه شکل د فرس چې په ديوال منقوش وي دا مشابهت ساتي په ځمکه ولاړ ژوندي فرس سره.

ولقد فصل الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره تفصيل د هغه مناسبت کول دي کوم چې تعريف د اسم مبني کښې ذکر دي، او بل غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د يو سوال ده:

سوال: د مناسبت نه ته کوم مناسب اخلې؟ مناسبت مطلقه او که موثره في البناء او که مناسبت قويه ، يو هم نه صحيح کيږي : که مناسبت مطلقه مراد اخلې نو بيا خو ټول اسماء په کار دي چې مبني شي، ځکه ټول اسماء د مبني الاصل سره څه نه څه مناسبت لري که نور هيڅ هم نه وي نو په لفظ کې خو ورسره مناسبت لري، چې اسم هم لفظ دي او مبني الاصل هم الفاظ دي، او که ترې مناسبت موثره في البناء مراد واخلې، نو لازميږي اخذ د محدود په حد کې، ځکه په محدود کې مبني ذکر ده. او تا په حد کې بيا بناء ذکر کړه او اخذ د محدود په حد کې ناروا دی. او که مناسبت قويه اخلې نو هغه مجهول دي، او په مجهول سره خو تعريف نه صحيح کيږي.

جواب: مونږ جواب په دې طريقه سره کوو چې په دغه مناسبتونو کې يو مناسبت غوره کوو، نو مونږ وايو چې مراد د مناسبت نه مناسبت قويه دی، او هغه مجهول نه دی. بلکې صاحب دمفصل د هغې تفصيل کړې دي او خبره د صاحب المفصل په دې باب کې مستنده ده، ځکه چې صاحب دمفصل دا د مصنف استاذ دی.

يا هغه مناسبت هغه شپږ قسمه ذکر کړې دي، ليکن دا حصر په دې شپږ اقسامو کې حصر استقرائي دی، حصر عقلي نه دی، دې سره مونږ دفع د يو سوال وکړه :

سوال: دا حصر د مناسبت په شپږ اقسامو کې صحيح نه دی، د وجې د وجود د دې قسم آخر نه چې هغه مناسبت وضعي دی، يعنې يو حرف د مبني الاصل سره په وضع کې مشابه وي، لکه کَمْ د اذ سره په وضع کې مشابه دي په دواړو کې دوه حرفونه دي، نو دا مناسبت هم قوي دی. او صاحب دمفصل نه دی ذکر کړې؟

جواب: دا سوال به تا هله کولې، چې مونږ دلته حصرته حصرِ عقلي ويلې، حالانکه مونږ دلته

حصر ته حصر استقرائي وايو

فرق په مينځ د حصرِ عقلي او حصرِ استقرائي کې: فرق په مابين د حصرِ عقلي او استقرائي کې دادې چې حصرِ عقلي هغه ته وايي چې عقل جائز نه ګڼي. اتيان د قسم آخر لره او علامه يې داده چې دا دائر بين النفي والاثبات وي.

او حصر استقرائي هغه ته وايي چې تلاش سره معلوم شي او عقل جائز ګڼي اتيان د قسم آخر، او علامه يې داده چې دا اکثر دائربين النفي والاثبات نه وي.

بانها امّا يتضمّن الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د مناسبت قويه اول قسم رانقل کول دي. دې ته مشابهت معنوي وايي چې يو اسم متضمن وي معنى د مبني الاصل لره.

مثل اين غرض: په دې عبارت سره غرض د شارح مثال ذکر کول دي.

فانه يتضمن الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح تطبيق د مثال کول دي د ممثل سره، يعنې دا اين په معنى د همزه استفهام دى، نو ددې وجې نه مبني دى.

او بشبهه له: په دې عبارت سره غرض د شارح د مناسبت قويه دوهم قسم ذکر کول دي. دې ته مشابهت افتقادي وايي، چې يو اسم د مبني الاصل سره په احتياج کې مناسبت مشابهت لري.

لالمبهات: په دې عبارت سره غرض د شارح د مثال کلي ذکر کول دي، مراد ددې نه اسم اشارات، موصولات او ضمائر دي، دې ته مبهمات ځکه وايي چې ضمائر مخکې دقرينې د مخاطب، متکلم او غيبوبت نه، او اشارات مخکې د مشارٌ اليه نه، او موصلات مخکې د صله نه مبهم وي، اګر چې پس د قرينې نه په کې ابهام نه وي.

فانها تشبه الحرف الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح تطبيق د مثال دى د ممثل سره. يعنې دا حرف چې څنګه ضمّ د ضميمې ته محتاج وي، نو همدارنګې ضمائر، اسماء اشارات مشارٌ اليه ته او موصولات صلې ته محتاج دي، نو ددې احتياج دوجې نه يې ورسره مناسبت راغلو.

او وقوعه موقعه: په دې عبارت سره غرض د شارح دمناسبت قويه دريم قسم نقل کوي، دې ته مشابهت وقوعي وايي، چې يو اسم د مبني الاصل په ځای واقع ويو کنزال غرض د شارح مثال ذکر کول دي،

فانه واقعٌ الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح تطبيق د مثال دى، د ممثل سره.

او مشاكلته للواقع موقعه: په دې عبارت سره غرض د شارح د مناسبت قويه څلورم قسم ذكر كول دي، دې ته مشابهت شبهې وقوعي وايي، يعنې يو اسم مشابهت لري د يو داسې اسم سره چې هغه په ځاى د مبني الاصل واقع وي.

كفجار: په دې عبارت سره غرض د شارح مثال ذكر كول دي، فجار ناكاره او بد كردارې زنانه ته وايي.

او وقوعه ما اشبهه: په دې عبارت سره غرض د شارح د مناسبت قويه پنځم قسم ذكر كول دي، دې ته مشابهت وقوعي شبهې وايي، يعنې يو اسم د داسې اسم په ځاى واقع وي، چې د مبني الاصل سره مشابهت ساتي.

كالمنادى المضموم: په دې عبارت سره غرض د شارح ذكر كول د مثال دي، لكه يا زيدٌ شو

فانه واقعٌ الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح تطبيق د مثال كول دي. د ممثل سره دې مثال كې دا زيد واقع دى، په ځاى د كاف اسمي خطابي د ادعوك څكه يا زيدٌ په معنى د ادعوك سره دى او كاف اسمي خطابي مشابهت لري د كاف حرفي خطابي سره او كاف حرفي خطابي مبني الاصل دى، نو دا زيد هم مبني شو.

اَوْ اِضَافَتُهُ اِلَيْهِ كَقَوْلِهِ تَعَالٰى مِنْ عَذَابِ يَوْمَئِذٍ فِيْمَنْ قَرَاَ بِالْفَتْحِ اَوْ وَقَعَ
يايې اضافت شوې وي دې ته لكه په دې قول دالله تعالى كې عن عذاب يومئذ په قرأت دفتحې ياواقع
غَيْرَ مُرَكَّبٍ مَعَ غَيْرِهٖ عَلٰى وَجْهٍ يَتَحَقَّقُ مَعَهُ فَعَلٰى هٰذَا الْمُضَافُ مِنَ
شي غيرمركب سره دبل چاپه داسې شان چې متحقق وي د هغه سره عامل د هغه بناء پر دې مضاف د
الْمُرَكَّبَاتِ الْاِضَافِيَّةِ الْمَعْدُوْدَةِ كَغُلَامِ زَيْدٍ وَ غُلَامُ عَمْرٍو وَ غُلَامُ بَكْرٍ مَبْنِيٌّ وَ الْمُضَافُ اِلَيْهِ مُعْرَبٌ وَ لَمَّا كَانَ
مركبات اضافيومعدودونه لكه غلام زيدوغلام عمروغلام بكرمبني دي اومضاف اليـه معرب ده اوكله
الْمَبْنِيُّ مُقَابِلًا لِلْمُعْرَبِ وَ اعْتُبِرَ فِي الْمُعْرَبِ اَمْرَانِ التَّرْكِيْبُ وَ عَدَمُ الْمُشَابَهَةِ لِمَبْنِي
چې مبني مقابل دمعرب وو اومعتبروپه معرب كې دوه امور يو تركيب او دوهم عدم مشابهت د مبني
الْاَصْلِ كَانَ الْمَبْنِيُّ مَا انْتَفٰى فِيْهِ مَجْمُوْعُ هٰذَيْنِ الْاَمْرَيْنِ اِمَّا بِانْتِفَائِهِمَا مَعًا اَوْ
الاصل سره نوشو مبني هغه چې منتفي به وي په كې دا دواړه امرونه يابه دواړه يوځاى منتفي وي يابه
بِانْتِفَاءِ اَحَدِهِمَا فَقَطْ فَكَلِمَةُ اَوْ هٰهُنَا لِمَنْعِ الْخُلُوِّ وَ اِنَّمَا اِخْتَلَفَ تَرْتِيْبُ ذِكْرِ
يومنتفي وي فقط نولفظ داودلته دپاره دمنع كيدلودخالي والې دي اومختلف كړې شوترتيب دذكرولو

الْمُشَابَهَةِ وَ التَّرْكِيبُ فِيْ تَعْرِيْفِي الْمُعْرَبِ وَ الْمَبْنِيِّ تَقْدِيْمًا وَ تَاخِيْرًا
دمشابهت او همدارنګه ترکیب په دواړو تعریفونو دمعرب اومبني کې په اعتبار دتقدیم اوتاخیرسره له
اِيْثَارًا لِتَقَدُّمِ مَا مَفْهُوْمِهِ وُجُوْدِيٌّ لِشَرَفِهِ.
وجې دتاثیر دتقدیم دهغه چې ومفهوم دهغې وجودي دوجې دشرافت نه.

اغراض دجامي : <u>او اضافته اليه</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح د مناسبت قويه شپږم قسم رانقل کول دي. دې ته مناسبت اضافي وايي، يعنې يو اسم مبني الاصل ته مضاف وي بالواسطه يا بلاواسطه

<u>كقوله تعالى الخ</u>: په دې عبارت سره غرض د شارح ذکر کول دمثال دي، دا مثال د هغه دی چې يو اسم مبني الاصل ته بالواسطه مضاف وي، دلته يوم مبني بر فتحه دی، ځکه دا جملې ته په واسطه د از سره مضاف دی.د **فيمن قرأبالفتح** مطلب دادی چې په دې مقام کې په فتحه کې فتحه ويل واجب نه دي، بلکې جائز دي، نو که چا مکسور ويلو نو بيا دا مثال د مناسبت اضافي نه صحيح کيږي، او مثال د هغه چې بلاواسطه مبني الاصل ته مضاف وي لکه يوم ينفع الصادقين، دلته يوم بلاواسطه جملې ته مضاف دی، او جمله د صاحب المفصل په نزد مبني ده. نو دا يوم هم مبني بر فتحه دی.

<u>او وقع غير مركب</u>: په دې عبارت سره غرض د ماتن په دې عبارت سره د تعريف د اسم مبي دوهم جزء ذکر کول دي، دې سره مونږ دفع د سوال وکړه:

سوال : داتعريف ستا د اسم مبني صحيح نه دی، ځکه دا مشتمل دی په کلمه د شك باندې، او کوم تعريف چې شان يې دا وي هغه صحيح نه وي، دا هم صحيح نه وي.دليل د صغرى دادې چې لفظ داو راغلي دی او دا دپاره د تشکيك راځي . دليل د کبرى دادې چې تعريف دپاره د وضاحت راځي نه که دپاره د تشکيك؟

جواب: مونږ جواب وکړو چې دا سوال به تا هله کولی چې دا او مونږ دپاره د تشکيك ويلې، حالانکه دا مونږ دپاره د تنويع وايو. بيا دلته يوه قاعده ده هغه داچې اسم به مرکب مع الآخر وي يا نه، که نه وو، نو دا مبني دی لکه زيد، عمرو، بکر او که مرکب مع الآخر وو نو يابه د مبني الاصل سره مناسبت ساتي اويا نه، که مناسبت ساتي نو دا مبني دی لکه جآءني هؤلآء، او که مناسبت

نه ساتي نو تحقیق د عامل به ورسره شوې وي او یا نه. که نه وو شوی نو دا مبني دی، لکه غلام زیدٍ، او که تحقیق د عامل ورسره شوې وو، نو دا معرب دی. لکه جآءني زیدٌ.
پس د اسم ټول څلور حالتونه دي، په درې حالتونو کې مبني او په یو حالت کې معرب دي او هغه داچې په ترکیب کې واقع شي تحقق د عامل ورسره شوی و او مشابهت د مبني الاصل سره نه ساتي.

مع غیره: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:
سوال: دا تعریف ستا د اسم مبني صحیح نه دی، ځکه دا مانع نه دی د دخول د غیر نه. داخل شو په کې جآءني زیدٌ، او کوم تعریف چې مانع د دخول د غیر نه، نه وي هغه صحیح نه وي، دا هم صحیح نه شو. دلیل د صغری دادی چې زیدٌ په جاءني زیدٌ کې غیر مرکب دی، ځکه مرکب اصطلاحي خو هغه وي چې جزء د لفظ په جزء د معنی دلالت کوي او زید خو داسې نه دی، نو دا غیر مرکب شو، او دلیل د کبری دا دی چې په تعریف کې مانعیت او جامعیت ضروري وي؟
جواب: شارح جواب وکړو چې مراد زمونږ په تعریف د اسم مبني کې د مرکب منفیه نه هغه مرکب لغوي مراد دی، او دا تا چې کوم ذکر کړی دی، نو دا مرکب اصطلاحي دی. بناء په دې خبره زیدٌ په تعریف د اسم مبني کې نه داخلیږي.
سوال: دا لفظ د مرکب خو مطلق ذکر دی، نو څه قرینه ده چې ته ترې مرکب لغوي اخلې؟
جواب: دا اسم قسم د کلمه دی او ماخوذ په تعریف د کلمې کې هغه مفرد دی، چې مقابل د مرکب اصطلاحي دی، نو د قسم په تعریف کې به هم مراد د مرکب نه مرکب لغوي وي چې مقابل د مرکب اصطلاحي دی.

علی وجه تحقیق معه عامله: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي.
سوال: دا تعریف ستا د اسم مبني هم صحیح نه دی، ځکه دا جامع نه دی خارج شو ترې مرکبات اضافیه او کوم تعریف جامع نه وي نو هغه صحیح نه وي، نو لهذا ستا دا تعریف هم صحیح نه شو

جواب: مونږ دې سره یو قید لګوو او هغه دا چې تحقیق د عامل به ورسره شوی وي، بناء په دې قید باندې تعریف جامع دی، ځکه ټول مرکبات اضافیه کې عامل په مضاف کې نشته نو دا مبني شو

فعلي هذا: اوس تفریع په ما قبل کوي. په دې قید سره د مرکبات اضافیه هغه د مضاف جزء مبني دی، ځکه د عامل ورسره نه دی شوی او هغه مضاف الیه جزء یې معرب دی، ځکه تحقق د عامل ورسره شوی دی. مضاف الیه کې منسوب عامل وي.

فکلمة او ههنا لمنع الخلو: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دا تعریف ستا صحیح نه دی، ځکه خارج شو ترې هؤلاء، چې یواځې واقع وي. نو تعریف جامع نه شو او کوم تعریف چې جامع نه وي هغه صحیح نه وي، نو لهذا دا هم صحیح نه شو؟

جواب: مونږ وایو دا سوال به تا هله کولې، چې او دپاره د انفصال حقیقي یا مانعة الجمع وی، حالانکه دا مونږ د منع الخلو وایو. یعنې ددې دواړو نه خالي والی صحیح نه دی، اوس که دواړه جمع شي نو بیا څه نقصان نشته.

فائده: انفصال په درې قسمه دی: انفصالِ حقیقي، مانعة الجمع، مانعة الخلو.

انفصالِ حقیقي: چې د دوه شیزونو په مینځ کې داسې منافات وي چې د دواړو ارتفاع هم ناجائز وي او اجتماع یې هم ناجائز وي.

مانعة الجمع: د دوه شیزونو په مینځ کې داسې منافات وي، چې اجتماع د دواړو منع وي او ارتفاع یې جائز وي.

مانعة الخلو: د دوه شیزونو په مینځ کې داسې منافات وي، چې ارتفاع د دواړو ناجائز وي، خو اجتماع یې جائز وي، او په تعریف کې او په دغه معنی دی.

ولما کان المبني الخخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: دا او مشترك دي په مینځ د مانعة الجمع او په مینځ د مانعة الخلو کې او ته ترې صرف مانعة الخلو اخلې په دې د تاسره څه قرینه ده؟

جواب: اسم مبني مقابل د اسم معرب دی او په اسم معرب کې دوه خبرې وي، یو ترکیب او بل عدم مشابهت د مبني الاصل سره. نو اسم مبني به هغه وي چې له دوه شیزونه به کې

منتفي وي اوس که دغه دواړه منتفي وو نو هم اسم مبني دی، او که يو په کې منتفي وو نو هم اسم مبني دی.

و انما اختلف الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مصنف عمده او قوي شخص دی او د عمده شخص په کلام کې تبديلي د نکتې نه خالي نه وي، نو څه نکته ده چې ماتن د معرب په تعريف کې ترکيب مقدم کړو او د مبني په تعريف کې مناسبت؟

جواب: چونکه د معرب تعريف کې ترکيب وجودي امر وو نو هلته يې هغه مقدم کړو او د مبني هغې کې مناسبت وجودي وو نو دلته يې هغه مقدم کړو او وجودي شی اشرف وي، مقدم کول يې په کار وي.

القاب د مبني:

وَ اَلْقَابُهُ اَیْ اَلْقَابُ الْمَبْنِيِّ مِنْ حَيْثُ حَرَكَاتِ اَوَاخِرِهٖ وَ سُكُوْنِهَا عِنْدَ الْبِصْرِيَّةِ ضَمٌّ وَ فَتْحٌ وَ كَسْرٌ لِلْحَرَكَاتِ الثَّلٰثِ
او القاب د مبني د حيثيت د حرکات اخيريو او د سکون نه په نزد د بصرينو ضمه فتحه کسره دي د دري حرکاتو
وَ وَقْفٌ لِلسُّكُوْنِ وَ اَمَّا الْكُوْفِيُّوْنَ فَيَذْكُرُوْنَ اَلْقَابَ الْمَبْنِيِّ فِي الْمُعْرَبِ وَ بِالْعَكْسِ
د پاره او وقف دي د سکون د پاره نو کوفيين ذکر کوي القاب د مبني په معرب کې او د معرب په مبني کې
وَ الْمُرَادُ اَنَّ الْحَرَكَاتِ وَ السَّكَنَاتِ الْبِنَائِيَّةِ لَا يُعَبِّرُ عَنْهَا الْبِصْرِيُّوْنَ
مراد دا چې د حرکاتو او سکناتو بنائيه نه تعبير نه کوي تعبير نه کوي بصريين مگر په دغه القابو، نه دا چې
اِلَّا بِهٰذِهِ الْاَلْقَابِ لَا اَنَّ هٰذِهِ الْاَلْقَابَ لَا يُعَبِّرُ بِهَا اِلَّا عَنْهَا فَاِنَّهُمْ كَثِيْرًا مَا يُطْلِقُوْنَهَا عَلَى
د دې القابو نه تعبير نه شي کيدې په دې سره مگر د دې نه په دې سره او ډير ځلې اطلاق کوي دوي په
الْحَرَكَاتِ الْاِعْرَابِيَّةِ اَيْضًا كَمَا مَرَّ فِيْ صَدْرِ الْكِتَابِ حَيْثُ قَالَ بِالضَّمَّةِ رَفْعًا وَ الْفَتْحَةِ نَصْبًا
حرکات اعرابيو هم لکه څنګه چې په سر د کتاب کې په داسې شان چې ويلي دي بالضمة رفعا والفتحة نصبا
الْكَسْرَةِ جَرًّا وَ عَلٰی غَيْرِهَا كَمَا يُقَالُ الرَّاءُ فِيْ رَجُلٍ مَثَلًا مَفْتُوْحَةٌ وَ الْجِيْمُ مَضْمُوْمَةٌ.
والکسرة جرا او په غير د دې باندې لکه څنګه چې ويل کيږي راء په مثل د رجل مفتوحه ده او جيم مضموم

خلاصه د متن: په دې عبارت سره صاحب د کافيې د مبني القاب بيانوي.

اغراض د جامي: والقابه: په دې عبارت سره شارح دوه خبرو ته اشاره کوي: چې يو ربط او بل تشريح د عبارت

ربط معنوي دا دی، چې کله ماتن فارغ شو دتعریف د اسم مبني نه، نو په القابو داسم مبني يې شروع وکړه . ربط لفظي دادې چې دا واو عاطفه دي يا استئنافيه دي **القابه** مضاف اليه مقدر ده او **ضمٌ** الخ ورلره خبر دی، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه معطوفه يا مستانفه ده.

اى القاب المبني: په دې عبارت سره شارح په **القابه** کې د ۃضمیر مرجع متعين کړه چې د ضمير مرجع مبني ده .

دلته دوه سوالات وارد يږي .

اول سوال: دا ذکر د القاب يې دوباره ولې وکړو دا خو تکرار دی صرف **اى المبني** به يې ويلې وي؟

جواب: که المبني يې په غير د القاب نه ذکر کړې وې نو بيا لازميدو ذکر د مضاف اليه په غير د مضاف نه او دا مستکره دي په نزد د عربو باندې.

دوهم سوال : دا ضمير به يامبني ته راجع کوې او يا حرکاتو د بناء ته ، که مبني ته يې راجع کړې نو حمل د **ضمٌ وفتح وکسر** الخ پرې نه صحيح کيږي ځکه القاب د مبني خو مضموم کيدل دي . او که حرکاتو د بناء ته ضمير راجع کوې نو اضمار قبل الذکر لازميږي، او بل داچې مطابقت نه راځي په مينځ د ضمير او مرجع کې.

جواب :ضمير مبني ته راجع دی، او چې ته وايي چې حمل نه صحيح کيږي نو د هغې جواب شارح کوي په **من حيث حرکات او اخره** سره چې حاصل د جواب دادې چې دا ضمير مونږ مبني ته **من حيث المبني** نه راجع کوو بلکې د **من حيث حرکات اواخره** نه ورته راجع کوو، او علاقه ددې په مينځ کې داده چې دا مبني مشتمِل دی او دا القاب مشتمَل دي، او کتابونو والاترې په ادنی ملابست سره تعبير کوي.

عندالبصرية : په دې عبارت سره شارح اول دفع د يو سوال کوي او دوهم اختلاف طرف ته اشاره کوي.

سوال : د عبارت د ماتن نه معلوميږي چې دا مذکور القاب به صرف ترمبني پورې خاص وي، حالانکه ددې استعمال خو په غير د مبني کې هم کيږي

جواب: دا سوال به تا هله کولې چې زما دا قول بناءً وی په مذهب د مطلق نحاتو، حالانکه

دلته زما دا قول په مذهب د بصریینو بناء دی . فاندفع الاشکال
او تفصیل د اختلاف دادې چې په عربی ژبه کې په حرکاتو چې کوم اطلاقات کیږي په هغه کې درې قسمه اقوال دي

۱- کوفیان وايي چې په حرکاتو د معرب د مبني اطلاق هم کولې شې او په حرکاتو د مبني معرب د حرکاتو اطلاق هم کولی شې. ئانه اختیار دی.

۲- بصریان وايې چې حرکات د معرب د اسم معرب پورې خاص دي په غیر د معرب ي اطلاق نه شي کیدای او اسم مبني د القابو پورې خاص دی. یعنې ددې د حرکاتو نه تعبیر ضم کسر فتح سره کولې شي په بل څه سره نه شي کولې خو دا القاب په غیر د اسم مبني کې استعمالیږي

۳- بعضې نحاة وايي چې دحرکاتو د معرب نه به په رفع،نصب ،جر او جزم سره تعبیر کوي شې او دحرکاتو د مبني نه به په ضمٌ فتحٌ کسرٌ سره تعبیر کولی شي او ضمةٌ فتحةٌ کسرةٌ بالتاء ع دی په دې دواړو کې مستعملیږي، او دا مذهب غوره دی.

ضمٌ: ضمه ورته ځکه وايي چې دا په انضمام د شفتینو سره ادا کیږي.

فتحٌ: فتحه ورته ځکه وايي چې دا په انفتاح د فم سره ادا کیږي .

کسرٌ : کسره ورته ځکه وايي چې دا په انکسار د صورت سره ادا کیږي، یا په انکسار د شف سفلی سره ادا کیږي

للحرکات الثلث : په دې عبارت سره غرض د شارح دفع دیو وهم ده

وهم :وهم دا راتلو چې دا سکون د حرکاتو کوم قسم دی ، یا چا به ویل چې دا ضمه فتحه کسره هم په سکون کې داخله ده، نو ده ورسره دا عبارت ولګولو چې مونږ دلته تجزیه کوو. ضمٌ فتحٌ کسره حرکات ثلاثه دپاره راځي او سکون د وقف دپاره راځي.

واما الکوفیون: په دې عبارت سره غرض د شارح د عندالبصریة قید فائده ذکر کول دي مخکې مونږ تفصیل کړې دی بیا دې مقام کې یو خارجي سوال دی. هغه د چې متن حرکت د معرب کې انواعه ویلي دی. او دلته یې اثلاثه ویلو دا ولې؟ حرکات د معرب جدا جدا نوع دلالت کې. هغې ته اعراب وايي. یعني رفع په فاعلیت. نصب په مفعولیت حکم په اضافت. نو دوی لوته ورلره مونږ سره انواع کېښودل. او حرکات د مبني په جد

نوږ دلالت نه کوي بلکې محض نومونه دي، نو دې نه مونږ القاب ویلو ځکه لقب د شي نوم د هغه شي وي

والمراد ان الحركات والسكنات البنائية: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: د متن د عبارت نه معلومېږي، چې دا القاب به خاص وي د اسم مبني پورې حالانکه ددې استعمال په غیر د مبني کې هم کیږي؟

جواب: تا به دا سوال هله کولې چې اختصاص نه زمونږ اختصاص خاص مراد وی. بلکې مونږ اختصاص عام مراد اخلو. اختصاص دوه قسمه دی اختصاص خاص او اختصاص عام، اختصاص خاص هغه ته وایي چې د جانبینو نه اختصاص وي او اختصاص عام هغه ته وایي چې د جانب واحد نه اختصاص وي دلته دا اختصاص د جانب د مبني نه دی، یعنې د اسم مبني نه تعبیر د القابو نه علاوه بل څه سره نه کېږي. هر چه القاب دي. نو دې سره د نورو اسماوو د حرکاتو نه تعبیر کېدای شي، ځکه ابتداء د کتاب کې مونږ ویلې دي بالضمة رفعا الخ د اسند دپاره د ما قبل دعوې پیش کوي.

حكم دمبني :

وَحُكْمُهُ اَیْ حُكْمُ الْمَبْنِيِّ وَاَثَرِهِ الْمُتَرَتِّبُ عَلٰى بِنَائِهِ اَنْ لَا يَخْتَلِفَ اٰخِرُهُ اَیْ آخر الْمَبْنِيِّ لٰكِنْ لَا مُطْلَقًا بَلْ								
اوحکم یعنې حکم دمبني اواثرمرتبه د مبني دادې چې نه به مختلف کیږي آخر دهغې، نه مطلقاً مګر								
لِاخْتِلَافِ	الْعَوَامِلِ	اِذْ	قَدْ	يَخْتَلِفُ	آخِرُهُ	لَا	لِاخْتِلَافِ	الْعَوَامِلِ نَحْو
په اختلاف د عواملو سره ځکه چې کله مختلف کیږي آخر دمبني نه دوجې داختلاف دعواملو نوپه مثل								
مَنِ الرَّجُلُ وَ مَنِ امْرِءٌ وَ مَنْ زَيْدٌ.								
د من الرجل ومن امرء ومن زيد.								

خلاصه د متن: په دې عبارت سره حکم دمبني ذکر کوي.

اغراض دجامي : وحكمه: په دې عبارت سره شارح څلورو خبرو طرف ته اشاره کوي ۱ ربط. ۲: معاني د حکم ۳ تعیین د ماهو المراد ۴ تشریح د عبارت.

ربط معنوي دا دی چې کله فارغ شو ماتن د اسم مبني دتعریف او القابو نه، نو شروع یې وکړه په دریمه خبره د اسم مبني کې چې حکم د اسم مبني دی. ربط لفظي دا دی، چې حكمه مبتداء ده او ما بعد کلام په تاویل د مصدر سره خبر دی. مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه شوه. هر

چې معاني د حکم دی نو حکم په لغت کې فرمودنِ کاري ته وايي، او په اصطلاح د نحاتو کې الاثر المترتب علی الشيء ته وايي، اوپه اصطلاح د اصوليانو کې خطاب الله تعالی المتعلق بافعال المکلفين ته وايي دا هغه کيفيت دی چې لاحق کيږي نفس ته بعد الادراك. بيا په دې مقام کې د حکم نه مراد اثر مرتبه دی، کوم چې د نحاتو اصطلاح ده.

ای حکم المبني: په دې عبارت سره غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي.

واثره المترتب الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: اثر د شيء خو صادر من الشيء وي، او دلته خو عدم اختلاف دا اثر د بناء دی. د مبني خو نه دی نو مبني ته يې نسبت څنګه کوي؟

جواب: دا نسبت چې د حکم مبني ته شوې دی د وجې د ادنی ملابست نه، هغه ملابست دا چې مبني مشتقي دی او بناء ورلره مبدا ده. نو نسبت د مشتقي په اعتبار د مبدا سره دی

ای آخر المبني: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي.

لکن لا مطلقا الخ: غرض د شارح د ما بعد قيد مقام ذکر کوي، چې دا قيد احترازي دی.

اذ قد يختلف اخره الخ: غرض د شارح د ما قبل قيد فايده ذکر کول دي. يعنې دا اختلاف د عواملو څکه وايو چې کله په غير د اختلاف د عامل نه آخر بدل شوی وي، لکه په من الرجال کې کسره د التقاء ساکنين د وجې راغلې ده او منْ امرءٌ کې ضمه د ما بعد د وجې راغلې ده اوس دا تبديلي د عامل د وجې نه، نه ده لهذا دا به مبني وي.

اقسام د اسم مبني:

وَهِيَ أَيِ الْمَبْنِيّ اَلتَّانِيْثُ بِاِعْتِبَارِ الْخَبَرِ الْمُضْمَرَاتُ وَ اَسْمَاءُ الْاِشَارَةِ وَ الْمَوْصُولَاتُ وَ

اودا مبني يعنې مبني تانيث دضميرپه اعتباردخبرسره ده مضمرات اواسماء اشارات اوموصولات او

الْمُرَكَّبَاتُ وَ الْكِنَايَاتُ وَ اَسْمَاءُ الْاَفْعَالِ وَ الْاَصْوَاتِ بِالرَّفْعِ عَطْفٌ عَلٰی اَسْمَاءِ الْاَفْعَالِ لَا عَلَی

مرکبات اوکنايات اواسماء افعال اواصوات دي اصوات په رفع سره عطف دي په اسماء افعالو نه په

الْاَفْعَالِ لِتَصْدِيْرِهِ بَحْثَ الْاَصْوَاتِ فِيْمَا بَعْدَ الْاَصْوَاتِ لَا بِاَسْمَاءِ الْاَصْوَاتِ.

افعالو دوجې دراوړودبحث داصواتو په مابعدکې فقط په اصواتو نه په اسماء اصواتو

خلاصه د متن: په دې عبارت سره د اقسام د اسم مبني ذکر کوي.

اغراض د جامي : وهي الخ: په دې عبارت کې هم يو څو خبرې پيژندل ضروري دي ۱ ربط ۲. مقدار د مبنيات مذکورو. ۳: وجه د حصر. ۴: تشريح د عبارت.

ربطِ معنوي دا دې چې کله ماتن فارغ شو د درې خبرو د باب د اسم مبني نه نو په اجمالي اقسامو د اسمِ مبني يې شروع وکړه، بيا دا اقسام او حکم يې وروستو کړو، حکم يې ځکه وروستو کړو، چې حکم د ځيز اثر د هغه ځيز وي، او اثر وروستو وي د ذات نه، او اقسام يې ځکه وروستو کړو، چې په تعريف سره وجود ذهني او اقسامو سره وجود خارجي راځي، او وجودِ خارجي د وجودِ ذهني نه وروستو وي ، ربطِ لفظي دا دی. چې **هي** مبتداء او ما بعد ورله خبر دی، مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه شوه، دوهمه خبره مقدار د مبنياتو دی نو دا ټول چې دلته ذکر دي نو اته (۸) دي، وجه دحصر په کې داده چې دا اسم مبني به خالي نه وي، دا بناء به يې د عدم وقوع في التركيب د وجې نه وي يا د مناسبت نه د مبني الاصل سره که اول وو نو **اصوات** دي او که ثاني وو نو بيا به خالي نه وي، مناسبت به د حرف سره ساتي يا د فعل ماضي او امر حاضر سره که ثاني وو نو اسمآء افعال او که اول وو بيا به خالي نه وي، مناسبت به په صورت کې ساتي يا معنى کې، که اول وو نو کنايات او که ثاني وو بيا به خالي نه وي دا مناسبت به په اعتبار د تضمن سره وي يا به په اعتبار د احتياج سره. که اول وو نو مرکبات او که ثاني وو بيا به خالي نه وي، دا محتاج اليه به مذکور وي يا نه، که مذکور نه وو، نو بعضِ ظروف او که مذکور وي، نو بيا به خالي نه وي جمله به وي يا غير جمله که اول وو، نو موصولات او که ثاني وو بيا به خالي نه وي، محسوس به وي يا نه که اول وو، نو اسمآء اشارات او که ثاني وو، نو ضمائر دي

وهي اي المبني: غرض د شارح په دې عبارت سره د ضمير مرجع متعين کول دي.

والتانيث به اعتبار الخبر: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : دا ضمير مؤنث ته راجع دی او مبني مذکر دی نو په مينځ د راجع او مرجع کې مناسبت نشته ؟

جواب: دلته دا ضمير د مبتداء دائر دی په مينځ د مرجع او خبر کې، او کله چې ضمير په مينځ د مرجع او خبر کې دائر شي، نو په هغې کې ډير صورتونه دي، يو صورت دا دی چې دا مرجع او خبر دواړه يو شان وي، هلته خو اشکال نشته. يو قسم ضمير به راجع شي دوهم

صورت دادی چې دا مرجع او خبر مختلف وي، يعنې مرجع مذكر او خبر مؤنث وي لكه په مذكور مقام كې يا د دې عكس وي، اوس په دې صورت كې به رعايت د خبر ساتلی شي ځكه خبر داخل دی او مرجع خارج د كلام نه وي او د داخل لحاظ ساتلې شي، ځكه دا داخل په منزله د شطر دی او خارج په منزله د شرط وي، او شطر اولی وي د شرط نه. ځكه شطر د ځيز جزء د هغه ځيز وي په مذكوره مقام كې لحاظ د خبر ساتلې شوې دی. او ضمير د مونث راوړې شوې دی.

و اسماء الاشارة والموصولات: دې ته مبهمات هم وايي. په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب هم وركوي

سوال: تا چې كوم اسمآء مبنيات ذكر كړي دي دا صحيح نه دي، ځكه تا اته قسمه ذكر كړې دي او عام كتابونه خو اووه قسمه ذكر كوي؟

جواب: دا فرق د تفصيل او اجمال دی. بيا دې ته مبهمات ځكه وايي. چې په اسماء اشارانو كې د مشارٌاليه نه او په اسمآء موصولاتو كې په غير د صلې نه ابهام وي

والكنايات الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال: څه وجه ده چې مصنف په تفصيل كې كنايات اسمآء افعال او اصوات مقدم كړې دي؟

جواب: دا فرق د تفصيل او اجمال دی.

سوال: كه دا تفصيل [illegible] موافق وي نو اولی به وه؟

جواب: كله كله مصنفين خلاف د اولی باندې عمل كوي، چې دا حكم ځوك وجوب ته وته رسوي، بيا مراد د كناياتو نه بعضې كنايات دي، ځكه بعضې كنايات معرب دي. په دې سره د يو سوال دفع وشوه

سوال: تاكنايات مطلق ذكر كړې دي حالانكه فلانٌ فلانةٌ خو معرب دي؟

جواب: هغه نور حمل دي په دې باندې

سوال: دا كنايات په معنی د بعض الكنايات سره اخيستل مجاز دي و چې كله په لفظ د بعض الكنايات سره ذكر وی نو بيا به حقيقت وي او عمل په حقيقت اولی دی د مجاز نه؟

جواب: کله مصنفین په خلاف الاولی باندې عمل کوي ځکه چې دا حکم وجوب ته ونه رسیږي.

والاصوات بالرفع الخ: غرض د شارح رد دی په فاضل هندي، هغه وايي دا مجرور دی په الافعال عطف دی، شارح پرې رد وکړو، چې دا مرفوع دی، ځکه وروستو مصنف دتفصیل شروع په الاصوات سره کړې ده.

سوال: دغه اشکال خو په الموصولات کې هم راتلو، نو هلته به دې تصریح هم کړې وه کنه؟

جواب: هلته چې اسمآء الموصولات وویلې شي، نو څه نقصان نشته، نو تصریح ته پرې ضرورت نشته، لیکن که الاصوات کې اسمآءالاصوات وویلی شي، نو بیا نقصان راځي، ځکه اصوات اسمآء نه دي.

سوال: کله چې دا اسمآء نه دي، نو په بحث د اسم مبني کې ولې ذکر کوني؟

جواب: ځکه چې دا قائمقام د اسم دي.

د بعض د قید بیان:

وَ بَعْضُ الظُّرُوْفِ وَ اِنَّمَا قَالَ بَعْضُ الظُّرُوْفِ لِاَنَّ جَمِيْعَهَا لَيْسَتْ بِمَبْنِيَّةٍ بَلْ بَعْضُهَا فَهٰذِهٖ ثَمَانِيَةُ اَبْوَابٍ فِيْ
اوبعض ظروف دي مصنف رحمه الله بعض ظرف وویل ځکه چې ټول مبني نه دي دااته بابونه شول په
اَسْمَاءِ الْمَبْنِيَّةِ وَلَا بُدَّ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهَا مِنْ عِلَّةِ الْبِنَاءِ لِاَنَّ الْاَصْلَ فِي الْاَسْمَاءِ الْاِعْرَابُ وَ اِذَا كَانَ
اسماءمبنیوکې اولابدي ده هرواحد دپاره دعلت بنائي نه ځکه چې اصل په اسماوکې اعراب دي اوکله
مَبْنِيًّا عَلَى الْحَرَكَةِ فَلَا بُدَّ عِنْدَ ذٰلِكَ مِنْ عِلَّتَيْنِ اُخْرَيَيْنِ اَحَدُهُمَا عِلَّةُ الْبِنَاءِ عَلَى الْحَرَكَةِ
چې مبني بالحرکت وي نوبیالابدي ده په دې وخت کې ددوه علتونورونه چې یوعلت دبناءپه حرکت دي
فَاِنَّ اَصْلَ الْبِنَاءِ السُّكُوْنُ وَ الْاُخْرٰى لِلْحَرَكَةِ الْمُعَيَّنَةِ اَنَّهَا لِمَا اُخْتِيْرَتْ دُوْنَ الْبَاقِيَيْنِ.
ځکه چې اصل دبناءسکون دي اوبل علت دپاره دحرکت معینه چی داحرکت ولی غوره کړې شونه نور.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره د بعض د قید فائده بیانوي ځکه چې ټول ظروف خو مبني نه دي بلکې بعضې مبني دي.

اغراض د جامي: وبعض الظروف وانما قال الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: څه وجه ده چې مصنف نورو اقسامو سره لفظ د **بعض** نه دی ذکر کړی، او دې سره یې ذکر کړو؟

جواب: ځینې ظروف معرب دي، ټول مبني نه دي، ځکه یې ورسره لفظ د بعض ذکر کړو بیا یې دلته لفظ د بعض صراحت سره ذکر کړو، ځکه ظروف دمعرب داسمآء مبنیاتو نه ډېر دي او دديې وجې نه یې تغلیباً حمل ونه کړو.

فهذا ثمانیة الخ: غرض د شارع اجمال بعدالتفصیل ذکر کول دي، او دا هم د فصیح کلام برخه ده. دوهم غرض د شارح دفع د سوال ده

سوال: دا حصر د اسم مبني په اته اقسامو کې صحیح نه دی د وجې د وجود د نورو اقسام لکه مَنْ مَا استفهامي وغیره؟

جواب: مونږ وایو دا سوال به تا هله کولې، چې اسم مبني مونږ دې اته اقسامو کې منحصر کړې وې. حالانکه مونږ دا اته اقسام په اسم مبني کې منحصروو. نو دا اته اقسام مظروف او اسم مبني ورلره ظرف شو او قانون دادی چې ظرف د مظروف نه زیات وي نو اسم مبني نور هم موجودیدای شي

ولا بدلکل واحد الخ: کله چې خبره داده چې دا اته اقسام د مشابهت د وجې مبني دي، نو په هر واحد کې علت هغه د بنآء پېژندل دي، ځکه اصل په اسماوو کې اعراب دي او بنآء خلاف الاصل دی او څیز چې خپل اصل نه اوړي دهغې دپاره څه وجه په کار ده

تعریف د مضمر :

اَلْمُضْمَرِ	مَا وُضِعَ	لِمُتَكَلِّمٍ	مِنْ	حَيْثُ	اَنَّهُ	مُتَكَلِّمٌ	يُحْكِيْ	عَنْ	نَفْسِهِ	اَوْ	مُخَاطَبٌ
مضمر هغه چې وضع شوې وي دپاره دمتکلم ددې حیثیت نه چې حکایت کوي دخپل نفس نه یا دمخاطب											
مِنْ	حَيْثُ	اَنَّهُ	مُخَاطَبٌ	يَتَوَجَّهُ	اِلَيْهِ	الْخِطَابُ	وَ	قِيْلَ	الْمُرَادُ	بِالتَّكَلُّمِ	مَنْ
دپاره ددې حیثیت نه چې دامخاطب دي متوجه کیږي ده ته خطاب او چاویلي چې مراد په تکلم سره هغه											
يَتَكَلَّمُ	بِهِ	وَ	بِالْمُخَاطَبِ	مَنْ	يُخَاطِبُ	بِهِ					
څوک دي چې کلام کیدي شي په هغه سره او دمخاطب نه هغه څوک چې خطاب کیدي شي په هغې سره											
فَاِنَّ	اَنَا	مَوْضُوْعٌ	لِمَنْ	يَتَكَلَّمُ	بِهِ	وَ	اَنْتَ	لِمَنْ			
ځکه چې اناوضع شوې دهغه چادپاره چې کلام کیدي شي په هغه اوانت وضع شوې دهغه چادپاره چې											

يُخَاطِبُ بِهِ وَ يُخْرِجُ بِهٰذَا الْقَيْدِ لَفْظُ الْمُتَكَلِّمِ وَ الْمُخَاطَبِ فَإِنَّ الْأَسْمَاءَ الظَّاهِرَةَ كُلَّهَا مَوْضُوعَةٌ

خطاب کیدې شي په هغې او خارجیږي په دې قید لفظ د متکلم او مخاطب ځکه چې اسماء ظاهره ټول وضع

لِلْغَائِبِ مُطْلَقًا أَوْ غَائِبٍ تَقَدَّمَ ذِكْرُهُ وَ يَخْرُجُ بِهٰذَا الْقَيْدِ الْأَسْمَاءَ الظَّاهِرَةِ وَ إِنْ كَانَتْ

شوي دپاره دغائب مطلقاً او یا غائب چې مخکې وي ذکر د هغې خارجیږي په دې قید سره اسماء ظاهره اګر

مَوْضُوعَةً لِلْغَائِبِ إِذْ لَيْسَ تَقَدَّمَ ذِكْرُ الْغَائِبِ شَرْطًا فِيهَا لَفْظًا أَوْ مَعْنًى أَوْ حُكْمًا

که وضع شوي وي دپاره دغائب ځکه چې تقدم د ذکر دغائب شرط نه دي په دې کې لفظاً او معنی او حکماً

أَرَادَ بِالتَّقَدُّمِ اللَّفْظِيِّ مَا يَكُونُ الْمُتَقَدِّمُ مَلْفُوظًا إِمَّا مُتَقَدِّمًا تَحْقِيقًا مِثْلُ ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامَهُ أَوْ تَقْدِيرًا

اراده کړو مصنف په تقدم لفظي سره هغه چې مخکې وي لفظاً او یا حقیقتاً لکه ضرب زید غلامه او یا تقدیراً

مِثْلُ ضَرَبَ غُلَامَهُ زَيْدٌ وَ بِالتَّقَدُّمِ الْمَعْنَوِيِّ أَنْ يَكُونَ الْمُتَقَدِّمُ مَذْكُورًا مِنْ حَيْثُ الْمَعْنَى لَا مِنْ حَيْثُ اللَّفْظِ

لکه ضرب غلامه زید او په تقدم معنوي سره چې وي مقدم ذکر شوي د حیثیت د معنی نه، نه د حیثیت د لفظ

وَ ذٰلِكَ الْمَعْنَى إِمَّا مَفْهُومٌ مِنَ اللَّفْظِ بِعَيْنِهِ كَقَوْلِهِ تَعَالَى اِعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى فَإِنَّ

نه او دا معنی به یا مفهومه وي د لفظ معینه نه لکه دا قول د الله تعالی اعدلوا هو اقرب للتقوی ځکه چې

مَرْجِعَ الضَّمِيرِ هُوَ الْعَدْلُ الْمَفْهُومُ مِنْ قَوْلِهِ اِعْدِلُوا فَكَأَنَّهُ مُتَقَدِّمٌ مِنْ حَيْثُ الْمَعْنَى أَوْ مِنْ

مرجع د ضمیر عدل دي کوم چې فهمیږي د لفظ د اعدلوا نه ګویا که دا مقدم من حیث المعنی شو او یا به د

سِيَاقِ الْكَلَامِ كَقَوْلِهِ تَعَالَى وَ لِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ لِأَنَّهُ لَمَّا تَقَدَّمَ

سیاق د کلام نه فهمیږي لکه دا قول د الله تعالی ولابویه لکل واحد منهما السدس ځکه چې کله مخکې

ذِكْرُ الْمِيرَاثِ دَلَّ عَلَى أَنَّ ثَمَّهُ مُوَرِّثًا فَكَأَنَّهُ تَقَدَّمَ ذِكْرُهُ مَعْنًى.

ذکر شو بیان د میراث نو دلالت کوي په دې چې هلته یې مورث هم شته ګویا که ذکر د مورث معناً وشو.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره تعریف د مضمر کوي.

اغراض د جامي: المضمر: په دې عبارت سره شارح شپږ شیان ذکر کوي: ۱: ربط. ۲: وجه د بناء. ۳: اصطلاحي تعریف. ۴: اقسام. ۵: امثله. ۶: احکام.

ربط معنوي دادی کله چې فارغ شو ماتن د اجمالي بیان د اقسامو د اسم مبني نه نو شروع یې وکړه په تفصیل د دې کې، دلته څو سوالات مخې ته راځي:

اول سوال: نفس تفصیل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصيل ځکه کوي، چې تفصيل بعد الاجمال او قع في الذهن وي.

دوهم سوال: ضمير يې ولې مقدم کړو؟

جواب: په تفصيل کې يې ضمير ځکه مقدم کړو، چې په اجمال کې مقدم وو او تفصيل موافق د اجمال سره په کار وي ، اجمال کې ځکه مقدم کړي و، چې ضمائر ټول په اتفاق سره مبني دي، په دې کې څه اختلاف نشته. او بل دا چې دا کثير الوقوع، کثيرالاستعمال. او کثيرالاحکام دي.

وجه د بناء: د ضمر : مبني کيدو دوه وجهې دي، يو وجه شبه افتقادي ده يعنې دا ضمير د حرف سره په احتياج کې مناسبت ساتي، لکه څنګه چې حرف په خپله معنى ورکولو کې ضم د ضميمې اخرى ته محتاج وي، دغه شان ضمير هم په معنى ورکولو کې غيبوبة، قرينې د تخاطب او قرينې د تکلم ته محتاج وي، چې ددې قرينې د تخاطب او تکلم نه په حضور سره هم تعبير کولى شي. دوهم وجه شبه صوري ده، يعنې دا ضمير د حرف سره په وضع کې مشابهت ساتي. ځکه د حرف وضع کم د درې حروفو نه کېږي، او ضماير هم اکثر او بيشتر کم وي د درې حروفو نه.

اصطلاحي تعريف: المضر ما وضع المتكلم او مخاطب او غايب الخ په دې کې المضمر مبتداء او ما بعد ورلره خبر دى.

سوال: دا مضمر صيغه د اسم مفعول ده، ددې مبتداء واقع کېدل نه صحيح کېږي، ځکه دا شبه جمله ده او مبتداء خو جمله او شبه جمله نه واقع کيږي؟

جواب: مونږ وايو صحيح ده دا صيغه د اسم مفعول ده، ليکن وروستو دا د وصفيت نه اسميت ته نقل شوې ده او نوم ګرځېدلې ده د يو نوعې د کلام چې يو قسم د اسم مبني دى. لهذا ابتدائيت يې صحيح دى .

په دې سره مونږ يو بل سوال هم دفع کړو:

سوال: په المضمر کې دا الف لام کوم قسم دى؟ که استغراقي وايې نو تعريف د افرادو لازميږي، حالانکه تعريف خو د جنس کېږي ، که عهد خارجي وايې نو همدا سوال دى که عهد ذهني وايې نو نکارت د مبتداء لازمېږي، او که جنسي وايې نو بيا سوال دادى چې دا الف لا

به اسم مفعول داخل دي. او په اسم مفعول چې کوم الف لام داخل شي هغه حرفي نه وي اسمي وي او جنسي خو قسم د حرفي دی؟

جواب: مونږ وایو دا الف لام جنسي دي او صيغه د اسم مفعول د وصفيت نه اسميت ته نقل شوې ده. نو الف لام حرفي پرې راتلی شي.

ما: په دې تعريف کې ما عبارت دی د اسم نه دې سره د يو سوال جواب دفع شو:

سوال: دا تعريف ستا مانع نه شو ددخول د غير نه داخل شو په کې الف لام عهدي او کاف حرفي او کاف خطابي د كذلك؟

جواب: مونږ وايو ما مونږ د اسم نه عبارت اخلو او دغه دواړه حروف دي.

په دې سره نور سوالونه هم دفع شو:

سوال: متبادر د ما نه ذهن ته دا راځي، چې دا ما موصوله دي.

بل سوال دا چې مبتدا، او خبر کله دواړه معرفي شي نو هلته ضمير فصل راوړل شي او دلته نشته.

بل سوال دا چې موصول په اصل کې جزء د جملې وي او په تعريف کې جنس فصل لازمي وي اوس که دا موصول صله جنس کړو نو فصل نشته او که فصل يې کړو نو جنس نشته؟

جواب: مونږ ما عبارت د اسم نه اخلو. دا ما موصوفه دی ضمير فصل ته هم ضرورت نشته، او جنس فصل هم متعين شو.

سوال: ما خو په مينځ د موصول او موصوف کې مشترکه ده، ته چې صرف موصوفه اخلې په دې د تاسره څه قرينه ده؟

جواب: دا په مقام د خبر کې واقع ده اصل په خبر کې نکارت دی او نکره په هغه صورت کې ګرځي، چې دا موصوفه شي.

بل جواب دا دی، چې ما موصوله نه صحيح کېږي، ځکه بيا جنس او فصل دواړه نه حاصليږي.

من حيث انه متكلم: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: تعریف دې مانع نه شو ددخول د ضمیر نه داخل شو په کې مسمی د زید. حالانکه هغه نه حاکي ضمیر نه وایي؟

جواب: مونږ وایو چې متکلم دپاره وضع شوې وې لیکن د حیثیت د متکلم نه او مسمی د زید که متکلم نه وي بیا هم زید دی

یحکي عن نفسه: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: تعریف دې مانع نه شو ددخول د غیر نه داخل شو په کې لفظ د متکلم. ځکه متکلم نه متکلم هم دحیثیته د تکلم نه وایي او حالانکه لفظ د متکلم نه څوک ضمیر نه وایي؟

جواب: مونږ وایو متکلم مراد دی خو چې د ځان نه حکایت کوي او لفظ د متکلم د ځان نه حکایت نه کوي

او مخاطب من حیث انه مخاطب: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: تعریف دې مانع نه شو داخل شو په کې مسمی د مخاطب؟

جواب: مونږ ورسره قید لګوو چې د حیثیته د مخاطب نه او مسمی د مخاطب که دې حیثیت د مخاطب سره وانخلې بیا هم په ذات دلالت کوي

یتوجه الیه الخطاب: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: تعریف دې مانع نه شو. ځکه داخل شو په کې لفظ د مخاطب ځکه دې لفظ د مخاطب نه مخاطب د حیثیته د تخاطب نه ویلی شي؟

جواب: مونږ ورسره دا قید لګوو چې توجه د خطاب ورته کیدې شي. او لفظ د مخاطب نه توجه د خطاب نه شي کیدې

وقیل: په دې عبارت کې یو غرض د قیل دی او بل غرض د شارح دی. بل غرض شارح ددې پاره مثال ذکر کوي او دریم غرض تطبیق د مثال دی د ممثل سره غرض د قیل خو یو داسې قید لګول دي چې مسمی د متکلم او مخاطب او ذات د متکلم او مخاطب ترې خارج شي، غرض د شارح دفع د یو سوال ده

سوال: دا خبره زمونږ ذهن ته راځي، چې لفظ په يحكي عن نفسه قيد سره خارجېږي، ليکن ويستل د لفظ د مخاطب په قيد د يتوجه اليه الخطاب سره زمونږ ذهن ته نه راځي ځکه په عرف کې مخاطب هغه چاته ويلې شي چې توجه دخطاب ورته کيدې شي.

جواب: شارح جواب کوي چې چا ويلې دي چې مراد په متکلم سره هغه لفظ دي، چې هغه سره تکلم کيدې شي او مراد په مخاطب سره هغه لفظ دي چې هغې سره خطاب کيدې شي.

فان انا: دا مثال دی.

موضوع الخ: تطبيق کوي، چې دا لفظ د انا وضع شوې دهغه چا دپاره چې تکلم پرې کيدې شي او انت د هغه چا د پاره چې خطاب ور ته کيدې شي او لفظ د مخاطب ته خو خطاب نه شي کيدې.

ويخرج الخ: غرض دشارح د قيوداتو فوائد ذکر کول دي، په دې قيد د قائل سره لفظ د متکلم او مخاطب خارج شو، ځکه دا دواړه اسم ظاهر دي، او اسمآء ظاهره وضع شوي دي دپاره د عائد مطلقاً.

مطلقاً: دا معنی چې سبقيت د مرجع په کې شرط نه دی.

او غائب تقدم: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: اسمآء ظاهره د قبيلې د غائب نه دي نو په کار ده چې دې ته مونږ مضمر ووايو. حالانکه دې ته خلک مضمر نه وايي؟

جواب: مونږ دې سره د تقدم ذکري قيد لګولې دی، نو دې سره اسمآء ظاهره خارج شو.

ويخرج الخ: غرض د شارح ددغه قيد مذکوره فائده ذکر کول دي.

لفظاً او معنیً او حکماً: غرض د ماتن په دې عبارت سره يو تعميم کول دي، او دا هم غرض د ماتن دفع د يو سوال ده:

سوال: تعريف دی جامع نه شو حارج شو ترې اعدلوا هو اقرب للتقوی او قل هو الله احد، ځکه چې هو ته ضمير غائب ويلې شي او سره ددې نه ددې مخکې ... ذکر نشته؟

جواب: مونږ وايو دا تقديم عام دی لفظاً وي که معنیً او که حکماً په مثال اول کې معنیً تقدم ذکري شته او په مثال ثاني کې حکماً تقدم ذکري شته

اراد بالتقدم اللفظي الخ: غرض د شارح دفع د سوال ده

سوال: تعریف ستا صحیح نه دی. ځکه جامع نه دی. ضرب غلامه زیدٌ تري خارج شو. چې دا خلك د تقدم لفظي نه مثال کې پیش کوي او سره ددې نه ددې مرجع مخکې نه ده ذکر. بلکې وروسته ده؟

جواب: شارح جواب وکړو اما متقدماً تحقیقاً الخ ذکر د تقدم بې فائدې نه دی صحیح ده چې دا عبارت د ملفوظ نه دی خو دا تقدم د ملفوظ به کله تحقیقي وي یعنې لفظ او سرتبه دواړو کې به مقدم وي لکه ضرب زیدٌ غلامه او کله به تقدیري وي یعنې لفظ کې به وروسته وي لیکن په مرتبه کې به مخکې وي لکه ضرب غلامه زیدٌ.

و بالتقدم المعنوي: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: هغه دا دی چې د حیثیته د معنی نه خو هر شی مذکور وي. نو بیا معنوي مقابل د لفظي څنګه شو؟

جواب: مونږ وایو دا من اجلیه دی. یعنې لفظاً دغه مرجع ذکر نه وي. خو د معنی د وجې ذکر وي. علت ورلره دا معنی ده. بیا په دې سره دفع د وهم هم وشود. وهم دا راتلو چې متبادر ذهن ته دا راتلو. چې مراد به د تقدم نه تقدم تقدیري وي. نو اعدلو هوا قرب للتقوی خارجیږي

وذلك المعنی: غرض د شارح دوه قسمه د تقدم معنوي ذکر کول دي. هر یو دپاره مثال او تطبیق ذکر کوي

اما مفهوم الخ: اول قسم د تقدم معنوي دا دی چې دا معنی بعینه د لفظ نه معلومه شي. لکه اعدلوا هوا قرب للتقوی دا مثال دی، خو ضمیر عدل ته راجع دی او هغه د اعدلوا نه معلومیږي. ځکه هر مشتقي په خپله مبتدأ د اشتقاق دلالت کوي نو ګویا که د اعدل د معنی د وجې مخکې ذکر دی.

سوال: د هو ضمیر دې اعدلوا ته راجع شي کنه؟

جواب: فعل د جمع دی او ضمیر د مفرد دی او دوهم دا چې فعل ته ضمیر نه شي راجع کیدې

او من سباق الكلام : دوهم قسم د تقدم معنوي ذكر كوي، چې بعينه د لفظ نه، نه معلومېږي بلكې د وړاندې وروستو د كلام نه معلومېږي

كقوله تعالى ولابويه الخ : دا مثال ذكر كوي . په دې مثال كې ه ضمير مجرور د غائب راغلى دى. او ميت ته راجع دى. ليكن هغه مخكې لفظاً نه دى ذكر. بلكې د كلام نه معلومېږي ځكه مخكې ذكر د ميراث وشو او ميراث د مړي تقسيمېږي، نو ګويا كه د مړي ذكر مخكې معنیً شوې دى

وَ اَمَّا التَّقَدُّمُ الْحُكْمِيُّ فَاِنَّمَا جَاءَ فِيْ ضَمِيْرِ الشَّانِ وَ الْقِصَّةِ لِاَنَّهُ اِنَّمَا جِئَ بِهٖ مِنْ غَيْرِ اَنْ يَتَقَدَّمَ
اوهرچې تقدم حكمي دې هغه راځي په ضمير شان او قصه كې او هغه راوړل كيږي په غير د دې چې مخكې
ذِكْرُهٗ قَصْدًا لِتَعْظِيْمِ الْقِصَّةِ بِذِكْرِهَا مُبْهَمَةً لِيَعْظُمَ وَقْعُهَا فِي
يې ذكرشوې وي دپاره د تعظيم د قصې په ذكركولو د هغې مبهمه دې دپاره چې تعظيم دځاى راشي په
النَّفْسِ ثُمَّ تَفْسِيْرُهَا فَيَكُوْنَ ذٰلِكَ اَبْلَغُ مِنْ ذِكْرِهٖ اَوَّلاً مُفَسَّرًا فَصَارَ كَاَنَّهُ فِيْ حُكْمِ
نفس كې بيا وشي بيان د هغې نو دا طريقه ډيره ابلغه ده د ذكر كولو د هغې اولاً مفسره نو دا شو په حكم د هغه
الْعَائِدِ اِلَى الْحَدِيْثِ الْمُتَقَدِّمِ الْمَعْهُوْدِ بَيْنَكَ وَ بَيْنَ مُخَاطِبِكَ وَ كَذَا الْحَالُ فِيْ
ضمير كې چې راجع وي مخكې خبرې ته كومه چې معلومه وي په مينځ ستا او مخاطب كې او همدا حال په
ضَمِيْرِ نِعْمَ رَجُلاً زَيْدٌ وَ رُبَّهٗ رَجُلاً .
ضمير د نعم رجلا او ربه رجلا كې دى.

اغراض دجامي : واما التقدم الحكمي : كله چې د دوه اقسامو د ضمير غائب نه فارغ شو نو په دريم قسم كې يې شروع وكړه چې تشريح د حكمي ده، په بعضې اوقاتو كې متكلم يو كلام په ذهن د مخاطب كې مضبوطوي، نو د هغې دپاره ضمير شان او قصه راوړي، نو دغه په ضمير كې يو ځل مبهم ذكر شي او وروستو يې بيا تفصيل وشي اوس د دې ضمير مرجع لفظاً او معناً نه وي، هو! حكماً د دې مرجع مقدم وي، ځكه د انسان ذهن كې ناسته وي چې څه اهمه خبره را روانه ده.

سوال : ستا د كلام انما نه معلوم شوه چې ضمير بلا مرجع به صرف په ضمير شان او قصه كې راځي. بل چيرته به نه راځي حالانكه په نعم.ربه كې خو راغلى دى نو اداة د حصر نه صحيح كيږي؟

جواب: اداة د حصر په دلیل کې مراد دي . نه په دعوی کې

<u>**وهو متصلٌ و منفصلٌ**</u>: کلهٔ چې فارغ شو ماتن د تقسیم اول د ضمیر نه، چې په اعتبار د نفس سره وو، نو شروع یې وکړه په تقسیمِ ثاني د ضمیر کې په اعتبار د ما قبل سره دی. ربط لفظي دا دی چې هو ضمیر مبتداء او ما بعد ورلره خبر دی. مبتداء خبر جمله اسمیه شوه، حاصلِ د تقسیم دا دی، چې ضمیر په اعتبار د ما قبل سره په دوه قسمه دی : یو متصل دی، چې مستقل تلفظ پرې نه شي کیدې او دوهم منفصل دی چې مستقل تلفظ پرې کیدې شي

د ضمیر اقسام :

وَ هُوَ اَیِ الْمُضْمَرُ بِالنَّظَرِ اِلٰی مَاقَبْلَهٗ قِسْمَانِ مُتَّصِلٌ وَ مُنْفَصِلٌ فَالْمُنْفَصِلُ الْمُسْتَقِلُّ بِنَفْسِهٖ
اوضمیر په نظرسره مقابل ته په دوه قسمه دي یومتصل اوبل منفصل پس منفصل مستقل بالذات وي
غَیْرَ مُحْتَاجٍ اِلٰی کَلِمَةٍ اُخْرٰی قَبْلَهٗ لِیَکُوْنَ کَالْجُزْءِ مِنْهَا . بَلْ هُوَ
نه وي محتاج بلې کلمې ته چې ترې مخکې وي دې دپاره چې شي جزء دهغه کلمې نه بلکې داپه شان
کَالْاِسْمِ الظَّاهِرِ سَوَاءٌ کَانَ مُجَاوِرَ الْعَامِلَةِ نَحْوُ مَا اَنْتَ مُنْطَلِقًا عِنْدَ الْحِجَازِیَّةِ اَوْ غَیْرَ
داسم ظاهروي برابرده خبره ده که ګاونډي دعامل وي لکه ماانت منطلقاپه نزد د اهل حجازو اویانه وي
مُجَاوِرٍ لَهٗ نَحْوُ مَا ضَرَبْتُ اِلَّا اِیَّاکَ وَ الْمُتَّصِلُ غَیْرُ الْمُسْتَقِلِّ بِنَفْسِهٖ الْمُحْتَاجِ اِلٰی عَامِلِهٖ
ګاونډي دعامل لکه ماضربت الاایاک اومتصل غیرمستقل وي په خپل نفس کې محتاج وي عامل ته
الَّذِيْ قَبْلَهٗ لِیَتَّصِلَ بِهٖ لِیَکُوْنَ کَالْجُزْءِ مِنْهُ.
کوم چې له ده نه مخکې وي چې داپیوست شي ددې سره اوجزء وګرځي ددې نه.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره د ضمیر اقسام بیانوي .

اغراض دجامي : <u>وهواي اي المضمر</u> :په دې عبارت سره غرض د شارح د ضمیر مرجع متعین کول دي، چې مضمر ته ضمیر راجع دی.

<u>**بالنظر الی ما قبله**</u>: غرض د شارح تعیین د مقسم کوي او دوهم غرض دفع دسوال ده.

سوال: دا ټول قسمونه به دې یو تقسیم کې داخل کړي وو کنه؟

جواب: ددې تقسیماتو جدا جدا اعتبارات دي. دا تقسیم په اعتبار د ما قبل سره دی

<u>**قسمان**</u>: غرض د شارح د یو سوال جواب ورکول دي

سوال : قانون دادی چې خبر په متبداء حمل او دا هم مسلمه خبره ده چې حمل د اخص په اعم ناروا دی. اوس دې عبارت کې هو ضمیر مضمر ته راجع دی او هغه عام دی او **متصلٌ** خبر دی او دا اخص دی نو حمل د اخص په اعم راغلو؟

جواب : مونږ ربط مقدم نه وایو بلکې عطف مقدم وایو ددې مطلب دا دی چې د معطوف معطوف علیه اول په یو لفظ سره تعبیر وکړې او بیا دواړه ذکر کړي او سوال خو په هغه صورت کې راځي، چې ربط مقدم کړي.

سوال : دا مقام د حصر دی نو **اداة** د حصر په کار وو؟

جواب : تقدیم د عطف په ربط د اداتو د حصر نه دی. او دا اداة د حصر معنوي دي

سوال : تقسیم په دوه قسمه دی، یو تقسیم د کل اجزاو ته لکه تقسیم د زید اعضاوو ته. دوهم تقسیم د کلي دی جزئیاتو ته لکه تقسیم د انسان **زید عمرو بکر** نه اوس دا کوم قسم تقسیم دی؟

جواب : دا تقسیم د کلي دی جزئیاتو ته. **متصلٌ و منفصلٌ** یو متصل او بل منفصل دی

__فالمنفصل__ : په دې ځای کې دوه خبرې پیژندل ضروري دي :یو ربط .بل اصطلاحي تعریف.

ربط معنوي دادی کله چې فارغ شو مصنف د تفصیل د قسم اول د تقسیم ثاني نه، نو شروع يې وکړه په تفصیل د قسم ثاني د تقسیم ثاني کې.

دلته یو څو سوالات مخې ته راځي.

اول سوال : نفس تفصیل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصیل ځکه کوي، چې **تفصیل بعدالاجمال اوقع في الذهن** وي.

دوهم سوال : په تفصیل کې يې منفصل ولې مخکې کړو؟

جواب : په تفصیل کې يې منفصل مقدم کړو سره ددې چې په اجمال کې وروستو وو او خلک دا هم وایي چې د اجمال نه خلاف تفصیل کول په قوت د خطا کې وي، لیکن په دې کې وجه داده چې ضمیر متصل اصل وو نو د وجې د اصالت نه يې په اجمال کې مقدم کړو. ځکه اصل په ضمیر کې داده چې حروف کم وي، او د ضمیر متصل حروف کم وي او منفصل کې حروف زیات وي هغه يې وروستو کړو او په تفصیل کې يې منفصل مقدم کړو، ځکه منفصل **مستقل**

بنفسه ته وايي ددې تعريف وجودي وو او وجودي د عدمي نه اشرف وي او اشرف مقدم کول غواړي، نو ضمير منفصل يې مقدم کړو او تعريف د متصل عدمي وو نو هغه يې وروستو کړو

سوال: منفصل صيغه د اسم فاعل ده او اسم فاعل خو مبتداء نه واقع کېږي؟

جواب: دې مقام کې دا د وضعيت نه اسميت ته نقل شوی دی او نوم ګرځېدلی دی د يو خاص نوعې د نحاتو د کلام.

اصطلاحي تعريف هغه ماتن کړی دی، **المستقل بنفسه**، دا هغه ضمير دی چې مستقل بنفسه وي.

غير محتاج الى كلمة اخرى: غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د يو سوال ده:

سوال: نه منم دا خبره چې ضمير منفصل مستقل بنفسه وي، ځکه دا محتاج دی تلفظ ته؟

جواب: مونږ وايو مستقل بنفسه مطلب دا چې بلې کلمې ته به محتاج نه وي، هو تلفظ ته خو به محتاج وي.

قبله: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: ستا دا خبره نه منم چې ضمير منفصل به بلې کلمې ته محتاج نه وي، ځکه مونږ اورېدلي دي چې **انتما انتم** وغيره کې ان ضمير دی او دا ما بعد کلمات د فرق دپاره دي، نو دلته دې ما بعد کلمو ته احتياج راغلی دی؟

جواب: مونږ وايو د ځان نه ما قبل کلمې ته به محتاج نه وي او دا مذکور خو ددې لواحق دي

ليكون كالجزء منها: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: نه منم دا خبره چې ضمير منفصل ما قبل کلمې ته محتاج نه وي، ځکه ضمير خو هر يو عامل ته محتاج وي او عامل ددې نه مخکې وي؟

جواب: مونږ وايو داسې ما قبل مراد دی، چې ددې جزء وي، نو ما قبل داسې څيز نه دی محتاج نه ګرځي. او هر چې عامل دی نو هغه جزء د ضمير نه، نه وي. لکه ضرب اياك کې ضرب جزء د اياك نه دی.

سواءٌ كان مجاوراً: غرض د شارح د ضمیر منفصل په اعتبار د معمول سره دو: قسمه ذکر کول دي، یو قسم هغه ده چې د خپل عامل سره یوځای ذکر وي. یعنې د هغې ضمیر او عامل مینځ کې فاصل نه وي، لکه **ما انت منطلقاً** دلته ما په انت کې عمل کړی دی او د ضمیر سره ګاونډ کې دی.

سوال: ما خو عامل نه دی؟

جواب: عندالمجازیة زمونږ کلام په مذهب د حجازیاتو بناء دی.

او غیر مجاور له: دا هغه دوهم قسم ذکر کوي کله ضمیر منفصل د خپل عامل نه جدا لرې واقع وي، لکه **ما ضربت الا ایاك**. دلته په **ایاك** کې **ضربت** عامل دی، لیکن په مینځ کې یې **الا** فاصل راغلې دی.

والمتصل: په دې ځای کې دوه خبرې پیژندل په کار دي. یو ربط او بل اصطلاحي تعریف. ربط معنوي دا دی کله چې فارغ شو ماتن د تفصیل د قسم اول د تقسیم ثاني نه نو شروع یې وکړه په تفصیل د قسم ثاني کې

سوال: نفس تفصیل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصیل ځکه کوي، چې تفصیل بعدالاجمال اوقع في الذهن وي.

اصطلاحي تعریف خو هغه ماتن کړې دی چې **غیرالمستقل بنفسه**. ضمیر متصل هغه ضمیر دی چې مستقل بنفسه نه وي.

المحتاج الی عامله الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: کله چې متصل غیر مستقل بنفسه شو نو په اسم کې نه دي ذکر کول په کار. ځکه اسم خو مستقل بنفسه وي؟

جواب: دلته دغیر مستقل بنفسه معنی داده چې ما قبل عامل ته محتاج وي، نو ضمیر متصل د ځان نه ما قبل عامل ته دفع د سوال کوي

په اعتبار د اعراب سره دمضمر اقسام:

وَهُوَ اَيِ الْمُضْمَرُ بِاِعْتِبَارِ الْاِعْرَابِ اَقْسَامٌ مَرْفُوْعٌ وَ مَنْصُوْبٌ وَ مَجْرُوْرٌ لِقِيَامِهٖ مَقَامَ
او مضمر په اعتبار د اعراب سره په درې قسمه . ي مرفوع، منصوب، مجرور دوجې د قیام د هغې په ځای

الْقَاهِرِ وَ اِنْقِسَامُ الْقَاهِرِ اِلَيْهَا فَالْاَوَّلَانِ اَيِ الْمَرْفُوْعُ وَ الْمَنْصُوْبُ كُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا قِسْمَانِ
دظاهراوظاهرهم دې دريوته تقسيميږي اول دواړه چې مرفوع اومنصوب دي تقسيميږي دوه اقسام وته
مُتَّصِلٌ لِاَنَّهُ الْاَصْلُ وَ مُنْفَصِلٌ لِمَانِعٍ مِنَ الْاِتِّصَالِ وَ الثَّالِثُ اَيِ الْمُضْمَرُ الْمَجْرُوْرُ مُتَّصِلٌ فَقَطْ
متصل ته ځکه چې دااصل دي اومنفصل چې مانع دي داتصال نه دريم مضمرمجرورمتصل دي فقط
لِاَنَّهُ لَا مَانِعَ فِيْهِ مِنَ الْاِتِّصَالِ الَّذِيْ هُوَ الْاَصْلُ وَ سَتَعْرِفُ الْمَانِعَ مِنَ الْاِتِّصَالِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى .
ځکه په دې کې مانع داتصال نه نشته کوم چې اصل دي زردي چې ته به مانع اتصال وپيژني ان شاء الله

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره په اعتبار داعراب سره دمضمر اقسام بيانوي .

اغراض دجامي : وهو : کله چې فارغ شو ماتن د تقسيم ثاني د ضمير نه، چې په اعتبار د ما قبل سره وو ، نو شروع يې وکړه په تقسيم ثاني کې چې په اعتبار د اعراب سره دی. حاصل دادی چې اسم ضمير په اعتبار د اعراب سره په دريږ قسمه دی : مرفوع،منصوب، مجرور وجه دحصر په کې داده چې دا ضمير به خالي نه وي يا به په محل د رفع کې وي يا په نصب کې او يا په جر کې اول مرفوع دوهم منصوب او دريم مجرور دی .

په دې کې مونږ د يو سوال دفع هم وکړه :

سوال: دا تقسيم د ضمير مرفوع منصوب مجرور ته صحيح نه دی، ځکه دفع نصب جر خو په اسماو معربو کې راځي، او اسم ضمير خو مبني دی؟

جواب: مونږ محلي رفع نصب جر مراد کوو، او محلي رفع نصب جر په اسماء مبنياتو کې هم راتلې شي.

اى المضمر : غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي .

سوال : د هو ضمير مرجع عامه ده او مرفوعٌ خاص دی، نو حمل د اخص په اعم راغلو او دا ناجائز دی؟

سوال : دا مقام د حصر دی نو اداة د حصر په کار دي؟

سوال : دا تقسيم کوم قسم تقسيم دی؟

جواب: په اقسام سره دريواړه سوالات دفع شو. هغه داسې چې مونږ عطف مقدم وايو په ربط باندې نو حمل د اخص په اعم نه راځي، او عطف د اداة د حصر نه دی کوم اداة د حصر چې معنوي دي او دا تقسيم د کلي دی جزئياتو ته.

مرفوع ومنصوب و مجرور: ماتن د اقسامو تعيين كوي چې مرفوع منصوب او مجرور دي

لقيامه مقام الظاهر الخ: يعني د اسم ظاهر په ځاى باندې اسم ضمير راځي او اسم ظاهر خو دغه درې اقسامو ته په اعتبار د اعراب سره تقسيميدو نو قائمقام د اسم ظاهر چې اسم ضمير دى دا به هم په اعتبار د اعراب محلي سره درې قسمو ته تقسيمېږي. ځكه نائب لره حكم د منوب وي

فالا ولان اى المرفوع الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: كه مراد د اوّلانه متصل او منفصل وي، نو دا خو لازميږي تقسيم د **شيء الى نفسه**. او دا خو ناجائز دي؟

جواب: شارح جواب وكړو چې مراد ترې مرفوع او منصوب دي، نو دغه سوال نه راځي

كل واحد منها: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال: په كار داوه چې **متصلان و منفصلان** يې راوړى وى نو د مبتداء خبر به په تثنيه كې مطابقت راغلې وي؟

جواب: شارح جواب وكړو چې اولان مؤول دى په تاويل د **كل واحدٍ** سره نو خبر مفرد راوړل صحيح دي.

قسمان: غرض د شارح دفع د وهم ده: وهم دا راتلو چې دې مذكوره دواړو كې به يو متصل او بل منفصل وي؟ شارح وهم دفع كړو چې **قسمان** يعني هرواحد ددې دواړو نه دوه دوه قسمه دى.

والثالث: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: په كار دا وه چې **والثاني** يې ويلې وي؟ ځكه چې مخكې مرفوع منصوب قسم اول كې داخل كړو؟

جواب: مخكې د اول ثاني نه تعبير په اولان سره تغليباً كړې وو او دغه مجاز وو او دلته يې اتيان **بالحقيقة** وكړو او مجاز حقيقت دواړه استعمالول جائز دي.

فَذٰلِكَ اَيِ الْمُضْمَرُ خَمْسَةُ اَنْوَاعِ الْمَرْفُوْعُ الْمُتَّصِلُ وَالْمُنْفَصِلُ وَالْمَنْصُوْبُ الْمُتَّصِلُ وَالْمُنْفَصِلُ وَالْمَجْرُوْرُ الْمُتَّصِلُ
نو دا يعني مضمر په پنځه قسمه دي مرفوع متصل، منفصل او منصوب متصل، منفصل او مجرور متصل
اَلنَّوْعُ الْاَوَّلُ يَعْنِيْ اَلْمَرْفُوْعُ الْمُتَّصِلُ ضَمِيْرُ ضَرَبْتُ عَلٰى صِيْغَةِ الْمُتَكَلِّمِ الْوَاحِدِ الْمَعْلُوْمِ الْمَاضِيْ وَضَرِبْتُ عَلٰى صِيْغَةِ

نوع اوله چې مرفوع متصل دي ضمير د ضربتُ په صيغه د متكلم واحد ماضي معلوم او ضُربتُ په صيغه د
الْمُتَكَلِّمِ الْوَاحِدِ الْمَجْهُوْلِ الْمَاضِي الْمُنْتَهِيَيْنِ اَوَّلُهُمَا اِلٰى ضَرَبْنَ صِيغَةُ جَمْعِ الْغَائِبَةِ الْمَعْلُوْمِ الْمَاضِي
متكلم واحد ماضي مجهول چې انتهاء د اول راځي ضربن ته چې صيغه د جمع غائبې ماضي معلوم ده
وَ ثَانِيهِمَا اِلٰى ضُرِبْنَ صِيغَةُ جَمْعِ الْغَائِبَةِ الْمَجْهُوْلِ الْمَاضِي وَ اِنَّمَا بَدَأَ بِالْمُتَكَلِّمِ
اودوهم تر ضُرِبنَ صيغه د جمع غائبې ماضي مجهول ده او په تحقيق سره شروع وكړه مصنف په متكلم
لِاَنَّ ضَمِيْرَ الْمُتَكَلِّمِ اَعْرَفُ الْمَعَارِفِ وَ اٰخر ضَمِيْرُ الْغَائِبِ لِاَنَّهٗ دُوْنَ الْكُلِّ
ځكه چې ضمير د متكلم زيات پيژندل شوي او وروستويې كړو ضمير د غائب ځكه چې هغه كم دي د ټولو
وَ صُوْرَةُ التَّصْرِيْفِ هٰكَذَا ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا
نه بيان د گردان يې داسې دي ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا
ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ وَ عَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ الْمَجْهُوْلِ.
ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ او په همدې قياس مجهول هم.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره د مضمر پنځه اقسام بيانوي.

اغراض د جامي: فذلك اى المضمر: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين كول دي، ځكه ذلك د بعيد دپاره راځي، او مخكې نږدې ددې څه مرجع متعين نه وه، نو شارح وويل چې دا ضمير مضمر ته راجع دی.

خمسة انواع المرفوع الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د پنځه اقسامو نومونه ذكر كول دي.

الاول: غرض د ماتن ددې مقام نه د هر يو نوعې دپاره مثالونه ذكر كول دي، بيا د هر نوعې د لاندې د ېر افراد دي.

النوع: چونكه الاول صفت وو، نو ماتن ورلره موصوف راوويستو چې النوع دی.

يعني المرفوع المتصل: په دې عبارت، سره شارح د يو سوال جواب وركوې:

سوال: دا اول خو اضافي نه هم شامليږي، نو اطلاق يې په منصوب هم كيدې شي، نو مثال د ممثل سره مطابق نه شو؟

جواب: اول حقیقي مراد دی چې هغه مرفوع متصل دی. بیا ضمیر لفظ راوړو کې اشاره ده چې عبارت د ماتن په تسامح بناء دی، ځکه ضربت خو مرفوع متصل نه دی، بلکې ضمیر د ضربت مرفوع متصل دی.

<u>علی صیغة المتکلم الواحد الخ</u>: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ذهن ته دا راتلو چې صرف د ضَربتُ ضُرِبت باب ضمائرو ته به مرفوع ویلې شي، او د نورو بابونو هغې ته به نه شي ویلې.

جواب: مونږ وایو مراد د ضَرَبْت نه صیغه د واحد متکلم د فعل ماضي ده. هغه بیا که د هر یو باب او مادې نه وي ټولو ته شامل دي.

سوال: په کار داوه چې ماتن د ضربت او ضُربت سره اضرب او اُضرب ویلې وي ؟

جواب: ذکر د ضربت او ضُربت دی او مراد صیغه د واحد متکلم ده. هغه بیا که د ماضي وي او که د مضارع وي، ټولو ته شاملېږي.

<u>المنتهیین</u>: چونکه الی ضربن جار مجرور متعلق غواړي نو شارح ورلره محذوف متعلق راویستو.

<u>الی ضربن</u>: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: الی دپاره د انتهاء د غایې په مسافت کې راځي، دا بیا په دوه قسمه ده، غایة المد و غایة الاسقاط. غایة الاسقاط دپاره حکم دا دی، چې دا به د جنس د مغیا نه وي او غایه به په مغیا کې داخله وي، او غایة المد هغه ده چې د جنس د مغیا نه وي او غایه په حکم د مغیا کې داخله نه وي، اوس دلته غایة الاسقاط نه صحیح کیږي، ځکه ضربن د جنس د ضربت نه،نه دی، بلکې ځان لره صیغه ده، نو غایة المد شوه کله چې غایة المد شوه، نو دې کې خو غایه په مغیا کې داخله نه وي، نو ضربن په ضمائرو کې داخل نه شو حالانکه دې کې هم ضمیر شته؟

جواب: مونږ وایو دا غایه د اسقاط ده او دلته حذف د معطوف دی ای الاول ضمیر ضربت ومادونهما الی ضربن و ضربن، نو ضمیر د ضربن په هغه معطوف کې راغلو.

<u>والما بدأبالمتکلم الخ</u>: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: څه وجه ده چې مصنف شروع د ضمائرو د متکلم نه وکړه او د نورو خلکو خلاف يې وکړو. ځکه صرفيان خو د غائب نه شروع کوي؟

جواب: نحاة شروع د متکلم نه کوي، ځکه دا اعرف المعارف ضمير دی. نو ترقي د اعلی نه راخي په طرف د ادنی، او صرفيان ترقي د ادنی نه اعلی ته کوي يا صرفيان هم ترقي د اعلی نه ادنی ته کوي په دې شان سره چې صيغه د غائب د زوائدو نه خالي وي. نو صيغه د غائب اعلی شوه د وجې د خالي والي ددې نه د زوائدو نه.

وَ النَّوْعُ الثَّانِيْ اَيِ الْمَرْفُوْعُ الْمُنْفَصِلُ اَنَا اِلٰى هُنَّ اَنَا نَحْنُ اَنْتَ اَنْتُمَا اَنْتُمْ اَنْتِ اَنْتُمَا
او همدغه نوعه چې مرفوع منفصل دي هغه ضميرد انا دي تر هن پورې اَنَا نَحْنُ اَنْتَ اَنْتُمَا اَنْتُمْ اَنْتِ اَنْتُمَا
اَنْتُنَّ هُوَ هُمَا هُمْ هِيَ هُمَا هُنَّ وَ الضَّمِيْرُ فِيْ اَنْتَ اِلٰى اَنْتُنَّ هُوَ اَنْ اِجْمَاعًا وَ الْحُرُوْفُ الْاَوَاخِرُ لَوَاحِقُ
اَنْتُنَّ هُوَ هُمَا هُمْ هِيَ هُمَا هُنَّ او ضمير په انت کې ترانتن پورې ان دي اجماعا او آخري حروف يې لواحقات دي
دَالَّةٌ عَلٰى اَحْوَالِهٖ مِنَ الْاِفْرَادِ وَ التَّثْنِيَةِ وَ الْجَمْعِ وَ التَّذْكِيْرِ وَ التَّاْنِيْثِ وَ النَّوْعُ الثَّالِثُ اَيِ الْمَنْصُوْبُ الْمُتَّصِلُ وَ هُوَ
چې دلالت کوي په احوالو د هغې: افراد تثنيه جمع تذکير او تانيث نه دريمه نوعه يعني منصوب متصل او
قِسْمَانِ اَلْقِسْمُ الْاَوَّلُ الْمُتَّصِلُ بِالْفِعْلِ نَحْوُ ضَرَبَنِيْ اِلٰى ضَرَبَهُنَّ ضَرَبَنِيْ ضَرَبَنَا ضَرَبَكَ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُمْ
دا په دوه قسمه ده اول قسم متصل بالفعل دي لکه ضَرَبَنِيْ اِلٰى ضَرَبَهُنَّ ضَرَبَنِيْ ضَرَبَنَا ضَرَبَكَ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُمْ
ضَرَبَكِ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُنَّ ضَرَبَهٗ ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُمْ ضَرَبَهَا ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُنَّ.
ضَرَبَكِ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُنَّ ضَرَبَهٗ ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُمْ ضَرَبَهَا ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُنَّ.

اغراض دجامي: والثاني: کله چې ماتن فارغ شو د مثال د نوع اول نه نو د دوهم قسم ضمائرو مثال ذکر کوي.

النوع: ماتن والثاني ويلي وو او هغه صفت وو، شارح ورلره موصوف راويسته، چې النوع دی.

اى المرفوع الخ: چونکه ثاني مجهول وو، نو شارح په المرفوع سره د هغې تعيين وکړو.

والضمير في انت الخ: غرض د شارح تعيين د ضمير کول دي په مثال کې او دفع د وهم هم کوي، وهم دا راتلو چې کيدې شي دا مجموعه به ضمير وي، شارح دا وهم دفع کړو، چې مجموعه ضمير نه دی صرف ان ضمير دی.

اجماعاً: مراد په دې سره اجماع د بصريانو ده، په دې سره دفع د سوال وکړه چې کوفيان خو ددې خلاف کوي، دا څنګه اجماع ده؟

جواب: مونږ وویل چې مراد اجماع د بصریانو ده. خو د کوفیانو په کې اختلاف دی، فرآء وایي مجموعه ضمیر دی او باقي کوفیان وایي چې ت ضمیر دی او ان دپاره د اعتماد دی

والحروف الاواخر الخ: کله چې ضمیر ان شو، نو دا ما بعد حروف احوال د فاعل ذکر کوي.

سوال: کله چې ضمیر صرف ان شو، نو په دې بیا تعریف د ضمیر صادق نه شو، ځکه دا مستقل بنفسه نه شو؟

جواب: مونږ وایو ما قبل ته به محتاج نه وي او دا زیاتي حروف خو ددې ما بعد دي.

والثالث: کله چې فارغ شو د مثال د دوه نوعو د ضمائرو نه، نو مثال د دریمې نوعې د ضمائرو دپاره ذکر کوي.

النوع: غرض د شارح د الثالث صفت دپاره موصوف راویستل دي، چې هغه النوع دی

ای المنصوب الخ: چونکه ثالث مبهم وو، نو شارح د هغې تعیین وکړو چې مراد منصوب متصل دی

وهو قسمان: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: څه وجه ده چې ماتن مخکې دوه نوعو دپاره یو یو مثال ذکر کړو، او ددې نوعې دپاره دوه مثالونه ذکر کوي؟

جواب: تعدد د امثلو بنآء دی په تعدد د ممثلاتو باندې چونکه دا منصوبه په دوه قسمه دی، یو هغه چې متصل بالفعل وي، د هغې دپاره اول مثال دی، او دوهم قسم متصل بغیر الفعل دی او د هغې دپاره دوهم مثال دی.

ضربنا: په دې صیغه کې ضمیر د مرفوع او منصوب متصل یو شان دي، فرق په دې کې په ضمیر مرفوع کې جاء ساکنه او په ضمیر د منصوب کې متحرکه وي، بیا ضمیر مرفوع کې بـاء ځکه ساکنه کړه چې ضمیر مرفوع د خپل عامل نه جزء وي، نو که متحرك کړو نو توالي د اربع حرکاتو په یوه کلمه کې راتله. او دا صحیح نه ده. او په ضمیر منصوب کې که توالي د اربع حرکاتو راشي، نو نقصان نشته ځکه ضمیر منصوب ځان لره کلمه وي. دوهمه خبره داده، چې دې ضربنا کې ضمیر دا نون دی الف دپاره د دفع د التباس راغلی دی، په صیغې دجمع مؤنث سره.

وَ الْقِسْمُ الثَّانِيُ اَلْمُتَّصِلُ بِغَيْرِ الْفِعْلِ نَحو اَنَّنِي اَنَّنَا اَنَّکَ اَنَّکُمَا اَنَّکُمْ اَنَّکِ اَنَّکُمَا اَنَّکُنَّ اَنَّهُ اِلٰى اَنَّهُنَّ وَ
اودوهم قسم چې متصل بدون دفعل وي لکه اَنَّنِي اَنَّنَا اَنَّکَ اَنَّکُمَا اَنَّکُمْ اَنَّکِ اَنَّکُمَا اَنَّکُنَّ اَنَّهُ تر اَنَّهُنَّ او
النَّوْعُ الرَّابِعُ اَيِ الْمَنْصُوْبُ الْمُنْفَصِلُ اِيَّايَ اِيَّانَا اِيَّاکَ اِيَّاکُمَا اِيَّاکُمْ اِيَّاکِ اِيَّاکُمَا اِيَّاکُنَّ اِيَّاهُ اِلٰى اِيَّاهُنَّ وَفِيْ
څلورمه نوعه چې منصوب منفصل دي اِيَّايَ اِيَّانَا اِيَّاکَ اِيَّاکُمَا اِيَّاکُمْ اِيَّاکِ اِيَّاکُمَا اِيَّاکُنَّ اِيَّاهُ اِلٰى اِيَّاهُنَّ او په
اِيَّايَ اِخْتِلَافَاتٌ كَثِيْرَةٌ وَ الْمُخْتَارُ اَنَّ الضَّمِيْرَ هُوَ اِيَّا وَ اللَّوَاحِقُ لِلدَّلَالَةِ عَلَى التَّكَلُّمِ وَ
اِيَّايَ کې ډير اختلافات دي اوغوره داده چې ضمير ايا دي اوباقي لواحقات دي دپاره ددلالت په تکلم او
الْخِطَابِ وَ الْغَيْبَةِ وَ الْاِفْرَادِ وَ التَّثْنِيَةِ وَ الْجَمْعِ وَ التَّذْكِيْرِ وَ التَّاْنِيْثِ.
اوخطاب اوپه غيبوبت و اوافراد، تثنيه اوجمع اوتذکير اوتانيث.

اغراض دجامي : والرابع: کله چې فارغ شو ماتن د مثال د درې انواعو نه، نو شروع یې وکړه په مثال د څلورم قسم کې.

النوع: په دې عبارت سره غرض د شارح د الرابع صفت دپاره موصوف راویستل دي، چې هغه النوع دی.

ای المنصوب المنفصل: چونکه الرابع مجهول وو، نو شارح د هغې تعيين په منصوب منفصل سره وکړو.

ایای الخ: غرض د ماتن مثال ذکر کول دي، او شارح ورسره اتمام د ګردان کوي.

وفي ایای الخ: په دې کې ډیر اختلافات دي، غوره مذهب د سيبويه او اخفش دی او هغه دا چې په دې کې ايا ضمير دی، او دا ما بعد لواحق د سيبويه په نزد حروف دي او د احفش په نزد اسماء دي او دا دپاره د فرق کولو راوړې شوي دي.

وَ النَّوْعُ الْخَامِسُ غُلَامِيْ مِثَالُ الْمُتَّصِلِ بِالْاِسْمِ وَ لِيْ مِثَالُ الْمُتَّصِلِ بِالْحَرْفِ غُلَامِيْ غُلَامُنَا غُلَامُکَ
پنځمه نوع غلامي ده دا مثال د ضمير متصل بالاسم دي او لي مثال د متصل بالحروف دي غلامي غلامنا غلامک
اِلٰى غُلَامِهِنَّ وَ لِيْ لَنَا لَکَ اِلٰى لَهُنَّ وَ كَانَ الْقِيَاسُ اَنْ تَكُوْنَ ضَمَائِرُ كُلٍّ مِنَ الْمُتَكَلِّمِ وَ الْمُخَاطَبِ وَ الْغَائِبِ
تر غلامهن پورې او لي لنالک تر لهن پورې اووقياس داچې وي ضمائر د هريو د متکلم او د مخاطب او د غائب
سِتَّةً لٰكِنَّهُمْ وَضَعُوا لِلْمُتَكَلِّمِ لَفْظَيْنِ يَدُلَّانِ عَلٰى سِتَّةِ مَعَانٍ كَضَرَبْتُ وَ ضَرَبْنَا
شپږ شپږ لکن وضع شو د متکلم دپاره دوه الفاظ چې دلالت کوي په شپږو معناګانو لکه ضربت ضربنا نو

فَضَمِيْرُ ضَرَبْتُ مُشْتَرِكٌ بَيْنَ الْوَاحِدِ الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ وَ ضَمِيْرُ ضَرَبْنَا بَيْنَ
ضمير د ضربت مشترک دي په مينځ د واحد او مذكر او مؤنث کې او ضمير د ضربنا مشترک دي په مينځ د
الْأَرْبَعَةِ الْمُثَنَّى الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ وَ الْمَجْمُوْعِ الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ وَ وَضَعُوْا لِلْمُخَاطَبِ خَمْسَةَ أَلْفَاظٍ
څلورو کې چې مثنى مذكر ده او مؤنث ده او مجموع مذكر او مؤنث ده او وضع شود مخاطب د پاره پنځه الفاظ
أَرْبَعَةٌ غَيْرُ مُشْتَرِكَةٍ وَ وَاحِدٌ مُشْتَرِكٌ بَيْنَ الْمُثَنَّى الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ وَ أَعْطَوْا لِلْغَائِبِ حُكْمَ
څلور غير مشترک دي او يو مشترک دي په مينځ د مثنى مذكر او مؤنث کې او ور کړي شو غائب ته حكم
الْمُخَاطَبِ فِيْ ذٰلِكَ فَإِنَّ الضَّمِيْرَ فِيْ مِثْلِ ضَرَبَا وَ ضَرَبَتَا هُوَ الْأَلِفُ الْمُشْتَرَكُ بَيْنَهُمَا وَ التَّاءُ حَرْفُ
د مخاطب په دې کې ځکه چې ضمير په مثل د ضربا او ضربتا کې الف مشترک دي په دوي کې او تا حرف
التَّأْنِيْثِ وَ بَقِيَّةُ الْأَنْوَاعِ الْخَمْسَةِ جَارِيَةٌ عَلٰى هٰذَا الْمَجْرٰى أَعْنِيْ أَنَّ لِلْمُتَكَلِّمِ لَفْظَيْنِ وَ لِلْمُخَاطَبِ
تانيث دي پاتې نورې نوعې هم په همدې طريقه دي يعني چې د متكلم د پاره دوه لفظه دي او د مخاطب د پاره
خَمْسَةً وَ لِلْغَائِبِ خَمْسَةً فَصَارَ الْمَجْمُوْعُ اِثْنَيْ عَشَرَةَ كَلِمَةً لِثَمَانِيَةَ عَشَرَ مَعْنًى فَإِذَا كَانَ لِكُلٍّ مِنَ الْأَنْوَاعِ الْخَمْسَةِ
پنځه او د غائب د پاره پنځه نو ټولس دولس کلمې جوړې شوې د اتلسو معنو د پاره او چې د هر يو د پنځو نوعو
اِثْنَتَا عَشَرَةَ كَلِمَةً لِثَمَانِيَةَ عَشَرَ مَعْنًى تَكُوْنُ جُمْلَتُهَا سِتِّيْنَ كَلِمَةً لِتِسْعِيْنَ مَعْنًى وَ بَيَّنُوْا
د پاره دولس کلمې جوړې شوې د اتلسو معنو د پاره نو ټولې شپيته کلمې شوې د نوي معنو د پاره او بيان
لِتِلْكَ الْأُمُوْرِ عِلَلاً وَ مُنَاسَبَاتٍ لَا تَطُوْلُ الْكَلَامَ بِذِكْرِهَا.
کړي نحويانو د دې کلمو د پاره اعلالات او مناسبات چې مونږ دير اوږد بحث نه شو ذکر کولای.

اغراض د جامي : <u>والخامس</u>: کله چې فارغ شو ماتن د څلورو اقسامو د مثالونو نه، نو شروع يې وکړه په مثال د پنځم قسم کې.

<u>والنوع</u>: چونکه الخامس صفت وو، نو شارح ورلره موصوف راويسته چې هغه النوع دی، بيا په دې مقام کې شارح د قسم خامس تعيين ونه کړو، ځکه د ما قبل نه خپله معلوم شو چې پاتې قسم مجرور متصل دی.

<u>ظلامي</u>: غرض د ماتن مثال ذکر کول دي.

<u>مثال المنفصل بالاسم</u>: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : څه باعث ده په ماتن چې دوه امثله يې راوړي دي، وضاحت د پاره خو يو مثال کافي وو؟

جواب: تعدد د امثلو بناء دی په تعدد د ممثلاتو باندې، يعنې ضمير مجرور متصل په دوه قسمه دی، يو هغه چې د اسم سره متصل وي اول مثال د هغې دی او دوهم هغه دی چې د حرف سره متصل وي، دوهم مثال د هغې دی بيا دا ضمير صرف دې دوه كلمو كې منحصر نه دی، بلكې ددې په مثل هر مقام كې راتلی شي، لكه كتابي، بي، في، الخ.

وكان القياس الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال: حاصل د هغې دا دی، چې كوم ضمائر تا ذكر كړې او مونږ په كې سوچ وكړو نو څه ضمائر د متكلم دي، څه د مخاطب او څه د غائب، او دې كې هر يو شپږ قسمه دي، ځكه په هر يو كې به مثلا يو متكلم وي، يا دوه وي يا زيات وي، مذكر به وي يا مؤنث، نو ټول شپږ شو، نو چې هر يو كې شپږ شپږ حساب كړې نو هر نوعې لره اتلس (۱۸) ضمائر په كار دي، نو ټول مثالونه نوي (۹۰) په كار وو. حالانكه دا خو كم دي.

جواب: دا چې سائله ته خطاء شوې يې كه د تعداد خبره شي، نو بيا خو يوسل او اته (۱۰۸) مثالونه په كار دي، ليكن دا خبره د نقل سره تعلق ساتي، او په نقل كې د مخاطب او غائب د پاره (۵) صيغې او د متكلم د پاره (۲) صيغې راغلې دي او د مجرور منفصل نقل نه دی راغلې.

فضمير ضربت مشترك: وجه داده چې د متكلم پته لګېږي چې دا ښځه ده او كه سړی دی.

و ضمير ضربنا الخ: وجه داده چې دوه او ددوو نه زيات متكلم وي كه ښځه وي او كه سړی نو پته لګېږي.

المثنى المذكر الخ: په المثنى كې درې قسمه اعراب جاري كيږي، چې مجرور شي نو د ما قبل نه به بدل شي او چې مرفوع شي نو خبر د مبتداء محذوفه به شي، او كه منصوب شي نو مفعول به، به شي د فعل محذوفه، البته په دې مثنى به اعراب تقديري وي او ددې په صفت المذكر باندې به اظهار كيږي.

اربعة غير مشتركة الخ: هغه صيغې د واحد مذكر، جمع مذكر، واحده مؤنث، او جمع مؤنث دي.

واعطوا للغائب الخ: يعنې غائب كې هم دغسې څلور صيغې غير مشترك او صيغه د تثنيه مشترك ده.

فان الضمير الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي
سوال: ته وايي غائب کې هم صيغه د تثنيه مشترك ده، حالانکه مونږ چې گورو نو دې کې فرق دى، ځکه په ضربا کې تاء نشته، او په ضربتا کې تآء شته؟
جواب: مونږ جواب وکړو، چې ضمير په دواړو کې الف مشترك دى، او دا تـآء ضمير نه دى بلکې حرف د تانيث دى.
وبقية الانواع الخ: يعنې ما خو درته صرف ضمير مرفوع متصل کې اجراء وکړه، دغسې دې باقي څلورو انواعو کې هم اجراء وکړه، يعنې متکلم دپاره دوه الفاظ او مخاطب او غائب دپاره پنځه الفاظ دي، نو مجموعه دولس کلمې د اتلس معانيو دپاره شوي، نو مجموعه (۲۰) کلمات د (۹۰) معانيو دپاره شو.

حکم دهريوې نوعې دضمائرو:

فَالْمَرْفُوْعُ الْمُتَّصِلُ خَاصَّةً يَعْنِيْ لَا الْمَنْصُوْبُ وَ الْمَجْرُوْرُ الْمُتَّصِلَانِ لِيَسْتَتِرَ لِاَنَّهُمَا
پس مرفوع متصل خاصتاً نه منصوب او نه مجرور چې دواړه متصل وي پټ به راوړل کيږي ځکه چې دا
فُضْلَتَانِ وَ الْمَرْفُوْعُ الْفَاعِلُ وَ هُوَ كَجُزْءِ الْفِعْلِ فَجَوَّزُوْا فِيْ بَابِ
دواړه فضله دي اومرفوع فاعل دي اوداپه شان دجزءدي دفعل نه اوبه مذهب دنحويانو جائزدي په باب د
الضَّمَائِرِ الَّتِيْ وَضَعَهَا لِلْاِخْتِصَارِ اِسْتِتَارَ الْفَاعِلِ فَاكْتَفَوْا بِلَفْظِ الْفِعْلِ كَمَا
هغه ضمائروکې چې وضع شوې وي دپاره داختصارپټيدل دفاعل اواکتفاءکول په لفظ دفعل لکه څنگه
يَحْذِفُ فِيْ آخِرِ الْكَلِمَةِ الْمُشْتَهِرَةِ شَيْءٌ وَ يَكُوْنُ فِيْمَا اَبْقَى دَلِيْلٌ عَلٰى مَا اُلْقِيَ
چې حذفيږي په آخرد کلمې مشهورې کې يوڅيزاوي به په مابقي باندې دليل په هغه څه کوم چې غورځول
عَلٰى مَا مَضَى فِي التَّرْخِيْمِ وَ لٰكِنْ هٰذَا الْاِسْتِتَارُ لَيْسَ فِيْ جَمِيْعِ الصِّيَغِ بَلْ فِيْ
شوې وي بناء په هغه څه چې تيرشوي په بحث دترخيم کې اودااستتارپه ټولوصيغوکې نه راځي بلکه په
الْفِعْلِ الْمَاضِيْ لِلْغَائِبِ الْوَاحِدِ الْمُذَكَّرِ اِذَا لَمْ يَكُنْ مُسْنَدٌ اِلَى الظَّاهِرِ نَحْو زَيْدٌ ضَرَبَ وَ
فعل ماضي غائبه کې چې صيغه دواحد مذکروي چې اسنادېې ظاهرته نه وي شوې لکه زيد ضرب اوپه
لِلْوَاحِدَةِ الْمُؤَنَّثِ الْغَائِبَةِ اِذَا لَمْ تَكُنْ مُسْنَدَةً اِلَى الظَّاهِرِ نَحْو هِنْدٌ ضَرَبَتْ فَاِنَّ التَّاءَ عَلَامَةُ التَّأْنِيْثِ
واحده مؤنثه غائبه کې چې اسنادېې ظاهر ته نه وي شوې لکه هندضربت ځکه چې تاءعلامه دتانيث ده
لَا الضَّمِيْرُ الْمَرْفُوْعُ وَ اِلَّا لَمْ يَجْتَمِعْ مَعَ الْفَاعِلِ الظَّاهِرِ فِيْ نَحْو ضَرَبَتْ هِنْدٌ وَ فِي الْفِعْلِ الْمُضَارِعِ لِلْمُتَكَلِّمِ

نه د ضمير مرفوع ورنه جمع به نه وي سره د فاعل ظاهر نه په مثل د ضربت هند کې او په فعل مضارع متکلم
مُطْلَقًا سَوَاءٌ كَانَ وَاحِدًا اَوْ فَوْقَ الْوَاحِدِ مُذَكَّرًا اَوْ مُؤَنَّثًا نَحو اَضْرِبُ
کې مطلقاًبرابره خبره ده که واحدوي اويازت د واحدوي مذکروي اوکه مؤنث وي لکه اضرب نضرب اود
وَ نَضْرِبُ وَ لِلْوَاحِدِ الْمُخَاطَبِ الْمُذَكَّرِ نَحو تَضْرِبُ وَ اَضْرِبُ وَ لِلْوَاحِدِ الْغَائِبِ وَ الْغَائِبَةِ اِذَا
پاره د واحد مذکر مخاطب لکه تضرب اضرب او د پاره د واحد غائب مذکر او واحدې غائبې مؤنثې چې کله
لَمْ يَكُوْنَا مُسْنَدَيْنِ اِلَى الظَّاهِرِ نَحو زَيْدٌ يَضْرِبُ وَ هِنْدٌ تَضْرِبُ.
يې اسناد نه وي شوې ظاهر ته لکه زيد يضرب وهند تضرب.

خلاصه دمتن : په دې عبارت کې د هر يو حکم بيانوي .

اغراض دجامي : فالمرفوع المتصل خاصة : کله چې ماتن د پنځه اقسامو د ضمير نه سره د ذکر د مثالونو نه فارغ شو ، نو اوس هغه اول قسم د ما قبل اقسامو نه راخلي او هغې کې تقسيم کوي بارز او مستتر ته، بيا دې عبارت کې **فاء تفصيليه** ده، په **المرفوع** سره منصوب مجرور نه احتراز دی، وروستو ددې قيد فائده ذکر کوي هم په **المتصل** سره د منفصل نه احتراز وشو.

په **خاصة** کې **تآء** د مبالغې ده يا **تآء** د مصدر ده، او دا منصوب دی په فعل محذوفه سره ای **اخص خاصةً**.

يعني لا المنصوب الخ : غرض د شارح د المرفوع قيد فايده ذکر کول دي، چې د منصوب مجرور نه په دې قيد سره احتراز وشو.

يستتر : دا خبره د مبتداء دی، يعنې مرفوع متصل مستتر کېږي .

لانهما فضلتان : غرض د شارح وجه د احتراز د منصوب او مجرور ده. حاصل د هغې دا دی، چې ضمير منصوب او مجرور زياتي دی، او ضمير مرفوع خو فاعل وي نو دا **کالجزء من الفعل** شو، نو نحاتو په باب د ضمائرو کې استتار د فاعل جائز کړو، ځکه د ضمائرو وضع د پاره د اختصار شوې ده.

كما يحذف الخ: غرض د شارح مثال پیش کول دي ما قبل خبرې دپاره، حاصل د هغې دادې چې کله کله یو مشهوره کلمه وي نو د هغې د آخر نه څه شی حذف شي او **ما أبقي** دلیل په **ما ألقي** وي. نو دلته یو سوال راځي:

ولكن هذا الاستتار الخ: غرض د شارح دفع د توهم ده چې پیدا شوې د مخکني کلام نه، او هغه دا چې په **یستتر** کې چې کوم استتار ذکر شو، نو دا به ټولو افعالو کې راځي؟ نو هغه وهم یې دفع کړو، چې دا ټولو افعالو کې نه راځي، بلکې بعضې افعالو کې راځي.

في الفعل الماضي الخ: چونکه **الماضي** صفت وو نو شارح ورلره **الفعل** موصوف راویستو.

الواحد المذكر: غرض د شارح دفع د وهم ده، وهم راتلو چې مراد به د غائب او غائبې نه جنس د دواړو وي نو د هغې اطلاق خو په تثنیه او جمع هم کېږي نو هلته به هم ضمیر مستتر وي. حالانکه داسې خو نه ده؟ شارح هغه وهم دفع کړو، چې مراد د غائب او غائبې نه واحد دی،

سوال: څه وجه ده چې د ماضي په باقي صیغو کې ضمیر بارز راځي او دې دواړو کې مستتر راځي؟

جواب: ضمیر مستتر ضعیف دی او غائب او غائبه په نسبت د متکلم او مخاطب سره ضعیف دی، نو ضعیف مو ضعیف لره ورکړو او ضمیر د بارز قوي دی، او متکلم مخاطب په نسبت د غائب قوي دی. نو قوي مو قوي لره ورکړو.

اذا لم یکن الخ: اشاره دې خبرې ته چې استتار د ضمیر دې صیغه کې واجب نه دی.

نحو زید ضرب: غرض د شارح مثال ذکر کول دي،. **ضرب** صیغه د غائب فعل ماضي ده او اسم ظاهر ته یې اسناد نه دې شوې. نو دې کې ضمیر مرفوع متصل مستتر دی، مثال د هغه چې اسم ظاهر ته اسناد شوی وي لکه **ضرب زیدٌ**، دلته به اوس ضمیر مستتر نه وایو، ځکه اسم ظاهر ته اسناد شوې دی او که بالفرض دې کې ضمیر مستتر شي، نو لازم به شي تعدد د فاعلینو دپاره د فعل واحد په یو وخت کې او دا ناجائز ده.

وللواحدة الخ: واحده مونثه غایبه کې هم ضمیر مستتر راځي، په فعل ماضي کې.

اذا لم تکن الخ: اشاره ده چې دا استتار وجوبي نه دی. بلکې جوازي دی.

نحو هند ضرب: په دې عبارت سره شارح اتفاقي مثال ذکر کوي، دلته صیغه د غائبه د فعل

ماضي نه اسم ظاهر ته اسناد د فعل نه دی شوی. نو ضمير به مستتر وي

فإن التاء الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي.

سوال: مثال دې موافق د ممثل سره نه دی. ځکه په ضرب کې خو تآء ضمير بارز دی؟

جواب: دا تآء علامه د تانيث ده. ضمير مرفوع نه دی. دليل ذکر کوي چې که دا تآء ضمير د مرفوع وي، نو په ضربت هند کې به نه راتلو. ځکه بيا تعدد د فاعلينو لازمېږي

سوال: دا هند دې د ضمير د ضرب نه بدل شي کنه؟

جواب: اضمار قبل الذکر راځي.

وفي الفعل المضارع: مواضع د استتار وجوبي ذکر کوي. ماتن المضارع ويلي وو، شارح ورلره الفعل موصوف راويستو. او في سره اشاره ده دې ته چې دا په هغه ماضي عطف دی.

مطلقاً: ځينې وايي چې زمانا مطلقا يا استتارا مطلقاً ليکن شارح يې خپل يو تفسير کوي چې تعميم د متکلم ته اشاره ده.

وللواحد المخاطب المذکر: چونکه مخاطب کې عموم وو، چا به وهم کولو چې د مخاطب ټولو صيغو ته به شامل وي، نو شارح وويل چې د واحد صيغه مراد ده. بيا به چا ويل چې مونث به هم مراد وي، نو شارح وويل چې صرف د مذکر هغه مراد ده.

نحو تضرب واضرب: يو مثال د فعل مضارع دوهم د فعل امر دی.

وللواحد الغائب الخ: شارح موصوف راوويستو د صفت د صيغو دپاره.

اذا لم يكونا: اشاره ده چې استتار دې په دوه صيغو کې واجب نه دی.

نحو زيد ضرب وهند تضرب: اول مثال د غائب او دوهم مثال د غائبې دی.

وَ فِي الصِّفَةِ مُطْلَقًا سَوَاءٌ كَانَ اِسْمُ فَاعِلٍ اَوْ مَفْعُوْلٍ اَوْ صِفَةٍ مُشَبَّهَةٍ اَوْ اَفْعَلِ التَّفْضِيْلِ وَ سَوَاءٌ كَانَ مُفْرَدًا
او په صفت کې مطلقاً که دا اسم فاعل وي که مفعول وي که صفت مشبه وي که افعل التفضيل وي که مفرد
اَوْ مُثَنًّى اَوْ مَجْمُوْعًا مُذَكَّرًا اَوْ مُؤَنَّثًا اِذَا لَمْ يَكُنْ مُسْنَدًا اِلَى الظَّاهِرِ نَحْوُ اَقَائِمُ نِ الزَّيْدَانِ
وي که مثنى که جمع مذکر وي او که مؤنث چې کله يې اسناد نه وي شوی ظاهر ته لکه اقائم ن الزيدان
كَقَوْلِكَ زَيْدٌ ضَارِبٌ وَ هِنْدٌ ضَارِبَةٌ وَ الزَّيْدَانِ ضَارِبَانِ وَ الزَّيْدُوْنَ ضَارِبُوْنَ وَ الْهِنْدَانِ ضَارِبَتَانِ وَ الْهِنْدَاتُ
او دا قول ستا زيد ضارب هند ضاربة والزيدان ضاربان والزيدون ضاربون والهندان ضاربتان والهندات

ضَارِبَاتٌ وَ لَيْسَتِ الْاَلِفُ فِيْ ضَارِبَانِ وَ الْوَاوُ فِيْ ضَارِبُوْنَ بِضَمِيْرَيْنِ لِاَنَّهُمَا تَنْقَلِبَانِ يَاءً فِي النَّصْبِ
ضاربات او نه دي الف په ضاربان كي او واو په ضاربون كي ضمير ځكه چي دا بدليږي په ياء سره په حالت نصبي
وَ الْجَرِّ وَ الضَّمَائِرِ لَا تَتَغَيَّرُ عَنْ حَالِهَا اِلَّا اَنْ يَّتَغَيَّرَ عَامِلُهَا وَ الْعَامِلُ هٰهُنَا
او جري كي او ضمائر د خپل حال نه تغير نه خوري مګر چي كله تغير وخوري عامل د هغوي او عامل دلته
لَيْسَ عَامِلاً فِي الضَّمِيْرِ وَ اِنَّمَا هُوَ عَامِلٌ فِيْ اِسْمِ الْفَاعِلِ وَ الضَّمِيْرُ فَاعِلٌ لَهُ وَ الضَّمِيْرُ بَاقٍ عَلٰى
عامل په ضمير كي نه دي بلكه عامل په اسم فاعل كي دي او ضمير يي فاعل دي او ضمير باقي وي په
مَا كَانَ عَلَيْهِ فِي الرَّفْعِ فَلَوْ كَانَتْ ضَمَائِرُ لَا تَتَغَيَّرُ اَلَا تَرٰى اَنَّ الْيَاءَ فِيْ تَضْرِبِيْنَ وَ النُّوْنُ
خپل حالت رفعي باندي او كه چيرته دا ضمائر وو نو تغير به نه كوي ته نه ګوري چي ياء په تضربين او نون
فِيْ تَضْرِبْنَ وَ الْوَاوُ فِيْ يَضْرِبُوْنَ وَ الْاَلِفُ فِيْ يَضْرِبَانِ لَا تَتَغَيَّرُ فَهُمَا اَيِ الْاَلِفُ وَ الْوَاوُ فِي الصِّفَةِ
په تضربن او واو په يضربون او الف په يضربان كي تغير نه خوري پس معلومه شود چي الف او واو په صفت
حَرْفَا التَّثْنِيَةِ وَ الْجَمْعِ وَ لَيْسَتَا بِضَمِيْرَيْنِ.
كي حروف د تثنيي او د جمع دي نه ضمائر

خلاصه د متن

اغراض د جامي : __وفي الصفة مطلقاً__: كله چي فارغ شو ماتن د بيان د استتار نه په فعل كي نو شروع يي وكړه په بيان د استتار په شبه فعل كي او وايي وفي الصفة الخ ضمير مرفوع په صفت كي مستتر كيږي.

__مطلقاً__: دا مطلقاً حال دی د صفت نه

سوال : حال په ذوالحال محمول وي او د لته حمل نه صحيح كيږي ځكه لفظ د الصفة مونث او حال مذكر دی؟

جواب: دا صفت مؤول دی په تاويل د وصف سره او قرينه پرې دا ده. چي وروستو ورته ضمير د مذكر راجع كوي سواء كان الخ مفرداً كانت او مفردةً نه وايي. نو د **مطلقاً** حال واقع كېدل صحيح شو.

__اذا لم يكن الخ__ : غرض د شارح اشاره كول دي دې ته چي استتار د ضمير په صفت كي مطلقاً واجب نه دي، ځكه كه اسناد د صفت اسم ظاهر ته شوي وو. نو بيا ضمير مستتر نه راځي

__نحو اقائم الزيدان__ : غرض د شارح اشاره كول دي ، دې ته چي استتار د ضمير صفت كي

مطلقاً واجب نه دی، ځکه که اسناد د صفت اسم ظاهر ته شوی وو، نو بیا ضمیر مستتر نه راځي.

نحو اقائم الزیدان: غرض د شارح مثال د هغه صفت پیش کول دي، چې اسناد يې اسم ظاهر ته شوی وي او ضمیر په کې مستتر کېدل نه صحیح کېږي. ځکه دوهم فاعل ته ضرورت نشته بیا تعدد د فاعلینو راځي.

کقولك الخ: غرض د شارح امثله پیش کول دي. د استتار د ضمیر په صفت کې. په ضارب کې ضمیر مستتر دی چې تعبیر ترې په هو سره کیږي.

ولیست الالف الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: نه منم دا خبره چې په صفت کې مطلقاً ضمیر مستتر کېږي او مثالونه دې موافق د ممثل سره نه دي، ځکه په الزیدان ضاربان، او الزیدون ضاربون کې الف واو ضمیر بارز دی؟

جواب: هر الف واو ضمیر نه وي، دلته دا دوه ضمائر نه دي.

سوال: دعوی بالدلیل منظور وي بلا دلیل نه منظورېږي، نو څه دلیل دی په دغه دعوی؟

جواب: لا نهما الخ دا دواړه ضمائر ځکه نه دي. چې حالت نصبي او جري کې دا دواړه په یآء سره بدلېږي او قانون خو دا دی، چې ضمائر نه بدلیږي، معلومه شوه چې دا ضمائر نه دي بلکې علامه د تثنیه او جمع ده.

والعامل ههنا الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: دې مذکور مثال کې خو هم تغیر د عامل په تغیر سره راغلې دی. ځکه چې جاءني ضاربان که رایت ضاربین شي، نو د عامل بدلیدو سره الف د ضاربان بدل شو؟

جواب: په جآءني ضاربان کې درې شیان دي. ۱ عامل چې فعل دی. ۲ اسم فاعل چې دا صیغه ده. ۳ فاعل چې دې صیغه کې مستتر دی. نو دې فعل په اسم فاعل کې عمل کړی دی. لیکن فاعل کې عامل نه دی، لهذا ضمیر په خپل حال پاتې دی

فلو کانت الخ: حاصل دا شو چې که دا الف واو ضمیر وی. نو دا به نه بدلیدل نه ګوري نه چې به تضربین کې یآء او په تضربون کې واو په هیڅ حالت کې نه بدلېږي. که عامل داخل هم شي. نو هغه نون اعرابي به ساقط شي. لیکن ضمیر په خپل حال پاتې وي

نهما ای الواو والیاء الخ: شارح اوس دا په ما قبل تفریع کوي چې دا الف واو علامه د تثنیه او جمع ده، ضمیر نه دي.

وَلَا يَسُوْغُ اَیْ لَا يَجُوْزُ الضَّمِيْرُ الْمُنْفَصِلُ مَرْفُوْعًا كَانَ اَوْ مَنْصُوْبًا لِاَجْلِ شَيْءٍ اِلَّا
او جائز نه دي په ضمیر کې منفصل کیدل د هغې که مرفوع وي او که منصوب د وجې د یو څیز نه مګر کله چې
لِتَعَذُّرِ الْمُتَّصِلِ اَیْ لِاَجْلِ تَعَذُّرِهٖ لِاَنَّ وَضْعَ الضَّمَائِرِ لِلْاِخْتِصَارِ وَ الْمُتَّصِلُ اَخْصَرُ فَمَتٰى
متعذر وي متصل کیدل ځکه چې وضع د ضمائرو د پاره د اختصار ده او متصل زیات مختصر وي ترڅو
اَمْكَنَ لَا يَسُوْغُ الْاِنْفِصَالُ وَ ذٰلِكَ اَیْ تَعَذُّرَ الْمُتَّصِلُ بِالتَّقْدِيْمِ اَیْ بِتَقْدِيْمِ
چې دا ممکن وي جواز نشته منفصل ته او دا متعذر کیدل د متصل کیږي د وجې د تقدیم نه یعني په تقدیم
الضَّمِيْرِ عَلٰى عَامِلِهٖ لِاَنَّهٗ اِذَا تَقَدَّمَ عَلٰى عَامِلِهٖ لَا يُمْكِنُ اَنْ يَّتَّصِلَ بِهٖ
د ضمیر په خپل عامل ځکه چې کله دا مخکې شو په خپل عامل بیا نه دي ممکن چې متصل شي د هغه
اِذِ الْاِتِّصَالُ اِنَّمَا يَكُوْنُ بِاٰخِرِ الْعَامِلِ اَوْ بِالْفَصْلِ الْوَاقِعِ لِغَرَضٍ
سره ځکه اتصال د آخر د عامل سره راتلې شي او یا د منفصل سره چې واقع شي د پاره د داسې یو غرض چې
لَا يَحْصُلُ اِلَّا بِهٖ اِذِ الْفَصْلُ يُنَافِي الْاِتِّصَالَ وَ بِتَرْكِهٖ يَفُوْتُ
هغه نه حاصلیږي مګر په انفصال سره ځکه چې فصل منافي دي د اتصال سره او په پریخودو سره یې فوت
الْغَرَضُ اَوْ بِالْحَذْفِ اَیْ حَذْفَ عَامِلُهٗ لِاَنَّهٗ اِذَا حَذَفَ عَامِلُهٗ لَا
کیږي غرض او په حذف سره یعني په حذف د عامل د دې سره ځکه چې کله حذف شي عامل نو بیا نه
يُوْجَدُ مَا يَتَّصِلُ بِهٖ.
موجود یږي هغه څه چې د هغې سره متصل شي.

اغراض د جامي : ولا یسوغ الخ: په دې مقام کې یو څو خبرې بیانوو: ۱. ربط. ۲. تفصیل د مواضعو د تعذر د منفصل ۳. امثله. ۴. تطبیق د ممثلاتو سره

ربط: کله چې فارغ شو مصنف د تقسیم او تفصیل د ضمیر نه. چې یو تعریف د ضمیر دوهم مختلف تقسیمات په ضمیر کې او دریم مثالونو د هغې نه. نو شروع یې وکړه په څلورمه خبره کې چې مشترك احکام د ضمیر ذکر کول دي نو اول حکم دا دی ولا یسوغ الخ. ربط لفظي دا دی چې واو استئنافیه

ای لا یجوز الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح یو خو د لفظ سوغ د معنی تعین دی. ځکه دا

په ډيرو معانيو سره راځي کله په معنی د جواز سره راځي ، اوبه په آسانه تيريدلو ته هم سوغ وايي شارح تعيين وکړو، چې اوله معنی مراد ده. دوهم غرض د شارح وضاحت د لفظ غير مشهور دی په لفظ مشهور سره. دريم غرض د شارح دفع د سوال دده

سوال : سوغ اوبه په مرۍ کې په آسانه تېرېدلو ته وايي او دغه عمل خو ذوي العقول سره تعلق ساتي او ضمير خو د ذوی العقول نه ، نه دی؟

جواب: دلته معنی حقيقي مراد نه ده، بلکې معنی مجازي مراد ده، چې هغه جواز دی

الضمير: المنفصل صفت وو نو شارح ورله موصوف راويستو چې **الضمير** دی

سوال : جواز او عدم جواز صفت د اغراضو راځي او ضمير خو ذات دی؟

جواب: عبارت په حذف د مضاف سره دی ای **لا يجوز استعمال الضمير**

مرفوعاكان او منصوبا: غرض د شارح دفع د وهم ده. چا به ويل چې نږدې بحث د متصل وو، نو صرف دغه به مراد وي؟ شارح دا وهم دفع کړو. چې مرفوع او منصوب دواړو ته شامل دی

سوال : مجرور يې ولې ذکر نه کړو؟

ځکه چې په هغې کې منفصل نه راځي

لاجل شيء: غرض د شارح اشاره کول دي. چې مستثنی مفرغه ده. دوهم غرض دفع د سوال ده:

سوال: ظاهره خو داده. چې لتعدد کې به لام د تعليل وي او **لا يسوغ** دعوی ده. نو لازم شو استثناء د دليل د دعوې نه. او دا جائز نه ده. ځکه چې دمستثنی او مستثنی منه په مينځ کې مطابقت ضروري دی. يعنې يا به مستثنی دمدعی دمدعی نه وي او يا به په مستثنی منه کې مطابقت ضروري وي. يعنې يا به مستثنی د مدعی د مدعی نه وي يا به متثنی د دليل دليل نه وي او دلته مستثنی دليل د مدعی نه ده دوهم دا چې مستثنی منه به اسم وي او دلته **لا يسوغ** فعل دی؟

جواب: شارح **لاجل شيء** سره دوه سوالات دفع کړل. چې مستثنی منه حذف ده او هغه **لاجل شيء** ده. نو يو خو استثناء د دليل د دليل نه راغله او دوهم مستثنی منه اسم واقع شو

دريم غرض د شارح رد کول دي په فاضل هندي باندې هغه ددې مذکور سوال نه جواب کړی وو چې **لام** دپاره د وقت دی نو اصل عبارت داسې دی ای **لا يجوز استعمال الضمير المنفصل في وقت**

من الاوقات الا وقت تعذر المتصل نو شارح پرې رد وکړو. چې لام په معنی د تعليل کې اصل دی. او په معنی د وقت سره فرع ده او اصل چې مراد کيدې شي، نو فرع ته به ضرورت نه وي، دلته اصل مراد کيدې شي. نو فرع ته تلل صحيح نه دي.

وذلك : ددې ځای نه تفصيل د مواضعو د تعذر د متصل بيانوي شپږ مواضع مصنف ذکر کړي دي او دهغې دپاره يې مثالونه هم ذکر کړي دي، مونږ به يو يو موضع ذکر کړو او تطبيق د مثال به ورسره کوو.

وذلك : سره غرض د ماتن اول مقام ذکر کول دي، د هغه مقاماتو نه چې اتيان په متصل متعذر وي، نو مونږ به منفصل ته صيرورت کوو

ای تعذر المتصل : غرض د شارح د اسم اشاره دپاره مشار اليه متعين کول دي

بالتقديم : مراد په دې سره هر هغه مقام دی، چې ضمير په خپل عامل مقدم شوی وي، نو دغه مقام کې اتيان په متصل متعذر دی، مونږ به منفصل ته صيرورت کوو. شارح ورلره وروستو وجه بيانوي.

ای بتقديم الضمير : غرض د شارح اشاره کول دي، دې خبرې ته چې الف لام عوض د مضاف اليه ده، چې هغه مضاف اليه ضمير دی.

مثل اياك ضربت : غرض د ماتن خو مثال ذکر کول دي دپاره د اول موضع د مواضع سته نه.

مثال لتقديم الضمير الخ : غرض د شارح تطبيقي د مثال دی د ممثل سره، يعنې دا کلام په اصل کې ضربتك وو، خو دې مقام کې هر مقصود وو، نو هغه ضمير د مفعول به مونږ مخکې کړو، نو تقديم د ضمير په خپل عامل راغلو اوس به مونږ ضمير منفصل راوړو.

لانه اذا تقدم الخ : په دې عبارت سره غرض د شارح دې اول مقام کې د ضمير منفصل راوړو وجه ذکر کوي، وجه داده چې کله دا ضمير په عامل مقدم شو نو اوس ددې متصل کېدل ناممکن دي، ځکه د اتصال يو معنی ده راتلل، د يو شي په آخر د بل شي پورې او هغه دلته ناممکن ده، ځکه چې دی به متصل کېده وروسته د عامل پورې. اوس چې دا ضمير مخکې شو نو څنګه به متصل شي

اوبالفصل : غرض د ماتن دوهم مقام ذکر کول دي. دهغه مقاماتو نه. چې اتيان په ضمير متصل متعذر وي، نو منفصل ته به صيرورت کوو. او هغه دا چې فصل واقع شوی وي. په

مينځ د ضمير او عامل کې دپاره د يو غرض چې اختصاص راوستل دي اوس دغه اختصاص په غير د الا نه . نه احد نو مونږ يې په مينځ کې دا فصل راوړو او ددې نه وروستو به ضمير منفصل راوړو

مثال الفصل: غرض د شارح تطبيق د مثال دی. د ممثل سره په دې مقام کې مقصود اختصاص د ضرب دی د متکلم پورې او دا په غير د الا نه حاصلېږي. نو دا الا مونږ راوړو، او ضمير د فاعل مو منفصل راوړو. شارح وروستو وجه ذکر کوي

الواقع: غرض د شارح د جار مجرور دپاره متعلق راويستل دي

سوال: متعلق راويستو ته ضرورت نشته، ځکه الفصل مصدر دی، نو جار مجرور دی سره متعلق کيدې شي. ځکه الفصل شبه فعل دی او متعلق فعل او شبه فعل دواړه واقع کيدې شي. دوهم دا چې جار مجرور ددې مذکور سره متعلق کړې نو ظرف لغوه به شي او چې د محذوف سره متعلق کړې نو ظرف مستقر به شي او ظرف لغو اولی دی د ظرف مستقر نه؟

جواب: خبره دې صحيح ده. ليکن چې د الواقع سره متعلق شي. نو په معنی کې غتوالې راځي او چې مذکور سره متعلق کړې نو معنی کې غتوالی نه راځي، او غتوالی راوستل په معنی کې اولی دي د غتوالي راوستو نه.

سوال: لغرض چې ځنګه د فصل سره تعلق ساتي نو د تقديم سره هم تعلق ساتي. ځکه تقديم هم د يو غرض دپاره وي چې حصر دی او وروستو دحذف سره هم تعلق ساتي. ځکه هغه هم د څه غرض دپاره وي. نو ماتن د دې باقي دوو سره ولې ذکر نه کړو؟

جواب: دا لغرض د فصل او تقديم دواړو سره تعلق ساتي او وروستو يې د حذف نه دی ذکر کړی، نو اکتفاء يې کړې ده د لاحق نه په سابق سره او په دې باندې عادت د ماتن جاري دی، چې کله اکتفاء د لاحق نه په سابق سره کوې او کله د سابق نه په لاحق سره کوي

اذالفصل الخ: غرض د شارح وجه ذکر کول دي په دوهم مقام کې د تعذر د متصل، او هغه دا چې انفصال د اتصال سره منافي دي او که دا فصل پرېږدو، نو بيا هغه غرض فوت کېږي چې هغه اختصاص دی

اوبالحذف: غرض د ماتن دریم مقام ذکر کول دي. د هغه مقاماتو نه چې اتیان په متصل سره متعذر وي، نو مونږ به منفصل ته صیرورت کوو او هغه مقام دادی چې په دې مقام کې عامل حذف شوې وي

ای حذف عامله: غرض د شارح اشاره کول دي دې خبرې ته. چې الف لام د مضاف الیه دی.

و ایاك والشر: غرض د ماتن مثال ذکر کول دي دپاره د دریم مقام د مقامات ستہ نه.

مثال لحذف العامل الخ: غرض د شارح تطبیق د مثال دی د ممثل سره دې مقام کې اصل عبارت داسې وو **اتق نفسك والشر**، چونکه دا مقام د تحذیر دی او تحذیر کې تلوار وي. نو هغه عامل حذف شو. نو ورسره نفس هم حذف شو اختصاراً اوس چې عامل حذف شو. نو مونږ ضمیر منفصل ته صیرورت وکړو

لانه اذا حذف الخ: شارح وجه د تعذر د متصل ذکر کوي، وجه داده چې کله عامل حذف شو نو اوس بل ځیز خو نشته چې مونږ ورسره دا ضمیر متصل کړو، نو مونږ ضمیر منفصل راوړو.

اَوْ بِكَوْنِ الْعَامِلِ اَیْ عَامِلُهٗ مَعْنَوِیًّا لِامْتِنَاعِ الْاِتِّصَالِ اللَّفْظِ بِالْمَعْنٰی اَوْ بِكَوْنِ عَامِلِهٖ

یاپه کیدو د عامل یعني عامل د دې معنوي دوجې دامتناع د اتصال د لفظ په معنی او یا په کیدو د عامل د دې

حَرْفًا وَ الضَّمِیْرُ الْمَعْمُوْلُ لَهٗ مَرْفُوْعٌ اِذِ الضَّمِیْرُ الْمَرْفُوْعُ لَا یَتَّصِلُ بِالْحَرْفِ لِاَنَّهٗ خِلَافُ

حرف او ضمیر د دې مرفوع دي ځکه چې ضمیر مرفوع نه متصل کیږي په حرف پورې ځکه چې دا خلاف د

لُغَتِهِمْ بِخِلَافِ الْمَنْصُوْبِ نَحْوُ اِنَّنِیْ وَ اِنَّكَ اَوْ بِكَوْنِهٖ اَیْ كَوْنِ الضَّمِیْرِ مُسْنَدًا اِلَیْهِ

لغت د دوي دي په خلاف د منصوب لکه انني او انک او یا انفصال راځي دوجې د کیدو د ضمیر مسند الیه

اَیْ اِلٰی ذٰلِكَ الضَّمِیْرُ صِفَةٌ جَرَتْ عَلٰی غَیْرِ مَنْ هِیَ اَیْ تِلْكَ الصِّفَةُ كَائِنَةٌ لَهٗ

یعني دې ضمیر ته داسې صفت چې جاري وي په غیر د دې معنی کې یعني د غه صفت چې کائن وي د دې سره

فَاِنَّهٗ لَوْ لَمْ یَنْفَصِلِ الضَّمِیْرُ عَنْ هٰذِهِ الصِّفَةِ لَزِمَ الْاِلْتِبَاسُ فِیْ بَعْضِ الصُّوَرِ كَمَا اِذَا

ځکه چې که چیرته جدا نه شي ضمیر د دغه صفت څخه نو لازم به شي التباس په بعضې صورتونو کې لکه چې

قُلْتَ زَیْدٌ عَمْرٌو ضَارِبُهٗ هُوَ فَاِنَّهٗ لَوْ قِیْلَ زَیْدٌ عَمْرٌو ضَارِبُهٗ

ته ووایې زید عمرو ضاربه هو نو اوس که وویل شي زید عمرو ضاربه نو خلط به راشي په اوریدونکي چې ضارب

اِلْتَبَسَ عَلَی السَّامِعِ اَنَّ الضَّارِبَ زَیْدٌ اَوْ عَمْرٌو بَلِ الْمُتَبَادِرُ اَنَّهٗ عَمْرٌو لِاَنَّهٗ اَقْرَبُ

زید دي او که عمر بلکه متبادر داده چې ضارب عمرو دي ځکه چې دا نږدې دي ضمیر مستتر ته په خلاف د هغې

إِلَى الضَّمِيْرِ الْمُسْتَتِرِ بِخِلَافِ مَا إِذَا قِيْلَ ضَارِبُهُ هُوَ فَإِنَّهُ لَمَّا إِنْفَصَلَ الضَّمِيْرُ عَلَى
چې وويل شي ضاربه هوځکه چې کله جداشو ضميرپه خلاف دظاهرنو معلومه شوه چې مرجع دضميرهم
خِلَافِ الظَّاهِرِ يَعْلَمُ أَنَّ مَرْجِعَهُ مَا هُوَ خِلَافُ الظَّاهِرِ وَ هُوَ زَيْدٌ وَ إِلَّا لَا حَاجَةَ إِلَيْهِ.
خلاف دظاهرده چې هغه زيد دي اوکه دامعنى مرادنه وه نوبيابه ضرورت نه وودې اظهاردضميرته.

اغراض دجامي : **او بکون العامل**: غرض د ماتن څلورم مقام ذکر کول دي، د هغه مقاماتو نه چې اتيان د متصل په کې متعذر وي، نو منفصل ته به صيرورت کوو او هغه مقام دادی، چې عامل په ضمير کې معنوي وي

اى عامله: غرض د شارح اشاره کول دي، چې الف لام عوض دمضاف اليه نه دی.

و انازيدٌ: غرض د ماتن مثال ذکر کول دي د څلورو مقاماتو دپاره.

مثال کون العامل الخ: غرض د شارح تطبيق د مثال دی د ممثل سره دې مثال کې انا ضمير مبتدأ ده او عامل په کې معنوي دی، چې ابتداء ده، نو دې صورت کې به ضمير منفصل راوړو.

لامتناع الخ: شارح وجه د تعذر د متصل ذکر کوي او هغه دا چې ضمير لفظ دی او عامل معنوي معنى ده او لفظ خو د معنى سره نه متصل کېږي. ځکه که متصل شي، نو هغه خو بيا معنى پاتې نه شوه، بلکې لفظ شو. ددې وجې به مونږ ضمير منفصل ته صيرورت کوو

او حرفاً: غرض د ماتن پنځم مقام ذکر کول دي، د هغه مقاماتو نه چې اتيان په متصل متعذر وي، نو منفصل ته به صيرورت کوو او هغه دا چې عامل حرف وي او هغه ضمير چې ددې حرف دپاره معمولي وي نو هغه مرفوع وي.

او بکون عامله: غرض د شارح اشاره ده دې خبرې ته چې دا عطف دی په ما قبل معنوياً باندې. او چونکه ما قبل د معطوف اليه نه معاد وي په ما قبل د معطوف کې نو بکون ای ورسره راونيستو

المعمول له: چونکه والضمير مرفوعٌ. جمله اسميه حال واقع دی، او جمله اسميه چې حال واقع شي، نو عايد ضروري وي. نو شارح اشاره وکړه چې هغه عائد حذف دی

سوال: وآو عائد شته کنه؟

جواب: چونکه جمله اسمیه قوي ده، نو صرف په واو اکتفا، صحیح نه ده، بلکې دې سره عائد هم ضروري دی.

وما انت قائماً: غرض د ماتن د پنځم مقام دپاره مثال ذکر کول دي

مثال کون العامل حرفاً: غرض د شارح تطبیق د مثال دی د ممثل سره. دې مقام کې ما حرف مشابه بلیس عامل واقع دی او ددې معمول انت ضمیر مرفوع دی. ځکه اسم د ما مشابه بلیس مرفوع وي نو دلته هم ضمیر متصل متعذر دی نو مونږ ضمیر منفصل راوړو

اذالضمیر الخ: غرض د شارح وجه د تعذر د ضمیر متصل ذکر کول دي. وجه داده چې ضمیر مرفوع د حرف سره نه متصل کېږي، ځکه دا د عربو د لغت خلاف ده او د هغې وجه داده چې ضمیر مرفوع قوي دی او عامل حرف ضعیف دی، نو که مونږ ضمیر مرفوع د حرف سره متصل کړو، نو لازم به شي اتصال د قوي د ضعیف پورې او دا صحیح نه ده، په خلاف د منصوب کې چې د هغې اتصال د حرف سره راځي. ځکه منصوب ضمیر فضله دی نو دا کمزوری دی او اتصال د ضعیف د ضعیف پورې صحیح دی

سوال: مجرور یې ولې ذکر نه کړو حالانکه اتصال د حرف سره د مجرور هم راځي؟

جواب: هغه واضح وو، نو ځکه یې ذکر نه کړو.

اوبکونه الخ: ماتن مواضع د تعذر د ضمیر متصله ذکر کول. کله چې د پنځه مواضعو نه فارغ شو نو شپږم موضع کې یې شروع وکړه.

فانه لو لم ینفصل الخ: غرض د شارح وجه د تعذر د ضمیر متصل ذکر کول دي، حاصل د هغې دادی چې که مونږ ضمیر منفصل نه راوړو ددې صفت نه، نو ځینې صورتونو کې به التباس لازم شي لکه د غه مثال کې ته ضمیر منفصل نه راوړې او زیدٌ عمروٌ ضاربه ووایې، نو دا عبارت چې څنګه احتمال ددې لري چې ضمیر مستتر د ضارب زید ته راجع شي. لکه چې مقصود د متکلم دی نو احتمال ددې هم لري، چې ضمیر مستتر د ضاربٌ عمرو ته راجع شي، بلکې دا خو ډېر زر ذهن ته راځي. ځکه ضمیر مستتر ته قریب مرجع عمرو دی او ارجاع د ضمیر قریب ته اولی ده د ارجاع د ضمیر نه بعید ته نو په سامع التباس راغلو. هو چې کله ضمیر منفصل راوړو. او زیدٌ عمروٌ ضاربه هو وویلی شي نو دغه التباس دفع کېږي.

فانما لما انفضل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: څنګه چې التباس د متصل په صورت کې دی، نو د منفصل ذکر کولو په صورت کې هم التباس شته. ځکه چې به هو کې احتمال ددې هم شته، چې عمرو ته راجع شي. بلکې دا مرجع قريبه ده؟

جواب: اصل په ضمير کې ضمير متصل دی او ضمير منفصل خلاف الاصل دی او په مرجع کې قريبه ده او مرجع بعيده خلاف الاصل ده اوس چې کله ده ضمير ه منفصل راوړو. چې خلاف الاصل دی، نو مرجع به ورلره هم خلاف الاصل وي، چې هغه مرجع بعيده ده اوس چې کله مرجع بعيده متعين شوه. نو التباس ختم شو.

وَ اِذَا وَقَعَ الْاِلْتِبَاسُ بِدُوْنِ الْاِنْفِصَالِ فِيْ بَعْضِ الصُّوَرِ حُمِلَ عَلَيْهِ مَا
اوکله چې واقع شي التباس په غير د انفصال نه په بعضې صورتونو کې نو حمل کولې به شي په هغه باندې
لَا اِلْتِبَاسَ فِيْهِ لِاِطْرَادِ الْبَابِ وَ اِنَّمَا قَالَ مَنْ هِيَ لَهُ لَا مَا هِيَ لَهُ كَمَا هُوَ
هغه څه چې التباس نه وي په هغې کې طرداًللباب اومصنف من هي له وويل نه ماهي لـه لکـه څنګه چې
الظَّاهِرُ لِيَكُوْنَ اَشْمَلُ اِقْتِصَارًا عَلٰى مَا هُوَ الْاَصْلُ مِثْلُ اِيَّاكَ ضَرَبْتَ مِثَالٌ
ظاهره ده دې دپاره چې شي شامل دې ته او اقتصار وشي په اصل باندې لکه ايـاک ضربت دامثـال د
لِتَقْدِيْمِ الضَّمِيْرِ عَلَى الْعَامِلِ وَ مَا ضَرَبَكَ اِلَّا اَنَا مِثَالُ الْفَصْلِ لِغَرَضٍ وَ هُوَ
تقديم دضمير دي په عامل باندې وماضربک الاانامثال دضميرمنفصل دې دپاره ديومقصد چې هغه
التَّخْصِيْصُ هٰهُنَا وَ اِيَّاكَ وَ الشَّرَّ مِثَالٌ لِحَذْفِ الْعَامِلِ اَيْ اِتَّقِ نَفْسَكَ وَالشَّرَّ وَ اَنَا زَيْدٌ مِثَالُ كَوْنِ الْعَامِلِ
تخصيص دي دلته اوايا ک والشرمثال دعامل محذوفه دي يعني اتق نفسک والشروانازيدمثال دعامل
مَعْنَوِيًّا وَ مَا اَنْتَ قَائِمًا مِثَالُ كَوْنِ الْعَامِلِ حَرْفًا وَ هِنْدٌ زَيْدٌ ضَارِبَتُهُ هِيَ مِثَالُ الضَّمِيْرِ الَّذِيْ اُسْنِدَ
معنوي دي ومياانت قائمامثال دعامل حرفي دي وهندزيد ضاربته دامثال دهغه ضميردي چې اسناد
اِلَيْهِ صِفَةٌ جَرَتْ عَلٰى غَيْرِ مَنْ هِيَ لَهُ فَاِنَّهُ اُسْنِدَ اِلَيْهِ الضَّارِبَةُ الْجَارِيَةُ
شوې وي دې ته دداسې صفت چې جاري وي په غيرددې لکه چې اسناد شوې دې ته د ضرب چې جاري دي
عَلٰى زَيْدٍ حَيْثُ وَقَعَتْ خَبَرًا لَهُ وَ هِيَ صِفَةٌ لِهِنْدٍ حَيْثُ قَامَ الضَّرْبُ
په زيد باندې په داسې شان چې واقع دې خبردپاره د زيداوضرب صفت د هند دي ځکه چې قيام د ضرب

بِهَا وَ إِنَّمَا يَصِحُّ ذٰلِكَ إِذَا كَانَ هِيَ فَاعِلًا لَا تَاكِيْدًا وَ إِلَّا لَكَانَ دَاخِلًا فِيْ صُوْرَةِ
شوې تردې پورې او دا هله صحيح کيږي چې کله دا ضمير فاعل شي نه تاکيد ورنه بيا به داخل شي په صورت
الْفَصْلِ لِغَرَضِ التَّاكِيْدِ وَ لٰكِنَّهُ تَاكِيْدٌ لَازِمٌ لَا فَاعِلٌ بِدَلِيْلِ نَحْنُ الزَّيْدُوْنَ ضَارِبُوْهُمْ
د فصل کې د پاره د غرض د تاکيد حالانکه دا تاکيد لازمي دې نه فاعل په دليل د نحن الزيدون ضاربوهم
نَحْنُ وَ رُوِيَ عَنِ الزَّمَخْشَرِيِّ ضَارِبَهُمْ نَحْنُ وَ عَلٰى هٰذَا يَكُوْنُ فَاعِلًا كَمَا قَالَ وَ اخْتَارَ
نحن او نقل دې د زمحشري نه ضاربهم نحن او بناء په دې وي فاعل لکه څنګه چې ده ويلي او غوره کړي
بِالتَّمْثِيْلِ صُوْرَةً لَا لُبْسَ فِيْهَا لِيُثْبِتَ الْحُكْمَ فِيْ صُوْرَةِ اللُّبْسِ
مصنف په مثال راوړو سره هغه مثال په کوم کې چې التباس نشته ځکه چې په صورت د التباس کې
بِالطَّرِيْقِ الْأَوْلٰى.
حکم بطريق اولى سره ثابت دي.

خلاصه د متن:

اغراض د جامي : واذا وقع الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال : په کوم ځايونو کې چې التباس راځي، نو هلته خو ضمير منفصل راوړل صحيح شو، ليکن چې کوم صورتونو کې التباس نه راځي، لکه وروستو مثال هندٌ زيدٌ ضاربته هي ضو، اوس دلته که ضمير خو د هنده دپاره متعين دی اوس دلته ضمير منفصل ته څه ضرورت دی؟

جواب: حاصل دا صورت د عدم التباس په صورت د التباس طرداً للباب حمل دی.

وانما قال هي له الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: ماتن لره په کار وه، چې من يې نه راوړی بلکې ما يې راوړی وی، ځکه من صرف په ذوالعقول دلالت کوي، حالانکه دا قاعده په ذوی العقول او غير ذوی العقول دواړو کې استعماليږي ؟

جواب: ذوی العقول اصل دی او دا غير يې تابع دی،نو په اصل يې اتيان وکړو او هغه نور ددې په تبع کې شامل شو

مثال الضمير الخ: شارح تطبيق د مثال کوي د ممثل سره.

ولکنه تاکيد الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: چې په دې مثال کې لکه څنګه احتمال د تاکيد دی، نو همدارنګې احتمال د فاعل په کې هم دی او دفاعل دپاره نفس احتمال کافي دی، تعيين ته ضرورت نشته؟

جواب: دې مثال کې احتمال د فاعل هم نشته. بلکې دا متعين دی دپاره د تاکيد او دليل ددې دعوې دادې. چې **نحن الزيدون ضاربوهم نحن** هم ددغه مذکور مثال په شان ترکيب دی او دې کې دا وروستو **نحن** د تاکيد دپاره متعين دی، ځکه که دا **نحن** ددې دپاره فاعل شي، نو قاعده داده چې ضمير مرفوع په حکم د اسم ظاهر کې وي او فاعل چې اسم ظاهر وي، نو فعل هميشه مفرد راوړی شي. حالانکه **ضاربو** جمع راوړی شوې ده، نو متعين شوه دا خبره چې په ضاربوا کې ضمير مستتر فاعل او دا **هي** ورلره تاکيد راغلې دی.

<u>وروي عن الزمخشري الخ</u>: غرض د شارح د اصل سوال نه جواب کول دي. حاصل دا دی. چې زمحشري نه دغه مثال په صيغه د مفرد سره نقل دی او ستا سوال په دې مثال سره تام کېدو نو هغه سوال دې ختم شو نو دا مثال د شپږم قسم دپاره راوړل صحيح شو.

<u>واختار بالتمثيل الخ</u>: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: په کار وه، چې ماتن هغه مثال ذکر کړی وی، چې په هغې کې التباس راځي، نو دا مثال خو د التباس صورت نه دی، دا يې ولې ذکر کړو؟

جواب: دا مثال يې ددې دپاره ذکر کړو، چې په کوم صورت کې التباس نه راځي او هغې کې ضمير منفصل راوړی شي. نو د التباس والاصورت کې خو به په طريقه اولى سره ضمير راوړی شي.

وَ اِذَا اِجْتَمَعَ ضَمِيْرَانِ وَ لَيْسَ اَحَدُهُمَا مَرْفُوْعًا اِحْتِرَازٌ عَنْ نَحْوِ اَكْرَمْتُكَ اِذِ الْمَرْفُوْعُ
کله چې دوه ضمائر جمع شي او يوترې مرفوع نه وي احترازوشود مثل ذاکرمتک نه ځکه چې مرفوع په
كَالْجُزْءِ مِنَ الْفِعْلِ فَكَاَنَّهُ لَمْ يَتَحَقَّقِ الْفَصْلُ بَيْنَ الْفِعْلِ وَ الضَّمِيْرُ الثَّانِيْ اَصْلاً فَيَجِبُ
شان دجزء دې دفعل نه نوګوياکه نه راځي فصل په مابين دفعل اودضميرثاني کې بالکل نوواجب دي
اِتِّصَالُهُ فَاِنْ كَانَ عَلَى تَقْدِيْرِ اِجْتِمَاعِهِمَا وَ عَدَمِ كَوْنِ اَحَدِهِمَا مَرْفُوْعًا اَحَدُهُمَا اَىْ
اتصال دضميراوک چيرته په تقديرداجتماع ددې اوپه عدم کيدويوددوي نه مرفوع وويوددوي نه يعنې
اَحَدُ الضَّمِيْرَيْنِ اَعْرَفُ مِنَ الْآخَرِ اِحْتِرَازٌ عَمَّا اِذَا تَسَاوِيَا نَحْوَ اَعْطَاهَا اِيَّاهُ
يودضمير بنوزيات پيژندل شوې داخرنه احترازوشودهغه نه چې کله دواړه برابروي لکه اعطاهاياه په

حَيْثُ يَجِبُ الْاِنْفِصَالُ فِي الثَّانِيْ لِلتَّحَرُّزِ عَنْ تَقَدُّمِ اَحَدِ الْمُتَسَاوِيَيْنِ عَلَى الْآخَرِ مِنْ غَيْرِ

داسې شان چې واجب وي انفصال په دوهم کې دوجې داحترازنه په تقدم ديودمتساوييينو دبل نه په غير

مُرَجِّحٍ وَ قَدَّمْتُهُ اَيْ اَحَدُ الضَّمِيْرَيْنِ الَّذِيْ هُوَ اَعْرَفُ عَلَى الْآخَرِ اِحْتِرَازٌ عَمَّا

دعلت راجحه نه مخکې وي يعنې يودضميرينوکوم چې زيات اعرف وي په بل باندې احترازوشودهغه

اِذَا كَانَ الْاَعْرَفُ مُؤَخَّرًا نَحْوُ اَعْطَيْتُهُ اِيَّاکَ فَيَلْزِمُ اِنْفِصَالُهُ لِيُعْذَرِ

صورت نه چې کله اعرف مؤخروي لکه اعطيته اياک نولازم دي انفصال دضمير دده دپاره چې معذور

الْمُتَكَلِّمَ فِيْ تَاخِيْرِ الْاَعْرَفِ وَ لَا يَلْحَقُهُ طَعْنٌ فِيْ اَوَّلِ الْوَهْلَةِ بِاِيْرَادِهٖ

وګڼرل شي متکلم په تاخير داعرف کې اونه پيوسته شي له هغه سره ملامتيا په اول وخت کې په راوړودې

عَلَى خِلَافِ الْاَصْلِ وَ حَكٰى سِيْبَوَيْهِ تَجْوِيْزَ الْاِتِّصَالِ اَيْضًا نَحْوُ اَعْطَيْتُوْکَ فَلَکَ الْخِيَارُ اَيِ الْاِخْتِيَارُ فِيْ

په خلاف داصل نقل دي دسيبويه نه جوازداتصال هم دارنګې لکه اعطيتک نوشته تادپاره اختيار په

الضَّمِيْرِ الثَّانِيْ اِنْ شِئْتَ اَوْرَدْتَّهُ مُتَّصِلًا نَحْوُ اَعْطَيْتُكَهُ بِاِعْتِبَارِ عَدَمِ الْاِعْتِدَادِ بِالْفَصْلِ بِمَا

دوهم ضمير کې که ته غواړې نومتصل يې راوړه لکه اعطيتکه چې اعتبار ونه کړل شي انفصال ته په هغه

هُوَ مُتَّصِلٌ وَ اِنْ شِئْتَ اَوْرَدْتَّهُ مُنْفَصِلًا نَحْوُ اَعْطَيْتُکَ اِيَّاهُ بِاِعْتِبَارِ الْاِعْتِدَادِ بِالْفَصْلِ بِمَا

څه چې متصل وي اوکه غواړې منفصل يې راوړه لکه اعطيتاک اياه چې معتبر کړل شي فصل په هغه څه

يَفْصِلُهُ وَ اِنْ كَانَ مُتَّصِلًا وَ نَحْوُ ضَرَبِيْکَ فَاِنَّهٗ اجْتَمَعَ فِيْهِ ضَمِيْرَانِ لَيْسَ اَحَدُهُمَا

چې فصل راولي اګرکه متصل وي لکه ضربيک څکه چې جمع شوي په دې کې دوه ضمائر يونه دي يو دې

مَرْفُوْعًا لِجَرِّ الْاَوَّلِ بِالْاِضَافَةِ وَ نَصْبُ الثَّانِيْ بِالْمَفْعُوْلِيَّةِ

مرفوع د وجې دجرداول نه په اضافت سره اونصب ددوهم نه په مفعوليت سره

اغراض دجامي : **و اذا اجتمع ضميران الخ**: کله چې فارغ شو ماتن د بعض احکامو د تفصيل نه چې تعلق يې ساتلو د ضمير واحد سره نو شروع يې وکړه په تفصيل د احکامو د اجتماع د ضميرينو کې.

احتراز عن نحو الخ: غرض د شارح د مرفوع قيد فايده ذکر کول دي. يعنې کله چې دوه ضميره راجمع شي، ليکن نه به کې مرفوع وو. لکه اګر منک په دې مثال کې کې دوه ضميره راجمع دي. ليکن اول ضمير مرفوع دی. نو ثاني کې انفصال نه دی. ... واجب دی. څکه اصل ضمير کې اتصال دی او انفصال نه ضميرونو د وجې د ... نه

کيږي، او دلته هغه تعذر نشته. تعذر داسې نشته، چې ضمير مرفوع په شان د جزء من الفعل وي، نو داسې ده لکه چې د فعل او ضمير ثاني په مينځ کې فصل نه وي، نو اتصال واجب دی

فان كان: غرض د ماتن شرط ثاني ذکر کول دي او هغه دا چې که يو ضمير ددې دواړو نه اعرف وو.

على تقدير الخ: غرض د شارح اشاره کول دي. دې خبرې ته چې دا شرط د متعلقاتو د شرط اول نه دی.

اى احد الضميرين: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي.

من الآخر: چونکه اعرف اسم تفصيل وو، مخکې مفضل ذکر شو، دې عبارت سره مفضل عليه ذکر کوي.

احترازعما الخ: غرض د شارح د اعرف قيد فائده ذکر کول دي. اعرف په ضمائرو کې اول متکلم دی. دوهم ورپسې د مخاطب دی او دريم ورپسې د غائب دی اوس که داسې وه، چې يو ضمير اعرف نه وو، بلکې دواړه مساوي وو هغه بيا دواړه متکلم وي او که دواړه د مخاطب وي او که دواړه د غائب وي لکه **اعطاها اياها**. نو په دې صورت کې انفصال د ثاني واجب دی دپاره د خان ساتلو د تقدم د يو متساويينو نه په آخر باندې

وقدمته: ماتن بل شرط ذکر کوي، هغه دا چې تا مقدم کړی وي اعرف په غير اعرف باندې.

اى احد الضميرين: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي.

الذي هو اعرف: په دې عبارت سره تعيين د احد الضميرين کوي.

احترازٌ عما غرض: غرض د شارح د **قدمته** قيد فائده ذکر کول دي، او هغه دا چې که اعرف مؤخر وو، لکه **اعطيته اياك**. دلته خو اعرف ضمير د مخاطب دادی او دا مؤخر دی نو دې صورت کې انفصال د ثاني واجب دی. وجه داده چې معذور وګڼلی شي متکلم د اعرف په وروسته کولو کې او په لومړي فرصت کې په دد عيب ونه لګېږي، نو حاصل ددې دوه وجې شوې يو دا چې که متکلم اتصال وکړي. نو تقديم د غير اعرف په اعرف راځي، او په دغه طريقې سره تقديم صحيح نه دی. او چې انفصال يې وکړه نو اوس دې د تقديم تقاضا نه کوي. حکه چې په شان د اجنبي شو او متصل په شان د جزء وي دوهمه وجه ظاهره ده

وحكى سيبويه الخ: غرض د شارح دوهم لغت ذکر کول دي، او هغه دا چې سيبويه لغت د اتصال

هم جائز کړی دی

فلك الخيار: د اجزاوو د ما قبل شرطونو ده. یعنې چې کله دوه ضمیر راجمع شي، یو یکې مرفوع نه وو او یو په دواړو کې اعرف وو او دا اعرف په غیر اعراف مقدم وو، نو ستا دپاره اختیار دی، چې که ضمیر ثاني متصل راوړې او که منفصل

ای الاختیار: د خیار ډیرې معنی راخي، په معنی د خیار شرط سره راخي، په معنی د غور سره راخي په معنی د ختیکي سره راخي او په معنی د اختیار سره هم راخي. نو شارح تعیین د معنی مرادې وکړو

سوال: دا لفظ خو مشترك دی او ته ترې یوه معنی اخلې په دې د تاسره څه قرینه ده؟

جواب: دلالت د محل الکلام پرې قرینه ده. چې هغه عدم صحت د هغه نورو معانیو دی.

في الضمير الثاني: چونکه الثاني صفت وو، موصوف یې غوښتو نو شارح ورلره موصوف راویسته.

ان شئت الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: دادی چې ضمیر ذات دی او خیار خو د اغراضو سره تعلق ساتي او حمل د وصف په ذات صحیح نه دی؟

جواب: دا اختیار په اعتبار د ایراد او عدم ایراد سره دی او ایراد او عدم ایراد دواړه اعراض دي. نو حمل د وصف په ذات نه دی راغلې

نحو اعطیتکه: که دې ضمیر منصوب متصل لره اعتبار ورنه کړې د وجې د اتصال ددې نه د فعل سره نو بیا ضمیر ثاني متصل راوړه

نحو اعطیتك ایاه: که ضمیر منصوب متصل لره اعتبار ورکړې. اګر چې متصل ده لیکن بیا خو هم فاصل دی کنه. نو ضمیر ثاني به منفصل راوړې

ونحو ضربیك: مخکې ماتن یو مثال پیش کړو دلته نه دوهم مثال پیش کوي.

سوال: د وضاحت دپاره یو مثال کافي وو ؟

جواب: تعدد د امثلو بناء دی په تعدد د ممثلاتو باندې. هغه داسې چې اول مثال د فعل وو دا مثال دشبه فعل دی دوهم داچې په اول مثال کې اعرف ضمیر د مخاطب وو او دلته اعرف ضمیر د متکلم دی دریم دا چې اول مثال د هغې دی چې اعرف منصوب وي. او دلته اعرف

ضمير مجرور دی بيا شارح لفظ د نحو زيات کړو اشاره ده دې ته چې دا په هغه اعطيتکه باندې عطف دی او د نحو د لاندې دی

فانه اجتمع الخ: شارح تطبيق د مثال د ممثل سره کوي. په دې مذکور مثال کې دوه ضميره جمع دي او يو په کې هم مرفوع نه دی. ځکه اول مجرور دی بنابر اضافت او دوهم منصوب دی بنا بر مفعوليت، او هغه ضمير د اعرف مقدم دی، چې ضمير د متکلم دی، نو چې دې فصل لره اعتبار ورنه کړې نو ضمير ثاني متصل کړه، لکه مذکور صورت شو.

وَ قُدِّمَ الْاَعْرَفُ الَّذِيْ هُوَ ضَمِيْرُ الْمُتَكَلِّمِ فَلَكَ الْوَصْلُ بِاِعْتِبَارِ عَدَمِ الْاِعْتِدَادِ
او مخکې کړې شو ضمير اعرف چې هغه ضمير د متکلم دي نو تا ته جائز دي وصل په اعتبار د عدم اعتداد
بِالْفَصْلِ بِالْمُتَّصِلِ وَ لَكَ الْفَصْلُ نَحو ضَرْبِيْ اِيَّاكَ لِلْاِعْتِدَادِ بِالْفَصْلِ
د فصل په اتصال باندې او جائز دي تا د پاره منفصل کيدل لکه ضربي اياک چې اعتبار ورکړل شي انفصال
وَ اِلَّا اَيْ وَ اِنْ لَمْ يَكُنْ اَحَدُهُمَا اَعْرَفَ اَوْ يَكُوْنُ وَ لٰكِنْ مَا قَدَّمْتَهُ فَهُوَ اَيِ الضَّمِيْرُ الثَّانِيْ عَلٰى كُلٍّ
ته او که چيرته يو د ضميرينو اعرف نه وو او يا اعرف وو ليکن اعرف مقدم نه وو نو بيا به دوهم ضمير په هر
مِنَ التَّقْدِيْرَيْنِ مُنْفَصِلٌ لَا غَيْرُ اِمَّا عَلَى التَّقْدِيْرِ الْاَوَّلِ فَلِئَلَّا يَلْزَمَ التَّرْجِيْحُ فِيْ تَقْدِيْمِ اَحَدِ الْمِثْلَيْنِ عَلَى الْآخَرِ
حال منفصل وي نه بل بنابر تقدير اول چې لازم نه شي ترجيح بلا مرجح په تقديم د يو د مثالينو په اخر باندې
فِيْمَا هُوَ كَالْكَلِمَةِ الْوَاحِدَةِ بِلَا مُرَجِّحٍ وَ اِمَّا عَلَى التَّقْدِيْرِ الثَّانِيْ فَلِكَرَاهَتِهِمْ تَقْدِيْمَ الْاَنْقَصِ عَلَى الْاَقْوٰى فِيْمَا
په هغه ځای کې چې په شان د يوې کلمې دي او بنابر تقدير ثاني منع ده تقديم د انقص په اقوی باندې په هغه
هُوَ كَالْكَلِمَةِ الْوَاحِدَةِ نَحو اَعْطَيْتُهُ اِيَّاهُ مِثَالٌ لِمَا لَمْ يَكُنْ اَحَدُهُمَا اَعْرَفُ
ځای کې چې حکم يې د يوې کلمې دي لکه اعطيته اياه مثال د هغه دي چې يو د ضمائرو اعرف نه وي
لِكَوْنِهِمَا ضَمِيْرَيْنِ غَائِبَيْنِ اَوْ اَعْطَيْتُهُ اِيَّاكَ مِثَالٌ لِمَا يَكُوْنُ اَحَدُهُمَا اَعْرَفَ وَ هُوَ ضَمِيْرُ
ځکه چې دا دواړه د غائب ضمائر دي او اعطيته اياک مثال د هغه دي چې يو يې اعرف نه وي او دا ضمير
الْمُخَاطَبِ وَ لٰكِنْ مَا قَدَّمْتَهُ.
د مخاطب دي لکن اعرف مخکې نه دي.

اغراض د جامي : ولك الفصل: او که دې فصل لره اعتبار ورکړې، نو بيا ضمير ثاني منفصل کړه لکه ضربي ايك.

وان لم يكن الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: وروستو **فهو منفصل** جزاء ده او جزاء تقاضا د شرط کوي او مخکې خو شرط نشته صرف الاحرف ذکر دی؟

جواب: د الا استثنايي نه دی، بلکې دا په اصل کې ان لم يکن دی هغه فعل شرط حذف شو د وجې د دلالت د ما قبل نه په دې باندې بيا نون په لام سره بدل شو، ځکه دا قريب المخرج دی او لام په لام کې مدغم شو، او ميم يې په الف سره بدل شو. نو الا شو

فهو منفصل: دا جزاء ده بيا به ضمير ثاني منفصل راوړی شي وجوباً

على كلٍ من التقديرين: غرض د شارح دفع د وهم ده

وهم: چا به ويل چې دا منفصل به تعلق ساتي د نفي د دواړو سره مجتمعاً اوس که دا دواړه نفي نه وو، نو بيا به منفصل نه شي راوړی؟ شارح دا وهم دفع کړو چې دامنفصل د دواړو سره تعلق ساتي جدا جدا. که اعرف ضمير نه وو، نو هم به منفصل راوړی شي او که اعرف مقدم نه وو، نو هم به منفصل راوړی شي.

من غير: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا منفصل خو په خيار کې هم وو، نو ددې تقابل د هغې سره څنګه کوې؟

جواب: هلته انفصال جائز وو، خو اتصال ورسره هم وو او دلته صرف منفصل راوړل جائز دي، نو تقابل صحيح دی.

اما على للتقدير: غرض د شارح د اول صورت دپاره دليل ذکر کول دي. اول صورت دا دی چې دواړو ضمائرو کې يو ضمير اعرف نه وي نو ضمير ثاني به منفصل ځکه راوړي چې تقديم د احدالمثلين په مثل آخر رانه شي بلا مرجحه، هو چې مرجح وي، نو بيا تقديم جائز دی.

فيما هو كالكلمة: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: **اعطيته اعطيناه** کې خو تقديم د احدالمثلين په مثل آخر راغلې دی؟

جواب: دا دوه کلمې دي او مونږ وايو چې دا تقديم په کلمه واحد کې صحيح نه دی

واما على التقدير الثاني: غرض د شارح د دوهم صورت دپاره دليل ذکر کول دي. دوهم صورت دا وه ضميرينو کې يو اعرف وي ليکن اعرف مقدم نه وي. دې صورت کې به ضمير ثاني منفصل ځکه راوړی شي، چې تقديم د انقص په اقوای رانشي په يوه کلمه کې

فيما هو كالكلمة الخ: په دې عبارت سره شارح هم د يو سوال جواب ورکوي

سوال: اعطيته اعطيناه کې تقديم د احد المثلين په مثل آخر راغلی دی؟

جواب: مونږ وايو دا دوه کلمې دي او دا تقديم په کلمه واحده کې صحيح نه دي.

نحو اعطيته اياه: ماتن د اول صورت دپاره مثال ذکر کوي.

مثال الخ: شارح تطبيق کوي وايي دا مثال د هغه دی چې په دوه ضمائرو کې يو هم اعرف نه وي، ځکه دواړه ضمائر د غائب دي نو ثاني ضمير به وجوباً منفصل راوړی شي، لکه چې راوړی شوی دی.

اياك: ماتن د دوهم صورت دپاره مثال ذکر کوي.

او اعطيته: شارح ورسره دا لفظ راويستنه اشاره ده چې دا په اياه عطف دی، او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وي، په ما قبل د معطوف کې.

مثال الخ: شارح تعيين او تطبيق کوي. وايي دا مثال د هغه دی چې يو ضمير په کې اعرف وي، چې هغه دلته ضمير د مخاطب دی، ليکن هغه مقدم نه دی، نو ثاني به وجوباً دا منفصل راوړی شي.

غوره مذهب په باب د خبر د کان:

وَ الْمُخْتَارُ فِيْ خَبَرِ بَابِ كَانَ اَیْ خَبَرِ كَانَ وَ اَخَوَاتِهَا اِذَا كَانَ ضَمِيْرَ الْاِنْفِصَالِ كَمَا تَقُوْلُ
او غوره مذهب په باب د خبر د کان او د اخواتو د هغې کې چې کله ضمير وي انفصال دي لکه چې ته وايې
كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا وَ كُنْتُ اِيَّاهُ لِاَنَّهُ كَانَ فِي الْاَصْلِ خَبَرُ الْمُبْتَدَاءِ وَ يَجِبُ اَنْ يَّكُوْنَ خَبَرُ الْمُبْتَدَاءِ ضَمِيْرًا مُنْفَصِلًا
کان زيد قائما و کنت اياه ځکه دا په اصل کې خبر د مبتدا او دا ضروري ده چې خبر د مبتدا دي ضمير منفصل وي
لِاَنَّ عَامِلَهٗ مَعْنَوِيٌّ وَ يَجُوْزُ اَنْ يَّكُوْنَ ضَمِيْرًا مُتَّصِلًا اَيْضًا نَحْوُ كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا وَ كُنْتُهٗ لِاَنَّهٗ
ځکه چې عامل يې معنوي دي او دا هم جائز دي چې ضمير متصل شي لکه کان زيد قائما و کنته ځکه چې دا
شَبِيْهُ الْمَفْعُوْلِ وَ ضَمِيْرُ الْمَفْعُوْلِ فِيْ مِثْلِ ضَرَبْتُهٗ وَاجِبُ الْاِتِّصَالِ فَفِيْ تَشْبِيْهِ الْمَفْعُوْلِ
مشابه دي د مفعول سره او ضمير د مفعول په مثل د ضربته کې واجب الاتصال دي نو په مشابه د مفعول کې
اِنْ لَّمْ يَكُنْ وَاجِبَ الْاِتِّصَالِ فَلَا اَقَلَّ مِنْ اَنْ يَّكُوْنَ جَائِزَ الْاِتِّصَالِ لٰكِنَّ الْاِنْفِصَالَ مُخْتَارٌ لِاَنَّ رِعَايَةَ
که چيرته واجب الاتصال نه شي نو اقلاً جائز الاتصال خو کيدې شي لکن انفصال غوره دي ځکه چې رعايت

الْأَصْلِ أَوْلَى مِنْ رِعَايَةِ الْمُشَابَهَةِ بِالْمَفْعُوْلِ وَ الْأَكْثَرُ فِي الْإِسْتِعْمَالِ اِنْفِصَالُ الضَّمِيْرِ بَعْدَ
داصل غوره دي درعايت دمشابه بالمفعول نه زيات په استعمال کې انفصال دضمير دي وروستو د
لَوْلَا لِكَوْنِ مَا بَعْدَ لَوْلَا مُبْتَدَاءً مَحْذُوْفَ الْخَبَرِ تَقُوْلُ لَوْلَا اَنْتَ اِلَى آخِرِهَا يَعْنِي لَوْلَا اَنْتَ لَوْلَا اَنْتُمَا لَوْلَا
لولانه خکه چې مابعد دلولا مبتدا محذوف الخبر وي لکه لولاانت تر آخره يعني لو لا انت لولا انتما لولا
اَنْتُمْ لَوْلَا اَنْتِ لَوْلَا اَنْتُمَا لَوْلَا اَنْتُنَّ لَوْلَا هُوَ لَوْلَا هُمَا لَوْلَا هُمْ لَوْلَا هِيَ لَوْلَا هُمَا لَوْلَا هُنَّ لَوْلَا اَنَا لَوْلَا نَحْنُ وَكَانَ الْاَوْفَقُ
انتم لولا انت لولا انتما لولا انتن لولا هو لولا هما لولا هم لولاهي لولا هما لولاهن لولا انا لولانحن اوو موافق د
بِمَا سَبَقَ اَنْ يَّقُوْلَ لَوْلَا اَنَا لَوْلَا نَحْنُ اِلَى آخِرِهَا لٰكِنْ غَيَّرَ الْاُسْلُوْبَ تَنْبِيْهًا عَلَى
ماسبق سره چې وويل شي لولا انا لولا نحن ترآخره لکن مصنف اسلوب بدل کړودپاره دخبرورکولو په
اَنَّهُ لَيْسَ بِضَرُوْرِيٍّ وَ كَكَ الْاَكْثَرُ فِي الْاِسْتِعْمَالِ اِتِّصَالُ الضَّمِيْرِ الْمَرْفُوْعِ بَعْدَ
دې چې دااسلوب ضروري نه دي اوهمدارنگه زيات په استعمال کې اتصال دضمير مرفوع دي وروستو
عَسَى لِكَوْنِ مَا بَعْدَ عَسَى فَاعِلًا تَقُوْلُ عَسَيْتُ اِلَى آخِرِهَا.
دعسى نه خکه چې مابعد دعسى فاعل وي لکه عسيت ترآخره.

اغراض دجامي : والمختار: کله چې فارغ شو ماتن د درې احکامو د ضمېرينو نه، نو شروع يې وکړه په څلورم حکم کې چې هغه اختيارالانفصال دی، نو ماتن وايي چې مختار په باب د کان کې انفصال دی.

اى خبر کان الخ: غرض د شارح دفع د وهم ده. چا به ويل چې د باب نه به مراد مرضي باب وي. حالانکه دا حکم صرف د کان پورې خاص نه دی؟

جواب: شارح جواب وکړو چې مراد د باب نه اخوات د کان دی، چې صار وغيره دی نو هغې کې هم دغه حکم دی.

اذاکان ضميراً: دا قيد څکه لګوي چې کله خبر د کان اسم ظاهر وي نو هلته اتصال د سر نه جائز نه دی، بلکې انفصال متعين دی.

کان زيدٌ قائماً وکنت اياه: غرض د شارح خو مثال ذکر کول دي. اصل مقصود د کنت اياه دی دا اول جمله دې دپاره ذکر ده، چې د اياه ضمير مرجع معلوم شي. دې مثال کې خبر د کان ضمير راغلی دی، نو اتصال هم جائز دی، چې کنته وويلی شي او انفصال هم جايز دی، چې کنت اياه وويلی شي. البته دا انفصال اولی دی

لانه كان في الاصل الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح دليل د جوا الانفصال ذكر كول دي، حاصل يې دادی چې خبر د كان په حقيقت كې خبر د مبتداء وي او خبر د مبتداء چې ضمير وي، نو هلته انفصال واجب دی، ځكه د خبر عامل معنوي دی او اتصال د لفظي د معنوي سره محال دی، اوس چې كله كان داخل شو نو لفظ كې هغه اثر د عامل معنوي منسوخ شو. ليكن معنی كې خو هغه اثر شته. نو مونږ ددې حكم هم د وجوب نه جواز ته رابښكته كړو. نو كم از كم د منفصل راوړل جايز شو.

لانه شبيهٌ بالمفعول الخ: غرض د شارح د جواز الاتصال دليل ذكر كوي، حاصل د هغې دا دی، چې دا خبر د كان مشابه دی د مفعول به سره. لكه څنګه چې مفعول به منصوف وي، نو دا هم منصوب وي او لكه چې مفعول به مرتبه ثالثه كې وي، نو دا هم مرتبه ثالثه كې وي او لكه څنګه چې مفعول به فضله وي نو دا هم فضله وي او قانون دی، چې د ضمير مرفوع متصل نه وروستو ضمير د مفعول راشي نو اتصال واجب دی، اوس دلته خو دا ضمير مشابه د مفعول به سره دی، نو كه اجب نه وايو نو كم از كم دا اتصال خو به جائز شي.

لان رعاية الاصل الخ: غرض د شارح دليل د اختيارالانفصال ذكر كول دي، حاصل د هغې دادی چې ته مونږ خبر د مبتداء په اعتبار د حقيقت سره وايو او مفعول ورته د مشابهت د مقابله راشي، نو اصل لره ترجيح وركولی شي، نو انفصال مختاره شو.

سوال: په كار داوه، چې شارح د مشابهت په ځای عارض ويلی وی، ځكه د اصل مقابل عارض وي؟

جواب: په مشابهت كې دوه خبرې دي، په عروض او دليل دواړو دلالت كوي او عارض صرف په عروض دلالت كوي، نو كه عارض يې ذكر كړی وی، نو بيا دليل ته نه شامليده.

والاكثر: كله چې ماتن د دوه ضمايرو د بيان نه فارغ شو اوس ددغه مناسبت سره بعضې كلماتو سره كله ضمير متصل راځي او كله ضمير منفصل راځي، نو د هغې بيان كوي، ګنې دلته د اجتماع ضميرين خبره نشته، صرف د اتصال او انفصال په مناسبت سره دد بيان كوي.

في الاستعمال: غرض د شارح دفع د وهم ده، وهم چا ويل چې د اكثر نه به اكثر مذاهب مراد وي حالانكه دې كې خو مذاهب نشته؟ نو شارح هغه وهم دفع كړو چې مراد د اكثر نه په استعمال كې اكثر دی.

انفصال الضمیر الخ: غرض د شارح په ماتن سوال کول دي:

سوال: عبارت د ماتن کې اګر چې په اعتبار د ابتداء سره طوالت نشته، لیکن په اعتبار د انتهاء سره طول دی، ځکه الی آخرها دپاره به تول امثله پیش کوي، نو که دا عبارت یې داسې راوړی وی، **انفصال الضمیر الخ** نو دومره طول به نه راتلو؟

جواب: کلام د ماتن په نسبت د کلام د شارح سره اخصر دی، ځکه شارح **ممثل** ذکر کړی دی، او **ممثل** دپاره مثال ضروري وي، نو دې کې طول دیو او ماتن صرف مثال ذکر کړی دی او انتزاع د **ممثل** ترې کیدې شي.

لکون ما بعد لولا مبتداء: غرض د شارح د اکثرو دلیل ذکر کول دي، هغه دا چې ما بعد د لولا مبتداء وي، او مبتداء خو ضمیر منفصل وي، نو ځکه به ضمیر منفصل راوړی شي.

محذوف الخبر: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: مبتداء لره خو خبر په کار وي، نو ددې دپاره خبر څه دی؟

جواب: خبر ددې مخذوف دی.

تقول لولا انت الخ: غرض د ماتن مثال ذکر کول دي، یعنې لولا انت الخ شارح مثال تام کوي.

وکان الاوفق: غرض د شارح سوال ته تمهید ایخودل دي.

لکن غیر الاسلوب: په دې عبارت سره سوال طرف ته اشاره کوي او **تنبیهاً** سره جواب ته اشاره کوي:

سوال: چې **نحو** کې شروع د ګردان د متکلم نه کېږي لکه مخکې خو ځایه ذکر شو، نو دلته هم داسې په کار وه؟ څه باعث دی، چې ماتن دا اسلوب بدل کړو؟

جواب: د اسلوب بدلولو کې تنبیه دې خبرې ته ده، چې دا ترتیب ضروري نه دی. مقصد دا دی چې که هر ځای ابتداء په متکلم وشي، نو ساده ګان به وایي چې دا ترتیب فرض دی.

سوال: د مخاطب مذکر نه چې شروع کوي نو د مخاطب مونث نه به دې شروع کړې وه کنه؟

جواب: مخاطب مذکر وسط کې دی او **خیر الامور اوسطها** (الحدیث).

وکلة: دا **کلة** مخفف دي د **کذلك** نه، غرض د شارح اشاره کول دي، چې دا وروسته **لولاك** عطف دی په مخکې **لولا انت** باندې. او ما قبل د معطوف علیه معاد وي په ما قبل د معطوف کې نو

وكك: دا كك مخفف دي د كذلك نه ، غرض د شارح اشاره كول دي، چې دا وروسته لولاك عطف دى په مخكې لولا انت باندې او ما قبلْ د معطوف عليه معاد وي په ما قبل د معطوف كې نو دلته يې هم الاكثر في الاستعمال عبارت راوړو

لكون ما بعد عسى: د ما قبل خبر دليل ذكر كوي. چې عسى فعل دى، او ما بعد ددې فاعل وي او اصل په فاعل كې اتصال دى، نو ددې نه ما بعد ضمير به مرفوع متصل وي.

تقول عسيت: غرض د ماتن مثال ذكر كول دي.

وَ جَاءَ فِيْ بَعْضِ اللُّغَاتِ لَوْلَاكَ وَ عَسَاكَ إِلٰى آخِرِهِمَا فَذَهَبَ الْأَخْفَشُ إِلٰى اَنَّ الْكَافَ بَعْدَ لَوْلَا ضَمِيْرٌ
اوراغلي په بعضې لغاتوكې لولاک اوعساک تر آخره ذهاب كړي اخفش چې كاف وروستود لولانه ضمير
مَجْرُوْرٍ وَقَعَ مَوْقِعَ الْمَرْفُوْعِ فَإِنَّ الضَّمَائِرَ قَدْ يَقَعُ بَعْضُهَا مَوْقِعَ بَعْضٍ كَمَا تَقُوْلُ مَا اَنَا
مجرور دي چې واقع دي په ځاى د مرفوع ځكه چې ضمائر بعضې د نوروبعضوپر ځاى واقع كيږي لكه ما انا
كَاَنْتَ فَاَنْتَ فِيْ هٰذَا الْمُقَامِ مَعَ اَنَّهُ ضَمِيْرٌ مَرْفُوْعٌ وَقَعَ مَوْقِعَ الْمَجْرُوْرِ وَ ذَهَبَ سِيْبَوَيْهِ
كانت نو انت په دې ځاى كې سره ددې چې دا ضمير مرفوع دي واقع دي په ځاى د مجرور او ذهاب كړي سيبويه
إِلٰى اَنَّ لَوْلَا فِيْ هٰذَا الْمُقَامِ حَرْفُ جَرٍّ وَ الْكَافُ ضَمِيْرٌ مَجْرُوْرٌ وَاقِعٌ مَوْقِعَهُ فَالْأَخْفَشُ تَصَرَّفَ
چې لولا په دې ځاى كې حرف جر دي او كاف ضمير مجرور دي چې واقع دې د هغې پر ځاى نو اخفش تصرف
فِيْ مَا بَعْدَ لَوْلَا وَ سِيْبَوَيْهِ فِيْ نَفْسِهٖ وَ اَمَّا عَسَاكَ فَذَهَبَ الْأَخْفَشُ
كړي په مابعد د لولا كې او سيبويه تصرف كړي په نفس د لولا كې اوهرچې عساک دي نو ذهاب كړي اخفش
إِلٰى اَنَّهُ ضَمِيْرٌ مَنْصُوْبٌ وَاقِعٌ مَوْقِعَ الْمَرْفُوْعِ وَ سِيْبَوَيْهِ إِلٰى اَنَّ عَسٰى مَحْمُوْلٌ عَلٰى
چې دا ضمير منصوب دي چې واقع دي په ځاى د مرفوع او ذهاب كړي سيبويه چې عسى محمول دي په
لَعَلَّ لِتَقَارُبِهِمَا فِي الْمَعْنٰى فَهٰهُنَا اَيْضًا اَلْأَخْفَشُ تَصَرَّفَ فِي الضَّمِيْرِ وَ سِيْبَوَيْهِ
لعل دوجې د نزديكت د هغې دواړو نه په معنى كې نو دلته هم اخفش تصرف كوي په ضمير كې او سيبويه
فِي الْعَامِلِ وَ نُوْنُ الْوِقَايَةِ مَعَ الْيَاءِ اَيْ يَاءُ الْمُتَكَلِّمِ لَازِمَةٌ فِي الْمَاضِيْ إِذَا لَحِقَتْهُ تِلْكَ الْيَاءُ
په عامل كې اونون دوقايې سره د ياء متكلم نه لازمي ده په ماضي كې چې كله ورسره يوځاى شي دا ياء دي
لِتَقِيَ آخِرَ الْمَاضِيْ عَنِ الْكَسْرَةِ الْمُخْتَصَّةِ بِالْاِسْمِ الَّتِيْ هِيَ اُخْتُ الْجَرِّ وَ لِهٰذَا سُمِّيَتْ
د پاره چې وساتي آخر د ماضي د كسرې نه كومه چې خاصه د اسم ده چې هغه خور د جر ده د دې وجې نه مسمى

نُوْنُ الْوِقَايَةِ نَحْوُ ضَرَبَنِيْ وَ كَكَ نُوْنُ الْوِقَايَةِ لَازِمَةٌ فِي الْمُضَارِعِ لٰكِنْ لَا مُطْلَقًا بَلْ
شوه دا په نون وقايه سره لكه ضربني همدارنګه نون وقايه لازم دي په مضارع كې لک نه مطلقا بلكه په
حَالَ كَوْنِهٖ عَرِيًّا عَنْ نُوْنِ الْاِعْرَابِ اَيْ عَنْ نُوْنٍ هِيَ الْاِعْرَابُ نَحْوُ
هغه حالت كې چې كله خالي وي دنون اعرابي نه يعنې د هغه نون نه كوم چې په خپله اعراب وي لكه
يَضْرِبُنِيْ لِتَقِيَ آخِرَ الْمُضَارِعِ اَيْضًا عَنْ تِلْكَ الْكَسْرَةِ بِخِلَافِ كَسْرَةِ تَضْرِبِيْنَ لِاَنَّهَا فِي
يضربني دې دپاره چې وساتي آخر د مضارع د دغې كسرې نه په خلاف د كسرې د تضربين ځكه چې دا په
الْوَسْطِ حُكْمًا وَ بِخِلَافِ كَسْرَةِ لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ قُلِ الْحَقُّ لِعُرُوْضِهَا.
وسط كې ده حكماً او په خلاف د كسرې د لم يكن الذين كفروا او د قل الحق ځكه چې دا عارضي ده .

اغراض دجامي : وجاء في بعض اللغات: غرض د ماتن د والاكثر قيد فايده ذكر كول دي، وايي بعضې لغات كې لولاك عساك هم راغلي دي. د اعراب بحث د دواړو وروستو راځي

الى آخرهما: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال: څه وجه ده. چې ماتن اول دوه قسمونه په غايه واحد سره ذكر نه كړه، بلكې غايه يې جدا كړه او دلته يې دواړه په غايه واحد سره ذكر كړو؟

جواب:مخكې په لولا انت كې ضمير مرفوع منفصل دى او په عسيت كې ضمير متصل دى، نو هلته په غايه واحده سره نه شو ذكر كولى او دلته دواړه ضماير متصل دي، نو غايه واحده سره يې ذكر كړو. دوهمه وجه داده، چې كه هلته په غايه واحد سره ذكر شوي وو. نو واهم به وهم كوو. چې دا دواړه به يو قسم ضمير وي. نو د هغې د دفع د پاره يې جدا ذكر كړو او دلته خو هغه وهم څوك نه شي كولى، ځكه مخكې په غايه سره دواړه ضماير جدا شوي دي. نو دلته يې په يو غايه سره ذكر كړه

مذهب الاخفش: غرض د شارح دې دواړو ضمائرو په اعراب كې اختلاف ذكر كول دي، اخفش وايي چې په كار دا وه چې د لولا نه وروستو ضمير مرفوع وي او هغه منفصل وي. ځكه لولا نه وروستو ضمير مبتداء محذوف الخبر وي او مبتداء خو ضمير منفصل وي. ليكن دلته ضمير مجرور په ځاى د مرفوع راغلې دى او ضمائر ځينې د ځينو په ځاى واقع كيږي

كما تقول الخ: دې سره د ما قبل خبرې دپاره دليل پيش كوي. لكه ما انا كانت ويلى شي، دلته

اوس انت ضمير مرفوع په ځای د مجرور واقع شوی دی، ځکه که ضمير مجرور راشي، نو بيا پرې تلفظ بدليږي. لنډه خبره دا چې لولا هم هغه دی، چې ځان نه وروستو مرفوع غواړي خو دا له ضمير مجرور په ځای د مرفوع واقع شوی دی.

وذهب سيبويه الخ: سيبويه وايي دا لولا جاره دی او له ضمير مجرور په خپل ځای واقع دی.

فالاخفش: شارح تجزيه کوي، چې اخفش په ما بعد د لولا کې تصرف کوي او سيبويه په کلمه د لولا کې تصرف کوي، بيا مولانا عبدالغفور وايي چې مذهب د اخفش غوره دی، ځکه چې دده مذهب کې تغيير په خپل مقام کې راځي، او سيبويه تغير راولي مخکې د حاجت نه تغير ته او عصام وايي مذهب د سيبويه راجح دی، ځکه دده مذهب کې قلت تغيير راځي، او د اخفش مذهب کې کثرتِ تغيير راځي او قلت تغييز اولی دی د کثرت تغيير نه.

واما عساك الخ: په دې کې همدارنګې اختلاف دی اخفش وايي داضمير منصوب په ځای د مرفوع واقع دی او سيبويه وايي دا عسی محمول دی په لعل باندې. وجه د حمل داده چې دواړه په معنی کې يو بل سره نږدې دی او لعل نه وروستو ضمير منصوب وي، نو د عسی نه وروستو ځکه ضمير منصوب دی، په دې صورت کې دا عسی فعل نه دی بيا دې مقام کې هم اخفش په ما بعد د عسی کې تصرف کوي او سيبويه په کلمه د عسی کې تغيير کوي.

ونون الوقاية: ماتن احکام د ضمير ذکر کول څه مشترك او څه خاص، بعضې په احکام خاصه کې حکم د هغه ضمير د ياء متکلم دی، چې نون وقايه ورسره راځي.

تعريف د نون الوقاية: نون الوقاية هغه نون دی چې راوړی شي په اخر د کلمه کې مخکې د ياء ضمير د متکلم نه چې وساتي آخر تکی ددې د کسرې نه.

ای ياء المتکلم: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: ستا د کلام نه معلوميږي، چې دا نون د ياء سره په ماضي کې لازم دی، نو نقض دې راغلو په رِمَی رِمِیَ سره، چې دلته آخر د ماضي کې يآء ده او نون وقايه ورسره نشته؟

جواب: هره ياء مراد نه ده، بلکې مراد زمونږ ياء متکلم ده او دلته دا ياء د نفس کلمه نه ده.

لازمةٌ في الماضي: حکم اول دی، يعنې ماضي کې راوړل لازم دي.

اذ لحقته تلك اليآء: غرض د شارح دفع د وهم ده.

وهم: کیدی شي چې دا لزوم به صرف په تصور کې وي؟

جواب: شارح اشاره وکړه، چې په تلفظ کې هم دا، **نون وقایة** لازم دي.

سوال: په **لازمةٌ** کې نون ضمیر ته راجع دی او اسناد د لزوم هغه ځیز ته کېږي، چې مقدور المتکلم وي او د قبیلې د احداثو نه وي، او نون خو ذات دی او ذات خو مقدور المتکلم نه دي؟

جواب: دا نسبت لحوق النون ته شوې دی او لحوق د قبیلې د احداثو نه دی، او مقدور لمتکلم دی.

المختصة: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: د کسرې د ماضي سره څه ورانه ده، چې نونِ وقایه ددې د دفع دپاره راوړی شي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا کسره خاصه د اسم ده او خاصه هغه **ما یوجد فیه ولا یوجد في غیره** ته وایي. اوس که دا فعل کې هم راشي، نو بیا خاصه نه پاتې کېږي.

التي هي اخت الجر : په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: نه منم دا خبره چې کسره اسم سره خاص ده، ځکه **علم سمع** فعل دی او دې کې کسره راغلې ده؟

جواب: مراد د کسرې نه هغه ده چې خور د جرّ ده او کسره د جر هغه وي چې آخر د کلمه کې راځي او علامه د اعراب وي، او دا مذکور کسره خو د نفسِ کلمې نه ده.

سوال: کله چې کسره اسم سره خاص شوه او خاصه خو لا یوجد في غیره وي نو په کار ده چې نون وقایه باندې هم کسره رانه شي، ځکه نونِ وقایه خو هم اسم نه دی بلکې حرف دی؟

جواب: دا نون باندې چې کسره ده نو دا د اعراب هغه نه ده، ځکه اعراب خو ابتداء انتهاء غواړي او په یو حرف کې دا ابتداء انتهاء نه شي جمع کیدې لهذا ددې رجع کسره ذاتي ته کیږي نه که اعرابي ته.

ولهذا سمیت نون الوقایة: په دې عبارت سره شارح وجه دتسمیې بیانوي.

وفي المضارع: کله چې فارغ شو ماتن د اول مقام د لزوم د نون وقایه نه، نو شروع یې وکړه په دوهم مقام د لزوم کې نو وې ویل چې فعل مضارع کې هم نون وقایه راوړل لازم دي، خو مطلقاً

نه بلکې چې خالي وي د اعراب نه.

وكذلك نون الوقاية لازمة: غرض د شارح اشاره کول دي، دې خبر ته چې دا عطف دی په فعل ماضي باندې او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وي. په ما قبل د معطوف کې. نو نون الوقاية لازمة عبارت يې راويستو، بيا كذلك سره يې اشاره وکړه چې دا عطف د قبيلې د مشبه نه په مشبه به باندې دی نه د قبيلې د مساوي نه په مساوي باندې. يعنې راتلل د نونِ وقايه په ماضي کې اعلی دي د راتلو نه په فعل مضارع کې، ځکه مضارع د اسم سره څه نه څه مشابهت ساتي او فعل ماضي هيڅ قسم مشابهت نه ساتي، بلکې دا مبني ده.

لكن لا مطلقاً: غرض د شارح دوه خبرې دي، يو دفع د وهم کوي

وهم: د راتلو چې دا وروستو قيد به اتفاقي وي؟

جواب: نو شارح ويل چې دا قيد احترازي دی. دوهم غرض د شارح علت د نصب ذکر کول، چې دا عريا حال دی.

سوال: ماتن دا مضارع په ماضي عطف کړو نو اعاده د في عامل يې ولې وکړه؟

جواب: دا اعاده د في عامل دپاره د دفع د وهم ده. وهم دا راتلو چې دا نون د ماضي او مضارع به يو شان وي؟ نو ماتن دا وهم دفع کړو چې داخان خان لره طريقې سره دی.

عرياً عن الاعراب: مطلب دا، چې که نون اعرابي وو، نو بيا راتلل د نونِ وقايه لازم نه دي. بلکې دغه نونِ اعرابي د هغې قائمقام کېږي.

سوال: څه وجه ده، چې نونِ اعرابي د نون الوقاية قائمقام کيږي او د نون جمع او نون د تثنيه دپاره نه قائمقام کيږي؟

جواب: د نونِ اعرابي د نون الوقاية سره مناسبت دی، په دې کې چې دا دواړه لفظي فائده ورکوي. ليکن د دواړو معنی نشته، نو په عدم د معنی کې مناسبت دی.

ای عن نون الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره بيان د اضافت کوي، چې دا اضافت بياني دی. دوهم غرض دفع د وهم ده، وهم دا راتلو چې مخکې نون الوقاية کې اضافت د سبب وو، مسبب ته نو دلته به هم دغسې وي، حالانکه دلته خو دغه اضافت نه صحيح کيږي؟

جواب: دا وهم به هله راتلو، چې دا اضافت لامي وی، حالانکه دا اضافت بياني دی، نو دغه

وهم نشته

نحو يضربني: غرض د شارح مثال د فعل مضارع نه ذکر کول دي. چې نون وقايه ورسره راغلې وي او د فعل مضارع آخر يې د کسره نه بچ کړې دی

به خلاف کسرة الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: تضربين فعل مضارع صيغه ده، او آخر ددې کې ېآء باندې کسره راغلې ده؟

جواب: حاصل دا دی، چې دا کسره آخر د فعل کې نه ده، ځکه دا يآء ضمير د فاعل ده او د وجې د اتصال نه کالجزء من الفعل دی. نو ګويا که دا کسره په وسط د فعل کې ده، او يآء د متکلم که يو ځای شي. نو چونکه هغه ضمير د مفعول دی. نو کالجزء من الفعل نه ګرځي. نو د کسرې ساتلو نه د فعل مضارع آخر لره دغه مقام کې نونِ وقايه راوړی شي

وبه خلاف کسرة لم يکن الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: لم يکن الذين کې خو په فعل مضارع باندې کسره راغلې ده او ضمير د فاعل هم ورسره نه دی متصل؟

جواب: دا کسره عارضي ده

حکم دانت او دلدن او داخواتو ددې :

وَ اَنْتَ مَعَ النُّوْنِ الْاِعْرَابِيَّةِ الْكَائِنَةِ فِيْهِ اَیْ فِي الْمُضَارِعِ وَ مَعَ لَدُنْ وَ اِنَّ وَ اَخَوَاتِهَا يَعْنِيْ اِنَّ وَ كَاَنَّ

وانت دهغه نون اعرابي سره چې کائن وي په مضارع کې اوسره دلدن او دان او داخوات دان چې هغه کان

وَ لٰكِنَّ وَ لَيْتَ وَ لَعَلَّ مُخَيَّرٌ بَيْنَ الْاِتْيَانِ بِنُوْنِ الْوِقَايَةِ لِلْمُحَافَظَةِ

ولکن او ليت ولعل دي اختيارشته په راتلودنون وقايه دپاره دحفاظت دحرکاتوبنائيه په غيرد لدن کې او

عَلَى الْحَرَكَاتِ الْبِنَائِيَّةِ فِيْ غَيْرِ لَدُنْ وَ عَلَى السُّكُوْنِ فِيْ لَدُنْ وَ بَيْنَ تَرْكِهَا تَحَرُّزًا عَنْ اجْتِمَاعِ النُّوْنَاتِ

دپاره دسکون په لدن کې او اختيارشته په پريخودلودنون وقايه کې دپاره دځان ساتلو د اجتماع دنوناتو

وَ لَوْ حُكْمًا كَمَا فِيْ لَعَلَّ لِقُرْبِ اللَّامِ مِنَ النُّوْنِ فِي الْمَخْرَجِ وَ حَمْلًا عَلٰى اَخَوَاتِهَا

نه اګر که حکماً ولې نه وي لکه په لعل کې له وجې دنزديکت دلام نون نه په مخرج کې او يا حمل شي په اخواتو

كَمَا فِيْ لَيْتَ وَ يُخْتَارُ لُحُوْقُ نُوْنِ الْوِقَايَةِ فِيْ لَيْتَ مِنْ بَيْنِ اَخَوَاتِ اَنَّ لِعَدَمِ

لکه په ليت کې او غوره شوې الحاق دنون وقايه په ليت کې په غيردنوروا خواتودان نه دوجې دنشتوالي

مَانِعٍ فِيْ ذَاتِهَا وَ الْحَمْلُ عَلٰى اَخَوَاتِهَا خِلَافُ الْاَصْلِ وَ فِيْ مِنْ وَ عَنْ وَ قَدْ وَ قَطْ وَ هُمَا
دمانع نه په ذات ددې کې اوحمل کول يې په اخواتو خلاف الاصل دي اوپه من اوعن اوقد اوقط اودا آخري
بِمَعْنٰى حَسْبُ لِلْمُحَافَظَةِ عَلَى السُّكُوْنِ اللَّازِمِ الَّذِيْ هُوَ الْاَصْلُ فِي الْبِنَائِيَّةِ مَعَ
دوه په معنى دحسب دي دپاره دحفاظت دهغه سکون چې لازم دي اوهمدا اصل هم دي په لنا کې سره د
قِلَّةِ الْحُرُوْفِ وَ عَكْسِهَا اَيْ عَكْسُ لَيْتَ لَعَلَّ فِي الْاِخْتِيَارِ فَالْمُخْتَارُ فِيْهَا تَرْكُ النُّوْنِ
کموالي دحروفو اوعکس دهغې يعني عکس دليت اولعل په اختيارولو کې نوغوره په دې کې ترک دنون
الثِّقْلِ التَّضْعِيْفِ وَ كَثْرَةِ الْحُرُوْفِ وَ يَتَوَسَّطُ بَيْنَ الْمُبْتَدَاءِ وَ
دي دوجې ددروندوالي دتضعيف اودکثرت دحروفونه اوپه مينځ کې راځي ضمير په مينځ د مبتدا او
الْخَبَرِ قَبْلَ الْعَوَامِلِ مِثْلُ زَيْدٌ هُوَ الْقَائِمُ.
خبرکې مخکې دعواملونه لکه زيدهوالقائم.

اغراض دجامي : وانت مع النّون: کله چې فارغ شو ماتن د يو حکم د نون وقايه نه، چې لزوم الاتيان وو، نو په دوهم حکم کې يې شروع وکړه، چې جوازالامرين سواءً دي.

للمحافظة: دا دليل د جواز الاتيان دی، حاصل د هغې دادی، چې کوم حرکت په آخر د فعل او حروفو کې راځي، نو هغه به په خپل حال پاتې شي او که نون وقايه نه راوړو، نو هغه حرکت به يې بدل شي لکه يضربون سره ياء ضمير د متکلم پيوست کړې او نون وقايه راوړې نو فتحه د نون اعرابي به په خپل حال پاتې شي، ورنه دغه فتحه به په کسرې سره بدلېږي.

سوال : په مضارع کې خو تثنيه هم ده، او هلته خو محافظت نشته، ځکه د تثنيه نون اعرابي خو مکسور وي، نو که نونِ وقايه راوړې او که نه، يو شی دی؟

جواب: دا حکم په اعتبار د اغلب سره دی او تثنيه مغلوب ده او مونږ وايو چې للاکثر حکم الکل.

في غير لدن: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: د لدن په آخر کې خو حرکت نشته، نو دلته خو دا وجه نه صحيح کېږي؟

جواب: دا مونږ علاوه د لدن دپاره دليل وايو.

وعلى السكون: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: په لدن کې نون اعرابي څه لره راوړی شي؟
جواب: په لدن کې نون وقايه محافظت د سکون کوي

وبين تركها الخ: غرض د شارح د ترك دپاره دليل ذکر کول دي، هغه دا چې اجتماع د نوناتو رانه شي بيا مراد د نونات نه جمع لغوي ده. دې سره دفع د يو سوال وشوه
سوال: نونات جمع ده او اقل د جمع درې وي. حالانکه دې مقاماتو کې خو درې نونات نه جمع کيږي، په غير د هغه صورت نه چې فعل مضارع کې نونِ تاکيد راشي؟
جواب: مراد د جمع نه جمع لغوي ده، چې مافوق الواحد ته وايي او دې هر مقام کې د نون وقايه راوړو سره کم از کم دوه نونونه جمع کېږي. يآء دا حکم يې په اعتبار د اکثر سره کړی دی يا حکم بنابر تغليب دی. يعني ان ان كان لكن کې اجتماع د نوناتو راتله همدارنګې په لدن کې يو نون د نفس کلمه دوهم نون وقايه او دريم دا لام په حکم د نون دی، نو ټولو سره مونږ دغه حکم ورکړو

ولو حكماً: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:
سوال: په لعل کې خو نه نونين شته او نه نونات شته، نو دې کې څنګه ترك د نون وقايه جائز دي؟
جواب: دلته حکماً اجتماع د نوناتو ده، ځکه لام نون قريب المخرج دي.

وحملاً على اخواتها: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:
سوال: په ليت کې خو تآء ده، نو دلته خو حکماً هم اجتماع د نوناتو نه راځي؟
جواب: دا حمل دی په هغه نورو اخواتو باندې طرداً للباب چې حکم د باب مختلف نه شي.

ويختار: کله چې فارغ شو ماتن د دوه احکامو د نون الوقاية نه، نو شروع يې وکړه په دريم حکم کې چې اختيار للحوق دی.
لحوق نون الوقاية: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:
سوال: دا ضمير د يختار نون ته راجع دی، نو دا نسبت د اختيار نون ته صحيح نه دی، ځکه نسبت د اختيار هغه څه ته کيږي، چې د قبيلې د احداثو نه وي او مقدور المتکلم وي او نون ذات دی او مقدور المتکلم نه دی؟

جواب: شارح جواب وکړو. چې دا نسبت د اختيار لحوق ته شوې دی او لحوق د قبيلې د احداثو نه دي او مقدور المتکلم دي

من بين اخوات: چونکه ليست او ليت کې تجنبس خطي وو. چا به وهم کوو چې دا به ليست وي، نو شارح دغه وهم دفع کړو. چې دا ليت دی کوم چې د اخوات ان نه دی

وفي من: ماتن ويلي و من و عن شارح ورسره في راويستو اشاره ده. چې دا عطف دی په ليت باندې دې کې هم اختيار د لحوق دی بيا ماتن و قد و قط ويلي وو. شارح واېي وهما بمعنى حسبُ غرض د شارح دفع د يو سوال ده:

سوال: دا قط او قط خو حروف دي. ددې ذکر دلته نه دی په کار. ځکه دا بحث د اسم دی؟

جواب: دا دواړه اسماء دي په معنی د حسب سره دي

اللام: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: سکون خو په لدن کې هم دی؟

جواب: زمونږ مراد لازم سکون دی او د لدن هغه سکون لازم نه دی. ځکه هغې کې نور لغات هم دي

الذي هوالاصل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: په کار داده چې نون وقايه په ان کان وغيره کې هم مختاره شوي وو. ځکه هلته به هم محافظت د فتحې راغلې و، هغه فتحه چې ددې سره لازم ده؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې هلته فتحه لازم ده په شان د سکون ددې الفاظو، ليکن دا سکون په بناء کې اصل دی، نو ددې محافظة امر مقصودي دی

سوال: په عبارت د متن کې تعارض دی په دې شان سره چې مخکې يې د ليت دپاره حکم د جوازالامرين ذکر کړو، او دلته يې ورلره اختيار اللحوق ذکر کړو؟

جواب: مخکې يو حکم د جوازالامرين وو، دلته ورلره دوهم حکم اختيار اللحوق ذکر کوي، نو هغه حکم هم دی او دلته يې ورسره دوهم حکم د اختيار بيان کړو. يا دا حکم په منزله د استثناء دی د سابق نه په حق د ليت کې

وعكسها: غرض د ماتن ځلورم حكم د نون وقایه ذكر كول دي، چې جوازالاتیان مع اختیار العدم دی.

لعل: یعنی لعل كې به نه راوړل مختاره وي

فالمختار: په دې عبارت سره شارح سره تفصیل كوي، دلیل د اختیار د ترك دادی، چې دا لام قريب المخرج د نون دی نو درې نونونه راجمع كېږي، چې سبب د ثقل دی ، بل طرف ته دده خپل حروف هم زیات دي

ويتوسط: كله چې فارغ شو د بعضې احكام خاصه د ضمير نه، چې ضمير د متكلم وو، نو شروع یې وكړه په بل خاص حكم كې، چې هغه ضمير فصل دی

تعريف دده ضمير: یعنې واقع كېدل په مینځ د مبتداء او خبر كې د ضمير مرفوع منفصل چې مطابق وي د مبتداء سره مخكې د عواملو نه وي او كه وروستو.

مثل زيد هوالقائم: غرض د شارح د قبل العوامل دپاره مثال پیش كول دي، دې مثال كې هو ضمير په مینځ كې د مبتداء او خبر كې راغلی دی او مخكې ترې عامل لفظي نشته.

وَ بَعْدَهَا اَیْ بَعْدَ الْعَوَامِلِ نَحْوُ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِیْبَ صِیْغَةٌ مَرْفُوْعٌ وَ لَمْ یَقُلْ
اووروستو دعواملونه لكه كنت انت الرقيب په مينځ ددوي كې راځي صيغه دمرفوع ونه ويل مصنف
ضَمِیْرٌ مَرْفُوْعٌ لِمَكَانِ الْاِخْتِلَافِ فِیْ كَوْنِهٖ ضَمِیْرًا مُنْفَصِلٍ مطابق لِلْمُبْتَدَاءِ
ضمير د مرفوع ځكه چې په كيدلو دضمير ددې كې اختلاف دي چې منفصل به مطابق وي دمبتدا سره
اِفْرَاداً وَ تَثْنِیَةً وَ جَمْعًا وَ تَذْكِیْرًا وَ تَانِیْثًا وَ تَكَلُّمًا وَ خِطَابًا وَ غِیْبَةً وَ یُسَمّٰی هٰذَا
په افراد او تثنيه اوجمع اوتذكيراوتانيث اوپه تكلم اوخطاب اوپه غيبوبت كې اونوم وركول كيږي دې
الْمَرْفُوْعُ فَصْلاً وَ ذٰلِكَ التَّوَسُّطُ لِیَفْصِلَ ذٰلِكَ الْمَرْفُوْعُ الْمُتَوَسِّطُ بَیْنَ كَوْنِهٖ اَیْ كَوْنُ الْخَبَرِ
مرفوع ته په فصل سره داځكه چې داجدأوالي راولي په مينځ دكيدلو ددې كې يعني په كيدودخبر كې
نَعْتًا وَ خَبَراً فِیْمَا یَصْلُحُ لَهُمَا ثُمَّ اِتَّسَعَ فَاُدْخِلَ فِیْمَا لَا
صفت اوخبر په هغه ځاى كې چې دهغوي اصلاح راولي بيافراخي راغله نوداخل شو په دې كې هغه چې نه
لُبْسَ فِیْهِ وَ ذٰلِكَ عِنْدَ اخْتِلَافِ الْاِعْرَابِ وَ كَوْنِ الْمُبْتَدَاءِ ضَمِیْرًا وَ غَیْرَ ذٰلِكَ بِالْحَمْلِ
وي التباس په دې كې اودا په وخت داختلاف دعراب كې اوكيدو دمبتدا ضمير اوغيرددې نه حمل دي
عَلٰی صُوْرَةِ اللُّبْسِ وَ شَرْطُهٗ اَیْ شَرْطُ الْفَصْلِ بِذٰلِكَ الْمَرْفُوْعِ اَنْ یَّكُوْنَ الْخَبَرُ مَعْرِفَةً لِاَنَّ
دې په صورت دالتباس اوشرط دانفصال په دې ضمير مرفوع سره داوي چې خبر به معرفه وي ځكه چې

اَلْفَصْلَ	اِنَّمَا	يَحْتَاجُ	اِلَيْهِ	فِيْهَا	اَوْ	اَفْعَلُ	مِنْ	كَذَا	لِالْحَاقِهِ	بِالْمَعْرِفَةِ

انفصال احتياج لري ضمير ته په معرفه کې او افعل هم دهمدې جنس څخه ده ځکه چې داملحقه ده ترمعرفې

لِاِمْتِنَاعِ اللَّامِ مِثْلُ كَانَ زَيْدٌ هُوَ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو وَاقْتُصِرَ عَلٰى مِثَالِ اَفْعَلَ مِنْ بَعْدِ

پورې ځکه چې لام نه داخليږي لکه کان زيد يفضل من عمرو او دا اقتصاريې وکړو په مثال د افعل وروستو

دُخُوْلِ الْعَوَامِلِ دُوْنَ الْمَعْرِفَةِ وَ دُوْنَ الْخَبَرِ قَبْلَ الْعَوَامِلِ لِاِسْتِغْنَائِهِمَا عَنِ الْمِثَالِ

دخول د عواملو په غير د معرفې او خبر نه مخکې د عواملو نه دوجې د استغناء د دې نه د مثال نه دوجې د

لِكَثْرَتِهِمَا.

زيات استعمال د دې نه.

خلاصه د متن:

اغراض د جامي : و بعدها اى بعد العوامل: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي ز

نحو كنت انت الرقيب: غرض د شارح د بعد العوامل دپاره مثال ذکر کول دي، د دې مثال کې انت ضمير فصل دي ت اسم او الرقيب خبر په مينځ کې راغلی دی او مخکې ترې فعل ناقص عامل لفظي ذکر دی، چې ت اسم کې يې عمل کړی دی.

سوال : اطلاق د مبتداء او خبر په مبتداء او خبر قبل العوامل حقيقت دی او بعد العوامل مجاز دی. او دلته ماتن دواړو صورتونو کې دې ته مبتداء او خبر وويل. نو دا نه ده مګر جمع په مابين د حقيقت او مجاز کې او دا خو صحيح نه ده؟

جواب: دلته مونږ جمع عموم المجاز کې کړې ده، عموم مجاز دې ته وايي چې د يو لفظ يو معنی حقيقي وي او بله معنی مجاز وي، او ته يوه دريمه معنی واخلې، چې د غه دواړه معاني د هغې افراد وي دلته مونږ د مبتداء او خبر نه مسند او مسند اليه مراد اخلو. او دا معنی حقيقي او مجازي دواړه د دې فراد دي.

دوهم جواب : يې دادی، چې دا جمع هله ناجائز ده، چې کله قرينه د تعيين د حقيقت او مجاز نه وي او چې قرينه وي، نو بيا جمع جائز ده، او دلته هم د حقيقت دپاره قبل العوامل او د مجاز دپاره بعد العوامل قرينه شته.

صيغة مرفوع: يعني په مينځ کې به يې ضمير مرفوع راوړی شي

ولم يقل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: د صيغه د مرفوع په ځای دې ضمير د مرفوع ولې ونه ويلو؟

لمكان الاختلاف الخ: په دې عبارت سره شارح جواب طرف ته اشاره کوي

جواب: حاصل دجواب دادی، چې په دې کې اختلاف دی، خليل صاحب ورته حرف وايي، او باقي ورته ضمير وايي، او د صيغې اطلاق په دې دواړو کېږي نو ده ځکه **صيغة** مرفوع وويل.

منفصل الخ: يعنې دا ضمير، چې څنګه د مرفوع دی نو دا شانته منفصل به وي او مطابق د مبتداء به هم وي، نو دلته څلور سوالات پيدا شو:

اول سوال: دا ضمير به مرفوع ولې وي؟

جواب: د وجې د مطابقت نه د مبتداء سره، ځکه مبتداء هم د مرفوعاتو نه ده او دا هم د مرفوعاتو نه شي.

دوهم سوال: دا ضمير مرفوع به منفصل ولې وي؟

جواب: ځکه چې اتصال متعذر دي د وجې د عامل معنوي نه، ځکه د عامل معنوي سره اتصال د لفظي نه کيږي او کنت کې عامل لفظي دی، ليکن دې سره يو ضمير متصل شوی دی، نو اوس که دوهم متصل کوو، نو نقصان دا راځي، چې تقديم د **احدالمثلين** په مثل آخر راځي.

دريم سوال: مطابق د مبتداء سره به ولې وي؟

جواب: ځکه چې دا ضمير عبارت د مبتداء نه دی.

څلورم سوال: مطابقت څنګه دی؟ ځکه چې ضمير خو اعرف د معارفو نه دی او مبتداء خو اعرف نه ده؟

جواب: هغه مطابقت شارح ذکر کړی دی، وايي **افراداً و تثنيةً الخ** دا مطابقت به دې اته شيانو کې مراد دی، کل امورو کې مراد نه دی. يعنې که مبتداء مفرد وه نو ضمير د مفرد به وي که تثنيه وه، نو ضمير به د تثنيه وي او که جمع وه، نو ضمير به هم د جمع وي.

وجه تسميه: هغه ماتن ذکر کړې ده **ويسمى فصلاً** دې ته ضمير فصل ځکه وايي، چې دا ضمير فصل راولي په مينځ د مبتداء خبر او موصوف صفت کې، ځکه چې دا ضمير نه وي، نو بيا وهم راځي. چې دا موصوف صفت دی او که مبتداء خبر

ليفعل: ماتن ليفعل ويلي وو، شارح وايي **ذلك التوسط** غرض د شارح متعلق راويستل دي د جار مجرور لپاره. وايي دا متعلق دى د يتوسط پورې. **يسمى** سره يې نه متعلق کوي، اګر چې دا قريب دى. وجه داده چې که تر يسمى متعلق شي نو لازمېږي. کون د اسامي معلولة بعلة او حال دا دى، چې اسامي معلول بعلةٍ نه وي.

ذلك المرفوع: غرض د شارح د يفصل ضمير مرجع متعين کول دي، او ضمير ورته نه وايي بلکې مرفوع ورته وايي. ځکه مخکې تېر شو چې ددې په ضمير کيدو کې اختلاف دى.

بين كونه: چونکه فصل امر معنوي دى. نو د کوم دوه شيونو په مينځ کې به فصل راځي؟ نو ماتن وايي په مينځ د خبر او صفت کې.

اى كون الخبر: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي.

سوال: کله چې ضمير خبر ته راجع دى، نو وروستو خو بيا هم خبر ذکر دى، دا خو تکرار لازم شو؟

جواب: دا اول خبر په معنى د مابعد سره دى لهذا تکرار نشته.

فيما يصلح لهما: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: نعت خو تابع دى او خبر د مرفوعاتو نه دى. همدارنګې په نعت کې درې واړه قسمه اعراب راځي، او خبر همېشه مرفوع وي. نو څنګه التباس راځي؟

جواب: دا هغه صورت دى، چې صلاحيت د دواړو لري. لکه زيدنِ القائم. دې کې [illegible] د خبر او صفت دواړو دى. نو ضمير فصل راوړل لازم دي.

ثم اتسع فادخل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: راوړل د ضمير فصل په هغه مقام کې، چې التباس د صفت او خبر راځي صحيح دي، ليکن کوم مقام کې چې صلاحيت د دواړو نه وي. لکه چې خبر منصوب [illegible] کنت انت الرقيب [illegible] مبتدا ضمير وي. او ضمير خو لا يوصف ولا يوصف به وي. نو دې مقامونو کې [illegible] راوړې؟

جواب: دا ضمير [illegible] دي په صورت د [illegible] طردًا للباب

شرطه: د ضمير فصل راوړو دپاره شرائط ماتن ذكر كړي دي. ماتن وايي شرط. شارح وايي اى شرط الفصل غرض د شارح د ضمير مرجع متعين كول دي

بذلك المرفوع: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال: دا خو خروج د بحث نه راغلو؟

جواب: مونږ بحث د دغه مرفوع نه كوو. خروج د بحث نه نشته

او افعل من كذا: يعنې خبر به معرفه يا افعل التفصيل مستعمل په من سره وي. نو معلومه شوه دا خبره چې كه خبر معرفه نه وه، يا اسم تفصيل مستعمل په من سره نه وو. نو ضمير فصل راوړو ته ضرورت نشته. بيا كله چې خبر معرفه وه، نو دا خبره معلومه شوه چې مبتداء به په طريقه اولى سره معرفه وي، ځكه دې نحاتو دا قانون وضع كړي دى. چې كله په يو كلام كې معرفه او نكره راجمع شي، نو معرفه متعين وي دپاره د ابتدائيت او نكره متعين وي د پاره د خبريت.

په دې سره دفع د يو سوال وشوه:

سوال: ماتن لره په كار وه چې ان يكون المبتداء والخبر معرفتين يې ويلي وى؟ ځكه د مبتداء معرفه كيدل هم شرط دي؟

جواب: كله چې خبر معرفه شو، نو مبتداء به په طريقه اولى سره معرفه دي

لان الفصل الخ: كله چې خبر هم معرفه وي، نو بيا ضمير فصل ته احتياج وي. ځكه چې نكره شو بيا خو ضرورت نشته.

لالحاقه: خبر چې اسم تفصيل مستعمل په من سره وي هلته به هم ضمير فصل راوړى شي. ځكه دا ملحق دى په معرفې پورې د وجې د امتناع د الف لام نه په دې باندې، بيا الف لام په معرفه ځكه نه داخليږي. چې تحصيل د حاصل راځي او په اسم تفصيل مستعمل په من باندې ځكه نه د اخليږي، چې د دې د استعمال درې طريقې دي. چې يو طريقې سره مستعمل شو. نو دوهمه ورسره نه شي جمع كيدې

سوال: په طاب الزيدان كې معرفه باندې الف لام راغلى دى؟

جواب: كله چې معرفه تثنيه او جمع شي. بيا الف لام راتلى شي ځكه نكره كرحه.

سوال: العبأس مفرد معرفه باندې الف لام راغلی دی؟

جواب: دلته الف لام تعريف فايده نه ورکوي.

سوال: دادې په معرفتين باندې قياس شي کنه، ځکه نحو کې د هر مسايل قياساتو سره ثابت دي؟

جواب: خبره دې صحيح ده، ليکنم دې دپاره مقيسي عليه اصل په کار دی او دلته مقيس عليه خلاف القياس ثابت دی، نو قياس د بل پرې نه شي کيدې.

مثل: مثالونه ماتن ذکر کړي دی.

کان زيدٌ هو افضل من عمرو: غرض د ماتن مثال ذکر کول دي.

واقتصر الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: په کار دا وه، چې ماتن څلور مثالونه ذکر کړي وې، يو د هغې چې مبتداء خبر دواړه معرفه وي او ضمير فصل قبل العوامل راغلی وی، دوهم د هغې چې مبتداء و خبر معرفي وي او ضمير فصل بعدالعوامل وي، دريم مثال د هغه چې اسم تفصيل مستعمل په من سره خبر واقع شوې وي قبل العوامل او څلورم چې خبر اسم تفصيل مستعمل په من سره بعد العوامل وي. حالانکه ماتن صرف د څلورم قسم مثال ذکر کړی دی؟

جواب: حاصل د جواب دا دی، چې دا اول درې امثله مشهور وو، نو هغه يې ذکر نه کړه او څلورم مثال مشهور نه وو، نو هغه يې ذکر کړو. دوهم جواب دا هم کيدای شي، چې هر کله خبر اسم تفصيل مستعمل په من سره وي او پس د عامل لفظي نه وي، نو د ضمير فصل راوړو نه دوه موانع دي يو دا چې اسم تفصيل مستعمل په من سره حقيقي معرفه نه ده دوهم دا چې اولی سره راوړی شي، ځکه هغې کې دغه مقدار سره موانع نشته.

وَلَا مَوْضِعَ لَهُ اَىْ لِلْفَصْلِ مِنَ الْاِعْرَابِ عِنْدَ الْخَلِيْلِ لِاَنَّهُ عِنْدَهُ حَرْفٌ عَلٰى صِيْغَةِ الضَّمِيْرِ وَ
اوځای نشته دپاره دفصل داعراب نه په نزد دخليل ځکه دده په نزد دا حرف دي په صيغې دضمير سره او
عِنْدَ بَعْضِهِمْ اِسْمٌ مَبْنِيٌّ لَا مُقْتَضٰى فِيْهِ لِلْاِعْرَابِ وَ لَا عَامِلَ لٰكِنَّ الْخَلِيْلَ اِسْتَبْعَدَ
په نزد د بعضو دا اسم مبني دي چې مقتضی د اعراب په کې نشته اونه دعامل لکن خليل بعيده ګرځولي
اِلْغَاءَ الْاِسْمِ فَذَهَبَ اِلٰى حَرْفِيَّتِهِ وَ بَعْضُ الْعَرَبِ يَجْعَلُهُ مُبْتَدَاءَ اَىْ يَسْتَعْمِلُهُ
لغوه ګرځول داسم نوذهاب يې کړي حرفيت دهغې ته اوبعضې عرب يې ګرځوې مبتدا يعنې استعمالوي

بِحَيْثُ يَحْكُمُ النُّحَاةُ بِكَوْنِهِ مُبْتَدَاءَ وَ إِلَّا فَالْعَرَبُ لَا تَعْرِفُ الْمُبْتَدَاءَ وَ الْخَبَرَ وَ مَا بَعْدَهُ خَبَرَهُ
په داسې شان چې حکم کې نحویان په کیدلو دهغې مبتدا ورنه عرف نه پیژني مبتدااوخبراومابعد خبر
لَقَوْلُهُ خَبَرُهُ إِمَّا مَرْفُوعٌ عَلَى أَنَّهُ خَبَرٌ وَ الْجُمْلَةُ حَالٌ أَوْ مَنْصُوبٌ عَطْفًا
ددې وي داقول چې دمصنف چې خبردایامرفوع دي بنابرخبریت جمله حال ده یامنصوب دي عطف دي
عَلَى ثَانِيْ مَفْعُوْلِيْ يَجْعَلُهُ وَ إِنَّمَا يُعْرَفُ مِنَ الْعَرَبِ جَعَلَهُ مُبْتَدَاء بِرَفْعِ مَا بَعْدَهُ فِيْ مِثْلِ كُنْتَ أَنْتَ
په دوهم مفعول د يجعل پيژندل شوې د عربو نه ګرځيدل ددې مبتدا په رفع د مابعد سره لکه كنت انت
الرَّقِيْبَ وَ عَلِمْتَ زَيْدًا هُوَ الْمُنْطَلِقُ وَ فِيْ بَعْضِ نُسَخِ الْمَتْنِ مُبْتَدَاءُ مَا بَعْدَهُ خَبَرُهُ بِدُوْنِ الْوَاوِ
الرقيب کې وعلمت زيدا هوالمنطلق بعضې نسخودمتن کې مبتدا ده چې وروستویې خبردي په غیردواونه
وَ حِيْنَئِذٍ فَالرَّفْعُ مُتَعَيِّنٌ وَ يَتَقَدَّمُ قَبْلَ الْجُمْلَةِ وَ إِيْرَادُ لَفْظِ قَبْلُ
دغه وخت کې بیارفع متعین ده اومقدم کیږي به مخکې دجملې نه نوراوړل دمصنف لفظ دقبل دپاره
لِتَاكِيْدِ التَّقَدُّمِ لِأَنَّ تَقَدُّمَ الضَّمِيْرِ عَلَى مَرْجِعِهِ غَيْرُ مَعْهُوْدٍ.
دتاکید تقدم ځکه چې تقدم دضمیرپه خپل مرجع غیرمحصور دي.

اغراض دجامي : ولا موضع له : ددې په ترکیب کې اختلاف دی، ماتن صرف دوه مذهبونه ذکر کړي دي، د خلیل مذهب دادی، چې دې لره محل د اعراب نشته.

ای للفصل: غرض د شارح د ضمیر مرجع متعین کول دي، چې ضمیر فصل ته راجع دی.

من الاعراب: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال : ته وایې دې لره موضع نشته، ولې نشته؟ دا په مینځ کې راغلی دی کنه؟

جواب: شارح جواب ورکړي چې من الاعراب ای في الاعراب، یعنې په اعراب کې ورلره ځای نشته.

سوال : اعراب خو امر معنوي دی هغې کې خو د هیڅ چا ځای نشته؟

جواب: په عبارت کې قلب دی، اصل داسې دی لا موضع للاعراب فيه یعنې دې دپاره محل د اعراب نشته.

لانه عنده حرف الخ : دلیل د خلیل ذکر کوي، چې دا د هغه په نزد حرف دی او حرف دپاره اعراب نه وي.

وعندبعضهم: شارح دوهم مذهب ذكر كوي. هغه دا چې دا هو اسم مبني دی، تقاضا د اعراب او د عامل نه كوي

سوال: خليل ولې دا خبره نه كوله؟.

جواب: لكن الخليل أستبعد الخ خليل ورته حرف ځكه وايي، چې كه اسم ورته ووايي، نو ملغی كول د اسم لازمېږي، او كه حرف ملغی شي، خير دی ليكن اسم نه شو ملغی كولی

دريم مذهب د كوفيانو دی. هغې وايي دا ضمير تاكيد ما قبل مبتداء دی. او څلورم مذهب د بعضې نورو دی. هغې وايي چې دا هو ضمير تاكيد د ما بعد خبر دپاره دی، ليكن دا دواړه مذهبونه ضعيف وو نو ماتن او شارح ذكر نه كړو.

وبعض العرب الخ: پنځم مذهب دادی، چې بعضې عرب دا هو ضمير مبتداء او ما بعد خبر ګرځوي، بيا دا دواړه مبتداء خبر جمله خبر د مبتداء ګرځوي.

اى يستعمله الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي.

سوال: عرب خو مبتداء خبر پيژني، نو هغې ته څنګه نسبت د جعل كېږي؟

جواب: شارح جواب وكړو، چې مطلب دادی، چې عرب يې استعمال داسې كوي، چې نحاة پرې حكم كولی شي، چې دا يو يې مبتداء او دا بل يې خبر مستعمل كړو.

و بعده خبر شارح په دې جمله كې دوه تركيبونه كړي دي: يو تركيب دا چې واو حرف عاطف ما موصوله بعده مضاف مضاف اليه ظرف په اعتبار د متعلق سره صله شوه، موصول صله مبتداء شوه او خبره ورلره خبر شو، مبتداء خبر جمله اسميه عطف ده په بعض العرب باندې، او دا جمله حاليه ده. معنی داده، چې بعضې عرب ګرځوي دې ضمير لره مبتداء په داسې حال كې چې هغه شی چې واقع وي پس ددې ضمير نه هغه په خبر وي

دوهم تركيب دا چې واو عاطفه ما بعده په تركيب كذايي سره عطف دی په مفعول اول د يجعل باندې او خبرا عطف دی، په مفعول ثاني د يجعل باندې، نو عطف د اسمينو شوې دی په معمولينو خو عامل يو دی، په دې صورت كې به دا منصوب شي بنا بر مفعوليت

و انما يعرف العرب الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: دا پته به موږ ته څنګه لګي، چې عربو دا ضمير مبتداء او ما بعد خبر استعمال كړی

دی، ځکه هغې خو تلفظ یو شان کوي؟

جواب: د هغې د پېژندو طریقه داده چې یو عربي نه تپوس وکړه چې په دې مبتداء خبر عامل لفظي داخل کړه او بیا یې ووایه، نو چې هغه تاته خبر مرفوع ووېل نو پوهه شه چې دغه ضمیر یې مبتداء او ما بعد یې خبر مستعمل کړو، لکه کنت انت الرقیب کې الرقیب مرفوع ووایي، همدارنګې په علمت زیدًا هو المنطلق کې المنطلق مرفوع ووایي.

وفي بعض نسخ المتن الخ: ځینې نسخو کې حرف عاطف نشته، په هغه صورت کې دا متعیین دی د دفع دپاره بنابر خبریت، ځکه دا به خبر ثاني شي. د مبتداء دپاره او خبر د مرفوعاتو نه وي.

ویتقدم قبل الجملة: کله چې فارغ شو مصنف د بعضې احکام خاصه د ضمیر نه . یا بالفاظ دیګر د بعضې خاص ضمائرو د تفصیل نه، چې یاء د متکلم او ضمیر فصل وو، نو اوس یې شروع وکړه په تفصیل د بل خاص ضمائرو د تفصیل نه، چې یاء د متکلم او ضمیر فصل وو نو اوس یې شروع وکړه په تفصیل د بل خاص قسم ضمیر کې، چې مذکر کې ورته ضمیر شان او مؤنث کې ورته ضمیر قصه ویلی شي.

تعریف ددې ضمیر: ماتن داسې کړې دی، چې ضمیر غائب بلا مرجع چې واقع وي، مخکې د جملې نه او د هغې تفسیر کیدې شي په یو جمله چې واقع وي، پس ددې ضمیر نه، مذکر کې ورته ضمیر شان او مونث کې ورته ضمیر قصه ویلی شي. نو په دې تعریف کې پنځه خبرې راغلې، اول داچې ضمیر به وي نو د اسم ظاهر نه احتراز وشو . دوهم دا چې د غائب ضمیر به وي، نو د مخاطب او متکلم نه احتراز وشو، دریم داچې بلا مرجع به وي د مرجع والاضمیر غائب نه احتراز شو. څلورم دا چې قبل الجملة به وي، نو د مفرد نه احتراز شو، پنځم داچې مفسر به یې جمله وي، په دې سره احتراز وشو د هغه ضمیر نه چې جمله یې تفسیر نه کوي.

وایراد لفظ قبل الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ستا دا عبارت صحیح نه دی، ځکه چې دا مشتمل دی په استدراك باندې او هر هغه عبارت چې شان یې دا وي، هغه صحیح نه وي، نو دا هم صحیح نه شو. دلیل د کبری خو واضح دی، ځکه استدراك ذکر کول د یو لفظ پس د بل لفظ نه بې د څه فائدې نه، او دا صحیح نه ده. دلیل د صغری دادی، چې یتقدم مخکې واقع کیدو ته وایې او د قبل هم دغه

مخکې معنی ده، نو استدراك راغلو؟

جواب: شارح هندي وايي چې نه منم دا خبره چې دا **قبلُ** بې فائدې ذکر دی، بلکې دا د تاکید دپاره ذکر دی.

سوال: تاکید خو د ضرورت په مقام راوړی شي نو دلته څه ضرورت دی؟

جواب: لان تقدم الضمير الخ يعنې چې يو سړی ووايي چې مخکې واقع کېږي، بلا مرجع، نو د مخاطب ذهن دا خبره نه راخلي، ځکه ضمير بلا مرجع نه وي، نو چې **قبل الجملة** ورسره راوړی شي او تاکيد راغلو، نو اوس به د مخاطب ذهن دا خبره واخلي.

وَلَا يُبْعِدُ اَنْ يُقَالَ مَعْنَى الْكَلَامِ وَ يَقَعُ مُتَقَدِّمًا مِنْ غَيْرِ سَبَقِ مَرْجِعٍ وَ ذٰلِكَ
اوبعيده نه ده چې وويل شي چې معنی د کلام واقع کيږي متقدمه په غير د مخکي والي د مرجع نه اودا په
بِحَسْبِ الْمَفْهُوْمِ اَعَمُّ مِنْ اَنْ يَكُوْنَ قَبْلَ الْجُمْلَةِ اَوْ لَا فَلِذٰلِكَ قَيَّدَهٗ بِقَوْلِهٖ
اعتبار د مفهوم عام ده ددې نه چې وي مخکې دجملې نه اويانه ددې وجې نه مقيد کړې دي قول خپل چې
قَبْلَ الْجُمْلَةِ اَيْ قَبْلَ هٰذَا الْجِنْسِ مِنَ الْكَلَامِ ضَمِيْرٌ غَائِبٌ يُسَمّٰى
قبل الجلمة يعنې مخکې له دې جنس د کلام نه مخکې به يې ضمير غائب وي چې مسمی کيږي په
ضَمِيْرُ الشَّانِ اِذَا كَانَ مُذَكَّرًا رِعَايَةً لِلْمُطَابَقَةِ لِاَنَّ الضَّمِيْرَ رَاجِعٌ اِلَيْهِ.
ضميرشان سره چې کله مذکروي دپاره درعايت دمطابقت ځکه چې ضميرراجع دي مطابقت ته.

اغراض د جامي: ولا يبعد الخ: غرض د شارح دوهم جواب ذکر کول دي، او دا جواب د شارح دی بيا بعيد سره تعبير د بُعد نه کيږي، ليکن دلته شارح دا لفظ کسر نفسی دپاره راوړی دی، حاصل د جواب دا دی چې صرف يتقدم کې په اعتبار د مفهوم سره عموم وو، هغه ضمير ته هم شامليدو، چې مخکې د مفرد فعل او شبه فعل نه ذکر کوي، حالانکه دغه قسمه ضمائرو ته ضمير شان او قصه نه شي ويلی، نو ده دغه تعميم دفع کړو، چې زما مراد صرف هغه ضمير دی چې قبل الجملة وي.

من غير سبق: مرجع دې قيد لره جواب کې څه دخله نشته، وروستو ددې فائده راځي.

ای قبل هٰذا الجنس: ددې قيد فائده هم وروستو را روانه ده.

من الکلام: دا بيان د هذا الجنس دی.

ضمیر: په دې سره احتراز شو دا اسم ظاهر نه.

غائب: په دې سره احتراز شو د متکلم او مخاطب نه، ځکه په هغې کې ابهام نه راځي. او مقصود د ضمیر نه ابهام راوستل دي، یو شی یو ځل مبهم ذکر شي او بیا ظاهر ذکر شي، نو ذهن کې ښه واقع شي او عظمت د هغه شي بیان شي.

ویسمّٰی: دا جمله معترضه ده په نزد د شارح باندې صرف د ضمیر د نوم دپاره راوړې شوې ده.

اذا کان مذکراً: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا دوه نومونه ورته ولې کېږدي؟

جواب: دا یو نوم د مذکر دپاره او دا بل د مؤنث دپاره دی.

رعایةً للمطابقة الخ: غرض د شارح رد کول دي په غایة التحقیق والا. هغه وایي چې دې ته ضمیر شان ځکه وایي، چې دا ضمیر راجع دی، هغه شان ته چې ذهن د متکلم وي او ضمیر قصه ورته ځکه وایي، چې دا ضمیر راجع دی هغه قصه ته چې ذهن د متکلم کې وي؟

رد: شارح پرې رد وکړو، چې دا تغییر د شان او د قصه ترې صرف د مطابقت دپاره شوی دی داسې نه ده، چې ګنې دا ضمیر هغه شان یا قصه ته راجع دی.

حکم د ضمیر د قصې:

وَ ضَمِيْرُ الْقِصَّةِ اِذَا كَانَ مُؤَنَّثًا وَ يُحْسِنُ تَانِيْثَهُ اِذَا كَانَتِ الْعُمْدَةُ فِيْهَا مُؤَنَّثًا لِتَحْصُلِ
اوضمیر قصه چې کله وي مؤنث اوښه کیږي تانیث دهغې چې کله عمده په کې مؤنث وي چې حاصل
الْمُنَاسَبَةِ يُفَسِّرُ ذٰلِكَ ضَمِيْرُ الْغَائِبِ لِاِبْهَامِهٖ بِالْجُمْلَةِ
شي مناسبت تفسیربه کیدې شي دضمیرغائب دوجې دابهام دهغې نه په هغې جملې سره چې کومه
الْمَذْكُوْرَةِ بَعْدَهُ اَىْ بِهٰذِهِ الْحِصَّةِ مِنَ الْجِنْسِ الْمَذْكُوْرَةِ وَ الظَّاهِرُ اَنَّ قَوْلَهُ يُسَمّٰى
ذکر وي وروستو د هغې نه یعنې په دغه حصه د جنس مذکوره نه ظاهره داده چې دا قول د مصنف یسمی
ضَمِيْرُ الشَّانِ وَ الْقِصَّةِ جُمْلَةٌ مُعْتَرِضَةٌ بَيَانٌ لِلْوَاقِعِ لَيْسَ دَاخِلًا فِىْ بَيَانِ الْقَاعِدَةِ فَاِنَّهُ
ضمیرالشاني الخ داجمله معترضه ده بیان دهغه واقعیت دي چې داخل نه دي په بیان دقاعده کې ځکه چې
لَا دَخْلَ لِلتَّسْمِيَةِ فِىْ هٰذَا الْحُكْمِ فَاِنَّهُ ثَابِتٌ سَوَاءٌ وَقَعَتْ هٰذِهِ التَّسْمِيَةُ اَوْ لَا وَ
دخل نشته تسمیې لره په دې حکم کې نو داحکم ثابت دي برابره خبره ده چې داتسمیه وي اوکه نه او

اَيْضًا يَلْزِمُ اِسْتِدْرَاکُ قَوْلِهٖ يُفَسِّرُ بِالْجُمْلَةِ بَعْدَهٗ فَعَلٰى هٰذَا لَوْ لَمْ يُحْمَلِ
همدارنګې لازميږي استدراک د قول د مصنف چې يفسر بالجملة بعده نو بناپردې که چيرته حمل نه شي
التَّقَدُّمُ عَلٰى مَا ذَكَرْنَا اِنْتَقَضَتِ الْقَاعِدَةُ بِقَوْلِنَا الشَّانُ هُوَ زَيْدٌ قَائِمٌ عَلٰى اَنْ يَّكُوْنَ هُوَ مُبْتَدَاءً
تقدم په على ماذكرنا باندې نو منقوضه به شي قاعده په دې قول زمونږ الشان هو زيد قائم چې هو مبتدا شي
رَاجِعًا اِلَى الشَّانِ وَ زَيْدٌ قَائِمٌ خَبَرًا عَنْهُ فَاِنَّهٗ يُصَدِّقُ عَلَيْهِ اَنَّهٗ ضَمِيْرٌ
راجع شي لفظ د شان ته چې په اول د کلمه کې دې او زيد قائم ترې خبر شي نو صادقيږي په دې چې دا ضمير
غَائِبٌ تَقَدَّمَ الْجُمْلَةَ مُفَسَّرٌ بِالْجُمْلَةِ بَعْدَهٗ فَاِنَّهٗ بِاِعْتِبَارِ رُجُوْعِهٖ اِلَى الشَّانِ
غائب دې مخکې د جملې نه او تفسيريږي شوې په وروستو جملې سره نو دا په اعتبار د رجوع د دې ضمير شان
لَا يَخْرُجُ عَنِ الْاِبْهَامِ بِالْكُلِّيَّةِ بَلْ اِنَّمَا يَرْتَفِعُ بِجُمْلَةِ زَيْدٍ قَائِمٌ كَمَا لَا يَخْفٰى.
نه وځي د ابهام نه بالکليه بلکې ابهام پورته کيږي جملې د زيد قائم نه کمالايخفى.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره د ضمير قصې حکم بيانوي.

اغراض دجامي: ويحسن تانيثه الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: کوم کلام کې چې مذکر او مؤنث راجمع شي، او داسې ضمير راوړې، نو ضمير شان به راوړې او که ضمير قصه؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې عمده ته به ګورې، اوس الکلمة لفظ کې الکلمة عمده دى، نو ضمير قصه به راوړې، اى انها كلمة لفظ وضع او چې مذکر وي نو ضمير شان به راوړې، دا صورت خپله معلوم شو.

يفسر ذلك الخ: دلته يو څو سوالات مخې ته راځي:

اول سوال: تفسير به دچا کوې؟

جواب: تفسير به د دغه غائب کېداى شي، اى ذلك ضمير الغائب.

دوهم سوال: نفسِ تفسير ولې کوې؟

جواب: دا تفسير يې د وجې د ابهام نه کيدې شي لا بهامو.

دريم سوال: تفسير په جملې سره ولې کوې؟

جواب : تفسير به يې په جملې سره ځکه کېږي، چې تفسير حکم ثابتولو ته وايي او حکم په مفرداتو سره نه ثابتيږي.

څلورم سوال : جمله به وروستو ولې وي؟

جواب : جمله به ځکه وروستو وي، چې دې سره تفسير کېږي.

پنځم سوال : د بهذه الحصة څه مطلب دی؟

جواب : د بهذه الحصة الخ سره غرض د شارح دفع د يو سوال ده :

سوال : ذکر د بفسّر بالجملة نه پس د قبل الجملة نه مستدرك دي، ځکه چې يو ضمير مخکې د جملې نه واقع وي، نو دا خبره معلومه ده چې دغه جمله به يې تفسير کوي او دوهمه دا چې د فصحاوو د قاعدې خلاف هم راغلی دی، ځکه چې يو شی يو ځل په اسم ظاهر سره ذکر شي نو دوباره هغه په اسم ظاهر سره ذکر کول د فصحاوو د کلام نه خلاف دي؟

جواب: دا بالجملة بعده مستدرك نه دي، بلکې دا تاکيد دی او توضيح د ما قبل جمله کوي.

دوهم جواب : دا چې مخکې جمله کې عموم وو او دا خاص جمله مفسره ده، ځکه تفسير جمله خبريه واقع کېږي. انشائيه نه واقع کېږي دې سره د بهذا الجنس ما قبل قيد فايده هم ښکاره شوه، چې هلته کې مطلق جمله مراد وه. او دلته يو نوع د جملې مراد دی، چې هغه جمله خبريه ده.

والظاهر الخ: غرض د شارح رد کول دي، په شارح هندي باندې، چې هغه دا وجه تسميه په تعريف کې داخل وايي، نو شارح پرې رد کوي، چې دا وجه تسميه په تعريف کې داخلول نه دي په کار. ځکه چې بيا يو څو نقصانات مخې راځي، چې هغه شارح په خپله وروستو ذکر کوي.

فانه لادخل الخ : دا په اولې طريقې سره رد کوي، حاصل د هغې دا دی، چې دې وجه تسميه لره دې قاعده کې هېڅ دخله نشته، که څوك دې ته ضمير شان او قسه ووايي او که نه وايي، ليکن دغه قاعده په خپل ځای ده، او که دا وجه تسميه مونږ تعريف کې داخل کړو، نو چې بيا دې ته څوك بل قسم نوم کېدي، نو بيا به دا قاعده نه وي، ددې نقصان د وجې دا وجه تسميه تعريف کې داخل نه ده.

و ايضاً الخ: دا په دوهمې طريقې سره رد كوي، حاصل د هغې دا دى، چې كه دا وجه تسميه مونږ په تعريف كې داخل كړو، نو **يفسر بالجملة** بيا مستدرك ګرځي، ځكه دې سره چې مونږ څه خارجو ، نو هغه په وجه تسميه سره وځي. او هغه دا چې **يفسر** سره مونږ د هغه ضمير غائب نه احتراز كوو، چې وروستو يې تفسير نه وي اوس چې دغه وجه تسميه مونږ تعريف كې داخل كړو، نو دې سره دغه قسم ضمير خارج شو، ځكه ضمير شان او قصه وايي هغه ضمير ته چې وروستونې جملې سره يې تفسير كيدې شي.

فعلى هذا الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: په كار ده چې **الشان هو زيدٌ قائمٌ هو** ضمير ته هم ضمير شان وويلې شي، ځكه دا هم ضمير د غائب دي، مخكې د جملې نه دي او وروستو جمله يې تفسير كوي؟

جواب: دې ته مونږ ضمير شان ځكه نه وايو، چې ددې مرجع ذكر ده او مونږ وايو چې ضمير شان به بلا مرجع وي.

فانه باعتبار الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: په **الشان هو زيدٌ قائم** كې په دې **هو** باندې تعريف د ضمير شان نه صادقيږي، ځكه دې كې ابهام نشته، نو ددې ويستلو څه ضرورت دى؟

جواب: ددې ابهام بالكليه رفع نه دى، ورنه وروستو جملې سره تفسير څه لره كوي. لهذا دې مخكې قيد بلا مرجع سره دغه خارج شو.

وَ يَكُوْنُ ضَمِيْرُ الشَّانِ اَوِ الْقِصَّةِ مُتَّصِلًا وَ مُنْفَصِلًا وَ اِذَا كَانَ مُتَّصِلًا يَكُوْنُ مُسْتَتِرًا وَ بَارِزًا عَلٰى حَسْبِ
اووي به ضميرشان ياقصه متصل يامنفصل نوكله چې متصل وي نوپټ هم وي اوښكاره هم موافق د
الْعَوَامِلِ فَاِنْ كَانَ عَامِلُهُ مَعْنَوِيًا بِاَنْ كَانَ مُبْتَدَاءً كَانَ مُنْفَصِلاً وَ اِنْ كَانَ لَفْظِيًا
عواملونوكه چيرته عامل يې معنوي وي په داسې شان چې مبتداوي نو وي منفصل اوكه عامل لفظي
يَصْلُحُ لِاِسْتِتَارِ الضَّمِيْرِ كَانَ مُسْتَتِرًا وَ اِلَّا بَارِزًا مِثْلُ هُوَ زَيْدٌ قَائِمٌ مِثَالٌ
وي نوصحيح كيږي دپاره دپټ والي دضميركه عامل پټ وي اوكه ښكاره لكه هوزيدقائم مثال دي د
لِلْمُنْفَصِلِ وَ كَانَ زَيْدٌ قَائِمٌ مِثَالٌ لِلْمُتَّصِلِ الْمُسْتَتِرِ وَ اِنَّهُ زَيْدٌ قَائِمٌ مِثَالُ الْمُتَّصِلِ الْبَارِزِ.
منفصل اوكان زيد قائم مثال دمتصل دي اوانه زيد قائم مثال دمتصل بارزدي.

اغراض د جامي : <u>و يكون ضمير الشان او القصة متصلاً و منفصلاً</u>: په دې عبارت سره د ضمير شان او د ضمير قصې اقسام بيانوي: ضمير شان او قصه په دوه قسمه دي: متصل او منفصل.

<u>**ضمير الشان او القصة**</u>: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال : په يكون كې ضمير ما قبل ضمير شان او قصه ته راجع دى او هغه دوه شيان دي، ضمير د تثنيې په كار وو، او دلته ضمير د مفرد دى نو مطابقت نشته؟

جواب: مثال ضمير ته راجع دى او هغه مفرد دى، يا كله چې يو دوه شيونه په لفظ د او سره ذكر شي، نو هغې ته ضمير د مفرد هم راجع كولى شي.

<u>**و اذا كان متصلاً الخ**</u>: غرض د شارح دفع د وهم ده. وَهم دا راتلو چې دا مستتر او بارز به ما قبل متصل او منفصل دواړو سره لګېږي، حالانکه دا خو صرف د متصل اقسام دي؟ نو شارح دا وهم دفع کړو، چې دا صرف د متصل سره لګېږي، او دا دواړه اقسام د متصل دي.

<u>**على حسب العوامل**</u>: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال : مونږ ته به څنګه پته لګېږي، چې دا ضمير متصل او دا منفصل دى يا دا مستتر دى او که بارز دى؟

جواب: د عامل نه پته لګي، كه عامل كې صلاحيت د متصل وو، نو ضمير به متصل وي او كه صلاحيت د منفصل په كې وو، نو ضمير به منفصل راځي. بيا كه د مستتر صلاحيت وو نو مستتر به وي او كه د بارز صلاحيت وو، نو ضمير بارز به وي.

<u>**فان كان عامله معنوياً الخ**</u>: شارح تفصيل د عواملو كوي، وايي كه عامل معنوي مبتداء ضمير واقع شي، نو هلته به ضمير منفصل وي او كه عامل لفظي وي او صلاحيت د استتار يې لرلو، نو ضمير مستتر متصل به وي او كه صلاحيت د استتار نه وو، نو ضمير متصل بارز به وي.

<u>**مثل هو زيدٌ قائمٌ**</u>. غرض د ماتن مثال ذكر كول دي.

<u>**مثال للمنفصل**</u>: غرض د شارح تعيين د ممثل كول دي، او بل غرض تطبيق د مثال دى. د ممثل سره او دريم غرض دفع د سوال ده:

سوال: مثال دپاره د وضاحت وي نو د وضاحت دپاره يو مثال هم كافي كيدو. نو زياتو مثالونو ته څه ضرورت وو؟

جواب: تعدد د امثله بناء دي په تعدد د ممثلاتو باندې

وحذفه منصوباً ضعيف: د ضمير دوه احكام ماتن ذكر كړي دي. په دې عبارت سره يې حكم اول ذكر كړو.

ضعيفه وجه:

وَ	حَذْفُهُ	عَنِ	اللَّفْظِ	بِإِضْمَارِهِ	لَا	نَسْيًا	مَنْسِيًا	حَالَ كَوْنِهِ

او حذف كول يې د لفظ نه په ضمير جوړولو سره نه دا چې حذف شي نسياً منسياً په داسې حال كې چې

مَنْصُوْبًا	ضَعِيْفٌ	اَيْ	جَائِزٌ	مَعَ	ضُعْفٍ	بِخِلَافِ	مَا	اِذَا	كَانَ	مَرْفُوْعًا	فَاِنَّهُ لَا

منصوب وي ضعيف دي يعنې جائز دي سره د ضعف نه په خلاف د هغې چې كله مرفوع وي نو بيانه دي

يَجُوْزُ	اَصْلاً	لِكَوْنِهِ	عُمْدَةً	اِمَّا	جَوَازُهُ	فَلِكَوْنِهِ	عَلٰى	صُوْرَةِ	الْفَضَلَاتِ وَ	اَمَّا ضُعْفُهُ

جائز بالكل دوجې د كيدونه عمده هرچې جواز د حذف دي نو دوجې د صورت د فضلاتو دي او هر چې

فَلِاَنَّهُ	حَذْفُ	ضَمِيْرٍ	مُرَادٍ	بِلَا	دَلِيْلٍ	عَلَيْهِ	لِاَنَّ الْخَبَرَ

ضعف ددې دي ځكه چې دا حذف د ضمير دي چې مراد شوې په كلام كې بلادليل په هغې ځكه چې خبر

كَلَامٌ	مُسْتَقِلٌّ	مِثَالُهُ	شعر	اَنَّ	مَنْ يَدْخُلُ	الْكَنِيْسَةَ	يَوْمًا ۞	يَلْقَ	فِيْهَا جَاٰذِرًا

كلام كې مستقل دي مثال يې په دې شعر كې هغه څوک چې داخليږي كنيسې ته يوه ورځ مخ به شي د

وَ ظِبَاءً ۞	اِلَّا	مَعَ	اَنَّ	الْمَفْتُوْحَةَ	اِذَا	خُفِّفَتْ	فَاِنَّهُ	اَيْ	حَذْفُهُ

وحشي غوائيانو او هوسو سره مخ شي مګر سره دان مفتوحه كله چې تخفيف وكړې شي ځكه يعنې چې حذف

بِنِيَّةِ الْاِضْمَارِ	هٰهُنَا	مَعَ كَوْنِهِ	مَنْصُوْبًا	لَازِمٌ	كَقَوْلِهٖ تَعَالٰى	وَ اٰخِرُ	دَعْوَاهُمْ	اَنِ الْحَمْدُ

د دې په نيت د اضمار سره دلته سره د كيدو د دې نه منصوب لازم لكه دا قول د الله تعالى واخر دعواهم ان الحمد

لِلّٰهِ	رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ	وَ	ذٰلِكَ	لِاَنَّهُ	لَئِنْ	خُفِّفَتْ	اِنْ	وَ اَنَّ	لِثِقْلِهِمَا	بِالتَّشْدِيْدِ الْوَاقِعِ

لله رب العالمين او دا ځكه چې تخفيف وكړې شو دان اوان دوجې د ثقل د هغې په تشديد سره چې كوم واقع

فِيْهِـمَـا

دي په دې كې

خلاصه دمتن: په دې عبارت كې په حذف د اضمار كې ضعيفه وجه بيانوي.

اغراض د جامي : عن اللفظ : غرض د شارح اشاره کول دي، چې دا حذف په معنی د تقدير سره دی.

باشارة : اشاره ده چې په نيت کې به دا ضمير پټ وي.

لانسيا منسيا : ځينې وايي چې نسيا هېر شوي ته ويلی شي. او منسيا تکيه کلام د پاره راغلی دی، لکه روتې موتې. او ځينې وايي چې نسيا هغه شی دی، چې صلاحيت د هېروالي په کې وي. او منسيا هغه ته وايي چې بالفعل حذف شوی وي

حال کونه : غرض د شارح د منصوباً وجه د نصب ذکر کول دي، چې دا منصوب دې بنابر حاليت.

اي جائز الخ : غرض د شارح دفع د وهم ده. او تفسير د ضعف کول ذي

وهم : دا راتلو چې چا به ويل چې دا ضعف به په معنی د ممتنع سره وي، نو دا به ناجائز وي؟

جواب : شارح دغه وهم دفع کړو. چې د ضعيف معنی دا چې جائز دی، ليکن سره د ضعف نه

بخلاف ما الخ : غرض د شارح د منصوباً قيد فائده ذکر کول دي، فائده داده چې کله چې ضمير شان مرفوع وي. نو بيا حذف د سر نه ناجايز دی، ځکه چې مرفوع عمده دی او حذف د عمده ناجايز دی.

سوال : مبتداء خو هم د مرفوعاتو نه ده او هغه خو کله کله حذف کېږي؟

جواب: حذف د مبتداء قليل دی او دوهمه وجه داده، چې حذف د مبتداء سره د قرينه او سد مسد نه وي، نو دا حذف د هغې کالحذف شو

اما جوازه الخ : چونکه شارح دوه دعوې کړې وې، يو دعوی د جواز د حذف دوهم دعوی د ضعف د حذف د هر يو دپاره دليل ذکر کوي، د اول دعوې د دليل حاصل دادی چې دا ضمير [illegible] فضله دی، او حذف د فضله جائز دی، بيا عين [illegible] وايي، ځکه حقيقت کې خو دا مبتداء دی. ليکن د عامل د وجې پرې نصب راغلی دی. نو صورتاً يې د فضله شو

او دليل د ضعف دادی. چې حذف د ضمير مراد بلا دليل راځي، او دا صحيح نه دی [illegible] د خبرې دا شو چې [illegible] فضله دی [illegible] بلا [illegible] جائز شي او چې [illegible] ذکورو، چې حذف د [illegible] نو بالکل د [illegible] نو [illegible] اختيار کړ او هغه دا چې ددې حذف [illegible] د ضعف نه.

لان الخبر الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: نه منم دا خبره چې حذف د ضمير بلا دليله راځي، بلکې دا حذف مع الدليل دی، ځکه ضمير شان، خبر لري. او هغه خبر دليل ددې دی چې ددې اسم حذف دی؟

جواب: شارح وايي کلام زمونږ په ضمير شان کې روان دی، او ضمير شان مخکې د جملې نه وي او وروستو جمله يې تفسير کړي اوس چې کله دا حذف شو، نو وروستو ددې نه جمله وي او جمله ځان لره مستقله وي هغه په چا دلالت نه کوي.

مثاله الخ: غرض د شارح مثال پيش کول دي، د حذف د ضمير شان سره د ضعف نه ، شاعر وايي:

ان من يدخل الكنيسة يوماً

يلق فيها جآذرا وظباً

په دې شعر کې ان په اصل کې انه وو، ضمير شان حذف شو، دا حذف ضعيف دی، ځکه حذف د ضمير مراد بلا دليل راغلی دی.

سوال: نه منم چې دې شعر کې د ضمير مراد بلا دليل راغلی دی، بلکې حذف د ضمير مراده مع الدليل راغلی دی او هغه داسې چې وروستو من ذکره دی او دا قرينه ددې ده، چې ددې ان اسم حذف دی، ځکه ان دپاره د تحقق راځي او من اسم شرط دی، او په مابين ددې دواړو کې منافات دي. ځکه شرط کې تردد دې او ان کې تحقيق دی؟

جواب: دلته ان قرينه د حذفيت د ضمير شان نه شي کيدای، ځکه ان کې احتمال ددې هم شته، چې دا په معنی د جير سره حرف ايجاب شي .

سوال: محل ددې په معنی د حرف ايجاب باندې بعيد دی؟

جواب: صحيح ده دا ما بعد جمله به په حذفيت د ضمير شان نفس دليل وي، خو دليل قوي نه شي کيدې. ځکه مونږ وايو دا حذف جائز دی سره د ضعف نه.

الا مع ان اذا خففت دا هغه دوهم حکم ذکر کوي. د ما قبل نه استثناء ده بيا ان کې د آتي سره تجنيس خطي وو نو شارح ووايل المفتوحة چې مراد مفتوحه دی

فانه ای حذفه: اشاره ده دې ته چې دلته هم حذف په معنی د تقدیر سره دی. بنیة الاضحار سره اشاره ده، چې نیت کې به موجود وي، نسیا منسیا به نه وي

مع کونه منصوباً: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: مخکې تا ویل چې دا ضمیر شان منصوب دی او فضله دی، او حذف د فضله ضعیف دی، نو دلته خو هم دا ضمیر شان منصوب دی، نو ددې حذف به هم ضعیف وي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې سره د منصوب کېدو نه دا حذف لازم دی. حاصل دا شو، چې حذف د ضمیر شان داسې حال کې چې منصوب وي، نه دی جائز په غیر د ضعف نه په یو وقت او اوقاتو کې مګر په هغه وخت چې ان مخفف وي نو بیا حذف یا لازم دی. (استثناء منقطع شوه) یا حذف د ضمیر شان سره د عامل نه لازم نه دی، مګر هغه وخت چې ددې عامل ان مخففه وي (استثناء متصل شوه).

کقوله تعالی: مثال د حذف د ضمیر شان د ان محففه سره پیش کوي، په دې مثال کې ضمیر شان حذف دی او قرینه پرې داده، چې **الحمد** مرفوع ویلې شوي دي.

وَ بَعْدَ تَخْفِيْفِهِمَا وَجَدُوْا اِنَّ الْمَكْسُوْرَةَ الْمُخَفَّفَةَ عَامِلَةً فِي الْمَلْفُوْظِ كَمَا قَالَ اللهُ تَعَالٰى
اوږوستو د تخفیف نه بیاموندو نحویانو ان مکسوره عامل په ملفوظ کې لکه الله تعالی فرمایلي دي
وَ اِنَّ كُلاًّ لَّمَا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ وَ لَمْ يَجِدُوْا اَنَّ الْمَفْتُوْحَةَ الْمُخَفَّفَةَ عَامِلَةً فِي الْمَلْفُوْظِ مَعَ اَنَّ اَنَّ الْمَفْتُوْحَةَ
وَاِنَّ كُلاًّ لَّمَا لَيُوَفِّيَنَّهُمْ او دوي و نه موندو چې ان مفتوحه دا عامل دي په ملفوظ کې سره ددې چې ان مفتوحه
اَقْوٰى شِبْهًا بِالْفِعْلِ مِنَ الْمَكْسُوْرَةِ فَهِيَ اَجْدَرُ بِالْعَمَلِ
ډیر قوي دي د جهته د مشابهت نه د فعل سره د ان مکسوره نه پس دا زیات لائق دي په عمل ورکولو سره چې
فَاِذَا لَمْ يَجِدُوْهَا عَامِلَةً فِي الْمَلْفُوْظِ قَدَّرُوْا عَمَلَهَا فِيْ ضَمِيْرِ الشَّانِ لِئَلَّا
کله دوي و نه موندل لفظ د ان عامله په ملفوظ کې نو مقدر کړو دوي عمل د ان په ضمیر شان کې دې د پاره
تَزِيْدَ الْمَكْسُوْرَةُ عَلَيْهَا عَمَلاً مَعَ اَنَّهَا اَجْدَرُ
چې زیادت د عمل د ان مکسوره رانه شي په ان مفتوحه باندې سره ددې چې ان مفتوحه زیاته لائقه ده په
بِهٖ وَ لَمْ يُجَوِّزُوْا اِظْهَارَ ذٰلِكَ الضَّمِيْرِ لِئَلَّا يَفُوْتَ التَّخْفِيْفَ
حق د عمل کې او جائز و نه ګرځولو دوي اظهار د دغه ضمیر دې د پاره چې فوت نه شي تخفیف کوم چې

اَلْمَطْلُوْبَ هٰهُنَا كَمَا يَدُلُّ عَلَيْهِ حَذْفُ النُّوْنِ وَ حَكَمُوْا بِلُزُوْمِ حَذْفِ
مطلوب دي دلته لکه څنګه چې دلالت کوي په دې باندې حذف دنون اوحکم وکړې شو په لزوم دحذف
ضَمِيْرِ الشَّانِ مَعَ اَنَّ الْمَفْتُوْحَةَ اِذَا خُفِّفَتْ.
دضمير شان سره دان مفتوحه چې کله مخفف شي.

خلاصه دمتن:

اغراض دجامي: **وذلك الخ**: د حذف د ضمیر شان په صورت د ان مخففه کې د لزوم دپاره دلیل ذکر کوي، د هغې دپاره یو څو ځایونه دي، ان او ان کې دا خلك تخفیف کوي. دا دواړه د فعل سره مشابهت ساتي، خو اَنّ قوي دی په مشابهت کې د فعل سره د اِنّ نه، اَن فرع د اَنّ ده او اِن فرع د اِنّ ده. فرع د اصل اصل وي او فرع د فرع فرع وي، اوس چې کلام عربي کې مونږ وکتل نو د اَنْ اسم حذف شوی دی او د اِنْ هغه نه دی حذف شوی. لکه اِنّ كلًّا لَّمّا نو د اصل نه اسم حذف شوی دی او د فرع نه، نه دی حذف شوی دا خو مزیدیت د فرع په اصل راځي، نو مونږ ووېل چې ان دپاره اسم ضمیر شان دی او هغه حذف دی وجوباً چې زیادت د فرع په اصل رانه شي.

ولم يجوزوا اظهار الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: دغه ضمیر ښکاره کوي، ولې نه؟

جواب: تخفیف فوت کېږي.

وحكموا بلزوم الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: زیادت ان مخفف من المثقل چې فرع ده په ان مخفف من المثقل چې اصل دی اوس هم راغلی دی. څکه ان عمل اسم ظاهر کې کوي او ان عمل په اسم ضمیر کې کوي؟

جواب: عمل د یو عامل په خپل معمول کې وجوباً دائماً اګر چې دا معمولي وي اصل دی د عمل کولو د یو عامل نه په خپل معمول کې جوازاً احیاناً دا معمول اسم ظاهر ولې نه وي.

بحث د اسماء اشاراتو:

اَسْمَاءُ الْاِشَارَاةِ اَیْ اَسْمَاءُ الْاِشَارَاةِ الْمَعْدُوْدَةِ فِي الْمَبْنِيَّاتِ بِحَسْبِ الْاِصْطِلَاحِ
اسماء الاشارات یعني هغه اسماء اشارات چې معدوده وي په مبنیاتو کې په اعتبار د اصطلاح هغه دي چې

مَا وُضِعَ اَىْ اَسْمَاءٌ وُضِعَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهَا لِمُشَارٍ اِلَيْهِ اَىْ لِمَعْنًى مُشَارٍ اِلَيْهِ اِشَارَةً حِسِّيَّةً بِالْجَوَارِحِ وَ

وضع شوې وي هرواحد د دوي نه دپاره ديوې معنى چې اشاره شوې وي هغې ته اشاره حسي په جوارحو او

الْاَعْضَاءِ لِاَنَّ الْاِشَارَةَ عِنْدَ اِطْلَاقِهَا حَقِيْقَةٌ فِي الْاِشَارَةِ الْحِسِّيَّةِ فَلَا يَرِدُ ضَمِيْرُ الْغَائِبِ وَ

اعضاوخکه چې اشاره مطلقا حقيقت دي په اشاره حسي کې نو سوال نه وارديږي په ضمير غائب او په

اَمْثَالُهُ فَاِنَّهَا لِلْاِشَارَةِ اِلَى مَعَانِيْهَا اِشَارَةً ذِهْنِيَّةً لَا حِسِّيَّةً وَ مِثْلُ

امثالو دهغې خکه چې دا دي دپاره داشارې دمعانيو دهغې په اشاره ذهني سره نه په حسي سره او په مثل

ذٰلِكُمُ اللهُ رَبُّكُمْ مِمَّا لَيْسَتِ الْاِشَارَةُ اِلَيْهِ حِسِّيَّةً مَحْمُوْلٌ عَلَى التَّجَوُّزِ وَ اِنَّمَا

د ذلکم الله ربکم دهغې قبيلې څخه دي چې نه ده اشاره دلته حسي داحمل ده په جواز او په تحقيق سره

بُنِيَتْ لِشُبْهِهَا بِالْحَرْفِ كَمَا سَبَقَ.

مبني کړې شوه دوجې دمشابهت نه دحرف سره څنګه چې مخکې تيرشو

خلاصه د متن : په دې عبارت سره داسماء اشاراتو اول تعريف کوي او وريسې په کې نور تفصيل بيانوي.

اغراض د جامي : اسماء الاشارات : کله چې فارغ شو مصنف عليه الرحمة د تفصيل د يو قسم د اسمآء مبنيو نه، چې مضمرات وو، نو شروع يې وکړه په تفصيل د دوهم قسم د اسمآء مبنيو کې چې اسمآء الاشاراة دي.

دلته دوه سوالات مخې ته راځي:

اول سوال : نفس تفصيل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصيل خو يو ددې وجې نه کوي. چې تفصيل بعدالاعمال **اوقع في الذهن** وي. دوهمه وجه داده، چې اسمآء الاشاراة تفصيل ته محتاج دي او مخکې يې تفصيل نه دی شوی او کوم شی چې تفصيل ته محتاج وي او تفصيل يې نه وي شوی. نو د هغې تفصيل په کار وي

دوهم سوال : تفصيل په دې مقام کې ولې کوي؟

جواب : تفصيل په دې مقام کې خکه کوي. چې اجمال کې هم په دې مقام کې واقع وو نو دلته هم د مضمرات پسې متصل کړو. چې تفصيل موافق د اجمال شي اجمال کې اسمآء اشاراة د مضمراتو پسې متصل څکه وو. چې ددې دواړو منځ کې په ډيرو وجوهو سره مناسب دي، يو خو ددې وجې چې دې دواړو کې يو څيز ته اشاره کيدې شي

سوال: بيا يې جدا ولې ذکر کوې؟

جواب: چونکه مضمراتو کې اشاره ذهنيه وي او اسمآء اشارتو کې اشاره حسيه وي. ددې وجې نه يې جدا ذکر کړو، دوهمه وجه د مناسبت داده چې د اسمآء اشاراتو نه اکثر اسمآء د مضمراتو سره وضع کې مشابهت لري، ځکه د دې وضع اکثر د درې حروفو نه کم وي.
دريمه وجه د مناسبت داده، چې وجه د بنآء کې د مضمراتو سره مشابه دي. دواړه کې احتياج موجود دى.

اى اسماء الاشارة المعدودة الخ: غرض د شارح دفع د وهم ده. وهم: دا راتلو چې **اسمآء الاشارة** نه به مراد دلته غير د هغه نه وي چې اجمال کې ذکر دي، نو لازمېږي خلاف د تفصيل د اجمال نه، او دا خو ښه خبره نه ده؟ شارح دغه وهم دفع کړو، چې مراد هم هغه اجمال والا **اسمآء اشاراة** دي او دليل په دې خبره دادى، چې معرفه کله معاد شي، نو ثاني عين اول مراد وي،
يا غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د يو سوال ده :

سوال : ته چې د اسمآء الاشارة کوم تعريف کوې نو دا صحيح نه دى، ځکه جامع نه دى او کوم تعريف چې شان يې دا وي، هغه صحيح نه وي، جامع داسې نه دى، چې **الاشاراة** لفظ ته نه شاملېږي، ځکه د هغې وضع دپاره د معنى د مشار اليه نه ده شوې؟

جواب: که لفظ د الاشارة وځي، نو وځي دې، ځکه مونږ تعريف د اسمآء اشاراتو کوو او دا لفظ د هغې دپاره نه دى وضع شوى.

بحسب الاصطلاح: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال :تعريف دې صحيح نه دى، ځکه اخذ د محدود په حد کې راغلى دى، او کوم تعريف چې داسې وي، هغه صحيح نه دى، دليل د صغرى دادى، چې ته وايې **اسمآء الاشارة** او وروستو لمشارٍ اليه وايې او هر مشتقي کې خپل مشتق منه موجود وي. نو دلته هم مشار اليه کې اشارة راغله، نو اخذ د محدود حد کې لازم شو؟

جواب: زمونږ د اول اشاره نه اصطلاحي اشاره مراد ده او دوهم نه لغوي او ددې دواړو منځ کې فرق دى، نو اخذ د محدود کې نه راځي.

اى اسماءٌ وضع الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: دا **ما** عبارت د څه نه وايې؟ د اسم نه به وايي يا د آسماء نه که د اسم نه عبارت شي، نو د وضع د ضمير سره مطابقت راغلو. ليکن حمل د تعريف په معرف نه صحيح کېږي، ځکه معرف کې اسماء ذکر دي. او تعريف کې مفرد شو او که د اسماء نه عبارت شي، نو محل صحيح کېږي، ليکن مطابقت نشته؟

جواب: ما عبارت د اسماء نه دی او اسماء مؤول دی په تاويل د **کل واحدٍ** سره، نو ضمير د مفرد ورته راجع کول صحيح دي، دا جواب شارح کړی دی. تذکير او افراد د ضمير د وضع په اعتبار د لفظ سره دی، ځکه قانون دادی، چې کله تعبير وشي، د جمع نه په لفظ **من** او **ما** سره نو هغې ته ضمير د مفرد په اعتبار د لفظ سره راجع کولی شې او ضمير د جمع په اعتبار د معنی سره او ضمير د واحده مؤنث په تاويل د **جماعةً** سره راجع کولی شې، دلته لحاظ د لفظ ساتلی شوی دی.

بل جواب دادی، چې دا **ما** عبارت د اسم نه دی او حمل صحيح دی، ځکه مراد جنس اسم دی او دجنس اطلاق په قليل او کثير ټولو کېږي.

اي لمعنىً: چونکه مشار اليه صفت وو نو هغې لره يې موصوف راويستو.

اشارة حسّيةً: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: تعريف دې مانع نه شو، ضمير د غايب پکې داخل شو، ځکه هغه هم يو معنی ده چې اشاره پرې کيدې شي؟

جواب: مونږ وايو، چې اشاره حسي پرې کيدې شي او ضمير د غايب کې اشاره ذهنيه وي.

بيا دا **ما** په منزله د جنس دې ټولو اسماوو ته شامل وو، **وضع لمشارٍ اليه** سره ټوله اسمآء مبنيات په غير د ضمير غائب نه خارج شو **اشارةً حسيةً** سره ضمير غائب خارج شو. جامع مانع تعريف حاصل شو، بيا پاتې شوه داخبره چې اشاره څه سره کيدې شي، نو شارح ويلي **بالجوارح** بيا چونکه **جوارح** جمع د **جارحةً** ده، صرف هغه اندامونو ته شامليده چې هغې سره زخم کيدې شي، حالانکه اشاره خو ټولو اندامونو سره کېدای شي، نو شارح وويل والاعضاء چې زما مراد ټول اندامونه دي او دا تفسير د ما قبل شو.

لان الاشارة الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي.

سوال: اشاره مطلقه ده او تا مقیده کړه په قید د حسّیةٌ سره نو تقیید دمطلق راغلو او دا خو مجاز دی. نو لازم شو تعریف کې استعمال د مجاز او مونږ دا ویلي دي، چې تعریفاتو کې به مجاز نه ځان ساتو؟

جواب: تعریف کې هغه مجاز منع دی، چې متعارف نه وي او چې کوم مجاز متعارف وي، هغه په منزله د حقیقت وي، نو استعمال یې جایز دی او اشاره چې هم مطلقه ذکر شي، نو اشاره حسي ته ذهن شي، ځکه مونږ دا قید ولګوو.

فلا یرد الخ: دا د دغه ما قبل قید فائده ذکر کوي، چې مونږ تفصیل سره ذکر کړه.

و مثل ذلکم الله الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: نقض دې راغلو په دې تعریف باندې په دې قول سره، چې **ذلکم الله**. اسم اشاره الله ته راجع ده او الله خو مشار الیه په اشاره حسّي سره نه ده؟

جواب: اشاره حسّي عامه ده حقیقتاً وي او که حکماً دلته اشاره حسّي حکماً مراد ده، یعنې ځنګه چې یو شی محسوس وي، حقیقتاً او اشاره ورته کېدای شي، نو الله هم دغسې حقیقتاً موجود دی.

تعریف داسماء اشاراتو:

وَ هِيَ أَيْ أَسْمَاءُ الْإِشَارَةِ ذَا حَالِ كَوْنِهَا لِلْمُذَكَّرِ الْوَاحِدِ وَ الْعَامِلُ فِي الْحَالِ مَعْنَى الْفِعْلِ الْمَفْهُومِ
او دا یعنې اسماء اشارت ذا دي کله چې وي د پاره د مذکر واحد او معنی په حال کې معنی د فعل ده چې فهمیږي
مِنْ نِسْبَةِ الْخَبَرِ إِلَى الْمُبْتَدَاءِ وَ لِمُثَنَّاهُ ذَانِ رَفْعًا وَ ذَيْنِ نَصْبًا وَ جَرًّا أَيْ
د نسبت د خبر نه مبتدا ته او د تثنیې د پاره ذان په حالت رفعي کې او ذین په حالت نصبي او جري کې یعنې
ذَانِ وَ ذَيْنِ حَالَ كَوْنِهِمَا لِمُثَنَّى الْمُذَكَّرِ قَدَّمَ لِيَكُوْنَ الضَّمِيْرِ أَقْرَبُ
ذان او ذین په حال کون د دې کې چې وي د پاره د مذکر مثنی مخکې راوړل شو دې د پاره چې شي ضمیر نږدې
إِلَى مَرْجِعِهِ وَ عَلَى هٰذَا الْقِيَاسِ وَ فِي التَّرْكِيْبِ الثَّلٰثَةِ الْبَاقِيَةِ فَقَوْلُهُ هِيَ مُبْتَدَاءٌ وَ
مرجع خپلې ته او بناء پر دې قیاس او په نورو درې ترکیبونو کې پس دا قول د مصنف چې هي مبتدا ده او دا
قَوْلُهُ ذَا مَعَ مَا عَطَفَ عَلَيْهِ مُقَيَّدًا كُلٌّ وَاحِدٍ مِنْهَا بِحَالٍ خَبَرٌ لَهُ وَ يَجِيْءُ
قول چې ذا سره د مانه عطف دي پر هغې تقید ده واحد شوې په حال باندې خبر دی د پاره د هغې او راځي

فِي بَعْضِ اللُّغَاتِ ذَانِ فِي جَمِيْعِ الْاَحْوَالِ الرَّفْعِ وَ النَّصْبِ وَ الْجَرِّ مِنْهُ قَوْلُهُ تَعَالٰى اِنَّ هٰذَانِ لَسَاحِرَانِ عَلٰى
په بعضي لغاتوکې ذان په ټولواحوالوکې درفع نصب جرکې لکه داقول دالله تعالى ان هذان لساحران په
اَحَدِ الْوُجُوْهِ وَ لِلْمُؤَنَّثِ الْوَاحِدَةِ تَا قِيْلَ هِيَ الْاَصْلُ فِي لُغَتِ الْمُؤَنَّثِ الْوَاحِدَةِ لِاَنَّهُ
يودځووجوهوسره اودپاره دمؤنث واحده تاء ده چاويلي چې تاء اصل ده په لغاتودمؤنث واحده کې خکه
لَمْ يُثَنَّ مِنْهَا اِلَّا هِيَ وَ ذِيْ وَ قِيْلَ هِيَ الْاَصْلُ لِكَوْنِهَا بِاِزَاءِ ذَا لِلْمُذَكَّرِ
چې تثنيه نه راځي دهغې مګرهمدا اوذي چاويلي چې دااصل دي خکه چې په مقابله ددې کې ذادمذکرد
فَيَنْبَغِيْ اَنْ يُنَاسِبَهَا وَ قِيْلَ هُمَا اَصْلَانِ وَ لِلْقَوْلِ بِاِصَالَتِهِمَا قُدِّمَتَا
پاره راځي نومناسب دي چې تناسب ولري دهغې سره اوچاويلي چې دواړه اصلي دي اوددې وجې مقدم شو
عَلٰى سَائِرِهَا لِفَرْعِيَّتِهَا .وَ تِيْ بِقَلْبِ الْاَلِفِ يَاءً وَ تِهْ وَ ذِهْ بِقَلْبِ الْاَلِفِ وَ الْيَاءِ هَاءً
په نوروټولودوجې دفرعيت ددې نه اوتي چې الف په ياء بدل شوي وته وذه چې الف اوياء په هاء بدل شوي
بِغَيْرِ وَصْلِ الْيَاءِ بِهَا وَ تِهِيْ وَ ذِهِيْ بِوَصْلِ الْيَاءِ بِهَا وَ لِمُثَنَّاهُ اَيْ مُثَنَّى الْمُؤَنَّثِ تَانِ فِي
په غيردوصل دياء نه دهغه سره وتهي وذهي په وصل دياء ددوي سره اودپاره دمثنى مؤنث راځي تان په
الرَّفْعِ وَ تَيْنِ فِي النَّصْبِ وَ الْجَرِّ وَ لَا يُثَنّٰى مِنْ لُغَاتِهِ اِلَّا تَا لِكَثْرَةِ
حالت رفعي کې اوتين په حالت نصبي اوجري کې اوتثنيه نه راځي دلغاتونه مګريواځي تاء دوجې دزيات
دَوْرِهَا عَلَى الْاَلْسِنَةِ وَ تَوَهُّمِ بَعْضُهُمْ مِنْ اِخْتِلَافِ اَوَاخِرِ ذَانِ وَ ذَيْنِ وَ تَانِ وَ تَيْنِ بِاِخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ
استعمال نه په لغاتوکې اووهم کړي بعضي داختلاف داخر ذان اوذين اوتان اوتين نه په اختلاف دعواملو
اَنَّـهَـا مُـعْـرَبَـةٌ.
ددوي چې دامعرب دي.

خلاصه دمتن:

اغراض دجامي: وهي: دا اسمآء اشاراة چې مخکې ذکر شوي ديو نسبت کيدې شي، دې ته د مجموعه هغه چې وروستو ذکر کيږي، بعضې په هغې کې دا دي، په حال کون ددې ذا کې چې دپاره د مذکر دي

ذا حال کونها: غرض د شارح د للمذکر جار مجرور دپاره اعراب محلي او متعلق ذکر کول دي، متعلق خو مونږ معنى کې راويسته. او ذا ورلره خبر ګرځي، خو يواځې ذا نه ګرځي. بلکې سره د ما بعد نه خبر ګرځي. خکه که يواځې دا خبر کړو. نو حمل د اخص په اعم راځي، او دا

صحيح نه ده، ځکه انحصار د اعم په اخص کې راځي، د دې وجې په ذا سره د ما بعد معطوفاتو نه خبر وايو

سوال: دلته عطف په ربط هم نه شو مقدم کولی، ځکه عطف په مفرداتو کې راځي، او دلته خو دا جمل دي. نو نتيجه دا شوه چې حمل د اخص دی په اعمم باندې، ځکه هی مبتداء او ذا خبر شو، او دا صحيح نه ده؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې للمذکر په اعتبار د متعلق سره حال دی، نو دا جمله نه شوه. بلکې مفرد شو او عطف د مفرد په مفرد صحيح دی، نو ذا سره د ما بعد معطوفاتو نه مجموعه خبر شو.

الواحد: چونکه دا مذکر په مفرد تثنيه او جمع کې مشترك وو، حالانکه دلته خو درې واړه نه دي مراد؟ نو شارح الواحد سره هغه نور دوه جدا کړه.

والعامل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: حال خو هيئت د فاعل يا مفعول بيانوي او دا خو خبر دی؟ حال دپاره لابدي وي د عامل نه. دې دپاره عامل څه دی؟

جواب: دا ذا فاعل د فعل معنوي دی، چې معلوميږي د نسبت د ذا نه مبتداء ته، چې هغه مونږ په معنی کې راويسته او تنسب اليها الخ اوس د نائب فاعل دی، او عامل هغه فعل معنوي تنسب دی، نو دواړه سوالات دفع شو.

سوال: ملا عصام وايي چې نسبت خو يواځې د ذا نه، نه کيږي، بلکې د مجموعه کېږي، نو صرف ذا څنګه نائب فاعل دی؟

جواب: مونږ وويل چې نسبت د مجموعه ماذکر ورته کيدې شي، او ذا په کې هم يو دی.

دوهم جواب: د سوال مذکور نه نورو شارحينو دا کړی دی، چې ذا خبر د مبتداء محذوفه دی. ای احدها ذا حال کونها الخ او هي دپاره خبر حذف دی. ای هي خمسةٌ ليکن شارح دغه جواب غوره نه کړو، ځکه دې کې کثرت حذف راځي، او دا جواب د شارح اګر چې دقيق دی، ليکن کثرت حذف په کې نه راځي

رفعاً: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: ذان او ذين دوه صيغې د تثنيه دپاره ولې دي؟

جواب: يو په حالت رفعي کې او دا بل په حالتِ نصبي او جري کې راځي

سوال: دا خو مبنيات دي او حالت رفعي نصبي خو په معرب کې راځي؟

جواب: تثنيه د اسماء اشاراتو معرب ده، اصل داده چې دا حالت رفعي او نصبي د وجې د وضع د واضح نه راغلې دی.

لمثنی المذکر: غرض د شارح د لمثناه ضمير مرجع متعين کول دي.

قدم الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: لمثناه حال دی دپاره د ذان وذين، او عامل ددې معنوي دی، نو لازم شو تقديم د حال په عامل معنوي او دا صحيح نه ده ځکه عامل معنوي ضعيف دی، نو دا خپل معمول مؤخر کې عمل کولی شي او مقدم کې نه شي کولی؟

جواب: تقديم د حال په ذوالحال باندې عامل معنوي کې ناجايز دی، خو چې حال نظر نه وي او که حال ظرف وو، نو د جمهورو په نزد تقديم ناجايز دی، او د فراء په نزد جائز دی، ځکه په ظروفو کې توسع دی او زمونږ کلام په مذهب د فراء بنآء دی.

سوال: اصل دادې چې ذوالحال په حال مقدم وي او چې حال مقدم شي نو دا خلاف الاصل راغلو او خلاف ته صيرورت د وجې د څه نکتې نه کېږي. دلته څه نکته ده؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا ضمير د حال اقرب شي خپل مرجع ته چې هغه مرجع المذکر دی.

ويجيئ الخ: غرض د شارح د عبادت ترکيب کول دي.

ويجيئ الخ: غرض د شارح په تثنيه د مذکر کې دوهم لغت ذکر کول دي، او هغه دا چې تثنيه په ټولو حالاتو کې په الف سره راځي ، او بل غرض دفع د سوال ده :

سوال: مونږ خو اوريدلې دي چې تثنيه په ټولو حالاتو کې په الف سره وي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې ماتن د اکثرو عربو مذهب ذکر کړی دی او دغه بل لغت دبعضې عربو دی، دا مشهور لغت نه دی.

الرفع والنصب الخ: په دې باندې درې واړه اعرابات جائز دي . چې مرفوع شي نو خبر د مبتداء به شي، لکه احدها الرفع، که منصوب شي نو مفعول به د فعل محذوفه به شي. اعنی الرفع او که مجرور شي، نو بیان به شي داحوال لپاره

منه تعالی الخ: او ددې لغت نه دا قول د الله تعالی دی ان هذان لساحران په یو د وجوهو ثلاثو کې، چې آنّ دی یا داسې ووایه چې دې آیت کې درې احتمالات دي. یو داچې انّ حرف د حروف ایْجاب نه دی او ما بعد به ځان لره مبتداء خبر شي، معنی به دا شي. هو! دا دواړه جادوګران دي ، دوهم داچې ان مخفف من المثقل دی او اسم یې ضمیر شان حذف دی، او ما بعد خبر دی او تفسیر د هغه ضمیر شان دی په دې مقام کې هم څه اشکال نشته. انّ حرف د حروف مشبه بالفعل نه دی. هذان اسم او لساحران ورلره خبر دی، په دې مقام کې دغه اشکال دي، چې هذان منصوب دی، نو بیا هذان په کار وو؟

جواب: نو شارح جواب ورکړو، چې دا په هغه لغت راغلی دی، چې د هغې په نزد درې واړو حالاتو کې اعراب تقدیري وي.

وللمونث الواحدة تا: ددې ځای نه بیان د دریمې صیغې کوي، او د هغې مثال هم ذکر کوي، بیا ددې دپاره څو لغات دي د هغې بیان به هم کوي هغه ټول اووه لغات دي، یو په کې تا دی، د ذا نه مو حرف ذال لرې کړو او تا مو راوړه. ځکه چې تآء دپاره د تانیث راځي، دوهم ذِیْ دی د ذا نه جوړ دی، هغه الف مو په یاء سره بدل کړو. ځکه یآء هم د تانیث دپاره راځي، لکه په تضربین کې یآء راغلې ده.

بیا په دې دواړو کې کوم اصل دی؟ دې باره کې درې مذاهب دي، شارح د درې واړو بیان سره د دلایلو نه کړی دی .

اول مذهب دادی تا اصل ده او دلیل دادی، چې تثنیه د مؤنث تان راځي که دا نور لغات اصل وي نو د هغې نه به تثنیه راغلې وه.

دوهم مذهب دادې چې ذِیْ اصل دی. ځکه دا په مقابله د ذا کې دی او کوم شی چې د مذکر مقابله کې وي، نو هغه اصل وي

دریم مذهب دادې چې دا دواړه اصل دي. ځکه ددې دواړو په اصالت دغه دلائل موجود دي

ولِلقول بإصالتهما الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:
سوال: کله چې دې کې دومره لغات وو، نو دا دوه يې ولې مقدم کړو؟
جواب: چونکه دا دواړه اصل دي، او هغه نور فرعيات دي، نو دا يې ځکه مقدم کړو.
وتي الخ: دريم لغت تي دی، ذا کې ذآل په تاء سره او الف په يآء سره بدل شو، څلورم لغت ته دی، ذال په تآء سره بدل شو او الف په هآء سره بدل شو، پنځم لغت ذهٔ دی، دې کې صرف الف په يآء سره بدل کړو. او هآء ځينې اوقاتو کې علامه دتانيث واقع کېږي، لکه ضاربهٔ کې په حالت وقف کې ضاربه ويلی شي.
بغير وصل اليآء بها: سره د وروستو دوه لغاتو سره مقابله ذکر کوي.
وتهي وذهي: شپږم لغت تهي دی هغه ذال په تآء سره بدل شو، او هاء يآء دواړه عوض د الف شو اووم لغت ذهي دی دلته صرف د الف په عوض کې هآء يآء راوړی شوه، او د يو حرف عوض کې دوه حروف راوړی شي، دې سره دريمه صيغه ختمه شوه، چې د هغې په مثال کې اووه لغات وو.
ولمثناه: دلته نه څلورمه صيغه د تثنيه مؤنث ذکر کوي سره د مثال نه.
اي مثنی المؤنث: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي، بيا د تثنيه مؤنث دپاره تان تين راځي.
يعني الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:
سوال: دې اووه لغاتو کې صرف د تآء نه تثنيه ول راځي؟
لكثرة دورها الخ: په دې عبارت سره شارح جواب ورکوي چې داتآء په ژبه کثر سره وارد کېږي، نو ځکه صرف ددې تثنيه رغله.
وتوهم بعضهم الخ: غرض د شارح يو خو بيان الاختلاف دی، اوبل غرض د شارح ترجيح د ما هو الراجح ده او دريم غرض دفع د سوال ده. بيان الاختلاف خو په دې شان سره کوي، چې تثنيه د مذکر او مؤنث کې اختلاف دی، بعضې نحاة وايي چې دا معرب دی او جمهور وايي چې دا مبني دی او هر چې ترجيح د ماهوالراجح ده، نو هغه يې مذهب د جمهورو لره ورکړی دی،

ځکه د بعضي نحاتو د مذهب نه يې په تو هم سره تعبير کړی دی او دوهم دا چې دليل د جمهورو يې ذکر کړی دی

او هر چې دفع دسوال ده نو هغه داسې ده چې.

سوال: راځي چې ذکر کول د ذان ذين او تان تين په دې مقام کې صحيح نه دي، ځکه دا بيان د مبني دی او دغه مذکور خو معرب دی؟

جواب: شارح جواب ورکړو، چې دې ته څوك معرب وايي هغه وهميان دي او د وهميانو خبرې لره څوك اعتبار نه ورکوي. بيا وجه د وهم داده، چې دا اختلاف د دې د آخر د وجې د اختلاف د عامل نه، نه دی، بلکې د وضع د واضع نه اتفاقاً راغلی دی، مقصود دې سره اعراب نه دی.

سوال: د تا سره څه دليل دی، چې وقوع د تثنيه په صورت د معرب کې اتفاقي دی او قصد د اعراب نه دی شوی؟

جواب: شارح وايي لوجود علة البنآء يعنې دليل دادی، چې علت د بنآء اوس هم موجود دی، چې مشابهت د حرف سره دی په احتياج کې.

وَ الْجَمْهُوْرُ عَلٰى اَنَّ هٰذَا الْاِخْتِلَافَ لَيْسَ بِسَبَبِ اِخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ بَلْ ذَانِ وَ تَانِ مَوْضُوْعَانِ
جمهورو وايي چې دا اختلاف دسبب د اختلاف دعواملو څخه نه دي بلکې ذان او تان وضع شوې دپاره د
لِتَثْنِيَةِ الْمَرْفُوْعِ وَ ذَيْنِ وَ تَيْنِ لِتَثْنِيَةِ الْمَنْصُوْبِ وَ الْمَجْرُوْرِ وَ وُقُوْعُهَا عَلٰى صُوْرَةِ الْمُعْرَبِ
تثنيې د مرفوع او ذين او تين وضع شوې دپاره د تثنيې د منصوب او مجرور او وقوع يې په صورت د معرب
اِتِّفَاقِيٌّ لَا لِقَصْدِ الْاِعْرَابِ لِوُجُوْدِ عِلَّةِ الْبِنَاءِ فِيْهَا وَ لِجَمْعِهِمَا اَىْ جَمْعِ الْمُذَكَّرِ وَ
اتفاقي دي نه دپاره د ارادې د اعراب ځکه چې علت د بناء په کې موجود دي او د پاره د جمع مذکرې او
الْمُؤَنَّثِ اُوْلَاءِ مَدًّا وَ قَصْرًا اَىْ مَمْدُوْدًا وَ مَقْصُوْرًا وَ اِذَا كَانَ مَقْصُوْرًا يَكْتُبُ بِالْيَاءِ وَ
مؤنثې اولاء راځي چې ممدوده وي او که مقصوره وي او چې کله مقصوره وي ليکل کيږي د ياء سره او
يَلْحَقُهَا اَىْ اَسْمَاءَ الْاِشَارَاةِ يَعْنِي يَدْخُلُ عَلٰى اَوَائِلِهَا عَلٰى سَبِيْلِ اللُّحُوْقِ وَ الْعُرُوْضِ بَعْدَ
پيوسته کيږي د اسماء اشاراتو سره يعنې داخليږي په اول د هغې په طريقې د لحوق او عروض سره وروستو د
اِعْتِبَارِ اِصَالَتِهَا حَرْفُ التَّنْبِيْهِ وَ هِيَ كَلِمَةُ هَا فَهُوَ لَيْسَ فِي الْحَقِيْقَةِ مِنْهَا وَ اِنَّمَا
معتبرولو د اصل د هغوي حروف د تنبيه او دا کلمه د هاء ده چې په حقيقت کې د هغوي څخه نه ده شمار بلکې

هُوَ حَرْفٌ جِئَ بِهِ لِلتَّنْبِيْهِ عَلَى الْمُشَارِ اِلَيْهِ قَبْلَ لَفْظِهِ كَمَا جِئَ بِهِ
دايوحرف راوړل شوي د پاره د خبردارئ په مشار اليه مخکې دلفظ دهغې نه لکه څنګه چې راوړل کيږي
لِلتَّنْبِيْهِ عَلَى النَّسَبِ الْاِسْنَادِيَّةِ كَقَوْلِكَ هَا زَيْدٌ قَائِمٌ وَ هَا اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ وَ يَتَّصِلُ بِهَا
دپاره دخبرداري په نسبتونو اسناديو سره لکه هاءزيد قائم اوهاان زيدا قائم اوپيوسته کيږي ددې پورې
اَیْ بِأَوَاخِرِ اَسْمَاءِ الْاِشَارَةِ حَرْفُ الْخِطَابِ وَ هُوَ الْكَافُ تَنْبِيْهًا عَلَى حَالِ الْمُخَاطَبِ مِنَ الْاِفْرَادِ
يعنې په آخر د اسماء اشاراتو پورې حرف دخطاب چې هغه کاف دي دپاره دخبرداري په حال د مخاطب د افراد
وَ التَّثْنِيَةِ وَ الْجَمْعِ وَ التَّذْكِيْرِ وَ التَّانِيْثِ وَ اِنَّمَا جُعِلَتْ هٰذِهِ الْكَافُ حَرْفًا لِامْتِنَاعِ وُقُوْعِ الظَّاهِرِ مَوْقِعَهَا
اوتثنيې اوجمع اوتذکير اوتانيث اووګرځول شو دا کاف حرف دوجې دامتناع دوقوع ظاهر په ځای ددې
وَ لَوْ كَانَتْ اِسْمًا لَمْ يَمْتَنِعْ ذٰلِكَ مِثْلُ ضَرَبْتُكَ وَبِكَ.
اوکه چيرته اسم وي بيا منع نه ده چې واقع شي لکه ضربتک وبک.

خلاصه دمتن: په دې عبارت کې دجمهورو خبره ذکر کوي.

اغراض دجامي: ولجمعهما: ددې ځای نه پنځمه او شپږمه صيغه بيانوي، او د هغې دپاره په يو مثال اکتفاء کوي.

ای جمع المذکر والمونث: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي.

مدًا و قصراً: دا دواړه منصوب دي بنا بر حاليت د ما قبل نه.

ای محدودا او مقصورا: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا اولاخو ذات دی او مدا و قصرا مصدر وصف دي، او دا د ما قبل دپاره حال دی، نو حال خو محمول وي په ذوالحال باندې او دلته خو حمل نه صحيح کيږي؟

جواب: دلته مصدر په معنی د مفعول سره دی، ځکه کوم ځای چې معنی مصدري نه صحيح کېږي هلته مصدر مبني للفاعل يا مبني للمفعول وي، دلته مبني للمفعول دی.

اذاکان مقصوراً يکتب بالياء: کله چې اولا مقصور وي، نو په آخر کې به الف مقصوره په صورت د ياء ليکلی شي، ځکه دا الف مجهول الاصل دی او کوم الف چې مجهول الاصل وي، نو هغه په صورت د ياء کې ليکلی شي، يو ددې وجې يائيات په نسبت د واوياتو سره کلام عربي کې ډېر دي، دوهم په دې وجه چې په ياء کې خفت دی او دريم په دې وجه چې کلام عربي کې داسې

کلمه نشته، چې اول کې ضمه او آخر کې واو راغلی وي، هو! چې ممدود وي، نو بیا په خپل صورت لیکلی شي، ځکه هغه علت ختم شو. او پس د اول همزه نه به دواړو کې واو راوړی شي، التباس رانه شي د الی جاره او الا استثنایي سره.

ويلحقها: په دې عبارت سره شارح احکام د اسمآء اشارات ذکر کوي، دا اول حکم دی، او هغه دا چې ددې اسمآء پورې حرف تنبیه کله کله ملحق کېږي، وروستو به دې تعیین وکړي، لکه ذا سره هاء راشي، نو هذا ویلی شي.

اى اسمآء الاشارة: غرض د شارح د ضمیر مرجع متعین کول دي.

يعني يدخل: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: لحوق خو آخر کې پیوست والي ته وایي او حرف تنبیه خو اول کې راځي؟

جواب: ذکر د لحوق او مراد ترې دخول دی. یعنې ذکر د خاص او مراد ترې نه عام دی.

على اوائلها: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: دخول خو هم عام دی، چې آخر کې داخل شي هغې ته هم شاملېږي؟

جواب: شارح تعیین د ماهو المراد وکړو، چې دخول د اوائلو مراد دی.

على سبيل اللحوق: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: کله چې مراد د لحوق دخول په اول کې وو نو لحوق سره ولې تعبیر کوي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا دخول په طریقه د لحوق سره مراد وو. یعنې لحوق اول اصل غواړي، نو دا حرف تنبیه به زائد وي، او هغه مدخول به اصل وي، نو دې اشارې دپاره لفظ ق راوړو

والعروض: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: لحوق خو ذکر د شي ته وايي په آخر کې او دا حروف تنبیه خو اول کې راځي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې لحوق نه مطلب دا چې دا اسمآء اشارات اصل دی او دا حرف تنبیه ورلره عارض دی

وهي كلمة ها: چا به ویل چې ټول حروف تنبیه به مراد وي، نو ده ویل چې صرف هاء حرف تنبیه

مراد ده.

وانما حرف الخ: مقصد دادی، چې په ابتداء کې هم کله کله هاء د تنبیه راځي. مثال یې دادی، لکه **ها زیدٌ قائمٌ ها ان زیداً قائمٌ**.

ویتصل بها: کله چې فارغ شو ماتن د یو حکم د اسمآء اشاراتو نه نو شروع یې وکړه په دوهم حکم د اسمآء اشاراة کې او هغه دادی، چې اسمآء اشارات سره کله کله حرف خطاب متصل کېږي.

باواخر: غرض د شارح دفع د وهم ده، چا به ویل چې څنګه مخکې لحوق په معنی د دخول سره وو، نو دلته به هم اتصال په معنی د دخول سره وي او دخول خو مخکې وروستو دواړو طرف ته راځي حالانکه حرف خطاب خو صرف آخر سره متصل کېږي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې اتصال نه مراد په آخر کې متصل کیدل دي.

اسماء الاشاراة: غرض د شارح د **بها** ضمیر مرجع متعین کول دي.

وهوالکاف: چا به ویل چې حرف الخطاب نه به **کلمة الخطاب** مراد وي، چې انت ده حالانکه هغه خو دلته نه راځي؟ شارح دا وهم دفع کړو، چې **حرف الخطاب** نه مراد دغه **کاف** دی.

تنبیها الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا حرف خطاب ولې متصل کوې؟

جواب: نو شارح جواب وکړو، چې دې سره مقصد دمخاطب حال معلومول وي، چې هغه مفرد دی که تثنیه ده که جمع دی. مذکر دی او که مؤنث دی، مثلاً **ذلك** اسم اشاره د مذکر ده او د **ك** نه معلوم شوه چې مخاطب یو دی.

وانما جعلت الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ته وایې چې دا کاف حرف دی نو ددې دپاره د تاسره څه دلیل دی؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دلیل دا دی چې که چیرته دا کاف اسم وي، نو وقوع د اسم ظاهر به ددې په ځای جائز وي، خو چې کله ددې په ځای وقوع د اسم ظاهر نه کېږي، نو معلومه شوه چې دا حرف دی. مثال دادی، چې **ضربتك** او **بك** کې د **کاف** په ځای اسم ظاهر راتلل صحیح کېږي او نو دې کاف ته به اسمي وایو، لیکن د ذلك د کاف په ځای اسم ظاهر نه

صحیح کېږي، نو دې ته کاف حرفي ویلی شي.

سوال: اضرب ولا تضرب کې چې دننه کوم ضمیر دی نو د هغې په ځای خو هم اسم ظاهر نه شي واقع کیدې، باید چې هغه دی هم حرف شي حالانکه هغې ته خو اسم ویلې شي؟

جواب: مراد زمونږ د ملفوظ حرف خبره ده او د اضرب ضمیر منوي دی.

سوال: اضرب دا ضمیر منوي خو هم حکماً لفظ دی؟

جواب: د اصل سوال نه جواب دادی، چې دې ته حرف خطاب ځکه وایو چې صلاحیت د مسند الیه په کې نشته. که دا اسم وي نو مسند الیه به راتلو، ځکه اسم مسند او مسندالیه دواړه واقع کیږي.

حروف خطاب:

وَ هِيَ اَیْ حُرُوْفُ الْخِطَابِ خَمْسَةٌ وَ الْقِیَاسُ یَقْتَضِي السِّتَّةَ وَ اشْتَرَکَ خِطَابُ الْاِثْنَیْنِ وَ رَجَعَتْ اِلٰی
اودا یعنې حروف دخطاب پنځه دي قیاس تقاضادشپږوکوي لکن شریک شوخطاب ددوواوراجع شو
خَمْسَةٌ مَضْرُوْبَةٍ فِيْ خَمْسَةٍ مِنْ اَنْوَاعِ اَسْمَاءِ الْاِشَارَةِ یَعْنِی الْمُفْرَدَ الْمُذَکَّرَ وَ الْمُؤَنَّثَ وَ مُثَنَّاهُمَا وَ جَمْعُهُمَا
پنځوته چې ضرب شوې په پنځونوعو داسماء اشاراتونه یعنې مفرد مذکر او مؤنث او تثنیه ددوي او جمع
وَ هِيَ سِتَّةٌ رَاجِعَةٌ اِلٰی خَمْسَةٍ لِاِشْتِرَاکِ جَمْعِهِمَا وَ اِنَّمَا قُلْنَا مِنْ
ددوي اوداشپږاقسام دي چې رجع یې پنځو ته کیږي ځکه چې جمع یې مشترکه ده او مونږوویل چې
اَنْوَاعِ اَسْمَاءِ الْاِشَارَةِ لِاَنَّ اَفْرَادَ الْمُفْرَدِ الْمُؤَنَّثِ تَرْتَقِیْ اِلٰی سِتَّةٍ فَیَکُوْنَ اَیِ الْحَاصِلُ مِنَ الضَّرْبِ خَمْسَةً
انواع داسماء اشاراتو ځکه چې افراد دمفرد مؤنث رسیږي شپږوته نووي به یعنې حاصل د ضرب نه پنځه
وَ عِشْرِیْنَ وَ هِيَ اَیْ تِلْکَ الْخَمْسَةِ وَ الْعِشْرُوْنَ ذَاکَ اِلٰی ذَاکُنَّ یَعْنِیْ ذَاکَ اِذَا اَشَرْتَ اِلٰی
ویشت اودا یعنې پنځه ویشت اقسام د ذاک نه تر ذاکن پورې یعنې ذاک چې کله ته اشاره وکړې پرې
مُذَکَّرٍ وَ خَاطَبْتَ مُذَکَّرًا وَ ذَاکُمَا اِذَا اَشَرْتَ اِلٰی مُذَکَّرٍ وَ خَاطَبْتَ
مذکرته او مخاطب کړې پرې مذکر او ذاکما چې کله ته اشاره پرې کوې مذکر ته او مخاطب کوې دوه
مُذَکَّرَیْنِ وَ ذَاکُمْ اِذَا اَشَرْتَ اِلٰی مُذَکَّرٍ وَ خَاطَبْتَ مُذَکَّرِیْنَ وَ عَلٰی هٰذَا الْقِیَاسِ ذَانِکَ وَ
دوه مذکر او ذاکم چې کله ته اشاره پرې کوې مذکر ته او مخاطب کوې ډېر مذکر او همداسې ذانک او
ذَیْنِکَ اِذَا اَشَرْتَ اِلٰی مُذَکَّرَیْنِ وَ خَاطَبْتَ مُذَکَّرًا اِلٰی ذَانِکُنَّ وَ ذَیْنِکُنَّ اِذَا

ذینک چې کله اشاره کوي دوه مذکرو ته او خطاب کوي مذکر ته تر ذانکن پورې او ذینکن کله چې ته
اَشَرْتَ اِلٰى مُذَكَّرَيْنِ وَ خَاطَبْتَ مُؤَنَّثَاتٍ وَ كَذَا الْبَوَاقِيْ يَعْنِيْ تَاكَ
اشاره وکړې ډیرومذکروته اومخاطب کوي ډیرمؤنثات اوهمداحکم دباقي نورودي چې هغه تاک دي
اِلٰى تَاكُنَّ وَ تَيْكَ اِلٰى تَيْكُنَّ وَ تَانِكَ وَ تَيْنِكَ اِلٰى تَانِكُنَّ وَ تَيْنِكُنَّ وَ اُولٰئِكَ بِالْمَدِّ وَ اُولَاكَ بِالْقَصْرِ اِلٰى
ترتاکن پورې اوتیک ترتیکن اوتانک اوتینک ترتانکن پورې اواولئک په مدسره اواولاک په قصرسره تر
اُولٰئِكُنَّ وَ اُولَاكُنَّ وَ اَمَّا ذَيْكَ فَقَدْ اَوْرَدَهُ الزَّمَخْشَرِيْ وَ الْمَالِكِيْ وَ فِي الصِّحَاحِ
اولئکن اواولاکن پورې اوهرچې ذیک دي هغه راوړې دي زمحشري اومالکي اوپه صحاح کتاب کې
لَا تَقُلْ ذَيْكَ فَاِنَّهُ خَطَاٌ وَ يُقَالُ ذَا لِلْقَرِيْبِ وَ ذٰلِكَ لِلْبَعِيْدِ وَ ذَاكَ لِلْمُتَوَسِّطِ
دي چې مه وايې ذیک ځکه چې داخطادي، ویل کیږي دا دنزدې دپاره اوذلک دلرې دپاره اوذاک دمتوسط
وَ اَخَّرَ الْمُتَوَسِّطَ لِاَنَّ التَّوَسُّطَ لَا يَتَحَقَّقُ اِلَّا بَعْدَ تَحَقُّقِ الطَّرَفَيْنِ.
دپاره اومتوسط يې ځکه وروستو کړو چې تحقق ددې نه راځي مګر وروستو دتحقق دطرفینو نه.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره حروف خطاب ذکر کوي چې حروف خطاب په پنځه قسمه دي.

اغراض دجامي : وهي: کله چې فارغ شو ماتن د دوه احکامو د اسمآء اشارات نه، نو شروع يې وکړه په اقسامو د اسمآء اشاراتو کې، اول تقسیم په اعتبار د لحوق د کاف خطابي سره دی په دې اعتبار سره د ضمائرو پنځه ویشت اقسام نقل کوي، ځکه د اسمآء اشاراة پنځه صیغې دي او حروف خطابه خو عقل وايي، چې شپږ شي، لیکن حرف خطابه د تثنیه مذکر مؤنث مشترك دي، نو پنځه حروف شو او هرې صیغې سره چې پنځه حروف راځي، نو ټول پنځه ویشت (۲۵) اقسام شو.

اى حروف الخطاب: غرض د شارح د ضمیر مرجع متعین کول دي، دوهم غرض دفع د یو سوال ده:

سوال: ظاهره داده، چې ضمیر مخکې حرف ته راجع دی نو مطابقت نشته په مینځ د ضمیر او مرجع کې؟

جواب: ددې نه خلکو ډیر جوابونه کړي دي تانیث د ضمیر په اعتبار د خبر سره دی او دا بنآء دی په هغه قاعده باندې چې کله ضمیر دائر شي په مینځ د مرجع او خبر کې نو رعایة د

خبر اولی دی، دلته رعایت د خبر ساتلې شوې دی. ضمیر اسماء اشارات ته راجع دی او هغه جمع مکسر ده، ضمیر د واحد مونث ورته راجع کیدې شي، معنی هغه حرف خطاب چې د اسماء اشارات سره ملحق کېږي، لیکن دا دوه جوابونه غیر ظاهر وو، نو شارح دریم جواب وکړو، چې ضمیر حروف الخطاب ته راجع دی او حروف جمع مکسر ده ضمیر د واحد مؤنث ورته راجع کیدې شي.

خمسةٌ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: قاعده داده، چې معدود مذکر وي، نو عدد مؤنث راوړی شي، او چې معدود په مفرداتو کې مونث وي، نو عدد مذکر راوړی شي، نو دې مقام حرف معدود دی او دا په اعتبار د ماصدق علیه سره مونث دی. لهذا عدد خمسٌ مذکر په کار وو؟

جواب: د حرف دا لفظ مذکر دی، نو ځکه عدد مونث راوړی شوی دی.

دوهم جواب: یا حرف مونث سماعي دی، نسبت د مذکر مؤنث دواړو ورته کیدې شي.

والقیاس الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: چې مخاطب په شپږ قسمه دي، نو په کار وه چې حروف الخطاب شپږ وي.

و اشترك الخ: سره جواب طرف ته اشاره کوي، چې چونکه حرف خطاب تثنیه مذکر مؤنث هغه شریك دی، نو دا پنځه شو.

من انواع الخ: غرض د شارح تعیین د خمسة کول دي، چې دا خمسة د څه نه دی؟ نو ده ویل چې د انواعو د اسمآء اشاره نه دی چې هغه مفرد مذکر. مفرد مؤنث تثنیه مذکر، تثنیه مؤنث، جمع مذکر او جمع مؤنث دی، لیکن د جمعې صیغه په اسمآء اشاراتو کې مشترك ده، نو ددې رجمع خمسة ته کېږي.

و انما قلنا الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: دادی، چې افراد د اسمآء اشاراة دې ولې ونه ویلو؟

لان افراد الخ: سره جواب طرف ته اشاره کوي، چې افراد موځکه ونه ویلو چې هغه خو د هر شی دی، صرف په واحده مونث کې شپږ لغات او افراد دي، چې حرف خطاب ورسره راځي.

سوال: په ځینو نسخو کې سبعةٌ ذکر دي؟

جواب: هغه نسخې صحیح نه دي، ځکه چې اووم لغت دي سره حرف خطاب راتلل صحیح نه دي.

فیکون ای الحاصل الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: ظاهره داده، چې ضمیر به خمسةٌ ته راجع وي دا خو مطابقت نشته؟

جواب: ضمیر الحاصل ته راجع دی او هغه مذکر دی. لهذا مطابقت نشته.

وهی ای تلك الخمسة والعشرون: غرض د شارح د ضمیر مرجع متعین کول دي.

ذاك الی ذاکن: یعنې چې اسم اشاره د مفرد مذکر وي او دغه پنځه قسمه حرف خطاب ورسره یو خای کړې، نو پېنځه اقسام شو ذاك ذاکما، ذاکم، ذاك، ذاکن.

ذانك الی ذانکن الخ: یعنې چې اسم اشارة د تثنیه مذکر وي او دغه پنځه قسمه حرف خطاب ورسره یو خای کړې، نو دا به هم پنځه قسم شي، لکه ذانك، ذانکما، ذانکم، ذانك، ذانکن.

یعنی تاك الی تاکن: یعنې چې اسم اشارة د مفرد مونث وي او دغه پنځه قسمه حرف خطاب ورسره یو خای ورکړې، نو دا به هم پنځه قسمه شي، یعنې تاك، تاکما، تاکم، تاكِ، تاکن، دا شاتته هغه نور. افراد ددې راواخله

وتانك و تینك الی تانکن و تینکن: یعنې چې اسم اشاره د تثنیه مونث وي او دا پنځه قسمه حرف خطاب ورسره یو خای کړې، نو پنځه قسمه حاصل کېږي، لکه تانك تینك، تانکما، تینکما، تانکم، تینکم، تانك، تینك، تانکن، تینکن.

و اولئك الخ: یعنې اسم اشاره د جمع مذکر مونث وي او دغه پنځه قسمه حرف خطاب ورسره یو خای کړې، نو پنځه قسمه به حاصل شي، لکه اولئكَ، اولئکما، اولئکم، اولئكِ، اولئکن، په هر حال د حرف خطاب د اتصال په اعتبار سره پنځه ویشت قسمه حاصل شو.

و اما ذیك: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: مخکې تا دا وویل چې افراد د مونث شپږو ته رسیږي، حالانکه دا خو اوه دي. ذې په کې هم شامل دي نو دا عبارت دې صحیح نه شو؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې ذې سره حرف خطاب اګر چې زمخشري په مفصل کې او

مالکي په تسهيل کې نقل کړې دی او دوی په نورو افرادو ددې قياس کړی دی. ليکن دا صحيح نه ده ځکه علامه جوهري په صحاح کې فرمايي، چې لا تقل ذيك فانه خطاء.

ويقال: کله چې فارغ شو ماتن د دوه تقسيماتو نه په اسمآء اشاراتو کې نو اوس يې شروع وکړه په دريم تقسيم د اسمآء اشاراتو کې چې په اعتبار د مسافت سره دی، ځکه ځينې اسماء اشارات د قريب دپاره راځيو ځينې د بعيد دپاره او ځينې د متوسط دپاره راځي، نو دی وايي چې ويلی شي، چې ذا د پاره د قريب راځي، ځکه دې کې حروف کم دي. او کم والې د حروفو دا دلالت کوي، په کم والي د مسافت باندې. او ذلك دپاره د بعيد راځي. ځکه دې کې حروف زيات دي او زيادت د حروفو دلالت کوي په زيادت د مسافت باندې او ذاك دپاره د توسط راځي، ځکه دې کې حروف متوسط دي او توسط د حروفو دلالت کوي په توسط د مسافت باندې.

واخر المتوسط الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: څه وجه ده، چې ماتن په ترتيب ذکر کې د ترتيب طبعي نه خلاف کړی دی، ځکه طبع کې اول قريب بيا متوسط او بيا بعيد وي، او ماتن اول قريب دوهم بعيد او دريم متوسط ذکر کړو؟

جواب: ماتن اګر چې يو طبعي نه خلاف کړی دی، ليکن د طبع د تحقق خلاف يې ساتلی دی او هغه دا، چې توسط هله متحقق کېږي، چې اول او آخر متحقق شي يا داسې ووايه چې تحقق د متوسط پس د تحقق د حاشينو نه راځي.

وَ لَمَّا رَأَى الْمُصَنِّفُ كَثْرَةَ اسْتِعْمَالِ كُلٍّ مِنْ هٰذِهِ الْكَلِمَاتِ الثَّلٰثِ مَقَامَ الْأُخْرَيَيْنِ مِنْهَا لَمْ يَتَّخِذْ هٰذَا الْفَرْقَ
او کله چې وليدل مصنف کثرتِ استعمال هريو دغه دريو کلماتو په ځای دبل نوغوره يې نه کړو دغه فرق
مَذْهَبًا وَ اَحَالَهُ اِلٰى غَيْرِهِ فَقَالَ وَ يُقَالُ وَ تِلْكَ وَ تَانِكَ وَ ذَانِكَ حَالَ كَوْنِ هَاتَيْنِ
په اعتبار د مذهب سره بلکې وي ګرځولو بل ته نه نووي ويل چې ويل کيږي تلک وتانک وذانک چې دا
الْأُخْرَيَيْنِ مُشَدَّدَتَيْنِ وَ اُولَالِكَ بِاللَّامِ اَيْ هٰذِهِ الْكَلِمَاتِ الْاَرْبَعِ مِثْلُ كَلِمَةِ ذٰلِكَ فِيْ اِفَادَةِ
دواړه آخري مشدد وي او اولالک په لام سره يعني دا څلور کلمات په شان د کلمې د ذلک دي په فائدې
الْبُعْدِ وَ لَا يُبْعَدُ اَنْ يُجْعَلَ ذٰلِكَ اِشَارَةً اِلٰى كَلِمَةِ ذٰلِكَ الْمَذْكُوْرِ سَابِقًا وَ اَمَّا تَاكَ وَ
ورکولو د بعد کې او بعيده نه ده چې وګرځول شي ذلک اشاره کلمې د ذلک مخکينې ته او هرچې تاک او

ذَانِکَ وَ تَانِکَ مُخَفَّفَتَیْنِ وَ اُوْلَاکَ بِغَیْرِ اللَّامِ فَلِلْمُتَوَسِّطِ وَ مَا هُوَ لِلْمُتَوَسِّطِ

ذانک او تانک چې مخفف وي او اولاک په غیر دلام نه راځي دپاره دمتوسط او هغه څه چې دمتوسط دپاره وي

بَعْدَ حَذْفِ حَرْفِ الْخِطَابِ مِنْهُ لِلْقَرِیْبِ وَ اَمَّا ثَمَّ وَ هُنَا بِضَمِّ الْهَاءِ وَ

وروستو د حذف کولو د حرف خطاب د هغې نه راځي دپاره د نزدې او هرچې ثَمَّ او هُنَا دي په ضم د هاء او په

تَخْفِیْفِ النُّوْنِ وَ هَنَّا بِفَتْحِ الْهَاءِ وَ تَشْدِیْدِ النُّوْنِ وَ هُوَ الْاَکْثَرُ وَ جَاءَ کَسْرُ الْهَاءِ اَیْضًا

تخفیف د نون سره او هنّا په فتحې د هاء او په تشدید د نون سره او دا زیات راځي او کسره د هاء هم راغلې دا

لِلْمَکَانِ الْحَقِیْقِیِّ وَ الْحِسِّیِّ خَاصَّةً لَا تَسْتَعْمِلُ فِیْ غَیْرِهٖ اِلَّا مَجَازًا عَلٰی سَبِیْلِ

راځي دپاره د مکان حقیقي او حسي وي خاص دي نه استعمالیږي په غیر د دې کې مګر مجازا په طریقې

التَّشْبِیْهِ وَ اَمَّا مَا عَدَاهَا مِنْ اَسْمَاءِ الْاِشَارَةِ فَقَدْ یَسْتَعْمِلُ فِی الْمَکَانِ وَ غَیْرِهٖ.

د تشبیه سره او هرچې نور اسماء اشارات دي نو کله استعمالیږي په مکان او غیر مکان کې.

اغراض د جامي : **ولما رأى الخ**: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال: مصنف عمده شخص دی او کلام د عمده کې تغییر د نکتې نه خالي نه وي اوس مخکې چې څومره مسائل ماتن ذکر کړو، نو په یقیني طریقې سره یې ذکر کړي دي او په بل ځای یې حواله نه ده ورکړې، او دلته چې وروستو کوم مسائل ذکر کوي نو یقینا نه دي ذکر کړي، بلکې حواله یې په بل ورکړې ده دا ولې؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې کله مصنف وکتل چې د هر مقاماتو کې دا د یو بل په ځای استعمالیدو، نو د دې وجې رأیې خپل مذهب ونه ګرځوو، بلکې په بل چا یې حواله ورکړه.

سوال: علامه عصام وایي چې ده لره په بل چا حواله ورکول نه وو په کار، ځکه یو حرف د بل حرف په معنی مجازاً استعمالیږي نو ده به معنی حقیقي ذکر کړې وي، او بیا به یې ویلي وو چې غیر د دې کې مجازاً راځي؟

جواب: مونږ وایو چې مجاز خو هغه وي چې کله کله یو حرف د بل په معنی راشي او دلته دا الفاظ د یو بل په معنی کثیر راځي. د دې ته مونږ مجاز نه شو ویلی، د دې وجې داده خپل مذهب ونه ګرځوو.

وتلك الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال: چې تا کوم تقسیم ذکر کړو، نو دا خو صرف اسم اشاره د مفرد مذکر کې وو، اوس دې

باقي اسمآء اشاراتو کې به څنګه راځي؟

جواب: ماتن د باقي اسمآء اشاراتو نه صرف د بعيد هغه صورتونه ذکر کوي، او هغه قريب او متوسط ترې معلومېږي، لکه **تلك** دپاره د مفرد مونث بعيد راځي او د متوسط دپاره **تالك** راځي او د قريب دپاره **تا** راځي. همدارنګې **تانك** مشدد د تثنيه مونث بعيد دپاره راځي، او د متوسط دپاره **تانك** مخفف راځي، او د قريب دپاره **تان** راځي. همدارنګې **ذانك** مشدد د تثنيه مذکر بعيد دپاره راځي د متوسط دپاره **ذانك** مخفف راځي، او د قريب دپاره **ذان** راځي. همدارنګې د جمع مذکر مونث بعيد دپاره **اولالك** راځي او د متوسط دپاره **اولئك** راځي او د قريب دپاره **اولاء** راځي.

حال كون الخ: غرض د شارح وجه د نصب د مشددتين ذکر کول دي، او بل غرض دفع د يو سوال ده:

سوال: چا به ويل چې دا مشددتين به ما قبل تولو سره تعلق ساتي. نو بيا حمل نه صحيح کېږي، ځکه حمل د تثنيه په جمع راځي، نو شارح وويل چې دا صرف ددې آخري دوو نه حال دی.

بيا فاضل هندي وايي، چې ددې حال دپاره عامل معنوي دی، چې **يشبه** دی او د تشبيه د مثل نه معلومېږي، نو بيا پرې سوال راځي:

سوال: چې دا خو تقديم د حال په عامل معنوي راغلو او دا خو ناجائز دي؟

جواب: دا تقديم د حال په عامل معنوي باندې په نزد دسيبويه ناجائز دی او په نزد د اخفش باندې جائز دی، کلام د ماتن بنآء دی په مذهب د اخفش باندې.

دوهم جواب: دادی چې تقديم د حال په عامل معنوي هغه وخت ناروا دی، چې التباس نه راځي. او چې کله التباس راځي نو بيا تقديم د حال په عامل معنوي جائز دی، لکه **زيدٌ قائماً كعمرٍ و قاعداً** کې که **زيدٌ كعمرٍ و قائماً قاعداً** ووايي، نو بيا التباس راځي، نو دلته تقديم د حال په عامل معنوي جائز دی، همدارنګې په دغه مذکور مقام کې هم د دفع د التباس دپاره حال مقدم شوې دی.

دريم جواب: دادی، چې تقديم د حال په عامل معنوي باندې هغه وخت ناروا دی، چې

مبتداء مخکې نه وي ذکر ، لکه په زيدٌ في الدار قائماً کې قائماً زيدٌ في الدار ووايي، نو دا ناروا دی او که زيدٌ قائماً في الدار ووايي نو دا جائز دی، نو دلته هم صحيح ده چې تقديم د حال په عامل معنوي شوی دی، ليکن تان ذان مبتداء مخکې ذکر ده نو تقديم د حال دلته جائز دی.

بيا په دې مقام کې بل اختلاف دادی، چې هغه اختلاف په لفظ د ذالك کې دی، مبرد وايي چې اصل کې ذان لك وو، نون لام قريب المخرج وو لام په نون بدل شو او نون په نون کې مدغم شو، نو ذالك شو.

سوال : دا خو د قاعدې د ادغام نه خلاف وشو، ځکه قاعده د ادغام داده، چې اول به ثاني حرف سره بدلېږي، او بيا به اول حرف ثاني کې مدغم کېږي، او دلته خو عکس وشو؟

جواب: دا خلاف مو د مجبورۍ نه کړی دی او هغه دا چې که مونږ موافقت ددې قاعدې وکړو، نو لام به مو رامخکې کوو او دلام به بيا په نون سره بدلوو، نو ذانك لك نه به ذالنك جوړ شي او بيا چې دغه لام په نون بدل کړو، نو ادغام به کوو، ليکن دې سره لازمېږي دخول د لام په نون باندې قبل تمام الكلمة او دا ناجائز دي، نو ددغه نقصان نه د بچ کيدو دپاره مونږ قاعده د ادغام نه خلاف وکړو، او بيا مو په دغه طريقه ادغام وکړو، جمهور وايي چې ذالك کې يو نون د تثنيه دی او دوهم نون عوض د الف محذوفه دی، د دا ځکه د التقاء ساکنين د وجې دغه الف تثنيه کې د ذانه غورځېدلی وو، نو مونږ د هغې عوض کې نون راوړو او ادغام مو وکړو، نو ذالك شو.

<u>مثل ذلك :</u> يعني دا څلور واړه کلمات په شان د ذلك دي، بيا چونکه په دې ذلك کې دوه احتماله وو. شارح هغه دواړه ذکر کړي دي، يو دا چې ددې نه مراد لفظ د ذلك شي بيا وجه د مشابهت داده، چې څنګه ذلك افاده د بعد ورکوي، نو دا څلور کلمات هم د افادې د بعد دپاره راځي، او دوهم دا چې مراد ددې نه مدلول د ذلك شي، نو بيا مطلب دادی، چې دا کلمات په شان د معنی د کلمه د ذلك دي، چې مخکې مذکور ده.

<u>واما تاك الخ :</u> دې سره ددغه اسمآء اشاراتو د متوسط صيغې ذکر کوي، تاك مفرد مؤنث متوسط دپاره تانك تثنيه مونث متوسط دپاره ذانك تثنيه مذکر متوسط دپاره اولاك يا اولئك د جمع مذکر مونث متوسط دپاره راځي.

وما هو للمتوسط الخ: دې عبارت سره شارح د دغه څلور اسمآء اشاراتو د قريب صيغې ذکر کوي، نو وايي چې د توسط دپاره کومې صيغې راتلې، نو د هغې نه حرف خطاب حذف کړه، نو دغه صيغې د قريب دي، يعنې تا، ذان، تان، اولآء.

واما ثم وهنا: کله چې فارغ شو ماتن د درې تقسيماتو نه په اسمآء اشاراتو کې نو شروع يې وکړه په څلورم تقسيم د اسمآء اشاراتو کې چې دا په اعتبار د زمان او مکان سره دی، تر اوسه پورې چې څومره ضمائر او صيغې ذکر شوې دا د زمان دپاره وو، اوس د مکان دپاره ذکر کوي، په دې سره يو سوال دفع شو:

سوال: دا ثم او هنا ته د اسماء اشاراتو نه وايې او که نه، که وايې نو تا مخکې ولې ذکر نه کړو او که نه وايې نو اوس يې ولې ذکر کوې؟

جواب: دا زه په اسماء اشاراتو کې وايم هم او نه وايم هم. په اسماء اشاراتو کې وايم، نو ځکه مې دلته ذکر کړه او نه وايم يې داسې هغه مخکې د زمان دپاره وو او دا دمکان دپاره راځي، نو په هغې کې مې ذکر نه کړه. بيا په دې هنا کې درې لغات دي، هنا په فتحه د هاء او نون مخففه سره هَنّا په فتحې د هاء او نون مشد ده سره هِنّا په کسرې د هاء او نون مشدد سره نو دا دواړه اسمآء اشاراة د مکان دپاره راځي.

سوال: چا به ويل چې مکان به کون نه وي په معنی د ثابت سره به وي؟

جواب: نو شارح جواب وکړو په الحقيقي سره چې دلته مراد د الحقيقي نه هغه حقيقي مکان مراد دی.

سوال: بيا به چا ويل چې ظرف مکان او زمان دواړه به مراد وي نو ده ويل چې الحسي صرف هغه محسوس مکان مراد دی.

لا تستعمل: د خاصة د قيد فائده ذکر کوي، يعنې د مکان نه علاوه بل څه کې نه مستعملېږي، خو مجازاً راځي، لکه هنالك الولاية لله الحق.

تعريف د اسم موصول:

اَلْمَوْصُوْلُ اَيِ الْمَوْصُوْلُ الْمَعْدُوْدُ مِنَ الْمَبْنِيَّاتِ فِيْ اِصْطِلَاحِ النُّحَاةِ مَا لَا يَتِمُّ
موصول يعني هغه موصول چې شمارېږي دمبنياتو نه په اصطلاح دنحاتو هغه اسم دي چې نه پوره کيږي

جُزْءًا اَيْ اِسْمٌ لَا يَتِمُّ مِنْ حَيْثُ جُزْئِيَّتِهٖ يَعْنِي لَا يَكُوْنُ جُزْءًا تَامًّا اِنْ كَانَ
دحیثیت د جزئیت نه یعني داسې اسم چې نه پوره کیږي دحیثیت دجزء نه یعنې نه وي جزء تام که چیرته
جُزْءًا تَمْيِيْزًا اَوْ لَا يَصِيْرُ جُزْءًا تَامًّا اِنْ كَانَ يَتِمُّ مِنَ الْاَفْعَالِ النَّاقِصَةِ وَ الْمُرَادُ بِالْجُزْءِ التَّامِّ مَا
جز تمیزوي اویا نه نونه ګرځي جزء تام که چیرته تامیدو د افعال ناقصو نه اومراد په جزء تام سره هغه دي
لَا يَحْتَاجُ فِيْ كَوْنِهٖ جُزْءًا اَوَّلِيًّا يَنْحَلُّ اِلَيْهِ الْمُرَكَّبُ اَوَّلاً اِلَى انْضِمَامِ اَمْرٍ
چې نه وي محتاج په کیدو د هغې کې جزء د اولې چې متحمل کیږي دې ته مرکب اول د پاره د انضمام د امر
آخَرَ مَعَهُ كَالْمُبْتَدَاءِ وَ الْخَبَرِ وَ الْفَاعِلِ وَ الْمَفْعُوْلِ وَ غَيْرِهَا وَ اِنَّمَا نَفْيُ كَوْنِهٖ جُزْءًا تَامًّا لَا جُزْءًا مُطْلَقًا
آخر د دې سره لکه مبتدا او خبر او فاعل او مفعول وغیره او نفي د دې وشوه چې جزء تام به وي نه مطلق جزء
لِاَنَّهُ اِذَا كَانَ مَجْمُوْعُ الْمَوْصُوْلِ وَالصِّلَةِ جُزْءًا مِنَ الْمُرَكَّبِ يَكُوْنُ الْمَوْصُوْلُ وَحْدَهٗ اَيْضًا جُزْءًا لٰكِنْ لَا جُزْءًا تَامًّا
ځکه چې کله وو مجموع د موصول او صولې جزء د مرکب نه نو وي به موصول یو اځې هم جزء لکن نه جزء تام
اَوَّلِيًّا اِلَّا بِصِلَةٍ وَ عَائِدٍ.
اولې مګر په صلې او عائد سره.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره د موصول تعریف کوي.

اغراض دجامي : <u>الموصول</u>: کله چې فارغ شو ماتن د تفصیل د دوه اقسامو د اسم مبني نه، چې مضمرات او اسمآء اشارات وو، نو شروع یې وکړه په تفصیل د دریم قسم د اسم مبني کې، چې موصولات دي.

نو دلته دوه سوالات مخې ته راځي:

اول سوال : نفس تفصیل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصیل خو ځکه کوي، چې تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وي، دوهمه وجه داده چې اسمآء موصولات تفصیل ته محتاج دي او تفصیل یې نه دی شوې او کوم شی چې تفصیل ته محتاج وي او تفصیل یې نه وي شوی، نو د هغې تفصیل په کار وي.

دوهم سوال :تفصیل په دې مقام کې ولې کوې؟

جواب :تفصیل یې په دې مقام کې ځکه ذکر کوي، چې اجمال کې په دې مقام کې ذکر وو. او اجمال کې په دې مقام کې ځکه ذکر وو، چې د موصولاتو د اسمآء اشاراتو سره مناسبت دی یو خو په دې وجه چې دې دواړو کې ابهام دی، ځکه اسمآء اشاراة په غیر د تعیین د مشارٌ الیه نه

مبهم وي همدارنګې اسمآء موصولات په غير د صلې نه هم مبهم وي او د دې وجې نه په نحو مير کې دا دواړه په دې نوم سره يو قسم ګرځولې دی. دوهم مناسبت په دې وجه دی، چې وجه د بنآء د دواړو يوه ده، ځکه اسمآء اشاراتو کې وجه د بنآء شبه افتقاري وه او موصولاتو کې وجه د بنآء هم شبه افتقاري ده. دريم مناسبت په دې وجه دی، چې د دواړو صيغې يو بل سره مناسب دي. اسمآء موصولات کې هم د اسمآء اشارات په شان د تثنيه دوه حالتونه راځي، او باقي صيغې يو يو دي او دې کې هم ځينې صيغو کې ډير افراد دي، نو د دې مناسبات ثلاثه د وجې اسمآء موصولات د اسمآء اشارات پسې راوړل.

سوال: دا تفصيل دې موافق د اجمال سره نه دی، ځکه په اجمال کې الموصولات جمع وه او دلته په تفصيل کې دې مفرد راوړو؟

جواب: دا مقام د تعريف دی، او تعريف د جنس کيږي د جمع نه کيږي.

وجه د بنآء: وجه د بنآء يې داده، چې اسمآء موصولات مشابه دي د حروفو سره په احتياج کې يا په وضع کې او يا په نيابت کې يعنې لکه څنګه چې حروف په خپله معنى ورکولو کې ضم د ضميمې ته محتاج وي نو همدارنګې اسمآء موصولات هم صلې ته محتاج وي، دې ته شبه افتقاري وايي. يا په وضع کې داسې مشابه وي، چې د حروفو وضع په کم د درې حروفو نه شوې ده. او من ما کې هم دوه حروف دي، باقي اسمآء موصولات په دې حمل دي طردًا للباب او دې ته شبه وضعي وايي. يا مشابهت نيابتي دی او هغه داسې چې په کار وه، چې موصول دپاره وضع د حروفو شوې وه، خو چې کله دې لره اسمآء وضع شو، نو دا د حروفو قائمقام شو او حروف مبني وو، نو د هغې د نيابت د وجې دا هم مبني شو.

اى الموصول المعدود الخ: غرض د شارح دفع د وهم ده:

وهم: چا به ويل چې دلته مفرد موصول راغلو، نو دا به غير د اجمال والموصولات نه وي، حالانکه دا خو صحيح نه ده؟

جواب: شارح دغه وهم دفع کړه، چې په اجمال کې هغه شمېرلی شوي موصولات مراد دي، او قرينه داده، چې معرفه کله معاد شي معرفې ته، نو ثاني عين اول وي.

في اصطلاح النحاة: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: تعريف دې صحيح نه دی، ځکه دې کې اخذ د محدود په حد کې راځي، او هغه داسې چې ته د موصول تعريف کوې، او دا مشتقي دی او هر مشتقي کې خپل مشتق منه موجود وي، نو دلته دې کې صله پرته ده او وروستو تعريف کې هم لفظ د بصلة راغلی دی، نو اخذ د محدود په حد کې راغلو. او دا ناجائز ده؟

جواب: مونږ وايو چې دې معرف کې کومه صله پرته ده، نو دا مصطلح ده او تعريف کې لغوي صله مراد ده، نو اخذ د محدود په حد کې نه لازمېږي.

ای اسمٌ: چونکه ما مبهم وو نو شارح د هغې تعيين وکړو .

من حيث الخ: غرض د شارح د جزءٍ منصوب دپاره وجه د نصب ذکر کوي، چې دا منصوب دی بنا برتمييز.

سوال: دا خو تمييز محول عن الفاعل دی، او تمييز محول عن الفاعل خو په معنی کې فاعل وي او دلته خو معنی د فاعليت نه صحيح کېږي، ځکه بيا به معنی شي چې نه تمامېږي جزء د موصول يعني موصول خپله تام وي ليکن جزء يې ناتمام وي، حالانکه دا معنی صحيح نه ده ؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا جزءً مصدر دی او مؤول دی په تاويل د جزئيت سره او کوم مصدر چې مؤول شي په تاويل د جزئيت سره نو مراد د هغې نه نفس د هغه شي وي، نو دلته مراد نفس د موصول دی، معنی چې نه تاميږي نفس ددې موصول او دا معنی صحيح ده .

لا يکون جزءً تامًا: غرض د شارح حاصل د معنی ذکر کول دي.

او لا يصير الخ: غرض د شارح دوهم جواب کول دي، حاصل د هغې دا دی، چې دا جزءً منصوب دی بنا بر خبريت او که ته وايې چې د چا نه يې خبر وايې؟ نو مونږ وايو چې د يتم نه خبر دی او که ته وايې چې يتم خو فعل دی مبتداء نه ده؟ نو مونږ وايو چې دا فعل ناقص دی اسم او خبر غواړي اسم يې ضمير او دا ورلره خبر شو.

په دې ځای کې سوالات مخې ته راغلل :

اول سوال: په افعال ناقصه کې خو مونږ يتم نه دی ليدلې؟

جواب: هغه مذکور افعال ناقصه مشهور دي، ليکن محصور نه دي، د هغې نه علاوه نور غير مشهور افعال ناقصه هم شته. دا يتم د افعال ناقصه غير مشهوره نه دي.

دوهم سوال: ستا دې عبارت کې استدراك راغلو، ځکه اوله معنی داسې وه، لا يكون جزءً تاما او دوهمه معنی داسې شوه چې: لا يصير جزءً تاما دې کې څو فرق نشته؟

جواب: هغه اول مونږ حاصل معنی ذکر کړې وه، نو اول معنی کې دا تمييز دی او دې دوهمه کې خبر د فعل ناقص دی.

دريم سوال: افعال ناقصه خو نور هم ډير دي، نو دا لا يتم په معنی د لا يصير ولې ګرځوې د كان په معنی سره يې وګرځوه کنه؟

جواب: دا لا يتم د افعال ناقصه غير مشهوره نه دی او دغه افعال خپله معنی نه ورکوي، بلکې ددې مشهور افعال ناقصه په معنی سره راځي، او دې کې بيا د صار په معنی سره راځي، دې سره د هغه دوهم سوال جواب هم وشو، چې خاص کر د صاد په معنی سره ولې ګرځوې، نو مونږ جواب وکړو، چې افعال ناقصه مشهور کې صاد مشهور دی.

والمراد الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح رد کول دي په فاضل رضي باندې، چې هغه د جزء تام معنی کړې ده رکن في الكلام سره او د رکن في الكلام اطلاق صرف په هغه کېږي، چې کوم شی مسند مسند اليه واقع کېږي، او په مفعول به يې اطلاق نه کېږي، نو شارح پرې رد کوي، چې مراد په جزء تام سره رکن في الكلام نه دی، بلکې مراد په جزء تام سره هغه شی دی، چې د مرکب په انحلال اولی سره انضمام د شي آخر ته محتاج نه وي، لکه په زيدٌ قائمٌ ابوه کې انحلال وکړې نو زيدٌ هم جزء تام دی او قائمٌ ابوه هم جزء تام دی، خو په خلاف د الذی قام زيدٌ سره چې کله ددې انحلال وکړې نو الذي ځان لره جزء تام نه ګرځي، بلکې انضمام د صلې ته محتاج دی، په دې مراد اخيستو سره مفعول به هم په دې کې داخل شو

والمانفي كونه الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي.

سوال: ته چې نفي د جزء تام کوې نو د جزء مطلق نفي ولې نه کوې، ځکه چې جزء تام نه شو نو جزء ناقص خو به هم نه وي؟

جواب: مونږ نفي د جزء مطلق نه کوو، بلکې د جزء تام کوو، ځکه موصول په غير د صلې نه جزء تام نه دی، جزء ناقص خو دی.

الا بصلة الخ: غرض د ماتن د موصول تعريف تام کول دي.

وَ الْمُرَادُ بِالصِّلَةِ مَعْنَاهَا اللُّغَوِيُّ لَا الْاِصْطِلَاحِيُّ فَاِنَّ الْاِصْطِلَاحِيَّ عِبَارَةٌ عَنْ جُمْلَةٍ

اومراد په صلې سره معنی لغوي دهغې ده نه اصطلاحي ځکه چې اصطلاحي عبارت ده د جملې نه چې

مَذْكُوْرَةٍ بَعْدَ الْمَوْصُوْلِ مُشْتَمِلَةٍ عَلٰى ضَمِيْرٍ عَائِدٍ اِلَيْهِ فَمَعْرِفَتُهَا

مذكوره وي وروستو دموصول نه مشتمله وي په داسې ضميرچې عائدوي دې ته پس پيژندل دهغې

مَوْقُوْفَةٌ عَلٰى مَعْرِفَةِ الْمَوْصُوْلِ فَلَوْ عَرَفَ الْمَوْصُوْلَ بِهَا لَزِمَ الدَّوْرُ وَ

موقوف دي په پيژندلو دموصول نو كه چيرته تعريف دموصول وكړې شي په هغې سره لازم به شي دوراو

الْقَرِيْنَةُ عَلٰى اَنَّ الْمُرَادَ بِهَا مَعْنَاهَا اللُّغَوِيُّ لَا الْاِصْطِلَاحِيُّ قَوْلُهُ وَ عَائِدٍ فَاِنَّهُ

قرينه په دې چې مراد په صلې سره معنی لغوي ده نه اصطلاحي دا قول دمصنف چې وعائد ځكه كه چيرته

لَوْ اُرِيْدَ بِهَا مَعْنَاهَا اِصْطِلَاحِيٌّ لَكَانَ هٰذَا الْقَوْلُ مُسْتَدْرِكًا لِاَنَّهُ

مرادكړې شي په صلې سره معنی اصطلاحي دهغې نو شي به دا قول قول بالاستدراک ځكه دادپاره د

لِاِخْرَاجِ مِثْلُ اِذْ وَ حَيْثُ وَ لَيْسَ لَهُمَا صِلَةٌ اِصْطِلَاحِيَّةٌ وَ لِقَائِلٍ اَنْ

اخراج دمثل دااذاوحيث دي اونشته دې دواړو دپاره صله اصطلاحي معترض اعتراض كولې شي چې

يَقُوْلَ يُمْكِنُ اَنْ تُعْرَفَ الصِّلَةُ بِمَا لَا تَتَوَقَّفُ مَعْرِفَتُهُ

ووايي چې ممكن دي چې تعريف دصلې وكړل شي په دې چې صله هغه ده چې موقوف نه وي معرفت دهغې

عَلٰى مَعْرِفَةِ الْمَوْصُوْلِ بِاَنْ يُقَالَ الصِّلَةُ جُمْلَةٌ مُتَّصِلَةٌ بِاِسْمٍ لَا يَتِمُّ جُزْءًا

په معرفت دموصول سره چې وويل شي چې صله جمله متصله ده په اسم پورې چې نه پوره كيږي جزء د

اِلَّا مَعَ هٰذِهِ الْجُمْلَةِ مُشْتَمِلَةٌ عَلٰى عَائِدٍ اِلَيْهِ فَعَلٰى هٰذَا يَجُوْزُ

هغې مګر سره د دې جملې چې مشتمله وي دا جمله په عائدچې راجع وي دې صلې ته بناء په دې بيان جائز

اَنْ يَكُوْنَ الْمُرَادُ بِالصِّلَةِ مَعْنَاهَا الْاِصْطِلَاحِيَّ وَ لَا يَلْزِمُ الدَّوْرُ وَ ذِكْرَ الْعَائِدَ مَعَ اَنَّهُ

دې چې شي مراد په صلې سره معنی اصطلاحي دصلې اونه لازميږي دوراوذكردعائدسره د دې چې دا

مَاخُوْذٌ فِيْ مَفْهُوْمِ الصِّلَةِ الْاِصْطِلَاحِيَّةِ تَصْرِيْحٌ بِمَا عُلِمَ ضِمْنًا

ماخوذ دي په مفهوم دصلې اصطلاحي كې داتصريح دهغه شي ده كوم چې معلوم ضمناوودې دپاره چې

مُبَالَغَةً فِي الْاِحْتِرَازِ عَنْ مِثْلِ اِذْ وَ حَيْثُ وَ لَمَّا كَانَتِ الصِّلَةُ بِمَعْنَيَيْهِ اَعَمُّ بِحَسَبِ الْمَفْهُوْمِ مِنْ

مبالغه وشي په احترازكې دمثل دااذاود حيث نه او كله چې وه صله بعينه عامه په اعتبارد مفهوم سره چې

اَنْ تَكُوْنَ خَبَرِيَّةً اَوْ غَيْرَ خَبَرِيَّةٍ وَ لَا تَكُوْنُ بِحَسَبِ الْوَاقِعِ اِلَّا خَبَرِيَّةً.

خلاصه دمتن: په دې مقام کې د صلې معنی مراد ذکر کوي.

اغراض دجامي: والمراد الخ: غرض د شارح تعيين د صلې کول دي او بل غرض دفع د يو سوال ده:

سوال: دې تعريف کې د مذکورې صلې نه صله لغوي اخلې او که اصطلاحي؟ که صله نه لغوي صله مراد شي، نو معنی لغوي په منزله د مجاز ده او مجاز قرينه غواړي، ددې څه قرينه ده؟ او که معنی اصطلاحي مراد اخلې نو د صله اصطلاحي په تعريف کې به لفظ د موصول راوړې يا نه، که راوړې نو اخذ د محدود راغلو په حد کې نو دور لازم شو او دا ناجائز دي او که ذکر د موصول نه کوې بلکې صرف جمله خبريه سره تعريف د صلې کوې، نو بيا خو هره جمله خبريه دې صله شي؟

جواب: حاصل د جواب دادی، چې مراد د صلې نه معنی لغوي ده او قرينه پرې وروستو قول عائد دی، ځکه که مونږ معنی اصطلاحي واخلو نو په تعريف کې عائد راغلی دی نو بيا ذکر ددې عائد متن مستدرك ګرځي، نو دا قرينه ددې ده چې مراد د صلې نه معنی لغوي ده. شارح هم دا وايي چې والمراد الخ يعنې مراد په صلې سره معنی لغوي ده.

سوال: اصطلاحي صله ولې مراد نه اخلې؟

جواب: شارح جواب کوي، چې فانه الاصطلاحي الخ يعنې که دصلې نه معنی اصطلاحي مراد کړو، نو بيا دَور لازميږي. او هغه داسې چې د صلې اصطلاحي تعريف دادی: جملة مذكورة بعدالموصول مشتملة على ضمير عائد اليه. نو معرفت د صلې په موصول موقوف شو. او مخکې معرفت د موصول په صلې موقوف شوی دی، دغه ته دور وايي.

سوال: په معنی لغوي اخيستو د تاسره څه قرينه ده؟

جواب: شارح جواب کوي، چې والقرينه الخ قرينه په معنی لغوي باندې دا لفظ د عائد دی، ځکه که معنی اصطلاحي واخلو نو تعريف کې دا لفظ د عائد مستدرك ګرځي، ځکه دا قيد مونږ د حيث وغيره د ويستو دپاره لرولې دی، ځکه ددې دپاره صله اصطلاحي نه وي اوس چې دې تعريف کې صله اصطلاحي مراد شي، نو په هغې اصطلاحي تعريف کې عائد پټ پروت دی نو دا عائد ذکر کول مستدرك شو.

ولقائل الخ: غرض د شارح دوهم جواب کول دي، حاصل د هغې دادی، چې مراد په صلې سره صله اصطلاحي ده اوس که ته وایې دَور لازمېږي، یا هرې جملې خبریې ته صله شاملېږي؟ نو مونږ وایو چې مونږ د صلې داسې تعریف کوو، چې دور هم لازم نه شي، او هرې جملې خبریې ته هم شامل نه شي او هغه تعریف مونږ داسې کوو چې: الصلة جملةٌ متصلةٌ باسم لا يتمّ جزءً الّا مع هذه الجملة مشتملةٌ على عآئدٍ اليه. د موصول په ځای مونږ اسم رواړو نو اخذ د محدود په حد کې هم رانغلو او هرې جملې خبریې ته هم تعریف شامل نه شو.

وذکر العائد الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: که ته د صلې نه اصطلاحي صله مراد اخلې، نو ذکر د عائد مستدرك ګرځي، ځکه چې د مصطلح صلې په تعریف کې اذ حیث داخل نه وو، نو ذکر د عائد ددغه دواړو د ویستلو دپاره اخراج د مخرج دی او دا صحیح نه دی؟

جواب: ذکر کول د عائد سره ددې چې دا په مفهوم د مصطلح صله کې پروت دی لیکن دلته ددې ذکر تصریح لما علم ضمناً ده.

سوال: ددې په صراحت سره ذکر کولو کې فائده څه ده؟

جواب: دې کې مبالغه ده په احتراز کې د اذ او حیث نه.

ولما کانت الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره تمهید دی ما بعد متن ته، ربط د ما بعد دی د ما قبل سره او دفع د یو سوال ده:

سوال: مقصود خو بحث د موصولاتو دی نو اشتغال د ماتن په بحث د صلې باندې اشتغال په غیر مقصود دی او اشتغال په غیر مقصود بنه کار نه دی؟

جواب: دا اشتغال په مقصود باندې دی، ځکه لفظ د صلې په تعریف کې ذکر وو، نو لابدي وه چې ددې وضاحت وشي دپاره د وضاحت د تعریف.

یا سوال دا دی، چې تا وویل چې صله جمله خبریه وي، حالانکه هره جمله خبریه صله نه جوړېږي؟ نو جواب دادې چې دا ذکر شده تعریف د صلې نه دی، بلکې دا وضاحت د صله کوي بیا شارح بمعنییه کې ضمیر د مذکر راجع کړو اشاره دې ته کوي چې کله ضمیر په مینځ د

شارح وايي ولا تكون بحسب الواقع الا خبرية.

وَ الْعَائِدُ اَعَمُّ مِنْ اَنْ يَكُوْنَ ضَمِيْرًا اَوْ غَيْرَهُ وَ اِذَا كَانَ ضَمِيْرًا اَعَمُّ مِنْ اَنْ يَكُوْنَ لِلْمَوْصُوْلِ وَ

اوعائدعام دي كه ضمير اويا غيردضمير نه اوچې كله ضميرعام وي دد ې نه چې دموصول دپاره وي اويا

لِغَيْرِهٖ وَ الْوَاجِبُ اَنْ يَكُوْنَ ضَمِيْرًا لِلْمَوْصُوْلِ عَيَّنَهُمَا بِقَوْلِهٖ

غيردموصول نه اولازمي داده چې وي ضميردپاره دموصول نودد ې وجې تعين وكړو مصنف په قول خپل

وَ صِلَتِهٖ اَیْ صِلَةُ مَا لَا يَتِمُّ جُزْءًا اِلَّا صِلَةٌ جُمْلَةٌ خَبَرِيَّةٌ اَوْ مَا

سره چې وَصِلَتِهٖ يعني صله دهغې چې نه تماميږي خبردهغې مگرپه صلې سره جمله خبريه به وي ياهغه

فِيْ مَعْنَاهَا كَاِسْمِ الْفَاعِلِ وَ الْمَفْعُوْلِ وَ الْعَائِدِ ضَمِيْرٌ لَا غَيْرَ ضَمِيْرٍ

چې په معنى دجملې خبرې سره وي لكه اسم فاعل اومفعول اوعائدپه كې كه ضميروي اوكه غيرضمير

لَهٗ اَیْ لِلْمَوْصُوْلِ لَا لِغَيْرِهٖ وَ صِلَةُ الْاَلِفِ وَ اللَّامِ اِسْمُ فَاعِلٍ وَ مَفْعُوْلٍ لِاَنَّ اللَّامَ

وي خاصتاً دموصول دپاره وي نه دبل دپاره اوصله دالف اولام اسم فاعل اومفعول دي ځكه چې لام

الْمَوْصُوْلَةَ تُشْبِهُ اللَّامَ الْحَرْفِيَّةَ فَجُعِلَتْ صِلَتُهَا مَا كَانَ جُمْلَةً مَعْنًى وَ مُفْرَدًا

موصوله مشابه دي دلام حرفيه سره پس وگرځول شوه صله دهغې كومه چې جمله ده معناً اومفرد دي

صُوْرَةً عَمَلًا بِالْحَقِيْقَةِ وَ الشِّبْهُ جَمِيْعًا وَ هِيَ اَيِ الْمَوْصُوْلَاتِ الَّذِيْ لِلْمُفْرَدِ

صورتاً دي دپاره چې عمل راشي هم حقيقتاً اوهم چې مشابه دحقيقت اودا يعني موصولات الذي دمفرد

الْمُذَكَّرِ وَ الَّتِيْ لِلْمُفْرَدِ الْمُؤَنَّثِ وَ اللَّذَانِ لِمُثَنَّى الْمُذَكَّرِ وَ اللَّتَانِ لِمُثَنَّى الْمُؤَنَّثِ وَ يَكُوْنَانِ

مذكردپاره اوالتي دپاره دمفردمؤنث اواللذان دپاره دمثنى مذكر اواللتان دپاره دمثنى مؤنث اووي دا

بِالْاَلِفِ فِيْ حَالِ الرَّفْعِ وَ الْيَاءِ فِيْ حَالَ النَّصْبِ وَ الْجَرِّ وَ الْاُوْلٰى عَلٰى وَزْنِ الْعُلٰى

دواړه په الف سره په حالت رفعي كې اوپه ياء سره په حالت نصبي اوجري كې اواولى په وزن دعلى دپاره

لِجَمْعِ الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ اِلَّا اَنَّهٗ فِيْ جَمْعِ الْمُذَكَّرِ اَشْهَرَ وَ الَّذِيْنَ كَاللَّاتِيْنَ

دجمع مذكراومؤنث راځي ليكن داپه جمع مذكركې زيات شهرت لري اوالذين په شان داللاتين دي د

لِجَمْعِ الْمُذَكَّرِ وَ اللَّائِيْ بِالْهَمْزَةِ وَ الْيَاءِ وَ اللَّاءِ بِالْهَمْزَةِ الْمَكْسُوْرَةِ فَقَطْ وَ اللَّايْ بِالْيَاءِ فَقَطْ

پاره دجمع مذكراواللائي په همزې اوياءسره اواللاءپه همزې مكسورې سره فقط اواللاى په ياءسره فقط

مَكْسُوْرَةً اَوْ سَاكِنَةً اِجْرَاءً لِلْوَصْلِ مَجْرَى الْوَقْفِ لِجَمْعِ الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ

مكسوره وي اوكه ساكنه وي دپاره داجرادوصل په مجرى دوقف كې راځي دپاره دجمع مذكراومؤنث

إِلَّا أَنَّهَا فِي جَمْعِ الْمُؤَنَّثِ أَشْهَرَ وَ اللَّاتِيْ وَ اللَّوَاتِيْ بِجَمْعِ الْمُؤَنَّثِ وَ جَاءَ فِي اللَّاتِيْ اللَّاتِ
مګر په جمع مؤنثه کې زيات شهرت لري واللاتي واللواتي دپاره دجمع مؤنثې لکه په جاء في اللاتي کې اللات
بِحَذْفِ الْيَاءِ وَ إِبْقَاءِ الْكَسْرَةِ عَلَى التَّاءِ وَ فِي اللَّوَاتِيْ اللَّوَا بِحَذْفِ التَّاءِ وَ الْيَاءُ
په حذف دياء سره اوپه ابقاء دکسرې په تاء باندې اوويل کيږي په اللواتي کې اللواپه حذف دتاء اوياء سره
مَعًا وَ مَا بِمَعْنَى الَّذِيْ فِيْمَا لَا يَعْقِلُ غَالِبًا نَحْوُ عَرَفْتُ مَا عَرَفْتَهُ وَ
يو ځای او ما په معنی د الذي استعماليږي په هغه ځا کې چې عقل نه لري غالباً لکه عرفت ما عرفته او
جَاءَ فِيْمَا يَعْقِلُ نَحْوُ وَ السَّمَاءِ وَ مَا بَنَاهَا وَ مَنْ أَيْضًا بِمَعْنَاهُ
اواستعمال په خاوندانو دعقل کې هم کيږي لکه والسماء ومابناها او من هم دما په معنی سره دي په
فِيْمَنْ يَعْقِلُ وَ يَسْتَوِيْ فِيْهِمَا الْمُفْرَدُ وَ الْمُثَنَّى وَ الْمَجْمُوْعُ وَ الْمُذَكَّرُ وَ الْمُؤَنَّثُ.
استعمال دذوات العقول کې اوبرابر دي په هغې کې مذکر اومؤنث مفرداوجمع اوتثنيه.

اغراض دجامي : والعائد اعم الخ : په دې ځای کې يو څو سوالات دي :

سوال: صله به نفس جمله ولې وي؟

جواب: دا ځکه چې واضع وضع د موصول دپاره د معرفې د توصيف کړې ده او بيان د معرفې په صلې سره راځي .

سوال: دا صله به جمله خبريه ولې وي؟

جواب: دا ځکه چې انشائيه ثابت بنفسه نه وي نو مثبت لغيره به څنګه شي؟

سوال: عائد به ولې ضروري وي؟

جواب: جمله من حيث الجملة مستقل وي، نو دې کې وحشت راغلو د ما سبق نه نو رابط ورلره په کار دی، چې د مخکې سره يې تعلق راشي .

سوال: ضمير ولې رابط ګرځوې؟

جواب: د صلې تعلق د موصول سره په شان د هغه تعلق نه ده کوم چې د مبتداء او خبر وي، ددې وجې نه رابط قوي په کار وو، او هغه ضمير دی.

سوال: د ضمير رجع موصول ته ولې کوې؟

جواب: دا ټول بحث د موصول د وجې نه دی، نو عائد به موصول ته ځکه راجع کيږي.

او ما في معناها: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي.

سوال: اسم فاعل او اسم مفعول هم صله واقع کېږي او هغه خو جمله خبريه نه ده؟

جواب: دا دواړه په معنی د جمله کې دي.

وصلة الالف الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: مخکې ماتن ويلي وو، چې صله به جمله خبريه وي، اوس کله چې دده د خبرې نه خلاف راشيَ، نو دا په منزله د استثنا. وي سائل وويل چې ته وايې چې صله به جمله خبريه وي، حالانکه اسم فاعل او اسم مفعول صله د الف لاژم واقع شوې ده او دا جمله نه ده اوس سوال دا دی، چې دا دواړه د الف لام صله واقع شوې ده، نو دا الف لام اوچت دي که ښکته دي چې دا يې صله واقع شوې ده؟

جواب: ماتن جواب وکړو، چې صله د الف لام اسم فاعل او اسم مفعول واقع کېږي، وجه داده چې د الف لام دوه جهته دي صورت يې د حرف دی او په معنی کې اسم دی او اسم فاعل اسم مفعول هم لفظاً مفرد او معنی شبه جمله ده، نو ددې وجې نه مونږ الف لام لره دغه صله وګرځوله، ځکه دا دواړه ذو جهتين دي.

وهي: غرض د ماتن صيغې او مثالونه ذکر کول دي.

اى الموصولات: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: ظاهره داده، چې هي ضمير به موصول ته راجع وي او هغه مذکر دی نو مطابقت د راجع او مرجع په خپل مينځ کې سره نشته؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې ضمير موصولات ته راجع دی او موصولات جمع دي، او جمع په تاويل د جماعةٌ سره مونث ده. ضمير د هي ورته راجع کولی شي.

الذي الخ: ماتن شپږ صيغې د موصول ذکر کوي او دا هره صيغه د جدا ذات دپاره وضع ده، او که کوم ځای اشتراك راغلی دی، نو يو په کې اشهر ګرځېدلی دی، نو اشتراك په شان د نه اشتراك دی.

ويكونان: غرض د شارح د وروسته جار مجرور دپاره متعلق ذکر کول دي.

والاولى: چونکه ددې شکل د اولی په شان دی، او تلفظ پرې په غير د واو نه کېږي نو شارح وويل چې دا په شان د على دی په وزن کې بيا دا زيادت د واو خکه شوې دی. چې د الی جاره سره التباس رانه شي.

سوال: دا التباس بالعکس دفع کړه؟

جواب: واو ما قبل مضموم غواړي او الی جاره کې همزه مکسوره وه، نو مونږ اولی کې واو راوړو. دوهمه وجه داده، چې الی جاره حرف دی او په حروفو کې تغيير نه راځي، او په اسماوو کې تغيير راځي، او اولی اسم موصول وو، نو دې کې مونږ تغيير وکړو.

بيا اولی چې د الف لام سره ذکر شي، نو دا د موصول دپاره راځي، او چې په غير د الف لام نه ذکر شي، نو دا بيا د اشارې دپاره راځي.

الا انه الخ: غرض د شارح اشاره کول دي، چې دغه اشتراك کلا اشتراك دی.

والذين الخ: غرض د ماتن الذين صيغه کې څلور لغات ذکر کول دي.

اجرآء للوصل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: په دې آخري لغت کې التقآء د ساکنينو راغله او دا خو په حالت د وصل کې ناجائز ده؟

جواب: مونږ دا حالت وصل قائمقام د وقف ګرځولې دی او حالت وقف کې التقاء ساکنين جائز ده، ځکه چې په وقف کې خفت وي نو التقآء ساکنين جائز کيږي.

سوال: دا خو آسان کار دی، هر ځای په سړی التقاء ساکنين کوي او ددغه نه به دليل نيسي؟

جواب: ضرورت چې نه وي بيا دغه عمل ناجائز دی.

الا انها في جمع المؤنث الخ: غرض د شارح اشاره کول دي، چې دغه اشتراك کلا اشتراك دی.

واللاتي: غرض د ماتن شپږمه صيغه ذکر کول دي، شارح په کې نور لغات ذکر کوي.

وما ومن: غرض د ماتن اقسام د اسم موصول ذکر کول دي. اسم موصول دوه قسمه دي، خاص او عام. خاص دپاره مخکې شپږ صيغې ذکر شوې او کومو کې چې اشتراك وو. نو هغه کلا اشتراك وو. نو سوال نه راځي، او هر چې عام اسم موصول دی، نو هغه اوس ذکر کوي چې دغه شپږ واړه په کې راتلی شي. او دغه عام اسم موصول مامن وغيره دی.

بمعنى الذي: غرض د شارح د ما معنى ذکر کول دي چې دا په لا يعقل کې غالباً استعماليږي

بيا مثال يې دا دی، عرفت ما عرفته.

وجاء فيما الخ: غرض د شارح د غالباً قيد فائده ذکر کول دي، هغه دا چې دې سره والسمآء وما بناها خارج شو، ځکه ما دپاره د ما يعقل راغلی دی.

ومن ايضاً الخ: غرض د شارح د من معنی ذکر کول دي، چې دا هم په معنی د الذي سره دی خو دا په ما يعقل کې استعمالېږي، بيا په دې دواړو کې مذکر مؤنث، مفرد، تثنيه، جمع، شپږ واړه يو شان دي. دلته کې دا خبره ده، چې الله د ذکورت انوثت نه پاك دی. خو ادب دې کې دی، چې دالله دپاره د ذکورت صيغې استعمال شي.

سوال: لفظ د من خو هم د لايعقل دپاره راځي، الله وايي: فمنهم من يمشي على بطنه نو دلته به يې هم د غالباً قيد لړولې وی؟

جواب: دغه قيد دلته هم مراد دی، اګر چې ذکر نه دی اکتفاءً بما سبق.

وَ اَيٌّ بِمَعْنَى الَّذِيْ نَحو اَضرِبُ اَيُّهُمْ فِي الدَّارِ اَیْ اَضرِبُ الَّذِيْ فِي الدَّارِ وَ اَيَّةٌ بِمَعْنَى الَّتِيْ نَحو اِضرِبْ
اواې په معنی دالذي سره لکه اضرب ايهم في الدار ای اضرب الذي في الدار واية په معنی داللتي لکه اضرب
اَيَّتَهُنَّ فِي الدَّارِ اَیْ اِضْرِبِ الَّتِيْ فِي الدَّارِ وَ ذُوْ الطَّائِيَّةِ اَيِ الْمَنْسُوْبَةِ اِلٰى بَنِيْ طَيِّ لِاِخْتِصَاصِ مَجِيْئِهَا
ايتهن في الدار ای اضرب التي في الدار او ذوالطائيه يعني هغه ذوچې منسوب وي لغت دبني طي ته راتلل د ذو
مَوْصُوْلَةً بِلُغَتِهِمْ بِمَعْنَى الَّذِيْ اَوِ الَّتِيْ قَالَ الشَّاعِرُ وَ بِئْرِيْ
موصولأخاص دي په لغت دبني طي پورې په معنی دالذي او اللتي سره لکه چې ويلي شاعر کوهي زما کوم
ذُوْ حَفَرْتُ وَ ذُوْ طَوَيْتُ اَيِ الَّتِيْ حَفَرْتُهَا وَ الَّتِيْ طَوَيْتُهَا وَ ذَا بَعْدَ مَا الْكَائِنَةُ
چې ماکنستې اوراغونډ کړي يعني هغه چې ماکنستي اوراغونډ کړي اوذاچې وروستوترې ماچې کائنه
لِلْاِسْتِفْهَامِ نَحو مَا ذَا صَنَعْتَ اَیْ مَا الَّذِيْ صَنَعْتَ وَ الْاَلِفُ وَ اللَّامُ اَیْ مَجْمُوْعُهُمَا بِمَعْنَى الَّذِيْ اَوِ الَّتِيْ اَوِ
وي دپاره داستفهام لکه ماذاصنعت يعني الذي صنعت اوالف اولام دواړه په معنی دالذي اوالتي سره اويا
الْمُثَنّٰى اَوِ الْمَجْمُوْعِ وَ الْعَائِدُ الْمَفْعُوْلُ اَيِ الْعَائِدُ الَّذِيْ لَا يَتِمُّ الْمَوْصُوْلُ اِلَّا بِهٖ اِذَا كَانَ مَفْعُوْلًا
مثنی اويامجموع وي اوعائد مفعول کو، چې موصول نه پوره کيږي مګر پردې پورې کله چې مفعول وي
يَجُوْزُ حَذْفُهٗ اِذَا لَمْ يَمْنَعْ مَانِعٌ لِاَنَّهٗ فُضْلَةٌ لَا اِذَا كَانَ فَاعِلًا
جائزدي حذف کول دې کله چې نه وي مانع ځکه چې دافضله دي نه په هغه وخت کې کله چې فاعل وي

لِكَوْنِهٖ عُمْدَةً نَحْوُ قَوْلِهٖ تَعَالٰى اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَ يَقْدِرُ لَهٗ اَیْ لِمَنْ يَّشَآءُهٗ.
ځکه فاعل عمده وي لکه دا قول دالله تعالی الله يبسط الرزق لمن يشاء عن عباده ويقدر له يعني لمن يشاءه

اغراض دجامي : واي بمعنی الذي: غرض د شارح د اي دپاره معنی ذکر کول دي. او ددې دپاره مثال او تطبيق د مثال کول دي، کما هو ظاهرٌ بیا ځنګه چې اي په معنی د الذي راځي، نو همدارنګې اية په معنی د التي سره راځي لکه اضرب ايتهن في الدار ای التي في الدار.

وذوالطائية : غرض د شارح د الطائية قيد تشريح کول دي، دا قيد د طائيه چې يې لړولې دی دا منسوب دی بني طی قبیلې ته، وجه داده چې د دوی په لغت کې ذو په معنی د الذي او التي سره راغلې دی، شاعر وايي :

و بئري ذو حفرت و ذو طويت

الى التي حفرتها و الى طويتها

بیا ذوا دلته په معنی د التي سره ځکه اخلي، چې بئر مونث سماعي دی بیا ذو په دوه قسمه دی، يو ذو صاحبی دی، دا معرب دی او دوهم ذوطائي دی دا په احوال ثلاثه کې مبني وي، ځکه که دا بدلیدلی، نو په کار ده چې ذي حضرت وی.

سوال : کله چې ذو موصولي دی، نو په دې شعر کې خو عائد ذکر نه دی؟

جواب: هغه عائد شارح په دې عبارت حضرتها سره ذکر کړې دی.

وذا بعد ما : غرض د ماتن خو پنځم موصول عام ذکر کول دي، چې هغه ذا دی کله چې د ما استفهامي نه وروسته ذکر شي. شارح الكائنة راويستو، د جار مجرور دپاره يې متعلق راويستو، او دې کې اشاره دې ته ده چې دا جار مجرور صفت د ما دی په اعتبار د متعلق سره. شارح بیا مثال او تطبيق د مثال کړې دی.

والالف واللام : غرض د شارح د ماتن شپږم موصول عام ذکر کول دي، چې هغه الف لام په معنی د الذي او التي سره دی، د ا شانته د تثنيه او جمع دپاره هم راځي.

والعائد المفعول الخ : غرض د ماتن حکم اول د موصول ذکر کول دي ، هغه دا چې عائد کله مفعول وي، نو حذف يې جائزدی، دوهم غرض دفع د يو سوال ده :

سوال: تا مخکې وويل، چې د موصول دپاره صله لازم ده، چې د غه صله کې به عائد وي او

راجع به وي موصول ته. حالانکه زه به درته وښایم، چې په صله کې به عائد نه وي. لکه قرآن کریم کې راځي الله يبسط الرزق لمن يشآء دلته يشآء صله ده، او عائد په کې نشته، چې موصول ته راجع وي؟

جواب: ماتن جواب وکړو. چې عائد کله مفعول وي، نو حذف يې جائزدی مثال مذکور کې هم عائد مفعول دی، نو ځکه حذف شوې دی.

اي العائد الذي الخ: غرض د شارح دفع د یو سوال ده:

سوال: بحث د حذف د عائد خروج دی د بحث نه او خروج د بحث نه ښه کار نه دی؟

جواب: مراد ددې نه هغه عائد دی، چې په موصولاتو کې ذکر کیږي نو دا خروج د بحث نه، نه دی.

اذا لم تمنع الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ته وايې چې عائد مفعول وي، نو حذف يې جائزدی، حالانکه په سمع الله لمن حمده کې د ه ضمیر حذف د سر نه جائزنه دی؟

جواب: مونږ دا قید لګوو چې کله مانع نه وي او دلته د حذف نه مانع شته هغه داچې ما ابق دلیل په ما الق نه کرځي. همدارنګې کوم عائد چې الف لام موصولي ته راجع وي، د هغې حذف هم ناجائزدی.

لانه فضلةٌ: غرض د شارح دلیل د حذف دپاره ذکر کول دي، هغه دا چې دغه عائد فضله دی او حذف د فضله جائزدی.

لا اذا كان الخ: غرض د شارح د المفعول قید فائده ذکر کول دي، او دفع د یو وهم او سوال هم کوي:

سوال: زه به درته وښائم چې په صله کې به ضمیر د مجرور وي او هغه به حذف شوی وي؟ لکه الذي انا ضاربٌ زیدٌ ای انا ضاربه؟

جواب: دا قید د المفعول دپاره د اخراج د فاعل دی، ځکه صله کې فاعل نه حذف کیږي، هغه عمده دی.

وَ اعْلَمْ اَنَّ النُّحَاةَ وَضَعُوْا بَابًا يُسَمُّوْنَهُ بَابَ الْاَخْبَارِ بِالَّذِيْ اَوْ مَا يَقُوْمُ مَقَامَهُ

پوه شه چې نحويانو وضع کړي يو باب نوم يې ورکړي ورته د باب د هغه اخبار و کوم چې په الذي او يا قائمقام

وَ مَقْصُوْدُهُمْ مِنْ وَضْعِهِ تَمْرِيْنُ الْمُتَعَلِّمِ فِيْمَا تَعَلَّمَهُ فِيْ هٰذَا الْفَنِّ مِنَ الْمَسَائِلِ وَ تَذْكِيْرِهِ

د الذي وي او مقصود د وضع نه تمرين د متعلمينو دي په خپل تعليم کې د دې فن سره د مسائلو نه او يادولو

اِيَّاهَا فَاِنَّهُمْ اِذَا قَالُوْا لِاَحَدٍ اَخْبِرْ عَنِ الْاِسْمِ الْفُلَانِيِّ فِي الْجُمْلَةِ الْفُلَانِيَّةِ

د مسائلو د دې نه ځکه چې کله دوي ووايي يو چاته چې خبرورکړه د فلاني نوم نه په فلاني جمله کې په

بِالَّذِيْ بَعْدَ بَيَانِهِمْ طَرِيْقَةَ الْاَخْبَارِ بِهِ لَا بُدَّ لَهُ مِنْ تَذَكُّرٍ كَثِيْرٍ مِنْ

الذي سره وروستو د بيان د دوي لره طريقې د خبرورکولو په هغې سره نو ضروري ده چې ياد کړل شي ډير

مَسَائِلِ النَّحْوِ وَ تَدْقِيْقِ النَّظْرِ فِيْهَا حَتّٰى يَعْلَمَ اَنَّ ذٰلِكَ الْاَخْبَارَ

مسائل د نحو او پوره په دقت سره نظر وکړل شي په دغه مسائلو کې تر دې چې بنه معلومه شي چې دا اخبار

فِيْ اَيِّ اِسْمٍ يَصِحُّ وَ فِيْ اَيِّ اِسْمٍ يَمْتَنِعُ فَاَرَادَ الْمُصَنِّفُ الْاِشَارَةَ اِلٰى هٰذَا الْبَابِ

په کوم اسم کې صحيح کيږي او په کوم کې نه صحيح کيږي نو اراده وکړه مصنف اشاره کول دې باب ته په

فَقَالَ وَ اِذَا اَخْبَرْتَ اَيْ اِذَا اَرَدْتَ اَنْ تُخْبِرَ عَنْ جُمْلَةٍ بِالَّذِيْ اَيْ

دې قول سره واذا اخبرت يعنې کله چې ته اراده وکړې چې خبرورکړې جزء د جملې ته په الذي سره يعنې

بِاِسْتِعَانَةِ الَّذِيْ اَوِ الَّتِيْ وَ الْاَلِفِ وَ اللَّامِ فَاِنَّ الْبَاءَ لَيْسَتْ بِصِلَةٍ لِلْاَخْبَارِ

په استعانت د الذي سره او يا په استعانت د التي سره او يا په الف لام سره ځکه چې باء صله نه ده د اخبار د پاره

لِاَنَّ الَّذِيْ مُخْبَرٌ عَنْهَا لَا مُخْبَرٌ بِهَا صَدَّرْتَهَا اَيْ اَوْقَعْتَ كَلِمَةَ

ځکه چې الذي نه خبرورکول شوي دي نه دا چې خبر د هغې په وسيله کيدې شي نو په سر کې به راځي کلمه

الَّذِيْ اَوْ مَا يَقُوْمُ مَقَامَهَا فِيْ صَدْرِ الْجُمْلَةِ الثَّانِيَةِ وَ جَعَلْتَ مَوْضِعَ الْمُخْبَرِ

د الذي او هغه څه چې قائمقام د الذي وي يعنې په اول د دوهمې جملې کې او وبه ګرځول شي په ځای د مخبر

عَنْهُ اَيْ فِيْ مَوْضِعِ مَا هُوَ مُخْبَرٌ عَنْهُ بِالَّذِيْ فِي الْجُمْلَةِ الثَّانِيَةِ يَعْنِيْ فِيْ مَوْضِعِهِ الَّذِيْ كَانَ

عنه يې کوي نه چې خبر ورکړل شوي په الذي سره په دوهمه جمله کې يعنې په هغه ځای کې چې د هغه د

لَهُ فِي الْجُمْلَةِ الْاُوْلٰى ضَمِيْرًا لَهَا اَيْ لِكَلِمَةِ الَّذِيْ وَ اَخَّرْتَهُ اَيِ الْمُخْبَرُ عَنْهُ عَنِ

پاره په اولنۍ جمله کې ضمير د پاره د دې يعنې د پاره د کلمې د الذي او د مخبر عنه به وروستو کړل شي د

الضَّمِيْرِ	خَبَرًا	نُصِبَ	عَلَى	الْحَالِ	وَ	ضَمَّنَ	اَخَّرْتَهُ مَعْنَى
ضمیرنه په داسي حال کې چې دا به خبروي نصب د خبربنابر حالیت دي یا متضمن دي آخر دهغې معنی د							
جَعَلْتَهُ	اَيْ	جَعَلْتَهُ	خَبَرًا	مُتَاخِرًا	فَاِذَا اَخْبَرْتَ مَثَلاً	عَنْ زَيْدٍ مِنْ جُمْلَةِ	ضَرَبْتُ زَيْدًا
جعل لره یعنې داچې وبه ګرځوي داخبرمؤخرپس که ته خبرورکوي مثلاً د زیدنه په جمله د ضربت زیداً							
بِكَلِمَةِ	الَّذِيْ	وَقَعْتَهَا	فِيْ صَدْرِ	الْجُمْلَةِ الثَّانِيَةِ	وَ	جَعَلْتَ فِيْ	مَوْضِعِ مَا هُوَ
سره په کلمه د الذي هغه چې واقع ده په صدرددوهمې جملې کې اووبه یې ګرځوي په داسې ځای							
مُخْبِرٌ	عَنْهُ	فِيْ	هٰذِهِ	الْجُمْلَةِ	اَعْنِيْ	زَيْدًا.	
کې چې خبرورکول کیږي ددې نه په دې جمله کې یعنې زیداً کې.							

اغراض دجامي : واعلم الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره د یو سوال مقدر جواب ورکول دي:

سوال: مخکې ماتن د اسمآء اشاراة او موصولاتو ذکر وکړو اوس ذکر د اخبار بالذي کوي ددې د مخکې سره څه ربط دي؟ دا خو خروج د بحث نه دی؟

جواب: دا خروج د بحث نه، نه دی، بلکې الذی د موصولاتو نه دی، نو اخبار بالذی متعلق د موصولاتو شو.

اوما یقوم: غرض د شارح دفع د وهم ده. وهم دادی، چې اخبار خو په التي الف لام سره هم راځي، نو صرف الذي ولې ذکر کوي؟

جواب: که الذي دي او که د هغې قائمقام دی، دا ټول مراد دي بیا مقصود په دې باب کې د متعلم تمرین وي.

و اذا اخبرت الخ: غرض د ماتن په دې عبارت سره قاعده کلیه ذکر کول دي، دوهم ددې دپاره به مثال ذکر کړي، دریم اجراء ددغه قاعدې به په الف لام کې وکړي، څلورم تفریع کلي به پرې وکړي، پنځم بیا به تفریحات جزئیه وکړي. حاصل د قاعدې کلیې دا دی، چې کله ته د یو شي نه په الذي سره خبر ورکوي، نو اول د جمله کې به الذی راوړې او کوم شی چې په الذي سره مخبر عنه جوړیږي، نو دده په ځای به ضمیر راوړې او دغه مخبرعنه به په طور د خبر وروسته کړې لکه د ضربت زیدًا اخبار چې په الذي سره ورکوي، نو اول به الذي راوړې بیا به د زید په

ځاى ضمير راوړې. او زيد به په طور د خبر وروسته کړې نو عبارت به داسې شي، الذى ضربته زيد.

اى اذا اردت الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده:

سوال: اذا اخبرت شرط او صدرتها ورله جزاء ده. او جزاء په شرط متفرع وي او دلته تفريع نه صحيح کيږي، ځکه چې تصدير په الذي سره مخکې دى د اخبار بالذي نه؟

جواب: صدرتها جزاء د اخبار نه ده، بلکې د ارادة عن الاخبار دپاره ده او ارادة عن الاخبار مقدم وي په تصدير باندې.

اى باستعانة الذى الخ: غرض د شارح اشاره کول دي، چې بآء د استعانت ده او دوهم غرض دفع د يو سوال ده:

سوال: کله چې د اخبار په صله کې بآء راشي، نو مدخول د بآء مخبر به حالانکه دلته مدخول د بآء الذي مخبر به نه دى، بلکې مخبر عنه دى؟

جواب: دا بآء صله د اخبار نه ده، بلکې دا دپاره د استعانت ده اى اذا اخبرت مستعناً بالذي.

او التي اله: غرض د شارح عموم طرف ته اشاره کول دي.

فان البآء الخ: غرض د شارح تصريح کول دي په جواب مذکوره باندې.

اى اوقعت الخ: غرض د شارح دفع د وهم ده:

وهم: تصدير خو دې ته وايي چې په الذي بل شى مخکې کړې، حالانکه دلته خو بل شى نشته بلکې دغه الذي مخکې راوړې شي، نو صدرتها ويل صحيح نه دي؟

جواب: صدرت په معنى د اوقعت سره دى يعنې همدغه الذي به په سر د کلام کې راوړى شي.

وما يقوم الخ: غرض د شارح عموم طرف ته اشاره کول دي.

في صدر الجملة الثانية: په دې مقام کې يو جمله اولى ده، دا هغه ده چې الذي په کې نه وي راغلې، او بله جمله ثانيه ده. دا هغه ده چې د اخبار په وخت په کې الذي راوړې شي.

وجعلت موضع المخبر عنه: په دې مقام کې الذي حقيقتاً مخبر عنه نه دى، بلکې مخبر عنه هغه

شي دی چې الذي د هغه په ځای واقع وي، نو دا الذی مجازاً مخبر عنه شو.

اى في موضع الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: د جعل دپاره دوه مفعوله وي او مفعول ثاني حمل وي په اول باندې او دلته دغه حمل نه صحيح کېږي؟

جواب: دلته موضع مفعول به نه دی، بلکې دا مفعول فيه دی، په تقدير د في سره.

يعني في موضعه الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: ته وايې چې دغه ضمير به په ځای د مخبرعنه راوړی شي، اوس سوال دا دی، چې کوم ځای دغه مخبرعنه وو، نو هغه وخت دا ضمير نه وو او کله چې ضمير شته، نو اوس دا ضمير مخبرعنه نه دی، حالانکه نائب لره حکم د منوب وي؟

جواب: دې ته مونږ مخبرعنه په اعتبار د جمله اولی سره وايو، او ضمير ورته په اعتبار د جمله ثانيه سره وايو.

اى الكلمة الذي: غرض د شارح په دې عبارت سره د ها ضمير مرجع متعين کوي او دفع د يو سوال هم کوي:

سوال: هاء ضمير راجع دی الذي ته او هغه مذکر دی، نو مطابقت نشته د ضمير او مرجع په مينځ کې؟ شارح دغه سوال وکړو چې دا ضمير الذي ته نه دی راجع، بلکې کلمه د الذي ته راجع دی او کلمة لفظ مؤنث دی، نو مطابقت موجود شو.

اى المخبرعنه: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول ديو بيا تاخير به څکه کوو، چې دغه مخبر عنه په دې ترکيب کې خبر جوړيږي، او اصل په خبر کې تاخير دی.

نصب على الحال: غرض د شارح وجه د نصب ذکر کول دي، چې خبراً حال دی د ضمير د مخبر عنه نه او حال د منصوباتو يو قسم دی.

او ضمّن الخ: غرض د شارح دوهمه وجه د نصب ذکر کول دي، حاصل د هغې دا دی، چې اخرته متضمن دی معنی د جعل لره دا بيا دوه مفعوله غواړي، نو خبراً مفعول ثاني دی، څکه منصوب دی بيا تضمين په دوه قسمه دی: اول دا چې متضمِن اصل او متضمَن فرع وګرځوي، او دوهم د دې بر عکس صورت دی، دلته اخرته متضمن دی او جعل ورلره متضمّن دی نو شارح دا

متضمّن اصل کړو او متضمّن یې فرع کړه، ځکه چې متضمن یې صفت د خبر وګرځوو او صفت تابع وي نو دلته د تضمین هغه دوهم قسم مراد دی.

فاذا اخبرت الخ: غرض د ماتن ددغه قاعدې دپاره مثال ذکر کول دي.

مثلاً: غرض د شارح اشاره کول دي، چې دا قید اتفاقي دی. نورو مثالونو کې هم اجراء کولې شي.

من جملة: د شارح اشاره کول دي چې خبر خو د ټولې جملې نه، نه وي، بلکې د یو جزء د جملې نه وي، چې هغه زید دی.

اوقعتها الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح طریقه د اجراء ذکر کول دي، چې مخکې د هغې تفصیل شوې دی.

وَ الْمُرَادُ بِمَوْضِعِهٖ مَحَلُّهُ الَّذِيْ كَانَ لَهٗ فِي الْجُمْلَةِ الْاُوْلٰى وَ هُوَ مَحَلُّ الْمَفْعُوْلِ مِنْ ضَرَبْتَ
اومراد په وضع د محل دالذي کان له کې په جمله اولی کې محل دمفعول دي د ضربت نه نو په ضربت کې
ضَمِيْرًا لِلَّذِيْ وَ اَخَّرْتَ الْخَبَرَ عَنْهُ يَعْنِيْ زَيْدًا وَ جَعَلْتَهٗ خَبَرًا عَنِ الَّذِيْ
ضمیر دالذي دپاره شوو روستو کړل شو خبرورکول دهغې نه یعني زیداًووګرځول شو هغه خبرد الذي نه زه
وَ قُلْتُ الَّذِيْ ضَرَبْتُهٗ زَيْدٌ وَ كَذٰلِكَ اَيْ مِثْلُ الَّذِيْ اَلْاَلِفُ وَ اللَّامُ فِي الْجُمْلَةِ الْفِعْلِيَّةِ خَاصَّةً
وایم الذي ضربته زید اوهمدارنګې په مثل دالذي الف اولام دي په جمله فعلیه کې خاص ددې دپاره
لِيَصِحَّ بِنَاءُ اِسْمِ الْفَاعِلِ وَ الْمَفْعُوْلِ مِنْهَا فَاِنَّ صِلَةَ الْاَلِفِ وَ اللَّامِ لَا تَكُوْنُ اِلَّا اِسْمَ الْفَاعِلِ وَ الْمَفْعُوْلِ
چې صحیح شي بنا دفاعل اومفعول له دې نه ځکه چې صله دالف لام نه وي مګریااسم فاعل یامفعول اودا
وَ يُمْكِنُ اَنْ يُؤْخَذَ اِسْمُ الْفَاعِلِ مِنَ الْمَبْنِيِّ لِلْفَاعِلِ وَ اِسْمُ الْمَفْعُوْلِ مِنَ الْمَبْنِيِّ
امکان هم شته چې واخستل شي د اسم فاعل نه چې مبني للفاعل وي اوداسم مفعول نه هغه چې مبني
لِلْمَفْعُوْلِ بِشَرْطِ اَنْ يَكُوْنَ الْفِعْلُ الَّذِيْ يَتَضَمَّنُهُ الْجُمْلَةُ الْفِعْلِيَّةُ مُتَصَرِّفًا اِذْ
للمفعول وي په دې شرط چې هغه فعل کوم چې متضمن وي جملې فعلیې لره فعل متصرف وي ځکه چې
غَيْرُ الْمُتَصَرِّفِ نَحْوُ نِعْمَ وَ بِئْسَ وَ حَبَّذَا وَ عَسٰى وَ لَيْسَ لَا يَجِيْءُ مِنْهُ اِسْمُ فَاعِلٍ وَ لَا مَفْعُوْلٍ فَلَا
فعل غیر متصرف لکه نعم بئس حبذا عسی اولیس نه راځي ددوي نه، نه اسم فاعل اواسم مفعول نو نه شي
يُخْبَرُ بِاللَّامِ عَنْ زَيْدٍ فِيْ لَيْسَ زَيْدٌ مُنْطَلِقًا وَ بِشَرْطِ اَنْ لَا يَكُوْنَ فِيْ اَوَّلِ ذٰلِكَ الْفِعْلِ
ورکولې اخبار په لام سره د زید نه په مثل د لیس زید منطلقاً کې اوپه دې شرط چې نه به اول ددې فعل داسې

حَرْفٌ لَا يُسْتَفَادُ مِنْ اِسْمِ الْفَاعِلِ وَ الْمَفْعُوْلِ مَعْنَاهَا كَالسِّيْنِ وَ سَوْفَ وَ حَرْفُ النَّفْيِ وَ
حرف چې هم ته نه راځي د اسم فاعل یا د اسم مفعول نه معنی د هغې لکه سین او سوف او حرف د نفي او د
الْاِسْتِفْهَامِ فَلَا يُخْبِرُ بِاللَّامِ مِنْ زَيْدٍ فِيْ جُمْلَةِ سَيَقُوْمُ زَيْدٌ فَاِنَّهُ اِذَا
استفهام نو خبر نه شي ورکول کیدي په لام سره د زید نه په جمله د سیقوم زید کې ځکه چې کله اسم فاعل
بُنِيَ اِسْمَ الْفَاعِلِ مِنْ سَيَقُوْمُ يَكُوْنُ قَائِمًا فَيَفُوْتَ مَعْنَى السِّيْنِ.
جوړ کړې شي د سیقوم نه نو شي به قائمًا نو فوت شوه معنی د سین.

اغراض د جامي : <u>والمراد بموضعه الخ</u>: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال: مخکې مونږ ذکر کړې دی سره د جواب نه، او س پس د اجرآء نه به تقدیر د عبارت داسې شي الذي ضربته زيدٌ.

<u>وكذلك</u>: غرض د ماتن د ریمه خبره اجرآء د دغه قاعدې ده په الف لام کې مقصد د خبرې دادی، چې کله د یو شي په الف لام سره خبر ورکوي، نو چې فعل معلوم وي، نو په اسم فاعل سره به خبر ورکوي، او الف لام به پرې داخل کړي. او د مخبرعنه په ځای به ضمیر راوړي او که فعل مجهول وو، نو په اسم مفعول سره به خبر ورکوي او الف لام به پر داخل کړي او د مخبرعنه په ځای به ضمیر راوړي، لکه په ضرب زيدٌ کې به الضارب هو زيدٌ ویلی شي او ضُرب زيدٌ کې به المضروب هو زيدٌ ویلې شي.

<u>ای مثل</u>: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال: دلته جار مجرور په اعتبار د متعلق سره مبتداء واقع ده، حالانکه جار مجرور خو مبتداء نه واقع کېږي؟

جواب: کاف په معنی د مثل دی او مثل مبتداء واقع کیږي؟ یا دا جار مجرور خبر مقدم دی، او الالف ورلره مبتداء مؤخر ده.

<u>في الجملة الفعلية</u>: غرض د شارح دفع د وهم ده :

وهم : چې کله دغه قاعده په الذي سره ذکر شوه، نو د دغه اجرآء په الف لام سره کولو ته څه ضرورت دی؟

جواب: ماتن دغه سوال دفع کړو، چې ماسبق الذی کې عموم وو، دا الف لام د جمله فعلیه سره

خاص دی.

لیصح الخ: غرض د ماتن د جمله فعلیه پورې د اختصاص وجه ذکر کول دي، الف لام سره اخبار صرف د جمله فعلیه دپاره ځکه خاص دی، چې ددې نه بناء د اسم فاعل او اسم مفعول صحیح شي، ځکه چې د جمله اسمیه نه بنآء د اسم فاعل او اسم مفعول نه صحیح کېږي.

فان صلة الخ: مقصد دا دی، چې د الف لام موصولي دپاره صله حرف اسم فاعل او اسم مفعول واقع کېږي، البته عکس نشته، چې هر داخل شده په اسم فاعل او اسم مفعول دې الف لام موصولي وي.

ویمکن الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ته وایې چې د جمله فعلیه نه بنآء د اسم فاعل او اسم مفعول کیږي، حالانکه نعم فعل مدح دی او بناء د اسم فاعل او اسم مفعول ترې نه کیږي، نو په کار ده چې ورسره قید د متصرفا زیات کړې وی.

جواب: لیکن تاسو جواب کولې شئ چې لیصح، نو په دې عبارت کې دغه قید ته اشاره ده، ځکه چې فعل متصرف وي، نو هله ترې بنآء د اسم فاعل او اسم مفعول کېږي.

فلا یخبر الخ: غرض د شارح په دغه قید باندې تفریح کول دي.

وبشرط الخ: غرض د شارح په ماتن باندې دوهم سوال کول دي، حاصل د سوال دادی، چې زه به درته وښائم چې فعل متصرف به وي او بیا به هم بنآء د اسم فاعل او اسم مفعول ترې نه کیږي، لکه یسن، سوف چې د کوم فعل ابتداء کې راشي، نو ماتن لره په کار وو چې دا قید یې ورسره لګولې وی.

بشرط ان لا یکون في ذلك الخ: لیکن تاسو جواب کولې شئ، چې ماتن په لیصح سره دغه قید ته هم اشاره کړې ده، ځکه چې د هغه فعل نه بناء د اسم فاعل او بناء د اسم مفعول نه صحیح کیږي، د کوم په سر کې چې سین او سوف وي، ددې وجه داده چې که دغه سین سوف ورسره نه راوړې نو معنی د سین سوف فوت کیږي، او که راوړې نو اسم فاعل اسم مفعول ترې جوړېدل ناممکن دي.

فَإِنْ تَعَذَّرَ أَمْرٌ مِنْهَا أَيْ مِنَ الْأُمُوْرِ الثَّلٰثَةِ الَّتِيْ هِيَ بِتَصْدِيْرُ الْمَوْصُوْلِ وَ وَضْعَ
اوکه چیرته متعذر شو یو امر د دغه درې امورونه چې هغه په سرکې راوړل د موصول دي او وضع کول د ي

عَائِدُ الْمَوْصُوْلِ مَقَامَ ذٰلِکَ الْاِسْمِ وَ تَاخِيْرَ ذٰلِکَ الْاِسْمِ خَبَرًا تَعَذَّرَ الْاِخْبَارُ وَ مِنْ ثَمَّ
عائد دي په ځای دد غه اسم او تاخير دد ې اسم دي په خبر باند ې نو متعذر کيږي اخبار ورکول او دد ې وجې
اَیْ مِنْ اَجْلِ اَنَّهُ اِذَا تَعَذَّرَ اَمْرٌ مِنْهَا تَعَذَّرَ الْاِخْبَارُ اِمْتَنَعَ الْاِخْبَارُ بِالَّذِیْ فِیْ ضَمِيْرِ
چې کله يو دد غه امورو متعذر شونو ور سره متعذر کيږي اخبار جائز نه دي اخبار ورکول په الذي سره په ضمير
الشَّانِ بِاَنْ يَّكُوْنَ ضَمِيْرُ الشَّانِ مُخْبَرًا عَنْهُ لِاِمْتِنَاعِ تَصْدِيْرِ الْجُمْلَةِ بِالَّذِیْ
شان سره په داسې شان چې د ضمير شان نه خبر ورکړل شي دوجې د عدم جواز د سر ته راوړلو د الذي په سر د
وَ تَاخِيْرُ الْمُخْبِرِ عَنْهُ خَبَرًا لِوُجُوْبِ تَقْدِيْمِهٖ عَلَى الْجُمْلَةِ وَ كَذٰلِکَ
جمله کې او وروستو والي د مخبر عنه بنا بر خبريت څکه چې لازم دي تقديم د هغې په جمله باندې او همدارنګه
اِمْتَنَعَ فِی الْمَوْصُوْفِ بِدُوْنِ الصِّفَةِ وَ فِی الصِّفَةِ بِدُوْنِ الْمَوْصُوْفِ فَلَا يَجُوْزُ فِیْ ضَرَبْتُ زَيْدًا نِ
جائز نه دي په موصوف کې په غير د صفت نه او په صفت کې په غير د موصوف نو جائز نه دي په ضربت زيدن
الْعَاقِلَ اَنْ تُخْبِرَ بِالَّذِیْ عَنْ زَيْدٍ بِدُوْنِ الْعَاقِلِ وَ لَا عَنْ عَاقِلٍ بِدُوْنِ زَيْدٍ
العاقل کې چې خبر ورکړل شي په الذي سره د زيد نه په غير د عاقل نه او نه د عاقل نه په غير د زيد څکه چې
لِاِسْتِلْزَامِهٖ وُقُوْعُ الضَّمِيْرِ صِفَةً اَوْ مَوْصُوْفًا بِخِلَافِ مَا
دلته دوي په طريقې د ملزوم سره واقع دي په ځای د ضمير که صفت وي او که موصوف په خلاف د هغې چې
اِذَا اَخْبَرْتَ عَنْ مَجْمُوْعِهِمَا فَيُقَالَ الَّذِیْ ضَرَبْتُهٗ زَيْدُ نِ الْعَاقِلَ وَ كَذٰلِکَ امْتَنَعَ فِی الْمَصْدَرِ
کله ته خبر ورکوي د مجموعې د هغوي نه نو ويل کيږي ضربته زيدن العاقل او همدارنګه جائز نه دي په مصدر
الْعَامِلِ بِدُوْنِ الْمَعْمُوْلِ فَلَا يَجُوْزُ فِیْ نَحْوِ عَجِبْتُ مِنْ دَقِّ الْقَصَّارِ الثَّوْبَ اَنْ تُخْبِرَ
عامله کې په غير د معمول نه پس جائز نه دي په مثل د عجبت من ان القصار الثوب چې خبر ورکړل شي په
بِالَّذِیْ عَنْ دَقِّ الْقَصَّارِ بِدُوْنِ الثَّوْبَ لِاَنَّهٗ يُؤَدِّیْ اَنْ يَّعْمَلَ الضَّمِيْرَ الَّذِیْ جَعَلَ
الذي سره د دق القصار نه په غير د الثوب نه څکه چې دا مؤدي کيږي دې ته چې عمل وکړي ضمير کوم چې ګرځول
فِیْ مَوْضِعِ دَقِّ الْقَصَّارِ عَامِلًا فِی الثَّوْبِ بِخِلَافِ الَّذِیْ عَجِبْتُ مِنْهُ دَقِّ الْقَصَّارِ الثَّوْبَ.
شوي په ځای د دق القصار کې عامل په ثوب کې په خلاف د الذي عجبت منه دق القصار الثوب

اغراض د جامي : فان تعذر الخ: غرض د ماتن په دې عبارت سره تفريع کلي يعني څلورمه خبره کړل دي، حاصل د هغې دا دی، چې مخکې درې شرائط بيان شو.

نَضَرَبْتُ ضَرَبْتُ مُشْتَرَكٌ بَيْنَ الْوَاحِدِ الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ وَ ضَمِيْرُ ضَرَبْنَا بَيْنَ
ضمیر د ضربت مشترک دي په مینځ د واحد او مذکر او مؤنث کې او ضمیر د ضربنا مشترک دي په مینځ د
الْأَرْبَعَةِ الْمُثَنَّى الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ وَ الْمَجْمُوْعِ الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ وَ وَضَعُوْا لِلْمُخَاطَبِ خَمْسَةَ أَلْفَاظٍ
څلورو کې چې مثنی مذکر ده او مؤنث ده او مجموع مذکر او مؤنث ده او وضع شو د مخاطب د پاره پنځه الفاظ
أَرْبَعَةٌ غَيْرُ مُشْتَرَكَةٍ وَ وَاحِدٌ مُشْتَرَكٌ بَيْنَ الْمُثَنَّى الْمُذَكَّرِ وَ الْمُؤَنَّثِ وَ أَعْطُوْا لِلْغَائِبِ حُكْمَ
څلور غیر مشترک دي او یو مشترک دي په مینځ د مثنی مذکرې او مؤنثې کې او ورکړې شو غائب ته حکم
الْمُخَاطَبِ فِيْ ذٰلِكَ فَإِنَّ الضَّمِيْرَ فِيْ مِثْلِ ضَرَبَا وَ ضَرَبَتَا هُوَ الْأَلِفُ الْمُشْتَرَكُ بَيْنَهُمَا وَ التَّاءُ حَرْفُ
د مخاطب په دې کې ځکه چې ضمیر په مثل د ضربا او ضربتا کې الف مشترک دي په دوي کې او تا حرف
التَّانِيْثِ وَ بَقِيَّةُ الْأَنْوَاعِ الْخَمْسَةِ جَارِيَةٌ عَلٰى هٰذَا الْمَجْرٰى أَعْنِيْ أَنَّ لِلْمُتَكَلِّمِ لَفْظَيْنِ وَ لِلْمُخَاطَبِ
تانیث دي پاتې نورې نوعې هم په همدې طریقه دي یعني چې د متکلم د پاره دوه لفظه دي او د مخاطب د پاره
خَمْسَةً وَ لِلْغَائِبِ خَمْسَةً فَصَارَ الْمَجْمُوْعُ إِثْنَى عَشَرَةَ كَلِمَةً لِثَمَانِيَةَ عَشَرَ مَعْنًى فَإِذَا كَانَ لِكُلٍّ مِنَ الْأَنْوَاعِ الْخَمْسَةِ
پنځه او د غائب د پاره پنځه نو ټولنی دولس کلمې جوړې شوې د اتلسو معنو د پاره او چې د هر یو د پنځو نوعو
إِثْنَتَا عَشَرَةَ كَلِمَةً لِثَمَانِيَةَ عَشَرَ مَعْنًى تَكُوْنُ جُمْلَتُهَا سِتِّيْنَ كَلِمَةً لِتِسْعِيْنَ مَعْنًى وَ بَيَّنُوْا
د پاره دولس کلمې جوړې شوې د اتلسو معنو د پاره نو ټولې شپیته کلمې شوې د نوي معنو د پاره او بیان
لِتِلْكَ الْأُمُوْرِ عِلَلاً وَ مُنَاسَبَاتٍ لَا نُطَوِّلُ الْكَلَامَ بِذِكْرِهَا.
کړې نحویانو د دې کلمو د پاره اعلالات او مناسبات چې مونږ دیر اوږد بحث نه شو ذکرکولای.

اغراض د جامي : والخامس: کله چې فارغ شو ماتن د څلورو اقسامو د مثالونو نه، نو شروع یې وکړه په مثال د پنځم قسم کې.

والنوع: چونکه الخامس صفت وو، نو شارح ورلره موصوف راویسته چې هغه النوع دی، بیا په دې مقام کې شارح د قسم خامس تعیین ونه کړو، ځکه د ما قبل نه خپله معلوم شو چې پاتې قسم مجرور متصل دی.

غلامي: غرض د ماتن مثال ذکر کول دي.

مثال المنفصل بالاسم: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: څه باعث ده په ماتن چې دوه امثله یې راوړي دي، وضاحت د پاره خو یو مثال کافي وو؟

التي هي الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره د ضمير مرجع متعين کول دي

التي هي الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره بيان د هغه شرائط ثلاثه کول دي، کوم چې مخکې مونږ بيان کړو.

و من ثم الخ: غرض د ماتن پنځمه خبره تفريعات جزئيه کول دي، نو مجموعه شپږ مقامات به ذکر کړي، چې په هغه مقاماتو کې اخبار په الذي سره منع دی، يو د هغې نه ضمير شان دی، چې دې کې دوه وجې د منع په کې دي او باقي پنځه مقامات کې يو يو وجه د منع ده.

اى من اجل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: ثم اسم اشاره دپاره د مکان راځي، نو ددې مشار اليه به مکان وي او دلته خو تعذر مکان نه دی؟

جواب: ثم دلته کې اجليه دی.

سوال: د ثم اجليه او اسم اشاره په مينځ کې به مونږ فرق په څه کوو؟

جواب: که په ثم باندې من داخل شوې وو نو دا به اجليه وي، او که من پرې نه وو داخل شوې نو دا به اسم اشاره د مکان وي.

بيا دلته کې شارح قانون طرف ته اشاره وکړه، چې ما قبل د ثم به علت وي دپاره د ما بعد د ثم لکه دلته کې تعذر علت دی دپاره د امتناع.

الاخبار بالذي: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: بحث د اخبار بالذي روان دی او ته ضمير شان ته لاړې دا خو خروج دی د بحث نه؟

جواب: دا خروج عن البحث نه دی، بلکې دغه ضمير شان په اخبار بالذي کې مراد دی.

لامتناع الخ: ددغه امتناع دپاره دوه وجې ذکر کوي، ضمير شان هم صدارت في الکلام غواړي، او الذي هم صدارت في الکلام غواړي، اوس که الذي سره د ضمير شان نه خبر ورکوو، نو د ضمير شان هغه صدارت فوت کيږي. ضمير شان په طور د خبر نه شي وروستو کيدې، ځکه دده تقديم په جمله واجب دی، او خبر خو وروسته وي.

والموصوف والصفة: غرض د ماتن دوهم مقام د امتناع ذکر کول دي، هغه دا چې خبر د موصوف نه په الذي سره ورکړې او صفت ذکر نه کړې يا ددې عکس وکړې.

كذلك: شارح په دې تقدير سره اشاره وكړه. چې عطف د قبيلې د مشبه نه په مشبه به باندې دى، نه كه عطف د مساوي په مساوي باندې. وجه داده چې را تلونكو مقاماتو كې د امتناع دپاره يو وجه ده او ضمير شان كې د امتناع دوه وجې وې

امتنع في غرض: د شارح قاعدې طرف ته اشاره كول دي قاعده داده. چې ما قبل د معطوف عليه نه معاد وي، په ما قبل د معطوف كې نو دا عبارت يې راويستو.

لاستلزامه الخ: غرض د شارح وجه د امتناع ذكر كول دي، حاصل د هغې دادى، چې ددغه موصوف او صفت په ځاى به ضمير راوړې يا نه؟ كه ضمير نه راوړې، نو د قاعدې خلاف راځي او كه ددغه په ځاى صمير راوړې، نو دا ضمير به قايم مقام د موصوف او صفت ذكر كيږي او نائب لره حكم د موصوف وي او حال دادى، چې ضمير يې په موصوف او صفت باندې نه موصوف كېږي.

فلا يجوز الخ: غرض د شارح په دغه ما قبل خبره تفريع كول دي، هغه دا چې ضربت زيدٌ العاقل نه په الذي سره خبر وركول په غير د زيد يا په غير د العاقل نه وركول ناجائزدي، خو كه د دغه مجموعه نه خبر په الذي سره وركړې، نو بيا صحيح ده.

في المصدر العامل: غرض د ماتن دريم مقام د امتناع ذكر كول دي، حاصل د هغې دادى، چې مصدر كله عامل وي، نو دغه مصدر عامل نه اخبار په الذي سره وركول په غير د معمول نه ناجائز دي، ځكه چې عامل مصدر كله لرې كړې او دغه ځاى ضمير راوړې، نو عامل به ضمير وګرځي، حالانكه د ضمير وضع دپاره د معمول شوې ده.

فلا يجوز الخ: غرض د شارح په دغه ما قبل خبره تفريع كول دي، هغه دا چې عجبت من دق القصار الثوب نه خبر په الذي سره په غير د الثوب نه وركول ناجائزدي، خو د عامل اود معمول د مجموعې نه په الذي سره خبر وركولې شي، نو بيا په دې صورت كې الذي عجبت منه دق القصار الثوب ويل جائز دي.

وَ كَذٰلِكَ اِمْتَنَعَ فِي الْحَالِ لِاَنَّ الْحَالَ يَجِبُ اَنْ تَكُوْنَ نَكِرَةً فَلَا يَجُوْزُ اَنْ يَقَعَ
اوهمدارنګه جائزنه دي په حال كې ځكه چې په حال كې لازمي ده چې وي به نكره پس جائزنه دي چې واقع
الضَّمِيْرُ الَّذِيْ هُوَ مَعْرِفَةٌ فِيْ مَوْضِعِهَا بِالْحَالِيَّةِ وَ كَذٰلِكَ اِمْتَنَعَ فِي الضَّمِيْرِ
شي ضمير كوم چې معرفه دي په ځاى د نكرې بنابر حاليت اوهمدارنګه جائزنه دي په هغه ضمير كې كوم

الْمُسْتَحِقِّ لِغَيْرِهَا اَیْ لِغَيْرِ كَلِمَةِ الَّذِیْ لِامْتِنَاعِ تَصْدِيْرِ الَّذِيْ
چې مستحق وي دبل دپاره يعني په غير دكلمې دالذي دوجې دعدم جواز دمصدر كولو دكلام په الذي
لِاسْتِلْزَامِ ذٰلِكَ عَوْدَ الضَّمِيْرِ اِلَيْهَا فَيَبْقَى ذٰلِكَ الْغَيْرُ بِلَا ضَمِيْرٍ وَ كَمَا اِمْتَنَعَ فِيْ
سره دوجې دلازميدو دارجاع دضميردې ته نو پاتې شو دا غير بلا ضمير او همدارنګې جائزنه دي په هغه
الْاِسْمِ الْمُشْتَمِلِ عَلَيْهِ اَیْ عَلَى الضَّمِيْرِ الْمُسْتَحِقِّ لِغَيْرِهَا نَحْو قَوْلِكَ زَيْدٌ ضَرَبْتُ غُلَامَهُ
اسم کې کوم چې مشتمل وي په هغه ضمير چې مستحق وي دغير دپاره لکه داقول ستا زيد ضربت غلامه نو
فَلَا يَصِحُّ الْاِخْبَارُ عَنْ غُلَامِهِ بِاَنْ يُقَالَ اَلَّذِیْ زَيْدٌ ضَرَبْتُهُ غُلَامَهُ لِاَنَّكَ اِذَا
نه صحيح کيږي خبرورکول دغلامه په داسې شان چې وويل شي الذي زيد ضربته غلامه ځکه چې ته کله
جَعَلْتَ الضَّمِيْرَ عَائِدٌ اِلَى الْمَوْصُوْلِ بَقِيَ الْمُبْتَدَاءَ بِلَا عَائِدٍ وَ اِنْ جَعَلْتَهُ عَائِدًا اِلَى الْمُبْتَدَاءِ بَقِيَ
وګرځوې ضمير راجع موصول ته نو مبتدا بلا عائده پاتې شو اوکه وګرځوې ضمير راجع مبتدا ته نو باقي
الْمَوْصُوْلُ بِلَا عَائِدٍ وَ كُلٌّ مِنْهُمَا مُمْتَنِعٌ وَ مَا الْاِسْمِيَّةُ لَا الْحَرْفِيَّةُ فَاِنَّهَا اِمَّا كَافَّةٌ نَحْو اِنَّمَا
پاتې شو موصول بلا عائده او دواړه صورته جائزنه دي او هرچې اسميه دي نه حرفيه دابه ياکافي وي لکه انما
زَيْدٌ قَائِمٌ وَ اِمَّا نَافِيَةٌ مَا ضَرَبْتُ زَيْدًا وَ مَا زَيْدٌ قَائِمًا مَوْصُوْلَةٌ نَحْو عَرَفْتُ مَا اِشْتَرَيْتَهُ وَ
زيد قائم يابه نافيه وي لکه ماضربت زيدا وما زيد قائما يابه موصوله وي لکه عرفت مااشتريته اويابه
اِسْتِفْهَامِيَّةٌ نَحْو مَا عِنْدَكَ وَ مَا فَعَلْتَ وَ شَرْطِيَّةٌ نَحْو تَصْنَعْ اَصْنَعْ وَ مَوْصُوْفَةٌ اِمَّا بِمُفْرَدٍ نَحْو
استفهاميه وي لکه ماعندک ومافعلت اويابه شرطيه وي لکه ماتصنع اصنع يابه موصوفه بالمفرد وي لکه
مَرَرْتُ بِمَا مُعْجِبٍ لَكَ اَیْ شَیْءٍ يُعْجِبُكَ وَ اِمَّا بِجُمْلَةٍ نَحْو شِعْر رُبَمَا تَكْرَهُ النُّفُوْسُ
مررت بمامعجب لکه ای شئ يعجبک اويابه موصوفه جمله وي لکه داقول دشاعر ډيرخله ناخوښ وي يونفس
مِنَ الْاَمْرِ لَهُ فَرْجَةٌ كَحَلِّ الْعِقَالِ اَیْ رُبَّ شَيْءٍ تَكْرَهُهُ النُّفُوْسُ
ديوڅيزنه چې وي خلاصي په هغې کې لکه خلاصيدل داوښ دکړۍ دبندنه يعني رب الشئ تكرهه النفوس
وَ تَامَّةٌ بِمَعْنَى شَيْءٍ مُنْكَرٍ عِنْدَ اَبِيْ عَلِيٍّ وَ الشَّيْءُ الْمُعَرَّفُ عِنْدَ سِيْبَوَيْهِ
اويابه پوره وي په معنى ديوشئ سره چې نکره وي په نزد دابوعلي اوشيء به معرفه وي په نزد دسيبويه
نَحْو قَوْلِهِ تَعَالٰى فَنِعِمَّا هِيَ اَیْ نِعْمَ شَيْئًا اَوْ نِعْمَ الشَّيْءُ هِيَ وَ صِفَةٌ نَحْو اَضْرِبُهُ ضَرْبًا مَا اَیْ
لکه داقول دالله تعالى فنعماهي يعني نعم شيئا يانعم الشئ هي اويابه صفت وي لکه اضربه ضربا ما يعني

ضَرْبًا اَيْ ضَرْبٍ كَانَ وَ مَنْ كَذٰلِكَ اَيْ تَكُوْنَ مَوْصُوْلَةً نَحو اَكْرَمْتُ مَنْ جَاءَكَ اِسْتِفْهَامِيَةً نَحو

ضرباًاي ضرب كان او من همدارنګې وي به موصوله لکه اکرمت من جاءک او کيږي استفهاميه هم لکه

مَنْ غُلَامُكَ وَ مَنْ ضَرَبْتَ وَ شَرْطِيَّةً نَحو مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ وَ مَوْصُوْفَةً اِمَّا بِمُفْرَدٍ نَحو قَوْلِهِ

من غلامک ومن ضربت او کيږي شرطيه لکه من تضرب اضرب او کيږي موصوفه ياپه مفرد سره لکه داقول

شِعْر وَ كَفٰى بِنَا فَضْلًا عَلٰى مَنْ غَيْرِنَا حُبُّ النَّبِيِّ مُحَمَّدٍ اَيَّانَا

دشاعرشعر. کافي دي زمونږ دپاره دافضيلت په نوروچې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مينه کوي دمونږ سره

اَيْ شَخْصٍ غَيْرِنَا اَوْ بِجُمْلَةٍ نَحو مَنْ جَاءَكَ قَدْ اَكْرَمْتُهُ اِلَّا فِي

يعني دخپل امت سره يعني شخص غيرنايابه موصوف په جملې سره وي لکه من جاءک قدا کرمته مګرپه

التَّامَةِ وَ الصِّفَةِ فَاِنَّ كَلِمَةَ مَنْ لَا تَجِئُ تَامَّةً وَ لَا صِفَةً.

تامه او صفت کې نه ځکه کلمه د من نه تامه راځي او نه صفت.

شرح ملا جامي: **والحال**: غرض د ماتن څلورم مقام د امتناع ذکر کول دي، حاصل د هغې دا دي، چې دا د حال نه اخبار په الذي سره هم صحيح نه ده. ځکه د حال په ځاى به ضمير راوړې يا نه. اوس که ضمير نه راوړې، نو د قاعدې خلاف راځي، او که ضمير راوړې، نو لازميږي، تعريف د حال او حال خو نکره وي.

والضمير المستحق الخ: غرض د ماتن پنځم مقام ذکر کول دي، حاصل د هغې دادى، چې يو ضمير وي او د هغې دپاره يو مرجع موجود وي، علاوه د الذي نه. اوس که ددغه نه خبر په الذي سره ورکوې نو دغه ضمير سابقه به مونږ زيد ته راجع کوو يا الذي ته، که زيد ته راجع کوو، نو اسم موصول په غير د عائد نه پاتې کيږي او که اسم موصول ته راجع کيږي، لکه زيدٌ ضربته شو بيا په دې مقام کې يو سوال دى:

سوال: دا مقام دې جائزشي کنه په داسې طريقه باندې، چې ضربته کې دا ضمير زيد ته راجع شي او هو ضمير دې زيد ته راجع شي، نو هر يو به بلا عائده پاتې نه شي؟

جواب: داسې نه کيږي، ځکه چې زيد ته داسې ضمير راجع کول په کار دي، چې خبر کې واقع وي او هغه ضمير د ضربته والا دى، نو بل ضمير ورته نه شې راجع کولى

والاسم المشتمل الخ: غرض د ماتن شپږم مقام د امتناع ذکر کول دي، حاصل د هغې دادى،

چې يو جمله وي او هغې کې يو اسم وي. چې مشتمل په يو ضمير او د ضمير دپاره يو مرجع ذکر وي، نو ددغه اسم نه اخبار په الذي سره نه شي ورکولی، ځکه دغه ضمير به مرجع ته راجع کوې يا نه؟ که اسم موصول ته راجع کوې نو مبتداء بلا عائده پاتې کېږي، او که دغه مرجع ته راجع کوې، نو اسم موصول بلا عائده پاتې کيږي.

لانك الخ: چونکه د ما قبل دوه صورتونو دپاره علت يو وو، نو شارح د دواړو دپاره مشترك علت ذکر کوي.

وما: کله چې فارغ شو مصنف عليه الرحمة د بيان د احکامو د موصول خاص نه، نو شروع يې وکړه په احکامو د موصول مشتري کې، موصول مشترك بيا ډير قسمه دي. يو د هغې نه ما دی، نو د هغې تفصيل کوي ما په دوه قسمه دی، حرفي اسمي، حرفي پنځه قسمه دی اسمي بيا يو قسم موصولي، اته قسمه استفهامي دوه قسمه موصوفه، دوه قسمه تامه. يو صفتي، بل شرطي دی، ټول شل (۲۰) قسم شول.

لاالحرفية: غرض د شارح د الاسمية قيد فايده ذکر کول دي، دې سره د ما حرفي نه احتراز شو.

فانها كافة الخ: ما حرفي په ډير قسمه ده يو په هغې کې كافه ده، كافه د كف نه مشتق دی كف بندولو ته کوي، يعنې هغه ما چې بندوي خپل عامل لره د عمل نه. لکه انما زيدٌ قائمٌ دې مثال کې دې ما د ان هغه عمل ختم کړی دی.

واما نافيةٌ: دوهم قسم د ما حرفي ذکر کوي، چې کله دا نافيه راځي دا بيا خپله دوه قسمه ده. کله ما نافيه وي او په جمله فعليه داخل شوې وي لکه ما ضربت زيدًا. او کله ما نافيه وي او په جمله اسميه داخل شوې وي، لکه ما زيدٌ قائماً. بيا دا دوه قسمه د ما حرفي به طور مثال ذکر شوي دي، ګنې ددې نور اقسام هم شته، کله ما حرفي مصدري راځي، او کله ما حرفي زائد راځي، دا ټول پنځه اقسام د ما حرفي شو، كافة نافيه چې په فعل داخله وي، نافيه چې په اسم داخله وي، مصدريه، زائده. بيا دا کومه ما چې اسمي وي، ده د هغې شپږ قسمه ذکر کړې دي، اول په کې موصوله ده، ليکن دا خبره واورئ، چې مقصود بالذات په دې مقام کې ما موصوله ده او دا نور پنځه قسمه يې طبعاً ذکر کړي دي، دې سره مونږ دفع د سوال وکړه.

سوال: بحث د موصولاتو شروع دی، نو دا نور اقسام څه لره ذکر کوې؟

جواب: دا موصوله مقصود بالذات ده او دا نور يې تبعاً ذكر كړي دي.

موصولةٌ: **ما** اسميه كې اول قسم موصوله ده. بيا دا **ما** موصوله شپږ معانيو كې مشترك راځي، مفرد، تثنيه، جمع. هر واحد ددې نه مذكر او مؤنث لپاره، نو ټول شپږ معاني شوې.

نحو عرفت ما الخ: غرض د شارح د **ما** موصوله دپاره مثال ذكر كول دي.

واستفهاميةٌ: غرض د ماتن د **ما** اسميه دوهم قسم ذكر كول دي. نو وايي چې **ما** اسميه استفهاميه هم راځي.

نحو ما عندك الخ: غرض د شارح د ما استفهاميه دپاره مثالونه ذكر كول دي، بيا دوه مثالونه يې راوړې دي، اول مثال د هغه دی چې ما په ظرف داخله وي. او دوهم مثال د هغه دی، چې ما په فعل داخل وي، بيا دا استفهام څلور قسمه راځي، انكاريه، تعجبيه. تعظيميه. تحقيريه بيا هر واحد ددې نه، چې په جمله اسميه او فعليه داخل شي، نو اته قسمه دا شو. نو ټول نهه قسمه شوه، ځكه يو ما اسميه موصوله او اته قسمه استفهاميه شوه.

وشرطيةٌ: غرض د ماتن د ما اسمي بل قسم ذكر كول دي، نو دی وايي. چې كله دا ما اسميه شرطيه هم راځي دا لسم قسم شو.

نحو ما تصنع الخ: غرض د شارح د **ما** اسميه شرطيه دپاره مثال ذكر كول دي.

وموصوفةٌ الخ: غرض د ماتن د **ما** اسميه بل قسم ذكر كول دي، نو دی وايي چې **ما** اسميه موصوفه هم راځي، يعنې بل شی د دې دپاره صفت واقع شوی وي، بيا ددې صفت كله مفرد راځي او كله غير مفرد راځي. دوه قسمه دا شو، نو ټول دولس قسمه شو.

نحو مررت بما معجب لك: غرض د شارح مثال ذكر كول دي، د هغه **ما** موصوفه دپاره چې صفت يې مفرد راغلی وي، دې مثال كې **ما** موصوفه ده او معجب صيغه داسم فاعل مفرد يې صفت راغلی دی.

اى شيءٌ يعجبك: غرض د شارح د **ما** تعيين كول دي، ځكه دا مبهم ده بيا د معجب نه يې **يعجبك** سره تعبير وكړو، ځكه چې معجب نكره ده او جمله هم په تنكير كې واضح ده. نو عبارت واضح شو. او دوهم دفع د وهم يې وكړه، چې به ويل چې دا معجب به د چا نوم وي، او علم خو معرفه وي، نو بيا مطابقت نه راتلو. نو ده وويل چې دا معجب د چا نوم نه دی، بلكې نكره ده.

ربما تكره النفوس من الامر
له فرجة كحل العقال

غرض د شارح مثال د هغه ما موصوفه ذکر کول دي، چې صفت یې جمله واقع وي، مطلب د شعر دا دی. چې نفسونه ډېر کرته یو کار بد ګڼي، لیکن ناڅاپه د هغې د اسانتیا اسباب پیدا شي او داسې اسان شي، لکه تړلې شوې اوښې لره چې پښې پرانیزي او هغه آزاده شي.

محل د استشهاد ربما تكره النفوس الخ دی، دلته ما موصوفه ده او صفت یې جمله واقع شوې ده

ای رب شیءٍ الخ: غرض د شارح یو خو د ما مبهم تعیین کول دي. او دوهم غرض دفع د یو سوال ده

سوال: جمله چې کله صفت د ما واقع شي، نو لابدي وي د عائد نه او دلته خو عائد نه دی ذکر، ځکه نکره کې دا هاء د نفسِ کلمې نه ده؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې عائد حذف دی په اصل کې تکرهه دی، او دا ځکه، چې دا عائد ضمير د مفعول دی او دا قاعده ده، چې والعائد المفعول يجوز حذفه.

وتامةٌ الخ: او ما تامه هم راځي، یعنې چې صفت او صله ته محتاج نه وي. بیا دې کې اختلاف دی، چې ددې نه به تعبیر په څه سره کوو؟ نو ابوعلي وايي، چې شی منکر سره به ترې تعبیر کوو او دلیل دا دی. چې ما تمیز وي او تمیز نکره واقع کېږي، نو ددې نه تعبیر هم په نکرې سره کوو، او سیبویه وایي، چې دې نه به په شي معرف سره تعبیر کوو. ځکه چې دا ما فاعل واقع کېږي او اصل په فاعل کې تعریف دی، په هر حال دوه قسمه دا شو، نو ټول څوارلس قسمه شو.

نحو قوله تعالی فنعما هي: غرض د شرح مثال ذکر کول دي. دې مثال کې دا ما په معنی د شیءٌ سره دی په نزد د ابوعلي باندې او په معنی د الشئ سره دی په نزد د سیبویه باندې

وصفةً یعنې اقسام اسمي کله صفتي هم راځي او دا پنځلسم قسم دی، نو پنځلس اقسام دا شو او پنځه اقسام د ما زائد شو. دا ټول شل اقسام شو

نحو اضربه ضرباً الخ: غرض د شارح د ما اسمي صفتي دپاره مثال ذکر کول دي

ومن كذلك: كله چې فارغ شو ماتن د تفصيل د يو قسم د موصولات مشتركه نه، نو شروع يې وكړه په تفصيل د دوهم قسم د موصولات مشتركه كې نو دى وايي چې **من هم** په شان د ما راخي اوس شارح هره يو معنى او مثال ذكر كوي، نو شارح فرمايي: **اى تكون موصولةً** يعني من هم موصولي راخي، لكه **اكرمت من جآءك**، دوهم من هم استفهامي راخي لكه **من غلامك ومن ضربت** دوه مثالونه يې د مخكې په شان ذكر كړه، يو مثال د جمله اسميه او دوهم د جمله فعليه دى، دريم من هم شرطي راخي لكه **من تضرب اضرب**، څلورم **من** هم موصوفه راخي، بيا ددې صفت كله په مفرد سره وي، لكه

عفى بنا فضلاً على من غيرنا

حب النبي محمدٍ ايانا

په دې شعر كې بنا په معنى د لنا سره دى. مطلب د شعر دا دى، چې كافي ده مونږ لره په فضيلت كې په غير زمونږ باندې دا خبره چې نبي عليه السلام زمونږ سره مينه ساتي.

من غيرنا: محل د استشهاد دى چې **غيرنا** مفرد صفت د**من** واقع شوى دى، بيا شارح وايي اى **شخصٍ غيرنا** غرض د شارح تعيين د **من** كول دي، دا همدارنګې كله ددې صفت جمله راخي، لكه **من جآء قد اكرمته**، دلته دا **من** موصوفه دى او **جآء** جمله صفت واقع شوې ده.

الا في التامة والصفة: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: كله چې من د **ما** په شان وو، نو جدا دې ولې ذكر كړو؟

جواب: حاصل د جواب دادى، چې دا من په تامه او صفتي راتلو كې د **ما** په شان نه دى، نو ځكه يې جدا ذكر كړو، مطلب د عبارت دادى، چې **من** تامه او صفتي نه راخي، ولې؟ وجه داده چې ددې سمع د عربو نه،نه ده شوې، او قواعد د نحو بناء دي د عربو نه. بيا دا **من** او **ما** دواړه مبني دي، وجه د بناء د حرف سره په احتياج كې مشابهت دى.

سوال: ما خو يو قسم تامه هم راخي، په هغې كې خو احتياج نه وي؟

جواب: دا **ما** تامه د **ما** ناقصه سره صورت كې مشابهت ساتي او **ما** ناقصه خو حرف سره د **مشابهت في الاحتياج** د وجې نه مبني وه، نور دا هم مبني شو د وجې د مشابهت صوري نه.

بيان داي او اية:

وَ اَيٌّ لِلْمُذَكَّرِ وَ اَيَّةٌ لِلْمُؤَنَّثِ كَمَنْ فِيْ ثُبُوْتِ الْاُمُوْرِ الْاَرْبَعَةِ وَ اِنْتِفَاءُ
اواي چې وي دپاره دمذكر اواية دپاره دمؤنث په شان دمن دي په ثبوت دامور اربعوسره اوپه انتفاء د
التَّامَّةِ وَالصِّفَةِ فَاَيٌّ الْمَوْصُوْلَةُ نَحْوُ اِضْرِبْ اَيَّهُمْ لَقِيْتَ وَالْاِسْتِفْهَامِيَّةُ نَحْوُ اَيُّهُمْ اَخُوْكَ وَ اَيُّهُمْ لَقِيْتَ وَالشَّرْطِيَّةُ
تامه اوصفت كې نواي موصوله لكه اضرب ايهم لقيت او استفهاميه لكه ايهم اخوك او ايهم لقيت اوشرطيه
نَحْوُ اَيًّامَّا تَدْعُوْا فَلَهُ الْاَسْمَاءُ الْحُسْنٰى وَ الْمَوْصُوْفَةُ نَحْوُ يَا اَيُّهَا الرَّجُلُ قِيْلَ اَيٌّ تَقَعُ صِفَةً اِتِّفَاقًا
لكه اياماتدعوا فله الاسماء الحسنى اوموصوفه لكه ياايها الرجل چاويلي چې اي واقع كيږي صفت اتفاقا
فَلِمَ جَعَلَهَا الْمُصَنِّفُ كَمَنْ الَّتِيْ لَا تَقَعُ صِفَةً اَصْلًا وَ اُجِيْبَ بِاَنَّ اَيَانَ الْوَاقِعَةُ
نومصنف ولې په شان دمن ګرځول كوم چې صفت نه واقع كيږي اصلاً جواب دادي چې كوم اي چې واقع
صِفَةً هِيَ فِي الْاَصْلِ اِسْتِفْهَامِيَّةٌ لِاَنَّ مَعْنٰى مَرَرْتُ بِرَجُلٍ اَيِّ رَجُلٍ رَجُلٌ عَظِيْمٌ يَسْاَلُ
كيږي صفت دا په اصل كې استفهاميه دي ځكه معنى دمررت برجل اى رجل رجل عظيم ده تپوس كيدې
عَنْ حَالِهٖ لَا يَعْرِفُهُ كُلُّ اَحَدٍ نُقِلَتْ عَنِ الْاِسْتِفْهَامِيَّةِ اِلَى الصِّفَةِ.
شي دحال رجل نه چې نه يې پيژندي هرڅوك نونقل شوې داستفهاميت نه صفتيت ته.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره د اي او اية بيان كوي اي د مذكر دپاره راځي او اية د مؤنث دپاره راځي.

اغراض د جامي: وايٌّ وايةٌ كمن: مخكې په موصولات مشتركه كې د ما او من تفصيل وشو اوس د دريم او څلورم موصول مشترك تفصيل كوي، چې ايٌّ او ايةٌ دى ايٌّ دپاره د مذكر راځي مطلقاً او ايةٌ دپاره د مونث راځي مطلقاً يعنې كه مفرد وي، تثنيه وي او كه جمع وي.

في ثبوت الامور الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: د دې دواړو موصولاتو تشبيه د من سره صحيح نه ده، ځكه دا تشبيه په لفظ كې وركوې يا په حكم كې؟

كه لفظ كې تشبيه وركوې د هغې بطلان ظاهر دى، ځكه د دواړو الفاظ جدا دي، او كه په حكم كې تشبيه وركوې نو دا هم صحيح نه دي، ځكه حكم د من دادى، چې دا مبني وي او دا دواړه معرب دي؟

جواب: تشبیه په ثبوت د امور اربعو په انتفاء د نامه او صفت کې ده، کل امورو کې تشبیه مراد نه ده.

اضرب الخ: غرض د شارح مثالونه پیش کول دي، بیا دوه مثالونه یې ذکر کړه، اشاره ده چې دا په اسمیه او فعلیه دواړو کې راځي، همدارنګې شرطیه هم راځي او موصوفه هم راځي، د دواړو دپاره شارح مثالونه بیان کړي دي.

قیل الخ: غرض د شارح په قیل سره سوال کول دي او وروسته په اجیب سره جواب ورکول دي، حاصل د سوال دا دی، چې د ایّ تشبیه د من سره صحیح نه ده، ځکه چې ای صفتي واقع کېږي او من خو صفتي نه واقع کېږي؟

جواب: مونږ وایو چې کوم ای صفتي واقع دی، نو هغه په اصل کې استفهامي دی، بیا د استفهامي نه صفت ته نقل شوی دی، او اعتبار اصل لره وي، لکه مررت برجل الخ نو اصل ددې استفهامي معنی ده، بیا صفتي معنی ته نقل شوی دی.

حکم داي او اية:

وَ هِيَ اَىْ كُلٌّ مِنْ اَيٍّ وَ اَيَّةٍ مُعْرَبَةٌ بِالْاِتِّفَاقِ وَحْدَهَا لَا يُشَارِكُهَا فِي الْاِعْرَابِ غَيْرُهَا مِنَ الْمَوْصُوْلَاتِ اِلَّا
او هریو داي او اية نه معرب دي بالاتفاق یواځې چې شریک ورسره اعراب کې نور مواصلات نه وي مګر
عَلَى اِخْتِلَافٍ فِي اللَّذَانِ وَ اللَّتَانِ وَ ذُو الطَّائِيَّةِ وَ اَنَّمَا اُعْرِبَتْ لِاَنَّهُ اِلْتَزَمَ فِيْهَا
بنابر اختلاف په الذان او اللتان او ذو الطائیه کې او دې ته اعراب ځکه ورکړل شو ځکه چې لازم دي په دې کې
الْاِضَافَةُ اِلَى الْمُفْرَدِ الَّتِيْ هِيَ مِنْ خَوَاصِّ الْاِسْمِ الْمُتَمَكِّنِ فَلَا يَرِدُ حَيْثُ وَ اِذْ وَ اِذَا اِلَّا اِذَا
اضافت مفرد ته کوم چې د خواصو د اسم متمکن نه ید نو سوال نه راځي په حیث او اذ، او، اذا مګر چې
كَانَتْ مَوْصُوْلَةً حُذِفَ صَدْرُ صِلَتِهَا نَحْوُ قَوْلِهٖ تَعَالٰى ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ
کله موصوله وي چې حذف شوې وي صدر د صلې د هغې لکه دا قول د الله تعالی ثم لننزعن من کل شیعة
اَيُّهُمْ اَشَدُّ عَلَى الرَّحْمٰنِ عِتِيًّا فِيْمَنْ قَرَاَ بِالضَّمِّ اَىْ اَيُّهُمْ هُوَ اَشَدُّ وَ اِنَّمَا بُنِيَتْ مَوْصُوْلَةً عِنْدَ حَذْفِ
ایهم اشد علی الرحمن علیا چاچې قرأت یې کړي په ضمې سره یعني ایهم هو اشد او په وخت د حذف د
صَدْرِ صِلَتِهَا لِتَاَكُّدِ شِبْهِهٖ الْحَرْفَ مِنْ جِهَةِ الْاِحْتِيَاجِ اِلٰى اَمْرٍ
صدر د صلې د هغې کې مبني ځکه شوه چې مشابهت یې د حرف سره مضبوط شي په احتیاج کې امر د

غَیْرَ الصِّلَةِ وَ بُنِیَتْ عَلَی الضَّمِّ تَشْبِیْهًا لَهَا بِالْغَایَاتِ لِاَنَّهُ
غیر دصلې ته او مبني بر ضمه ځکه شوه چې مشابهت لري دغایاتو سره ځکه چې حذف شود دې نه بعضې
حُذِفَ مِنْهَا بَعْضُ مَا یُوْضِحُهَا کَمَا حُذِفَ مِنَ الْغَایَاتِ مَا یُبَیِّنُهَا
هغه څه چې وضاحت ددې یې کولو لکه څنګه چې دغایاتو حذف شوې هغه څه چې بیان دهغوي یې کولو
وَ هُوَ الْمُضَافُ اِلَیْهِ وَ لَمْ یَسْتَثْنِ الْمَوْصُوْفَةَ الْبِنَائِیَّةَ مِثْلُ یَا اَیُّهَا الرَّجُلُ کَمَا اِسْتَثْنَی
چې هغه مضاف الیه ده او استثناء ونه شوه داي موصوفې مبني لکه یاایها الرجل لکه څنګه چې استثناء
الَّتِيْ حُذِفَ صَدْرُ صِلَتِهَا لِاَنَّهُ ذُکِرَ فِيْ قِسْمِ الْمُنَادٰی اَنَّ کُلَّ
وشوه دهغه اي چې صدر دصلې دهغې حذف شوې وي ځکه چې ذکر شوي په قسم د منادی کې چې هر هغه
مَا یَقَعُ مُنَادًی مُفْرَدًا مَعْرِفَةً فَهُوَ مَبْنِيٌّ وَ بِنَاءَ الْمَوْصُوْفَةِ لِهٰذَا فَلَا حَاجَةَ
څیز چې منادی مفرده معرفه واقع شي نو دا مبني دي او بنا داي موصوفې دې دپاره نو ضرورت یې پیدا
اِلَی الذِّکْرِ ثَانِیًا.
نه شو ذکر کولو ته دوهم ځل .

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره شارح حکم د اي او اية ذکر کوي چې اي او اية دا معرب دي بالاتفاق په دې کې دهیچا اختلاف نشته .

اغراض دجامي : اى كل من: په دې عبارت سره شارح د هي ضمير مرجع بیانوي.

وحدها: په دې عبارت سره شارح دا بیانوي چې دا حکم د معرب چې دي دا یواځې د اي او اية دپاره دي .

والما اعربت: په دې عبارت سره شارح وجه داعراب بیانوي .

لتاكد شبه الحرف: په دې عبارت سره شارح وجه دبناء موصولې بیانوي په وخت دصدر دکلام ې ځکه چې د . ې مضبوط مشابهت دي دحرف سره دوجې داحتیاج نه په غیر دامر دصلې .

نیت على الضم . په دې سره شارح دا بیانوي چې صله مبني ده په ضمې سره دوجهې د مشابهت غایاتو سره ځکه چې حذف شوې دي ددې نه بعضې هغه شیان چې وضاحت کوي ددې لکه ہ چې حذف شوي دغایاتو نه هغه څه چې کوم چې وضاحت دغایاتو کوي چې هغه مضاف

۵ .

ولم يستثن الموصوفة : په دې عبارت سره عدم وجه داستثناء دموصوفې ... ښيي ... مانوي چې دا وايي چې مونږ مستثنى نه كړه موصوفه بنائيه څكه چې داپه قسم دمن... ى كې داخله ده نو ددې وجې نه يې استثناء وكړه

وَ فِيْ قَوْلِهِمْ مَا ذَا صَنَعْتُ وَجْهَانِ اَحَدُهُمَا اَنَّ مَعْنَاهُ مَا الَّذِيْ عَلٰى اَنْ يَّكُوْنَ ذَا بِمَعْنَى الَّذِيْ
اوپه دې قول كې چې ماذاصنعت دوه وجهې دي يوداچې معنى يې ماالذي ده چې داپه معنى دالذي شي
فَيَكُوْنُ التَّقْدِيْرُ اَىُّ شَيْءٍ الَّذِيْ صَنَعْتَ اَىْ صَنَعْتَهُ فَمَا مُبْتَدَاءٌ وَ مَا بَعْدَهُ خَبَرُهُ اَوْ بِالْعَكْسِ وَ حِيْنَئِذٍ
نوتقديربه داشي چې اى شئ الذي صنعت اى صنعته نوماَمبتداشوه اومابعديې خبرشويابالعكس نوپه دې
جَوَابُهُ رَفْعٌ اَىْ مَرْفُوْعٌ عَلٰى اَنَّهُ خَبَرُ مُبْتَدَاءٍ مَحْذُوْفٍ كَمَا اِذَا قُلْتَ الْاِكْرَامُ اَىِ
وخت كې جواب به يې مرفوع بناپردې چې داخبردمبتداءمحذوفي دي لكه څنګه چې ته وايي الاكرام يعنې
الَّذِيْ صَنَعْتَهُ الْاِكْرَامُ لِيَكُوْنَ الْجَوَابُ مُطَابِقًا لِلسُّوَالِ فِيْ كَوْنِ كُلٍّ مِنْهُمَا جُمْلَةً اِسْمِيَّةً وَ الْوَجْهُ الْاٰخَرُ اَنَّ
الذي صنعته الاكرام چې شي جواب مطابق دسوال په كيدلودهريو كې جمله اسميه دوهمه وجه داده چې
مَعْنَاهُ اَىُّ شَيْءٍ وَ هٰهُنَا عِبَارَتَانِ اَحَدٌ بِهِمَا اَنَّ مَا ذَا بِكَمَالِهَا بِمَعْنَى
معنى يې اى شئ ده دلته دوه عبارته دي يوداچې ماذا ټوله په معنى داى شئ سره ده دوهم داچې مامعنى
اَىِّ شَيْءٍ وَ الثَّانِيَةُ اَنَّ مَا مَعْنَاهُ اَىُّ شَيْءٍ وَ ذَا زَائِدَةٌ وَ الظَّاهِرُ اَنَّ مُؤَدَّاهُمَا وَاحِدٌ فَاِنَّ مَعْنَى قَوْلِهِمْ اِنَّهَا
يې اى شئ ده اوذازيداه ده لكن ظاهره داده چې رجع ددواړواقوالويوه ده څكه معنى ددې قول چې انها
بِكَمَالِهَا بِمَعْنَى اَىِّ شَيْءٍ اَنَّهُ لَيْسَ لِكُلٍّ مِنْهُمَا مَعْنًى بِالْاِسْتِقْلَالِ لِكَوْنِ كَلِمَةِ ذَا زَائِدٌ لِيَفْهُوْمٍ مِنْ مَجْمُوْعِهِمَا
بكالهاپه معنى داي شئ يعنې نشته دهرواحد دپاره معنى مستقله چې كلمه دمادې زائده شي اودمجموعې
اَىُّ شَيْءٍ وَ حِيْنَئِذٍ جَوَابُهُ نَصْبٌ اَىْ مَنْصُوْبٌ عَلٰى اَنَّهُ مَفْعُوْلٌ لِفِعْلٍ
نه دې اى شئ جوړ شي نو په دې وخت كې يې جواب منصوب دي بناء په دې چې دا مفعول دې د پاره د فعل
مَحْذُوْفٍ كَمَا اِذَا قُلْتَ الْاِكْرَامَ لِيَكُوْنَ الْجَوَابُ مُطَابِقًا لِلسُّوَالِ فِيْ
محذوفه لكه څنګه چې ته په جواب كې الاكرام ووايي دې دپاره چې شي جواب مطابق دسوال سره په
كَوْنِ كُلٍّ مِنْهُمَا جُمْلَةً فِعْلِيَّةً وَ يَجُوْزُ فِي الْاَوَّلِ نَصْبُ اَلْجَوَابِ بِتَقْدِيْرِ الْفِعْلِ الْمَذْكُوْرِ وَ فِي الثَّانِيْ
كيدلودهرواحد كې جمله فعليه اوپه اول كې نصب دجواب هم جائزدې په تقدير دفعل مذكورسره اوپه دوهم
رَفْعُهُ عَلٰى اَنْ يَكُوْنَ خَبَرَ مُبْتَدَاءٍ مَحْذُوْفٍ وَ لَمْ يَعْتَبِرْهُ الْمُصَنِّفُ لِفَوَاتِ
كې رفع دجواب چې شي خبر دپاره دمبتدامحذوفې لكن مصنف دانه ده غوره كړې دوجې دفوت كيدو

الْمُطَابَقَةِ	بَيْنَ	السُّوَالِ	وَ	الْجَوَابِ.
د مطابقت نه په مينځ دسوال اوجواب کې.				

اغراض د جامي : وفي ماذا صنعت الخ: ماتن احکام د موصولاتو مشترکو يې ذکر کول، بعضې په کې ماذا هم دي اوس دلته د هغې بيان کوي.

وفي ما: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال : في جاره دی او ماذا صنعت جمله ده، حالانکه په جمله حرف جاره نه داخلېږي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې مدخول د في حذف دی چې هغه قول دی او قول مفرد دی، نو في پرې داخلول صحيح دي او دا وروستو جمله هم د قول ده.

احدهما ماالذي: ماتن احدهما ويلي وو، شارح ورسره وايي ان معناه غرض د شارح دفع د وهم ده:

وهم: دا ما الذي به لازم د وجه اول وي يا دليل او يا معنى د وجه اول؟

جواب : نو شارح وويل چې دا معنى د وجه اول ده.

على ان يكون الخ: غرض تشريح د وجهِ اول ده. دوهم غرض د شارح اشاره کول دي ، دې خبرې ته چې ذکر کول د ذا پس د ما او من نه . دې سره معنى استفهامي د ما نه ختميږي، بلکې دا به په خپل ځای وي او الذي معنى د ذا ده. دريم غرض د شارح دفع د وهم ده:

وهم: ما الذي کې به الذي د ما نه وروستو او ذا نه مخکې مقدر وي؟

جواب : نو شارح وويل چې دلته مقدر نشته، بلکې دا ذا په معنى د الذي سره دی اوس تقدير د عبارت به داسې شي، ای شيء الذي صنعت.

ای صنعته: غرض د شارح يو خو اشاره ده دې خبرې ته، چې عائد د مفعول حذف دی دوهم غرض دفع د يو سوال ده :

سوال : صنعت صله ويل د الذي دپاره صحيح نه دي، ځکه په صله کې عائد ضروري دي او دلته هغه نشته؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې هغه عائد حذف دی، ځکه والعائد المفعول يجوز حذفه

فما مبتدأ: غرض د شارح په دې وجه اول کې دوه ترکيبه کول دي، اول ترکيب دا دی، چې ما په

معنی د **ای شيءٍ** سره مبتداء شي او **ذا** په معنی د **الذي** سره موصول او مابعد صله ده. موصول صله د مبتداء دپاره خبر شو بیا دا **ای شيءٍ** اګر چې نکره ده لیکن دا په معنی د **هذا ام ذاك** سره دی، نو ابتدائيت يې په نزد د سيبويه صحيح دی. دوهم ترکيب دادی، چې **ما** په معنی د **ای شئ** سره خبر مقدم دی او **ذا** په معنی د **الذي** سره موصول دی، بیا موصول صله مبتداء موخره ده، دا ترکيب په نزد د جمهورو دی

سوال: اصل په خبر کې تاخير دی، نو دلته ولې مقدم شوې دی؟

جواب: دا **ما** په معنی د استفهام سره ده، او استفهام تقاضا د صدارت کوي، نو ځکه مقدم شوی دی.

وجوابه رفعٌ: غرض د ماتن د جواب تشريح کول دي، شارح ورسره ح راويستو، غرض د شارح اشاره کول دي، چې دا کلام مستانف نه دی، بلکې ما قبل سره مُتعلق دی

ای مرفوعٌ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: جوابه مبتدا او **رفعٌ** يې خبر دی او حمل د **رفعٌ** په مبتداء نه صحيح کېږي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې مصدر مبني للمفعول دی، لهذا حمل صحيح دی.

على انه الخ: غرض د شارح وجه د رفعې ذکر کول دي، چې دا به مرفوع وي، بنا بر خبريت د مبتداء محذوفه، لکه يو سړی تپوس وکړي، **ای الذي صنعته؟** نو ته جواب وکړې **الاكرام** يعنې **هوالاكرام**

ليكون الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا جواب به مرفوع ولې وي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا جواب د سوال سره مطابق شي، ځکه سوال په جمله اسميه سره شوی وو، نو هغه مرفوع وي نو دا جواب به هم مرفوع شي او خبر به شي د پاره د مبتداء محذوفې.

والوجه الآخر: ماتن تعيين د وجه ثاني کوي، شارح ورسره **الوجه** لفظ راويستو اشاره دې ته چې د **الآخر** صفت دپاره موصوف **الوجه** حذف دی، بيا د **ان معناه** قيد فائده مخکې ذکر شوې ده، چې دې سره معنی د وجه اول ذکر کوي.

ومهما عبارتان: په دي عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:
سوال: په کار دا وه، چې ماتن د وجهان په ځای اوجه ثلاثة ويلې، ځکه دې ماذا کې دوه ترکيبه دي، يو دا چې ماذا مجموعه په معنی د ای شئ سره شي او دوهم دا چې ما په معنی د ای شئ سره شي، او ذا زائد شي.
والظاهر الخ: غرض د شارح جواب ته اشاره کول دي حاصل د جواب دا دی، چې ددې دواړو مقصد يو وو نو تعبير يې ځکه په يوې وجې سره وکړو، ځکه ددې ما او ذا دپاره مستقل معنی نشته، بلکې يا د مجموعه دغه معنی ده، او يا صرف د ما معنی شته او ذا زائد ده.
ماتن وايي وجوابه نصب شارح ورسره وايي وح ددې قيد فائده ذکر شوې ده. ... شارح وايي ای منصوب ددې قسم قيد فائده هم مخکې مرفوع کې ذکر شوه.
على انه الخ: غرض د شارح وجه د نصب ذکر کول دي، يعنې په دې صورت کې به دا مفعول د فعل محذوفه شي، لکه يو سړی ووايي ماذا صنعت؟ نو ته جواب کې ووايې چې الاکرام يعنې صنعت الاکرام.

ليکون الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:
سوال: دا جواب به منصوب ولې وي؟
جواب: شارح جواب وکړو، چې جواب به منصو... ځکه وي چې د سوال سره مطابق شي، ځکه سوال کې حرف استفهام منصوب وو، نو جواب به هم منصوب وي؟ او مفعول به شي د فعل محذوفه.
سوال: دا پته به څنګه لګي چې اول صورت کې سوال په جمله اسميه سره دی او په دوهم صورت کې سوال په جمله فعليه سره دی؟
جواب: اول صورت کې ما په معنی د ای شيء سره مضاف اليه دی او دا خبره د جملې وي نو يا به مبتداء وي او يا خبر دواړو صورتونو کې به جمله اسميه وي او دوهم صورت کې ما په معنی د ای شيء سره منصوب دی مفعول به دی د فعل محذوف ... دی نه معلوميږي چې دا جمله فعليه ده.

ويجوز الخ: غرض د شارح اشاره کول دي ... دي خبرې ته چې ... اول صورت ... مرفوع او

وهم کې منصوب ويل واجب نه دي، بلکې جائز دي

ولم يعتبره: سوال ته اشاره کوي، چې ماتن ولې دغه طرف ته تعرض ونه کړو.

لفوات الخ: سره جواب طرف ته اشاره کوي، وجه داده چې دغه صورتونه غير اولی دي، ځکه هغه مطابقت په کې فوت کېږي

تعريف د اسماء افعالو :

اَسْمَاءُ الْاَفْعَالِ مَا كَانَ اَیْ اِسْمٌ كَانَ بِمَعْنَى الْاَمْرِ وَ الْمَاضِي الَّذِيْنَ هُمَا مِنْ اَقْسَامِ مَبْنِيِّ الْاَصْلِ
اسماءافعال هغه اسماء دي چې په معنی دامراو دماضي راځي کوم چې داقسام دمبني الاصل نه دي
فَعِلَّةُ بِنَائِهَا كَوْنُهَا مُشَابِهَةً لِمَبْنِيِّ الْاَصْلِ فَمَا قِيْلَ اُفٍّ بِمَعْنَى اَتَضَجَّرُ وَ اَوَّهْ
وجه دبناء يې داده چې دامشابه دي دمبني الاصل سره چاچې ويلي چې اف په معنی دا تضجر او اوه په
بِمَعْنَى اَتَوَجَّعُ فَالْمُرَادُ بِهِ تَضَجَّرْتُ وَ تَوَجَّعْتُ عَبَّرَ عَنْهُ بِالْمُضَارِعِ الْحَالِيِّ لِاَنَّ الْمَعْنَى عَلَى
معنی داتوجع نومراد په هغې سره تفجرت اوتوجعت دي تعبير ترې په مضارع حالي وشو ځکه معنی
الْاِنْشَاءِ وَ هُوَ اَنْسَبُ بِاَنْ يُعَبَّرَ عَنْهُ بِالْمُضَارِعِ الْحَالِيِّ مِثْلُ رُوَيْدَ زَيْدًا اَیْ اَمْهِلْهُ مِثَالُ
انشايي شوه اومناسب داوه چې ددې معنی نه تعبير دمضارع حالي وشي لکه رويد زيداً ای امهله مثال
لِمَا هُوَ بِمَعْنَى الْاَمْرِ وَ هَيْهَاتَ ذَاكَ بِفَتْحِ التَّاءِ فِي الْحِجَازِ وَ بِكَسْرِهَا
دهغې دې چې په معنی دامرسره وي وهيهات ذاک په فتحې دتاء سره په نزد داهل حجاز او په کسرې سره
فِيْ بَنِيْ تَمِيْمٍ وَ بِالضَّمَّةِ فِيْ لُغَةِ بَعْضِهِمْ اَیْ بَعُدَ مِثَالٌ لِمَا هُوَ بِمَعْنَى الْمَاضِيْ
په نزد دبني تميمو او په ضمې سره دبعضې په لغاتوکې اوبعد مثال دهغې دې چې په معنی دماضي سره
وَ قَدَّمَ الْاَمْرَ لِاَنَّ اَكْثَرَ اَسْمَاءِ الْاَفْعَالِ بِمَعْنَاهُ وَ الَّذِيْ حَمَلَهُمْ عَلَى اَنْ قَالُوْا اِنَّ هٰذِهِ
وي امرځکه مخکې شوچې زيات اسماءافعال په معنی دامرسره وي اوچاچې حمل کړي په دې چې دا
الْكَلِمَاتِ وَ اَمْثَالَهَا لَيْسَتْ بِاَفْعَالٍ مَعَ تَادِيَتِهَا مَعَا فِي الْاَفْعَالِ اَمْرٌ لَفْظِيٌّ وَ هُوَ
کلمات او ددې امثال افعال نه دي سره له دې چې معنی دفعل اداکوي نوداقول امرلفظي دي په داسې
اَنَّ صِيَغَهَا مُخَالِفَةٌ لِصِيَغِ الْاَفْعَالِ وَ اَنَّهَا لَا يَتَصَرَّفُ تَصَرُّفَهَا لَا اَنَّهَا
شان چې صيغې ددې مخالفې دي صيغو دافعالو نه او په دې کې تصريف دافعالو هم نه شي کېدې نه داچې
مَوْضُوْعَةٌ لِصِيَغِ الْاَفْعَالِ عَلَى اَنْ يَكُوْنَ رُوَيْدَ مَثَلًا مَوْضُوْعًا لِكَلِمَةِ اَمْهِلْ قَالَ الشَّارِحُ الرَّضِيُّ وَ لَيْسَ
داوضع شوې دې په ره دصيغو دافعالو لکه رويد وضع شوې دپاره دامهل شارح درضي وايي چې داسې نه ده

مَا قَالَ بَعْضُهُمْ اِنَّ صَهْ مَثَلًا اِسْمٌ لِلَفْظِ اُسْكُتْ اَلَّذِيْ هُوَ دَالٌّ عَلٰى مَعْنَى الْفِعْلِ فَهُوَ عَلَمٌ
لکه بعضو چې ویلي چې صه اسم داسکت دي کوم چې دلالت کوي په معنی دفعل نودا علم شودپاره د
لِلْفِعْلِ لَا لِمَعْنَاهُ بِشَيْءٍ اِذِ الْعَرَبِيُّ اَلْقُحُّ رُبَمَا يَقُوْلُ صَهْ مَعَ اَنَّهُ لَمْ يَخْطُرْ بِبَالِهِ
دلفظ دفعل نه دمعنی دفعل ځکه چې خالص عرب لفظ دصه ډیر استعمالوي لیکن په نیت اوزړه کې يې
لَفْظُ اُسْكُتْ وَ رُبَمَا لَمْ يَسْمَعْهُ اَصْلًا وَ لِهٰذَا قَالَ الْمُصَنِّفُ
زړه کې يې ورسره لفظ داسکت نه وي ډیرخو خودا دسره اوریدلي هم نه دي ددې وجې نه مصنف وویل
مَاكَانَ بِمَعْنَى الْاَمْرِ اَوِ الْمَاضِيْ اَوْلَمْ يَقُلْ مَاكَانَ مَعْنَاهُ الْاَمْرُ اَوِ الْمَاضِيْ وَ الْمُتَبَادِرُ اَنْ يَكُوْنَ هٰذَا بِحَسْبِ الْوَضْعِ
ماكان بمعنى الامر والماضي وي نه ويل ماكان معناه الامر والماضي اوښکاره داده چې دا په اعتبار دوضع سره
فَلَا يَرِدُ مِثْلُ الضَّارِبِ اَمْسِ نَقْضًا عَلَى التَّعْرِيْفِ.
دي نو اعتراض نه وارديږي په الضارب امس سره دوجې دنقض نه تعريف نه .

اغراض دجامي : <u>اسمآء الافعال</u>: کله چې فارغ شو ماتن د تفصیل د دريې اقسامو د اسم مبني نه، نو شروع يې وکړه په تفصیل د څلورم قسم د اسم مبني کې چې اسماء افعال دي، نو ده وویل چې اسمآء الافعال الخ

دلته څو سوالات وارديږي :

سوال : نفس تفصیل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصیل ځکه کوي چې تفصیل بعدالاجمال اوقع في الذهن وي. دوهمه وجه داده، چې دا اسمآء افعال تفصیل ته محتاج وو داسې تفصیل چې دلته ذکر دی، او مخکې نه دی شوی او کوم شی چې تفصیل ته محتاج وي او تفصیل يې نه وي شوی، نو د هغې تفصیل په کار وي.

سوال : تفصیل په دې مقام کې ولې کوي ؟

جواب : تفصیل په دې مقام کې ځکه کوي، چې اجمال په دې مقام کې ذکر وو، نو تفصیل کې هم په څلورم مقام کې يې ذکر کړو، چې تفصیل موافق شي، د اجمال سره . بیا اجمال يې په دې مقام کې ځکه ذکر کړي وو، چې دا مخکې اقسام په منزله د مفرد وو، او دا اسمآء افعال په منزله د مرکب دي او مفرد په طبع کې په مرکب مقدم وي ، نو په وضع کې يې مقدم کړو، چې وضع موافق شي، د طبع سره.

ماكان بمعنى الامر والماضي: بس هر هغه اسم چې په معنى د امر او ماضي سره وي، نو دا اسم فعل دی.

اى اسمٌ كان: غرض د شارح په دې عبارت يو خو د ما ابهام دفع كول دي، چونكه دا مبهمه وه، نو شارح وويل چې دا د اسم نه عبارت دی.

سوال: په دې كې څلور احتمالات شته، چې د شيء نه عبارت شي يا د لفظ نه يا د كلمې نه او يا د اسم نه، نو ته يې صرف د اسم نه ولې عبارت اخلې؟

جواب: دا مقام د تعريف دی، او مونږ ويلي دي، چې په مقام د تعريف كې كله د يو شي جنس قريب مراد كيدې شي، نو جنس بعيد لره به نه ځو او دا اسم دې دپاره جنس قريب دی او دا نور اجناس بعيده دي.

دوهم غرض د شارح په دې عبارت سره دا دی، چې دا ما موصوله نه ده، بلكې موصوفه ده.

سوال: دې كې خو احتمال د دواړو شته، نو قرينه په دې څه ده، چې ته ترې موصوفه اخلې او موصوله نه اخلې؟

جواب: دا مقام د خبر دی او اصل په خبر كې نكارت دی او نكره هله ګرځي، چې مونږ دا ما موصوفه كړو.

سوال: دا ما د اسم نه عبارت اخلې كه د اسماو نه، كه د اسم نه عبارت اخلې، نو حمل نه صحيح كېږي، ځكه دا په اسماو حمل دی، هغه جمع ده او دا مفرد دی؟ او كه د اسماو نه عبارت شي، نو د ضمير او مرجع په مينځ كې موافقت نشته. ځكه په كان كې ضمير د مفرد دی؟

جواب: دا ما كه د اسم نه عبارت شي او كه د اسماو نه دواړه صحيح دي، ځكه اسم اشاره په بحث كې دا د اسماو نه عبارت اخيستې و

سوال: راتلو چې مطابقت نشته، نو مونږ وايو چې د اسم نه مراد جنس دی او د جنس اطلاق په قليل كثير ټولو كيږي. بيا د جنس نه عبارت ځكه اخلو، چې دا مقام د تعريف دی او تعريف د جنس كيږي.

يا بل جواب دادی، چې په كان كې ضمير د مفرد راجع دی په اعتبار د كل واحدٍ سره

الذين الخ: غرض د شارح تمهيد ايخودل دي، وجه د بنآء ددې اسمآء افعالو ته.

فعلة البنآء الخ: دا په مخکې عبارت تفريع ده او وجه د بنآء ذکر کوي، چې وجه د بنآء هغه مشابهت ددې دی، د مبني الاصل سره، ځکه چې يو اسم په معنی د امر او ماضي سره راشي، نو دا هم د هغه وجوهِ موثره نه دی په منع د اعراب کې.

فما قيل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: نه منم حصر د اسمآء افعالو په دوه اقسامو کې، ځکه اف اسم فعل دی، او معنی يې د فعل مضارع راځي، دا شانته اووه اسم فعل دي او معنی د فعل مضارع ورکوي؟ جواب: شارح جواب وکړو، چې دا په معنی د ماضي سره دی صرف تعبير ترې مضارع سره شوی دی.

وعبرعنه الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: کله چې په معنی د ماضي سره دی، نو مضارع سره ترې ولې تعبير کوې؟

جواب: چونکه دې اسمآء افعالو کې معنی د انشآء ده او موجود کول او نه موجود کول خو آئنده زمانه کې وي، ځکه مضارع سره تعبير کوي.

سوال: په دې خبره دې پرهه نه شو، چې تعبير ترې مضارع سره کيږي معنی په کې د انشآء پرته ده او بيا هم ته وايې چې په معنی د ماضي سره دی؟

جواب: دا خبره ځکه کوو، چې اسمآء افعال هم دي، نو په معنی د ماضي يا امر سره دی او اکثر لره حکم د کل وي، نو ځکه مونږ دغه خبره کوو.

بيا تقسيم ثاني په اسمآء افعالو کې دادی، چې افعال په دوه قسمه دي، قياسي او سماعي:

قياسي هغه دي چې په معنی د امر او ماضي سره وي ، او سماعي چې سمع يې د عربو نه شوې وي، په معنی د امر او ماضي سره.

تقسيم ثالث دادی، چې دا دوه قسمه دي صحيح او ملحقات صحيح هغه دي، چې سماعي او قياسي وي. او ملحقات هغه دي چې وزن د هغې داسمآء افعالو وي.

مثل رويد: غرض د ماتن د اسم فعل دپاره مثال ذکر کول دي.

وهيهات ذاك: غرض د ماتن دوهم مثال ذکر کول دي، ذاك کې ضمير مخکې زيد ته راجع دی په اصل کې مثال داسې دی، هيهات زيد.

اي امهله : غرض د شارح تطبيق دمثال دي د ممثل سره، چې رويد اسم فعل په معنی د امهله امر سره دی.

اي بعد : غرض د ماتن تطبيق د مثال دی د ممثل سره، چې هيهات اسم فعل په معنی د بعد فعل ماضي سره دی.

مثال لما هو بمعنى الامر : غرض د شارح تعيين د ممثل دی، او بل غرض دفع د يو سوال ده:

سوال: مثال دپاره د وضاحت راځي، او وضاحت دپاره يو مثال کافي وو، دوه مثالونه يې ولې ذکر کړي دي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې تعدد د مثالونو بنآء دی، په تعدد د ممثلاتو، يو مثال د هغه دی چې بمعنى الامر وي او دوهم مثال د هغه اسم فعل دی، چې بمعنى الماضي وي.

بفتح التآء الخ : غرض د شارح تعيين د ممثل کول دي، بيا دتعدد د امثلو دپاره دوهمه وجه داده، چې اول مثال د متعدي اسم فعل دی او دوهم مثال د لازم اسم فعل دی. دريمه وجه د فرق داده، چې اول مثال د هغه اسم فعل دی، چې په غير د اسم فعل نه په عربو کې د هغې استعمال شوی وي، او دوهم مثال د هغه اسم فعل دی، چې په غير د اسم فعل نه په عربو کې د هغې استعمال نه وي شوی.

وقدم الامر الخ : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال : اسم فعل هغه وي، چې په معنی د امر او ماضي سره راځي. اوس وجه د تقديم د امر څه ده؟ سره ددې نه چې طبع تقاضا د خلاف کوي، ځکه چې ماضي په وقوع کې مخکې وي او امر وروستو وي، او بله وجه داده، چې هيهات لازمي دي او رويد متعدي دي، نو لازمي مخکې کول په کار وي؟

جواب: شارح جواب وکړو، حاصل د هغې دا دی، چې دلته د يو بلې طبعي لحاظ هم ساتل شوې دی، هغه دا چې اسم فعل په معنی د امر سره كثرة الوقوع والاستعمال مقدم کوي په قليل الوقوع والاستعمال باندې

والذي حملهم الخ : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: کله چې دا اسمآء افعال په معنی د امر او ماضي سره راځي، نو دې ته افعال ولې نه وايي؟

جواب: ددې سوال نه يو جواب عام خلکو کړی دی او يو جواب شارح کړی دی، شارح به خپل جواب وکړي او د نورو په جواب به رد وکړي، حاصل دده د جواب دادی، چې هغه شی چې دوی لره يې په دې خبره تيز کړی دی، چې د کلماتو ته افعال نه وايي او اسمآء افعال ورته وايي، هغه دا خبره ده، چې ددې اسمآء افعالو صيغې د افعالو نه خلاف دي، دوهم دا چې فعل کې تصرف کېږي او دې اسمآء افعالو کې تصرف نه کېږي.

لا انها الخ: غرض د شارح رد دی په بعض الناس باندې، ځينې خلکو داسې جواب کړی دی، چې دې ته افعال ځکه نه وايي، چې ددې کلماتو وضع دپاره د صيغو د افعالو شوې ده. اوس که دې ته مونږ افعال ووايو نو وضع د شيء لنفسه لازمېږي، او دا خبره صحيح نه ده، ليکن شارح په دې جواب رد وکړو، چې دا جواب صحيح نه دی، چې وجه يې وروستو راځي

قال الشارح الرضي الخ: يو غرض د شارح رضي دی په خپل عبارت سره او دوهم غرض د شارح دی په نقل کولو د عبارت سره غرض د شارح رضي خو دا دی.

د اسمآء افعالو وضع دپاره د صيغو د افعالو شوې ده (مثلاً صَهٗ نوم دی د لفظ د اسکت، هغه اسکت چې په معنی د فعل دلالت کوي، نو ګنې دا صه علم د لفظ ددې فعل دی او د معنی دپاره نه دی) نو دا خبره هېڅ هم نه ده، نو دعوی يې هم رد کړه او دليل هم. اوس دا ولې؟ نو **اذالعزنی الخ** سره خپلې خبرې دپاره دليل پيش کوي، چې وجه داده چې خالص عربي دان کله کله صه لفظ استعمال کړي او د هغه په زړه د اسکت لفظ خيال هم نه وي تېر شوی او کله کله هغه دا اسکت د سر نه اورېدلی هم نه وي.

غرض د ماتن په نقل د عبارت د شارح رضي سره دادی، چې دغه مذکور خبره يواځې زه نه کوم، بلکې شارح رضي هم دغه خبره کړې ده، چې دغه اسمآء افعال اسمآء د لفظ د فعل ماضي او امر نه دي، بلکې په معنی د ماضي او امر سره دي.

ولهذا قال الخ: سره يې د تفريع په طريقه حاصل ذکر کړو، چې ددې وجې نه مصنف عبارت داسې راوړی دی **ماکان بمعنی الامر الخ**.

والمتبادر الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: ستا دا تعریف د اسمآء افعال صحیح نه دي، ځکه مانع نه دی او کوم تعریف چې مانع نه وي، هغه صحیح نه وي، مانع داسې نه دی، چې داخلیږي په کې اسم فاعل په دې قول کې الضارب امس، ځکه دا اسم فاعل دی په معنی د ماضي سره دی، حالانکه دې ته خلك اسم فعل نه وايي؟

جواب: مونږ وايو چې په معنی د امر او ماضي سره وي، خو په اعتبار د وضع سره او الضارب اسم فاعل په معنی د ماضي سره دی، خو په اعتبار د استعمال سره نه، که په اعتبار د وضع سره.

سوال: مخکې د فعل په تعریف کې مونږ ویلي وو چې فعل هغه دی چې اعتبار د اصل وضع سره په معنی فی نفسها دلالت کوي، او دې سره مونږ افعال د اسمآء افعال نه جدا کړي وو، چې اسمآء افعالو کې اصل وضع نشته او دلته خو ورلره وضع ثابت کړه، دا خو تعارض دی؟

جواب: د وضع دپاره ډیر اقسام دي، هلته وضع اصطلاحي مراد وه، او دلته وضع عرفي مراد ده. لهذا تعارض نشته.

وَ فَعَالِ اَیْ مَا یُوْزَنُ بِفِعَالِ الْکَائِنُ بِمَعْنَی الْاَمْرِ الْمُشْتَقِ مِنَ الثُّلَاثِیِّ الْمُجَرَّدِ
اوفعال کوم چې وزن یې فعال راشي اوکوم فعال چې وي په معنی دامرمشتق دثلاثي مجرد نه قیاس دي
قِیَاسٌ اَیْ قِیَاسِیٌّ کَنَزَالِ بِمَعْنَی اَنْزِلْ قَالَ سِیْبَوَیْهِ هُوَ مُطَّرِدٌ فِی الثُّلَاثِیِّ الْمُجَرَّدِ وَ یَرِدُ
یعني قیاسي دي لکه نزال په معنی دانزل سیبویه وايي چې داجاري شوي په ثلاثي مجرد کې او وارد دیږي
عَلَیْهِ اَنَّهُ لَا یُقَالُ قَوَامِ وَ قَعَادِ وَ بِمَعْنَی قُمْ وَ اقْعُدْ فَلِهٰذَا یُؤَوِّلُ بَعْضُهُمْ قَوْلَ سِیْبَوَیْهِ
په دې باندې سوال چې په قوام او قعاد کې قم او اقعد نه ویل کیږي د دې وجې تاویل کړي بعضو قول د سیبویه
بِاَنَّهُ اَرَادَ بِالْاِطِّرَادِ الْکَثْرَةَ فَکَاَنَّهُ قِیَاسٌ لِکَثْرَةِ
داسې چې مراد د طرد اللباب نه کثرت استعمال د دوی دي ګویا که دا قیاس شي دوجې د کثرت استعمال نه
وَ اَمَّا فِی الرُّبَاعِیِّ فَاتَّفَقُوْا عَلٰی اَنَّهُ لَمْ یَاْتِ اِلَّا نَادِرًا وَ فَعَالِ حَالَ کَوْنِهٖ مَصْدَرًا مَعْرِفَةً
او هرچې په رباعي کې دي نوبالاتفاق هغه کم راځي اوفعال په داسې حال کې چې مصدر معرفه وي لکه
کَفَجَارِ بِمَعْنَی الْفَجْرَةِ اَوِ الْفُجُوْرِ قَالَ الشَّارِحُ الرَّضِیُّ هُوَ عَلٰی مَا قِیْلَ مَصْدَرٌ
فجار په معنی د الفجرة او فجور شارح رضي وايي چې دا قول بنا د هغه چا په مذهب دي چې وايي چې مصدر

مَعْرِفَةٌ مُؤَنَّثٌ وَ لَمْ يَقُمْ لِيْ اِلَى الْآنَ دَلِيْلٌ قَاطِعٌ عَلٰى تَعْرِيْفِهٖ وَ لَا تَانِيْثِهٖ وَ حَالَ كَوْنِهٖ
معرفه مؤنث وي او ما ته نه دي ملاؤ شوي تر اوسه پورې دليل يقيني په تعريف او تانيث د دې او په دا سې حال
صِفَةٌ لِمُؤَنَّثٍ مِثْلُ يَا فُسَاقِ بِمَعْنٰى يَا فَاسِقَةُ مَبْنِيٌّ اَيْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الْقِسْمَيْنِ الْاٰخِرَيْنِ مَبْنِيٌّ
كې چې وي صفت د مؤنث لكه فساق په معنى د يا فاسقة سره نو دا مبني دي معنى دوا ړه اقسام مبني دي څكه
لِمُشَابَهَتِهٖ لَهٗ اَيْ لِفَعَالِ بِمَعْنَى الْاَمْرِ عَدْلًا وَ زِنَةً اَمَّا زِنَةً فَظَاهِرٌ وَ اَمَّا عَدْلًا
چې مشابهت لري د معنى د امر سره په عدل او وزن كې وزني مشابهت يې ښكاره دي او عدلي مشابهت هغه
فَلَمْ ذَهَبَ اِلَيْهِ النُّحَاةُ اَنَّ فَعَالِ بِمَعْنَى الْاَمْرِ مَعْدُوْلٌ عَنِ الْاَمْرِ الْفِعْلِيِّ
دي نو ذهاب نه دي كړي دې ته نحويانو چې فعال په معنى د امر سره معدول دي د امر فعلي نه كوم چې د
لِلْمُبَالَغَةِ وَ هٰذِهِ الصِّيْغَةُ لِلْمُبَالَغَةِ فِي الْاَمْرِ كَفَعَّالٍ وَ فَعُوْلٍ لِلْمُبَالَغَةِ فِيْ
مبالغې د پاره دي او دا صيغه د مبالغې د پاره په امر كې په شان د فعال او فعول ده د پاره د مبالغې په
فَـــاعِـــلٍ.
فاعل كې.

اغراض دجامي : وفعال الخ: هر كله چې فارغ شو ماتن د يو قسم اسماء افعال نه، چې سماعي وو يعنې په معنى د ماضي او امر سره راځي او محصور وي د سمع پورې، نو اوس بيان د قياسي كوي، يعنې چې په داسې طريقه د عربو نه اوريدلى شوې وي، چې نور پرې قياس كولى شي، دا قياسي بيا په دوه قسمه دي: حقيقتاً، چې په معنى د امر سره وي. حكمي ملحقات: چې په معنى د امر سره نه وي خو د هغه اسمآء افعال په وزن وي، چې په معنى د امر سره وي، لكه وروستو مصدر معرفه وغيره راځي، نو دى د دغه احكام ذكر كوي، وايي هغه فعال چې په معنى د امر سره د ثلاثي مجرد نه راشي نو دا به اسم فعل قياسي وي، لكه نزال په معنى د انزل سره راځي، او مقصود په دې كې تاكيد وي، لكه تا ته نون تاكيد ګران ښكاري، نو ضراب ووايه، نو تاكيد به ادا شي، سره د تخفيف نه، څكه د نون تاكيد اداء كول زور غواړي، او د چا چ' نه ذور نه كيږي.

اى ما يوزن: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال : مطابقت نشته په مينځ د مثال او ممثل كې، څكه په ممثل كې فعال او په مثال كې نزال ذكر دى؟

جواب: مونږ وايو لفظ د **فعال** مراد نه دی، بلکې وزن د **فعال** مراد دی، او نزال په وزن د **فعال** سره دی.

الكائن: غرض د شارح د **بمعنى الامر** جار مجرور دپاره متعلق راويستل دي، نو دا په اعتبار د متعلق سره د **فعال** دپاره صفت دی. بيا دا صفت يې نكره او حال ونه ګرځوو، بلكې معرفه معرف باللام يې وګرځوو، دې دپاره چې غتوالی د معنی راشي.

المشتق: غرض د شارح د جار مجرور دپاره متعلق راويستل دي، بيا متعلق يې د افعال خاصه نه راويسته، ځكه قرينه پرې **من الثلاثي** موجوده.

المجرد: دې لفظ راويستو كې اشاره ده، چې مطلق ثلاثي مراد نه دی، بلكې ثلاثي مجرد مراد دی، الف لام عهدي دی، وجه داده، چې د ثلاثي مزيدو نه **فعال** په معنی د امر سره نه راځي.

ای قیاسيٌ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: **و فعال بمعنى الامر من الثلاثي** مبتداء ده او **قياسٌ** خبر دی او خبر حمل وي په مبتداء باندې او دلته حمل نه صحيح كېږي، ځكه **قياسٌ** مصدر دی نو حمل د وصف په ذات راځي؟

جواب: دلته حمل حقيقتاً نه دی، بلكې مجازاً دی بيا **مجاز في الكلمة** دی په معنی د **قیاسيٌ** سره دی او شارح دغه توجيه كړې ده يا **مجاز في الحذف** دی ای **ذو قياس**، لهذا حمل صحيح دی.

كنزال: غرض د ماتن مثال پيش كول دي.

سوال: چې نزال وايي نو انزل ولې نه وايي؟

جواب: ځكه چې دا د تاكيد دپاره راځي.

سوال: لام، او نون تاكيد دې مستعمل كړي كنه؟

جواب: لام او نون تاكيد په اداء كولو كې زور غواړي او ځينې خلكو ته دا زورونه كول ګران وي، هغې دغه ساده لفظ ووايي.

قال سيبويه الخ: غرض د شارح سوال ته تمهيد ايښودل دي، وايي چې: سيبويه ويلي دي، چې دا **فعال بمعنى الامر** د ثلاثي مجرد نه قياسي دي، نو څومره ثلاثي مجرد چې راځي، نو د هغې نه راتلې شي.

ويرد الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: ستا دغه قاعده صحيح نه ده، ځکه **قوام**، **قعاد** چېرته په معنى د **قم**، **اقعد**، سره نه دي راغلي، او سره ددې نه چې دا ثلاثي مجرد دي؟

فلهذا الخ: غرض د شارح جواب ذکر کول دي، حاصل د هغې دادی، چې دا قاعده اکثري ده.

فكأنه قياس الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: هر کله چې مطرد نه کثرت مراد اخلي، نو کثرت سره تعبير ولې نه کوې؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې ګويا که دا قاعده ده ځکه اکثر لره حکم د کُل وي.

و اما الرباعي الخ: غرض د شارح د ثلاثي قيد فائده ذکر کول دي، وايي **الثلاثي** قيد ورسره ځکه ولګولو، چې په رباعي کې دا قسم نادر راغلی دی او نادر په منزله د عدم وي او هغه صرف دوه الفاظ دي، **قرقار**، عرعار، لهذا دې نادر لره اعتبار نشته.

و فعال مصدراً الخ: کله چې فارغ شو ماتن د اسمآء افعالو قياسي حقيقي نه، نو شروع يې وکړه په اسمآء افعالو قياسي غير حقيقي کې، يعنې حقيقت کې اسمآء افعال نه دي، خو ددې په وزن دي، نو ځکه يې دې باب کې ذکر کړو.

سوال: د اما بعد خو نه **بمعنى الامر** دي او نه **بمعنى الماضي** دی، نو دلته يې ولې ذکر کوې؟

جواب: مونږ وايو دا اسمآء افعال حکمي دي، يعنې د هغې په وزن دي، نو د وزن د مناسبت د وجې نه يې ذکر کړو.

حال كونه: غرض د شارح د مصدراً وجه د نصب ذکر کول دي، چې دا منصوب دي بنآء برحاليت وروستو د مبني د ضمير نه حال دی.

سوال: دا خو تقديم د حال په ذوالحال راغلو؟

جواب: دا تقديم د حال په ذوالحال هغه وخت ناروا دی، چې عامل معنوي وي او دلته مبني عامل لفظي دي بيا يې دلته مصدر او معرفه وويلو، ځکه دا مشابه دی د **فعال بمعنى الامر** سره نو د هغې فرع دي، اوس چې دې کې مصدريت او معرفه راغلو، نو فرعيت به مضبوط شي، لکه غير منصرف کې دوه فرعي دي او فعل کې هم دوه فرعي دي، نو فرعيت د غير منصرف دې سره مضبوطېږي.

كفجار الخ: غرض د ماتن مثال پيش كول دي، غرض د شارح ددې مثال معاني ذكر كول دي، بيا دوه معاني يې ذكر كړې، يو مصدر او دوهم اسم مصدر دی، يا يو **ذوالتآء** او دوهم په غير د **تآء** نه دي بيا دا دواړه معاني معرفې دي اشاره دې ته چې **فجار** معرفه ده.

قال الشارح: غرض د شارح په نقل كولو د عبارت سره سوال ته تمهيد دی . وايي شارح رضي ويلي دي، چې خلك دې **فجار** ته مصدر معرفه مؤنث وايي.

ولم يقم الخ: په دې عبارت سره شارح هغه سوال كوي :

سوال : هغه سوال دادې چې ددې په تعريف او تانيث هيڅ دليل نشته، تاسو جواب كولې شئ؟

جواب: په **فجار** كې عدل تقديري دی او عدل تقديري دليل ته محتاج نه دی. عدم وجدان د دليل ستا دلالت نه كوي، په عدم وجدان د دليل په **نفس الامر** كې.

ياداچې دلته دليل قاطع به نه وي، خو دليل ظني شته، څكه ټول خلك **الفجرة قبيح المنظر** زنانه ته وايي او د نحوې ټول دلائل ظني دي.

و صفةً: دوهم قسم د **فعال** قياسي حكمي هغه دي، چې صفت د مؤنث وي، لكه **فساق** په معنی د **فاسقةٌ** سره راځي.

مبني: دا يې ورلره حكم ذكر كړو، چې دا هم مبني دی.

سوال : نسبت د مبني دوه شيانو ته شوې دی، نو **مبنيان** په كار وو؟

جواب: دا نسبت په تاويل د **كل واحدٍ** سره شوی دی، بيا چونكه په **كل واحدٍ** كې عموم وو، **فعال بمعنی الامر** ته هم شامليده، بيا هغه مخكې عبارت **قياسٌ** بې فائده كرځېدو نو شارح ددغه وهم ددفع دپاره ويل چې **من القسمين الآخرين**.

لمشابهته: غرض د ماتن وجه د بنآء ذكر كول دي، يعنې د وجهې د مشابهت د هر واحد نه د **فعال بمعنی الامر** سره. اوس هر واحد د **فعال** مصدري او صفتي نه مشتبه شو او **فعال بمعنی الامر** مشبه به شو. اوس وجه د شبه څه ده؟ نو هغه ماتن ذكر كوي، چې:

عدلاً وزنةً: غرض د ماتن وجه د شبه ذكر كول دي، شارح وايي چې وزن كې خو مشابهت ظاهر

دی، ځکه د دواړو وزن فعال دی او په عدل کې مشابهت دادی. چې څنګه فعال بمعنی الامر د النزل نه معدول دی، همدارنګې دا فعال مصدري او صفتي هم معدول دی دپاره د مبالغې په فاعل کې.

قَالَ الشَّارِحُ الرَّضِيّ وَ الَّذِيْ أُرٰى اَنَّ كَوْنَ اَسْمَاءِ الْأَفْعَالِ مَعْدُوْلَةً عَنْ اَلْفَاظِ الْفِعْلِ شَیْءٌ لَا دَلِيْلَ لَهُمْ
شارح رضي وايي زما رای داده چې دا نظريه چې اسماء افعال معدول دي الفاظو د فعل نه هيڅ دليل نشته
عَلَيْهِ كَيْفَ وَ الْأَصْلُ فِيْ كُلِّ مَعْدُوْلٍ عَنْ شَيْءٍ اَنْ لَا يَخْرُجَ عَنِ النَّوْعِ الَّذِيْ ذٰلِكَ الشَّيْءُ
په دې باندې ځکه چې اصل په معدول کې داده چې عدول ځيز دهغه څه نه. نه خارجوي کوم کې چې دې
مِنْهُ فَكَيْفَ خَرَجَ الْفِعْلُ بِالْعَدْلِ عَنِ الْفِعْلِيَّةِ اِلَى الْاِسْمِيَّةِ وَ اَمَّا الْمُبَالَغَةُ فَهِيَ ثَابِتَةٌ
وومځکې دعدل نه نو فعل څنګه په عدول سره د فعليت نه اسميت ته خارج شو او هرچې مبالغه ده نو دا ثابته
فِيْ جَمِيْعِ اَسْمَاءِ الْأَفْعَالِ وَ بَيَّنَ وَجْهَهَا فِيْ كَلَامٍ طَوِيْلٍ فَمَنْ اَرَادَ الْاِطِّلَاعَ عَلَيْهِ فَلْيَرْجِعْ اِلَيْهِ وَ
ده په ټولو اسماء افعالو کې او بيان کړې وجه ددې په تفصيل سره څوک يې چې ګوري هلته دې وګوري او
فَعَالِ حَالَ كَوْنِهٖ عَلَمًا لِلْأَعْيَانِ اَیْ لِعَيْنٍ مِنَ الْأَعْيَانِ وَ اِنَّمَا قَالَ
کوم په حال کون ددې کې چې دا به علم وي دپاره داعيانو يعنې دپاره د عين داعيانو او په تحقيق سره يې وويل
عَلَمًا لِيَخْرُجَ بَابُ فَسَاقِ وَ اِنَّمَا قَالَ لِلْأَعْيَانِ لِيَخْرُجَ عَنْهُ بَابُ فَجَارِ لِاَنَّهُ وَ اِنْ كَانَ عَلَمًا
علما چې خارج شي په دې سره باب د فاسق خارج شو او په قيد داعيان سره باب د فجار خارج شو دا اګر که علم دي
كَمَا قَالُوْا لٰكِنَّهُ لِلْمَعَانِيْ لَا لِلْأَعْيَانِ وَ قَوْلُهُ مُؤَنَّثًا صِفَةُ عَلَمًا وَ
لکه څنګه يې چې ويلي ليکن دمعانيو دپاره نه داعيانو دپاره او دا قول چې مؤنثا دا صفت او علم دي او
ذِكْرُهُ لِلتَّنْبِيْهِ عَلٰى اَنَّهُ لَمْ يَقَعْ اِلَّا كَكَ كَقَطَامِ عَلَمًا لِلْمُؤَنَّثِ وَ غَلَابِ كَكَ مَبْنِيٌّ
ذکر يې دپاره ددې خبر دي چې دا هميشه همدارنګې راځي لکه قطام علم دپاره د مؤنث دي او غلام هم مبني
فِيْ اِسْتِعْمَالِ اَهْلِ الْحِجَازِ لِمُشَابَهَتِهٖ فَعَالِ بِمَعْنَى الْأَمْرِ عَدْلًا وَ
دي په استعمال داهل حجازو کې ځکه چې مشابهت لري د فعال سره چې په معنی دامر سره وي په عدل او
زِنَةً وَ مُعْرَبٌ فِيْ اِسْتِعْمَالِ بَنِيْ تَمِيْمٍ اِلَّا مَا كَانَ فِيْ اٰخِرِهٖ اَیْ اِلَّا فِيْ فَعَالِ
وزن کې او معرب دي په استعمال دبني تميم کې مګر چې کله وي په آخر دې يعنې مګر په فعال کې چې
عَلَمًا لِلْأَعْيَانِ يَكُوْنُ فِيْ آخِرِهٖ رَاءٌ فَاِنَّ بَنِيْ تَمِيْمٍ اِخْتَلَفُوْا فِيْهِ فَاَكْثَرُهُمْ يُوَافِقُوْنَ
علم دي دپاره داعيان وي به په آخر ددې کې راء ځکه بني تميم اختلاف لري په دې کې زيات يې موافق

الحِجَازِيُّوْنَ فِيْ بِنَائِهٖ وَ اَكْثَرُهُمْ لَا يَفْرُقُوْنَ بَيْنَ ذَوَاتِ الرَّاءِ وَ غَيْرِهَا بَلْ
دي دحجازينوسره په مبني والي دهغې کې اوکم يې فرق نه کوي په ذوات الراء او غير ذوات الراء کې بلکه
يَحْكُمُوْنَ بِاِعْرَابِ الْكُلِّ نَحْوُ حَضَارِ عَلَمًا لِكَوْكَبٍ وَجْهُ الْاَكْثَرِيْنَ اَنَّ الرَّاءَ حَرْفٌ مُسْتَثْقِلٌ لِكَوْنِهٖ
تولوته اعراب ورکوي لکه حضار چې نوم دستوري دي وجه دا کثروداده چې راء حرف ثقيل دي دوجې دکيدو
فِيْ مَخْرَجِهٖ كَالْمُكَرَّرِ فَاخْتِيْرَ فِيْهِ الْبِنَاءُ لِاَنَّهٗ اَخَفُّ اِذْ سُلُوْكُ
نه په مخرج خپل کې په شان دمکررده نوغوره شوې په دې کې بنا ځکه مبني اخف ده ځکه چې تلل په
طَرِيْقَةٍ وَاحِدَةٍ اَسْهَلُ مِنْ سُلُوْكِ طَرَائِقَ مُخْتَلِفَةٍ.
يوه لاره آسان دي دتللو نه په ډيرو لارو او مبني هم په يوه لاره تلل دي

اغراض دجامي : قال الشارح الرضي الخ : غرض د شارح رضي سوال کول دي په ماتن باندې:

سوال: مشابهت د فعال مصدري او صفتي د فعال بمعنى الامر سره عدلاً ويل صحيح نه دي، ځکه قانون په عدل کې دادی، چې دا به د خپل نوع نه. نه وځي که معدول عنه فعل وو، نو معدول به هم فعل وي او که معدول عنه اسم وو، نو معدول به هم اسم وي او دلته معدول عنه فعل دی او معدول اسم دی ، دوهمه وجه داده، چې په دې دليل نشته ؟

جواب: د دوهم دليل نه جواب دادی، چې عدل تقديري دليل ته محتاج نه دی، او د اول سوال نه جواب دا دی، چې دغه قاعده په عدل لفظي کې ده او دلته خو عدل تقديري دی.

وعلماً للاعيان : هر کله چې فارغ شو ماتن د تفصيل د درې قسمونو د فعال نه، چې يو اسم فعل او دوه ملحقان وو، نو اوس مجموعه کې څلورم قسم او ملحقانو کې دريم قسم ذکر کوي.

وفعال حال الخ : غرض د شارح اشاره کول دي، چې دا عطف دی په مصدراً باندې او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وي په ما قبل د معطوف کې نو فعال يې معاد کړو، بيا دا علماً منصوب وو، نو علت د نصب ذکر کوي، چې دا منصوب دی بر برحاليت او عامل په دې حال کې مفهوم د مبني او معرب دی عصام صاحب وايي، چې مفهوم د مبنيٌّ معربٌ عامل ګرځول صحيح نه دي، بلکې دا مبنيٌّ لفظ عامل ګرځول په کار دي؟ ليکن باسولي دې ترکيب لره ترجيح ورکړې ده.

اى لعين من الاعيان : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : مثال دې مطابق د ممثل سره نه دی، ځکه په ممثل کې للاعیان ذکر دی او مثال د یو عین دی؟

جواب: شارح وایي چې دا للاعیان صفت د عین دی په اعتبار د متعلق سره او عین مفرد دی، نو مثال مطابق د ممثل سره دی.

و انما قال الخ: غرض د شارح د **علماً** قید فائده ذکر کول دي، چې قید سره باب د **فساق** یعني **فعال** صفتي خارج شو، ځکه هغه علم نه وي.

و انما قال الخ: غرض د شارح د للاعیان قید فائده ذکر کول دي، چې دې قید سره باب د **فجار** یعنې **فعال** مصدري خارج شو، ځکه هغه اګر چې علم وي، لیکن د معاني دپاره وي، نه که د اعلامو دپاره.

و مؤنثاً الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح د **مؤنثا** دپاره وجه د نصب ذکر کول دي چې دا صفت د **علماً** دی.

و ذکره الخ: غرض د شارح اشاره کول دي، چې دا **مؤنثاً** قید احترازي نه دی، بلکې اتفاقي دی یعنې هسې وقوع ددې قسم داسې شوې ده، چې مؤنث وي نور دا قید اتفاقي دی، مؤنث کیدل ورلره شرط نه دی.

کقطام: غرض د ماتن مثال ذکر کول دي، او شارح تطبیق د مثال د ممثل سره کوي.

مبنيٌ: غرض د ماتن خو حکم ددې قسم ذکر کول دي، چې دا مبني دی او بیا دې کې اختلاف ذکر کوي، چې د اهل حجاز دا مذهب دی.

في استعمال اهل الحجاز: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي :

سوال: حجاز خو د علاقې نوم دی، او دغه علاقه خو مبني کول نه شي کولی، ځکه بنآء خو صفت د متکلم دی، نو هغې ته څنګه نسبت کوې؟

جواب: شارح ورسره اهل لفظ راویستو.

سوال : بیا بل سوال دا وو، چې في د ظرفیت دپاره وي او ظرف حقیقي یو زمان او بل مکان دی او ظرف مجازي خو په صفاتو کې راځي. اوس اهل حجاز خو نه ظرف حقیقي دي او نه ظرف مجازي دي، نو في لفظ څه لره راوړې؟

جواب: دا عبارت په حذف د مضاف سره دی ای في استعمال اهل الحجاز، او استعمال نسبت دی په مینځ د مستعمل او مستعمل کې مستعمل متکلم او مستعمل دا لفظ شو. نو دا استعمال نسبت شو د مستعمل دپاره، او نسبت د شيء په حکم د صفت کې وي، نه د دغه شيء دپاره.

لمشابهته الخ: غرض د شارح وجه د بناء ذکر کول دي، چې دا د فعال بمعنى الامر سره په عدل او وزن کې مشابهت ساتي. وزن کې مشابهت خو ظاهر دي، او عدل کې مشابهت دا سې چې قطام د قاطمة نه معدول دي هغه زنانه ته وايي چې جنگ کې زوروره وي.

معربٌ في الخ: دا هغه اختلاف بیان شو، بیا دا راویستو الا حرف استثناء ده. مستثنی منه معربٌ دی، خو یو قید ددې سره دی او هغه دا دی و معربٌ بالاتفاق.

في استعمال بني تميم الا ماكان في آخره الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ظاهر د عبارت نه دا معلومه ده، چې فعال علم داعیان مؤنثه به په نزد د بنو تمیم معرب وي، خو که آخر کې رآء وه، نو بیا به د دوی په نزد مبني وي، حالانکه خبره خو داسې ده، چې کله په آخر ددې کې رآء وي، نو بیا په کې د دوي اختلاف دی؟

جواب: مونږ وایو دا استثناء د معرب نه ده، لیکن مونږ ورسره دا قید د بالاتفاق لگوو. اوس خبره واضح ده، چې دغه قسم فعال د بنو تمیم په نزد بالاتفاق معرب ده، خو چې په آخر کې رآء وي، نو په هغې کې بیا اختلاف دی، بیا ځینو په دې صورت کې معرب او ځینو مبني ویلي دي.

نحو حضار: غرض د ماتن ذکر کول دي، شارح يې معنى کوي، د اعلم د کوکب ستوری دی.

وجه الاکثرين الخ: غرض د شارح وجه د اختیار د بناء ذکر کول دي او هغه داده، چې رآء ثقیله ده، ځکه دا د خپل مخرج نه د آداء کیدو سره مکرر کېږي، نو په دې کې بناء غوره کړې شوه. بیا وجه د نفس بناء مخکې ذکر شوې ده، هغه مشابهت دی او وجه د اختیار د کسرې (سره ددې نه چې اصل په بناء کې سکون دي) هغه داده، چې د سکون سره التقآء دساکنینو راځي او چې کسره ورکړو، نو اما له به راشي او دا مستحسن ده په نزد د عربو دپاره د خفت، بیا اما له په لغت کې مائل کولو ته وايي. او په اصطلاح کې الف یآء ته او زبر زیر ته مائله کولو ته اما له

وايي اوس دا هله کېږي، چې مونږ کسره ورکړو

لانه الخ: دې ته تدقيق وايي، دليل دپاره دليل ذکر کوي دا ددوي دليل وو او د بعضو دليل دادی، چې دا په شان د قطاب او غلاب دی او معرب دی دپاره ددې، چې حکم د باب مختلف نه شي.

تعريف د اسماء اصواتو:

اَلْاَصْوَاتُ اِعْلَمْ اَنَّ الْاَصْوَاتَ الْجَارِيَةَ عَلٰی لَفْظِ الْاِنْسَانِ اِمَّا مَنْقُوْلَةٌ اِلٰی بَابِ الْمَصَادِرِ وَ لَزِمَتْ
اصوات پوهه شه چې هغه اصوات چې جاري وي په لفظ دانسان يا منقول دي باب د مصادرو ته او لازم شوې
الْمَصْدَرِيَّةُ وَ لَمْ تَصِرْ اسْمَ فِعْلٍ اَوْ لَمْ تَلْزِمِ الْمَصْدَرِيَّةُ فَصَارَتْ اِسْمَ فِعْلٍ فَالْاَوَّلُ
ورسره مصدريت او اسماء افعال نه ګرځي او نه ورسره مصدريت لازمي دي نو وګرځيدل اسماء افعال نو اول
مِثْلُ وَاهًا لِلتَّعَجُّبِ وَ حُكْمُهُ حُكْمُ الْمَصَادِرِ وَ الثَّانِيْ مِثْلُ مَهْ وَ صَهْ وَ حُكْمُهُ حُكْمُ اَسْمَاءِ
لکه واهاً دپاره د تعجب او حکم يې په شان د حکم د مصادرو دي دوهم لکه مَهْ او صَهْ حکم يې حکم دا سماء
الْاَفْعَالِ وَ اَمَّا غَيْرُ مَنْقُوْلَةٍ بَلْ بَاقِيَةٌ عَلٰی مَا كَانَتْ عَلَيْهِ حِيْنَ كَوْنِهَا اَصْوَاتًا سَاذِجَةً
افعالو دي او يا به غير منقوله وي بلکه باقي به وي په خپل حالت کوم باندې چې مخکې وو چې هغه خالص
وَ لَمْ تَصِرْ مَصَادِرَ اَسْمَاءِ اَفْعَالٍ وَ هِيَ عَلٰی اَنْوَاعٍ فَمِنْهَا مَا
اصوات وو چې صيرورت يې نه وي کړي مصادرو د اسماء افعالو ته او دا په څو قسمه دي بعضې هغه دي چې
يَعْرِضُ لِلْاِنْسَانِ عِنْدَ عُرُوْضِ مَعْنًی لَهُ كَقَوْلِ الْمُتَنَدِّمِ وَ الْمُتَعَجِّبِ
عارضيږي انسان ته په وخت د عروض د يو معنی کې ده سره لکه قول د پښيمان سړي يا د متعجب سړي
وَيْ وَخْ لَا تَقْدِرُ اَنْ تَحْكُمَ عَلَيْهِ بِشَيْءٍ وَ بِهٖ عَلٰی شَيْءٍ وَ مِنْهَا مَا يَجْرِيْ
وي وخ او قدرت نه لري چې حکم وشي پرې د يو څيز ياده باندې دپاره د بل څيز بعضې هغه دي چې جاري
لَفْظُ الْاِنْسَانِ عَلٰی سَبِيْلِ الْحِكَايَةِ بِاَنْ يَصْدُرَ مِنْ نَفْسِهٖ مَا يُشَابِهُ صَوْتَ شَيْءٍ كَمَا اِذَا قُلْتَ غَاقِ قَاصِدًا
کيږي په لفظ د انسان په طريقې د حکايت سره په داسې شان چې صادر شي د نفس نه هغه څه چې مشابهت
لِاِصْدَارِ مَا يُشَابِهُ صَوْتَ الْغُرَابِ عَنْ نَفْسِكَ وَ حِيْنَئِذٍ
لري د اواز د يو څيز سره لکه ته چې وايې غاق او نيت وي مشابهت دې آواز د کارغه سره نو اوس په دې وخت
لَا تَقْدِرُ اَنْ تَحْكُمَ عَلَيْهِ اَوْ بِهٖ وَ مِنْهُمَا مَا يَصُوْتُ
کې ته فيصله نه شې کولې په دې باندې او يا دې دپاره بعضې هغه دي چې آواز کولې شي په هغې باندې

لِاَجْلِ	حَيَوَانٍ	اِمَّا	لِزَجْرٍ	اَوْ	لِدُعَاءٍ	اَوْ	غَيْرِ	ذٰلِكَ	كَمَا	اِذَا	قُلْتَ	نَخْ لِاَنَاخَةِ الْبَعِيْرِ

دپاره دحيوان يادپاره دشړلو دحيوان اويادپاره دراغوښتلو اويادبل څيزلکه چې ته وايې نخ داوښې څوکولو

وَ ح	اَيْضًا	لَا	تَقْدِرُ	اَنْ	يَحْكُمَ	عَلَيْهِ	زَيْدٌ	عِنْدَ	التَّعَجُّبِ	وَىْ	اَوْ	عِنْدَ اَنَاخَةِ

دپاره اوپه دې وخت کې فيصله نه شي کولې په دې باندې زيد په وخت دتعجب کې اووې په وخت دڅو

الْبَعِيْرِ نَخْ اَوْ غَاقِ عِنْدَ حِكَايَةِ صَوْتِ الْغُرَابِ فَهِيَ فِيْ هٰذِهِ الْحَالَةِ اَيْضًا مَبْنِيَّةٌ لٰكِنْ لَا مِنْ حَيْثُ

کولو داوښې اوياغاق په وخت دحکايت داوازدقارغه نوداپه دې حالت کې همدارنګې مبني دي لکن

اَنَّهَا	اَصْوَاتٌ	بَلْ	مِنْ	حَيْثُ	اَنَّهَا	حِكَايَةٌ	عَنْهَا.

ددې حيثيت نه ،نه چې دااصوات دي بلکې ددې حيثيت نه چې دلته حکايت کيدې شي ددې نه

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره د اصواتو تعريف کوي.

اغراض دجامي : الاصوات : چې کله فارغ شو ماتن د تفصيل د څلورو اقسامو د اسم مبني نه، نو شروع يې وکړه په تفصيل د پنځم قسم د اسم مبني کې، نو وې ويل الاصوات الخ.

دلته يو څو سوالات مخې ته راځي :

سوال : نفس تفصيل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصيل څکه کوي، چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

سوال : تفصيل په دې مقام کې ولې کوي؟

جواب : تفصيل په دې مقام کې څکه کوي، يعنې تفصيل د اجمال نه خلاف شو په تر کې، څکه اجمال کې مرکبات او کنايات مخکې وو او اسماء افعال شپږمه مرتبه کې او اصوات اومه مرتبه کې وو، ليکن تفصيل کې دا دواړه مقدم کړو، ليکن اصل داده چې که د ټول تفصيل د اجمال سره موافق کړې وي، نو چا به ويل چې ګنې دا ترتيب فرض دی. نو ددې وهم د دفع کولو دپاره ماتن تفصيل د اجمال نه خلاف کړو. او بله دا هم ده، چې کيدې شي، د ناسخ نه غلطي راغلې وي.

سوال : تفصيل څنګه کوي؟

جواب : تفصيل داسې کوي چې د اصوات تعريف به وکړي كل لفظ الخ سره. بيا دوه قسمونه به ذکر کړي، حکمي په صوتٌ او صوّت به البهائم سره. بيا به د قسم اول مثال ذکر کړي، فالاول كغاق

سره او بيا به د قسم ثاني مثال ذکر کړي والثاني کنخ سره.

اعلم: غرض د شارح په اعلم سره تنبيه ده مخاطب ته په اقسامو د اصواتو باندې غرض د شارح په اعلم سره تنبيه ده مخاطب ته په امثله د دغه اقسامو باندې. دريم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه ده مخاطب ته په حکم د هر قسم باندې، څلورم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه ده مخاطب ته په وجه د بناء د مبني اقسامو. پنځم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه ده مخاطب ته په دفع د سوالاتو باندې.

اما منقولة الخ: يعنې اصوات په دوه قسمه دي، يو هغه دي چې مصادرو ته نقل شي او د مصدريت سره لازم وي، نو اسم فعل ترې نه وي جوړ، او دوهم هغه دی، چې د مصدريت سره لازم نه وي، نو اسم فعل ترې جوړوي، د اول مثال لکه واه شو. عرب دا کلمه د تعجب په وخت استعمالوي، ددې قسم حکم د مصادرو ۍ، مصادر معرب واقع کېږي، نو دا به هم معرب واقع کېږي. د دوهم قسم مثال صه دی، په معنی د السکوت سره راځي، خو بيا اسکت ته نقل شو، اوس فرق صرف په تنوين سره راځي، صَهٍ عام دی او صَهْ خاص دی. ددې حکم د اسمآء افعالو دی.

واما غير منقولة الخ: يعنې هغه اصوات چې په خپل حال باقي وي مصادر وي او افعالو ته نه نقل شوي، دا درې قسمه دي: اول قسم هغه دي، چې انسان ته د يو معنی د عارض کېدو په وخت عارض کيږي، څکه محکوم عليه او محکوم به هغه شی واقع کيږي، چې مسند او مسنداليه واقع کيږي، او دا مذکور داسې نه واقع کيږي بلکه دا، چې د صوت هغه معنی بيا فوت کېږي. دوهم قسم هغه دی، چې جاري شي په لفظ د انسان په طريقه د حکايت سره.

بان يصدر الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: د غراب آواز د قبيلې د الفاظو نه، نه دی نو دا خو انسان طاقت کې نشته، چې د هغې حکايت په ژبه وکړي؟

جواب: شارح وايي دی ورلره داسې ترتيب ورکړي، چې د حيوان د آواز سره دده آواز مشابه شي، لکه د قارغه آواز نقل کوي او غاق ووايي. دا قسم هم محکوم عليه او محکوم به نه واقع کېږي، دريم قسم هغه دی چې د يو حيوان د زجر او يا بلنې دپاره ويلی شي، لکه نخ د اوښ د

کېنولو دپاره عرب استعمالوي، دا قسم هم محکوم عليه او محکوم به نه واقع کېږي.

وهٰذه الاقسام الخ: غرض د شارح حکم ددې اقسامو بيانوي، چې بناء د هغې دپاره وجه ذکر کړل دي او هغه انتفاء د ترکيب ده په دې کې.

واذا تلفظ بها الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: زه به درته وښايم چې ترکيب به وي او بيا به هم دا اسماء مبني وي، لکه قال زيدٌ عدس التعجب وئ؟

جواب: په دې وخت کې مونږ دې ته مبني وايو بناء بر حکايت. اصل بناء د عدم ترکيب د وجې نه ده، ليکن اوس په دې صورت کې بناء هغه د حکايت د وجې نه راغلې ده، نو سوال دفع شو.

وَ الْمُرَادُ بِالْاَصْوَاتِ هٰهُنَا مَا كَانَتْ بَاقِيَةً عَلٰى مَا هِيَ عَلَيْهِ مِنْ غَيْرِ نَقْلِهَا عَلٰى سَبِيْلِ الْحِكَايَةِ
اومراد د اصواتو نه دلته هغه دي په کوم حال چې اصوات باقي وي په غير د نقل نه په طريقې د حکايت سره
وَ هِيَ بِهٰذَا الْاِعْتِبَارِ لَيْسَتْ بِأَسْمَاءٍ لِعَدَمِ كَوْنِهَا دَالَّةً بِالْوَضْعِ وَ ذِكْرِهَا فِيْ بَابِ الْاَسْمَاءِ
او په دې اعتبار دا اسماء نه وي ځکه چې دا دال بالوضع نه دي او ذکر کول يې په باب د اسماء کې د وجې د
لِاِجْرَائِهَا مَجْرَاهَا وَ اَخْذِهَا حُكْمَهَا وَ بُنِيَتْ لِجَرْيِهَا
جاري کيدو ددې په ځای د اسماو او د وجې د حکم اخستلو د اسماو او مبني والې يې د وجې د جاري کيدو
مَجْرٰى مَا لَا تَرْكِيْبَ فِيْهِ مِنَ الْاَسْمَاءِ فَالْاَصْوَاتُ بِهٰذَا الْاِعْتِبَارِ
ددې په ځای د هغه څه چې ترکيب نشته په هغې کې چې هغه اسماء دي نو اصوات په دې اعتبار سره
كُلُّ لَفْظٍ اِنَّمَا قَالَ لَفْظٍ وَ لَمْ يَقُلْ اِسْمٍ لِعَدَمِ الْوَضْعِ فِيْهَا كَمَا عَرَفْتَ حُكِيَ بِهٖ
هر هغه الفاظ دي مصنف لفظ وويل نه اسم ځکه چې په اسم کې وضع نشته چې په هغې سره حکايت
صَوْتٌ اَيْ اُصْدِرَ عَلٰى لِسَانِ الْاِنْسَانِ تَشْبِيْهًا بِصَوْتِ شَيْءٍ كَمَا
د صوت وکړل شي يعني چې صادر شي په ژبه د انسان چې مشابهت لري د آواز د يو څيز سره لکه څنګه چې
عَرَفْتَ فِي الْقِسْمِ الثَّانِيْ مِنَ الْاَصْوَاتِ الْغَيْرِ الْمَنْقُوْلَةِ اَوْ صُوِّتَ بِهِ الْبَهَائِمُ
تا وپيژندل په قسم ثاني د اصوات غير منقولو کې او يا هغه دي چې آواز وکړل شي په هغې سره بهائمو ته
يَعْنِيْ مَثَلًا اَيْ لِاِنَاخَتِهَا وَ زَجْرِهَا اَوْ دُعَائِهَا اَوْ غَيْرِ ذٰلِكَ وَ اِنَّمَا قُلْنَا مَثَلًا لِاَنَّ الْمُتَبَادِرَ مِنَ الْبَهَائِمِ
يعني مثلاً د هغوي د څوکولو يا شړلو يا رابللو وغيره دپاره او مونږ قيد د مثلاً ځکه وويل چې غالب د بهائمو

ذَاتَ الْقَوَائِمِ الْأَرْبَعِ فَلَا يَتَنَاوَلُ مَا هُوَ لِلطُّيُوْرِ بَلْ لِبَعْضِ اَفْرَادِ الْاِنْسَانِ اَيْضًا
هغه دي چې خاوندان دځلوروخپووي نوبيانه شامليږي مارغانوته بلکه بعضې افرادودانسانانوته هم
كَالصِّبْيَانِ وَ الْمَجَانِيْنِ وَ اِذَا كَانَ ذِكْرُهَا عَلٰى سَبِيْلِ التَّمْثِيْلِ يَتَنَاوَلُ التَّعْرِيْفُ كُلَّهَا فَالْاَوَّلُ كَغَاقِ
لکه ماشومان اوليوني اوکله يې چې ذکرپه طريقې دتمثيل شونوبيا تعريف ټولوته شامليږي اول لکه غاق
اِذَا صَوَّتَ بِهِ الْاِنْسَانُ تَشْبِيْهًا بِالْغُرَابِ وَ الثَّانِيْ كَنَخْ مُشَدَّدَةً اَوْ مُخَفَّفَةً عِنْدَ
کله چې آوازپرې انسان وکړي اودکارغه سره مشابهت کوي اودوهم لکه نخ په شداوپه غيردشدنه په وخت
اَنَاخَةِ الْبَعِيْرِ وَ لَمْ يَذْكُرِ الْمُصَنِّفُ الْقِسْمَ الْاَوَّلَ وَ هُوَ مَا كَانَ صَوْتُ الْاِنْسَانِ اِبْتِدَاءً مِنْ غَيْرِ
دڅوکولودا وښ کې اومصنف قسم اول ذکرنه کړواوداهغه دي چې آوازدانسان ابتداء وي په غيرد
تَعَلُّقٍ بِالْغَيْرِ قِيْلَ ذٰلِكَ لِاَنَّهُ لَمَّا كَانَ هٰذَانِ الْقِسْمَانِ مَعَ تَعَلُّقِهِمَا بِالْغَيْرِ مُلْحَقَيْنِ
تعلق نه په غيرپورې چاويلي چې داځکه چې کله دادواړه اقسام وو سره دتعلق نه په غيرپورې ملحق
بِالْاَسْمَاءِ الْمَبْنِيَّةِ كَانَ كَوْنُ ذٰلِكَ الْقِسْمِ كَكَ اَوْلٰى لِكَوْنِهِ صَوْتُ الْاِنْسَانِ مِنْ غَيْرِ تَعَلُّقٍ
په اسماء مبنيوپورې نوکيدل ددې قسم زيات اولی دي ځکه چې دا صوت دانسان دي په غيردتعلق
بِـــــغَـــيْرِهٖ.
نه په غيرپورې.

اغراض دجامي : والمراد الخ: غرض د شارح تعيين د ما هوالمراد ههنا دی.

سوال : په کار وه، چې هغه اصوات دې هم ذکر کړی وی، چې په طريقې دحکايت سره راځي. نو په دې کې به دې قسم اول ذکر کړې وي؟

جواب : چونکه دغه زمونږ مراد نه دی، ځکه مو ذکر نه کړو.

وهي بهذا الاعتبار: غرض د شارح سوال ته تمهيد دی، وايي دا اصوات په اعتبار د غير منقوليت ددې باندې اسماء نه دي.

وذکرها: په دې عبارت سره شارح سوال ته اشاره کوي. چې کله دا اسماء نه دي، نو باب د اسماو کې دې ولې ذکر کړو؟

لاجرائها الخ : په دې عبارت سره شارح جواب ته اشاره کوي، حاصل د هغې دا دی، چې دا د اسماء په ځای جاري دي او حکم د هغې يې اخيستی دی، ځکه مونږ اسماو کې ذکر کړو.

فالاصوات الخ: غرض د شارح ما بعد تعريف ته تمهيد ايخودل دي.

كل لفظ: ماتن داسې ويلي وو.

وانما قال الخ: او شارح داسې ويلي، نو په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال: مصنف عمده شخص دى او د عمده شخص په كلام كې تغيير د نكتې نه خالي نه وي او دده عبارت كې تغيير راغلې دى د كل اسم په ځاى يې كل لفظ ويلى دى دا ولې؟

جواب: اسم ځكه نه وايي چې بيا به چا ويل چې عربو دې لره وضع كړى دى، حالانكه خبره خو داسې نه ده.

اى اصدر الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي.

سوال: ستا مراد به حكايت د آواز وي يا د الفاظو او حروفو كه عين آواز وي نو دا د انسان وسع كې نه دى، او كه الفاظ او حروف وي، نو د غراب آواز خو د قبيلې د الفاظو او حروفو نه نه وي؟

جواب: مونږ وايو، چې دې انسان به الفاظ ويلي وي، خو د حيوان د هغه آواز سره به يې مشابه كړى وي، او دا قسم ثاني شو داصوات غير منقولو.

او صوت بالبهائم: يا پرې ځناورو ته آواز كولى شي، او دا قسم ثالث شو د اصوات غير منقولو نه.

يعني مثلاً: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال: حاصل د سوال دادى، چې متبادر د بهائم نه ذهن ته ځناور راځي، نو تعريف دې جامع نه شو، ځكه هغه اصوات ترې خارج شو، چې طيورو دپاره استعمالېږي، او هغه اصوات چې انسانانو ماشومانو ته كيدې شي؟

جواب: ددې نه يو جواب فاضل هندي كړى دى، دې هغې لره وروستو نقل كوي او دلته خپل جواب كوي او هغه دا چې دا ذكر د بهائم به طور مثال دى لهذا تعريف ټولو ته شامل دى

فالاول كغاق: غرض د ماتن د قسم اول دپاره مثال ذكر كول دي، كوم اقسام چې ماتن ذكر كړي دي، شارح تطبيق د مثال كوي

والثاني كنخ: غرض د ماتن د مجموعه نه قسم ثاني دپاره مثال ذكر كول دي، شارح يې تطبيق كوي او دوه لغته په كې ذكر كوي، چې دا نخ مشدد او مخفف دواړه راغلى دى.

ولم يذكر الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: قانون دادی، چې رواياتو کې مفهوم مخالف لره اعتبار وي، نو دې شارح اصوات غير منقولو کې اول قسم ذکر نه کړو، معلومېږي چې هغه مبني نه دی؟

جواب: شارح ددې سوال نه مخکې خپل جواب کړی دی او هغې ته يې مثلاً سره اشاره کړې ده او قيل سره دوهم جواب د فاضل هندي نقل کوي او هغه دا دی، چې مفهوم مخالف لره رواياتو کې هله اعتبار وي، چې حکم په مفهوم مخالف کې په طريقه اولی سره ثابت نه وي، او دلته خو په مفهوم مخالف کې حکم په طريقه اولی سره ثابت دی، نو مفهوم لره اعتبار نشته.

اَلْمُرَكَّبَاتُ اَيِ الْمُرَكَّبَاتُ الْمَعْدُوْدَةُ مِنَ الْمَبْنِيَّاتِ كُلُّ اِسْمٍ حَاصِلٍ مِنْ تَرْكِيْبِ كَلِمَتَيْنِ حَقِيْقَةً اَوْ
او مرکبات معدوده د مبنياتو نه هر هغه اسماء دي چې حاصل وي د ترکيب د دوه کلمو نه حقيقتاً او يا
حُكْمًا اِسْمَيْنِ اَوْ فِعْلَيْنِ اَوْ حَرْفَيْنِ اَوْ مُخْتَلِفَيْنِ وَ جَعْلِهِمَا كَلِمَةً وَاحِدَةً لَيْسَ
حکماً اسمين وي او که فعلين وي حرفين وي او که مختلفين وي او ګرځول د هغې يوه کلمه چې نه وي د
بَيْنَهُمَا نِسْبَةٌ اَصْلًا لَا فِي الْحَالِ وَلَا قَبْلَ التَّرْكِيْبِ وَ اَنَّمَا قُلْنَا حَقِيْقَةً اَوْ حُكْمًا لِئَلَّا
هغوي په مينځ کې کوم نسبت نه په حال کې او نه مخکې د ترکيب نه او قيد د حقيقتاً او حکماً مونږ ځکه
يَخْرُجَ مِثْلُ سِيْبَوَيْهِ فَاِنَّ الْجُزْءَ الْاَخِيْرَ مِنْهُ صَوْتٌ غَيْرُ مَوْضُوْعٍ
راوړو چې خارج نه شي مثل دلفظ د سيبويه ځکه چې لفظ آخر ددې صوت دي چې وضع نه دي د پاره د
لِمَعْنًى فَلَا يَكُوْنُ كَلِمَةً لَكِنَّهُ فِيْ حُكْمِ الْكَلِمَةِ حَيْثُ اُجْرِيَ مَجْرَى الْاَسْمَاءِ الْمَبْنِيَّةِ وَ
معنی نو نه ګرځي کلمه لکن په حکم د کلمې کې دي ځکه چې جاري ده په مجری د اسماء مبني کې او دا
قَوْلُهُ لَيْسَ بَيْنَهُمَا نِسْبَةٌ لِيَخْرُجَ مِثْلُ عَبْدِاللهِ وَ تَأَبَّطَ شَرًّا لِاَنَّ بَيْنَ جُزْاَى كُلِّ وَاحِدٍ
قول چې ليس بينهما نسبة د پاره د خارجولو د لفظ د عبدالله او د تابط شراً دي ځکه چې په مينځ ددې اجزاو کې
مِنْهُمَا نِسْبَةٌ قَبْلَ الْعَلَمِيَّةِ وَلَا يَخْفَى اَنَّهُ يَخْرُجُ بِهٰذَا الْقَيْدِ مِثْلُ خَمْسَةَ عَشَرَ عَنِ الْحَدِّ مَعَ
مناسبت شته مخکې د علميت نه او هم دا رنګې وويل په دې قيد سره په مثل د خمسة عشر د تعريف نه سره
اَنَّهُ مِنْ اَفْرَادِ الْمَحْدُوْدِ لِاَنَّ بَيْنَ جُزْاَيْهِ قَبْلَ التَّرْكِيْبِ نِسْبَةَ الْعَطْفِ
ددې چې دا افرادو د محدود نه دي ځکه چې د دواړو اجزاو په مينځ کې نسبت د عطف دي مخکې د ترکيب
وَ تَعْيِيْنِ النِّسْبَةِ عَلٰى وَجْهٍ تَخْرُجُ مِنْهَا هٰذِهِ النِّسْبَةُ اَصْعَبُ مِنْ خَرْطِ الْقَتَادِ وَ الْاَحْسَنُ اَنْ يُقَالَ
نه او تعين د نسبت په دا سې شان چې خارج شي ور سره دا نسبت ګران وي د ازغني ونې نه بنه داده چې وويل

الْمُرَادُ بِالنِّسْبَةِ نِسْبَةٌ مَفْهُوْمَةٌ مِنْ ظَاهِرِ هَيْأَةِ تَرْكِيْبِ اِحْدَى الْكَلِمَتَيْنِ مَعَ الْاُخْرٰى وَ
شي چې مراد د نسبت نه هغه نسبت دي کوم چې فهميږي د ظاهر شکل د ترکيب د يوې کلمې د بلې نه او
لَا شَكَّ اَنَّهٗ يُفْهَمُ مِنْ ظَاهِرِ الْهَيْأَةِ التَّرْكِيْبِيَّةِ الَّتِيْ فِيْ عَبْدِاللّٰهِ
شک نشته چې د انسبت فهميږي د ظاهري شکل د ترکيب د دې کلمونه هرچې په عبدالله کې دي هغه
النِّسْبَةُ الْاِضَافِيَّةُ وَ مِنْ ظَاهِرِ الْهَيْأَةِ التَّرْكِيْبِيَّةِ الَّتِيْ فِيْ تَأَبَّطَ شَرًّا اَنَّ النِّسْبَةَ التَّعْلِيْقِيَّةَ الَّتِيْ تَكُوْنُ
نسبت اضافي دي او د ظاهري ترکيبي هيئت دي او هرچې تأبط شرا دي د لته نسبت عقليه دي کوم چې
بَيْنَ الْفِعْلِ وَ الْمَفْعُوْلِ بِخِلَافِ مِثْلِ خَمْسَةَ عَشَرَ فَاِنَّ هَيْأَةَ تَرْكِيْبِ اَحَدِ جُزْأَيْهِ مَعَ الْاٰخَرِ لَا تَدُلُّ عَلٰى
د فعل او مفعول په مينځ کې دي په خلاف د خمسة عشر ځکه د لته ترکيب د اجزاو د دې دلالت نه کوي په
نِسْبَةٍ اَصْلًا كَمَا اَنَّ هَيْأَةَ تَرْكِيْبِ اَحَدِ شَطْرَيْ جَعْفَرٍ مَعَ الْاٰخَرِ لَا تَدُلُّ عَلَيْهَا
نسبت باندې بالکل لکه ځنګه چې دلالت نه کوي يو طرف د جعفر سره د ترکيب د بل طرف د دې نه په دې باندې
مِنْ غَيْرِ فَرْقٍ فَانْطَبِقِ الْحَدُّ عَلَى الْمَحْدُوْدِ طَرْدًا وَ عَكْسًا.
په غير د فرق نه نو موافق شو حد د محدود سره طرداً او ممکناً يعني جامع او مانع.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره د مرکباتو تعريف او تفصيل بيانوي.

اغراض د جامي: المرکبات: کله چې فارغ شو ماتن د تفصيل د پنځه اقسامو د اسم مبني نه، نو شروع يې وکړه په تفصيل د شپږم قسم د اسم مبني کې نو وې ويل چې: المرکبات الخ.

سوال: نفس تفصيل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصيل ځکه کوي، چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

سوال: تفصيل په دې مقام کې ولې کوي؟

جواب: تفصيل يې د اجمال نه خلاف کړو، چې خبره وجوب ته ونه رسي.

اى المركبات المعدودة الخ: غرض د شارح دفع د وهم ده:

وهم: چا به ويل چې د اجمال د هغې نه علاوه مرکبات به مراد وي نو دا خو تفصيل بيا د اجمال نه خلاف کېږي؟

جواب: شارح دغه وهم دفع کړو، چې هغه اجمال والا مرکبات مرا دی.

سوال: په دې د تا سره قرينه څه ده؟

جواب: قرينه داده، چې معرف معاد شي معرفه نوعين اول مراد وي، او دلته معرفه معاد شوې ده معرفه. نو عين د اجمال هغه مراد دی

كل اسم الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: المركبات مبتداء ده او كل اسم ورلره خبر دی او خبر حمل وي په مبتداء باندې، او دلته حمل نه صحيح كېږي، ځكه مركبات اسمآء دي يو اسم خو نه دي؟

جواب: دا كل اسم خبر دی په خذف د مبتداء سره ای هو كل اسم معنی به دا شي، چې دا جنس مركب چې دلالت كوي په دې باندې المركبات جمع د قبيلې د دلالت د جمع نه په جنس نه د قبيلې د دلالت د جمع نه په افرادو باندې.

سوال: المركبات خو جمع ده او تعريف خو د جنس كېږي او په جنس سره كېږي؟

جواب: مونږ جواب وكړو، چې دا هو ضمير جنس مركب ته راجع دی، نو تعريف د جنس دی نه د افرادو.

بيا دې مقام كې دا كل دپاره د جامعيت راوړی شوی دی، دې سره مونږ يو بل سوال دفع كړو.

سوال: ستا دا تعريف صحيح نه دی، ځكه دا مشتمل دی په كلمه د كل باندې، او كل راځي دپاره د احاطې د افرادو. او تعريف د افرادو هم نه كېږي او په افرادو سره هم نه كېږي، بلكې تعريف د جنس كېږي او په جنس سره كېږي؟

جواب: مونږ جواب وكړو، چې كل منطقي نه دی مراد بلكې كل نحوي مراد دی، چې دپاره د جامعيت راځي.

بل جواب: چې كل په درې قسمه دي، مجموعي، افرادي، كلّي، دلته كُل كلّي مراد دی، چې په جنس دلالت كوي.

نو ماتن تعريف وكړو، چې هر هغه اسم چې د دوو كلمو نه جوړ وي، او په مينځ كې يې نسبت نه وي.

بيا په دې مقام كې يو بل سوال راځي

سوال: ذكر د كل اسم مخكې د كلمتين نه بې فائدې دی، ځكه دا د من كلمتين نه معلومېږي؟

جواب: دا تصریح بما عُلِمَ ضِمنًا ده

سوال: ددې تصریح خو څه فائده وي، نو دلته یې څه فائده ده؟

جواب: دې سره یې دفع د وهم وکړه، ځکه من کلمتین نه به چا وهم کولو، چې دا به مرکب وي او اسم به نه وي ځکه چې اسم خو مفرد وي، نو ماتن دغه وهم دفع کړو، چې سره د ترکیب نه دا اسم دی.

حاصلې: غرض د شارح په دې عبارت سره وروستو جار د مجرور دپاره متعلق راویستل دي.

ترکیب: غرض د شارح دفع د وهم ده:

وهم: چا به ویل چې من به د تبعیض دپاره وي، ځکه دا په متعدد داخل شوی دی، کله چې من د تبعیض دپاره شو نو فساد په معنی کې راغلو، ځکه معنی به دا شي، چې حاصل وي د بعضِ کلمتینو نه، او بعض کلمتین نه وي مګر یوه کلمه، نو مرکب خو د یو اسم نه، نه حاصلیږي ؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا من اجلیه دی او تبعیضیه نه دی او داخل دی په مفرد باندې که په متعدد باندې او هغه مفرد ترکیب لفظ دی.

حقیقةً او حکماً: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: تـه وایې مرکب وي د کلیتونو نه، نو بنآء په دې باندې سیبویه نفطویه وخي، ځکه دوهم جزء ددې صورت دی او کلمه نه ده؟

جواب: مونږ وایو چې دغه کلمتین حقیقتاً وي او که حکماً او دلته جزء ثاني حکماً کلمه ده.

اسمین الخ: په دې ترکیب کې احتمال د شپږ صورتونو دی: اسم و اسم، اسم و فعل، اسم و حرف، فعل و فعل، فعل و حرف، حرف و حرف، لیکن معتبر په کې دوه صورتونه دي. مرکب د اسمینو نه، مرکب د فعل او اسم نه.

لیس بینهما نسبةٌ: مونږ ددې عبارت معنی وکړه، چې ددې دواړو منځ کې هیڅ قسم نسبت نه وي دا معنی مونږ ځکه وکړه، چې نکره تحت النفي عموم پیدا کوي.

سوال: دادې چې ذکر ددې عبارت مستدرك دی؟

جواب: دا تصریح بِمَا عُلم ضمناً ده

سوال: ددې د ذکر فائده څه ده؟

جواب: چونکه بحث د اسماو دی او اصل په اسماو کې افراد دي وهم دا راتلو، چې دې کې په مرکب نه راځي، نو دغه وهم يې رفع کړو.

اصلاً الخ: ددې قيد لړولو فائده مخکې ذکر شوه، چې په دې کې عموم طرف ته اشاره ده.

ولا قبل التركيب: مراد په ترکيب سره علميت دی ، په دې عبارت سره يو سوال دفع شو :

سوال : چې قبل التركيب وي، نو نسبت به خامخا نه وي؟

جواب: مراد زمونږ قبل العلمية دی.

وانما قلنا الخ: غرض د شارح د حقيقتاً او حكماً قيد فائده ذکر کول دي، مخکې مونږ د هغې ذکر کړی دی.

ليس بينهما الخ: غرض د شارح د **ليس بينهما نسبة** قيد فائده ذکر کول دي حاصل د هغې دادی، چې دې قيد سره **عبدالله** خارجيږي ، ځکه **قبل العلمية** په دې کې نسبت د اضافت دی، همدارنګې تابط شراً ترې هم خارجيږي ځکه قبل العلميه دې کې نسبت تعليقي دی نسبت تعليقي دې ته وايي، چې نسبت د فعل او شبه فعل مفعول ته وشي ا ونسبت اسنادي دې ته وايي، چې د فعل شبه فعل نسبت فاعل ته وشي.

ولا يخفى الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره نقل کول د سوال د شارح رضي دی، بيا فاضل هندي د هغې نه جواب کړی دی ، نو شارح به په دغه جواب رد وکړي او بيا به خپل جواب والاحسن سره ذکر کړي حاصل د سوال د شارح رضي دادی، چې ستا داتعريف د مرکباتو صحيح نه دی، ځکه دا جامع نه دی خپل افرادو لره. او هر تعريف چې جامع خپلو افرادو لره نه وي هغه صحيح نه وي. دليل کبری واضح دي او دليل صغری دادی، چې دې سره **خمسة عشر** خارجيږي سره ددې نه چې دا د محدود د افرادو نه دی او دوتلو وجه داده، چې ده وويل چې په دې کې نسبت نه وي، او دلته **خمسة عشر** کې مخکې د علميت نه نسبت د عطف موجود دی؟ فاضل هندي صاحب داسې جواب کړی دی، چې مراد د مصنف د **ليس بينهما نسبة** نه هغه نسبت مراد دی، چې غير وي د نسبت د عطف نه. شارح په دغه جواب رد کوي، چې د نسبت په داسې طريقه سره تعين کول، چې نسبت دعطف ترې وځي نو دا سخت ګران دی د ازغو د

تعلیقي دې ته وايي، چې نسبت د فعل او شبه فعل مفعول ته وشي ا ونسبت اسنادي دې ته وايي، چې د فعل شبه فعل نسبت فاعل ته وشي.

ولا یخفی الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره نقل کول د سوال د شارح رضي دی، بیا فاضل هندي د هغې نه جواب کړی دی، نو شارح به په دغه جواب رد وکړي او بیا به خپل جواب والاحسن سره ذکر کړي حاصل د سوال د شارح رضي دادی، چې ستا داتعریف د مرکباتو صحیح نه دی، ځکه دا جامع نه دی خپل افرادو لره. او هر تعریف چې جامع خپلو افرادو لره نه وي هغه صحیح نه وي. دلیل کبری واضح دې او دلیل صغری دادی، چې دې سره خمسة عشر خارجیږي سَره ددې نه چې دا د محدود د افرادو نه دی او دوتلو وجه داده، چې ده وویل چې په دې کې نسبت نه وي، او دلته خمسة عشر کې مخکې د علمیت نه نسبت د عطف موجود دی؟ فاضل هندي صاحب داسې جواب کړی دی، چې مراد د مصنف د لیس بینهما نسبة نه هغه نسبت مراد دی، چې غیر وي د نسبت د عطف نه شارح په دغه جواب رد کوي، چې د نسبت په داسې طریقه سره تعین کول، چې نسبت د عطف ترې وځي نو دا سخت گران دی د ازغو د توکلو نه.

والاحسن: په دې عبارت سره شارح احسن جواب ورکوي: چې احسن جواب دادی، چې مراد د نسبت نه هغه نسبت دی، چې کوم د ظاهري هیئت د ترکیب نه معلومېږي، اوس چې دا خبره شوه، نو عبدالله او تابط شرًا خارج شو، ځکه عبدالله کې ظاهري هیئت د ترکیب کې نسبت اضافي دی او په تابط شرًا کې نسبت تعلیقي دی، په خلاف د خمسة عشر نه چې ددې د ظاهري هیئت نه هیڅ قسم نسبت نه معلومېږي، نو لهذا تعریف جامع مانع شو.

حکم د مرکباتو :

فَإِنْ تَضَمَّنَ الْجُزْءُ الثَّانِيْ حَرْفًا أَيْ حَرْفَ عَطْفٍ أَوْ غَيْرَهُ بُنِيَا أَيِ الْجُزْآنِ
اوس که چیرته متضمن وو جزء ثاني د حرف عطف وغیره لره نو مبني به گرځول کیږي دواړه اجزاء
الْأَوَّلُ لِوُقُوْعِ آخِرِهِ فِيْ وَسْطِ الْكَلِمَةِ الَّذِيْ لَيْسَ مَحَلًّا لِلْإِعْرَابِ وَ الثَّانِيْ لِتَضَمُّنِهِ
هرچې اول دې ځکه چې آخریې په وسط د کلمه کې راغلې کوم چې محل د اعراب نه دې او جزء ثاني متضمن
الْحَرْفَ كَخَمْسَةَ عَشَرَ فَإِنَّ أَصْلَهُ خَمْسَةٌ وَ عَشَرَ حُذِفَتِ الْوَاوُ وَ رُكِّبَ عَشَرَ مَعَ خَمْسَةَ وَ مِثْلُ
د حرف دې لکه خمسة عشر اصل یې خمسة وعشر وو واو حذف شو او ترکیب د خمسة او د عشر و شوا و په شان

حَادِيْ عَشَرَ وَ اَخَوَاتُهَا يَعْنِيْ اَخَوَاتِ كُلِّ مِنْ خَمْسَةَ عَشَرَ وَ حَادِيْ عَشَرَ وَ اِنَّمَا اَوْرَدَ مِثَالَيْنِ
د حادي عشراو اخوات د دې اخوات د حادي عشر ثاني عشر تر تسع عشر پورې مصنف دوه مثالونه راوړل دې د
لِيُعْلَمَ اَنَّ الْبِنَاءَ ثَابِتٌ فِيْ هٰذَا الْمُرَكَّبِ سَوَاءٌ كَانَ اَحَدُ جُزْأَيْهِ الْعَدَدُ الزَّائِدُ
پاره چې معلومه شي چې بنا ثابت ده په دې ترکيب کې ولوکه يو د جزئينو يې عدد دي کوم چې زائد دي
عَلَى الْعَشَرَةِ اَوْ صِيْغَةَ الْفَاعِلِ الْمُشْتَقَّةِ مِنْهُ وَ قِيْلَ فِيْهِ نَظَرٌ
په عشر باندې او يا په هغه صيغه د فاعل کومه چې مشتقه وي د هغې نه چاويلي په دې کې نظر شته دي
لِاَنَّ الثَّانِيْ فِيْهِ لَا يَتَضَمَّنُ الْحَرْفَ لِاَنَّهُ لَا يُرَادُ بِهٖ
ځکه چې دوهم جزء په دې ترکيب کې متضمن نه دي حرف لره ځکه چې نه شي مراد کولې په دې سره
حَادِيَ وَ عَشَرَ وَ جَوَابُ اَنَّ الْمُرَادَ بِصِيْغَةِ الْفَاعِلِ اِذَا اشْتُقَّ مِنْ
حادي وعشر سره د حذف نه جواب دادې چې مراد په صيغې د فاعل سره هغه ده چې کله مشتق شي د
اَسْمَاءِ الْعَدَدِ وَاحِدٌ مِنَ الْمُشْتَقِّ مِنْهُ لٰكِنْ لَا مُطْلَقًا بَلْ بِاِعْتِبَارِ وُقُوْعِهٖ بَعْدَ الْعَدَدِ السَّابِقِ عَلَى الْمُشْتَقِّ
اسماء عدد نه يو د مشتق منه نه، نه مطلقاً بلکه په اعتبار د وقوع د هغې وروستو د عدد سابق نه په مشتق
مِنْهُ فَاِنَّ الثَّالِثَ مَثَلًا وَاحِدٌ مِنَ الثَّلٰثَةِ لٰكِنْ لَا مُطْلَقًا بَلْ بِاِعْتِبَارِ وُقُوْعِهٖ بَعْدَ الْاِثْنَيْنِ
منه باندې لکه ثالث مثلاً واحد د ثلاثه دي لکن نه مطلقاً بلکه په دې اعتبار چې واقع دي وروستو د اثنين
فَلَمَّا اَخَذُوْا هٰذِهِ الصِّيْغَةَ مِنَ الْمُفْرَدَاتِ لِلدَّلَالَةِ عَلٰى مَا ذَكَرْنَا اَرَادُوْا
نو کله چې دوي دا صيغه د مفرداتو نه واخسته د پاره د دلالت په هغه څه چې کوم مونږ ذکر کړل نو اراده وکړه
اَنْ يَأْخُذُوْا مِثْلَ ذٰلِكَ مِنَ الْمُرَكَّبَاتِ وَ لَا يَتَيَسَّرُ ذٰلِكَ مِنْ مَجْمُوْعِ الْجُزْأَيْنِ
دوي چې د همدې غوندې صيغه واخلي د پاره د مرکباتو او دا په آسانۍ سره نه حاصليږي د دواړو اجزاو نه
لِاَنَّ صِيْغَةَ فَاعِلٍ لَا تَسَعُ حُرُوْفَهُمَا جَمِيْعًا فَاقْتَصَرُوْا عَلٰى
ځکه چې صيغه د فاعل ګنجائش نه لري تقسيم د حروفو د هغې دواړو اجزاو نه نو اقتصار ور کړل شو په
اَخْذِهَا مِنْ اَحَدِ الْجُزْأَيْنِ اِذْ فِيْ اَخْذِ بَعْضِ الْحُرُوْفِ مِنْ كُلِّ جُزْءٍ مَظِنَّةُ الْاِلْتِبَاسِ وَ اخْتَارُوْا الْاَوَّلَ
اخذ د يو د جزئينو ځکه چې په اخستلو د بعضې حروفو د هر واحد د اجزاو نه التباس راتلو او اول جز غوره شو
لِيَدُلَّ عَلَى الْمَقْصُوْدِ مِنْ اَوَّلِ الْاَمْرِ فَاَخَذُوْا مَثَلًا مِنْ اَحَدَ عَشَرَ الْمُتَضَمِّنِ حَرْفَ الْعَطْفِ
ځکه چې دلالت وکړي په مقصود دال نه مثلاً دوي واخستو احد عشر نه کوم چې متضمن دي حرف عطف

حَادِيْ عَشَرَ بِمَعْنَى الْوَاحِدِ مِنْ اَحَدَ عَشَرَ بِشَرْطِ وُقُوْعِهٖ بَعْدَ الْعَشَرَةِ فَحَادِيَ عَشَرَ يَتَضَمَّنُ

لره حادي عشر په معنى د واحد د احد عشر نه په شرط د وقوع د دې وروستو د عشره نه نو حادي عشر متضمن شو

حَرْفَ الْعَطْفِ بِاِعْتِبَارِ اَنَّهٗ مَاخُوْذٌ مِنْ اَحَدَ عَشَرَ الْمُتَضَمِّنِ حَرْفَ الْعَطْفِ لَا

حرف عطف لره په دې اعتبار چې دا ماخوذ د احد عشر نه دي كوم چې متضمن دي حرف عطف لره نه په

بِاِعْتِبَارِ اَنَّ اَصْلَهٗ حَادِيْ وَ عَشَرَ اِذْ لَا مَعْنَى لَهٗ وَ عَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ اَلْحَادِيَ وَ الْعِشْرُوْنَ

دې اعتبار چې اصل يې حادي وعشر دي ځكه د دې هيڅ معنى نشته او په همدې قياس الحادي والعشرون

لَا فَرْقَ بَيْنَهُمَا اِلَّا بِذِكْرِ الْوَاوِ وَ حَذْفِهَا اِلاَّ اِثْنَىْ عَشَرَ وَ اِثْنَتَىْ عَشَرَةَ

فرق نشته په مينځ د دې كې مگر په ذكر د واو سره او په حذف د واو سره مگر اثنى عشر او اثنتي عشر دلته

فَاِنَّهٗ لَا يُبْنَى فِيْهِمَا الْجُزْآنِ بَلْ يُبْنَى الثَّانِيْ لِلتَّضَمُّنِ وَ يُعْرَبُ

دواړه اجزاء مبني نه دي بلكه مبني دي فقط دوهم جزء د وجې د متضمن كيدو دوه حرف لره او اعراب

الْاَوَّلُ لِشِبْهِهٖ بِالْمُضَافِ لِسُقُوْطِ النُّوْنِ وَ اِلَّا اَىْ

به وركول كيږي اول ته ځكه هغه مشابه دي مضاف سره په سقوط د نون كې او كه چيرته نه وو يعنې كه

وَ اِنْ لَمْ يَتَضَمَّنِ الثَّانِيْ حَرْفًا اُعْرِبَ الثَّانِيْ مَعَ مَنْعِ صَرْفِهٖ

چيرته متضمن نه وو دوهم جزء حرف لره نو اعراب به وركول كيږي دوهم جزء ته سره د غير منصرف كيدو

اِنْ لَمْ يَكُنْ قَبْلَ التَّرْكِيْبِ مَبْنِيًّا كَبَعْلَبَكَّ وَ بُنِيَ الْاَوَّلُ

د معنى اگر كه هغه مخكې د تركيب نه مبني نه وو لكه بعلبك او مبني به گرځول كيږي اول جزء د وجې

لِلتَّوَسُّطِ الْمَانِعِ مِنَ الْاِعْرَابِ وَ عَلَى الْفَتْحِ لِاَنَّهٗ اَخَفُّ فِي الْاَفْصَحِ اَىْ

توسط نه چې مانع دي د اعراب نه او مبني بر فتحه ځكه شو چې فتحه خفيفه ده په افصح لغت كې يعنې

اِعْرَابُ الْجُزْأَيْنِ مَعًا وَ اِضَافَةُ الْاَوَّلِ اِلَى الثَّانِيْ وَ مَنْعُ صَرْفِ الْمُضَافِ اِلَيْهِ وَ اُخْرٰهُمَا

اعراب د دواړو جزئينو يوځاى او اضافت د اول دوهم ته او مضاف اليه غير منصرف شي او بل دا چې

اِعْرَابُ الْجُزْأَيْنِ مَعًا وَ اِضَافَةُ الْاَوَّلِ اِلَى الثَّانِيْ وَ صَرْفُ الثَّانِيْ.

اعراب وركړل شي دواړو ته يوځاى او اضافت د اول وشي دوهم ته او دوهم منصرف وگرځي.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره د مركباتو حكم بيانوي حكم يې داده چې كه چيرته متضمن وو جزء ثاني حرف عطف لره نو دا به مبني وي.

اغراض دجامي : **فان تضمن الخ**: غرض د ماتن اقسام سره د حکم نه ذکر کول دي، نو ماتن وايي که متضمن شي دوهم جزء د مرکب حرف عطف ته يا غير د حرف عطف ته، نو دغه وخت به دا دواړه جزء وي دا اول قسم شو.

الجزء : غرض د شارح بيان د ترکيب کول دي، چې الثاني صفت د موصوف محدود دی، چې الجزء دی.

الجُزآن: چونکه دا بنيا صيغه د تثنيه وه، نو شارح د الف ضمير تعيين وکړو.

لوقوع البنآء الخ: چې جزء اول ځکه مبني دی، چې په وسط د کلمة کې واقع دی او وسط د کلمه صالح دپاره د اعراب نه وي او جزء ثاني ځکه مبني دی، چې دا حرف لره متضمن دی او حرف مبني الاصل وو، نو دی هم مبني شو.

کخمسة عشر : شارح ددې تطبيق کوي، چې اصل خمسةٌ وعشرٌ وو، واو حذف شو او عشرٌ د خمسة سره مرکب شو، نو دواړه جزء مبني شو.

سوال : د شارح د کلام نه معلومېږي، چې عشرٌ د خمسة سره مرکب شوی دی، حالانکه د ترتيب نه دا معلومېږي، چې خمسةٌ د عشرٌ سره مرکب دی، ځکه خمسة عشر به هله جوړېږي چې عشرٌ موجود وي او پنځه ورسره نور زيات شي؟

جواب: شارح نظر کړی دی وجود ته او په وجود کې خمسةٌ په عشرٌ مقدم دی اګر چې په ترتيب کې عشرٌ مخکې دی.

سوال: ماتن مثال د ابتداء يا انتهآء نه ولې نه پيش کوي، چې د مينځ نه پيش کوي؟

جواب: خيرالامور اوساطها اشاره دې ته کوي، چې مثال څنګه د ابتداء او انتها نه راتلی شي، نو د وسط نه هم راتلی شي.

سوال: تخصيص د خمسة عشر دې ولې وکړو؟

جواب: دوجې د خيرالامور اوساطها نه.

وحادي عشر : غرض د ماتن دوهم مثال ذکر کول دي، شارح مثل راويستو اشاره دې ته چې دا عطف دی په خمسة عشر او هلته کاف په معنی د مثل وو، نو دلته يې هم معاد کړو، ځکه ما

قبل د معطوف عليه نه معاد وي، په ما قبل د معطوف کې بيا شارح په اى اخوات سره بيان د اخواتو کوي.

واخوات كل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: اخواتهما په کار دى، ځکه مخکې دوه ځيزونه ذکر دي، چې حادي عشر خمسة عشر دي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې ها ضمير په اعتبار د کل واحد سره راجع دى، نو سوال نه راځي.

وانما اورد الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: د يو قسم دپاره دوه مثاله ولې پيش کوې، حالانکه مثال دپاره د وضاحت د ممثل وي او دهغې دپاره يو مثال کافي وو؟

جواب: دوه مثالونو راوړو کې اشاره دې ته، چې دې مرکب کې بنآء ثابت ده. عام ددې نه چې که ددې په دوه جزؤنو کې يو جزء زائد على العشر حقيقةً وي يا مشتق وي، ددغه عدد نه، خمسةُ عشر د حقيقةً مثال دى او حادي عشر د مشتق مثال دى.

قيل وفيه نظر الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: حاصل د سوال دادى، چې تا وويل چې دې قسم کې به جزء ثاني متضمن وي حرف لره، حالانکه حادي عشر، خو متضمن حرف لره نه دى؟

وجوابه: سره جواب کوي، حاصل د جواب دادى، چې د جزء ثاني متضمن کيدل حرف لره عام دي که په اعتبار د نفس سره وي او که په اعتبار د اصل يعنې، ماخوذ د منه سره وي. او دلته حادي عشر، اگر چې په اعتبار د نفس سره متضمن حرف لره نه دى، ليکن په اعتبار د اصل سره جزء ثاني دده متضمن حرف لره دى، ځکه چې حادي د احد نه مشتق دى، او په احد عشر کې جزء ثاني حرف لره متضمن دى، داسې ويلى کېږي احدٌ وّ عشر .

فان الثالث الخ: دې سره ورلره شارح مثال ذکر کوي او اشاره دې ته کوي، چې صيغه د فاعل کومه مشتق ده، نو دا به مطلقاً په عدد دلالت نه کوي، بلکې په دې شرط به دلالت کوي، چې ددغه عدد نه مخکې کوم اعداد وي، هغه دده په مشتق منه مخکې شوې وه.

فلما اخذوا الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال: تا چې کوم تانید د مشتق او مشتق منه پیش کړو، نو دا خو مفرداتو کې ده او بحث خو زمونږ مرکباتو کې دی؟

جواب: شارح جواب کوي، چې کله دغه دلالت مفرداتو کې کیده، نو دوی اراده وکړه، چې دغسې حکم په مرکباتو کې هم جاري کړي.

ولا یتیسر الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي.

سوال: په کار ده، چې ته کوم اشتقاق کوې، نو د مجموعه د جزئینو نه به دې کړی وی، مثلاً ثالث نه ثا او عشر نه به دې عر راخیستی وی، نو ثاعر به جوړ شوی وو؟

جواب: داسې نه شي کېدای، ځکه صیغه د فاعل گنجائش د جمع د دغه حروفو نه لري. وجه داده، چې که د دواړو نه یې ځینې ځینې راخیستی وی نو التباس به را تلو.

فاخذوا الخ: غرض د شارح د ما سبق خلاصه ذکر کول دي، او تطبیق د حادي عشر کوي.

فحادي عشر الخ: غرض د شارح حاصل د جواب ذکر کول دي..

الا اثنی الخ: غرض د ماتن استثناء د ما سبق کول دي، شارح ددې دپاره وجه د اعراب ذکر کوي، هغه دا چې جزء اول ځکه منصرف دی، چې عندالاضافة دې نه سقوط د نون کېږي، والاضافة من الخواص المعظمة المکبرة للاسم والاصل فیه الاعراب.

سوال: په کار ده، چې خمسة عشر هم منصرف وي، ځکه اصل کې دا خمسةٌ و عشرٌ وو، نو اضافت سره تنوین ساقط شو؟

جواب: دغه منصرف ځکه ده، چې سقوط د تنوین اضافت سره خاص نه دی، بلکې د الف لام د دخول د وجې هم کېږي او سقوط د نون د اضافت سره خاص دی.

ولا الخ: غرض د ماتن بیان د قسم ثاني دی، سره د مثال نه. شارح اشاره کوي چې دا عطف دی په فان تضمن باندې.

اعرب الثاني: دا حکم د قسم ثاني دی.

و بنی الاول: ماتن اختلاف ته اشاره کوي بیا دې بعلبلة کې دوه لغاته نور هم دي، چې دواړه منصرف شي او جزء ثاني غیر منصرف وي.

تعريف د كناياتو :

اَلْكِنَايَاتُ جَمْعُ كِنَايَةٍ وَ هِيَ فِي اللُّغَةِ وَ الْاِصْطِلَاحِ اَنْ يُعَبِّرَ عَنْ شَيْءٍ

حروف كنايات كنايات جمع د كناية ده او دا په لغت او اصطلاح كې دې ته وايي چې تعبير وكړل شي د شئ

مُعَيَّنٍ بِلَفْظٍ غَيْرِ صَرِيْحٍ فِي الدَّلَالَةِ عَلَيْهِ لِغَرْضٍ مِنَ الْاَغْرَاضِ كَالْاِبْهَامِ عَلَى

معلوم نه په لفظ غير صريح سره په دلالت كې په دې څيز باندې دپاره د يو مقصد لكه ابهام راوستل په

السَّامِعِيْنَ كَقَوْلِكَ جَاءَنِيْ فُلَانٌ وَ اَنْتَ تُرِيْدُ زَيْدًا وَ الْمُرَادُ بِهَا هٰهُنَا مَا

اوريدونكو لكه دا قول ستا جاءني فلان او مراد ستا زيد وي او مراد د دلته ترې هغه الفاظ دي په كومو چې

يُكَنّٰى بِهٖ لَا الْمَعْنَى الْمَصْدَرِيُّ وَ لَا كُلُّ مَا يُكَنّٰى بِهٖ بَلْ بَعْضُهٗ وَلَا

كنايه كيدې شي نه معنى مصدري او نه ټول هغه په كومو كې چې كنايه كيدې شي بلكه بعضې او نه

كُلُّ بَعْضٍ بَلْ بَعْضٌ مُعَيَّنٌ فَكَاَنَّهُمْ اِصْطَلَحُوْا فِيْ بَابِ الْمَبْنِيَّاتِ اَنْ يُرِيْدُوْا

بعضې ټول بلكه بعضې معين نو ګويا كه د نحويانو اصطلاح په باب د مبنياتو كې داده چې اراده كوي د وي

بِهَا ذٰلِكَ الْبَعْضَ الْمُعَيَّنَ وَ لِذٰلِكَ لَمْ يَقُلْ بَعْضُ الْكِنَايَاتِ كَمَا قَالَ بَعْضُ الظُّرُوْفِ

په كناياتو سره بعض معين د دې وجې نه مصنف بعض الكنايات ونه ويل لكه څنګه چې ده بعض الظروف ويلي

وَ يَتَعَذَّرُ تَعْرِيْفُهٗ اِلَّا بِالتَّصْرِيْحِ بِهٖ مُفَصَّلًا فَلِذٰلِكَ اَعْرَضَ عَنْ

او متعذر دي تعريف د دې بعضې مګر په تفصيلي بيان كولو سره د دې وجې نه تعرض وكړو مصنف د

تَعْرِيْفِهَا مُطْلَقًا وَ تَعَرَّضَ لِذٰلِكَ لِبَعْضِ الْمُعَيَّنِ فَقَالَ.

تعريف د هغې نه مطلقا او تعرض يې وكړو دې بعض معلومو ته نو وي ويل.

خلاصه د متن :

اغراض د جامي : الكنايات : كله چې فارغ شو ماتن د تفصيل د شپږ اقسامو د اسم مبنى نه، نو شروع يې وكړه په تفصيل د اووم قسم د اسم مبني كې. درې سوالات رامخې ته شو دلته يو څو سوالات مخې ته راځي :

اول سوال : نفس تفصيل ولې كوي؟

جواب: نفس تفصيل څكه كوي، چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

سوال : تفصيل په دې مقام كې ولې كوي ؟

جواب: تفصيل په دې مقام کې ځکه کوي، چې اجمال په دې مقام کې ذکر وو. نو تفصيل کې هم په څلورم مقام کې يې ذکر کړو، چې تفصيل موافق شي، د اجمال سره.

وهي في اللغة والاصطلاح: د دې ځای نه لغوي او اصطلاحي معنی د کنایاتو بیانوي او اشاره کوي دې خبرې ته، چې د معنی لغوي او اصطلاحي په مینځ کې مطابقت دی.

تفصیل د مقام داسې دی، چې کله کله د معنی لغوي او اصطلاحي په مینځ کې موافقت وي، لکه قتل، چې لغوي او اصطلاحي دواړه معاني یې ازهاق الروح ده.

او کله کله د معنی لغوي او اصطلاحي په مینځ کې مناسبت د تضمن وي، لکه تیمم لغت کې قصد ته وايي. او اصطلاح کې قصد د پاکې ځمکې ته وايي نو معنی اصطلاحي معنی لغوي لره متضمن ده.

او کله کله د معنی لغوي او اصطلاحي په مینځ کې نسبت د التزام وي، لکه زکات په لغت کې نمآء ته وايي، او په اصطلاح کې (۴۰) څلويښتمه برخه ورکول دي، لیکن دې سرا دا زیاتېدل د مال په دنیا او یا آخرت کې لازم دي، دلته اول مناسبت مراد دی.

نو شارح وايي، چې کناية دې ته وايي، چې د يو معين شي نه په لفظ غير صريحي سره تعبير وکړی شي.

سوال: هلکه لفظ صريحي ولې نه راوړې؟

جواب: لغرض الخ دې کې څه غرض پروت وي، لکه مثلاً ته د مخاطب نه علاوه په نورو سامعينو خبره پټه او مبهمه ساتل غواړې، نو خپل مخاطب ته کناياتو کې خبره وکړې.

كقولك الخ: لکه ته ووايې جآءني فلانٌ او ستا اراده په فلانٌ سره زيد وي، نو ستا مخاطب به پوهه شي، او نور سامعينو باندې به خبره مبهمه پاتې شي.

والمراد: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: په ترکیب کې الكنايات مبتداء او ما بعد ورلره خبر دی او خبر حمل وي په مبتداء باندې او دلته حمل نه صحیح کېږي، ځکه کم کذا ذات دی، او الکنایات د ان يعبر الخ په تاويل د مصدر سره وضف دی دا خو حمل د ذات راځي په وصف باندې؟

جواب: وصف چې په جانب د موضوع کې [illegible]، نو حکم د ذات راځي په وصف باندې؟

بل جواب: وصف چې په جانب د موضوع کې ذکر شي، نو حکم د ذات اخلي دا قانون نحاتو وضع کړی دی، لهذا حمل د ذات په ذات راغلو

سوال: لیکن دغه جواب صحیح نه دی، ځکه دا قانون په هغه مقام کې دی، چې ذات مع الوصف دواړه وي، ذات محضه نه وي او دلته کم کذا ذات محضه دی، لهذا سوال په خپل ځای باقي دی؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې مراد په کنایات سره **مایکنی به** دی، او ما ذات دی، نو حمل د ذات په ذات راغلو.

ولا کل مایکنی: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: **مایکنی به** خو فلانٌ هم وي، نو هغه دې هم کنایه شي حالانکه هغه خو معرب دی؟

جواب: مراد زمونږ **بعض مایکنی به** دی.

ولا کل بعض الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: فلانٌ خو هم **بعض مایکنی به** دی؟

جواب: هر **بعض مایکنی به** نه دی مراد.

فکانها الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: هر کله چې ستا مراد بعضې معین کنایات دي، نو عنوان به دې **بعض الکنایات** ویلې وي په شان د **بعض الظروف**؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې د نحاتو اصطلاح داده، چې دوی د مبني په بحث کې کنایات ذکر کړي، نو بعض کنایات مراد وي او ظروف کې دا اصطلاح نه ده مقرر، د دې وجې هلته لفظ د **بعض** راوړي او دلته نه راوړي.

ولا مشاحة في الاصطلاح: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي.

سوال: په دې کې نکته څه ده؟

جواب: ظروفو کې تعیین نه راځي. او دلته تعیین راځي.

ویتعذر الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: تقسیم په یو شي کې فرع د معرفت د مقسم وي، په کار وه. چې د کنایاتو تعریف یې اول کړې وی؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې داسې تعریف دلته متعذر وو، چې صرف د مبني اقسام په کې داخل شي، او معرب ترې وځي، نو ځکه یې تعریف ونه کړو. او هر چې دا خبره چې تقسیم فرع د معرفت د مقسم وي؟ نو جواب دادی، چې معرفت د مقسم عام دی حقیقتاً وي او که حکماً دلته حکماً معرفت راغلی دی د مايطلق عليه لفظ الكناية نه

کنایات:

الْكِنَايَاتُ كَمْ وَ بِنَاؤُهَا لِكَوْنِهَا مَوْضُوعَةً وَضْعَ الْحَرْفِ أَوْ لِكَوْنِ الْاِسْتِفْهَامِيَّةِ مُتَضَمِّنَةً
چې الکنایات کم دي او کم ځکه مبني دي چې وضع شوې په وضع د حرف سره یا دا چې استفهامیت متضمن
لِمَعْنَى الْحَرْفِ وَ حُمِلَ الْخَبَرِيَّةُ عَلَيْهَا وَ كَذَا وَ بِنَاؤُهَا لِأَنَّهَا فِي الْأَصْلِ ذَا مِنْ
دي معنی د حرف لره او کم خبري په دې باندې محمول شول وکذا ځکه مبني دي چې دا په اصل کې ذا وو د
أَسْمَاءِ الْإِشَارَةِ دَخَلَ عَلَيْهَا كَافُ التَّشْبِيهِ وَ صَارَ الْمَجْمُوْعُ بِمَنْزِلَةِ كَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ بِمَعْنَى كَمْ
اسماء اشارات نه کاف د تشبیه ورباندې داخل شوا وټول په منزله دیوې کلمې شو چې په معنی د کم شو
وَ بَقِيَ ذَا عَلَى أَصْلِ بِنَائِهِ وَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا يَكُوْنُ لِلْعَدَدِ وَ الْكِنَايَةِ عَنْهُ وَ
نو ذا په اصلي حالت باندې باقي پاتې شوا وهر واحد د دې نه راځي د پاره د عدد او د پاره د کنایې د عدد نه او
جَاءَ كَذَا كِنَايَةً عَنْ غَيْرِ الْعَدَدِ أَيْضًا نَحْوُ خَرَجْتُ يَوْمَ كَذَا كِنَايَةً عَنْ يَوْمِ السَّبْتِ أَوْ غَيْرِهِ وَ لَيْتَ وَ ذَيْتَ
کذا کنایه د غیر عدد نه هم راځي لکه خرجت یوم کذا چې کنایه ده د یوم السبت نه او لیت او ذیت راځي د پاره
لِلْحَدِيْثِ أَيْ لِلْكِنَايَةِ عَنِ الْحَدِيْثِ وَ الْجُمْلَةِ وَ إِنَّمَا بَيَّنَّا لِأَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَلِمَةٌ وَاقِعَةٌ
د خبرو چې یعنې د کنایې د خبرو او د جملې نه او دا یې بیان کړل چې هر یو د دې نه جدا کلمه ده چې واقع دي
مَوْقِعَ الْجُمْلَةِ الَّتِي هِيَ مِنْ حَيْثُ هِيَ لَا تَسْتَحِقُّ إِعْرَابًا وَ لَا بِنَاءً
په ځای د جملې باندې هغه جمله چې د حیثیت د جملې نه استحقاق د اعراب نه لري او نه د مبني والي
فَلَمَّا وَقَعَ الْمُفْرَدُ مَوْقِعَهَا وَ لَمْ يَجُزْ خِلْوُهُ عَنْهُمَا رَجَحَ
نو چې کله مفرد په ځای د هغې راغلو او جائز نه وو خالي کیدل د معرب د اعراب نه نو ترجیح ورکړل شوه
الْبِنَاءُ الَّذِيْ هُوَ الْأَصْلُ فِي الْكَلِمَاتِ قَبْلَ التَّرْكِيْبِ وَ مِنَ الْكِنَايَاتِ كَائِنٍ وَ إِنَّمَا
مبني والي ته کومه چې اصل دی په کلماتو کې مخکې د ترکیب نه او بعضې د کنایاتو نه کائن دي دا ځکه

بُنِيَ لِأَنَّهُ كَافُ التَّشْبِيْهِ دَخَلَتْ عَلَى أَيٍّ وَ أَيٌّ كَانَ فِي الْأَصْلِ مُعْرَبًا لَكِنْ
مبني شوچې دلته كاف تشبيه دي چې داخل شوې په دې باندې اواي په اصل كې معرب وو لكن كلمه
اِنْمَحَى عَنِ الْجُزْأَيْنِ مَعْنَاهُمَا الْاِفْرَادِيُّ وَ صَارَ الْمَجْمُوْعُ كَاِسْمٍ مُفْرَدٍ بِمَعْنَى كَمِ الْخَبَرِيَّةِ
چې زائله شوه د دواړو اجزاونه معنى افرادي اومجموع په شان داسم مفرد وګرځيد په معنى د كم خبري سره
فَصَارَ كَأَنَّهُ اِسْمٌ مَبْنِيٌّ عَلَى السُّكُوْنِ آخِرُهُ نُوْنٌ سَاكِنَةٌ كَمَا فِي مَنْ لَا
نوګوياكه داشو په شان داسم مبني په سكون سره چې آخر يې نون ساكن دي لكه څنګه چې په من كې نه
تَنْوِيْنَ تَمَكُّنٍ وَ لِهٰذَا يُكْتَبُ بَعْدَ الْيَاءِ نُوْنٌ مَعَ أَنَّ التَّنْوِيْنَ لَا صُوْرَةَ لَهَا
په تنوين تمكن كې د دې وجې ليكل كيږي وروستو د ياءنه نون سره د دې چې تنوين نه صورت شته دې
فِي الْخَطِّ فَمَرْتَبَتُهُ فِي الْبِنَاءِ مُنْحَطَّةٌ عَنْ أَخَوَاتِهَا فَلِذٰلِكَ لَمْ يَذْكُرْهُ الْمُصَنِّفُ
په خط كې نومرتبه د دې په مبني والي كې لاندې ده د خپلو اخواتونه د دې وجې نه ذكرنه كړو مصنف
مَعَهَا.
د هغې سره.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره كنايات بيانوي.

اغراض د جامي: كم و كذا: يعني كنايات كم كذا كيت و ذيت دي.

وبناؤها الخ: د كم وجه د بنآء داده، چې د ده وضع د حرف په شان شوې ده او مشابهت دده د حرف سره په مشابهت صوري سره، يعني څنګه چې وضع د حرف د دريو حروفو نه د كم د پاره شوې. د كم وضع هم دغسې شوې ده، بيا د مشابهت صوري سره مونږ دفع د سوال وكړه.

سوال: هغه ځايونه چې كوم ځاى وضع د حرف شوې ده نو هغې كې مونږ كم نه دى ليدلى؟

جواب: مونږ وايو، چې عين د هغه ځايونو نه. نه دى بلكې مشابهت يې د هغې سره دى په شبه صوري سره.

سوال: په كار وه چې په كذا كې دې هم وجه د بنآء دغه ذكر كړې وى، ځكه چې د بعضې حروفو وضع په درې حروفو شوې وي؟

جواب: زمونږ مراد د وضع نه وضع خاص ده او دا هغه وضع ده، چې د درې حروفو نه په كم وي، ځكه بعضې اسماء هم داسې وي، چې وضع يې په درې حروفو شوې وي.

او لكون الخ: غرض د شارح دوهمه وجه د بنآء ذکر کول دي، هغه دا چې کم استفهامي متضمن دي معنی د حرف لره او هغه خو مبني الاصل دی، نو کم خبرې پرې طرداً للباب حمل شوی دی، او دریمه وجه داده، چې دا حمل دی په رب باندې، ځکه رب دپاره د تقليل راځي، او کم دپاره د تکثير راځي، او د دواړو په مینځ کې تضاد دی، دې ته حمل د احد الضدين على الاخر وايي اوس رب خو مبني وو، نو دا هم مبني شو.

و بنآؤها الخ: غرض د شارح د قسم ثاني دپاره وجه د بنآء ذکر کول دي، هغه دا چې اصل کې كذا کې ذا اسم اشاره وه. او کاف تشبيهي پرې داخل شوی دی، نو دا په منزله د کلمه واحده باندې په معنی د کم سره ګرځېدلی دی او ذا په خپل اصل بنآء باندې پاتې شو.

للعدد: غرض د ماتن خو معنی ذکر کول دي، شارح په كل واحد سره دفع د وهم کوي، وهم راتلو چې دې کې به حرف كذا د عدد دپاره وي؟ نو شارح وويل، چې هر واحد ددې نه دپاره د عدد راځي.

والكناية الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: د عدد دپاره چې کوم الفاظ وضع دي، په هغې کې خو مونږ دا نه دي لیدلي؟

جواب: دا عين عدد دپاره نه دي، بلکې کنايه دي د هغه شي نه چې د عدد دپاره راځي.

و جآء كذا الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ته وايې، چې كذا دعدد دپاره راځي او خرجت يوم كذا خو د عدد دپاره نه دی؟

جواب: مونږ وايو، چې زيات استعمال ددې دپاره د عدد دی او کله کله غير عدد ړپاره هم راځي.

او غيره: په دې باندې رفع او جرّ دواړه جائزدي، چې مجرور شي، نو عطف يې په السبت هم صحيح دی، او په يوم باندې هم صحيح دی، او چې مرفوع شي، نو دا به په نحو عطف شي.

والجملة: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: حدیث قول، فعل او تقرير د پيغمبر عليه السلام ته وايي، او دا خو هغه نه دی؟

جواب: دلته د حدیث نه مصطلح حدیث نه دی مراد، بلکې په معنی د جملې سره دی.

وانما بني الخ: غرض د شارح وجه د بنآء ذکر کول دي. هغه دا چې په ځای د هغه خبرې واقع دي، چې نه مستحق د اعراب او نه د بنآء وي او کله چې یو مفرد په داسې ځای واقع شي. نو د هغه خالي والی د دې دواړو نه جائزنه وي، نو مو بناء لره ترجیح ورکړه. ځکه چې د غه کلمات قبل الترکیب مفردات وو، او مفرداتو کې اصل بنآء ده، نو مونږ دا مبني کړو.

ومن الکنایات الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي.

سوال: حاصل د سوال دادی، چې حصر د کنایاتو دې څلورو اقسامو کې صحیح نه دی. د وجې د وجود د قسم آخر نه، چې کائن دی، ځکه دې هم د کاف تشبیهي دد خول په وجه مبني شوی دی، په داسې طریقه چې د دې دواړو جزءنو نه معنی افرادي ختمه شوه او مجموع په شان د اسم مفرد په معنی د کم خبرې وګرځېدو، نو داسې شوه چې دا هم اسم مبني علی السکون وي، چې آخر کې یې نون ساکن وي، لکه من شو چې د هغې آخر کې تنوین تمسکن نه راخي، همدارنګې کائن په آخر کې نون ساکنه لیکلی شي، سره د دې نه چې تنوین دپاره څه صورت نه وي په خط کې نو پته ولګېده، چې کائن په صورت د نون ساکنه کې لیکلی شوی دی، نو دی مبنی دی.

ومرتبته: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي حاصل د جواب دا دی چې منم چې کائن په کې داخل وو، خو چونکه دده مرتبه د دې نورو اقسامو نه کمه وه، نو ځکه یې ذکر نه کړو

فَكَمِ الْإِسْتِفْهَامِيَّةِ الْمُتَضَمِّنَةِ مَعْنَى الْإِسْتِفْهَامِ مُمَيِّزُهَا الَّذِيْ يَرْفَعُ الْإِبْهَامَ عَنْ جِنْسِ
پس کم استفهامیه متضمن دي معنی داستفهام لره تمیزدهغې کوم چې پورته کوي ابهام دجنس د
الْمَسْئُوْلِ عَنْهُ مَنْصُوْبٌ عَلَى التَّمْيِيْزِ مُفْرَدٌ لِأَنَّهَا لَمَّا كَانَتْ لِلْعَدَدِ وَ وَسْطِ
مسئول عنه نه منصوب به وي بنابرتمیزیت اومفردبه وي ځکه چې کله داراغلودپاره دعدداووسط د
الْعَدَدِ وَ هُوَ مِنْ أَحَدَ عَشَرَ إِلَى تِسْعَةٍ وَ تِسْعِيْنَ مُمَيِّزُهَا كَكَ
عدد داحدعشرنه ترتسعة وتسعین پورې وواوتمیزیې مفردمنصوب وونوممیزددې هم همدارنګې وګرځول
لِأَنَّهُ لَوْ جُعِلَ كَأَحَدِ الطَّرَفَيْنِ لَكَانَ تَحَكُّمًا وَ كَمِ الْخَبَرِيَّةُ مُمَيِّزُهَا مَجْرُوْرٌ
شوځکه که چیرته یې یودطرفینوګرځي نودابه قول بالتحکم شي اودکم خبریه ممیزبه مجروروي په

بِالْاِضَافَةِ مُفْرَدٌ تَارَةً وَ مَجْمُوْعٌ اُخْرَى تَقُوْلُ كَمْ رَجُلٍ عِنْدِىْ وَ كَمْ رِجَالٍ كَمَا تَقُوْلُ مِائَةُ ثَوْبٍ
اضافت سره کله به مفرد وي او کله به جمع لکه کم رجل عندي وکم رجال لکه څنګه ته وايي مائة ثوب
وَ ثَلٰثَةُ اَثْوَابٍ وَ اِنَّمَا جَاءَ مُفْرَدًا لِاَنَّ الْعَدَدَ الْكَثِيْرَ مُمَيِّزُهٗ كَذٰلِكَ وَ اِنَّمَا جَاءَ مَجْمُوْعًا
وثلاثة اثواب اودامفرد ځکه راغلو ځکه چې دعدد کثير مميزهم همدارنګې راځي اوجمع ځکه راغلو
لِاَنَّ الْعَدَدَ الْكَثِيْرَ فِيْهِ مَا يُنْبِئُ عَنْ كَثْرَتِهٖ صَرِيْحًا.
چې عدد کثيرپه دې کې هغه دي کوم چې مبني دي دوجې دکثرت نه صريحا.

اغراض دجامي : فكم الاستفهامية : ددې ځای نه د بعضې اقسامو تفصيل ذکر کوي دلته يو څو سوالات مخې ته راغلل :

اول سوال : نفس تفصيل ولې کوې؟

جواب : نفس تفصيل ځکه کوي، چې تفصيل بعدالاجمال اوقع في الذهن وي .

دوهم سوال : د نورو اقسامو تفصيل ولې نه کوې؟

جواب : د نورو اقسامو تفصيل ځکه نه کوي، چې هغه تفصيل ته محتاج نه دی، تفصيل داسې کوي، چې دوه قسمه د کم به ذکر کړي، د دواړو تمييز به ذکر کړي، اعراب به د دواړو ذکر کړي، صيغه د تمييز به ذکر کړي، امثله د دواړو به ذکر کړي...

نو دا کم استفهاميه مميز مفرد منصوب وي ، نو دلته يو څو سوالات واردېږي :

سوال : دې کم ته استفهامي ولې وايي؟

جواب: المتضمنة معنى الاستفهام چونکه دا معنی د استفهام لره متمضن دی، ځکه ورته کم استفهامي وايي.

سوال : دې لره نفس تمييز ولې راځي؟

جواب : **الذی يرفع الابهام** يعنې دې کې ابهام وي، او هغه تمييز دا ابهام رفع کوي، ځکه دې دپاره تمييز راځي.

سوال: دې کې ابهام په اعتبار د لفظ سره وايي او که په اعتبار د معنی سره؟ که په اعتبار د لفظ سره وايي، نو ددې لفظ کې خو ابهام نشته ؟ او که په اعتبار د معنی سره وايي نو معنی ددې هم واضح ده؟

جواب: شارح وايي عن جنس المسؤل عنه دا د جنس د مسؤل عنه نه ابهام دفع کوي. ځکه دې سره خو د هر اجناس واقع کیدې شي،

سوال: دا تمییز به منصوب ولې وي؟

جواب: على التمييز يعني دا به منصوب وي بنآء بر تمییز. ځکه تمییز د منصوباتو نه دی.

سوال: مفرد به ولې وي؟

جواب: لانها لما كانت للعدد الخ چونکه دا کم استفهامي د عدد دپاره راځي، او وسط د عدد د يولسو(۱۱) نه نهه نوي (۹۹) پورې وي او د عدد اوسط تمییز مفرد منصوب وي، نو ددې تمییز هم مفرد منصوب شو.

سوال: عدد په درې قسمه دی، عدد اقل، عدد اوسط، عدد اکثر، اوس ددې تمییز چې د عدد اوسط ګرځوې نو د عدد اقل یا اکثر په شان ولې نه ګرځوې؟

جواب: شارح وايي لانه لوجعل كاحد الخ حاصل د جواب دادی، چې بیا ترجیح بلا مرجح راځي، ځکه عدد اقل به وايي چې زه اصل یم، ځکه اصول د عدد ما کې دي او عدد اکثر به وايي چې زه اصل یم، ځکه ما کې کثرت دی. او دا قاعده ده. اذا تعارض الدليلان ولا ترجيح لاحدهما تساقطا. دوهمه وجه دا ده، چې خير الامور اوسطها او عدد اوسط په وسط کې دی، دریمه وجه داده، چې عدد اوسط په مینځ کې دی عدد اقل او اکثر دواړو سره یې واسطه ده. مثالونه یې دادي، كم رجلاً عندك، وكم درهماً عندك؟

<u>وكم الخبرية الخ</u>: کله چې فارغ شو ماتن د تفصیل د یو قسم نه، نو شروع یې وکړه په تفصیل د دوهم قسم کې، نو دی وايي چې كم خبريه دپاره تمییز مفرد مجرور یا جمع مجرور راځي ماتن والخبرية ویلي وو، شارح ورسره كم راویستو اشاره دې ته، چې دا عطف دی په الاستفهامية باندې او ما قبل د معطوف علیه نه معاد وي، په ما قبل د معطوف کې نو کم یې راویستو.

دلته هم یو څو سوالات دي

سوال: دې ته کم خبرې ولې وايي؟

جواب: دې ته کم خبرې ځکه وايي، چې ددې مقصود اخبار ورکول دي د کثرت د یو شي نه،

فرق په دواړو کې دادی. چې په کم استفهامي کې کنایه د عدد نه وي، خو هغه متکلم ته معلوم نه وي. خو د مخاطب په ذهن کې وي او کم خبري د دې په عکس دی، دې کې هغه عدد متکلم ته معلوم وي او مخاطب ته معلوم نه وي.

سوال: دې دپاره نفس تمییز ولې راځي؟

جواب: نفس تمییز ورلره ځکه راځي، چې د جنس د مسئول عنه نه ابهام رفع کړي.

سوال: دا تمییز به مجرور ولې وي؟

جواب: ددې تمییز به مجرور وي په اضافت سره، ځکه دا کم به مضاف وي او ما بعد به مضاف الیه وي. او مضاف الیه مجرور وي.

تارةً: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ته وایې ددې تمییز به مفرد جمع راځي، او ددې دواړو په مینځ کې تضاد دی؟

جواب: دا زه په یو وخت کې نه وایم. بلکې په جدا جدا وخت کې وایم.

تقول کم رجلٍ عندی: دا مثال د عدد مفرد دی.

وکم رجالٍ عندی: مثال د عدد جمع دی.

کما تقول مائة ثواب الخ: غرض د شارح مثال پیش کول دي.

و انما جآه الخ: ددې تمییز مفرد ځکه راځي، چې دی د عدد کثیر سره په کثرت کې مشابهت ساتي او د هغې تمییز مفرد راځي، نو ددې تمییز به هم مفرد راځي.

و انما جآه مجموعاً الخ: ددې تمییز جمع هم راتلې شي، ځکه عدد کثیر دپاره تمییز جمع راتلو، ځکه هغه په معنی د جمعیت کې صریح وو او کم خبري اګر چې په معنی د جمعیت کې صریح نه دی. لیکن په کثرت کې د عدد کثیر نه نائب دی. نو ددې تمییز هم مونږ جمع راتلل جائز کړو.

سوال: د شارح دا عبارت لان العدد الکثیر فیه ما یبني الخ صحیح نه دی، ځکه ددې نه دا مطلب راوځي، چې دې عدد کثیر کې دننه یو بل شی په کثرت خبرداری ورکوي، حالانکه دا عدد کثیر خپله په کثرت دلالت کوي؟

جواب: فیه دپاره د ظرفیت دی او ددې نه مراد معنی ده. او ما یبني عبارت دی د لفظ نه.

اوس معنی داسې شوه. شته دی معنی کې هغه لفظ چې فائده ورکوي د کثرت نه یا شته دی لفظ کې هغه معنی، چې فائده ورکوي د کثرت

سوال: ته وایې چې عدد کثیر د کثرت نه خبرداری ورکوي، نو څنګه چې عدد کثیر د کثرت نه خبرداری ورکوي، نو کم خبري خو هم د کثرت دپاره راځي اوس فرق څه دی؟

جواب: هغه عدد معین دي او ددې دا غیر معین دي.

وَ لَمَّا كَانَ هٰذَا لَيْسَ مِثْلَهٗ فِي التَّصْرِيْحِ بِالْكَثْرَةِ جُعِلَ جَمْعِيَّةُ مُمَيِّزِهَا كَاَنَّهَا نَائِبَةٌ عَنْ مَعْنَى
کله چې یې دا مثال صریح په کثرت کې نه وو نو ګرځیدو جمعیت د ممیز د هغې ګویا که نائب وي د معنی
التَّصْرِيْحِ بِهَا وَ تَدْخُلُ مِنْ فِيْهِمَا اَيْ فِيْ مُمَيِّزِيْ كَمِ الْاِسْتِفْهَامِيَّةِ وَ الْخَبَرِيَّةِ تَقُوْلُ كَمْ مِنْ رَجُلٍ ضَرَبْتَ
د تصریح نه په جمعیت کې او داخلیږي من په ممیز د کم خبریه او استفهامیه کې لکه کم من رجل ضربت
وَ كَمْ مِنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنَاهَا قَالَ الشَّارِحُ الرَّضِيُّ هٰذَا فِي الْخَبَرِيَّةِ كَثِيْرٌ نَحْوُ كَمْ مِنْ مَلَكٍ وَ كَمْ مِنْ قَرْيَةٍ
او کم من قریة اهلکناها شارح رضي وایي چې دا په کم خبریه کې ډیر راځي لکه کم من ملك او کم من قریة
وَ ذٰلِكَ لِمُوَافَقَتِهٖ جَرًّا لِلْمُمَيِّزِ الْمُضَافِ اِلَيْهِ كَمْ وَ اَمَّا مُمَيِّزُ كَمِ الْاِسْتِفْهَامِيَّةِ
او دا څکه چې د اموافقت لري د جر د ممیز علیه سره کومه چې مضاف الیه ده او هرچې ممیز د کم استفهامیه
فَلَمْ اَعْثُرْ عَلَيْهِ مَجْرُوْرًا بِمَنْ فِيْ نَظْمٍ وَ لَا نَثْرٍ وَ لِاَوَّلٍ عَلٰى جَوَازِهٖ
دي نو خبر نه لرم په هغې باندې د مجرور په من سره نه په نظم او نه په نثر کې او نه تاویل کړي په جواز د دې
كِتَابُ مَنْ كَتَبَ هٰذَا الْفَنِّ لٰكِنْ جَوَّزَ الزَّمَخْشَرِيُّ اَنْ يَكُوْنَ كَمْ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى
کتاب د هغه چا چې لیکلې دا فن د دې علم لکن جواز ورکړي امام زمخشري چې کم په دې قول د الله تعالی
سَلْ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ كَمْ اٰتَيْنَاهُمْ مِنْ اٰيَةٍ بَيِّنَةٍ اِسْتِفْهَامِيَّةً وَ خَبَرِيَّةً وَ لَهَا اَيْ لِكَمْ اِسْتِفْهَامِيَّةً كَانَ اَوْ
کې سل بني اسرائیل کم اتیناهم من آیة بینة استفهامیه او خبریه کیدې شي کم که استفهامي وي او که
خَبَرِيَّةً صَدْرُ الْكَلَامِ لِاَنَّ الْاِسْتِفْهَامِيَّةَ يَتَضَمَّنُ الْاِسْتِفْهَامَ وَ
خبري وي لازم دي دې دپاره صدارت د کلام څکه چې کم استفهامي متضمن دي استفهام لره او
هُوَ يَقْتَضِيْ صَدْرَ الْكَلَامِ لِيَعْلَمَ مِنْ اَوَّلِ الْاَمْرِ اَنَّهٗ مِنْ اَيِّ نَوْعٍ مِنْ اَنْوَاعِ الْكَلَامِ
استفهام تقاضا د صدارت د کلام کوي دې دپاره چې پته ولږي د اول نه چې دا د کومې نوعې د انواعو د کلام
وَ الْخَبَرِيَّةُ اَيْضًا تَدُلُّ عَلٰى اِنْشَاءِ التَّكْثِيْرِ وَ هُوَ اَيْضًا نَوْعٌ مِنْ اَنْوَاعِ الْكَلَامِ فَيَجِبُ التَّنْبِيْهُ
نه دي او کم خبریه هم دلالت کوي په تکثیر باندې او دا هم د انواعو د کلام نه یوه نوعه ده نو واجب ده تنبیه

عَلَيْهِ مِنْ اَوَّلِ الْاَمْرِ وَ كِلَاهُمَا لَوْ قَالَ كِلْتَاهُمَا لَكَانَ اَوْفَقَ لِتَانِيْثِ
په دې باندې داول الامرنه اودواړه که مصنف دكلاهما په ځای كلتاهما ويلې وي نوموافق به وود تانيث
الْاِسْتِفْهَامِيَةِ وَ الْخَبَرِيَّةِ فَهُوَ عَلٰى تَاْوِيْلِ كُلًّا هٰذَيْنِ النَّوْعَيْنِ وَ هُمَا كَمْ اَلْاِسْتِفْهَامِيَةُ وَ الْخَبَرِيَّةُ اَیْ كُلُّ وَاحِدٍ
داستفهام اوخبرسره نوداپه تاويل ددغه دواړو انواعو چې كم استفهامي دي اوخبري دي يعنې هر يو
مِنْهُمَا يَقَعُ مَرْفُوْعًا وَ مَنْصُوْبًا وَ مَجْرُوْرًا.
ددې دواړو نه واقع کیږي مرفوع اومنصوب اومجرور.

اغراض دجامي : وتدخل فيهما: دی وايي چې په دې دواړو کې من داخلیږي

ای في مميزی الخ: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي.

تقول: غرض د شارح د دواړو دپاره مثالونه پيش کول دي.

قال الشارح: غرض د شارح رضي د عبارت په نقل کولو سره سوال ته تمهيد ايخودل دي.

فلم اعثر: په دې عبارت سره اشاره ده سوال ته.

ولكن جوز الخ: په دې عبارت سره اشاره ده جواب ته ، حاصل د خبرې دا دی، چې رضي وايي چې په كم خبري کې د من دخول کثير دی، لكه كم من ملكٍ كم من قريةٍ.

وذلك: معنی يادوي. دخول د کلمه د من په دې باندې د وجې د موافقت ددې كم خبري نه د من سره په جر کې دپاره دتمييز داسې تميز. چې نسبت کړی شوی وي دې تمييز ته د كم (يعنې څنګه چې كم خبرې خپل مدخول لره جر ورکوي، نو دا من هم جر ورکوي ، ددې موافقت د وجې دا من هم په دې داخليږي، البته تمييز د كم استفهامي باندې زه نه يم خبر چې ددې تمييز په من سره مجرور شوی وي، نه په نظم کې او نه په نثر كلام کې ، دا هغه سوال طرف ته اشاره شوه؟

جواب: حاصل د جواب دا دی، چې عمده په دې فن کې صاحب مفصل دی او هغه وايي چې دا من په تمييز د كم استفهامي هم راتلی شي، او ددې دپاره په قرآن كريم کې هم مثال شته، سل بني اسرائيل كم اتيناهم من آيةٍ بينةٍ دلته كم استفهامي او خبري دواړه صحيح کیږي.

ولهٗ صدر الكلام : كائن دي دپاره ددې كم صدر د كلام مطلب دادى، چې دې لره صدر د كلام واجب دى.

اى لكم استفهامية الخ : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال : په كار وه، چې ماتن لها ويلې وى. ځكه دا كم استفهامي او خبري دواړه راځي او ده خو لها ويلى دى ؟

جواب : شارح جواب وكړو، چې دا ضمير كم ته راجع دى. بيا هغه كه استفهامي وي او كه خبري بيا دې كم ته يې ضمير د مؤنث راجع كړو، ځكه ددې صفت مؤنث راځي، نو دا كم په تاويل د كلمة سره مؤنث دى.

لانها الخ : غرض د شارح ددې صدارت دپاره وجه ذكر كول دي، حاصل د هغې دادى، چې كم استفهامي متضمن دى استفهام لره او كم خبري دلالت كوي په انشاء التكثير باندې. او دا دواړه تقاضا كوي د صدارت د كلام. وجه داده، چې د اول وهلت نه پته ولګېږي، چې دا كوم قسم كلام دى.

سوال : ددې استفهام او انشآء تكثير دپاره اول وهلت نه تنبيه وركول ولې واجب دي؟

جواب : كه د اول وهلت نه تنبيه واجب نه كړو، نو كله كله يو سړى د كلام تام كېدو نه مخكې په جواب شروع وكړي، اوس دى به د اول كلام نه جواب وركوي او د متكلم مقصد به جدا وي اوس دده جواب به هم غلط شي، او دى به بل جواب شروع كوي، نو تكليف كې به واقع شي

والخبرية ايضاً تدل على انشآء التكثير الخ : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي

سوال : سوال دادى، چې كم كله تا خبري كړو، نو بيا وروستو انشآء التكثير څنګه وايې؟ د انشآء او خبر منځ كې خو منافات دي ؟

جواب : ددې دواړو جدا جدا اعتبارات دى، لكه كم رجالٍ عندي في نفسه كلام خبري دى، خو په انشآء التكثير دلالت هم كوي، دغه وجه ده چې ددې جواب خلک داسې نه كوي، چې ما انشأت التكثير. بلكې ما عندك رجالاً وايي. (دا چې كله دغه سړي ته نسبت د دروغو كوي، نو وايي كذبت ما عندك رجالاً).

وكلاهما يقع مرفوعاً و منصوباً و مجروراً : غرض د ماتن ددې اعراب ذكر كول دي. نو دى وايي چې

دا دواړه واقع کېږي ، په محل د رفع، نصب او جر کې ، دې معنی سره مونږ يو سوال دفع وکړو :

سوال : رفع نصب او جر خو په معرب کې راځي او دا خو مبنيات دي؟

جواب: مونږ وايو چې په محل د رفع نصب او جر کې وي او په مبنياتو کې محلي اعراب راځي.

ولو قال کلتهما الخ: غرض د شارح په ماتن سوال کول دي :

سوال: په کار دا وه، چې ماتن **کلتاهما** ويلې وي، ځکه د کم صفت مؤنث راځي، نو دا په تاويل د **کلمةٌ** سره مؤنث دی، نو ضمير د مؤنث راجع کول اوفق دي؟ بيا دې **اوفق** اسم تفضيل کې اشاره دې ته، چې ضمير د مذکر راجع کول هم صحيح دي، ځکه ددې تاويل کول څه لازم نه دي، البته مؤنث راوړل **اوفق** دي.

لتانيث الخ: دا هغه سند د تانيث ذکر کوي .

فهو على الخ: غرض د شارح جواب طرف ته اشاره کول دي، چې هغه دا چې ضمير نوع ته راجع دی او نوع مذکر دی نو ضمير د مذکر ورته راجع کول صحيح دي.

وهما کم الخ: غرض د شارح په **کلاهما** کې د **هما** ضمير مرجع متعيين کول دي.

اى کل واحد : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : **کلاهما يقع** مبتداء خبر دی او دې دواړو کې مطابقت په افراد تثنيه کې نشته ؟

جواب: دا ضمير په اعتبار د **کلّ واحدٍ** سره راجع دی، لهذا **يقع** ويل صحيح دي.

سوال : دا سوال د شارح په کلام دماتن صحيح نه دی، ځکه لفظ د **کلا** مفرد د مذکر دی، نو **يقع** خبر ترې صحيح کېږي؟

جواب: دا خبره صحيح ده، چې لفظ د **کلا** مفر مذکر دی، ليکن ددې اضافت چې کله **هُمَا** ته وشي، نو معنی يې مراد وي، او معنی ددې خو تثنيه ده، نو **يقع** خبرې ترې نه صحيح کېږي، لهذا سوال په خپل ځای صحيح دی.

چونکه په دې ما قبل غرض د شارح سوال راتلو، نو خينې نوور شارحينو د دې غرض دا بيان کړی دی. چې غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د وهم ده :

وهم: ماتن ويلي وو كلاهما يقع مرفوعاً الخ اوس چا به وهم كوو، چې كه دا دو ه يو ځاى نه وي، بلكې يواځې راشي. نو ګني دا به بيا مرفوع منصوب مجرور نه راځي؟

جواب: شارح دا وهم دفع وكړو. چې هر واحد ددې ځان ځان لره هم مرفوع منصوب واقع كېږي.

فكل ما الخ: غرض د ماتن قاعده كليه ذكر كول دي، حاصل د هغې دادى، چې هر هغه مقام چې پس د كم خبري يا استفهامي نه فعل يا شبه فعل وي او دغه فعل يا شبه فعل د دغه كم نه په ضمير كې مشغول نه وي، نو دې مقام كې به دا كم په محل د نصب كې وي، بيا وجه د نصب به د خپل شان مناسب وي، لكه رجلا ضربت دلته پس د كم نه فعل واقع دى، او په ضمير كې مشغول نه دى اوس دا كم به په محل د نصب كې وي، ځكه دا مفعول به د فعل دى.

ثُمَّ بَيَّنَ مَوْقِعَ كُلٍّ مِنْهُمَا بِقَوْلِهِ فَكُلُّ مَا اَىْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْ كَمْ اَلْاِسْتِفْهَامِيَّةِ وَ الْخَبَرِيَّةِ يَكُوْنُ
بيايې بيان دهرواحد وكړو په دې قول خپل سره فكل مايعني هرواحد دكم خبريه اواستفهاميه نه چې وي
بَعْدَهُ فِعْلٌ اَوْ شِبْهُهُ لَفْظًا اَوْ تَقْدِيْرًا غَيْرُ مُشْتَغِلٍ عَنْهُ بِضَمِيْرِهِ
وروستو دهغې نه فعل اوياشبه فعل لفظاًوي اوكه تقديراًوي چې مشغول به نه وي دهغه نه په ضمير
اَوْ مُتَعَلِّقِ ضَمِيْرِهِ فَهُوَ مِنْ حَيْثُ هُوَ كَكَ كَانَ مَنْصُوْبًا مَعْمُوْلًا عَلٰى حَسْبِهِ
خپل سره اويا په متعلق دضميرسره نودابه په دغه وخت كې منصوب وي اومعمول به وي په اعتباردې
اَىْ عَلٰى حَسْبِ عَمَلِ هٰذَا الْفِعْلِ وَ عَمَلِهِ لَا يَكُوْنُ اِلَّا بِحَسْبِ الْمُمَيِّزِ وَ ذٰلِكَ اَنَّكَ تَقُوْلُ كَمْ يَوْمًا ضَرَبْتَ
يعني په اعتبار دعمل دغه فعل سره او عمل دفعل نه وي مګرموافق د مميز سره لكه كم يوماًضربت نو
فَكَمْ مَنْصُوْبٌ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ مَعَ اِقْتِضَاءِ الْفِعْلِ لِلْمَفْعُوْلِ بِهٖ وَالْمَصْدَرِ وَالْمَفْعُوْلِ فِيْهِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ مِنَ الْمَنْصُوْبَاتِ فَتَعَيُّنُهُ
كم منصوب بنابر ظرفيت دې سره دتقاضادمفعول به اومصدر اومفعول فيه وغيره د منصوباتو نه نوتعين
لِاَحَدِ الْمَنْصُوْبَاتِ اِنَّمَا هُوَ بِحَسْبِ الْمُمَيِّزِ فَالْاِسْتِفْهَامِيَّةُ نَحْوُ كَمْ رَجُلًا ضَرَبْتَ فِي الْمَفْعُوْلِ بِهٖ وَ كَمْ ضَرْبَةً ضَرَبْتَ
يې يو دمنصوباتو بنادې په اعتبار دمميز سره اواستفهاميه لكه كم رجلاًضربت په مفعول كې وكم ضربة ضربت
فِي الْمَفْعُوْلِ الْمُطْلَقِ وَ كَمْ يَوْمًا سِرْتَ فِي الْمَفْعُوْلِ فِيْهِ وَ الْخَبَرِيَّةُ مِثْلُ كَمْ غُلَامٍ مَلَكْتُ وَ كَمْ ضَرْبَةٍ ضَرَبْتُ وَ كَمْ
په مفعول مطلق كې وكم يوماًسرت په مفعول فيه كې اوخبريه لكه كم غلام ملكت وكم ضربة ضربت وكم
يَوْمٍ سِرْتُ وَ اِنَّمَا جَعَلْنَا الْفِعْلَ وَ شِبْهَهٗ اَعَمَّ مِنْ اَنْ يَكُوْنَ مَلْفُوْظًا اَوْ مُقَدَّرًا لِيَدْخُلَ
يوم سرت اوموږ وګرځوفعل اوشبه فعل عام ددې چې ملفوظ وي اوكه مقدر وى دى د پاره چې داخل

فِيْ قَاعِدَةِ النَّصْبِ مِثْلُ قَوْلِكَ كَمْ رَجُلاً ضَرَبْتَهُ اِذَا جَعَلْتَهُ مِنْ قَبِيْلِ الْاِضْمَارِ عَلٰى شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ
شي په قاعده د نصب کې دا قول کم رجلاً ضربته کله يې چې ته د قبيلې د اضمار على شريطة التفسير نه
وَ قَدَّرْتَ بَعْدَهُ فِعْلاً غَيْرَ مُشْتَغِلٍ عَنْهُ اَیْ كَمْ رَجُلاً ضَرَبْتَ ضَرَبْتَهُ
وګرځوي اوورستوترې داسې فعل مقدر کړې چې غير مشغول وي ددې نه يعنې کم رجلاً ضربت ضربته
فَهُوَ مِنْ حَيْثُ اَنَّ بَعْدَهُ فِعْلاً مُقَدَّرًا غَيْرَ مُشْتَغِلٍ عَنْهُ دَاخِلٌ فِيْ قَاعِدَةِ النَّصْبِ
نودا ددې حيثيت نه چې وروستو ترې فعل مقدر غير مشغول عنه دې داخل دې په قاعده د نصب کې
وَ اِنْ لَمْ تَجْعَلْهُ مِنْ قَبِيْلِهٖ وَ لَمْ تُقَدِّرْ بَعْدَهُ فِعْلاً غَيْرَ مُشْتَغِلٍ عَنْهُ فَهُوَ مِنْ هٰذِهِ الْحَيْثِيَّةِ مَرْفُوْعٌ
او ددې حيثيت نه چې ته يې د قبيلې د فعل مقدر غير مشغل عنه ونه ګرځوي نوبيا ددې حيثيت نه مرفوع دې
دَاخِلٌ فِيْ قَاعِدَةِ الرَّفْعِ وَ كُلُّ مَا قَبْلَهُ اَیْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْ كَمِ الْاِسْتِفْهَامِيَّةِ وَ الْخَبَرِيَّةِ وَقَعَ قَبْلَهُ
او داخل دې په قاعده د رفع کې او هر واحد د کم خبريه او استفهاميه نه که چيرته واقع شي مخکې د هغې نه
حَرْفُ جَرٍّ نَحْوُ بِكَمْ دِرْهَمًا اِشْتَرَيْتَ اَوْ بِكَمْ رَجُلٍ مَرَرْتَ اَوْ مُضَافٌ نَحْوُ غُلَامَ كَمْ رَجُلاً ضَرَبْتَ وَعَبْدَ كَمْ رَجُلٍ اِشْتَرَيْتَ
حرف جر لکه بکم درهما اشتريت و بکم رجلٍ مررت او يا مضاف لکه غلام کم رجلاً ضربت وعبد کم رجل اشتريت
فَمَجْرُوْرٌ بِحَرْفِ الْجَرِّ اَوِ الْاِضَافَةِ وَ اِنَّمَا جَازَ تَقْدِيْمُ حَرْفِ الْجَرِّ اَوِ الْمُضَافِ عَلَيْهِمَا
نوبيا به مجرور وي په حرف جر او يا اضافت سره او تقديم د حرف جر او د مضاف په کم خبري او استفهامي
مَعَ اَنَّ لَهُمَا صَدْرَ الْكَلَامِ لِاَنَّ تَاْخِيْرَ الْجَارِّ عَنِ الْمَجْرُوْرِ مُمْتَنِعٌ لِضُعْفِ
سره ددې چې دواړو دپاره صدارت د کلام دې ځکه تاخير د جار د مجرور نه ممتنع دې دوجې د ضعف
عَمَلِهٖ فَيَجُوْزُ تَقْدِيْمُ الْجَارِّ عَلَيْهِمَا عَلٰى اَنْ - يَجْعَلَ - الْجَارَّ اِسْمًا - كَانَ اَوْ
د عمل ددې نه نو جائز دې تقديم د جار په دې باندې په داسې شان چې وګرځول شي جار که اسم وي او که
حَرْفًا مَعَ الْمَجْرُوْرِ كَكَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ مُسْتَحِقَّةٍ لِلصَّدْرِ
حرف سره د مجرور نه په منزله د يوې کلمې چې مستحقه وي د صدارت د کلام

اغراض دجامي : ثم بين الخ: غرض د شارح اشاره کول دي، چې دا فاء په کلام د ماتن کې تفصيليه ده.

اى كل واحد الخ: غرض د شارح تعيين د ما کول دي، چې دا موصوفه ده، ځکه قانون دا دى، چې د کل اضافت معرفې ته وشي، نو د هغې نه په اجزاء سره تعبير کولې شي او کله چې نکرې ته اضافت وشي. نو افرادو سره تعبير کيدې شي، او دلته افرادو سره تعبير شوې دى، نو نکره

مراد ده، او نکره ما موصوفه وي

لفظاً او تقديراً: ددې قيد فائده وروستو را روانه ده.

او متعلق ضميره: ماتن دا قيد نه دی ذکر کړی په ما اضمر باندې يې اکتفاء کړې ده.

فهو من حيث: چونکه د مبتداء او خبر په مينځ کې بعد راغلو. نو اعاده د ضمير يې وکړه.

معمولاً علی حسبه: يعنې دلته به دا منصوب وي په اعتبار د عمل د فعل سره.

معمولاً: غرض د شارح د جار مجرور دپاره متعلق راويستل دي.

ای علی حسب عمل الخ: غرض د شارح د ضمير مرجع متعين کول دي. او بل غرض د شارح رد دی په بعض شارحينو، چې هغه ضمير اقتضاء د فعل يا شبه فعل ته ضمير راجع کړی دی.

دې پرې رد کوي سبب د رد هم دادی. چې مثلاً که يوماً سرت ته ووايي نو دلته مونږ کم منصوب وايو بنا بر ظرفيت اوس فعل خو اقتضآء مفعول به مفعول مطلق وغيره ټولو کوي، ليکن دلته مونږ دې ته صرف منصوب بنا بر ظرفيت وايو. نو د فعل د عمل د وجې وايو. ددې وجې نه شارح ضمير فعل ته راجع کړو. که ته وايې دا چېرته نه معلومېږي؟ نو مونږ وايو چې معمولاً نه معلومېږي، چې ضمير عمل ته راجع دی، اوس سوال نشته، چې تاسو دې ته منصوب په بله وجه ولې نه وايي؟ نو مونږ وايو چې دلته بل څه وجه نه شي کېدای، ځکه عمل د فعل دغه دی. چې دا منصوب بنا برظرفيت شي

وعمله لا يکون الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: څنګه چې دا منصوب وي د فعل د وجې نو دامعموليت يې د تمييز د وجې نه هم راځي اوس هغه دې ولې ذکر نه کړو؟

جواب: چونکه دا عمل ددې په غير د تمييز نه، نه وي، نو د هغې ذکر ته ضرورت رانغلو.

فتعينه الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: څنګه چې په اقتضاء کې عموم راځي. نو په عمل کې خو هم عموم دي نو هغه سوال خو دلته هم دی؟

جواب: د عمل تعيين ممکن دی، او د اقتضاء د هغ تعيين ممکن نه دی. لهذا دل دغه سوال نشته

سوال: شارح دې مثالونه ذکر کړل. نو د مفعول له او باقي منصوباتو لره يې امثله ولې پيش نه کړه؟

جواب: په معفول له کې اختلاف دی. ځينې وايي ددې تمييز راځي، او ځينې وايي نه راځي. او د باقي منصوباتو د تمييز سمع د عربو نه. نه ده شوې.

وانما جعلنا الخ: غرض د شارح د ما قبل **لفظاً او تقديراً** قيد فائده ذکر کول دي. او دفع د يو سوال هم کوي

سوال: ستا د کلام نه معلومه شوه، چې که د کم نه وروستو فعل يا شبه فعل مشتغل بالضمير وي، نو دا قاعده د نصب کې نه داخليږي. حالانکه دې لره که مقدر فعل راوباسي، نو په قاعده د نصب کې داخليږي او ستا کلام خو ددې نفي کوي؟

جواب: مونږ وايو دا فعل عام دی، لفظاً وي او که تقديراً لهذا دغه صورت هم په قاعده د نصب کې په تقدير د فعل سره داخليږي.

کم رجلاً ضربته: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا دی. چې مقدر فعل خو مخکې د کم نه راويستی شي او وروستو فعل يې تفسير دوي او دلته خو وروستو واقع دی؟

جواب: دلته کم تقاضا د صدارت کوي، ددې وجې نه دا فعل به وروستو راوباسو.

وکل ما قبله الخ: کله چې فارغ شو ماتن د قاعدې د نصب نه، نو اوس قاعده د جَر ذکر کوي حاصل د هغې دادی، چې که په کم حرف جَر يا مضاف داخل وو، نو دا به مجرور وي.

ای کل واحدٍ الخ: غرض د شارح اشاره کول دي، چې دا ما موصوفه ده، ځکه تعبير يې افرادو سره کړی دی او مخکې قاعده ذکر شوې ده، چې د **کل** اضافت نکرې ته وشي، نو د هغې نه تعبير په افرادو سره کيدې شي.

وقع قبله: ماتن قبله ويلي وو، او دا خو ظرف دی، متعلق غواړي، شارح ورلره متعلق راويستو.

نحو بکم الخ: دوه مثالونه يې ذکر کړي دي اول مثال د کم استفهامي دی او دوهم مثال د کم خبري دی.

نحو غلام کم الخ: دلته هم دوه مثالونه ذکر دي اول د کم استفهامي دي او دوهم مثال د کم خبري دی.

وانما جاز الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: مخکې تا ويل چې کم تقاضا د صدارت کوي، او دلته خو په مينځ کې واقع دی؟

جواب: صحيح ده چې کم تقاضا د صدارت کوي، ليکن جار هم تقاضا د صدارت کوي، اوس چې مونږ سوچ وکړو، نو دا جار خو ددې کم سره متصل وي او دی په عمل کې ضعيف دی، نو ددې ضعيف د وجې مونږ دې مقدم کړو او دا اتصال په وجه دا جار مجرور په منزله د يو کلمه حساب کېدای شي. نو تقديم د نسبت دواړو ته کيږي.

وَ اِلَّا اَیْ وَ اِنْ لَمْ يَكُنْ بَعْدَهُ لَا لَفْظًا وَلَا تَقْدِيْرًا فِعْلٌ وَلَا شِبْهُ فِعْلٍ غَيْرَ مُشْتَغِلٍ عَنْهُ وَ لَا قَبْلَهُ
اوکه چيرته نه ووروستو د کم نه فعل اونه شبه فعل غير مشتغل عنه نه لفظاً اونه تقديراً اونه مخکې
حَرْفُ جَرٍّ اَوْ مُضَافٌ بَلْ كَانَ مُجَرَّدًا عَنِ الْعَوَامِلِ اللَّفْظِيَّةِ فَمَرْفُوْعٌ اَیْ فَهُوَ مَرْفُوْعٌ مُبْتَدَاً
ترې حرف جر وو اونه مضاف بلکه وومجرور دوجې دعواملو لفظيونه نوبيا مرفوع ده يعني بيا مرفوع مبتدا
اِنْ لَمْ يَكُنْ ظَرْفًا نَحْو مَنْ اَبُوْكَ وَ هٰذَا مَبْنِيٌّ عَلٰی مَذْهَبِ سِيْبَوَيْهِ فَاِنَّهُ يُخْبِرُ
وي که چيرته نه وو ظرف لکه من ابوک دا په مذهب دسيبويه مبني دي ځکه چې دلته خبرورکول کيږي په
عِنْدَهُ بِمَعْرِفَةٍ عَنْ نَكِرَةٍ مُتَضَمِّنَةٍ اِسْتِفْهَامًا وَ اَمَّا عِنْدَ غَيْرِ سِيْبَوَيْهِ فَهٰذَا خَبَرٌ مُقَدَّمٌ
معرفې سره دنکرې نه کومه چې متضمنه ده معنی داستفهام لره او په نزد دغير سيبويه دا خبر مقدم دي
عَلَی الْمُبْتَدَاِ لِكَوْنِهِ نَكِرَةً وَ مَا بَعْدَهُ مَعْرِفَةً وَ خَبَرٌ اِنْ كَانَ ظَرْفًا نَحْو كَمْ يَوْمًا سَفَرُكَ
په مبتدا باندې ځکه چې دا نکره وروستو ترې معرفه ده او خبر دي که چيرته ظرف وي لکه کم يوماً سفرک
فَكَمْ هٰهُنَا مَنْصُوْبُ الْمَحَلِّ اَوَّلًا دَاخِلٌ تَحْتَ قَاعِدَةِ النَّصْبِ بِاِعْتِبَارِ اَعْمَالِ
نو کم دلته منصوب المحل دي اولاً دې داخل دي لاندې دقاعدې دنصب نه په اعتبار دهغه عمل کوم
الْكَائِنِ فِيْهِ وَ دَاخِلٌ فِيْ قَاعِدَةِ الرَّفْعِ ثَانِيًا لِقِيَامِهِ مَقَامَ عَامِلِهِ الَّذِيْ
چې شته په دې کې اودوهم ځل دپاره داخل شوبه قاعده درفع کې ځکه چې قائم شو په مقام دهغه عامل
هُوَ خَبَرُ الْمُبْتَدَاِ.
کوم چې خبر د مبتدا دي

اغراض دجامي : والا: کله چې د قاعدې د نصب او جر نه فارغ شو، نو په قاعده د رفع يې شروع وکړه او د هغې حاصل دادی، چې کوم ځای قاعده د نصب او جر نه چليده، نو هلته به قاعده د دفع وي اوس مرفوع به په څه وي؟ نو که ظرف نه وو، نو مرفوع بنا بر ابتدائيت دی او که ظرف وو، نو بيا مرفوع بنا بر خبريت دی، وجه داده، چې ظرف متعلق غواړي، او هغه به فعل يا شبه فعل وي، دواړه صورتونو کې د هغې ابتدائيت نه صحيح کېږي، ځکه چې فعل او شبه فعل کې يو نسبت وي او دغه نسبت اباء کوي، چې دا دې مبتداء واقع شي.

فهو مرفوعٌ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: فمرفوعٌ جزاء د شرط ده، او جزآء خو جمله وي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې مبتداء حذف ده.

نحو من ابوك: په دې عبارت سره غرض دشارح مثال پيش کول دي او بل پهت دې سره دفع د سوال هم کوي:

سوال: خبره د کم شروع ده. او مثال د من پيش کوې؟

جواب: مونږ وايو، چې دا مثال دی صرف د وضاحت دپاره راوړی شوی دی او هغه داسې، چې څنګه من استفهامي راځي او تقاضا د صدارت کوي. نو دغه شان کم هم دی.

سوال: مونږ خو ويلي دي، چې معرفه نکره جمع شي، نو معرفه به مبتداء کولی شي او دلته خو نکره مبتداء کړې شوې ده ؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې په مذهب د سيبويه باندې کلام بنآء دی، اوس دده په نزد دا من ولې مبتداء واقع کيدې شي؟ نو وجه داده، چې من مؤول دی په تاويل د هذا ام ذاك سره او دا اسمآء اشاراة دي. د معرفې د اقسامو نه دي، نو ابتدائيت صحيح دی.

دوهمه وجه داده، چې متکلم استفهام کوي، نو ده ته به پته وي، چې مخاطب په دې عالم دی نو چې هغه پرې عالم شو نو معرفه شوه، لهذا ابتدائيت يې صحيح دی.

و اما عند غيره الخ: د سيبويه نه علاوه د نورو په نزد د دا من خبر مقدم او ابوك مبتداء مؤخر ده.

اوس په دې سوال راځي:

سوال: چې اصل خو تقديم د مبتداء دی، دلته ولې مؤخر شوې ده ؟

جواب: چونکه من صدارت في الکلام غواړي، نو د مجبورۍ د وجې مبتدا مؤخر شوې ده.

وخبر ان کان ظرفاً: يعنې که دا کم ظرف واقع وو، نو دا به مرفوع بنابر خبريت وي، لکه کم يوماً سفرك. په دې مثال کې شارح دوه ترکيبه کړي دي اول ترکيب کې دا منصوب دی په قاعده د نصب کې داخل دی او هغه په دې شان سره، چې دا کم ظرف متعلق غواړي او هغه متعلق به فعل يا شبه فعل وي، په دواړو صورتونو کې به دا کم هغې دپاره مفعول به وي. دې صورت کې دا کم محلاً منصوب دی، نو قاعده د نصب کې داخل دی او دا فعل يا شبه فعل به سره ددې متعلق نه خبر د مبتداء مؤخر شي، دوهم ترکيب دادی. چې کله دا متعلق يعنې فعل يا شبه فعل ددې حذف شو او دا کم د هغې قائمقام شو، نو دا جمله يا شبه جمله خو په محل د رفع کې وه بنا بر خبريت، نو اوس به دا کم د هغې قائمقام شي، نو دا به مرفوع شي بنا بر خبريت او په دې صورت کې به دا په قاعده د رفع کې داخل شي.

حکم دا اسماء استفهام:

وَ كَذٰلِكَ اَیْ مِثْلُ كَمْ فِيْ تَاَتِّيْ الْوُجُوْهُ الْاَرْبَعَةِ الْاِعْرَابِيَّةِ بِالشَّرَائِطِ الْمَذْكُوْرَةِ اَسْمَاءُ الْاِسْتِفْهَامِ
اوهمدارنګې په مثل دکم په راتلودځلوروو وجهو داعراب په دې سره دشرائطو مذکورو اسماء دا استفهام
وَ الشَّرْطِ بِمَعْنَى اَنَّهُ تَتَاَتّٰى تِلْكَ الْوُجُوْهُ فِيْ جَمِيْعِ هٰذِهِ الْاَسْمَاءِ لَا فِيْ كُلِّ وَاحِدٍ
اوشرط هم دي داپه دې معنی چې داټول وجوه په دې ټولو اسماوکې راتللې شي دانه چې په هرواحد
مِنْهَا وَ هِيَ مَنْ وَ مَا وَ اَیٌّ وَ اَيْنَ وَ اَنّٰى وَ مَتٰى مُشْتَرِكَةٌ بَيْنَ
ددې کې دا ټول وجوه راتللې شي او دا اسماء من وما وای واين وانی ومتی دي چې مشترک دي په مينځ د
الْاِسْتِفْهَامِ وَ الشَّرْطِ وَ اِذَا مُخْتَصَّةٌ بِالشَّرْطِ وَ كَيْفَ وَ اَيَّانَ مُخْتَصَّيْنِ بِالْاِسْتِفْهَامِ
استفهام اوشرط کې او اذا خاص ده ترشرط پورې اوکيف اوايان دواړه خاص دي تراستفهام پورې نو
فَمَنْ وَ مَا اِذَا كَانَتَا اِسْتِفْهَامِيَّتَيْنِ يَتَاَتّٰى فِيْهِمَا الْوُجُوْهُ الثَّلٰثَةُ اَلْاَوَّلُ نَحْوُ مَنْ ضَرَبْتَ وَ مَا
من اوماکله چې دواړه استفهامي وي په دې دواړوکې درې وجوه راتللې شي اول لکه من ضربت وما
صَنَعْتَ وَ بِمَنْ مَرَرْتَ وَ غُلَامَ مَنْ ضَرَبْتَ وَ مَنْ ضَرَبْتَهُ وَ مَا صَنَعْتَهُ وَلَا يَتَاَتّٰى فِيْهِمَا الرَّفْعُ عَلَى الْخَبَرِيَّةِ
صنعت وبمن مررت وغلام من ضربت ومن ضربته وما صنعته اوپه دې کې رفع بنابرخبريت نه راځي خکه چې
لِاِمْتِنَاعِ ظَرْفِيَّتِهِمَا وَ اِذَا كَانَتَا شَرْطِيَّتَيْنِ فَكَذٰلِكَ يَتَاَتّٰى فِيْهِمَا تِلْكَ الْوُجُوْهُ الثَّلٰثَةُ نَحْوُ
ظرفيت په دې کې جائزنه دي اوکله چې دادواړه شرطي وي نوهم دادرې وجوه په کې راتللې شي لکه

مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ وَمَاتَصْنَعْ اَصْنَعْ وَبِمَنْ تَمْرُرْ اَمْرُرْ وَغُلَامُ مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ وَمَنْ يَأْتِنِيْ فَهُوَمُكْرِمٌ وَمَاتُقَدِّمُوْا
من تضرب اضرب وماتصنع اصنع وبمن تمرر امرر وغلام من تضرب اضرب ومن يأتيني فهوم مكرم وماتقدموا
لِاَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللهِ وَلَا يَتَاَتّٰى فِيْهِمَا بَلْ فِيْ جَمِيْعِ اَسْمَاءِ الشَّرْطِ الرَّفْعُ عَلَى الْخَبَرِيَّةِ
لانفسكم من خيرتجدوه عندالله اونه راځي په دې دواړوکې بلکه په ټولو اسماء الشرط رفع بنابرخبريت
فَاِنَّهُ لَا يَقَعُ بَعْدَهَا اِلَّا الْفِعْلُ وَ لَا يَصْلَحُ الْفِعْلُ لِلْاِبْتِدَاءِ وَ مَا هُوَ
ځکه چې دهغې وروستو نه واقع کيږي مګر فعل اوفعل صلاحيت نه لري دپاره دمبتدا اوکوم چې لازم
لَازِمُ الظَّرْفِيَّةِ مِنْ هٰذِهٖ كَمَتٰى وَ اَيْنَ وَ اَيَّانَ وَ كَيْفَ وَ اَنّٰى وَ اِذَا اِنْ لَمْ تَنْجَرَّ بِجَارٍّ
دې دظرفيت سره ددغونه لکه متى اواين اوايان اوکيف او انى اواذا نوکه دوي مجرورنه وو په جاره سره
نَحْوُ مِنْ اَيْنَ فَلَا بُدَّ مِنْ كَوْنِهَا مَنْصُوْبَةً عَلَى الظَّرْفِيَّةِ.
لکه من اين نوبيا به لازماً منصوب بنابرظرفيت وي.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره حکم داستفهام او په دې کې تفصيل بيانوي.

اغراض دجامي : وكذلك: د كم په مناسبت سره د **اسمآء الاستفهام والشرط** ذکر کوي، چې دې کې هم وجوه اربعه راځي او په معنى د استفهام سره راځي.

اى مثل كم غرض: په دې عبارت سره شارح د ذلك اسم اشاره مشار اليه متعين کول دي ، او د يو سوال دفع هم کوي :

سوال : دا دى چې **كذلك** مبتداء ا و**اسماء الاستفهام** خبر دى او د **كذلك** ابتدائيت نه صحيح کيږي. ځکه دې جار مجرور دپاره به متعلق راوباسي هغه به فعل وي يا شبه فعل په دواړو صورتونو کې د هغې ابتدائيت نه صحيح کيږي؟

جواب: مونږ وايو **كاف بمعنى مثل** سره مضاف دى نو ابتدائيت يې صحيح دى.

في تاتي الوجوه: مخکې ك تشبيهي ذکر شو ، په تشبيه کې ځلور خبري وه ، مشبه ، مشبه به ، اداة تشبيه او وجه د تشبيه ، اسمآء الاستفهام والشرط مشبه دي کم ورلره مشبه به دى کاف حرف تشبيه دى او وجه د شبه شارح په دې مذکور عبارت سره ذکر کوي.

اسمآء الاستفهام : مراد په اسمآء الاستفهام سره باقي د کم نه دي ، په دې سره دفع د سوال وشوه :

سوال: اسمآء الاستفهام کې خو کم هم داخل دی، دا خو تشبیهه د شيء لنفسه لازم شوه؟

جواب: مونږ وایو مراد په دې سره باقي اسمآء استفهام دي.

سوال: دا باقي د څه نه معلومېږي؟

جواب: دا کم ترې مستثنی دی په استثناء عقلي سره، یعنې که دا کم مستثنی نه کړو، نو لازم به شي تشبیهه د شيء لنفسه او دا ناجائزده

بمعنی انه تاتی: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: دا تشبیه د اسمآء الاستفهام والشرط د کم سره په وجوه اربعه کې صحیح نه ده. ځکه صرف په ای کې وجوه اربعه راځي، او باقي اسمآء کې مجموعه وجوه اربعه نه راځي؟

جواب: دا تشبیه په اتیان ددې څلورو په هر واحد کې نه ده، بلکې مطلب دا چې دې مجموعه اسمآو کې دا وجوه اربعه راځي، اوس په چا کې دوه او په چا کې درې او په چا کې څلور وجوه راځي

وهي من الخ: اسمآء الاستفهام والشرط في نفسه په درې قسمه دي: مشترك بين الاستفهام والشرط او هغه شپږ اسمآء دي مختص بالشرط او هغه اذا دی، مختص بالاستفهام دی او هغه دوه دي این، ایان، دوهم تقسیم دې کې په اعتبار د اعراب سره دی د اعراب په اعتبار سره دا نهه قسمه څلور برخو ته تقسیم دي. وجه حصر، دا اسمآء به خالي نه وي، دې سره به ظرفیت لازم وي یا نه که ظرفیت ورسره لازم وو، بیا بهٔ خالي نه وي په معنی د استفهام به وي یا په معنی د ربط که په معنی د استفهام وو، نو دا پنځه دي او دې کې وجوه ثلاثه راځي. نصب، جر، او رفع بنا بر خبریت، او که په معنی د شرط وو، نو هلته دوه وجې دي، نصب او جر رفع بنا بر ابتدائیت پکې نه راځي، ځکه ددې نه وروستو فعل راځي او فعل شرط صلاحیت د ابتداء نه لري او رفع بنابر خبریت هم نه صحیح کیږي. بلکې هغه دې ټولو اسماء شرطیه کې نه صحیح کېږي، ځکه ددې نه ما بعد به ته مبتداء گرځوې او هغه خو فعل دی او ابتدائیت د فعل نه صحیح کېږي او که د ظرفیت سره لازم نه وو، نو بیا به خالي نه وي لازم الاضافت به وي یا نه که لازم الاضافت وو هغې کې وجوه اربعه راځي او که لازم الاضافت نه وو، نو هغې کې بیا وجوه

ثلاثه نه راځي، نصب، جر. او رفع بنابر ابتدائيت. او رفع بنا بر خبريت نه صحيح کېږي، ځکه دې کې ظرفيت نه وي.

لامتناع ظرفيتهما: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا وجوه ثلاثه د مخکې په شان دي، هلته به دې يو ځای ذکر کړي وو، نو اختصار به راغلې وی؟

جواب: دې دواړو کې فرق دی، مخکې چې رفع بنا بر خبريت نه راتله، نو د هغې دپاره وجه امتناع د ظرفيت وه او دلته چې رفع بنابر خبريت نه راځي، نو وجه دا ده، چې لا يقع بعدها الا فعلٌ ولا يصلح الفعل للابتداء.

وماهو لازم الظرفية: هغه شپږ دي، پنځه معناگانې يې په معنی داستفهام سره دي او يو بمعنی الشرط دی بيا دې اول قسم کې وجوه ثلاثه راځي، رفع بنابر خبريت، نصب او جر او ذا کې دوه وجوه دي.

وَ عَنْ بَعْضِهِمْ اَنَّ اِذَا قَدْ تَخْرُجُ عَنِ الظَّرْفِيَّةِ وَ تَقَعُ اِسْمًا صَرِيْحًا نَحو اِذَا يَقُوْمُ زَيْدٌ اِذَا يَقْعُدُ عَمْرٌو
دبعضونه نقل دي چې اذاکله دظرفيت نه خارج شي اواسم صريح واقع کيږي لکه اذايقوم زيداذايقعدعمر
اَىْ وَقْتُ قِيَامِ زَيْدٍ وَقْتُ قُعُوْدُ عَمْرٍو فَهِيَ مَرْفُوْعَةٌ بِالْاِبْتِدَاءِ وَ قَالَ الشَّارِحُ الرَّضِيُّ وَ اَنَا لَمْ اَعْثُرْ
يعني وقت قيام زيد وقت قعود عمرو نو دلته اذامرفوع بنابرابتداده شارح درضي وايي چې مونږ نه لرود دې
لِهٰذَا عَلٰى شَاهِدٍ مِنْ كَلَامِ الْعَرَبِ وَ مَا هُوَ لَازِمُ الظَّرْفِيَّةِ يَرْتَفِعُ فِي الْاِسْتِفْهَامِ
دپاره کوم شاهد په کلام دعربو کې او کوم چې لازم دي د ظرفيت سره مرفوع کرځي په استفهام سره په
مَحَلًّا مَعَ اِنْتِصَابِهِ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ اِذَا كَانَ خَبَرُ مُبْتَدَاٍ مُؤَخَّرٍ نَحو مَتٰى عَهْدُكَ بِفُلَانٍ
په اعتبار دمحل سره، سره دنصب نه بنابرظرفيت کله چې وي خبردمبتدامؤخرې لکه متی عهدک بفلان
اَىْ مَتٰى كَائِنٌ عَهْدُكَ بِهِ وَ اَمَّا اَنّٰى فَيَتَاَتّٰى فِيْهِ الْوُجُوْهُ الْاَرْبَعَةُ كُلُّهَا فَاِنَّهٗ قَدْ يَقَعُ
يعني متی کائن عهدک به اوهرچې ای ده نو په دې کې څلور وجوه راتللې شي ځکه چې داکله واقع کيږي
فِيْ مَحَلِّ الرَّفْعِ بِالْخَبَرِيَّةِ اَيْضًا عَلٰى تَقْدِيْرِ اِنْتِصَابِهِ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ نَحو اَىُّ وَقْتٍ مَجِيْئُكَ
په محل درفع کې بنابرخبريت اونصب يې په تقدير دظرفيت دي لکه ای وقت مجيئک علی ای وقت کائن مجيئک
فَاَىُّ وَقْتٍ عَلٰى تَقْدِيْرِ اِنْتِصَابِهِ بِالظَّرْفِيَّةِ مَرْفُوْعُ الْمَحَلِّ بِالْخَبَرِيَّةِ وَ الْوُجُوْهُ الْبَاقِيَةُ مِثْلُ
نوای وقت په تقدير دنصب ددې بنابرظرفيت په محل درفع کې دي بنابرخبريت اوپاتې نورې وجهې لکه

اَيُّهُمْ ضَرَبْتَ بِأَيِّهِمْ مَرَرْتَ وَ اَيُّهُمْ قَائِمٌ.
لکه ایهم ضربت بأیهم مررت وایهم قائم

خلاصه د متن : په دې عبارت سره د بعضو قول رانقل کوي.

اغراض د جامي : وعن بعضهم الخ: دا په مینځ کې د شارح رضي عبارت ته تمهید کیږدي، دې وايي چې اذا کله د ظرفیت نه وځي، نو بیا دې کې رفع بنا بر ابتدائیت راتلې شي، په دې صورت کې به اذا کې درې وجوه شي، لیکن شارح رضي وايي ما په دې شاهد نه دی لیدلی او کوم مثال چې پیش کولی شي نو دا مصنوعي دی؟

ای شارح رضي! عدم علم ستا مستلزم نه دی عدم وجدان لره، او مثال چې موافق د قاعده وي، هغه صحیح دی اګر که مصنوعي وي.

وما هو لازم الظرفية: دا د شارح رضي عبارت دی، او دې عبارت سره د اسمآء الاستفهام لازم الظرفیت دریمه وجه رفع بنابر خبریت ذکر کوي، مخکې حاصل کې مونږ ذکر کړی دی.

وما ایّ: دا هغه اسم دی، چې ظرفیت ورسره لازم نه دی، او لازم الاضافت دی، نو دې کې وجوه الاربعه راتلی شي، شارح ورلره امثله بیان کړی دي.

بل قانون په کم کې :

وَ فِيْ مِثْلِ كَمْ عَمَّةٍ لَكَ يَا جَرِيْرُ وَ خَالَةٍ يَعْنِيْ فِيْمَا اِحْتَمَلَ الْاِسْتِفْهَامَ وَ الْخَبَرَ وَ ذِكْرَ الْمُمَيِّزِ وَ حَذْفَهُ
اوبه مثل دکم عمة لک یاجریروخالة یعني هغه چې احتمال داستفهام اودخبراوذکردممیزاوحذف ددې
ثَلٰثَةُ اَوْجُهٍ هٰكَذَا فِيْ كَثِيْرٍ مِنَ النُّسَخِ وَ فِيْ بَعْضِهَا
لرې درې وجوه دي دا عبارت په ډیرو نسخو کې داسې دي او په بعضې نسخو کې عبارت داسې دي
وَ فِيْ مِثْلِ تَمْيِيْزِ كَمْ عَمَّةٍ اَيْ مَا هُوَ تَمْيِيْزٌ بِاِعْتِبَارِ بَعْضِ الْوُجُوْهِ فَعَلَى النُّسْخَةِ الْاُوْلٰى يَحْتَمِلُ
مثل تمیزکم عجمة یعني هغه چې تمیز وي په اعتبار د بعضو وجوهو نو بناء په نسخه اولی احتمال لري
اَنْ تُعْتَبَرَ الْاَوْجُهُ الثَّلٰثَةُ فِيْ كَمْ اَحَدُهَا رَفْعُهُ بِالْاِبْتِدَاءِ وَ الْآخَرَانِ نَصْبُهُ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ وَ
چې په کم کې درې واړه وجوه معتبرشي یویې رفع بالابتداء ده دوهم یې نصب علی الظرفیة اودریم یې
عَلَى الْمَصْدَرِيَّةِ فَاِنَّهُ اَشَارَ فِيْمَا سَبَقَ بِقَوْلِهٖ مَنْصُوْبًا مَعْمُوْلًا عَلٰى حَسَبِهٖ
نصب علی المصدریة دي ځکه مصنف اشاره مخکې وکړه په دې قول خپل سره منصوباً معمولاً علی حسبه

إِلَى كَثْرَةِ وُجُوهِ النَّصْبِ وَلَا يَخْفَى أَنَّ هٰذَا الصَّقَّ بِمَا سَبَقَ مِنْ وُجُوهِ إِعْرَابِ كَمْ وَ

سره کثرت دوجوهو د نصب نه پټه نه ده چې دا بنه پیوست دي د ماسبق سره دوجوهو د اعراب د کم نه او

يَحْتَمِلُ أَنْ تُعْتَبَرَ فِي مُمَيِّزِهَا أَعْنِي عَمَّةٌ فَأَحَدُهَا الرَّفْعُ بِالْاِبْتِدَاءِ

دا احتمال هم شته چې وجوه د اعراب معتبر شي په ممیز کې چې هغه عمةٌ وه نو یو یې رفع بنا بر ابتدائیت

اِسْتِفْهَامِيَّةً كَانَتْ أَوْ خَبَرِيَّةً وَ الْآخَرُ أَنَّ النَّصْبَ عَلَى تَقْدِيرِ كَوْنِهَا اِسْتِفْهَامِيَّةً وَ الْجَرُّ عَلَى

ده که استفهامي وي او که خبرې باقي دو . . . دي په تقدیر د کیدلو د دې استفهامي او جر په تقدیر د

كَوْنِهَا خَبَرِيَّةً وَ لَا يَخْفَى أَنَّ هٰذَا الْوَجْهَ مَبْنِيٌّ عَلَى اِعْتِبَارِ جَوَازِ حَذْفِ مُمَيِّزِهَا وَ هُوَ هٰهُنَا

کیدلو د دې خبري پټه نه ده چې دا وجه مبني ده په اعتبار د جائز کیدلو د حذف د ممیز د هغې او هغه غیر

مَذْكُورٍ لِمَا سَبَقَ فَكَانَ الْأَلْيَقُ تَأْخِيرَ هٰذَا عَنْ قَوْلِهِ وَ قَدْ يُحْذَفُ فِي مِثْلِ كَمْ مَالُكَ وَ أَمَّا

مذکور دي مخکې نو لائق دا دي چې دا مؤخر شي د قول د ده نه چې قد یحذف دي په مثل د کم مالک کې او هر

النُّسْخَةُ الْأُخْرَى فَلَا تَحْتَمِلُ إِلَّا الْوَجْهَ الْخَيْرَ وَ الْبَيْتَ الْفَرَزْدَقَ يَهْجُو جَرِيرًا وَ تَمَامُهُ فَدْعَا

چې بله نسخه ده نو احتمال نه لري مګر د اخرې وجې لکه فرزدق هجوه د جریر کوي ټول شعر دا دي فدعا

قَدْ حَلَبَتْ عَلَيَّ عِشَارِي اَلْفَدْعَاءُ الْمِعْوَجَّةُ الرُّسْغُ مِنَ الْيَدِ

قد حلبت علی عشاري کوږ لاسي مونږ ته او بني ولوشلي پس فیا شفیني فدعا هغه چې لاس یې په مړوند کې کوږ

أَوِ الرِّجْلُ فَتَكُوْنُ مُنْقَلِبَةَ الْكَفِّ أَوِ الْقَدَمِ بِمَعْنَى أَنَّهَا لِكَثْرَةِ الْخِدْمَةِ صَارَتْ كَكَ أَوْ

شوې وي یا خپه نو بدل شو مړوند او یا خپه په دې معنی چې دا د زیات خدمت نه داسې شوې ده او یا دا چې

هٰذَا خِلْقَةٌ لَهَا نَسَبُهَا إِلَى سُوْءِ الْخُلُقَةِ وَ إِنَّمَا عُدِّيَ حَلَبَتْ بِعَلَى

دا پیدائشي خلقت د هغې دي نسبت کړې دې ته چې په بدشکل پیدا شوې او تقدیر د حلبت په علی سره

لِتَضَمُّنِهِ مَعْنَى ثَقُلَتْ أَيْ كُنْتُ كَارِهًا لِخِدْمَتِهَا مُسْتَنْكِفًا

ښکه وشوه چې دا متضمنه ده معنی د ثقل لره یعني دا چې ته بد ګڼرونکي وې د دغه خدمت او تنګ شوې

مِنْهَا فَخَدَمَتْنِي عَلَى كُرْهٍ مِنِّي وَ اخْتَارَ مِنْ أَنْوَاعِ خِدْمَتِهَا

وې د هغې نه نو زما خدمت دې پ. هغه وخت کې کړې چې زمانه خوښ نه وې او د نورو خدمتو نو په

الْحَلَبَ لِأَنَّهُ خِدْمَةُ الْمَوَاشِي وَ هِيَ أَبْلَغُ فِي الذَّمِّ مِنْ خِدْمَةِ الْأَنَاسِيِّ

نسبت دا وبني لوشل غوره کړل شو ځکه د حیوانا تو خدمت دي او دا په ذم کې مبالغه ده د خدمت د خلکو نه

وَ الْعِشَارِ جَمْعُ عُشَرَاءِ وَ هِيَ الَّتِيْ اَتَى عَلَى حَمْلِهَا عَشَرَةُ اَشْهُرٍ وَاخْتَارَهَا لِاَنَّهَا
اوعشار جمع دعشراء ده اوداهغه اوښې ته وايي چې حمل يې دلسومياشتووي اوداغوره شوه ځکه چې
تَأْبَى مِنَ الْحَلْبِ وَ تَطِيْعُ بِسُهُوْلَةٍ فَفِيْ حَلْبِهَا زِيَادَةُ مُشَقَّةٍ وَ فِيْ
هغه په لوشولو سره تکليفيږي اوپه آساني سره نه ودريږي نودهغې په لوشلو کې ډيرمشقت وي او په
ذِكْرِ عَمَّةٍ وَ خَالَةٍ اِشَارَةٌ اِلَى رَذَالَةِ طَرَفَيْهِ اَبِيْهِ وَ اُمِّهِ فَالْاِسْتِفْهَامُ عَلَى تَقْدِيْرِ النَّصْبِ
اوپه ذکردعمة اوخالة کې اشاره ده ذلالت دطرف دمورا وپلارته نواستفهام دلته په تقديردنصب سره دي
عَلَى سَبِيْلِ التَّهَكُّمِ كَاَنَّهُ ذَهَلَ عَنْ كَمِيَّةِ عَدَدِ عَمَّاتِهٖ وَ خَالَاتِهٖ فَسَأَلَ عَنْهَا وَ
نه په سبيل دتحکم سره ګوياکه فرزدق غافل شودشماردعمواودخالودهغه نه نوسوال يې وکړو اوکه
كَوْنُهَا خَبْرِيَّةً عَلَى تَقْدِيْرِ الْجَرِّ عَلَى سَبِيْلِ التَّحْقِيْقِ اَيْ كَثِيْرٌ مِمَّنْ عَمَّاتِكَ وَ
شي خبريه نوبيابه بنابرتقديردجروي نه په طريقې دتحقيق سره نومعنى داشوه چې کثيرمن عماتک و
خَالَاتِكَ حَلَبَتْ عَلَى عِشَارِيْ وَ اِذَا حَذَفْتَ الْمُمَيِّزَ اَيْ كَمْ مَرَّةً اَوْ كَمْ حَلْبَةً عَلَى التَّهَكُّمِ
خالاتک حلبت علي عشاري اوچې کله ته حذف کړې مميز يعنې کم مرة اوکم حلبة په طريقې د تحکم سره
اَوْ كَمْ مَرَّةٍ اَوْ حَلْبَةٍ عَلَى التَّكْثِيْرِ فَارْتِفَاعُ عَمَّةٍ عَلَى الْاِبْتِدَاءِ وَ مُصَحِّحِهٖ تَوْصِيْفِهٖ
اوياکم مرة اوحلبة په طريقې دتکثير سره نورفع دعمة بنابرابتدائيت ده اومصحح دهغې توصيف د
بِقَوْلِهٖ لَكَ وَ خَبَرُهُ قَدْ حَلَبَتْ وَ كَمْ اِسْتِفْهَامِيَّةً كَانَتْ اَوْ خَبَرِيَّةً عَلَى تَقْدِيْرِ
هغې دي په دې قول سره چې لک اوخبر يې حلبت شو اوکم که استفهامي شي اوکه خبري په تقديرد
اِرْتِفَاعِ عَمَّةٍ فِيْ مَوْضِعِ النَّصْبِ لِاَنَّ الْفِعْلَ الْوَاقِعَ بَعْدَهَا مُسَلَّطٌ عَلَيْهَا تَسَلُّطَ الظَّرْفِيَّةِ
رفع دعمة کې په ځاى دنصب کې شوځکه وروستني فعل مسلط دي په دې باندې په تسلط ظرفي
اَوِ الْمَصْدَرِيَّةِ وَ اِذَا رَفَعْتَ عَمَّةً رَفَعْتَ خَالَةً وَ فَدْعَاءُ وَ اِذَا نَصَبْتَهَا
يامصدري سره اوکله چې عمې ته رفع ورکړې نوخالة اوفدعاء ته هم ورکول کيږي اوکه عمة ته نصب
نَصَبْتَهُمَا وَ اِذَا خَفَضْتَهَا خَفَضْتَهُمَا وَ ذٰلِكَ وَاضِحٌ.
ورکړې دوي ته هم ورکول کيږي اوکه هغې ته جر ورکړې دوي ته هم ورکول کيږي اوداواضحه ده

اغراض دجامي : ورفي مثل کم عمة لك الخ: په دې عبارت سره غرض د شارح اجراء کول دي د کم د وجوه ثلاثه د اعراب په يو مثال کې

هكذا الخ: په دې عبارت سره شارح اختلاف د نسخو بیانوي چې دلته دوه نسخې دي، يو كثيره ده هغه دا چې **اوجه ثلاثه** دې **كم** كې جارې شوى دى، او په بله نسخه كې **في مثل تمييز الخ** عبارت دى.

قوله اى ما هو الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: تمييز د كم كې دغه وجوه ثلاثه نه شي جاري كيدې، ځكه چې تمييز مرفوع نه وي؟

جواب: مونږ وايو، چې بعضې وجوه مراد دي، چې نصب او جر دي.

فعلي النسخة الخ: كله چې نسخه اولى مراد شي، نو دغه ځاى په كم كې د وجوه ثلاثه احتمال شته، يو دا چې كم مرفوع شي، بنا بر ابتدائيت دوه ځايه منصوب شي، بنا بر ظرفيت و مصدريت.

ولا يخفى الخ: غرض د شارح ترجيح وركول دي نسخه اولى ته، وجه د ترجيح داده، چې مخكې هم اعراب كم كې جاري كيدل او دا هم احتمال لري، چې وجوه ثلاثه په تمييز د كم كې جاري شي، نو مرفوع به وي بنا بر ابتدائيت عام ددې نه كه كم استفهامي وي او كه خبري، او منصوب به وي كله چې كم استفهامي وي، او مجرور به وي چې كله كم خبري شي.

ولا يخفى الخ: چې تمييز د كم كې به دغه وجوه ثلاثه هغه وخت جاري كيږي، چې مميز ددې د حذف كيدو د جواز اعتبار وشي، ليكن دا قسم خبره مخكې ذكر نه وه، نو په كار ده چې د كم **مالك** د تركيب نه مونږ دا وروستو راوړى وى.

و اما النسخة: يعنې كله چې دغه وجوه ثلاثه په تمييز د كم كې واقع شي.

والبيت الخ: تعيين د شاعر كوي، بيا دلته به د شاعر غرض، اتمام د شعر، تفصيل د اجزاو شارح وكړي او تشريح ددې شعر هم شارح په خپله كړ ده.

بيا حال د وجوهو په كم كې دادى، كله چې دا مرفوع نه شي بنا بر ابتدائيت او تمييز يې مذكور وي، نو دا به استفهامي وي يا به خبر وي، مثال د استفهامي **كم عمة لك يا جرير و خالة** د خبري مثال **كم عمة لك يا جرير و خالة**.

١ **الفدعاء**: په دې عبارت سره د فدعاء معنى ذكر كوي چې فدعاء هغه ځاته وايي چې لاس يې په مړوند كې كوږ وي او يا يې خپه كږه وي.

واختار: په دې عبارت سره شارح د حلب د اختیارولو وجه بیانوي چې حلب یې ځکه اختیار کړو چې دا په نسبت سره د انسان دخدمت نه سخت وي.

والعشار: په دې عبارت سره شارح د عشار معنی ذکر کوي چې عشار هغه اوښې ته وایي چې حمل یې د لسو میاشتو وي

حذف دممیز دکم:

وَ قَدْ يُحْذَفُ مُمَيِّزُ كَمْ اِسْتِفْهَامِيَّةً كَانَتْ اَوْ خَبَرِيَّةً فِيْ مِثْلِ كَمْ مَالُكَ وَ كَمْ ضَرَبْتَ اَىْ فِيْ كُلِّ مِثَالٍ
اوکله حذفیږي ممیز دکم استفهامي وي اوکه خبري په مثل دکم مالک وکم ضربت یعنې په هرهغه مثال
قَامَتْ قَرِيْنَةٌ دَالَّةٌ عَلَى الْمَحْذُوْفِ فَاِنَّهُ اِذَا سُئِلَ عَنْ كَمِيَّةِ مَالِكَ اَوْ اَخْبَرَ
کې چې قرینه قائمه وي په محذوف باندې ځکه چې کله سوال وکړې شي دکمیت دمال ستانه یا خبر
عَنْ كَثْرَتِهِ فَظَاهِرُ الْحَالِ قَرِيْنَةٌ عَلَى اَنَّهُ سُؤَالٌ عَنْ كَمِيَّةِ دَرَاهِمِكَ اَوْ دَنَانِيْرِكَ اَوْ
ورکول کیږي دکثرت دهغې نه نوظاهري مال قرینه ده چې داسوال دې دستا ددرهمو یا دنانیرو او یا
اَخْبَارٌ عَنْ كَثْرَتِهَا فَمَعْنَاهُ كَمْ دِرْهَمًا اَوْ دِيْنَارًا اَوْ كَمْ دِرْهَمٌ اَوْ دِيْنَارٌ مَالُكَ فَكَمْ
اخباردې دکثرت دهغوي نه نومعنی یې داشوه چې کم درهما اودینار اوکم درهما اودینار مالک نوکم په
فِيْ هٰذَا الْمِثَالِ مَرْفُوْعٌ عَلَى الْاِبْتِدَاءِ وَ مَالُكَ خَبَرُهُ.
دې مثال کې مرفوع بنابرابتدائیت دې اومالک یې خبردې.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره تمیز د کم د حذف کولو بیان کوي.

اغراض دجامي: وقد یحذف: غرض د ماتن حکم د تمییز د کم ذکر کول دي، مخکې یو حکم ذکر شوی دی، چې ددې په تمییز کله من جاره داخلیږي، دوهم حکم دادی، چې ددې تمییز کله کله حذف کولی شي

ممیز کم: غرض د شارح د ضمیر مرجع متعین کول دي.

استفهامیة کانت الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: په یحذف کې ضمیر د مفرد دی، او کم خو په دوه قسمه دی، نو مطابقت نشته په مینځ د ضمیر او مرجع کې؟

جواب: دا ضمیر موصوف ته راجع دی، چې کم دی او هغه مفرد دی.

كم مالك: په دې عبارت سره شارح د يو سوالاتو جوابات وركوي:
سوال: دا مالك دې تمييز شي كنه؟
جواب: دا مرفوع دی او تمييز منصوب وي.
سوال: دا منصوب ووايه كنه؟
جواب: دا خبر دی او خبر مرفوع وي.
سوال: دا تمييز وګرځوه خبر يې مه ګرځوه كنه؟
جواب: بيا لازميږي وجود د مبتداء په غير د خبر نه.
سوال: خبر ورلره محذوف كړه كنه؟
جواب: كه خبر ورلره محذوف كړو، نو حذف خلاف الاصل دی، خلاف الاصل كار لازميږي
سوال: ته چې تمييز حذف كوې نو دا خلاف الاصل نه دی؟
جواب: دا تمييز فضله دی او حذف د فضله جائزدی، په خلاف د خبر چې هغه عمده دی او حذف د عمده ناجائزدی.
دوهم جواب: د اصل سوال نه دادی، چې مالك كې صلاحيت د تمييز نشته، ځكه تمييز نكره وي، او دا معرفه دی.
اى في كل مثال: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:
سوال: دا مثال مضاف او ما بعد مضاف اليه دی او قانون دادی، چې مضاف اليه د نسبت د حكم نه خارج وي، نو مطلب دا، چې په مثل ددې كې نه دی، كولی شي ليكن دې مالك، كم ضربت كې به نشي حذف كولی، حالانكه قاعده خو دې كې هم داده؟
جواب: دا قاعده په هغه مقام كې ده، چې مضاف كې قانون طرف ته اشاره نه وي او كوم مقام كې چې قانون طرف ته اشاره وي، هلته بيا دواړه په نسبت د حكم كې داخل وي، دلته هم قانون ته اشاره ده، او هغه دا چې هر هغه مقام چې قرينه داله په تعيين د محذوف قايم وي. هلته به تمييز د كم حذف كولی شي
فانه اذا سئل الخ غرض: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي.

سوال: دلته یوه قرینه ده په نفس حذفیت د تمییز او دوهم قرینه داله ده په تعیین د محذوف، نو په نفس حذفیت څه قرینه ده؟ او په تعین د محذوف څه قرینه ده؟

جواب: د اول سوال جواب خو ظاهر دی. چې دا کم په اعتبار د جنس سره مهم دی او مهم دفع غواړي او دفع په تمییز سره راځي. او هغه لفظاً ذکر نه وو، نو عقل معلوم کړه چې هغه حذف دی او د دوهم سوال جواب شارح کوي، چې په تعیین د محذوف باندې دا لفظ د مالك قرینه ده. او هغه داسې چې کله مال مطلق ذکر شي نو رجع یې کېږي فرد کامل ته او فرد کامل د مال ،ذهب او فضه دی، دوهمه وجه داده، چې اموال دوه قسمه دي، اموال ظاهره لکه غواء بیزې، جائیدادونه شو، دې کې تپوس ته ضرورت نشته، ځکه دا ښکاره دي، اموال باطنه، چې ذهب او فضه دي، ځکه خلق یې پټ ساتي او تپوس هم د پټ شي کېږي، ځکه موږ وایو چې هغه محذوف تمییز به دینار او درهم وي.

فکم في هذا الخ: غرض د شارح اعراب د کم ذکر کول دي، دې صورت کې به کم مرفوع بنا بر ابتدائیت وي او مالك به خبر وي.

وَ اِذَا سُئِلَ عَنْ كَمِيَّةِ ضَرْبِكَ بَعْدَ الْعِلْمِ بِوُقُوعِهِ اَوْ اَخْبَرَ عَنْ
اوکله چې سوال کیدې شي د کمیت د ضرب نه وروستو د علم نه په وقوع د هغې او یا خبر ورکول کیږي د
كَثْرَتِهِ فَظَاهِرٌ اَنَّ السُّؤَالَ اَوِ الْاَخْبَارَ اَنَّمَا هُوَ بِالنِّسْبَةِ اِلٰى مَرَّاتِ ضَرْبِكَ اَىْ كَمْ مَرَّةً اَوْ
کثرت د ضرب نه نو ظاهره ده چې سوال او خبر ورکول دا په نسبت سره تکرار د ضرب ته دي لکه کم مرة او
مَرَّةٍ ضَرَبْتَ اَوْ اِلٰى ضَرَبَاتِكَ اَىْ كَمْ ضَرْبَةً اَوْ ضَرْبَةٍ ضَرَبْتَ فَكَمْ فِيْ هٰذَا الْمِثَالِ اِمَّا مَنْصُوْبٌ عَلَى الظَّرْفِيَّةِ
مرة ضربت او یا ضرباتو نه لکه کم ضربة او ضربة ضربت نو کم په دې مثال کې منصوب دي بنا بر ظرفیت
اَوِ الْمَصْدَرِيَّةِ وَ الْفَرْقُ بَيْنَ الْمَعْنَيَيْنِ اِذَا كَانَ الْمَصْدَرُ لِلنَّوْعِ فَظَاهِرٌ وَ اِذَا كَانَ لِلْعَدَدِ
یا مصدریت او فرق په دواړو معنو کې دا دې چې کله مصدر د نوعې د پاره وي نو ظاهر دي او چې کله د عدد
فَالْمَلْحُوْظُ فِي الظَّرْفِيَّةِ اَوْ لِاَنَّ الزَّمَانَ الدَّالَّ عَلَيْهِ الْاَلْفَاظُ الْمَوْضُوْعَةُ
د پاره وي نو ملحوظ په ظرفیت کې اول زمان دي په کوم باندې چې دلالت کوي هغه الفاظ کوم چې وضع
لِلزَّمَانِ وَ فِي الْمَصْدَرِيَّةِ اَوْ لِاَنَّ الْحَدَثَ الدَّالَّ عَلَيْهِ لَفْظُ الْمَصْدَرِ وَ يَحْتَمِلُ
شوې د پاره د زمان او په مصدري کې اول حدوث دي چې دلالت کوي په دې باندې لفظ د مصدر احتمال

اَنْ يَكُوْنَ الْمِثَالُ الثَّانِيْ بِتَقْدِيْرِ كَمْ رَجُلًا اَوْ رَجُلٍ ضَرَبْتَ فَعَلَى هٰذَا التَّقْدِيْرِ يَكُوْنُ كَمْ مَنْصُوْبًا عَلَى
شته چې دوهم مثال په تقدير سره وي لکه كم رجل او رجلاً ضربت نو په دې تقدير كم منصوب دي بناء
الْمَفْعُوْلِيَّةِ.
برمفعوليت.

اغراض د جامي : واذا سئل الخ: هر کله چې فارغ شو دبيانولو د قرينه نه په تعيين د محذوف په كم مالك کې نو شروع يې کړه، چې په بيانولو د قرينه په تعيين د محذوف په كم ضربت کې. نو دی وايي، چې دلته به مرة يا ضربة راويستی شي، وجه داده چې دا كلام كله ويلی شي، نو سمدستي ذهن ته راځي، چې دا تمييز به د مراتو يا ضرباتو يا مضروب نه وي اوس ستا خوښه ده چې کوم راوباسې.

فكم في هذا الخ: غرض د شارح اعراب ذکر کول دي، وايي چې دې صورت کې به دا منصوب بنا بر ظرفيت (مرة) يا بنا بر مصدرية (ضربة) وي.

سوال : ترکيب ته څه ضرورت دی؟

جواب: مخکې ده د هغه اول مثال ترکيب وکړو، چا به وهم کولو، چې دا به هم مرفوع وي، نو ده فرق ذکر کړو، دې سره بل سوال هم دفع شو.

سوال : دوه مثالونه يې ولې ذکر کړو؟

جواب: مخکې مثال د مرفوع او دلته مثال د منصوب دی.

والفرق الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: ته وايې چې د فعل په دې صورت کې ضربة او مرة دواړه راويستی شي، نو سوال دادی، چې ضربة به کله ذکر شي نو دا خو په مرة هم دلالت کوي، نو فرق څه شو؟

جواب: شارح دوه جوابونه کوي: کله چې مصدر دپاره د نوعې وي نو بيا خو فرق ظاهر دی. يو به د نوعې او دوهم به د مرة دپاره وي. کله چ مصدر هم د مرة شي، نو بيا فرق دادی، چې د ظرفيت صورت کې به معنی کوو، الزمان الدال عليه الحدث او د مصدريت په صورت کې الحدث الدال عليه اللفظ.

ويحتمل الخ: دا هغه دريم ترکيب د حالت نصبي ذکر کوي، هغه دا چې دې لره تميز مضروب يعني رجل راويستی شي، دې صورت کې به دا منصوب بنا بر مفعول به شي، بيا دې نه يې تعبير په **يحتمل** سره وکړو، چې اصل دادې چې دا تمييز حتى الوسع من جنس المذکور په کار وي.

الظُّرُوْفِ أَيِ الظُّرُوْفُ الْمَعْدُوْدَةُ مِنَ الْمَبْنِيَّاتِ الْمُعَبَّرِ عَنْهَا عِنْدَ تَعْدَادِهَا بِبَعْضِ الظُّرُوْفِ
ظروف هغه ظروف چې دمبنياتو نه دي چې په وخت دتعداد کې دهغوي نه تعبير په بعضو ظروفو کيدلې
فَلَا حَاجَةَ اِلٰى ذِكْرِ الْبَعْضِ هٰهُنَا مِنْهَا مِنْ تِلْكَ الظُّرُوْفُ مَا اَىْ ظَرْفٍ قُطِعَ عَنِ الْاِضَافَةِ
شي نو حاجت نشته ذکر د بعضو ته دلته نو بعض دظروفو هغه دي چې منقطع شوې وي د اضافت نه په
بِحَذْفِ الْمُضَافِ اِلَيْهِ عَنِ اللَّفْظِ دُوْنَ النِّيَّةِ عِنْدَ نِسْيَانِهِ أُعْرِبَ مَعَ
حذف دمضاف اليه دلفظ نه، نه دنيت نه په وخت دهيرې دهغې کې اعراب به ورکول کيږي سره د
التَّنْوِيْنِ نَحْو رُبَّ بَعْدٍ كَانَ خَيْرًا مِنْ قَبْلٍ وَ سُمِّيَتِ الظُّرُوْفُ الْمَقْطُوْعَةُ عَنِ الْاِضَافَةِ غَايَاتٍ
تنوين نه لکه رب بعد كان خيرا من قبل او ظروف مقطوع عن الاضافة ته نوم دغايات ورکړل شو ځکه
غَايَةَ الْكَلَامِ كَانَتْ هَا اُضِيْفَتْ هِيَ اِلَيْهِ فَلَمَّا حُذِفَ صِرْنَ غَايَتْ
غايه د کلام ها وه چې اضافت يې وکړې شو دې ته نو چې کله هغه ها حذف شوه نو دا آخري وګرځيدل
يَنْتَهِي بِهَا الْكَلَامُ وَ اِنَّمَا بُنِيَتْ لِتَضَمُّنِ مَعْنَى حَرْفِ الْاِضَافَةِ وَ شِبْهِهَا
چې ختم شو په دوي سره کلام او مبني ځکه شو چې متضمن دي معنی د حرف اضافت لره او يا مشابه دي
بِالْحُرُوْفِ فِي الْاِحْتِيَاجِ اِلَى الْمُضَافِ اِلَيْهِ وَ اُخْتِيْرَ الضَّمُّ لِجَبْرِ النُّقْصَانِ كَقَبْلُ وَ
د حرف سره په احتياج کې مضاف اليه ته او ضمه ورته غوره شوه دپاره دجبيرې دنقصان لکه قبل او
بَعْدُ وَ مَا اَشْبَهَهُمَا مِنَ الظُّرُوْفِ الْمَسْمُوْعِ قَطْعُهَا عَنِ الْاِضَافَةِ
بعد او کوم چې ددوي سره مشابه وي دهغه ظروفو نه چې دعربو نه دهغوي انقطاع عن الاضافة اوريدل
مِثْلُ تَحْتِ وَ فَوْقِ وَ قُدَّامِ وَ خَلْفِ وَ وَرَاءَ وَ لَا يُقَاسُ عَلَيْهَا مَا بِمَعْنَاهَا
شوي وي لکه تحت، فوق، قدام، خلف او وراء او په دوي نه شي قياس کولې هغه چې هغه په معنی ددې کې
وَ يَجُوْزُ فِي الظُّرُوْفِ عَلٰى قِلَّةٍ اَنْ يُعَوَّضَ التَّنْوِيْنَ مِنَ الْمُضَافِ اِلَيْهِ
دي او جائز دي په دې ظروفو کې سره دکموالي نه چې په عوض کې راوړل شي تنوين دمضاف اليه نه

فَتَعرِبَ قَالَ الشَّاعِرُ: شِعر فَسَاغَ لِيَ الشَّرَابُ وَ كُنتُ قَبلًا اَكَادُ غَصُّ بِالْمَاءِ الْفُرَاتِ فَلَا فَرقَ بَيْنَ
نو بيا به معرب شي شاعر وايي فساغ لي الشراب وكنت قبلا اكاد اغص بالماء الفرات نو نه وو فرق ماته په مينځ د
مَا اَعرَبَ مِنْ هٰذِهِ الظُّرُوْفِ الْمَقطُوْعَةِ وَ بَيْنَ مَا بُنِيَ مِنْهَا وَ قَالَ بَعْضُهُمْ
هغه کې چې اعراب ورکړل شوي دي ظروفو مقطوعو ته او په مينځ د هغې کې چې مبني شي بعضو ويلي
بَلْ اِنَّمَا اُعْرِبَتْ لِعَدَمِ تَضَمُّنِهَا مَعْنَى الْاِضَافَةِ فَمَعْنٰى كُنْتُ قَبْلًا اَىْ قَدِيْمًا وَ قَالَ الشَّارِحُ الرَّضِيُّ
اعراب ځکه ورکړل شو چې دا متضمن نه وو معنى د اضافت لره نو معنى د کنت قبلا قديما ده شارح رضي وايي
وَ الْاَوَّلُ هُوَ الْحَقُّ وَ اُجْرِىَ مَجْرَاهُ اَىْ مَجْرَى الظَّرْفِ الْمَقْطُوْعِ عَنِ الْاِضَافَةِ لَا غَيْرُ وَ لَيْسَ غَيْرُ فِيْ حَذْفِ
اول مذهب حق دي او جاري وي په مجرى د ظروفو مقطوعة عن الاضافت کې نه غير او نه ده غير په حذف
الْمُضَافِ اِلَيْهِ وَ الْبِنَاءُ عَلَى الضَّمِّ وَ اِنْ لَمْ يَكُنْ غَيْرُ مِنَ الظُّرُوْفِ لِشِبْهِهِ
د مضاف اليه او په مبني کيدو د هغې په ضمه اګر که نه ده غير د ظروفو نه ځکه چې دا مشابهت لري د
بِالْغَايَاتِ لِشِدَّةِ الْاِبْهَامِ الَّذِيْ فِيْهِ كَمَا فِيْهَا وَلَا يُحْذَفُ
غاياتو سره د وجې د شدت ابهام نه کوم چې په دې کې دي لکه څنګه چې په غاياتو کې دي او نه حذف کيږي
مِنْهُ الْمُضَافُ اِلَيْهِ اِلَّا بَعْدَ لَا وَ لَيْسَ نَحْوُ اِفْعَلْ هٰذَا لَا غَيْرُ وَ جَاءَنِيْ زَيْدٌ لَيْسَ غَيْرُ لِكَثْرَةِ اِسْتِعْمَالِ غَيْرُ
د دې نه مضاف مګر وروستو د لا او ليس نه لکه افعل هذا لا غير و جاءني زيد ليس غير د وجې د زيات استعمال د
بَعْدَهُمَا وَ كَذٰلِكَ اُجْرِىَ مَجْرَى الظَّرْفِ حَسْبُ لِشِبْهِهَا بِغَيْرِ
غير نه وروستو د دوي نه او همدارنګې جاري کيږي په مجرى د ظرف حسب ځکه چې دا مشابه ده د غير سره
فِيْ كَثْرَةِ الْاِسْتِعْمَالِ وَ عَدَمِ تَعَرُّفِهَا بِالْاِضَافَةِ.
په کثرت استعمال سره او په عدم کثرت د دې سره په اضافت سره او محذوف منويه.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره د ظروفو تعريف او تفصيل بيانوي .

اغراض دجامي: الظروف: کله چې فارغ شو ماتن د تفصيل د اووه قسمونو د اسم مبني نه، نو شروع يې وکړه په تفصيل د اتم قسم د اسم مبني کې چې بعضې ظروف دي .

دوه سوالات رامخې ته شو .

اول سوال: نفس تفصيل ولې کوي؟

جواب: نفس تفصيل ځکه کوي چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

دوهم سوال: تفصيل په دې مقام کې ولې کوي؟

جواب : دا چې ظروف تفصیل ته محتاج دي او تفصیل یې نه دی شوی. تفصیل په دې مقام کې ځکه کوي، چې اجمال کې په دې مقام کې ذکر وو او اجمال کې ځکه وروستو ذکر وو، چې دا بعضې ظروف په منزله د مرکب او هغه نور په منزله د مفرد دي، او عین مفرد په طبع کې په عین مرکب مقدم وي، نو کوم چې په منزله د مفرد وي، هغه مو هم مقدم کړو او په منزله د مرکب مو وروستو کړو، تفصیل داسې کوي چې اول به هغه ظروف ذکر کړي، چې بنآء په کې واجب ده، بیا هغه چې بنآء په کې جائزده.

اي الظروف المعدوة: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا ظروف به غیر د هغه نه وي، چې اجمال کې ذکر دي، دا خو خلاف د تفصیل راغا د اجمال نه؟

جواب: دا الف لام عهدي دي مراد په دې ظروفو سره عین د اجمال هغه مراد دی، نو خلاف نشته.

المعبرعنها الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال : دا تفصیل دې د اجمال نه خلاف دی کنه، ځکه اجمال کې لفظ د بعض الظروف دی او دلته الظروف ذکر دي؟

جواب: چونکه د دې نه تعبیر د مباحث مذکوره په دې برخه کې، اول به پنځلس، قسمه د مبني ذکر کړي، او بیا به هغه ظروف ذکر کړي، چې بنآء په کې جائزده.

اي من تلك الظروف: غرض د شاح د هاء ضمیر مرجع تعیین کول دي او چونکه د دې مرجع هغه بعید بعض الظروف د اجمال والاوه، نو اسم اشاره د بعید یې راوړه.

ما قطع عن الاضافة: د دې قسم نوم یې ذکر کړو، چې اسمآء مقطوع عن الاضافة دي، دا یې اول نوم دی.

اي ظرف: غرض شارح یو خو د ما ابهام دفع کوي، او دوهم اشاره کول دي. ما موصوله نه ده، بلکې موصوفه ده.

سوال : په کار وه چې ظرف سره مصنف تعیین نه وی کړی، نو دا ما به په عموم پاتې شوې وه، نو هغه ملحقاتو ته به هم شامل شوې وه، ځکه هغه خو ظروف نه دي؟

جواب: دا منها ضمير ظروفو ته راجع دی او من د تبعيض دی.

بحذف المضاف اليه: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال : اضافت خو نسبت دی، په مينځ د مضاف او مضاف اليه کې او ددې قطع خو وسع د متکلم کې نه ده، نو د قطع نسبت ورته څنګه کېږي؟

جواب: بالذات ددې قطع مقدور نه ده، ليکن بالواسطه ددې قطع مقدوره ده او هغه دا چې مضاف اليه قطع کړې، نو دا نسبت به خپله قطع شي.

عن اللفظ الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال :حذف خو عبارت دی د اسقاط د لفظ او نيت دواړو نه، او دلته خو مضاف اليه په نيت کې وي؟

جواب: مونږ وايو، چې د لفظ نه به حذف وي نه که د نيت نه، **عن المراد من الحذف منها هو التقدير**.

فان عند نسيانه: د عن اللفظ دون النية قيد فائده ذکر کوي، مقصد دا دی، چې د ظروف مقطوع عن الاضافة دپاره څلور احوال دي. مضاف اليه ذکر کوي، مضاف اليه حذف وي نسياً منسياً، مضاف اليه حذف وي او په عوض کې تنوين راوړې شوی وي، مضاف اليه حذف وي په حذف منوي سره. اول درې قسمه معرب او څلورم مبني دی، چونکه دا نور قسمونه معرب وو، څکه مونږ دا قيد ولګوو، چې عن اللفظ دون النية، بيا شارح دې عبارت سره ددې د هغه معرب احوالو ته صرف دريم حالت به طور مثال ذکر کړی دی.

بيا ددې په دې مثال باندې يو سوال دی:

سوال : ته وايې چې د دريم قسم مضاف اليه نسياً منسياً حذف کېږي، او بل طرف ته نه وايې چې دا لازم الاضافة دی دا خو تناقض راغلو؟

جواب: کله چې ددې مضاف اليه نسياً منسياً حذف شي دې صورت کې دا د ظرفيت نه خارج شي محض اسماء شو، لکه مثال مذکور اصل داسې دی، **رب متاخرٍ کان خيراً من متقدمٍ** بيا ددې عبارت نه وجه تسميه د اول نوم هم ښکاره شوه، چې دې ته **مقطوع عن الاضافة** څکه وايي، چې ددې مضاف اليه په لفظ کې کټ شوی وي، او په نيت کې وي.

وسميت الخ: غرض د شارح ددې قسم ظروفو دوهم نوم ذکر کول دي، چې دې ته غايات هم وايي.

سوال: دا چې مونږ خو اورېدلي دي، چې اول قسم ددې ظروفو خو غايات دی؟

جواب: دا دواړه يو شی دي.

لان غاية الكلام الخ: يعنې دې ته غايات ځکه وايي، چې انتها د کلام په دې کېږي.

سوال: انتها د کلام خو په مضاف اليه کېږي؟

جواب: دې ته کلام په اعتبار د قصد د متکلم سره وايو. متکلم چې کلام د مضاف او مضاف اليه ذکر کړي، نو دې لره به مسند ګرځوي او يا مسند اليه، دا کلام دې ته په لغوي معنی ما يتكلم به سره وويلی شوی دی.

وانما بنيت الخ: غرض د شارح وجه د بنآء ذکر کول دي، يعنې دا ظروف مقطوع عن الاضافة متضمن دي. هغه مضاف اليه لره چې هغه مضاف اليه متضمن دي، معنی د حرف اضافت لره چې من ، فی لام دی.

سوال: کله چې دا حرف لره متضمن شو، نو متضمن او تقدير خو يو شی دي، نو په غلام زيد کې هم لا مقدر دی، هغې زيد ته ولې مبني نه وايي؟

جواب: تقدير او تضمن کې فرق دی، هلته حرف جر مقدر دی، او دلته د فحوای د کلام نه معلومېږي.

و شبيها بالحرف: غرض د شارح دوهم دليل د بنآء ذکر کړل دي، او هغه دا چې دا اسمآء مضاف اليه ته محتاج دي، نو د حروفو سره يې په احتياج کې مس بهت راغلو.

سوال: په کار داده، چې ټول اسمآء مضافه دې مبني شي، ځکه مضاف اليه ته محتاج دی؟

جواب: ټول اسمآء مضافه مضاف اليه ته محتاج دي، ليکن دلته يو بل دليل د اعراب معارض واقع شوې دی، چې اضافت دي او قانون دادی، چې اذا تعارضا الدليلان تساقطا، بيا مونږ اصل ته لاړو، او اصل په اسماوو کې اعراب دی، نو ددې وجې نه دغه اسمآء مضافه معرب شو، دوهمه وجه داده، چې په اسماء مضافه کې يو طريقې سره احتياج دی، چې نفس

احتیاج الی المضاف الیه دی، او په ظروفو کې دوه احتیاجه دي، یو نفس احتیاج مضافه الیه ته او دوهم ذکر د مضاف الیه ته.

واختیر الضمة الخ: دلته دوه سوالات راغلل.

اول سوال: مبني په حرکت ولې دي؟

جواب: چې معلوم شي چې دابناء عارضي دی.

دوهم سوال: حرکت د ضمه ولې دي؟

جواب: چې په حذف د مضاف الیه سره دې ته نقصان رسېدلی دی، نو چې د هغه نقصان جبیره وشي، ځکه جبیره قویه ضمه ده.

کقبل و بعد: غرض د ماتن تعیین د هغه ظروف کول دي، چې مقطوع عن الاضافة وي، او هغه قبل بعد او همدارنګې نور هغه اسماء دي، چې د هغې سمع د عربو نه په دې شان سره شوې وي، چې مقطوع عن الاضافة وي، لکه تحت، فوق، قدام، خلف، ورآء شو.

ولا یقاس الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: هغه اسماء ددې مذکور په معنی دي، لکه اسفل، اول، امام وغیره، نو دا پرې هم قیاس کړه کنه، حالانکه هغې ته خو خلك مبني نه وایي؟

جواب: حاصل دادی، چې کوم حکم چې خلاف القیاس وارد شي، هغه د خپل مورد پورې خاص وي، نور په هغې نشي قیاس کولی.

ویجوز في هذه الظروف: غرض د شارح حال ددې ظروفو ذکر کول دي په دې ظروفو کې دا هم جائزده، چې مضاف الیه حذف کړی شي او د هغې عوض کې تنوین راوړی شي.

علی قلة: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا قسم خو مونږ نه دي اورېدلي؟

جواب: چونکه دا قلیل الاستعمال دی، ځکه به تا نه وي اورېدلي.

فتعرب: حکم ددې ذکر کوي، چې دا به معرب وي.

قال الشاعر: په دې عبارت سره مثال ذکر کوي چې هغه داشعر د شاعر دي:

فساغ لي الشراب وکنت قبلاً اکاد اغص بالماء الفرات

په دې مثال کې د قبلا مضاف الیه حذف دی او عوض کې تنوین راوړی شوی دی.

فلا فرق: فرق ددې قسم د ما قبل سره ذکر کوي، او هغه دا چې د معنی په اعتبار سره دې دواړو کې څه فرق نشته، ځکه دې صورت کې هم ددې مضاف الیه محذوف منوي وي.

وقال بعضهم: یعنې ځینې خلکو دې صورت کې وجه د اعراب دا ذکر کړې ده، چې دا معنی د اضافت لره متضمن نه دی، نو چې هغه تضمن ختم شو، نو دا معرب شو،:

لمعلی کنت: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: مخکې خو مونږ وویل، چې دا ظروف لازم الاضافة دي، نو ددې مضاف الیه څنګه حذف کولی شي؟

جواب: دې صورت کې به دا په معنی د قدیماً سره وي او قدیم اسم خو لازم الاضافت نه دی.

وقال الشارح: غرض د شارح په نقل د عبارت د شارح رضي سره دفع د دوهم سوال ده:

سوال: کله چې ددې په اعراب کې دوه قوله وو، نو دا دوهم قول دې په بعضهم سره ولې ذکر کړو، او وروستو دې ولې ذکر کړو؟

جواب: شارح رضي فرمایي چې اول قول حق دی، ددې وجې نه هغه مونږ مخکې ذکر کړو.

واجري مجراه: غرض د ماتن ملحقات د ظروفو ذکر کول دي.

ای مجری الظرف الخ: غرض د شارح په خپل عبارت سره د ضمیر مرجع متعین کول دي.

لا غیر ولیس غیر: غرض د ماتن خو د ملحقاتو د ظروفو تعین کول دي.

سوال: حکم ددې څه دی؟

جواب: په فی هذه المضاف سره حکم ذکر کوي، حکم یې دا دی، چې ددې مضاف الیه به حذف وي او دا به مبني په ضمه سره وي.

سوال: دې ته عین ظروف ولې نه راځي؟

جواب: عین ظروف ورته ځکه نه وایو چې دا په هغې کې نشته.

سوال: مشابه د ظروفو ورته ولې وایي؟

جواب: مشابه د ظروفو ورته ځکه وایو، چې دا په ابهام کې د ظروفو سره مشابه دي او هغه

داسې چې مونږ ويلي دي، چې د يو اسم په طرف د معرفې باندې اضافت وشي، نو دا تعريف کسب کوي او غير د وجې د توغل في الابهام نه تعريف نه کسب کوي، او ظروفو کې ابهام داسې دی، چې قبل ما يواجهك الى ما لانهاية الخ ته وايي او بعد ما يباعلك الى ما لا نهاية له ته وايي.

سوال: د لا او ليس سره ولې خاص شو؟

جواب: ددې غير د لا او ليس سره تخصيص ځکه وشو، چې ددې دواړو نه وروستو ددې استعمال کثير دی او کثرت استعمال تقاضا د خفت کوي، او خفت دې کې دی چې ددې مضاف اليه حذف شي.

سوال: مثال يې څه دی؟

جواب: جاءني زيد ليس غير سره مثال ددې ذکر کوي.

لشبهها الخ: غرض د شارح ددې حسب دپاره وجه د بنآء ذکر کول دي، چې دا د غير سره مشابه دی يو خو په کثرت استعمال کې او دوهم چې دې کې هم دومره ابهام دی، چې که معرفې ته اضافت وشي، بيا هم تعريف نه قبلوي، اوس لا غير خو مبني برضمه وو، نو دا به هم مبني بر ضمه وي.

بيان د حيث او حكم ددې:

وَ مِنْهَا اَیْ مِنَ الظُّرُوْفِ الْمَبْنِيَّةِ حَيْثُ لِلْمَكَانِ وَ قَالَ الْاَخْفَشُ قَدْ تُسْتَعْمَلُ لِلزَّمَانِ وَلَا
اوبعضې ددې نه يعني د ظروفو مبنيونه حيث دی دپاره د مکان اخفش وايي د زمان دپاره هم راځي او نه
تُضَافُ اِلَّا اِلٰى جُمْلَةٍ اِسْمِيَّةٍ كَانَتْ اَوْ فِعْلِيَّةٍ فِي الْاَكْثَرِ اَیْ فِیْ اَكْثَرِ الْاِسْتِعْمَالَاتِ وَ قَدْ جَاءَ ع اَمَا
مضاف کيږي مګر جملې ته اسميه وي او که فعليه په اکثرو استعمالاتو کې او کله داسې راځي لکه شعر آيا
تَرٰی حَيْثُ سُهَيْلٌ طَالِعًا فَحَيْثُ فِيْهِ مُضَافًا اِلٰى مُفْرَدٍ وَ هُوَ سُهَيْلٌ
ته نه ګوري هغه ځای ته د کوم ځای نه چې سهيل راخيژي نو حيث په دې کې مضاف ده مفرد ته چې هغه سهيل
مَفْعُوْلُ تَرٰی اَیْ اَمَا تَرٰی مَكَانَ سُهَيْلٍ طَالِعًا آخِرُهٗ ع نَجْمٌ يُضِيْئُ
مفعول د ترى دي معنى دا چې اما ترى مكان سهيل طالعا آخر د شعر دا دې ستوري دي چې پرقيږي په شان د
كَالشِّهَابِ سَاطِعًا وَ اِنَّمَا بُنِيَتْ عَلَى الضَّمِّ كَالْغَايَاتِ لِاَنَّهَا غَالِبَةُ الْاِضَافَةِ اِلَى الْجُمْلَةِ
شغلې چې کله روښانه شي او مبني په ضمې شوه په شان د غايا تو ځکه چې دا غالبا اضافت يې جملې ته کيږي

وَ الْمُضَافِ اِلَى الْجُمْلَةِ فِي الْحَقِيْقَةِ مُضَافٌ اِلَى الْمَصْدَرِ الَّذِيْ تَضَمَّنَهُ الْجُمْلَةُ فَهِيَ وَ اِنْ كَانَتْ فِي
اومضاف جملې ته په حقیقت کې مضاف وي مصدر ته هغه مصدر چې متضمن وي جملې لره نو دا اګر که په
الظَّاهِرِ مُضَافَةً اِلَى الْجُمْلَةِ فَاَضَافَتُهَا اِلَيْهَا كَلاَ اِضَافَةٍ فَشَابَهَتِ الْغَايَاتُ
ظاهر کې مضاف دي جملې ته نو اضافت یې جملې ته دواړه اضافته شول نو مشابهت یې د غایاتو سره
الْمَحْذُوْفُ مَا اُضِيْفَ اِلَيْهِ فَبُنِيَتْ عَلَى الضَّمِّ مِثْلَهَا وَ مَعَ الْاِضَافَةِ اِلَى الْمُفْرَدِ
راغلو کوم چې محذوف مضاف الیه دي نو د هغوي غوندې مبني بر ضمه شول او سره د اضافت نه مفرد ته
يُعْرِبُهَا بَعْضُهُمْ لِزَوَالِ عِلَّةِ الْبِنَاءِ اَیْ الْاِضَافَةِ الَّتِيْ اِلَى الْجُمْلَةِ وَ الْاَشْهَرُ بَقَاؤُهَا
اعراب ورکړې بعض د وجې د زائل کیدو د علت ابنا چې هغه اضافت دي جملې ته او مشهوره یې بقاء ده
عَلَى بِنَائِهَا لِشُذُوْذِ الْاِضَافَةِ اِلَى الْمُفْرَدِ.
په مبني والي باندې د وجې د شاذ کیدو د اضافت نه مفرد ته.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره بیان د حیث او حکم د حیث بیانوي.

اغراض دجامي : ومنها: کله چې فارغ شو ماتن د اول قسم د ظروف مبنیه نه، نو شروع یې وکړه په تفصیل د دوهم قسم د دې کې.

نفس تفصیل ښکه کوي، چې تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وي.

تفصیل په دې مقام کې ښکه کوي، چې د اسم په ذهن د ماتن کې په نسبت سره ما قبل ته قلیل او په نسبت سره ما بعد ته کثیر الاستعمال دی.

تفصیل داسې کوي، چې تعیین د دې قسم به وکړي او طریقه د استعمال به ذکر کړي.

منها حیث : شارح وایي.

ای من الظروف : غرض د شارح د ضمیر مرجع متعین کول دي.

للمکان : دا دپاره د مکان راځي، ځینو ویلي دي، چې د زمان دپاره هم مستعملیږي، لکه **اجلس حیث زید جالس** کله چې حیث په معنی د زمانې شي، لیکن **قد** په فعل مضارع مجهوله داخل شوی دی. اشاره ده، چې دا معنی قلیل مستعملیږي.

ولا تضاف الخ : یعنې د دې اضافت په اکثر استعمالاتو کې جملې ته کیږي، هغه که جمله اسمیه وي لکه **اجلس حیث زیدٌ جالسٌ** او که جمله فعلیه وي. لکه **فاقتلوا المشرکین حیث وجدتموهم**.

في اکثر الاستعمال : غرض د شارح دفع د وهم ده :

وهم: چا به ویل چې د اکثر نه به مراد دا وي، چې په مذهب د اکثرو باندې حالانکه دې کې خو اختلاف نشته؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې اکثر استعمالات مراد دي.

وقد جآء الخ: غرض د شارح د اکثر قید فائده ذکر کول دي، او هغه دا چې کلمه دا په اضافت سره مفرد ته هم مستعمل شوی دی، لکه شاعر وايي:

اما ترىٰ حيث سُهيلٍ طالعًا نجم يضئ كالشهاب ثاقبًا

مقصد د شعر دادی: چې شاعر وايي، ته ګورې نه چې سهیل ستوری په حال کې راختی دی، چې رڼا کوي په شان د هغه شعله چې پرق وهونکې وي، ددې ستورې متعلق د عربو دا عقیده وه، چې په دې کې دا اثر دی، چې دې سره دا کیږې مکوړې او ګندونه ختمیږي.

او متنبي هم ددې استعمال کړی دی، هغه دخپل مقابل ذم کوي، نو داسې وايي:

اتنكر موتهم وانا سهيلٌ طلعت بموت اولاد الزواني

یعني زه سهیل ستاره یم او د زنایانو په اولاد باندې د مرګ دپاره راختی یم، نو آیا ته د دوی د مرګ نه انکار کوې.

په هر حال په دې مثال کې د حیث اضافت سهیل ته شوی دی او هغه مفرد دی.

وانما بنيت الخ: دلته هم درې سوالات واردیږي:

سوال: چې دا حیث نفس مبني ولې دی؟

جواب: نفس مبني خو ځکه شو چې په غالب اوقاتو کې ددې اضافت جملې ته کیږي او جمله من حيث الجملة مضاف الیه نه واقع کیږي، بلکې مضمون د جملې مضاف الیه واقع کیږي او هغه مضمون د جملې مصدر محذوف وي، چې ته یې راوکاږې اوس چې کلمه دې کې مصدر محذوفه راویستو ته احتیاج راغلو، نو ددې وجې نه دا مبني شو.

سوال: مبني په حرکت ولې دی؟

جواب: مبني په حرکت ځکه شو، چې معلوم شي چې بنآء ددې عارضي ده.

سوال: په حرکت د ضمه سره ولې دی؟

جواب: حرکت د ضمې ځکه ورکړی شو، چې دا جبیره قویه ده.

مع الاضافة الخ: دا یوه بله مسئله ذکر کوي، هغه دا چې کله ددې اضافت مفرد ته وشي. نو دا به مبني وي او که معرب؟ نو ځینو ویلي دي، چې دا به معرب وي ځکه هغه علت د بنآء ختم شو او ځینو ویلي دي. چې دا به مبني طرداً للباب، ځکه اضافت ددې مفرد ته هغه قلیل دی او قلیل په منزله د عدم وي، نو دا به هم مبني کړو، چې حکم د باب مختلف نه شي.

بیان د اذا او حکم ددې :

وَ مِنْهَا اَیْ مِنَ الظُّرُوْفِ الْمَبْنِیَّةِ اِذَا زَمَانِیَّةً کَانَتْ اَوْ مَکَانِیَّةً وَ اِنَّمَا بُنِیَتْ لِمَا ذَکَرْنَا فِیْ
او ظروفو مبنیونه اذا هم دي زماني وي او که مکاني او وجه دبنایې هغه ده کومه چې مونږ ذکر کړه په
حَیْثُ وَ هِیَ اِذَا کَانَتْ زَمَانِیَّةً لِلْمُسْتَقْبَلِ اَیْ لِلزَّمَانِ الْمُسْتَقْبَلِ وَ اِنْ کَانَتْ دَاخِلَةً
بحث د حیث کې او دا چې کله زماني وي راځي د پاره د مستقبل یعنې د زماني مستقبلې د پاره اګر که داخله
عَلَی الْمَاضِیْ وَ ذٰلِکَ لِاَنَّ الْاَصْلَ فِیْ اِسْتِعْمَالِهَا اَنْ تَکُوْنَ لِزَمَانٍ مِنْ اَزْمِنَةِ
وي په ماضي باندې او دا ځکه چې اصل په استعمال ددې کې دا دې چې وي به د زماني د پاره د زمانود
الْمُسْتَقْبَلِ مُخْتَصٍّ مِنْ بَیْنِهَا بِوُقُوْعِ حَدَثٍ فِیْهِ مَقْطُوْعٍ
مستقبل نه چې خاص شوې وي د مینځ د هغې نه په وقوع د حدث سره په هغې کې او مقطوع به وي په
بِوُقُوْعِهٖ فِیْ اِعْتِقَادِ الْمُتَکَلِّمِ وَ الدَّلِیْلُ عَلَیْهِ اِسْتِعْمَالُهَا فِی الْاَغْلَبِ الْاَکْثَرِ فِیْ هٰذَا
واقع کیدو د هغې په اعتقاد د متکلم کې او دلیل په دې استعمال دا زا دې په اغلب او اکثر کې په دې
الْمَعْنٰی نَحْوُ اِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ وَ قَوْلُهٗ تَعَالٰی اِذَا الشَّمْسُ کُوِّرَتْ وَ لِهٰذَا کَثُرَ فِی الْکِتَابِ الْعَزِیْزِ
معنی لکه اذا طلعت الشمس او دا قول د الله تعالی اذا الشمس کورت او ددې وجې زیات دي په کتاب الله کې
اِسْتِعْمَالُهَا لِقَطْعِ عَلَّامِ الْغُیُوْبِ بِالْاُمُوْرِ الْمُتَوَقِّعَةِ وَ قَدِ اسْتُعْمِلَتْ فِی الْمَاضِیْ
استعمال ددې ځکه چې علم د الله تعالی په امور متوقعه قطعي دي او کله استعمالیږي په ماضي کې
کَمَا فِیْ قَوْلِهٖ تَعَالٰی حَتّٰی اِذَا بَلَغَ بَیْنَ السَّدَّیْنِ وَ حَتّٰی اِذَا سَاوٰی بَیْنَ الصَّدَفَیْنِ وَ حَتّٰی اِذَا جَعَلَهٗ نَارًا وَ فِیْهَا
لکه په دې قول د الله تعالی کې حتی اذا بلغ بین السدین وحتی اذا ساوی بین الصدفین وحتی اذا جعله نارا او په
اَیْ فِیْ اِذَا مَعْنَی الشَّرْطِ وَ هُوَ تَرَتُّبُ مَضْمُوْنِ جُمْلَةٍ اُخْرٰی فَتَضَمَّنَتْ
دې یعنې په اذا کې معنی د شرط ده او دا شرط ترتب د مضمون د یوې جملې دې پر بلې باندې نو متضمنه
حَرْفَ الشَّرْطِ فَهٰذَا عِلَّةٌ اُخْرٰی لِبِنَائِهَا وَ لِذٰلِکَ اَیْ لِکَوْنِ مَعْنَی الشَّرْطِ فِیْهَا
شوه حرف شرط لره نو دا یې بل علت شو د پاره د مبني والي او د وجې د کیدو معنی د شرط په دې کې

أُخْتِيْرَ	اَیْ	جُعِلَ	مُخْتَارًا	بَعْدَهَا	الْفِعْلُ	لِمُنَاسَبَةِ	الْفِعْلِ	الشَّرْطِ	وَ	جُوِّزَ
غوره شوه يعني وګرځولې شوغوره پس ددې نه فعل دمناسپت دفعل نه دشرط سره اوجوازورکړل شو										
الْاِسْمُ	اَیْضًا	عَلَى	الْوَجْهِ	الْغَيْرِ	الْمُخْتَارِ	لِعَدَمِ	تَأَصُّلِهَا	فِي الشَّرْطِ	مِثْلُ	اِنْ وَ لَوْ.
اسم ته هم په وجه غيرمختاره باندې دوجې دنشتوالي دمواصلت يې دشرط سره په شان دان او لو.										

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره شارح دظروفو مبنيو د دريم قسم بيان کوي چې هغه اذا دي.

اغراض دجامي : ومنها: کله چې فارغ شو د دوه اقسامو د ظروف مبنيه نه، نو شروع يې وکړه په تفصيل د دريم قسم ددې کې.

نفس تفصيل ښکه کوي، چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

تفصيل په دې مقام کې ښکه کوي، چې دا قسم په ذهن د مصنف کې په نسبت سره ما قبل ته قليل او په نسبت سره ما بعد ته کثير وو .

او تفصيل داسې کوي، چې ددې قسم تعيين به وکړي، دوهم ددې اقسام به ذکر کړي، او دريم طريقه د استعمال به ذکر کړي .

ومنها اذا : يعني ددې ظروف مبنيه نه اذا هم دی.

ای من الظروف المبنية : غرض د شارح د هآء ضمير مرجع متعين کول دي.

زمانية الخ : اقسام ددې اذا درې دي: اذا ظرفي هم راځي، چې د زمان او مکان دواړو د پاره راځي. اذا شرطي هم راځي. اذا مفاجاتي هم راځي.

وهي المستقبل : غرض د ماتن ددې اذا معنی ذکر کول دي، نو وايي چې دا دپاره د مستقبل راځي . د ايې اوله معنی ده.

اذا کانت زمانية : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : ستا کلام کې مخکې معلوم شو، چې اذا زماني او مکاني دواړه راځي، او اوس وايې چې صرف مستقبل دپاره راځي؟

جواب: مونږ وايو دا هغه صورت دی، چې اذا زماني وي، نو بيا دا دپاره د مستقبل راځي.

للزمان المستقبل : چونکه المستقبل صفت وو، نو د هغې دپاره يې موصوف محذوف راويستو.

وان كانت :په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال :ته وايې چې دا د مستقبل دپاره راځي، حالانكه دا خو په ماضي هم داخلېږي؟

جواب: كه په ماضي هم داخله شي، بيا هم معنى د مستقبل وركوي.

وذلك لان الاصل الخ: غرض د شارح د اذا د ان سره فرق ذكر كول دي او معنى كلى ددې ذكر كوي، حاصل د هغې دادى، چې اصل په اذا كې داده، چې دا دپاره د زمانې مستقبلې راځي د يو داسې كار دپاره چې د هغې وقوع په اعتقاد د متكلم كې قطعي وي، اګر كه په نفس الامر كې داسې نه وي. په خلاف د ان كې چې دا د مستقبل د كار دپاره راځي، خو په طريقه د تردد سره.

والدليل الخ: غرض د شارح ددغه معنى كلى دپاره نقلي دليل پيش كول دي، لكه يو سړى روايي. انا آتيك اذا طلعت الشمس اوس دا طلوع شمس د مستقبل سره تعلق ساتي، او په اعتقاد د متكلم كې ددې طلوع قطعي ده، اګر كه په نفس الامر كې په ده باندې طلوع د شمس ونه شي، دغه شان په قرآنكريم كې راځي: اذاالشمس كورت، نو دلته هم د استقابل معنى ده او وقوع ددغه حدث قطعي ده.

سوال :ستا په كلام كې دور دى، ځكه مخكې دعوى كې هم استعمالها دى، او دليل كې هم استعمالها دى؟

جواب: دې دواړو كې فـرق دى اول استعمال د واضعينو مراد دى، او دوهم د اهل لغت استعمال مراد دى.

وقد استعملت الخ: غرض د شارح ددې اغلب اكثر قيد فايده ذكر كول دي، چې كله كله په ماضي داخل شي او معنى هم د ماضي وركوي: لكه اذا بلغ مغرب الشمس.

وفيها معنى الشرط: غرض د ماتن د اذا دوهم قسم ذكر كول دي، چې كله اذا شرطي هم راځي.

اى في اذا: غرض د شارح په دې عبارت سره د هآء ضمير مرجع متعين كول دي.

وهو ترتيب الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال :چا به ويل چې شرط خو په معنى د علامه سره راځي، لكه ان من اشراط الساعة الخ په دې صورت كې وروستو تفريع د لذلك نه صحيح كېږي؟

جواب: دلته د شرط معنی ده ترتيب د مضمون د جملې جزائيه په جمله شرطيه باندې لهذا وروستو تفريع صحيح ده.

فتضمنت الخ: په دې صورت کې به دا معنی د حرف شرط لره متضمن شي، دا دې دپاره بله وجه دبنآء شوه، او کوم صورتونو کې چې معنی د شرط لره متضمن نه وي، نو هغه صورتونه حمل دي په دې باندې طردًا للباب، چې حکم د باب مختلف نه شي.

ولذلك اختير الخ: غرض د ماتن طريقه د استعمال ذکر کول دي، چې د دې نه وروستو د فعل راتلل مختاره دي.

لكون معنى الشرط فيها: غرض د شارح د اسم اشاره مشارٌ اليه متعين کول دي، بيا صرف لمعنى الشرط هم کافي کېدو، ليکن کون مصدر راويستو کې د فيها جار مجرور دپاره متعلق هم ذکر شو.

اى جعل مختاره: غرض د شارح دفع د وهم ده:

وهم: چا به ويل چې اختير به په معنی د اريد سره وي، په دې صورت کې به فعل راوړل لازم شي، حالانکه خبره خو داسې نه ده؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا په معنی د مختار سره دی.

وَ قَدْ تَكُوْنُ اَیْ اِذَا لِلْمُفَاجَاَةِ مُجَرَّدَةٍ عَنْ مَعْنَى الشَّرْطِ يُقَالُ فَاَجَاءَ الْاَمْرُ مُفَاجَاَةً مِنْ قَوْلِهِمْ
اوکله وي اذا دپاره دمناجات چې خالي وي دمعنی دشرط نه ويل کيږي فجاء الامر مفاجاة د دې قول نه
فَجِئْتُهُ فُجَاءَةً بِالضَّمِّ وَ الْمَدِّ اِذَا لَقِيْتَهُ وَ اَنْتَ لَا تَشْعُرُ بِهِ فَيَلْزَمَ
فجئته فجاءة په ضمې سره اومد سره کله چې ته ورسره ملاقي شي اوورباندې پوه نه شي نو دغه وخت لازم
الْمُبْتَدَاُ بَعْدَهَا فَرْقًا بَيْنَ اِذَا هٰذِهٖ وَ بَيْنَ اِذَا الشَّرْطِيَّةِ وَ الْمُرَادُ بِلُزُوْمِ الْمُبْتَدَاِ
ده مبتدا وروسته د دې نه دپاره دفرق په مينځ د اذا او په مينځ د اذا شرطيه کې او مراد په لزوم د مبتدا سره
غَلَبَةُ وُقُوْعِهٖ بَعْدَهَا فَلَا يُنَافِيْ مَا سَبَقَ مِنْ عَدَمِ وُجُوْبِ الرَّفْعِ بَعْدَهَا
غالباً واقع کيدل د مبتدا دي وروستو د دې نه نو منافي نه شو د ماسبق سره عدم وجوب د رفع پس د دې نه
فِيْ بَابِ الْاِضْمَارِ عَلٰی شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ نَحْوَ خَرَجْتُ فَاِذَا السَّبُعُ حَاضِرٌ اَوْ وَاقِفٌ عَلٰی حَذْفِ الْخَبَرِ وَ
په باب د اضمار على شريطة التفسير کې لکه خرجت فاذا السبع اى فاذا السبع حاضر او واقف بناء بر حذفيت خبر او

الْعَامِلُ فِيْ اِذَا هٰذِهٖ مَعْنَى الْمُفَاجَأَةِ وَ هُوَ عَامِلٌ لَا يَظْهَرُ قَدِ اسْتَغْنَوْا

عامل په دغه اذا کي معنی د مفاجات ده او دا داسي عامل دي چي نه ښکاره کيږي نحويانو استغنا ښکاره کړي

عَنْ اِظْهَارِهٖ لِقُوَّةِ مَا فِيْهِ مِنَ الدَّلَالَةِ عَلَيْهِ وَ اَمَّا الْفَاءُ

د اظهار د هغې نه ځکه چي هغه څه په کي ډير قوي دي کوم چي دلالت کوي په دې باندې او هر چي فاء ده نو

فَهِيَ لِلسَّبَبِيَّةِ فَاِنَّ مُفَاجَأَةَ السَّبُعِ مُسَبَّبَةٌ عَنِ الْخُرُوْجِ قِيْلَ وَ الْاَقْرَبُ اِلَى التَّحْقِيْقِ اَنَّهَا

دا د پاره د سببيت ده ځکه چي ناڅاپه سبع را وتل مسبب دي د وتلو نه ويل شوي چي نزدې تحقيق ته دا ده

لِلْعَطْفِ مِنْ جِهَةِ الْمَعْنَى اَيْ خَرَجْتُ فَفَاجَأْتُ وَ حَاصِلُ الْمَعْنَى خَرَجْتُ فَفَاجَأْتُ

چي دا ما د پاره د عطف ده د طرف د هغې نه معنى دا شوه خرجت مفاجات حاصل د هغې دا شو خرجت مفاجات

زَمَانَ وُقُوْفِ السَّبُعِ كَمَا هُوَ مَذْهَبُ الزُّجَاجِ اَنَّ اِذَا هٰذِهٖ زَمَانِيَّةٌ اَوْ مَكَانَ وُقُوْفِ السَّبُعِ كَمَا

زمان وقوف السبع لکه څنګه چي دا مذهب د زجاج دي چي دا اذا زماني ده او يا مکان وقوف السبع لکه څنګه

ذَهَبَ اِلَيْهِ الْمُبَرِّدُ فَاِنَّهَا عِنْدَهٗ مَكَانِيَّةٌ وَ قَوْلُنَا زَمَانَ وُقُوْفِ السَّبُعِ اَوْ مَكَانِهٖ مَفْعُوْلٌ فِيْهِ

چي ذهاب کړي دې ته مبرد ځکه چي دا ده په نزد د امکاني ده او دا اقول زمونږ وقوف السبع او مکانه مفعول فيه

لِفَاجَأْتُ لَا مَفْعُوْلٌ بِهٖ وَ اِلَّا لَمْ تَبْقَ اِذَا ظَرْفِيَّةً بَلْ تَصِيْرُ اِسْمِيَّةً بَلِ الْمَفْعُوْلُ بِهٖ مَحْذُوْفٌ

ده د پاره د فجات نه مفعول به ده ورنه اذا به ظرفي پاتې نه شي بلکه ګرځي اسمي بلکې مفعول به محذوف

اَيْ فَاجَأْتُ فِيْ زَمَانِ وُقُوْفِ السَّبُعِ اَوْ مَكَانِ اِيَّاهُ اَيِ السَّبُعَ وَ قَدْ تَكُوْنُ الْمُجَرَّدُ الزَّمَانَ نَحْوُ آتِيْكَ اِذَا

دي يعني فاجات في زمان وقوف السبع او مکان اياه يعني السبع او کله وي د پاره د مجرد زمان لکه آتيک اذا

اَحْمَرَّ الْبُسْرُ اَيْ وَقْتَ اَحْمَرَّا الْبُسْرِ وَ قَدْ تُسْتَعْمَلُ اِسْمًا مُجَرَّدًا عَنْ مَعْنَى الظَّرْفِيَّةِ فِيْ نَحْوِ اِذَا

احمر البسري يعني وقت احمرار البسر او کله استعماليږي اسم چي خالي وي د معنى د ظرفيت نه لکه اذا

يَقُوْمُ زَيْدٌ اِذَا يَقْعُدُ عَمْرٌو وَ قَدْ سَبَقَتْ اِلَيْهِ اِشَارَةٌ.

يقوم زيد اذا يقعد عمرو دې ته مخکي اشاره کړل شوې وه.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره شارح دا بيانوي چي اذا کله کله مفاجاتي هم راځي نو د دې تفصيل بيانوي.

اغراض دجامي: وقد تکون اى اذا للمفاجاة: غرض د ماتن دريم قسم دا ذکر کول دي، چي کله کله اذا مفاجاتي هم راځي.

مجردة الخ: غرض د شارح د اذا مفاجاتي د اذا شرطي سره تقابل ذکر کول دي.

يقال فاجاء الامر: غرض د شارح اشاره کول دي، چې **مفاجاة** مصدر د باب مفاعله دی.

من قولهم فجئة الخ: غرض د شارح ددې مجرد ذکر کول دي، ځکه د مجرد په تبع کې مزيد راځي.

فجاءة الخ: غرض د شارح ددې مجرد ذکر کول دي، ځکه مجرد په تبع کې مزيد راځي.

بالضم والمد الخ: غرض د شارح ددې معنی ذکر کول دي، کله چې دا په ضمه او مد سره وي. نو معنی ده د يو شي د بل شي سره ملاقي کېدل، بغتةً که په کسره يا فتحه سره وه، او په مد سره نه وو، نو بيا معنی غلطه راځي.

فيلزم المبتداء: غرض د ماتن طريقه د استعمال ددې قسم ذکر کول دي، نو دی وايي چې دې اذا مفاجاتي نه وروستو د مبتداء راتلل لازم دي.

فرقاً الخ: غرض د شارح وجه د اتيان د لزوم المبتداء ذکر کول دي، يعنې دې سره به د اذا شرطي سره فرق راشي، ځکه هلته وروستو فعل راوړل مختاره دي.

والمراد بلزوم المبتداء: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: مخکې په معرب کې په بحث د ما اضمر عامله على شريطة التفسير کې ماتن په دې صورت کې حکم د اختيار الرفع کړی دی، او دلته اوس حکم په لزوم ددفع سره کوي. دا خو تعارض دی؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې مراد په لزوم سره غالب وقوع د دفع ده.

نحو خرجت الخ: غرض د شارح مثال ذکر کول دي، بيا په دې مقام کې ددې مثال په ترکيب کې درې مذاهب دي:

زجاج وايي: چې اذا زماني خبر مقدم دی، او السبع مبتداء مؤخر ده، دا جمله اسميه شوه.

مبرد وايي: چې اذا مکاني خبر مقدم دی او السبع مبتداء مؤخر ده. دا جمله اسميه شوه.

ليکن دا دواړه مذاهب مخدوش دي. اول مذهب خو ځکه مردود دی، چې ظرف زمان د جثې نه خبر نه واقع کېږي، او دوهم مذهب هم مردود دی، ځکه د اذا اګر چې مکاني دی، ليکن خبر ځکه نه دی، چې کله کله ددې خبرې ذکر وي.

شارح په دې دواړو رد وکړو. ليکن خبر ځکه نه دی چې کله کله ددې خبر ذکر وي، شارح په

دې دواړو رد وکړو، او خپل مذهب یې ذکر کړو، چې اذا ظرف مکان مضاف دی، او ما بعد جمله مضاف الیه دی، او جز خذف دی، چې حاضرٌ یا واقفٌ دی.

بیا شارح په زجاج رد وکړو، په دې شان سره چې دا زماني نه دی، او په مبرد یې رد وکړو، په دې شان سره چې مکاني دی لیکن خبر د مبتداء نه دی، بلکې خبر ددې حذف دی.

والعامل الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: د اذا ظرف مضاف دی او حاضرٌ دې کې عامل دی نو دا خو لازم شو عمل د مضاف الیه خبر په مضاف کې او مضاف خو مضاف الیه کې عمل کوي، لیکن مضاف الیه خو چېرته مضاف کې عمل نه کوي؟

جواب: عامل ددې معنوي دی، چې هغه د فحوای د کلام نه معلومېږي، چې معنی د مفاجاة دی.

ولا يظهر الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: هغه عامل ذکر کوي ولې نه؟

جواب: دا اذا په معنی د هغې باندې قوي طریقې سره دلالت کوي، نو ذکر ته یې ضرورت نشته.

و اما الفاء الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: ظاهره داده چې فآء عاطفه ده، نو دا خو لازم شو عطف د جمله اسمیه په جمله فعلیه باندې؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا فآء عاطفه نه ده، بلکې سببیه ده، دا خروج سبب دی او ما بعد وَرلره مسبب دی.

قيل: سره دوهم جواب کوي، حاصل د هغې دادی، چې دا فآء عاطفه وایم لیکن عطف د معنی د جملې دی په ما قبل باندې او هغه معنی ددې مفاجات ده او دا جمله فعلیه ده، نو عطف د جمله فعلیه په فعلیه راغلو.

و حاصل المعنى الخ: غرض د شارح د هر مذهب په بنآء باندې حاصل د معنی ذکر کول دي:

حاصل د معنی په مذهب د زجاج دادی. چې خرجت مفاجات زمان وقوف السبع، وقوف سره

مضمون د جملې ته اشاره وکړه او زمان سره اشاره وکړه، چې اذا زماني دی.
او په مذهب د مبرد به حاصل د معنی داسې وي خرجت مفاجات مكان وقوف السبع

سوال: مبرد خو دا مكان خبر وايي نو وقوف مصدر ول راوكاړي؟

جواب: دا مونږ طردا للباب راويستو.

وقولنا الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: ته چې زمان او مكان معنی واخلې، نو دا به منصوب بنا بر مفعول به وايي، حالانكه دا خو ظروف دي او ظروف مفعول به نه واقع كېږي؟

جواب: دا مونږ مفعول به نه وايو، بلكې مفعول فيه وايو في جار حذف دی.

بل المفعول الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: دا مفاجاة فعل متعدي دی، نو د دې مفعول به څه شی دی؟

جواب: هغه حذف ده چې اياه دی.

وتكون الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: حصر د اقسامو د اذا په دريو كې صحيح نه دی د وجې د وجود د قسم رابع نه، چې خالص ظرفي واقع كېږي لكه انا اتيك اذا احمر البسری؟

جواب: كله كله دغه قسم هم راځي، خو قد په مضارع داخل دی تقليل طرف ته اشاره ده، يعنې دا قسم قليل وو، څكه ماتن ذكر نه كړو.

وقد تستعمل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي:

سوال: حصر د اذا په څلورو اقسامو كې هم صحيح نه دی، د وجې د وجود د قسم خامس نه، چې كله اذا خالص ابتدايي راځي لكه اذا يقوم زيدٌ؟

جواب: چونكه دا قسم هم قليل الاستعمال وو، نو ماتن څكه ذكر نه كړو، او دې قسم طرف ته مخكې اشاره هم شوې ده، او بيا علامه رضي صاحب په دې سوال هم كړی وو، چې دا مصنوعي مثال دی او هلته بيا د دې جواب هم شوی دی.

وَ مِنْهَا اَیْ مِنَ الظُّرُوْفِ الْمَبْنِیَّةِ اِذْ اَلْكَائِنَةُ لِلْمَاضِيْ وَ بِنَاؤُهَا لِمَا مَرَّ فِيْ حَيْثُ اَوْ لِكَوْنِ	
اوظروف مبنيونه اذادې كوم چې وي دپاره دماضي اووجه دبناءيې تيره شوې په حيث كې اويادكيدو	
وَضْعِهَا وَضْعَ الْحَرْفِ وَ قَدْ يَجِيُْ لِلْمُسْتَقْبِلِ كَقَوْلِهِ تَعَالٰى فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ اِذِ الْاَغْلَالُ	
دوضع ددې په شان دحرف اوكله راځي دپاره دمستقبل لكه داقول د الله تعالى فسوف يعلمون اذا الاغلال	
فِيْ اَعْنَاقِهِمْ وَ يَقَعُ بَعْدَهَا الْجُمْلَتَانِ الْاِسْمِيَّةِ وَ الْفِعْلِيَّةِ لِعَدَمِ اِشْتِمَالِهَا عَلٰى مَعْنَى الشَّرْطِ	
في اعناقهم اوواقع كيږي وروسته ترې دوه جملې اسميه اوفعليه ځكه چې دامشتمله نه ده په معنى دشرط	
الْمُقْتَضِيْ اِخْتِصَاصَهَا بِالْفِعْلِيَّةِ مِثْلُ كَانَ ذٰلِكَ اِذْ زَيْدٌ قَائِمٌ وَ اِذْ قَامَ زَيْدٌ وَ قَدْ تَجِيُْ	
كومه چې تقاضا داختصاص كوي په فعل پورې لكه كان ذلك اذا زيد قائم او اذقام زيد او كله راځي دپاره د	
لِلْمُفَاجَاْةِ نَحْوُ خَرَجْتُ فَاِذَا زَيْدٌ قَائِمٌ وَ لِقِلَّةِ مَجِيْئِهَا لَمْ يَذْكُرِ الْمُصَنِّفُ.	
مفاجات لكه خرجت فاذا زيد قائم اوداكم راتلو نو ځكه مصنف ذكر نه كړو.	

خلاصه د متن : په دې عبارت سره د ظروفو مبنيو د ځلورم قسم چې هغه اذ دي چې وي دپاره د ماضي ددې بيان او تفصيل ذكر كوي.

اغراض د جامي : ومنها: كله چې فارغ شو ماتن د درې اقسامو د ظروف مبنيه نه، نو شروع يې وكړه په تفصيل د ځلورم قسم د هغې كې.

نو نفس تفصيل يې ځكه كوي، چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

تفصيل يې په دې مقام كې ځكه ذكر كړو، چې په ذهن د مصنف كې دا قسم په نسبت سره ما قبل ته قليل او په نسبت سره ما بعد ته كثير وو. بله وجه داده. چې د اذا د اذا سره لفظاً معنى مناسب دى. لفظاً ظاهر دى او معنى كې نسبت د ضديت دى ، اذا د مستقبل دپاره او اذا د ماضي دپاره راځي.

او تفصيل داسې كوي، چې تعيين ددې قسم به وكړي. دوهم معنى ددې به وكړي او دريم طريقه د استعمال به يې ذكر كړي.

ومنها اذ : يعني ددې ظروف مبنيه نه اذ هم دى.

اى من الظروف : غرض د شارح د هاء ضمير مرجع متعين كول دي.

للماضي : دادپاره د ماضي راځي. شارح وايي

الكائنة: غرض د شارح د جار مجرور دپاره متعلق ذکر کول دي.

بیا **الكائنة** معرفه یې راویسته، ځکه موصوف صفت کې موافقت په کار وي او اذ نوم ددې قسم دی. معرفه ده. نو صفت یې هم معرفه راویسته.

سوال: **كائنةً** حال ورلره ولې نه راوباسي ؟

جواب: که دې دپاره متعلق حال راوباسو، نو په معنی کې غتوالی نه راځي، ځکه حال قید وي دپاره دعامل د ذوالحال او قید سره هغه اطلاق ختمېږي او چې صفت وګرځوو، نو صفت اکثر کاشفه وي نو هغه اطلاق په خپل ځای پاتې وي، نو معنی کې غتوالی راځي، بیا ددې نه وروستو ماضي راتلل عام دي لفظاً وي او که حکماً او وروستو ترې جمله هم راتلی شي، حاصل دادی. چې د اذ نه وروستو درې قسمه کلمات راځي، فعل ماضي لفظاً فعل ماضي حکماً. جمله اسمیه وي او که فعلیه. قرآن کې یو آیت کې درې واړه جمع دي. قال تعالى: اذ اخرجه الذین کفروا .. اذ هما فی الغار .. اذ یقول لصاحبه....

وبناءها لما مرّ الخ: وجه د بناء خو یو مخکې په حیث کې ذکر شوه او دوهمه وجه داده، چې وضع ددې د حرف ده، ځکه ددې وضع په اقل سره د درې حروفو نه شوې ده.

وقد تجيء الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي.

سوال: اذ خو کله کله د مستقبل دپاره هم راځي، نو هغه معنی یې ولې ذکر نه کړه؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دغه استعمال ددې قلیل وو، ځکه **قد** چې په مضارع داخل شي، نو تقلیل طرف ته اشاره وي ددې وجې نه یې دغه معنی ذکر نه کړه.

ویقع بعدها الخ: یعنې ددې نه وروستو جمله اسمیه او فعلیه دواړه راځي.

لعدم اشتمالها: شارح وجه ذکر کوي، وجه داده چې اذ په معنی د شرط نه دی مشتمل، نو د دې نه وروسته د فعل راتلل ضروري نه دي، نو دواړه جملې ددې نه وروستو راتلی شي.

كان ذلك اذ زيدٌ قائم: مثال د هغه اذ دی، چې وروسته ترې جمله اسمیه واقع وي.

اذ قام زيدٌ: مثال د هغه اذ دی، چې وروسته ترې جمله فعلیه واقع وي.

و تجيء الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي.

سوال: اذ خو مفاجاتي هم راځي، نو هغه قسم یې ولې ذکر نه کړو؟

الكائنة: غرض د شارح د جار مجرور دپاره متعلق ذکر کول دي بيا **الكائنة** معرفه يې راويسته، ځکه موصوف صفت کې موافقت په کار وي او اذ نوم ددې قسم دی، معرفه ده، نو صفت يې هم معرفه راويسته.

سوال: كائنةً حال ورلره ولې نه راوباسي ؟

جواب: که دې دپاره متعلق حال راوباسو، نو په معنی کې غتهوالی نه راځي، ځکه حال قيد وي دپاره دعامل د ذوالحال او قيد سره هغه اطلاق ختمېږي او چې صفت وګرځوو، نو صفت اکثر کاشفه وي. نو هغه اطلاق په خپل ځای پاتې وي، نو معنی کې غتوالی راځي، بيا ددې نه وروستو ماضي راتلل عام دي لفظاً وي او که حکماً او وروستو ترې جمله هم راتلی شي، حاصل دادی، چې د اذ نه وروستو درې قسمه کلمات راځي، فعل ماضي لفظاً فعل ماضي حکماً، جمله اسميه وي او که فعليه. قرآن کې يو آيت کې درې واړه جمع دي. قال تعالی: اذ اخرجه الذين كفروا... اذ هما في الغار ... اذ يقول لصاحبه .....

وبناءها لما مرّ الخ: وجه د بناء خو يو مخکې په حيث کې ذکر شوه او دوهمه وجه داده، چې وضع ددې د حرف ده، ځکه ددې وضع په اقل سره د درې حروفو نه شوې ده.

وقد تجئ الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: اذ خو کله کله د مستقل دپاره هم راځي، نو هغه معنی يې ولې ذکر نه کړه؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دغه استعمال ددې قليل وو، ځکه قد چې په مضارع داخل شي، نو تقليل طرف ته اشاره وي ددې وجې نه يې دغه معنی ذکر نه کړه.

ويقع بعدها الخ: يعني ددې نه وروستو جمله اسميه او فعليه دواړه راځي.

لعدم اشتمالها: شارح وجه ذکر کوي، وجه داده چې اذ په معنی د شرط نه دی مشتمل، نو د دې نه وروسته د فعل راتلل ضروري نه دي، نو دواړه جملې ددې نه وروستو راتلی شي.

كان ذلك اذ زيدٌ قائم: مثال د هغه اذ دی، چې وروسته ترې جمله اسميه واقع وي.

اذ قام زيدٌ: مثال د هغه اذ دی، چې وروسته ترې جمله فعليه واقع وي.

وتجئ الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: اذ خو مفاجاتي هم راځي، نو هغه قسم يې ولې ذکر نه کړو؟

جواب: چونکه دغه معنی قلیل مستعملېږي. نو ځکه یې هغه ذکر نه کړه.

بیان د این او انی او حکم ددې:

وَ مِنْهَا اَيْنَ وَ اَنّٰى فَهُمَا لِلْمَكَانِ .سْتِفْهَامًا وَ شَرْطًا اَىْ حَالَ كَوْنِهِمَا لِلْاِسْتِفْهَامِ وَ الشَّرْطِ وَ
او بعضې د ظروفو نه این او انی دي نو دا دواړه د مکان دپاره راځي او دواړه دپاره د استفهام او شرطیت راځي
بِنَاؤُهُمَا لِتَضَمُّنِهِمَا حَرْفَ الْاِسْتِفْهَامِ اَوِ الشَّرْطِ نَحو اَيْنَ زَيْدٌ وَ اَيْنَ تَكُنْ اَكُنْ وَ اَنّٰى زَيْدٌ
او مبني ځکه دي چې دواړه متضمن دي حرف استفهام او یا شرط لره لکه این زید او این تکن اکن او انی زید
وَ اَنّٰى تَجْلِسْ اَجْلِسْ وَ قَدْ جَاءَ اَنّٰى زَيْدٌ بِمَعْنٰى كَيْفَ وَ اَنّٰى الْقِتَالُ بِمَعْنٰى مَتٰى.
او انی تجلس اجلس او انی په معنی د کیف هم راغلې او انې القتال په معنی د متی دی.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره د ظروفو مبنیو پنځم او شپږم قسم چې هغه این او انی دي او بل حکم ددې بیانوي.

اغراض د جامي: <u>ومنها</u>: کله چې فارغ شو ماتن د څلورو اقسامو د ظروف مبنیه نه، نو شروع یې وکړه په تفصیل د پنځم او شپږم قسم کې.

نفس تفصیل ځکه کوي، چې تفصیل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

تفصیل په دې مقام کې ځکه کوي، چې په ذهن د مصنف کې دا اقسام په نسبت سره ما قبل ته قلیل او په نسبت سره ما بعد ته کثیر وو.

<u>ومنها این و انی</u>: او ددې ظروف مبنیه نه پنځم قسم این او شپږم قسم انی دی.

<u>للمکان</u>: یعنې دا دواړه دپاره د مکان راځي. بیا شارح **فهما** راویسته اشاره دې ته. چې دا دواړه په دغه معنی سره راځي.

<u>استفهاماً و شرطاً</u>: یعنې دا دواړه قسمه استفهامي هم راځي او شرطي هم راځي، بیا دا دواړه الفاظ منصوب وو. نو شارح وجه د نصب ذکر کوي، چې **ای حال کونهما** یعنې دا منصوب بنا بر حالیت دي.

سوال: حال خو حمل وي په ذوالحال باندې او دلته حمل نه صحیح کېږي، ځکه این انی ذوات دي او استفهاماً و شرطاً خو وصف دی؟

جواب: نو شارح جواب وکړو. چې دا مونږ په تقدیر د لام سره وایو.

وبناء هما الخ: وجه د بناء داده، چې دا دواړه متضمن دي معنی د حرف شرط او استفهام لره

این زیدٌ: مثال د استفهامي دی

این تکن اکن: مثال د شرطي دی وروسته دوه مثالونه هم په دغه فرق بناء دي. یو د انی استفهامي او دوهم د شرطي دی

وقد جاء الخ: غرض د شارح د انی نورې معانې ذکر کول دي

وَ مِنْهَا مَتَى لِلزَّمَانِ فِيْهِمَا اَىْ فِي الْاِسْتِفْهَامِ وَ الشَّرْطِ نَحْوُ مَتَى الْقِتَالُ وَ مَتَى تَخْرُجْ
او د ظروفو نه متی هم دي چې د زمان دپاره راځي په استفهام او شرط دواړو کې لکه متی القتال و متی تخرج
اَخْرُجْ وَ مِنْهَا اَيَّانَ لِلزَّمَانِ اِسْتِفْهَامًا مِثْلُ مَتَى نَحْوُ اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ وَ
اخرج او د دغې نه ایان هم دي چې د زمانې دپاره راځي په استفهام کې په شان د متی لکه ایان یوم الدین او
الْفَرْقُ بَيْنَهُمَا اِنَّ اَيَّانَ مُخْتَصٌّ بِالْاُمُوْرِ الْعِظَامِ وَ بِالْمُسْتَقْبِلِ فَلَا يُقَالُ اَيَّانَ يَوْمُ
فرق په کې دا دې چې ایان خاص دي ترغټو کارونو پورې او په مستقبل پورې نو نه ویل کیږي ایان یوم
قِيَامِ زَيْدٍ وَ اَيَّانَ قَدِمَ الْحَاجُّ بِخِلَافِ مَتَى فَاِنَّهُ غَيْرُ مُخْتَصٍّ بِهِمَا وَ الْمَشْهُوْرُ فَتْحُ الْهَمْزَةِ
قیام زید او ایان قدم الحاج په خلاف د متی سره ځکه هغه په دې پورې خاص نه ده او مشهور فتحه د همزې
وَ النُّوْنِ وَ قَدْ جَاءَ كَسْرُهُمَا اَيْضًا.
او نون ده په ایان کې او کسره یې هم راغلې ده.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره د ظروفو مبنیو نه اووم او اتم قسم چې هغه متی او ایان دي ددې بیان کوي او بل فرق یې بیانوي په مینځ د متی او ایان کې.

اغراض د جامي: **ومتی**: کله چې فارغ شو ماتن د پنځم او شپږم قسم د ظروف مبنیه نه، نو شروع یې وکړه په تفصیل د اووم او اتم قسم ددې کې

نفس تفصیل ځکه کوي، چې تفصیل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي

تفصیل یې په دې مقام کې ځکه کوي، چې دا قسم په ذهن د مصنف کې په نسبت سره ما قبل ته قلیل او په نسبت سره ما بعد ته کثیر وو

او تفصیل یې داسې کوي، چې تعیین به وکړي ددې قسم . معنی به یې ذکر کړي او اقسام به یې ذکر کړي.

ومتی: شارح ورسره **منها** راويستو، اشاره دې ته چې دا عطف دی په اين انی باندې، او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وي، په ما قبل د معطوف کې نو منها يې راويستو.

للزمان: دا ده دپاره د زماني راځي.

فيهما: يعنې استفهامي او شرطي دواړه راځي.

ای في الاستفهام والشرط: په دې عبارت سره شارح د ضمير مرجع متعيين کوي.

متی القتال: مثال د استفهامي دی.

متی تخرج اخرج: مثال د شرطي دی

و ايان: چې کله فارغ شو ماتن د اووم قسم د ظروف مبنيه نه، نو شروع يې وکړه په تفصيل د اتم قسم ددې، چې ايان دی

نفس تفصيل څکه کوي، چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

تفصيل يې په دې مقام کې کوي. څکه په ذهن د مصنف کې دا قسم په نسبت سره ما قبل ته قليل او په نسبت سره ما بعد ته کثير دی

تفصيل داسې کوي. چې تعيين ددې قسم به وکړي، ددې معنی به ذکر کړي اوددې اقسام به ذکر کړي.

و ايان: يعنې د ظروف مبنيه نه ايان هم دی، بيا شارح ورسره **منها** راويستو، اشاره دې ته چې دا عطف دی په هغه اين انی باندې، او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وي. په ما قبل د معطوف کې نو منها يې راويستو.

للزمان: يعنې دا هم د زمانې دپاره راځي

استفهاماً: يعنې دا صرف استفهام دپاره راځي.

نحو ايان يوم الدين: دلته ايان د استفهام دپاره راغلې دی.

والفرق بينهما الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: مخکې اين انی په يوه معنی راتلل، نو هغه ماتن يو ځای ذکر کړه، نو د متی ايان خو هم يوه معنی ده دا يې ولې جدا جدا ذکر کړو؟

جواب: ددې دواړو په مينځ کې فرق دی يو فرق خو مخکې ښکاره شو، چې متی استفهامي

و شرطي دواړه راځي او ايان صرف استفهامي ر ځي. او دوهم فرق شارح دا ذکر کړی دی چې په ايان کې دوه خبرې دي يو خو دی د امور عظام دپاره راځي، او دوهم مستقبل پورې خاص دی او په متى کې دا تخصيص نشته لهذا ايان يوم قيام زيد به نه شي ويلی. ځکه قيام د زيد امر عظيم نه دی او ايان قدم الحاج به هم نه شي ويلی. ځکه قدوم د حاجيانو اگر چې امر عظيم دی. ليکن دلته صيغه د ماضي راغلې ده او ايان د مستقبل دپاره راځي.

وقد جاء کسر هما: غرض د شارح دې کې نور لغات ذکر کول دي، يو لغت دا دی، چې همزه مکسور او نون مفتوح شي. او دوهم دا چې همزه مفتوح او نون مکسور شي، دغه مقصد د کسرهما دی

وَ مِنْهَا كَيْفَ الْكَائِنَةُ لِلْحَالِ اِسْتِفْهَامًا اَیْ حَالَ فِيْهِ وَ صِفَتِهِ فَالْمُرَادُ بِالْحَالِ
او د اسماء ظروفو نه کيف دي کوم چې د حال دپاره دي په استفهام کې يعنې حال د هغې او نو مراد په حال سره
صِفَةُ الشَّيْءِ لَا زَمَانَ الْحَالِ كَمَا تَوَهَّمَهُ بَعْضُ الشَّارِحِيْنَ قَالَ صَاحِبُ الْمُفَصَّلِ
صفت د شئ دي نه زمانه د حال لکه څنگه چې بعضې شارحينو ته داوهم شوی صاحب د مفصل وايي
وَ كَيْفَ جَارٍ مَجْرَى الظُّرُوْفِ وَ مَعْنَاهَا السُّوَالُ عَنِ الْحَالِ تَقُوْلُ كَيْفَ زَيْدٌ اَیْ عَلٰى اَيِّ حَالٍ
چې کيف قائمقام د ظروفو دي او معنى د دې سوال کول دي د حال نه لکه ته وايي کيف زيد يعنې على اى حال
هُوَ وَ تَسْتَعْمِلُ لِلشَّرْطِ مَعَ مَا عَلٰى ضُعْفٍ عِنْدَ الْبَصَرِيِّيْنَ نَحْوُ كَيْفَمَا تَجْلِسْ اَجْلِسْ
هو او استعماليږي دپاره د شرط سره د ما نه په قول ضعيف سره په نزد د بصرينو لکه کيفما تجلس اجلس
اَیْ عَلٰى اَيِّ هَيْأَةٍ تَجْلِسْ اَجْلِسْ وَ مُطْلَقًا عِنْدَ الْكُوْفِيِّيْنَ نَحْوُ كَيْفَ تَجْلِسْ اَجْلِسْ
يعنې على اى هيئة تجلس اجلس او مطلقا د شرط دپاره استعماليږي په نزد د کوفينو لکه کيف تجلس اجلس
فَاِنْ كَانَ بَعْدَهُ اِسْمٌ فَهُوَ مَحَلُّ الرَّفْعِ بِالْخَبَرِيَّةِ عَنْهُ وَ اِنْ كَانَ بَعْدَهُ فِعْلٌ مِثْلُ
اوس که وروستو د دې اسم وي نو دا په محل د رفع کې ده بنا بر خبريت او که وروستو ترې فعل وي لکه
كَيْفَ جِئْتَ فَهُوَ فِيْ مَحَلِّ النَّصْبِ عَلَى الْحَالِيَّةِ اَیْ عَلٰى اَيِّ حَالٍ جِئْتَ رَاكِبًا اَوْ مَاشِيًا.
کيف جئت نو دا په محل د نصب کې ده بنا بر حاليت يعنې على اى حال جئت راکبا او ماشيا.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره د ظروفو مبنيو د نهم قسم چې کيف دي د دې تفصيل بيانوي.

اغراض د جامي : **وكيف**: کله چې فارغ شو ماتن د تفصيل د اته اقسامو نه، نو شروع يې وکړه په تفصيل د نهم قسم د ظروف مبنيو کې.

نفس تفصيل يې خکه کوي، چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

تفصيل يې په دې مقام خکه کوي، چې په ذهن د مصنف کې دا قسم په نسبت سره ما قبل ته قليل او ما بعد ته کثير واقع کيدو.

او تفصيل يې داسې کوي. چې تعيين ددې قسم به وکړي. معنى ددې به ذکر کړي او اقسام به يې ذکر کړي

وكيف: يعنې د ظروف مبنيه نه كيف هم دى. شارح منها راويستو اشاره ده، چې دا په هغه ما قبل اين انى باندې عطف دى او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وي په ما قبل د معطوف کې نو منها يې راويستو

للحال: دا د مزاج د معلومولو دپاره راخي. شارح وايي الكائنة يو خو د جار مجرور متعلق راوباسي او دوهم اشاره کوي. چې دا للحال په اعتبار د متعلق سره صفت د كيف دى وجه د بناء هم معلوم شوه. چې دا متضمن دى معنى د استفهام لره.

استفهاماً: يعنې دا صرف استفهام دپاره راخي.

اى حال شئ: غرض د شارح دفع د وهم ده

وهم: چا نه ويل چې حال نه به هغه زمانه مراد وي، چې د ماضي او مستقبل مينځ کې وي؟

جواب: شـ ـح دغه هم دفع کړو؟ چې زمانه ترې مراد نه ده.

وصفته: په دې عبارت سره شارح دفع د وهم کوي

وهم: چا به ويل چې حال خو ما يبين هيئة الفاعل او المفعول ته وايي. نو دغه به مراد وي؟

جواب: شارح دغه وهم دفع کړو. چې مراد د حال نه مزاج او طبيعت دى

فالمراد الخ: غرض د شارح رد کول دي په هغه شارحينو چې دې حال نه يې زمانه حال مراد اخيستې ده

قال صاحب المفصل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي

سوال: کله چې دا حال په معنى د حال الشئ وصفة الشئ شو نو دا خو د ظروفو نه . نه شو. نو

دلته يې ولې ذکر کوي؟

جواب: شارح د صاحب المفصل په خوله باندې جواب وکړو. چې چونکه دا قائمقام د ظروفو دی. لکه څنګه چې ظرف متعلق غواړي. نو دا هم متعلق غواړي. ځکه حال د شئ او صفت د شئ به د چا پورې متعلق وي. دوهمه وجه داده، چې دا کيف په معنی د جار او مجرور ظرف وي. نو دلته ذکر کول صحیح شو.

وتستعمل الخ: دلته نه شارح مسئله مبتداء ذکر کوي د ما قبل سره يې تعلق نشته. په دې سره کې اختلاف دی. چې کیف د شرط دپاره راځي او که نه.

بصريان وايي چې کیف په غير د ما نه د شرط دپاره نه راځي. او چې ما ورسره وي، نو سره د ضعف نه شرط دپاره راځي

و کوفيان وايي چې ما ورسره وي او که نه، په غير د ضعف نه دا د شرط دپاره راځي.

فان کان بعده: غرض د شارح ددې اعراب ذکر کول دي. حاصل دادی که ددې نه ما بعد اسم وو نو دا به مرفوع وي بنا بر خبريت او اصل خبر کې تاخير دی. ليکن دې کې معنی د استفهام ده هغه صدارت غواړي. او که ددې نه وروستو فعل وو. نو دا به منصوب بنا برحاليت وي

بيان د مذ او منذ:

وَ مِنْهَا أَيْ مِنَ الظُّرُوْفِ الْمَبْنِيَّةِ مُذْ وَ مُنْذُ بُنِيَا لِمُوَافَقَتِهِمَا مُذْ وَ مُنْذُ حَرْفَيْنِ وَ

او د ظروف مبنيو نه مذ او منذ دي مبني ځکه دي چې موافقت د مذ او منذ سره لري کوم چې حروف دي او کله

يَكُونَانِ تَارَةً بِمَعْنَى أَوَّلِ الْمُدَّةِ أَيْ أَوَّلُ مُدَّةِ زَمَانِ الْفِعْلِ الْمُتَقَدِّمِ عَلَيْهِمَا نَحْوُ مَا رَأَيْتُهُ

دواړه په معنی د اول المدة سره يعني په اول وخت د زمانې د فعل متقدم سره په دوي باندې لکه ما رأيته

مذ او مُنْذُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَيْ أَوَّلُ مُدَّةِ زَمَانِ عَدَمِ رُؤْيَتِي يَوْمُ الْجُمُعَةِ فَيَلِيهِمَا أَيْ يَقَعُ بَعْدَهُمَا أَيْ بَعْدَ مُذْ وَ مُنْذُ

مذ او منذ يوم الجمعة يعني اول وخت د نه ليدو زما ده لره ورځ د جمع ده نو بيا واقع کيږي وروستو د مذ او منذ

الْمُفْرَدُ أَيِ الْاِسْمُ الْمُفْرَدُ لَا الْمُثَنَّى وَ الْمَجْمُوْعُ حَقِيْقَةً بِالْمِثَالِ الْمُتَقَدِّمِ.

مفرد اسم ... نه تثنيه او جمع حقيقتًا په مثال متقدم سره

خلاصه د متن: په دې عبارت کې د ظروفو مبنيو لسم او يولسم قسم چې هغه مذ او منذ دي بيانوي

اغراض دجامي : **و منها**: کله چې فارغ شو ماتن د نهه اقسامو د ظروف مبنيه نه، نو شروع يې وکړه په تفصيل د لسم او يولسم قسم ددې کې.

نفس تفصيل يې ځکه کوي، چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

تفصيل يې په دې مقام کې ځکه کوي، چې دا اقسام په ذهن د مصنف کې په نسبت سره ما قبل ته قليل او په نسبت سره ما بعد ته کثير وو.

تفصيل يې داسې کوی، چې ددې قسم تعيين به وکړي ، ددې معنی به ذکر کړي، طريقه د استعمال به يې ذکر کړي، ترکيب ددې به ذکر کړي او دې ترکيب کې به اختلاف ته اشاره وکړي

و منها مذ و منذ: يعنې ددې ظروف مبنيه نه لسم قسم **مذ** او يولسم قسم **منذ** دي. بيا دا **مذ** يې په **منذ** مقدم کړو اګر چې اصل **منذ** دی، ځکه ددې تصغير د دواړو **منيذ** راځي، ليکن د **مذ** حروف کم دي، نو دا په منزله د مفرد شو او د **منذ** حروف زيات وو، نو هغه په منزله د مرکب شو او عين مفرد په طبع کې په عين مرکب مقدم وي، نو کوم چې په منزله د مفرد وو هغه هم مونږ په هغه اسم چې په منزله د مرکب وو، په هغې مقدم کړو، چې وضع د طبع سره موافق شي.

اى من الظروف: غرض د شارح په دې عبارت سره د ضمير مرجع متعين کول دي.

و انما بينهما الخ :حاصل دادی، چې دا **منذ مذ** اسمي د **مذ منذ** حرفي سره موافق دی هم **لفظاً** او هم **معنیً** . **لفظاً** داسې چې دواړه يو شان دي، او **معنیً** داسې چې دواړه قسمه په معنی د اول المدة يا **جميع المدة** سره راځي. دوهمه وجه د بنآء داده، چې د **مذ** مشابهت دی د حرف سره په وضع کې، ځکه د حروفو وضع په اقل د درې حروفو سره شوې ده. او **مذ** کې دوه حروف دي او **منذ** پرې حمل دی، دريمه وجه داده چې دا **مذ منذ اذا، حيث** سره مشابهت ساتي په دې خبره کې چې دا لازم الاضافت دی نو دې کې هم معنی د لام مقدره شوه. نو چې معنی د حرف لره متضمن شو، نو دا مبني شو.

اوس دا خبره چې د **مذ منذ** اسمي او حرفي په منځ کې فرق څه دی؟

نو دې دواړو قسمونو کې **لفظاً** او **معنیً** فرق دی : **لفظاً** داسې چې ددې نه ما بعد مرفوع او ددې حرفي نه ما بعد مجرور وي، او **معنیً** فرق دادی، چې **مذ منذ** اسمي په معنی د اول **المدة** او **جميع المدة** کُلي سره راځي او **مذ منذ** حرفي په معنی د اول **المدة** او **جميع المدة** خاص سره راځي. يعني

کوم چې د من او في په تقدير سره وي.

بمعنی اول المدة: يعني دا په معنی د اول المدة سره راځي بيا دا جار مجرور متعلق غواړي، نو شارح ورلره متعلق يکونان راويستو.

سوال: چې ته وايې دا په معنی د اول المدة او جميع المدة سره راځي، نو دا خو اجتماع د متنافيينو ده؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې **تارة** يعني کله به دغه اول معنی وي او کله به دا دوهمه معنی وي.

ای اول مدة الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره کول دي، چې الف لام په المدة کې عهدي دی او معهود په دې سره مده د زمانې د فعل متقدم ده.

نحو الخ: غرض د شارح مثال ذکر کول دي.

فيليهما المفرد المعرفة: يعني ددې نه وروسته به مفرد معرفه وي.

ای يقع بعدهما الخ: غرض د شارح په دې عبارت سره يو خو د اولې معنی تعيين کول دي، ځکه د اولې اتصال د ابتداء او آخر دواړو ته ويلی شي، نو شارح تعيين وکړو، چې اتصال د آخر مراد دی، دوهم غرض د شارح د **بعدهما** ظرف دپاره متعلق راويستل دي. او دريم غرض د شارح د **هما** ضمير مرجع متعين کول دي، ګويا که درې اغراض د شارح په دې شرح سره وو.

الاسم المفرد: غرض د شارح په دې عبارت سره د مفرد صفت دپاره موصوف راويستل دي.

لا المثنی: چونکه مفرد په ګڼو معانيو سره راځي، نو شارح د معنی مرادې تعيين وکړو، چې هغه مفرد مراد دی، چې مقابل د تثنيه او جمع کې راځي.

حقيقتاً الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: زه به درته وښائم چې د مذ نه به وروستو مفرد نه وي، بلکې تثنيه به وي، لکه مارأيته مذ اليوما اللذان صاحبنا فيهما؟

جواب: دلته دا **يوما** مؤول دی په تاويل د **زمان المصاحبة** سره، نو حکماً دا مفرد شو.

لان اول المدة: غرض د شارح د **المفرد** دپاره وجه ذکر کول دي، وجه داده، چې اول المدة خو يو شئ دی دوه او ډير اشياء نه دي، نو ځکه مونږ وايو، چې ما بعد ددې به مفرد وي.

حقیقتاً: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي

سوال: زه به درته وښائم چې د منذ نه وروسته به یو اسم مفرد واقع وي او معرفه به نه وي، بیا هم خلک دغه مد ته ظرفي وایي لکه ما رایته مذ یوم لقیئ زید فیه؟

جواب: مونږ وایو دا معرفه عامه ده. حقیقتاً وي او که حکماً. حکماً مطلب دا دی، چې معینه قدرې وي، دلته په ذکر شوي مثال کې یوم اګر چې نکره دی. لیکن په توصیف سره یې تعیین شوی دی، نو په حکم د معرفې کې ده ځکه معرفه کې هم مقصود تعیین وي.

أَوْ حُكْمًا نَحْوَ مَا رَأَيْتُهُ مُذِ الْيَوْمَانِ اللَّذَانِ صَاحَبْنَا فِيهِمَا أَيْ أَوَّلُ مُدَّةِ عَدَمِ رُؤْيَتِهِ هٰذَانِ الْيَوْمَانِ فَمَادَامَ
او یا حکماً لکه ما رأیته مذ الیومان اللذان صاحبنا فیهما یعني دنه لیدو اولې ورځې دغه اوه وي نو ترڅو چې
لَا يُلَاحِظُ هٰذَانِ الْيَوْمَانِ أَمْرًا وَاحِدًا لَا يَحْكُمُ عَلَيْهِمَا بِأَوَّلِيَّةِ الْمُدَّةِ لِأَنَّ أَوَّلَ
دا دواړه ورځې امر واحد شمار نه کړل شي حکم ورباندې په اولیت دوخت نه شي کیدې ځکه چې اول
الْمُدَّةِ إِنَّمَا يَكُونُ أَمْرًا وَاحِدًا لَا شَيْئَيْنِ أَوْ أَشْيَاءَ فَالْمُثَنّٰى وَ الْمَجْمُوعُ إِذَا وَقَعَا أَوَّلَ الْمُدَّةِ يَكُوْنَانِ فِيْ حُكْمِ
وخت دا امر واحد دي نه دوه او نه ډیر نو مثنی او مجموع چې کله اول وخت واقع شي نو وي به په حکم د
الْمُفْرَدِ الْمَعْرِفَةُ حَقِيْقَةً كَالْمِثَالِ الْمُتَقَدِّمِ أَوْ حُكْمًا نَحْوَ مَا رَأَيْتُهُ مُذْ يَوْمَ
مفرد کې او یا به ورسره نژدې معرفه وي حقیقتاً لکه په مخکې مثال کې او یا حکماً لکه ما رأیته مذ یوم
لَقِيْتَنِيْ فِيْهِ لِحُصُوْلِ التَّعْيِيْنِ الْمَقْصُوْدِ مِنْ كَوْنِهِ مَعْرِفَةً وَ إِنَّمَا كَانَ التَّعْيِيْنُ مَقْصُوْدًا لِأَنَّهُ
لقیتني فیه دپاره دحصول دهغه تعین کوم چې مقصود وو د کیدو د معرفې نه او تعین ځکه مقصود شو چې
لَا فَائِدَةَ فِيْ جَعْلِ الْوَقْتِ الْمَجْهُوْلِ أَوَّلَ مُدَّةِ فِعْلٍ لِأَنَّ أَوَّلِيَّةَ وَقْتٍ مَا
فائده نشته په ګرځولو د وخت مجهوله کې اول وخت د پاره د فعل ځکه چې اولیت د وخت ما د پاره د
لِزَمَانِ مُدَّةِ الْفِعْلِ مَعْلُوْمٌ بِالضَّرُوْرَةِ وَ تَارَةً يَكُوْنَانِ بِمَعْنٰى جَمِيْعِ الْمُدَّةِ أَيْ جَمِيْعِ مُدَّةِ زَمَانِ الْفِعْلِ
زماني دفعل معلوم وي خامخا او کله راځي دواړه دپاره دټولې زمانې یعني دټولې مودې د زمانې دفعل
فَيَلِيْهِمَا أَيْ مُذْ وَ مُنْذُ الْمَقْصُوْدُ أَيِ الزَّمَانُ الَّذِيْ قَصَدَ بَيَانَهُ
نو بیا دواړه مقصود دي یعني مذ او منذ مقصود دي یعني هغه زمانه چې قصد شوی وي په بیان دهغې سره
حَالَ كَوْنِهِ مُتَلَبِّسًا بِالْعَدَدِ أَيْ بِعَدَدِ الْمُسْتَغْرِقِ جَمِيْعَ أَجْزَائِهِ
په حال کون دهغې کې چې متلبسه وي په عدد سره هغه عدد چې مصروف کړې یې وي ټول اجزاء په

بِحَيْثُ لَا يَشِذُّ مِنْهُ شَئٌ نَحو مَا رَأَيْتُهُ مُذْ يَوْمَانِ اَىْ جَمِيْعَ اَجْزَاءِ مُدَّةِ زَمَانِ عَدَمِ رُؤْيَتِهِ يَوْمَانِ
داسي شان چې خارج ترينه نه وي هيڅ شئ لکه مارأيته مذيومان يعنې اجزاء دزمانې دنه ليدودهغه دوه
لَا اَزِيْدُ وَ لَا اَنْقُصُ وَ قَدْ يَقَعُ بَعْدَهُمَا الْمَصْدَرُ نَحو مَا خَرَجْتُ مُذْ ذِهَابِکَ اَوِ الْفِعْلُ
ورځې دي نه زياتې اوه کمې اوکله واقع کيږي ترې وروستو مصدر لکه ماخرجت مذذهابک اويا فعل
نَحو مَا خَرَجْتُ مُذْ ذَهَبْتَ.
ترې وروستو راځي لکه ماخرجت مذذهبت.

اغراض دجامي : لان اوليةً : غرض د شارح د معرفه کيدو دپاره وجه ذکر کول دي، چې معرفه به څکه وي، چې د مجهول وقت فعل لره اول مده ګرځولو کې څه فائده نشته، فائده خو هله ده، چې وقت معلوم وي او بيا ورلره ته اوليت ثابت کړې.

وبمعنى جميع المدة : کله چې فارغ شو ماتن مصنف د يو معنى د مذمنذ نه، نو شروع يې وکړه په دوهمه معنى ددې کې، بيا شارح تارةً راويستو، چې دا عديل د ما قبل تارة دى بيا جار مجرور متعلق غواړي، نو شارح ورلره يکونان فعل متعلق را ويستو، مقصد دادى، چې دا مذمنذ کله په معنى د جميع المدة سره راځي.

اى جيمع مدة زمان الفعل : اشاره ده دې خبره ته، چې الف لام عوض د مضاف اليه دي، چې هغه مده د زمان د فعل ده.

فيليهما : غرض د ماتن طريقه د استعمال ذکر کول دي. نو دى وايي چې ددې دواړو نه به وروستو متصل هغه زمانه واقع کېږي، چې قصد کړى شوي وي بيان ددغه زمانې په داسې حال کې چې متلبس وي د عدد سره يعنې معلوم زمانه به واقع وي.

اى مذ و منذ : غرض د شارح د هما ضمير مرجع متعين کول دي.

اى الزمان الذى الخ : غرض د شارح په دې عبارت سره يو خو هغه مشهور قاعدې طرف ته اشاره کول دي، چې په اسم فاعل او اسم مفعول کوم الف لام داخل شي، نو هغه اسمي وي او ددې نه تعبير په الذي التي سره کيدې شي، او د مابعد نه چې کله اسم فاعل وي، نو به ماضي او مضارع معلوم سره تعبير کيږي، او چې ما بعد اسم مفعول وي، نو په ماضي او مضارع مجهول سره تعبير کيدې شي. بل غرض د شارح د المقصود صفت د پاره موصوف راويستل

دي.

سوال: ظاهره داده چې المقصود دپاره نائب فاعل زمان دی او زمان خو مقدور د متکلم نه دی، نو څنګه ته وايې، چې د زمانه قصد کړی شوې وي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې ددې نائب فاعل حذف دی، چې هغه بيان دی او زمان مقدور د متکلم نه ده، ليکن بيان د زمانې مقدور د متکلم دی.

بيا په دې عبارت کې بل اشکال دا راتلو، چې ظاهر د عبارت نه معلومېږي، چې بيان د زمانې به په عدد سره قصد کړی شوی وي، حالانکه خبره خو عکس ده، دا عدد په بيان د زمانې سره قصد شوی وي؟

جواب: نو شارح جواب وکړو، چې دا باء د تلبس ده، يعنې دا بيان د زمانې به قصد شوی په داسې حال چې متلبس وي د عدد سره بيا متلبساً منصوب وو، نو شارح وجه د نصب بيان کړه، چې دا منصوب بنا برحاليت دی.

وقد يقع الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: مخکې تا د مذ منذ دوه معانې ذکر کړې او طريقه د استعمال دې ذکر کړه، او هغې کې تا دا خبره ذکر کړه، چې که ما بعد د مذ منذ صلاحيت د جواب د متی لرلو، نو دا به په معنی د اول المدة سره وي او وروسته به ترې مفرد معرفه وي او که ما بعد ددې صلاحيت د جواب د کم لرلو دا به په معنی د جميع المدة وي او ددې نه وروستو به مقصود بالعدد راځي، حالانکه زه به درته وښائم چې د دې نه وروستو په مصدر واقع وي کله به فعل واقع وي او يا به ان واقع وي؟

جواب: ماتن جواب وکړو، چې دا قليل طرف ته اشاره وي او شارح هم دغه جواب ته په لقلته سره اشاره کړې ده.

اَوْ اَنَّ اَیْ مَا کُتِبَ عَلٰی هٰذِهِ الصُّوْرَةِ مُثَقَّلَةً کَانَتْ اَوْ مُخَفَّفَةً نَحْو مَا خَرَجْتُ مُذْ اَنَّکَ ذَاهِبٌ اَوْ
او اَنَّ يعنې هغه چې ليکل کيږي په دغه شکل مثقله وي او که مخففه وي لکه ماخرجت مذ انک ذاهب او
مَا خَرَجْتُ مُذْ اَنْ ذَهَبْتَ اَوِ الْجُمْلَةُ الْاِسْمِيَّةُ نَحْو مَا خَرَجْتُ مُذْ زَيْدٌ مُسَافِرٌ وَ لَمْ يَذْکُرْهُ
يا ماخرجت مذ ان ذهبت او يا جمله اسميه ترې وروستو راځي لکه ماخرجت مذ زيد مسافر او مصنف دا ذکر

لِقِلَّتِهٖ فَيُقَدَّرَ بَعْدَهُمَا زَمَانٌ مُضَافٌ اِلٰى اَحَدِ هٰذِهٖ

نه کړودوچې دکم راتلوددې نومقدر کولې به شي وروستودهغې نه زمان کوم چې مضاف دي يوددې

الْاُمُوْرِ لِيَصِحَّ حَمْلُ مَا بَعْدَهُمَا عَلَيْهِمَا فَكَانَ التَّقْدِيْرُ فِيْ مَا خَرَجْتُ مُذْ

امورو نه دې دپاره چې صحيح شي حمل دمابعددې دواړو په دوي باندې نو کيږي تقدير په ماخرجت مذ

ذِهَابُكَ مُذْ زَمَانُ ذِهَابِكَ وَ عَلٰى هٰذَا الْقِيَاسِ فِيْمَا بَقِيَ وَ هُوَ اَيْ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْ مُذْ وَ مُنْذُ اِسْمَيْنِ

ذهابک کې ماخرجت مذزمان ذهابک اوپه همدې قياس په نوروکې اوهرواحد د مذاومنذنه چې اسمين

مُبْتَدَاٌ وَ هُمَا مَعْرِفَتَانِ لِكَوْنِهِمَا فِيْ تَاْوِيْلِ الْاِضَافَةِ لِاَنَّهُمَا اِمَّا بِمَعْنَى

وي مبتدا به وي اومعرفه به وي دواړه خکه چې دواړه په تاويل داضافت کې دي خکه چې يابه په معنې

اَوَّلِ الْمُدَّةِ اَوْ جَمِيْعِ الْمُدَّةِ وَ خَبَرُهٗ مَا بَعْدَهٗ اَيْ خَبَرَ كُلٍّ مِنْهُمَا مَا يَقَعُ بَعْدَهٗ خِلَافًا

داول المدة سره وي اويابه په معنى د جميع المدة سره اوخبربه يې واقع کيږي مابعدددې خلاف ثابت دي

لِلزَّجَّاجِ فَاِنَّهُمَا عِنْدَهٗ خَبَرُ الْمُبْتَدَاِ وَ الْمُبْتَدَاُ مَا بَعْدَهُمَا وَ يَرِدُ عَلَيْهِ

زجاج لره خکه دده په نزددادواړه خبردمبتدادي اومبتدامابعددې دواړو دده باندې دا سوال راځي

اَنَّهٗ يَلْزِمُ اَنْ يَّكُوْنَ الْمُبْتَدَاُ فِيْ مِثْلِ قَوْلِكَ مُذْ يَوْمَانِ نَكِرَةً وَ الْخَبَرُ مَعْرِفَةً

چې ستاپه مذهب لازميږي تنکيردمبتداپه مثل ددې قول کې چې مذيومان اوخبرمعرفه شوحالانکه

وَ ذٰلِكَ غَيْرُ جَائِزٍ.

داجائزنه دي.

اغراض دجامي : اى ماكتب على هذه الصورة الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: ددې ان نه کوم مراد اخلې؟ که مشدد اخلې نو مخفف ترې وځي، او که مخفف واخلې نو مشدد ترې خارج کيږي؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې صورة ددغه مکتوب مراد دی، نو دواړو ته شامل دی.

فيقدر الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: کله چې ددې نه وروستو فعل يا مصدر وغيره راغلو، نو وروستو ته وايې چې دا مذ منذ به مبتداء وي او ما بعد به خبر وي، او حالانکه دلته خو ما بعد حمل په مبتداء نه صحيح کيږي، ځکه مصدر خو وصف وي، او مبتداء ذات وي؟ همدارنګې حمل د فعل هم په مبتداء

نه صحيح کيږي؟

جواب: ماتن جواب وکړو، چې ددې مذ منذ نه به وروستو زمانه مقدر راویستی شي او زمان خو ظرف دی او ظرف خبر واقع کیدې شي، نو حمل د ما بعد به په دې مذمنذ صحيح شي.

ای کل واحد الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا مذ منذ خو دوه اسمونه دي او هو ضمير د مفرد دی، نو مطابقت نشته؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا ضمير په اعتبار د کل واحدٍ سره راجع دی بیا ماتن مذمنذ ویلي وو او شارح ورسره اسمین راویستو اشاره دې ته چې دې صورت کې به دا اسمي وي، بیا سوال راتلو چې مبتداء خو معرفه وي او مذ منذ خو معرفه نه ده؟

جواب: نو شارح جواب وکړو، چې دا دواړه معرفې دي، ځکه دا مؤول دي په تاویل د اول المدة او جميع المدة سره، بیا ماتن ویل چې خبره ما بعده نو شارح خو په ضمير کې تعميم کوي چې په اعتبار د کل واحد سره راجع دی او د ظرف دپاره یې يقع متعلق راویستو.

خلافاً للزجاج: په دې عبارت سره شارح اختلاف بیانوي: ځکه چې زجاج وايي چې دا مذمنذ خبر مقدم او ما بعد مبتداء مؤخر ده.

ويرد الخ: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي.

سوال: ماتن مذهب د زجاج ولې صراحت سره ذکر نه کړو؟

جواب: چونکه په مذهب د زجاج باندې سوال راتلو، نو ځکه یې ذکر نه کړو

سوال: چې دا مذمنذ معرفه او ما بعد ددې نه کله نکره وي، نو لازمیږي تنکیر د مبتداء او تعریف د خبر، حالانکه قانون مونږ دا ویلي دی چې په یو کلام کې معرفه نکره جمع شي نو معرفه به مبتداء کولې شي او نکره به خبر کولې شي او دلته بیا ددې قانون خلاف راځي.

جواب: دا ما بعد اګر چې نکره به خبر کولې شي او دلته بیا ددې قانون خلاف راځي.

سوال: دا ما بعد اګر چې نکره ده. لیکن په تقدیم د خبر سره په دې کې تخصیص راغلی دی او نکره مخصصه خو مبتداء واقع کېدای شي؟

جواب: دې صورت کې دا مذ منذ ظرفي نه دی، بلکې اسمي دی. نو سوال په خای دی.

سوال: زجاج دې مذمنذ ته هم نکره وايي، نو بيا خبره د زجاج صحيح ده؟

جواب: دا تنکير د ما بعد اتفاقي دی او په دې مذمنذ کې د ځينو په نزد تعريف شته، يعنې جمهور ورته معرفه وايي او کوم شی چې معرفه وي، نو هغه مبتداء کول په کار وي، لهذا سوال په ځای دی.

وَاعْلَمْ اَنَّهُمَا اِذَا كَانَا مُبْتَدَاً اَوْ خَبَرًا فَهُمَا اِسْمَانِ صَرِيْحَانِ لَا ظَرْفَانِ فَلَا يَصِحُّ
پوهه شه چې کله دا دواړه مبتداوي يا خبروي نو روا دي دواړه صريح اسماء نه ظروف نو نه دي صحيح
عَدُّهُمَا مِنَ الظُّرُوْفِ الْمَبْنِيَّةِ اِلَّا اَنْ يُّرَادَ بِظَرْفِيَّتِهِمَا كَوْنُهُمَا مِنْ اَسْمَاءِ الزَّمَانِ
شمارل يې د ظروفو نه مگر که چيرته مراد وي د ظرفيت د دې دواړو نه کيدل د دې دواړو د اسماء زمان نه
لَا اَنَّهُمَا يَقَعَانِ ظَرْفًا فِيْ تَرَاكِيْبِهِمْ.
نه دا چې واقع کيږي ظرف په ترکيب د نحويانو کې.

خلاصه د متن: په دې عبارت سره يو تمهيد بيانوي.

اغراض د جامي: واعلم: غرض د شارح سوال ته تمهيد ايښودل دي او هغه دا چې کله دا مذمنذ مبتداء خبر واقع شي، نو دا به ظرف نه وي، بلکې دا به اسم صريحي وي.

فلا يصح الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: کله چې دا دواړه اسم صريحي شو، نو ظروفو کې شمار کول صحيح نه دي؟

الا ان يراد الخ: سره جواب ته اشاره کوي حاصل دا دی، چې دې صورت کې به دا اسماء زمان شي نو بيا هم ظروفو کې داخل شو.

بيان د لدی او حکم د دې:

وَ مِنْهَا اَیْ مِنَ الظُّرُوْفِ الْمَبْنِيَّةِ لَدٰی بِالْاَلِفِ الْمَقْصُوْرَةِ وَ لَدُنْ بِفَتْحِ اللَّامِ وَ
او بعضې د دې نه يعنې د ظروف مبنيونه لدی دي په الف مقصوره سره او لدن دي په فتحې د لام او
ضَمِّ الدَّالِ وَ سُكُوْنُ النُّوْنِ وَ قَدْ جَاءَ لَدْنِ بِفَتْحِ اللَّامِ وَ سُكُوْنِ الدَّالِ وَ كَسْرِ النُّوْنِ
ضمې د دال او په سکون د نون سره او لدن هم راغلې په فتحې د لام او په سکون د لام او په کسرې د نون سره
وَ لَدَنْ بِفَتْحِ اللَّامِ وَ الدَّالِ وَ سُكُوْنِ النُّوْنِ وَ لُدْنِ بِضَمِّ اللَّامِ وَ سُكُوْنِ الدَّالِ وَ كَسْرِ
او لدن په فتحې د لام او د دال او په سکون د نون سره او لدن په ضمې د لام او سکون د دال او په کسرې د

النُّوْنِ وَ لَدْ بِفَتْحِ اللَّامِ وَ سُكُوْنِ الدَّالِ وَ لُدْ بِضَمِّ اللَّامِ وَ سُكُوْنِ الدَّالِ وَ لَدُ بِفَتْحِ
نون سره اولد په فتحې د لام اوسکون د دال سره اولد په ضمې دلام اوسکون د دال سره اولد په فتحې د
اللَّامِ وَ ضَمِّ الدَّالِ وَ بِنَاؤُهَا لِوَضْعِ بَعْضِهَا وَضْعَ الْحُرُوْفِ وَ حَمْلَ
لام اوضمې د دال سره وجه دبناءيې داده چې بعضې په کې وضع کيږي په خاى دحرف سره اوحمل شوي
الْبَقِيَّةَ عَلَيْهِ وَ كُلُّهَا بِمَعْنَى عِنْدَ وَ الْفَرْقُ اَنَّهُ يُقَالُ الْمَالُ عِنْدَ زَيْدٍ فِيْمَا
باقي په دي نور واوټول په معنى دعند سره راځي لکن فرق دومره دي چې ويل کيږي المال عند زيد کله
يَحْضُرُ عِنْدَهُ وَ فِيْمَا فِيْ خَزَائِنِهِ وَ اِنْ كَانَ غَائِبًا عَنْهُ وَ لَا يُقَالُ
چې مال حاضر وي دزيد سره او که د هغه په خزانه کې وي اوکه غائب وي دده نه اوداسې نه ويل کيږي
اَلْمَالُ لَدٰى زَيْدٍ اَوْ لَدُنْ زَيْدٍ اِلَّا فِيْمَا يَحْضُرُ عِنْدَهُ وَ حُكْمُهَا اَنْ تَجُرَّ بِهَا
المال لدى زيد يالدن زيد مگر په هغه صورت کې چې کله حاضروي حکم يې دادې چې جرور کول کيږي
عَلَى الْاِضَافَةِ نَحْوُ اَلْمَالُ لَدٰى زَيْدٍ وَ قَدْ يُنْصَبُ بَعْضَ لُغَاتِ الْعَرَبِ بِلَدُنْ
ورته بناء براضافت لکه المال لدى زيد اوکله نصب ورکول کيږي په بعضې لغاتو دعربو کې په لدن سره
خَاصَّةً غُدْوَةً خَاصَّةً سَمَاعًا تَشْبِيْهًا لِنُوْنِهَا بِنُوْنِ التَّنْوِيْنِ
خاص په سرکې خاص چې سمع يې راغلې دعربو نه دوجې دمشابهت د نون ددې نه نون د تنوين سره
فِيْ مِثْلِ رِطْلٌ زَيْتًا وَ لِذٰلِكَ تُحْذَفُ عَنْهَا وَ تُثْبَتُ وَ لِكَوْنِ غُدْوَةٍ اَكْثَرُ اِسْتِعْمَالًا
په مثل د رطل زيتا کې ددې وجې نه کله ترې حذفيږي اوکله نه اوددې وجې چې غدوة زيات استعماليږي
مِنْ سُحْرَةٍ وَ غَيْرِهَا.
د سحرة وغيره نه.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره د ظروفو مبنيو دبل قسم چې هغه لدى او لدن دي ذکر کوي.

اغراض دجامي: ومنها: کله چې فارغ شو مصنف د تفصيل د يولس اقسامو د ظروف مبنيو نه، نو شروع يې وکړه په تفصيل د بل قسم ددې کې.

نفس تفصيل يې ځکه کوي، چې تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

تفصيل په دې مقام کې ځکه کوي، چې دا قسم په ذهن د ماتن کې په نسبت سره ما قبل ته قليل او ما بعد ته کثير مستعمل دى.

تفصیل یې داسې کوي، چې ددې قسم تعیین به وکړي او په هغې کې به لغات ذکر کړي

منها لدیٰ ولدن : او ددې ظروف مبنیه نه لدی او لدن هم دي بیا لدی یې مخکې کړو اشاره ده، چې دا اصل دی

سوال : په صحاح کتاب کې ذکر دي چې لدن اصل دی؟

جواب : داجداجدا اعتبارات دي په صحاح کې لدن ته په اعتبار د لغت سره اصل ویلې شوي دي اوشارح لدی ته په اعتبار دوجهې دبنآء سره اصل ویلي دي چې اصل په لدی کې بنآء دی.

من الظروف المبنية : غرض د شارح په دې عبارت سره د ها ضمير مرجع متعيين كول دي.

بالالف المقصورة : غرض د شارح د لدی تعریف کول دي.

بفتح اللام : غرض د شارح په دې عبارت سره د لدن تعریف کول دي.

وقد جآء لدن الخ : ماتن په لدن کې شپږ لغات ذکر کړي دي او یو لدن شو، او یو لدی کلمه پراسها شوه، دا ټول اته لغات شو.

سوال : شارح چې کوم حرکات سکنات په شکل د عبارت سره متعین کړي دي، نو سوال دادی صورت خو د ټولو یو شان دی، نو شارح ته دا خبره څنګه معلومه شوه؟

جواب : شارح د ټولو نه اخف حرکت مخکې ذکر کړی دی، او بیا یې وریسې او بیا وریسې دغه شان ترتیب سره تعیین کړي دی او اخف حرکت سکون دی او بیا فتحه ده او بیا ضمه ده.

وبنآء ها الخ : وجه د بنآء داده، چې د ځینې لغاتو ددې وضع په شان د حرف شوې ده، او باقي پرې حمل دی.

وكلها بمعنى الخ : غرض د شارح ددې معنی ذکر کول دي، دا دواړه په معنی د عند سره راځي البته لدی سره په استعمال کې من نه راځي، او د لدن سره من راځي، بیا ددې د عند سره فرق دادی، چې په عند کې عموم دی، دا په هغه وخت کې ویلې شي، چې مال وغیره ددغه کس څخه په جیب کې وي او که په کور کې وي، او لدی لدن هغه وخت ویلی شي. چې مال وغیره ددغه کس څخه جیب کې وي

وحكمها ان تجر الخ : عمل ددې دادی، چې په دې سره مضاف الیه ته جر ورکولی شي، خو په بعضو لغاتو کې خاص په لدن سره صرف غدوة لره نصب ورکولی شي، دا ولې؟ چونکه ددې

لدن د رطلٌ سره نون تنوين کې مشابهت دى او ما بعد د رِطلٌ نه هميشه منصوب وي، نو د لدن مابعد به هم دغه غدوة منصوب وي، بيا دې لدن کې دا نون د تنوين خکه دى، چې لذلك تحذف خينې اوقاتو کې دا حذف کولې شي، بيا خاص دې غدوة لره نصب ورکوي، نه که سحرة وغيره لره، وجه داده، چې لكون غدوة اكثرالاستعمالا دا غدوة د لدن نه وروستو كثيرالاستعمال دى.

بيان د قط او حكم ددې :

وَ مِنْهَا قَطُّ مَفْتُوْحُ الْقَافِ مَضْمُوْمُ الطَّاءِ الْمُشَدَّدَةِ وَ هٰذَا اَشْهَرُ لُغَاتِهٖ وَ قَدْ
اوبعضې ددې نه قط دى په فتحې دكاف اوپه ضمې دطامشددې سره اودايې مشهور لغت دى اوكله طا
تُخَفَّفُ الطَّاءِ الْمَضْمُوْمَةِ وَ قَدْ تُضَمُّ الْقَافُ اِتْبَاعًا لِضَمَّةِ الطَّا الْمُشَدَّدَةِ اَوِ الْمُخَفَّفَةِ وَ جَاءَ قَطْ سَاكِنَةُ الطَّاءِ
مخففه هم راځي اوكله كاف ته ضمه هم وركول كيږي دوجې د تابعيت دضمې د طالره اوقط ساكن هم راغلې
مِثْلُ قَطْ الَّذِيْ هُوَ اِسْمُ فِعْلٍ فَهٰذِهٖ خَمْسُ لُغَاتٍ كُلُّهَا لِلْمَاضِيْ الْمَنْفِيْ اَىْ
په شان دقط هغه چې هغه اسم فعل دى داپنځه لغات دي ټول راځي دپاره دماضي منفي يعني دپاره د
لِاَجْلِ الْفِعْلِ الْمَاضِيْ الْمَنْفِيْ اَوِ الزَّمَانِ الْمَاضِيْ الْمَنْفِيْ وُقُوْعُ شَيْءٍ فِيْهِ لِيَسْتَغْرِقَ
فعل ماضي منفي اويادپاره دزمان دماضي منفي په واقع كيدلو ديوڅيزپه دې كې دې دپاره چې مصروفه
النَّفْيُ جَمِيْعَ الْاَزْمِنَةِ الْمَاضِيَةِ نَحْوُ مَا رَاَيْتُهٗ قَطُّ وَ بِنَاءِ الْمُخَفَّفَةِ لِوَضْعِهَا
كړي نفي ټوله زمانه ماضيه لكه مارأيته قط اومبني والې دمخففې دې ددې وجې نه چې دا وضع كيږي
وَضْعَ الْحُرُوْفِ وَ بِنَاءَ الْمُشَدَّدَةِ لِمُشَابَهَتِهَا لِاُخْتِهَا الْمُخَفَّفَةِ وَ قِيْلَ حَمَلَتْ عَلٰى
په ځاى دحرف اومشدده خكه مبني ده چې مشابهت دمخففې سره لري څاويلي چې حمل يې په خپل
اُخْتِهَا عَوْضُ.
اخت باندې شوې چې عوض دي.

خلاصه دمتن : په دې عبارت سره دظروفو مبنيو نه بل قسم چې قط دي ددې تفصيل بيانوي.

اغراض دجامي : وقط: كله چې فارغ شو د اقسامو د ظروف مبنيو نه، نو شروع يې وكړه په تفصيل د بل قسم كې.

نفس يې تفصيل خكه كوي، چې تفصيل بعدالاجمال اوقع في الذهن وي.

تفصيل يې په دې مقام كې خكه كوي، چې دا قسم د مصنف په ذهن كې په نسبت سره ما قبل

نه قليل او ما بعد ته کثير الاستعمال دی

تفصيل يې داسې کوي، چې تعيين ددې قسم به وکړي او معنى به ذکر کړي.

وقط: يعنې د ظروف مبنيه نه قط هم دی.

په دې کې پنځه لغات شارح ذکر کړي دي. قَطُّ، قَطُ، قُطُ، قُطٌّ، قَطْ دا پنځم لغت په شان د قط اسم فعل دی.

للماضي المنفي: دا د ماضي منفي دپاره راځي.

اي لاجل الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: دا منفي صفت د فعل وايي او که د ماضي که د فعل صفت وايې، نو بيا خو په کار ده چې دې ته اسم فعل وويلی شي او که دا صفت د ماضي شي، نو دخادمې والاوايي چې کوم شی تېر شي نو هغه خو موجود وي، نو منفي څنګه شو؟ او باسولي والاوايي چې کوم شی تېر شي، هغه خو هسې منفي او ختم شي، نو دا قيد منفي مستدرك دی؟

جواب: دا زه صفت د فعل وايم، ليکن اسم فعل ورته ځکه نه وايو چې اسم فعل کې قيد د نفي او اثبات نه وي، او دې سره قيد د منفي دی يا دا زه صفت د ماضي وايم، ليکن په زمانه ماضي کې د وقوع د شي نفي مراد اخلم، نو نه خو دا قيد مستدرك دی او نه د خادمه والا سوال راځي.

ليستغرق الخ: په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي:

سوال: د نفي دپاره خو نور حروف هم شته، نو دا قط ولې راوړې؟

جواب: هغه نور الفاظ د مطلق نفي دپاره راځي او دا قط د زمانه ماضي جزء جزء نفي کوي.

نحو ما رايته قط: يعنې تېره شوې زمانه کې په هېڅ يو جزء کې ماده لره نه دې ليدلی.

وبناء المخففة: کوم چې مخفف وي، نو د هغې د حروفو سره په وضع کې مشابهت دی او کوم چې مشدد دي هغه په دغه اخواتو حمل دي او دوهمه وجه داده، چې دا په عوض حمل دي او عوض خو مبني دی، وروستو وجه د بناء راځي، نو دا د هغې ضد وو، او دې ته حمل د احد الضدين په ضد آخر راځي.

وَ مِنْهَا عَوَضُ بِفَتْحِ الْعَيْنِ وَ ضَمِّ الضَّادِ وَ قَدْ جَاءَ بِفَتْحِ الضَّادِ وَ كَسْرِهَا
بعضې دظروفونه عوض دي په فتحې دعين اوضمې دضادسره اوپه فتحې اوكسرې دضادسره هم راغلي
لِلْمُسْتَقْبِلِ اَیْ لِاَجْلِ الْفِعْلِ الْمُسْتَقْبَلِ اَلْمَنْفِیِّ اَوِ الزَّمَانِ الْمُسْتَقْبَلِ الْمَنْفِیِّ
داراځي دپاره دمستقبل يعنې دپاره دفعل مستقبل كوم چې منفي وي يادپاره دزمان مستقبل چې
فِيْهِ وُقُوْعُ شَيْءٍ لِيَسْتَغْرِقَ النَّفْيُ جَمِيْعَ الْاَزْمِنَةِ الْمُسْتَقْبَلَةِ نَحْوُ لَا اُرَاهُ عَوَضُ
منفي وي په هغې كې وقوع دځيزددې دپاره چې مصروفه كړي نفي ټوله زمانه مستقبله لكه لااراه عوض
وَ بِنَاءُ عَوَضٍ عَلَى الضَّمِّ لِكَوْنِهِ مَقْطُوْعًا عَنِ الْاِضَافَةِ كَقَبْلُ وَ بَعْدُ
اومبني والي دعوض په ضمې سره دوجې ددې دي چې دامقطوعة عن الاضافت ده په شان دقبل اوبعد
بِدَلِيْلِ اِعْرَابِهِ مَعَ الْمُضَافِ اِلَيْهِ نَحْوُ عَوَضُ الْعَائِضِيْنَ اَیْ دَهْرُ الدَّاهِرِيْنَ
په دليل ددې چې كله ددې سره مضاف اليه راشي نوبيامعرفه وي لكه عوض العائضين يعنې دهرالداهرين
وَ مَعْنَى الدَّاهِرِ وَ الْعَائِضِ الَّذِيْ يَبْقَى عَلَى وَجْهِ الدَّهْرِ.
اومعنى دعائض اوداهر هغه چې باقي وي په مخ دزمانې.

خلاصه دمتن: په دې عبارت سره دظروفومبنيوبل قسم چې عوض دي ددې تفصيل بيانوي.

اغراض دجامي: وعوض: كله چې فارغ شو ماتن د اقسامو د ظروف مبنيو نه، نو شروع يې وكړه په تفصيل د بل قسم كې.

نفس تفصيل يې ځكه كوي چې تفصيل بعدالاجمال **اوقع في الذهن** وي.

تفصيل يې په دې مقام كې ذكر كړو، ځكه دا په نسبت سره ما قبل ته اقل استعمالاً وو.

تفصيل يې داسې كوي، چې تعيين ددې قسم به وكړي او معنى ددې به ذكر كړي.

وعوض: يعنې د ظروف مبنيه نه عوض هم دى.

بفتح العين الخ: غرض د شارح د عوض تعريف كول دي او ورسره په دې كې دوه نور لغات ذكر كوي، او **قد** سره اشاره كوي چې دا قليل الاستعمال دى، ځكه ماتن نه دى ذكر كړى.

للمستقبل المنفي: دا د **خط** په ضد كې د مستقبل منفي دپاره راځي بيا دلته يو سوال راځي.

سوال: دا منفي صفت د فعل وايې كه مستقبل؟ كه د فعل صفت يې كړې نو دې ته اسم فعل ويل په كار دي او كه صفت د مستقبل كرځوې، نو نفي د مستقبل خو مقدور د متكلم نه ده؟

جواب : دا زه صفت د فعل وايم او اسم فعل ورته ځکه نه وايم، چې اسم فعل کې قيد د نفي او اثبات نه وي، او دې سره قيد د منفي دی .

دوهم جواب دادی، چې دا زه صفت د مستقبل وايم ليکن زما مراد نفي د هغه زمانې ده، چې دا فعل په کې واقع وي .

ليستغرق الخ : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب ورکوي :

سوال : د نفي دپاره خو نور الفاظ هم په استقبال کې شته ؟

جواب: هغه نور الفاظ مطلق نفي د پاره راځي، او عوض په مستقبل کې د جزء جزء نفي کوي.

لا اراه عوض: يعني زه به فلان سره مخ هم ونه لرم.

وبنآء عوض: يعني وجه د بنآء داده، چې دا اسمآء مقطوع عن الاضافة دي، نو يو خو ددې مضاف اليه ته احتياج راغلو، او دوهم د هغې راويستو ته احتياج راغلو، ځکه دا مبني ده او مقطوع عن الاضافة ځکه ده، چې د معرب حالت ددې داسې راځي.

عوض العائضين: دې صورت کې معرب دی، ځکه اضافت د خواص معظمه مکبره د اسم معرب نه دی، او مضاف اليه نه لس اشياء کسب کوي يو په کې اعراب دی.

اى دهر الداهرين: غرض د شارح د غير مشهور لفظ تشريح په مشهور لفظ سره کول دي.

ومعنى الداهر : چونکه ځينې خلك په دغه معنى هم نه پوهيږي، نو ده بنه وضاحت وکړو، چې دا هر هغه چاته وايي چې په مخ د ځمکه پاتې وي، بيا دې مستقبل زمانه عوض ځکه وايي، چې د هر تير شوي ساعت دپاره را روان وخت عوض ګرځي.

بيان دوجې د بناء دظروفو :

وَ الظُّرُوْفُ	الْمُضَافَةُ	اِلَى الْجُمْلَةِ	وَ	اِلٰى	كَلِمَةِ	اِذْ	الْمُضَافَةِ	اِلَى الْجُمْلَةِ يَجُوْزُ بِنَاؤُهَا
اوهغه ظروف کوم چې مضاف وي جملې ته او کلمې داذ ته چې مضاف وي جملې ته جائزدي بناء ددې								
لِاكْتِسَابِهَا	الْبِنَاءُ	مِنَ	الْمُضَافِ	اِلَيْهِ	وَ	لَوْ	بِوَاسِطَةٍ	عَلَى
ځکه چې مبني والې يې کسب کړو د مضاف اليه نه اګرکه په واسطه دفتحې سره وي بنايې جائزده په								
الْفَتْحِ	لِلْخِفَّةِ	نَحْوُ	قَوْلِهِ	تَعَالٰى	يَوْمَ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ	وَ قَوْلُهُ	تَعَالٰى	وَ مِنْ خِزْيِ يَوْمَئِذٍ
فتحې سره دپاره دخفت لکه داقول دالله تعالى يوم ينفع الصادقين او داقول دالله تعالى ومن خزي يومئذ								

فِيْمَنْ	قَرَأَ	بِالْفَتْحِ	وَ	يَجُوْزُ	اِعْرَابُهَا	اَيْضًا	لِكَوْنِهَا	اَسْمَاءَ
په لغت د هغه چا کې چې لوستلې يې دي په فتحې سره او معرب کېدل يې هم جائز دي ځکه چې دا اسم								
مُسْتَحِقَّةً لِلْاِعْرَابِ وَ لَا يَجِبُ اِكْتِسَابُ الْمُضَافِ اِلَيْهِ اِلَى الْمَبْنِيِّ الْبِنَاءِ								
دي مستحق دي د اعراب د پاره او واجب نه دي اکتساب د مضاف مبني ته د کوم بناء چې د مضاف د								
مِنْهُ وَ كَذٰلِكَ اَيْ كَالْمَذْكُوْرِ مِنَ الظُّرُوْفِ فِيْ جَوَازِ الْبِنَاءِ عَلَى الْفَتْحِ وَ الْاِعْرَابِ مِثْلُ وَ								
وجې وي او همدا رنګې په شان د مخکينيو ظروفو په جواز د بناء په فتحې سره او معرب کېدو سره مثل او								
غَيْرُ مَذْكُوْرَيْنِ مَعَ مَا وَ اَنَّ مُخَفَّفَةً اَوْ مُشَدَّدَةً مِثْلُ قِيَامِيْ مِثْلُ مَا قَامَ زَيْدٌ وَ								
غير هغه چې ذکر شوې وي سره د ما او دان چې که مخففه وي او که مشدده لکه قيامي مثل ما قام زيد و								
قِيَامِيْ مِثْلَ اَنْ تَقُوْمَ اَوْ مِثْلَ اَنَّكَ تَقُوْمُ لِمُشَابَهَتِهِمَا الظُّرُوْفَ الْمُضَافَةَ اِلَى الْجُمْلَةِ								
قيامي مثل ان تقوم او مثل انک تقوم د وجې د مشابهت د د دې د ظروفو سره کوم چې مضاف وي جملې ته								
نَحْوُ اِذْ وَ حَيْثُ وَ بِهٰذِهِ الْمُشَابَهَةِ ذَكَرَهُمَا فِيْ بَحْثِ الظُّرُوْفِ وَ يَجُوْزُ اِعْرَابُهُمَا								
لکه اذ او حيث او د دې مشابهت د وجې ذکر کړل مصنف هغه په بحث د ظروفو کې او جائز دي معرب کېدل								
لِكَوْنِهِمَا اِسْمَيْنِ مُسْتَحِقَّيْنِ لِلْاِعْرَابِ.								
يې ځکه چې دواړه اسمين دي چې حق د اعراب لري .								

خلاصه د متن : په دې عبارت سره وجه د بناء د ظروفو ذکر کوي .

اغراض د جامي : والظروف المضاف الخ : کله چې فارغ شو ماتن د يو قسم ظروفو نه کوم کې چې بناء واجب وه ، نو شروع يې وکړه په دوهم قسم د دې ظروفو کې کوم کې چې بناء جائز ده ، نو دى وايي چې هغه ظروف چې جملې ته مضاف وي بلاواسطه يا بالواسطه نو هغې کې بناء جائز ده .

ذ والى كلمة : غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره دې ته چې دا اذ عطف دى په الجملة باندې او ماقبل د معطوف عليه نه معاد وي په ما قبل د معطوف کې نو دلته يې هم الى راويستو ، بيا كلمة يې راويستو دې سره يې دفع د وهم وکړه ، چې چا به ويل چې ګنې معنى د اذ مراد وي ، حالانکه معنى ته خو نسبت نه کېږي؟ نو شارح د غه وهم دفع کړو ، چې کلمه د اذ مراد ده .

المضافة : په دې عبارت سره شارح د يو سوال جواب وركوي :

سوال: دا ظروف مضافه به مبني هله وي، چې د مضافه الیه نه بنآء کسب کړي اوس چې مضاف الیه ددې اذ شو، نو هغه نه خو بنآء نه شي کسب کولی؟

جواب: چې دغه اذ جملې ته مضاف وي او جمله خو مبني ده، نو د اذ په واسطه به دا ظروف مضافه د دغه اذ نه بنآء کسب کړي.

يجوز بنآؤها: دلته یو څو سوالات مخې ته راغلل:

سوال: دا ظروف مبنیه نفس مبني ولې دي؟

جواب: چې نفس مبني ځکه دی، چې دا د مضاف الیه نه بالواسطه یا بلا واسطه بنآء کسب کوي.

سوال: مبني په حرکت سره ولې دي.

جواب: مبني په حرکت سره ځکه دی، چې معلوم شي چې بنآء ددې عارضي ده.

سوال: حرکت د فتحې ولې دي.

جواب: حرکت د فتحه ځکه دی، چې دا فتحه اخف حرکت دی.

ای کالمذکور: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: کاف تشبیهي دی، او ما قبل ددې نه خو ډیر اشیاء ذکر دي او ذلك اسم اشاره د مفرد ده؟

جواب: شارح جواب وکړو، چې دا اسم اشاره د مفرد په اعتبار د مذکور سره راجع ده.

من الظروف: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: مذکور خو ټول کتاب دی او هغې سره خو تشبیه صحیح نه ده؟

جواب: ما قبل مذکور ظروف مراد دي، تشبیه صحیح ده.

في جواز البنآء: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: کاف د تشبیه ده، نو وجه د بنآء څه ده؟

جواب: دا تشبیه په جواز د بنآء علی الفتح او اعراب کې ده.

مذکورین: چونکه مع ظرف متلق غوښتو نو شارح مذکورین راویستو، چې د فحوای د کلام نه معلومیږي او هغه دا چې ذلك اسم اشاره مذکورته راجع وه او د هغې نه دا مذکورین معلوم شو.

لمشابهتهما الظروف: په دې عبارت سره شارح د یو سوال جواب ورکوي:

سوال: د غیر او مثل سره د مع او ما راتلل ولې ضروري دي؟

جواب: ددې دواړو د ظروفو سره د مشابهت د وجې نه حکم د بنآء دی اوس حیث او اذا خو جملې ته مضاف وي او جمله من حیث الجملة مضاف الیه نه واقع کیږي، نو د هغې دپاره مونږ مضمون د جملې راوباسو. نو هغې کې دوه احتیاجه راغلل، یو مضاف الیه ته او دوهم ددې راویستو ته، او ددې احتیاجینو د وجې نه دا دواړه مبني وو. اوس دا غیر او مثل کې خو هم بنآء جائزوه. او د هغې اضافت خو جملې ته نه کیږي، بلکې دا اسمآء صریحي دي ددې اضافت مفرد ته کیږي، نو مونږ چل وکړو، مونږ ددې نه پس د ما او ان مصدریه راوړل لازم کړو، نو ددې مثال او غیر اضافت چې ورته وشي، نو لفظاً به یې جملې ته اضافت وشي، نو بنآء به تری کسب کړي، او معنیً به جملې ته اضافت وشي، نو د هغه قاعدې خلاف به راشي، چې د اسم صریحي اضافت خو مفرد ته کیږي، البته اعراب ددې مثل او غیر هم جائزدی، ځکه د مضاف الیه نه د بنآء کسب کول څه وجب نه دي.

فرغتُ من ترتیب هذا الکتب:

یوم الاربعاء إثنین التاسع وعشرون من رجب المرجب سنة ١٤٣٥ بفضله وکرمه تعالی

تقبل الله منا بقبول حسن وجعله الله مفیداً لکافة الناس

وجعله من الباقیات الصالحات وذریعة الفوز

یَوْمَ یَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِیهِ وَأُمِّهِ وَأَبِیهِ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِیهِ

لِکُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ یَوْمَئِذٍ شَأْنٌ یُغْنِیهِ

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وآله وأصحابه أجمعین

محمد فیض الهادي "حقاني"

کان الله له ولوالدیه ولمن أحسن إلیهما وإلیه

